## په دې څوارلس ټوکيزو کلياتو کې

**لومړی ټوک (پنځوني او ژباړې):** متکور، په اورونو کې سندرې، د ټولنپوهنې له نظره په افغانستان کې د واک جوړښتونه، په افغانستان کې د جګړې جنايتکارانو محاکمه، د افغانستان فرهنګي ميراثونو ته يوه کتنه، فلسفه او فلسفي بهير (۱- ۹٦۹) مخونه.

**دويم ټوک (راټولونې):** هيلې، نيمګړي ارمانونه، د لوونو فصل، سيندونه هم مري او د پښتو ادب لرغونې دوره (۹۷۰- ۲۱۱۳) مخونه.

**درېيم ټوک (راټولونې):** د نازو انا ياد، د استاد الفت نثري کليات (۲۱۱۴- ۳۲۱۰) مخونه.

**څلورم ټوک (يونليکنې):** د اماراتو سفر، که يون دی يون دی، د پنټاګون تر څنډو، د کرملين په زړه کې (۳۲۱۱- ۴۲۷۴) مخونه.

**پنځم ټوک (يونليکونه):** د ډيلي تخت هېرومه، درې ورځې د افسانو په وطن کې، د خدای(ج) تر کوره (۴۲۷۵- ۵۳۱۹) مخونه.

**شپږم ټوک (کلتوري او څېړنيز اثار):** استاد زيار د پښتني فرهنګ يو ځلاند ستوری، د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو کتابښود، ساينسي پرمختياوې، هيله د خپلو سريزو په لمن کې، د کتابونو په وړمو کې (۵۳۲۰- ٦۱۳۳)مخونه.

**اووم ټوک (کلتوري او څېړنيز اثار):** فرهنګي فقر، له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل، د افغانستان فرهنګ ته اووښتي زيانونه، مرګه او مرګي، کلتوري يون، جنګ او فرهنګ په افغانستان کې (٦۱۳۴- ۷۱۱۹) مخونه.

**اتم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** بېړنۍ لويه جرګه: ولسواکي او زورواکي، افغانستان په سياسي کړليچ کې، د سمون په لټه (۷۱۲۰- ۸۱۴۷) مخونه.

**نهم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** [illegible] په کړليچ کې، ملي هويت او ملي عزت (۸۱۴۸- ۹۳۰٦) مخونه.

**لسم ټوک (سياسي او ټولنيز اثار):** ملي درسونه، د ارګ نا ويلې خبرې (۹۳۰۷- ۱۰۳۴۹) مخونه.

(پاتې د پښتۍ ۳ مخ)



# مه پېړۍ يون

## لسم ټوک

## (سياسي او ټولنيز اثار)

محمد اسمعيل يون

۱۳۹٦ل

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیمه پېړۍ یون

## لسم ټوک

## (سیاسي او ټولنیز اثار)

## محمد اسمعیل یون

۱۳۹۶ لمریز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# نیمه پېړۍ یون

## لسم ټوک

**(سیاسي او ټولنیز اثار)**

لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

ډیزاین: **فیاض حمید**

چاپکال: **۱۳۹٦ لمریز**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

**د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۴۷)**

ویبپاڼه: **www.melitahrik.com**

**د دې کتاب د چاپي او انلاین خپرولو ټول حقوق له خپرندوی سره خوندي دي**

**۹۳۰۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دالی:

# د افغانیت، اسلامیت او انسانیت

# رښتینو لارویانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نیولیک


| ګڼه | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| • | د استاد یون پنځوس کلن یون | ۹۳۱٦ |
| • | زما د نیمې پېړۍ یون | ۹۳۳۲ |
| | **ملي درسونه** | |
| ۱ | د تحریک یادښت | ۹۳٤۲ |
| ۲ | ملي درسونه یو ژوندی پوهنتون | ۹۳٤۳ |
| ۳ | ملي درسونه او دا اثر | ۹۳٤٦ |
| ٤ | ملت | ۹۳۵۰ |
| ۵ | د ولسمشرۍ راتلونکي انتخابات او احتمالات | ۹۳۷٦ |
| ٦ | انتخابات او خطرات | ۹٤۲٤ |
| ۷ | وتښونه او جنجالونه | ۹٤۵۹ |
| ۸ | لوزونه او عملونه | ۹٤۷۷ |
| | **د ارګ نا ویلې خبرې** | |
| ۱ | دا اثر یو ژوندی تاریخ او د واقعیتونو هنداره | ۹۵۳٦ |
| | **لومړۍ څپرکی** | |
| ۲ | د دې اثر د لیکلو علت او ضرورت | ۹۵٤۲ |
| ۳ | راځئ چې ارګ وپېژنو! | ۹۵٤۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویم څپرکی

### د حامد کرزي پېژندګلوي


| | | |
|---|---|---|
| ٤ | د حامد کرزي لومړۍ پېژندنه | ۹۵٦۰ |
| ۵ | په ننګرهار کې لومړنۍ دنده | ۹۵٦٤ |
| ٦ | بېړنۍ لویه جرګه | ۹۵٦٦ |
| ۷ | د جرګې منشیتوب او ښاغلي کرزي سره لومړۍ کتنه | ۹۵٦۸ |


## درېیم څپرکی

### اړیکي


| | | |
|---|---|---|
| ۸ | د اساسي قانون بهیر | ۹۵۷۲ |
| ۹ | د اساسي قانون لویه جرګه او د اړیکو پراختیا | ۹۵۷٤ |
| ۱۰ | د پنجشېر او دایکندي ((ولایتونه)) | ۹۵۷۷ |


## څلورم څپرکی

### د ولسمشرۍ لومړۍ ټاکنې


| | | |
|---|---|---|
| ۱۱ | د ولسمشرۍ لومړنۍ ټاکنې | ۹۵۹۱ |
| ۱۲ | رسنیز فعالیتونه | ۹٦۰۲ |
| ۱۳ | سیاسي مشورې | ۹٦۰۵ |
| ۱٤ | درې سوه پنځلس | ۹٦۰۸ |
| ۱۵ | د دولتي چارواکو تغیر او تبدیل | ۹٦۱۲ |
| ۱٦ | جمعه خان همدرد او جمعه خان اڅک | ۹٦۱۵ |


## پنځم څپرکی

### حکومتي دنده


| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | د دندې لومړني وختونه | ۹٦۲٤ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | ننګونې او مخالفتونه | ۹٦۳۱ |
| ۱۹ | فرهنګي کارونه او یادښتونه | ۹٦۳٤ |


## شپږم څپرکی

### د امنیت شورا دفتر


| | | |
|---|---|---|
| ۲۰ | د امنیت شورا دفتر تشکیلات | ۹٦٤۰ |
| ۲۱ | د امنیت شورا دفتر ورځني کارونه | ۹٦٤۲ |
| ۲۲ | زیاتې هیلې او کم فعالیتونه | ۹٦٤٦ |


## اووم څپرکی

### ارګ کې موثر کرکټرونه


| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | د فرهنګي چارو د ریاست دوه نیم کلن کاري راپور | ۹٦٤۷ |
| ۲٤ | ارګ کې موثر کرکټرونه | ۹٦۵۲ |
| ۲۵ | د ملي امنیت شورا دفتر کرکټرونه | ۹٦۵٤ |
| ۲٦ | د ولسمشر د دفتر کرکټرونه | ۹٦۸۷ |
| ۲۷ | له امریکا سره ناندرۍ او د ولسمشرۍ ټاکنې | ۹٦۹۳ |
| ۲۸ | د عمر داودزي اوسېلي | ۹٦۹۷ |
| ۲۹ | د قلم رنګ د امریکا په پیسو! | ۹۷۰۱ |
| ۳۰ | د چارو د ادارې کرکټرونه | ۹۷۱۸ |
| ۳۱ | شپږ نیم درجنه سلاکاران | ۹۷۳۳ |
| ۳۲ | په سیاست او ارګ کې نور مطرح شخصیتونه | ۹۷٤۹ |


## اتم څپرکی

### له ولسمشر سره ځانګړې کتنې


| | | |
|---|---|---|
| ۳۳ | د ولسمشرۍ دویمې ټاکنې | ۹۸۸۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۳٤ | د نوي پارلمان د جوړېدو خطرونه او له ... | ۹۸۸۸ |
| ۳۵ | د سولې ملي مشورتي جرگه او د تنظیم سالارانو ... | ۹۹۰۲ |
| ۳٦ | د یو طالب پیغام | ۹۹۱۲ |
| ۳۷ | امریکایي که شجاعي؟ | ۹۹۱۸ |
| ۳۸ | باکفایته اکثریت | ۹۹۲۳ |


## نهم څپرکی

### گرم تحلیلونه او ساړه غبرگونونه


| | | |
|---|---|---|
| ۳۹ | د ثور د اتمې نېټې پړه د چا پر غاړه؟ | ۹۹۲۷ |
| ٤۰ | په پاکستان کې د عوامي نشنل پارټۍ (ANP) دریځ | ۹۹۳۰ |
| ٤۱ | د ولسمشر کرزي د وژنې څو توطیې | ۹۹۳۲ |
| ٤۲ | د ملگرو ملتونو استازی او د ولسمشر د رد ځواب | ۹۹۳۷ |
| ٤۳ | جلال اباد کې د ایران قونسلگرۍ او اندېښنې | ۹۹۳۸ |
| ٤٤ | د جمهوري ریاست او ملي شورا ټاکنې او ننگونې | ۹۹٤۰ |
| ٤۵ | مخالفین او د خبرو ستونزې | ۹۹٤۲ |
| ٤٦ | د انتخاباتو مستقل کمېسیون څه کوي؟ | ۹۹٤٤ |
| ٤۷ | جمهوري ریاست او احتمالي کاندیدان | ۹۹٤۷ |
| ٤۸ | دودیزه لویه جرگه او د گډونوالو نظریات | ۹۹٤۹ |
| ٤۹ | ولې ملي ترمینالوژي؟ | ۹۹۵۱ |
| ۵۰ | د افغانستان د اوسنیو حالاتو څېړنه | ۹۹۵٤ |
| ۵۱ | د راتلونکو ټاکنو په اړه | ۹۹٦۲ |
| ۵۲ | د کانکور په اړه یو تحلیل | ۹۹٦۵ |
| ۵۳ | د ((بېنوا)) فریاد مه بندوئ! | ۹۹٦۷ |
| ۵٤ | فضل احمد معنوي او د ټاکنو د کمېسیون نور غړي | ۹۹٦۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم څپرکی

### ولسمشر او ولسي کتنې


| | | |
|---|---|---|
| ۵۵ | د پکتیکا د یوه قومي مشر اعتراض او د ولسمشر غبرگون | ۹۹۸۲ |
| ۵۶ | د بادغیس د یوه مشر فریاد | ۹۹۸۵ |
| ۵۷ | ولسمشر، د خبریالانو استازي او یوه هیله | ۹۹۸۷ |
| ۵۸ | د ژورنالیستانو ملي ټولنه او ولسمشر | ۹۹۹۳ |
| ۵۹ | ولسمشر او د لویې پکتیا مخور | ۹۹۹۸ |
| ٦۰ | ولسمشر او د پوهنتون استادان | ۱۰۰۰۱ |
| ٦۱ | ولسمشر او د مشرانو جرگې ځینې غړي | ۱۰۰۰٦ |
| ٦۲ | ولسمشر او د پکتیکا مخور | ۱۰۰۰۹ |
| ٦۳ | ولسمشر، د پکتیا مخور او عالمان | ۱۰۰۱۸ |
| ٦٤ | ولسمشر او حسین خېل | ۱۰۰۲۲ |
| ٦۵ | د ننگرهار مومند او ولسمشر | ۱۰۰۲۷ |
| ٦٦ | ولسمشر او د ننگرهار مخور | ۱۰۰۳۰ |


## یوولسم څپرکی

### ولسمشر او خبري کنفرانسونه


| | | |
|---|---|---|
| ٦۷ | د بخارست غونډه او خبري کنفرانس | ۱۰۰۳٦ |
| ٦۸ | افغانستان- پاکستان او د امریکا ستراتیژي | ۱۰۰٤۱ |
| ٦۹ | د هالنډ نړیواله غونډه او خبري کنفرانس | ۱۰۰٤۵ |


## دولسم څپرکی

### د ارگ څو نورې نا ویلې


| | | |
|---|---|---|
| ۷۰ | بناغلی قانوني او د هغه لفظي مهارتونه | ۱۰۰٤۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library




| | | |
|---|---|---|
| ۷۱ | د بسم الله خان پرغز (قهر) | ۱۰۰۵۵ |
| ۷۲ | د ((مارشال)) د رهبرۍ مانور | ۱۰۰۵۷ |
| ۷۳ | د امرالله صالح، اکټونه او مانورونه | ۱۰۰۶۰ |
| ۷٤ | د علماوو شورا اوګرمي | ۱۰۰۶۵ |
| ۷۵ | د ښاغلي ((چکري)) دولتي چکر | ۱۰۰۶۸ |
| ۷۶ | سپین او تور افغانستان | ۱۰۰۷۵ |
| ۷۷ | د رباني شرم! | ۱۰۰۷۸ |
| ۷۸ | ((مارشال)) او سپی | ۱۰۰۸۰ |
| ۷۹ | په ملي امنیت کې څوک څومره دي؟ | ۱۰۰۸۲ |
| ۸۰ | له وخت څخه ناوړه ګټه اخیستنه | ۱۰۰۸۷ |


## دیارلسم څپرکی


| | | |
|---|---|---|
| ۸۱ | د ولسمشر کرزي وزیران | ۱۰۰۹۹ |


## څوارلسم څپرکی

### د ولسمشر ځانګړتیاوې


| | | |
|---|---|---|
| ۸۲ | د ناثابتې واکمنۍ ثابت امتیازات | ۱۰۱۸۹ |
| ۸۳ | د ولسمشر کرزي تشخیص او غوراوی | ۱۰۱۹٤ |
| ۸٤ | د کرزي عاطفي شخصیت | ۱۰۱۹۷ |
| ۸۵ | حیا او عفت | ۱۰۱۹۹ |
| ۸۶ | د حامدکرزي ټولنیز شخصیت | ۱۰۲۰۲ |
| ۸۷ | د کرزي عقیده یي شخصیت | ۱۰۲۰۵ |
| ۸۸ | د کرزي جرئت، احتیاط او وېره | ۱۰۲۰۷ |
| ۸۹ | د بخت پاچا د بخت تر وخته | ۱۰۲۱۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځلسم څپرکی


| | | |
|---|---|---|
| ۹۰ | د ولسمشر کرزي د رژیم نیمګړتیاوې | ۱۰۲۱۳ |


## شپاړسم څپرکی


| | | |
|---|---|---|
| ۹۱ | د حامدکرزي د رژیم بریاوې | ۱۰۲٦۲ |


## اوولسم څپرکی


| | | |
|---|---|---|
| ۹۲ | ولې استعفی؟ | ۱۰۲۷۸ |


## اتلسم څپرکی

### مظاهرې


| | | |
|---|---|---|
| ۹۳ | د ملت حماسې ته درناوی | ۱۰۳۰۰ |
| ۹٤ | ملي هویت او ولسمشر | ۱۰۳۱۱ |


## نولسم څپرکی

### عمومي ارزونه


| | | |
|---|---|---|
| ۹۵ | ایا ولسمشر بریالی و؟ | ۱۰۳٤٤ |
| ۹٦ | وروستۍ بشپړونه او یادونه | ۱۰۳٤٦ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د استاد یون پنځوس کلن یون

ښاغلي پوهاند دوکتور محمد اسمعیل یون زموږ د زمانې په تېره بیا د سختو حالاتو یو مخکښ فکري مبارز دی. ده د افغانستان د کورنیو او بهرنیو مخالفینو، جنگسالارانو او فسادگرو پر وړاندې د مبارزې یوه ځانگړې لاره، چې د قلم، ژبې او جرئت لاره وه، غوره کړه. دا یې د خپل ولس او خلکو د اوږدو مبارزو تر ټولو غوره، بریالۍ او ژغورندویه لاره او مبارزه وبلله. دی که په کابل کې و او یا هم په نورو ولایتونو کې، خپلو ملي او فرهنگي هلو ځلو ته یې دوام ورکړی، همدا علت و چې افغانانو دده د مبارزې پر حقانیت، رښتینولۍ او زړورتیا باور پیدا کړ، ډېری افغانان په ځانگړې توگه ځوانان یې تر څنگ ودرېدل او دې مبارزې ته یې لا نور ځواک وروباښه. یون ددې ځوانانو په راټولېدو سره پرځان لا باوري شو او خپلې دې مبارزې ته یې په سیستماتیک ډول دوام ورکړ.

که وویل شي چې یون د افغاني ټولنې، ملي تفکر او د مظلوم اکثریت د غږ پورته کولو یو بریالی وياند دی، نو مبالغه به مې نه وي کړې. ددې لپاره چې ښاغلی یون په بشپړه توگه وپېژنو، نو غواړم دلته یې د ژوند، اثارو او افکارو پر بېلابېلو برخو لنډه رڼا واچوم:

**۱- زوکړه:** محمد اسمعیل یون د حاجي محمد خان زوی او د هدایت خان لمسی دی، پر (۱۳۴۶ل) کال د کب پر (۱۸) مه نېټه د لغمان ولایت د الینگار ولسوالۍ د (الوخېلو) په یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی دی. یون لا د شپږم ټولگي زده‌کوونکی و چې پلار یې وفات شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کور سرپرستي او د ژوند نورې چارې خپله ده ته ورپرغاړه شوې. خو په دې سختو شرایطو کې یې هم خپل هوډ قوي وساته، هم یې د کورنۍ سرپرستي کوله او هم یې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ.

**۲- زده کړې:** محمد اسمعیل یون پر (۱۳۵۳ل)کال د الینګار ولسوالۍ د (سلینګار) په لومړني ښوونځي کې، چې د یون له کوره په پلي مزله یې نږدې یو نیم ساعت واټن درلود، په لومړي ټولګي کې شامل شو، یون یو کال د سویې ازموینه ورکړه او یو ټولګی یې ارتقا وکړه، پر (۱۳۵۷ل)کال دې ښوونځي ته نوې ودانۍ جوړه شوه او د یون کور ته نږدې ساحه کې اباد شو. پر (۱۳۵۸ل) کال دا ښوونځی د حکومت د مخالفینو له خوا وسوځول شو، یون د نورو زده کوونکو په شان له ښوونځي څخه بې برخې شو، یون له درس سره د خپلې مینې او د کورنۍ د موافقې پر اساس کابل ته راغی او دلته پر (۱۳٦۱ل) کال یې د کابل په (ده خدایداد) او بیا په (ده یحیی) لېسو کې خپلې زده کړې پسې تعقیب کړې. پر (۱۳٦۲ل) کال د کابل په خوشال خان لېسه کې شامل او پر (۱۳٦٦ل) کال ترې په دویمه نومره فارغ شو، (۱۳٦۷ل)کال د کابل پوهنتون په ژبو او ادبیاتو پوهنځي کې شامل او پر (۱۳۷۰ل) کال ترې اول نومره فارغ شو، پر (۱۳۷۰ل)کال یې د یاد پوهنځي پښتو څانګې کې د کدر ازموینه ورکړه، په یاده ازموینه کې بریالی او پر همدې کال د (نامزد پوهیالي) په رتبه د پښتو څانګې د کدر غړی شو. یون پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۸۵ل)کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي په ماسترۍ پروګرام کې شامل او پر (۱۳۸۷ل)کال کې ترې فارغ شو.

يون د (کابل پوهنتون) علمي مجلې موسس هم دی او درې کاله يې ددې مجلې مديريت هم ورپرغاړه و.

محمد اسمعيل يون پر (۱۳۹۲ل) کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې د دوکتورا (PhD) پروګرام کې شامل شو او د تحصيل دا پړاو يې هم پر (۱۳۹٦ل) کال په بريالیتوب سره بشپړ کړ.

يون پر پورتنيو زده کړو سربېره د لنډ مهاله کورسونو، ورکشاپونو او سيمينارونو لپاره په کور دننه او بهر په ځينو برخو کې زده کړې کړې دي او لنډ مهاله کورسونه يې هم تعقيب کړي دي.

يون له (۱۳۷۰ل) کال څخه چې د کابل پوهنتون په کدر کې شامل شوی، بيا تر (۱۳۹٦ل)کال پورې په منظم ډول تدريس کړی او په دې ياده موده کې يې له (نامزد پوهيالي) څخه نيولې بيا تر (پوهاندۍ) وروستۍ لوړې پوهنتوني رتبې پورې ټولې رتبې په ترتيب سره بشپړې کړي او د هرې رتبې لپاره يې له پوهنتوني مقرراتو سره سم ځانګړی اثر ليکلی دی.

**۳- دندې:** يون چې کله په ښوونځي کې د څلورم، پنځم او شپږم ټولګي زده کوونکی و، نو د ښوونځي د ترانې د ټيم غړی و، سپورت سره يې هم مينه درلوده، په ښوونځي کې د خپل عمر په هلکانو کې د واليبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیم غړی و، یون چې کله له لغمان څخه کابل ته راغی، نو دلته په (خوشال خان) لېسه کې د ادبي انجمن مشر شو. یون د ثانوي زده کړو پر مهال (۹-۱۲) ټولګي پورې موده کې له یو شمېر اخبارونو او مجلو سره قلمي همکاري درلودله او د ځینو چاپي خپرونو له خوا ورته حق الزحمه هم ورکول کېدله. یون په کابل پوهنتون کې د تحصیل پر مهال هم د لیکوالو د ټولنې غړی، د ځوانو لیکوالو د ټولنې د مشرتابه غړی، د خوشال فرهنګي ټولنې د ځوانانو د برخې مسول او یو شمېر نورو فرهنګي ټولنو غړی پاتې شوی دی.

یون لا په (۱۲) ټولګي کې و چې د (هیلې) په نامه یې د لرو او برو افغانانو د ځوانو شاعرانو یوه شعري ټولګه راټوله او پر (۱۳٦٦ل) کال یې چاپ کړه.

د پوهنځي پر وروستي کال یې دوه اثار: د خپلو شعرونو ټولګه (مټکور) او د ولسي شاعر (محمد عالم حیران) د شعرونو ټولګه (نیمګړي ارمانونه) چاپ کړل.

یون د تنظیمي جګړو پر مهال کله په کابل او ځینې وختونه په پېښور کې اوسېده، هلته په پېښور کې یې (هیله) مجله چاپوله، د (معارف) مجلې همکار و، په جرمنې کې د دوو افغاني کلتوري ټولنو؛ (د افغانستان کلتوري ودې ټولنه) او (د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنې) استازی هم و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمـد اسـمعیل یـون د طالبـانو د نظـام تـر ړنګېـدو وروسـته پـر (۱۳۸۱ل)کال لومړی په ختیزو ولایتونو کـې د ملګـرو ملتونـو د مرسـتو د ځانګړي دفتر یوناما (UNAMA) مشاور او ډېر ژر په یـادو ولایتونـو کـې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د انتخاباتو د دفتر مشر شو. یون دا دنـده هـم پـه ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۲ل)کال د بېړنۍ لويې جرګه چې نږدې (۱٦۰۰) تنـو پـه کې له ټول افغانستان څخه ګډون درلود، غړی و، د جرګې د مشرتابه لپـاره ټاکنې وشـوې او یـون د رایـو پـه اکثریـت سره د بېړنـۍ لـويې جرګـې د لومړي منشي په توګه انتخاب شو، د منشیتوب دنـده یـې هـم پـه ښـه ډول ترسره کړه او بیا یې د يادې جرګې په باب (بېړنۍ لويه جرګـه- ولسـواکي او زورواکي) تر نامه لاندې یو ځانګړی اثر هم ولیکه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د افغانستان او پاکستان تـر مـنځ د (امـن ګـډې جرګې) لپاره د افغانستان له لوري د منشي په توګه غوره شو او دا دنده یـې هم په ښه ډول ترسره کړه.

یون پر (۱۳۸۵ل)کال د جمهور رييس حامـد کـرزي د یـوه ځـانګړي فرمان له لارې د امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو د رييس په توګـه غـوره شو، اوه کاله یې دا دنده پر مخ یوړه او جمهور رييس حامـدکرزي تـه یـې په ډېرو ملي او فرهنګي مسایلو کې خپلې مشورې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یون پر (۱۳۹۲ل)کال په حکومت کې د ولسمشر له خوا جنگسالارانو او فسادگرو ته د زیاتو امتیازاتو له ورکړې سره د مخالفت لـه املـه لـه خپلـې دندې استعفی ورکړه او پر همدې کال یې (د افغانستان ملي تحریـک) پـه نامه د یـو ازاد، فرهنگـي، مـدني، ټـولنیز، مـلي او سـیاسي حرکـت بنسـټ کېښود.

## ۴- کورنی ژوند:

استاد یون پر (۱۳۷۴ل) کـال لـه (اریـن مومنـد) سره واده وکـړ، اوس څلور اولادونه لري (هیله، سمسور، سـوله او ودان). (هیلـه) او (سمسـور) دا مهال (۱۳۹٦ل کال) پـر لـوړو زده کـړو بوخـت دي، (سـوله) او (ودان) د ښوونځي زده کوونکي دي او مېرمن یې (ارین یون) په ولسي جرگه کـې د ننگرهار د خلکو منتخبه استازې ده.

## ۵- فعالیتونه:

**الف- ټولنیزه برخه کې:** یون لـه (۱۳٦٦ل)کـال څخـه بیـا تـر (۱۳۹٦ل)کال پورې په ټولنیزو چارو کې زیات کارونه ترسره کړي دي، پـه یاده موده کې یې په سلگونو زرو هېوادوالو سره لیـدنې کتنـې کـړي دي، په سلگونو ټولنیزې غونډې یې جوړې کړې، د خلکو مشکلاتو ته یـې ځـان رسولی، د نورو ملگرو او ملي تحریک د ملگرو په مرسته یې مصیبت ځپلـو خلکو ته مرستې وررسولې. په کابل، کندوز، بغلان، بدخشان، فاریاب، بلخ، هلمند، ننگرهار، پکتیا، خوست، لغمان، کونړ او د هېواد په نورو سیمو کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې زلزله ځپلو، سېلاب ځپلو، جنګ ځپلو او نورو مصيبت ځپلو هېوادوالو ته د ملي پانګوالو مرستې رسولې دي، د دولت او خيريه ټولنو پام يې هغو ته واړولی او له دې لارې يې خلکو ته په مستقيم او نامستقيم ډول د ميليونونو ډالرو مرستو د ور رسولو زمينه برابره کړې ده. د مصيبت ځپلو خلکو لپاره يې لوی رسنيز کمپاينونه هم ترسره کړي او دا کار ددې سبب شوی چې هم دولت او هم خيريه ټولنې غمځپلو سيمو ته ځان ورسوي. د جګړې ټپيانو ته د وينې د ورکړې لپاره يې څو پروګرامونه جوړ کړي او همدارنګه يې د خلکو مدني او اعتراضيه غونډو ته لاره هواره کړې ده. د مسجدونو او کلينيکونو په جوړونه کې يې ونډه اخيستې، د صحي اوبو لپاره يې د ژورو څاګانو په کيندنه او د چاپېريال د پاک ساتلو لپاره يې هم د هېوادوالو مرستې اړمنو هېوادوالو ته رسولې دي. په مجموعي ډول د ټولو هغو خيريه او ټولنيزو کارونو شمېر چې يون په تېرو (۳۰) کلونو کې ترسره کړي تر (۱۰۰۰) ګڼورو او مرستندويه کارونو زياتېږي.

**ب- سياسي برخه کې:** محمد اسمعيل يون سره له دې چې له کوم سياسي ګوند سره تړاو نه لري او نه يې غړيتوب لري، خو په خپله يې له نورو روښنفکرو افغانانو سره په ګډه (د افغانستان ملي تحريک) په نامه د يو ملي، مدني، خدماتي، ټولنيز، ملي او سياسي حرکت بنسټ ايښی دی. ددې تحريک له لارې يې په هېواد کې يو شمېر سياسي فعاليتونه ترسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یون له یو شمېر نورو افغانانو سره په ګډه په هېـواد کـې د ولسـواکۍ د ټینګښـت، د جنګسـالارانو او فسـادګرو د زور کمـونې، لـه منځـه وړنـې او همدارنګه د عادلانه سیاسي نظام د ټینګښت لپاره ګڼ شمېر لاریونونه ترسره کـړي او پـه ځینـو نـورو دا ډول مظـاهرو کـې یـې ګـډون کـړی دی. دا مظاهرې ټولې سولییزې او هدفمنې وې. د ټولـو هغـو غونـډو، لاریونونـو، جرګو، مرکو، سیاسي سیمینارونو او ورکشاپونو شمېر چې یون په مستقیم او نامستقیم ډول او د نورو هېوادوالو په مرسته جوړ کړي په تېرو (۳۰) کلونـو کې تر (۸۰۰) بېلابېلو غونډو اوړي.**

**د ملي او اسلامي هویت د خوندیتابه لپاره یې ټینګه او متواتره مبـارزه د ملي او سیاسي مبارزو یوه بېلګه ده.**

**ج- فرهنګي برخه کې: یون د یو خپلواک لیکوال په توګه په تېرو دېرشو کلونو کې ګڼ شمېرفرهنګي، علمي او اکاډمیک خدمتونه ترسره کړي،په ګڼو چاپي، رادیویي او ټلویزیوني مرکو کې یې د و اقعیتونو او حقایقو د څرګند بیان له امله د خلکو په زړونوکې ځای نیولی دی. که څه هم ډېر خلک د یون لیکنې، مرکې او نظریات خوښوي، خو یو شمېر داسې خلک هم شته، چې د یون سرسختي مخالفین دي؛ د هغه ملي او ګټورو نظریاتو ته هم غلط رنګ او تعبیر ورکوي، دا ډول اشخاص، چې اکثره یې زورواکي او د سیاسي ډلو ټپلو غړي او مشران دي، د یون نظریات خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته خطر بولي، نو ځکه یې په ټینګه مخالفت کوي. هر کله چې یون کومه لیکنه او مرکه کړې، نو دده پر وړاندې یې مثبت او منفي غبرګونونه دواړه راپارولي دي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



منفي غبرگونونه اکثره وخت د هغو اشخاصو او ډلو له خوا وي، چې په تېر کړکېچن سیاسي بهیر کې یې ډېرې نامشروع گټې ترلاسه کړي او ځانونه یې مطرح کړي دي.

مثبت غبرگونونه اکثره د ولس د مشرانو، روښنفکرانو او نورو مخورو له خوا وي، خو یون په دغسې سختو اغزنو او تنگو شرایطو کې بیا هم خپلو فرهنگي، سیاسي او ټولنیز کارونو ته دوام ورکړی دی.

د ټولو هغو لیکنو، مرکو او ویناوو شمېر چې استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې د هېواد په داخل او بهر کې له چاپې، غږیزو، لیدنیو او برېښنایي رسنیو سره کړي تر (۱۲۰۰) عنوانو لیکنو، مرکو او ویناوو اوړي.

د استاد یون اوسنی فرهنگي کارونه، چې تاسو یې اوس په مسلسل ډول گورئ، د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې ترسره شوي دي. استاد یون په تېرو (۳۰) کلونو کې تر (۵۰) عنوانو زیات اثار لیکلي چې نږدې ټول یې چاپ شوي، دا اثار یې هم په برېښنایي ډول، هم په کتابي ډول او هم په (CD) کې لوستونکو ته وړاندې کړي دي. استاد یون پر خپلو فرهنگي کارونو سربېره د گڼو فرهنگي ټولنو د غړي، همکار او موسس غړي په توگه هم خپل فرهنگي رول ادا کړی دی، په پېښور کې یې د دوو المان مېشتو فرهنگي ټولنو (دافغانستان دکلتوري ودې ټولنې) او(د پښتني فرهنگ د ودې پراختیا ټولنې) د همکار په توگه د بېلابېلو لیکوالو په لسگونو اثار، ایډیټ او چاپ کړي دي. دغه راز یې د سلگونو کورنیو مشاعرو، ادبي غونډو او سیمینارونو په جوړونه کې ونډه اخیستې ده، خپله یې هم په سلگونو مشاعرې،سیمینارونه او علمي ورکشاپونه جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په رسنیزه برخه کې یې د (ژوندون) په نامه یو رسنیز مرکز جوړ کړی چې ژوندون راډیو ټلوېزیون په کې فعالیت لري، دا راډیو ټلوېزیون د ټول هېواد په کچه نشرات لري او د سټلایټ او وېبسایټ له لارې یې هم ټولې نړۍ ته نشرات رسېږي.

په اکاډمیکه برخه کې یون د ( کونړ) او (لغمان) پوهنتونونو په تاسیس کې اساسي نقش لوبولی دی او اوس دا دواړه پوهنتونونه په زرګونو محصلین لري، دغه راز د یو شمېر خصوصي ښوونځیو او پوهنتونونو په جوړونه کې یې هم مرسته کړې ده. یون د (هیلي، شمشاد او کابل پوهنتون) په نامه د درېو مجلو د مسول مدیر په توګه هم خپله دنده اجرا کړې ده. پر خپلو کتابونو سربېره یې د بېلابېلو لیکوالو نږدې (۴۰۰) عنوانو بېلابېلو اثارو ته د چاپ زمینه برابره او د یو شمېر نورو د سمون چارې یې هم پر مخ وړې دي.

په سیمه ییزه او ملي کچه یې د (۳۰) کلونو په بهیر کې تر (۱۱۰۰) زیاتې ادبي، علمي او فرهنګي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي دي.

## چاپ شوي اثار یې په دې ډول دي:

## الف- پنځونې:

| کتاب نوم | څرنګوالی | چاپکال |
|---|---|---|
| • مټکور | (لومړۍ شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |
| • په اورونو کې سندرې | (دویمه شعري ټولګه) | دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال. |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب- راټولونې:

- هیلې (ګډه شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- نیمګړي ارمانونه (د حیران شعري ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د لوونو فصل (ګډه شعري ټولګه)دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د نازو انا یاد (د سیمینار د لیکنو ټولګه) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د الفت نثري کلیات (د الفت نثرونه) درېیم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- سیندونه هم مري (د اسحق ننګیال شعري منتخبات) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو ادب لرغونې دوره (لومړی ټولګی) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

## ج- ژباړنې:

- د ټولنپوهنې له نظره: په افغانستان کې د واک جوړښتونه، د (پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- .د افغانستان فرهنګي میراثونو ته یوه کتنه (د نینسي دوپرې اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- په افغانستان کې د جګړې جنایتکارانو محاکمه(د پوهنوال روستار تره کي) اثر دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- فلسفه او فلسفي بهیر (د استاد افغانیار اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## د- یونلیکنې:

- د اماراتو سفر (د اماراتو یونلیک) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که یون دی یون دی (د اروپا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دپنټاګون ترخنډو (د امریکا یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د کرملین په زړه کې (د روسیې یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.
- د ډیلي تخت هیرومه (د هند یونلیک) لومړی چاپ۱۳۸۹ ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- درې ورځې د افسانو په وطن کې (د هلمند یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د خدای تر کوره (د حج یونلیک) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.

## هـ- څېړنې او شننې:

- د محمدگل خان مومند اند و ژوند ته یوه لنډه کتنه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- استاد زیار د پښتني فرهنگ یو ځلاند ستوری (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- دکابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو کتابښود (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- د افغانستان فرهنگ ته اوښتي زیانونه (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- د پښتو شعر هندسي جوړښت (علمي اثر) شپږم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- له افغانستانه د مسلکي کادرونو د فرار عوامل (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- ساینسي پرمختیاوې (څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- بېړنۍ لویه جرگه ولسواکي او زورواکي (سیاسي څېړنیز اثر) دویم چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- اندیال خوشال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- هیله د خپلو سریزو په لمن کې (د تحلیلي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- کلتوري یون(د ادبي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- فرهنگي فقر (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- مرکه او مرکې (له بېلابېلو لیکوالو سره د مرکو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- خوشال په خپل ایډیال (د څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ل کال.
- دکتابونو په وړمو کې (پر بېلابېلو اثارو د لیکل شویو سریزو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- افغانستان په سیاسي کړلېچ کې (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- پښتو لیکنی سمون (ژبنی څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- اوسنۍ رسنۍ(څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- که نړیوال ماته وخوري؟ (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۸۷ ل کال.
- جنگ او فرهنگ په افغانستان کې (د کلتوري څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- د سمون په لټه (د سیاسي او ټولنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کتاب الشعر (د علمي څېړنیزو لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- کره کتنه (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ادب تاریخ (علمي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹۴ ل کال.
- ملي درسونه (د سیاسي لیکنو ټولگه) لومړی چاپ ۱۳۹۴ل کال.
- د نجات خلی (څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ ل کال
- د ارگ نا ویلې خبرې (سیاسي څېړنیز اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- د زماني په کړلېچ کې (څېړنیز او تحلیلي اثر) لومړی چاپ ۱۳۹٦ل کال.
- ملي هویت او ملي عزت (څېړنیز او تحلیلي اثر) ۱۳۹٦ل کال.
- د خادم نړۍ لید (څېړنیز اثر) ناچاپ ۱۳۹٦ل کال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد یون د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه په تذکره کې د لیکل شوي عمر له مخې پوره پنځوس کلن شو، ژوند یې د نیمې پېړۍ وروستي حد ته ورساوه. خو دا نیمه پېړۍ له منډو، ترړو، ستونزو، کړاوونو، جنجالونو او همدارنګه له بریاوو سره مله وه. له لومړي ټولګي څخه مخکې دوران خو بېخي د ماشومتوب دوران وي، په هغه کې انسان له زیاترو مسوولیتونو څخه بې غمه وي. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د زده کړې زمانه وي، یون سره له دې چې په دې دوران کې د پلرنۍ مینې له نعمته محروم شو، د کور د سرپرستۍ درونډ مسوولیت ورپه غاړه شو، خو دې سره سره یې خپلو زده کړو ته یې دوام ورکړ، په همدې بهیر کې یې ادبي پنځونې وکړې او د (۱۲) ټولګي په بهیر کې یې د خپلو ادبي هڅو یا راټولونو لومړی ثمر (هیلې) ګډه شعري ټولګه چاپ کړه. د ژوند درېیم پړاو یې د تحصیل دوره ده چې د څلورو کلونو په ترځ کې یې په ښه ډول ترسره کړه. په دې بهیر کې یې (مټکور)، (د لوونو فصل)، (نیمګړي ارمانونه) او (د نازو انا یاد) اثار ټولنې ته وړاندې کړل. د ژوند بله مرحله یې د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې له (۱۳۷۱ل) کال څخه پیل بیا تر دې دمه (۱۳۹٦ل) کال پورې رارسېږي.

دا نو د ګڼو خدمتونو مرحله ده چې پوره شپږ ویشت کاله وخت یې ونیو او ده هم په کې ښې ډېرې هلې ځلې وکړې چې موږ یې دمخه یادونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یوازې په فرهنګي برخه کې د تېرو دېرشو کلونو په بهیر کې موږ د استاد یون له خوا ټول لیکل شوي، ژباړل شوي او راټول شوي اثار محاسبه کړو، نو تر (۱۵۰۰۰) کتابي مخونو یې شمېر اوړي او دا بیا که دده د لیکوالۍ پر (۳۰) کلن عمر ووېشو نو د ورځې لږ تر لږه یو نیم مخ کار کېږي. یانې استاد په (۳۰) کلونو کې یوه ورځ هم بې له لیکوالۍ نه ده تېره کړې. دا په داسې حال کې ده چې په سلګونو بېلابېل لیکل شوي پیغامونه، ویناوې، مرکې، مباحثې، مناظرې او لکچرونه لا په دې کمیت کې شامل نه دي. ددې ترڅنګ هغه په سلګونو غونډې، مظاهرې، ټولنیز او سیاسي خدمتونه ترسره کړي، چې موږ یې دمخه یادونه وکړه، هغه لا له دې فرهنګي کار څخه جلا دي، که دا ټول کارونه سره محاسبه کړو، نو رښتیا هم سړی فکر کوي چې دا دومره کارونه د هر چا په وس پوره نه دي. هغه چا چې استاد یون سره له نږدې کارونه کړي وي، هغو ته د استاد د کار اوسپله، زغم، هوډ او اراده معلومېږي. هر سړی ورسره کار هم نه شي کولای، یو ستړی، ستومانه او سرګردانه خو ګټور او مثمر ژوند لري، زه ورسره له (۱۳۸۳ل) کال راهیسې کار کوم، د کار او فشار کچه یې ماته تر هر چا زیاته معلومه ده. د همدغو کارونو برکت و چې افغانستان کې د ملتپالنې یوه نوې جذبه، روحیه او ولوله راپیدا شوه. داسې یو وخت هم دلته تېر شو چې د واکمنو جنګسالارانو پر وړاندې چا سونې هم نه شو کولای، خو استاد یې په مقابل کې ودرېد، ځوانانو یې ملاتړ وکړ او بیا یې ولس هم ملاتړ ته راودانګل. د هېواد ملي او اعتقادي هویت په خطر کې و، د ملي هویت تذکرو کې د (دین) او (ملت) د سترو ارزښتونو د لیکلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخنیوی کېده، خو استاد یون او ملګرو یې د اسلامیت او افغانیت غږ اوچت کړ او ان د کرزي او غني حکومتونو هم د دې رسا غږ او داعیې مخه ونه شوه نیولی. په داسې حال کې چې افغانستان پردیو ایډیالوژیو سخت زیانمن کړی و، د یوه ملي فکر رغول او ځلول اسانه کار نه و، خو د استاد یون او دده په شان د ځینو نورو شخصیتونو برکت و چې د ملي هویت، ملي فکر او ملي ویاړونو ولولې تر هرې بلې ایډیالوژۍ زیاتې ځلیږي. زه نه غواړم دا لیکنه تر دې زیاته اوږده کړم، ځکه د استاد مبارزه دده په فعالیتونو او همدارنګه د استاد په ټولو اثارو کې انځوریږي. خو ددې څو ټکو یادونه مې ځکه وکړه چې زموږ راتلونکی نسل د استاد د ملي او فرهنګي مبارزو او د هغه د زمانې له چاپېریال څخه خبر شي.

استاد یون ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریاوو په هیله

ضیاء الرحمن ضیاء

کابل- ژوندون راډیو ټلوېزیون

(۱۳۹٦ل) کال د کب، (۲۷)مه نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما د نیمې پېړۍ یون

ژوند یو سفر دی، پیل، منځ او پای لري. د (۱۳۹٦ل) کال د کب پر (۱۸)مه نېټه زه د تذکرې د رسمي سن له مخې پوره پنځوس کلن شوم. په دې مانا چې په دې نړۍ کې مې پوره پنځوس کاله مزل وکړ. دا مزل به گوډ و مات و، له ستونزو او کړاوونو به ډک و، هدفمن او بې هدفه به هم و، خو هر څه چې و، ژوند و نو. له کومې ورځې چې مې ښي او کیڼ لاس پېژندلی، کوښښ مې کړی چې هدفمن ژوند ترسره کړم، خو ټول کارونه د انسان په وس پوره نه دي، چاپېریال کله پر سړي داسې کانې وکا چې د ژوند بهیر او د فکر مسیر یې وربدل کا. له کومې ورځې چې مې قلم گوتو کې نیولی، نو بیا پر ځان پوه شوی یم چې نه هر څه چې وي، هر څومره ستونزې چې وي، وي دې، ملت ته باید یو څه وکړم. د شعر په لیکلو مې شعور نور هم وده وکړه، خوشال بابا وایي چې شعر مشتق دی له شعوره، نو کېدی شي شعور مې وده کړې وي او احساس مې ځورېدلی وي چې د ژوند دې بلې نړۍ ته یې هم متمایل کړم. د ښوونځي په لسم ټولگي کې وم چې د وخت په اخبارونو کې مې شعرونه چاپ شول، دا زما د زیاتې هڅونې سبب شول. پر همدې مهال په خوشال خان لیسه کې د ادبي انجمن مسول وم. دې سره مې د خپل وخت له ځینو اخبارونو سره قلمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



همکاري پيل شوه او په دې ډول مې په رسمي ډول ادبي سفر هم پيل شو. خو له شعر او شاعرۍ سره مې مينه ان له هغه وخته وه چې په ښوونځي کې شامل شوم.

په دولسم ټولګي کې وم چې د (هيلې) په نامه مې د لرو او برو پښتنو افغانانو د ځوانو ليکوالو يوه تذکره يا غورچاڼ برابر کړ او پر (۱۳٦٦ل) کال چاپ شو، د پوهنځي پر وروستي کال مې د (نيمګړي ارمانونه) ، (د لوونو فصل) په نامه دوه راټولونې او هم مې د خپل شعرونو ټولګه (مټکور) چاپ کړې. په دې ډول نو له (۱۳٦٦ل) کال څخه بيا تر (۱۳۹٦ل) کال پورې چې پوره دېرش کاله کېږي، ما له فرهنګي دايرې بهر ژوند نه دی کړی او که د چا خبره ووايم چې يوه ورځ هم له فرهنګي کار او روزګاره بهر نه يم پاتې شوی، مبالغه به مې نه وي کړې. البته په دې تېر دېرش کلن بهير کې ځينې سياسي کارونه له ناچارۍ څخه راباندې تحميل شوي او ځينې ټولنيز کارونه مې په خپله خوښه ترسره کړي، خو دا کارونه مې هم د خپل ولس د سوکالۍ، د ملي واکمنۍ د ټينګښت او د فرهنګي کارونو د ملاتړ لپاره ترسره کړي دي. په (۱۳۸۵ل) کال زه د جمهوري رياست د ملي امنيت شورا دفتر د فرهنګي چارو رييس وم. دا مهال زما له منظم فرهنګي کار څخه څه باندې دوه لسيزې عمر تېر شوی و، په څنګ کې د نورو هغو ملي، سياسي او ټولنيزو کارونو پر وړاندې چې ما يې د سرته رسولو هيله لرله، سخت خنډونه موجود وو، له خپلو ملګرو؛ ضياءالرحمن ضياء او وفاالرحمن وفا سره مې مشوره وکړه چې راځئ فرهنګي کار ته اړم شو، دا کارونه جانبي عوارض نه لري او که لري يې هم کم دي، تنګنظره سياسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاص ورسره ژر حساسیت نه ښیي او که دوی حساسیت ښکاره هم کړي، نو موږ به خپل کار ترسره کړی وي. ددې فرهنګي کار لپاره مو یو پلان جوړ کړ، په څه باندې دوو کلونو کې مو د نږدې دوویشتو کلونو په ترڅ کې شوي فرهنګي کارونه راټول او منظم کړل. زما له خوا ټول پخواني لیکل شوي کتابونه او راټولونې مې له سره منظم او تر سمون وروسته مو چاپ ته تیار کړل، دا کار که څه هم ډېر ستونزمن و، خو پخې ارادې موږ خپل هدف ته ورسولو. ټول (۳۳) عنوانه بېلابېل اثار مو پر یوه وخت چاپ کړل. (۱۳۸۷ل) کال زما لپاره د فرهنګي کارونو یو غوره کال و. د خوږې خاطرې په توګه مې په ذهن کې دی. هغه وخت مې هم په یادښتونو کې لیکلي او ملګرو ته مې هم ویلي وو چې هېواد کې حالات ترینګلي دي، پر ژوند یوه شېبه هم باور نه شته، نو هر چا چې هر څومره فرهنګي کارونه کړي یانې اثار یې لیکلي دي، باید په خپله یې راټول او چاپ کړي.

زما کار یوه نوې تجربه وه، ځینو نورو لیکوالو هم هڅه وکړه دا تجربه تکرار کړي، خو په لاره کې ټکني شول، خپل کارونه یې بشپړ نه کړای شول. زما د خپلې تجربې له مخې ترڅو چې کار ته کار ونه وایې او خپله یې ترسره نه کړې، کارونه په خپل سر نه خلاصېږي. کله چې مې د عمر نیمه پېړۍ مزل وواهه، نو یو ځل بیا مې زړه کې راتېره شوه چې د خوشال بابا په وینا چې د عمر اساس پر باد اینښی دی، نو بیا خو پرې اعتماد هم په کار نه دی، راځه دا ځل د خپل ټول فرهنګي ژوندانه کړې کارونه چې دا وخت پوره دېرشو کلونو ته رسېږي، بیا له سره منظم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلیاتو په بڼه چاپ کړه. له دې کار څخه مې هدف دا و چې په ژوند کې مې نه دي غوښتي څوک راڅخه ازار شي او یا د چا د اوږو پېټی شم، هسې نه چې تر مرګ وروسته زما لیکنو او اثارو پسې، ښه دي، که خراب، کمزوري دي که قوي، هنري دي که ناهنري، څوک سرګردانه شي او پر راټولونې یې ځان ستړی کړي. له خدایه شکر کاږم چې ژوند یې راته د نیمې پېړۍ وروستي حد پورې راورسوه، دا د هغه لوی ذات پېرزوینه ده، که نور یې راته وغځوي، نو هم لویه مهرباني به یې وي او که نه برخلیک یې راته وخته لیکلي وي، نو ژوند خو د هغه لوی ذات ډالۍ ده، هر وخت یې اخیستلای شي. په دې خاطر مې یو ځل بیا پر ټولو پخوانیو چاپ او وروسته پر ځینو ناچاپو اثارو ګوتې ووهلې او د محتوایي وېش له مخې مې سره منظم کړل، ټول پنځوس عنوانه شول چې راټولونې، پنځونې، ژباړنې او څېړنې ټولې په کې شاملې دي. دا ټول پنځوس عنوانه بیا د شکل او محتوایي وېش له مخې په (۱۴) بېلابېلو ټوکونو کې تنظیم شول او (نیمه پېړۍ یون) نوم ورته ورکړل شو.

دا پنځوس بېلابېل اثار چې ښه مې پورته ورته یاده کړه زما د نیمې پېړۍ په تېره بیا (۳۰) کلونو فرهنګي سفر پایله او ثمره ده چې خپلو قدرمنو هېوادوالو ته یې وړاندې کړم. که چېرې په هېواد کې جګړه او ناورین نه وای، نو کېدی شول تر دې زیات کار ترسره شوی وای، خو موږ بدمرغه نسل وو چې له ډېر تنکي زلمیتوبه مو جګړه پیل شوې او دادی تر نږدې سپینږیرتوبه لا دوام لري. زه د ښوونځي په شپږم ټولګي کې وم چې جګړې د پلار له خواږه نعمته محروم کړم. له هغې ورځې بیا تر دې لیکنې پورې (۳۸) کاله تېرېږي، خو د پلار مرګ مې د پرونۍ ورځې د ترخې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خاطرې په شان په ذهن کې انځور دی. ما غوندې په ملیونونو افغانانو د جګړې ټپونه او دردونه لیدلي دي.**

**نږدې دوه نسلونه په جګړه کې راګیر شول او لوی شول. د جنګ نسل د فرهنګ نسل نه دی. جګړه ډېره بدمرغه پدیده ده، د فرهنګ او تمدن د عمرونو مېوه او ثمره په یوه ساعت کې پوپناه کړي، نو په داسې یوه جګړه ییز چاپېریال کې چې هر څوک د ټوپک تر واکمنۍ لاندې د قلم د حاکمیت لپاره کار کوي، له اور سره د لوبو په مانا دي. له دې معترضه جملې څخه مې هدف دادی چې زموږ راتلونکی نسل باید پر دې پوه شي چې که ما او زما د عمر ټول پښت راتلونکي نسل ته څه ډېر بډایه فرهنګي سوغات نه دی ډالۍ کړی، نو په دې کې زیات قصور د زمانې دی. خدای(ج) دې وکړي چې زموږ راتلونکی پښت زموږ په شان د ډول ډول انقلابونو د ژرندو تر پلونو لاندې ګیر نه شي، چې د غنم د دانې په شان یې ژوند محوه شي او یا یې هم اغزن چاپېریال د ژوند مېوه پخېدو ته پرې نه ږدي. الله تعالی دې وکړي زموږ راتلونکی پښت زموږ د زمانې له تاوجن چاپېریال څخه ښه پند او عبرت اخیستی وي او د یوه سوکاله ژوند او پرمختللي افغانستان لپاره ورته مناسب فرصتونه برابر شي.**

**ددې لیکنې په دې برخه کې غواړم د خپل ژوند په پنځوس کلن بهیر او په تېره بیا په (۳۰) کلن فرهنګي ژوند کې له ټولو هغو دوستانو څخه مننه وکړم چې په یو نه یو ډول یې زما د فرهنګي مبارزې لاسنیوی کړی دی. خپل مرحوم پلار ته د دعا لاسونه پورته کوم چې زما مزل یې تر شپږم ټولګي پورې راورساوه او بیا یې د خپل ابدي سفر لمنه ونیوه، خو ما یې د جنازې بازو ته اوږه ور نه کړای شوه او نه مې د مرګ پر مهال د هغه مبارکه څېره ولیده، د پلار قبر مې معلوم نه دی. د ژوند یو ارمان مې دا و**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کاشکې یې قبر معلوم وای چې لکه د مرغۍ د بچي په شان مې پرې وزرې غوړولای وای، څو شېبې ورسره ارام غځېدلای وای، د هغه د هغو مهربانیو قدر مې کړی وای چې زه یې پر اوږو ګرځولای وم. بازار ته یې بیولی وم، مېلې ته یې بیولی وم، ډاکتر ته یې بیولی وم، پټې به یې جیب کې راته پیسې اېښودلې، له نورو پټې. اوس مې نو له خدایه لویه هیله همدا ده چې تر مرګ وروسته مې لومړی ملاقات له خپل پلار سره وشي، په ښنو کې ورته ورغړم راورغړم او خپله مینه پرې ماته کړم.

مور مې راسره ډېره په تکلیف شوې، د ژوند ټول ارمان یې خپل زوی ته و، زه یې د یوازیني زوی په توګه ډېر نازولی یم، ځان یې په تکلیف کړی، خو زه یې سختو ته یې نه یم پرې ایښی، ماته یې د تعلیم زمینه برابره کړې، د ټیکري په پیڅکې پورې تړلې پیسې یې راته رالېږلې، خو زه یې بې خرڅه کړی نه یم، بختور وم چې د مور جنازې ته مې په خپله اوږه ورکړه، د وفات پر وخت مې د هغې جنازې ته ځان ورساوه، لکه د مرغۍ بچي چې د خپلې مور ښنو ته رغړي، داسې ترې تاو راتاو شوم، سترګې مې ورته ښکل کړې، سترګې یې رڼې وې، لکه چې د خپل یوازیني زوی لیدو ته په طمع وې، مور مې ډېر وخت غېږ کې ونیوله، داسې چې زه به یې کلک غېږ کې نیولی وم، ایا څوک به وي چې د داسې یوې صحنې پوره انځور وکاږي.

له جلال اباده تر لغمانه مې د مور د تابوت سر ته ناست وم، ډېر مې ورته وکتل، په لیدو یې نه مړېدم، له حج څخه مې ورته کفن راوړی و، د خدای په کور مې موښلی او د زمزم په اوبو مې مینځلی و.

له خپلو خوږو خویندو مې هم ډېره مننه کوم چې زما په روزنه او پالنه کې یې ډېر زیات زیار ګاللی، له مشرانو او کشرانو خویندو ټولو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره مننه، خو ما یې لا د خدمت حق نه دی اداکړی، له خپلو ټولو استادانو څخه چې له لومړي ټولګي څخه بیا د دوکتورا او پوهاندۍ تر کچې یې ګام پر ګام زما معنوي ملاتړ کړی، له خپلو ټولو هغو دوستانو، ملګرو، لیکوالو، د مال او عزت له خاوندانو څخه هم ډېره مننه چې په دې نیمه پېړۍ کې یې له ماسره مادي مرسته او لاسنیوی کړی دی.

له خپلې مېرمنې او اولادونو څخه ډېره مننه کوم چې په تېرو (۲۲) کلونو کې یې راسره د ژوند ډېرې سړې او تودې وګاللې او زما فرهنګي چارو کې یې له ما سره تر وروستي بریده مرستې وکړې.

له قلموالو، لیکوالو او نورو هغو دوستانو چې زما د اثارو په کمپوز، سمون او چاپ کې یې په یو نه یو ډول مرسته کړې له ټولو منندوی یم، خدای(ج) دې ټولو ته اجرونه او ثوابونه ورکړي، که ددغو ټولو دوستانو مالي او معنوي ملاتړ نه وای، نو خدای خبر چې زه د دغومره کارونو د سرته رسونې جوګه شوی وای او یا دغه اثار تر تاسو دررسېدلي وای او هم نور فرهنګي، ټولنیز او ملي کارونه ترسره شوي وای.

له ټولو یوه نړۍ مننه

ستاسو د ټولو یون

(۱۳۹۶ل) کال د کب (۱۹)مه

کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي درسونه

محمد اسمعیل یون

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : ملي درسونه

لیکوال : محمد اسمعیل یون

خپروندی : د افغانستان ملي تحریک، فرهنگي څانگه

وېبپاڼه www.melitahrik.com

کمپوز : فیاض حمید

پښتي ډیزاین : فیاض حمید

چاپشمېر : ۱۰۰۰

چاپکال : ۱۳۹۴ ل کال

د تحریک د خپرونو لړ: (۹۰)

د لیکوال د خپرونو لړ: (۳۶)

یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تحریک یادښت

د افغانستان ملي تحریک د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریک دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریک په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریک ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سلو عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریک هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریک له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور وداني ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریک فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي درسونه یو ژوندی پوهنتون

ملي درسونه چې زه یې په ټولو لړیو کې ګډونوال او لېوال وم، د ځوانانو د فکري خوځښت، سیاسي شعور او د مظلوم اکثریت د ویښتابه لپاره د افغانستان په معاصر تاریخ کې یو بې ساری، رغنده او ټاکنده فکـــري او مدني خوځښت و.

د ملي درسونو لړۍ د افغانستان ملـــي تحریـــک او ژونـــدون ټلوېزیـــون دمشرتابه په نوښت یوه مهالنۍ جوړه شوې خپرونه وه، چې د کنفرانس بنه یې درلوده، د هېواد قومي مشرانو، د سیاسي چارو مبصرینو، فکري ویښو ځوانانو او د ملي تحریک غړو به پکې برخه اخیسته.

په دې پروګرام یا خپرونه کـــې بـــه د هېـــواد د ملـــي مســـایلو او ملـــي ارزښتونو په اړه د وتلي او منلي فرهنګي شخصیت او د ملي تحریک د مشر ښاغلي پوهنوال محمد اسمعیل یون له خوا لېکچر ورکول کېـــده، کنفرانس دوه برخې لرلې: یوه برخه یې د استاد یون له خـــوا د لېکچـــر برخه وه او دویمه برخه یې د ګډونوالو له خوا له استاد څخه پر اړوندې موضوع پوښتنې وې او همدارنګه د هغوی نظریات. د ګډونوالو پوښتنو ته به د یون صیب له خوا هر اړخیز او د قناعـــت وړ ځوابونـــه ورکـــول کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مهالني کنفرانسونه به په یو میاشتني زماني بهیر کې یو ځل له ژوندون ټلوېزیون څخه خپرېدل، چې په لږ وخت کې یې د هېواد او نړۍ په ګوټ ګوټ کې ډېر مینه وال او لېوال پیداکړل، د یوه ژوندي پوهنتون بڼه یې خپله کړه، د ملي درسونو دا ارزښتناکه او ګټوره خپرونه ان په (سي ډي ګانو) کې هم ثبت او مینوالو ته وړاندې شوه .
دې خپرونې په چټکۍ سره د هېواد په لر او بر کې لیدونکي پیداکړل.
په دې غونډه کې به پر ډېرو ګرمو ملي مسایلو؛ ډېر سپین، ناپېیلی، څرګند او بې طرفه بحث کېده او د افکارو تبادله به کېده؛ همدا ملي درسونه وو چې د افغان ملت سیاسي شعور یې نور هم پسې لوړ کړ او افغانانو کې یې د هېوادپالنې روحیه را ژوندۍ کړه، ځوانانو کې یې فکري خوځښت راوست او ټولې نامشروع واکمنې ډلې یې وننګولې، دې درسونو تر ډېره بریده مثبته پایله او اغېزه درلوده.
د ملي درسونو ټول مواد مستند او موثق وو او کوم اټکلونه هم چې کېدل د وخت په تېرېدو تر ډېره سم وختل او پر واقعیت بدل شول. د ملي درسونو په دې پروګرام کې تردې دمه پینځه لوېې خپرونې او کنفرانسونه جوړ شوي چې هرې خپرونې یې نږدې دوه ساعته وخت درلود.
تر اوسه پورې د ملي درسونو د لړۍ پینځه کړۍ ترسره شوي، چې (ملت یا ملت جوړونه او ملتپالنه، د ولسمشرۍ راتلونکي انتخابات او احتمالات، انتخابات او خطرات، اوټونه او جنجالونه او همدارنګه لوزونه او عملونه) پروګرامونه وو.
زما لپاره یاد درسونه دومره په زړه پورې او ګټور وو، چې په دوو یا درېو ساعتونو کې به ما د ستړیا احساس هم نه کاوه، له یادو درسونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په شمول ډېرو هېوادوالو دومره څه زده کړل چې د ډېرو کتابونو په مطالعې به يې نه وي زده کړي. پر يوې خبرې بايد اعتراف وکړم چې ماته خو ملي درسونه دومره ګټور وو چې ان زه يې د سياسي علومو د ماسترۍ دورې معادل ګڼم.

يوه ملګري مې، چې په ننګرهار کې اوسېږي او خپرونه يې له ټلوېزيون څخه ننداره کوله، راته وويل چې د ملي درسونو له پينځو خپرونو څخه يې دومره څه زده کړي چې ان د پوهنتون په دوره کې يې نه وو زده کړي، نوموړی وايي چې: (( ملي درسونو زما ملي روحيه پياوړې کړه او په ما کې يې د هېوادپالنې نوې ساه پوه کړه، په ځانګړي ډول يې پښتنو ځوانانو ته د حق غوښتنې او حق ساتنې او حقپالنې ارزښتناک درس ورکړ)).

زه په دې کار لا ډېر خوښ شوم چې قدرمن استاد ملي درسونو ته کتابي بڼه ورکوي، تر څو راتلونکي نسل ته د يوه ارزښتناک درس په توګه پاتې شي، زه نه غواړم تر دې ډېرې خبرې وکړم، ستر واکمن ته لپه پورته کوم او استاد ته د اوږده او خوشاله ژوند لپاره دعا کوم.

وياړلی اوسې!

امید حیران

پلازمېنه کابل، خپله مېنه

۱/۳/۱۳۹۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي درسونه او دا اثر

د (۱۳۹۲ل) کال په بهیر کې د (ژوندون تلوېزیـون) مشـرتابه پرېکـړه وکړه چې د درسونو او بحثونو یوه داسې لړۍ پیل کړي چې موخه یې د ملي ارزښتونو، واقعیتونو او حقیقتونو تشریح او توضـیح وي. څرنګـه چې په تېرو څو لسیزو کې زموږ ملي هویت، ملي ویاړونو او ارزښتونو ته ډېر زیانونه اړول شـوي وو، نـو د ملـي ارزښـتونو پـالنې، ځلـونې او روښانونې ته خورا زیاته اړتیا وه. ددې هدف لپاره مو د هېواد یو شـمېر مطـرح مخـور شخصـیتونه، سیاسـتپوهان، ټولنپوهـان، ادبپوهـان، تاریخپوهان او ډېر پوهان په پام کې ونیول، د هغو یو لست مو هم برابر کړ، له ځینو سره مو خبرې هم وکړې او ددې درسونو موخه او ګټه مـو ورته تشریح کړه، څرنګه چـې تـر دې دمـه لا هـم د هېـواد دښـمنه عناصرو، ملت ضد او افغان ضد اشخاصو واکمنـي پـه مسـتقیم او نـا مستقیم ډول غځېدلې وه، یو عام وهم او ډار پر عامه ذهنیت خور و، نو ځکه خو یوازې له دوه دریو تنو پرته نورو کسانو دې بحثونو ته زړه ښه نه کړ. ځینو وویل دا ډول بحثونه به نور ((حساسیتونه)) هم راوپاروي، ځینو نور وویل، په یوه ((مناسب)) وخت کې بـه دا ډول بحثونـه پیـل کړو، ځینو نورو نورې پلمې وکړې، هغه څـو تنـه چـې زړه یـې وو دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بحثونو کې ونډه واخلي د هغوی هم زړه کېده هم يې ساړه کېدل، په زغرده يې نه ويل چې سل په سلو کې راځم، خطر او ګواښ پر ځان منم، هغوی به هم د مطالعې او زيات دقت د اړتيا په پلمې د نور ډېر وخت غوښته کوله، لنډه دا چې ببلا ببلې پلمې او يا په اصطلاح مجبوريتونه، وېرې او مضر مصلحتونه ددې سبب شول چې هر څه ماته په خپله پاتې شي، زه مجبور شوم چې په خپله دې ډول بحثونو ته اوږه ورکړم، ما ويل ځه که په دې بهير کې کوم ګواښ او خطر را پېښ شو، نو زه به يې خپله وګالم، خطرونه به هم بې ارزښته او کموهمه کړم او که څه ځانګړی ګواښ پېښ نه شو، نو نور به هم زړه ښه کړي، زړور به شي، په دې ډول به نورو ته لاره خلاصه شي. ما لومړی بحث له (ملت، ملت پېژندنې، ملي هويت) او د ملي ارزښتونو له پالنې پيل کړ، په بحث يا درس کې ګڼو ځوانانو برخه اخيستې وه، هغوی هم خپل نظريات مطرح کړل او هم يې خپلې پوښتنې وکړې، د پوښتنو، ځوابونو او نظرياتو په تبادله کې ډېر مهم، ناويلي، ناسپړلي او ضروري مسايل مطرح شول او د موضوع ډېر نور ګوټونه روښانه شول. د درس يا بحث په پای کې ګډونوالو غوښتنه وکړه چې دا بحثونه بايد دوام پيدا کړي، تر هغه وروسته موږ وپتېيله چې بحثونه بايد تر ډېره بريده علمي او تحليلي بڼه خپله کړي او سياسي رنګ پرې غالب نه شي. تر لومړي درس يا بحث (ملت) وروسته څلور نور بحثونه (انتخابات او احتمالات، انتخابات او خطرات، وټونه او جنجالونه، لوزونه او عملونه) داسې راغلل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سیاسي رنګ يې درلود، له شننې او ارزونې پرته يې چاره نه وه. که څه هم دې مسايلو خپل ملي ارزښت او اهمیت درلود، خو څرنګه چې د ورځې ګرمې سیاسي موضوعګانې هم وې، نو ځکه يې د سیاسي انځور رنګ زیات برېښېده.

دا درسونه له تحلیل، ارزونې او وړاندوینې او د ګډونوالو له پوښتنو سره مل وو، دې بحثونو پر انتخاباتي بهیر او د خلکو د ذهنیتونو پر روښانتیا خپل خپل اغېز درلود. یو زیات شمېر هېوادوالو، د ټلېفون، برېښنالیک، فیسبوک، لیکونو او مستقیمو تماسونو له لارې په ډېر ټینګار سره ددې ډول بحثونو د غځونې غوښتنه وکړه، خو زما د خپلو بوختیاوو او ځینو نورو ستونزو له امله ددې بحثونو په غځونه کې یو څه ځنډ راغی، ددغه ځنډ په بهیر کې یو زیات شمېر هېوادپالو افغانانو له ما څخه هیله وکړه چې دا درسونه یا بحثونه د هغو له اړوندو نظریاتو، پوښتنو او ځوابونو سره یو ځای په یوه ټولګه کې چاپ کړم، دادی ما د خپلو هېوادوالو دا غوښتنه ومنله او له کوم تصرف پرته کټ مټ دا بحثونه په یوه ټولګه کې چاپوم. په دې بحثونو او اړوندو پوښتنو او ځوابونو کې مې ځکه کوم بدلون رانه وړ چې دا بحثونه د خپلې زمانې د یوه واقعیت په توګه په خپله بڼه پاتې شي. دا بحثونه له ژوندون ټلویزیون څخه په تصویري بڼه خپاره شوي او هم يې ځینې برخې د برېښنايي رسنیو له لارې په لیکنۍ بڼه خپرې شوې دي او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی دلته يې بشپړه ليکنی بڼه خپرېږي. موږ هيله مـــن يـــو زمـــوږ نـــور مشران او پوهان دې بحثونو ته دوام ورکړي، خدای (ج) دې ماتــه هــم وس راکړي چې دا بحثونه پســې وغځــوم، ســره لــه دې چـــې دا ډول بحثونه د ځينو اشخاصو پر زړه نه اوارېـــږي او طبيعـــي خبـــره ده چـــې ځينې اشخاص رښتيا او واقعيتونه نه شي زغملای، خو زموږ دا دنده ده چې خپل ولس له واقعيتونو او حقيقتونو خبر کـــړو، د ملـــي يـــووالي د ټينګښت لپاره خپلې هڅې وکړو، خپل ملي هويت په ښه ډول وځلـــوو او تر کومه ځايه چې زموږ وس وي ملـــت، هېـــواد او ملـــي هويـــت تـــه ورپېښ خطرونه او ګواښونه رفع او دفع کړو.

د افغان ولس د غښتلتيا

او د ملي هويت د لا ځلا په هيله

ستاسو يو يون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملت

## (لومړی درس)

په تېره یوه لسیزه کې په هېواد کې د (ملت، ملیــت، ملتپــالنې، ملــت جوړونې او ملت غندنې) په باب بېلا بېل او مختلف بحثونه شــوي دي، یو شمېر ملت ضد ډلو لا ان په افغانستان کې د (ملت) مفهوم هم نفــې کړی او داسې لید لوري وړاندې کوي، چې په هغو کې د واحد ملت لــه منلو چورلټ انکار کوي، دا ډلې د ملت لپاره خپل خپل تعریفونه لــري، خپلخوښې تعریفونه، له ملت څخه انکار او د جعلي یا تصــنعي ((ملــي اتلانو)) راټوکول ددې ډلو د ویناوو څرګند ټکي دي.




د دوی په مقابل کې، که واقعیتونه او حقیقتونــه هــر ډول دي، خــو د واقعیتونــو د بیــان لپــاره زړور او مــدبر ملتپــال ګروپونــه او یــا هــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شخصیتونه ډېر کم دي چې د ملت ضد ډلو د څرګندونو پر وړاندې رښتیا ووایي او واقعیت بیان کړي، ځینې ځانساتي بیا د خپل ډار منطق ته دا سپېرونی هم ورکوي چې ((والله نو هغوی چې هر څه وایي، ودې وایي پروا نه کوي ، موږ خو ملي وحدت غواړو کـه مـوږ د هغـوی ځواب ووایو، موږ به هم د هغوی غوندې شو، نو پرېږده چـې هـر څـه وایي...)) د ځانساتو منطق که هر څه دی، خو دا یو حقیقـت دی چـې دوی د ملي یو والي په خاطر دا خبره نه کوي، بلکې خپـل ډار د (ملـي وحدت) تر چتر لاندې پټوي، ملي یووالی خو پر دې ټینګېـږي چـې د ملت ضد عناصرو پر ضد شعوري، هر اړخیزه او دقیقه مبارزه وشي، یـو څوک چې زموږ پر هېواد یرغل کوي، موږ به یې په دې خاطر دفاع نـه کوو چې موږ له یرغلګرو سره مساوي ونه ګڼل شو؟**



**د ملي هویت مسله هم همداسې ده، یو څوک چـې د ملـت پـر ملـي ارزښتونو ملنډې وهي او د هېـواد د زرګونـو کلونـو یـووالي او ملـي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتونو ته سپوره الفاظ کاروي او مور بیا په دې پلمه چې مور ته هـم څوک د هغوی په سترګه ونه ګوري، واقعیتونه نه وایو، زما په نظـر دا د یوه کمزوري ایمان نښه ده، خیر په هر ډول د ملت ضـد اشخاصـو لاره خپله ده، د ورځچارو او ځانساتو خپله او د ملتپالو افغانانو خپلـه. ددې لپاره چې د هېواد ځوان پښت د لوست لپاره یو څه وړاندې کړو، ښه به وي چې تر (ملت) وړاندې او وروسته رغنده جوړښتونو ته اشاره وکـړو او د هغو پر تعریف لنډه رڼا واچوو.

**فرد:** یو ځانګړی شخص دی، له نورو څخه جلا ځـانګړي ضـرورتونه او هدفونه لري او پر بل چا یا شخص د وېشنې وړ نه دی. لکه څنګه چـې په ژبه کې (غړ) د ژبې تر ټولو کوچنی واحد دی او پـر نـورو اجـزاوو د تجزیې وړ نه دی، دغسې (فـرد) د بشـري ټـولنې تـر ټولـو کـوچنی، وروستنی او نه تجزیه کېدونکی واحد دی، هر شخص په واقعیت کې د یوې کورنۍ، خېل، قبیلې، قوم، ملت، امت او بشریت بنست جوړوي.

**کورنۍ:** په انساني ټولنه کې د افرادو هغې ډلې ته وایي چـې پـه یـوه کور کې ژوند کوي او یو بل سره د وینې شراکت یا ارتباط لري، کـورنۍ د بشري ټولنې یو واحد دی. ځینې بشر پوهان بیا مور او اولادونه یانې (مېره، ښځه او اولادونه) چې د یوې کورنۍ هسته ګڼل کېږي او تر دې لږ څه په لویه کچه، خپل او خپلوان چې په یوه ګډ ځای کې اوسـېږي، دې ډول جوړښت ته (کورنۍ) وایي. د کورنۍ یو بل تعریف پـه دې ډول دی: د پلار، مور او اولادونو په ګډون د افرادو یوه ډله ده چې معمـولاً د پلار تر ریاست لاندې ژوند کوي، ددې تر څنګ (کورنۍ) لږ په لویه کـې داسې تعریفوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو خپلوانو په ګډون د افرادو هغې ډلې ته ویل کېږي چې یو بل سره ارثي اړیکي لري.

یو بل تعریف یې هم شته: کورنۍ د انسانانو هغه ټولنه ده چې د یو مشترک اصل له مخې سره راټوله شوې ده.

**خېل:** په ډېرو قومونو او ملتونو کې د (خېل) پوړۍ نه شته، خو په پښتو کې دا پوړۍ ډېره څرګند ده او مور د پښتنو په هره قبیله کې څو څو خېلونه لرو، خېل په دې ډول تعریفیږي: د څو کورنیو یوه ټولګه ده چې واحده منشی لري، خېل په یوه محدوده جغرافیه کې اوسي او زیات جغرافیایي وسعت نه لري.

**قبیله:** د څو کورنیو، خېلونو، ټبرونو یا طایفو یوه ټولګه ده چې ګډ اقتصادي اړیکي او د وینې ګډه ریښه لري. د قبیلې یو بل تعریف دادی: د کورنیو داسې یوې ټولګې ته ویل کېږي چې مشترک نیکونه ولري او دا نیکونه واقعي بنه لري.

ځېنې نور بیا قبیله په دې ډول تعریفوي: یو ټولنیز جوړښت دی چې څو کلي، ناحیې او خېلونه رانغاړي، مشترک فرهنګ، واحده ژبه، ګډه ځمکه او واحد نوم لري، طبیعي خبره ده چې ګډ اقتصادي اړیکي لري او جغرافیایي محدوده یې نسبتاً پراخه ده.

**قوم:** د قبیلې په انډول لوی ټولنیز تشکل دی چې کېدی شي له څو قبیلو څخه جوړ وي، نسبتاً عصري ژوند او صنعتي اقتصاد لري. ځېنې بشر پوهان بیا قوم په دې ډول تعریفوي: د انسانانو هغه ډله ده چې د اصل و نسب ګډه ریښه لري، ګډ فرهنګ، ګډه ژبه، او ګډ چلند لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنيو جوړښتونو تر څنگ په افغاني پښتنې ټولنه کې د پښې، تپې، گوندۍ، ټبر، پلرني او ځينې نورې نومونې او جوړښتونه هم شــته چــې زياتره په نورو ملتونو او قومونو کې دا ډول جوړښتونه نه شــته، دا ډول جوړښتونه تر ډېره بريده په عربو، پښتنو او ځينــو نــورو قومونــو کــې ترسترگو کيږي.

**ملت:** ملت ته د قران کريم په (البقره) او (آل عمــران) ســورتونو کــې اشاره شوې، په انگرېزي ژبه کې ورته (Nation) کلمه کارېږي، چې اصلاً د لاتيني ژبې له (Natio) څخه اخيستل شــوې، د (تولــد کېــدو) مانــا ښندي، د (ملت) همدا عربي شکل په پښتو او دري ژبو کې هم کارېږي، په پښتو کې (ولس) هم کارېږي چې له ملت سره تقريباً مترادفه کلمــه ده، په ځينو ژبو کې (قوم) هم د ملت په مانا کاروي. ځينې پوهان وايي:

د گډو (سياسي، اقتصادي، نظامي او کډوالۍ او نورو...) اړتياوو له مخــې د مشترکو وجوهاتو له امله د قومي ډلو مشارکت ته ملت ويل کېږي.

ځينې بشر پوهان بيا وايي: د قومونو هغې ټولگې ته ويل کېږي چې پــه واحده جغرافيه کې اوسېږي، مشترک ارزښتونه او گډ عقايد لري.

ټولنپوهان په دې نظر دي چې د يوه نژاد او وينــې پــر بنســټ د يــوه سوچه ملت جوړېدل ناممکن دي، دوی وايي: کېدی شي د يــوه ديــن، يوه نژاد او يوې ژبې خلک په بېلا بېلو هېوادونو کې ژوند وکــړي، خــو مستقل ملتونه وي، دوی د ساري په توگه د (سويس) هېــواد يــادوي، چې خلک يې په الماني، فرانسوي، لاتيني او ايټالوي ژبو خبرې کــوي، خو سويس يو ملت دی، ځېنې بيــا دې ډول ملتونــو تــه (قــرار دادي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملتونه هم وايي، امريکا متحده ايالات ، کاناډا، بلجيم او ځينو نور هــم په دې ملتونو کې ګڼل کېږي، د بشرپوهانو په نظر: ((ګــډه جغرافيــا، د يوه واحد دولت تابيعت، ګډې ګټې او زيانونه، ګډ ارزښتونه او باورونه د يوه ملت جوړونکي عناصر دي)) ځينې نور بيا خبره نوره هم رالنــډوي او وايي: ((د يوه واحد دولت وګړي يو ملت دی))**




**ملت او مليت يوه مانا لري؟ پر افغانستان باندې د پخواني شــوروي تــر يرغل وروسته د (مليت) اصطلاح د يوه قومي تشکل لپــاره وکارېدلــه، تردې وړاندې دا اصطلاح په دې مانا نه کارېدله، د روســانو هــدف دا و چې د افغانستان لږ کيو قومونو ته د (مليت) په نامه د هويت يوه نــوې بڼه ورکړي او هغوی ګڼې په دې اصطلاح کې لږ شان لوی وښيي او لــه پښتنو سره يې د کمي انډول کچه برابره کړي، روسانو په دې اصــطلاح کې خپل سياسي اهداف درلودل، د کلمې د حقيقي مفهوم لــه مخــې (مليت) قومي يا ټولنيز جوړښت نــه دی، (مليــت) (Nationality) ده او (ملت) (Nation) دی، (مليت) په واقعيت کــې د (ملــت) څرنګــوالی او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جوهر تشریح کوي، خو روسانو دا کلمه دلته د قوم او ملت تــر مــنځ د یوه بل تشکل لپاره وکاروله. د ساري په توګه له یوه جرمن شخــه کــه وپوښتل شي هېواد دې کــوم دی، هغــه بــه وایــي جرمنــي، (ملیــت) (Nationality) دې څه دی؟ نو هغه به ووایي (جرمن) یم، یا لکه له کــوم افغان شخه چې په بهر کې د (ملیت) په باب وپوښتل شي نو هغــه بــه ووایي افغان یم. پاتې دا چې (ملیت) د (ملــت) تشــریح ده نــه قــومي تشکل.**



**امت: تر (ملت) نسبتاً لویه دایره ده، کېدی شــي د څــو ملتونــو یــوه ټولګه په کې راټوله وي، امت په لغت کې (هر څیز) ته ویل کېــږي، پــه اصطلاح کې د هغو خلکو مجموعې ته ویل کېږي چــې ګــډ اعتقــادي، سیاسي او معنوي ارزښتونه لري، ځینې بیا (امت) همغې ډلې ته وایــي چې واحد امام ولري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (امت) کلمه په قران کریم کې (۶۴) ځله راغلې ده، د مشر، لاربنسود، نمونه، دین او ائین ماناګانې رانغاړي، یا د انسانانو هغې ډلې ته وایي چې د یوې عقیدې پلوي کوي.
د (اسلامي امت) مفهوم هم له همدې مانا څخه الهام اخلي، (اسلامي امت) په پراخ مفهوم سره هغه خلک دي چې ګډ اعتقادات او واحده قبله لري، حضرت علي (رض) دیني او الهي ټولنې ته امت وایي.
د اسلام په سیاسي نظریاتو کې د (امت) اصطلاح کارېږي او هغو خلکو ته چې د نژاد، رنګ او ژبې له توپیر پرته په اسلامي حکومت کې اوسېږي، ټولو ته اسلامي امت وایي، د امت اساسي بنسټ اعتقاد دی، نه رنګ، ژبه، وینه او نژاد.

**بشریت:** په بشري تشکل کې د بشریت اصطلاح هم کارېږي، تر اسلامي امت وروسته د بشریت اصطلاح یوه لویه او پراخه دایره رانغاړي، د بشر هر ډول، په هر اعتقاد چې وي، ټول په دې دایره کې شاملېږي، بشریت په حقیقت کې د (بشر) څرنګوالی ښیي، لکه (ملیت) چې (ملت) توضیح کوي.
د پورته اصطلاحاتو له تعریفونو څخه هدف دا و چې کله کله ځینې خلک له ټولنیزو اصطلاحاتو څخه ناسمه ګټه پورته کوي او یوه ټولنیزه اصطلاح هم د سیاسي غرضونو لپاره کاروي، دا هره اصطلاح ځانته پراخه توضیح او تشریح غواړي، خو په دې لیکنه کې یوازې په لنډیز سره ورته اشاره وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملت

## (لومړی درس)

## پوښتنې او ځوابونه



کمال سادات (د سیاسي چارو کارپوه: په نوره نړۍ کې بېلابېل مذهبونه او ژبې وي، مګر خپل وحدت یې ساتلی، خو دلته زموږ هېواد کې هر قوم ځانته ملیت وایي؟ ملت جوړولو لپاره څه کول پکار دي؟

ځواب: زموږ د ملت تر منځ اصلاً نفاق نه شته، نفاق د ځینو سیاسیونو او سیاسي ډلو تر منځ دی، روسانو دلته د قوم پر ځای د (ملیت) کلیمه وکاروله، ((ملیت)) اصلاً قومي یا ډله ییز شکل نه دی، ((ملیت)) د یوه شي جوهر څرګندوي، انګریزي کې ورته نېشنلټي (Nationality) وایي لکه ((انسانیت)) چې د (انسان) جوهر څرګندوي یا ((حیوانیت)) چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (حيوان) جوهر څرګندوي ، دغسې د (مليت) کلمــه هــم د (ملــت) جوهر څرګندوي، لکه څنګه چې ما په بېلابېلو وختونو کې دې ټکي ته اشاره کړې ده، روسانو ددې لپاره چې د افغان قومونو تر منځ تصــنعي تساوي رامنځته کړي نو يو شمېر وړو قومونو ته يې د (مليــت) کليمــه وکاروله او بيا يې د ټولو قومونو لپاره همدا کلمــه وکارولــه، دا کلمــه د ژبپوهنې له مخې د کوم قومي تشکل مانــا نــه ښــندي، بلکــې د يــوه مفهوم تشخص او ځانګړتيا څرګندوي، د ملي وحدت ټينګښت اصلاً د حکومتونو کار دی، خو دلته په تېرو لسيزو کې اصلاً په خپله حکومتونه او د هغو متصديان د ملي نفاق سبب شوي دي، نو کله چې دلته ملــي حکومتونه جوړ شي، د ملي يووالي لپاره اساسي کارونه تر سره کېــدی شي.



**مسعود ســروري**:( د ملي تحريک غړی) پــه دې وروستيو کې ځينو خلکــو ته د ملي قهرمانانو لقبونــه ورکړل شوي، حال داچــې هغوی وايي موږ ملت نه يو! او افغانــان نــه يــو او بلــه پوښــتنه مــې داده اچــې ځينــې خلــک تاســو تــه متعصب وايي، ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځواب:** ځینې خلک ملت نه مني خو ((ملي قهرمان)) یې منـــي! دوی خپله زموږ مشکل حل کړی، ځکه چې ملت نه وي، قهرمان یې اتومات نه شته، بل دلته دوه پراډاکسه (ضدین) واقع کېږي.تاســو بــه داســې پیغمبر نه وي لیدلی چې امت ونه لري، داسې پاچا به مو نه وي لیــدلی چې ملت ونه لري او داسې امام به مو نه وي لیدلی چې مقتــدیان ونــه لري.

بله خبره د تعصب په اړه، ریښتیا وینا ترخه وي، نو څوک چې رښــتیا وایي، هغه نورو ته مجرم او تعصب ښکاري،د(تعصب) کلمه له (عصــب) څخه اخیستل شوې، عصبیت هم له همدې کلمې څه جــوړ شــوی او متعصب هغه چاته ویل کېږي چې عصبي ناروغي ولري او زه د خدای ج



په فضل شکر دی له بشپړې روغتیا څخه برخمن یم او که په خپله ژبه خبرې کول، زده کړه کول لیک او لوست کول تعصب وي، بیــا خــو لــه پښتنو پرته د دنیا نور ټول خلک متعصبین دي، ځکه یوازې پښتانه دي چې په خپله ژبه خبرې نه کوي. په خپله ژبه خبرې کول او تعلیم کــول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا د هر چا حق دی، الله ج داحق ورکړی دا زموږ بشري حق هم دی، موږ دغه الهی او بشري مسلم حق غواړو! او څوک چې ددې حق ضد دي اصلي تعصب هغوی کوي، نه موږ. موږ چاسره ستونزه نه لرو او نه د بل پرحق تېری کوو خو بل چاته هم دا حق نه ورکوو، چې زموږ حقوق تر پښو لاندې کړي.**

**لایق شاه ځدراڼ، یو تن مدني فعال: د قومونو د وحدت او ملت جوړونې لپاره څه کول په کار دي؟**



**ځواب: قومي ستونزو ته لمن وهل دوه عوامل لري: کورني او بهرنی. اصلاً د ملت په متن او بطن کې ستونزه نشته، لومړی باید خارجي لاسونه لنډکړل شي او دا کار هغه وخت ممکن دی چې دلته ملي حکومتونه وي په ملي حکومتونو کې دا ډول اشخاص چې تفرقه اچوي خپل قوت له لاسه ورکوي، ملت ضد مسایل د روسانو د یرغل پر مهال په افغانستان کې ګرم شول او دلته یې خپل لاسپوڅی لرل او تر یرغل وروسته نوره هم لمن ورته ووهل شوه خو نوی نسل ددې توان لري چې دامشکلات حل کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





**عطاالله خان حیران:**

**ځینې کــړۍ او پردیپــال افراد د پښتون شتوالی نه شي زغملی او د پښتون د کلیمې ترڅنګ له افغــان کلیمې سره هم مخالفــت لري او ځینې خلک ځــان تـــه دافغــــان پرځـــای ((افغانســـتاني)) وایـــي، دوی وایي چې افغان پښتون ته وایي ستاسې نظر پرې غواړم؟**

**ځواب:**مترادفات پــه ژبــه کــې شــته، خــو حقیقــي مترادفــات نــه شته،ژبپوهان وایي یوه کلیمه چې د بلې کلیمې پرځای سل په سلو کې مانا ورکړي دا په ژبه کې نه شته. پښتون په ټول افغان کې داخــل دی، لکه څنګه چې افغان پشه یان،نورستاني، سکان، تاجک او نور ټول پــه افغان کې شامل دي دغسې نور قومونه هم د افغان په لویه دایــره کــې ځایېږي. موږسټره محکمه وایو، خو غټه محکمه نه وایو، ان نهــه لــس کلیمې په یوې مانا استعمالېږي، لکه فلانکی ډېر ســتر ســړی شــو،ډېر لوی سړی شو،ډېرنیک سړی شو،ډېر هوښیار سړی شو، یانې د یو کس لپاره مو څو کلیمې وکارولې، خو دا حقیقي مترادفې نه دي، یانې چــې ځای یې راشي بیا داکلیمې خپل خپــل ځــای لــري او مانــا یــې هــم تغیرېږي، دا یو شمېر پښتون ضد عناصر داکارونه کوي،دوی د منطق له مخې دومره کمزوري دي چې د ژبپــوهنې اصــول او قواعــد هــم نــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مني.افغان واحده کلیمه ده؛ اشتقاقي نه ده،د تجزیې وړ نه ده.**

**لکه، افغان نوم دی او افغانستان د مکان نوم دی، یانې هغه سیمه چــې افغانان پکې اوسېږي.**

**لکه څنګه چې د (ګل) لپاره (ګلستان) مکان دی،یانې د ګلــو ســیمه، دګلو ځای اوس موږ داسې ویلای شو چې ګل نــه وي او ووایــو لاړشــه ښارته د ګلانو کوڅې نه موږ ته څــو ((ګلســتاني)) راوړه ایــا دامنطــق مني؟!!**

**ته چې ګل نه منې نو ((ګلستاني)) یې بیا څه مانا؟**

**چې افغان نه منې ((افغانستاني)) څه مانا؟ افغانستان خو مکــاني نــوم دی چې له لغوي پلوه یې تجزیه کړې بیا هم افغان پاتې کېږي اصل خو پر خپل ځای دی، ته خو یې اصل سره مخالف یې، ددې لپاره چــې لــه افغان کلیمې سره حساسیت وښیې، یوه نا منطقي دایره طی کوې.**

**دوی یو غلط دلیل راوړي چې ((چراپاکستاني میګیم))! داخبره باید په علمي ډول واضح شي چې ځینې نومونه دي او ځینــې مکــان نومونــه چې مابعد یې له یوې ریښې څخه چې نوم دی یا قوم دی ارتباط لــري، له هغې ریښې څخه جوړ شوی، صفت څخه نه دی جوړ شــوی، افغــان نوم دی او افغانستان مکان نوم دی یانې هغه سیمه چې افغانان پکــې اوسېږي. لکه تاجک -تاجکســتان، ازبــک ازبکســتان. پــاتې شــوه د پاکستان خبره، پاکستان خو د ملت نوم نه دی او نــه دقــوم نــوم دی، بلکې د مذهبي اساساتو پر بنا جوړ شوی یو هېواد دی. هلتــه (پــاک) صفت دی او (ستان) د اوسېدو ځای یانې پاکه سیمه، نه د هغو خلکــو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوم چې پکې اوسېږي.

اکثره چې دلته سیاسي بحثونو کې کېني دوی ژبپوهان نه دي په ګرمو احساساتو غړېږي.افغانستان دافغانانو پــه نــوم جوړشــوی، افغــان او افغانستان ته څوک متبادل نه شي غوره کولای.

ځینې خلک وایي داخو دیو قوم نوم دی،زه به تاسې ته د امریکا مثــال درکړم ((امریکا)) د تلفظ په لږ تغیر یو ایټالوي ګرځندوی دی چې د یو شخص نوم دی، دنړۍ دومره لوی هېواد د یو شخص په نوم جوړ شوی، خلک ورسره حساسیت نه ښیي! او که دلته د یو قوم په نوم جوړ شوی وي دوی یې نه مني. اول خو موږ ورته قوم نه وایو د ملت نوم دی نــه د قوم، افغان کلیمه پر ټولو افغانانو چې دلته اوسېږي اطلاقېږي، او که بیا هم دوی وایي چې نه . خو بیا زه وایم زه ډېر یم زما په نوم یادېږي، لکه یو باغ د نرګیسو باغ دی ډېر پکې د نرګېسو ګلان دی نــور ګــلان هــم پکې شته خو د نرګیسو باغ په نوم یادېږي ځکه د نرګېسو ګلان پکــې ډېر دي،اوس موږ نشو ویلای چې د نرګیسو، لاله،کشمالیو باغ موږ وایو د نرګېسو باغ نور ګلان هم پکې شته دي او ښایسته پرې هم ښــکاري ښکاري.




**امید حیران**:استاده! ځینې رسنۍ زموږ په هېواد کې د ملــي ګتــو،ملي هویت،ملي ارزښتونو او ملي کولتــور پرضد خپرونې کوي، حکومت د کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مصلحت له مخې ددې دول افغان ضد رسنیو مخه نه نیسي؟**

**ځواب: داحکومت له  بن ترکنفرانس نه نیولې تر اوسه پورې د مضر مصلحت پر بنسټ جوړ شوی، چې دا کار د ملت په ګټه نه و،په ډاګه وایم دا کار ددې سبب شو چې اوس ایران تر بل هر هېواد ان تر امریکا هم دلته ډېر نفوذ پیدا کړی او زموږ په هېواد کې ملي،ژبینو کولتوري،مذهبي حساسیتونو ته لمن وهي، د حکومت په چارو کې فوق العاده ونډه لري، ایران ترامریکا هم د حکومت په رګ رګ کې ننوتی،موږ څو ځله اعلان وکړ چې راځئ ژوندون ټلوېزیون وارزوئ چې اقتصادي منابع له کومه کوي؟ بیا به دا فورمول پر ټولو تطبیق کړو، خو څوک حاضر نه شول، ځکه موږ پوهېدو چې دلته ځینې رسنۍ شته چې په بشپړه توګه د  ایران ګټو ته کار کوي. د پاکستان حکومت هم د افغانستان سرسخته دښمن دی، نه د پاکستان خلک، دواړو هېوادو کې ځینې عناصر شته چې موږ سره دښمني لري، باید غم یې وخوړل شي.**

**میوند ارین(د افغان یون ولسي سراسري خوځښت غړی): کله چې ملت رامنځته شي دوه ارزښتونه لري: مادي او معنوي، افغانستان کې دغو دوو ارزښتونو ته څومره پاملرنه شوې؟**



**ځواب: ارزښتونه خو افغانستان کې تراوسه پورې حاکم دي، که**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاکم نه وای موږ نه پاتې کېدو،د افغانستان شمال او جنوب، شــرق او غرب ټول ګډ کلتور او مستحکم ديني، مــذهبي او نــور اړيکــي لــري. ګاوندېيو داکوښښ کاوه چې زموږ اسلامي او ملي ارزښــتونه لــه منځــه يوسي،داملت خپلو ارزښتونو ته ژمن پاتې شوی،دا ټولنه يوه عقيــدوي ټولنه ده، زموږ دين اسلام دی او ۹۹،۹سلنه خلک مســلمانان دي، ان عربستان کې تر دې کچې نه دي.

مذهبي وحدت بله د ياد وړ خبره ده، پښتانه ،تاجک،ازبک پــه مــذهب کې سره يو دي، اهل تشيعه که په مذهب کې بېــل دي خــو لــه نــورو افغانانو سره په دين کې يو دي، که تاجک د هــزاره وررنــو ســره پــه مذهب کې جلا دي خو په ژبه کې سره يو دي، دوی د يوې غالې ګــلان دي، ځينې کړی شته چې د محوې لپاره يې هڅې کوي، خو دې ملــت کې همدا ارزښتونه دي چې ملت يې ساتلی.



(خاطره، د مېرمن ادبــي بهير غړې): ځوانانو ته پکــار دي چې ملي يــووالي تــه کــار وکړي، خو ځينې پرديپال شته چې زموږ ملي وحــدت، ملــي ګټو، ملــي اتلانــو تــه ســپکې سپورې خبرې کــوي البتــه د بيان له ازادۍ نــه پــه ناســمې ګټې اخيستو سره ، ځينې خلک بيا په ټلوېزيونونو کې ناست دي دوی ته وايي چې ستاسې نظر ته په احترام سره، ايا کنځاوو ته تاسو احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوئ؟ ایا داسې مرجع شته چې ددې ډول ګډوډیو مخه ونیسي؟ او ایا ارزښتونو ته توهین اوسپکاوی کول د بیا ن ازادۍ کې شته که نه؟ځکه دا د ژبني تعصب له مخې کېږي یانې زموږ مشران چې ددوی له ژبې ځخه نه دي، دوی ورته توهین کوي؟

**ځواب:** اول خو د اساسي قانون له مخې د بیان ازادي تر هغه حده پورې جواز لري چې د بل چا ازادي زیانمنه نه کړي، یانې هره هغه ازادي چې بل څوک زیانمن کړي بیا د بیان دا ډول ازادۍ جواز نه لري او هلته د قانون په چوکاټ کې د بیان ازادي ده، د ملي اتلانو خوندي کول او د واقعي ملي اتلانو خوندي کول ، ځکه چې دې کې باید یو تفکیک وشي، د (واقعي) کلمې پر کارولو هم شاید ځینې خلک اعتراض ولري چې یو شی به تاته واقعي ښکاري، موږ ته واقعي نه دی، خو خیر په مجموع کې، هغه شخصیتونه چې د حکومتونو له خوا موسمي اتلان وي د هغو په باره کې د نظر اختلاف شته، خو چې د ملت تر منځ کوم اتلان وي د هغو په باب د نظر اختلاف نه شته، دې ډول اتلانو د سوونو کلونو په نتیجه کې ځانونه تثبیت کړي دي، هغو ته حکومت القاب نه دي ورکړي، خپله خلکو ورکړي دي، افغانستان کې له بده مرغه چې قضایي یا عدلي ارګانونه ډېر فعال نه دي، په نورو ځایونو کې ددې لپاره حل لارې شته دي. مثال (سلمان رشتي) د دنیا یو لیکوال و، په اسلامي ټولنه کې ورته خلک د تنفر تر حده پورې په سپکه سترګه ګوري او ډېرې زیاتې اشتباه ګانې ترېنه شوي دي، پرته له شیطاني ایتونو څخه چې د اسلام ستر پیغمبر (ص) ته پکې سپکاوی شوی، ده نور کتابونه هم لیکلي دي، یو کتاب یې د (راجیو ګاندي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ په باب دی، دا لیکوال د هغو شخصي حریم ته ورداخل شوی و، هغوی پرې عریضه وکړه، په لندن کې په یــوه محکمــه کــې (ســلمان رشتي) جریمه هم شو، کتاب یې هم سانســور شــو، معــافي یــې هــم وغوښته او ډېر زیات تاوان ورته ورپېښ شو، حتی تر دې پورې چې زړه یې و بیا هېڅکله د چا پر وړاندې داسې هڅه ونه کړي، افغانستان کــې تــوهین او تحقیــر اوس عــادي خبــره ده، اوس ځینــې کســان چــې ټلوېزیونونو کې ناست وي داسې تصور کوي چې زه به یو چاته توهین او تحقیر وکړم یو شمېر حساسیتونه به راوپارېږي، نو زه به دې کې مطرح شم، دلته متأسفانه عدلیي او قضایي ارګانونه حاکم نه دي، بایــد هغــه حاکم شي او حل لار یې راوباسي، که نه دې کې حق تلف کېږي، حــق دې ته وایي چې، یو شی له تانه کم شي او ته متضرر شــې نــو ســتا د ژوند همغې برخې ته موږ حق وایو، نو دا چې د یو چا په ستاینه او د بل په غندنه وخت مصرفوي یو طرف ته زیان اړوي، نه دا خپله حق تلفــي ده، البته دا خبره د یادونې وړ ده چې حتی که یــوه محــدوده ډلــه یــا محدوده سیمه یا ولسوالۍ هم یو مشخص شخص ته احتــرام ولــري د هغو خلکو په خاطر چې هلته اوسېږي د هغوی په خاطر بایــد کوشــش وشي چې دې شخص ته توهین ونه شي، د دنیا ډېر غټ غټ مثالونــه موږ لرو چې له تشریح یې تېرېږم، خو مجموع کې دا همغه ډلې دي چې موږ ترې شکایت کوو، هغوی یوازې یو شخص نه، بلکې ټول ملــت تــه توهین کوي، یو سړی دوه ځلې د اطلاعاتو کلتور وزیر پاتې شوی، سړی ورته نه وایم، بلکې یو شخص ځکه سړیتوب، خو ډېر لوی معیار دی، یو شخص دوه ځله د اطلاعاتو کلتور وزیر په توګه او یو ځل د ټلوېزیون د رییس په توګه پاتې شوی، په همدې ګډوډۍ کې هغه پــه ټلوېزیونونــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې کېښني او وايي چې ((ما ملت نيستيم))، نو ته د چا د اطلاعاتو کلتور وزير وې، ملت نشته، دولت نشته مګر ته پکې وزير يې، نو دغسې اشخاص دي، چې هېڅ منطق نه لري، خو خدای تعالی يې په خپله شپېږه وهي، خو د الله پاک اوسېله ډېره ده، زموږ تنګه ده، موږ وايو چې لږ ژر يې ووهي، که نه دغومره چې يې دوی وشرمول په دنيا کې هېڅوک نه دي شرمېدلي، خو بيا هم نه شرمېږي، وايي شرم د هغو دی چې په شرم وپوهېږي، د دوی مشکل په همدې ځای کې دی، نو موږ بايد عدلي او قضايي ارګانونه تقويه کړو، چې هغو کې خصوصاً د رسنيو قوانينو ته بايد ډېر پام وي، دې کې چې متضرر شخص هر څوک وي که هغه حکمي وي يا حقيقي وي چې هغه بيا دعوه اقامه کړای شي، اوس نو دا دويم پړاو يې زموږ په قوانينو کې واضح نه دی، څو ورځې مخکې يو جنګسالار پر موږ عريضه کړې وه، ويل يې چې د دوی په ټلوېزيون (ژوندون) کې دده په نظر چې زه توهين شوی يم، هماغه خبرې موږ د اطلاعاتو او کلتور وزارت کې ورته بېرته واچولې، د همغه جنګسالار خپلې خبرې، نو موږ ويلې که توهنېږې، نو خپله ده ځان توهين کړی، که دا ښې خبرې وي، نو موږ څخه دې تشکر وکړي، که خرابې وي، نو خپله ده ځان توهين کړی، په عوض ددې چې ته عريضه وکړې هغه عريضه کړې وه، بيا موږ خوشاله په دې وو چې په دې وطن کې داسې يوه مرحله رامنځته ته شوه، چې يو جنګسالار پر قلموال باندې عريضه کوي، موږ وويل دا دواړه عريضې دې څارنوالۍ ته دې راجع شي، څارنوالۍ ويل، وس مو نه رسېږي، نو هغې مرجع ته چې ته عريضه کوې، هغه مرجع تر اوسه دومره کوشېره شوې او دومره قوي شوې نه ده چې قانون حاکم کړي، نو لږ وخت پکار دی چې دې مسايلو ته سمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاملرنه وشي.



**عصمت الله پښتون:**

**د افغان ملت جغرافيــايي حدود کوم دي، د افغــان ملت د څه په نوم يادېږي، د افغان ملت کلمه څومره پخـــــوانۍ ده، ايــــا د افغانســـتان تــر جوړېـدو پخوا افغان ملــت شــتون درلود که نه؟**

**ځواب:** يوه مسله چې په ځينو رسنيو کې يادېږي، چــې: ((مــا از ايــن خاطر ملت نيستيم که جغرافيه ما مشخص نيست)) نو تاسو وګــورئ ، مانا دا چې ستا د جغرافيې يوه برخه د بل چا تر تاثير لاندې وي، دلتــه به ملت نه وي؟ د پنځوس کلونو شاوخوا کې جرمني سره دوه بېل بېل هېوادونه وو، چې يو يې تر زياته حده د روس يــا پخــواني شــوري تــر کنټرول لاندې و، او بل يې نيمه ازاد و يا د امريکايانو تر چتر لاندې يــې فعاليت کاوه، ايا جرمن ملت نه و؟ دوو جلا جلا جغرافيو کې يو واحــد ملت اوسېده، په جبر باندې سره وېشل شوی و، مګر ملت خو و، يمــن پر دوو برخو: شمالي او جنوبي سره ويشل شوی و، ملت په کــې نــه و؟ کوريا په جبر باندې وېشل شوې، شمالي او جنوبي، ايا ملت په کې نــه شته؟ نو زموږ يو طبيعي سرحدونه دي او يو هغه چــې اوس يــې مــوږ باندې په زوره، د فشار په نتيجه کې تپلي، خو ملت نه دي منلي، مګــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومتونو د ناچارۍ له املــه ورســره ســر خوځــولی، زمــوږ طبیعــي سرحدونه له امو څخه تر اباسینه دي، دا زموږ طبیعي ســرحدونه دي، څو چې په دې طبیعي سرحدونو کې زموږ حاکمیت ونه چلېږي، دلتــه دایمي ثبات راوستل هم اسانه کار نه دی، ځکه همدغه ګاونــډیان او د هغوی کورني تالیخټې به مداخله کوي او هر وخت به بې ثباتي رامنځته کوي، دا ستا طبیعي حدود دي، بیا په دې طبیعي حدودو کــې تقریبــاً (۳۶۰۰۰۰) کیلو متره مربع ساحه چې په جبر باندې ببلــه شــوې ده، او اوس ستا تر حاکمیت لاندې نه ده، خو زموږ د ملت یوه برخه پــه کــې اوسېږي، موږ په رسمي ډول په دغه اوسنۍ جغرافیه کې ژوند کوو، موږ ادعا لرو او هغه د نړیوالو قوانینو د ټولو ارزښتونو له مخې چې په نــړۍ کې د یو ملت د یووالي لپاره په کار دي، خو زور نه لــرو، هانــګ کانــګ سل کاله انګلستان سره و، مګر چین یو مقدر هېواد و، انګرېزانو هانګ کانګ نه خوشې کاوه، د هانګ کانګ وروستی ګورنر (والي) یو انګرېــز و، کله چې یې هانګ کانګ پرېښودو په سترګو کې یې اوښکې راغلــې، بیانیه یې نه شوه ورکولی، ویل یې زه هغه بدبخته والي یم چــې زمــا د حاکمیت په موده کې هانګ کانګ چین ته حواله شو، دا بایــد نــه وای سپارل شوی، مګر چین زور درلود، چین طاقت لاره، په دنیا کې مطرح و، سل کاله یې صبر وکړ، خو بیا هم له خپلې ادعا څخه تېر نــه شــو او هانګ کانګ یې راخپل کړ، موږ هم دوه سوه کاله صبر کوو، خــو د دې مملکت د یوې برخې سند یا قباله چاته نه ورکوو. نو دلته چې پــه دې ټلوېزیونو کې کېښني ((صیب ما خو کشور بې عرض و مــرض هســتیم))، وروره یوه اشغال شوې برخه ده، په فلسطین کې یوه برخــه اســرائیلو اشغال کړې، بله برخه کې یې فلسطینیان اوسېږي، موږه هــم دغســې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو، چې زمونږ د خاورې یوه برخه انګرېزانو اشغال کړې وه اوس یې پاتې مړي یا میراث خور ته پاتې ده، بیا به ګورو سره، کله چې مو وس پیــدا شو، زور مو زیات شو، منطق قوي شو، نړۍ کې د افغانستان وزن زیات شو، بیا به دا خپله حقوقي دعوه مطرح کوو، د ملتونو په تاریخ کــې دا سل کاله هېڅ شی دي.

پاتې شوه د افغان کلمه، د افغان کلمه زرګونه کاله قدامت لري، څــوک چې یې ډېر مخالف دي، د فردوسي شاهنامه کې دې وګوري، ســربېره پر دې ډېر پخوا د افغان کلمه په المــاني ژبــه کــې راغلــې، د غــرو د اوسېدونکو په مانا، اسلامي اثــر (حــدود الهــام) کــې، د ابــو ریحــان البیروني په اثارو کې، د فروخي سیستاني په اثارو کې او نورو ګڼو اثارو کې د افغان کلمه راغلې ده، د یو ملت په توګــه راغلــې، یــو خــوا یــې (توران) یا (ترکان) یادول، بله خوا یې (افغانان) یــادول، د دنیــا غــټ مفکرین د افغان پر کلمه ویاړي، علامه اقبال لاهوري چې د دنیــا غــټ اسلامي مفکر دی، هغه پر افغانیت ویاړي، مګر دلته داسې خلک شــته چې د افغانستان شیره زبېښي، مګر د افغان کلمې سره مخالف دي، په هره ټولنه کې دا مکروب وي، په وجود کې هم مکروب وي، دا نو دا مانا نه لري چې مونږ مکروب ته تسلیم شو، تداوي او وقایه به یې کوو.

**ارین پکتیار:** استاده! دولس کاله مخکې د پېښور په کتابتونو کې ما یو کتاب واخیست چې د زړونو او دماغونو ماینونه نومېــده، پــه هغــه وخت کې ما یو تخنیکي ماین پېژانده د زړونو او دماغونو ماینونو ســره بلد نه وم،نن افغان ولس ته زېری ورکوم یو نوښت یــې شــروع کــړ، د استاد په مشرتوب به دغه نوښت پر مخ ځي، استاده زما پوښــتنه دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library





**چې کوم عوامل ملــت ســره ګنډي او کوم عوامل دي چې ملت سره وېشي؟**

**ځواب:** مخکــې مــو یادونــه وکړه چې یو معنوي ارزښتونه دي چې هغه په عقایدو کــې، په دین کې، په مذهب کې، په بېلا بېلو فرقو کې خلاصه کېږي، یو اقتصادي مسایل دي چــې د یــوې ټولنې یا یو ملت افراد ورڅخه ګټله اخلي یــا ورڅخــه متضــرر کېــږي، څومره چې په یوه ټولنه کې اقتصادي سوکالي رامنځ تــه کېــږي د یــو ملت د پیوستون لارې چارې ورسره زیاتېږي، خوســت یــو ولایــت دی چې هغه کې لږه اقتصادي زرغونتیا راغلې ده، د افغانستان له بېلابېلــو ولایتونو څخه ورته خلک ورځي پرته له دې چې څوک ورڅخه پوښتنه وکړي چې د کوم ولایت یې، د کومې سیمې یې، په کومــه ژبــه خبــرې کوې، هلته کار کوي، څوک دکانداري کوي، څوک هوټل کې کار کــوي، څوک بل کار کوي، ملت سره وتړل شو، همدا ډول په شمال کې کانونه دي، خلک ورځي هلته کار کوي، د اقتصادي ګټو په خاطر، څومره چې اقتصادي ګټې زیاتېږي په مملکت کې د ملت د افرادو تر مــنځ مینــه، محبت او تړون رامنځته کېږي، تاسو ګورئ اوس، امریکې ته چې خلک ورځي، دلته چې ډېر ځان ته توریالی وایي که د امریکې ګرین کارت چا ورکړ، نو هلته ورځي، ځکه هلته اقتصادي ســوکالي ده، هلتــه ګــوره معنوي سوکالي نه شته مګر اقتصادي سوکالي شته، ښې ټــولنې، ښــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملتونه او هېوادونه هغه دي چې مانيزه او مادي سوکالي ولري، په ځينو هېوادونو کې مادي سوکالي زياته ده، په ځينو کې کمه ده، په ځينو کې بيا برعکس، افغانستان داسې هېواد دی چې روهي تکيه يې زياتــه ده، پر دين باندې د خلکو ډېره تکيه ده، که بل قوم وای او دومره فشار پرې راغلی وای، نو له سره پاشل کېده. نو مــوږ کــه غــواړو دا ملــت ســره سوکاله وساتو، واحد يې سره وساتو، بايد اقتصادي پلانونه ولــرو، چــې ملت د اقتصادي ګټو له خاطره داسې سره وتړل شي چې يو بل نه ګټه ورسوي، وګورئ ورور له ورور سره تر هغه وخته ښه وروري کــوي چــې اقتصاد يې ښه وي، بېلتون او تربګني هغه وخت رامنځته کېــږي چــې اقتصاد يې د کمزورتيا خواته لاړ شي. څوک چې چا سره دوستي کوي نو وايي چې تاکې مې دا ګټه ده، انسان چې دی د ګټې تابع دی، (ماکيا ولي) يو لوی مفکر دی هغه وايي، انسان د خپل پلار قاتل هېرولی شي، خو د خپلو شتمنيو لوټوونکی نه شي هېرولی، يانې د انسان خصــلت داسې دی چې هغه د خپلو ګټو تابع دی، څومره چــې ګټــې د خلکــو زياتې شي، دې وطن سره دخلکو مينه پيدا کېــږي او ملــت د يــووالي طرف ته ځي.



## محمد نواز حقيقت، د هېواد د ماشومانو د ادب بابا:

ډېــر خوشــاله شوم چې د ژوندون ټلوېزيون په نوښت باندې داسې ښوونيز او د کار موضوع د تــدريس لپــاره عملــي شــوې ده او ملګري هم حاضر دي. پــه افغانســـتان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې فعلاً ناخوالې موجودې دي او هره خوا جنګونه هم دي، اساساً لکــه عنوان چې نوشته دی (ملي درسونه) له داســې ملــي درســونو څخــه ځوانان محرومه دي او د افغانستان هغه اساسي ارزښت نه پېژني، باید دې کار ته دوام ورکړای شي، زه دغه یوه نقطه عرض کــوم، د افغــان او افغانستان په نامه، د افغان کلمه، استاد عبدالحی حبیبي وایــي چــې (۱۷۰۰)کاله کېږي چې د افغان کلمه کارول کېږي او د افغانستان کلمې (۷۰۰) کاله کېږي چې دا کلمه په افغانستان کې او پــه نــړدې شــاوخوا هېوادونو کې او په نړۍ کې استعمال شوې ده، زه غواړم یوه بله خبــره اضافه کړم، زه خپله ګوار کوهستانی یم، او د نورستان یا د نورستانو له قوم سره نژدې اړیکي لرم، (ګواري) ژبــه یــوه (اریــایي) ژبــه ده چــې (سنسکریت) ژبې او (اریک) ژبې ته یې سلسله رسېږي، پــه (ګــواري) ژبه کې دا اوس هم پښتنو ته د (اوګان) کلیمه کارول کېــږي، زه فکــر کوم چې دا کلمه (افغان) خپله د (اوګان) کلمه ده، فقط د (و) پر ځــای فعلاً (ف) کارول کېږي او د (ګ) پر ځــای (غ) کــارول کېــږي، دا یــوه سوچه افغاني اریایي کلمه ده او له(۱۷۰۰)کالو څخه یې ډېر وخت کېږي چې دا نوم کارول شوی دی.هغه څوک چې د افغان له کلمې ســره او د افغانستان له کلمې سره حساسیت ښیي، دا باید وپېژنو چې دا د پردیو مزدوران دي، غلامان دي او د دوی ویستل له دې خــاورې څخــه یــوه ضروري خبره ده او دا د افغانانو یوه فریضه ده، زه نــور څــه نــه وایــم، دغسې پوهنیزو او څېړنیزو پروګرامونو ته باید ادامه ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشرۍ راتلونکي انتخابات او احتمالات

## (دویم درس)




ټاکل شوې د (۱۳۹۳ل) کال دوري پر (۱۶)مه نېټه د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو ټاکنې ترسره شي، دا ټاکنې خپل خپل مشکلات او ننګونې لري، خو داسې اټکل کېږي چې له ننګونو او ستونزو سره سره به انتخابات تر سره شي، د ولسمشرۍ د ټاکنو په باب لا وار د مخه رڼې او نا رڼې سروې ګانې شوي او وړاندې کېږي، دا انګېرنې او سروې ګانې اکثره پر اټکلونو ډډه لګوي، ما هم وغوښتل د ځینو واقعیتونو، حقیقتونو او د کمپاین د اوسني بهیر په رڼا کې د ولسمشرۍ د اوسنیو نوماندانو د راتلونکو دریځونو په اړه ځینې وړاندوینې او اټکلونه وکړم، دلته یوازې د ولسمشرۍ پر نوماندانو بحث کوم، د ولایتي شوراګانو د ټاکنو پر څرنګوالي څه نه وایم او نه زموږ د ملي درسونو دا ځانګړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث ددې جوګه دی چې ټولو پوښتنو ته ځواب ووايي، خو مخکې تـر دې چې د اټکلونو او احتمالاتو پر بنسټ پر ولاړ بحث خبرې پيل کـړم، غواړم د ټاکنو د قانونيت او مشروعيت په باب ځو مهمو ټکو ته اشاره وکړم:



**د انتخاباتو قانونيت:** په افغانسان کې د انتخاباتو د قانونيـت تـر ټولو غټه او معتبره سـرچينه د افغانسـتان اساسـي قـانون دی. ددې قـانون (۴، ۳۳، ۶۰، ۶۱، ۶۲، ۶۷، ۸۳، ۸۴، ۸۵) مـاده پـه مسـتقيم او نامستقيم ډول د انتخاباتو او د هغو د څرنګوالي يادونه کوي:

۴ مه ماده: په افغانستان کې ملي حاکميت په ملت پورې اړه لري، چې په مستقيم ډول يې په خپله يا يې د استازو له لارې عملي کوي.

۳۳ مه ماده: د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابېدلو حق لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶۰ مه ماده:** د جمهوري رياست کانديد د خپلو مرستيالانو نومونه د ځان له کانديدولو سره يو ځای ملت ته اعلاموي.

**۶۱ مه ماده:** جمهور رئيس د رايې ورکوونکو د ازادو، عمومي، پټو او مستقيمو رايو له لارې په سلو کې تر پنځوسو زياتو رايو په ترلاسه کولو انتخابېږي.

- د جمهور رئيس وظيفه تر انتخاباتو وروسته د پنځم کال د غبرګولي په لومړۍ نېټه پای ته رسېږي.
- دجمهور رئيس د کار تر پای ته رسېدو دمخه د نوي جمهور رئيس د ټاکلو لپاره انتخابات له دېرشو تر شپېتو ورځو پورې موده کې کېږي.
- که چېرې په لومړي پړاو کې له کانديدانو څخه يو هم ونه کړای شي چې په سلو کې تر پنځوسو زياتې رايې ترلاسه کړي، انتخابات د دوهم ځل لپاره د انتخاباتو نتايجو دنېټې تر اعلان وروسته د دوو اوونيو په اوږدو کې تر سره کېږي، دا ځل هغه دوه تنه کانديدان په انتخاباتو کې برخه اخلي چې په لومړي پړاو کې يې تر ټولو زياتې رايې ترلاسه کړې وي.
- د انتخاباتو په دويم پړاو کې هغه څوک چې د رايو اکثريت ترلاسه کړي، جمهور رئيس ګڼل کېږي.
- که چېرې د جمهوري رياست يو کانديد د رای ګيرۍ د لومړي يا دويم پړاو په جريان او يا تر انتخاباتو وروسته او يا د انتخاباتو د نتايجو له اعلان څخه پخوا مړ شي، نوي انتخابات د قانون له حکمونو سره سم کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶۲ مه ماده:** څوک چې جمهوري ریاست ته کاندیدېږي، باید د لاندنیو شرطونو لرونکی وي:

۱- د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږېــدلی وي او د بل هېواد تابعیت ونلري.

۲- د کاندیدو پر ورځ یې عمر تر څلوېښتو کلونو لږ نه وي.

۳- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.

• هېڅ شخص نشي کولای له دوو دورو زیات د جمهور رئیس په توګــه وټاکل شي.

• په دې ماده کې راغلی حکم د جمهور رئیس دمرستیالانو پــه برخــه کې هم تطبیقېږي.

**۶۷ مه ماده:** • د جمهور رئیس د استعفی، عزل، مړینې او یا په صــعب العلاجه ناروغۍ د اخته کېدلو په صورت کې چې د وظیفې د اجرا مخــه نیسي د جمهور رئیس لومړی مرســتیال د جمهــور رئــیس واکونــه او وظایف په غاړه اخلي.

• جمهور رئیس خپله استعفی په خپله ملي شورا ته اعلاموي.

• د صعب العلاجه ناروغۍ تثبیت د هغه طبي هئیت له خوا کېږي چــې ستره محکمه یې ټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• په داسې حالاتو کې د نوي جمهـور رئـيس د ټـاکلو لپـاره پـه درې میاشتو کې دننه ددې اساسي قانون د یوشپېتمې مادې له حکم سـره سم انتخابات کېږي.

• د جمهور رئیس مرستیالان ددې اساسي قانون له حکمونو سره سـم کولای شي ځان جمهوري رياست ته کاندید کړي.

۸۳ مه ماده: د ولسي جرگې غړي د خلکـو د ازادو، عمـومي، پټـو او مستقيمو انتخاباتو له لارې انتخابېږي.

• د ولسي جرگې د کار دوره د پنځم کال د چنگاښ په لومړۍ نېټـه د انتخاباتو د اعلان څخه وروسته پای ته رسېږي او نوې شورا په کار پيل کوي.

• د ولسي جرگې د دورې تر ختمېدو دمخه له دېرشو څخه تر شـپېتو ورځو پورې موده کې د ولسي جرگې د غړو انتخابات کېږي.

• د ولسي جرگې د غړيو شمېر د هرې حـوزې د نفوسـو د شـمېر پـه تناسب زيات نه زيات تر (۲۵۰) کسانو پورې دی.

• انتخاباتو په قانون کې باید داسې تدبيرونه ونیول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمـومي او عادلانـه اسـتازيتوب تامين کړي او د نفوسو په تناسب دې له هر ولايت څخه په اوسط ډول لږ تر لږه دوه ښځینه وکیلې په ولسي جرگه کې غړيتوب ترلاسه کړي.

۸۴ مه ماده: د مشرانو جرگې غړي په لانـدې ډول انتخـاب او ټاکـل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- دهرې ولایتي جرګې له غړیو څخه یــو تــن دمربــوطې جرګــې پــه انتخاب، د څلورو کلونو لپاره.

۲- د هر ولایت د ولسوالیو د جرګو له غړیو څخه یو تن، دمربوطو جرګو په انتخاب، د دریو کلونو لپاره.

۳- پاتې دریېمه برخه غړي دمعلولینو او معیوبینو د دوو تنو او کوچیانو د دوو تنو استازیو په ګډون د هېواد له خبیرو او تجربه لرونکو کســانو څخه د پنځو کلونو لپاره دجمهور رئیس له خوا ټاکل کېږي.

• جمهور رئیس له دې اشخاصو څخه په سلو کې پنځوس ښځې ټاکي.

• هغه شخص چې د مشرانو جرګې د غړي پــه توګــه انتخــابېږي، پــه مربوطه جرګه کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او دده پر ځای د قانون له حکمونو سره سم بل شخص ټاکل کېږي.

۸۵مه ماده: دا ماده د ملي شورا دغړیتوب لپاره د کاندیدانو شرایط په ګوته کوي. د ولسي جرګې لپاره د عمر (۲۵) کاله او د مشــرانو جرګــې لپاره (۳۵) کاله قیدوي.

۸۶ مه ماده: د ملي شورا د غړیــو انتخابــاتي وســیقې، د انتخابــاتو د څارنې خپلواک کمیسیون له خوا د قانون له حکمونو سره سم څېــړل کېږي.

دغه راز د اساسي قانون ( ۸۷، ۸۸، ۸۹، ۹۲، ۹۷، ۱۰۰) مــاده د ولســي جرګې د داخلي چارو لپاره انتخاباتي عناصر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اساسي قانون شپږم فصل، (۱۱۰)مه ماده د لویې جرګې پــه بــاب ده، په دې ماده کې راغلي چې لویه جرګه دملي شورا له غړیو او د ولایتونو او ولسوالیو د جرګو له رئیسانو جوړېږي.

۱۳۸ مه ماده: د ولایتي جرګو په باب ده.

دغه راز په اساسي قانون کې په ځینو نورو ځایونو کې هم په ضــمني او تلمیحي ډول د انتخاباتو او یا د انتخابي جرګو د جوړښت او په هغو کې د رایو څرنګوالي ته اشاره شوې ده.

د افغانستان تر اساسي قانون وروسته دقانونیت بله مرجع د انتخابــاتو هغه قانون دی، چې د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون له خوا جوړ شوی او دې اساسي قانون کې یې د جوړېدو سپارښتنه شوې: دا قــانون تــر ډېرو بحثونو او جنجالونو وروسته د ملي شورا له خوا تصویب شــوی او ولسمشر توشیح کړی دی.

**د انتخاباتو مشروعیت:** د انتخاباتو تر قانونیت وروسته بل مهــم ټکی چې د انتخاباتو لپاره ډېر مهم دی، هغه د ټاکنو مشروعیت دی. د ټاکنو د مشروعیت لپاره دغه لاندې څو ټکي ډېر مهم دي:

- **د انتخاباتي کمیســیون نــاپېیلتوب:** کــوم شــی چــې د انتخاباتو د مشروعیت لپــاره مهــم دی، هغــه دادی چــې د انتخابــاتو ناظمین باید بې طرفه، ناپېیلي او ناګوندي اشــخاص وي، چــې د ټولــو کاندیدانو د باور وړ وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **شفافیت:** بل ټکی چې د انتخاباتو د مشروعیت لپاره مهم دی، هغه د انتخاباتو د پروسې یا بهیر شفافیت دی، هر ډول، ابهام، شک او د پوښتنو نه ځوابونه د انتخاباتو مشروعیت ته زیان رسوي.

- **درایو کمیت:** د رایو وړ اشخاصو او رایو ورکوونکو د شمېر زیاتوالی د انتخاباتو له مشروعیت سره مستقیمه رابطه لري، څومره چې د ثبت شویو اشخاصو او رایه ورکوونکو شمېر زیات وي، همغومره پر پروسې د خلکو د باور څرګندويي کوي او د ټاکنو مشروعیت قوي کېږي.



- **د امکاناتو متوازن او متناسب وېش:** که چېرې د انتخاباتو چارواکي ټولو سیمو ته انتخاباتي امکانات په متوازن او متناسب ډول ونه وېشي، نو طبعاً یوه خوا یا ځینې کاندیدان په کې زیان ویني، عدالت نه رامنځته کېږي او دا کار د ځینو خلکو د نارضایتۍ سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• **د شکایتونو اورېدنه او ځوابونه:** د انتخاباتو په بهیر کې او د نتیجو تر اعلان وروسته که د معترضینو غوښتنو او شکایتونو ته معقول ځواب ور نه کړای شي او د هغوی مشروع غوښتنې او پوښتنې په سم ډول ځواب نه شي، نو طبعاً د انتخاباتو مشروعیت ته زیان رسېږي. د پورتنیو یادو ټکو ترڅنګ یو شمېر نور مسایل هم شته، چې د انتخاباتو مشروعیت ته ګټه او زیان رسولای شي، په مجموعي ډول معمولاً همغه انتخابات بریالي او درست ګڼل کېږي، چې قانونیت، شفافیت او مشروعیت ولري.

ددې زیات احتمال شته چې اوسنۍ ټاکنې به پوره قانونیت، مشروعیت او شفافیت ونه لري، خو داسې ښکاري چې هم حکومت او هم نړیواله ټولنه تر بلې هرې لارې، کمزوري او ناشفافه انتخابات هم ښه او غوره لار ګڼي او ځانته د ورو پوزه، ما غوښتل چې د ټاکنیزو سستمونو په اړه هم خبرې ولرم، خو د وخت د کمښت له امله په دې بحث کې ځای نه شم ورکولای، اوس راځم د ولسمشرۍ نوماندانو ته.

**۱- د نوماندانو د انصراف یا کمښت اټکل:** مخکې هم داسې اټکل کېده چې پوره یوولس کاندیدان به تر پایه خپله ټاکنیزه مبارزه ونه غځوي، قیوم کرزی لومړی نوماند و چې خپله انتخاباتي وېکتنه یې له لاسه ورکړه. پرته له دې چې کومه منډه تر سره کړي، په صفر کې اوټ شو، د دا ډول نورو ویکټو احتمال هم شته. اټکل کېږي چې د وري تر (۱۶) مې نېټې به په ترتیب سره او یا هم لږ وړاندې وروسته،(هدایت امین ارسلا)، (محمد نادر نعیم)، (جنرال رحیم وردګ)، (داود سلطان زوی)، (ګل اغا شېرزی) او (قطب الدین هلال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د بېلا بېلو تعاملاتو او امتیازاتو په مقابل کې له خپلې نوماندۍ لاس په سر شي، ددې حقیقت په پوره تطبیق سره به یوازې څلور نوماندان، (ډاکټر اشرف غني احمدزی)، (ډاکټر عبدالله عبدالله)، (ډاکټر زلمی رسول) او (استاد عبدالرب رسول سیاف) پر ټاکنیز ډګر پاتې شي او که پورتنی اټکل پوره سم ونه خېژي، نو کېدی شي، (ګل اغا شېرزی)، (قطب الدین هلال) او د دوی پر ځای کوم بل یو پاتې شي ،د نوماندانو وروستی نوملړ (۵-۷) پورې اټکلېدی شي، پورتنو نوماندانو کې کېدی شي (ګل اغا شېرزی) او (قطب الدین هلال) تر هغو نورو څلورو لږ زیاتې رایې ولري، خو اصلي مقابله به د ډاکتر احمد زي، ډاکټر عبدالله، ډاکټر رسول او استاد سیاف تر منځ وي او په دې څلورو کې بیا د لومړنیو دریو او په لومړنیو دریو کې بیا د ډاکټر اشرف غني احمدزي او ډاکټر عبدالله او یا هم ډاکټر احمدزي او زلمي رسول تر منځ وي، د ډاکټر عبدالله او زلمي رسول تر منځ هم په دویم پړاو کې د سیالۍ ضعیف احتمال شته، نو ددې یوولس نوماندانو د لومړني سیاسي انتخاباتي کمپاین ریاضي په دې ډول اټکلېدی شي.

۱۱- ۱ =۱۰

۱۰ -۴ = ۶

۶ - ۲ = ۴

۴ - ۱ = ۳

۳ - ۱ = ۲

۱ x ۱ =۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې موږ د دریو (۳) اساسي نوماندانو اټکل کـــوو او د هغـــو د ټـــیم جوړښت ته نظر کوو، نو د هغو ترکیب د یوه مثلث بڼه خپلوي، یا هم په ساده مثال د (ریکشا) په شان جوړښت لري، چې یو ټایر یې مخکـــې او دوه ورپسې وي، دې نوماندانو کې ډاکټر عبدالله عبدالله، ډاکټر زلمـــی رسول او ډاکټر اشرف غني احمدزی شامل دي، د دوی هر یو سیاسي مثلث خپل خپل ممیزات او ځانګړنې لري چې دلته به هر یـــو لـــه ځـــو اړخونو وارزو:

۱- د ډاکټر عبدالله عبدالله د ټیم جوړښت:




(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی دا مثلث له سیاسي پلوه ارزو:**

**د سیاسي ترکیب له مخې د اسلامي جمعیت. (۸۰) په سلو کې برخه د ډاکټر عبدالله تر شا ولاړه ده، اسلامي وحدت ګوند (۵۰) په سلو کې او اسلامي حزب کې (۳٪) په سلو کې د ډاکټر عبــدالله عبــدالله ملاتــړ کوي، یاني د عبدالله ترکیب:**




**اسلامي جمعیت ٪۸۰**

**اسلامي وحدت ٪۵۰**


**اسلامي حزب ٪۳**

## سیمه ییز ترکیب:

**له سیمه ییز پلوه دا مثلث د افغانستان ډېرې برخې نه رانغاړي، تر ډېره حده د هېواد مرکزي برخې او څه نا څــه د شــمال ځینــې برخــې تــر پوښښ لاندې نیسي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**مذهبي ترکیب:** ډاکتر عبدالله+ انجنیر محمد خان سـني مذهبه او محقق شیعه مذهبی دي.


له مذهبي پلوه کولای شي د هېواد زیاته برخه تر پوښښ لاندې راولي، له مذهبي پلوه دا ترکیب کومه خاصه ستونزه او نیمګړتیا نه لري.

**قومي ترکیب:** سره له دې چې ډاکتر عبدالله عبدالله اوس ځان ډېـر په تاجک قوم پورې نه تړي، ددې ترڅنګ پښتون هویت هم نه په ډاګه کوي، خو عبدالله عبدالله که ځانته له تاجک پرته هر څومره د بل قـوم رنګ ورکوي، څوک یې نه مني، هغه څوک چې د جمعیت او نظار شورا په خم کې رنګېدلای وي او یو زیات شمېر پښتون ضد اشخاص یې هم تر څنګ ولاړ وي، ډېره سخته ده چې د پښتنو پـه ذهـن کـې د هغـه پښتون تصویر کېنول شي، حقیقت هم دا دی چې پښـتانه هېڅکلـه ډاکتر عبدالله ته د پښتون په سترګه نه ګوري، بله سـتونزه یـې داده چې په تاجکو کې هم دی یوازې په پنجشېر درې پورې تړلی دی. که له ډاکتر عبدالله سره د تاجکوالۍ تصور نه وای او ځان یې پښتون ګڼلی، نو بیا خو انجنیر محمد خان ته اړتیـا نـه وه چـې هغـه دې د لـومړي مرستیال په توګه وټاکي، د هېواد اوسنیو جنګـي، قـومي او سیاسـي واقعیتونو ته په پام سره هېڅ بل کاندید دا کار نه دی کړی، چې له یـو


(c) ketabton.com: The Digital Library



**قوم څخه دوه تنو ته دې په یو ترکیب کــې ځــای ورکړي.نــو د ډاکتــر عبدالله د ټیم ترکیب د قومي هندسې له مخې دغه بڼه خپلوي.**




**په دې ترکیب کې د ډاکتر عبدالله اصلي رایې په تاجک مېشتو ســیمو کې خوندي دي.**



**عبدالله کولای شي له قومي پلوه په تاجک ټبر کې پــه ســلو کــې تــر (٪۸۰) رایې راخپلې کړي. محقق هم کولای شي د هر سلو هزاره ګــانو له جملې څخه (٪۵۰) رایې راخپلې کړي، خو د انجنیر محمد خان رایه په پښتون مېشتو سیمو کې صفر ته نږدې ده، عیناً لکــه احمــد ضــیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مسعود چې ځومره رايې له پنجشېر څخه ولسمشر کرزي تــه راوړې د انجنير محمد خان حال هم همدا ډول دی، نو د عبدالله قومي رايې په دې ډول محاسبه کېدی شي.**

**تاجک: ٪۸۰**


**هزاره: ٪۵۰**

**پښتون: ٪۰ ته نږدې يانې په سلو کې له (صفر) څخه تر (يو) پورې.**

**البته په خپله ډاکټر عبدالله عبدالله له يو شمېر پښتون مېشتو ســيمو څخه پام وړ رايې اخيستلای شي، خو نــه د انجنيــر محمــد خــان پــه واسطه، د انجنير محمد خان سياسي يا مذهبي رايې، د حکمتيــار پــه لارښوونه قطب الدين هلال او قومي رايې يې ټولې اشرف غني ته ځي.**

## ژبنی ترکیب:

**د ژبني ترکيب له مخې د عبدالله مثلث دوه ضلعې فعــالې دي، خپلــه عبدالله په (دري) او (پښتو) غږېدلای شي، لومړی مرســتيال يــې پــه پښتو او دري او دويم مرستيال يې پــه دري غږېــدلای شــي. د ژبنــي ترکيب له مخې په ډېر ضعيفه موقعيت کې نه دی.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ډاکټر عبدالله ژبنی ترکیب**

**عبدالله: دري ٪۹۰. پښتو: ٪۱۰**

**محمد خان: پښتو: ٪۹۰ . دري ٪۱۰**

**محقق: دري ٪۱۰۰ پښتو صفر**

**دا ډول ژبنی ترکیب اکثریت پښتنو ته د ډېر زیات تائید وړ نه برېښي، خو د ژبني ترکیب له مخې د عبدالله ټیم د زلمي رسول تر ټیم په قوي دریځ کې دی.**

**د مسلکي ترکیب له مخې: ډاکټر عبدالله او انجنیر محمد خان رسمي تعلیم لري، خو محقق که څه هم رسمي تعلیمي اسناد نه لري، خو په دیني او اجتماعي علومو کې یې په شخصي تشبث ځان یو حد ته رسولای دی.**

**د ماضي ترکیب له مخې: ددې ترکیب درې واړه غړي په داسې تنظیمونو پورې تړلي، چې وخت پر وخت یې خپل منځ کې سره شخړې لرلې دي او بیا یې هم احتمال شته، خو اوس ټول واحد مجبوریت سره تړلي او تر ټاکنو پورې یې ډېر کم احتمال شته چې ټیم یې وپاشل شي او که پاشل کېږي هم، نو د انجنیر محمد خان په حذف به تمامېږي.**

**اقتصادي امکانات: د اقتصادي امکاناتو له مخې هم دا ترکیب په قوي دریځ کې دی، بهرني اړیکي او کورني امکانات، ددې سبب کېږي چې له اقتصادي پلوه له ډېرو ستونزو سره مخ نه شي، د زیاتې پانګې له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې دوی کولای شي تر ټاکنو پورې خپل کمپاین په ښه ډول تر ســره کړي او د ټاکنو پر ورځ خپلو پلویانو ته د ترانسپورټ زمینه برابره کړي.

**رسنیز امکانات**: ډاکټر عبدالله د رسنیز فعالیت له مخــې پــه قــوي دریځ کې دی، (نور)، (راه فردا) او (نورین) ټلوېزیونونه ورته په مستقیم ډول کمپاین کوي، ځینې نور ټلوېزیونونه د تجارتي اعلانونــو او ځینــې نور هم د ناپېیلتوب د اصل له مخې د عبدالله عبدالله کمپاین تــه ګټــه رسوي، په چاپي او راډیویي رسنیو کې هم په قوي دریځ کې دی.

**بهرنی ملاتړ**: اوسنۍ روسیه، تاجکســتان، ایــران، هنــد او ځینــ اروپایي هېوادونه له ډاکټر عبدالله سره خواخوږي لري، خــو دا پــه دې مانا نه ده چې دی دې ضرور له ټولو څخه مالي امکانات تر لاسه کــوي، امریکا د تېر ځل په شان دا ځل له ډاکټر عبدالله څخه د یوې وســیلې په توګه کار نه اخلي، کېدی شي امریکا د تېر په انډول دا ځل په ټــاکنو کې ډېره څرګنده لاسوهنه ونه کړي.

**کاري ټیم**: د اسلامي جمعیت او نظار شورا غړي د عبدالله عبدالله د کاري ټیم اصلي زړی جوړوي، دوی پــر انتخابــاتي مهــارتونو او چلونــو پوهېږي، د دولتوالۍ څه نا څه تجربه هم لري او د کمپــاین څــو ځلــي عملي تجربه هم، دویم قوت یې د محقق اسلامي وحدت ګوند دی چې دا ډله هم د محقق لپاره په کمپاین کې خپله غوښنه ونډه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library




خو په دې کمپاین کې انجنیر محمد خان هم د مالي امکانــاتو، هــم د انګېزې او هم د نورو لازمو امکاناتو د نشتوالي له امله تر ډېره حــده د عبدالله مټ نه شي پیاوړی کولای.

**انګېزه**: د عبدالله د کمپاین اصلي زړی د کمپاین لپاره قومي انګېــزه لري، خو دا انګېزه په ډاګه بیانولای نه شي، جهادي انګېزه د ټولــو تــر منځ تقسیم ده، د ولسواکي انګېزه لا هم د ولس پر ذهن دومره تــاثیر نه شي کولای، محقق هم د لږ کي هزاره څرګند شعار ځکــه نــه شــي ورکولای چې هزاره لږ کي په هر ترکیب کې په ورته دریــځ کــې ځــای لري، د فساد او بې عدالتۍ پر ضد شعار او انګېزه د دوی له خولې ولس ته بې مانا ښکاري. د انګېزې پټ انتقال هم اسانه او موثر کار نــه دی، د عامو تاجکانو پر حقوقو د پنجشېر درې انحصار، د دوی د قومیت شعار او انګېزه کمزوري کړې، نو په دې خاطر د عبدالله ټــیم د انګېــزې لــه بحران سره مخ دی، د انجنیر محمد خــان موقعیــت او د هغــه ســاتنه ډاکټر عبدالله ته په خورا درانه زیان تمامه شوې، د هغه حذف هم څــه اسانه کار نه دی، لنډه دا چې کــه عبــدالله د پورتنیــو ټولــو بریــاوو او نیمګړتیاوو په پام کې نیولو سره ټــاکنو تــه لاړ شــي، نــو د ده د ټــیم انتخاباتي سیاسي ریاضي او هندسي جوړښت به په دې ډول وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library






**دا هغه حالت دی چې ډاکټر عبدالله د بشپړ بري پوړۍ ته نه شي رسولای. د عبدالله د مثلث یوه ضلعه نیمګړې او صفر ته نږدې ده. هر هغه ټیم چې د مثلث ټولې ضلې یې پوره وي، د بریالیتوب چانس یې زیاتېږي.**

## ۲: د ډاکټر زلمي رسول د ټیم جوړښت:

**د زلمي رسول ټیم هم د یوه مثلث بڼه لري، دا به هم په لنډیز سره وخېړو:**

**سیاسي ترکیب: زلمی رسول د کوم تنظیم غړی نه دی، پخوا یې د روم د بهیر او بیا د ولسمشر کرزي په حکومت کې د یوه تکنوکرات شخص په توګه کار کړی، کوم ایډیالوژیک خط نه تعقیبوي، خو ځان یو معتدل ملتپال شخص ګڼي، داسې ملتپال چې د ملت له اکثریت سره یې تر ډېره حده ژبني او ټولنیز اړیکي پرې شوي، خو د نیکونو له تېرې ماضي سره د ارتباط له لارې غواړي خپله ولسي خلا ډکه کړي، لومړی مرستیال یې احمد ضیاء مسعود، د اسلامي جمعیت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په تېره بیا د نظار شورا غړی دی، له سیاسي پلوه یې دده په انـډول




ډاکټر عبدالله عبدالله ته فکري او قومي خواخوږي څو ځله زیاتــه ده. دویمه مرستیاله یې که څه هم د اسلامي وحدت ګوند غړیتوب لري یــا نه، خو د همغوی له ادرسه له ده سره یو ځای شوې، اسلامي جمعیــت او اسلامي وحدت بیا په تېره ماضي کې خپل ناتصفیه شوي حســابونه هم لري، د سیاسي پیوند له مخې دا ترکیب معیوب ښــکاري، اوس یــو عاجل مجبوریت سره یو ځای کړي، څرنګه چې هر یــو تــه تــر خپــل استعداده پورته مقام ته رسېدلی او بل درې واړه د یــو نــرم ذهنیــت لرونکي دي، نو ځکه ددې احتمال شته چې ټیم یې تر ټاکنو ورســي او که بریالی شي، نو د جنجالونو او ګوزارې په یوه موازي مســیر کــې بــه حرکت کوي. د سیاسي ترکیب له مخې به دا ترکیب دا بنه خپله کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متعدل ملتپال (زلمی رسول)



اسلامي جمعیت یا نظار شورا اسلامي وحدت (حبیبه سرابي)

(احمد ضیا مسعود)

د سیاسي ترکیب له مخې د زلمي رسول د رایو احتمال په دې ډول دی.

متعدل ملتپال د زلمي رسول لپاره په سلو کې (۱۰٪) رایې

اسلامي جمعیت او نظار شورا د احمد ضیاء مسعود لپاره په سلو کې (۱۰٪) رایې

اسلامي وحدت د حبیبې سرابي لپاره په سلو کې (۲۰٪) رایې

البته ددې اټکل هم شته چې د اسلامي جمعیت په سلو کې (۱۰٪) برخې محمد اسمعیل خان ته هم لاړې شي او که استاد سیاف ا انصراف وکړي، نو پاتې لس به یې بیا هم زیاته برخه ډاکټر عبدالله او څه یې هم احمد ضیا مسعود ته تللی شي.

د اسلامي وحدت ګوند د سیاسي برخې زیاته رایه محقق، په دویمه کته ګورۍ کې سرور دانش او په دریېمه کې کېدی شي حبیبي سرابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته لاړه شي، چې په سلو کې (۲۰٪) اټکلېدی شي، نو د زلمي رســول د سیاسي ترکیب وروستۍ نتیجه به دا شي.

۱- متعدل ملتپال په سلو کې (۱۰٪)

۲- اسلامي جمعیت په سلو کې (۱۰٪)

۳- اسلامي وحدت په سلو کې (۲۰٪)

نو په دې ډول به د سیاسي جوړښت له مخې تر ډاکتر عبدالله عبــدالله په ضعیفه موقف کې راشي.


**مذهبي ترکیب**: د مذهبي ترکیب له مخې د اکثریت اهل تسنن او اقلیت اهل تشیع دواړه برخې لري، خو لکه څرنګه چې دوی ځانتــه د اعتدال ټیم وایي، نو ځکه یې مذهبي عنصر دومره قوي نه دی، دلته هم د ډاکټر عبدالله تر ټیم په ضعیفه موقف کې دی.

**قومي ترکیب**: که څه هم زلمی رسول له قومي پلوه ځانته پښتون وایي، خو پښتانه ورته د خپل استازي او بشپړ پښتون په ســترګه نــه ګوري، نو دده په مقابل کې چې هر بل پښتونه ولاړ وي، د پښتنو رایــې اتومات همغه ته ورماتېږي، په پښتنو کې د اشرف غنــي احمــدزي پــه مقابل کې دده رایه په نشت او یا هم په ډېره کمه کچه حســابېږي، دده لومړی مرستیال هم قومي رایه نه لري او یا هم ډېره کمه، ځکه چــې د مرستیال قومي رایه یې اتومات ډاکټر عبدالله تــه ځــي، د جمهــوري ریاست په لومړۍ دوره کې د احمد ضیاء مسعود رایه په صــفر حســاب وه، په دویمه کې فهیم خان په نشت حساب و او په درېیمه کې هــم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد ضیاء مسعود رایه بیا هم په همغه بڼــه ده، لکــه څنګــه چــې د عبدالله په ټیم کې انجنیر محمد خان د عبدالله پر اوږو بار دی، دغسې احمد ضیاء مسعود هم د زلمي رسول پــر اوږو بــار دی، البتــه جبیبــه سرابي د هزارګانو یو څه قومي رایې راخپلولی شي، په دې ډول بــه لــه هرو سلو هزارګانو څخه نږدې (۵۰) رایې محقق واخلي، (۳۰) به ســرور دانش واخلي او (۲۰) به حبیبــه ســرابي راخپلــې کــړي، پــه دې ډول حبیبه سرابي د قومي رایو له نظره د زلمي رسول په ټیم کې تــر ټولــو ښه مقام لري، دا مثلث کېدی شي دا بڼه خپله کړي.




زلمی رسول په هر سلو پښتنو کې (۱۵٪)

احمد ضیا مسعود په هر سلو تاجکو کې (۲٪)

حبیبه سرابي په هر سلو هزاره و کې (۲۰٪)


د قومي ترکیب له مخې دا ټیم په خورا کمزوري موقعیت کې دی.

**ژبنی ترکیب:** د ژبني ترکیب له مخې دا ټیم په ټولو لســو ټیمونــو او بیا وروسته احتمالاً په دریو، څلورو یا پنځو ټیمونو کې تر ټولو کمزوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیم دی، په دې ټول مثلث کې یو تن هم په پښتو خبرې نه شي کولای، البته زلمی رسول یې د کاغذ له مخې لوستلای شي، خو که کاغذ یــې باد یووړ، نو همغه د چارلي پاپلین سندره ورڅخــه جــوړېږي. د ژبنــي ترکیب له مخې دا ټیم دابڼه خپلوي.




په دې ټیم کې د پښتو ونډه کېدی شي (۰،۲) وي، دا په داسې یو حالت کې چې په افغانستان کې ژبني حقــوق یــوې حساســې مرحلــې تــه رسېدلي، هېڅ پښتانه او نورو پښتو ژبو ته ددې ژبني ترکیــب د صــفر کچه د منلو وړ نه ده.

**د ماضي ترکیب**: له احمد ضیاء مسعود پرته چې سیاسي ماضي یې ټولو ته د منلو وړ نه ده او متنازعه ده، د زلمي رسول او حبیبې ســرابي سیاسي ماضي د ډاکټر عبدالله عبدالله تر ټیم غوره برېښي، په سیاسي ماضي کې دی ان تر نورو سیاسي سیالانو د مخه دی، خو دلتــه رایــې یوازې د سیاسي ماضي له مخې نه کارول کېږي، که سیاسي ماضــي د تائید یا رد وړ وه، نو دې ترکیبونو دا بڼه نه شوه خپلولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اقتصادي امکانات**: دا ټیم د مالي امکاناتو له نظره په ضعیفه موقف کې نه دی، یو شمېر پانګوال شته چې ورسره مرسته کوي او ویل کېږي چې لا هم ناڅرګندې منابع شته چې دده د کمپاین لګښتونه ورکـــړي، خو خپله زلمي رسول ددې لپاره پانګه نه ده ټوله کړې، څکه چـــې دده په تصور کې هم نه و چې دی به ټاکنو ته ودرېږي.

د اداري فساد له مخې هم، دی یو پاک انسان دی، له ډېرو لوړو مقامونو یې هم ناوړه اقتصادي ګټه نه ده پورته کړې، لومړی مرستیال یـــې هـــم دده د اوړو بار دی، که هغه پیسې ولري هم، نـــو پـــر کمپـــاین یـــې نـــه مصرفوي، دویمه مرستیاله یې هم همداسې درواخله.

**رسنیز امکانات**: د زلمي رسول ټیم مشخص ټلوېزیونونه، راډیو ګانې او د تبلیغ نورې ذرایع نه لري، د تبلیغاتي کمپاین خلا یې د پیســـو پـــه بدل کې په اعلانونو ډکه کړې، ایډیالوژیک بېز هم نه لري، چې څینـــې ټلوېزیونونه ورسره وړیا مرسته وکړي، البته متحد المال خبرونـــه یـــې طبعاً په ټولو ټلوېزیونونو کې خپرېږي.

**بهرنی ملاتړ**: کېدی شي څینې هېوادونه د زلمي رسول د اعتـــدال له مخې دده ملاتړ وکړي او یا ورسره خواخوږي ولري، خو دا ملاتـــړ بـــه زیاتره تر ټاکنو وروسته وي، نه تر ټاکنو دمخه.

کاري ټیم: کاري ټیم یې اکثره د ملي شورا له وکیلانو، یـــو شـــمېر پتـــو دولتي مامورینو، څینو څوانانو او د اسلامي جمعیت او وحدت ګوند لـــه یو شمېر غړو جوړ دی، ټیم یې نا متجانس دی، خو نرم خلک پـــه کـــې دي، ګوزاره کوي، اکثره په کې داسې اشخاص دي چـــې یـــوه نـــه یـــوه


(c) ketabton.com: The Digital Library



عارضه لري، په دې خاطر له ده سره یو ځای شوي چې د بریالیتوب په حالت کې ورسره ګوزاره وکړي، دې ډول اشخاصو د ډاکټر عبــدالله او ډاکټر اشرف غني له وېرې ده ته پناه وروړې ده، ځینې پــه دې خــاطر ورسره ملګري شوي چــې فکــر کــوي دی د دولــت کاندیــد دی او د بریالیتوب چانس یې زیات دی.

**انګېزه:** دا ټیم نه قومي انګېزه لري او نه هم ملي، د دوی انګېــزه لــه مقابلو او سیالو کاندیدانو او د هغوی له چلند څخه د ځینو خلکو وېــره ده، دوی اعتدال یوه انګېزه ګڼي او دا انګېزه هغه وخــت کارنــده رول لوبولای شي چې د افراط او تفریط دواړو خطرونه موجود وي.

نو په وروستۍ نتیجه کې ددې ټیم د رایو عمومي اټکل پــه دې ډول کــولای شو:




## ۳- د ډاکټر اشرف غني احمدزي د ټیم جوړښت:

د کاندیدانو په منځ کې یو مطرح او زیات مطرح کاندید ډاکټــر اشــرف غني احمد زی دی، د اشرف غني احمدزي ټیم هم د یو مثلث بڼه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته به د دې مثلث پر بېلا بېلو ضلعو، جوړښت او څرنګوالي هم لږه رڼا واچوو.

**سیاسي ترکیب**:په خپله ډاکټر اشرف غني احمدزی د کوم سیاسي تنظیم غړی نه دی، خو د یو ملتپال تکنوکرات په توګه يې د تېرو (۱۲) کلونو په بهیر کې د ملي سیاسي بهیرونو دپیاوړتیا لپاره مستقیمه او نا




مستقیمه ونډه لرلې ده. لومړنی مرستیال یې (جنرال عبدالرشید دوستم) له پیله بیا تر دې دمه (د افغانستان ملي اسلامي جنبش) په نامه د یوه سیاسي جریان مشري کړې او دویم مرستیال یې د اسلامي وحدت ګوند د (کریم خلیلي) د ګروپ یو اساسي او مرکزي غړی دی.
په دې ډول دا مثلث د یوه بشپړ سیاسي او له یوه بل نیم سیاسي مذهبي ګوند او د یوه ازاد سیاستوال له یو ځای کېدو څخه رغېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غوڅ ملتپال تکنوکرات (اشرف غني احمدزی)**



**اسلامي وحدت د کریم خلیلي ګروپ (سرور دانش)**

**ملي اسلامي جنبش (جنرال دوستم)**

**له سیاسي پلوه ددې ترکیب د رایو احتمال په دې ډول دی.**

**ملتپال تکنوکرات اشرف غني په سلو کې (٪۵۰ )**

**ملي اسلامي جنبش (دوستم) د خپل ګوند او د ورتــه افکــارو لرونکــو اشخاصو په سلو کې (٪۹۰)**

**اسلامي وحدت ګوند (سرور دانش) ددې حزب په سلو کې (٪۳۰)**

**د سیاسي جوړښت له مخې دا ترکیب د ډاکټر عبدالله او زلمي رســول تر ټیمونو قوي برېښي.**

**مذهبي ترکیب: په مذهبي ترکیب کې هم دا مثلث څه خاص مشکل نه لري، د اکثریت اهل سنت او اقلیت شیعه مذهب دواړه برخې په کې محسوسې دي، سره له دې چې خپله د اشرف غني احمدزي او جنرال دوستم د مذهب پالنې عنصر د نورو کاندیدانو په پرتله زیات مطرح نــه دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قومي ترکیب:** د اشرف غني احمدزي په ټیم یا مثلث کې چې کوم څه د زیات قوت وړ برېښي هغه دا دی چې ددې مثلث یوه ضلع هم خالي نه ده، د اکثریت پښتنو او دوه نورو غټو قومونو ټولو تصویر په کې ښکاري، په نور یوه ټیم کې هم دا تصویر دومره روښانه نه دی، په دې ترکیب کې اشرف غني احمدزی په خپله د اکثریت پښتنو په سلو کې تر (۶۰٪) زیاتې رایې را اخلي، دوستم د ازبکو په سلو کې تر (۸۰٪) زیاتې رایې راخپلوي او سرور دانش هم په هر سلو هزاره و کې (۳۰٪) رایې راخپلولای شي.

اشرف غني احمدزی (پښتون)




جنرال دوستم (ازبک) سرور دانش (هزاره)

ددې ترکیب د احتمالي رایو د شمېر تصویر په دې ډول کاږلای شو.

۱- اشرف غني د پښتنو د رایو تر (۶۰٪) زیاتې رایې

۲- جنرال دوستم د ازبکو تر (۸۰٪ ) زیاتې رایې


۳- سرور دانش د هزارګانو تر (۳۰٪) زیاتې رایې

البته دا په دې مانا نه ده چې دا ټیم په نورو قومونو کې رایې نه لري او یا هم ډاکټر عبدالله او زلمی رسول په پښتنو او ازبکو کې رایې نه لري، خو دلته موږ یوازې د غټو او زیاتو رایو یادونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژبنی ترکیب:** د ژبني ترکیب له مخې د تحول او تداوم ټیم تر ټولــو ښه موقعیت کې دی، پښتو + دري+ ازبکي، درې واړه ژبې په کــې پــه داسې ډول محسوسې دي، چې اشرف غني احمدزی پر پښــتو او دري بشپړ حاکمیت لري، دوستم په ازبکي او دري خبــرې کــولای شــي او پښتو د کاغذ له مخې لوستلای شي، ســرور دانــش د دري ژبــې پــوخ لیکوال دی او پښتو د کاغذ له مخې لوســتلای شــي. د ډاکتــر زلمــي رسول په ټیم کې د (پښتو) او د ډاکتر عبدالله په ټــیم کــې د (ازبکــي) محرومیت، د ډاکتر اشرف غني ټیم ته د بریالیتوب یو بــل چــانس پــه لاس ورکوي.




د (ډاکتر اشرف غني) په شتوالي کې (پښتو)، د (دوستم) په شــتوالي کې (ازبکي) او د (سرور دانش) په شتوالي کې د (دري) حقوق خوندي دي.

**ماضي ترکیب:** د ماضي ترکیب له مخې د اشرف غني ټیم هم مصون نه دی. په دې ترکیب کې د اشرف غني مرستیالان هم د تېــرو ترخــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضايا وو يوه برخه ګڼل کېږي، ددې ترکيب له مخــې دوه نــور مطــرح کانديدان هم ورته ستونزې لري.

**اقتصادي امکانات**: د اشرف غني احمدزي ټيم له اقتصادي پلوه پــه متوسط حالت کې دی، زياته مرسته د ولس له خــوا ورکــول کېــږي، د ولس د بېلا بېلو برخو ډېره کمه کمه بسپنه د غني مــټ ډېــر پيــاوړی کوي.

**رسنيز امکانات**: د رسنيزو امکاناتو له مخې ډاکټر اشرف غنــي پــه قوي موقف کې دی، (اينه)، (نګاه)، (سبا) ټلوېزيونونه يې په بشپړ ډول مرستندويان او خپرندويان دي، (ژوندون راډيو ټلوېزيون) يې هم وړيــا مرستندوی دی، رسنۍ يې د تجارتي اعلان په توګه غونډې تر پوښــښ لاندې راولي او ځينې نورې رسنۍ يې د خپل ورځني خبري ضرورت پر بنسټ غونډې خپروي. په دريو ژبــو د (تحــول) ورځپاڼــه، فيســبوک، محلي راډيوګانې او ويبپاڼې هم اشرف غني ته وړيا کمپاين کــوي، پــه رسنيز ډګر کې تر ټولو زيات مطرح دی.

**بهرنی ملاتړ**: په خپله اشرف غني يوه نړيواله څېره ده، له نړيوال باور څخه برخمن دی، لويديځه نړۍ کې خاص محبوبيت لري، خــو کېــدی شي د ګاونډيو هېوادونو ډېر خوښ نه شي، لومړي مرستيال سره يې د ترکيې، ازبکستان او يو شمېر نورو هېوادونو خواخوږي ردېدی نه شي، له دويم مرستيال سره يې کېدی شي ايران پخوانۍ خواخــوږي ولــري، خو اوس له اشرف غني سره د ودرېدو له امله دا خواخوږي کېدی شي پخوانی رنګ ونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کاري ټیم**: د ډاکټر اشرف غني احمدزي کاري ټیم متجانس نه دی، له بېلا بېلو سیاسي او اتنیکي ډلو څخه جوړ شـوی دی، پـه تېـره بیـا د کمپاین رسمي ټیم یې خپلې خپلې ستونزې لري، د کمپـاین تشـکیل یې هم د تنظیمي غړو په نا متجانس ترکیب پوښلی، په دې برخه کــې ښکاره ستونزې لري، خو څرنګه چې د ولس یوه درنه برخه په خپلــه د ډاکټر اشرف غني شخصیت ته درناوی لري، نو ځکه یــې د کمپــاین د رسمي غړو نیمګړتیاوو او مرضونو ته دومره د چا پام نه کېږي.

**انګېزه**: د اشرف غني احمدزي ټیم د کمپاین لپاره پوره انګېــزه لــري، هغه بېلابېل محرومیتونه چې په تېرو (۱۳) کلونو کې رامنځته شوي او همدا رنګه مثبت پرمختګونه، د مثبتو هغو تداوم او د منفي هغو بدلونه د دوی لپاره د انګېزې ښه عوامل دي.

نو په وروستۍ نتیجه کې ددې ټیم د احتمــالي رایــو جوړښــت دا بڼــه خپلوي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴: د استاد عبدالرب رسول سیاف د ټیم جوړښت:



استاد سیاف او د هغه کاري ټیم هم په هېواد کې د پام وړ رایــې لــري، خو دا رایې په دې کچه نه دي چې استاد سیاف یا بریالیتوب او یا هم د ټاکنو دویم پړاو ته ورسوي، که استاد سیاف تر ټاکنو وړاندې له خپلې نوماندۍ لاس په سر نه شي، نو د ډاکټر عبدالله پر رایو به منفي اغېــزه وکړي، یو څه رایې به د ډاکټر اشرف غني او ډېــرې کمــې بــه د زلمــي رسول هم راکمې کړي او که انصراف یې وکړ، رایې به یې په ترتیب سره یادو کاندیدانو ته لاړې شي. د قومي او جهادي ترکیب له مخې په ډېــر خراب موقف کې نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵: د قطب الدین هلال ټیم:

**قطب الدین هلال هم د پاموړ رایې لري، که دی تر اخره پاتې شي، نــو د سیاسي رایو زیان یې تر ډېره حده انجنیر محمد خان او د قــومي رایــو**




**زیان یې ډاکټر اشرف غني ته رسي او که انصراف یې وکړ، نو د رایو اغېز یې هم په همدې ډول دی.**

## ۶ پاتې نور پنځه کاندیدان:

**پاتې نور پنځه کاندیدان یا ډېرې کمې رایې لري او یا هم یوازې محلــي رایې، خو لکه څنګه چې د مخه مې وویل؛ د انصراف زیات احتمال یې هم شته.**

**راځو اوس وروستي تحلیل او نتیجې ته!**

**درې کاندیدان تر ټولو زیات مطرح دي چې په ترتیب سره ورته اشــاره کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- - ډاکټر اشرف غني احمدزی

۲- ډاکټر عبدالله عبدالله

۳- ډاکټر زلمی رسول

که پورتني درې او جمع دوه نور نوماندان او بیا جمع یو دوه نور نوماندان تر پایه ودرېږي، نو زیات احتمال دی چې ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي، د دغو واقعیتونو له مخې زیات اټکل دی چې د ټاکنو په دویم پړاو کې به ډاکټر اشرف غني احمدزی او ډاکټر عبدالله عبدالله یو بل سره سیالي کوي.

په دویم پړاو کې زیات احتمال دی چې ډاکټر اشرف غني به بریالی شي، د اشرف غني بریالیتوب اوسني ((پوزیشن)) او ((اپوزیشن)) دواړو ته د زغملو وړ نه دی، هر څومره چې داشرف غني د بریالیتوب چانس زیاتېږي، نو په پورتنیو معادلو کې هم د تغیر احتمال زیاتېږي.

یو بل احتمال هم شته چې که د نظار شورا او اسلامي جمعیت مشران دا درک کړي چې په وروستي تحلیل کې ډاکټر عبدالله عبدالله حتمي ماته خوري او ډاکټر اشرف غني حتمي بریالی کېږي، نو دوی پر دویم اپشن یا اندېول هم فکر کوي، د دویم اندېول لپاره دوی پر ډاکټر زلمي رسول فکر کوي، دوی تر اشرف غني احمدزي، زلمي رسول ته ډېره ترجیح ورکوي، د زلمي رسول په ترکیب کې عملاً اسلامي جمعیت او نظار شورا دخیل دي.

دوی به د ډاکټر عبدالله د حتمي ماتې د احتمال په حالت کې هڅه وکړي چې ډاکټر عبدالله د زلمي رسول په ګټه تېر شي، ډاکټر عبدالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د خاصو او زیاتو امتیازاتو په بدل کې انصراف وکړي. کله چې ډاکتـر عبدالله عبدالله د زلمي رسول په ګټه تېر شي، نو د هغه په نتیجه کـې به د زلمي رسول په ټیم کې د تاجکو او اسلامي جمعیت د رایـو کومـه خلا چې اوس محسوسه ده، هغه به ډکه شي، حکومتي امکانات به هم د دوی په خوا شي، اسلامي جمعیت به د تېرو (۱۳) کلونو په شان بیا له زعامت څخه تېر شي، خو قدرت به پـه بشـپړ ډول ترلاسـه کـړي، د پښتون په نامه به یو څوک تش په نامه د یوه عنوان په توګه د واک په سر کې وي، خو د قدرت اصلي متن او محتوا به له دوی سره وي.

البته دا په هغه حالت کې ده چې د نظار شورا او اسلامي جمعیت ټـول مشران سل په سلو کې پر دې باوري شي چې ډاکتر عبدالله نـه شـي بریالی کولای. البته که دوی د عبدالله د بریالیتوب چانس وګـوري، نـو بیا دوی هم د مملکت زعامت غواړي او هم قدرت. د اشرف غني د ټیم په وجود کې دوی هم زعامت له لاسه ورکوي او هم نامشروع قـدرت، نو ځکه خو له ټولو هغو لارو چارو څخه کار اخلي چې د ډاکتر غنـي د بریالیتوب مخه پرې نیول کېدی شي، البته کـه ډاکتـر اشـرف غنـي احمدزی خپل انتخاباتي ټیم منسجم او مسـتحکم وسـاتي او د ولـس پیوستون همداسې له ځـان سـره ولـري، نـو د عبـدالله او د هغـوی حکومتي او تنظیمي ملاتړي نه شـي کـولای، دده د بریـالیتوب مخـه ونیسي.

## د ولسمشر کرزي رول به څه وي؟

ظاهراً خو ولمسشر (حامد کرزی) وایي؛ په ټاکنو کې هېڅ ډول مداخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کوم، خو دا واقعیت هم نه شي پټېدلای چې که د ولسمشر ملاتړ او فشار نه وای، نه به زلمي رسول ځان نوماند کړی و او نه به قیوم کرزی د هغه په ګټه تېر شوی و، طبیعي خبره ده چې ولسمشر د خپل مابعد رول لپاره زلمی رسول تر ټولو مناسب شخص ګڼي، نه ډاکټر عبدالله او نه هم ډاکټر اشرف غني احمدزی هغه رول ته غاړه ږدي، چې ولسمشر



کرزی یې له زلمي رسول څخه هیله لري، خو دې سره سره بیا هم ولسمشر نه غواړي او نه هم کولای شي په ټاکنو کې ډېره څرګنده مداخله وکړي، البته د عطا محمد نور، صلاح الدین رباني او نورو جمعتیانو په مرسته به هڅه وکړي چې ډاکټر عبدالله د زلمي رسول په ګټه منصرف کړي، دا که څه هم ضعیفه احتمال دی، خو رېدلای هم نه شي، په دې حالت کې به ولسمشر په اسانۍ سره د زلمي رسول ملا وتړي او د ډاکټر اشرف غني احمدزي مخې ته به تیرې تولې کړي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسمشر تېرې ماضي ته په کتو سره، ده زیات وخت د پښتنو او ازبکـو د خفګان په بیه اسلامي جمعیت، نظار شورا او د هغوی قومي ملاتـړي خوشاله کړي. هزاره ګان د زلمي رسول او اشرف غني په ټیم کې ورتـه مقام لري، نو ځکه خو کرزي ته د هغوی خوشاله ساتل اسانه کـار دی. پښتنو او ازبکو په تېره دوره کې تر هر چا زیاتې رایې ولسمشر کـرزي ته ورکړې، خو په حکومت کې تر هر چا زیات بې برخې شول او ځـای یـې هغـو کسـانو ونیـو چـې د کـرزي مخـالفین وو او لا هـم دي.**



**که کرزی په دې پوه شي چې اشرف غني حتمي ګټونکی دی، نـو بیـا کېدی شي خپل چلند بدل او ناپېیلتوب غوره کړي، که چېرې عبدالله منصرف نه شي او دویم پړاو ته زلمی رسول او اشرف غني ووځي، نو په دې حالت کې لومړی احتمال دادی چې اسلامي جمعیت، خبره په دې دلیل بحران ته بوځي چې ووایي، په رایو کې تقلب شوی او د دوی پـه اصطلاح ولې د یوه قوم دوه نوماندان سر ته ووتل؟ او دویـم احتمـال**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دادی چې عبدالله ته د احمدضیا مسعود پر امتیازاتو سربېره نور زیات امتیازات ومنل شي او تر هغه وروسته اسلامي جمعیت او تاجک ټبر د زلمي رسول ملاتړ وکړي.

په دې حالت کې به بیا مقابله یو حساس پړاو ته داخله شي. دا مهال که ډاکټر اشرف غني احمدزی خپل ټیم متحد وساتي او یا یې وساتلی شي او د دولت د مداخلو مخه ډب کړي، نو بیا هم احتمال شته چې ډاکټر اشرف غني احمدزی ګټونکی شي.

ددې ټول بحث وروستۍ نتیجه داده چې که ډاکټر عبدالله عبدالله له زلمي رسول سره دویم پړاو ته لاړل، نو زلمی رسول به ټاکنې وګټي، که عبدالله او اشرف غني دویم روند ته لاړل نو اشرف غني به ټاکنې وګټي، که زلمی رسول او اشرف غني دویم پړاو ته لاړل، نو اشرف غني به ټاکنې وګټي، وروستی وروستی تحلیل دادی چې که حکومت هېڅ مداخله ونه کړي او کاندیدان دوه یا درې پاتې شي او ټیمونه هم په همدې بڼه پاتې شي، نو زیات احتمال دی چې ډاکټر اشرف غني احمدزی به په اول او یا هم په دویم پړاو کې د ټاکنو ګټونکی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشرۍ راتلونکي انتخابات او احتمالات

## (دويم درس)

## پوښتنې او ځوابونه



**محمد شعيب جــرأت:** استاده! څو ورځې مخکې له ايرانـــي رســـنيو او افغـــاني رســـنيو څخـــه دا خبرونـــه خپاره شول چې ايران ويلي دلته ډېرى افغانان اوسېږي که افغان حکومت وغواړي، نو دوى ته هم د راى اچونې زمينه برابرولى شي، تر څـــو خپله رايه وکاروي. ايا دا يوه نا مستقيمه لاسوهنه نه ده چې د يو کانديد په ګټه رايه اچونه وشي؟

**ځواب:** ډېره مننه، د جمهوري رياست په لومړيو انتخابــاتو کــې هــم، هلته په ايران او هم پاکستان کې مهاجرو غوښتنه وکــړه، بيــا ملګــرو ملتو يو هيئت وټاکه، زه هم په هغه هيئت کې شامل وم، نو د پاکستان حکومت هم موافقه وکړه چې هلته دې ټاکنې وشي، په هغه وخت کې شرط دا و چې که پاکستان کې انتخابات کېږي نو ايــران کــې دې هــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وشي او که په ایران کې کېږي په پاکستان کې دې هم وشي. نو بیا هغه وخت نتیجه دا شوه چې ملګرو ملتو مصرف ومانه او په دواړو هېوادونو کې ټاکنې ترسره شوې. د ټاکنو کمیسیون ډېر پخوا اعلان کـړی چـې موږ نه شو کولای په دې دواړو هېوادونو کې انتخابـات وکـړو او هغـه هېوادونه هم په اسانۍ دې ته نه حاضرېږي چې هلته انتخابـات وکـړو. خو هغه لومړنیو انتخاباتو کې هغو هېوادونو همکاري وکړه، بالاخره هغه انتخابات ترسره شول، اوس خو د انتخاباتو کمیسـیون مطلـق اعـلان کړی او په دې پاتې (۲۷) یا (۲۸) ورځو کې هېڅ مجال نه شته چې دې هېوادونو کې انتخابات وشي. البته که شفاف انتخابات نـه یـوازې پـه پاکستان او ایران، بلکې په خلیج او نورو هېوادو کې وشي، افغانان حق لري چې رایه ورکړي او د هېواد په برخلیک ټاکلو کې ونډه واخلي، خو په دې شرط چې د هغو هېوادونو لاسوهنه پکې نه وي.**



**مسعود سروري: استاده!په صفر اوټ کېدل یا وېکټ لـه لاسه ورکول ملت ته په ګټـه دي که په تاوان؟**

**ځـــــواب: د انتخابـــــاتو کمیسیون چې کـوم وخـت ورته ټاکلی و که هغـه وخـت کې هـر نومانـد لـه خپلـې نوماندۍ تېر شوي وای، نو ملت ته یې ډېره ګټه رسوله، ځکه کوم ووټ کارتونه چې چاپ شوي، پر هغو لګښت راغلی او د دوی عکسونه پکې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، کاشکې که د انتخاباتو کمیسیون دا شرط ټاکلی وای کــه چــا تــر ټاکنو وروسته یو لک رایې یا کارتونه پوره نه کړل نو دغومره سلنه به د ټاکنو تاوان ورکوي. او یا وروسته انصراف کوي، نو باید یو څه جریمه یې پرې ایښې وای، خو بیا هم چې ملت له نورې سرګردانۍ بچ شي دا هــم د ملت په ګټه ده او یا که په لومړي پړاو کې درې یا څلور تنه راکم شي دا هم د ملت په ګټه ده، ځکه چې پــه انتخابــاتو کــې جنجالونــه وي، مشکلات وي، تفرقه رامنځته کېږي، ناامني شته، قتل او قتال کېږي، نو په لومړي پړاو کې چې نوماندان څومره راکم شي ملت ته په ګټه ده.



**رحمان الله، د ملي تحریک غړی: استاده مخکــې ورور پوښــتنه وکړه چــې بهرمېشــتو افغانانو تــه کــه زمینــه برابره شي او بل د بهــر مېشــتو افغانــانو رایــه اچونه د هېواد مېشــتو افغانــانو پــه شــمول، څومره اغېزه لرلای شي د یو کاندید پر ګټنې باندې؟**

**ځواب**:نور هېوادونه چې اتباع یې په نورو هېوادونــو کــې اوســېږي د هغوی ټولو لپاره یې زمینه برابره کــړې، خــو اکثــره یــې الکترونیکــي انتخابات لري، نو هغوی ټول د هېواد په برخلیک کې برخه اخیســتلای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي. که بهرمېشتو افغانانو ته هم دا زمینه برابره شوې وای، نو ډېره به ښه وای، د هغوی روحي پیوند به له افغانستان سره ټینګ شوی و، د افغانستان برخلیک په ټاکلو کې به یې ځان محسوس ګڼلی و، له هر پلوه افغانستان ته او افغانانو ته په ګټه ده، خو اوس د محدودو امکاناتو په نظر کې نیولو سره که د افغانستان دننه کې هم عادلانه انتخابات وشي، د افغانستان په ګټه ده.



**محبت الله حیات:** لکه څرنګه چې استاد د دغو درېواړو کاندیدانو ترکیب وڅېړه، نو تر ټولو کمې رایې اخیستونکی زلمی رسول و چې لس یا یوولس فیصده رایې اخیستونکی و او عبدالله عبدالله نوي (۹۰) فیصده رایه اخیستونکی و، نو څنګه به عبدالله عبدالله د زلمي رسول په ګټه تېر شي او بله خبره د عبدالله عبدالله په ټیم کې د پښتنو خبره هم مطرح ده چې محمد خان (پښتون) هم ورسره دی او خپله هم په پښتو لږ څه پوهېږي، خو د زلمي رسول په ترکیب کې هېڅوک په پښتو نه پوهېږي نو ایا امکان لري چې عبدالله عبدالله د زلمي رسول په ګټه تېر شي؟

**ځواب:** ښه پوښتنه ده، موږ ویل چې یو ضعیفه احتمال دی، نو ډاکټر عبدالله عبدالله که چېرې یوازې د اشرف غني مقابلې ته پاتې شي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم راونډ کې، نو دوی خپله هم پوهېږي چې د اشرف غنـــي ترکيـــب پوره دی انتخابات ګټي، نو بيا د دوی خپله ګټه هم په دې کې ده چې د زلمي رسول په ګټه تېر شي، نو هغه رايې چې دعبدالله دي هغه ټــولې ځي زلمي رسول ته، ځکه چې زلمـــي رســـول تـــه دوی ډېــره تــرجېح ورکوي، نظر اشرف غني ته، نو له دې کبله که دوی د خپلې مــا بعــد ګټې په خاطر باندې دا وسنجوي، خو دا حتمي نــه ده چـــې عبـــدالله د زلمي رسول په ګټه تېر شي او که زلمی رسول انصـــراف وکـــړي، نـــو د زلمي رسول رايې عبدالله ته نه ځي؛ دا رايې د عبـــدالله پخـــې دي پـــه دويم راونډ کې هم نه زياتېږي ډېرې کمې به زياتې شي، هغه رايـــې بيـــا متناسبې دي مقابل کانديد ته هم بيا رايې ځي، نو اوس دا ترکيب کـــه سړی وګوري يو مثلث، دوه ضلعې لري يو مثلث درې ضلعې لري، يانې د يو دوه بشپړې دي يوه يې کمه ده د بل درېواړه بشپړې دي بيا په دې کې هم داسې ده چې بايد قومي بېلانس هم په افغانستان کې پـــه پـــام کې ونيسو دا چې اشرف غني په سلو کې د شپېته سلنه پښتنو رايـــې اخلي دا ډېرې زياتې راځي، ځکه چې مجموعاً دلته اکثر ډېر زيـــات دی او چې لومړی مرستيال يې د خپل په سلو کې اتيـــه رايـــې اخلـــي دا د همغه قوم په تناسب دي نه په مجموع کې، يا که عبـــدالله پـــه تاجـــک مېشتو کې زياته رايه اخلي نو بيا مجموعاً هغه ټوله چې راجمع کړې تر دې نورو رايو څخه ډېره کمه راځي؛ نه مقايسه کېږي له هغې سره، نـــو که د يو ورکوټي قوم څوک سل په سلو کې رايه اخلي، نو کېدی شـــي ټولې پنځوس زره رايې وي، خو که بل څوک د لوی قوم پـــه ســـلو کـــې پنځوس رايه واخلي کېدی شي چې هغه شپږ يا اووه لکه رايې وي. نـــو دا تناسب موږ په هغه شکل مقايسه کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسماعیل ازاد، سیاسي مبصر:** یون صیب! دا کوم ترکیب چې د زلمي رسول دی ایا دا خو هغه پخوانی طرزالعمل نه دی چې ټولو جهادي او بحران کې ښکېلو ډلو په دې اتفاق کړی وي چې د کرزي په وجود کې زمونږ د ټولو مفادات او کومې ناخوالې چې دوی کړې وي دا ټولې د وی په وجود کې حفظ وي، زلمی



رسول چې د کرزي کاندید دی، دده په وجود کې هغوی په دغو دیارلسو کلونو کې د باعزته ملتونو په لړ کې افغانان د نړۍ مفسد ترین ملت معرفي کړ ایا دې ته به دوام ورکول نه وي؟

**ځواب:** تشویش هم دا دی اکثرو سره، بېشکه همداسې امتداد پیدا کوي،تردې هم په ضعیفه حالت کې، یو شمېر خلک چې دې دوه نورو کاندیدانو: عبدالله او اشرف غني ته تمایل لري هغوی وایي چې باید دغه حالت کې یو څه تغیر راشي، خو د زلمي رسول په وجود کې د دې اوسني حالت تداوم دی، تر دې هم په ضعیفه حالت کې. ځیني خلک چې ورسره ملګرتیا کوي دوی نرم خلک دي او دوی خپله هم وایي چې مونږ نرم خلک یو چاته څه نه وایو. نو دغه نرمښت به ددې سبب شي چې پخوانی فساد امتداد پیدا کړي او د ټیمونو ترکیب څخه هم دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومېږي چې تحول به رامنځته نه کړای شي او د سختو حالاتو پر وړاندې به مقاومت ونکړای شي، همدا وېره چې تا سره ده اکثرو افغانانو سره ده، نو په دې توګه نوی حالت نه رامنځته کېږي د همغه پخوانی تداوم دی.



**پوښتنه: ارین پکتیار:** استاده! که لومړي پړاو انتخاباتو کې درغلي وشي او عبدالله عبدالله او زلمی رسول دویم پړاو ته لاړ شي، پښتانه خو به یې وزغمي،هم عادت دي هم ویده دي، ازبک به دغه پایلې ومني، د ازبکو مخه به څوک ونیسي؟

**ځواب:** مشکل هم همدا دی، دې ترکیبونو د سیاسي رنګ په تناسب زیات قومي رنګ واخیست، نو په دې خاطر  د مشکلاتو احتمال زیات دی. په نورمالو شرایطو کې د ډېر زیات مشکل احتمال کم دی، اوس که لومړي پړاو کې درغلي ونه شي نو د دې دوه کاندیدانو (عبدالله او اشرف غني) ډېر احتمال دی بیا که د دوی مثلثونو ته ګورو د ډاکتر اشرف غني مثلث ټولې ضلعې پوره دي، نو احتمال شته چې زیاتې رایې وګټي، دا احتمالات چې مورږ وایو داسې نه دي چې خامخا همدا احتمالات پاتې کېږي، بلکې که حالات همداسې روان وي، نو تر یو څه حده همدا احتمالات ډېر زیات قوي دي، که دوی د ولس واقعي رایې وګټلې نو بیا حالات د بحران لوري ته نه ځي ځکه ولس به پرې قانع وي، خو که د تقلب له لارې وړاندې لاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، نو بیا طبعاً مشکلات پیدا کېږي، ځکه بیا یې پښتانه هم نه مني، ازبک یې هم نه مني، عبدالله خو به کېدی شي زلمي رسول ته په دې خوشاله وي چې د عبدالله چانس به په دویم راونډ کې زیات شي، خو که ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله ووتل بیا د زلمي رسول او ډاکتر عبدالله د ملګرتیا احتمال ډېر دی او هغه حلقې چې کار کوي کوښښ کوي چې اشرف غني دویم راونډ ته لاړ نه شي، زلمی رسول او عبدالله لاړ شي، نو بیا به په دې کې د بد او بدترین انتخاب وي.

**پوښتنه: شریف الله ناصري د ملي تحریک غړی**: استاده!



دا یو منل شوی واقعیت دی چې ټاکنې تل له ګیلو، ننګونو او لانجو سره مخ وي، خصوصاً هغه هېواد کې چې څلور دېرش کلنه متداومه جګړه پرې تېره شوې وي. دغه درې نوماندان چې ډېر تر سترګو کېږي او یا هم هر سړی ترې د کامیابۍ تمه لري چې موږ هم دلته پرې ډېر بحث وکړ، ډاکټر اشرف غني، ډاکټر عبدالله او زلمی رسول، دا خو ښکاره خبره ده چې خدای نخواسته د عبدالله په کامیابېدو سره موجوده جغرافیه او دې کې موجوده اوسېدونکي له ستونزو او چیلنجونو سره مخ کېږي او د افغانستان حاکمیت او حتا بیرغ هم تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنې لاندې راځي. خو که راشو د ډاکټر غني او ډاکټر رسول په اړه ، په افغانستان کې د خارجیانو په موافقه او یا هم د دوی ګټې ساتل پکې مهم اړخ دی، د زلمي رسول اداره خو کټ مټ د ولسمشر کـرزي او یـا هم د هغه ځای ناستی لیدل کېږي او په افغانسـتان کـې د مطبوعـاتو لپاره د شخوند وهلو ښه موضوع ستراتیژیک تړون دی، یانې له زلمـي رسول څخه به هم هغه توقع کېږي چې د ولسمشر کـرزي دریـځ بـه خپلوي چې پر هغه دریځ خو واقعاً افغانستان د ستونزو خواته ځي، خو که راشو اشرف غني ته، دا صحیح ده چـې دوسـتم د ده مجبوریـت و چې د نفوس یا د قوم استازولی لپاره یې له ځان سره ودراوه. نـور کـه ګورو چې په ولایاتو کې وسلوال پاتې شوي، دده په دفترونو کې لیـدل کېږي او ده ته کمپاین کوي، ایا ډاکټر غني به خپله اداري پالیسي هـم په دوی جوړوي؟ یا به دا خلک په وچ میدان پرېـږدي او د عـدالت پـر بنسټ به پرېکړه وکړي؟

**ځواب:** خپله یې کتاب لیکلی (د عادلانه نظام لار) نو و به ګـورو کـه کامیاب شو د همغه کتاب لار خپلوي او یا هم بل حالت غـوره کـوي. د عامو افغانانو او کار پوه افغانانو وظیفه دا ده چې د دغه نظام د اصـلاح لپاره یو ښه سړی کامیاب کړي او بیا له ښه سړي سره مرسـته وکـړي چې اصلاحات راولي. نو ستونزې ټول ټیمونه لري، ملایکې نه دي، اکثره کاندیدانو سره چې کوم کسان ملګري شوي د خپل شخصي موقـف د تقویې لپاره ملګري شوي دي.دا ستونزې شته، خو مور به بیـا وګـورو دوه پړاوه دي: چې یو د انتخاباتو تر ګټلو مخکې پړاو او بله تر انتخاباتو وروسته یا مابعد مرحله ده.

ډېره مننه کور مو ودان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتخابات او خطرات

## (درېیم درس)




((خوږو ځوانانو او د غونډې قدرمنو ګډونوالو ملي درســونه د ژونــدون ټلوېزیون د تحلیلي بحثونو یا درسونو یوه لړۍ ده، انتخابات او خطرات، ددې درسونو د لړۍ درېیمه کړۍ ده. مخکې تر دې چې درس پیل کړم ښه به وي چې د تېر درس لنډیز ته لږ تم شو.))

### لومړۍ برخه:


**د تېر بحث ارزونه او کره کتنه:**

**تېره لیکنه وه: (انتخابات او احتمالات): هغه لیکنه زیاتره پر اټکلونــو او احتمالاتو راڅرخېده، څو مهمو ټکو ته اشاره شوې وه:**

**انصراف: اټکل شوی و چې انصراف به کېږي، له (۱۱) تنو څخه (۳) تنــو انصراف وکړ، لومړنی شکل مو دا ډول اټکل کړی و:**

(c) ketabton.com: The Digital Library






۱۱-۱=۱۰

۱۰-۴=۶

۶-۲=۴

۴-۱=۳

۳-۱=۲

۱ x ۱= ۱

## دویم اټکل، مطرح کاندیدان وو:

**۱- ډاکتر عبدالله عبدالله**

**۲- ډاکتر زلمی رسول**

**۳- ډاکتر اشرف غني احمدزی**

**۴- استاد عبدالرب رسول سیاف**

**۵- قطب الدین هلال**


**په دې کې (۳) کاندیدان: ۱- ډاکتر اشرف غني احمدزی ۲- ډاکتر عبدالله عبدالله ۳- زلمی رسول تر ټولو مطرح وو.**

**درېیم اټکل دا و: جملې یې کټ مټ را اخلم: ((که پورتني درې او جمع دوه نور نوماندان او بیا جمع یو دوه نور تر پایه ودرېږي، نو زیات احتمال دی چې ټاکنې دویم پړاو ته لاړې شي، د دغو واقعیتونو له مخې زیات اټکل دی چې د ټاکنو په دویم پړاو کې به ډاکتر اشرف غني احمدزی او ډاکتر عبدالله عبدالله یو بل سره سیالي کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم اتکل د سیاسي ترکیب له مخې و:




اسلامي جمعیت: ٪۸۰

اسلامي وحدت(محقق ډله): (٪۵۰)

اسلامي حزب (ارغندیوال): (٪۳)

د عملي کېدو پر مهال په دې اتکل کې یو څه توپیر راغی.

له قومي پلوه تاجک ټبر په سلو کې تر (٪۸۰)، هزاره په سلو کې تر (۵۰) او پښتون تر (۰) پورته رایې ډاکټر عبدالله عبدالله ته ورکړې.

۵- د زلمي رسول د رایو وروستی اتکل داسې و.

په هر سلو پښتنو کې ٪۱۵

په هر سلو تاجکو کې ٪۲

په هرو سلو هزاره کې ٪۲۰

دا اتکل واقعیت ته تقریباً نږدې وخوت، دا ټول چې سره راټول شي، کېدی شي مجموعي رایه یې ٪۱۱ شي چې اوس ډاکتر زلمي رسول ګټلې دي. البته په ډېر کم توپیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶- د ډاکټر اشرف غني د رایو اټکل داسې و:**

**۱- په هر سلو پښتنو کې (۶۰٪)**

**۲- د جنرال دوستم په وسیله په هرو سلو ازبکو کې (۸۰٪)**

**۳- د سرور دانش په وجود کې په هرو سلو هــزاره و کــې ۳۰٪ . ددې اټکل دوه لومړنۍ برخې ښخې پوره وختې، یوازې درېیمه برخه یــې پــر واقعیت بدله نه شوه، ان تر وړاندوینې ډېرې کچې ته راټیټه شوه. که د اټکل سم ختلی وای او د زیات تقلب مخه نیول شوې وای، نو پوره باور و چې د ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله تر منځ به د رایو تفاوت ډېــر کم و.**

**کوم شی چې په تېر درس کې ورته زیاته نغوته نه وه شوې، هغه د نږدې (۱۲) لکه رایو سیستماتیک تقلب دی.**



**که چېرې د اشرف غني د ټاکنیز مثلث وروستۍ ضلع د دوو نــورو پــه شان فعاله وای، زموږ د تېر درس احتمــالات نــږدې ۹۵٪ پــر واقعیــت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلېدل، خو اوس هم چې تېر بحث ټول ارزوو، نو په سلو کې ۸۵٪ یــې عملي بڼه خپله کړې ده.

## اوس راځو د دویم پړاو انتخاباتو او احتمالي خطراتو ته!

په دې پړاو کې د تېر پړاو په شان احتمالات ډېر زیات نه دي، یانې ثابته خبره ده چې په دوو کې به یې یو ضرور ګټي. خو ددې اټکل شته چــې تقلب به کېږي. که چېرې د تقلب مخه ونیول شــي، نــو ددې احتمــال شته چې د دواړو نوماندانو ترمنځ به واټن زیات نه وي. ښه به وي چې د تېرو ټاکنو نیمګړتیاوو ته هم لږ نغوته وکړو:

۱- تقلب: د قانون تر چتر لاندې ناقانونه او سیستماتیک تقلب؛ داســې یو تقلب چې صندوق ته د رایې تر اچولو وروسته یې تثبیت خورا ګران کار دی. عیناً لکه په دوه لیترو شیدو کې چې یو لیتر اوبه ورګډې کړې.

۲- نظارت: لکه څنګه چې ویل کېدل نظارت هغه شان ترسره نه شــو. په تېره بیا د ډاکتر اشرف غني ټیم د رســمي نظــارت لــه پلــوه خــورا کمزوری و. دا برخه یوازې پر ولسي نظارت ولاړه وه، چې نظارت یې پــه خپله خوښه و، خو د شکایت د ثبت او رسمي اعتــراض حــق یــې نــه درلود.

۳- تصنعي جنګونه: د معمول په څېر په ځینو ســیمو کــې مصــنوعي طالبان پیدا کړای شول او په ځینو سیمو کې تصنعي جنګونه ونښــتل، چې طبعاً دې کار د یوه مطرح کاندید طبیعي ووټ ته زیان ورساوه.

۴- د ټاکنو کمېسیون د ځینو کارکوونکو لاسوهنه: طبیعــي خبــره ده چې د ټاکنو کمېسیون یو شمېر مامورینو چې له پخــوا څخــه پــه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمېسیون کې کار کوي، د تقلب یوه اوږده پروسه یې تجربــه کــړې، د کمېسیون له نویو مامورینو سره په همکارۍ د ځینو مشخصو کاندیدانو په ګټه درغلۍ ته لاره اواره کړه.

۵- تر اصلي حالت پورته ووټ کارونه: په ځینو ولایتونو کې تــر اصــلي حالت زیاتې رایې وکارول شوې، په مجموعي ډول (۱۰) داسې ولایتونــه شته چې تر طبیعي ووټ پورته رایې په کې کارول شوي دي.

۶- د شمېرنې بهیر: د شمېرنې بهیر هم هغسې نــه و چــې اټکــل یــې کېده، تېرې تېروتنې یو ځل بیا په کې تکرار شــوې. د شــفافیت لپــاره ټولې لارې چارې ونه کارول شوې.

۷- دواړه کمېسیونونه: دواړه کمېسیونونو په پیل کې اعلان وکــړ چــې په ټاکنو کې د پام وړ درغلي شوې ده، خو باطلې رایې بیا د پــام وړ نــه وې؟ اسمان لکه څنګه چې غورېده، هسې ونه اورېده. که څېرې دواړو کمېسیونونو پاموړ تورې رایې باطلې کړې وای، نو دویم پړاو کــې بــه د نوماندانو پلویانو ډېرې درغلۍ ته زړه نه وای ښه کړی. خو اوس کېــدی شي خبره معکوس شي.

۸- د دولتي چارواکو لاسوهنه: څوک غواړي او که نه چې دا واقعیــت ووایي یا یې ونه وایي، خو دا یو واقعیت دی چې ګــڼ شــمېر دولتــي چارواکو په ښکاره او پټه تر وروستي حده پــه ټــاکنو کــې د مشخصــو کاندیدانو په ګټه لاسوهنه وکړه، ښه به وي چې په ډاګه یې نوم واخلو:

اسلامي جمعیت او نظار شورا چې په تېرو (۱۳) کلونو کې یې تر بل هــر تنظیمه په حکومت کې ونډه زیاتــه ده، پــه دې تنظــیم پــورې اړونــد

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارواکو د خپل کاندید په ګټه لاسوهنه کړې ده. د اسلامي جمعیت تر څنګ د اسلامي حزب یوه برخه، اسلامي وحدت ګونـد او ځینـې نـور تنظیمونه په ترتیب سره په دې ډله کې راځي:

۱- د انتخاباتي توکو نا عادلانه وېش: له ځینو سیمو څخه دا شکایتونه وو، چې ووټ کارتونه کم وو. ځینو سیمو ته تر معیـاره پورتـه کارتونـه وررسېدلي او همدارنګه ځینې نورې نیمګړتیاوې.

خو له دې ټولو ستونزو سره سره، د هېواد امنیتي سیاسي حالاتو ته په کتو سره بیا هم دا چې ټـاکنیزو کمېسـیونونو ټـاکنې تـر دې بریـده ورسولې او نوماندانو له کوم جنجال پرته د ټاکنو لومړنۍ پایلې ومنلـې، دا یو لوی بری او پرمختګ و، هم ټاکنیزو کمېسیونونو ته او هـم ټـول افغان ولس ته!

اوس راځم د ټاکنو دویم پړاو ته:

لومړی، ټاکنیز کمپاینونه:

دا کمپاینونه هغومره ګرم نه دي، لکه څنګه چې په لومړي پړاو کې وو. خو دا کمپاینونه پر دوو مطرحو کاندیدانو سربېره (۸) نورو نوماندانو او ځینو نورو مشخصو مطرحو څېرو له ډېر سرښـت څخـه ژغـورلي دي. اوس راځو ددې ډول اشخاصو تاثیراتو ته!

۱- رواني تاثیرات: یو او بل کاندید ته د دا ډول اشخاصو اوښتل راوښتل خپل رواني تاثیرات لري، د هغو د پلویانو روحیـه پیـاوړې او کمـزورې کولای شي، خو بیا هم اصلي کار ولس سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- سياسي تاثيرات:** دوو مطرحو کانديدانو چې په خپلو ټيمونو کې يې د سياسي، قــومي او مــذهبي عناصــرو کومــه نيمګړتيــا او کمزورتيــا احساسوله، دواړه هڅه کوي چې خپلې نيمګړتياوې پــه دې اشخاصــو پوره کړي. دا اشخاص که څه هم اوسمهال ددې کانديــدانو سياســي، قومي او مذهبي مشروعيت ته ګټه رسوي، خو د برياليتوب پــه حالــت کې دا ډول اشخاص خپله د بحران يوه سرچينه ده.

**عملي تاثيرات:** دا ډول اشخاص عملي تاثيرات نه لري، که لري يې هــم نو ډېر کم دي. ځکه ووټ خو ولس سره دی. ولس لکه د رمې په شــان نه دی، چې دوی يې کومې خواته بيايي، هغه به هم په پټو سترګو ځي، دوی هغه شان کمپاين او لګښت چې د ځان لپاره يې کاوه، اوسنيو دوو کانديدانو ته نه کوي، يوازې په اينده نظام کې د ځــان ځــايونې لپــاره هڅې کوي.

اوس راځم د عملي ټاکنو دويم پړاو ته!

## لومړی ستونزو ته اشاره کوو:

لومړی احتمال دادی چې د خلکو شمېر به هغومره نــه وي، لکــه پــه لومړي پړاو کې چې و. د ولايتي شوراګانو نوماندانو د خلکو په هڅونــه کې اساسي نقش درلود، هغوی اوس په دې بهير کې نه شته. که چېرې دواړه کانديدان قوي انګېزه تخليق کړي، کېدی شي دا خلا څــه ناڅــه ډکه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




دویم احتمال دادی چې تقلب به د پخوا په انډول لا زیات شي، دا تقلب به پټ هم شي داسې چې د تېرو ټاکنو د ګډونوالو شمېر به ورته د دلیل په توګه راوړي.

درېیم احتمال دادی چې تصنعي جنګونه به پیل شي، مصنوعي طالبان به راوټوکول شي، د امنیتي ارګانونو تنظیمپالي اشخاص به هم د خپل کاندید په ګټه لاس تر زنې کېنني.

څلورم اټکل دا دی چې که چېرې ددې ټولو ستونزو مخه ډب نه شي، نو نامشروع ټاکنې به پر ولس تحمیل شي او دا به په خپله د یوه اوږده بحران لپاره لاره اواره کړي، نه یوازې بایلونکي کاندید ته به د منلو وړ نه وي، بلکې ولس به یې هم ونه زغمي.

## اوس راځو د راتلونکو ټاکنو خطراتو ته!



۱- ډاکتر اشرف غني احمدزی: یو شمېر ډلې، اشخاص، د ځمکې مافیا، تنظیمونه او د لږکیو د حقوقو مدعیان د ډاکتر اشرف غني احمدزي له بریالیتوب څخه وېره لري.

د قانون حاکمیت هم ځینو کسانو ته د زغملو وړ نه دی. دا کټګوری خلک له اشرف غني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډخه تر حده زیاته وېره لري، خو له ډاکتر اشرف غني او د هغه له ټیم ډخه چې کومه وېره ده، دا د هغه له اوسني عملي چلند او کرکتر سره سمون نه خوري، ځکه چې همدا اوس دده په ټیم کې ددې ډول اشخاصو عملي حضور، دا وېره تر ډېره حده نفې کوي.

ګاونډي هېوادونه هم د ډاکتر اشرف غني له بریالیتوب سره علاقه نه لري، په تېره بیا ایران او پاکستان، هغوی فکر کوي چې دده په وجود کې د افغانستان د سیاسي او اقتصادي ثبات چانس ډېرېږي او داسې یو حالت سره هغوی جوړ نه دي، نو ځکه خو به په افغانستان کې د خپلو عملي پلویانو په واسطه د ټاکنو په بهیر او دده تر احتمالي بریالیتوب وروسته حالت کې غټ خطرونه او ستونزې راولاړې کړي.

د نړیوالې ټولنې له نبض څخه معلومېږي چې د اشرف غني له بریالیتوب ډخه نه وېرېږي، ان لېوالتیا ورسره لري. هغوی فکر کوي چې دده په وجود کې احتمالي ثبات د نړیوالې ټولنې لپاره یو ستر امتیاز دی او کله چې نړیواله ټولنه له افغانستانه وځي، نو با ثباته افغانستان د دوی لپاره د بري یو سمبول ګڼل کېږي.

روسیه، ځینې شمالي ګاونډي هېوادونه د اشرف غني له بریالیتوب سره لېوالتیا نه لري، خو دده له مقابل نوماند سره ډېره لېوالتیا لري. ددې خطر شته چې امریکایان یو ځل بیا د بن د کنفرانس په شان روسیې او ایران ته د سیاسي امتیاز په توګه غوړه مړۍ ورکړي او دا کار به یو ځل بیا افغانستان له اوږده ناورین سره مخ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په خپله د اشرف غني احمدزي د ټاکنیز مثلث د درېواړو ضلعو پخلا او خوشاله ساتل او تر هغه وروسته د نورو فرعـي او اصـلي شخصـیتونو هماهنګ ساتل او د هغو د غوښتنو خړوبول هم اسانه کارنه دی.**

**۲- ډاکتر عبدالله عبدالله: د ډاکتر عبدالله عبدالله بریالیتوب د بـن تـر کنفرانسه وروسته د اوسني حکومت تداوم دی، په یوه نوې او بله بڼـه.**



**پـه حقیقـت کـې پـه حکومت کې د اسـلامي جمعیت غړو ته د هغـو پاتې څوکیـو وېـش دی چې تـر دې دمـه لا لـه نـورو تنظیمونـو یـا شخصـیتونو سـره دي. قومي او تنظیمي انحصار د فسـاد تـداوم او د اکثریت پر ضد له کینې ډک چلنـد ددې ټـیم د اساسي هستې دي او اصلي ماهیت.**

**د پاکستان ایران، روسیې او شمالي ګاونډیو نیابتي نفوذ به بـل عنصـر وي، چې افغانستان به له سخت او اوږده ناورین سره مخ کړي. کېـدی شي په خپله ډاکتر عبدالله عبدالله د اوږدې سیاسي تجربې په رڼا کـې له اکثریت پښتنو او ملي مسایلو سره تر یوه وختـه پـه ډېـر احتیـاط چلند وکړي او ان تر ولسمشر کرزي بـه پښـتنو مشـرانو تـه د زیـات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



احترام لاره خپله کړي، خو خبره په هغې اساسي هسته کې ده. چې د نظار شورا په نامه يادېږي، جمعيت يې بل عنصر دی، د پښتنو او نــورو قومونو پر وړاندې د دوی پخوانۍ کينه، بغض او عداوت هېڅکله نه شي پټېدلای. د داکټر عبدالله ټيم هم د اضدادو يو مجموعه ده ، چې هــره شېبه يې د پخوا په څېر د پاشــنې امکــان شــته، خــو اوس راتلونکــو امتيازاتو ته په هيله منتيا سره يو شوي، کله چې د امتيــازاتو د وېــش مسله رامنځته شي، نو لومړی د ډاکټر عبدالله عبدالله د ټاکنيز مثلــث




متضادې ضلعې او بيا تر هغه وروسته د واک و ځواک نور مــدعيان بــه ضرور په خپلو کې سره لوبېږي او هېواد به يو ځــل بيــا د (۹۰) کلونــو د تجربې غبېږې ته ځي. دې ټولو اندېښنو ته په پام سره راتلونکې ټــاکنې له خطراتو لرې نه دي.

خو که غواړو دا ټول خطرات رفع او دفع کړو، بايد ښځې او نر، ځوانــان او سپين ږيري ټول په ټاکنو کې ګډون وکړو، د تقلب مخه ډب کړو او يو قوي مشروع سياسي نظام رامنځته کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اوس راځو هغو اصطلاحاتو، نومونو، ترکیبونو یا ژبنیو جوړښتونو ته چې دلته باب شوي، په تېره بیا په وروستۍ لسیزه کې. دا نومونې زیاتې کارول کېږي. هر څوک ترې خپل تعریف او تعبیر لري او هر یو یې د خپلو ګټو لپار کاروي.**

**تعصب: له لغوي پلوه له (عصب) څخه رغېدلی، عصبیت، تعصب، متعصب هم له دې ریښې یا مصدري حالت څخه رغېدلي دي. تعصب**



**عربي کلمه ده چې په پښتو او دري کې هم په ورته مانااوو کارېږي.**

**له اصطلاحي پلوه تعصب یو داسې عمل یا چلند دی چې له دغه یا هغه دلیل پرته له زیات حرارت او ګرمۍ سره ملګری وي. په تېره بیا په دیني، سیاسي، ورزشي او نورو چارو او هدفونو کې. (جورج سانتایان) چې یو فیلسوف دی، تعصب دا ډول راپېژني:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



((له چا څخه چې هدف له یاده ووځي او بې ځایه هڅې پیل کــړي، دې ته تعصب وایي.)) (وینسون چرچل) بیا وایي: (( متعصب هغه څوک دی چې نه شي کولای خپل نظر تغیر او یا خپل دریځ بدل کړي.))

زموږ په ټولنه کې بیا متعصب د ځینو کړیو له خوا هغه چاته ویل کېږي چې د یو مستقل دریځ خاوند وي، خپل نظر لري، که څه هم دا نظــر د چا په زیان نه وي، له منطقه هم لرې نــه وي، خــو د معمــول ظلــم پــر



وړاندې ولاړ وي، همغه کارونه چې په اصطلاح پراخ نظري او نا متعصب يې کوي، دی يې هم کوي، خو د ورته کارونو سرته رســوونکي پــرې د تعصب ټاپه لګوي. په ژبنیو، قومي او ملي مسایلو کې پر هغو خلکو ډېر دا تور پورې کېږي چې ډېر ترې ځان ساتي. په افغانستان کې هر هغــه څوک چې په پښتو ژبه د لیک، لوست، مکاتبې او مراودې غوښتنه لري او هغه هم په خپله د پښتنو لپاره، د هغه په باب دا اصطلاح ډېره زیاتــه کارېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افراط:** له پوښ څخه د تورې په را ایستلو کې چټکتیا او تر حده تېــري ته افراط وایي، په دري کې ورته (زیاده روي) وایي. په اصطلاح کې هغه عمل دی چې تر ټاکلي حدوده او معیاره پورته وي یانې داسې زیاتوالی یا پورته والی چې اړتیا ورته نه وي.

خو په افغانستان کې بیا هغه چاته افراطي ویل کېــږي چــې د غیــرت مالګه په کې زیاته وي، د هر ناروا کار په مقابل کې غبرګون ښــيي، پــر وخت یې ښيي او ژر یې ښيي.

**تفریط:** د تفریط او افراط ریښه یوه ده؛ (فرط). تفریط د افراط مقابله مانا لري، یانې یو څوک چې تر حده زیات سست، پخ او د عوامو په اصطلاح د هېڅ کار نه وي. د لټۍ او تنبلۍ وروستي حالت کې وي. خو زموږ پــه ټولنه کې څومره چې افراط په منفي او سیاسي مانــا کــارېږي، تفــریط هغومره نه کارېږي. د اسلام مقدس دین د ارشاداتو له مخــې افــراط او تفریط دواړه ناروا دي. استاد الفت وایي، کله چې په ټولنه کې افــراط او تفریط واکمن وي، د یوه پرځای به دوه تنه تلفات ورکوو: ((په یــوه ورځ په یوه ساعت کې له یوې شفاخانې دوه جنازې راووتلې، هغه یو د کــم خونۍ په وجه او دا بل د وینې فشار له امله مړ شوی و، د هغــه جنــازه څورو تنو په اوږه راخیستې وه، ددې بل جنازې پسې بې حسابه لوی او واړه موټر روان وو، هغه یوه وینه نه درلوده ځکه مړ شو، ددغه بل وینه زیاته شوې او تېزه شوې وه، ځکه یې ژوند ونه شو کړای))

زموږ په هېواد کې یو ځل یو شخص په دې خاطر چې رېږه یــې لرلــه او خولۍ یې په سر کړې وه زنداني شو او شل کاله وروسته بیا په هماغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې یو بل شخص په دې خاطر چې رېږه او خـولۍ یـې نـه لرلـه زنداني شو. دې ته وايي افراط او تفریط.

**فاشیست:** له (فاش) څخه چې لاتیني کلمــه ده اخیســتل شــوی، پـه لاتین کې يې هغه تبر ته ویل چې میلې يې ورپورې تړلې او د روم پاچـا ته به يې سپارلې، دا د قدرت نښــه ګڼـل کېـده. پـر (۱۹۳۲م) کـال د (موسولیني) د سیاسي خوځښت نوم شـو. وروســته دا د دیکتـاتوري



نظام نظریه شوه چې د پارلماني نظام، ولسواکۍ، لیبرالیزم او کمـونیزم پر ضد کارېدله. د قدرت انحصار د فاشیزم بله ځانګړنه ده. خو زموږ په ټولنه کې فاشیست له مظلوم ملت او مظلوم اکثریت سره د خواخوږي شخص لپاره کارول کېږي.

**ملي:** د ملت له کلمې سره تړلې کلمه ده، ملت د خلکو همغې ډلــې تــه وايي چې په خپل منځ کې ډېر زیات مشــترک خصوصــیات لــري. (ي) نسبتي (یا) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملي) د کلیمې په اساسي مانا هغه چاتــه ویــل کېــږي چــې د ملــت خصوصیات ولري، د هغه ګټې وپالي او له تعرضه یې خوندي کړي. کلــه کله دلته دا کلمه په همدې اساسي مانا کارول کېږي، خو په وروســتیو وختونو کې دا کلمه اکثره په اوښتې او سرچپه مانا کارول کېږي. (ملي) همغه شخص ګڼل کېږي چې لــه خپلــو ملــي ارزښــتونو او ان قــومي ځانګړنو تېر شي، چوپه خوله پاتې شي او هر ځــوک چــې د ملــت پــر هویت بلوسي، د حساسیت د ټوکېدو په پلمه په هر څه ځان غلی کړي، په پښتنو کې بیا تر ټولو ملي همغه شخص ته ویل کېږي، چې په پښــتو نه پوهېږي او یا پښتو نه وایي، ان که چا دې قوم ته سپکې سپورې هم وویلې، دی پرې سر ونه ګروي او ان د مقابل طرف خبره نوره هم تائیــد کړي. دا ډول ((ملي خلک)) اوس دومره زیات شوي چې ان افغانستان، افغان او ملي هویت ته څوک تروې ترخې وایي، نــو دوی وایــي غــرض پرې مه لرئ چې ملي وحدت خرابېږي، دوی وایي پروا نــه کــوي، کــه هغوی دې مسایلو ته لمن وهي، نو موږ خو لویه اوسېله لرو، مــوږ بایــد حساسیت راونه پاروو. دا ډول خلک (بې غیرتۍ) ته (اوسېله او زغــم) وایي.

**احتیاط:** احتیاط په یوه کار کې دقت او ځیرتیا ته ویل کېږي او داسې یو حالت دی چې د اشتباه او تېروتنې مخنیوی په کې کېږي، خو له هغــې ورځې چې د افغانستان په سیاست کــې د ((احتیــاط)) کلمــه داخلــه شوې، دا پر حقیقي مانا نه کارول کېږي. احتیاط د تفریط یو حالت تــه کښته کېږي ان تر دې چې د یو معقول او ضــروري کــار د اجــرا مخــه نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمېر سیاستوال او قلموال پر دې مضر احتیــاط اختــه دي، دومــره احتیاط کوي چې تر دې احتیاطه نه احتیاط ټولنې ته په ګټه دی. عیناً لکه د شمي اکا احتیاط، د شمي اکا د احتیاط کیسه او محتــوا بــه دې ډول ده:

((شمی اکا په کلي کې په احتیاط ډېر مشهور و، هر چا چې به کوم کــار کاوه، نو ده سره به یې د احتیاط په اړه مشوره کوله. د ده له احتیــاطي کارونو څخه یو دا و چې په موټر کې نه سورېده، پلی ګرځېده، ویل بــه یې هسې نه موټر چپه شي او که پلی لاړ شم وروســته بــه ورســېږم ، ژوندی خو به یم، برق یې کور ته نه راوسته ویل یې کېــدی شــي بــرق شارټ شي، کور اور واخلي، تر هغه خو چې د څراغ رڼا ته کېنم ښه ده، که رڼا کمه ده، نو د کور د سوځېدو خطر خو نه شــته. هــوکې دی لــه عقله پیاده و، نو ځکه یې کور کې تــوره تیــاره وه.)) زمــوږ یــو شــمېر سیاستوال هم پر همدې مضر احتیاط اخته دي.

**مصلحت:** مصلحت په لغت کې صلح، صلاح، خیــر او صــواب تــه ویــل کېږي. ځینو د ګټو ترلاسه کول او د ضرر دفع کول هم مصلحت ګڼلــی دی. یانې هر هغه کار چې ضرر په کې نه وي. بې ضرره او بې خطره ګټه. په دې مانا چې هېڅ لوري ته په کې تاوان نه وي.  خو د افغانستان پــه وروستیو سیاسي اصطلاحاتو کې دا اصطلاح اوس هغه عملي مانــا نــه ورکوي چې دا کلمه یې لري. دلته مصلحت په دې مانا کارول کېږي چې د یو چا حق بل چاته ورکول کېږي او دا کار بیا د ملي مصلحت په توګه انګېرل کېږي او که هغه بل څوک د حق چیغه پورته کوي، نو د هغــه دا کار د ملي مصلحت ضد حرکت ګڼل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا وخت ددې خبرو نه دی:** ځینې خلک یا اشخاص شته چې انې یا اوسنیو پېښو ته د ځواب ویلو جوګه نه دي، اوسنۍ پېښې راتلونکي ته پرېږدي، دا په داسې حال کې ده چې اوسنۍ پېښې اوس غبرګون او ځواب غواړي، راتلونکي کې بیا د نورو پېښو احتمال دی، نو که موږ ماضي په حال او حال په راتلونکو ځوابوو، نو یوه زمانه به شاته پاتې یو.

**حساسیت:** د حساسیت ریښه له (حس) څخه اخیستل شوې، احساسات، احساساتي، محسوس، حساس او نور ټول له همدې ریښې څخه اخیستل شوي دي. یو څوک چې یوه موضوع په دقت سره حس کړي، نو طبعاً ورسره حساس کېږي هم.

حساسیت دلته د معقول غبرګون په مقابل کې هم کارېږي. دلته هر هغه چاته احساساتي ویل کېږي چې د یوه موضوع درک ته رسېدلی وي او د هغې د خطر په باب غبرګون ته تیار وي، دوی دا کار یو نامشروع کار ګڼي خو (بې حسي) بیا یو عقلانه کار بولي.

**قومیت ته لمن وهي:** یو شمېر خلک داسې هم شته چې غواړي پر مظلومو خلکو او مظلوم اکثریت خاورې واړوي، خو که تا د مظلومیت غږ پورته کړ، نو دوی درباندې د قومپالنې ټاپه لګوي. دا په داسې حال کې ده چې قومیت ته لا د مخه لمن وهل شوې، خو که ته غواړې دا لمن راټوله کړې، نو ځینې اشخاص بیا د تعرض لپاسه بیا تعرض کوي.

**سیاسي نزاکت:** ((سیاسي نزاکتونو)) هم د افغانستان سیاسي بازار ډېر بد رنګه کړی دی. ځینې سیاستوال یو لړ نامشروعې هڅې ترسره


(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، خو که تا اعتراض وکړ، چې ولې؟ نــو پلویــان یــې وایــي ځینــې سیاسي نزاکتونه دي، ضرور نه ده چې هغه اوس وویل شي.

**شخصي ګټې:** یو شمېر خلک په دې خاطر چې د ملي ګټو د تثبیــت او پاللو مخه ونیسي، پر مطرحو اشخاصو د شخصي ګټو د پاللو تور پــورې کوي. دې ښاغلو ته که وویل شي: کومې لارې چارې موجودې دي چې یو څوک هغه ترسره کړي او د شخصي ګټو له توره وژغورل شي؟

**سیاسي تجارت:** یو شمېر خلک چې د شخصــیت د ودې او اقتصــادي



فقر له عقدې سره مخامخ دي، هر مطرح ملــي او سیاســي شخصــیت باندې د سیاسي تجارت تور پورې کوي، دوی تــه هــم بایــد دا پورتــه پوښتنه کېښودل شي: کومې لارې چارې شته چې د سیاسي تجــارت او سیاسي خدمت ترمنځ توپیر وشي؟

**موږ ته جنجال جوړوي:** یو شمېر اشخاص دي چې نه پــه پنځــوو کــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب دي او نه یې ځوک په خوله پیاز خوري، یو نیم کس چې کله هم د ملت د ملي داعیې غړ پورته کړي او د سر خطر ځان ته متوجه کړي، نو پر دوی لړزه راشي، فشار پر هغوی وي، خو وېره دوی احساسوي، بیا نو په خصوصي مجلسونو کې دا خبرې پیل کـړي: والله نـو دا خـو یـو شخص دی، موږ ته جنجال جوړوي، موږ ته غمونه کري، سبا به موږ تـه ستونزې وي، دې ښاغلو ته باید وویل شي چې تاسو تـه نـو اوس کلـه ستونزه ده چې سبا به وي. اوس مو کله سـتونزې تـه د سـتونزې پـه سترګه کتلي چې سبا به ورته وګورئ، د تاسو پرون، نن او سبا ټول یـو شان دي، چې پرون غلي وئ او نن غلي سیاست سبا به مو هـم همـدا حال دی.

**ځان شهرت ته رسوي:** شهرت، نېکنامي او بدنامي د یو مثبت او منفـي عمل له اجرا څخه راټوکېږي، یو ځوک چې د هېڅ ډول عمل جوګه نـه وي، هغو ته له خبرو پرته نور څه نه پاتې کېږي. ((عمـل ګـران ګفتـار اسان دی که پوهېږې)) شهرت، ذلت او نېکنامي د خدای (ج) له اړخـه ده. یو چاته یې د عمل وس ورکړی، یو چاته یې د خبرو، یو چاته یـې د دواړو او یو چاته یې د هېڅ. هغوی چې د شهرت وړي دي او کار نه شي کولای، شهرت ته هم نه شي رسېدلای، نو هغوی ټول خلـک د خپـل ځان په هنداره کې ګوري، په داسې حال کـې چـې هـدفمن خلـک د هدف د تعقیب لپاره سر په لاس کې نیسي او کدوسري چې همـېش د خپل سر د خوندیتوب په فکر کې وي، هغه هېڅکله په ټولنه کې سر نه شي پورته کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه سر پـــه سر کـــې کله حسابېږي
## چې د سر خطر يې نه وي په خطر کې

**قومونه په جنګ اچوي:** دا ترکيب هم کله کله کارېږي، عجيبــه خبــره خو داده چې دا نومونه هم د هغو کسانو له خوا کارېږي چې پــر قـــومي تعصب ککړ دي. يو څوک د ټول ملت چغه پورته کوي او يو بل بيا د يوه قوم او سمت چغې وهي، خو دا قومي عناصر بيــا پــر ملـــي عناصــرو د قوميت تور پورې کوي. که چېرې يو ملي شخص د کـــوم قومنـــدان يـــا جنګسالار يا فاسد نوم اخلي، نو د جنګسالار پلويان فوراً دې مسلې ته قومي رنګ ورکوي.


**ملي وحدت:** ملي وحدت چې د يوه هېواد د پيوستون، ثبـــات او ملاتـــړ لپاره تر ټولو مهم عنصر دی، په افغانستان کې پر خپله اصلي مانـــا نـــه کارول کېږي. دلته ملي وحدت د اکثريت د ځپنې په مفهـــوم خلاصـــه کېږي. که اکثريت هر څومره ځپل کېږي، محرومېږي او مظلومېږي او د لږکيو د حقوقو يو شمېر مدعيان پړسېږي، نو دا حالات د دوی په نظر د ملي وحدت مسير تعقيبوي او که هر کله په دې بهير کې چا د اکثريـــت د مظلوميت چيغه پورته کړه او يا يې اعتراض وکړ، نو فوراً غږ پورته شي چې هلئ ملي وحدت ته زيان ورسېد. ملـــي وحـــدت دلتـــه د اکثريـــت پښتنو د خفګان په بيه تمامېږي او همدا مانا لري.

**تبعيض ښه شی نه دی:** دلته د تبعيض يانې توپيري چلند او تبعيض ضد مبارزو کې توپير نه کېږي. يو څوک ټوله ورځ تبعيض ته لمن وهي، خـــو که يو چا ورته وويل چې ولې؟ هغه فوراً وايي ولې تبعيض ته لمن وهې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يانې تبعيضيان دومره ماهر دي چې پر بې تبعيضه خلكو هم د تبعــيض تور پورې كولای شي.



**مجاهد:** په تېرو درې نيمو لسيزو او په تېره بيا په دې تېرو (۱۳) كلونــو كې چې د (مجاهد) له مقدس نامه څخه څومره نامقدســه ګټــه پورتــه شوه، په نړۍ كې به يې سارى نه وي ليدل شوى. هغوى چې د روس پر وړاندې يې په جهاد كې خپل سرونه نذرانه كړل او يوه شېبه يې خپــل مورچل پرېښنبود، هغوى ته اوس څوک مجاهد نه وايي، هغــوى چــې د روسانو د يرغل پر مهال يې له هغوى ســره پروتوكولونــه درلــودل او د روس تر وتلو وروسته يې جنګونه پيل كړل، هغوى د جهاد پــر وراثــت كېناستل. عجيبه خبره خو لا په كې داده ځينې اشخاص چې د روسانو د وتلو پرمهال نوي تولد شوي او يا هم هغه مهال ماشومان وو، هغــوى تر ټولو زيات د جهاد ټيكه داران دي. د جهاد او مجاهد پــه نامــه چــې كومې څورونې، ناروا وې، لوټ او تــالان وشــو، نــه يــوازې (جهــاد) او

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مجاهد) پرې شرمېږي، بلکې ټول انسـانيت پـرې شـرمېږي، خـو دا ښاغلي بيا هم پر دې ډول ((جهاد)) وياړي.

**جنګسالار:** هغه چاته ويل کېږي چې له نامشروع وسـلې او زور څخـه ناقانونه او نامشروع ګټه پورته کوي. کله کله بيـا دې کـار تـه مقـدس شعارونه او عنوانونه هم ورکوي. که ددې اشخاصو په بـاب چـا هـم د اعتراض غږ پورته کړ، نو د دوی له خوا پـرې ډول ډول تورونـه پـورې کېږي اوخپله د سپېڅلو ديني شعارونو او نورو قومي عنوانونو تـر شـا ځان پټوي.

نورې ګنې اصطلاحګانې هم شته چې بل وخت به يې وڅېړو. خـو اوس مو دې پورتنيو اصطلاحاتو او يا ترکيبونو ته په ډېر لنـډيز سـره اشـاره وکړه.

اوس راځم، ستاسو نظرونو، وړانديزونو، پوښتنو او ګروېږنو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انتخابات او خطرات

## (درپيم درس)

## پوښتنې او ځوابونه

**مجيب الرحمن لحاظ:** استاده !ځينې افراد او په ځانګړي توګــه د اصلاحاتو او همپــالنې ټيم ځينې غړي تاســې بانــدې د فاشېســت او متعصب ټاپــه لګــوي؟ ولې دوی پــر تاســو دا ډول تورونـــــه پـــــورې کوي؟



**ځواب:** دافغانســـتان مخالف زمــورږ مخـــالف دی او دافغانستان موافق زمورږ دوست دی،که څوک ماته ووايي چې ته يو ډېر ښه ملتپال شخص يې، نو زه ډېر خوشالېږم، دوی کــه دا القــاب مورږ ته استعمالوي دوی زړه کې پوهېږي چې داصفات مورږ کې نه شته، تاييدولای خو مو هم نه شي نو مجبوره دي داډول ټاپې ولګوي او تر شا يې ځان پټ کړي بل که ملتپالنه دوی په دې ډول تعبيروي چې د يــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جنګ سالار د اس له خولې څخه یوه کېله راکاږې او په نیمروز کې یې یو سوی لوی خوارځواکي ماشوم ته ورکوې، که نشنلېست دې ته وایي بیا خو ښه خبره ده، دا زه یې نېشنلېسټ.**

**امید حیران : ایا د ټاکنو په دوېم پړاو کې به دواړه مخکښ نوماندان یو ایتلافي حکومت جوړ کړي؟ او که ایتلافي حکومت جوړېږي دوه پړاوه ټاکنې څه مانا؟**



**ځواب: که ډاکټر عبدالله عبدالله په ټاکنو کې بریالی شي، نو بیا اړتیا نه لري چې ایتلافي حکومت جوړ کړي، ځکه دوی په حکومت کې ډېره زیاته ونډه لري او ځوک به د بغاوت غږ نه شي پورته کولای چې د ټاکنو پایلې اخلال کړي او داسې قراین شته چې که ډاکټر اشرف غني احمدزی په ټاکنو کې په اکثریت رایو او په ستر توپیر هم بریالی شي، نو بیا به هم ایتلاف کوي او ورته اړتیا لري او داسې نښې نښانې هم شته چې که اشرف غني په کم توپیر هم بریالی شي، نو د عبدالله عبدالله ډله جنجال جوړولای شي) بغاوت کولای شي ځکه په حکومت کې هم همدوی دي، بیا به نړیواله ټولنه او په حکومت کې د ولسمشر کرزي په شمول ځینې محافظه کارې کړۍ دوی د ایتلافي حکومت جوړېدو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وهڅوي، ځنګه چې اسلامي جمعیت په حکومت کې غوښنه برخه لري نو ریفورم ته به زمینه برابره نه شي او هغو اشخاصو ته به لا ډېره ونډه ورکړل شي چې ان د افغانستان د ملي هویت مخالف دي او د کرزي حکومت غوندې به دا حکومت هم له ناخوالو او جنجالونو ډک وي، خو که د عبدالله رایې زیاتې شي نو د مشروعیت لپاره به یو شمېر پښتانه ترې چاپېر وي خو اصلي هسته به له هغو سره وي چې ان له ملي هویت سره مخالف دي.

**قدرت الله بدلون:** استاده! د جهاد مشران خو له ډاکټر اشرف غني سره دي او ډاکټر عبدالله سره خو هغه کسان دي چې د جهاد په وخت کې یا بادې ګاردان وو او یا عسکر وو او اوس پر خپلو مشرانو د کفر فتوا هم ورکوي.



**ځواب:** د جهاد اول نسل خلک او مشران اکثره ډاکټر صیب اشرف غني احمدزي سره دي، ډاکټرصیب عبدالله عبدالله سره هم دجهاد اول نسل شته، خو اکثره یې هغه دي چې په هغه وخت کې نوي ځوانان وو او دا د جهاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستیو شېبو خلک دي کله چې روسان پــه وتــو وو، نــو دوی نــوي ځوانۍ ته رسېدلي وو.

موږ ډاکټر اشرف غني سره وکتل، دخلکو د تشویشونو په اړه مو ورتــه وویل چې په اداره او منجمنټ کې دې مشکلات دي باید اصلاح شــي، ګڼ شمېر خلک، قومي مشران درغلي خو ببرتــه خفــه راغلــي، بایــد سمون راشي خو اوس په دفتر کې ځینې واړه واړه ســکرتران دې ددې جوګه نه دي چې د قوم مشران او عام خلک ترې خوشاله راشــي، دوه خبرې دي، له ډاکټر صیب اشرف غني سره په ولس کې ظرفیــت ډېــر پراخ دی، خو په دفتر کې یې د جذب قوه ټیټه ده، خو بالمقابل د ډاکټر صیب عبدالله په ټیم کې د جذب قوه ډېره ده، خو پــه ولــس کــې یــې ظرفیت ټیټ دی، نو د اشرف غني ټیم نــه چــې څــوک خفــه شــي د عبدالله ټیم کې د جذب قوه ډېره ده اتومات یې ځــان تــه جــذبوي، د عبدالله د ټیم له خوا هم موږ ته د ملاقات وړاندیز شــوی کېــدی شــي ورسره و ګورو؛ هر چاسره ګورو، کتل خو مخالف سره وي چــې منطــق ورسره ووایو چې ستا په وجود کې افغانستان ته دغه خطــر دی، مــوږ شفافیت ته هم حاضر یو که مناظره راسره کوي او یا کتنې، داخلي وي که خارجي ورسره ګورو خو خپل ځان په هېڅــا نــه خرڅــوو، ځینــې ستمیانو او مخالفینو سره منطق تــه هــم کینــو چــې ورتــه ووایــو ؛ دافغانستان کوچ هــم خــورې او د افغانســتان ملــي هویــت هــم نــه منې؟!ولې یې نه منې؟ موږ ولمسمشر کرزي سره هم کار کاوه خو تل به مو د افغانستان د ملي ګټو پر سر ورسره لانجې کولې، که هــر کاندیــد

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې د ملي ګټو نه يو سانتي هم تېر شي موږ يې مخالفت کوو او داعتراض حق هم لرو، موږ دفکر او عمل استقلالیت لرو.



**ګل محمد پښتون: د میدان د ځوانانو د خوځښت مشر، استاده!**

په لومړي پړاو ټاکنو کې لویه ستونزه درغلي وه، چې ان کمېسیونونو هم ناپاکې رايې پاکې نه شوې کړای او بریالی نه شو، چې روڼتیا تضمین کړي، څرنګه چې د عبدالله عبدالله په ټیم کې هغه خلک دي چې په کورنیو جګړو کې ښکېل وو، ایا که دی په دوېم پړاو کې بریالي شي په هېواد کې به دا نسبي پرمختګ زیانمن نشي؟

**ځواب:** که ولس پراخ ګډون وکړي کاندیدانو ته دا چې درغلي وکړي اړتیا نه پیداکېږي داخو خلک نه راووځي څکه تقلب کېږي کله چې یو کاندید تقلب او درغلي وکړي، رسمي نظارت او نا رسمي نظارت د تقلب کچه ټیټولی شي، نارسمي نظارت ولس کوي او رسمي نظارت هغه دي چې کورني او نړیوال څارونکي، رسنۍ او د کاندیدانو استازي یې کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا ټول د درغلیو د کچې په ټیټوالي کــې مرســته کــوي، د کمېســیون بشپړ ناپېلتوب ډېر ضروري دی او باید د ټاکنو کمېســیون مخکــې تــر مخکې کاندیدانو ته خپل هوډ څرګند کړي چې که درغلي مو وکړه هم مو تقلبي رايې باطلوو او هم سزا درکوو، اوس کمېســیون (۵۰۰۰) تنــه کارکوونکي له دندو ګوښه کوي، ددرغلیو په تور، نو دوی خو هېڅ رایې باطلې نه کړې نو تقلب بیا چا وکړ؟**

**د ټاکنو کمېسیون په دې پوهېږي چې په اول پړاو کې درغلــي شــوې، خو دا چې کاندیدان سیاسي فشار لري او بل کمېسیون په دې پوهېږي چې هسې هم دوېم پړاو ته ځو، نو څه اړتیا ده چــې رایــې بــاطلوو نــو همداوه چې یو ځل بیا یې کاندیدانو ته جرئت ورکړ، او که یو کاندید یې وبایلي، نو احتمال شته چې په هېواد کې د اور بلولو او  کورنیو جګــړو ګواښ وکړي او جنجال جوړ کړي.**

**پوښتنه: مطیع الله ستانکزی، د میدان ځوانانو د خوځښــت**



**یو تن غړی: د بن په کنفــرانس کې روسانو پر دې تاکیــد کــاوه چې ډېر واک باید جمعیت ګونــد ته ورکړل شي د رباني په مشرۍ، دوی خو د جهاد په نوم ډېر لــوړ لوړ القاب واخیســتل، نــو ولــې روس بیا علاقمند دی چــې دوی ته واک ورکړي؟ بل مقاومت څه ته وایي؟ او بله داچې که عبدالله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله بریالی شي د هېواد د نوم د بدلېدو او ډیورنـډ لـین د رسـمي کېدو ګواښ هم شته! تاسې یې په اړه رڼا واچوئ!

ځواب: داخبره ما د اسلامي جمعیت له ډېرو غړو سره مطـرح کـړې، چې کله هم کوم روسي هیئت افغانستان تـه راځـي نـو تاسـې یـې پنجشېر ته مه وړئ! ځکه دا تاسو ته خپله زیان اړوي،ځکه کلـه چـې کوم انګرېز راشي هغوی د وزیر اکبر خان قبر ته نـه ځـي، ځکـه چـې مېکناټن یې وژلی او انګرېز یې مات کړی، نو تاسو چې څومره هـم لـه روسانو سره نږدې کېږئ او د خپلو مشرانو قبرونو ته یې وړئ دا پر هغه واقعیت باندې د تایید مهر لګوي چې تاسو باندې تور دی یـا واقعیـت دی چې تاسې له روسانو سره خواخوږي لرئ، تاسو ګورئ چې روسـان دوی سره ډېره خواخوږي څرګنـدوي او دوی هلتـه دفترونـه لـرل او (کولاب) کې یې نظامي اډه لرله داسړي ته ډېره د تعجـب وړ ښـکاري چې یو مجاهد دې د روسي عسکرترڅنګ د یـوه مسـلمان پـر ضـد وجنګېږي، داخبرې د جمعیت له ډېرو مطرحو اشخاصو سره هم مطرح شوي چې تاسې په کولاب کې څه کول؟؟

دوی هغې دورې ته د مقاومت نوم ورکوي چې طالبانو سره پـر جګـړه اخته وو او هغې دورې ته لا هم نوم نه لري چې څلور نیم کاله پرې تېـر شول؛ اسلامي حزب نورو تنظیمونو یا هماهنګی شورا سره پر جګـړه اخته وو،نو داخو هماغه پوښتنه ده چې دوی ته راجع ده چې دوی هـر څه کې ځان پاک ګڼې جهاد کې یې ګناه نه ده کړې، مقاومت کې هـم پاک صفا پاتې شوي او ډیموکراسي کې یې هم هېڅ نـه دي کـړي، نـو سپینې کوترې دي افغانستان کې هېڅ نه غلا شوې، نه جنایت شـوی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو بیا افغانستان چا لوټ کړ؟ داخو هماغه پوښتنې دي چــې دوی تــه راجع دي او دوی یې ځواب نه لري، چې روس دې مات کړی او بیا روس تاته شپاړس نــیم زره میلیــارده افغــانۍ چــاپوي او ټولــو خلقیــانو او پرچمیانو ته یې په ۱۴ کلونو کې اوه سوه میلیارده چاپ کــړي!! داتــه د کومې خواخوږۍ په وجه هلته ورسره دومره خوږ یې؟

کارمل روسان راوستل افغانستان ته او د افغانستان خاوره یې ورته پــه واک کې ورکړه، مګر دلته داسې تنظیمونه وو چې روسانو ورتــه خپلــه اډه په واک کې ورکړه، یانې دې کې شک نه شته چې طالبان د علــم او تمدن او د ښځو د حقونو مخالف وو خو اسلام کې خو یې څوک شــک نه شي کولای، (البته په خپل تعبیر) یو مســلمان لــه کفــر نــه وســله اخیستله او د بل مسلمان په مقابل کې جنګېده او بیا یــې هغــه تــه د ((مقاومت)) نوم ورکاوه! اوس لا د جهاد په انډول د مقاومت نومرې پــه حکومت کې ډېرې زیاتې دي.

موږ چې د سیاسي عدالت لپاره همدا خبره کوو چې هېڅ افغان تر بــل افغانه لوړ نه دی، لوړتیا په کفایت، لیاقت او تقوا کې ده، نه داچــې یــو وایي ما لس ورځې جهاد کې تیرې کړي، بل وایي ما مقاومت کړی بــل وايي چې ما په ډیموکراسۍ کې ښه سینګار کړی! نو دا غواړم او هغــه غواړم، جهاد د ټولو افغانانو یو ارزښت دی، دا هېڅ شخص پورې تړلــی نه دی، که څوک یې ځان وارث ګڼې نو ارزښتونه یې هم بایــد وســاتي! ارزښتونه یې ولې نه ساتې؟ اوس چې درباندې نه تکلیف شته نه جنګ اوس یې نه شې ساتلای، نو د جګړې په وخت کې به دې څنګه ســاتلي وای! خو اصلي خبره داده چې دوی جهاد نه دی کړی. له موږ سره یــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اختلاف وجه همدا ده، ټاپې چې پر موږ باندې لګېږي لوی علت یې همدادی چې موږ دغه اصطلاحګانې چې هر چا د ځان لپاره ویستلي دا موږ ته د منلو وړ نه دي او نه دې ملت ته د منلو وړ دي، واحد ملت دی، ټولو جهاد کړی دی، د جهاد وراثت ، د جهاد معنوي ارزښت، د جهاد معنوي پانګه پر ټول ملت باندې د تقسیم وړ دي، هېڅ دره، هېڅ سیمه،هېڅ قوماندان ددې حق نه لري چې دا ارزښت ځانته منسوب کړي!

د ورځې یوازې شل زره توغندي پر جلال اباد باندې راتلل هغه خلک مجاهدین نه دي!؟

یوازې د ارغنداب پر متر متر باندې توغندي راتلل او هغوی د روسانو مقابل کې ولاړ وو، هغوی مجاهدین نه دي؟ او دا خلک نن د جهاد وراثت یوې محدودې سیمې پورې تړي.

بله خبره د پارلماني نظام کوي یانې دا چې د ولس ټوله رایه مشخصو وکیلانو ته راټوله شي او بیا مشخص وکیلان په پیسو واخیستل شي چې وروسته پرې ځان صدراعظم کړي د قضیې ماهیت همدادی، ټلویزیونونو کې ددوی ځینې غړي دي چې وایي موږ د افغانستان له نوم سره حقوقي ستونزه لرو دوی داخبره په رسنیو کې په ډاګه وایي، ددوی دافغانستان نوم نه خوښېږي، دوی څخه زموږ د ولسي وېره هم همدا وه که دوی واک ته ورسېږي او داعناصر پکې وي، دوی داکار کوي او ډاکټر عبدالله باید ولس ته ووایي چې داکوم خلک له تاسو سره دي ایا ته د هغو په نظر یې که نه؟ که نه یې څه تظمین ورکوې چې ددوی زهر له منځه یوړل شي او که چېرته له دوی سره ته هم موافق

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې چې بیا ولس خپله لاره ببله کړي او څوک چې ورسره د جهــاد پــه نوم تللي، ورنه ببل شي چې داخو د جهاد ارزښــت نــه دی، تــه خــو د افغانستان مخالفت کوې!

د یو څو ستمیانو پخوانۍ هیله داوه چې ډیورنډ کرښــه پاکســتان تــه پرېښودل شي، موږ ورته د ((ډیورنډ)) زامن وایو، ډیورنډ؛ چې نوم یــې انګرېز دی او بیا د انګرېز کرښه منم، نو تردې نه بله بې غیرتــي خپلــه انګرېز او هېڅ نه شته، نو چې هغه دې ورته پرېښوده نــوره هــم ورتــه پرېږدي، بله ورځ ان هندوکش پورې راځي د سالنګ تونل کې بــه یــې پاټک اچولی وي بله ورځ به پنجابی د امو سیند کې پښې وینځي، مــوږ پورته تر اټکه دعوه کوو موږ باید داباسین په اوبو بانــدې خپــل بوټــان وینځو نه دا چې هغوی دلته راشي د امو په ســیند کــې خپلــې پښــې ووینځي.دا کېدی شي ځینو خلکو ته احساساتي خبرې ښکاره شــي، ارمانونه چې دي دا په یوه ورځ نه پلي کېږي، لــه چــین څخــه هانــګ کانګ انګرېزانو نیولی و، چین هغه وخت کې کم قدرتــه و، ســل کالــه انتظار یې وویست کله چې چین باقدرته هېواد شو بېرته یې ترې خپله خاوره ونیوله، نن (تایوان) هم نه پرېږدي، نن یې چاپان ســره هــم پــه ټاپوګانو جنجال دی، څوک خپله خاوره چاته نه پرېږدي، خو چې خاوره خرڅوې، ځان دې هم له خاورو جــوړ دی، داســې خلــک ځــان هــم خرڅوي، خو وېره په همدې کې ده چې خدای ج دې داسې کاندید نــه کامیابوي چې د ډیورنډ ارمانونه پلي کړي او بل ډاکتــر عبــدالله چــې وعدې ورکړي په کمپاین کې، چې موږ به ولایتونــه جــوړوو، نــو اداري واحدونه چې جوړېږي دوه شیان پکې ډېر مهم دي یــو نفــوس او بــل مساحت، داسې نه کېږي چــې د سیاســي غــرض او سیاســي مــرض پربنسټ دې ولایتونه جوړ شي دا هېــواد تــه لــوی مشــکل دی، لکــه پنجشیر چې د سیاسي ملحوظاتو له مخې ولایت شو، که داسې وي نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرات ۶۲ زره کیلومتره مربع مساحت لري که پنجشېر سره یې مقایسه کړو نو هلته به تر ۶۰ زیات ولایتونه جوړ شي هلمنــد چــې ډېــر لــوی ولایت دی هلته به  به ۶۳ ولایتونه جوړ شي همداسې په فراه کې بایــد ۵۷ ولایتونه جوړ شي، بدخشان کې به ۳۷ ولایتونه جوړ شي هلمند د نړۍ په کچه تر لسو هېوادونو ډېر مســاحت لــري، د یــو اداري واحــد جوړول که داړتیا پر بنسټ وي ښه خبره ده، خو که په سیاسي او قومي فرمایش جوړېږي بیا خیانت دی، ته څه کاره یې چې وعــدې ورکــوي؟ کله کله سړی مجبور شي په زغرده واقعیتونــه ووایــي، کــه د عــدالت پربنسټ وي خو پروا نه کوي خدای دې وکړي چــې پنجشــېر نــه دوه ولایتونه جوړ شي موږ پرې اعتراض نه لرو څومره چې خلکو ته سهولت وي ښه ده، خو داسې نه چې په هلمند کې له دوو ولسوالیو څخــه لــه یوې نه بلې ته ځې (۳۰۰) کیلو متره فاصله ده او په یو بل ولایت کې له یوې ولسوالۍ څخه بلې ته (۳) کیلو متره، دا داساسي قانون خلاف ده ځکه په اساسي قانون کې ټول خدمات متوازن دي، موږ وایو چــې یــو اداري واحد باید  د ملت د اړتیاوو پر  اساساتو جــوړ شــي، دوی یــې د قومیت پر اساس جوړوي.

د اباد افغانستان په هیله

تاسو ټولو نه مننه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وتېونه او جنجالونه

# (څلورم درس)

**موږ تر دې د مخه درې ملي درسونه وړاندې کړي وو، چې دوه یې د انتخاباتو پر محور راڅرخېدل.**

**لومړی: انتخابات او احتمالات**

**دویم: انتخابات او خطرات.**




**د دواړو درسونو اصلي جوهر او محتویات تر ډېره حده پورې عملي شول او یا د عملي کېدو په حال کې دي، کومې وړاندوینې چې شوې دې په سلو کې (۹۵) عملي شوې.**

**اوس تر ټاکنو وړاندې ژمنو او حالاتو ته اشاره کوو.**

**۱- ژمنې: کله چې د ټاکنو د لومړي پړاو بشپړې نتیجې اعلان شوې، نو اکثره هېواد وال پر دې پوهېدل چې زیاته درغلي په کې شوې، خو څرنګه چې په حکومت کې اساسي کړی د یو مخکښ کاندید تر شا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولاړې وي، نو ځکه خو ټاکنیزې نتیجې له کوم اساسي تغیر پرته اعلان شوې. بیا وروسته دواړو مخکښو کاندیدانو ژمنه وکړه چې دویم پړاو ته به ځو، د ټاکنیزو کمیسیونو پرېکړې به منو او نتیجو ته به یې غاړه ږدو.



**۲-ژمنې ولې ماتې شوې؟:** د جوزا د (۲۴)مې نېټې د ماښام تر شپږو بجو دواړه نوماندان پر خپلو ژمنو ولاړ وو. ان ډاکټر صیب عبدالله عبدالله د ټاکنو په اړه خپل لومړني خبري کنفرانس کې وویل چې د ټاکنو نتیجه معلومه ده، اشاره یې خپل ټیم ته وه چې ګټونکی دی، خو کله چې د شپې ناوخته؛ هغه مهال چې خپلو ناظرینو یې له ټولو سیمو څخه ورته د ټاکنو د نتایجو پاڼې راوړې، نو خبره معکوسه شوه. کله چې یې نتایجو کې خپل تصویر ولید، نو د پلمې په لټه کې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- ولې ضیاء الحق امرخېل؟**: تر یوسف نورستاني او ضیاء الحق امرخېل د مخه ښاغلی فضل احمد معنوي او عبدالله احمدزی د ټاکنو اصلي متصدیان وو. معنوي صیب لکه د بلخ د والـي پـه شـان خپلـه ځانګړې پاچاهي جوړه کړې وه او احمـدزی هـم د هغـه د یـو مـامور حیثیت درلود.د معنوي صیب د انتخاباتي جنجالونو کیسه، د شـهزاده سرای داستان او نورې په زرګونو درغلۍ له هېچا پټې نه دي. کله چـې عبدالله احمدزی په خپلـه مخـه لاړ او د معنـوي د کـار مـوده پایتـه ورسېده، نو د درغلیو هغه تور لښکر چې د نظار شورا قومي تعصـب او د اسلامي جمعیت سیاسي تفکر یې په ختـه کې اخښل شوی و، لا هـم د ټاکنو د کمیسیون ټول رګونه نیولي وو. د ټـاکنو کمیسـیون کـې د پنجشېر درې او نظار شورا ونډه دومره څرګنده وه چې تا به ویل د نظار شورا کومې پـوځي پوسـتې او یـا هـم سیاسي دفتـر تـه ورننوزې، د معنوي او امرخېل لـومړی ټکـر هغـه وخـت رامنځته شـو چـې معنـــوي صـــیب



غوښتل تر خپل تګ د مخه ټول انتخاباتي پوسـتونه د نظارشـورا پـه افرادو ډک کړي، سره له دې چې د مامورینو تقرر د دارالانشا د ریـیس صلاحیت و، هغه هم د یوه قانون او مقررې له مخې، خو معنوي صـیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا خبره نه منله، امرخېل معنوي ته وویل چې زه دلتــه د نظــار شــورا دفتر نه جوړوم؟ زه د انتخاباتو کمیسیون ته افراد نیسم او هغــه هــم د



لیاقت پر اساس. خبره ان ولسمشر ته ورســېده. امرخېــل وویــل: هــر څوک چې دلته د کارکوونکي په توګه مقررېږي، باید د ټاکنو کمیسیون د دارلانشاء د طرزالعمل له مخې او په اداري اصلاحاتو کې تر ازمــوینې وروسته مقرر شي. دې کار د معنوي د لاسوهنې مخه ونیوله او تــر دې روسته چې هر څوک مقررېدل، د لیاقت اصل په کې حتمي و. خــو بیــا هم هغه افراد چې ښاغلي معنوي د انتخاباتو په کمیسیون کې د خپلې کمشنرۍ او بیا د ریاست په دوو بېلابېلو دورو کې مقرر کړي وو، هغــه لا پر خپل ځای پاتې وو.

یو وخت بیا داسې راغی چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون همدا رییس د ښاغلي عبدالله عبدالله د نظارت د ټیم عمومي مســؤل شــو. ده پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیسیون کې د خپلو پخوانیو ځای پر ځای شویو افــرادو پــه وســیله داسې درغلي وکړه چې ان د ټــاکنیزو شــکایتونو کمیشــنرانو وویــل ، ډېرې درغلۍ شوي، خو موږ ته سخته ده چې پاکې رایې له ناپاکو هغــو بېلې کړو. د معنوي صیب تبسم به تاسو هغه وخت لیدلی وي، چې ویل یې: ((رایها تغیر میخورد مگر جایگاه تغیر نمی خورد)). ښاغلي امرخېل او په مجموع کې د ټاکنو کمیسیون د اصلاحاتو او همګرایي ټیم تېــرو درغلیو ته متوجه وو. همپالنې ټیم د تېرې درغلۍ په تعقیب غوښتل دا ځل بیا هم تر هغه زیاتې درغلۍ وکړي او بیا دا درغلي د خلکو له رایــو څخه د دفاع په پلمه پټه کړي.) نو ځکه خو کله چې د ټاکنو نتیجــې د دوی د خپلې محاسبې له مخې دوی تــه پــه زړه پــورې نــه وې، نــو د امرخېل پر ضد یې چغې پورته کړې، خو دا ځل د معنوي صیب په خوله کې نه تبسم و، نه هم سوی تبسم او نه یــې دا وویــل چــې ((جایگــان همین است، تغیر نه می خورد، خو رایها تغیر میخورد.)) هغه بــل ځــل مخکې تر دې چې د ټاکنو کمیسیون پر نتایجو بحــث وکــړي، معنــوي صیب لکه د کمیسیون د یو برحال رییس په شان د نتــایجو کمیــت او کیفیت بیانوه، خو دا ځل یې وزرونه مړاوي وو.

**شرطونه:** د جوزا تر (۲۴)مې وروسته د شرایطو اېښودل پیــل شــول، لومړی د امرخېل د لرې کېدو خبره مطرح شوه، هغه چــې لــه خپلــې دندې لاس په سر شو، بیا نور شرایط مطرح شول، اوس نو هره ورځ یــو نوی شرط وي او یوه نوې طرحه.

**مزاحمتونه:** لومړی ښار کې کېږدۍ ووهل شوې، بیــا یــې مظــاهرې وکړې، مخکې تر دې چې نتیجه اعلان شي، مظاهرې ته یې راودانګــل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مظاهره يې ځکه تر نتيجې د مخه وکړه چې که نتيجــه اعــلان شــوې واى، د دوى د پلويانو وزرونه به مړاوي شوي وو، فکر يــې کــاوه چــې ځوک به راونه وځي، بل روژه هم راروانه وه، نــو لــه وارخطــايۍ يــې د جمعې پر ورځ په داسې ځاى کې مظاهره وکړه چې نــه يــې پــه ټــاکنو پورې اړه لرله او نه يې هم کوم پرېکړه ليک درلود. د مظاهرې اعلان يې د ميليونونو تنو و، خو عملاً په کې زرګونه تنه، په اعلانونو کې يــې لــه پښتونستان واټ سره د خپل حساسيت د ښودلو له امله دې تــاريخي ځاى ته د (ميدان فواره اب) نوم ورکړ او بيــا يــې د پښتونســتان واټ لوحې هم زيانمنې کړې.

**د حکومت مداخله:** په تېرو (۱۳) کلونو کــې چــې هــره ناپــاکي د شمالټلوالې عناصرو او يا هم په حکومت کې نورو افرادو کړې، نــو لاس يې په ولسمشر کرزي پاک کړى دى.

سره له دې چې ولسمشر کرزي د سترې سياسي اشتباه په توګــه، دې ډلې ته داسې امتيازات ورکړي چې هېڅ چېرې يې سارى نه شته، خــو بيا يې هم د دوى ټولې غوښتنې پوره نه کړاى شوې. اوس يې يــو ځــل بيا همغه زړه وسله او پلمه تکرار کړه چې کــرزى او حکومــت مداخلــه کوي. ښه دى د خداى فضل دى، نه قانوني صيب په حکومت کې شته، نه بسم الله خان، نه عطا محمد نور او نه د اسلامي جمعيت په زرګونــو نور فعال اشخاص.!! حکومت په (۱۳) کلونو کې په خپله د عبــدالله پــه شمول د اسلامي جمعيت له ټولو غړو پاک او مبرا و!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ټاکنو کمیسیون:** په (۱۳) کلونو هېڅ داسې ترکیب کـې نــه دی رامنځته شوی چې په هغه کې دې نظار شورا خپل استازي ونه لري، ان له نورو قومونو او کدرونو څخه به چې هم څوک ټاکل کېدل، نو د نظـــار شورا هوکړه به اخیستل کېدله، همدې کمیسیونونو ته راځــو. د ټــاکنو خپلواک کمیسیون په نهـــو غـــړو کـــې (درې) پښتـــانه او د شـــکایتونو کمیسیون په پنځو غړو کې یو تن پښتون دی. په دوارو کمیسیونو کـې



د اسلامي جمعیت غړي ثابت او څرګند دي، خو بیا هم شکایت. بیا هم شکایت او بیا هم امتیاز د نظار شـــورا د تفکـــر او سیاســـي شخصـــیت اصلي محتوا ده.

**فشارونه:** مورږ په تېرو درســـونو کـــې هـــم اشـــاره کـــړې وه چـــې د شمالټلوالې اصلي زړی چې اوس د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم په نـــوم یادېږي، د وضعې د اخلال او ډول ډول فشارونو د واردولو تـــوان لـــري. مورږ ویلي وو چې که ډاکټر عبدالله عبدالله تر اشرف غني کمـــې رایـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګټي، نو دوی به د تقلب په نامه انتخاباتي بهير تــر پوښــتنې لانــدې راولي، وضع به اخلال کړي، او د يــوه مشــارکتي حکومــت د جوړېــدو هڅه به وکړي، يوه برخه به يې په حکومت کې وي او يوه برخه به يې له حکومته بهر، د تېرو (۱۳) کلونو تجربه به يو ځل بيا تکرار کړي.

اوس چې د ډاکټر عبدالله عبدالله رايې تر ډاکټر اشرف غني کمــې دي، نو ډاکټر عبدالله او د هغه اړونده ډله غواړي د بېلابېلو فشارونو له لارې ددې رايو خلا ډکه کړي، تقلب پلمه کړي، له دولتي زور، سياسي فشار، فزيکي ټکرونو او ان د مقابــل لــوري د افــرادو د فزيکــي امحــا ټــول وريانتونه وکاروي، دا ټول امکانات هغو عواملــو برابــر کــړي چــې پــه حکومت کې له تېرو (۱۳)کلونو راهيسې ځای پر ځای دي.

**ټلېفوني مکالمې:** د ډاکټر عبدالله عبدالله ټيم څو ټلېفوني مکالمې پيدا کړي يا يې جوړې کړي چې هغه د فشار د يوې وســيلې پــه توګــه کاروي، دوی يوه پوښتنه مطرح کوي چې که دا غږ د امرخېل او د ځينو حکومتي چارواکو و، نو په انتخاباتو کې تقلب شــوی، دلتــه بايــد څــو پوښتنې مطرح شي چې ايا دا غږ صحت لري که نه؟ دويم کــه صــحت ولري، څه په کې ويل شوي؟ درېيم څه شی چې په کې ويل شــوي، پــر ټاکنو څومره اغېز لري؟ څلورم، ولې يوازې د دوی غږونه ثبتېږي؟ چــا چې دا غږونه ثبت کړي کومه مرجع ده؟ دولتي ده کــه نــادولتي؟ کــه دولتي مرجع وي، ولې د يوه کانديد په خدمت کې ده؟ او که نا دولتــي وي، هېڅ جواز نه لري، نو يو ټــيم چــې پــر ټلېفــوني او اســتخباراتي دستګاوو دومره حاکميت ولري، فکر نه کوئ چې ټول انتخاباتي بهير د دوی تر ناقانونه اغېز لاندې دی، آيا د يو غږ په ثبت سره هــر څــه لــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه ځي؟ آیا کېدی شي د مخابراتو وزارت د دواړو ټیمونو د مشـــرانو په ګډون د ټولو مهمو دولتي چارواکو، د انتخاباتو د کمشنرانو د غږونـــو ډیټایل راوباسي چې نورو څه ویلي؟ عجیبــه خبــره خــو دا ده چــې د امرالله، عبدالله، عطا محمد نور، معنوي او نورو غږونه دې محفــوظ وي، خو هغه ثوک چې د حکومت په دستګاه کې بېوسه او بېکســه دی، د هغوی هر ډول غږ ته دې دام ایښودل کېږي، کــومې مرجعــې چــې دا غږونه ثبت کړي، باید تر وروستي ایډیټ او په جملو کــې تــر ادلــون او بدلون وروسته، همغه لومړنی حالت یې هم پیدا شي، چې ایــا دا اولــي حالت دی که دویمي. تر ټولو مهمه او وروستۍ خبره دا ده چې ایــا یــو ټلیفوني غږ د ټاکنو د مسیر او د ولس د رایو پر بدلولو څه تاثیر لري که نه؟ په خپله پر امرخېل له یوه لوري تور پورې شوی، تر څــو چــې تــور ثابت نه شي او محکمه حکم صادر نه کړي، شخص خپل اصلي حالــت لري. کېدی شي په خپله امرخېل سره هم ګــڼ شــمېر داســې اســناد موجود وي چې د مقابل ټیم له نامشروعو غوښتنو پرده پورته کړي.

**سیاسي تفاهم:** ددې ټولو فشارونو هدف دا دی چې ټاکنې په یو نــه یو ډول نا مشروع شي او زمینه په اصطلاح سیاسي تفــاهم تــه برابــره شي، له سیاسي تفاهم څخه د هر چا خپــل خپــل تعبیــر دی، اصــلي سیاسي تفاهم خو همدا دی چې د ټاکنو پایلې ومنل شي، خــو د نظــار شورا ډله چې اوس په انتخاباتي بهیر کې ځــان کمــزوری ګڼــي، نــو د سیاسي تفاهم خبره کوي. له سیاسي تفاهم څخه یې هدف دادی چــې د بن کنفرانس په شان یو حالت دې رامنځته شي او یــا هــم تــر هغــه وروسته په انتخاباتي بهیرونو کې چې اساسي واک له یوې ډلې، یــوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې او يو تنظيم سره و، خو د زعامت لپاره يو شـخص د سـمبول پـه توګه غوره شوی و، د زعامت مسؤليت يو چا سـره و، خـو د سياسـي قدرت نعمت له بل چا سره. اوس يو ځل بيا همدغه لوبـه روانـه ده. دا چې ډاکټر اشرف غني احمدزی به څومره د حامد کرزي پـه رول کـې واقع شي، هغه پوښتنه ده چې وخت به ورته ځواب ووايي.

د يادونې وړ ده چې د همپالنې ټيم به تر ټاکنو وړاندې د سياسي تفاهم خبره په کلکه ردوله او ټاکنې به يې يوازې د ټولو سـتونزو د حـل لاره ګڼله، خو اوس تر ټولو د مخه دوی د سياسي تفاهم خبره کوي.

**ائتلافي حکومت:** د ناوړه سياسي تفـاهم لـه لارې نـاوړه ائتلافـي حکومت رامنځته کېږي. دا به تر هغه حکومته ډېر بدتر وي چې په تېرو (۱۳) کلونو کې يې جريان درلود. ائتلافي حکومت به په افغانستان کې د انتخاباتو محتوا او ماهيت په چورلټ ډول له منځه يوسي او د نـاوړه سياسي معاملو ډېر بد کلتور به عام کړي. ولسـواکۍ بـه د تمسـخر وړ شي او نور به هېڅوک د ټاکنو مانا او مفهوم ونه مني.

**ټاکنې چا ګټلې؟:** حقيقت دا دی چې د ټاکنو اصـلي ګټـونکی نـه ډاکټر اشر غني احمدزی دی، نه ډاکټر عبدالله عبدالله. د ټاکنو اصـلي ګټونکی ملت دی، خو اوس ګومان کېږي چې د ملت پـر برخليـک يـو ځل بيا سياسي معاملې روانې دي. د عبدالله لايتنـاهي غوښـتنې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر اشرف غني سست غبرګون هغه اندېښنې دي چې کېدی شي ولس د لنډ مهال لپاره نهیلی کړي.

**حل لارې:** د تحول او دوام ټیم باید ژر تر ژره د ولس د رایو حفاظت ته راودانګي، که یې نه شي کولای ولس ته دې په خپله ووایي، لکه څنګه چې مو په ټاکنو کې حماسه وپنځوله همداسې د خپلو رایو خوندیتابه ته هم راودانګئ. ائتلافي حکومت افغانستان ته قاتل زهر دي، البته پراخ بنسټه حکومت چې د ائتلاف بوی ترې رانه شي، د افغانستان لپاره ګټور کار دی. د ټاکنو کمیسیونونه باید ژر تر ژره نتیجې اعلان کړي، دا د جرګو او مرکو کمیسیونونه نه دي. ولسمشر باید خپل ناپېیلتوب وساتي، خپل مرستیالان او په حکومت کې تنظیمي عناصر مهار کړي چې تر دې زیاته په ټاکنو کې مداخله ونه کړي.

**وروستۍ نتیجه:** دا طبیعي خبره ده چې یو ټیم ټاکنې ګټي او بل یې بایلوي، ان د یوې رایې په توپیر، خو دا په دې مانا نه ده مخالف ټیم چې د لکونو او میلیونونو رایو ملاتړ لري، د افرادو په توګه په راتلونکي سیاسي، ټولنیز او مدني نظام کې له فعالې ونډې بې برخې شي. تر ټاکنو وروسته هر څوک چې ګټونکی وي باید د هېواد ټول وګړي د تساوي د اصل په مزي وتړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې د یوه بایلونکي کاندید له خــوا څــه ګواښــونه او اخطارونــه ورکول کېږي، دا د لنډې مودې لپاره دي، کله چې نتیجه اعلان شـــي، ددې ګواښونو کچه هم کمېږي، د ټاکنو په بهیر  او یا د نتایجو تر اعلان وروسته د بایلونکي کاندید له خوا دا ډول غالمغــال او مظــاهرې یــوه عادي خبره ده. ټاکنې یو ګټونکی لري، نه دوه، خو اصلي ګټــونکی پــه دې ټاکنو کې ولس دی چې د شر او فساد دزیاتو امکاناتو او وسایلو پــر ضد یې پاڅون وکړ. اوسنی غالمغال د اندېښــنې وړ خبــره نــه  ده او د وخت په تېرېدو سره دا ډول غالمغال په عادي خبره بدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ووټونه او جنجالونه

## (ځلورم درس)

## پوښتنې او ځوابونه

**پوښتنه: فاروق فاروقي له لوګر ولايت څخه:**



**د پښتونستان واټ د لوحو د غورځېدو علت څه و، ايا همګرايي ټيم پښتو نه شي زغملای که ملي تحريک؟**

**بله خبره دا ده چې تاسو او عطا محمد نور خو ملي اختلافاتو ته لمن نه وهئ او ولس ته خو مو کوم چل نه دی جوړ کړی؟**

**ځواب: ځينو پرديپالو په خپلو رسنيو کې خپله هغه کينه، چې چې له پښتونستان واټ سره يې لرله، څرګنده کړې وه، دا يې د((فواره آب)) په نوم ياداوه، فردا ټلوېزيون او نور ټلوېزيون يې څرګندې بېلګې دي، قومي تعصب د جمعيت تنظيم په رګونو کې له پخوا څخه شته!**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هېڅاسره اختلاف نه لرو! خو چې دلته څوک اوسېږي او ځانته افغان نه وايي او ملي هويت ته وفادار نه وي، ورسره مخالفت لرو او دا تعبير بايد د خلكو له ذهن څخه لرې شي چې يو څوک د افغانستان لپاره له خپل سر نه تېر دی، د ملي ګټو لپاره مبارزه کوي او بل يې مخالفت کوي بايد ددوی دواړو ترمنځ توپير وشي؛ يوه ته بايد د افغانستان مدافع وويل شي بل ته د افغانستان مخالف او عطا محمد نور سره هم زموږ اختلاف همداوه چې موږ ويل د ملي هويت په تذكرو كې دې افغان وليكل شي خو عطامحمد نور ويل نه دې ليكل كېږي.

د ملي مسايلو برخه كې موږ چاسره ګوزاره نه كوو!.

## اسدالله عليزی، دلوی کندهار د ځوانانو مسوول:



دوی وايي چې ټاكنې دې په ځينو ځايونو كې بيا وشي، ايا افغانستان يوه حوزه نه ده؟ ايا دوی پوهېږي نه كه څنګه؟

زه تاسو ته په ډېر ډاډ وايم چې په لوی کندهار کې د زلمي رسول په نوم چاته چا رايه نه ده وركړې، موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د بدلون لپاره رایه ورکړې چې کندهاري ولس او پښتنو سره توپیري چلند ورک شي او موږ په کابل کې بیا په لوڼګۍ او کندهارۍ غاړه بندیان نه شو؟!**

**محمد عیسی خان: تیم اصلاحات و همگرایي در دور اول انتخابات نامزد پیشتاز نه بلکه نامزد پیشتاز متقلب بود، ودر راه پیمایی هم پودریاره اورده بود ما هیچ قبول نه داریم که حکومت ایتلافي بسازه ویا معامله کند این یک خیانت بزرگ در برابر ملت خواهد بود، و نصیحت شما به تیم تحول و تداوم چیست؟**



**ځواب: موږ وایو چې سیاسي تفاهم خپله ځانګړې مانا لري،د سیاسي تفاهم تر نامه لاندې ایتلافي او ګډ حکومت د ملت لپاره په ګټه نه دی. که دواړه ټیمونه سره تفاهم وکړي دواړو ټیمونو کې منفي عناصرشته که چیرته یوځای شی ددواړو د ودې زمینه برابرېږي! موږ له ډاکټر اشرف غني احمدزی سره ددې لپاره نه یو یوځای شوي چې موږ ته موقف راکړي، بلکې د ملت د نجات لپاره ورسره ولاړ وو، کله چې ډاکټر صیب کامیاب شو بیا به زموږ جهاد د غوره مالانو پر ضد وي ځکه بریالیتوب د ملت دی نه دنوماندانو.**

**اوس خو کمپاین خلاص دی لږ واقعیتونه به ووایو، خلکو له خپله جیبه دفترونه پرانیستل، مصرفونه یې کول، خو کله به چې مرکزي دفتر ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغلل دوی به یو مکتوب ورته نه ورکاوه، ددې لپاره چې دا سبا ته



مطرح نه شي، کله چې اشرف غني له محمود خان پل څخه تېر شه او ارګ کې کېناسته نو موږ او تاسې به یو بل جهاد د دغو غوړه مالانو پر ضداعلانوو.

یو ورور یې اخوا دی یو یې دېخوا دی، کمپاینونه دغو خلکو خراب کړل، ورور چې د خپل ورور ځواب نه شي ویلی ملت ولې ستا په خوله راشي؟ یو ورور یې ډاکټر عبدالله ته کمپاین کوي بل یې ډاکټر صیب



اشرف غني ته، دا ډول لس ورونه موږ تشخیص کړل. دې کې چې هر یو کامیاب شو دوی خو ورسره دي، ولس خو بیا پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځۍ یو کار کوو، چاچې په مرکزي دفتر کې کمپاین کــړی وي، معــاش یــې اخیستی وي، خوراکونه یې کړې وي، ټلېفون یې کارولی وي، دا دې تر یو کال پورې په دولت کې دنده نه اخلي، تر څو خلکو ته مالومه شي چې دې خلکــو د خپل موقف لپاره کار نه دی کړی، د افغانستان لپاره یې کړی. اول زه حاضر یم چې په دې په پروسه کې هر ډول قربانۍ ورکړم. مګــر هغــه کســان چــې خلک یې ځورولي وي، هغه به موږ نوموار ډاکټر صیب اشرف غني تــه ښــییو چې دا دې په اینده حکومت کې ونډه نه اخلي، ځکه دا غوړه مــالي یــو بــل مکروب دی، چې دربار ته ورداخل شو، اوس یې د کمپاین لــه دفتــر څخــه دربار جوړ کړی، ته چې ارګ ته ورداخل شې خلکو سره به څه کوې؟ دا هغــه



مکروبونه دي چې کېدی شي یو متفکر هم له خپل اصلي مســیر څخــه بــل طرف ته یوسي، تر کومه چې د سیاسي تفاهم خبره ده، د اشرف غني کرکټــر داسې دی چې دی چاته حاضر نه دی، په ډېرو سختو شرایطو کې یې چاته د څوکۍ ژمنه ورنه کړه چې هغه وخت یې رایې کمې وې، ســتړیا وه، فشــار و، امنیتي مشکلات وو، حتی د ترور او اختطاف مشکلات هم وو خــو ده چاتــه سند ورنه کړ چې زه تاته سند درکوم، نو موږ د ډاکټر تېر ماضي ته په کتــو دا باور لرو چې دی به سیاسي تفاهم نه کوي، څوکۍ به چاته نه ورکــوي، هغــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوکۍ چې د ډاکټر عبدالله ټيم ته ورکوي ملت ته دې ورکړي  چې ملت يــې ملاتړ وکړي. خو که احياناً ده هم د ولسمشر حامد کرزي په شان تفاهم وکــړ، نو ولس چې څنګه غبرګون د کرزي پر وړاندې ښودلی و دده پر وړاندې يــې هم ښيي.

نو راځئ اول ډاکټر صيب اشرف غني کامياب کړو، تر ارګه يې ورسوو، دويمــه پروسه بيا داده چې د ډاکټر اشرف غني چاپېريال له زورورو، غاصبينو، غوړه مالانو او چاپلوسانو څخه پاک کړو چې يو سوچه، پاک او ســوتره حکومــت د افغانستان د خلکو په برخه شي.

ډېره مننه کور ودان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوزونه او عملونه

## (پنځم درس)




## په دې بحث کې لاندې مسایل څېړل کېږي:

- له ډاکټر اشرف غني څخه د ملاتړ اصول
- له ډاکټر اشرف غني سره د خبرو بهیر
- له ډاکټر اشرف غني سره شوی تړون او لوزونه
- د کمپاین پیل او زموږ عملونه
- د ولسمشرۍ د لومړي پړاو ټاکنې
- د ولسمشرۍ دویم پړاو ټاکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د اصلاحاتو او همپالنې او د تحول او تداوم ټیم د غوښتنو ارزونه
- ائتلافونه او سازشونه
- راتلونکي احتمالات

د ولسمشرۍ په لومړنيو او دويمو دوارو ټاکنو کې ما د ښاغلي حامد کرزي ملاتړ وکړ د هغو ملاتړونو لپاره خپل چاپېريال، خپل حالات او خپل دلايل وو. د ولسمشرۍ په دې درېيمو ټاکنو کې موږ ځان سره يو لړ اصول وټاکل. لومړی اصل دا و چې د هېواد حاکميت بايد د يوې واحدې درې، تنظيم، ډلې، سيمې او قوم له انحصاره راووځې. هر څوک چې داسې يو فرمول جوړ او په هغه کې راټاله شي چې له توکميز پلوه



عدالت په کې تامين وي، له پښتون اکثريت او دوو نورو قومونو: هزاره او ازبک څخه يې ټکټ رغېدلی وي، موږ يې ملاتړ کوو. دا هم د همدې واقعيت له مخې چې د هېواد سياسيون لا هم د قوميت له دايرې بهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر نه شي کولای او ټاکنو ته طبعاً قومي رنګ ورکوي. څرنګــه چــې د تاجک قوم په استازۍ ضرور د پنجشېر له درې څخه يــو څــوک ځــان ولسمشرۍ ته کانديدوي او احتمال دا دی چــې د دوو نــورو قومونــو، هزاره او ازبک په استازۍ څوک ځان نه کانديدوي او د مرستيالۍ پــه پوستونو کې ځان خوشاله احساسوي، نو ځکه خو که د ټــاکنيز ټکــټ يوه ضلعه، د پنجشېر او يا نورو سيمو په استازۍ په کوم تاجــک ډکــه شي، رايې نه ډېروي، تېرو تجربو ته په کتو سره يوازې د ځای ډکــول او د امتياز اخيستل دي، نور پر انتخاباتي مسير کومه اغېزه نه لري، البته دا په دې مانا نه ده چې تاجک شريف قوم دې راتلونکي حکومت کــې فعاله ونډه ونه لري، خو د افغانستان اوسنيو شرايطو ته په کتــو ســره همغه ټيم بريالی دی چې په انتخاباتي ټکټ کې لږ تر لږه په يــو نــه يــو ډول د دريو قومونو تصوير ولري. که چېرې د تاجک قوم په اســتازۍ د ولسمشرۍ څوکۍ ته چا ځان نه کانديدولای، نو زموږ دا اصــل پــه دې بڼه نه پاتې کېده، خو اوس دا زموږ عام فورمول و او عمومي قاعــده وه، موږ ويل هر کانديد چې همدا فرمول وړاندې کړي موږ يې ملاتړ کــوو او د برياليتوب چانس يــې هــم زيــات دی. پرتــه لــه دې چــې مــوږ پــر شخصيتونو فکر وکړو. اول مو د ټاکنو پر سياسي رياضي فکــر وکــړ او ځان مو له يوې قاعدې سره وصل کړ.

د ډاکټر صيب اشرف غني احمدزي په کور کې يوه غونډه وه، په هغــې کې ګڼ شمېر مخور کسان: د زلمي خليــل زاد، علــي احمــد جلالــي، محمد حنيف اتمر او ډاکټر انوارالحق احدي په ګډون د شپږو مطرحــو احتمالي پښتنو کانديدانو د يو ځای کېدو او له هغو څخه د يوه واحــد

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاندید پر سر د توافق بحث مطرح و دا یاد مطرح کسان هم په غونډه کې موجود وو، تر ډېر بحث او خبرو اترو وروسته بیا هم دوی پر واحد نوماند توافق ته ونه رسېدل. هر چا خپل خپل نظریات درلودل، خو ما ورته وویل، په دې شپږو مطرحو احتمالي کاندیدانو کې چې هر چا دغسې انتخاباتي فورمول جوړ کړ، پورتنی فورمول مې ورته یاد کړ، موږ د همغه ملاتړ کوو، همدا ډول یو ترکیب د بریالیتوب چانس لري.، زما خبرې پر چا ښې او پر چا بدې ولګېدې، خو ما خپله خبره وکړه.



تر هغه وروسته ما او ځینو نورو ملګرو له ډاکټر صیب اشرف غني سره خبرې وکړې او خپل نظریات مو ورته وړاندې کړل. هغه وویل: زه به ژوندون ټلوېزیون ته درځم او ماښام کې به یو په یو خبرې کوو. ما یو متن ولیکه او په هغه کې مې د ملي تحریک د غړو نظریات شریک کړل، دا هغه مهال و چې ډاکتر اشرف غني احمدزي لا خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرستیالان نه وو مشخص کړي، ډاکټر صیب احمدزي خپل امنیتي کسان د وعده شوې ورځې پر سهار ژوندون تلوېزیون ته د ځای د لیدلنې او امنیتي چک لپاره ولېږل، ټاکل شوې وه ماښام ډاکټر صیب ژوندون ته تشریف راوړي، ویل شوي وو چې په ملاقات کې به بل هېڅوک نه وي، یوازې (انجنیر مصباح الدین ساپی) به هم په دې کتنه کې برخه ولري.

کله چې د وعدې وخت راغی، پنځه لس دقیقې مخکې د ډاکټر صیب له دفتره احوال راغی چې ملاقات د نامعلومو او نا ویلو دلایلو له مخې کنسل شو. وروسته چې مونږ پوښتنه وکړه، نو ملاقات د ډاکټر صیب اشرف غني په دفتر کې تر وخت د مخه د درباري غوړه مالانو د تنګنظرۍ له امله کنسل شوی و. هغوی فکر کاوه چې که ډاکټر اشرف غني له یوه فکري او رسنیز مرکز سره توافق ته ورسېږي، نو زمونږ رول خو به بیخي پیکه شي، نو ځکه خو یې هغه ته په غوږ کې کېښوده چې دا خو یو نیشنلستي مرکز دی او ته خو یو ملي شخص یې بیا به دا نور درڅخه خفه شي، نو ځکه خو ملاقات کنسل شو. ما خبره همدلته ډب کړه، ما ویل البته ضرورت به نه احساسوي. څه موده دې کې تېره شوه ډاکټر صیب غني (جنرال عبدالرشید دوستم) او (سرور دانش) د خپلو مرستیالانو په توګه غوره کړل. دا مهال جنرال دوستم د عامه ذهنیت د حساسیت په وجه له ډېرو ستونزو سره مخ و په ژوندون تلوېزیون کې کوم خبریال یو عجیبه شان راپور خپور کړی و: ((د اور او اوبو یو ځای کېدل، د نړۍ ستر مفکر او ستر جنګسالار))، دا راپور پر ډاکټر صیب غني چندان ښه نه و لګېدلی، څو ورځې وروسته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کانتینینټال هوټل کې د کرکټیانو لمانځغونډه وه، ډاکټر صیب هم ورته بلل شوی و او زه هم، د سټېږي مشي پر مهال يې ډېر ژر راته وويل: ((ګوره کنه ستا فورمول مې عملي کړ خو بيا هم راپسې تبليغات کېږي.)) زه ژر پوه شوم، ما وويل: ډاکټر صيب هغه د يو ژورنالست نظر دی نه د ټول ټلوېزيون، ده ويل خير نو څه به کېږي؟ مانا ملاتړ، ما ويل لږ وخت نور راکړه بيا به د اصولو له مخې درسره وږاندې ځم. نوملیکنه هم وشوه، رسمي کمپاين ته لږ شپې پاتې دي. مطرحو کسانو ته د هر کانديد له خوا بلنه ورکول کېږي، موږ ته هم له هر لوري بلنه راکړل شوه او ان زيات فشارونه هم وارد شول، خو موږ له ټولو نوماندانو څخه ډډه کوله. له ډاکټر صيب غني سره بيا هم په مستقيم ډول په تماس کې نه وم. (کاوون کاکړ) زموږ مستقيمه تلفوني رابطه ټينګه کړه. په اول تيلفون کې ډاکټر صيب وويل: ما سره په اولويت کې تاسو ياست، هر کله چې وخت لرې سره وبه ګورو.ما ويل زه خپله درته زنګ وهم. څو ورځې وروسته ما ورته ميسج ولېږه چې په وزګار وخت کې دې تلېفون ته منتظر يم، د شپې يې خپله زنګ وواهه، ماته يې وويل، څنګه به سره وګورو او څنګه شو نظر مو؟ ما ويل ډاکټر صيب ملاتړ دې کوو، خو يو څه ملاحظات دي، يو خو دا چې ستا ترڅنګ يو شمېر داسې کسان شته چې نه يې زه خوښېږم او نه زما خوښېږي، هسې نه چې موږ له تا ملاتړ وکړو او دا خبره پر هغوی بده ولګېږي، هغوی درڅخه جلا شي، ډاکټر صيب وويل، زه په ټولو نزاکتونو پوهېږم، اول خو دا چې زه تاته د بل چا له زاويې څخه نه ګورم، زه تاته د داسې يو مستقل شخص په توګه قايل يم چې دې ټولنه کې خپل وزن لري او ماته محترم يې، زه هېڅکله يو شخص د بل شخص له زاويې نه ګورم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې ناحیې څخه تاته ډاډ درکوم. ما ویل ښه ده دې ورځــو کــې بــه وګورو، زه به خپلو کاغذونو سره درشم، ډاکټر صیب وویل، هر چېرتــه چې ته غواړې، ما وویل نه، تر ټولو ښه ځای ستاسو کور دی، نور ځایونه د امنیتي دلایلو له امله تاسو ته مناسب نه ګورم، هغــه پــه دې خبــرو خوښ شو. د کمپاین لومړۍ شپې او ورځې وې، ډاکتر صیب هــم ښــه مصروف و، د شپې یې زنګ وواهه، سبا د شپې لس بجې زموږ کور سم دی، ما ویل ښېخي سم دی، لس بجې فکس درځو، زه او زموږ یو بل ډېر تکړه ملګری، ملي سوداګر او فرهنګپال شخصیت چې اوس نه غــواړم نوم یې واخلم، دواړه د هغه په موټر کې د ډاکټر صیب کور ته لاړو. زموږ یې ډېر عزت وکړ. هېڅوک نه وو، موږ درې کســان وو. اول مــې ورتــه وویل، وخت راته وښایه څومره وخت لرې؟ هغه وویــل: ستاســو لپــاره وخت قید نه دی. ما وویل نورو خبرو څخه به تېر شو اول به هغه مــتن ته راشم چې ما لیکلی، که په دې راسره توافق وکړې، نو زموږ کــار بــه ډېر اسان شي او هغه ملګري چې ما سره دي هغوی به په خلاص لاس تاسو سره د اصولو له مخې ودرېږي. متن مې ټول ورتــه ولوســت (۲۱) موضوعات یې درلودل، ده په خورا دقت واورېد.

متن یې ډېر خوښ شو، ویې ویل یوازې په اوومــه برخــه (نــا مشــروع پانګه) کې وروستۍ جمله که حذف شي ښه به شي: ((په دویم ګام کې دې د دوی ناقانونه مادي شتمنۍ تصفیه شي او د اثبات په حالت کــې دې دا پانګه بېرته د بیت المال برخه شي.))

داکټر صیب وویل دا په راتلونکو پنځو کلونو کې ممکنه نــه ده او کــه موږ په دې دوره کې په دې خبرو ټینګ ودرېږو، نو دا ټــول ســره یــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کېږي، مشکلات هم راپیدا کېږي او د سرمایې فرار هم رامنځته کېږي. نو دا نور پنځه کاله وخت غواړي.



په نهم عنوان کې ((پوزېشن اواپوزېشن)) کې يې هم يوه ملاحظه لرله. ددې عنوان دويمه فقره داسې وه: ((سياسي مخالفين بايد د سياسي اپوزېشن په توګه له حکومته بهر وساتل شي. نه لکه د تېرو (۱۳) کلونو په شان چې يوه ډله هم په حکومت کې واکمنه وه او هم يې د سياسي اپوزېشن تمثيل کاوه، موږ د يوه کرکټر ظاهراً دوه متضاد نقشونه نه شو منلای)) ډاکټر صيب وويل: دا وروستی پروګراف د سولې اوپخلاينې بهير سره څه ناڅه تضاد لري؛ که موږ پر دې محتوا ټينګ ودرېږو، نو بيا مخالفين نه شو قانع کولای چې سوله ومني او حکومت ته راشي، موږ بايد د سولې بهير عملي کړو، نو دا جمله بايد اصلاح شي، دا جمله مو په ګډه په دې ډول اصلاح کړه: ((که سياسي مخالفين د حکومت، د سولې او ثبات د بهير غړي شي، نو بيا په حکومت کې دننه او له حکومته بهر د سياسي اپوزېشن بڼه نه شي خپلولای.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورې ټولې برخې ډاکټر صیب سل په سلو کې تائید کړې، ما ورته وویل که یه املا او انشاء کې څه تېروتنه وي او یا هم محتوا کې، کولای شي،



بدلون په کې راوړي، هغه وخندل، ویې ویل: ((ستا په متن کــې څــوک ګوتې وهلای شي.)) پر متن توافق وشو او ویې ویل، دا سمون پــه کــې راوړه، سبا شپه به بیا کېنو.

د شپې لس بجې بیا د ډاکټر صیب په کور کې وعده وه. دا شپه ډاکټــر صیب په یوه مناظره کې مصروف شو، له همغه ځایه یې راتــه ســکرتر زنګ وواهه چې ډاکټر صیب همدا اوس په مناظره کــې دی، ماتــه یــې وویل چې تاسو ته احوال درکړم، سبا شپه به پر همدې وخت پــه کــور کې ګورو. سبا شپه پر ټاکلي وخت ورغلو، دا ځل ما د پخــواني مــتن د سمون تر څنګ یوه بله پاڼه هم لیکلې وه. په دې کــې مــې د کمپــاین شرایط واضیح کړي وو. موږ کمپاین ته (د ملت نجــات) کمپــاین نــوم ورکړی و او غوښتل مو په خپلواک ډول کې یې وکړو. ډاکټر صــیب تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې وويل چې زموږ فکر د نورو په انډول ازاد، مالګه اومرچ مو هم يو څه زيات دي، ستاسو په دې مرکزي دفتر کې ځينې داسې اشخاص شته چې نه يې موږ خوښېږو او نه زموږ خوښېږي، خو څرنګه چې د ولسمشرۍ ټاکنې يوه ملي مسله ده، د يو شخص او تنظيم په وس پوره نه ده، نو په دې خاطر چې اختلافات پيدا نه شي، موږ غواړو په مستقل ډول کمپاين وکړو، په خپل لګښت يې وکړو او په زغرده يې وکړو. د ملت د نجات کمپاين طرحه په دې ډول وه:

## د افغانستان ملي تحريک

### د ملت د نجات لپاره د کمپاين دفتر

### (نجات)

- دا دفتر په ازاد او مستقل ډول فعاليت کوي.
- ددې دفتر اصلي موخه داده چې ملت له بحرانه وژغوري او واک ته د ډاکټر اشرف غني په رسونه کې مرسته وکړي.
- د ملت د نجات لپاره د کمپاين دفتر د خپلو کارونو لپاره نوې اغېزمنې لارې چارې او ميتودونه کاروي.
- د ملت نجات لپاره د کمپاين دفتر به په مهمو مسايلو کې د ډاکټر اشرف غني د انتخاباتي کمپاين له دفتر سره اړيکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتي، خو دا اړیکي به د دفتر له مشر او خپله له نوماند ســره وي.

- د نجات دفتر خپل مالي لګښتونه په خپلــه پــوره کــوي، کــه چېرې د کمپاین رسمي دفتر له هغه سره مرسته وکړي، ردوي یې نه.
- د نجات دفتر په ولایتونو کې د کمپاین له رسمي دفتر او نــورو ژبورو شخصیتونو سره اړیکي ټینګولای او همکــاري ورڅخــه غوښتلای شي.
- د نجات کمپاین او د کمپاین رسمي دفتر کولای شي یو بل تــه وخت پر وخت لازمې مشورې ورکړي، د نجات دفتر غړي چې د ملي تحریک له خوا یې لارښوونه کېږي، کــولای شـــي، پــه رسنیو کې ددې دفتر په اســـتازۍ خبــرې وکــړي او د ډاکتــر اشرف غني احمدزي له دریځه ملاتړ وکړي، خو د نجات دفتــر د غړو هر ډول خبرې او څرګندونې به د نوماند د رسمي دریځ او د کمپاین د رسمي دفتر او نظر د څرګندونې مانا نه لري.
- د نجات دفتر به هڅه کوي چې ټول هغه مشروع وسایل، لارې چارې او امکانات وکاروي چې قانون ورته اجــازه ورکــوي او د ډاکتر اشرف غني احمدزي د بریالیتوب لپاره ګټور تمامېږي.

هغه وویل: ښېخي ورسره موافق یم، ما وویل: مور دا کمپاین د دلوې پــر (۲۷)مه چې له روسي ښکېلاکه د افغانستان د نجــات ورځ ده، پیلــوو. ده وویل: دا بختوره ورځ ده، پر همدې ورځ یــې پیــل کــړئ. د اصــلاح

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي متن د لاسلیک او نشر په باب مې هم غوښتنه وکړه، هغه وویـل: متن سره زه سل په سلو کې موافق یم، خو د نشر په باب یې یــوه ورځ نور هم وخت راکړه چې زه یې خپلو مشاورینو او ویندویانو سره شریک کړم، ځکه که اوس یې نشر کړو، هغوی خبر نه وي، نو بیا که رسنیو کې ورڅخه څوک پوښتنه وکړي، دوی ځواب ونه لري او نــاخبره وي، ښــه خبره نه ده، ما وویل که د نشر په باب ورسره مشوره کوې، ښــه خبــره ده، خو که د محتوا په باب ورسره مشوره کوې، نو زه نــه غــواړم چــې ددې متن په باب هغوی پرېکړه وکړي، ځکه زه پوهېږم چــې زه کــومې قربانۍ ته حاضر یم، ستاسو مشاورین او ویندویان په هېڅ وجه هغومره قربانۍ ته غاړه نه ږدي، نو ځکه خو زه هغــوی تــه ددې صـلاحیت نــه



ورکوم چې ددې متن په باب پرېکړه وکړي، هغه وویــل: نــه هېڅکلــه، هغوی په محتوا کې د ګوتو وهلو حق نه لري، زه چې څه وایــم همغــه کېږي. خو یوازې د نشر په باب یې له هغوی سره مشوره په کار ده، سبا ماښام به یې د نشر په باب پرېکړه وکړو. هم به یــې درســره لاســلیک کړم، دوه کاپي یې راڅخه واخیستلې، یو ځل بیا یې وویل: پــر محتــوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سل په سلو کې توافق دی، یوازې د نشر په باب به یې فکر وکړو چې څه وخت یې رسنیو ته ورکړو.

د همدې شېبې پر سهار یو مخور شخصیت چې نه غواړم نوم یې دلته یاد کړم، سهار چای ته وبللم، د چای پر مهال یې راته وویل: څنګه شوه ډاکتر صیب سره توافق ته ورسېدلې؟ ما ورته پورتنۍ ټوله کیسه تکرار کړه، ورته مې وویل چې یوازې لاسلیک او د نشر وخت ته منتظر یو، نور ټول توافق موجود دی.

ده راته وویل:که زه درڅخه یوه غوښتنه وکړم؟ منې یې؟ ما وویل: که معقوله وي ولې یې نه منم؟ ده راته وویل: مخکې تر دې چې زه درته خپله خبره وکړم، د منصور نادري کیسه به درته وکړم! منصور نادري خوپېژنې هغه له ډاکتر اشرف غني صیب سره نه په قوم کې شریک دی ان په مذهب کې هم سره جلا دي، یو خانداني سړی دی، د مال او جایداد خاوند دی، همدلته چې ته ناست یې همدلته ډاکتر اشرف غني ناست و او دغه بله خوا کې سید منصور نادري، د هغه د کورنۍ نور غړي او د ګوند اندېوالان یې. له ډاکتر اشرف غني سره د توافق او تفاهم خبرې وې، یو لیک یې له جبهه راووېست ډاکتر غني ته یې ورکړ، چې دا لاسلیک کړه، بیا موږ ستا ملاتړ ته حاضر یو، لیک کې طبعاً د هغوی غوښتنې، شرایط او د ډاکتر اشرف غني راتلونکي مسؤلیتونه لیکل شوي وو، داکتر غني پرته له دې چې لیکل ولولي، قلم یې راواخیست، کاغذ یې امضا کړ، بېرته یې سیدمنصور نادري ته ورکړ. سید منصور نادري مخکې تر دې چې کاغذ جېب ته کړي او یا یې خپلو نورو ملګرو ته ورکړي، کاغذ یې ټوټه ټوته کړ او د اشرف غني

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ته يې خطا کړ. ويې ويل، ما همدا غوښتل چې تــه مــا ســره لــوز وکړې، کاغذ ته هېڅ اړتيا نه شته، پښتون يو غيرتــي قــوم دی، لويــه اوسېله لري، د دوی قول قول دی او عمل يې عمــل، نــو زه ځکــه دې کاغذ ته هېڅ اړتيا نه لرم، جېب ته يــې لاس کــړ، يــو لــک ډالــر يــې راوکښل، ډاکټر اشرف غني ته يې پر مېز کېښودل، ويــې ويــل داکتــر صيب دا دې د لومړنی غونډې مصرف دی، نور په سر او مال درسره ولاړ يم.

نو اوس راځم دېته چې تاسو پر ډاکتر صــيب د کاغــذ د امضــا ټينګــار کوئ، هغه به څه فکر وکړي هغه نور چې راسره نه پــه قــوم او نــه پــه مذهب کې شريک دي، هغوی راباندې دومره باور کوي او خپل خلــک رانه کاغذونه او تضمينونه غواړي، نو په دې خاطر درته وايم چــې کــه ډاکتر صيب دا کاغذ درته امضا هم کړي ته يې پرې مه امضا کــوه. بــل ستاسو د شرايطو د نشر موضوع ده، کېدی شي دې کې ډېر ښه مسايل وي، خو بيا هم کېدی شي له يوې نيمې کليمې څخه يې څوګونی تعبير وشي، ډاکتر صيب سره اوس هر ډول خلک ملګري دي، کېــدی شــي ځينې برخې يې پر ځينو خلکو ښې ونه لګي، هغوی ترې نــاوړه تعبيــر وکړي. بله خبره دا ده چې ډاکتر صيب اوس په ډېر خراب موقــف کــې دی، ډېر د مجبوريت حالت دی، که هر څوک هغه ته هــر ډول شــرايط وړاندې کړي، کېدی شي د مجبوريت له مخې يې ومني، خو دا بــه پــر هغه سخت رواني فشار وي، که زما منې د نارينتوب خبره خو داده چې هېڅ ډول شرط پرې مه ږده، ډېر د نارينتوب کارونه دې کړي، راځــه دا يو بل ګام هم پورته کړه، ورته ووايه چې هېڅ ډول شرط نه لرم، په نــره

(c) ketabton.com: The Digital Library



درڅخه ملاتړ کوم دا نو بیا په هغه پورې اړه لـري چــې تــر کامیابېــدو وروسته څه کوي، خو تا به خپل کار تر سره کړی وي. ما چــې د ډاکتــر اشرف غني مجبوریت یو ځل بیا تر نظر تېر کړو او دا مې په ذهن کــې تېره کړه چې رښتیا هم څومره خلکو بــه پــرې مشــروع او نامشــروع شرایط ایښي وي، نو د یاد ښاغلي مخور خبره راته معقوله ښکاره شوه، ما مخور ته وویل: زموږ شرایط سخت نه دي او نــه د څــوکۍ او موقــف لپاره دي، بلکې د دې لپاره دي چې د ځینو نورو خلکو شرایط پرې لــه منځه یوسو او نشر مو هم د همدې لپاره غوښته چې موږ یوازې د ملي مسایلو په رڼا کې د ډاکتر صیب اشرف غنــي ملاتــړ کــړی دی، مخــور صیب وویل، پوهېږم چې ستاسو هدفونه ملي دي، خو راځه د پورتنیو مجبوریتونو او دلایلو له مخې په اوســنیو حساســو شــېبو کــې ددې مسایلو له امضا او نشر څخه تېر شئ، بیا یې ماته وویل که موافــق یــې راځه ډاکتر صیب سره به یې هم شریکه کړو، ما وویل، سمه ده. ډاکتــر صیب اشرف غني ته یې زنګ وواهه! تر سلام وروسته یې ورتــه وویــل: یون صیب هم راسره ناست دی، هغه وویل: سلامونه مې پرې ووایه! بیا یې ورته وویل: ما یون صیب سره خبرې وکړې، هغه راسره موافق شــو چې د هغو کاغذونو امضا او نشر ته اړتیا نه شته، دوی به خپل کارونــه پیل کړي، داکتر صیب غني ورته وویل چې ټلېفون یون ته ورکــړه. تــر روغبړ وروسته یې له ما څخــه ځــانګړې مننــه وکــړه او خوښــي یــې څرګنده کړه او ویې ویل: د دلوې پر (۲۷)مه چې ډېره نبکمرغه ورځ ده خپل کمپاین پیل کړئ! بیا مو خدای پاماني وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس چې کمپاینونه ختم شوي، د ټاکنو د لومړي پړاو نتایج هم اعــلان شوي او د دویم پړاو نتایج هم راروان دي زموږ ترونونه او شــرایط هــم چې یوازې د لوز په تار تړل شوي وو. اوس یې لاسلیک او نه لاســلیک، خپرول او نه خبرول، نه پر ټاکنیز کمپاین څه اغېز لري او نــه هــم پــر نتیجه څه تاثیر لري، ښه به وي چې ددې لیکلي او توافق شــوي مــتن ټوله محتوا کټ مټ دلته راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان ملي تحریک

## Afghan National Movement

## بسم الله الرحمن الرحیم

## د افغانستان ملي تحریک، ګڼ شمېر افغان فرهنګیانو او ولسمشرۍ ته نوماند (دوکتور اشرف غني احمدزي) ترمنځ

# ژمنلیک

ولس په دې خاطر یو ځانګړي شخص ته رایه ورکوي، چې د واکمنۍ پر مهال د دوی هیلې تمثیل او معقولې غوښتنې یې عملي کړي. نوماند د کمپاین پر مهال ولس سره ګڼ شمېر لوزونه او ژمنې کوي او ولس د همغو ژمنو پر بنسټ هغه ته رایه ورکوي، خو کله چې نوماند واک ته ورسي، خپلې ټولې ژمنې نه عملي کوي، یا یې عملي کولای نه شي او یا هم کله کله داسې پېښېږي چې د خپلې ژمنې او تګلارې ضد کارونه ترسره کوي. ورځچاري، ځانخوښي، غوړه مالان او د واک مینان ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلول او د واکمن او ولس ترمنځ خورا لــوی واټــن رامنځتــه کــړي. (د افغانستان ملي تحریک) او یو زیات شمېر افغان فرهنګیــان د همــدې پخوانۍ وېرې او تجربې پر بنسټ غواړي، د افغانســتان د ولسمشــرۍ لپاره له یوه مطرح نوماند ښاغلي ( دوکتور اشرف غني احمدزي)  سره یو داسې لیکلی پروتوکول ولري چې د هغه له مخې هم د نوماند، هم د افغانستان ملي تحریک، هم د افغان فرهنګیانو او هم د ولس هیلــې او غوښتنې د منطق، تعقل، عدالت او تعهد پر داسې یــو مســتحکم تــار تړلې وي چې هم دواړو خواوو ته د منلو وړ وي، هم د تطبیــق قابلیــت ولري او هم د دواړو خواوو په وس پوره وي. خیالي، تصوري او له عملي واقعیتونو لرې غوښتنې او ناممکنې ژمنې نه عملــي دي او نــه هــم د بحث وړ. هغه ژمنې او غوښتنې چې د افغانســتان ملــي تحریــک یــې لازمي او ضروري ګڼي او تر ډېره حده منطقي برېښي په لاندې ډول یې وړاندې کوي:

- **مدرسه او ښوونځی:** مور له نوماند څخه د بریــالیتوب په حالت کې غواړو، د کلي او ښار واټن، د ملا او معلم تضاد، د هوجرې او مسجد فاصله او د ښوونځي او مدرسې واټــن چــې د پېړیــو پېړیــو ناسمو مناسباتو زېږنده دي او زمور ټولنې ته یې ستر خطرونه متوجــه کړي، دې مسایلو ته باید جدي پاملرنــه وکــړي او لــه معقولــو لارو دا ستونزې حل کړي.

- **پوځ:** د افغانستان امنیتي سکتور په تېرو (۱۳) کلونو کې پــر قومونو او تنظیمونو وېشــل شــوی، مــور پــه بشــپړ ډول د نــاپېیلي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتنظیمي او په رښتینې مانـا د یـو ملـي پـوځ د سـمون او جوړېـدو غوښتونکي یو.

- **د اکثریت او لږکیو حقوق:** موږ په افغانسـتان کـې د فردي مساوات غوښتونکي یو، هر افغان له بـل افغـان سـره مسـاوي حقوق لري، که څوک د قومونو پر اساساتو او تمایلاتو د څوکیو د وېش هیله او غوښتنه لري، د هغو مخه باید ونیول شـي، فـردي لیاقـت او کفایت د استخدام لپاره تر ټولو ښه اصل دی، خو که بیا هم د تېـر پـه څېر څوکۍ د قومونو د مشارکت تر شعار لاندې وېشل کېږي، نو په دې کې بیا موږ د قومونو د شمېر په تناسب ددې غوښتنې تطبیق غـواړو، دلته باید د تساوي او تناسب دواړه اصله په پام کې ونیول شي.

- **استازي:** روسانو د افغانستان د اشغال پر مهال د قومونـو د مشارکت په نومونو د څوکیو د وېش لړۍ پیل کړه، دا لړۍ تر دې دمـه دوام لري، په دې تېر (۳۵) کلن بهیر کې بیا د پښتنو په استازۍ هغـه څوک غوره کېدل چې نه یې پښتو زده وه، نه یې ورسره لېوالتیا لرله او ان تضاد یې ورسره درلود. دا لړۍ اوس هم دوام لري. موږ په هېڅ وجه دا حالت نه شو زغملای، چې د پښتنو په نامه ناست واکمن دې د نورو پښتنو ضد کړیو له خوا غوره او پر پښتنو دې تحمیل شي.

- **اداري واحدونه:** تر (۱۳۵۹) ل کال وروسته په افغانستان کې د سیاسي او قومي ملحوظاتو له مخې یو شمېر اداري واحدونه جوړ شوي. موږ په افغانستان کې د نفوسو، جغرافیـا او ټـولنیزو خـدماتو د څرنګوالي له مخې د اداري واحدونو د سمون غوښتونکي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د بیان ازادي:** په تېرو (۱۳) کلونو کې د بیان ازادۍ تر یوه حده وده وکړه، خو دا ازادي تر ډېره حده د زورواکو له خوا وکارېدله، د بیان د ازادۍ په نامه یو شمېر داسې رسنیز مرکزونه جوړ شول، چې په څرګند ډول یې د افغانستان د ملي ګټو پر ضد کـار کـاوه، یـو شـمېر هېوادونو په تېره بیا ایران په مستقیم ډول د ځینو رسـنیو سیاسـي، مذهبي او مادي ملاتړ وکړ. موږ د بیان داسې ازادي غواړو، چې د هېواد ملي ګټې خوندي کړي، نه د ګاونـډیو. مـوږ لـه راتلـونکي حکومتـه غوښتنه کوو، چې د پردیپالو او هېوادپالو رسنیو ترمنځ د تشخص سره کرښه راکاږي، د مزدورو رسنیو د فعالیت مخـه ونیسـي او د پردیـو د کلتوري یرغل مخه ډب کړي.

- **ژبني محرومیتونـه:** لـه پېړیـو پېړیـو راهیسـې پـه افغانستان کې ژبنـی محرومیـت او محکومیـت روان دی. د (پښـتو، ازبکي، پشه یي، پامیري او ځینو نورو ژبـو) ویـونکي لـه خپلـو حقـه حقوقو څخه محروم دي. موږ له راتلونکي ولسمشر څخه غـواړو چـې ددې محرومیت د ختمولو لپاره معقوله او جدي مبارزه وکړي.

- **نامشروع پانګه:** په تېره یوه لسیزه کې یو زیـات شـمېر جنګسالارانو، زورواکو، تنظیمواکو او نورو چالاکو اشخاصو له بېلابېلـو نامشروع او د بیت المال د لوټ او تالان له لارې زیاته نامشروع پانګـه پیدا کړې، ددې پانګې د ساتنې او زیاتونې لپاره نورو نامشروع کـارونو ته لاس غځوي. موږ غواړو په لومړي ګام کې ددې ډول اشخاصو د نورو نامشروع هڅو مخه ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **متوازنه وده:** موږ پــه ټــول افغانســتان کــې د متــوازنې، فرهنګي، ټولنیزې او اقتصادي ودې غوښتونکي یــو، مــوږ غــواړو هــر افغان ته خدمات په مساویانه ډول ورسېږي. د ټولــو هغــو قوانینــو او عملیو د لغوه کېدو غوښتونکي یو چې د تساوي دې اصــل تــه زیــان رسوي، موږ وروسته پاتې سیمو تــه تــر هغــه وختــه د مثبــت تــوپیر غوښتونکي یو چې د هېواد له نورو پرمختللو سیمو سره یې پــه ټولــو برخو کې د ژوند کچه برابره شي.
- **پوزېشن او اپوزېشن:** موږ له اوسني نوماند او راتلونکي احتمالي ولسمشر څخه ددې غوښتونکي یو چــې د کمپــاین پرمهــال ټول اسلامي، افغاني او ملي اخلاق په پام کې ونیسي، له داسې الفــاظو او حرکاتو څخه کار وانخلي چې په ملت کې د انتخاباتو له امله د ملــي نفاق او ټولنیز درز سبب شي او د حاکمیت پر مهال ورڅخه په ټینګــه غواړو چې د خپلو انتخاباتي مخالفینو غــځ لــه عــادي مخــالفو رایــه ورکوونکو څخه وانه خلي، بلکې عادي رایه ورکوونکي د خپــل وجــود یوه برخه وګڼي او د خپلو ملاتړو په شان یې له خپلو ټولو مدني حقوقو څخه برخمن کړي. سیاسي مخالفین که د حکومت،د ســولې بهیــر او ثبات غړي شي نو بیا په حکومت کې دننه او تر حکومته بهر د سیاسي اپوزېشن بڼه نه شي خپلولای.

**ملي هویت:** په تېرو (۳۵) کلونو کې د افغانستان او افغان ولــس د ملي هویت او ملي وحدت پر ضد زیاتې هڅې شوي. ځینې ډلې غواړي په افغانستان کې د ملي وحدت او هویت لپاره نوي او تصنعي تعریفونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې کړي، ان د (افغان) کلمه هم مسخه کوي او شکلي بـدلون پـه کې راولي.

که چېرې اوسني دولت د هويت پـه تـذکرو کـې د (ديـن) او (ملـت) ستونونه ونه ليکل او د دين د ستون په مقابل کـې يـې هـر مسـلمان افغان ته د (اسلام) او د دې هېواد د هر وګړي لپاره د (افغان) کلمه ونه ليکله، نو له راتلونکي دولته غواړو چې هم د هويت پـه تـذکرو کـې د اساسي قانون له محتوياتو او احکامو سـره سـم ضـرور د (اسـلام) او (افغان) د تثبيت لپاره د (دين) او (ملت) ستونونه وليکي او په دې ډول خپل اسلامي او ملي مسوليت ادا کړي او هم د افغان ضد او ملت ضـد ډلو ټپلو او اشخاصو پر وړاندې ټينګ ګامونه پورته کړي.

- **د ډیورنډ کرښه:** يو شمېر کورنۍ او بهرنۍ ډلې ټپلې شته چې غواړي په زور، فشار، چل او فريب د ډيورنډ منحوسې کرښـې تـه رسمي بڼه ورکړي. موږ له راتلونکي حکومته غواړو تر هغه وخته چـې ټول افغان ملت په بشپړ ډول سوکاله شوی او پر خپلـو پښـو نـه وي ودرېدلی، پر دې ډول مسايلو هر ډول بحث ته داخلېدل د افغان ولـس پر زيان تمامېږي. د افغان ولس له نظره دا کرښه د استعماري دورې يوه جبري کرښه ده او په هېڅ وجـه افغـان ملـت تـه د منلـو وړ نـه ده، حکومت بايد په دې برخه کې د ملـت ترڅنـګ ودرېـږي، نامشـروع سياسي امتيازونو او يا هم ناوړه فشارونو ته غاړه کېنږدي.

- **سرشمېرنه:** سرشمېرنه سـره لـه دې چـې يـوه بشـري موضوع ده، خو په افغانستان کې له دې موضوع څخـه يـوه جنجـالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي موضوع جوړه شوې ده. موږ له راتلونکي حکومته غواړو چـې په افغانستان کې د بشپړ امن په حالت کې دې یوه داسې دقیقه او هر اړخیزه سرشمېرنه ترسره شي، چې د هېچا سر په کې له شمېره پـاتې نه شي او د هېچا قومي یا ټولنیز هویت په کې د بل په نامه نه شي او نه يې هویت مسخه شي. موږ ددې کار لپـاره د سرشـمېرنې د اداري پـر بشپړ ناپېيلتوب ټینګار کوو او د مغرضو لرې او نږدې هېوادونـو د هـر ډول مداخلو مخنیوی غواړو.

- **انتقالي عدالت:** له (۱۳۵۷) ل کاله بیا تر (۱۳۹۲) پورې د بېلابېلو ډلو، ټوپکمارو، ټوپکسالارانو، تنظیمواکو او بهرنیانو له خوا پـه ملیونونو افغانان شهیدان شوي دي، دا لړۍ لا اوس هم روانه ده، مـوږ له راتلونکي حکومته غواړو چې د ولس د تسـکین لپـاره د هغـوی د قاتلانو د تشخیص، تثبیت او نورو ظلمونو د مخنیوي لپاره معقوله حل لاره پیدا کړي. د انتقالي عدالت پلوی وکړي. غچ اخیستنه هم د حـل لاره نه ګڼو او په مقابل کې زورواکو ته امتیـاز ورکـول هـم د عـدالت خلاف کار ګڼو. موږ غواړو چې د ملي او نړیوالو اصولو په رڼا کـې دې د انتقالي عدالت د پلي کېدو لپاره هڅه او هاند وشي.

- **بهرني ځواکونه:** که چېرې د راتلونکي حکومت په بهیـر کې بهرني ځواکونه د هر عامل، دلیل او قانون په وجه دلته مېشته وي، نو موږ له حکومته غواړو په هېڅ وجه دوی ته اجازه ور نه کړي، چـې د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي، د هېواد پـه ټـولنیز او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومي تناسب کې د مداخلې هڅه وکړي او یا هم د قدرت نوې تصنعي سرچینې رامنځته کړي.

- **بهر مېشتي افغانان:** د هېواد د نفوسو نـږدې یــوه پــر پنځمه برخه د بېلابېلو عواملو له امله له هېواده بهــر مهــاجرت تــه اړ شوې ده. موږ له راتلونکي حکومته غواړو له ټولو ممکنو او عملــي لارو چارو څخه د هېواد د برخلیک په ټاکلو، ودې او پرمختګ کــې د بهــر مېشتو افغانانو له تجربې، انرژۍ، تفکر او مشورې څخه ګټه واخلي.

- **هېواد مېشتي کډوال:** د بېلابېلو جنګونو، زورواکیــو، سیمه ییزو رقابتونو او نورو عواملو له امله یو زیــات شــمېر افغانــان د هېواد په داخل کې له یوه ځایه بل ته کډه شوي، ځمکې او جایدادونــه یې غصب شوي، راتلونکي حکومت ته په کــار دي چــې ژر تــر ژره دې ناورین ته د پای ټکی کېږدي. هر څوک خپلې مېنې کې مېشته او هــر څوک بېرته د خپل جایداد خاوندان کړي.

- **جندر:** موږ په هېواد کې د جنسیتي توپیرونــو لــه مخــې د امتیازاتو د ورکړې د ټولو ناوړه دودونو د له منځه تلو غوښتونکي یو. له حکومته غواړو چې په راتلونکي کې د ښځو او نرو د طبیعي او حقیقي حقوقو د تساوۍ لپاره د شعاري تظاهر پر ځای عملــي ګامونــه پورتــه کړي.

- **سوله او ثبات:** په افغانستان کې د عادلانه سولې او ثبات د ټینګښت په خاطر له نوماند او راتلونکي حکومته غوښتنه کوو، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سولې د بهیر پر تېرو ناکامو تجربو او شعاري هڅو درنه تیره کېږدي. د سولې لپاره یو عادلانه، شفاف او ناپېیلی میکانیزم جوړ کړي، د حکومت د غښتلتیا او د سولې د بهیر د چټکتیا له لارې دې د سولې د ټینګښت لپاره لاره اواره کړي.

- **ځواکمني:** د جګړې په بهیر کې په ملیونونو افغانان معلول او له سختو کړاوونو سره مخامخ شوي، ددې مصیبت ځپلي قشر د بیا ځواکمنۍ او په ټولنه کې د هغو د فعال حضور او اشتغال لپاره باید ځانګړې پاملرنه وشي.

- **اشتغال:** حکومت او په ټولیز ډول دولت باید د اشتغال له زاړه او دودیز جوړښته راووځي، ټول ولس باید د دولت پر اوږو بار نه وي او دولت د ولس پر اوږو. دولت باید د وخت له نویو غوښتنو سره سم د نویو کاري فرصتونو او اشتغال لپاره نوې لارې چارې ولټوي.

د پورتنیو غوښتنو ترڅنګ د افغانستان ملي تحریک له حکومت څخه غوښتنه کوي، چې خپل هغه مکلفیتونه او دندې په ښه ډول ترسره کړي، چې د یوه حکومت مسولیت ګڼل کېږي، ضرور نه ده چې دلته د هغو ټولو یادونه وشي.

د افغانستان ملي تحریک رسمي غړي، فرهنګیان او د ملي تحریک د فکر پلویان له نوماند سره ژمنه کوي چې که نوماند د پورتنیو ملي غوښتنو د منلو او بیا د هغو د عملي کولو په برخه کې لیکلې ژمنه وکړي، نو ملي تحریک، یو زیات شمېر افغان فرهنګیان او د ملي تحریک د فکر یو زیات شمېر مینوال به یې له کوم امتیاز او معوضې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرته ملاتړ وکړي او د کمپاین په چارو کې به ورسره په زړه پورې مرسته وکړي.

**یادښت:** که په پورتنیو یاد شویو برخو او موادو کې هره برخه او یا هره ماده د هېواد او ملت د ملي ګټو خلاف وي، هر لوری کولای شي، هغه په پام کې ونه نیسي او له تطبیق څخه یې ډډه وکړي. ددې ترڅنګ نورې هغه ضروري برخې چې په دې ژمنلیک کې یې یادونه نه ده راغلې، خو هېواد او ولس ته په ګټه دي، دواړه خواوې تر خپله وسه د هغو تطبیق خپل مسولیت ګڼي.

په درناوي

| | |
|---|---|
| وکتور اشرف غني احمدزی | پوهنوال محمد اسمعیل یون |
| د افغانستان د ولسمشرۍ نوماند | دا افغانستان ملي تحریک په استازۍ |

کله چې موږ د دلوې پر (۲۷)مه نېټه (دملت نجات) کمپاین پیل کړ، نو د ګڼو هېوادوالو د هر کلي سبب وګرځېد، په دې ورځو کې مې یو ځل له ډاکټر صیب سره د هغه په کور کې د سهار چای پر وخت وکتل، کارونه ډېر، وخت کم او حالات حساس وو. ډاکټر صیب اشرف غني وویل: امنیتي ګواښونه ډېر دي، نو که څه پېښنه وشوه (هدف یې دا و که خدای نا خواسته دی له منځه ولاړ) نو تاسو (موږ) جنجال مه جوړوئ چې خدای مه کړه د افغانستان ثبات ته زیان ونه رسېږي، ماته یې وویل قول راکړه چې تر اخره به راسره ودرېږې او که څه پېښنه وشوه جنجال به نه جوړوئ چې افغانستان بحران ته لاړ نه شي، د افغانستان مخالفین غواړي چې په لوی لاس افغانستان بحران ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوځي، ما ورته لاس ورکړ، ما وويل، ډاکټر صيب تر اخره درسره ولاړ يو، تر مرګ پورې، ان تر دې پورې چې که ته هم د ډاکتر عبـــدالله عبــدالله خواته لاړې، نو موږ ستا مخالفت هم کوو، موږ تر هغه حــده د عبــدالله عبدالله د ټيم مخالف يو چې که ته هم ورســره يــو ځــای شــې، زمــوږ مخالفت او مبارزه کې به کمی رانه شي. پاتې شوه د بحران خبــره، کــه دوی تاته هر ډول زيان ورسوه، نو د هر ډول جنجال د پېښېدو احتمال شته، هر ډول مظاهره ايستلای شو او مقابل لوري ته هر ډول جنجــال جوړولای شو. موږ هغسې نه يو چې لاس تر زنې کېنو او مخــالفين مــو چې يوه څپېړه وهي، موږ بل مخ هم ورواړو،څپېړې ته په څپېړه، سوک ته په سوک، مظاهرې ته په مظاهرې ځواب وايو، بحــران هغــه وخــت ختمېږي چې د بحران عوامل، عناصر او دلايل له منځــه لاړ شــي. تــر همدې لنډو خبرو، هغه امنيتي جلسې او موږ د کــور پــر لــوري رهــي شولو.

زموږ کمپاين ښه په درز کې روان و. په لنډه موده کې مو تر لسو زيــاتې داسې غونډې جوړې کړې چې د ټلوېزيون له لارې خبرې شــوې او پــه لسګونو نورې داسې لويې او وړې غونډې چې د ټلوېزيون څپو ته ونــه رسېدې. په کابل کې مو د يوې لويې او ښېشانه غونډې ترتيباب ونيول، همدا مهال و چې د اصلي مخالفينو، فرعي مخالفينو، غــوړه مــالانو او نورو حساسيتونه راوپارېدل. د ډاکټر صيب د کمپاين په مرکــزي دفتــر کې د ورځې په نرخ اعيار غوړه مالان، په ارګ کې واکمن او نورې کړۍ ټولې لاس په کار شوې چې زمــوږ د کمپــاين مخــه ونيســي. دوی تــر وروستي حده هڅه وکړه چې د افغانستان ملي تحريک او پــه خپلــه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر اشرف غني تر منځ درز او ټکر رامنځته کـړي. زمـوږ ټلېفـوني اړیکي چې مخکې تر دې په ساعت کې تامېنېدل، هـم قطـع شـول او ملاقاتونه هم. دا مهال نو ملي تحریک په څو جبهـو کـې جنګېـده، د ډاکټر اشرف غني په دفتر کې د غوړه مالانو، د تاریخ تېرو تنظیمونـو د کلیشه يي څېرو، د نويو جوړ شويو، په اصطلاح شـوراګانو او ګونـدونو چې د طبیعي ودې وس یې نه درلود او د ډاکتر اشرف غني دفتر یـې د ځان د تبلیغ لپاره ښه وسیله ګڼله، يو شمېر متعصـبو اشخاصـو چـې اوس يې د قومي سهم له امله په مرکزي دفتر کې ځای نیولی و، ځـان غوښتونکو عناصرو او نورو یو شمېر اشخاصو چې د خپل شخصـیت د تثبیت له بحران سره مخامخ وو، دې ټولو د ملي تحریک او شخصاً زمـا پر ضد تبلیغات پیل کړل، د ډاکټر عبدالله ټیم او د پاټې نورو کاندیـدانو ټیمونه خو لا پر ځای پرېږده. موږ د ډاکټر اشرف غني پـر مجبوریتونـو هم پوهېدلو چې ان د دفتر سکرتران او نور رابط اشخاص یـې هـم پـه بېلابېلو ډلو پورې تړلي دي، خو بیا هم موږ خپلې مبارزې ته دوام ورکړ. تر کمپاین وړاندې د ارګ د بېلابېلو واکمنو اشخاصو له خوا پر ما زیـات فشار راوړل شو چې د (زلمي رسول ملاتړ وکړم) خو کله چې ما دا کـار ونه وکړ، نو هغوی هم پر اشرف غني فشار راوړ چې له مـا سـره خپـل اړیکي پرې کړي.

د ارګ او یو شمېر نورو کړیو هدف دا و چې په ټاکنو کې ملـي انګېـزه کمزورې کړي، د تحریک له خوا دده ملاتړ کمزوری شي او اصلي رقیبو ډلو چې لا مخکې تر مخکې ځان د قومي انګېزې تر شا پټ کړی و، هغو ته لاره اواره شي. ان د ډاکټر اشرف غني احمدزي یو شمېر ځان خوښو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او کم تجربه ویندویانو هم زمور پر ضد تبلیغات وکړل، خو مـوږ د ملـي مصلحت له مخې له ټولو ستونزو او ځان ته د زیاتو تاوانونو او زیانونو له اړولو سره سره بیا هم خپل کمپاین ته دوام ورکاوه، د ټاکنو لومړی پړاو په همدې جنجالونو کې تېر شو. بیا مې هڅه وکړه چې له ډاکټر اشـرف غني سره تماسونه ټینګ کړم، خو ټلېفونونه د همغو ډلو په لاس کې وو چې ډاکتر اشرف غني یې په لومړي پړاو کې لـه هغـه برخلیـک سـره مخامخ کړی و. په نا مستقیم ډول د ډاکټر صیب غني لـه خـوا ځـواب راغی چې په یوه مناسب ځای کې به کېنو، د ښاغلي اتمر صیب په کور کې دوه په دوه کېناستو، ما ټول مشـکلات د ارګ تـوطیې او دده پـه دفتر کې د غوړه مالانو او زما د مخالفانو د توطیې اصلي رنګ او زنـګ ورته تشریح کړ او همدرانګه د دویم پړاو لپاره ترتیبات. ده وویل: زه پر ټولو نزاکتونو پوهېږم، خو ټول مشکلات اوس نه شم حلولای، دا ټـولې خبرې شته خو اوس به اوسنیو مشکلاتو ته پام کوو. ما خپل پلان ورته تشریح کړ، ده راته وویل له (A) څخه تر (Z) پورې ستاسو خبرو سـره موافق یم. ته خپل کار کوه خبره به یوازې ما او تاسره وي. هېڅوک زما په نمایندګۍ ستا په باب پرېکړه نه شي کولای او نه زما په استازۍ ستا په باب څه ویلای شي، که څه یې ویلي وي، هغه د هغوی خپل شخصي نظر دی، ما سره ستاسو خپل ځای دی، که اینده کې څه مشکل و او یا بله خبره وه د اتمر صیب له لارې به په تماس کې یـو. ټلېفونونـه هـم مصمون نه دي، نو ځکه ډېر باور پرې په کار نه دی.

په دویم پړاو کې موږ د نورو هېوادوالو په څېر خپلې هلې ځلې څو ځله زیاتې کړې او نتیجه هغه شان شوه چې ټولو هېوادوالـو تـه څرګنـده

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه. دا چې تر دویم پړاو ټاکنو وروسته څه وشول، اوس غواړم پر هغــو لنډه رڼا واچوم.

**د اصلاحاتو او همپالنې ټیم اعتراض:** د دویم پړاو نتیجــې لا نه وې اعلان شوې، د ټاکنو د ورځې د ماښام تــر شــپږو-اوو بجــو د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د بریا هیله او اراده لرله، خو کله چې د شــپې ناوخته خپلو ناظرینو ورته راپورونــه ورکــړل، نــو لــه همغــې شــېبې اعتراضونه پیل شول. دا اعتراضونه له بایکاټ، ګواښ، وړانــدیز او تــازه تازه غوښتنو سره مل وو. ځینې انتقادونــه او غوښــتنې د قــانون لــه چوکاټه دومره بهر وو چې ساری یې هېڅــرې نــه دی لیــدل شــوی. د اصلاحاتو او همپالنې ټیم غوښتنې ورځ تر بلې دومره اوږدې شوې چې له تسلسله خبره ووته او لایتناهي بڼه یې غوره کړه.

**د تحول او تداوم ټیم غبرګون:** د ښاغلي عبدالله عبــدالله د ټیم د اعتراضونو پر وړاندې د تحول او تداوم ټیم غبرګون دومره سست او په هېڅ حساب و چې فکر نه کېده دوی هم د ټاکنو کوم طــرف وي. همدې پڅ غبرګون د ډاکټر عبدالله عبدالله د ټیم تبر ته لاسته ورکړ او غوښتنې یې نورې هم پورته شوې، په یوې غوښتنه پسې بلــه او بلــې پسې بله رامنځته شوه. د ولس د رایو ملاتړ چې د تحول او تداوم ټــیم یوه اساسي دنــده وه، سیاســي معــاملې، ګنــو لاســوهنو او نړیــوال منځګړتوب ته لاره خلاصه کړه.

**نړیوال منځګړیتوب:** لومړی منځګړیتوب د ملګرو ملتو له خــوا پیل شو، د ملګرو ملتو او ولسمشر کرزي په غوښتنه او ټینګار ښــاغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضیاء الحق امرخېل استعفی ورکړه، خو هغه وخت وویل شول چې دا د ډاکټر عبدالله عبدالله د ټیم یوه اساسي غوښتنه ده، تـردې وروسـته چې هر ډول غوښتنې مطرح کېږي، هغه بـه نـه منـل کېـږي، خـو د امرخېل تر استعفی وروسته د عبدالله عبدالله ټیم غوښتنو نور هم زور واخیست، د اروپایي اتحادیې ناظرینو چې ټول شمېر یې تر (۱۵) تنو نه زیاتېده او د همپالنې ټیم سره یې پخوانۍ خواخوږي درلودله، د هغوی نظر د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم غوښـتنې نـورې هـم پورتـه کـړې. څومره چې ملګرو ملتونو تارسستوه. د عبدالله عبدالله د ټیم غوښتنې زیاتېدلې، خو کله چې ملګرو ملتونو د یاد ټیم اکثره غوښتنې ومنلې او خپله طرحه یې وړاندې کړه،هغو بیا هم دا طرحــه ناقصــه، معیوبــه او نیمګړې وبلله.

**د امریکا متحده ایالاتو منځګړتــوب:** کلــه چــې خبــره بحران ته ورسېدله او بحران لا پسې ګرم شــو، نــو د امریکــا متحــده ایالاتونو منځګړتوب ته راودانګــل، د امریکــا د بهرنیــو چــارو وزیــر او پخوانی سناتور چې په امریکا کې د زیات نفوذ خاوند و، ددې لانجــې د اواري لپاره ظاهراً دواړه کاندیـدان سـره ځنــګ پــه ځنــګ کېنــول، شفافیت او د رایو بیا څېړنې او شـمېرنې تــه یــې ژمــن او اړ کــړل. د ښاغلي جان کیري ماموریت که څه هم د انتخاباتي کړکېچ د ختمولـو لپاره یو داسې لومړی فشاري ګام و چې له قانون سره همغاړی نــه و د فزیکي ټکر مخه یې ونیوله، خو لا هم ډېر مسایل وو چې تشریح ته یې اړتیا لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د رایو بیا شمېرنه او څېړنه:** د ټاکنیز بهیر د رڼاوي لپاره د رایو بیا شمېرنه او څېړنه ډېره مهمه ده، هغه هم د نوماندانو د منلو په تضمین، خو په پیل کې ټولو سره اصلي خبره دا وه، چې دا څېړنه به د کوم قانون، معیار او کومو اصولو له مخې کېږي، د هغوی اصولو، معیارونو یا قوانینو له مخې چې ټاکنیز کمیسیونونه پرې خپلې چارې پر مخ بیایي، دا اصول د افغانستان ملي شورا منلي او تصویب کړي دي او همدا اوس نافذ دي. که د هغو غوښتنو، وړاندیزونو او معیارونو پر اساس چې نوماندان یې وړاندې کوي او یا هم هغه اصول چې دملګرو ملتو دفتر یې وړاندې کوي. دې کې کومو اصولو او قوانینو ته ترجیح ورکول کېږي؟ دا همغه پوښتنه وه چې اساسي ګڼل کېدله، که د کاندیدانو او ملګرو ملتو غوښتنې یا وړاندیزونه د ټاکنیزو اصولو خلاف وي او بیا همدغو غوښتنو ته ترجیح ورکړل شي، نو ټاکنیز کمیسیونونه او قوانین بیاڅه مانا؟ او که ټاکنیز اصول منل کېږي، نو دې نورو وړاندیزونو ته څه اړتیا ده؟

که چېرې په ټاکنیزو قوانینو کې د تقلب، تخلف، سرغړونې تعریف شوی وي، نو بیا خو بل تعریف ته اړتیا نه شته او که چېرې د یادو موضوعګانو په باب نوي تعریفونه بل ډول وي، نو د دوو تعریفونو ټکر به څنګه له منځه ځي؟

د ساري په توګه  که په یوه انتخاباتي محل کې دښځو رایې تر نرو زیاتې وي، هغه د کوم قانون له مخې باطلېږي، که دښځو رایو د زیاتون په وجه د هغو رایې باطلېږي او بیا بل ځای کې ښځې اعتراض وکړي چې ولې په دې محل کې د نرو رایې تر ښځو زیاتې استعمال شوي، نو د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بطلان خبره به ځنګه کېږي، ایا هغه هم په همدې فورمول کې راځي که نه؟ او که نه راځي دا خو د اساسي قانون له روحیې سره چې ښځې او نر دواړه مساوي الحقوقه ګڼي، خلاف کار دی، آیا دا خبره په ټاکنیزو قوانینو کې راغلې ده که نه او یا داچې په یوه محل کې یو کاندید تر (۹۳) (۹۵) او یا (۹۹) فصیدو زیاتې رایې ګټلې وي، هغه دې باطلې شي. دلته هم دا پوښتنه مطرح کېږي چې آیا تر دې (۹۳) فصیدو زیات خلک تر (۷) فصیدو کمو خلکو قرباني شي او یا کومه بله عادلانه لاره هم شته که نه؟ تر ټولو مهمه دا چې دا بطلان په ټاکنیزو قوانینو کې راغلی او که نه او یا تر دې دمخه د هېواد پر تېرو ټاکنو دا فورمول تطبیق شوی او که نه؟ بله مهمه خبره دا ده چې د نړیوالو معیارونو یادونه هم کېږي، دلته دوه خبرې مطرح کېږي ایا نړیوال معیارونه او اصول د افغانستان له اصولو سره همغاړي دي او که په ټکر کې دي؟ که په ټکر کې وي کوم یو ته ترجیح ورکول کېږي؟ بله خبره دا ده چې ایا دافغانستان انتخاباتي چاپېریال له نړیوال انتخاباتي چاپیریال سره برابر دی که نه؟ او که خبره داسې ده چې معیارونه نړیوال وي او چاپیریال افغاني، که خبره معکوسه شي څه به وشي چې که یو هېواد له همداسې افغاني چاپېریال سره مخامخ شي او بیا پرې نړیوال معیارونه تطبیق شي، نو څو سلنه به تطبیق شي، ایا د نړیوالو اصولو له مخې په هغه سیمه کې چې د اور باران اوري، ټاکنې ترسره کېږي؟ ښې او رښې ترسره کېږي؟ که نه اول چاپېریال برابرېږي او بیا اصول تطبیقېږي، خیر په هر ډول ددې خبرو لنډیز دا دی چې زیات شمېر خلکو هیله لرله چې بیا شمېرنه او بیا څېړنه باید د افغانستان د ټاکنیزو قوانینو په رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ترسره شي، نوره هره بله نوې نسخه د افغانستان د قوانینو مسخه کول دي.

خو د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د رای شمېرنې او بطلان لپاره خپل خپل معیارونه غوره کړل، بیا پر (۱۶) مادو توافق وشو، خو بیا هم ډاکټر عبدالله عبدالله ناراضه برېښېده او د ټاکنو د نتیجو لپاره یې تر تخنیکي توافق، سیاسي توافق ته زیاته ترجیح ورکوله، همدا مهال د ملي وحدت د حکومت اصطلاح ډېره تاوه راتاوه شوه. د کلیمې په اصلي مانا د ملي وحدت او ملي حکومت اصطلاح ډېره ښه ده او د هر افغان هیله ده خو زموږ په ټولنه کې له هرې اصطلاح څخه څو ډوله تعبیر کېږي، له اسلامي دولت ، ډیموکراسی، ملي مشارکت او نورو اصطلاحاتو څخه خپل خپل تعبیر کېږي، کوم حکومت چې د اسلامي دولت په نامه یادېده په واقعیت کې یوه ستمي انارشي وه. د ولسمشر کرزي ملي مشارکت هم د یوې ولسوالۍ په حاکمیت ختمېږي. ولسواکي هم په واقعیت کې د زورواکۍ په یوه ډول بدله شوې ده.

هغه وخت هم خلکو سره دا اندېښنه وه که د ملي وحدت حکومت بیا هم دیوه ائتلافی حکومت بڼه خپله کړي، ولس ته به د تېرو رنځونو د تداوم مانا ولري. بله خبره دا وه چې که ډاکټر اشرف غني بریالی شي، د ملي وحدت په نامه به چاته څوکۍ ورکوي؟ که وېش داسې وي چې همدا حکومت وي، ډاکټر عبدالله عبدالله او اشرف غني دواړه په کې په مساویانه ډول خپل کسان ځای پر ځای کړي. نیم کسان د یوه وي او نیم د بل، نو بیا خو په دې حکومت کې د عبدالله عبدالله د ټیم ونډه په سلو کې تر اتیاوو هم پورته کېږي، ځکه چې همدا اوس ددې ډلې واک

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر بل هر چا زيات دی او که ډاکتر عبدالله بريالی کېږي نو د اشرف غني ټيم خو د ډاکتر عبدالله په شان نه کوم سياسي جريــان دی، نــه کــوم ګوند دی او نه هم کوم منظم سستماتيک حرکت، نو کــه لــه دې ټــيم څخه څو تنه مهم کسان په حکومت کې نيول کېږي، نو هغه بــه د تېــر وخت حکومت په شان د افرادو حيثيت ولري، نه د يو سســتم بڼــه. د رايې شمېرنې بهير له ځنډ او خنډ سره مخ و، عبدالله عبدالله پر خپلــو غوښتنو ټينګار کاوه. .همدې ټينګار يو ځل بيا د امريکا د بهرنيو چــارو وزير سفر ته لاره اواره کړه او په نتيجه کې د دواړو کانديدانو تــر مــنځ يوه اعلاميه لاسليک شوه.

د ګډې اعلاميې اصلي محتوا داده:

۱- د اساسي قانون احترام به کېږي، د جهاد او مقاومت لاسته راوړنې به ساتل کېږي، (۱۳) کلنې ديموکراتيکې تجربې به پالل کېږي.

۲- د ملي حکومت له جوړېدو سره سم به اجرايي پوست جوړېږي او بيا به د دوو کلونو په بهير کې ولسمشر لويه جرګــه رابــولي او بيــا بــه د اجرايوي صدر اعظم پوست جوړوي.

۳- دواړه ټيمونه به د ملګرو ملتو د معيارونو پر بنسټ د رايې شمېرنې او د رايو د بطلان بهير ګړندی کوي او د سنبلې مياشــتې تــر دويمــې اوونۍ پورې به د ولسمشر د تحليف د مراسمو لپاره توافق کوي.

دا اعلاميه يو سياسي چوکاټ هم لري چې اوه برخې يا جزيات لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- نوماندان به د سولې، ثبات، د قانون حاکمیت، اقتصادي ودې او خدماتو د وړاندې کولو لپاره د اصلاحاتو هر اړخیزه تګلاره جوړوي او عملي کوي به یې.

۲- ولسمشر به د دوو کلونو په بهیر کې لویه جرګه دایروي او د اجرایي صدر اعظم مقام به جوړوي.

۳- تر هغه پورې چې د اساسي قانون پر بنسټ د اجرایي صدر اعظم مقام جوړېږي، د اجرایي صدر اعظم دندې به د حکومت د اجرایي رییس له خوا پر مخ وړل کېږي. دا مقام به له ځنډه پرته د ولسمشر د فرمان له خوا رامنځته کېږي. یو شخص به ورته د دویم کاندید له خوا معرفي کېږي.

۴- ولسمشر به د اپوزېشن د مشر مقام رامنځته کوي او یو شخص به ورته د دویم کاندید له خوا معرفي کېږي.

۵- په غوره اساسي کلیدي پوستو کې، لکه ملي امنیت، اقتصادي بنسټونو او اقتصادي سکتور کې به په مساویانه ډول د ولسمشر او اپوزېشن له خوا اشخاص ټاکل کېږي. د وزارتو مقامونو، قضا، د ولایتونو کلیدي پوستونو ته به د اشخاصو د ټاکنو په برخه کې د اپوزېشن له مشر سره مشوره کېږي.

۶- ولسمشر به ژمنه کوي چې تر (۹۰) ورځو پورې په امنیتي سکتور کې بدلون نه راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷- د ملي وحدت حکومت به ژمنه کوې چې د یوه کال په بهیر کې بــه انتخاباتي نظام کې داسې اصلاحات راوړي چې تېرو تېروتنو ته ځــواب ووایي.**

**دا توافقات د بېلابېلو دلایلو، عواملو او مجبوریتونو له املــه تــر ســره شول.**

## **اوس راځو د شویو توافقاتو قانوني اړخ ته!**

**لومړی: شوي توافقات تر ډېره حــده د اساســي قــانون د محتویــاتو مخالف دي.**

**په تېره بیا د اساسي قانون (۶۰، ۶۱، ۴۶، ۷۱، ۹۰) او نــورو مــادو ســره سمون نه خوري.**

**دویم: په اعلامیه کې د اساسي قانون پر محتویاتو هم ټینګار شــوی او د واک د وېش خبره هم مطرح شوې ده. دا دواړه محتویات او غوښتنې یو بل سره تضاد لري. ځکه که د اساسي قانون محتویات عملي شي نو بیا دویمې محتوا ته اړتیا نه پېښېږي.**

**درېیم: تفاهم او توافق (د ملــي وحــدت حکومــت) تــر نامــه لانــدې رامنځته شوی. دا په داسې حال کې ده چې په دې وطن کــې غښــتلی ملي وحدت موجود دی. اساسي قانون، ملت تعریف کــړی او د ملــي وحدت پر غښتلتیا یې هم ټینګار کړی. د اساسي قــانون محتویــات او موجود واقعیتونه داښیي چې دلته هم هېواد شته او هــم ملــت، کــوم شی چې نه شته او یا کمزوري دي، هغه حکومــت یــا حکومتونــه دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته به ښه دا و چې د پراخه بنسټ حکومت اصـطلاح کـارول شـوی وای، دلته هم له ملي وحدت څخه هدف همغه تنظیمـي وحـدت دی، اوس ورته ټیمي وحدت هم ویلای شو.

څلورم: اجرائیه پوست یا اجرايي صـدراعظم لپـاره بـه لویـه جرګـه جوړېږي. خو تر هغې پورې به ددې پوست متصدي په فرمان کار کـوي. که احیاناً لویه جرګه دا پوست ونه مني، نو دا دوه کلن کـار بـه څنګـه کېږي؟

پنځم: ملي شورا چې د لویې جرګې یوه برخه ده، او د اداري واحدونو، منځتـه راوړل، تعـدیل او لغـوه کـول د هغـو صـلاحیت دی. چېرتـه حاضرېږي چې اجرايي صدراعظم يې له ګوتو ووځي. عجیبه خبره داده چې وزیر به د ملي شورا تر وزر لاندې کار کوي خو اجرایه صدر اعظم به یوازې د اپوزیشن مسؤلیت لري.

شپږم: تر اوسه پورې د نړۍ په هېڅ هېواد کې په هېڅ ډول زورواکـي، ولسواکي، مذهبي او نا مذهبي حکومـت کـې د دا ډول یـو حکومـت بېلګه نه ده لیدل شوې او له هېڅ قانون سره سمون نه خوري چې یـو کس دې هم په اپوزشن کې وي او هم په حکومـت کـې او د حیرانتیـا خبره خو لا په کې داده چې د اپوزشن د مقام پوست د ولسمشر له خوا ټاکل کېږي او شخص ورته د مخالف کاندید له لوري معرفي کېږي.

اووم: د دواړو نوماندانو په خبرو کې د مفاهیمو تضاد لیدل کېږي:

یو: د اساسي قانون پر محتویاتو او بل د ګډې اعلامیـې پـر محتویـاتو ټینګار کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتم:** د ګډې اعلاميې په ترڅ کې د (مقاومت) پــه نامــه يــوه اصــطلاح راغلې چې دواړه لوري دهغه پر درناوي مکلف دي. له دې کلمې څخــه د وينو بوی راځي، د دولت له اصلي مخالفينو سره د سولې پروسه لــه منځه وړي او جنګي جنايتکاران د مصونيت تر پوښښ لانــدې راولــي. نور ګڼ حقوقي پرابلمونه هم لري چې دلته يې له تفصيل څخه تېرېږو.

**حل لاره:** د حل لارې لنډيز دادی چې اساسي قانون تطبيق شي.

۱- هره هغه مسوده، مصوبه، اعلاميه، تړون، تفاهم او توافــق چــې پــه دولتي کچه رامنځته کېږي او د اساسي قانون له روحيې سره اخــتلاف ولري، اتومات ملغی ګڼل کېږي.

۲- که چېرې ولسمشر د اساسي قانون د روحيې خلاف کار وکړي، نــو دا يو جرم ګڼل کېږي، د همدې اساسي قانون د (۴۹) او نورو مــادو لــه روحيې سره سم ولسي جرګه کولای شي، د ولسمشر د محاکمې بهيــر تعقيب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوزونه او عملونه

## (پنځم درس)

## پوښتنې او ځوابونه



**زېور خــان نیــازی:**

**استاده! کله چې پــاکې او ناپاکې رایــې ســره جــلا کېږي، بیا په اصطلاح ملي حکومت څه مانــا لــري او هوکړه لیک څه مانا؟**

**ځواب:** د نړۍ پــه هــېڅ قانون کې داسې توافق نه دی شوی،بیا له داسې یو شخص څخــه چــې د نــړۍ د حکومتونــو د جوړښت تجربه لري، له داسې شخص څخه داسې توقع نه کېده، کلــه چې پاکې او ناپاکې رایې ســره جــلا شــي نــو د ټــاکنو مشــروعیت او شفافیت معلومېږي بیا سیاسي هــوکړه لیــک څــه مانــا؟ او ائتلافــي حکومت څه مانا؟ هغه هم د ملي وحدت حکومت تر نامه لاندې؟ بلکل موږ هم وایو،ټول تشویش په همدې کې دی،پنځه کاله به په حکومــت کې وي،دوی چې ټاکنې ټکنۍ کولې ددوی هدف سیاسي تفاهم و، چې څوکۍ ترلاسه کړي، اوس دوی هم قدرت غواړي هم زعامت هــره دوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کې دوی یو ټیسټ کوي، خپله ډاکټر اشرف غني د شخصي کرکټر لــه مخې داسې دی چې کېدی شي د هغوی دومره فرمایشات ونــه منــي، ښه لاره داوه چې ګټونکی نوماند پوزېشن او ناکــام کاندیــد اپوزېشــن شي، دغه مکس سېستم ولس ته په ګټه نه دی.**



**فاروق فاروقي:** **یون صــیب! ستاسې دغه د ګیلې لیک چې اشرف غني ته مو استولی، پــه دې سره به ســتا او د اشــرف غني کشمکش زیات نه شــي؟ او بل ایا اغیار به پرې خوشاله نــه شــي؟ زه فکــر کــوم پــه راتلونکی کــې بــه درې ډولــه اپوزېسیون وي،اول به په حکومت کې دخېل اپوزېســیون، دوهــم بــه ولس وي چې رایې ته یې ارزښت ورنه کړل شو او دریم اپوزېسیون بــه مخالف وسله وال وي ایا استاده! د اجرایوي پوست په جوړېدو سره چې د اساسي قانون خلاف دی، په هېواد کې به یو نوی بحران جوړ نه شي؟**

**ځواب: ډاکټرصیب اشرف غني یو مشر سړی دی، موږ ورتــه احتــرام لرو، لومړی دا چې په دې (ژمن لیک) کې موږ ورته ویلــي وو چــې تــر اخره به درسره ودرېږو یانې تر ټاکنو پورې، موږ په اوله کې ویلــي چــې موږ په حکومت کې برخه نه اخلــو او نــه دملــي تحریــک غــړي ددې لېوالتیا لري دا د ټولو دربارونو خصلت دی هغه سړی یې نه خوښــېږي چې حقیقت وایي، یوه ورځ ولسمشر کرزي ماته وویل چې څــوک ډېــر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطرناک دی؟ ماورته وویل هغوی چې ستا دمېز ترخنګ دي؟ نـړدې دښمن تر ټولو خطرناک دی، حکومتي اپوزېشن ولس ته ډېر خطرناک وي،دا اپوزېشن د بیت المال پانګه مصرفوي خو بېرته د ولس ، بیت المال او حکومت پرضد،



اپوزېشن خو اصلاِ وايي مخالف ته، دې ته اپوزېشن نه وايي چې په واک کې وي، دې ته یو حکومتي اپوزېشن او رشوت خور اپوزېشن،امتیاز طلبه اپوزېشن وايي، دې ته حقیقي اپوزېشن نه وايي، ټاکنو ته څم بیا د ټاکنو قانون نه منم، اساسي قانون منم، خو بیا یې نه مني، داسې اپوزېشن د نړۍ په تاریخ کې نه شته! موږ ډاکټر صیب اشرف غني سره کومه ستونزه نه لرو، نه یې توهینوو،اوس یې هم له مخالفینو سره مخالف یو او له ده څخه دفاع کوو خو د ګیلې حق لرو، ولس خو دومره حق لري چې د خپلو رایو پوښتنه وکړي.



پوښتنه: مطیع الله ساپی :موږ داسې فکر نه کاوه چې دنړۍ مفکر دې داسې توافق وکړي او بل داچې هغو سره دې توافق وکړي چې په جهاد کې یې پروتوکولونه لاسلیک کړي؟ نو د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تحريک دريځ به څه وي؟**

**ځواب: له ملي تحريک پرته نورګڼ شمېر هېوادوال، شته قومي شورا ګانې،فرهنګي ټولنې، مدني ټولنې او ګوندونه دي چې له ډاکټر صيب غني څخه ګيله من دي، ډاکټر صيب بايد ورته توضيحات ورکړي، که ډاکټر صيب همدغه توافقنامه عملي کړه، نو بيا به د ملي تحريک غړي او نور ملګري په ګډه پرېکړه کوي، نو ښه پرېکړه به داوي چې مور د ولس تر څنګ ودرېږو.**



**پوښتنه: قدرت الله بدلون:استاده! ډاکتر عبدالله څو وارې دا ګواښ وکړ چې که زما غوښتنې ونه منل شي زه به ملت غړ کوم، په مقابل کې کوم ګواښ او ډار و چې اشرف غني احمدزي متقابل غړ نه شو کولای دا څه مجبوريت و چې ده هم بايد په ملت غږ کړی وای؟ دده په ټيم کې يو شمېر غوړه مالان دي چې وايي په دې کار سره اشرف غني افغانستان وژغوره ايا رينښتيا همداسې ده؟**

**ځواب:د ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله ټيم په فکري دريځونو کې ستر توپير شته، هغه دادی چې، ډاکټر صيب اشرف غني د ملي هويت، ملي يووالي او د هېواد تاريخي حيثيت ساتنه کوي او پلوی يې دی او دا بله ډله او ټيم يې چې دي دوی ملي يووالي، ملي هويت او د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هېواد د تاریخي حیثیت په باره کې ګڼ شمېر مشـکلات پیـداکړي او پیداکوي یې، دلته کیسه داسې ده چې د یوه ماشوم پر سر د اصلي مور او بلې جعلي مور دعوه وه، کله چې قاضي په منځ نیمـایي کـاوه، نـو اصلي مور یې چغه کړه، چې هغې بلې ته یې ورکړه، خو نیمایي کوه یې مه!.**



**امید حیران: استاده! د ډاکټر صیب اشرف غني وروستی دریځ چـې پـه اصطلاح د ملي وحدت حکومت په اړه یې لري، څنګـه ارزوئ؟ او ایـا دایـو ولسواک او ډیموکراټیک حرکـت دی که نه ؟**

**ځواب: اشرف غني چې نرمښت څخه کار اخیستی، ښه ده، خو کوم وخت کې نرمښت ! د اشرف غني د ټیم اشتباه په دې کې وه، هغوی چې د غوښتنو لېست وړاندې کوي، ته یې هم وړاندې کړه، بله تېروتنه متواتر شـاتګ و او د هغـو نـورو متـواتر تعرض و، هغوی پرې امتیاز ترلاسه کړ او دوی پرې خپل حق لـه لاسـه ورکړ، دوی تار سست کړ، په دې اشتباه کې دی هم شـامل دی او ټـیم یې هم. مورږ ددې وس درلود چې د عبدالله د مظاهرې څو چنـده لویـه مظاهره وباسو، خو هندو سترې خدای ناراضه بیا به یې ویلې چې تاسو زمورږ پاچاهي ته مشکل جوړ کړ او څنګه چې دده ټیم نا متجـانس دی، ده ته یې دامشوره ورنه کړه چې مظاهره و باسې، مورږ د ولس تر فشـار لاندې وو چې مظاهره وباسو او زمورږ تعهد هم همدا و چې مظاهرې تـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مظاهرې، سوک ته په سوک ،څپېړې ته پــه څپېــړې او منطــق پــه منطق ځواب ورکړو! ولس حاضر و قرباني ته خو ټیم حاضر نــه و ، ټــیم سیاسي جرئت ونه کړ او تار یې سست کړ او ډاکټر اشرف غنــي بایــد د عبدالله، ټلوالې او دده د ټیم سیاسی سایکولوژي مطالعــه کــړې وای؛ داهغه خلک نه دي چې میدان کې تــر اخــره ودربــږي، ځکــه دوی د طالبانو له وېرې کوم ځای تــه ورســېدل، دوی تــه چــې څــومره تــار سستوې، دوی نور هم امتیاز غواړي او ته که مقابل طرف سره انــډول برابر کړې، نو دوی خپلې غوښتنې اتومــات راکمــوي، نــو دا سیاســي تېروتنه وشوه او د ډاکټر اشرف غني تر شا خو ملت ولاړ و، داسې ملت چې ده پرې پیسې مصرف نه کړې، بلکې پر ده یې مصرف کړې، داســې طلایي چانس د یو کاندید لپاره نه پیداکېږي، باید ډاکټر صیب اشــرف غني ملت ته توضیح کړي وای او ملت باندې یې باید غږ کړی وای، دالا څه چې دخپل ټیم مشخصو اشخاصو ته چې ملي افکار پکې زیــات وو، هغو ته هم داموضوع تشریح نه شوه، نــو اشــتباه وشــوه او نتیجــه دا راووته چې بایلونکي کاندید تر ګټونکي کاندید ډېر امتیاز ترلاسه کړ او مصِونیت یې هم ترلاسه کړ یوازې امتیاز نه ،نو دی (غني) سبا تــه پــه مسوولیت کې شامل خو په امتیاز کې شامل نه دی، هغه بل په امتیــاز کې شامل په مسوولیت کې شامل نه دی، داسې یو کار وشو نو خــدای دې وکړي چې سبا واک ته ورسېږي او ووایي چې دغه هوکړه لیــک د افغانستان د اساسي قانون خلاف دی، او زه اساسي قانون ته وفادار یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**پوښتنه: مسـعود سـروري: استاده کومه موافقـه چـې دې دواړو ټیمونو سـره وکـړه، دوی ستونزه حل کړه که د راتلونکـو پنځو کلونو لپاره نوره هـم اوږده شوه، بله دا چې کومـه موافقـه چـې د تحـول او تـداوم ټـیم د اصلاحاتو او همپالنې ټـیم سـره وکړه که دا موافقه دوی له وسله والو مخالفینو سره کـړې وای، د افغانستان په ګټه به نه وای؟**

**ځواب: تېرې تجربې ته په کتو سره، دا ستونزه وغځېدلـه، خـو دا بـه پنځه کاله دوام نه کوي، ځکه د دواړو کاندیدانو کرکټر داسې دی چـې دوی دواړه په یو حکومت کې ګوزاره نه شي کولای، له دوی به یو ټـیم له حکومته وځي، کېدی شي حکومت د ړنګېدا له خطر سـره مخـامخ شي، اصلي مشکل دا دی چې ملت یې له بحران سره مخامخ کړ، دا یو امتیازطلبه اپوزېشن دی، دا خو داسې دی چې د یو کور په تیر کې چې چینجی وي، د تیر خوړلني خوري له منځه یې وړي چـې خـتم شـي، اخره کې ټوله کوټه له منځه یوړي، یو څو کاله بیا هم دا کوټه دوام کوي خو اخیر غورځېږي. هغه نور مخالفین چې دي هغوی خو بالفعل فزیکي خطر دی، اور دی، که هغوی سره موافقه وشي افغانستان کې فزیکـي جګړه ختمېږي. بیا د اصلاحاتو لپاره د حکومت په داخـل کـې زمینـه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



برابرېږي او دا ټیم چې په حکومت کې وي هغوی سره د سولې خبرې پر مخ نه وړل کېږي، دوی مخالفت کوي لکه دیارلسو کلونو کې یې چې وکړ، دوی کله داسې موقع له لاسه ورکوي چې هم په پوزېشن کې وي او هم په اپوزېشن کې، نیم عمر یې په جهاد کې تېر کړی، نیم یې په مقاومت کې تېر کړی، نیم یې په ډیموکراسۍ کې، په پنځوسو کلونو کې یې هېڅ ګناه نه ده کړې، پاک سوتره دي، یوازې دوی پاک دي نور د ټولې نړۍ خلکو اشتباهات کړي یوازې دوی هېڅ اشتبا نه ده کړې، افغان هم نه یم د افغانستان څوکۍ هم غواړم، ویندویان یې چې کېني وایي ((ما شهروند این سرزمین هستیم))، داسې نه وایي چې زه افغان یم، نو په دغه مفکوره باندې چې دا خلک په دې حکومت کې داخل شي د دې ملت برخلیک به کومې مرحلې ته ورسېږي؟



**مامور حبیب الله**: د کرزي صیب حکومت هم شمالي ټلوالې ته ډېر خدمت وکړ، پر ډېرو لویو لویو څوکیو یې مقرر کړل، باالاخره مور او تاسو ولیدل چې د کرزي عکس یې تر پښو لاندې کړ، اګر که زه پرې ډېر خوشاله شوی یم، دا کوم کار چې شمالي ټلوالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی، دا کار یې ښه کړی چې د کرزي عکس یې لغت کړی، نــو لــه ډاکټر صیب اشرف غني څخه زما پوښتنه دا ده چــې دی بــه څــومره وکړای شي دغه ټیم راضي کړي؟

ځواب: کوم شی چې تجربه شوی وي باید بیا یې تجربــه نــه کــړو، دا خلک وفا نه لري، له کرزي سره یې وفا ونه کړه چې دومره پیې یې پرې پرېښودې نو بل چا سره خو یې قطعاً نه کوي، له ډاکتــر صــیب اشــرف غني سره یې چې موافقه کوله ویل یې چې موږ لــه همــدا اوس څخــه عملاً کار شروع کوو، خو اوس یې هم عکســونه لګېــدلي دي او پــرې لیکلي یې دي ((رییس جمهور منتخب افغانستان)) هغه نــه راکښــته کوي.



پوښتنه: شریف الله ناصري: د دغه پرېکړه لیک محتوا چــې دوی پــرې هــوکړه کــړې، کــه تخنیکي برخې ته یې لاړ شــو، یوه خبره چې د جهاد تر څنګ جوخته ورسره ذکر شوې هغه د ((مقاومت)) په نامــه ده، البتــه زموږ د کشفي ارګانونو نوملړ ته که لاړ شــې دوی تقریبــاً (دوه زره) امتیازي جنرالان د مقاومت په نوم لري، د دوی حقوق بــه هــم د ډاکټر صیب اشرف غني په راتلونکي حکومــت کــې خونــدي وي او د جنرالانو شرایط په دې هېواد کې معلوم دی، چې هغوی معــاش لــري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وسایط لري او د ځان د محافظت په خاطر هم یو شمېر تشکیلات لــري او بله خبره چې د ولسمشر (یوویشت) صلاحیتونه چــې پــه اساســي قانون کې درج دي او د انتقال وړ نه دي او هره اداره چې په یــو هېــواد کې رامنځته کېږي هغه د یــو ضــرورت پــر بنســټ وي، هغــه ځانتــه صلاحیتونه، مسؤلیتونه، ګــزارش ورکــوونکې اداره لــري، یــانې زمــوږ راتلونکی اجرایه ریاست چې دوی ځانګړی کړی دا هغه بې تیرانو کوټه ده چې تش بام يې په هوا ودرولی، دوی به چاته ګــزارش ورکــوي او د کومو وظایفود لایحې پر بنسټ به دوی دې هېواد او ادارې ته کار کوي؟**

**ځواب: تشویش هم همدا دی چې راتلونکو څو ورځــو کــې بــه دواړه ټیمونه کېني او د اجراییه رییس صلاحیتونه به مشخصوي، دا جزیــات دي، اکثره وخت په کلیاتو کې اختلاف نه وي، کله چې خبره جزیاتو ته رارسېږي مشکلات پیدا کېږي، ځکه اصلي مسئله په جزیــاتو کــې ده، ټول وایي په افغانستان کې دې عادلانه حکومت راشي، نو څنګــه یــې راولې؟ بل که ډاکټر صیب اشرف غني د ولسمشر په توګه لوړه وکــړي، نو بیا خپل مسؤلیتونه لري، داسې نه ده چې یو شخص ولسمشر وټاکل شو، نو بیا هر څه چې يې زړه غواړي هغه به کوي، د هغــه صــلاحیتونه لکه څنګه چې په اساسي قانون کې تثبیت دي او څه نور چــې قــانون ورته وړاندوینه کړې، دی له هغو نه اخوا ته چا ته څه نه شي ورکولی او که دغه ټیم د اجرایه رییس صلاحیتونه د اساسي قانون خلاف وضــعه کړي، نو طبعاً به هغه سبا ته پرابلمونه پیدا کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**محمد بشیر بشر یار**: زه په ډنمارک کې اوسېږم، هلته مې له ډاکټر صیب اشرف غني څخه د ملاتړ په خاطر یوه لویه غونډه جوړه کړې وه، چې تر (۹۰) څخه پکې زیاتو افغانانو ګډون کړی و، ما له اشرف غني څخه په دې خاطر ملاتړ وکړ او خلک مې د هغه ملاتړ ته



وهڅول چې د ډاکټر صیب اشرف غني شعارونه مې ډېر خوښېدل، تل به یې ویل چې زه سهامي شرکت نه جوړوم، خو تر هغه یې هم خبره بدتره کړه، که داکټر صیب په اپوزېشن کې وای زما لپاره به په زړه پورې وای ځکه مبارزه به یې کړې وای ممکن چې څه اصلاحات راغلي وای، خو اوس په دې حالت هېڅکله موافق نه یم او زما په شمول ټول ملګري په تشویش کې دي او دا حکومت د افغانستان د ګټو پر خلاف بولي. که دا حکومت جوړ شي هم دوام به ونه کړي ځکه دا د څوکۍ غوښتلو لپاره دی نه د افغانستان د ګټو لپاره.

ځواب: ستاسو تشویش پر ځای دی، فقط یو څو شیان چې دقت په کې په کار و، یو خو باید د راتلونکې لپاره ده ته لږ چانس نور هم ورکړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، چې بیا قضاوت وکړو د ده پر عمل باندې، موږ چې کوم ځای کې قضاوت کوو دادی چې ده د خلکو له رایو ښخه سمه دفاع ونه کړای شوه، موږ د ده عمل ته ګورو، دا چې بیا اینده حکومت څه ډول کېږي او ده چې چا سره کوم پروتوکول امضا کړی، څومره یې تطبیقولای شي، دا به لږ وخت وغواړي، مجبوریتونه لري، دې کې هېڅ شک نه شته، خو موږ باید د مجبوریت او عدالت تر منځ حد ټاکلی وای، چې هم عدالت تامین شوی وای او هم دده څه مجبوریتونه په پام کې نیول شوې وای، سل په سلو کې دلته عادلانه حکومت جوړول ډېر سخت کار دی، مګر د ولس هیلې هم په یو ناڅاپي ډول له منځه وړل دا هم ښه کار نه دی، یو د خلکو د رایو ښخه سمه دفاع ونه شوله، په دې کې سړی قضاوت کولای شي، په دې دویمه مسئله کې باید لږ ورته خلک فرصت ورکړي چې دی څه کوي، ایا د رایو په تناسب سره مخکې ځي؟ لکه څنګه چې د رایو په دفاع کې یې ټیم ډېر پخ و، حکومت به یې هم دا شی وي؟ اصلي تشویش هم همدې کې دی، ستاسو په شمول د ډېری خلکو تشویش هم همدې کې دی. خو موږ وایو حکومت یې باید هسې نه وي لکه د رایو د دفاع سستم کې چې و.



**میوند خپلواک:** استاده یوه خبره تاسو ته متوجه کېږي چې د عامو خلکو په ذهنیتونو کې دا خبره ده چې استاد یون د افغانیت او اسلامیت د غوښتلو لپاره چغه پورته کړه، لاریونونه یې راوویستل، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته هغه که ومنل شول یا ونه منل شول بېله خبره ده. تاسې مخکې په خپل ژمنلیک کې چې ډاکټر صیب اشرف غني ته مو وړاندې کړی و، تاسو په دې کې هم یادونه کړې ده، چوپ پاتې شوي نه یاست، پوښتنه دا ده که چېرې ډاکټر صیب اشرف غني یا کوم بل څوک واک ته ورسېږي او بیا پاچا شي ایا تاسو به بیا هم خپلې مبارزې ته دوام ورکړئ یا د ځینو خلکو په ذهنیتونو کې چې دا خبره ده چې استاد د خپلو ګټو لپاره اسلامیت او افغانیت غوښته او اوس په هر څه چوپ پاتې شو.

ځواب: موږ چې کله له ده سره ژمنلیک مطرح کاوه او لوسته مې ورته تر هغه څو میاشتې د مخه موږ ولسمشر کرزي سره کتلي وو، موږ سره



یې توافق کړی و، چې ستاسې ټولې غوښتنې منم خو تاسو به مظاهره نه باسئ، بیا به مو هر هره ورځ ورته ځواب لېږه چې څنګه شو؟ خو هغه به ویل، نن دی او سبا دی، نن دی او سبا دی، حتی د انتخاباتو کمپاینونه راورسېدل، جمهور رییس موږ ته (نه) ونه ویل، د مشاورینو په وساطت، د چارو د ادارې د لوی رییس په وساطت، د امنیت شورا د غړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وساطت، بس کار خلاص دی، جنجال به نه جوړوئ، همدا به يې ویـل، مـا درسره لوز کړی. یو وخت کـې دې تـه راورسـېدو چـې د انتخابـاتو بهیـر راورسېده، خو دا مهال مو چې وویل موږ مظاهره باسو، ده به ویل نـه نـه مـا درسره قول کړی، درسره منمه يې، بـاالاخره خبـره د انتخابـاتو ورځـې تـه راورسېده، ښه که تردې ځخه درې ورځې مخکې مظاهره کوې، بیا به خلـک وايي چې دا خو يې د انتخاباتو په خاطر وکړه، بیا به مخالفین وايـي چـې دا وګوره له افغانیت او اسلامیت ځخه د ځان په ګټه کار اخلي، د اشرف غني په ګټه ترې کار اخلي، نو کمپاین لا ګرم شوی نه و چې موږ اشرف غني سـره دا ژمنلیک وکړ، زه يې درته هغه جملې بیا وايم، ((که چېرې اوسـني دولـت د هویت په تذکرو کې د (دین) او (ملت) ستونونه ونه لیکل او د دین د سـتون په مقابل کې يې هر مسلمان افغان ته د (اسلام) او د دې هېواد د هـر وګـړي



لپاره د (افغان) کلمه ونه لیکله، نو له راتلونکي دولته غواړو چې هم د هویت په تذکرو کې د اساسي قانون له محتویـاتو او احکـامو سـره سـم ضـرور د (اسلام) او (افغان) د تثبیت لپاره د (دین) او (ملت) ستونونه ولیکي او په دې ډول خپل اسلامي او ملي مسولیت ادا کړي او هم د افغان ضد او ملت ضـد ډلو ټپلو او اشخاصو پر وړاندې ټینګ ګامونه پورته کړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ چې یو کال مخکې د پښتونستان واټ لوحــه ټــک وهلــه، مــوږ پــه دې پوهېدو که زور یې ورسېږي دا نوم بدلوي، بیا یې ورته په خپلو اعلانــاتو کــې (میدان فواره اب) وویلې، نو دې ته موږ مخکې تېرمخکــې متوجــه وو چــې مخکې تر مخکې ژمنه واخلو، که دې بل راسره بې وفایي وکــړه او تــر اخــره پورې یې له افغان کلمې سره جفا وکړه او له خپلې شــوکې ځخــه نــا افغانــه ولسمشر لاړ، څومره به ورته افتخار و، بلکې دا یې مسؤلیت و، یــو ځــل یــې فرمان صادر کړی پر ۱۳۸۱ یا ۱۳۸۲ ل کال چې ټولو تــه دې افغــان ولیکــل شي، یا هغه فرمان غلط دی یا دا اوس شاتګ له افغان کلمې څخه، مــا ورتــه وویل ته افغان ولسمشر یې که نه؟ ویل یې هو یم، ما ورته وویل، چې افغان نه وي نو ته د څه شي ولسمشر شوې؟ که پاکستان او ایران یرغل وکړي، نوتــه به د هغوی دفاع څنګه وکړای شي؟ چې د افغان کلمې څخه دې دفاع ونــه کړای شوه چې دده پرې فقط امضاء وه. بیا ټول ولس ته وایم:
قاضي القضات ناست و، لوی څارنوال ناست و، عدلیې وزیر ناســت و، خــدای دې اوس وبښي، اوس مړ دی، عدلیې وزیر غالب یې مخالفت وکړ، پر عدلیې وزیر سربېره (۱۳) دولتي چارواکي ناست وو، د اساسي قانون تطبیق د څــار کمیسیون مشر ګل رحمان قاضي ناست و، استاد نصرالله ستانکزی ناست و، د علماو شورا رییس مولوي صیب قیام الدین کشاف ناست و، کشاف صــیب ورته وویل، چې که له ما څخه افغانیت او اسلامیت واخلې، نو ما کې څه شی پاتې شول؟ او لعنت دې وي پر هغه شــخص بانــدې چــې هــم پــه افغانیــت شرمېږي او هم په اسلامیت شرمېږي، هغه ښځي نه انسان دی نه افغــان دی، دلته څنګه اوسېږي په دې مملکت کې، تر دغه حده پورې شخړه مخــې تــه لاړه، خو بیا یې هم ونه کړ، نو موږ سره نور کوم وس و؟ که مظاهره دې کولــه درته ویل یې مظاهره ولې وباسې؟ لوز مې درســره کــړی دی، بیــا چــې دې مظاهره کړې وای بیا یې درته ویل ګوره ما خو دا کار کاوه مظــاهره دې ولــې وویستله؟ راباندې خرابه دې کړه، همدا یې راته په غونډه کې هم وویل. چرند سنګ هندو هم راسره و، هغه ورته وویل زه په افغانیت ویاړم، که تــه ماتــه د دین کلمه ونه لیکې نو ماته به په هند کې خلک څه وایي؟ زه د هندوســتان

(c) ketabton.com: The Digital Library




هندو یم که دافغانستان هندو یم؟ زه افغان هندو یم که هنــدو هنــدو یــم؟ هندو ورته پېغور ورکړ، هم و یې نه کړ، که مظاهره دې کوله درته ویل یې مــا درته ویل مظاهره مه کوه تا ولې وکړه، په رسمي مجلس کې یې راته وویل، که تاسې مظاهرې نه وای ویستلې، ما خو دا درته لیکه، ما ورتــه وویــل کــه تــا لیکلی وای نو موږ ولې مظاهرې ویستلې ، خــو لیکلــی دې نــه و چــې مــوږ مظاهرې وویستلې، نو جنجال په څه شي پیدا شو، ما ویل ستا حکومت خــو دا کار زموږ پر ضد وکړ، چې موږ مظاهرو ته مجبور شو، نو چې افغانیت په کې وای مظاهرې، ته څه ضرورت و؟ د ملي تحریک مجله وګورئ، په هغــې کــې دېرش مخه یانې د کتاب په سایز نږدې شپېته مخه دا ټــول جریــان لــه (A) څخه تر (Z) پورې په زېر او زبر سره لیکل شوی دی، نو اوس مو په دې خــاطر له ده څخه مخکې تر مخکې ژمنه واخیستله چې ته داسې نه شې؛ پــه هغــه مرض باندې ککړ نه شې، نو نور به د یو عادي افغان په وس کې څه وي؟ هغــه کاندیدان چې ددې ولس پر اوږو بار شي او ته یې پورته کړې، بېرته تــا ســره خیانت وکړي نو نور به ستا څه په وس کې وي غیر له دې نه چې پــه خــدای یې وسپارې او یا یې په همدې ملت وسپارې،ګوره هغه ته مو رایه ورکړه اوس ملت له هغه نه لاس اخیستی دی. خپله به یو وخت وځوربږي، دی که هــم د ملت غوښتنې ونه مني دا هم پر هغه بدبختۍ اخته کېږي، بل ګټه څــه مانــا لري؟ زه ګټې ته ضرورت نه لرم، زما ژوند د خدای فضل دی ښه دی، خــدای پاک راته د ژوند ټولې اسانتیاوې او سهولتونه راکړي دي او زه فکر کوم د دې لپاره یې راته برابر کړي چې زه د افغانستان او خپل ولس خدمت وکــړم، لــه خدای نه ډېر شکر ګوزار یمه. پر همدې یې ختموو، کــور مــو ودان چــې دې محفل کې مو ګډون وکړ.

په خدای مو سپارم

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ارګ نا ویلې خبرې

(د حامد کرزي واکمني؛ یادښتونه، شننه او ارزونه)

لیکوال

**محمد اسمعیل یون**

(د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو پخوانی رییس)

۱۳۹۶ لمریز

(c) ketabton.com: The Digital Library






# د ارګ نا ویلې خبرې

**(د حامد کرزي واکمني؛ یادښتونه، شننه او ارزونه)**


لیکوال: **محمد اسمعیل یون**

(د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنګي چارو پخواني رییس)



خپرندوی: **د افغانستان ملي تحریک**

د دې اثر د بشپړېدو نېټه: **وری ۱۳۹۳ لمریز**

چاپکال: **۱۳۹٦ل/ ۲۰۱۷ز**

چاپشمېر: **۲۰۰۰ ټوکه**

چاپ وار: **لومړی**

د خپرندوی د خپرونو لړ: (۱۳۵)

د لیکوال د خپرونو لړ: (۴٦)

کمپوز: **فیاض حمید**

ډیزاین: **سپین سهار**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۰۰۴۴۹۲۹۸**

www.melitahrik.com - info@melitahrik.com


د دې کتاب د چاپي، کاپي، انلاین او بل هر ډول خپراوي ټول حقوق له لیکوال سره خوندي دي

٩٥٣٤

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ:

## د اسلاميت، افغانيت او انسانيت

## د لارې رښتينو لارويانو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا اثر یو ژوندی تاریخ او د واقعیتونو هنداره

((د ارګ نا ویلې خبرې)) د هېواد د تکړه او نامتو لیکوال، سیاسي مبارز مشر، د ملي فکر خاوند او د کابل پوهنتون استاد (پوهاند محمد اسمعیل یون) له خوا لیکل شوی اثر دی، چې تر ډېره د ارګ په داخل کې د حقایقو او ناویلو خبرو په باب د هر اړخیزه معلوماتو یوه ټولګه ده. په دې اثر کې تر ډېره بریده د هغو مسایلو او پېښو یادونه شوې چې په رسنیو کې پرې بحث نه دی شوی او د ولس له سترګو لرې واقع شوي دي.

لکه څنګه چې استاد (یون) د کتاب په پیل کې یادونه کړې؛ ارګ کې یې د دندې اخیستو یوه موخه همدا وه، چې د ارګ په داخل کې د جریانونو بهیر ثبت او راتلونکي نسل ته یې د یوه ژوندي تاریخ په توګه وړاندې کړي. استاد (یون) په خپل دې نېت او هدف کې بریالی شو او دا ستر کتاب یې خپل ولس ته ډالۍ کړ.

استاد یون ارګ ته تر تګ وړاندې د یوه ځیرک لیکوال او سیاستوال په توګه د افغانستان او نورو هېوادونو د دربارونو او هلته د غوړه مالانو د رول په باب د بېلابېلو اثارو د مطالعې له لارې معلومات درلودل. د همدې لرلید له مخې یې، هر هغه څه چې په ارګ کې د قدرت سرچینې ته نږدې تېرېدل، په دقت سره یې ثبتول. د دې کتاب اصلي موخه په واک کې د تېرو شویو واقعیتونو رښتینی بیان دی. د کتاب مطالعه سړي ته واقعیتونه په راڼه ډول بیانوي، د اشخاصو د سپکاوي کوم څرک پکې نه لیدل کېږي، بلکې څه چې دارګ په داخل او د قدرت په هرم کې تېر شوي او اشخاصو څه کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنگه يې کړي؟ همغه انځور شوي دي.

د دې کتاب يوه بله ښېگڼه دا هم ده، چې د ارگ د جوړېدو تاريخي بهير، اړتيا او ځينو تاريخي پېښو يادونه هم په کې شوې ده. لوستونکو ته دا برخه هم خپل خپل پيغام لري.

په دې کتاب کې د ځينو مسايلو په باب استاد يون خپل تحليلونه هم کړي او ولسمشر کرزي ته يې د مخامخ ناستو، تلوېزيوني بحثونو او ليکنو په ذريعه ور رسولي دي. د دې ترڅنگ يې د هغو د مثبتو او منفي پايلو په باب هم په دې اثر کې هر اړخيز او گټور معلومات ځای کړي دي. د گاونډيو هېوادونو، داخلي جنگسالارانو، په ځانگړي ډول د شمالټلوالې ناقانونه غوښتنو او فشارونو ته د ولسمشر کرزي د غاړې ايښودلو په باب هم تفصيلي او مستند معلومات وړاندې شوي دي. د کابل د (شېر پور) سيمې ناقانونه تقسيم او په دې توزيع کې د سترو جنگسالارانو د ونډې په باب هم دقيق اسناد وړاندې شوي دي. په کتاب کې د ترخو واقعيتونو رښتينی بيان د ليکوال ملي، اخلاقي جرئت او مېړانه ثابتوي.

ولسمشر کرزي ته د نږدې اشخاصو د خبرو او يادښتونو ثبتول او مناسبو ځايونو کې يې د بېلگو په توگه د هغو يادول، دکتاب پر ارزښت، دقت او اهميت دلالت کوي. لکه د جمهوري رياست د عالي مقام د دفتر رئيس (عمر داودزي) له خولې ځينې خبرې: ((رييس صيب له امريکا سره ډغرې وهي حال دا چې دا زما د قلم رنگ هم د امريکا په پيسو شوی...)). مانا دا چې د ولسمشر کرزي ځينې کړنې له ځمکنيو واقعيتونو سره برابرې نه وې.

د ارگ په داخل کې د ځينو کرکټرونو، تر ارگه بهر د با نفوذه مشرانو او څېرو يادونه او پر ولسمشر کرزي د هغو د اغېزو په باب هم ژور بحث شوی دی.

څرنگه چې استاد يون نږدې (۷) کاله د ملي امنيت شورا دفتر کې د فرهنگي چارو رييس پاتې شوی، نو ده ته ډېر هغه پټ رازونه او نا ويلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې معلومې دي، چې د حامد کرزي د حاکمیت په دوره کې تېرې شوې دي. استاد (یون) د یوه مسلکي لیکوال او څېړونکي په توګه د خپلې دندې له پیل څخه بیا تر پایه پورې د حامد کرزي د حاکمیت همدا پټ واقعیتونه او نا ویلې خبرې یادښت کړي، پر خپل وخت یې ځان سره لیکلي او په پای کې دغه اثر (د ارګ ناویلې خبرې) ترې جوړ شوی دی. دا اثر په نږدې (دولسو کلونو) کې لیکل شوی او د حامد کرزي څوارلس کلن حاکمیت په ښه ډول تشریح کوي. کتاب د علمي پرنیسپونو پر اساس لیکل شوی، ټول (۱۹) څپرکي لري او هر څپرکی یې بیا په خپل منځ کې نور نور څنګزني عنوانونه لري، چې ځینې غټ عنوانونه یې په دې ډول دي:

((د دې اثر د لیکلو علت او ضرورت، راځۍ چې ارګ وپېژنو، د حامد کرزي پېژندګلوي، له حکومت او حامد کرزي سره اړیکي، د ولسمشرۍ لومړۍ ټاکنې، حکومتي دنده، د امنیت شورا دفتر، ارګ کې موثر کرکټرونه، له ولسمشر سره ځانګړې کتنې، ګرم تحلیلونه او ساړه غبرګونونه، ولسمشر او ولسي کتنې، ولسمشر او خبري کنفرانسونه، د ارګ څو نورې ناویلې، د ولسمشر کرزي وزیران، د ولسمشر ځانګړتیاوې، د ولسمشر کرزي د رژیم نیمګړتیاوې، د ولسمشر کرزي د رژیم بریاوې، ولې استعفی؟ مظاهرې او عمومي ارزونه.))

لکه څنګه چې د مخه مو یادونه وکړه؛ په دې اثر کې دا واضح شوي چې جنګسالارانو څنګه له کرزي څخه باج اخیسته، د دې ترڅنګه دغو پوښتنو او مسایلو ته هم ځوابونه ویل شوي او بحثونه پرې شوي دي، چې پوزېشن او اپوزېشن څنګه یو بل سره اړیکي درلودل؟ څلورنیم ملیونه جریبه ځمکه چا او څنګه غصب کړه؟ په روسیې کې په ټنونو چاپ شوې افغانۍ څنګه پر نویو افغانیو بدلې شوې؟ د کرزي او امریکایانو اړیکي ولې ترینګلي وو؟ شېر پور څنګه چور شو؟ فهیم خان څنګه ځان ((مارشالۍ)) ته ورساوه؟ د ولسي جرګې ټاکنو کې چا، څومره او څنګه درغلي وکړه؟ فساد ولې اوج ته ورسېد؟ بهرنۍ نړۍ سره اړیکي څنګه وو؟ ارګ او ملي شورا یو بل سره څه ډول اړیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودل؟ په ټول نظام کې د حامد کرزي د واک کچه څومره وه؟ د افغانستان سیاسي استازی د چا په لاس کې وې؟ څومره بهرنۍ مرستې افغانستان ته راتللې او څومره بېرته وتلې؟ ټول حکومت کې څوک څومره وو؟ د حامد کرزي عاطفي او سیاسي شخصیت څرنګه و؟ په سوله او جګړه کې د طالبانو او شمالټلوالې اغېزې، شپږ لویې جرګې، د کرزي جرئت، احتیاط او وېره، د ملي پوځ نا انډوله ترکیب، ملي هویت، په ارګ کې د ټولو موثروکرکترونو، مشاورانو او وزیرانو معرفي او د هغوی کړنې، د ولسمشر دفتر او د چارو د لوی ریاست رییسان، نامسوله او باصلاحیته جهادي مشران، د نویو اداري واحدونو زیاتونه، د کرزي د وژنې څو توطیې، سپین او تور افغانستان، ولسمشر او بهرني سفرونه، ولسمشر او ولسي ناستې، د خلکو فریاد، د بخت پاچا د بخت تر وخته، امریکایي، که شجاعي؟ د کرزي په حکومت کې د علماوو رول، له وخت څخه ناوړه ګټه اخیستنه، زیاتې هیلې او کم فعالیتونه، د سولې مشورتي جرګه او د تنظیم سالارانو بیا غوړېدنه، د یو طالب پیغام، ټاکنیز کمېسیونونه، د کابل پر حکومت د امریکا او ایران اغېزې، د ((مارشال)) د رهبرۍ مانور، د ولسمشر تشخیص او غوراوی، د افغانستان - پاکستان او امریکا ستراتیژي او ګڼ شمېر نور مسایل په ډېر ظریفانه او دقیق ډول تشریح شوي دي. کتاب په بشپړ ډول له مستندو اسنادو ډک دی. ځینې خبرې د لیکوال د خپلو سترګو لیدلی حال دی او ځینې نور مسایل یې په مستندو اسنادو تشریح کړي دي.

د اثر لیکوال استاد (یون) د معلوماتو لومړي، دویم او درېیم لاس غټو سرچینو ته لاسرسی درلود، نو ځکه خو په دې اثر کې داسې مسایل تشریح شوي چې کېدی شي یو زیات شمېر لوستونکي ورسره په لومړي ځل مخامخ شي. څرنګه چې دا کتاب د یوه مسلکي لیکوال له خوا لیکل شوی، نو ژبه یې هم ډېره خوږه او په ځینو ځایونو کې داستاني بڼه هم لري. که څوک غواړي افغانستان ته د نړیوالو تر راتګ وروسته د حامد کرزي د (څوارلس کلنې واکمنۍ) مهال له هر اړخیز پلوه مطالعه کړي، نو تردې زیات ښه، ګټور او هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړخیز کتاب به بل پیدا نه کړي.

د دې کتاب لوستل، هم عامو نړیوالو، هم عامو افغانانو او هم د نړۍ یو زیات شمېر سیاستوالو، په تېره بیا هغو سیاستوالو ته چې د افغانستان په تېر څوارلس کلن سیاسي او ټولنیز بهیر کې راټاله وو او هم نویو سیاستوالو ته خورا ضروري دي، په دې خاطر چې ټول پر دې پوه شي چې څه یې وکړل او تر دې وروسته څه باید وشي؟ له تېرو تجربو، نیمګړتیاوو او تېروتنو څخه باید راتلونکی نسل او سیاستوال ګټوره نتیجه او مثبت عبرت واخلي. د افغانستان د نن او راتلونکي سیاستوالو او نوي نسل ته یې هم لوستل خورا ضروري دي، ځکه چې دوی ته هم پاخه معلومات، توضیحات او تجربې په لاس ورکوي. په ټولیز ډول دا اثر د خپلې زمانې یو هر اړخیز، معلوماتي، تحلیلي او ناپېیلی اثر دی او لوستل یې هر لوستونکي ته خورا ګټور دي.

زه د استاد یون د نږدې ملګرو له جملې څخه یم، د فکر او مبارزې ملګری یې یم او دا دېرش کاله کېږي چې له نږدې ورسره پېژنم، د ژوندانه د بهیر په بېلابېلو پړاوونو کې له ګڼو ستونزو او د سر له خطر سره مخ شوی دی.

د بېړنۍ لویې جرګې تر اختتام وروسته قدرمن استاد (یون) ته په پلازمېنه (کابل) کې خطرونه زیات شول، ننګرهار ته راغی، دلته هم خطرونه دفع نه شول، دې ځای کې هم د ځینو جنګسالارانو او د شمالټلوالې د ارتباطي ټوپکیانو له خوا ورته ګواښونه او خطرونه موجود وو، چې استاد یون یې ځینو ته په دې کتاب کې نغوته کړې او ځینې یې لا نه دي یاد کړي. زه د استاد یون د یو نږدې ملګري او د ملي مبارزې د همکار په توګه د ټولو جدي مسایلو، ګواښونو او خطرونو عیني شاهد یم، حالات ان تر هغه حالته هم ستونزمن وو، چې استاد یې په دې کتاب کې یادونه کړې، دا نو بیا یو بل حقیقت دی، چې استاد په دې ټول اغزن او کړلېچن بهیر کې، چې له هر ډول تهدید او ګواښ سره مخ و، زغم او اوسېله ونه بایلل؛ تر اخره یې په پوره استقامت او مېړانه مقاومت وکړ او خپلې مبارزې ته یې دوام ورکړ، هم یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکري او نظري مبارزه وکړه او هم یې عملي مبارزه په بریالیتوب سره تر سره کړه.

استاد یون د ملي فکر څښتن دی، فکري لیکوال، عملي مبارز او سیاستوال دی او د مشرتوب داسې استعداد او ځانگړنې په کې دي چې په ډېرو سیاستوالو کې نه شته. دی هم لیکوال دی، هم سیاستوال، څه چې وایي هغه عملي کوي هم، یوازې نظر نه ورکوي او د عملي کولو لپاره خپله خبره بل چاته نه پرېږدي. په سیاست کې هم بې گودره نه ورداخلېږي؛ یو مستقیم ملي خط او ایډیالوژي تعقیبوي، د ده دېرش کلنه ملي مبارزه زموږ د دې خبرې ښه ثبوت دی. ده چې د هېواد د ملي گټو او د افغانستان د هویت ساتنې لپاره د افغانیت، اسلامیت او انسانیت ناره پورته کړې، عملاً یې دې کار ته دانگلي هم دي او په دې لاره کې یې د مخکښۍ رول لوبولی دی. په پای کې غواړم یو ځل بیا یادونه وکړم چې دا کتاب د نن او راتلونکي نسل لپاره زیات گټور او ارزښتمن دی، تاریخ لیکونکو او څېړونکو ته هم تر ټولو مهمه او گټوره سرچینه ده او هم یې د اوسني نسل سیاستوالو، واکوالو او مبارزینو لپاره لوستل گټور او له ارزښته ډک دي.

درنښت

شېرعلم امله وال

ننگرهار- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



*لومړی څپرکی*

**سريزه:**

# د دې اثر د ليکلو علت او ضرورت

د دې اثر د ليکلو علت او ضرورت به په يوه رښتينې ارماني جمله پيل کړم: (حقيقت دا دی چې ما نه غوښتل په حکومت کې دنده واخلم، خو د دې اثر د ليکلو نيت او ارادې دې ته مجبور کړم چې د حکومت او هغه هم د حکومت په يوه حساس پوست کې دنده واخلم). زما يو ملګري (انجنير اکرام)، چې يو وخت په جلال اباد کې د (WFP) موسسې مشر و، راته ويلي وو: ((د قدرت او واک په تعريفونو کې يو دا دی چې څومره د واک سرچينې ته نږدې يې قدرت دې زيات دی.)) دا جمله زما په ذهن کې حک وه. ما ويل که دنده اخلم، نو د ولسمشر دفتر کې بايد وي چې واک او د واک سرچينې ته نږدې يم.

ما پخوا د بېلابېلو دربارونو په باب کيسې او افسانې لوستې وې، د دربار پټې او ښکاره خبرې خورا خوندورې وي. که پر خپل مهال نه وي، نو راتلونکي نسل ته خو خورا په زړه پورې وي. د کاتب هزاره يادښتونه، د ماکياولي اثر (ټولواک)، د الفنسټن (د کابل سلطنت بيان) او په وروستيو کې د بېلابېلو ليکوالانو اثار مې له نظره تېر کړي وو، چې په يو نه يو ډول يې د دربار د حالاتو د څرنګوالي کيسې کولې. ما ويل څه، که نوره ګټه دې ونه کړه، دا ګټه خو به وکړې چې د دربار د حالاتو په باب يو ځانګړی اثر وليکې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همغه پیله مې د دې اثر د لیکلو تکل درلود، خو ورځني مصروفیتونه، د ارقامو راټولول او بیا د هغو ثبتول او خوندي کول هم څه اسانه کار نه و او نه هم له خطره لرې و.

د ارقامو دقت هم خورا مهم و. ارقامو هم وخت پر وخت بدلون مونده. خو بیا مې هم خپل کوښښ کاوه چې یادښتونه واخلم. ځینې یادښتونه پر خپل وخت نه ثبتېدل، بیا به مو له یاده ووتل او تاریخي ارزښت به یې هم له منځه لاړ. خیر، په هر ډول، زه په داسې یو دفتر کې مقرر شوم چې ډېر وخت مې اول لاس سرچینو ته لاسرسی نه درلود. دویم او درېیم لاس سرچینو ته رسېدلی شوم، هغه هم په پوره او کره ډول نه، خو بیا مې هم کوښښ کړی، څه چې مې د تېرو (شپږو ــ لسو کلونو) په بهیر کې لیدلي، کتلي او یا مې هم اورېدلي، د هغو یوه برخه دلته خوندي او راتلونکي نسل ته انتقال کړم. د دې ډول اثارو لیکل طبعاً جانبي عوارض لري، ځینې به پرې خفه کېږي او ځینې نور به پرې خوشالېږي، خصوصاً هغه کرکټرونه چې ژوندي دي او لا هم د سیاسي، ټولنیزو او نورو فعالیتونو د سرته رسولو جوګه دي. که د دې ډول لیکنو محتوا د هغو پر مزاج برابره نه وي، نو طبعاً به غبرګون ښيي، خو زما هدف له پیله بیا د دې لیک تر لیکلو پورې دا نه دی چې خدای مه کړه، څوک توهین شي او یا د چا شخصیت ته زیان ورسېږي، زما موخه دا ده چې ځنګه کولای شو، د افغانستان واقعیتونه بیان کړو او له دې بیان څخه د راتلونکي ژوند د سوکالۍ او د خپل هېواد د پرمختګ لپاره ګټه پورته کړو.

درانه لوستونکي چې کله هم دا اثر ولولي، قضاوت به خپله وکړي. البته په دې اثر کې ځینې واقعیتونه که ډېر ترخه وي، هغه په دې مانا نه دي چې ما ترخه کړي، بلکې لکه ځنګه چې وو، ما همغسې را انتقال کړي دي، دا د لیکوال ګناه نه ده، بلکې د هغو کسانو مسؤلیت دی چې ترخه واقعیتونه یې پنځولي دي. طبیعي خبره ده چې په دې اثر کې د افغانستان ملي او قومي

(c) ketabton.com: The Digital Library



واقعیتونو ته زیاته نغوته شوې ده. حقیقت دا دی چې دا واقعیتونه همداسې تېر شوي او که نه وای تېر شوي، نو څه شی به لیکل شوي وو. دلته خو چې څه تېر شوي همغه لیکل شوي، نو دا خبره مې ځکه وکړه چې د دې اثر تر چاپ وروسته به ځینې منتقدین طبعاً دې مسلې ته نغوته کوي.

زه چې کله کوچنی، بیا زده کوونکی، بیا محصل، بیا استاد او بیا په اصطلاح د سیاسي چارو کارپوه ! شوم، نو طبعاً دربار به راته د بل هر انسان په توګه یو عجیب و غریب شی او ځای ښکارېده، درباري خلک به راته ډېر هوښیار او څوک چې به د پاچا تر څنګ ناست وو، هغه به هم راته ډېر مودب، ځیرک او پوه اشخاص ښکارېدل، البته کېدی شي ځینې دربارونه همداسې وي، خو زموږ دربار بیا هغه شان نه و، دلته هر ډول خلک موجود وو: پوه، هوښیار، ابن الوقت، زړور، بې زړه، غوړه مالان، لټان او نور ډول ډول اشخاص؛ د ښو او بدو دواړو کمی په کې نه احساسېده، نو دا یو بل ډول حالت و. ما هڅه کړې چې تر خپلې وسې پورې واقعیتونه بیان کړم، خو دا اثر نه د ټولو واقعیتونو بیان دی، نه هم ټول واقعیتونه همدا دي او نه هم یو اثر د ټولو پېښو د ځایونې ځای لري. هڅه شوې چې له فرعي موضوعګانو او هغو مسایلو څخه ډډه وشي چې کوم مشخص پیغام نه لري.

ما هڅه کړې چې دا او په دې اثر کې د مطرحو څېړو خبرې کټ مټ را واخلم، خو کله کله که الفاظ کټ مټ نه دي را اخیستل شوي، نو هلته محتوا ته زیاته ترجیح ورکړل شوې ده. دې اثر کې به درانه لوستونکي د خپلې زمانې د دربار له ځینو برخو سره اشنا شي. کله چې زه په ارګ کې وم او له ارګه به وتلم، نو فکر به مې کاوه چې بېرون به خلک فکر کوي چې په ارګ کې به څومره درنې او پخې ستې ناستې وي، د ټول وطن غم به ورسره وي، شپه او ورځ به فکر کوي، پلانونه او ماستر پلانونه به جوړوي، خو خبر نه دي چې دلته څه نه دي چې څه نه دي نو! د ارګ خلکو به یو بل نه پوښتنه کوله چې څه خبرې دي بېرون؟ سر چوک کې څه خبرې دي؟ او بېروني خلکو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ویل څه خبرې دي په ارگ کې؟ د دې دواړو تر منځ اصلي خبره ورکه وه. کله به ځان سره سوچ راغی او د یو شاعر شعر به راپه یاد شو چې څو کاله پخوا یې ویلي وو:**

**څومره چې زه یمه خبر له ملکه**
**د مشورې سر دی بهر لـــه ملکه**

**رښتیا هم د مشورې سر بل چا سره و او لا هم دی، د دې لانجې د حل کیلي بل چا سره ده او لانجه دلته ده. هم داخل کې مایوسي ده او هم تر ارگ بهره نهیلي خپره ده. یوه ورځ مې (عمر داود زي صیب) ته وویل: ((داودزي صیب خلک دې ارگ او دربار پسې ډېرې بدې بدې خبرې کوي، ډېر پیکه حالت نه دی؟ پخواني دربارونه هم همداسې وو او که موږ او تاسې داسې یو، ماته خو دا حالت ډېر خراب ښکارېږي...)) هغه راته په ټوکو کې وویل: ((هغه پخواني تردې هم بدتر وو، هغه وخت میډیا نه وه، هر څه پټ وو، اوس خو میډیا ده چې هره شېبه کې خبره هر چېرته رسوي، که پخواني دربارونه ښه وای، خبره تر موږ نه رارسېدله او حالات دومره نه خرابېدل، هغوی تر موږه هم بدتر وو، که هغوی ښه وای، نو حالات به داسې نه وو. هغه هم همداسې وو، خو موږ او تاسې پرې نه وو خبر...)) د داودزي صیب په خبرو کې حکمت پروت و. ماته پته ولگېده چې رښتیا هم د پخوانیو او اوسنیو دربارونو تر منځ محتوایي تسلسل موجود دی، که نه وي نو ولې خبره دې حالت ته ووځي؟ که نور څه نه وي نو د غوړه مالانو او (سلطان محمود پاچا) د لټانو شتوالی، خو په پخوانیو او اوسنیو دربارونو کې لږ تر لږه مشترک ټکي دي.**

**مخکې تر دې چې د کتاب نورو برخو ته لاړ شم، په دې برخه کې ضرور گڼم، له گران ورور (فیاض حمید) څخه چې د دې اثر د کمپوز چارې یې تر سره کړې، له گران ورور (مصطفی عمرزي) څخه چې دا اثر یې دري ته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژباړه، (سپین سهار) څخه چې د ډیزاین چارې یې سمبال کړې، له (ضیاء الرحمن ضیاء، وفا الرحمن وفا، شېر علم امله وال او پوهندوی شاه محمود کډوال) څخه چې د دې اثر په ایډېټ او سمون کې یې برخه واخیسته، له ټولو څخه یوه نړۍ مننه وکړم او کور ودانی ورته ووایم.

دا چې ما به تر کومه حده پورې په دې اثر کې هغه هدف ته ځان رسولی وي چې مخکې تر مخکې مې په ذهن کې موجود و، خو که د هغه ارمان یوه برخه مې په کې ځای کړې وي، نو د لوی خدای (ج) شکر کاږم. دا اثر به اوس ارزښت ولري که نه، خو راتلونکي نسل ته به د دې زمانې ځینې تصویرونه او پیغامونه وړاندې کړي. خدای (ج) دې وکړي چې افغان ولس ته وړ سیاستوال او خدمتگاران په نصیب شي. دربار د ولس خدمتگار شي او ولسونه د دربار ساتندویان او منندویان، دربار له غوړه مالانو او ولس له جنایتکارانو وژغورل شي.

د همداسې ورځې د رارسېدو په هیله، تاسو ته د دې اثر د لوستلو بلنه درکوم.

### په درناوي

ستاسو خدمتگار

محمد اسمعیل یون

(c) ketabton.com: The Digital Library



# راځئ چې ارګ وپېژنو!

افغانستان کې د ولسمشرۍ یا پاچاهۍ د ماڼۍ یا ارګ نوم هر چاته اشنا دی. کله چې څوک د (ارګ) نوم واخلي، نو د (مرګ) مفکوره ورسره اتومات تداعي کېږي، ان د (ارګ او مرګ) په نوم یو ځانګړی اثر هم لیکل شوی دی. د دې خبرې مانا دا ده چې زموږ ارګ د مرګ او ژوند کیسې لري، د



(د افغانستان شاهي ارګ)

ارګ له تاریخ څخه د خوند او لذت په انډول زیات د وینو بوی راځي. دا داسې ارګ نه دی، لکه د انګلستان شاهي ارګ، یا هم د بلجیم، ډنمارک او یا نورو هېوادونو شاهي ماڼۍ چې د غولکې ګاټې هم ورته نه دی رسېدلی. دلته پر ارګ جنګونه شوي، مرګونه په کې شوي، توپونه پرې ویشتل شوي، په زور نیول شوی او په زور پرېښودل شوی دی. د ارګ په باب چې هر څوک څه لیکي، نو ضرور به یې یو ځل بیا همغه تصور او رنګ له سترګو تېرېږي او یا به یې په ذهن کې تداعي کېږي. ارګ هغومره ښکلی نه دی چې خلک پرې سرونه ورکوي او یا په سر ورکولو ارزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې په نورو هېوادونو کې به شاهي ماڼۍ، ارگ يا د ولسمشر استوگنځی او کارځای له کوم مسیره تېر شوي وي او کومې لوړې ژورې به يې تېرې کړې وي، دا د همغو هېوادونو په حوادثو او تاریخ پورې اړه لري، خو په عام ډول سړی ویلای شي چې اکثرو دربارونو او شاهي ماڼیو د زحمت په انډول د راحت شپې ورځې زیاتې تېرې کړي، دا ډول ځایونه معمولاً د عیش او عشرت ځایونه وي. دربار خپل خاص نزاکتونه او ځانگړي چلندونه لري، د دې ځای ژبې، لباس او انساني حرکتونه د عام ولس له ټولنیزو حرکتونو سره توپیر لري، خو د افغانستان شاهي ماڼۍ چې د ارگ په نامه یادېږي، د خوږو ترخو ډېر ترخه هم تر ستوني تېر کړي دي. ان سړی ویلای شي چې د خوږو کچه به يې تر ترخو زیاته نه وي. له هغې ورځې چې دا ارگ جوړ شوی، نو د مرگ کلمه هم ورسره ملگرې شوې ده.

د دې لپاره چې د درنو لوستونکو تلوسه زیاته نه کړم، نو مخکې تر دې چې د اثر پر اصلي موضوع بحث وکړم، ښه به وي چې درنو لوستونکو ته ارگ هم په لنډ ډول ورو پېژنم:

د افغانستان د ارگ د جوړېدو انگېزه هم له یوه تېر مرگوني تاریخ سره تړلې ده. کله چې انگرېزانو له افغانانو سره په دوو سترو جنگونو کې ماتې وخوړه او ډېر لوړ پوړي افسران يې ووژل شول، نو دوی يې د کابل (بالاحصار) او د (چارچتې) مشهور بازار په غچ کې وسوځول، د دویم جنگ په وروستیو کې چې کله هم عبدالرحمن خان له (سلو زرو) مجاهدینو سره یوځای کابل ته داخل شو، بالاحصار ویجاړ شوی و او دلته د حاکم لپاره کوم ځای نه و، نو ده یو وخت په (علي مردان بڼ) او یو څه وخت په (علي اباد) کې تېر کړ. پر (۱۸۸۲م) کال يې د ارگ د ماڼۍ بنسټ کېښود او تر ډېره حده، دی دا مهال له هغو ودانیو څخه متاثره و چې به (بخارا) کې يې لیدلې وې. خو کله چې دی کابل ته داخل شو، ده د خپلې استوگنې لپاره ځای نه درلود، دی په خپل یو یادښت کې لیکي: ((پر تخت د ناستې پر وخت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوې سترې ستونزې سره مخ شوم، د اوسېدو لپاره مې کور نه درلود، هغه پلرنۍ ودانۍ چې په بالاحصار کې وه، له انګلیسانو سره د جګړې پر مهال انګلیسي لښکرو ورانه کړې وه، په کرایه هم کور نه پیداکېده چې په کې ژوند وکړم، ځکه چې په افغانستان کې هوټل او مېلمستون نه شته، زما په اند په تاریخ کې به داسې هېواد نه وي چې پاچا یې د خوب او بیدېدلو لپاره ځای ونه لري، تر هغه چې په خپل نوم مې د یوې ودانۍ د جوړېدو چارې بشپړولې، د ولسي خلکو په کورونو کې اوسېدم)).**

**د ارګ د بنسټ ایښودلو کره نېټه (۱۳۰۰هـ ق) کال دی، امیر عبدالرحمن خان خپل مشر زوی (سردار حبیب الله خان) ته دنده وسپارله چې د ارګ د جوړولو په موخه ماهر انجنیران دعوت کړي، هغه هم دا کار وکړ، خپله امیر هم د ارګ د جوړولو چارې څارلې، لومړنۍ ودانۍ یې پر (۱۳۰۴هـ ق) کال بشپړه شوه، چې د (کوټې باغچې) په نامه یادېږي. وروسته یې، (د ارګ ودانۍ)، (سلامخانه ماڼۍ)، (ګنبد نقارخانه)، د (ارګ بازار) او (کوتوالي)، (شاهي چاونۍ یانې قرارګاه)، (رساله شاهي)، (شاهي حمام)، (مستوفي الممالک دفتر)، (د سلامخانې ماڼۍ مخکنی واټ) او نور تاسیسات جوړ شول. چې دا ټول بیا د امیرعبدالرحمن خان په فرمان (د ارګ مبارکه دارالسلطنه) په نامه یاد شول او وروسته بیا د کابل ارګ په نامه مشهور شول. د ارګ جوړونې نږدې (۳۰) کلونه ونیول چې افغاني او یو شمېر بهرنیو انجنیرانو**



(امیر عبدالرحمن خان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې کار وکړ. د ټولو کارګرانو شمېر (سل زره) کسانو ته رسېده. خپله امیر هم د انجنیرۍ او ودانۍ ډېر شوقمن و، ځینې ودانۍ ده، خپله ډیزاین کړي دي. امیر په خپل اثر (تاج التواریخ) کې لیکي: ((زما ټول استوګنځي په داسې ځایونو کې جوړ شوي، چې ښکلې منظرې لري او د خوشالونکې او معتدلې هوا په ځایونو کې دي. د نوموړو ودانیو شاوخوا بڼونه او ګل بوټي دي او داسې جوړې شوي دي چې په یوه ودانۍ کې ژمنۍ تودې خونې او د اوړي لپاره په کې لویې کړکۍ هم وي، د خونو ترتیب داسې دی چې په پسرلي کې د ونو ګلان او په مني کې د پاڼو ډول ډول رنګونه د خونې له کړکیو تر سترګو کېږي او د شپې د سپوږمۍ له ځلا څخه د خوند اخیستلو لپاره او د ژمي د واورې له اورښت څخه چې ډېره ښکلې برېښي، د خوند اخیستلو لپاره په دې ودانۍ کې د کړکیو څنګ ته ناست کسان پر څنډه وي. عموماً په خپله اوړی، پسرلی او منی له ښاره بهر تېروم، ترڅو اوونیو پورې په کېږدیو کې اوسېږم او دا کېږدۍ په داسې ځایونو کې درول چې له هغه ځایه ټول ښکلي ګلان، د لمر پرېوتو وړانګې او سوروالی او د مني ژېړ رنګونه تر سترګو کېږي، تل مې ښکلې منظرې، ګلان او شینکي، خواږه غړونه، انځورونه او هر ډول ځیز، چې به طبیعي توګه ښه برېښي، خوښ وي.))

ارګ د خپل جوړښت په بهیر کې بېلابېلې مهمې ودانۍ راخپلې کړې، ښکلا او ځلا یې زیاته شوه، ښه به وي چې دلته په لنډیز سره د ارګ د ځینو مهمو ودانیو یادونه وکړم:

۱ - **کوټې باغچه:** کوټې باغچه د ارګ لومړنۍ داخلي ودانۍ ده چې په دوو پوړونو کې تقریباً درې سوه متره مربع ځمکه کې په دایروي شکل جوړه شوې ده. (۱۵) وړې، متوسطې او لویې خونې لري چې په شاهي نظام کې سردار عبدالولي خان، د داودخان د کودتا تر نږدې ورځو پورې ژوند په کې کاوه. په منځ کې یې د ګنبدې په شکل دایروي دهلېز دی چې چت او برنډه یې ښکلې میناتوري شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم پوړ کې یې کوچنۍ کوچنۍ ښکلې خونې جوړې شوي چې هرې خوا ته کړکۍ لري. د دې ودانۍ د جوړونې کار پر (۱۳۰۴هـ ق) کال بشپړ شو. د کوټي باغچې د دویم پوړ په ختیزه کوچنۍ خونه کې پخوا (موی مبارک) هم و چې ویل کېږي د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) مبارک



(کوټي باغچه)

وېښته دی. د ارګ ځینې پخواني کارکوونکي وايي چې دا وېښته په تنظیمي جګړو کې ترې تم شوی دی. د کوټي باغچې له یوې برخې څخه یو وخت د موزیم کار هم اخیستل شوی دی. پر (۱۳۰۳ ل) کال د کابل موزیم له باغ بالا څخه شاهي ارګ ته ولېږدول شو او شپږ کاله په کوټي باغچه کې پاتې شو. کوټي باغچه هم د ارګ د نورو ودانیو په شان د عیش او عشرت، جنګ او نفرت خپل تاریخي بهیر لري. کله چې د محمدنادرشاه په وخت کې حرمسرای ترمیمېده، نو اعلیحضرت محمدنادرخان په کوټي باغچه کې اوسېده، همدا راز مارشال شاه ولي خان هم د کوټي باغچې د دویم پوړ د شمالي برخې په برنډه لرونکې کوټه کې اوسېده. کله چې اعلیحضرت محمدنادرخان شهید شو، د ده جنازه یې کوټي باغچې ته راوړه، کټ یې د کوټي باغچې د انګړ په منځ کې د منځ تر ونې لاندې کېښود چې دلته یې د وینو څاڅکي هم توی شول، بیا دغه ځای په نښه شو او درناوی به یې کېده.

له کوټي باغچې څخه کله کله د ارګ د زندان کار هم اخیستل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اسدالله سراج چې د حبیب الله کلکاني د واکمنۍ پر مهال په ارګ کې زنداني و، په خپل کتاب (رویدادهای مهم زندگی اعلیحضرت محمد نادرشاه شهید) کې لیکي: ((محمد نعیم خان و من نزد عایله به کوتی باغچه در قسمتیکه دواخانه ارګ واقع بود، امدیم و همه متعلقین را به صحت و عافیت یافتیم، ساعتی بعد هم اطاقیان ما را نیز انجا اورده و در عمارتیکه مقابل دواخانه واقع شده بود، جا دادند.))**

**د محمد داودخان تر کودتا وروسته جنرال سردارعبدالولي د کوټي باغچې د دویم پوړ تر زینو لاندې په کوچنۍ کوټه کې بندي و. دغه راز حفیظ الله امین، نورمحمد تره کی د کوټي باغچې د لومړي پوړ په کوچنۍ کوټه کې چې اوس په کې د مرکز ګرمۍ ماشین ایښودل شوی دی، بندي کړی و، چې وروسته یې هلته وواژه.**

**۲ - حرمسرای: د ارګ بله مهمه ودانۍ چې د ارګ د جومات شاته موقعیت لري، (حرمسرای) یا د پاچا استوګنځی دی. دا یوه دوه پوړیزه**



(حرمسرای)

**ودانۍ ده چې څلور لوړ او پلن دېوالونه ترې چاپېر دي، حرمسرای اووه لویې او کوچنۍ خونې، دوبي خانه، خیاط خانه، د سینما لوی هال، پراخه برنډه او پراخه تلخونه (زېرزمیني) لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعي خبره ده چې د هر پاچا د کورنۍ غړي همدلته اوسېدل، تر ټولو ډېر عمر په کې اعلیحضرت محمدظاهر شاه تېر کړ، د خلکو دیموکراتیک ګوند د واکمنۍ پر مهال د نورمحمد تره کي او ببرک کارمل کورنۍ دلته نه اوسېدلې، حفیظ الله‌امین، تاج بېګ ماڼۍ د استوګنې لپاره غوره کړې وه. د ډاکتر نجیب الله کورنۍ هم دلته نه اوسېدله. د تنظیمي جګړو پر مهال هم ارګ د اوسېدو نه و، د طالبانو د حاکمیت پر مهال هم ملاعمر هېڅکله؛ نه دی او نه یې د کورنۍ غړي حرمسرای ته راغلل. د طالبانو د نظام تر سقوط وروسته تر هغه پورې چې موقته اداره جوړېدله، په خپله استاد برهان الدین رباني نږدې دوه میاشتې همدلته اوسېده، خو همدا مهال د یونس قانوني، محمدقسیم فهیم او ډاکتر عبدالله د زیات فشار له امله استاد رباني مجبور شو، حرمسرای پرېږدي. د کرزي د حاکمیت په پیل سره حرمسرای بېرته پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهرشاه ته حواله کړای شو. اعلیحضرت د خپل ژوند ترپایه همدلته اوسېده، همدې حرمسرای کې مړ شو او جنازه یې له همدې ځایه پورته شوه، ورپسې یې زوم؛ (سردارعبدالولي) هم دلته اوسېده، هغه هم همدلته مړ شو او جنازه یې له همدې ځایه پورته شوه. د سردارعبدالولي تر مرګ وروسته هم حرمسرای د شاهي کورنۍ د غړو په اختیار کې پاتې شو.


۳ - **دلکشا ماڼۍ:** دلکشا ماڼۍ د ارګ بله پخوانۍ ماڼۍ ده چې د امیرحبیب الله خان د واکمنۍ پر مهال جوړه شوې ده. د (۱۲۹۰ل) کال د وږي پر میاشت یې بنسټ کېښودل شو او د (۱۲۹۵ل) کال د وږي پر میاشت رسماً پرانیستل شوه.

ویل کېږي چې د دې ودانۍ اوسپنیز چوکاټ یې له هندوستانه په فیلانو راوړی و. د دلکشاه هره خونه شل متره اوږدوالی او (۹) متره سور لري، په (۶۰۰) متره مربع ځمکه کې جوړه شوې او هره خونه یې (۱۰) متره ارتفاع لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دلکشا ماڼۍ د افغانستان د ډېرو سیاسي پېښو شاهده ده؛ (شاه امان الله خان) په هېواد کې د وینو د تویېدو د مخنیوي لپاره په همدې ماڼۍ کې له خپلې پاچاهۍ لاس په سر شو او استعفا یې وړاندې کړه. دلکشا ماڼۍ ته هم د**



**(دلکشا ماڼۍ)**

**بېلابېلو جګړو پر مهال زیات زیانونه اړول شوي دي.**

**۴ - ګلخانې ماڼۍ: د ارګ د اساسي او مهمو ماڼیو له جملې څخه بله مهمه ماڼۍ د ګلخانې ماڼۍ ده. دغه ماڼۍ د ارګ د کلا په شمال لویدیځ کې د اعلیحضرت محمد شاهرشاه د واکمنۍ پر مهال په نوي شکل جوړه شوه. ویل کېږي دلته به پخوا د دربار لپاره ګلان ساتل کېدل او دا ځای یوازې ګلخانه وه، خو د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه یوه لمسۍ وایي چې دلته یوازې شیشه خانه وه، ځکه یې ګلخانه بلله. وروسته د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه د واکمنۍ پر مهال دلته ماڼۍ جوړه شوه او هماغه پخوانی نوم پرې کېښودل شو.**

**ګلخانه په اول پوړ کې د طعام خوري لوی سالون، ویډیو کنفرانس خونه، د مېلمنو د انتظار خونه، د چک لپاره خونه او یو بل ریزرفي دفتر لري چې کله ناکله جمهور رییس ترې کار اخلي او همدا راز په دویم پوړ کې د کابینې د غونډو لوی سالون، بل نسبتاً ووړ سالون چې له لوی سالون څخه زینې ورختلي او اوسنی جمهور رییس (حامد کرزی) کله ناکله د سهار چای په کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنبي، نسبتاً واړه مجلسونه په کې جوړوي او اکثراً خپله دوه اوونیزه راډیویي وینا هم دلته لولي، چې تر ثبت وروسته د راډیو افغانستان له خوا خپرېږي.

په همدې ودانۍ کې د جمهور رییس دفتر، استراحت خونه، د خاصو ملاقاتونو لپاره دوه اتاقونه او د هغه د سکرترانو دفترونه موجود دي. د جمهور رییس دفتر ته له حرمسرای څخه هم لار ورغلې چې اعلیحضرت ظاهرشاه به اکثراً دفتر ته د راتګ پر وخت کاروله.



(د ګلخانې مانۍ د غونډو تالار)

په دې مانۍ کې پخوا هم د پاچا رسمي دفتر و او زیاتره لیدنې کتنې به هم همدلته تر سره کېدې. ګلخانې مانۍ کې اوس هم د افغان جمهور رییس دفتر دی، د وزیرانو شورا غونډې هم همدلته جوړېږي او ځینې نورې کوچنۍ غونډې او ملاقاتونه هم په همدې مانۍ کې تر سره کېږي.

دا مانۍ د ډېرو خونړیو پېښو شاهده هم ده، د افغانستان لومړنی جمهور رییس (سردار محمدداودخان) د ثور په کودتا کې همدلته ووژل شو، هغه وخت د کابینې د مجلس لپاره هغه سالون کارول کېده چې په لومړي پوړ کې واقع دی او اوس د ډوډۍ د اتاق کار ترې اخیستل کېږي. کله چې د ثور کودتا پیل شوه، داود خان همدلته له خپلو وزیرانو سره مجلس درلود. د کابینې اوسنی سالون د ډوډۍ د اتاق په توګه کارول کېده، په کودتاګانو کې به پر همدې مانۍ بمباری کېدلې او د دواړو خواوو تر منځ به په همدې مانۍ کې وسله والې نښتې کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلک دیموکراتیک گوند د واکمنۍ پر مهال د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین د خپلمنځي اختلافاتو له امله، حفیظ الله امین ته ډېر نږدې کس (داود تړون) د همدې گلخانې ماڼۍ د زینې په پوړیو کې ووژل شو. په تنظیمي جگړو کې به د حکومت مخالفینو لومړی همدا ماڼۍ په نښه کوله. د دې جگړو پر مهال د دې ودانۍ مخې ته هم څو توغندي لگېدلي چې د ودانۍ پر ډېرو یې جوړ شوي ټپونه اوس هم د جگړې تصویر وړاندې کوي.

۵ - د سلامخانې ماڼۍ: د ارگ له نورو مهمو تاریخي ودانیو څخه ده. د سلامخانې تاریخي ماڼۍ د ارگ تر کلا بهر په پخواني سبک جوړه شوې یو پوړیزه ودانۍ ده. د سلام خانې ماڼۍ چې په هغې کې د جشنونو او اخترونو



(د سلامخانې ماڼۍ

مراسم هم تر سره کېدل، د ارگ د ختیزو دروازو په خوا کې جوړه شوې او په همدې ودانۍ کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د ملي شورا غونډه هم جوړه شوې ده.

دې ماڼۍ ته ځکه سلامخانه وایي چې دا هغه وخت په اخترونو او جشنونو کې د رعیت د سلام د منلو په خاطر جوړه شوه. د سلامخانې ماڼۍ (۱۲۰متره) اوږدوالی، (۴۰ متره) سور او (۲۰ متره) ارتفاع لري. په دغه قصر کې پر یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت (۱۰۰۰) تنه ځايېږي. د ماڼۍ دننه برخه د افغانستان د ملي مشرانو په عکسونو ښکلې شوې ده. ددغې ماڼۍ دېوالونه له خامو خښتو څخه د يو نيم متر په سور ودان شوي دي. ددغې ماڼۍ ترڅنګ يوه کوچنۍ چايخانه، د طعام د وېشلو ځای او تشنابونه موجود دي. د اعليحضرت محمد نادرشاه د واکمنۍ پر مهال د افغانستان لومړنۍ ملي شورا پر (۱۳۰۹ لمريز) کال په همدې ماڼۍ کې پرانيستل شوه. په همدې ماڼۍ کې ځينې لويې جرګې هم جوړې شوي دي. اوس هم په دې ماڼۍ کې د جمهور رييس د لوړې مراسم او له خلکو سره د جمهور رييس کتنې تر سره کېږي. کله چې د بهرنيو هېوادونو مشران افغانستان ته راشي او جمهور رييس وغواړي د دوی زيات عزت وکړي، نو زيات شمېر ملي شخصيتونه او بهرني ديپلوماتان په همدې ماڼۍ کې لويې مېلمستيا ته راغواړي.

پر (۱۳۹۰ ل) کال ددغې ماڼۍ جنوبي څنډې له سره ورغول شوې، برنډه يې له سره جوړه شوه، کړکۍ او دروازې په کې کېنول شوې. په اتيايمو کلونو کې د سلامخانې ماڼۍ مخې ته شنه سيمه او پارک جوړ شول چې چمن او ګلان په کې وکرل شول. د ډاکټر نجيب الله د واکمنۍ پر مهال په دې ماڼۍ کې لويه جرګه هم جوړه شوې وه.

سلامخانې ماڼۍ ته د تنظيمي جګړو پر مهال سخت زيانونه واوښتل، د دې لويې ودانۍ مخې ته يوې بلې کوچنۍ ودانۍ موقعيت درلود، چې د همدې ودانۍ ملحقات ګڼل کېدل، ويل کېږي چې د تنظيمي جګړو پر مهال د استاد برهان الدين رباني او احمدشاه مسعود د پټو اختلافاتو له امله، دلته يوه لويه چاودنه رامنځته شوه. استاد رباني دا مهال د جمهور رييس رول تمثيلوه او احمدشاه مسعود ته يې داسې ښودله چې ته ګنې زما يو قوماندان يې او ماسره د (اسمعيل خان) په شان نور ګڼ شمېر قوماندانان هم شته. احمدشاه مسعود چې دا مهال له حکمتيار سره پر جګړه بوخت و، د استاد رباني د جنګي ماشين اصلي محرکه قوه وه، په تنظيمي نظام کې يې لومړۍ خبره خپل حق ګاڼه، نو د سلامخانې ماڼۍ په شمالي څنډه کې يې ډېر پوځي مهمات او چاودېدونکي توکي ځای پرځای کړي وو. له استاد رباني سره يې د اختلافاتو د زياتېدو پر مهال دا مهمات والوځول. د ارګ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاریخ کې دا دومره لویه چاودنه وه چې تر دې دمه یې ساری نه و لیدل شوی. د سلامخانې ماڼۍ دا سیمه د حامدکرزي د واکمنۍ تر وروستیو کلونو پورې هم جوړه نه شوه او لا هم ترې یوه شنه پرده راتاو ده او پر دې ځای د یوه تېر شوي ناورین تصویر تداعي کوي.

د ستوري ماڼۍ، لومړۍ نمبر ودانۍ، دویم نمبر ودانۍ، ډبرینه ماڼۍ، چهارچنار ماڼۍ، اداري ماڼۍ، د ارشیف ودانۍ، د ارګ جومات، د ارګ بېلابېل برجونه او ځینې نورې ودانۍ هم د ارګ اساسي ملحقاتو کې راځي چې د ټولو له څېړلو تېرېږو، لوستونکي کولای شي د تفصیل لپاره په دې باب (د ارګ نن او پرون) مهم اثر او همدا راز په دې اړه نور اثار ولولي.

د وروستۍ پایلې په توګه ویلای شو چې زموږ ارګ د خپل عظمت او جلال ترڅنګ له وحشت، وژنو، ظلم او ستم څخه ډک تاریخ هم لري. د څو پاچاهانو: اعلیحضرت محمد نادر خان او اعلیحضرت محمد ظاهر شاه جنازې له همدې ځایه پورته شوې، حبیب الله کلکانی هم همدلته بندي و او له دې ځایه یوړل شو او په دار وځړول شو، داود خان او د هغه د کورنۍ غړي همدلته ووژل شول، نورمحمدتره‌کی هم همدلته ووژل شو، حفیظ الله امین له ارګه په مهارت وایستل شو او په (تاج بیک ماڼۍ) کې ووژل شول. ډاکټر نجیب الله او ورور یې د همدې ارګ په ختیزه څنډه کې په دار وځړول شول، استاد رباني ارګ ته نږدې په (وزیراکبرخان مېنه) کې ووژل شو، خو جنازه یې له ارګه پورته شوه او همداسې په لسګونو نورې وژنې د ارګ په پاڼو کې ثبت دي.

نوپه دې ډول ویلای شو چې ارګ نه یوازې د افغان شاهانو استوګنځی او استراحت ځای و، بلکې د هغوی شکنجه ځای او وژنځای هم و، دلته له کلونو خونړیو تجربو وروسته له (ارګ) سره د (مرګ) کلمه مرتبطه ګڼل کېږي، د تنظیمي جګړو پر مهال به هم د ځینو تنظیمي عناصرو په خوله دا شعار زمزمه کېده چې: ((یا ارګ یا مرګ))، نو ځکه خو په دې باب یو ځانګړی اثر (ارګ یا مرګ) هم ولیکل شو چې لوستونکي کولای شي، هغه هم ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم څپرکی

# د حامد کرزي پېژندګلوي

تر هغه پورې چې سړی یو څوک سم ونه پېژني، د هغه په باب پوره قضاوت کول هم څه اسانه کار نه دی، یو څوک بیا هغه وخت ښه پېژنې چې کار ورسره وکړې او چې ویې نه پېژنې کار ورسره نه شې کولای. ښاغلی حامد کرزی د هغو شخصیتونو له جملې څخه دی چې ډېرې ښېګڼې لري، خو نیمګړتیاوې هم لري. دا نیمګړتیاوې، کمزورتیاوې او بریاوې هغه وخت ښې احساسېدلای شي چې له داسې شخصیتونو سره له نږدې کار وشي. کله چې



(ولسمشر حامد کرزی)

څوک یو چا سره له نږدې کار وکړي، نو د هغو د شخصیت پر بېلابېلو رازونو او رمزونو پوهېږي. مجبوریتونه یې هم سړي ته معلومېږي، فکري عملي قوت، عقیده یې جوهر او لنډه دا چې د شخصیت جوړونې بېلابېل عناصر یې ټول څرګندېږي. له حامد کرزي سره زما پېژندنه له څوو پړاوونو تېرېږي. دلته یې هر پړاو ته لنډه لنډه اشاره کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حامد کرزي لومړۍ پېژندنه

حامد کرزی د (۱۳۳٦ لمریز) کال د لیندۍ پر (۹)مه نېټه د کندهار ولایت د اوسنۍ (ډنډ ولسوالۍ) په (کرز) کلي کې زېږېدلی دی. حامدکرزي خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د کابل ښار په (محمود هوتکي) ښوونځي او ثانوي زده کړې یې په (افغان سیدجمال الدین) او (حبیبیې) لیسو کې سرته رسولي دي. پر (۱۹۷٦ م) کال هندوستان ته تللی او د هند د (شملې) د(هماجال) پوهنتون د نړیوالو اړیکو او سیاسي علومو پوهنځي کې شامل او تر فراغت وروسته یې د ماسترۍ سند ترلاسه کړ.

خو زه خپله شخصاً د حامد کرزي له نامه سره په پېښور کې اشنا شوم، دا د طالبانو د نظام پړاو و چې ما په پېښور کې د نورو افغانانو په شان د نیمه



پروفیسور رسول امین او نور شخصیتونه، مخامخ ښي لاس ته لومړی شخص (حامد

کډوالۍ ژوند تېراوه. کله به په پېښور کې وم او کله هم په کابل کې. په پېښور کې به زه د ښاغلي پروفیسور رسول امین دفتر ته ورتلم، دا دفتر د (د

(c) ketabton.com: The Digital Library




ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه) نومېده، وروسته یې (د افغانستان د مطالعو مرکز) نوم ورکړ، د (وفا)په نامه یې یوه اوونیزه خپروله چې ښاغلی (سر محقق زلمی هېوادمل) یې مسؤل مدیر و. هلته بېلابېل تکنوکراتان او مخور راتلل او ځینې چې نه راتلل، نومونه یې یادېدل. د حامد کرزي د نامه په اړوند د هغه د پلار (عبدالاحد خان کرزي) له نامه سره زیات اشنا وم، عبدالاحد کرزی د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال (۱۳۴۸ل) کال په ملي شورا کې د کندهار د خلکو استازی او د شورا مرستیال و. عبدالاحدخان کرزي ته مې په دې خبره زیات احترام درلود چې د استاد برهان الدین رباني په جنجالي حکومت کې یې د قومونو او قبایلو چارو وزارت څوکۍ په خپله خوښه پرېښوده او ځان یې له حکومته لرې او خپل ولس سره یو ځای کړ. دا چې عبدالاحد خان کرزی د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په کوټه کې د نامعلومو اشخاصو له خوا ووژل شو، نو خلکو کې د هغه نوم او محبوبیت لاپسې زیات شو. د حامد کرزي له نامه سره دومره بلد وم چې د عبدالاحد خان کرزي مرحوم زوی او په هند کې یې خپلې لوړې زده کړې کړې دي. ځینو خلکو چې حامد کرزی یې پېژنده، د هغه د کرکتر په باب یې ښې او بدې خبرې کولې، یو چا څخه مې اورېدلي وو چې هغه سخت بې جرئته سړی دی، تصمیم نه شي نیولای. دا مهال څوک نه پوهېدل چې د حامد کرزي پر اوږه به د بخت عنقا کښېني، نو ځکه خو که داسې مهال هر ډول قضاوت وشي، له عدالت څخه لرې نه برېښي. ښاغلي سرمحقق زلمي هېواد مل له عبدالاحد خان کرزي سره پېژندل، په کوټه کې یې یوه ځانگړې مرکه هم ورسره کړې او په (وفا) اخبار کې یې خپره کړې وه. سرمحقق زلمی هېواد مل دا مهال د پروفیسور رسول امین د نړۍ لید له مخې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه سرسخت پلوی و، هر هغه څوک چې د اعلیحضرت پلوی و، ده به یې پلټنه کوله، له هغه څخه به یې د اعلیحضرت په پلوۍ مرکه رااخیستله او په (وفا) اوونیزه کې به یې خپروله. له عبدالاحد خان کرزي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکه هم د (روم) د بهیر د تائیدونې او ستاینې د پرله پسې لړۍ یوه کړۍ وه. کله چې د طالبانو او امریکایانو ناندرۍ، پوځي جگړې ته ورسېدې، نو یو زیات شمېر ملتپال افغانان په وېره کې وو؛ هسې نه چې د طالبانو او امریکایانو د ټکر په نتیجه کې پخوانۍ شمالټلواله یو ځل بیا واک ته ورسېږي او دا حالت به پښتنو او په ټوله کې ټولو افغانانو ته لوی سر خوږی پیدا کړي. یوازینی سړی چې دا وخت ورته د امید سترگې اوښتې چې د طالبانو ځای به ونیسي، هغه (قوماندان عبدالحق) و. قوماندان عبدالحق چې هم یې جهاد کې ښه نوم درلود، هم یې په پښتنو کې قومي ریښې درلودلې، هم غرب ته د منلو وړ و، هم یې تر جهاد وروسته کورنیو جنگونو کې برخه نه وه اخیستې او هم یې دا مهال په پېښور کې خپل دفتر او سیاسي فعالیت درلود، نو ټولو ورته هیلې درلودلې که رښتیا ووایم نو ما هم د شمالټلوالې د مخنیوي لپاره همدې مرحوم (حاجي عبدالحق) ته هیلې لرلې. دا مهال ما د پېښور ښار (گل حاجي پلازا) کې دفتر درلود او د (هیلې) مجلې د چاپ په گډون مې یو شمېر نور فرهنگي کارونه تر سره کول. نه مې قوماندان عبدالحق سره پېژندل او نه مې هم کله لیدلی و، خو په همدې ورځو کې مې کوښښ کاوه کوم بلدي کس پیدا کړم چې له قوماندان عبدالحق سره راته د کتنې زمینه برابره کړي، خو زما نیت لا عملي کېدو ته پاتې و چې رسنیو خبر خپور کړ؛ قوماندان عبدالحق د طالبانو له خوا ووژل شو. دې خبر ډېر وځورولم او هغه هیلې مې، چې د نورو افغانانو په شان په زړه کې روزلې، هغه ټولې مړاوې شوې.



(قوماندان عبدالحق)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دا نو داسې مهال دی چې جګړه ورځ پر ورځ ګرمېږي او د طالبانو د نظام شپې ورځې رالنډېږي. هېڅ‌ا ته هم راتلونکی روښانه نه و، خو کوم څه چې روښانه برېښېدل، د طالبانو د نظام ړنګېدل او د شمالټلوالې احتمالي واکمني وه.**

**ماښومان مې په کابل کې وو، په همدې شپو کې کابل ته راغلم، درې څلور ورځې وروسته د طالبانو نظام ړنګ شو، د شمالټلوالې ملېشې کابل ته داخلې شوې، زه درې ورځې نور هم په کابل کې وم او بیا له خپلو ماشومانو سره پېښور ته لاړم، څه موده وروسته په جرمني کې د بن کنفرانس جوړ شو او په کنفرانس کې اعلان وشو چې یوه موقته اداره به جوړېږي او د دې ادارې مشر به ښاغلی (حامد کرزی) وي. ماته چې پخوا یو څا د حامد کرزي د کم جرئتۍ خبرې کړې وې او د شمالټلوالې زورواکي او ټوپکواکي مې په خپلو سترګو لیدلې وه، نو ما په زړه کې وویل: لکه چې دا وړۍ شړۍ نه شي،**




(د بن کنفرانس)

**خدای دې وطن ته خیر پېښوي. دا مهال بهرنۍ موسسې او پیسې افغانستان ته راماتې شوې، ما هم پېښور کې پر پخوانیو فرهنګي حق الزحمه یي کارونو سربېره له یو بهرني خبري اژانس سره چې د افغانستان لپاره یې کار کاوه، یو شپږ میاشتنی رسنیز کار پیدا کړ دې دندې د میاشتې پنځه ویشت زره (۲۵۰۰۰) پاکستانۍ کلدارې معاش درلود او کار یې هم ډېر اسانه و. ژوند مې له سره اعیار او پیل کړ. دا مهال دا ډېرې پیسې وې. کابل کې راته د شمالټلوالې د زورواکۍ له امله ژوند اسانه نه ښکارېده. نو ځکه مې پېښور کې لکه د نورو افغانانو په شان موقت ژوند مناسب او غنیمت وګاڼه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ننگرهار کې لومړنۍ دنده

پېښور کې مې لا مياشت دوه نه وې تېرې کړې چې (کاوون کاکړ) او ملگرى (جاوېد) يې زموږ دفتر ته راغلل. کاوون کاکړ سره مې لا دمخه پېژندل او پلار يې ښاغلى (پوهاند محمد حسن کاکړ) خو لوى عالم او د ټولو افغانانو د درناوي وړ شخصيت دى. هغوى زموږ دفتر ته راغلل، راته يې وويل، موږ خو تا پسې راغلي يو او له کوم دليل پرته به راسره راځې، کاوون کاکړ وويل: ((زه د ملگرو ملتونو استازى يم، د ختيزو ولايتونو مسؤليت يې ماته راکړى، نو ته بايد موږ سره لاړ شې، هلته د اضطراري لويې جرگې د جوړېدو لپاره يو دفتر جوړېږي، ته به ما سره لاړ شې، زما مشاور به شې او کارونه به په گډه پر مخ وړو.)) ما کاکړ صيب ته وويل: ((دا موقته اداره خو هسې د گپ اداره ده، کرزى صيب هېڅ صلاحيت نه لري، ټول واک شمالټلوالې سره دى، همدا نن مې هم پرې يوه ليکنه کړې، داسې ادارې سره زه هېڅ کار نه کوم.)) کاوون کاکړ وويل: ((که غواړې چې کار وکړې، خو راشه عملي مخې ته، شکايت او ليکنو څخه څه نه جوړېږي، دا چې ټول شکايت کوو او هغه نور کارونه کوي، دې څخه څه نه جوړېږي، نو راشه عملي کار ته راودانگه، ځايونه ونيسه.)) ما او کاوون کاکړ او د هغه بل ملگري (جاوېد) ډېر اوږد بحث وکړ، خو پايله دا وه چې د کاوون کاکړ خبرو زما د منطق مخه ډب کړه، زه يې قانع کړم، په پېښور کې مې پر نوي پيل کړي ژوند ډېره کېښوده، هر څه مې خوشې کړل، سره له دې چې مېرمن مې راسره موافقه نه وه. مېرمن مې راته ويلې چې: ((هلته خو دې گلانو ته ښې اوبه ورکړي! شمالټلواله دې چېرته کار او ژوند ته پرېږدي، واړه ماشومان دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، همدا ځای درته ښه و، هلته به بیا په جنجالونو سر یې....)) خو ما ویل، نه حتمي ځو، کډه مو بار کړه، (جلال اباد) ته راغلو، د ځو ورځو په بهیر کې مو په ډېره سختۍ کرایي کور پیدا کړ. ژوند مې په ډېرې سختۍ او د سوزنده ګرمیو په څپو کې پیل کړ. څو ورځې وروسته کاوون کاکړ د خپل مشاوریت پر ځای ماته د بېړنۍ لویې



(په ختیځ کې د کار د پیل لومړي وختونه)

جرګې لپاره په ختیزو ولایتونو کې د انتخاباتي دفتر مسؤلیت را پر غاړه کړ. دا یو ډېر جنجالي ولسي کار و، ما نه غوښتل چې دا مسؤلیت پر غاړه واخلم، خو دوی په زور پر ما تحمیل کړ. دوه میاشتې زیات و کم دې بهیر دوام وکړ. ښې پوره او کره ټاکنې مو وکړې، د لویې جرګې لپاره مو د هېواد د نورو سیمو په انډول په کم لګښت او ښه شفافیت سره نسبتاً ښه انتخابات وکړل. په کابل کې د ملګرو ملتونو مرکزي دفتر (یوناما)، د ختیزو ولایتونو له دفتر څخه خورا خوښ و او دا یې نورو زونونو ته د یوې ښې بېلګې په توګه وړاندې کاوه. له ختیزو ولایتونو څخه مو بېړنۍ لویې جرګې ته (۱۷۴) تنه وروپېژندل. قبایلو ته مو هم یوولس (۱۱) سیټونه ځانګړي کړل، متخصصو افرادو ته مو هم سیټونه ورکړل؛ (پوهاند محمد حسن کاکړ، ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال او زه محمد اسمعیل یون) دمتخصصو افرادو په استازۍ د لویې جرګې غړیتوب ته انتخاب شو. البته د متخصصو او کار پوه افغانانو انتخاب په ننګرهار کې د یوناما د دفتر او له کابل څخه د بېړنۍ لویې جرګې د کمېسیون د غړو له خوا، چې پوهاند عبدالعزیز او سید امین مجاهد یې غړي وو، د یو میکانیزم له لارې تر سره شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بېړنۍ لويه جرګه

د (۱۳۸۱ل) کال د جوزا مياشتې پر (۲۱)مه نېټه بېړنۍ لويه جرګه د کابل په (پولي تخنيک انستيتيوت) کې د لويې جرګې په کېږدۍ کې، چې د همدې جرګې لپاره په ځانګړې توګه جوړه شوې وه، دايره شوه. دا کېږدۍ بيا وروسته د لويې جرګې د خيمې په نامه ونوموول شوه. له ټول افغانستان څخه نږدې شپاړس سوو (۱۶۰۰) تنو افغانانو په کې ګډون کړی و. په پيل کې د جرګې د غړو د ټاکنې لپاره يو ځانګړی طرزالعمل عملي شو، خو وروسته بيا خبره د قانون او طرزالعمل له حدودو ووته؛ دولتي موثر افراد، واليان او نور انتصابي غړي هم جرګې ته داخل شول.



(د بېړنۍ لويې جرګې يو انځور)

زه چې کله جرګې ته لاړمه او د غړيتوب کارت مې واخيست، نو د لويې پکتيا، لوی کندهار او د شمال ولايتونو ځينو وکيلانو سره مې په جلا جلا ډول او هم په ډله ييزه توګه وکتل، هغوی سره مې پېژندګلوي هم وشوه او د شمالټلوالې او نورو وطن ضد عناصرو توطيې او پلانونه مې هم ورته تشريح کړل. اکثرو زما د خبرو ملاتړ وکړ او ويې ويل که څه خبره وه ته يې موږ ته مخکې تر مخکې وايه، موږ درته ولاړ يو. د لويې جرګې د مشرتابه هيئت د ټاکنې خبره مطرح شوه، اکثرو ماته وويل چې ته بايد ضرور يو پوست ته ځان کانديد کړې، ما د لومړي منشي پوست ته ځان نوماند کړ، اکثرو ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایه راکړه، زما رایې ان د جرګې تر دویم مرستیاله هم لوړې وې. تر دې مهاله زه نه ښاغلي حامد کرزي او نه هم ځینو نورو مطرحو شخصیتونو پېژندلم، خو د رسنیو له لارې د شمالټلوالې اکثرو مطرحو غړو پېژندلم او دې پوست ته هم زما پر انتخاب او هم زما پر دریځ خوشاله نه وو. خو څرنګه چې دا یو انتخابي پوست و، نو د دوی هم زور نه رسېده، سره له دې چې خپل استازي یې ودرولي وو، خو له محمد اسمعیل قاسمیار پرته یې، چې د کرزي هم خوښ و، نور څوک یې بریالي نه کړای شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جرګې منشیتوب او ښاغلي کرزي سره لومړۍ کتنه



(ډاکټر محمد اعظم دادفر)

کله چې زه د بېړنۍ لویې جرګې لومړی منشي شوم او سهار وختي نتیجه اعلان شوه، نو د همغې ورځې پر ماسپښین حامد کرزی د لویې جرګې خېمې ته راغی، هلته په یوه وړه کېږدۍ کې د جرګې له مشرتابه هیئت سره کېناست، په مشرتابه هیئت کې (محمد اسمعیل قاسمیار، سیما سمر، محمد اعظم دادفر، زه (یون) او ښاغلی محمد نعیم مجروح) شامل وو. د نیم ساعت لپاره به مو ښاغلي حامد کرزي سره کتلي وي. ډېر خوشاله او چالاکه معلومېده، همدا یې ویل، څه مشکل خو نه شته؟ مشکل خو نه شته؟، موږ وویل، نه هېڅ مشکل نه شته، بیا یې وویل، خپله اجنډا تطبیق کړئ، خپل کارونه پر مخ بوځئ، که څه مشکل وي ووایئ، له ټولو یې پوښتنه وکړه، ټولنیز چلند یې خورا ښه و،




(سیما سمر)

دې وخت کې قاسمیار صیب څه وویل، هغه باندې یې یوه پټکه وکړه؛ هېڅ شی نه شته، هېڅ خبره نه شته، خپل کار کوئ، ډېرو خبرو پسې مه ګرځئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قاسمیار هم خپله خبره بېرته واخیسته. د ورځې په پای کې د انتقالي ادارې د مشر لپاره د همدې رییسه هیئت تر نظر لاندې ټاکنې وشوې. حامد کرزی بیا د (۱۸) میاشتو لپاره یا تر انتخاباتي حکومت پورې د دې ادارې د مشر په توګه انتخاب شو. دا چې جرګه څه ډول وه، ولسواکه وه، که زورواکه؟ که زور او زر په کې کارېدل؟ د نوې ادارې مشر خلکو سره هلته څه ډول وعدې او معاملې وکړې؟ د جرګې د مشرتابه



(محمد اسمعیل قاسمیار)

په ټاکنو کې چا څه ډول مداخله وکړه؟ دا بېلابېل بحثونه دي چې ما په خپلو نورو اثارو او لیکنو په تېره بیا (بېړنۍ لویه جرګه، ولسواکي او زورواکي) کې تشریح کړي، نه غواړم چې هغه دلته راوړم. خو له ښاغلي کرزي سره زما د لومړۍ کتنې یادونه ضروري وه. په همدې لومړۍ کتنه کې ماته پته ولګېده چې دې سړي سره د هر چا ګوزاره کېږي، ټولنیز چلند یې خورا ښه ،خو سیاسي چلند یې له معاملو ډک او د زور تابع ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریېم څپرکی

# اړیکي

د هر کار لپاره اړیکي یا مناسبات خورا مهم دي، په تېره بیا د سیاسي او ټولنیزو کارونو لپاره، د اړیکو ساتل او پالل او پراختیا خورا مهمه او ضروري خبره ده. کله چې مې په ببړنۍ لویې جرګې کې له حامد کرزي سره وکتل نو بیا د ژر کتنې زمینه برابره نه شوه. کله چې جرګه ختمه شوه، نو پر همغه ورځ د ملګرو ملتونو د دفتر (یوناما) مرستیال (جان ارنولد) ماته وویل، چې په کابل کې ستاسو ژوند په خطر کې دی. باید له خپلې کورنۍ سره جلال اباد ته لاړ شې. زما مېرمن (ارین یون) هم د بېړنۍ لویې جرګې غړې وه او هم په ننګرهار کې د یوناما په دفتر کې د ښځو چارو مسؤله. نو موږ د ملګرو ملتو له خوا په کرایه شوې الوتکه کې چې د جرګې نور غړي هم په کې سواره وو، د جرګې د ختم پر لومړۍ ورځ له کابله جلال اباد ته راغلو. د جرګې دفتر هم ختم شو او زه بې برخلیکه پاتې شوم، کابل ته تګ هم راته د ځینو امنیتي مشکلاتو له امله مناسب نه ښکارېده او جلال اباد کې هم دنده نه وه. له کابل پوهنتون څخه مې یو کال بې معاشه رخصت واخیست، بېرته مې پر خپلو فرهنګي کارونو ګوتې ووهلې، د جلال اباد اداره هم دلته زما له اوسېدو سره چندان خوشاله نه وه. دا اداره دا مهال یوه ګډوله اداره وه چې د شمالټلوالې د اړوندو اشخاصو واک په کې زیات و. له (حاجي دین محمد) سره مې، چې دا مهال د پخواني والي (مرحوم حاجي قدیر) ځای ناستی و، وکتل، هغه راته وویل: ((زموږ کورنۍ ډېرې قربانۍ ورکړي؛ حاجي عبدالحق شهید شو، حاجي قدیر شهید شو، زما زوی ساحل شهید شو، موږ د نورې زیاتې قربانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس نه لرو))، نو هدف يې دا و، که زه (یون) جلال اباد کې خپل فعالیتونه کم کړم ښه به وي. د حاجي دين محمد مقصد دا و که زه (یون) په جلال اباد کې هر ډول فعالیت وکړم او په کابل کې د واکمنې شمالټلوالې پر مزاج برابر نه وي، نو هغوی به يې له ده (حاجي دين محمد) څخه انگېري او ده ته به نور زیانونه متوجه کړي، خو (حاجي ظاهر قدیر) او (جنرال سید اغا ثاقب) چې دا مهال په جلال اباد کې د ولایت د مشرتابه او امنیتي شورا غړي وو، زما ټینگ ملاتړ وکړ او دا کار د دې سبب شو چې زه په جلال اباد کې هم فرهنگي کارونه تر سره کړم او هم څه ناڅه ټولنیز او سیاسي کارونه. په جلال اباد کې مې (د ختيزو ولايتونو ولسي جرگه) په نامه یو ټولنیز، سیاسي بنسټ جوړ کړ، د (افغان ولس د سوکالۍ ټولنه) مې هم جوړه کړه. د ځینو خپرونو د پیل اراده مې وکړه. بېرته مې کارونه سره منظم شول. همغه دفتر چې د بېړنۍ لویې جرگې دفتر و، بېرته مې په کرایه ونیو او په کار کې مې کومه ډېره وقفه رانغله، ټولنیز او سیاسي مناسبات مې هم ورځ تر بلې پراخېدل. له دې مناسباتو څخه ښاغلی کرزی هم خبرېده، کله به پرې خوشالېده او کله به هم پرې خفه و. نور يې نو بیا د دربار په جارچیانو پورې اړه لرله چې هغوی يې څه ډول تصویر وړاندې کاوه، څو ځله يې پوښتنه هم کړې وه چې هغه د جرگې منشي څه شو، خورا بیدار و. خو چا ورته زما مثبته یادونه نه وه کړې، خو د ده په ذهن کې زما د فکر یو تصویر پاتې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اساسي قانون بهیر

کله چې د اساسي قانون لپاره د تدراک کمیسیون جوړ شو، نو (ډاکتر فاروق وردګ)د دې کمیسیون د دارالانشا مشر شو، (کاوون کاکړ) هم ورسره کار کاوه او د ملګرو ملتونو همغه ټیم هم چې د (بېړنۍ لویې جرګې) په جوړونه کې یې ونډه لرله. زما د ټولنیزو او سیاسي کارونو په اړه یو شمېر دولتي چارواکو سره کینه او اندېښنه وه، خو زما تېرو کارونو ته په کتو سره، زه یو ځل بیا په ختیزو ولایتونو کې د اساسي قانون د لویې جرګې د جوړېدو د بهیر د دارالانشاء مسؤل شوم، فاروق وردګ او ځینو نورو دوستانو هم دا کار غوره وباله. (۱۳) میاشتې مې د اساسي قانون د تدارک، تدقیق، نظر پوښتنې او ان د لویې جرګې تر جوړونې پورې په دې ټول بهیر کې فوق العاده منډې ترړې وکړې، ان تر دې پورې چې هر پروګرام به په کابل کې تر سره کېده او یا به ملګرو ملتونو د اساسي قانون او په تېره بیا د لویې جرګې د جوړېدو لپاره کومه غونډه یا طرحه جوړوله، نو د ختیزو ولایتونو د دفتر په استازۍ به زما حضور په کې حتمي او ضروري و. زموږ نظریې او طرحې تر ډېره حده اورېدل کېدې او منل کېدې، ان د اساسي قانون د لویې جرګې د غړو د ترکیب په باب هم زموږ طرحه ومنل شوه او همدارنګه د ټاکنو د څرنګوالي په باب چې لګښت یې کم او کار یې اسان و. زموږ له کارونو څخه نه یوازې د دارالانشاء مرکزي دفتر او (یوناما) خوشاله وو، بلکې ښاغلی حامدکرزی هم خوشاله برېښېده. همدا مهال و چې له ښاغلي کرزي سره زما رابطه ټینګه شوه. د ځانګړو ملاقاتونو زمینه برابره شوه. یو ځل د ښاغلي (میرویس یاسیني) چې دا مهال یې له ښاغلي کرزي سره ښه روابط درلودل، یو ځل د (انجنیر محمد ابراهیم سپین زاده) چې کرزي صیب ته نږدې کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



و، یو ځل د ښاغلي (سر محقق زلمي هېواد مل) چې دا مهال د ولسمشر د فرهنګي چارو مشاور و او یو ځل نیم هم د هغه د ځانګړي اعتباري سکرتر ښاغلي (شیدا محمد ابدالي) له خوا د ځانګړو ملاقاتونو زمینه برابره شوه. په دې بهیر کې څو ډله‌ییز ملاقاتونه هم وشول چې په هغو کې نه د زیاتو او نه هم د ځانګړو خبرو اترو زمینه برابره وه. خو په ځانګړو ملاقاتونو کې د نظر ډېره او ښه تبادله کېدله. همدې ملاقاتونو د ولسمشر په ذهن کې زما د نظر عمومي تصویر کېناوه. دې کار نو د یو شمېر هغو اشخاصو د تخریب مخه ډب کړه چې غوښتل یې د ولسمشر په نامه او یا د هغه له خوا ماته ستونزې جوړې کړي. په تېره بیا دې خبرې د یو شمېر خلکو په غوږونو کې انګازه کړې وه چې ولسمشر په خپل کور کې په یوه ناسته کې ویلي وو چې (یون) ډېر سخت وطنپرست سړی دی، سخت د پاکستان ضد دی. کاشکې ټول همداسې وای. له ولسمشر سره زما روابط همداسې زیاتېدل چې خبره د اساسي قانون د لویې جرګې جوړېدو ته راورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اساسي قانون لويه جرګه او د اړيکو پراختيا

د اساسي قانون د جوړېدو په ټول بهير کې مې (۱۳) مياشتې کار وکړ، ډېر ستړی، خو هدفمن او مثمر کار و، هيله مې دا وه چې هېواد د يو داسې عادلانه قانون څښتن شي چې هر افغان ته د منلو وړ وي؛ عادلانه، ديموکرات او پرمختللی وي. دا زما يوه هيله وه، د همدې لپاره مې کار کاوه. ما غوښتل چې د اساسي قانون د لويې جرګې غړی شم، خو څرنګه چې د دې



(د اساسي قانون د لويې جرګې يو انځور)

پروسې د دارالانشا غړی وم. نو د دې بهير هېڅ رسمي کار کوونکي نه شو کولای د جرګې غړيتوب ته ځان کانديد کړي. د (۱۳۸۲ل) کال د قوس پر (۲۲)مه نېټه د اساسي قانون لويه جرګه پيل او د همدې کال د جدي مياشتې پر (۱۴)مه نېټه پای ته ورسېده. (۲۲)ورځې يې دوام وکړ. زه د اساسي قانون په لويه جرګه کې د جرګې د دارالانشاء غړی وم. تر هغه حده چې زما صلاحيت او مسؤليت و، هېڅ ناقانونه کار ته مې اجازه ورنه کړه. د لويې جرګې له غړو سره چې څه حقوقي او قانوني سوالونه هم وو، ان پر شپه اتاقونو ته ورتللم، د هغوی پوښتنې مې ځوابولې، د جنرال عبدالرشيد دوستم، نظار شورا، جمعيت او ځينو نورو اشخاصو او تنظيمونو له کلک

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مخالفت سره مخامخ شوم. ان د ډاکتر اشرف غني احمدزي او حنيف اتمر، چې دا وخت دواړه وزيران وو، دهغوی له نظرياتو سره هم په ټکر کې شوم. ولسمشر چې هره ورځ د جرګې د بهير راپور اخيسته، نو زما له قانوني کار څخه ډېر خوشاله و، خو پر ورته مهال يې ځينې غوښتنې او اندېښنې هم لرلې. يو ماښام يې راته زنګ وواهه، څنګه ده جرګه؟ ما وويل ښه روانه ده. ده وويل ډېره ښه ده، ډېره ښه ده. خو ځينې خلک درڅخه شکايت کوي، ما وويل، ټلواله خو همېش شکايت کوي، هغوی ته خو چې هر څومره امتياز ورکړې، بيا به هم شکايت کوي.هغه وويل، نه ټلواله ملواله نه ده، دا ستا خپل خلک درڅخه شکايت کوي. دا مهال ماته چا ويلي وو چې تېره شپه ډاکتر اشرف غني او حنيف اتمر درڅخه رييس صاحب ته شکايت وکړ. ما وويل هو رييس صاحب! زه پوه شوم، د هغوی سر نه دی خلاص، که ما سره کېني زه به يې سر خلاص کړم. ما وويل چې ځينې خلک غواړي د جنرال دوستم او د ځينو نورو اشخاصو ناقانونه غوښتنو ته په قانون کې ناقانونه امتياز ورکړي او دلته اکثره وکيلان دې ډول معاملې ته حاضر نه دي، هغوی وايي چې هر څه بايد د رايې اچونې د قانوني پروسې له لارې تېر شي، موږ جنرال دوستم او نورو ته وايو څه شی چې غواړئ ژبه يې ده او که نور مسايل، راځئ د قانون له لارې پر مخ لاړ شو، موږ يې رايې اچونې ته راکش کوو او دوی پر شا ځي. دا مهال ولسمشر سخت وخندل، عجب مو راګير کړي دي، تاسې يې رايګيرۍ ته راکشوئ او دوی درڅخه تښتي. بيا يې وويل، ډېر ټينګېږئ مه، که ډيل يې درسره کاوه ورسره ويې کړئ! ما ويل رييس صاحب د ډيل خبره نه ده او نه هم د کوم امتياز د راکړې ورکړې، داسې قانون بايد جوړ شي چې افغانستان ته په نن او راتلونکي کې په ګټه وي، ده وويل، بېشکه، بېشکه. ما وويل، که بيا هم ستاسو زړه وي چې دې خلکو ته کوم امتياز ورکړای شي، د يوه فرمان له لارې امتياز ورکړه، کله چې بيا بل جمهور رييس راغی، هغه به فرمان بېرته لغوه کړي، خو اساسي قانون څوک نه شي لغوه کولای، نو په دې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاطر دلته اکثره خلک په دې نظر دي چې په قانون کې ناقانونه امتیاز نه ورکوو، ده هم په خندا خندا کې زما خبرې تائید کړې. دا چې اساسي قانون کې څه وشول، څومره سختې تېرې شوې، دا یو بل اوږد بحث دی او د ځانګړي اثر دلیکلو ایجاب کوي، خو زه دومره ویلای شم چې د اساسي قانون د جوړېدو په ټولو (۲۲) شپو کې ما یوه شپه هم ارامه خوب په دې خاطر نه دی کړی چې څوک په حساسو موادو کې لاس ونه وهي او ناقانونه غوښتنې په ناقانونه توګه ځای نه کړي. د اساسي قانون لویې جرګې له ولسمشر سره زما روابط نور هم نږدې کړل، خو د جرګې تر جوړېدو وروسته بېرته ننګرهار ته لاړم او بیا د څه مودې لپاره وزګار پاتې شوم، خو له ولسمشر سره مې په نامستقیم ډول اړیکي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پنجشېر او دایکندي ((ولایتونه))

د لړکیو د بې ځایه نازونې په بهیر کې د ولسمشر کرزي د اشتباهاتو د لړۍ یوه کړۍ هم د (پنجشېر) او (دایکندي) ولسوالیو ته د ولایتونو منظورول وو.

دا ولایتونه د قومي ملاحظاتو پر بنسټ د سیاسي غرضونو لپاره په وچ زور رامنځته شول. دا په داسې یوه قانوني خلا کې رامنځته شول چې پارلمان لا تشکیل شوی نه و، کرزي د اساسي قانون تر لویې جرګې وروسته هم د انتقالي حکومت د مشر په توګه دنده تر سره کوله. کله چې دا ولایتونه رامنځته کړای شول، نو په یو شمېر سیمو کې د دې کار پروړاندې غبرګونونه څرګند شول، په تېره بیا د پنجشېر په اړه. د پنجشېر د ولسوالۍ اوسېدونکو چې تر دې دمه د ولسوالۍ د تشکیل په حدودو کې د کابل (مرکز) په شمول تر بل هر لوی او کوچني ولایت ښخه د کرزي په موقته او انتقالي اداره کې زیات امتیازات ترلاسه کړي وو، نو یې پر خپلو امتیازاتو د پردې غوړولو په خاطر د ولایت تشکیل یو ضروري عنصر ګاڼه؛ یو هدف یې دا و چې بیا ګنې څوک ونه وایي یوې ولسوالۍ ولې دومره امتیاز اخیستی، خو که د ولسوالۍ سیمې ته د یوه ولایت نوم ورکړای شي نو بیا خو به پرې د ولایت پرده غوړېدلې وي.

د بېړنۍ لویې جرګې او د اساسي قانون په لویو جرګو کې هم د ولسوالیو او ولایتونو تر منځ طبعاً د څوکیو تناسب تر یوه حده په پام کې نیول شوی و. نو د دې سیمو تر شا سیاسي لوبغاړو دې سیمو ته د ولایتونو په امتیازونو سره دا هم غوښتل چې د راتلونکي ملي شورا په دواړو خونو کې خپل استازي هم په دې ډول زیات کړي. اوس پنجشېر او دایکندي په مشرانو جرګه کې دوه دوه تنه استازي لري، پنجشېر په ولسي جرګه کې هم تر خپل استحقاقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو سیټ زیات اخیستی او دایکندي هم. د خدماتو په برخه کې هم د دوی امتیازات زیات دي او نور امتیازونه خو لا څه کړې. کله چې د سیاسي فشارونو له امله د هغه وخت د کورنیو چارو وزارت په وړاندیز دا دواړه ولسوالۍ د جمهور رییس په فوق العاده حکم ولایتونه شول، نو نه یوازې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې یې غبرګون راوپاراوه، بلکې په خپله د کابینې غوڅ اکثریت هم ورسره مخالف و. (جلال اباد) ښار کې د دې سیاسي امتیاز او تبعیض پر وړاندې مظاهره وشوه او مظاهرچیانو دا کار یادو سیمو ته یو نامشروع امتیاز وباله، په بدل کې یې د (خوږیانیو) او (شینوارو) سیمو لپاره، چې هره یوه څلور او پینځه ولسوالۍ رانغاړي، د ځانګړو ولایتونو غوښتنه وکړه. د پکتیا د (کټواز) او د هرات د (شینډنډ) لپاره هم ورته غوښتنې وشوې. له کونړ څخه (ملک زرین) له ازادۍ راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې وویل: ((کونړ د پنجشېر څو برابره دی، درې لویې درې په کې غځېدلي، باید درې ولایتونه شي.)) داسې نورې ډېرې غوښتنې مطرح شوې. د کابل په ارګ کې ځینو درباري غوړه مالانو داسې انګېرله چې ګنې د جلال اباد په مظاهرو کې زما (یون) لاس دی، دا انګېرنه یې جمهور رییس ته هم رسولې وه. زه یې کابل ته وغوښتلم، کله چې د جمهور رییس دفتر ته داخل شوم، نو ولسمشر تر هرکلي او د کور د حال و احوال تر پوښتنې وروسته وویل: ((له کارونو دې خبرېږم (اشاره یې د جلال اباد مظاهرې ته وه) ښه نور حالات څنګه دي؟ ننګرهار کې حالات څنګه دي؟))

ما ورته وویل: ((حالات دومره بد نه دي، کله کله د نا امنۍ پېښې کېږي، څه موده دمخه هغه یوه مظاهره هم وشوه.)) ده وویل: ((مظاهره او دا ډول قومي مسایل ښه نه دي، افغانستان کې نفاق ته لمن وهل دي، که پنجشېر او دایکندي ولایت شي، نو څه به وشي دا خو نو څه امتیاز نه دی...)) ما وویل: ((رییس صاحب! تاسو او ستاسو ترڅنګ ځینې شاید داسې فکر وکړي چې زه ګنې قومي مسایلو ته لمن وهم، خو دا به ډېره ظالمانه وي، هغه څوک چې


(c) ketabton.com: The Digital Library



د قومي تفرقې خلاف دی، پر هغه د قومي نفاق تور پورې شي. زه خو د واحد هېواد پلوی یم، افغانستان یو واحد ملک دی، په دې کې باید د قومیت په نامه بېلابېل ولایتونه جوړ نه شي، دا کار ورو ورو د افغانستان تجزیې ته لاره اواروي، عجیبه خبره خو داده، هغه څوک چې د قومیت په نامه ولایت جوړوي، هغه قومپال نه دی، خو هغه څوک یې چې مخالفت کوي، هغه بیا قومپال دی.

افغانستان کې که نوي ولایتونه رامنځته کېږي، نو اصلي معیار یې باید جغرافیه او نفوس وي، نه قومیت، که موږ د قومیت پر اساس داسې ولایتونه جوړ کړو، نو افغانستان مو په لوی لاس پر قومونو ووېشه، زه خو وایم دا قومي نفاق دی.)) زما خبرې چې دې حد ته سره ورسېدې، رییس صیب وویل: ((بلکل یې منم، باید د قومیت پر اساس ولایت جوړ نه شي، بل دا راته ووایه چې دا نو څه امتیاز دی چې تاسو اعتراض لرئ!)) ما وویل: ((که امتیاز نه وای دوی نه غوښته، دوی پرې فکر کړی چې دوی ته گټه رسوي، نو ځکه یې غوره کړی دی، دا په افغانستان کې پخوانی اداري بېلانس له منځه وړي





(محمد اسمعیل یون)　　(ولسمشر حامد کرزی)


او دوی د قومیت له مخې د ولایتونو په حساب سیاسي امتیاز غواړي او بله خبره دا ده که دا امتیاز نه وي، نو بیا خو دوه ولایتونه پښتون مېشتو سیمو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم منظور کړه، چې بېرته انډول برابر شي. دا دوه شینواري او کټواز یا شینډنډ ولایت کړه)) ده وویل: ((شینواري خو مې ولایت کاوه، سپین ږیري یې هم راغلي وو، خو حاجي دین محمد یې مخالفت وکړ، ویې ویل چې دا ننګرهار کمزوری کوي او کوچنی کوي یې.)) ما ویل خیر (شینډنډ) او (کټواز) ولایت کړه، ما ورته نور ګڼ دلایل هم وویل: ((تر هغه چې افغانستان کې د ټولو سیمو سرشمېرنه نه وي شوې او د دې لپاره یو عادلانه او دقیق قانون نه وي جوړ شوی، باید په اداري واحدونو کې ګوتې ونه وهل شي.)) کله چې جمهور رییس زما ګڼ دلایل واورېدل، نو په پای کې یې راته وویل: ((ډېر مجبور وم ایران ډېر مجبور کړی وم، تر ډېر فشار لاندې وم.)) دې جملو سره نور بیا ما د هغه د ((فشار)) او ((مجبوریت)) څرنګوالی او عوامل ونه پوښتل.

په ناخوښۍ سره له دفتره راووتم. بل وخت چې مې بیا د جمهور رییس له نږدې دوستانو څخه وپوښتل، داودزي صیب راته وویل: ((دوی له ډېر پخوا څخه د پنجشېر ولایت د جوړولو نیت درلود، خو کرزي صیب به ځان


(محمد قسیم

تېراوه، یو ماښام فهیم راغی او رییس صاحب ته یې وویل: ((ما پړی او چاړه دواړه راوړي، یا به مې په دې پړي زندۍ کوې، یا به مې په دې چاړه حلالوې او یا به راته پنجشېر ولایت کوې، چې زه خپل قوم ته هېڅ مخ نه لرم، هغوی راته وایي: ته چې خپله سیمه ولایت کولای نه شې نور به موږ ته څه وکړې؟ سبا چې د کابینې جلسه وه او بیا دا موضوع په کې مطرح شوه، (هدایت امین ارسلا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا هم د دې موضوع مخالفت کړی و، بیا یې هم وکړ، خو رییس صاحب ورته وویل: دې کې هېڅ بحث ته اړتیا نه شته دا زما خپل تصمیم دی.)) په دې ډول نو دا دواړه سیمې د ولایت مقام ته پورته شوې. کله چې له راډیو څخه د دې درې د ولایت کېدو اعلان خپور شو، نو د پنجشېر نفوس یې درې لکه؛ درې سوه زره (۳۰۰۰۰۰) شاوخوا او مساحت یې درې زره او شپږ سوه (۳٦۰۰) کیلو متره مربع ښودل شوی و. د احصایې یو مامور بیا یو وخت په خصوصي جلسه کې وویل: ((موږ ته دا مکتوب راغی چې د پنجشېر دا نفوس تصدیق کړو، خو موږ دا کار څکه ونه کړ چې موږ ته د پنجشېر واقعي نفوس معلوم و. د پنجشېر ټول نفوس (۹۵) زره تنه دی چې له هغې جملې څخه نږدې (٤٥) زره په کابل او پاتې یې په پنجشېر کې اوسي، مساحت یې هم موږ نه شو تصدیقولای.)) په دې ډول یوه سیمه د جعل او فشار پر اساس د ولایت کچې ته پورته شوه.

وروسته بیا د دې ولایت د جوړېدو رسمي اسناد هم ترلاسه شول، چې دا دی دلته وړاندې کېږي. په دې اسنادو کې د جعل او تذویر نښې له ورایه ښکاري، په تېره بیا د نفوسو او مساحت څومره والی، دا دی دلته دا اسناد کټ مټ راوړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۲۸)

وزارت امور داخله
معینیت اداری
ریاست عمومی ( امور اداری )
( ریاست تشکیلات )

شماره: ۲۰۸
تاریخ: ۸۳/۳/۷

به ولایت محترم پروان !

توام صادره هذا یك ورق کاپی فرمان شماره (٦) مورخ ٢٤ر ١ر١٣٨٣ مقام محترم ریاست دولت انتقالی اسلامی افغانستان در رابطه به ایجاد و منظوری ولایت درجه سوم پنجشیر به شما ارسال است بر طبق ان در زمینه اجراات فرمائید .

با احترام

فضل احمد (عظیمی)
معین اداری وزارت امور داخله

کاپی به ریاست محترم عمومی بخش مرکزی به ارتباط ۲۴/۱۳
مورخ ۸۳/۱/۲۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت انتقالی اسلامی افغانستان
وزارت امور داخله
معینیت امور اداری
ریاست عمومی اداری
ریاست تشکیلات

۳۶۹۲
۸۲/۵/۲۰

| پیشنهاد | احکام |
|---|---|
| **به مقام محترم دولت انتقالی اسلامی افغانستان!**<br>به تاسی از حکم شماره (2212) مورخ 1382/4/9 آنمقام محترم پیرامون ایجاد ولایت جدید التاسیس پنجشیر هئیات موظف از مراجع مربوط به تاریخ 5 اسد سال1382 عازم منطقه پنجشیر گردیده و بعداز بررسی همه جانبه نتایج سفر خویشرا طی گزارش جداگانه در زمینه ساختار ولایت پنجشیر مجزأ از ولایت پروان ارائیه نموده اند که در قسمت گزارش موافقه مقام ولایت پروان نیز ثبت میباشد .<br>گزارش و کروکی پنجشیر جهت ملاحظه آنمقام محترم به ضمیمه تقدیم میگردد با ملاحظه گزارش هئیات موظف و بررسی جداگانه که به عمل آمد مناطق ولسوالیهای چهارگانه پنجشیر دارای (307620) نفر نفوس و (3610) کیلومتر مربع مساحت بوده خصوصیت شهری و نفوس شهری را دارأ بوده و هشتاد فیصد مناطق مذکور کوهستانی و صعب العبور است بر طبق ماده (5-9) قانون اداره محلی ایجاد ولایت و ولسوالیهای مربوط به آن از چهار ولسوالی موجوده پنجشیر مجزأ از ولایت پروان میسر میباشد بر طبق مواد شماره (10-11و12)قانون اداره محلی که اکثر نورم های آنرا پوره نموده است ایجاد و ساختار ولایت پنجشیر طور ذیل احتراماً پیشنهاد میگردد :<br>**ولایت درجه سوم پنجشیر به مرکزیت بازارک:**<br>دارای (61) قریه (33700) نفرنفوس و (372) کیلومتر مربع مساحت بوده حدود اربعه آن شرقاً ختم قرأ بهارک و بازگشتی›غرباً سنگ فقیرک کشته و گرگ دره، شمالاً ولسوالی اندراب ولایت بغلان ، جنوباً کوه عبدالله خیل ولسوالی دره موقعیت دارد. | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1- ولسوالی درجه اول حصه اول پنجشیر به مرکزیت خنج :**

دارای (159) قریه (87130)نفر نفوس (670) کیلومتر مربع مساحت و حدود اربعه آن شرقاً منطقه بام ... قسماً کوه های واخی و حصه اول کوه های تل غرباً منطقه حد بخشی ، کوه بهرک و ... شمالاً به ولسوالی اندراب ولایت بغلان جنوباً به ولایت نورستان وولسوالی دره محدود است .

**2- ولسوالی درجه اول رخه به مرکزیت قریه شصت :**

دارای (85) قریه (61700) نفر نفوس (215) کیلومتر مربع مساحت بوده حدود اربعه آن شرقاً به سنگ فقیرک کشته و گرگ دره مرکز ولایت پنجشیر غرباً قریه دشتک و کوه آبدره شمالاً بولسوالی اندراب ولایت بغلان و جنوباً به ولایت کاپیسا محدود است .

**3- ولسوالی درجه دوم عنابه به مرکزیت عنابه:**

دارای (71) قریه (38275) نفر نفوس و (225) کیلومتر مربع مساحت بوده حدود اربعه آن شرقاً به قریه دشتک و کوه رخه غرباً به کوه دریک و کوه کورابه ولسوالی شتل. شمالاً بولسوالی اندراب ولایت بغلان و قسماً کوه های شتل جنوباً به کوه های کاپیسا محدود میباشد .

**4- ولسوالی درجه دوم دره به مرکزیت کرامان :**

دارای (154) قریه (46221) نفر نفوس و (652) کیلومتر مربع مساحت بوده حدود اربعه آن شرقاً به ولایت نورستان و قسماً به ولسوالی حصه اول غرباً کوه های حصارک و ولسوالی رخه شمالاً به مرکز ولایت پنجشیر و قسماً به ولسوالی حصه اول پنجشیر جنوباً به ولایات کاپیسا و لغمان محدود است .

**5- ولسوالی درجه سوم پریان به مرکزیت قریه نو دانک:**

دارای (41) قریه (26394) نفر نفوس و (1318) کیلومتر مربع مساحت بوده حدود اربعه آن شرقاً به ولایت بدخشان غرباً به منطقه بام وردار و کوه واخی و قسمت پائین تل شمالاً به ولایات تخار و بغلان جنوباً به ولایت نورستان محدود میباشد .

**6- ولسوالی درجه سوم شتل به مرکزیت دالان سنگ:**

دارای (23) قریه (14200) نفر نفوس (158) کیلومتر مربع مساحت بوده حدود اربعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



آن شرقاً به قول دریک و قریه زمان کور ولسوالی عنابه و قریه فراج ،غرباً قریه جیلانک گلبهار و کوه های جبل السراج ،شمالاً به ولسوالی اندراب ولایت بغلان ،جنوباً قریه فراج و قسماً قریه شیر خان ولایت کاپیسا محدود گردیده است .

ولایت درجه سوم پنجشیر با شش واحد اداری آن از تعدیل چهار ولسوالی و تزئید مرکز ولایت و دو واحد اداری با تفکیک قرأ مسکونی ، نفوس ، مساحت ، و حدود اربعه آن مجزأ از ولایت پروان که فوقاً به عرض رسید به منظور حل مشکلات اهالی محل بمقام محترم پیشنهاد میگردد در زمینه هدایت خواهند فرمود.

با احترام

علی احمد (جلالی)

وزیر امور داخله

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرمان

## رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

شماره ( ۹ ) تاریخ: ۱۳۸۳/۱/۲۴

### درمورد منظوری ولایت جدید التاسیس درجه (۳) پنجشیر

بمنظور ارجگذاری به خدمات و حماسه آفرینی های قهرمان ملی احمد شاه مسعود شهید، که اداره پنجشیررا در دوران جهاد و مقاومت بصورت مستقل به عهده داشت،بنابر تقاضای های متعدد مردم منطقه از آغاز اداره موقت بدینسو جهت حل مشکلات اهالی ناشی از بعد مسافه و تأمین امنیت بهتر در مناطق دور دست پنجشیر، پیشنهاد شماره ( ۳۶۹۲) مورخ ۱۳۸۲/۵/۲۰ وزارت امور داخله را مطابق مواد ( ۵-۹) قانون اداره محلی ، مبنی بر تأسیس ولایت پنجشیر که باداشتن ( ۳۰۷۶۲۰) نفر نفوس و ( ۳۶۱۰) کیلو متر مساحت با نورمهای قانونی مطابق دارد، به ساختار ذیل منظور مینمایم:

۱. ولایت درجه سوم پنجشیر به مرکزیت بازارک.
۲. ولسوالی درجه اول حصه اول ( ۱ ) بمرکزیت خنج.
۳. ولسوالی درجه دوم رخه بمرکزیت شصت.
۴. ولسوالی درجه دوم عنابه بمرکزیت عنابه
۵. ولسوالی درجه دوم دره بمرکزیت کرامان.
۶. ولسوالی درجه سوم پریان بمرکزیت تودانک.
۷. ولسوالی درجه سوم شتل بمرکزیت دالان سنگ

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و درجریده رسمی نشر گردد.

ومن الله التوفیق

**حامد کرزی**

**رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت انتقالی اسلامی افغانستان
اداره مرکزی احصائیه
ریاست اسناد و ارتباط

Transitional Islamic State of Afghanistan
Central statistic office
Department of Documents and relation

نمبر ۲۹۷ تاریخ ۱۳۸۳/۱/۲۹

به ریاست محترم ( ) !

فرمان شماره ۶ مورخ ۱۳۸۳/۱/۲۴ مقام عالی دولت انتقالی اسلامی افغانستان در رابطه به ایجاد ولایت جدید التاسیس درجه سوم پنجشیر به مرکزیت بازارک وسیله نامه شماره ۱۵۱۷ مورخ ۱۳۸۳/۱/۲۵ ریاست شوراها و قبایل ریاست محترم عمومی اداره امور به شرح ذیل واصل است :

بمنظور ارجگذاری به خدمات و حماسه افرینی های قهرمان ملی احمد شاه مسعود شهید ، که اداره پنجشیر را در دوران جهاد و مقاومت بصورت مستقل به عهده داشت بنا بر تقاضای های متعدد مردم منطقه از اغاز اداره موقت بدینسو جهت حل مشکلات اهالی ناشی از بعد مسافه و تامین امنیت بهتر در مناطق دور دست پنجشیر ، پیشنهاد شماره ( ۳۶۹۲ ) مورخ ۱۳۸۲/۵/۲۰ وزارت امور داخله را مطابق مواد (۵-۹) قانون اداره محلی ، مبنی بر تأسیس ولایت پنجشیر که با داشتن ( ۳۰۷۶۲۰ ) نفر نفوس ( ۳۶۱۰ ) کیلو متر مساحت با نورمهای قانونی مطابق دارد . به ساختار ذیل منظور مینمایم :

۱- ولایت درجه سوم پنجشیر به مرکزیت بازارک .
۲- ولسوالی درجه اول حصه اول ( ۱ ) بمرکزیت خنج .
۳- ولسوالی درجه دوم رخه بمرکزیت شصت .
۴- ولسوالی درجه دوم عنابه بمرکزیت عنابه .
۵- ولسوالی درجه دوم دره بمرکزیت کرامان .
۶- ولسوالی درجه سوم پریان بمرکزیت نودانک .
۷- ولسوالی درجه سوم شتل بمرکزیت دالان سنگ .

این فرمان از تاریخ توشیح نافذ و در جریده رسمی نشر گردد .

فرمان مقام محترم ریاست دولت انتقالی اسلامی افغانستان غرض اگاهی ولجراات بعدی شما نقلاً تحریر یافت .

با احترام

احمد ضیا " احمدزی "
رئیس اسناد و ارتباط

کاپی به عموم ریاست های مربوط
کاپی بدفتر محترم معین اداره

ادرس: انصاری وات کابل
افغانستان
پست بکس: ۱۲۵۴
تیلفون: ۲۵۱۸۴ – ۲۵۱۱۴
دیجیتال: ۲۱۰۰۳۲۹

Add: Ansari Watt Kabul
Afghanistan
Po Box: 1254
Tel: 25184 – 22448
Digital: 2100329

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې دا ولایتونه اعلان شول، نو ما د ولسمشر ویاند (جاوېد لودین) ته، چې دا مهال مې ورسره ښه اړیکي درلودل، زنګ وواهه، ما وویل دا کار د قانون خلاف دی، د اساسي قانون له مخې د اداري واحدونو جوړول یا تائیدول د ملی شورا کار دی. حکومت باید وړاندیز وکړي، هغوی یې یا رد او یا تائید کړي، اوس چې ملي شورا جوړه شوې نه ده، په دې خلا کې د نویو اداري واحدونو جوړول اداري غلا ګڼل کېږي او دا دومره عجله د څه لپاره ده؟ که اوړو کې یې شګه نه وي کله چې شورا جوړه شي، بیا که نوي اداري واحدونه جوړېږي او یا هم په پخوانیو کې سمون راځي، هېڅ اعتراض نه شته، هغه ماته وویل، دا څه مهمه خبره نه ده. ما ورته وویل، هر اداري واحد ځان ته تشکیل او بودیجه غواړي، دا پر حکومت او ټول بیت‌المال، چې د ټولو حق دی، بارېږي، بیا که ضرورت یې وي هېڅ مشکل نه شته، خو چې د سیاسي غرضونو په خاطر وي، هغه طبعاً مرضونه زېږوي او د تشویش وړ خبره ده، که تکلیف نه وي زموږ تشویش رییس صاحب ته ورسوه، سبا به ټول همدا ډول غوښتنې لري. همغه وو چې څو ورځې وروسته یې زه وغوښتلم او هغه خبرې مو چې دمخه مې یادونه وکړه، سره تبادله کړې. د دې مکتوبونو له تبادلې او چټک بهیر څخه له ورایه ښکاري چې څوک په حکومت کې څومره او په څه ډول واکمن وو، څومره ناقانونه کارونه یې کول او څومره ناقانونه امتیازات یې ترلاسه کول. ان د کورنیو چارو وزارت د هغه وخت وزیر (علي احمد جلالي) چې ځان د قانون پلوی شخص ګڼي، هغه هم پر دې ناقانونه کار سترګې پټې کړي او د هغوی وړاندیز یې دولتمشر ته لیږلی دی. دا یې یوه بېلګه ده چې د کاغذ پر مخ راڅرګنده شوه، هغه چې لا نه دي څرګندې شوي، هغه به څومره او څه ډول وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library




شلورم څپرکی

# د ولسمشرۍ ټاکنې

د (۱۳۸۴ل) کال په بهیر کې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره کېدې، دا ټاکنې د خپل نوعیت له مخې په هېواد کې بې سارې وې، ځکه چې تر دې د مخه هېڅ داسې ټاکنې نه وې شوې، د نړیوالو ځواکونو شتوالی، نوې ولسواکي، د ټوپکسالارۍ واکمني او نور ډول ډول عناصر چې ټول نوي ښکارېدل، طبیعي خبره وه چې دې هر یو پر ټاکنو خپل خپل تاثیرات درلودل، خو کوم شی چې اکثرو خلکو ته څرګند و او نړیوالې ټولنې هم غوښتل، هغه د کرزي د بریالیتوب اټکل و. اکثرو سره همدا نظر و چې حامد کرزی بریالی کېږي.

هغه وخت د ولس ذهنیت هم د کرزي پر وړاندې مثبت و، تر دې دمخه د طالبانو او تر هغو دمخه ټوپکوالو خلک ډېر ځپلي وو او تر طالبانو وروسته د ټوپکوالو بیا واکمني خلکو ته یو بل غټ تشویش و. لنډه دا چې د کرزي لپاره تر ټولو طلایي او ښه چانس و، هر چا وړاندوینې کولې او د



(ولسمشر حامد کرزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر چا پر خوله د ټاکنو داستان خور و. ما هم د نورو افغانانو په شان په دې باب خپل نظر درلود، د هېواد په یوه گوټ کې د یوه افغان په توگه په دې بهیر کې شامل وم. د کاري دندې له لاسه ورکولو تر څنگ ان له ضرر سره هم مخ شوم. زه لومړی کس وم چې د همدې ټاکنو له امله مې خپله دنده له لاسه ورکړه. ښه به وي چې دلته د دې بهیر د ځینو برخو یادونه وکړم او تر ټاکنو لږ وړاندې او وروسته حالت تشریح کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشرۍ لومړنۍ ټاکنې

## (وړاندوینه او پایلې)

د جمهوري ریاست لومړنیو ټاکنو ته لا دوه درې میاشتې پاتې وې، کاندیدان په ګوته شوي وو، دا مهال زه په جلال اباد کې اوسېدم، رسمي کار مې نه درلود، خو د اساسي قانون دفتر لا تړل شوی نه و، کله چې د اساسي قانون د جوړېدو بهیر بشپړ شو، ټاکل شوې وه چې زه تر هغه وروسته د جمهوري ریاست د انتخاباتو لپاره د ختیزو ولایتونو د دفتر مسول شم، خو د ښاغلي برهان الدین رباني او ښاغلي محمد قسیم فهیم په زیات ټینګار زه له دې دندې لرې شوم، هغو د ملګرو ملتو پر دفتر (یوناما) باندې چې دا مهال یې د ټاکنو بهیر پرمخ وړه، فشار راوړ چې (یون) د کرزي پلوی دی او که دی د دې (ختیزو) ولایتونو د ټاکنیزو چارو مسول شي، نو موږ ته دا کار د زغملو نه دی. ملګرو ملتو ماته وویل چې په کابل او یا هم په کوم بل زون کې به د ټاکنو مسولیت درکړو، خو له ننګرهاره لاړ شه، معاش به دې هم درلوړ کړو، ما ویل بل ځای کې دنده نه اجرا کوم، خبره تر ولسمشر کرزي پورې هم ورسېده، هغه د ملګرو ملتونو د هغه وخت مرستیال او بیا وروسته مسول (جان ارنولډ) سره خبرې وکړې، هغه ورته په ځواب کې وویل: ((یون یو شخص دی او دلته د ده ډېر مخالفین دي، مقصد یې نظار شورا، فهیم، رباني او نور وو، موږ نه شو کولای د یوه شخص په خاطر ټول سیستم له ځانه خفه کړو.)) همغه وجه وه چې دنده مې له لاسه ورکړه، خو ښاغلي کرزي راته وویل چې ځه، خپل پخوانی ځای مه خوشې کوه، د دفتر کرایه او ټه نور امکانات درته زه برابروم همغه و چې د میاشتې یې (درې زره ډالر) راته د امنیت شورا له خوا د (انجنیر ابراهیم سپین زاده) په لاس راکول. په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسو مې (پنځه سوه ډالره) د دفتر کرایه ورکوله، د څلورو ساتونکو، یو اشپز، یو موټړوان معاش چې ټول اته سوه ډالر کېدل، د برېښنا لگښت او نور دفتري لگښت پرې پوره کېده، د چا خبره د میاشتې څوک نوک سره رسېدلو. د جمهوري ریاست تر ټاکنو دمخه یې راوغوښتلم، مشوره یې راسره وکړه. لومړی یې خپل کاري دفتر ته وغوښتلم، مازیگر و، دفتر کې یې وویل: ((دلته ازادې خبرې نه کېږي، ځو کور ته هلته به ازادې خبرې وکړو.)) له دفتره د کور پر لوري رهي شو، د ولسمشر عادت دی چې د کور مخې ته په ښکلي پارک کې هر مازیگر او سهار پلی گرځي، هغه خلاصه فضا ده، د چا له خوا د خصوصي خبرو د ثبتولو امکان نه شته، د کور مخې ته د قدم وهلو په حالت کې وو، ساتونکي څوک نه وو، یو دوه تنه نور موږ پسې وو، راته یې وویل: ((اوس نو راته ووایه چې انتخابات به څنگه شي، زه به څو فیصده رایې وگټم؟ هېوادمل صیب راته ویلي چې اویا فیصده رایې به وگټم؛ رحیم وردگ او نورو راته ویلي چې نوي فیصده او ځینې نورو خبره تر دې هم پورته کړې، خو اوس ته راته رښتیا ووایه چې څو فیصده به شي؟)) ما وویل: ((رییس صیب یو شی چې واضح دی هغه دادی چې روحیه داسې ده چې دا ټاکنې تاسو گټئ، دا چې په څو فیصدو رایو به یې وگټئ، دې کې دقت په کار دی، ډېره خوش باوري په کار نه ده، انتخابات داسې دي لکه یو ماین، چې د دویم ځل تجربې امکان یې نه شته، که ماین څوک په دې نیت ټکوي چې ودرېږه چوي او که نه؟ نو دا یو ځل تجربه کېږي، ځکه که وچاودېده چاته بیا د دویم ځل تجربې مجال نه ورکوي. انتخابات هم همداسې دي، که دې بایلول د بیا تجربې اټکل یې نه شته، هغه هم زموږ په شان ټولنه کې چې ټاکنې نوې تجربه ده، د فیصدۍ په هکله باید ووایم، چې فیصدي د هر کاندید د قوم له فیصدۍ سره تناسب لري، سره له دې چې ټاکنې یوه سیاسي پروسه ده، خو بدبختانه چې افغانستان کې انتخابات پر قومي محور راڅرخي، کاشکې دلته داسې وای چې خلکو د کاندید د سیاسي لیاقت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظرفیت او سیاسي پلان او ستراتیژۍ له مخې هغه ته رایې ورکولای، خو داسې نه ده دلته په دې ټاکنو کې بالاخره اکثریت رایې د قومیت پر محور راڅرخي.)) ده وویل: ((ماته خو نور قومونه هم رایه راکوي؛ یو یو معاون هم ورڅخه لرم، دوی خو به هم یو څه رایې راوړي، فیصدي به پورته شي.)) ما وویل دواړه معاونان څه رول نه لري، اول خو د دوی پر وفادارۍ شک لرم چې د زړه له اخلاصه به کمپاین وکړي که ونه کړي، بله خبره دا ده چې دوی کومو قومونو ته منسوب دي، له هغو څخه هر یو جمهوري ریاست ته خپل خپل کاندیدان لري، کېدی شي دوی له هغوی سره همکاري هم ولري، خو د دې قومونو رایه ورکوونکي لږ تر لږه دا فکر کولای شي چې جمهور رییس ته رایه ورکړي که معاون ته، کوم یو دوی ته په ګټه دی؟ که تاسو بریالي شئ، نو د دوی معاونان خو اتومات راځي، معاونیت یې په دې ډول سل په سلو کې خوندي دی او که چېرې محقق، قانوني یا دوستم ته رایه ورکړي، کېدی شي جمهوري ریاست وګټي، نو په دې وجه هغوی جمهوري ریاست ته ترجیح ورکوي، نه معاونیت ته، البته پنځه شپږ فیصده رایې به داسې استعمال شي چې له یوه قومه بل ناقومي کاندید ته لاړې شي، خو که دا عملیه یو بل سره خنثی یا مساوي محاسبه کړو، نو بېرته اکثریت رایې د قومیت پر اساس راڅرخي، نو اوس تاسو خپله فکر وکړئ چې پښتانه په افغانستان کې څو فیصده دي؟ ستاسې رایې مستقیماً مساوي او متناسبې دي د پښتنو له عامې فیصدۍ سره.)) پر دې وخت یې ماته وویل: ((دا دې بیا هم ونه ویل چې څو فیصده به شي؟)) ما ورته وویل: ((طبیعي ووټ پنځه شپېته فیصده دی، که چېرې کمپاینران دې ښه وي، نو ووټ کېدی شي له پنځه پنځوس څخه تر پنځه شپېته فیصدو پورته شي او که چېرې کمپاینران دې کمزوري وي، نو کېدی شي تر پنځه پنځوس فیصدو راکښته شي، خو د ناکامۍ یا دویم رونډ حالت ته نه راکښته کېږي؛ پنځوس جمع یو پوره کوې. اوس عامه روحیه دا ده چې تاسو انتخابات ګټئ، نو ځکه خو یو شمېر کمپاینران داسې دي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اینده کې د خپل موقف د تقویې په خاطر ظاهراً ستاسو ملاتړ کوي، خو د زړه له تله صادق نه دي، که دا ډله کمپاین هم ونه کړي څه خاص تاثیر نه لري.)) ده بیا زیاته کړه: ((نور قومونه به رایه را نه کړي؟)) ما ورته وویل: ((درکوي یې خو په ډېره کمه فیصدۍ، په همدې فیصدۍ بیا پښتانه هم نورو ناپښتنو کاندیدانو، په تېره بیا یونس قانوني، مسعودې جلال او نورو ته رایه ورکوي فکر کېږي چې دا رایې به یو بل سره مساوي شي.)) کرزي صیب بیا زیاته کړه: ((ښه دا راته ووایه چې مسعوده جلال**



(ډاکتر مسعوده جلال)

**که زما په ګټه انصراف وکړي، څومره ګټه به راورسوي، دا څووم ځل دی چې ما سره تماس نیسي او راته وایي چې زه ستا په ګټه انصراف کوم، همدارنګه څو تنه نور کاندیدان هم دي. راویې غواړم خبرې ورسره وکړم که نه؟)) ما وویل: ((اول خو مسعوده جلال پر دې پوهېږي چې کامیابېدی نه شي، په دې خاطر چې تاسو خوشاله کړي او یا اینده کې څه امتیاز واخلي، تاسو ته ټلېفون کوي، بله خبره په کې دا ده چې هغه هسې ځان ته شهرت ورکوي چې په افغاني ټولنه کې لومړنۍ ښځه ده چې ټاکنو ته ولاړه ده. په اضطراري لویه جرګه کې یې هم همدا کار کړی او اوس هم ولاړه ده، کېدی شي د نړیوالې ټولنې ملاتړ په دې خاطر ورسره وي چې ښځینه کاندیده ده او د ولسواکۍ تمثیلي اړخ هم لري. تر ټولو مهمه خبره داده، چې که مسعوده جلال دې خواته راشي، نو ووټ خو یې دې خواته نه راځي، د مسعودې جلال د ووټ طبیعي حدود تاجک مېشتې سیمې دي، البته یو نیم کس به شوقي ووټ هم ورکړي،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خو که معسوده جلال دې خوا ته راشي، نو طبيعي ووټ يې ټول (يونس قانوني) ته پاتې کېږي. که موږ غواړو چې بريالي شو، نو بايد د اصلي مخالف کانديد د ووټ په ساحه کې فرعي کانديدان زيات کړو چې د خپل مخالف کانديد ووټ تجزيه کړو، نو په دې لحاظ دې خواته د مسعودې جلال را اوښتل د گټې پرځای زيان زيات لري. د مسعودې جلال پر ځای به ښه وي چې (سيداسحق گيلاني) سره خبرې وشي، د سيد اسحق گيلاني او ستاسو د ووټ طبيعي ساحه مشترکه ده، که هغه يو ووټ اخلي هم، نو فکر وکړه چې ستاسو له ووټه کمېږي، زما د اټکل له مخې که گيلاني منصرف نه شي نو لږ تر لږه دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) ووټونه اخيستلای شي، چې دا د ټولو ووټونو نږدې درې فيصده کېږي او درې فيصده له تاسو څخه کمېږي، نو واټن يا تفاوت**



(سيد اسحق گېلاني)



**يې شپږ فيصده کېږي، دا حالت ډېر خطرناک دی. زما شخصي نظر خو دا دی چې په زور وي که په رضا، په پيسو وي که په جرگه يا مرکه سيداسحق گيلاني بايد تېر شي، د هغه د ووټ اکثره ساحه پکتيا، پکتيکا، خوست، غزني او ځينې نورې جنوبي سيمې دي، سره له دې چې هغه د ننگرهار دی، خو په ننگرهار کې دومره روشنفکره قشر راټوکېدلی چې د پيرۍ او مريدۍ تارونه اوس ډېر سست شوي، خو په جنوبي سيمو کې لا اوس هم دوی خپل تاثيرات لري.)) کرزي صيب وويل: ((ښه ټکي ته دې اشاره وکړه، خو دا ووايه چې گيلاني به تېر شي که نه؟ هغه ای ايس ای ودرولای تېر به نه شي، خبرې مو ورسره رواني کړي...)) ما ووېل: ((په هرترتيب چې وي بايد تېر شي.)) بيا مې ورته وويل: ((ستاسو د ووټ بله مهمه ساحه کوچيان دي، کوچيان ستاسو لپاره په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې ټاکنو کې داسې دي لکه کوچ، چې پرته له تا څخه هېڅا ته رایه نه ورکوي، انتخاباتو کې باید داسې لارې چارې ولټول شي چې د کوچیانو فعال حضور تضمین کړي. د ووټ بله ساحه بهر مېشتي افغانان دي، په تېره بیا په پاکستان او ایران کې افغانان. کېدی شي په ایران کې د محقق، قانوني او ستاسو د رایو مجموعه سره مساوي شي، خو په پاکستان کې ستاسو رایه به د هغو دوه برابره وي، د کوچیانو او بهر مېشتو افغانانو رایې ټاکونکی نقش لري.)) کرزي صیب زما خبرې په ډېر دقت واورېدلې، بیا د ده کور ته لاړو، ماښام ډوډۍ مې هلته وخوړه، د ډوډۍ پر مهال څو نور مېلمانه هم راغلل. ډاکتر فاروق وردگ دا مهال د ټاکنو مشترک کمیسیون د دارالانشا رییس و، څو ورځې وروسته یې ماته وویل: ((پاکستان ته د ټاکنو د جاج اخیستو په خاطر یو هئیت ځي، تاسو هم باید ورسره لاړشئ، ستاسو تگ هلته ځکه ضروري دی چې پر خارجیانو هم ډېر اعتبار نه شته.)) دا مهال لا د اساسي قانون د دارالانشا ټول دفترونه په ولایتونو کې فعال وو او زه د ختیزو ولایتونو مسول وم، د هئیت په ترکیب کې څلور تنه بهرنیان: یو هم په اسلام اباد کې د یوناما دفتر مسول، بل په پاکستان کې د مهاجرو د چارو مسول او یو بل بهرنی هم د انتخاباتي چارو مسول و. له افغاني لوري (محمدفقیر بهرام) د انتخاباتو د مشترک کمیسیون غړی او زه (محمداسمعیل‌یون) شامل وو. هئیت له کویټې، کراچۍ، اسلام اباد او پېښوره لیدنه وکړه، له پاکستاني چارواکو سره یې خبرې وکړې او د ټاکنو جاج یې واخیست. د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت کې د افغانستان د برخې مسول او ځینې نور چارواکي په پاکستان کې د افغانستان د جمهوري ریاست لپاره په انتخاباتو کې د افغانانو له گډون سره چندان موافق نه وو، ویل یې چې: ((که دلته سم انتخابات هم وشي د افغانستان کاندیدان به وایي چې پاکستان د یو کاندید په گټه کار کړی دی، هسې هم افغانستان کې چې هره پېښه وشي، خلک یې پر پاکستان رااړوي. موږ نه غواړو ځان په دې مسله کې راټاله کړو.)) د هئیت د ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړو نظر هم چندان مثبت نه و، په هئیت کې زما نظر دا و چې هئیت باید خپل نظر ورکړي چې دلته انتخابات شوني دي، دا نو بیا د سیاسي خلکو کار دی چې دلته انتخابات کوي که نه، خو موږ باید خپل تخنیکي نظر ورکړو، په نتیجه کې د هئیت نظر مثبت و او ویې ویل چې پاکستان کې افغاني ټاکنې شونې دي او همدارنګه په ایران کې هم، دا شرایط هم ورسره ملګري وو چې که ټاکنې کېږي، نو په دواړو هېوادونو کې دې وشي، که یو کې وشي او بل کې ونه شي، نو سخت قومي او سیاسي بحران به رامنځته کړي. همدې نظر سره کابل ته راغلو، څه موده نور هم زموږ دفتر دوام وکړ، خو کله چې د جمهوري ریاست انتخابات رانږدې شول، نو د ختیزو ولایتونو له دفتر پرته د نورو اکثره دفترونو پخواني مشران پر ځای پاتې شول، یوازې زما د عوض کولو هڅه وشوه. کله چې د جمهوري ریاست ټاکنې پایته ورسېدې، تر څو ورځني جنجال وروسته نتیجې اعلان شوې، نو کرزی صیب د څلور پنځوس اعشاریه پنځه (۵۴،۵٪) فیصدو رایو په ګټلو سره د جمهور رییس په توګه اعلان شو.

د ټاکنو تر نتایجو وروسته یې زه د ملاقات لپاره له جلال اباده کابل ته وغوښتلم، په ګلخانې ماڼۍ کې د ده په خپل رسمي دفتر کې مې ورسره ملاقات وکړ، د انتخاباتو د نتیجو جدول یې هم پر مېز ایښی و، هغه وړاندوینه چې ما تر ټاکنو دمخه کړې وه، همغه شان شوه؛ ما ویلي وو چې که کمپاینران قوي وي دا رایې به له (۵۵) فیصدو څخه تر (٦٥) فیصدو پورې پورته کېږي او که کمپاینران کمزوري وي، نو تر (۵۵) سلنې کښته کېږي، خو دویم روند ته نه ځي. زما وړاندوینه د ده په ذهن کې وه، کرزي صیب ماته وویل: ((داسې پیشبیني دې کړې وه چې نجومي یې هم نه شي کولای، کټ مټ همغه شان وختله.)) ده زیاته کړه: ((دا ووایه چې دا ټوله رایه پښتنو راکړې که نورو قومونو هم راکړې؟ زه خو فکر کوم چې نورو هم راکړې.)) ما وویل: ((نورو هم درکړې خو ډېره کمه، کېدی شي پنځه فیصده، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدومره رایه بیا پښتنو، نورو کاندیدانو او له تا پرته نورو پښتنو کاندیدانو ته هم ورکړې، که دا رایه له هغه سره مساوي وګڼو، نو د پښتنو طبیعي فیصدي همدومره کېږي، په ځینو سیمو کې د ناامنیو له وېرې خلکو رایه نه ده ورکړې او همدارنګه د کوچیانو او مهاجرینو د پوره ګډون شرایط برابر نه شول، که هغه هم ورسره محاسبه کړو، نو د پښتنو رایه همدا (۵۵-۶۵) فیصده کېږي.)) ده وویل: ((ما پخوا دومره یقین نه کاوه چې پښتانه به دومره وي، خو اوس چې ګورم پښتانه رښتیا هم زیات دي، خو زه فکر کوم پښتانه به له (۶۲-۶۵) فیصدو پورې وي. د دې انتخاباتو بله ګټه څه ده پوهېږې؟)) ما وویل: ((د پښتو فیصدي؟)) ده وویل: ((بې شکه، ما که هر څومره دنیا ته ویل، راسره نه یې منله خو اوس یې دا جدول مخې ته ږدم)) ما وویل: ((دا انتخابات خو وګټل شول، خو اینده کې دا فیصدي په دې کچې نه پاتې کېږي، د ټاکنیزو محاسباتو قاعده دا ده هر څوک چې ټاکنې ګټي، یو شمېر خلک ورته له همغه پیله د امتیازاتو په تمه وي، که هغوی ته بیا همغه امتیاز ور نه کړای شي، نو هغه خوابدي کېږي، یو شمېر نور خلک بیا چې د واقعي حق او امتیاز مستحق وي هغو ته هم که خپل استحقاق ونه رسېږي، هغوی هم پر مخالفینو بدلېږي، نو په دې وجه د مخالفینو شمېر په نورمال ډول له (۱۰-۱۵) فیصدو پورې پورته کېږي او له (۵۵) څخه چې (۱۵) وباسو، نو څلوېښت پاتې کېږي او بیا چې دا پنځه لس فیصده د مخالفینو له اوسني (۴۵) فیصدو سره یوځای کړو، نو خبره (۶۰) فیصدو ته پورته کېږي، نو که اینده غواړې بیا ټاکنو ته ودرېږې، ډېر کار په کار دی.)) بیا د ده پر دواړو مرستیالانو: (احمدضیامسعود او کریم خلیلي) بحث راغی چې لومړي (۳۳۷)رایې راټولې کړې وې او دویم یې هم ډېر کم شمېر، چې په نشت حساب وې، ما ورته وویل: ((خدای مې دې غاړه نه بندوي چې احمدضیا مسعود او کریم خلیلي به خپله خپله رایه هم تاته نه وي درکړې، زه پر دې دواړه شکي یم، (۳۳۷) رایې چې تاسو په پنجشېر کې ګټلې، هغه هم هلته یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر کوچیان او پوپلزي اوسېږي، هغوی درکړي، نه احمدضیا مسعود. عجیبه خبره خو دا ده چې دی ځان ته د ((ملي قهرمان)) ورور وایي، دا د څرنګه ملي قهرمان ورور دی چې په خپله سیمه کې یې زر(۱۰۰۰) رایې هم نه درلودلې، له دې څخه موږ ته د واقعي او ناواقعي قهرمان څرک هم لګېږي.)) بیا مې ورته وویل: ((که په ده کې سړیتوب وای، نو لږ تر لږه به یې د خپلې کورنۍ او خپل ورور د نوم په خاطر هم دومره شمېر رایې پیداکړې وای چې نه تاته سرټیټی وای نه ولس ته! تر ده خو زموږ د لغمان ډمانو (سلمانیانو) هم تاته ډېرې رایې درکړي دي، دې څخه معلومېږي چې تر احمدضیا مسعوده زموږ د لغمان د سلمانیانو بېز قوي دی.)) دې خبرې سره





(احمد ضیاء مسعود) (کریم خلیلي)


ده هم ډېر وخندل. د لغمان سلمانیانو یوه اتحادیه درلودله چې ټولو په ګډه پرېکړه وکړه؛ کرزي صیب ته به رایه ورکوو. کرزي صیب وویل: ((اول او دویم معاون خو به رایه راکړې وي، خو باډیګارډانو یې ماته رایه رانه کړه.)) ما ورته وویل: ((دوی چې خپل باډیګارډان نه شي قانع کولای، نو نور ولس به څنګه قانع کړي؟)) دا بحث نږدې یو ساعت وغځېد، نورې خبرې هم په کې مطرح شوې، خو مهم ټکي یې همدا وو.

دا چې زه ولې تر ټاکنو د مخه او وروسته ولسمشر وغوښتلم، علت یې دا و چې هغه پر دې پوهېده چې زه د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د هغه ټینګ ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم. په تېرو جرګو کې مې د ده د ملاتړ له امله دنده هم له لاسه ورکړه. ټاکل شوې وه چې ولسمشر کرزی د ولسمشرۍ د کمپاین د چارو دهمغږۍ لپاره په جلال اباد کې یو ځانګړی دفتر خلاص کړي او ما، چې تر دې مهاله په ټاکنو کې څه نا څه تجربه لرله، د دې دفتر د دارالانشاء رییس کړي او نور مطرح کسان به د شورا غړي وي. دا مهال نو په ننګرهار کې یو شمېر تنظیمي عناصرو، چې د کرزي په حاکمیت کې یې خپله بقا لیدله، هم کمپاین ته راودانګل، سره له دې چې له کابله ویل شوي وو چې (یون) به د دارالانشاء چارې پر مخ وړي، خو حاجي صیب دین محمد، چې دا مهال والي و، خپل یو شمېر تنظیمي خلک راټول کړل. د ولایت مقام په دفتر کې یې جلسه ونیوله، ډاکتر صیب (محمد اصف قاضي زاده) چې دا مهال د ولایت مرستیال هم و او د مولوي صیب خالص په تنظیم کې دحاجي دین محمد نږدې ملګری و، دا ټول حاضر وو.


(حاجي دین محمد)

حاجي دین محمد وویل: «موږ دا غونډه د دې لپاره رابللې چې راتلونکو ټاکنو ته تیاری ونیسو، نو که زما نظر منئ ډاکتر صیب محمد اصف چې یوه قومي او جهادي څېره ده، دی به د ختیزو ولایتونو د دفتر مشر شي او یون صیب چې په ټاکنو کې تجربه لري، دی به یې مرستیال شي او موږ نور ټول به ورسره په ګډه همکاري کوو.» ما وویل: حاجي صیب! ډاکتر صیب اصف دې مشري وکړي، زه کېدی شي نورو ولایتونو ته لاړ شم، ازاد کمپاین وکړم، خو تاسو سره به خپله همکاري کوم.» زما اصلي اعتراض دا و چې په راتلونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت کې باید د زور واکانو، تنظیمواکانو او قومندانانو رول کمزوری وي، نو چې اوس یې د کمپاین چارې د دوی پر غاړه دي، بیا به یې لرې کوي څوک؟ او اعتراض مې دا و چې تنظیمي عناصر جانبي عوارض لري، نور تنظیمونه یې نه مني، خو ما ظاهراً د دوی پر وړاندې څه و نه ویل، همغه و چې هر چا خپل کار پیل کړ، له دې ټولو مسئلو څخه هم ولسمشر او هم په کابل کې د کمپاین نور چارواکي خبر وو، نو ځکه خو ولسمشر په دې مسئله کې زما نظر مهم باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رسنیز فعالیتونه

کله چې د ولسمشرۍ د لومړۍ دورې ټاکنې پایته ورسېدې، نو زه بیا وزگار شوم، خو ولسمشر راته وویل چې خپل دفتر دې فعال ساته، د دفتر کرایه او یو څه امکانات چې مخکې مې هم ورته اشاره وکړه، هغه به زه درته برابروم، ته دې خپل ملي کارونه کوه! ما خپل رسنیز کارونه بیا له سره منظم کړل. د قلموال په نامه اخبار مو لا د مخه پیل کړی و، هغه مو سره منظم کړ، (بېړنۍ لویه جرگه ولسواکي او زور واکي) اثر مې بشپړ کړ، له لیکوالو او پوهانو سره مې خپل مناسبات لا پسې ټینگ کړل، ځینې ولایتي سفرونه مې پیل کړل، خو مالي ستونزو سره لاس او گرېوان وم، د ولسمشر مرسته چې به را ورسېدله، مشکل به یو څه حل شو، خو که میاشت دوه به وروسته، ټکنۍ او یا هم بنده شوه، نو بیا به حالات خراب شول، خو ورو ورو مې دې حالت سره ځان روږدی کړ او پر ځان مې د بسیاینې لاره خپله کړه.


قلموال
قلم تولنه
۱۳۸۳
محکمه خپله د محاکمې وړ ده
مجموري ریاست یوه څوکۍ او یونیم درجن کاندیدان
مارشال په کابل او کابل په مارشال پلان کې
دناسمې سرشمېرنې ناسمې اغېزې
دبناغلي قانوني غیر قانوني کارونه
خپله رایه سمه او پرځای استعمال کړئ
ستر ریفورمیست ډاکتر اشرف غني او دجنگسالارانو گواښونه
زوړ مارکسیست لطیف پدرام د گناه په نوي لباس کې
داساسي قانون په لویه جرگه کې ۴۲۰ څوک و؟
د دولت ، ملت او اقتصاد اوېکي
دبناغلي حامد کرزي یو سیاسي جرنت
په لغمان او ننگرهار کې ۱۵۰ پروژې
په ننگرهار کې دسرشمېرنې سیمینار او دهغه اغېزې
او نور په زړه پورې مطالب

تر دې وروسته مې د کابل له رسنیو سره هم همکاري پیل کړه، پوهنتون سره مې بېرته خپل کار او تدریس پیل کړ، زما رسنیز فعالیتونه د ولسمشر د خوښۍ سبب شول، ځکه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه مهال و چې هم رسنۍ یو اړخیزې وې، هم کارپوهان. یوازې پر ولسمشر کرزي انتقادونه ازاد وو او بس. شمالټلواله چې دا مهال یې په حکومت کې تر هر چا زیات واک درلود، له انتقاده معاف وه، دوی هم په حکومت کې وو، هم په اپوزیشن کې. د اپوزیشن اصطلاح هم دا وخت نوې په ټوکېدو او دودېدو وه. هېچا جرئت نه درلود چې د دې خلکو په مقابل کې ودرېږي او غږ پورته کړي. زه بېلابېلو ټلوېزیونو ته تللم. زما بحثونه دومره ګرم شول چې ان زما د فزیکي امحا لپاره پلانونه جوړ شول، تروریست افراد استخدام شول. د پیسو او مقامونو د ورکړې ژمنه ورسره وشوه، خو خدای (ج) په خپل امان کې وساتلم، زما مېرمن، د کورنۍ غړي او نور دوستان ټول زما له دریځ سره موافق نه وو، ټولو ویل دا وخت د دې خبرو نه دی او نه څوک د پوښتنې شته، دا خلک (ټلواله) د خپل قدرت د بقا لپاره هر ناوړه کار ته لاس اچوي، دا وطن د پوښتنې ګروېږنې نه دی: د حاجي قدیر پوښتنه چا وکړه؟ د ډاکټر عبدالرحمن پوښتنه چا وکړه؟ دا نور په زرګونو چې وژل شوي، د هغو پوښتنه چا وکړه؟ خو ما ویل، اوس دې خلکو ځانونو څخه دېوان جوړ کړي، پر ټول ولس یې وهم خور کړی، یو څوک باید پیدا شي چې په رسنیو کې د دوی وهم مات کړي، کله چې وهم او ډار مات شو، بیا په ولس کې په زرګونو ځوانان مبارزې ته را دانګي؛ بیا مونږ ته اړتیا نه شته، خو یو څوک باید وي چې د دغې او هغې زمانې تر منځ واټن ووهي. په دې بهیر کې د ګڼو لفظي ټکرونو له جملې څخه یو هم هغه ټکر و چې زما او د ښاغلي (صالح محمد ریګستاني) تر منځ رامنځته شو. طلوع ټلوېزیون په کانټیننټال هوټل کې یو بحث جوړ کړی و. پنځه تنه د بحث ګډونوال وو، ښاغلي ریګستاني د منتخب حکومت لپاره هم د بن کنفرانس معیارونه وړاندې کړل او دا یې وویل چې باید په دې حکومت کې هم په همغه معیار او مقدار او په همغه څومره والي او څرنګوالي هر چا ته ونډه ورکړل شي، د ده په نظر اوس دوی په دې حکومت کې سهم نه لري، خو ما ورته وویل چې که د بن کنفرانس په ظالمانه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



معیارونو مو څوکۍ وېشلې، نو بیا دې انتخاباتو ته څه اړتیا وه؟ دومره لگښت ته څه ضرورت و؟ تا څخه یوه پوښتنه کوم چې منتخب حکومت څه مانا؟ سره له دې چې دا حکومت منتخب دی، خو په واقعیت کې بیا هم منتخب نه دی، همدا اوس چې تاسو انتخابات بایلولي، بیا هم تاسو په حکومت کې تر ټولو زیات یاست، له لومړي مرستیال څخه نیولې تر نورو مهمو څوکیو پورې ټول د یوې ولسوالۍ، یوې درې او یوه تنظیم خلک دي، دټولو نومونه مې ورته واخیستل. خیر دا اوږد بحث دی، خو لنډیز او محتوا یې دا ده چې لومړی ځل و د نظار شورا او یا هم د جمعیت د تیوریسنانو د ناعادلانه منطق پر وړاندې مخامخ په ټلوېزیون کې غږ پورته شو، وروسته بیا دا ډول بحثونه نور هم گرم شول، نورو خلکو هم جرئت پیدا کړ او د نظار شورا ویندویان،



(صالح محمد رېگستانی)

چې پخوا به په کوم شان، شوکت او فاتحانه ډول مرکو ته حاضرېدل او څرگندېدل، لږ پښه نیولي شول او په دې پوه شول چې نور څوک هم په دې وطن کې شته چې تر دوی یې د منطق ژبه تېره ده. زما دې هڅو د گڼو افغانانو هر کلی او ملاتړ راخپل کړ او نور ما خپل ولس د خپل ملاتړ او سپر په توگه گاڼه. ولسمشر هم دا حالات څارل او زما د کارونو قدردانی یې کاوه، خو په ډېر احتیاط یې زما ملاتړ کاوه، همدا کار د دې سبب شو چې ارگ ته زما د تلو لپاره ورو ورو لاره اواره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سیاسي مشورې


له هغې ورځې چې په رسنیو کې زما حضور او فعالیتونه زیات شوي، نو له ارګ سره مې تماسونه هم زیات شوي دي. په ارګ کې دا مهال زما اړیکي له ښاغلي (انجنیر محمدابراهیم سپین زاده)، ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل)، (فاروق وردګ)، (شیدامحمد ابدالي) او ځینو نورو دوستانو سره وو. دې ټولو د ولسمشر د چلند او روغنیتیٔ له امله له ما سره اړیکي پالل او ساتل، که د هغه خوښه نه وه، نو طبیعي خبره ده چې دا اړیکي یا قطع کېدل او یا سستېدل. پر دې مهال ما له ولسمشر سره څو ځله وکتل، ځینې ځانګړي ملاقاتونه وو، ځینې هم ډله ییز او له نورو خلکو سره په ګډه او ځینې خبرې هم داسې وې چې د یادو کسانو په وسیله مې ولسمشر ته وررسولې، کله کله به مې د ټلېفون په ذریعه هم خپل پیغامونه ولسمشر ته لېږل. طبیعي خبره ده چې ولسمشر د ګڼو مصروفیتونو له امله زما ټولو پوښتنو، غوښتنو او پیغامونو ته ځواب نه شو ویلای او نه یې باید ویلای وای، خو رابطه مې ورسره ټینګه وه. په دې ترځ کې څو ځله داسې مېلمستیاوو ته هم بلل شوی یم چې بهرني ډپلوماتان په کې وو او افغانانو څخه ډېرو کمو دولتي چارواکو په کې ګډون کړی و.

یوه ورځ یې ماښام بهرنیو دپلوماتانو ته مېلمستیا کړې وه. زه هم دې مېلمستیا ته بلل شوی وم. ډوډۍ هم، لکه چې د ایران سفارت تیاره کړې وه. د ګڼو هېوادونو؛ هندوستان، پاکستان، انګلستان، اسلامي او نا اسلامي هېوادونو کور دپلوماتیک استازي راغلي وو، د افغانستان پر تېر تاریخ خبرې راغلې، د جمهور رییس دا عادت دی چې په مجلس کې ډېرې ظریفانه ټوکې کوي، مجلس کې ورسره څوک نه تنګېږي، کله چې د افغانستان د تېر تاریخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د افغانانو د تېرې مبارزې او فتوحاتو خبره راغله، نو جمهور رييس په ټوکه کې وویل: ((اوس دلته دومره هېوادونه راغلي او موږ سره يې دوستي ده چې که موږ تېر تاريخ ياد کړو، هسې نه چې دوی راڅخه خفه شي، ځکه که موږ وايو چې موږ له انګرېزانو سره درې جنګونه کړي، هغه مو ګټلي او ازادي مو اخيستې، نو انګرېزان خفه کېږي، که ووايو چې د پاني پت ميدان مو ګټلی، نو هندوستان خفه کېږي، د روسيې خبره خو لا نږدې تېره شوې، حيران يو چې څه ووايو! څه نه شو ويلای...)) دا مهال ټولو مېلمنو وخندل.



(ولسمشر حامد کرزی)

يوه ورځ ولسمشر وغوښتلم، راته يې وويل: ((څنګه دي حالات؟ هر څه ورو ورو ښه کېږي، وارخطا کېږئ مه! دا د يوې ورځې کار نه دی، افغانستان ډېر وران شوی، وخت غواړي چې خلک بيا سره يوځای شي)). ما ويل رييس صاحب! د ښه والي او بدوالي تر منځ که نسبت او تناسب مراعت شي، نو بيا اميد پيدا کېدی شي، تاسو وګورئ تاسې چې کومې ډلې ته امتياز ورکوئ، دوی له دې امتيازاتو څخه د ځان په ګټه کار اخلي، ځانونه پياوړي کوي او که نه تاسو فکر کوئ دې کار سره موقتي ثبات رامنځته کېږي او بيا تاسو له دې ثبات څخه د راتلونکو پلانونو د تطبيق لپاره کار اخلئ؟ که خبره په دويم حالت کې وي، بيا تاسې بريالي ياست او که خبره اول حالت کې وي، نو بيا جنګسالاران واکمن دي او هغوی له دې حالته د خپل ځان په ګټه کار اخلي. د ولسي جرګې د (۱۵)مې دورې لپاره د ټاکنو بهير روان و، اکثرو خلکو ويل چې زورواکي بايد جرګې ته لاره پيدا نه کړي، هم ملت دا هيله لرله، هم نړيوالې ټولنې، زه هم د همدغه ارمان لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



له جلال اباد څخه کابل ته راغلم، غوښتل مې له ولسمشر سره وګورم او د ولس دا ارمان ورته څرګند کړم. د ملاقات زمینه برابره نه شوه. له (انجنیر صیب ابراهیم سپین زاده) سره مې وکتل، هغه ته مې په یوه جمله کې خپل نظر څرګند کړ چې ولسمشر ته یې ورسوي. دا چې دا موضوع مهمه ده، ښه به وي چې له ټولو جزیاتو سره یې دلته راوړم، چې درانه لوستونکي او افغانان د خپل اوسني تاریخ له دې پاڼې څخه هم ښه خبر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درې سوه پنځلس

دا لیکنه په یوه عدد پیلوم، افغانستان کې عددونه هم کله کله پر عددي مانا او کیفیت سر بېره سیاسي او نورې ماناگانې هم ښندي. افغانستان کې یو څوک دی، چې دا څو لسیزې کېږي، د افغانستان د ملي هویت او ملي وحدت پر ضد لیکنې کوي، د افغانستان ډېر نعمتونه یې خوړلي او څټلي خو بیا هم د افغانستان مخالفت کوي، ما د لوی خدای (ج) دربار ته څو ځله د دعا لاسونه پورته کړي؛ هر فرد یا اشخاص چې د افغانستان مخالفت کوي، خدایه ویې شرموې. الله تعالی د انسان ټولې دعاگانې، هیلې او غوښتنې نه قبلوي، خو یوه نیمه یې قبلوي، انسان باید پر هغې هم شکر وکاږي. د اساسي قانون لویه جرگه وه، د جرگې د ټولو غړو شمېر (۵۵۲) تنه وو، په دې لړ کې د افغانستان یو مخالف، د زورواکو د حاکمیت له برکته او له نورو بېلابېلو لارو لویې جرگې ته لاره پیدا کړې وه، د جرگې هر غړي پر نوم، ولایت او پلار نوم سربېره یوه عددي شمېره هم لرله، دې کس ته تصادفاً (۴۲۰) نومره ختلې وه، دا نومره چا قصدي نه وه ورکړې، خو البته د خدای پاک اراده په کې شامله وه، یو وخت دې کس په جرگه کې د ځینو مادو د تعدیل او



(حفیظ منصور)

تغیر لپاره څه جعلي لاسلیکونه راټول کړي وو، د لویې جرگې د دارالانشا غړو د لاسلیک او سریال نمبرونو د چک پر مهال پر یوه عجیب نمبر سترگې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولګېدې: (۴۲۰) يوه پر بل غړ کړ: اوه وګورئ (۴۲۰)! څو ځايه ناقانونه لاسليکونه کړي، بل پر بل غړ کړ وګورئ څوک دی؟. عبدالحفيظ منصور...

د جرګې د دارالانشاء له غړو ورو د (۴۲۰) اصطلاح د جرګې غړو او ژورنالستانو ته انتقال شوه، هر چا به د (منصور) غاړې ته کتل او د (۴۲۰) عدد په ليدو به موسکي شول، دا مهال به منصور خپل کارت په سرچپه ډول غاړې ته اچوه، بيا به هم ژورنالستان ورپسې وو، يو وخت يې خپل کارت بېخي پټ کړ، يوازې تنستې به يې په غاړه کې راځوړندې وې.

(۳۱۵) عدد چې په دري ژبه کې ورته ((سه صد و پانزده)) وايي، هم يوه ماضي لري، د کابل ښاريانو په تېره بيا د خيرخانې مېنې اوسېدونکو ته چې د (۳۱۵) نوم واخلې نو سم لاسي يې د (جنرال بابه جان) قطعه (۳۱۵) ياد ته ورځي، (۳۱۵) د کابل خيرخانې مېنې د غره په لمن کې د (ډاکتر نجيب الله) د حاکميت پر مهال يوه لويه عسکري قطعه وه، چې ډول ډول عصري او درنې وسلې يې لرلې،


(جنرال بابه جان)

(بابه جان) چې اوس د (ستر جنرالۍ) پوځي رتبه لري، د همدې قطعې بولندوی يا قومندان و، دا ځای د (۳۱۵) يا (قطعه‌بابه‌جان) په نامه يادېده، دا سيمه اوس هم په همدې نامه يادوي. د جهادي او نيمه جهادي ډوله واکمنۍ پر مهال د دې قطعې ټول تجهيزات لوټ شول او ځينې ځمکې يې هم ونيول شوې، خو د طالبانو تر سقوط وروسته اوس د کابل دا سيمه په بشپړ ډول د زورواکو له خوا نيول شوې، ان د (بابه جان) په شان د يو زورواکي زور هم پرې نه رسېږي. اوس په دې سيمه کې په زرګونو کورونه جوړ شوي، خو تر (۳۱۵) زيات په کې يوازې لوړ پوړي تعميرونه دي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړ پوړو چارواکو له خوا جوړ شوي دي، د (۳۱۵) خبره مې ځکه یاده کړه چې عددونه له عددونو سره اړیکي لري.

پر (۱۳۸۴ل) کال د ولسي جرگې لپاره عمومي ټاکنې وې، دا مهال په افغانستان کې د زورواکۍ، جنگسالارۍ او ټوپکوالۍ نومونې زیاتې کارېدلې، دا منفي واقعیتونه رښتیا هم په ټولنه کې موجود وو. تر (۲۰۰۰) زیاتو کسانو له ټول هېواد څخه ځانونه ولسي جرگې ته کاندید کړي وو، د نوماندۍ په پاڼو کې جنگي جرمونه، ټوپکوالي، د مخدره توکو کاروبار، بشري ضد جرمونه هغه مسایل وو چې اصولاً یې د دې کارونو مرتکبین د ولسي جرگې له نوماندۍ څخه محروموول، ملگرو ملتو او په اصطلاح ځینو بشري سازمانونو هم د بشر د حقوقو چغې وهلې، همدې ډلو په تېره بیا په کابل کې د ملگرو ملتو د مرستو ځانگړي دفتر (یوناما) یو ځانگړی لست برابر کړ او د افغانستان حکومت ته یې وسپاره چې دا کسان باید د ولسي جرگې په ټاکنو کې د نوماندۍ له لېسته وباسي. په دې لېست کې له ټول افغانستانه (۳۱۵) تنه وو، چې د هر ولایت هغه نامتو ټوپکوال او زور واکي اکثره په کې شامل وو، چې ولسي جرگې ته یې ځانونه نوماندان کړي وو، له پروان ولایت څخه (قومندان الماس)، له لغمان څخه (عصمت الله محبت، انجینر محمد عالم قرار، عبدالهادي واحدي)، له ننگر هاره (پیر بخش گردیوال، حاجي حضرت علي) او همدارنگه له نورو ولایتونو څخه هم دې ته ورته اشخاص شامل وو، ملگري ملتونه مصمم وو د افغانستان حکومت چې دا مهال انتخابي پړاو ته رسېدلی و، په دې برخه کې غوڅ اقدام وکړي.

جنگسالارانو څو ځله په کابل کې غونډې وکړې او حکومت ته یې په اصطلاح خپل حضور څرگند کړ، حکومت هم څو ځله غونډې وکړې، خو څرنگه چې د دې جنگسالارانو اکثره ملاتړي په حکومت کې وو، هغوی د دې ټوپکوالو ملاتړ کاوه او دوی ته یې ډاډ ورکاوه چې څوک مو له لېسته نه شي ایستلای، دا مهال زه له جلال‌اباده کابل ته راغلم او د امنیت شورا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دفتر کې مې له (انجنیر ابراهیم سپین زاده) سره وکتل، هغه ته مې وویل: «په هر ترتیب چې وي باید د دې ټوپکوالو مخه همدلته ډب شي او که دوی یو ځل پارلمان ته ننوتل، نو مخکې خو یې یوازې ټوپک د ځاني ګټو لپاره کاراوه، دا ځل به قانون هم د شخصي ګټو لپاره استعمال کړي.» انجنیر ابراهیم سپین زاده زما له خبرو سره همنظره و، خو ویې ویل: ((څه وکړو زما زور نه رسېږي، دا د رییس صاحب (کرزي) کار دی.)) ما ویل خیر که ممکنه وي له رییس صاحب څخه ماته وخت واخله، هغه وویل کوښښ به وکړم، ما وویل: که د ملاقات لپاره چانس په لاس را نه شي، نو دا خلک خو ولسي جرګې ته داخلېږي، یوه جمله مې ولیکله:

((قدرمن رییس صاحب! دا ټوپکوال اوس یوازې ستاسو په یوه لاسلیک او یا سر خوځولو له پارلمانه وځي، خو که یو ځل ملي شوار ته داخل شول، بیا یې په توپونو، ټانکونو او الوتکو هم نه شې را ایستلای...)).

همدومره لیک مې انجنیر صیب ابراهیم ته ورکړ، ما ویل چې رییس صاحب ته یې ورسوه، څو ورځې وروسته په حکومت کې د شمالټلوالې واکمنو غړو په دې پلمه چې که دا قوماندانان مونږ د ولسي جرګې د نوماندۍ له لیسته وباسو، دا ټول ګډوډي جوړوي او د (ای ایس ای) غېږې ته ځي. مونږ که هر څومره چغې ووهلې چې (ای ایس ای) پارلمان ته داخلوئ او که له پارلمانه بهر یې ایساروئ، خو هېچا زمونږ خبره وانهورېده، کله چې د ولسي جرګې پایلې اعلان شوې، همدې ډول کسانو د زر او زور له لارې ځانونه بریالي کړل، په پای کې ولسي جرګې ته له همدې (۳۱۵) کسانو څخه (۸۲) کسان چې د ټولې ولسي جرګې نږدې یو پر درې برخه جوړوي، بریالي وګڼل شول.

د دې تر څنګ یو شمېر نور ټوپکوال چې هغه د ملګرو ملتونو په دې تور لېست کې نه وو راغلي، هغه هم بریالي وګڼل شول او په دې ډول ولسي جرګه د رسمي او نا رسمي ټوپکوالو له خوا یرغمل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دولتي چارواکو تغیر او تبدیل

یوه ورځ زه د ولسمشر ملاقات ته ورغلم، دا مهال ځینې تشویشونه وو، ځینو والیانو، لکه قومندان عطامحمد نور او نورو ګواښونه کول، اسمعیل خان او ګل‌اغاشېرزي هم ځانونه ټولواک ګڼل، جمعیت تنظیم شمال ولایتونه خپل بېز او د خپل نفوذ ساحه ګڼله، روسانو هم یو ځل بیا د پخوا په څېر په ډاګه کړې وه چې شمال ولایتونه د دوی د اغېز ساحه ده، د شمال او جنوب د واټن د زیاتېدو خطرونه یا زیاتېدل یا همداسې تمثیلېدل. اسلامي حزب هم د یوه سیاسي او نظامي قوت په توګه مطرح و او دولت کې یې تر جمعیت وروسته ونډه زیاتېدله. اسلامي جمعیت او په تېره بیا استاد برهان الدین رباني د بلخ له والي (عطامحمد نور) څخه د فشار د یوې وسیلې په توګه کار اخیسته، د کابل په حکومت کې یې خپل دریځ لاپسې پیاوړی کاوه او د نورو امتیازاتو د ترلاسه کولو په لټه کې و. په دغسې یو حالت کې ما د ملاقات غوښتنه وکړه، اندېښنه مې هم له همدغسې مسایلو سره وه. ملاقات برابر شو، کله چې د ولسمشر دفتر ته لاړم، ښاغلی فاروق وردګ هم ناست و، ولسمشر وویل، یوازې غواړې خبرې وکړې که ډاکتر وردګ دې هم وي، ما ویل نه دی دې هم وي، ځکه ځینې خبرې خو تیارې همدوی پورې اړه لري. ما ویل په دې ورځو کې یوځل بیا د شمال و جنوب، پښتو او فارسي د تا او زما د نفوذ د ساحو خبرې کېږي، د اسلامي جمعیت او اسلامي حزب ستونزې او په دولت کې د دوی د واک نانډرۍ بیا ګرمې دي، خلکو سره وېره او اندېښنه ده، نو په دې خاطر غواړم پر همدې مسایلو وغږېږم. ولسمشر وویل: ښه وایه پیشنهاد دې څه دی؟ ما ویل: ((اول که دا خبره ممکنه وای چې حکومت له اسلامي جمعیت، اسلامي حزب او بیا هم نورو ټولو تنظیمي عناصرو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص شوی وای، نو دا به ښه او ایډیال حالت و، خو چې په دې تېرو کلونو کې داسې ونه شول، نو اوس هم د دې احتمال نه شته چې یو ناتنظیمي او مسلکي حکومت دې جوړ شي، نو راځه لږ تر لږه خو دا وکړه، تنظیمي چارواکي له یوه ځای څخه بل ځای ته تبدیل کړه.)) ده وویل: ((څه مانا؟)) ما وویل: ((هر هغه تنظیم چې کومه سیمه د خپل نفوذ طبیعي ساحه ګڼي هلته یې مه واکمنوه، د ساري په توګه اسلامي جمعیت په شمال کې او اسلامي حزب په شرق، جنوب او نورو سیمو کې، همدارنګه نور تنظیمونه. دا ډول افراد هغو سیمو ته ورکړه چې دوی په کې بېز نه لري او یا یې ادعا نه کوي، په دې ډول به هغه سیمه د سیاسي فشار او افغانستان ته د ګواښ په توګه نه استعمالوي.)) ولسمشر وویل: ((نور یې هم راته تشریح کړه!)) ما وویل: ((په شمال ولایتونو کې خو هسې هم همدا اوس اکثره والیان د همدې تنظیم (اسلامي جمعیت) غړي دي، راځه دا والیان او قومندانان په جنوبي، شرقي او نورو ولایتونو کې مقرر کړه او د دوی پرځای دلته د اسلامي حزب والیان او قوماندانان وګوماره، یو خو به د شمال او جنوب، پښتو او فارسي خبره له منځه لاړه شي او بل به څوک کومه مشخصه سیمه د مرکزي حکومت پر وړاندې د ګواښ په توګه نه شي استعمالولای. بل داسې هم کېدی شي چې په شمال کې د اسلامي حزب او اسلامي جمعیت تر منځ د والیانو، قوماندانانو او نورو چارواکو تر منځ انډول او تناسب ټینګ کړې، بیا هم له شماله د ګواښ خبره له منځه ځي، اسلامي حزب سره خو غیر له دې هم د


(ډاکتر فاروق وردګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو خبره مطرحه نه ده، په اصطلاح د ټولو دنیا د مسلمانانو پیوستون غواړي، په ازبکو، هزاره وو او نورو قومونو کې هم بېز لري. نو په دې ډول به هلته د ملک د تجزیې خطر بېخي له منځه لاړشي. د دې احتمال هم شته چې د دوی تر منځ ټکر او جګړه رامنځته شي، نو که ټکر رامنځته هم شي، هېواد ته په زیان نه دی، له دواړو ډلو څخه هم ته او هم هېواد په تنګ



(ولسمشر حامد کرزی)

دی، نو که دواړه یو بل نفې کړي، مرکزي حکومت او هېواد ته یې زیان نه رسي.)) دې وخت کې یې ډاکتر صیب فاروق وردګ ته وویل: ((څه وایې، ته څه نظر لرې، ستاسې د حزبیانو په ګټه خبرې دي که څنګه؟)) هغه وویل: ((والله نو بد وړاندیزونه خو نه دي، که فکر پرې وشي ښه به وي.)) دې وخت کې ولسمشر ماته په خندا خندا کې وویل: ((ته د جمعیت ریښې باسې ریښې، هغوی په هېڅ وجه دې ته نه حاضرېږي چې خپل بېز له لاسه ورکړي.)) په دې منځ کې مو څه نورې خبرې هم وکړې، خو اصلي او مهم ټکي یې همدا وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمعه خان همدرد او جمعه خان اڅک

جمعه خان همدرد د هېواد په شمال کې له سیاسي، نظامي او قومي څېرو څخه یوه مطرح څېره ده، چې له تېرو درېو لسیزو راهیسې د هېواد په شمال کې پر پښتنو او ځینو نورو قومونو خپل اغېز لري. کله چې دی په جوزجان کې والي و، نو دا مهال په جوزجان کې د جنرال دوستم له خوا ده ته یو لړ مشکلات پیدا شول، د دوستم له خوا مظاهرې راوایستل شوې او د امنیتي ځواکونو او مظاهره چیانو تر منځ نښته رامنځته شوه، دنښتې په ترڅ کې څو تنو مظاهره چیانو ته مرگ ژوبله واوښته. دوستم د (۱۳۷۰ل) کال په شان شرایط کېښودل چې جمعه خان همدرد باید له دې ځایه تبدیل شي او پر ځای یې د ده د خوښې یو څوک وگومارل شي. پر (۱۳۷۰ل) کال



(جمعه خان همدرد)

(جمعه خان اڅک) په بلخ کې د امنیتي ځواکونو عمومي قوماندان و، دوستم او د هغه تر شا د ببرک کارمل پرچم ولاړې ډلې او نظار شورا ډاکتر نجیب الله ته شرط کېښود چې جمعه اڅک باید له شماله وباسي او که نه موږ خپل بغاوت ته دوام ورکوو. جنرال مومن، یو شمېر پرچمي قوماندانان او نجیب ضد عناصر



(جمعه خان اڅک)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې پروسه کې شامل وو. کارمل، رباني، مسعود، مزاري او په لویه کچه روسیه او ایران د دې توطیې تر شا ولاړ وو. نږدې (دوه نیمې لسیزې) وروسته بیا ورته قضیه تکرارېږي، ما له ولسمشر سره ملاقات درلود، هدف مې دا و چې هم دا او هم دېته ورته موضوعګانې او نور مسایل ورته تشریح کړم. کله چې د ولسمشر دفتر ته ورسېدم، نو په لویه انتظار خونه کې د جوزجان والي ښاغلی (جمعه خان همدرد) هم ناست و. تر سترګي مشي وروسته مې ترې وپوښتل څنګه راغلی یې؟ احضار کړی یې که څنګه؟ یوه جوړه شنې تسبې یې په لاس کې وې، هغه یې ماته راکړې او بیا ما سره همداسې پاتې شوې، همدرد صیب وویل: ((رییس صیب غوښتی یم، د مشورې لپاره، دا چې څه وایي نه پوهېږم، وروسته به معلومه شي.)) ما ورته وویل: ((وارخطا نه شې، دې ته ګوره متوجه شه چې دا خلک یو ځل بیا تاریخ تکراروي، ګوره نه په موقفونو کې فرق دی، نه هم په نومونو کې؛ هغه وخت جمعه خان اڅک و، اوس جمعه خان همدرد دی، کرکټرونه او محتوا دواړو خواوو کې همغه دي، رییس صاحب ته باید قناعت ورکړې، زه هم همدا اوس ورځم، تر تا مخکې زما نوبت دی، سر به یې خلاص کړم، خو چې ته ورته سست نه شې.)) هغه وویل: ((له ماڅخه بېخي خاطر جمعه اوسه، د دې خلکو ایمان موږ ته معلوم دی، چې رییس صاحب یې سسته نه کړي له ماڅخه نه خرابېږي.)) همدې وخت کې د ولسمشر سکرتر غږ کړ! یون صیب ستاسو د ملاقات وخت دی. ولسمشر سره کېناستم، تر روغبړ وروسته مې راساً همدا د جوزجان موضوع پیل کړه. ولسمشر لومړی خبره همدا مطرح کړه چې د دوی تر شا خو به څه توطیه نه وي. دوستم ته خو به خارجیانو نه وي ویلي. ما ویل دا چې دوستم ته به خارجیانو ویلي وي که نه؟ خو مهمه دا ده چې کومو خارجیانو به ویلي وي، د دوی له حرکتونو څخه خو داسې ښکاري چې دوی د (۱۳۷۰ ل) کال د وروستیو وختونو پېښې تکراروي، چې د هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتیجه کې یې د ډاکتر نجیب الله حکومت ړنګ کړ، حادثې او محتوا همغسې دي، یوازې کرکترونه توپیر لري، ان کرکترونه هم ډېر توپیر نه لري. تاسو د ډاکتر نجیب الله پرځای یاست، د جمعه خان اڅک پرځای او یا هم ورته ځای کې جمعه خان همدرد دی، دوستم پرخپل ځای او د هغه تر شا لاسونه او دسیسې هم پرخپل ځای دي. محتوا خو څه کړې چې ان نومونه او موقفونه هم توپیر نه کوي؛ جمعه خان همدرد او جمعه خان اڅک، وګوره همغه سناریو ده او یو ځل بیا تکرارېږي او که حالات



(جنرال عبدالرشید دوستم)

همداسې روان وي، خدای مه کړه چې ستاسو برخلیک به هم د ډاکتر نجیب الله په شان شي. ولسمشر لږ مکث وکړ، ((یاره که خارجیان یې تر شا ولاړ وي، نو بیا خو خبره خطرناکه ده او که هغوی یې تر شا نه وي، نو بیا خبره دومره خطرناکه نه ده، څو ورځې ګړبړ به وي، تېر به شي.)) بیا ما وویل: ((رییس صاحب اوس همدرد صیب هم تیار راغلی، هلته په اتاق کې ناست دی، دی د شمال پر موضوعاتو ډېر پوهېږي، زما وروستۍ غوښتنه خو دا ده چې جمعه خان همدرد باید اوس د دوستم د غوروپش له امله تبدیل نه شي او یوځل بیا د جمعه خان اڅک خبره تکرار نه شي، که چېرې تبدیلوې یې هم، نو کله چې حالات نورمال شول، بیا یې که تبدیل هم کړې، پروا نه کوي، خلک به وایي چې په خپله یې تبدیل کړی دی او د دوستم فشار پرې کوم اغېز نه درلود، خو اوس که دې تبدیل کړ، خلک به وایي چې د دوستم فشار ته تسلیم شو او دا داسې خلک دي چې څومره یې فشار ته غاړه ږدې، دوی نور امتیازونه غواړي، قناعت نه کوي.)) موږ د نورو مسایلو په باب هم خبرې وکړې، خو مهم ټکي په کې همدا وو. د دې ټکو تر بیان وروسته او د جمهور رییس له دې ډاډ سره چې همدرد به نه بدلېږي، د ولسمشر له دفتره را بهر شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم څپرکی

# حکومتي دنده

لکه څنګه چې د دې اثر په سریزه کې مې وویل، ما په حکومت کې د دندې له اجرا سره چندان مینه نه لرله، خو بېلابېل مجبوریتونه او د وخت غوښتنې د دې سبب کېږي چې سړی یوځای کې جبري او یا هم په خپله خوښه دنده اجرا کړي. زما د دندې څرنګوالی هم له دې حالته خالي نه و، کله چې تر انتقالي ادارې وروسته د ولسمشرۍ او ولسي جرګې ټاکنې خلاصې شوې. نو ګڼو مشرانو، دوستانو او نورو خواخوږو راته وویل چې کرزي سره دې دومره منډې ترړې ووهلې، نو اوس خو یو ښه ځای کې وظیفه واخله، هم به ځان ته کار وکړې، هم به ملګرو ته، یوازې په تشو سیاسي تبصرو هم څه نه جوړېږي، ټوله ورځ په رسنیو کې ناست یاست، اخر دا څه نتیجه ورکوي؟ امنیتي حالات مې هم ښه نه وو، ځینو به په کې دا ویل چې که دولت ته لاړ شې، نو که نوره ګټه دې نه وي، خپل فزیکي امنیت خو به دې خوندي شي، ځینو به په کې دا هم زیاته کړه. چې ټول عمر په اپوزېشن کې پاتې کېدل هم چندان خوند نه کوي، ځینو به دا انتقاد هم کاوه چې تاسو خپله پر کرزي او دې حکومت باور نه درلود، نو ولې مو ورته کمپاین کاوه، اوس چې تاسې په کې دنده نه اخلئ، نو هغه خلک چې سمون غواړي، هغوی به څنګه زړه ښه کړي، دا او دېته ورته ډېرې نورې پوښتنې او فشارونه وو چې زه یې دې ته اړکړم چې په حکومت کې دندې ته زړه ښه کړم. هغه خبره مې لا هم په زړه کې وه چې په حکومت کې او هغه هم د حکومت په حساسو رګونو کې کار کول سړي ته د دې مجال ورکوي چې د معلوماتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخزن ته لاره پیدا کړي، خپل یادښتونه سره منظم او راتلونکي نسل ته بیا د خپلې زمانې حال و احوال وړاندې کړي. له ولسمشر سره مې ملاقات وکړ او دوه درې ځله مې د دندې په باب ورسره وکتل. ښاغلی (فاروق وردگ او ښاغلی سر محقق زلمی هېوادمل) مو په ملاقاتونو کې حاضر وو، جمهور رییس په حکومت کې له دندې اخیستلو څخه راضي او خوشاله شو، خو دا ټکی یې را یاد کړ چې په حکومت کې به دې خوله بنده وي، بیا به دغسې بحثونه نه شې کولای، لکه اوس چې په رسنیو کې ناست یې او په خلاص مټ هر څه وایې، خوله به دې بنده شي. خیر په هر صورت فاروق وردگ او هېوادمل صیب ته یې وویل، سره کښېنئ، هر ځای چې د ده خوښ و همغسې وکړئ، څه شی چې دی غواړي همغه کار ورته ترتیب کړئ. څه موده دې کې تېره شوه، ښاغلي هېوادمل صاحب د قبایلو وزارت معینیت او فاروق وردگ د پارلماني چارو معینیت په پام کې نیولي وو. بله ورځ بیا درې واړه ولسمشر ته لاړو. هغه پوښتنه وکړه چې څنگه شو کار؟ هېوادمل صاحب چې مخکې تر مخکې یې د ولسمشر پر ذهن کار کړی و او هغه یې متمایل کړی و، ورته وویل، زما خو د قبایلو وزارت معینیت ورته پیشنهاد دی، نور د ده خپله خوښه، رییس صاحب وویل: ((ښه پیشنهاد دی، وزیر خو یې هغه دی تاته معلوم دی (براهوي صیب) ډېر ښه او ارامه سړی دی خو د کار نه دی، گوزاره به دې ورسره وشي، راځه همدا د هېوادمل صیب پیشنهاد ومنه، یو څه موده دلته تېره کړه، که دا وزیر و هم صلاحیت به دې زیات وي، پوهېږم چې هغه تر تا ځان نه شي خوځولی او که دا وزیر لاړ، اتومات به دې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرځای پورته کړم، تیار کار دې هم له پښتنو سره دی، ښه ډېر امکانات به دربرابر کړم، گرځه پر همدې پښتنو، خارجیانو ځخه به هم درته امکانات پیدا کړم، که پښتنو ته کار کوې نو همدا یې ځای دی، تر دې نو بالا ښه ځای نه شته.)) ما ویل رییس صیب شل کاله کېږي چې قبیلوي ژوند مې پرې ایښی، ته مې اوس بیا داسې ځای ته لېږې چې له جرگو او مرکو پرته بل شی نه شم کولای،



(سر محقق زلمی هېوادمل)

مطالعه، لیک به رانه پاتې وي، بېرته به نالوستی شم، ما داسې ځای ته ورکړه چې هم علمي او فرهنگي کار وکړم او هم د هېواد د کورنیو دښمنانو د توطیو، بېځایه دلیلونو او ناوړه نظرونو مخه ونیسم. دې وخت کې یې وویل، د معارف وزارت او یا د لوړو زده کړو وزارت معینیتونه غواړې، ونیسه دا خو دې مسلک دی تیار. ما وویل نه هلته هم نه ځم، گوزاره به مې ونه شي، دې وخت کې فاروق وردگ وویل، په پارلماني چارو کې به زما مرستیال شي، زه به



(ډاکتر فاروق وردگ)


خپل ټول صلاحیت ده ته ورحواله کړم، هر څه چې دی غواړي، هغه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږي، زه به دې نورو کارونو ته وزګار شم، غیر له دې یې هم په حقوقي، سیاسي او ټولنیزو مسایلو کې هم علاقه زیاته ده او هم تجربه، رییس صاحب وویل! ونیسه دا کار هم ښه دی، ما ویل نه رییس صیب دې وکیلانو سره مې چې اکثره یې په درغلۍ او غوړه مالۍ راغلي هم ګوزاره نه کېږي، دوی به ما څخه یو کار غواړي، خپل خپلوان به راباندې مقرروي او زه به یې صلاحیت نه لرم، د تش رابط په توګه هلته څه کوم او په داسې یو رول کې بیا وکیل زما خبرې ته څه ارزښت ورکوي. دې وخت کې ولسمشر هغوی ته مخ واړوه ویې ویل: ((خیر دی پرېږدئ چې په خپله خوښه څه وو‌ايي،)) بیا یې ما ته وویل چې ستا خپل نظر څه دی؟ ما ویل د امنیت شورا دفتر کې باید کار وکړم. هغه وویل، هلته به څه وکړې هغه خو ډېر وړوکی دفتر دی، هلته خو هېڅ نه شته، هغوی خو ټوله ورځ چایونه څښي، په دې څو کلونو کې خو ما د هغوی کوم کار نه دی لیدلی. ما ویل زه غواړم، هلته فرهنګي کارونه سره منظم کړم، ولسمشر وویل، هلته خو فرهنګي دفتر نه شته، نو کارونه یې څنګه منظموې؟ ما ویل رییس صیب نوی دفتر په کې جوړ کړه! دې وخت کې یې وویل: «ښه نو خبره داسې ده.» بیا یې فاروق وردګ ته مخ راواړوه خیر نو چې خبره داسې ده، هلته یې تیار ابراهیم جان هم انډیوال دی، هغه سره یې طبعه برابره ده، پرې پوهېږم، ځئ نو مکتوب یې جوړ کړه رایې وړه چې زه یې امضا کړم. خو ګوره چې ابراهیم جان سره هم مشوره وکړئ! څه موده دې کې نوره هم تېره شوه، ولسمشر له انجنیر ابراهیم سره مشوره کړې وه، هغه هم خپله موافقه څرګنده کړې وه.

څه موده وروسته راته ډاکټر فاروق وردګ زنګ وواهه، مبارک دې شه کار مو خلاص کړ. زما خبره خو دې ونه منله، زما خو دلته (پارلماني چارو معينيت ته) خوښه وه. فاروق وردګ په دې ډول له ولسمشر څخه هم زما د تقرر او هم د امنیت شورا په دفتر کې د یوه نوي بست د جوړېدو فرمان اخیستی و.



ګڼه: ۳۸۶
نېټه: ۱۳۸۶/۱/۲۷

د افغانستان د اسلامي جمهوري رياست

د ملي امنيت په شورای کې د فرهنګي چارو د رياست فوق رتبه بست جوړول او په هغه کې د محترم محمد اسمعيل يون د ټاکنې په اړه.

حکم

د ملي امنيت په شورای کې د فرهنګي چارو د رئيس فوق رتبې بست جوړول او په نوموړي بست کې د محترم پوهنمل محمد اسمعيل يون ټاکنه د هغه د علمي کدر د حقونو په حفظ سره منظوروم.
د لوی خدای(ج) له درباره نوموړي ته د لا زياتو بريالو هيله کوم.

حامد کرزی
د افغانستان د اسلامي جمهوريت رئيس

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر حکم وروسته ما ډاکتر صیب وردګ ته وویل: ((زه که له یوې خوا ډېر دوستان لرم نو له بلې خوا مې مخالفین هم زیات دي، که ما په بل هر دفتر کې دنده اخیستې وای او که ډېره مهمه دنده هم وای او ما ډېر ښه کارونه هم تر سره کولای، نو ولسمشر او نورو لوړو چارواکو ته به هېڅکله هم د هغه ښه تصویر نه و رسېدلی، هم به سترې وم، هم بدنامه، نو ماته داسې ځای کې دنده په کار وه، چې تر هغو پورته د خبر رسونې کوم بل ارګان نه وي چې زما شیطانت پورته مقام ته ورسوي، دا داسې یوځای دی چې هم به زه خپله په کې مصؤن یم او هم اینده کې نورو دوستانو ته د خطرونو او ګواښونو مخه نیولای شم، نو ځکه مې دا دفتر تر ټولو غوره وباله، بل هدف مې دا دی چې د معلوماتو سرچینې ته نږدې یم.**

**که ولسمشر په کال کې یوه مشوره هم زما ومني، نو دې وطن ته به مې ډېر خیر رسولی وي. نو همدغه لوړې ملي ګټې وې چې ما دا ځای غوره وباله.))**

**تر فرمان اخیستو وروسته مو نه فرمان په رسنیو کې نشر کړ او نه هم د تقرر خبر، ځو ورځې وروسته په ارام ډول لاړم او خپله دنده مې اشغال کړه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دندې لومړني وختونه

د دندې لومړني وختونه په ډېر ښه ډول پیل شول. پر کومه ورځ چې زه دفتر ته لاړم، یوه ورځ مخکې زما د تقرر مکتوب اداري دفتر ته ورغلی و. د کار پر لومړۍ ورځ د امنیت شورا د دفتر د ولایتي برخې مسول ښاغلي (عبدالله پوپل) او اداري مسول (سرور ثبات) ستړي مشي ته راغلل، دواړه زیات خوشاله شول. د نوي دفتر د جوړېدو د وسایلو لېست یې واخیست بیا انجنیر ابراهیم سپین زاده چې د امنیت شورا د دفتر لومړی مرستیال و، تشریف راوړ، مبارکي یې راکړه، ټول خوشاله وو. راته یې وویل چې دلته په دې ټولو دفترونو کې اداري مامورین ډېر کم دي، نو ته کولای شې درې څلور تنه مامورین په خپله خوښه مقرر کړې، ما ویل دوه تنه زه راولم. ضیاءالرحمن ضیاء او وفا الرحمن وفا دواړه مې ورته وړاندیز کړل، د یوې میاشتې په بهیر کې د هغو کارونه خلاص شول. تر هر څه لومړی مې د دفتر د کارونو لپاره یوه ستراتیژي جوړه کړه او د څو ورځو په بهیر کې مې هغه د ولسمشر له نظره هم تېره کړه او ورته مې وویل چې د همدې ستراتیژۍ په چوکاټ کې به کارونه تر سره کوم او دېته ورته نور فرهنګي او ټولنیز کارونه، هغه راسره ومنله. د دې ستراتیژۍ یا کاري پلان لنډیز په دې ډول دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د افغانستان اسلامي جمهوریت
## د مــلي امنیـت شـــورا دفتر
## د فرهنگي چارو ریاست

## کاري پلان او ستراتیژي

**۱- فکري گروپ:** دا ریاست به هڅه وکړي، د هېـواد لـه مفکرینـو څخـه داسې یـو لـس کسیز نارسـمي گـروپ جـوړ کـړي چـې د هېـواد د سـیاسي، فرهنگي او نورو چارو په باب وخت پر وخت خپلې مشورې د فرهنگــي چـارو ریاست ته ورکړي او هغوی بیا دا مشورې تر تحلیل وروسته لـوړو مقـامونو تـه وررسوي.

**۲- مطبوعاتي گروپ:** د فرهنگي چارو ریاست به هڅه وکړي په مطبوعاتي ډگر کې داسې یو دېرش کسیز نارسمي مطبوعاتي گروپ جوړ کړي چې په مطبوعاتو کې د حکومت مثبت کارونه او مشروع غوښتنې په ښه ډول انعکاس کړي او د مخالفینو تعرضونو ته ځواب ووایي.

**۳- د دولت په فرهنگي موسسوکې هماهنگي:** د فرهنگي چارو ریاست به هڅه وکړي د دولت د فرهنگي موسسو په کارونو کې هماهنگي راولي او په دې برخه کې هغوی ته خپل وړاندیزونه وړاندې کړي.

**۴- د فرهنگي او علمي شخصیتونو فهرست یا ډېټابېس:** د فرهنگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو ریاست به هڅه وکړي چې د ټول هېواد په کچه د موثرو علمي شخصیتونو او علمي کادرونو یو فهرست برابر کړي، دا کار به له دې سره مرسته وکړي چې په دولتي فرهنگي موسسو کې دولت د کار وړ اشخاص وگوماري او هم له دې اشخاصو څخه په نورو علمي او سیاسي چارو کې گټه واخلي.

**۵- د جگړه ځپلو سیمو فرهنگي حالات:** له اطلاعات او کلتور وزارت او نورو اړونده فرهنگي او علمي مرکزونو سره به په همکارۍ او هماهنگۍ داسې لارې چارې ولټول شي چې د جگړه ځپلو سیمو د فرهنگي ودې لارې چارې برابرې شي او د دې سیمو فرهنگي وضعې ته زیاته توجه وشي.

**٦- د بهرني کلتوري یرغل مخنیوی:** له بېلابېلو پوهانو او مفکرینو سره به د سلا مشورو له لارې د بهرني په تېره بیا د فرهنگي یرغل د مخنیوي لارې چارې په گوته شي او د حکومت له اړوندو فرهنگي موسسو سره به د همکارۍ له لارې د فرهنگي یرغل د مخنیوي لپاره هڅې تر سره شي.

**۷- د یوې ځانگړې وېبپاڼې (وېبسایټ) جوړونه:** د یوې داسې وېبپاڼې جوړول چې د چلولو اصلي محور به یې د ملي امنیت شورا دفتر د فرهنگي چارو ریاست وي، خو ازاده بڼه به ولري او ټول ازاد لیکوال به هم ورته لیکنې راولېږي. په دې وېبپاڼه کې به د افغانستان د اسلامي جمهوریت لاسته راوړنو، د هېواد د واقعیتونو د رښتیني بیان او د دولت د مخالفینو د تعرضونو پر وړاندې ډول ډول علمي، ادبي، سیاسي، انتقادي او اصلاحي لیکنې خپرېږي او د افغانستان د حالاتو یو رښتینی بیان به وي.

**۸- د فرهنگي ټولنو د هماهنگۍ اداره:** د ټول هېواد په کچه گڼ شمېر فرهنگي ټولنې فعالیت لري، خو د دوی تر منځ د کار هماهنگي او همکاري ډېره کمه ده، د دې اړتیا شته چې په هېواد کې د فرهنگي ټولنو د هماهنگۍ له لارې غوره فرهنگي کارونه او خدمتونه تر سره شي. د فرهنگي چارو ریاست به هڅه وکړي چې د بېلابېلو فرهنگي ټولنو تر منځ د دې ټولنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هماهنگۍ یوه اداره جوړه شي.

**۹- د فرهنگي غونډو، سیمینارونو او ورکشاپونو جوړونه:** د فرهنگي چارو ریاست به هڅه وکړي چې په هېواد کې د بېلابېلو فرهنگي ټولنو له خوا او یا هم په خپله په مستقل ډول د بېلابېلو کلتوري، علمي، ټولنیزو او سیاسي شخصیتونو، ورځو او مسایلو په باب علمي، ادبي او سیاسي غونډې، سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي.

**۱۰- لوړو مقامونو ته د فرهنگي چارو په باب سلا مشورې:** د فرهنگي چارو ریاست به هڅه وکړي د ملي امنیت شورا دفتر د مشرتابه له لارې د هېواد ولسمشر او نورو لوړ پوړو چارواکو ته سلا مشورې ورکړي او که چېرې ضرورت وي د هغوی د بیانیې لیکنې له ټیم سره به همکاري وکړي. د فرهنگي چارو ریاست به هڅه وکړي د جمهوري ریاست له مطبوعاتي دفتر سره هم خپله هر راز ممکنه مرسته وکړي.

د فرهنگي چارو ریاست به هڅه وکړي چې د چاپ، ژباړې، نشر، سمون او تدوین په برخه کې د امنیت شورا له نورو دفترونو سره مرسته او همکاري وکړي.

تر دې ستراتیژۍ او کاري پلان وروسته مو کارونه پیل کړل. کارونه ښه په خوند روان وو. ولسمشر هم اکثره وخت غونډو ته بللم، انجنیر ابراهیم او ښاغلي زلمي رسول هم د دفتر او هم ځینو نورو مهمو غونډو ته بللم، زړه مو گرم و، ما ویل ځه که خدای کول فرهنگي کارونه به ورو ورو سره منظموم، له اطلاعاتو او کلتور وزارت سره مې ښه رابطه جوړه کړه. ځینې ولایتي سفرونه مې هم تر سره کړل، له ازادو لیکوالو او فرهنگي ټولنو سره مې د همکارۍ مناسبات ټینگ کړل، د ځینو لیکوالو د اثارو د چاپ لپاره مې پلانونه جوړ کړل، د ولسمشر د ویندویۍ له دفتر، د حکومت له نورو ادارو سره مې هم اړیکې ټینگ کړل، لنډه دا چې کارونه له هیلو سره سم پرمخ روان وو. دا مهال د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن د گډې جرگې د جوړېدو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمیسیون جوړ شو. (ډاکتر فاروق وردګ) د دې کمېسیون د دارالانشاء رییس او (ډاکتر صادق مدبر) یې مرستیال وو. هغوی له ولسمشر څخه د یوه رسمي مکتوب په ترڅ کې هیله وکړه چې (یون) د جرګو په چارو کې تجربه لري، دی باید موږ سره په دې برخه کې همکاري وکړي. ولسمشر د هغوی غوښتنه منظور کړه او (عبدالله پوپل) هم ما سره په دې کار کې ملګری شو. له هغه کمیسیون سره مو همکاري پیل کړه. کارونه هلته هم ښه روان وو. دا مهال د جرګې لېست د بشپړېدو په حال کې و. ما له فاروق وردګ څخه هیله وکړه چې دا لېست د امنیتي او سیاسي چک لپاره موږ ته راکړه چې د امنیت شورا د دفتر له فلتره ووځي، هسې نه داسې څوک چې د هېواد د ملي ګټو خلاف وي، دې جرګې ته لاره پیدا کړي او جرګه ګډه وډه کړي. هغه وویل ښځي سمه ده، زموږ مسولیت به هم لږ کم شي. موږ د امنیت شورا دفتر ټول رییسان په دې پروسه کې دخیل کړل او ټول زیات خوشاله شول. ټول لېست مو په څو ورځو کې له نظره تېر کړ؛ د هر شخص په باب مو کاري معلومات تیار کړل او د وروستي چک لپاره مو ولسمشر ته ولېږه. کله چې ولسمشر لېست چک کاوه، نو په هغه جلسه کې د امنیت شورا د دفتر په استازی، زه(یون) او عبدالله پوپل دواړه ناست وو. ولسمشر هم زموږ له کارونو خوښي وښودله. د امن ګډه جرګه د جوړېدو په درشل کې وه. یوه ورځ مخکې ماښام د افغانستان له لوري د جرګې د تدویر کمیسیون چې (۲۱) غړي یې درلودل، د



(ډاکتر عبدالله عبدالله)

رایو په اتفاق پرېکړه وکړه چې زه (یون) د افغانستان له لوري د جرګې د منشي په توګه غوره یا انتخاب شم، خو د جرګې د رییس د ټاکنې صلاحیت یې ولسمشر ته حواله کړ. ماسخوتن مهال و چې ولسمشر په خپله راته زنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وواهه او ویې ویل چې ته مې د جرګې د منشي په توګه منظور کړې یې، خپلو کارونو ته دې پام کوه، ما ویل مننه رییس صاحب خاطر جمعه اوسه.**



**(افتاب احمد خان شېرپاو)**

**سبا سهار بیا ډاکتر عبدالله عبدالله د افغانستان له لوري د جرګې د مشر په توګه غوره شو او د پاکستان له لوري (افتاب احمدخان شېرپاو) د جرګې مشر او (رستم شاه مومند) د جرګې د منشي په توګه وټاکل شول. جرګې درې ورځې دوام وکړ او بیا د یوه پرېکړه لیک په ترخ کې په بریالي ډول پای ته ورسېده. په جرګه کې د پاکستان له خوا ډېرې هڅې وشوې چې له موږ څخه کوم حقوقي امتیاز واخلي، خو په ټولو بحثونو کې یې هېڅ کوم داسې شی**



**(رستم شاه مومند)**

**له موږ څخه تېر نه کړای شو چې زموږ د هېواد د ملي ګټو خلاف وي، بلکې تر زیاته حده زموږ وړاندیزونه او نظرونه ومنل شول. جرګه په بریالیتوب سره پای ته ورسېده. دا چې د جرګې پرېکړې وروسته عملي نه شوې، دا یو بېل بحث دی او ګڼ دلایل لري، خو خپله جرګه په اصل او محتوا کې بریالۍ شوه، دې بریالیتوب ولسمشر نور هم خوشاله کړ او له موږ څخه یې ځانګړې مننه وکړه. یو لړ نور مثبت کارونه مې هم په دې ترخ کې تر سره کړل. کله چې جرګه پایته ورسېده او همدارنګه یو لړ نور مثبت کارونه، نو دې کارونو ورو ورو زما پر وړاندې ستونزې راولاړې کړې، ورو ورو کینې وټوکول شوې او ورو ورو خندونه راوپنځول شول او زما د کارونو پر وړاندې یې ډېرې تولې کړې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ایله بیله چې امنیت شورا هم خبره وکړه:

زه چې کله د امنیت شورا په دفتر کې مقرر شوم، نو ولسمشر به هغو ورو غونډو ته هم وربللم چې ډېر غټ چارواکي به په کې نه وو، یوازې د دفتر رییس، د امنیتي چارو سلاکار او یو څو تنه نور به په کې شامل وو. یوه ورځ ولسمشر گلخانې ماڼۍ ته وروبللو، په خپل رسمي دفتر کې نه، په یوه بله خونه کې چې کله کله هلته چای هم څښي، یوه وړه جلسه وه. جلسه په دې باب وه چې د ترکمنستان یو لوړ پوړی چارواکی راځي، دا سفر له یوې تاریخي ورځې سره متصادف و. ولسمشر مشوره کوله چې دې هئیت ته څنگه هرکلی وویل شي او څه وشي چې هئیت ښه خاطره یوسي او د دواړو هېوادونو اړیکي لا پسې خواږه شي. هر چا خپل خپل نظر څرگند کړ، د تشریفاتو په شمول ټولو یو څه وویل، ما هم خپل نظر څرگند کړ. دې وخت کې ډاکتر زلمي رسول چې په امنیتي چارو کې د ولسمشر سلاکار یا د امنیت شورا د دفتر مشر دی، هم لږه خوله خلاصه کړه، یو څه یې وویل، دې وخت کې ولسمشر وویل: ((او هو، ایله بیله چې امنیت شورا والا هم خبره وکړه، ما خو په دې درې څلورو کلونو کې له دوی څخه یوه خبره هم نه ده اورېدلې، دغسې زړور شئ. امنیت شورا خو غیر له دې چې چای وڅښي نور څه کار لري)). دې سره ټولو ورو ورو وخندل او ځان سره موسکي شول. هغه وخت ماته پته ولگېده؛ کوم دفتر ته چې زه راغلی یم، هلته لکه چې تر دې دمه هېڅ کار نه دی شوی، څومره مهم دفتر او څومره چوپه خوله رییس!

دې ډول غونډو کې زما (یون) گډون زموږ د دفتر د لوی رییس (زلمي رسول) او نورو رییسانو پر زړه نه اوارېده، نو ځکه خو پټ او ښکاره مخالفتونه راڅرگند شول، چې غواړم دلته په لږ تفصیل سره ورته نغوته وکړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننګونې او مخالفتونه

کله چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن ګډه جرګه خلاصه شوه او له نورو انډیوالانو سره مې یو شمېر نور مثبت کارونه تر سره کړل، نو د ارګ په چاپېریال کې راته محافظه کاران، تنګنظران او نور مخالفین ټول یوې خواته شول، زما مخالفت ته یې راودانګل، سیاسي پلمې او پرابلمونه راوټوکول شول او د ډول ډول تورونو د پورې کولو لړۍ پیل شوه. د امنیت شورا په دفتر کې یو شمېر رییسانو د دفتر مشرانو لکه: انجنیر ابراهیم او په خپله ډاکتر زلمي رسول ته اعتراض وکړ چې: ((موږ هم رییسان یو، دی (یون) هم یو رییس؟ څنګه دی، وخت پر وخت جمهور رییس سره ګوري او موږ دا څو کاله کېږي د جمهور رییس مخ نه شو لیدلای، موږ خو هم دلته شپه او ورځ کار کوو، دې نظام ته مو کمپاین کړی او څه مو نه دي کړي، هر څه مو کړي خو بیا هم ولسمشر نه شو لیدلی...)) یو نیم به لا په کې دا خبره هم وکړه: ((کله چې د دفتر مشران، رییس صاحب وګوري همغه کفایت کوي، نو دا بیا څه دي چې یو رییس هم په هغه جلسه کې ناست وي، معاون او عمومي رییس هم، دا په خپله د انجنیر صاحب ابراهیم او ډاکتر صیب زلمي رسول لپاره سپکاوی دی، چې دوی هم په جلسه کې ناست وي او د دوی یو رییس هم هلته ناست وي.)) د دفتر حساسیتونو هم خپل تاثیر درلود او نورو ډول ډول پلمو هم.

ډاکتر صیب زلمي رسول یوه ورځ ولسمشر ته ویلي وو، څه فایده چې زه هم ناست یم او زما یو رییس هم هلته ناست وي، هغه هم زما له اجازې پرته، که زه یوه خبره وکړم او هغه یې رد کړي، نو بیا ماته څه پاتې شول، دا خبرې رواني وې ما د دوی خبرې او غبرګونونه احساسول، خو دومره جدي مې نه ګڼل، یوه ورځ مې (شیدا محمد ابدالي) ته، چې دا مهال د ولسمشر یاور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خاص سکرتر و، وویل، چې غواړم رییس صاحب سره وگورم، هغه وویل: «ښه به وي چې د ډاکتر صیب زلمي رسول له لارې ورسره وگورې، ځکه هغه ستا امر دی، هغه دلته رییس صاحب ته یوه ورځ اعتراض وکړ چې زه هم په جلسه کې ناست یم او زما رییس هم ناست وي، نو زما حیثیت کې څه پاتې کېږي، د دې په خاطر مې درته وویل چې دغسې یو نزاکت شته.» بله ورځ انجنیر صاحب ابراهیم هم راته وویل چې یوازې تاته دا فرصت مساعد و چې رییس صاحب سره وگورې، نور یو رییس هم د دې صلاحیت نه لري، دا کار د دفتر پر نورو رییسانو ښه نه لگي، ما ویل انجنیر صاحب ما خو د هغوی مخه نه ده نیولې، هغوی ورسره گوري که نه گوري، هغه د هغوی خپل کار دی، زه خو چې هر وخت ورسره



(شیدا محمد ابدالي)

گورم د هېواد په کچه یوه خبره ورسره مطرح کوم، ده ویل هر څنگه چې وي، خو هغوی اعتراض کوي. د یادونې وړ ده پر کومه ورځ چې ما له ولسمشر سره دلته د دندې د اجرا کار خلاص کړ، ما ورته ویلي وو چې رییس صاحب، زه دلته د یوه مامورگي په صفت نه راځم، زه راځم چې تاته د ملت پیغام او درد در ورسوم او بل که په کال کې زما له سلو نظرونو څخه یو نظر واورې او عملي یې کړې، نو دا به زما لپاره لویه نېکمرغي وي، البته په دربار کې به نور یوه کسان او غوړه مالان هم وي، د هغوی خپل کار دی، خو زه د یوه هدفمن انسان په توگه راځم. بله خبره چې مې ورسره سپینه کړې وه، هغه دا وه چې زما رسنیزه ازادي به نه ټکنی کېږي، زه د پوهنتون د یوه استاد او یوه افغان په توگه دا حق لرم چې په رسنیو کې د خپل ځان په استازې خپل نظر څرگند کړم، نه د حکومت په استازې، حکومت خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



استازي او ويندويان لري، هغوی به خپل کار کوي، خو که چېرې حکومت ماته د څه ويلو دنده راکوي، هغه به هم تر سره کوم، خو خپله ازادي به مې هم نه زيانمنېږي، رييس صاحب ما سره دا خبرې منلې وې. تر دې وروسته له ولسمشر سره زما ملاقاتونه ډېر کم شول، کله به په میاشت کې یوځل او کله به تر هغه هم کم شول. د ضرورت پر وخت مې په رسنيزو سياسي بحثونو کې گډون کاوه او خپله رسنيزه مبارزه مې جاري ساتله. دې کار هم ځينو خلکو ته خوند نه ورکاوه او دا پلمې به يې جوړولې چې د حکومت مامور دی، خو د حکومت پالیسي نه تعقیبوي، کوم لوړ رتبه مامور ته د دې حق حاصل دی چې داسې مرکې وکړي چې دی يې کوي، دا شکايت هم زموږ تر دفتره راورسېده، خو د دې په مقابل کې مې ټينگه مبارزه وکړه، هر څومره پلمې، قيد او قيود چې ولگول شول، پروا مې ونه کړه او ورته ومې ويل چې زه د پوهنتون يو استاد يم دا حق مې محفوظ دی، ان د ولسمشر په فرمان کې راته ليکل شوي چې د پوهنتون کادري حقوق يې خوندي دي او بل مې له ولسمشر څخه د دې کار اجازه اخيستې ده. اکثره غوږه مالانو ولسمشر ته لاسرسی هم نه درلود، نو ځکه خو په دې کار کې پاتې راغلل، ان د امنيت شورا د دفتر په يو سياسي غرضي تحليلي راپور کې دا ويل شوي وو چې په سياسي مسايلو کې د امنيت شورا د فرهنگي چارو رييس (محمد اسمعيل يون) خپلواک نظر زموږ د دفتر د پاليسۍ خلاف کار دی، خو دې ستونزو سره سره مې بيا هم خپلو رسنيزو او نيمه سياسي ټولنيزو فعاليتونو ته دوام ورکړ. تر هغه پورې چې غوږه مالان نور پوه شول زما د کار مخه نه شي نيولای، خو په اداري او نورو برخو کې يې تر خپله وسله زما د فعاليتونو مخه ډب کړه او زه يې له يو لړ ننگونو سره مخ کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرهنګي کارونه او یادښتونه

کله چې په دې پوه شوم، په ارګ کې د بېلابېلو سیاسي کړیو، اشخاصو او غوړه مالانو له خوا په پټه او ښکاره زما د فرهنګي، ټولنیزو او سیاسي کارونو مخالفت کېږي او مثبتو کارونو ته منفي رنګ ورکول کېږي، نو خپلو ملګرو (ضیاءالرحمن ضیاء) او (وفاالرحمن وفا) سره مې مشوره وکړه چې راځئ اوس خپل خط و سیر ته تغیر ورکړو، پټ فرهنګي کارونه پیل کړو، داسې یو فرهنګي کار وکړو چې د هېواد په تاریخ کې یې سارى نه وي لیدل شوی، پر خپلو دفتري، اداري او فرهنګي کارونو سربېره مې چې خورا کم وو، د خپلو شخصي فرهنګي کارونو لپاره پلان جوړ کړ. د دې ترڅنګ مې په بېلابېلو ولایتونو کې د ځینو لیکوالو او فرهنګیانو د لاسنیوي او د هغوی د اثارو د چاپ لپاره هم یوه طرحه جوړه کړه، دا طرحه هم د شخصي روابطو پر بنسټ وه او هدف مې په دولت کې له موثرو شخصیتونو څخه د فرهنګي کار لپاره اغېزمنه ګټه پورته کول و. خپلو دواړو ملګرو ته مې وویل چې کار ته تیار یاست؟ هغوی وویل سل په سلو کې تیار یو. ضیاءالرحمن ضیاء او وفا الرحمن وفا دواړه د کار ټاکوګان دي. دوی ته زما طبیعت معلوم دی چې ضعیفه سړی ما سره کار نه شي کولای، یو کاري میاشتنی او شپږ میاشتنی پلان مو جوړ کړ، ما تر دې مهاله په تېرو (۲۲) کلونو کې خپل فرهنګي کار له نظره تېر کړ، بېلابېل چاپ شوي او ناچاپ اثار، متفرقه لیکنې او څه چې مې په تېرو (۲۲) کلونو کې تر سره کړي وو، هغه مې ټول سره تقسیمبندي کړل، د یوه یوه کار پر تکمیلولو مې لاس پورې کړ؛ ما به یو اثر بشپړ کړ، ضیاءالرحمن به کمپوز او وفاالرحمن به ایډېټ کړ، بیا به ما ایډېټ کړ، ضیاء به په کمپیوټر کې اصلاح کړ، وفا به بیا ایډېټ او ما به بیا وکوت او همدا پروسه مو پر ټولو اثارو څو څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځله تطبیق کړه، داسې هم راغلي چې یو اثر موږ درې واړو تر (۲۱) ځلو هم زیات کتلی او لاس په لاس کړی مو دی. زموږ په دفتر کې دومره کاغذونه پراته وو چې تا فکر کاوه قرطاسیه پلورنځی دی، یو وخت داسې راغی چې د دفتر پرنټرونو کار پرېښود، بیا مو خپله له بازاره ټونرونه راوړل او کاغذونه به مو هم خپله راوړل او دا د دې لپاره چې د دفتر د خلکو حساسیت راونه پارېږي، خو په دې برخه کې چا دومره حساسیت ونه ښود، کله چې به څوک راننوتل او موږ به پر کار مصروف وو، نو ویل به یې بېشکه ښه کاریگر خو یاست، د دفتر خلکو نه یوازې حساسیت ونه ښود، بلکې په ځینو برخو کې یې همکاري هم وکړه. کله چې به دفتر ته خدمو چای راوړ، نو موږ به مصروف وو. یوه ورځ یوه خدمه چای راوړ ویې ویل: ((به قران رییس صاحب تنها همین دفتر شما است که کار میکند، ما خو به هر دفتر چای میبرم، اینطور ارام ارامی است که فکر میکنی هیچ کس در دفتر نیست در یگان دفتر در کمپیوتر پر بازی میکند والله به قران)) رښتیا هم همدا حال و.

زموږ دې فرهنگي کار تر دوو کلونو زیاته و کمه موده ونیوله، خو په دې وختونو کې مو یوه ورځ هم سر له کاره پورته نه کړ، د کتابونو د چاپ لړۍ هم بشپړه شوه، یو وخت چې مو حساب وکړ، تر (۳۵) زره مخونو زیات ایډېټ مو کړی و. دا البته د کتابونو له څو ځلي سمون او بیا کتنې څخه مې هدف دی، ټولې هغه متفرقه لیکنې، ژباړې، لیکلي اثار چې ما د



(زما د چاپ شویو اثارو یو انځور)

تېرو (۲۲) کلونو په بهیر کې لیکلي وو، هغه مو سره راټول کړل، یوازې څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



متفرقه لیکنې چې په بېلابېلو وختونو کې چاپ شوې وې او بیا چاپ یې ضروري وو، هغه مې ترلاسه نه کړای شوې.

(۳۳) عنوانه کتابونه مو پر یوه مهال چاپ کړل. دا د هېواد په تاریخ کې یو بېساری کار و چې هم ورته پیسې پیدا کړه، هم یې ایډېټ کړه او هم یې انټرنېټ ته پورته کړه او هم یې په (CD) کې خوندي کړه. موږ نه یوازې د چاپ بهیر پر مخ ووړ، بلکې دا اثار مو په (PDF) بڼه سایټونو ته هم پورته کړل چې هلته هم خوندي شي او په (CD) کې مو هم ځکه خوندي کړل چې ټول خلک نه شي کولای کتابونه له ځان سره وګرځوي او نه هم موږ هر چاته ټول اثار ور رسولای شول، نو په یوه (CD) کې مو ټول (۳۳) عنوانه کتابونه خوندي کړل، هم (CD)، هم چاپي کتابونه او هم د انټرنېټ څپې ټول مو په وړیا ډول لوستونکو ته وړاندې کړل. د دې خدماتو عنوان و: (خپل ولس ته د یون ډالۍ). کله چې مو دا اثار چاپ کړل، نو د زیاتو هېوادوالو د هرکلي وړ وګرځېدل، په (سرینا هوټل) کې مو ورته یوه یادغونډه یا نمانځغونډه جوړه کړه، هوټل والا وویل چې دا زموږ په هوټل کې د خپل نوعیت لومړنۍ غونډه ده، نو د هوټل په ټکس کې یې خورا تخفیف راوست، د غونډې راپور له (ټلوېزیون) او وېبسایټونو خپور شو، اکثرو هېوادوالو یې ستاینه وکړه او ماته یې مبارکي راکړه او هم یې زموږ د دې کار تائید وکړ، ډاکتر رنګین دادفر سپنتا چې دا مهال د بهرنیو چارو وزیر و. دارګ په دروازه کې راسره مخامخ شو، ویې ویل: ((شب در تلویزیون دیدم، کار خوب را انجام دادی، این که در متن اش چیست او مهم نیست او مربوط خودت است ولی در اصل این یک گام نیک و بسیار عالی بود، به این پیمانه کار فرهنگی در ذات خود قابل ستایش است، من برایت تبریک میگویم.)) همداسې نورو ګڼو خلکو راته مبارکۍ راکړې. څو ورځې وروسته مې د همدې کتابونو یوه بسته ولسمشر ته برابره کړه. د (داود زي صیب) دفتر ته لاړم، دوه بنډله کتابونه مې برابر کړل، هغه ته مې وویل، فقط د یو څو دقیقو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره رییس صاحب ته ورځم، دغه زما کتابونه دي، هغه ته یې ډالۍ کوم، هغه چې وکتل ویې ویل: ((ماشاالله دا څومره ښکلي دي، دا دې څه وخت لیکلي، چېرته دې چاپ کړي؟)) ما وویل همدلته، هغه راته وویل والله چې اول یې ماته رانه کړې، که خو رییس صیب ته درسره لاړ شم، اول به یوه بسته دلته ږدې بیا به ځو، ما ویل دا یوه مې تیاره تاته راوړې ده. خپل سکرتر ته یې وویل، دا هلته زما په الماری کې کېږده، چې زه یې بیا کور ته له ځانه سره وړم. سملاسي د رییس صاحب دفتر ته لاړو. داودزی صیب ورننوت او زه په سکرتریت کې ودرېدم، څو شېبې وروسته یې غږ کړ، راځه! رییس صیب چې زه ولیدم، له یو بنډل کتابونو سره، نو ویې ویل: ((اه دا دې څه کړي، ماشاالله ماشاالله، دا خو دې عجب کار کړی، دا وایه چې دا دې چېرته لیکلي او څه وخت دې لیکلي دي؟)) ما ویل همدلته په امنیت شورا کې، دا یو نیم کال پرې لگیا وم، ده وویل: ((عجب کار دې کړی، امنیت شورا لکه چې خپله ډوډی حلاله کړه، افرین افرین بښکه په دې کار، دا به زه خپل کور ته وړم او په خپلې شخصي الماری کې به یې ږدم، هلته زه یو ښکلی کتابتون لرم، یاره زنده باد، دغسې کارونه کوئ، خو اوس دا راته وایه چې څه درته وکړم، څه شی غواړې؟)) ما ویل هېڅ نه غواړم، دا مې تاسې ته ځکه ډالۍ کړل چې دا درته څرگنده شي، چې په ارگ کې هم فرهنگي کار کېږي، هېڅ نه غواړم، دې وخت کې داودزي صیب غږ کړ، صیب! یو مډال به ورته پیشنهاد کړو، رییس صیب وویل، نیسه را جوړ یې کړه! او همدې سره یې له دفتره راووتو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم څپرکی

# د امنیت شورا دفتر

د امنیت شورا دفتر د نړۍ په یو زیات شمېر هېوادونو کې وي، دا خورا مهم دفتر ګڼل کېږي چې د یوه هېواد لپاره ټول امنیتي جوړښت جوړوي، د هېواد ملي امنیتي پالیسي ترتیبوي او د هغې د تعقیب او څارنې لپاره کار کوي. د افغانستان د ملي امنیت شورا دفتر د امریکا د متحده ایالاتو د امنیت شورا دفتر ته د شکل له مخې ورته دی، خو نه د محتوا او عمل له مخې. دلته د امنیت شورا دفتر د موقتې ادارې تر پایته رسېدو وروسته رامنځته شو. ښاغلی ډاکتر زلمی رسول یې له پیله بیا بهرنیو چارو وزارت ته تر نوماندۍ پورې د دې دفتر رییس او د ولسمشر د امنیتي چارو سلاکار و. د امنیت شورا نه یوازې د یوه هېواد د فزیکي یا پوځي امنیت د ساتلو مسولیت پر غاړه لري، بلکې د یوه هېواد ټول امنیتي جوړښت که اقتصادي امنیت وي، که سیاسي، رواني او نور ټول د امنیت شورا دنده ګڼل کېږي او د امنیت شورا دفتر معمولاً دغه ټولې چارې سره همغږې کوي او د اړوندو ارګانونو یا اشخاصو تر منځ کارونه سره تنظیموي. د افغانستان د امنیت شورا دفتر هم د همدې هدف لپاره جوړ شوی و. دا چې دې شورا کومه عمومي پالیسي یا تګلاره لرله؟ عوامو ته څرګنده نه وه، یوازې خواص پرې پوهېدل او هغه هم څو تنه محدود کسان، د هر چا په واک کې نه وه. زه چې اول دې دفتر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقرر شوم، نو د دې پالیسۍ یوه دري او پښتو نسخه مې وکتله چې په اصل کې له انګلیسي څخه ژباړل شوې وه، غالباً چې بل چا به لیکلې وه، خو د افغانستان غوښتنې، ضرورتونه هم په کې منعکس شوي وو. د امنیت شورا دفتر په راس کې معمولاً د ولسمشر د امنیتي چارو سلاکار وي چې ټول امنیتي پروګرامونه تنظیموی، ولسمشر ته لاسرسی لري او په عاجل ډول ولسمشر ته خبر ورکولای شي. دا چې د افغانستان د امنیت شورا دفتر څه ډول کارونه کول او څه ډول تشکیلات یې درلودل، دلته پرې لنډه رڼا اچوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امنیت شورا دفتر تشکیلات

امنیت شورا دفتر له نورو دولتي ادارو سره یو څه توپیر لري. دفترونه او اداري تشکیلات یې محدود دي، خو د نورو دولتي مامورینو په اندول یې د واک نا اعلان شوې کچه زیاته ده. دلته به د دې دفتر ځینو جوړښتونو ته اشاره وکړو:

**۱- د ولایتي چارو ریاست:** د افغانستان د اسلامي جمهوریت امنیت شورا دفتر یوه ولایتي څانګه لري چې یو رییس، یو مرستیال او څو تنه مامورین لري. دا څانګه له ولایتونو څخه راپورونه اخلي، والیانو، امنیه قوماندانانو سره د اړیکو ټینګول د دې څانګې دنده ده او همدارنګه له مرکز څخه هغوی ته د حکومت د ځینو پیغامونو وررسول. هغه وخت چې زه په امنیت شورا دفتر کې وم، نو ښاغلی (عبدالله پوپل) د دې څانګې مسول و، وروسته بیا (محمد انور برېپال) د هغه پرځای مقرر شو.

**۲- د ستراتیژیکو اړیکو ریاست:** په افغانستان کې یو شمېر بهرنیو ادارو او د هغو له استازو سره د اړیکو ټینګول، پالل، د هغوی په غونډو کې ګډون او د یو شمېر رسنیزو فعالیتونو تر سره کول د دې ریاست دنده وه. ښاغلي (لطف الله مشعل) د څو کلونو لپاره د دې ریاست د رییس په توګه دنده اجرا کړه.

**۳- د تحلیل او ارزونې څانګه:** بېلابېل سیاسي، ټولنیز او نور راپورونه چې دې دفتر ته راتلل، او همدارنګه د هېواد د حالاتو ارزونه او تحلیل د دې ریاست دنده وه. دوی خپل کارپوهان هم درلودل چې یوه موضوع به یې څېړله، خپل مشر ته به یې ورکوله او هغه به د دفتر عمومي مشر ته سپارله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملک قریشي) چې د ولسمشر کرزي اخښی ( د مېرمن ورور ) دی. ډېر وخت د دې ریاست د رییس په توګه دنده تر سره کړه.

**۴- د بهرنیو چارو ریاست:** دې ریاست طبعاً له بهرنیانو سره اړیکي ټینګول، دوی د افغانستان بهرني روابط، د سیمې او نړۍ حالات ارزول او په دې برخه کې یې خپل تحلیلونه لیکل. (نجیب طهماس) څو کاله د دې ریاست د متصدي په توګه دنده اجرا کړه.

**۵- د فرهنګي چارو ریاست:** د فرهنګي مسایلو او چارو همغږي، ولسمشر ته په فرهنګي چارو او ویناوو کې د اسانتیا برابرول، د فرهنګي مسایلو ارزونه او نور فرهنګي کارونه د دې ریاست دنده وه.

شپږ کاله له (۱۳۸٦) څخه تر (۱۳۹۲ل) کال پورې ما (یون) د دې ریاست چارې پرمخ یوړې.

**٦- د اطلاعاتو اخیستلو ریاست:** له ټول افغانستان څخه هر سهار د تازه معلوماتو راټولول د دې څانګې اصلي دنده وه. (ضیاء صالحي) د دې څانګې د مسول په توګه زیات وخت دنده تر سره کړه.

**۷- مالي او اداري ریاست:** د ورځنیو مالي او اداري چارو سمبالول د دې ریاست دنده وه. (سرور ثبات) زیات وخت د دې څانګې د رییس په توګه دنده اجرا کړه.

سربېره پر دې د نظامي چارو د همغږۍ دفتر، (ای ټي) څانګه او ځینې نور واړه مدیریتونه هم د امنیت شورا د دفتر په چوکاټ کې فعال وو. د دې ترڅنګ دې دفتر درې معاونیتونه هم درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امنیت شورا دفتر ورځني کارونه

پر هغه ورځ چې ما دنده اشغال کړه، نو تر هغې څو ورځې وروسته انجنیرصاحب ابراهیم ماته وویل، چې نجیب طهماس سره به احتیاط کوې، ضیاء صالحي سره هم، سرور ثبات خپل پخواني حزبي تمایلات لري، ډاکتر صیب زلمی رسول او مالک قریشي خو پېژنې مقصد مې دا دی چې دلته به په روابطو او خبرو کې یو بل سره ډېر احتیاط کوې، پر همدې ورځ ما ته پته ولګېده چې په دې دفتر کې ډېر سیاسي او فکري یووالی نه شته، هر څوک یو چا راوستی، نو ما هم دې مسلې ته پام وکړ، په لومړیو ورځو کې ماته دفتر ډېر منظم نه برېښېده، خو وروسته وروسته د منظمو جلسو وړاندیز وشو، هر سهار به اته بجې جلسه وه، زلمي رسول به یې مشري کوله، خو انجنیر ابراهیم هېڅکله هم په دې ډول جلسو کې ګډون ونه کړ، جلسه به سهار پر (۸) بجو پیلېدله. د ټول هېواد د مهمو پېښو راپور به وړاندې کېده، بیا که چا کومه خبره لرله هغوی به خپل نظر وړاندې کاوه. البته په دې جلسه کې یوازې رییسانو او په نشتوالي کې یې مرستیالانو ګډون درلود. بیا به، نو زلمي رسول لنډې خبرې وکړې او که کومه نوې خبره یې درلودله هغه به یې وکړه. زلمي رسول د خپل ارام طبیعت له مخې ډېرې خبرې نه کولې، بیا به غونډه خلاصه شوه، موږ به د خپلو دفترونو او زلمی رسول به د جمهور رییس د دفتر پر لوري رهي شو. هر رییس به د اوونیز کار راپور د زلمي رسول مرستیال ته سپاره او هغه به بیا یا زلمي رسول ته سپاره یا به یې ځان سره ساته. وروسته بیا (همایون تندر) هم د یوه کال لپاره د زلمي رسول د مرستیال په توګه وټاکل شو، هغه او ښاغلي عبدالحکیم نورزي، چې بل مرستیال و، هغوی به هم په جلسو کې ګډون کاوه، کله کله به جلسه د دوی په مشرۍ هم دایرېدله. ښاغلي عبدالحکیم نورزي خپل حزبي تمایلات

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلودل او همایون تندر خپل تنظیمي. کله چې همایون تندر نوی مرستیال شو، نو ډېره هڅه یې کوله چې ځان ډېر فعال وښیي، دی اصلاً د نظار شورا او اسلامي جمعیت خاص کس و، په (پاریس) او (بروکسل) کې یې د افغانستان د سیاسي استازي په توګه دنده اجرا کړې وه. له ولسمشر کرزي سره یې د خپلولۍ کوم تار پیدا کړی و، نو دلته د (ملک قریشي) له لارې راغی او مقرر شو، یو کال یې دلته ځکه دنده واخیسته چې هلته د افغانستان په سفارتونو کې یې په قانوني ډول نور کار نه شو کولای؛ یوه لنډه وقفه ورته په کار وه. یو څو ځله د ده په مشرۍ جلسې جوړې شوې، خو ده ونه شو کولای چې په دولتي دفتر کې خپل تنظیمي او حزبي افکار پټ کړي، ډېر ژر یې غبرګون وښود، خبره داسې وه چې هر چا سره به کومه نوې خبره وه که به هغه سیاسي وه، یا نظامي او یا کومه بله، نو هغه به یې سهار په جلسه کې مطرح کوله او بیا به ټولو پرې بحث کاوه. ماته یو ځل له جلال اباد څخه چا راپور راکړ چې په جلال اباد کې د (حاجي حضرت علي) په مشرۍ د جهادي قومندانانو یوه شورا جوړېږي او د دې شورا هدف دا دی چې دولت ته سردرد پیدا کړي. ما د دې راپور جزئیات تحلیل کړل او سهارنۍ جلسې ته مې وړاندې کړل، خو په دې ورځ ښاغلی همایون تندر نه و. له تخار ولایت څخه هم ورته احوال راغی او هلته هم د یو شمېر قومندانانو او دولتي چارواکو په ګډه معامله کې دوی غوښتل چې مرکزي حکومت و وېروي. دا راپور مې هم له جزئیاتو سره جلسې ته وړاندې کړ.

راپور په دې ډول و:

**په تخار ولایت کې د متحدې جبهې غونډه:**

((د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر حامدکرزي د هغې وینا په تعقیب چې د لویې جرګې په کېږدۍ کې یې د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت په بلنه، د ولسوالیو او کلیوالي شوراګانو د استازو جوړې شوې غونډې ته کړې وه، د ولسمشر دې وینا هم د غونډې پر برخوالو او هم پر عامو افغانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه تاثیر کړی و. د ولسمشر دا وینا که څه هم د ډېرو خلکو خوښه شوې وه، خو د اسلامي جمعیت تنظیم، چې اوس یې ځانته د ((ملي جبهې)) نوم غوره کړی، پر ځینو مشرانو او د دې جبهې پر پخوانیو قومندانانو او نورو متعلقینو چندان ښه نه ده لگېدلې، په همدې خاطر د دې جبهې یو شمېر غړو په تخار ولایت کې د چهارشنبې پر ورځ د (۱۳۸٦ ل) کال د عقرب پر (۲۳)مه نېټه د دې جبهې د غړي (سیداکرام اغا) په کور کې یوه عاجله غونډه وکړه، په دې غونډه کې سیداکرام اغا، پیرمحمد، اکرم، د اشکمش ولسوال هاشم، سیرت او حاجي گل اغا گډون کړی و، په غونډه کې په دې اړه بحث وشو چې د جمهور رییس د ((توندې وینا)) په اړه څه عکس العمل وښودل شي، د دې غونډې د زیاترو برخوالو نظر دا و چې دا وینا باید د یوې مظاهرې په ترڅ کې وغندل شي.

دا چې په اینده کې به دا مظاهره وشي او که نه په دې اړه سړی اوس په غوڅ ډول څه نه شي ویلای، خو که حکومت پلوي خلک له لږ تدبیر څخه هم کار واخلي د دې ډول مظاهرو مخه نیول کېدی شي.))

کله چې مې دا راپور وړاندې کړ، نو دې سره تندر صیب ډېر په قهر شو، خپل احساسات یې کابو نه کړای شول او ویې ویل چې د دې ډول مسایلو مطرح کول هسې وخت ته زیان رسوي، موږ باید دا ډول قومي مسایلو ته لمن ونه وهو، دا د یو خاص قوم د قومي لوړتیا لپاره کېږي، دا ډول مسایل باید دې جلسو ته را نه وړل شي.



(همایون تندر)

د جلسې فضا ډېره خرابه شوه، هلته چې هرڅوک د یو نظر او فکر خاوند و او ټول له مناسب سواده برخمن وو، د تندر صیب چلند پرې ښه ونه لگېد،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما هم خپله خبره ورسره غبرگه کړه، ما وویل: «پر تا باندې ولې بده لگېږي، همدغسې مسایل پرون د ننگرهار په (دره نور) کې هم وو او له نورو ولایتونو څخه هم چې راپور راځي، موږ باید هغه کټ مټ راوړو، دې کې د قوم خبره چېرته ده، څوک چې قومي مشکل لري، هغه په خپله هره مسله قومي کوي...» د جلسې فضا ترخه شوه. تر هغه وروسته ما پرېکړه وکړه چې نور دې ډول جلسو ته نه ځم، یو شمېر نورو رییسانو هم پرېکړه وکړه چې دا ډول جلسې په درد نه خوري، تر هغه وروسته (سرور ثبات او ملک قریشي) تندر ته ویلي وو چې دلته هر څوک راغلي، هغه ځان ته یو څه وایي، ستا چلند مناسب نه و، دلته هر څوک په خپله رییس صاحب (ولسمشر) انتخاب کړي او هر یو مستقیماً له هغه سره رابطه لري، دلته گوره څوک، څوک لرې کولای نه شي. رییس صیب چې یون دلته راوړی، خپل خاص هدفونه لري، دی یې ازاد پرې ایښی دی، دې مسلې ته دې پام وي چې گوره نور جنجال ورځخه جوړ نه شي. تندر صیب ورته ویلي وو، چې ما د دې راپور پوښتنه وکړه، ډېر دقیق وو، حتی د اتاق ځای او وخت، هېڅ غلطي په کې نه وه، دا دومره دقیق راپور ولې ده ته راغی؟ دوی ورته ویلي وو چې هغه ډېر اجتماعي، علمي او فرهنگي روابط لري. نور دې خپله خوښه. یوه ورځ وروسته ماته تندر صیب زنگ وواهه، اتاق ته یې ورغلم، راته یې وویل: ((بیادر گپهای خود راپس گرفتم که تو خفه نه شوی، ما همه گپها را در این جا درک کردیم، ما و شما باید منحیث یک روشنفکر ویک فعال مدنی در اینجا برادر وار زندگی کنیم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زیاتې هیلې او کم فعالیتونه

کله چې ډاکتر صیب زلمی رسول د بهرنیو چارو د وزیر په توگه وټاکل شو او ډاکتر سپنتا د امنیت شورا سلاکار شو، نو بیا هم جلسو دوام درلود، په پیل کې به د ویډیو کنفرانس له لارې د امنیتي چارو د همغږۍ مرکز له خوا د ټول هېواد امنیتي راپور وړاندې کېده.

د همغږۍ په مرکز کې د ایساف، کورنیو چارو، دفاع وزارتونو او ملي امنیت استازو گډون درلود، دفتر یې د ارگ د دخولي دروازې په خوله کې و. دوی به د ټول هېواد د (۲۴) ساعتونو د امنیتي حالاتو، ضایعاتو او تلفاتو په باب راپور وړاندې کاوه. رښتیا هم په هېواد کې گرمه جگړه روانه وه، د دې جگړې جاج هغه چاته څرگندېده چې په داسې یو معلوماتي دفتر کې یې کار کاوه. ورځني تلفات به اوسط ډول (۱۰۰ تنه او ټپیان به له ۱۵۰ــ۲۰۰) تنه وو. په لسگونو گاډي او نقلیه وسایل به له منځه تلل، دې حالت ته به مې چې وکتل، نو ډېر به یې وځورولم.

هېڅوک په دفتر کې له دې حالته راضي نه وو، هر څوک ستړي او مایوسه وو، ورځ تر بلې بدتري وه. ما به چې کله د سهار په راپور کې تلفات ولیدل، نو بیا د غرمې ډوډۍ هم خوند نه راکاوه. پر هغه ورځ چې به جلسې ته لاړ نه شوم، نو ډوډۍ به یو څه نا څه خوند راکړ، هېڅ وړاندوینه، اراده او هیله نه وه چې دې حالاتو ته د پای ټکی کېږدي، له ولسمشر څخه نیولې بیا تر واړه ماموره پورې له ټولو څخه لاره ورکه وه.

ددغسې یو ابهام، ستړیاوو او نهیلو په منځ کې مو کار ته دوام ورکاوه، خو دې سره سره مو بیا هم په ځینو برخو کې د دفتر د حدودو، صلاحیتونو او امکاناتو په چوکاټ کې څه نا څه کارونه تر سره کړل، چې دلته غواړم په لنډیز سره یوازې د دوه نیمو کلونو په بهیر کې یې د ځینو یادونه وکړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د فرهنګي چارو د رياست دوه نيم کلن کاري راپور

۱- ولایتونو ته سفرونه: د دوو کلونو په ترڅ کې د فرهنګي چارو ریاست رییس بېلابېلو ولایتونو، لکه لوګر، پکتیا، میدان وردګ، کندوز، ننګرهار، لغمان، کونړ او نورو ته سفرونه کړي، هلته یې له بېلابېلو فرهنګیانو او د قلم خاوندانو سره کتلي، د هغوی له ستونزو او مشکلاتو یې ځان خبر کړی او هغوی سره یې د ځینو مشکلاتو په حل کې مرسته کړې ده.

۲- مرکې: د فرهنګي چارو رییس په تېرو دوه نیمو کلونو کې له بېلابېلو کورنیو او بهرنیو راډیوګانو، ټلویزیونونو او چاپي خپرونو سره تر سلو (۱۰۰)زیاتې مرکې کړي او په هغو کې یې د افغانستان د اسلامي جمهوریت پالیسي تشریح کړې، د جمهور رییس موقف یې خلکو ته واضح کړی او د مخالفینو تبلیغاتو ته یې په مستقیم او نا مستقیم ډول ځوابونه ویلي دي.

۳- د امن ګډه جرګه: د جمهور رییس له حکم سره د فرهنګي چارو رییس د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن ګډې جرګې د جوړېدو لپاره د هغې جرګې دارالانشاء ته په خدمتي توګه معرفي شوی و. د فرهنګي چارو ریاست د امنیت شورا دفتر له نورو ریاستونو سره په ګډه همکارۍ د دې جرګې په جوړېدو کې فعاله ونډه واخیسته او د فرهنګي چارو رییس د دې جرګې د منشي په توګه د جرګې په کامیابۍ کې خپل رول ادا کړ.

۴- علمي فرهنګي غونډې او سیمینارونه: د فرهنګي چارو ریاست په لسګونو کورنیو او بهرنیو علمي غونډو، سیمینارونو او ورکشاپونو کې ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او په هغو کې یې فعاله ونډه اخیستې ده.

**۵- بهرني سفرونه:** د فرهنګي چارو ریاست رییس پر کورنیو سفرونو سربېره، ځینو اروپایي هېوادونو، روسیې، پاکستان او امریکا ته کاري سفرونه کړي او هلته یې په علمي غونډو، سیمینارونو او ورکشاپونو کې ګډون کړی او د خپل هېواد استازیتوب یې کړی دی.

**٦- د جمهور رییس بیانیې:** د فرهنګي چارو ریاست د جمهور رییس لپاره د ځینو بیانیو په لیکلو کې مرسته کړې او د ځینو نورو لپاره یې مواد برابر کړي، چې له دې موادو څخه په خپل ځای کې ګټه اخیستل شوې ده.

**۷- د افغانستان د رسنیو ډېټابیس:** له (۱۳۸۰-۱۳۸۸ل) کال پورې د افغانستان د رسنیو په باب هر اړخیز معلومات راټول شوي، چې د یوه ډېټابیس کار ورکوي، دا مواد وروسته د یوه کتاب په بڼه هم چاپ شوي دي. په دې اثر کې د افغانستان په موقته، انتقالي او انتخابي اداره کې د رسنیو پرمختګ څېړل شوی دی.

**۸- تحلیلي مطالب:** د فرهنګي چارو ریاست له خوا له ضرورت سره سم په افغانستان کې د سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي پرمختیاوو په باب ګڼ شمېر تحلیلي مطالب هم لیکل شوي او مسولینو ته وړاندې شوي دي.

**۹- تحصیلي بورسونه:** د امنیت شورا له خوا روسیې ته د افغاني محصلینو په لېږلو کې د اداري رییس په مرسته او همکارۍ هلې ځلې شوي او د هغوی د لېږلو پروسه تکمیل شوې ده.

**۱۰- د امنیت شورا کتابتون:** د امنیت شورا دفتر د کتابتون لپاره د افغانستان د بېلابېلو چاپي خپرونو کلیکسیونونه ترتیب شوي او دې کتابتون ته ځینې کتابونه هم ورکړل شوي دي.

**۱۱- له فرهنګي ټولنو سره روابط:** د فرهنګي چارو ریاست په هېواد کې د بېلابېلو کلتوري ټولنو او د هغو د انسجام له ادارو سره ټینګ روابط

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، چې په ټولیز ډول تر (۳۰۰) زیاتې فرهنگي ټولنې په دې دایره کې شاملې دي.

**۱۲- د فرهنگیانو تشویق او هڅونه:** له نورو اړوندو دفترونو سره د فرهنگي چارو د ریاست په هلو ځلو یو شمېر فرهنگیانو او د کلتوري ټولنو استازو ته د دې زمینه برابره شوې، چې جمهور رییس سره وگوري او همدارنگه ځینو لیکوالو ته یې د تشویق زمینه برابره کړې.

**۱۳- د کتابونو چاپ:** د فرهنگي چارو رییس په هلو ځلو او په نادولتي امکاناتو په یوځایي ډول (۳۳) عنوانه علمي، ادبي، ټولنیز او سیاسي کتابونه چاپ شوي دي. سربېره پر دې د فرهنگي چارو ریاست یو زیات شمېر لیکوالو ته له ملي پانگوالو څخه د مرستې زمینه برابره کړې، چې هغوی پرې تر لسو عنوانو زیات علمي، ادبي اثار او مجلې چاپ کړي دي.

**۱۴- د لیکوالو نړیوال کنفرانس:** د فرهنگي چارو ریاست له هغو لیکوالو سره هم مرسته او همکاري کړې، چې په کابل ښار کې د لویې جرگې په خېمه کې یې (پښتو نړیوال کنفرانس) جوړ کړ. په دې کنفرانس کې له کوټې، پېښور، کراچۍ او نورو سیمو څخه راغلو لیکوالو هر یو ته د فرهنگي چارو د رییس له خوا (۳۳) عنوانه کتابونه د تحفې په ډول ورکړل شول.

**۱۵- په انټرنټي سایټونو کې نشرات:** کله کله په یو شمېر وېبپاڼو کې د جمهور رییس پر ضد ناوړه تبلیغات شوي، د فرهنگي چارو ریاست وخت پر وخت ورته ځوابونه لیکلي او په همغو وېبپاڼو کې یې خپاره کړي دي.

**۱٦- د پارلمان له وکیلانو سره روابط:** د دولت د پالیسیو د تطبیق لپاره او په پارلمان کې د یو شمېر دولت ضد وکیلانو د هڅو او تبلیغاتو د مخنیوي په خاطر ځینو ملتپالو وکیلانو سره ارتباطات ټینگ شوي او د دولت او جمهور رییس د پالیسۍ د تطبیق لپاره د هغوی ملاتړ جلب شوی دی.

**۱۷- د ولایتونو اوعلمي مرکزونو له کتابتونو سره مرسته:** د فرهنگي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارو د ریاست په همکارۍ د یو زیات شمېر ازادو فرهنگي ټولنو له کتابتونونو سره په وړیا ډول د یو زیات شمېر کتابونو مرسته شوې او همدارنگه یو شمېر لیکوالو ته د هغوی د کتابونو د چاپولو لپاره له ملي پانگوالو څخه مرسته جلب شوې ده.

**۱۸- د اطلاعاتو او کلتور وزارت سره ارتباط:** د اطلاعاتو او کلتور وزارت له لوړ پوړو چارواکو سره د فرهنگي کارونو لپاره ارتباط ټینگ شوی او هغوی سره همکاري شوې ده.

**۱۹- ټولنیز او دفتري کارونه:** یو شمېر هغه ټولنیز او دفتري کارونه چې د دفتر د مشرانو له خوا د فرهنگي چارو ریاست ته سپارل شوي، وخت پر وخت تر سره شوي او په دې برخه کې لوړو مقاماتو ته خپل وړاندیزونه هم وړاندې شوې دي.

**۲۰- جمهور رییس سره لیدنې کتنې:** د تېرو دوه نیمو کلونو په ترڅ کې د فرهنگي چارو رییس په هغو غونډو کې گډون کړی، چې د جمهور رییس او فرهنگي ټولنو او علمي مرکزونو تر منځ شوي او د هغوی راپورونه یې لیکلي او ثبت کړي، دغه راز یې په خپله هم تر لسو ځلو زیات له جمهور رییس سره ځانگړې ملاقاتونه کړي او په هغو کې یې د افغانستان د سیاسي او فرهنگي پرمختیاوو په باب جمهور رییس ته خپل نظرونه وړاندې کړي، د دې ترڅنگ یې د لیکوالو او فرهنگیانو د ژوندانه او د هغو د فرهنگي کارونو د ښه والي لپاره هم جمهور رییس ته خپل وړاندیزونه کړي او د جمهور رییس نظر او لارښوونې یې هم فرهنگي کړیو ته رسولي دي.

د دې کارونو ترڅنگ مې دوه ستر کارونه وکړل، چې هغه د کونړ او لغمان پوهنتونونو جوړول وو، د دې دواړو پوهنتونونو تاسیسول په خورا زحمت او دقت تر سره شول، د ولسمشر قانع کول او دفتري موانع هغه مسایل وو چې ډېر وخت یې وغوښت او په ډېر زحمت مو هغه خیال پر عملي واقعیت بدل کړ چې زموږ په ذهن او د کونړ او لغمان له خلکو سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



فکر کې موجود و، داسې وخت بیا راغی چې دې پوهنتون ته ودانۍ جوړې شوې، په ملیونونو ډالرو پانګه پرې ولګول شوه او په زرګونو محصلین په کې پر زده کړو بوخت شول، که د فرهنګي چارو د دفتر هڅې نه وای، نو دا پوهنتونونه به نه پر دې مهال او نه هم پر دې څرنګوالی جوړ شوي وو.

په مجموعي ډول که د امنیت شورا دفتر ارزول کېږي، څومره چې ورڅخه هیله کېدله او اړتیا احساسېدله، کارونه د اړتیا په تناسب نه تر سره کېدل، هیلې زیاتې او کارونه کم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اووم څپرکی

# ارګ کې موثر کرکټرونه

هر دربار او هر نظام ځان ته خپل خپل کرکټرونه لري. ځینې بیا داسې وي چې یو شمېر له تېر درباره او نظامه دې نوي ته په میراث پاتې وي او ځینې یې خپل تولید وي، ځینې بیا سوچه د خپل نظام محصول وي، لکه په انقلابي نظامونو کې. له (۱۳۸۱ ل) څخه بیا تر (۱۳۹۲ ل) کال پورې چې کوم نظام رامنځته شوی، دا د (سلاتې) بڼه لري، د هر شي ښېخ او سر په کې شته، دیموکراتان په کې شته، د کمونیستي پلوه نظام پاتې شوني په کې شته، ستمیان په کې شته، د جهادي ډلو ټوپکوال په کې شته، ښه خلک په کې شته، پاک خلک په کې شته، ناپاک خلک په کې شته، لنډه دا چې هر څه غواړې هغه په کې پیداکېږي. د همدغو نامتجانسو افرادو او اشخاصو موجودیت و، چې نظام یې سالمې او طبیعي ودې ته پرې نښود، یو ایډیالوژیک، فکري، ملي او سیستماتیک نظام جوړ نه شو، هر چا خپله ورځ تېروله، کوم پرمختګونه چې په دې نظام کې رامنځته شول، هغه هم د نړیوالې ټولنې د بې دریغه مرستو برکت و، نه د دې نظام تدبیر او دقت. که د دې نظام پرځای هر بل نظام وای او یو مدبر سړی یې په راس کې راغلی وای، نو باور دی چې حالات به تر دې اوسنیو هغو څو ځله ښه وای او افغانستان به ډېر پرمختګ کړی وای. دا داسې یو نظام و چې ښه سړی او د کار شخص به هم ورته داخل شو، د سیستم تابع به شو، څرنګه چې سیستم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجموع کې ناسالم و، نو سالمو اشخاصو هم ډېر فعالیت په کې نه شو کولای، خو بیا هم هغه خلک د ستاینې وړ دي چې له ناپاکو خلکو سره په یوه واحد سیستم کې راغلل، خپله پاکي یې وساتله او ناپاک نه شول. دلته غواړم د ښاغلي کرزي د واکمنۍ په (۱۲) کلنه دوره کې هغو شخصیتونو، د هغو رول او د کار څرنگوالي ته لنډه اشاره وکړم چې په یاده موده کې تر ټولو زیات ولسمشر کرزي ته نږدې وو، مشورو او نظریو یې پرې اثر درلود او یا هم لږ تر لږه وخت پر وخت یې ورته ځان رسولای شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د ملي امنیت شورا دفتر کرکټرونه

**۱- انجنیر محمد ابراهیم سپین زاده: د ولسمشر کرزي په ټوله واکمنۍ کې تر انجنیر ابراهیم سپین زاده موثره او هغه ته نږدې څېره بله نه وه. انجنیر ابراهیم اصلاً د فراه اوسېدونکی او د ښاغلي (سپین) زوی دی، پلار یې د اعلیحضرت محمدظاهر شاه د واکمنۍ پر مهال په ملي شورا کې د فراه د خلکو استازی و. په بېړنۍ لویه جرګه کې هم ښاغلی (سپین) د فراه د خلکو وکیل و. انجنیر ابراهیم ډېر ارام مزاجه شخص دی. ډېرې کمې خبرې**



**(انجنیر محمد ابراهیم سپین زاده)**



**کوي، یوې یادې کورنۍ ته منسوب دی. هره شېبه چې وغواړي ولسمشر کتلای شي. ولسمشر هم هره شېبه غواړي دی وګوري. ده پورې ځینې داسې مهم کارونه تړلي چې ولسمشر یې پر نورو باور نه شي کولای. پر یوه وخت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د ملي امنيت شورا دفتر د مرستيال په توګه دنده سرته رسوي او هم د امرالله صالح د رياست پر مهال د ملي امنيت د رياست مرستيال و. وروسته يې بيا هغه دنده پرېښوده او يوازې د ملي امنيت شورا دفتر د مرستيال په توګه پاتې شو. دلته په دې دفتر کې زلمی رسول هغومره صلاحيت نه لري، لکه دی يې چې لري، د پيسو ټول واک له ده سره دی. که پيسې علماو شورا ته ورکوي، که تنظيم سالارانو، قومندانانو او يا هم نورو موثرو اشخاصو ته، حساب و کتاب يې يوازې ولسمشر او خپله انجنير ابراهيم سپين زاده سره دی. تر دې سوا نور پرې څوک نه خبرېږي. د دولت د اوپراتيفي پيسو يوه برخه هم دلته استعمالېږي او له دې ځايه خلکو ته ورکول کېږي.

وزيران، واليان، قومندانان، جهادي مشران او نور ټول دلته راروان وي. انجنير ابراهيم ټليفون په اسانۍ نه جګوي، که د چا ټليفون يې جګ کړ، مانا دا چې د هغه کار شوی دی. که د وزير ټليفون هم پورته کړي، نو وزير ته د ډېرې خوشالۍ خبره ده. له بهرنيانو سره هم د ولسمشر روابط د انجنير ابراهيم په واسطه ټينګېږي. څو ځله چې د ولسمشر او امريکا تر منځ مناسبات خراب شول، نو انجنير ابراهيم امريکا ته سفر وکړ او دا مناسبات يې بيا ورغول. د پيسو ورسره کمی نه شته، نو ځکه څوک داسې څه نه شي ويلای چې هغه د پيسو شوقي دی، ځکه پيسې خپله د ده په لاس خلکو ته ورکول کېږي، تنظيمي فکر نه لري، ملي احساس يې پياوړی دی، ان تر دې پورې چې کله کله يې د ولسمشر د نظرياتو ترديد هم کړی، څو ځله چې ستړی شوی ماته يې ويلي چې پاس دفتر ته راشه! هلته چې ورغلی يم، نو د زړه درد يې بيان کړی دی. ډېر ځله يې که د ولسمشر توصيف کړی، نو پر هغه يې انتقاد هم کړی، څو ځله يې ماته ويلي چې ټول کار رييس صاحب خراب کړی، که شمالټلواله دومره پورته پورته کېږي، که طالبان دومره زړور شول او که دې حکومت کې فساد دی دا ټول د رييس صاحب کار دی، له خارجيانو سره هره ورځ لاس او ګرېوان وي، بيا موږ ورشو، مناسبات ببرته لږ جوړ کړو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کله کېږي تر اخره پورې، والله چې دا اوس د امریکا ملاتړ درسره نه وي، که دا ګاونډیان دې یوه ورځ هم پرېږدي. دی کله ایران ته منډه کړي کله پاکستان ته ورور وایي، کله پر روسیې غږ وکړي، کله چین یاد کړي، کله دا وکړي، کله دا، هغه ورځ د امریکا د پوځونو قومندان دغه وړاندې میدان کې موږ ته وویل: ((ولسمشر فکر کوي چې چین ته به لاړ شي او هغوی به ورسره څه کمک وکړي...)) هغه وویل: ((چین په دې پوزېشن کې نه دی چې د افغانستان د جګړې بار اوچت کړي او نه یې ټکنالوژي له موږ سره سیالي کولای شي، همدا اوس چې موږ پنځه ویشت (۲۵) کاله پر ټپه ودرېږو او هېڅ کار ونه کړو، نو چین به (۲۵) کاله وروسته زموږ حالت ته راورسېږي او که موږ همداسې کار وکړو، نو فکر وکړئ چې چین زموږ ځای ته رارسي موږ به چېرته رسېدلي یو.)) د امریکا دې قومندان دا هم وویل: ((ایران هسې بړ بړ کېږي، زموږ پالیسي اوس دا نه ده چې ایران ته څه ووایو، که موږ وغواړو، نو د ایران یوه الوتکه او یو توغندی هم له موږ څخه نه شي پورته کېدلی، همدا اوس په عربي متحده اماراتو کې چې زموږ کوم عسکري فورس (ځواک) پروت دی، د ټول ایران لپاره کفایت کوي. خو ستاسو ولسمشر هسې ناحقه له امریکا سره خپل مناسبات خرابوي...))

انجنیر ابراهیم به هر کله زما د ملي دریځ ستاینه کوله، راته ویل به یې فشار به درباندې زیات وي، خو پښتنو کې دې ځای نیولی دی، ډېر کار دې ورته وکړ، موږ درسره یو، ان رییس صاحب هم زړه کې پوهېږي چې ته حق په جانب یې، خو هغه شمالټلواله نه خفه کوي، نو ځکه په ښکاره ستا ملاتړ نه کوي.

انجنیر ابراهیم راته وویل چې څو ځله مې زړه غوښتي چې استعفی وړاندې کړم، خو بیا چې د افغانستان ملي ګټو او د رییس صاحب یوازېتوب ته ګورم او ښه سړیتوب ته یې، نو بېرته مې خپل کار ته دوام ورکړی دی.

انجنیر صیب ابراهیم سره زما ډېر ښه روابط وو، ان کله چې ما استعفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، نو د ده مشوره په کې وه، ده راته وویل چې استعفی وکړې ښه به وي، ژبه به دې خلاصه شي، دلته دې رییس صاحب کارونو ته نه پرېږدي او نه دې داسې ملاتړ کوي چې ته ورته ضرورت لرې. انجنیر ابراهیم ډېر ځله له هغو خوارو او غمځپلو کورنیو سره مرسته کړې، چې خپل خپلوان یې په ناڅاپي انتحاري او نورو پېښو کې له منځه تللي، له ځینو هغو بېوزلو کورنیو او لیکوالو سره یې هم مرسته کړې چې ما ورته یادونه کړې ده. البته دا مرسته پر هغو مرستو سربېره وه، چې ولسمشر په رسمي ډول کوله. ان له یو شمېر بېوزلو محصلینو سره یې د فیس مرسته هم کړې ده. انجنیر ابراهیم د ولسمشر پر ذهن دومره پوه و چې د جمهوري ریاست د دویمې دورې ټاکنو ته لا ډېر وخت پاتې و، د مرستیالانو په باب ګونګسې و. ما ورته وویل چې دا ځل باید له پنجشېر درې څخه څوک د مرستیال په توګه رانه وړي، ځکه رایې خو هسې هم نه راوړي، ښتانه خفه دي رایه به ورنه کړي. ده راته وویل، رییس صیب فکر کوي که پښتانه خفه وي، رایه ورنه کړي، نو دی به (فهیم خان) راولي او ځای به په هغه ډک کړي، دا خبره ماته هغه وخت عجیبه غوندې ښکاره شوه، خو څو میاشتې وروسته بیا پر واقعیت بدله شوه. له دې څخه ښکاره شوه چې ولسمشر کرزي کومه پرېکړه وار دمخه له ځان سره کړې، له هغې څخه تر ټولو دمخه انجنیر ابراهیم خبر و.

انجنیر ابراهیم په دولتي کارونو او ان د ملي امنیت په کارونو کې چې د ده د کار ساحه ګڼل کېدله، مداخله نه کوله، کله چې به دې کوم کار ورته وواېه، یادښت به یې واخیست، خو بیا پسې نه ګرځېده، پوره صلاحیت یې درلود، خو له دې صلاحیت څخه یې هېڅکله اعظمي ګټه پورته نه کړه، په وروستیو کلونو کې یې ډېره موده په بهرنیو سفرونو تېره کړه، ضیاء صالحي چې دا مهال مالي او اداري رییس و، ده سره به هر مهال په سفر کې ملګری و، د دې سفرونو اصلي هدف د سیاسي روابطو او پټو مناسباتو ټینګول وو. له ګوانتانامو څخه د طالبانو د دوسیو د څېړلو او د هغوی د راخوشې کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موضوع هم ده تعقیبوله. له قومندانانو او طالبانو سره پټ روابط هم ده درلودل، د (ملا برادر) کیسه یې راته وکړه چې کله یې ده سره رابطه ټینګه شوه او د جګړې د بندولو نیت یې وکړ، نو په کویټه کې د پاکستان (I.S.I) ونیو، د ټلیفون نومرې یې ورسره پیدا کړې او بیا یې پر همغه برخلیک اخته کړ چې ټول افغانان پرې پوهېږي. انجنیر ابراهیم وویل، هر طالب چې سوله غواړي او افغاني روحیه لري، د پاکستان استخبارات یې ژوندی نه پرېږدي. لنډه دا چې انجنیر ابراهیم د ولسمشر دومره اعتباري کس دی، چې هم له سیاسي پلوه بشپړ باور پرې لري، هم له امنیتي پلوه او هم له اقتصادي پلوه. هېڅ بل شخص په ارګ کې د دومره نفوذ خاوند نه دی، لکه انجنیر ابراهیم چې دی.

۲- ډاکتر زلمی رسول: په امنیت شورا دفتر کې د پوست له مخې لومړی، خو د صلاحیت له مخې دویم مقام لري. ډاکتر زلمی رسول، ډېر سیال سړی دی، د ارامو اعصابو او ملي فکر خاوند دی. ځان شاهي کورنۍ پورې تړلی او د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه خدمتګار ګڼي او د ملي فکر د لارې یو مبارز. د روم د پروسې له پیل راهیسې بیا تر دې دمه له ولسمشر کرزي سره ښه مناسبات لري، د امنیت شورا د دفتر د مشر په توګه تر ټاکنې دمخه د هوایي چلند د وزارت وزیر و او له هغې ورځې چې دا دفتر جوړ شوی، دی یې د مشر په توګه غوره شوی دی. په دري، انګلیسي او فرانسوي ژبو پوهېږي، پښتو د کاغذ له مخې ویلای شي او بل څوک یې چې وایي دی پرې پوهېږي، خو خپله پرې سمې او روانې خبرې نه شي کولای. ځان اصلاً د کندهار د ارغنداب ولسوالۍ ګڼي او په خټه هم محمدزی. له دولتي زور و ځواکه د ځان په ګټه کار نه اخلي، داسې یو سړی دی، چې تراوسه یې کورودانه هم ځان ته نه ده غوره کړې. د نرمو اعصابو خاوند او اصلاً د طب یو ډاکتر دی. تر اوسه چې چا ورسره کار کړی، بده خاطره ترې نه لري، خبرې کمې کوي، خو په دفتر کې تر ډېره وخته پاتې کېږي. ولسمشر سره په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کورني او بهرني سفر کې ملګری وي او ځان د هغه ډېر اخلاصمند ګڼې. د کار په بهیر کې امرانه لهجه نه لري، ما سره یې د ځو کلونو په بهیر کې ډېره ګوزاره وکړه. کله چې به زه کوم بهرني سفر ته روان وم، نو ژر به یې زما مکتوب امضا کړ چې څه ځو ورځې خو به ترې بېغمه یم. ما چې به کله په ټلوېزیون کې مرکې کولې، نو د ده به نه خوښېدې، خو ظاهراً یې څه نه ویلې، یوه ورځ یې د خپل دفتر په دهلېز کې ودرولم، راته یې وویل: ((به لحاظ خدا مرا کتی کسی به جنجال نه پرتو)) مقصد یې دا و چې ته کومې مرکې کوې، خلک یې له ما انګېري، په داسې حال کې چې زه ستاسو له مرکو سره موافق نه یم. ما چې به ځو ځله په دفتر کې د جلسو په ترځ کې ورته ویلې چې د خدای په خاطر په دې حکومت کې پوزېشن او اپوزېشن معلوم کړئ، ځوک یې هېڅ کیسه کې نه دي، هم په حکومت کې دي هم د حکومت مخالفت کوي، نو دوی به غلي وو، ما یوه ورځ وویل: ((د دې حکومت مخالف او پلوی معلوم نه دی چې ځوک یې وارث دی، هېڅوک د دغه (حکومتي اپوزېشن) په باب څه نه وایي.)) نو یوه ورځ ده راته وویل:


(ډاکتر زلمی رسول)

((دیګرا چیز میګه یا نه میګه تو خو هیچ چیز نماندی، هر چیز ګفتی دل خود را یخ کردی، دیګر چیز مانده که بګوی)). له شمالټلوالې سره زما له مخالفتونو سره سره ده بیا هم زما د زیاتو ځو مخه ونه نیوله، سره له دې چې راضي نه و.

یوه ورځ مې ورته د عدلیې وزارت مجله (عدل) ښکاره کړه چې د ولتي مجله ده او هلته یې ټولو ځایونو کې په قصدي ډول د (افغان) پر ځای د (افغانستاني) لفظ کارولی و. ما ورته وویل د دې دواړو کلمو پر مانا او مفهوم خو تاسو پوهېږئ، باید د دې مخه ونیسئ، ده راته وویل: ((نی کار خوب نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرده این خو مخالف روحیه قانون اساسی است، ما این مجله را به رییس صیب میبریم)). مجله یې له ځان سره یوړه، د ولسمشر د دفتر په دهلېز کې د عدلیې وزیر ( سرور دانش) ورسره مخامخ شوی و، هغه ته یې ویلي وو چې ستاسو په مجله کې دغسې مشکل پیدا شوی، هغه ورته ویلي وو چې: ((این کدام گپ مهم نیست)). بله ورځ چې ما ولید، ما وویل وزیر صیب! رییس صیب ته دې مجله ښکاره کړه؟ ده وویل، د عدلیې وزیر مې ولید، هغه وویل: ((این کدام گپ مهم نیست)). ما ویل بس همدومره؟ ده ویل، هو نو، هغه وویل مهمه نه ده، نو دا په دې مهمه مسله کې د ده اجراات وو. د نورو اجرااتو قیاس یې هم له همدې یوې بېلگې څخه کولای شو.

زلمي رسول د امنیت شورا دفتر کې ډېر کلونه تېر کړل، خو هسې چې د دې دفتر له شان او شوکت سره مناسب وو، نه دې دفتر تر سره کړل او نه هم ښاغلي ډاکتر زلمي رسول. یوازې د زلمي رسول گناه هم نه وه، تر زلمي رسول چې څوک پورته و، هغه تر ده هم نرم و. د هغه احتیاط هم پر ده سیوری غوړولی و.

د نرم له پاسه نرم واکمن و، نو ځکه خو ټوله پاچاهي خوړینه وه. د زلمي رسول یوه هیله دا وه چې د بهرنیو چارو وزیر شي، په امنیت شورا کې یې هم ډېره موده په همدې ارمان تېره کړې وه چې کله به دې بل مقام ته ورسېږي، کله چې دې ارمان ته ورسېد، د امنیت شورا په دفتر کې یې د خدای پامانۍ جلسه جوړه کړې وه. (عبدالله پوپل) ورته په ټوکو کې وویل، ستا اداره او منجمنټ عالي دی، خو ځینې دوستان اعتراض لري چې ډاکتر صیب ډېرې خبرې نه کوي، خارجه وزارت خو د خبرو ځای دی چې ډاکتر صیب به هلته څه کوي، خپله پالیسي به بدلوي که همداسې به وي؟ ده ورته وویل: ((اینطور نیست که ما گپ زدن را یاد ندارم، یا گپ زده نمیتوانم اصلاً در افغانستان گپ زدن هیچ فایده ندارد، بدون از اینکه دشمنان را به خود زیاد بسازی دیگر چه فایده دارد؟ همین یون صیب که زیاد گپ زده، چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فایده کرد غیر از اینکه برای خود دشمنان را زیاد بسازد دیگر چه را بدست اورد؟)) همدې سره محفل ختم شو او دی د خپلې نوې دندې پر لوري رهي شو.**

**۳- ډاکتر رنګین دادفر سپنتا: ډاکتر رنګین دادفر سپنتا اصلاً د هرات ولایت اوسېدونکی دی، لوړې زده کړې یې په جرمني کې کړي، چېپي افکار لري او د خپلو افکارو له څرګندولو ډېره نه کوي. کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو دی هم کابل ته راغی، په کابل پوهنتون کې د استادۍ پر دندې سربېره د یوه مدني فعال په توګه په بېلابېلو غونډو کې**



**(ډاکتر دادفر سپنتا)**

**څرګند شو، انتقادي ژبه یې هغه وخت تونده وه، بیا د ولسمشرکرزي له ورور (قیوم کرزي) سره د روابطو له امله، هغه ولسمشر کرزي ته وروپېژنده، کرزي په بهرنیو چارو کې خپل مشاور وټاکه، بیا یې د بهرنیو چارو وزیر کړ. بیا یې له پارلمان سره مشکل پیدا شو، ولسي جرګې ورڅخه خپله باور رایه بېرته واخیسته. د ډاکتر سپنتا پر سر د ولسمشر کرزي او ولسي جرګې مناسبات خورا خراب شول. ولسمشر کرزي بیا په امنیتي چارو کې د خپل سلاکار په توګه مقرر کړ او د امنیت شورا د دفتر مشر شو. سره له دې چې د امنیت شورا په دفتر کې د انجنیر ابراهیم سپین زاده او شیدا محمد ابدالي په ګډون هېڅا هم د ډاکتر سپنتا له مقررۍ سره موافقه نه لرله، خو بیا هم ولسمشر تر جرګو او مرکو وروسته هغه د دې دفتر د مشر په توګه وټاکه. خو ځینې مسایل یې لا مخکې تر مخکې ورته واضح کړې وو، چې دلته به د بهرنیو چارو وزارت په شان خلاص مټ نه لري، انجنیر ابراهیم او شیدامحمد ابدالي به په خپلو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونو کې ازاد وي او ځینې نور رییسان هم. فکر کېږي ډاکتر سپنتا هم دا شرایط ورسره منلي وو. سره له دې چې په لومړیو ورځو کې څه ناڅه تېز و، خو بیا چې پوه شو دلته د قدرت نورې سرچینې هم شته، ان د ولسمشر د کور خلک او نږدې خپلوان دي، نو دی هم غلی او ورو شو. په لومړیو وختونو کې ډاکتر سپنتا یو متحدالمال مکتوب ولیکه او ټولو ریاستونو ته یې ابلاغ کړ، په هغه کې راغلي وو: ((په ټولو دفترونو کې د افرادو تقرر او انفکاک د امنیت شورا د دفتر رییس (ډاکتر سپنتا) صلاحیت دی))، خو د همدې مکتوب، چې په کمپیوټر لیکل شوی و، په وروستۍ برخه کې د امنیت شورا مرستیال (شیدامحمد ابدالي) په خپل لاس په قلم لیکلي وو: ((د افرادو تقرر او انفکاک، تغیر و تبدیل د یوه بورډ کار دی نه د یوه شخص)). همدې جملې د دوو کسانو تر منځ د قدرت معادله څرګندوله. د دفتر چارې ټولې په ګوزارې او د یو بل د زغملو په کلتور روانې وې. زما او د ډاکتر سپنتا د افکارو تر منځ هم خورا تضاد و، خو ده په ټوله موده کې زما پر وړاندې داسې څه خبره ونه کړه چې زما د نارضایتۍ سبب شي. ده یوازې دا کار وکړ چې په لویو، مهمو او غټو غونډو او همدارنګه هغه مجلسونه چې له بهرنیانو سره به کېدل، زه یې نه خبرولم. په هغو کې زه په دې خوشاله وم، چې ما خبر نه کړي، ځکه چې زه څو ځایه مصروف وم، د ټلوېزیون کارونه، د پوهنتون درسونه، د دفتر کارونه او نور فرهنګي کارونه دومره راباندې زیات شوي وو چې سر ګرولو ته مې وخت نه درلود. خو زما او د ډاکتر سپنتا تر منځ دا واټن د دې سبب شوی و چې دواړو خواوو ته ګټه واړوي.

په لومړیو وختونو کې ډاکتر سپنتا مصمم و چې دی به پر ولسمشر کرزي خپل ډېر نظریات ومني، خو وروسته دی هم خوابدی ښکارېده، شکایت به یې کاوه چې د ده خبرو ته ولسمشر کوم اهمیت نه ورکوي. سره له دې چې ده کله کله په خپلو خبرو کې که د بهرنیو چارو وزارت پر مهال و او یا هم په امنیت شورا کې، خپل شخصي نظر له ولسمشر سره متفاوت ګاڼه، ان د دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نظرونو کې به تضاد ښکارېده، خو بیا هم د دولت په حساسو مسایلو کې یې دخالت خپل حق باله، ان د ولسمشرۍ د دویمې دورې په ټاکنو کې داسې حدس او ګومان کېده چې ډاکتر سپنتا د (البروک) نظر تائیدوي او ان تر دې چې ویل کېږي، هغه ته یې د ارګ د حال و احوال څرنګوالی هم په ګوته کړی و، خو خدای(ج) د دې خبرې پر واقعیت پوهېږي. ډاکتر سپنتا د جنګسالارۍ او فساد مخالف و. خو د بنسټپالنې په پلمه یې دینپالنه هم نه خوښېدله، څو څو ځله یې ویلي چې (دري یا فارسي) ژبه یې ډېره خوښېږي، خو دا خوښي له بلې ژبې سره د دښمنۍ په مانا نه ده، بلکې هر سړی حق لري چې خپله ژبه یې خوښه شي، خو که بل چا په عمل کې ورته عمل کاوه، نو ده بیا په عمل کې همدا قاعده نه عملي کوله. پښتنو سره یې چندان جوړه نه وه، خو زما په مخ کې یې دا اعتراف کړی چې په تېرو (۳۵) کلونو کې چې افغانستان کې د قوم په توګه په ټوله کې کوم قوم زیات زیانمن شوی او تر هر چا یې زیات زیان لیدلی، هغه پښتانه دي. یوه ورځ یې په کابل پوهنتون کې د یوه شمېر هزاره محصلینو د مظاهرې په باب چې غوښتل یې خپل استادان تبدیل کړي او تر هغه دمخه د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د محصلینو د تظاهراتو په باب چې نه یې غوښتل د (برهان الدین رباني) نوم پر دې پوهنتون کېښودل شي، ده فکر کاوه چې د دې دواړو پېښو په باب زه بېلابېل نظرونه لرم. نو راته یې وویل چې دې مسایلو ته لمن مه وهئ، ما وویل دې مسایلو ته خو محقق صیب او نور لمن وهي، موږ خو څه نه دي کړي؟ ده وویل: ((محقق خو اقلیت دی، د اقلیتونو خصلت دی چې دا ډول چیغې وهي، هغوی ځان د دې ملک وارث نه ګڼي، پښتون خو د دې ملک وارث دی، اکثریت دی.)) ما ویل هغوی کله دا وراثت او اکثریت مني، ده وویل: ((مني یې که نه حقیقت خو همدا دی، څوک چې د خارجیانو په مقابل کې جنګېږي او پر خپل ملک سر ورکوي همغه د ملک وارث دی، دا چې څوک یې مني که نه هغه بېله خبره ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر سپنتا د پاکستان پر وړاندې هم ټینگ دریځ درلود، د فارسي ژبې له تائید پرته یې د ایران د اخوندانو پر وړاندې هم ورته نظر درلود، په مجموعي ډول یې ملایان نه خوښېدل او دا یې ورستې پدیدې او تعویذ لیکونکي گڼل. ډاکتر سپنتا سره له دې چې پلار و نیکه یې پښتانه وو، خو ده ځان پښتون نه باله، کله کله به یې ویل چې ژوند مو له کوچیتوبه پیل کړی، خو اوس متمدن شوي یو. د ده په ماموریت کې ما د رشوت او فساد کومه خاصه بېلگه پیدا نه کړه، خو په ملي مسایلو کې لکه څنگه چې غرېده، په عمل کې هغسې نه و، د پښتنو او نورو توپیر یې څرگند و او د خپل حزب خلک یې ډېر پالل. له امریکایانو سره یې ښه مناسبات غوښتل او دا یې د افغان ولس په خیر گڼل، ولسمشر سره یې څو ځله پر دې مسله او ځینو نورو خبرو مناسبات هم خراب شوي وو، خو سرمحقق زلمی هېوادمل به په کې جرگه کېده او مناسبات به یې بېرته عادي کول. کله چې ما له دفتر څخه استعفی کوله، نو دی راسره موافق نه و، راته یې وویل: ((ستا پر ځای، رییس صیب (ولسمشر کرزی) تر تا ښه سړی نه مقرروي، حتماً به کوم یو جنگسالار او یا هم د هغه زوی راځي، نو تر هغه چې ته پاتې شې دا موږ ته په گټه ده، زه پوهېږم چې زما او ستا افکار فرق لري، خو زه د افکارو تنوع ته سخت احترام لرم. په هغه ټولنه او دفتر کې چې د افکارو رنگارنگي نه وي، هلته پرمختگ نه رامنځته کېږي که زما منې استعفی مه ورکوه.)) ما ویل اوس مې پرېکړه کړې ده. تصمیم مې غوڅ دی، همدې سره ترې له دفتر رابهر شوم.

۴- **شیدامحمد ابدالي:** شیدامحمد ابدالي د ولسمشر حامد کرزي د خپلوانو له جملې څخه دی، مخکې تر دې چې حامدکرزی د موقتې ادارې رییس شي، شیدامحمد ورسره د کویټې په دفتر کې کار کاوه. تر موقتې ادارې وروسته یې ځانگړی سکرتر شو او تر ټولو زیات ولسمشر ته نږدې و. د کار له ساعته بیا د خوب تر وخته له ولسمشر سره و. د ولسمشر په گڼو جلسو کې یې گډون درلود او د هغه له هر رازه باخبره و. د ولسمشر د څلورو پنځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلونو واکمنۍ په بهیر کې شیدا محمد د هېواد له هر والي، قومندان، وزیر، قومي مشر، روحاني شخصیت او نورو موثرو اشخاصو سره یا د مخامخ خبرو او یا هم د ټلیفون له لارې اشنا شو او د افغاني ټولنې ډېرې خواوې ورته معلومې شوې. شیدامحمد ابدالي بیا وروسته امریکا متحده ایالتونو ته لاړ او هلته یې خپلې لوړې زده کړې تر سره کړې. تر هغه وروسته بېرته افغانستان ته راغی او د ولسمشر کرزي د واکمنۍ په دویمه دوره کې د امنیت شورا د دفتر مرستیال او هم د ولسمشر خاص دستیار شو. دا مهال نو ډاکتر سپنتا او



(شیدا محمد ابدالي)

ابدالي دواړو په یوه دفتر کې کار کاوه. د ډاکتر سپنتا له پخواني بګرونډ سره هم د شیدامحمد ابدالي چندان جوړه نه وه، خو دا چې شیدا محمد ولسمشر ته ډېر نږدې کس و، نو ځکه خو د ډاکتر سپنتا زور پرې ونه رسېده. شیدا محمد ابدالي په امنیت شورا کې ډېر واک درلود. یوه ورځ یې زه پاس خپل دفتر ته وغوښتلم، راته یې وویل چې ستا فعالیتونه موږ تائیدوو، د رییس صاحب هم خوښېږي، خو رییس صاحب (ولسمشر) په داسې موقف کې دی چې هغه خپله څه نه شي ویلای، موقف یې لوړ دی نو هغه خو د ټولو جمهور رییس دی. ما ویل، هو د ټولو دی خو ټولو کې پښتانه نه راځي. موږ هم وایو چې دی د ټولو دی، خو عدالت دې تامین کړي، مرستیالان یې هم باید د ټولو وي نه د یوه قوم. ده وویل د هغو خبره نو بیا جلا ده. هغوی خو دا کار کوي (مانا خپل قوم پالي) نو موږ او تاسې باید د هغوی غوندې نه شو، ما ویل کومه لاره ستا په نظر موجوده ده چې عدالت تامین شي. ده وویل: ((رییس صیب وایي که ټول د (یون) په شان وای او خپل حق یې غوښتلای، نو ماته به هم کار اسانه و، ما به ویل هغه دی دوی هم خپل حق

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غواړي، پر ما به یو ډول فشار وای)). شیدا محمد ابدالي زیاته کړه: ((پښتانه وزیران دې خدای خوار کړي، خپل موقف ساتي، د خپلې څوکۍ په غم کې دي)). ما ویل اول خو یې همداسې خلک راوستي او دویم یو نیم که ځان وخوځوي، نو پر همغه ورځ یې لرې کوي او څوک یې اواز نه اوري او زه خو په داسې موقف کې یم چې چندان موقف نه دی، هر وخت چې راته ووایي لاړ شه زه خپله خوشاله یم. ده وویل: ((ستا خبره رښتیا ده، څه موده وړاندې څو تنه وزیران او نور مطرح کسان سره کېناستو، اول کې د رییس صیب هم خوښه وه، دوی وویل چې په ملي موضوعاتو او نورو غټو مسایلو کې به ګډ موقف نیسو، هم په کابینه کې او هم به په نورو مهمو غونډو کې یو د بل موقف تائیدوو، خبره به مو یوه وي، پر رییس صیب به هم ډېر فشار نه راوړو، موږ به خپل کارونه خپله کوو. فاروق وردګ، زاخېلوال، رحیم وردګ، جیلاني پوپل او نور ټول په دې پروګرام کې شامل وو، څو غونډې مو هم وکړې، خو وروسته رییس صیب وویل چې دې کې باید د ټولو قومونو خلک وي، باید دا کار پراخ شي او ملي شي نه د یوه قوم. بیا زموږ هغه پروګرام هملته پر ټپه ودرېد.)) شیدا محمد هم کله کله د نورو افغانانو په شان د زړه وینې څښلې، سړی نه پوهېده چې اخر شکایت چاته وکړي، دوی هم ناراضه او ولس هم ناراضه. شیدامحمد به کله زموږ د هغه ملي دریځ ملاتړ هم کاوه چې د ټولو افغانانو خیر به په کې نغښتی و. د هغه دفتري ملاتړ هم له ما سره ملګری و، خو زما د دفتر کارونه انجنیر صاحب ابراهیم پورې تړلي وو، شیدا محمد سره مو دومره سروکار نه درلود. شیدا محمد هم لکه د انجنیر صاحب ابراهیم په شان سهارنۍ جلسې ته نه حاضرېده. جلسې به اکثره ډاکتر سپنتا پرمخ وړلې او که هغه به نه و، نو د امنیت شورا بل مرستیال ښاغلي (حکیم نورزي) به جلسې پرمخ وړلې. شیدا محمد که څه هم په امنیت شورا دفتر کې زیات واک درلود او یا هم ولسمشر ته تر ډېره نږدې کس ګڼل کېده، خو له دې موقف او مقام څخه یې هغسې ګټه پورته نه کړه چې ورته په کار وه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شیدا محمد ابدالي بیا وروسته په هند کې د افغانستان د لوی سفیر په توګه وټاکل شو.**

**۵- عبدالحکیم نورزی: عبدالحکیم نورزی اصلاً د ارزګان ولایت دی، چپي افکار لري او پخوا یې د خلکو دیموکراتیک ګوند په (خلقي) څانګې پورې اړه لرله، د خلکیانو د واکمنۍ په بهیر کې د (کام) یا (اکسا) یانې د همغه وخت د څارګرې ادارې مرستیال پاتې شوی. د ډاکتر نجیب الله تر حکومت وروسته په کویټه کې د پاکستان د استخباراتو له خوا بندي او بیا تر څو کلن زندان وروسته اروپا ته لاړ، هلته په بلجیم کې اوسېده، بیا یې د روم له بهیر سره اړیکي پیدا کړل او له حامدکرزي سره هم د همدغې پروسې له مخې اشنا شو، کله چې موقته اداره جوړه شوه، حکیم نورزی هم لکه د نورو افغانانو په شان له اروپا څخه کابل ته راغی او دلته د حامدکرزي له**



**(عبدالحکیم نورزی)**

**خوا د ملي امنیت د ادارې د مرستیال په توګه وټاکل شو. خو د ملي امنیت له رییس (امرالله صالح) سره یې ګوزاره ونه شوه، هره ورځ به د دواړو تر منځ جنجالونه وو. دا نو هغه مهال و چې حکیم نورزي پخواني چپ افکار څنډې ته کړي وو او ملي فکر یې راخپل کړی و. امرالله صالح بیا دې ډول افکارو سره علاقه نه لرله او دا مهال د دې ادارې له خوا د عامو افغانانو په تېره بیا د پښتنو افغانانو د ځورونې لړۍ په چټکۍ سره روانه وه، د هر پښتون د ځپنې لپاره د (طالب) او (القاعدې) له نسخې څخه کار اخیستل کېده او د خپل هر جنایت د پټونې لپاره یې د (جهاد) او (مقاومت) تعویذ کاراوه. پر (حکیم نورزي) چې د چپي افکارو یا د خلکیتوب کومه پخوانۍ ټاپه وه، نو امرالله**

(c) ketabton.com: The Digital Library



صالح کولای شول د (جهاد) د لفظ په کارولو سره هغه ته هر ډول ستونزې راولاړې کړي.

نورزي ډېر وخت په ملي امنیت ریاست کې طاقت ونه کړای شو. بیا یې د پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه د کورنیو له ځینو غړو، (سلطان محمود غازي) او نورو سره ( دملي وحدت ولسي تحریک) په نامه یو سیاسي حرکت جوړ کړ. په لومړیو کې ډېر په کش کې روان و، تر یو څه مودې وروسته د ده او سلطان محمود غازي تر منځ اختلاف راغی، غازي او نور خلک له دې ولسي تحریکه وایستل شول او د تحریک مشرتابه ټول ده ته پاتې شو. فعالیتونه یې په لومړیو کې منظم او گرم وو، خو وروسته وروسته بیا سست شول او دا ډول تحریکونه نور هم پسې زیات شول. حکیم نورزی بیا وروسته د حامدکرزي له خوا د ملي امنیت شورا دفتر د مرستیال په توگه غوره شو او همدلته یې دنده پیل کړه. نورزی که څه هم په ملي امنیت شورا دفتر کې لکه د انجنیر ابراهیم او شیدامحمد ابدالي په شان ډېر زیات صلاحیت نه لري، خو په ملي مسایلو کې د ټینگ دریځ خاوند دی. په انگلیسي ژبه هم پوهېږي او په دري ژبه هم، خو په رسمي غونډو او میټنگونو کې همېش په پښتو غږېږي، د چا په کیسه کې هم نه دی چې څوک پرې پوهېږي او یا نه پوهېږي، یا پرې خوښېږي، که خفه کېږي؟ د دریو کلونو په ترڅ کې چې هر وخت د غرمې ډوډۍ پر سر یوځای وو او د ډاکتر سپنتا په گډون به د امنیت شورا ټول مشرتابه چې تعداد یې لسو تنو ته رسېده، د غرمې ډوډۍ مو یوځای خوړه، ډاکتر سپنتا د مېز په سر کې د مشرتابه پر څوکۍ کېناسته، مرستیالان او رییسان به د مېز دواړو خواوو په اوږدو کې. نورزی به د ډاکتر سپنتا تر څنگ د یوه تن په فاصله، خو هغه ته تقریباً مخامخ کېناسته، د دریو کلونو په ترڅ کې ډاکتر سپنتا یوه ورځ هم یوه کلمه د خدای د رضا لپاره په پښتو ونه ویلې او حکیم نورزي یوه کلمه په دري، خو دواړه به لگیا وو، خپل گرم بحث به یې کاوه. یوه به دري ویله بل به پښتو، یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ته یې دا هم نه ویل چې ته ولې دري وایې او بل پښتو، دا پوښتنه او ناراحتي یې هم نه کوله چې یو بل لا په پښتو او دري نه پوهېږو. حقیقت دا دی چې دواړه په پښتو او دري پوهېدل، خو ډاکتر سپنتا پښتو نه ویلې او نورزي دري. خو مفاهمه او مکالمه روانه وه، کله چې به د دفتر ملګرو دا حالت وکوت، نو سره موسکي به شول، یوه نیمه خبره به نورو ترجمه کړه، نو دوی به بیا ویل نه! پوهېږو. تر هغه دمه چې زه هلته په دفتر کې وم، د ډاکتر سپنتا او نورزي صیب د ژبې مقابله روانه وه او یو بل ته تسلیم نه شول.

حکیم نورزی اوس هم د یوه سیاسي دریځ خاوند دی، خو ما به ورسره کله ټوکې کولې چې ستاسو سیاست ډېر کلاسیک دی، ستمیان، جمعیتیان او پرچمیان دربانديې ډېر تېز دي، هغوی ماډرن دي، خو تاسو کلاسیک یاست داسې لکه عصري طب او یوناني طب، یا عصري ډاکتر او یوناني حکیم جي، هغه به خندل. له حامدکرزي سره د نورزي رابطه ښه وه، خو داسې هم نه وه چې د هغه خبره دې ومني او یا دې وخت پر وخت ورته  د ملاقات وخت ورکړي. نورزي هم دا دفتر غنیمت ګڼلی و، خپلې شپې او ورځې یې تېرولې. تر دې ځای بالا ده ته کوم بل مناسب ځای نه پیداکېده، لوړ معاش، مرمۍ ضد موټر او امنیتي ګارډ ټول سهولتونه ورسره وو. کله چې ما استعفی ورکوله، نو نورزي صیب سره مې هم مشوره وکړه، د هغه خوښه نه وه، ماته یې ویل: ((سخت امنیتي مشکلات به درته پیدا شي، ټلویزیون به دې در وتړي او نور ګڼ شمېر مشکلات به درته پیدا کړي، اوس خو د دولت پرده دربانديې خوره ده، د جمهور رییس ملاتړ درسره دی. دا چې درسره دی که نه پر دې خو یوازې زه او ته پوهېږو، خو بېرون ته دا نور خلک خو داسې فکر کوي چې یون مانا کرزی. که زما منې استعفی مه ورکوه.)) ما ویل اول وي که اخر وي له دې ځایه به ځو، پرېږده چې پر خپلو پښو ودرېږو، دا خطرونه غیر له هغې هم راروان دي، ځانونه باید ورته تیار کړو. ده ویل ((ما هم خپله استعفی ورکوله خو هېڅ بل داسې ځای چې ځان په کې خوندي احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړم، نه لرم، دې خلکو (شمالټلوالې) سره مې هسې هم له پخوا نه ورانه ده، ټول واک هم دوی سره دی، نو ډېر مشکلات به راته پیدا کړي، نو ځکه مې دلته هسې سر په سیوري کړی دی.))

حکیم نورزي رښتیا هم دلته سر په سیوري کړی و، نور کوم زیات عملي صلاحیت ورسره نه و. خو که چېرې لږ هم ورته لاره خلاصه وای کار یې کولای شو، د خپل ګوند (د ملي وحدت ولسي تحریک) سخت ستایونکی و، یوه ورځ یې د (پاکستان د راکټي بریدونو) او (حکیم شجاعي) پر ضد مظاهره اېستله، ماته یې وویل یاره یو لک نفر به راشي، ما ویل، هېڅ امکان نه لري. بیا یې وویل، موږ خو د (۳۰) زرو کسانو تابیا نیولې، خو کېدی شي خلک تر دې زیات شي، ما ویل (دوه زره) کسان حاضر کړه، دوه ساعته ټلوېزیون کې وخت درکوم، ده ویل راکړه لاس! ما لاس ورکړ. د مظاهرې پر ورځ ټول (۱۴۰۰) کسان وو، خو ده بیا ویل چې تر (۳) زرو زیات وو، سره له دې چې میډیا ټول عکاسي کړي وو، هغه هم داسې نه وو چې ټول د ده د تحریک کسان وو، عام خلک چې د پاکستان د توغندیو خلاف وو او د حکیم شجاعي ظلمونه یې غندل، هغه هم په کې شامل وو. خو موږ یې له ټلوېزیون څخه ټول راپور په منظم ډول خپور کړ. په هر حال حکیم نورزی داسې یو شخص دی چې پر ملي ارزښتونو ټینګ ولاړ دی او که زور یې ورسي په دې لاره کې قربانۍ ته هم تیار دی.

٦- محمد ضیاء صالحي: ښاغلی (ضیا صالحي) په ارګ کې دومره لوړمقام نه لري، د امنیت شورا په دفتر کې مالي او اداري مسول دی. تر دې وړاندې همدلته د اطلاعاتو د اخیستلو د څانګې مشر و، خو له (انجنیر صاحب ابراهیم سپین) زاده سره د نږدې اړیکو له امله مهم ګڼل کېږي. پخوا یې له (جنرال دوستم) سره کار کاوه د هغه ژباړن و او تر هغه دمخه د ډاکټر نجیب الله د حاکمیت په دوره کې د دولتي امنیت د ریاست (خاد ) غړی و. په اردو، پښتو، دري، روسي او انګلیسي ژبو پوهېږي، ډېر ماهر، چالاکه او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت پر نزاکتونو پوه دی. د سلگونو خلکو د ټلېفون نمبرونه یې په یاد زده دي، یوه ورځ چا ورځخه پوښتنه وکړه چې د ټلېفون دا دومره نومرې دې ولې له یاده زده کړي؟ ده ورته وویل، دا چل روسانو موږ ته ښودلی دی، ځکه که د یادښت کتابچه دې ورکه شي او یا د چا لاس ته ورشي، نو ذهن خو دې خپل دی. صالحي سره د هر نظام کیسې وې، د ډاکټر نجیب الله، د حضرت صبغت الله مجددي، د برهان الدین رباني، د جنرال دوستم، احمد شاه مسعود، انجنیر گلبدین حکمتیار، حاجي قدیر او نورو ډېرې حساسې کیسې ورسره دي، یوه ورځ ورته (ملک قریشي) په ټوکو کې وویل: ((هر نوی نظام چې راشي که په هغو لومړیو دوو ساعتونو کې یې ونه وژلې، نور دې نه شي وژلی، بیا به همغه نظام کې ته تر ټولو ډېر مطرح یې)). ده هم ورته وویل: «رښتیا هم د دوو ساعتونو وخت ته ضرورت لرم.» سرور ثبات صیب پرې غږ کړ: ((یاره که زه یم نو په همدې اولو دوو ساعتونو کې دې چاره کوم)). ضیا صالحي د خپل ماموریت په لسکلنه دوره کې یوازې یو دوه ځله ولسمشر حامد کرزي سره لیدلي دي، خو ولسمشر یې ښه پېژني، دا مهمه نه ده چې دی ولسمشر سره وگوري او که نه، هغه څوک چې ولسمشر سره هره ورځ گوري، دی بیا هغه سره هره ورځ گوري؛ انجنیر ابراهیم سره دی هر وخت کتلای شي او په اکثرو بهرنیو سفرونو کې ورسره مل وي. د انجنیر ابراهیم خبره ځمکې ته نه غورځوي، ژبه یې ډېره نرمه ده، هرې خواته یې اړولای شي. صالحي پخواني چپي نظریات لري پخوا یې له (پرچم) گروپ سره تړاو درلود، خو د وخت له غوښتنو سره سم ځان ډېر ښه اعیارولای شي. صالحي په امنیت شورا کې د پوره واک او ځواک څښتن دی، خو د ده مزه هغه وخت باران یوړه چې امریکایانو له یو چا څخه د یوه کرولا موټر د ډالۍ اخیستلو په تور ونیو. دا نیونه د صالحي د زوی د واده پر شپه تر سره شوه، د هغه شخصیت ته یې ډېر زیان واړوه. دا مهال ډاکتر رنگین دادفر سپنتا د امنیت شورا د دفتر مشر و، د هغه هوکړه هم په کې شامله وه. کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشر د انجنير ابراهيم په واسطه خبر شو، نو ژر يې مداخله وکړه او صالحي يې له زندان څخه راخلاص کړ. دې کار امريکايان هم په غوصه کړل، د امريکايانو او کرزي تر منځ مناسبات هم خراب شول.


امريکايانو اصلاً صالحي د هغو زرګونو ټليفونونو له امله نيولی و چې ده په تېرو وختونو کې بېلابېلو خلکو ته کړي وو. صالحي انجنير ابراهيم سره تر دې دمخه څو ځله روسيې او هندوستان ته هم سفرونه کړي وو. ويل کېږي چې روسيې ته د انجنير ابراهيم سفر او له هغو سره د مناسباتو د بيا رغونې لپاره صالحي له خپلو پخوانيو مناسباتو څخه ګټه اخيستې وه. روسيې ته د انجنير ابراهيم د سفر په باب معلومات د امرالله صالح له خوا امريکايانو ته ورکړل شوي وو. لنډه دا چې د صالحي د فعاليتونو په باب امريکايانو سره ګڼ شکونه وو، نو په دې خاطر يې هغه د افغاني ځواکونو په واسطه ونيوه. د صالحي په باب دا وخت په امريکايي ورځپاڼو په تېره بيا (نيويارک ټايمز) کې ځينې ليکنې هم خپرې شوې چې صالحي يې خورا نارامه کړ. صالحي په دې برخه کې له ډاکټر سپنتا او طلوع ټلوېزيون څخه چې د ده په وينا يې دا مهال له امرالله صالح او ډاکټر سپنتا څخه الهام اخيسته، سخت سر ټکاوه. خو صالحي سره هم کېدی شي داسې رازونه وو چې ولسمشر پرې ټينګ ودرېد او امريکايانو هغه تر (۲۴) ساعتونو وروسته بېرته پرېښود. تر هغه وروسته ضيا صالحي بيا له امريکايانو سره خپل روابط ورغول او تر دې پېښې وروسته يې بيا هم څو ځله امريکا ته له انجنير ابراهيم سره يوځای سفر وکړ او نورو هېوادونو ته هم ورسره په سفر لاړ، خو بيا هم د صالحي د نيونې اصلي علت معلوم نه شو. صالحي سره له دې چې د دې دفتر مالي او اداري مسول دی، خو بهر ته د بهرنيو چارو تر رييسه زيات سفرونه لري او د سفرونو په مانا او محتوا هم له انجنير ابراهيم او ده پرته نور څوک نه پوهېږي. علماوو شورا او ځينو جهادي قومندانانو ته د پيسو په رسونه او وېش کې هم صالحي صلاحيت لري. لنډه دا چې په امنيت شورا دفتر کې تر ده بل موثر رييس نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري.

**۷- عبدالله پوپل:** د ښاغلي (عبدالله پوپل) اصلي استوګنځی کندهار دی. بیا امریکا ته تللی او هلته ډېره موده اوسېده، یو وخت د روم له پروسې سره ملګری شو، د ولسمشر له ورونو؛ قیوم کرزي او په تېره بیا له محمود کرزي سره نږدې اړیکي لري. د طالبانو تر سقوط وروسته بیا څه موده په کندهار کې ښاروال و. د ډېرې لنډې مودې لپاره په ننګرهار کې هم ښاروال پاتې شو، تر هغه وروسته بیا د امنیت شورا په دفتر کې د ولایتي برخې رییس شو. عبدالله پوپل د ولسمشر له کورنۍ سره د خپلولۍ یو څه اړیکي هم لري، کله کله یې کور ته هم ورځي. خو ولسمشر پوپلزو ته چندان ارزښت نه ورکوي. البته په کندهار کې کېدی شي دا خبره معکوسه وي،



(عبدالله پوپل)



خو دلته په کابل کې پوپلزي هغه د چا خبره په دوه توته هم نه اخلي. ولسمشر فکر کوي، هغه څوک چې تخلص یې پوپل یا پوپلزی وي، نورو ته دا انګېرنه په لاس ورکوي چې ولسمشر ګنې قبیلویت پالي، په همدې خاطر پوپل او پوپلزو ته ډېره مخه نه ورکوي. ما څو ځله پوپل صیب ته وویل چې دا تخلص دې بدل کړه، د دې پرځای چې علي، حسیني یا جعفري تخلص کېږدې، ډېره ګټه به درته ورسوي، ما ورته زموږ د یوه ملګري کیسه وکړه چې ډېر با استعداده و، خو تخلص یې (توتاخېل) و، په هېڅ لوړ پوست کې تر اخره مقرر نه شو، کوم ځای کې چې به کوم مهم پوست ته وړاندې شو، نو د توتاخېل د تخلص په لیدو سره به یې یو لوړ پوړي او یا ټیټ پوړي چارواکي مخالفت وکړ، بېرته به یې له لېسته وویست، یوه ورځ یې ماته وویل: هېڅ په خپل عیب نه پوهېږم، هر څه ته برابر یم، په هر څه مې سر خلاص دی، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې کوم پوست ته پیشنهاد شم، د نامعلوم علت له امله بېرته رجېکټ شم، نه پوهېږم چې کوم عیب لرم. ما ورته وویل عیب خو دې معلوم دی، ده وویل څه شی! ما وویل: اول پښتون او بیا توتاخېل یې. ته همدا اوس دا تخلص لرې کړه چې څومره ژر مقررېږې، ده ویل نو څه وټاکم، ما وویل سادات، قریشي، حسیني او داسې نور، ده تخلص بدل کړ، (سادات) یې پرځان کېښود، اوونۍ لا وتې نه وه چې یو چېرته معین شو، بیا تر هغه ځایه بل ښه ځای کې معین شو او اوس هم د یوه وزارت مرستیال دی، نو که ته هم غواړې د رییس صیب د خپلولۍ له څپېړې بېغمه شې، دغسې یوه چاره وکړه، هغه راته وویل: ((عجیبه خبره دې وکړه، خو والله که دغه چل راځي، موږ ساده خلک یو)). پوپل صیب د دربار پر نزاکتونو او ژبه هم پوهېده، خو په ډېر کلاسیک ډول او دا ډول درباري چلند په دې عصري زمانه کې نه چلېده.

زموږ چې به کله زړه تنګ شو، نو د ده دفتر ته به لاړو، سملاسي به یې چای راوغوښت، یوه بل ته به یې سپکې سپورې وکړې، د ده عادت و چې زړه کې یې خبره نه ټینګوله او راساً یې په کنځلو بدلوله؛ د ده مانه، د ده ارتینه، د ده ارتینه په تا او داسې نور. یوه ورځ یې راته وویل، ستا په زړه کې به څه ګرځي چې دا پوپل دومره پوچ خولی سړی دی، والله که داسې یم، خو دې د خره زامنو ته چې کنځل ونه کړې زړه دې طاقت نه کوي، نو ته او خدای چې دوی ته څه وایې! یوه ورځ (ملک قریشي) عبدالله پوپل ته وویل چې عیناً عزیزالله واصفي صیب درڅخه جوړ شوی، نړه کنځلې کوې، واصفي صیب هم داسې دی، یوه شېبه یې خوله له کنځلو خالي نه وي. د ده ارتینه، د ده ښځه، د ده مانه، د ده پلان د ده بستان، داسې داسې کم، یوه ورځ ورته په کندهار کې یو سپین ږیري وویل، واصفي صیب په دې کنځلو کې هېڅ وقفه نه راولې، یوه نه یې باسې بل کې یې ننباسې، داسې لکه پخواني ټلېفونچیان چې یو نه یې باسي، بل کې یې ننباسي، نو قریشي صیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم پوپل صیب ته وویل چې پر تا هم هغه کانه شوې ده. ټولو وخندل، پوپل صیب وویل، والله که واصفي ملامت وي، له کنځلو پرته مې په بل شي زړه نه یخېږي، دا د خره زامن که په ادبیاتو اصلاح کېدی، یون صیب به اصلاح کړي وو، نو زموږ چې به زړه تنگ شو، د پوپل صیب دفتر ته به لاړو او کله هم د ثبات صیب دفتر ته. پوپل صیب به کله کله ډېرې جالبې سیاسي او د رمازه خبرې هم لرلې، یوه خبره ما همغه وخت د یوې خاطرې په توگه ځان سره ثبت کړې چې دا دی دلته یې وړاندې کوم.

## د وینو سېلاب!

د جمهوري ریاست د دویمې دورې تر ټاکنو وروسته د کابینې د جوړونې موضوع ډېره گرمه وه، د هر وزارت لپاره د بېلابېلو نوماندانو نومونه زمزمه کېدل. په دې لړ کې د بهرنیو چارو وزارت لپاره د ښاغلي زلمي رسول نوم هم ډېر یادېده. ښاغلی زلمی رسول په خوله غلی، په زړه کې پوه، ډېر ارام، نرم او د ښه سړیتوب یوه بېلگه ده، ښاغلی زلمی رسول لکه څنگه چې په ښه سړیتوب کې حد و برید نه لري، دغسې یې د بې جرئتۍ برید هم معلوم نه دی. عیناً لکه خپله جمهور رییس حامد کرزی. د کرزي ډېر خصوصیات په مستقیم او نامستقیم ډول هغه ته انتقال شوي دي. یوه ورځ سهار د ثبات صیب دفتر کې ناست وو، څو تنه نور هم وو یو دم عبدالله پوپل وارخطا راننوت، ویې ویل: ((عجیب او خطرناک خبر)) موږ وویل څه دي وواېه! ده وویل: ((همدا اوس خبر شوم رییس صیب پرېکړه کړې چې رحیم وردگ له دفاع وزارته لرې کوي او پر ځای یې زموږ ډاکتر صیب زلمی رسول مقرروي.)) پوپل صیب وویل: ((زما تشویش په دې کې دی چې که دا کار وشي افغانستان کې به ( د وینو سېلاب) وبهېږي، افغانستان کې هسې هم ډېرش کاله وینې بهېدلې دي، نور نو د وینو تاب نه لري او دا سړی خو داسې (جدي)! دی چې په همغه اوله ورځ به یې سفر بري اعلان کړې وي. د طالبانو سابه به یې هم په مالگه کړي وي او د شمالټلوالې هم، خو خدای


(c) ketabton.com: The Digital Library



دې د پاکستان ژوند ته خیر کوي.)) پوپل صیب په ډکه خندانه خوله دا خبره وکړه، دې سره ما بیا ثبات صیب ته وویل: ((ته یې منې؟)) هغه وویل: ((چې پوپل صیب یې وایي، نو اوس یې منم او بل ته لا اوس هم د رییس صیب په کارونو کې شک کوې، اوس یې هم نه منې؟ ایا تر دې یې نور (ښه!) تصمیمونه نه دي نیولي؟))

دا او دېته ورته ډېرې عجیبې خبرې په دفتر کې تبادله شوې، ټولې د لیکلو وړ دي، خو یوه نیمه یې زما د قلم تر نوکې راورسېدله. عبدالله پوپل د ولسمشر له خپلولۍ سره سره بیا هم په همغه یوه ګېر کې روان و، هېڅ وده یې ونه کړه، زلمي‌رسول ته یې هم ځان نږدې نږدې کاوه. انجنیر ابراهیم او نورو ته هم، خو په دفتر او تر دفتره بهر د زیات واک و ځواک ښتن نه شو. کله کله به ګل اغا شېرزي او یا هم کوم بل والي په کومه ډالۍ ونازوه، نور یې نو د نورو چارواکو په شان له دولتي څوکۍ څخه ډېر کار وا نه خیست. کله چې زلمی رسول د بهرنیو چارو وزیر شو، نو عبدالله پوپل هم ورسره لاړ، هلته یې د ولایتي برخې مسول کړ، خو څه موده وروسته پښېمانه و، نه دلته بېرته راتلای شو او نه هم هلته خوشاله برېښېده.

۸- ملک قریشي: ښاغلی (ملک قریشی) اصلاً د کندهار اوسېدونکی دی. لوړې زده کړې لري او د ولسمشر حامدکرزي د مېرمنې (زینت کرزي) ورور دی. ډېر هوښیار او دروند ځوان دی. د امنیت شورا په دفتر کې د (تحلیل او ارزونې) د ریاست مشر دی. هم د خپل لیاقت له وجې او هم دا چې د ولسمشر کرزي اخښی دی، په دفتر کې پوره صلاحیت لري او



(ملک قریشي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هم ورته خلک احترام کوي. خو هغه خلک چې دی نه پېژني، نه غواړي دی ورته په لوی لاس له حامدکرزي سره د خپلې خپلولۍ یا کورنیو اړیکو په باب څه ووایي، که ولسمشر کرزی نه وای، نو هم ده، د دې او تر دې د لوړې څوکۍ لیاقت درلود. ملک قریشي ډېر ظریف سړی دی. ښه د ګپ او شپ انډیوال دی، د ده ټوکې د عبدالله پوپل په شان لوڅې نه دي. د ادب په چوکاټ کې دي او ډېرې ظریفانه دي. په دفتر کې یې هم چا سره ټکر نه دی کړی، زما سیاسي نظریات یې خوښېږي، اکثره وخت یې د دفتر په غونډو او بهر کې زما له سیاسي دریځه ملاتړ کړی، خو نور په مجموعي ډول د نرم مزاج څښتن دی. کله چې به د دفتر مشران نه وو، نو رییسانو به د ډوډۍ پر سر د ګپ او شپ ښه محفل جوړاوه، هر چا به هر ډول ټوکې کولای شوې، خو کله چې به مشران راغلل، نو بیا به خبره یو څه په پرده کې شوه.**

**ملک قریشي چې کله ټوکه کوي، نو له موضوع سره په ارتباط یې کوي، ان له ولسمشر سره په یوه ظریفانه انداز غږېږي. یوه ورځ ما قریشي صیب ته وویل: ((که له وسه مو پوره وي، رییس صیب ته په کور او دفتر کې غوړه مالان مه پرېږدئ چې دا سخت تاوان رسوي.)) ده هم له غوړه مالانو سر وټکاوه او ویې ویل چې: ((د رییس صیب پر ذهن تاثیر لري، ښه کار ورته بد او بد ورته ښه معرفي کوي او بله مهمه خبره دا ده چې د رییس صاحب دوستان له هغه څخه لرې ساتي، څوک چې هغه ته کار کوي او هغه ته یې منډې وهلي، له هغه څخه یې لرې ساتي.)) دلته د ولسمشر کرزي په دربار کې غوړه مالان ډېر دي د همدې درباري غوړه مالانو په باب یوه کیسه راوړم، یوه ورځ ما او ملک قریشي سره د زړه خواله وکړل او بیا مې هغه د یوې خاطرې په توګه ثبت کړل:**

### په دې ټیم؟

**یوه ورځ ما (یون) ملک قریشي سره د درباري غوړه مالانو د ناوړه رول په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هکله خبرې کولې، ملک قریشي راته یوه کیسه وکړه، کیسه لنډه، خو جالبه ده، قریشي وویل: ((یوه شپه د رییس صیب په کور کې ناست وو، څو تنه نور مخور یې هم مېلمانه وو، ټولو تر حده زیات د رییس صیب توصیف وکړ، داسې توصیف چې زه پرې له ورایه پوهېدلم چې صداقت په کې نه شته او یوازې د رییس صیب د خوشالۍ په خاطر دی، ما خبرې نه کولې، غوږ وم، یوه په کې وویل: رییس صیب دومره غټ کارونه دې وکړل، افغانستان دې بېرته راټول کړ، د ملي وحدت لپاره دې دومره کار وکړ چې له تا پرته هېڅا هم نه شو کولای په همدې خاطر درته ټول د ملي وحدت سمبول وایي، خو یو بل مهم کار درته پاتې دی، هغه دا چې تر څو یې تر اټکه ونه نیسې له پاکستانه مو خلاصی نه شته، په ارامه مو نه پرېږدي او دا کار یوازې ته کولای شې)). قریشي وویل: ((رییس صیب ته هم دې خبرې خوند ورکړ ویې ویل: ((رښتیا هم تر اټکه چې یې ونه نیسو، خلاصی مو نه شته)) دې وخت کې زما اوسېله تنګه شوه له خولې مې ووتل: ((په دې ټیم؟ په دې ټیم خو والله که تر محمود خان پله پورې هم لاړشئ)) زما دې خبرې سره غوړه مالان ټول غلي شول او رییس صیب په موسکا کې خو لږ په قهرجنه لهجه وویل: ((یاره د امنیت شورا والا بې له دې چې چایونه وڅښئ او منفي فکر وکړئ نور هېڅ کار نه کوئ)).**

**د ملک قریشي ((په دې ټیم؟)) خبره ځکه دلته په زړه پورې وه او کښښ یې درلود چې په همدې نږدې ورځو کې د ثور پر (۸مه) نېټه د ((جشن)) په مناسبت جوړه شوې غونډه، د مخالفو وسلوالو له خوا ګډه وډه شوه، د ولسي جرګې د وکیل (فضل الرحمن څمکني) په ګډون څو تنه په کې ووژل شول او نورو ټولو پوځیانو او ملکیانو له صحنې څخه پښې سپکې کړې. د غوړه مالانو د (اټک) د نیولو د هیلې پر وړاندې د ملک قریشي له خوا ( په دې ټیم) ترکیب استعمالول، د یوه داسې واقعیت څرګندونه وه چې هر وخت په ارګ کې پېښېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کله چې زلمی رسول د بهرنیو چارو وزیر شو، نو ملک قریشي هم ورسره لاړ او هلته د وزیر د دفتر د رییس په توګه مقرر شو.**

**۹- سرور ثبات: په امنیت شورا کې یو تن بل هم چې له ولسمشر سره پېژني، هغه ښاغلی (سرور ثبات) دی. مخکې د امنیت شورا مالي او اداري رییس و او وروسته د تحلیل او ارزونې رییس شو. سرور ثبات پخوا چپي نظریات او شعله یانو سره اړیکي درلودل، د جهاد په دوران کې له جهادي لیکو سره یوځای شو، تر جهاد او تنظیمي جګړو وروسته لندن ته لاړ، د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته بېرته کابل ته راغی**



**(سرور ثبات)**



**او اوس دا دی دلته د امنیت شورا دفتر کې دریيس په توګه دنده تر سره کوي. پر اداري کارونو یې سر خلاص دی، خو په سیاسي کارونو کې هغومره وخت او صلاحیت ورته نه دی میسر شوی. کله کله د امنیت شورا دفتر په ځینو مهمو کورنیو او نورو غونډو کې چې بهرنیان په کې ونډه لري، ده ته هم د ګډون بلنه ورکول کېږي. خو بیا هم ډېر فعال نه برېښي. کله چې رسمي غونډې نه وي، نو د ده دفتر ته د مجلس لپاره ورځو. خو زموږ د راټولېدو اکثره وخت د غرمې د ډوډۍ مهال وي. دولس نیمې بجې د ډوډۍ لپاره سره په یوه سالون کې یو ځای کېږو، د امنیت شورا د دفتر مرستیالان او رییسان یوځای ډوډۍ خوري، همدا ځای له یو بل څخه د احوال پوښتلو او د نویو زړو مسایلو د بحث لپاره مناسب وخت وي. دلته چې څومره سیاسي بحث کېږي په رسمي غونډو کې هغومره نه کېږي، د ډوډۍ وروستی وخت معلوم نه وي، هر چا چې هر وخت ډوډۍ خلاصه کړه، خپل دفتر ته تللای شي. دلته ډېر سیاسي، اجتماعي او نور بحثونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کېږي، کله کله خبره ترخه هم شي، خو ډېره کمه. دا چې خبرې ډېرې نه ګرمېږي د دې علت دا دی چې په دې دفتر کې اکثره د یوه نظر خلک راټول شوي، البته څه ناڅه اختلافات به لري، خو بیا هم ډېر زیات اختلافات نه لري، کله چې ډاکټر سپنتا د دې دفتر رییس شو، نو د ډوډۍ پر مهال یې چې وکتل اکثره پښتانه دي، دا حالت پرې ښه ونه لګېده، یوه ورځ یې د ډوډۍ پر سر یاده کړه چې دلته ټول پښتانه دي باید اصلاحات راشي، ما ورته وویل، د خلیلي او فهیم دفترونو ته لاړ شه، چې هلته څه حال دی؟ هغه وویل، هغوی به هر څه کوي، خو موږ او تاسې باید هغسې ونه کړو، تر سپنتا دمخه ډېر زیات سیاسي اختلافات نه وو، یوازېنی دفتر و چې ته په کې په ازاده توګه غږېدلی شوې، یوازینی دفتر و چې ولسمشر پرې حساب کولای شو او خبره یې پرې چلېدله او کوم مخالفت یې نه درلود. سرور ثبات له سپنتا سره هم خپل پخواني تنظیمي اړیکي درلودل، خو اوس یې هغو پخوانیو مناسباتو ته چندان ارزښت نه ورکاوه. نو د امنیت شورا دفتر غرمنۍ، کله په سیاسي ټوکو او کنایو سره سرته رسېدله. د دې ډول کنایو یوه بېلګه به هم دلته وړاندې کړم:**

## ته یې منې؟

**((ته یې منې؟)) دا ترکیب یو شالید لري، وایي چې په یوه کلي کې یوه ښځه له یوه سړي سره جوړه وه! اوونۍ یا میاشت کې به یې یو ځل چانس پیدا کاوه، چې له خپل یار سره وګوري؛ د کلي په کومه کنډواله کې پیوستون وکړي او خپله غریزه په نامشروع ډول رفع کړي، د کلي خلک ورو ورو پر دې مسله خبر شول، د خلکو تر منځ پسپسک او ګونګوسی شروع شو، ورو ورو دا خبره له یوې خولې بلې ته انتقالېدله، ان خبره دې ښځې ته هم راورسېدله، چا ورته وویل چې ټول کلی په دې کار خبر شوی، خو ښځې پر ځان نه برابروله، همداسې یې ځان ناګاره اچوه، یوه ورځ بیا یې د دې بدې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاملې نوبت راورسېد، ښځه له خپل یار سره یوځای شوه، د معاملې په جریان کې ښځې پر سړي غږ وکړ: ((سړیه د دې کلي خلک ما او تاپسې خبرې کوي چې زه او ته یو بل سره جوړ یو، ته یې منې؟)) سړي پر خپلې معشوقې غږ کړ: ((نه بابا د دې کلي خلک همداسې دي، دوی په هر چاپسې خبرې کوي.)) دا کیسه یا ټوکه ما د امنیت شورا دفتر کې بېلابېلو رییسانو؛ عبدالله پوپل، سرور ثبات، ملک قریشي، ضیا صالحي او نورو ته څو ځله کړې وه، د ټولو په حافظه کې ناسته وه، یوازې زلمی رسول او انجنیر صیب ابراهیم سپین زاده پرې خبر نه و، نو کله چې به د ډوډۍ پر وخت سره راټول شولو، کومه خبره چې به شونې نه وه او دې ټوکې به ورسره ربط درلود، نو چې وبه دې ویل: ((ته یې منې؟)) نو موږ ټول ګروپ به وار تر واره پرې پوه شو. په دې خبرو کې یوه هم د جمهور رییس حامدکرزي د (جدیت) خبره وه چې هېڅکله هم جدي نه شو او هېڅکله یې هم غوڅ دریځ غوره نه کړ، په تېره بیا د شمالټلوالې په اړه، هر څومره چې به هغوی د ده مخالفت او مزاحمت کاوه، ده به نورې هم پرې پې پرېښودلې، نور امتیازات او امکانات به یې هم ورکول. د جمهوري ریاست د دویمې دورې تر ټولټاکنو وروسته چې نتایج لا معلق دي، جمهور رییس او ټول حکومت تر سخت فشار لاندې او په سخت بحران کې وو، د ملي امنیت شورا مشاور ښاغلی (زلمی رسول) د ډوډۍ پر مهال خونې ته راننوت، کله چې یې پر ډوډۍ پیل وکړ، نو ثبات صیب ورته وویل: ((چطور است حالات کدام خوشخبری وجود دارد؟)) زلمي رسول وویل: ((رییس صاحب بسیار جدی است، امروز گفت، بعد ازین اینطور نمیشود ما جدی برخورد میکنم، این مردم هم امتیاز میگیرد هم مزاحمت میکند)) زلمي رسول بیا زیاته کړه: ((رییس صاحب بسیار جدی بود، بعد از این بسیار جدی عمل خواهد کرد...))

پر دې وخت زموږ له ډلې یو تن پر ثبات صیب غږ کړ: ((ثبات صیب! ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې منې؟)) هغه وویل: ((والله خلک یې وایي نو...)) دې کې ملک قریشي، پوپل صیب، نورزی صیب، صالحي صیب او زه (یون) ټول سره په شونډو کې موسکي شولو، یو بل سره پوه شو، خو زلمی رسول لا تر دې دمه زموږ د ټوکې په دې رمز پوه نه و.

پر سرور ثبات سربېره یو شمېر رییسان چې یا مخکې دلته وو او یا هم اوس شته، خو تر دې دمه هم په سیاسي پېښو او مسایلو کې زیات مطرح نه وو او نه دي، لکه لطف الله مشعل چې یو وخت د ستراتیژیکو روابطو مسول و او بیا وروسته د لغمان والي شو او تر هغه وروسته د ملي امنیت ویاند، یا هم نجیب طهماس چې د بهرنیو اړیکو مسول و، بیا یې په خپله خوښه دنده پرېښوده. یا هم محمد انور بریپال چې د عبدالله پوپل پرځای راغی او بیا وروسته ملي امنیت ریاست ته لاړ، دغه راز فوشنجي چې د ډاکتر سپنتا د دفتر رییس و، اکبر قریشي چې یو وخت دلته د یوې ځانگې مسول و او همدارنگه یو شمېر نور اشخاص چې اکثره په خپلو کارونو کې ډوب وو او سیاسي مسایلو کې زیات مطرح نه وو. سرور ثبات هم وروسته د نیمروز والي شو او تر یو کال زیات و کم وروسته پرکور کېناست.


(جمیل بهرامي)

۱۰- جمیل بهرامي: جمیل بهرامي د جمهور رییس د ساتونکي گارد یا ځانگړې قطعې (PPS) مشر دی. تر دې وړاندې انجنیر نبیل د دې ادارې د مشر په توگه دنده اجرا کوله. (PPS) که څه هم یوه خپلواکه اداره ده او مستقیماً په ولسمشر پورې تړلې ده، خو له سیاسي او اداري پلوه یې ډېر کارونه د امنیت شورا په دفتر پورې تړلي دي. نو ځکه مو جمیل بهرامي هم د همدې اداري په لېست کې معرفي کړ. بهرامي مخکې تر دې چې د (PPS) مشر شي د امنیت شورا په دفتر کې یې دنده اجراکوله، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لوړو زده‌کړو لپاره امریکا متحده ایالتونو ته لاړ، تر تحصیل وروسته بېرته هېواد ته راغی او په امنیت شورا دفتر کې مقرر شو. کله چې انجنیر نبیل د ملي امنیت د لوی رییس په توګه مقرر شو، نو بهرامي یې د خپل ځایناستي په توګه وړاندیز کړ. بهرامي د انجنیر نبیل نږدې خپلوان دی. بهرامي چې دا مهال په امنیت شورا کې له انجنیر ابراهیم، زلمي رسول او د ارګ له نورو چارواکو سره پېژندل، نو ولسمشر په اسانۍ سره ومانه چې د ده د ساتونکي ګارد مشر شي. بهرامي دا څو کاله د ولسمشر د یاد ګارد د مشر په توګه دنده اجرا کوي. ډېر غلی او ارام شخص دی، چې ته یې ونه غږوې، دی به خبرې ونه کړي، د خپل مقام په ساتنه کې پوره دقت کوي، په سیاسي مسایلو او نورو جنجالي خبرو کې ګوتې نه وهي، کوم خاص تنظیم او ډلې پورې هم تړلی نه دی. خپلې شپې ورځې په ګوزاره تېروي، ان هغو خلکو سره هم ګوزاره کوي چې په (PPS) کې دي او نظار شورا پورې اړه لري، مستقیماً له فهیم خان څخه هدایت اخلي او په ښکاره د ولسمشر کرزي مخالفت کوي. فهیم خان او د نظار شورا نورو غړو څو څو ځله د ولسمشر کرزي له غوږه تېره کړې چې د ده په دې خاص ساتونکي ګارد کې باید د دوی مناسبه ونډه وي، ولسمشر هم ورسره منلې ده، نو ځکه خو اوس په (PPS) کې هم داسې کسان شته چې تر کرزي د شمالټلوالې اصلي زړې (نظار شورا) ته ډېر لېوال دي، ان تر دې که د کرزي او فهیم خان او یا د جمعیت د بل کوم مطرح شخص تر منځ ټکر رامنځته شي، ولسمشر د دې جوګه نه دی چې خپل دا خاص ګارد په بشپړ ډول د هغوی مقابلې ته تیار کړي. خو بیا هم دا داسې یوه قطعه ده چې لږ تر لږه د ملي اردو، پولیسو او ملي امنیت د بېلابېلو قطعاتو په انډول د ولسمشر کرزي د پلویانو شمېر په کې څه ناڅه زیات دی. د ارګ د ساتنې لپاره د ملي اردو یو بل کنډک هم موظف دی چې هغه کې بیا د اسلامي جمعیت پلویان تر هر چا زیات دي، که د امریکائیانو او یا هم بهرنیو ځواکونو وېره نه وي، نو که دا ټلواله وغواړي هر وخت د پوځي کودتا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتمال او امکانات موجود دي. نو کله چې د ارگ په داخل کې د قواوو انډول په دې حال وي، په نورو ځایونو کې به حالات څرنگه وي، د همدې انډول له مخې یې پرتله کولای شو.

**۱۱- انجنیر رحمت الله نبیل:** انجنیر رحمت الله نبیل اصلاً د میدان وردگو ولایت اوسېدونکی دی، تر لومړنیو، ثانوي او لوړو زده کړو وروسته یې په پاکستان کې د ملگرو ملتونو په بېلابېلو دفترونو کې کار کړی دی. نبیل د طالبانو نظام تر ړنگېدو وروسته بېرته هېواد ته راستون شو او دلته د امنیت شورا په دفتر کې د ولایتي برخې مسول شو. دې دفتر ته د ده په راوستنه کې د انجنیر ابراهیم سپین زاده رول،



(انجنیر رحمت الله نبیل)

چې انجنیر نبیل ورسره د کډوالۍ له مهاله پېژندل، ډېر موثر و. انجنیر نبیل څه موده په دې پوست کې کار وکړ او کله چې د ولسمشر کرزي د محافظت لپاره ځانگړې قطعه (PPS) جوړه شوه، نو انجنیر نبیل څو کاله د دې قطعې مشر پاتې شو، همدا مهال و چې له ولسمشر سره یې له نږدې تعلقات پیداکړل او د هغه د باور وړ شخص شو. د (PPS) قطعه هم له ډېرو خواوو د امنیت شورا د همدې دفتر له خوا کنټرولېده او څار یې کېده، نه یوازې دا قطعه، بلکې د ارگ په داخل کې چې هر لوړ رتبه او ټیټ رتبه مامور مقررېده، نو د امنیت شورا دفتر یې امنیتي تذکیه ورکوله. انجنیر نبیل د غرمې ډوډۍ همدلته د امنیت شورا په دفتر کې خوړله او مهمې سلامشورې یې هم د همدې دفتر مشرانو، په تېره بیا له انجنیر ابراهیم سپین زاده سره شریکولې. د امرالله صالح تر استعفی وروسته انجنیر نبیل د ولسمشر کرزي له خوا د ملي امنیت ریاست لپاره نوماند شو او په اسانۍ سره یې وکولای شول له ولسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګې څخه باور رایه ترلاسه کړي.

انجنیر نبیل څه موده د ملي امنیت ریاست د رییس په توګه پاتې شو او په دې بهیر کې یې په یاد ریاست کې یو لړ سمونونه راوړل. که څه هم دا اصلاحات پوره او کره نه وو، خو یو نسبي پرمختګ و، له تنظیمي او قومي حالته د دې ریاست د را ایستلو لپاره ښه هڅه وه. وروسته ولسمشر کرزي (اسدالله خالد) د انجنیر نبیل پرځای یاد ریاست ته نوماند کړ، هغه هم له ولسي جرګې باور رایه ترلاسه کړه. دا مهال یې انجنیر نبیل بېرته د ملي امنیت شورا دفتر د مرستیال په توګه معرفي کړ. انجنیر نبیل دا وخت له ولسمشر څخه زیات ماڼیجن و، خپله استعفی یې په جیب کې ګرځوله او ماته یې دوه ځله خپله استعفی راښکاره کړه، دا مهال ما له امنیت شورا دفتر څخه استعفی وکړه او خپله انجنیر نبیل زما دا هڅه وستایله، ماته یې ویل چې زه خپله هم استعفی ورکوم. د انجنیر نبیل د استعفی وخت لا نه و رارسېدلی چې پر اسدالله خالد ځانمرګی برید وشو او هغه په کې سخت ټپي شو، څو میاشتې وروسته ولسمشر کرزی یو ځل بیا مجبور شو، انجنیر نبیل د یاد ریاست د رییس په توګه معرفي کړي.

انجنیر نبیل د کرزي د واکمنۍ تر پایه په دې پوست پاتې شو، په دې ټوله موده کې یې یو څه کارونه وکړل، خو اکثره وخت یې لاس تړلي وو او په زغرده یې کار نه شو کولای. انجنیر نبیل پر دې پوهېده چې کرزی یې په زغرده ملاتړ نه کوي، نو ځکه خو یې سست ریفورم روان کړی و . د انجنیر نبیل د ریاست په دواړو دورو کې دی پر دې بریالی نه شو چې پر یاد ریاست د نظار شورا انحصار راکم کړي، ان په ځینو برخو کې هغوی لاپسې پرمختګ وکړ. کله کله ده هم د خپل واک د تداوم په خاطر له نظار شورا او نورو زورواکو سره تفاهم او جوړ جاړی کاوه او په دې کار کې یې یو څه مهارت هم درلود. د انجنیر نبیل د واک د خلا په حالت کې د امرالله خان صالح په اړه جوړه شوې دوسیه هم د ولسمشر کرزي په امر وتړل شوه او له

(c) ketabton.com: The Digital Library



منځه یوړل شوه او همدارنگه د پنجشېر د مطرحو سیاسي او پوځي څېرو ټولې دوسیې، چې د هر ډول ناقانونه کارونو له امله ورته جوړې شوې وې، ټولې له منځه یوړل شوې. انجنیر نبیل اساساً د معتدل اسلامي او ملي فکر خاوند دی، خو څرنگه چې نه یې قومي بیز ځان ته جوړ کړی و او نه هم د کوم قوي تنظیم ملاتړ ورسره و، نو ځکه خو ډېر هغه کارونه چې باید کړي یې وای، همداسې نابشپړ پاتې شول. انجنیر نبیل ته د واک پر مهال او تر هغه وروسته د واک د خلا په وخت کې بېلابېلې توطیې او دوسیې جوړې شوې، چې د ځینو په لومو کې بند شو او له ځینو یې ځان وژغوره. انجنیر نبیل داسې یو شخصیت دی چې د خپل مقام او موقف د ساتنې لپاره وخت پر وخت خپل دریځ او تگلوری بدلوي، خو په ملي امنیت کې په عمومي ډول د انجنیر نبیل د کړو کارونو بریاوې د هغه تر نیمگړتیاوو یو څه زیاتې محاسبه کېدلای شي، خو که ده په زغرده کار کړی وای او د خپل موقف د ساتنې لپاره یې په ځینو برخو کې ناوړه جوړجاړی او مضر مصلحت نه وای کړی، کېدی شي بریاوې یې زیاتې جوتې وای.

انجنیر نبیل او جمیل بهرامي مې ځکه د امنیت شورا دفتر په لړ کې معرفي کړل چې هم یې پخوا دې دفتر کې کار کړی و او هم یې وروسته ورسره کاري رابطه لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشر د دفتر کرکټرونه

د ولسمشر کرزي د واکمنۍ دوره په حقیقت کې د موقتې ادارې له پیل سره پیلېږي او د دویمې انتخابي دورې په پایته رسېدو سره پای ته رسېږي، په دې نږدې څوارلسو کلونو کې ډېرو اشخاصو له ولسمشر سره د دفتر د رییس او ویاند په توګه کارونه کړي دي، یوازې څلورو تنو د دفتر د رییس او شپږو تنو د ویاند په توګه کار کړی دی. ښاغلو (سید طیب جواد، جاوید لودین، عمر داودزي او کریم خرم) د دفتر د رییسانو په توګه کار کړی دی. ښاغلي (یوسف نورستاني، سید فضل اکبر پاچا، جاوید لودین، کریم رحیمي، همایون حمیدزاده، وحید عمر او ایمل فیضي) د ویندویانو په توګه دنده اجرا کړې ده. دلته غواړم په لنډیز سره د هر یوه په باب لنډه لنډه تبصره ولرو:

**۱- سید طیب جواد:** ښاغلی (سید طیب جواد) د کابل په یوه علمي کورنۍ کې زېږېدلی دی. د نرمو اعصابو او ښه خوی خاوند دی. پلار یې (پوهاند میرحسین شاه) په ادبي او علمي ډګر کې افغانستان ته پام وړ خدمتونه کړي دي. د موقتې ادارې په پیل سره دی هم کابل ته راغی او دلته د ولسمشر کرزي د دفتر د رییس په توګه وټاکل شو، تر دې دمخه د امریکا متحده ایالاتو کې اوسېده او هلته یې لوړې زده کړې هم کړې دي. سید طیب جواد په داسې



(سید طیب جواد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرایطو کې کار پیل کړ چې په ارګ کې سخته ګډوډي وه، د دفتر کارونه باید له صفر څخه پیل شوي وای. د تنظیمي ډلو افرادو په تېره بیا د شمالټلوالې ملېشو په ارګ کې پوره واک و ځواک درلود. د ملي پوځ یو منظم کنډک هم فعال نه و، د ګوزارې او هسې د شپو ورځو تېرولو مهال و. خو خپله سیدطیب جواد داسې یو شخص و چې شمالټلوالې سره یې هم د ملګرتیا یو پټ تار درلود، کرزي هم دا مهال داسې اشخاصو ته اړتیا لرله چې په یو نه یو ډول یې باید شمالټلوالې سره خواخوږي او روابط درلودلای. سید طیب جواد څو میاشتې په همدې حالاتو کې په ارګ کې له کرزي سره تېرې کړې او بیا په امریکا کې د افغانستان د سفیر په توګه وټاکل شو. هلته یې افغانانو سره د مرستې په نامه یوه انجیو جوړه کړه چې مېرمن یې هم په دې انجیو کې پوره واک و ځواک درلود او ویل کېږي چې له دې درکه د زیاتو شتمنیو خاوند شو. همدې ټکي د ده پر وړاندې د یو شمېر افغانانو د نیوکو انګېزه راوپاروله. د کرزي د واکمنۍ په بهیر کې سیدطیب جواد د حکومت د لوړو پوړو چارواکو له خولې ونه غورځېده او څو ځله یې د بهرنیو چارو د وزیر په توګه نوم یاد شو، خو عملاً تر دې دمه دې او نورو مهمو څوکیو ته ونه رسېده.

**۲- جاوید لودین:** د طالبانو دنظام تر ړنګېدو دمخه جاوید لودین په



(جاوېد لودین)

کاناډا کې اوسېده، د لنډمهالې ادارې پر مهال کابل ته راغی او د انتقالي ادارې د مشر د ویاند او وروسته د ولسمشرۍ د دفتر د رییس په توګه غوره شو. البته تر دې دمخه ښاغلی (سیدطیب جواد) د لنډ وخت لپاره د موقتې ادارې د مشر د دفتر د رییس په توګه کار وکړ، خو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرحله ډېره لنډه، تنګه وه او زیاتره په منډو او د دفتر د جوړښت او سمبالښت پر چارو تېره شوه.

جاوید لودین د ارامو اعصابو خښتن او په خپلو چارو کې یو بریالی شخص و، نه یې چا سره قومي اړیکي پالل، نه تنظیمي، نه سیمه ییز او نه هم نور، ولسمشر ته نو دا مهال تر ده بل غوره شخصیت نه پیدا کېده، جاوید لودین چې تر ویندویۍ وروسته د ولسمشر د دفتر د رییس په توګه دنده اجرا کړه. نو دا مهال هم نه واکمنو او نه هم محکومو تنظیمو او افرادو له جاوید لودین سره حساسیت ونه ښود، ده په ارامه فضا کې دنده تر سره کړه. د واکمنو تنظیمونو په تېره بیا د اسلامي جمعیت پر وړاندې ده کومه ترخه خبره نه کوله، نو ځکه خو هغوی ته پر دې وخت پر همدې پوست همداسې یو شخص په کار و او د محکومو خلکو د غندنې په برخه کې، چې دا وخت یو دود ګرځېدلی و، ده هم ډېر داسې څه ونه ویل چې د هغو د کینې سبب شي، نو ځکه خو یې د یوه دولتي مامور په توګه خپل ماموریت په ښه توګه تر سره کړ، وروسته بیا په کاناډا کې د افغانستان سفیر شو او تر سفارت وروسته د بهرنیو چارو وزارت کې د سیاسي معین په توګه غوره شو. هغه دنده یې هم په خپله خوښه خوشې کړه. جاوید لودین هم لکه د دربار د یو شمېر نورو اشخاصو په شان د ولسمشر پر خوی او بوی ښه پوهېده، نو ځکه یې له همغه بهیر سره ځان اعیار کړی و چې په ارګ کې روان و. انقلابي اشخاصو؛ هغو شخصیتونو ته چې واقعیت په مستقیم ډول بیانوي، دا مهال په ارګ او د دولت په نورو حساسو رګونو کې ځای نه و. نو ځکه خو جاوید لودین هم د همغه بهیر یو غړی و چې معتدل(!) شخصیتونه بلل کېدل او د هغه وخت په اصطلاح یې ((حساسیتونه!)) نه راپارول.

د کرزي صیب په حکومت کې یو دود دا و چې کله به څوک په واک کې و، د حکومت هېڅ نیمګړتیا ته به یې ګوته نه نیوله، خو کله چې به لرې شو؛ بیا به یې نو خوله خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو جاوید لودین د هغو شخصیتونو له جملې څخه و چې له حکومت څخه لرې هم شو، خو بیا یې هم په حکومت پسې خوله وازه نه کړه، غلی پاتې شو او خپل شخصیت او اصلیت یې وساته.

**۳- عمر داودزی:** د ارگ په مهمو کرکترونو کې یو هم عمر داودزی دی. داودزي د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په پاکستان کې د ملگرو ملتونو له یوې ادارې سره کار کاوه، تر موقتې ادارې وروسته کابل ته راغی او د ولسمشر د دفتر مشر شو.

داودزی د کابل له قره باغ سیمې څخه دی، په خټه داودزی – پښتون - افغان دی. پخوا یې د حکمتیار له اسلامي حزب سره اړیکي درلودل، اوس هم ورسره خواخوږي لري، خو اوس هم دیموکرات دی، هم تکنوکرات او هم د اسلامي روحیې رنگ لري. له بهرنیانو سره هم ښه اړیکي لري، له جهادي تنظیمونو، ټوپکوالو او روښنفکرانو سره هم ښه روابط پالي، هېڅوک نه خفه کوي



(عمر داودزی)



او هېڅوک به هم ترې خوشاله نه شي. داسې چې د یو چا ورته کار بند وي، دی به ورسره داسې چلند وکړي چې کار یې هم ونه کړي او سړی هم داسې ورڅخه خوشاله شي چې فکر کوي کار یې ورته کړی، خو ډېره موده وروسته به پوه شي چې کار یې نه دی شوی. داودزی نرمه ژبه او خوږه خوله لري، څوک نه خفه کوي او یا ترې نه خفه کېږي، نو په همدې خاطر یې تر دښمنانو دوستان زیات دي. د افغانستان په کچه یو خواخوږی هېوادپال دی، د کوهدامن په کچه جمعیتی او شمالیوال، له ملتپالو افغانانو سره چې کېني تقریباً افغان ملتی، له حزبیانو سره حزبي او همداسې نور درواخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**داودزی دوه ځله د ولسمشر د دفتر د رییس په توگه پاتې شوی، د ولسمشر ډېر رازونه ورسره دي، د هغه ځینې خصوصیات یې هم راجذب کړي، له هر چا سره د هغه د میل مطابق ژبه او سر خوځول، د ولسمشر هغه خصوصیت دی چې داودزي ته انتقال شوی دی. ان کله کله یې لباس هم د هغه په شان وي، قره قولۍ یې عیناً د ولسمشر په شان وي. له ملي شورا سره ډېر ښه تعلقات لري او همدارنگه په هېواد کې له گڼ شمېر قومي مشرانو سره، یو کاري سړی دی، د روابطو په جوړولو او پاللو کې اول دی. د پیسو واک او ځواک هم له ده سره دی. کله چې ایران کې سفیر و، ویل کېږي چې له هغه هېواد سره یې ښه اړیکي درلودل، ځینو کسانو دا ډول روابط د هېواد د ملي گټو په زیان هم تعبیر کړل، خو اساساً داودزی ملي گټو ته یو ژمن شخص بلل کېږي، له ایران څخه د ولسمشر دفتر ته د پیسو راتگ د همده په وخت کې تر سره شو. دې کار د گڼو افغانانو احساسات راوپارول، بهرنیانو هم پر کرزي د انتقاد لپاره دا یو ښه چانس وباله، عیناً لکه د ایران او عراق په جگړه کې چې د ایران او (رونالدریگن) د ادارې پټه معامله وه او په (ایران گیت) مشهوره وه. دا هم یوه پټه معامله وه، خو داودزي یوه ورځ رسنیو ته وویل چې دا د ولسمشر له دفتر سره مرسته ده او دا یو معمول کار دی چې ولسمشر له یو چا څخه مرسته واخلي او پر دولتي او ټولنیزو چارو یې ولگوي. داودزي د امنیت شورا له دفتر سره د ځینو نورو هېوادونو، لکه امریکا او انگلستان د مالي مرستو یادونه هم وکړه چې دا مرستې هم د ولسمشر په لارښوونه مصرفېږي او گزارش یې بېرته ولسمشر ته ورکول کېږي. د ایران دا ډول پټې مرستې که له هر چینله وې، خو د ولسمشر او داودزي پرستیژ ته یې پوره زیان واړوه.**

**که څوک غواړي د ولسمشر پر ټولو خصوصیاتو، روحیاتو، ذوق، ډار و ترس او ټولنیزې اروا پوهنې خبر شي، نو تر داودزي ښه سرچینه نه شي پیدا کولای. خو دا په دې مانا نه ده چې ولسمشر د داودزي هره خبره مني، دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم کله کله ناراضه وي او له اوسني وضعیت څخه سر ټکوي، ما له داودزي سره ډېر ښه روابط درلودل او اوس یې هم لرم. په ټولنیزو روابطو او دوستۍ کې تر ده ډېر کم خلک زیاته اوسېله لري.

ما چې کله له داودزي صیب سره کتلي، نو څه ناڅه نوې خبرې مې ترې اورېدلي، ښه به وي چې دلته د دې اثر په متن کې له داودزي صیب سره د ځینو ملاقاتونو، ځینې برخې هم راوړم، دا برخې هم افغان ولس ته په ګټه دي او هم د داودزي صیب د شخصیت د څېړنې په برخه کې مرسته کولای شي. داودزی صیب وروسته بیا په اسلام اباد کې د افغانستان د سفیر او بیا د کورنیو چارو وزارت د وزیر په توګه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له امریکا سره نانډرۍ او د ولسمشرۍ ټاکنې

په داسې حال کې چې د ولسمشر کرزي او امریکا متحده ایالتونو تر منځ لا هم د ملکي تلفاتو، د کورونو د تلاشۍ او خپلسرو عملیاتو پر سر نانندرۍ روانې دي او مناسبات ترینګلي دي. د ځینو پرمختګونو او پټو معاملو هڅې هم روانې دي. د راتلونکي ولسمشرۍ د انتخاباتو پر سر هم ستونزې موجودې دي، څوک وایي کېږي او څوک وایي نه کېږي، حالات مبهم دي. تر ټولو مهمه خبره همدا ده چې امریکا سره مناسبات سم نه دي او د ولسمشرۍ د راتلونکو ټاکنو وخت نه دی ټاکل شوی.

د (۱۳۸۷ ل) کال د سلواغې (۲۷)مه نېټه وه چې سهار د داودزي صیب له دفتره احوال راغی چې جلسه ده راشه! هلته چې لاړم، د مطبوعاتو مرستیال (سیامک هروي) او (رسولي) چې دا وخت د داودزي صیب په دفتر کې کار پوه و، هم راغلي وو. داودزي صیب موږ ته وویل چې تاسو ته مو ځکه زحمت درکړ چې زموږ او د امریکا په مناسباتو کې یوه نوې صفحه پرانیستل شوې، نو ځکه غواړم چې له هغو مو خبر کړم او بیا په رسنیو کې هم د هغوی لپاره تبلیغات وکړو او ملاتړ ورته جلب کړو.

داودزي صیب وویل چې رییس صاحب د امریکا له سفیر سره ملاقات کړی او ډېرې بریاوې یې ترلاسه کړي دي. د ولسي وګړو د تلفاتو د تقلیل او ودرولو په باب موافقې ته سره ورسېدل، دا موافقه جریان لري. د دولت (۱۱) غوښتنې یا نقطې منل شوي او امضا شوي دي، ځینې یې پټې دي او ځینې یې ښکاره، ځینې مواد به یې اوس اعلان شي او ځینې نور به وروسته اعلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، ځینې جزئیات یې دا دي چې د افغان کور به افغان تلاشي کوي، بهرنی به دا حق نه لري. افغانان به یوازې د افغانانو له خوا بندیانېږي، نه د بهرنیانو له خوا. دا چې د دې موافقې عملي میکانیزم به څنګه وي، غواړم په دې باب هم رڼا واچوم. د باګرام په عملیاتي مرکز کې به د افغانستان استازی کېني. که له کوم ځایه د دښمن د فعالیتونو راپور راغی، له افغان لوري سره به مشوره کېږي، افغان لوری به مشوره ورکوي چې دا عملیات موږ خپله کوو که په مشترک ډول یې تر سره کوو او یا درېیم دا چې مناسب نه دي، یو یې هم نه کوو، په دې حالت کې به یې امریکایان یا مني او یا به یې نه مني او وایي به چې دا معلومات سم نه دي، په دې حالت کې به افغان لوری موږ سره تماس نیسي، که بیا هم مقابل طرف قانع نه شو، نو افغان جمهور رییس به تصمیم نیسي. خو اوس په دې خبرو کې مهمه خبره دا ده چې د افغانانو تقاضا یې ومنله، دا موافقه زموږ له خوا زموږ دفاع وزارت امضا کړې ده. تر دې وروسته به له امریکایانو سره بحث پر بریاوو کوو، نه پر شکایتونو.

بله خبره چې ده هغه د انتخاباتو په باب ده، انتخابات به د اګست پر (۲۰) مه نېټه تر سره کېږي، دا مسله هم نهایي شوې ده. موږ له کمېسیون سره مشوره کړې، دا نېټه توکلي نه ده ټاکل شوې او دا نېټه ټولې دنیا ته اعلان شوې، امریکا ته هم.

رییس صاحب وویل: د امریکا سفارت او ملګرو ملتونو ته مې وویل چې پر دې تاریخ موافقه شوې، هغوی هم دا تاریخ تائید کړی دی. خو هغوی وویل ستاسو په پارلمان کې یو شمېر خپلو خلکو د دې پر ضد چغه پورته کړه. هغوی رییس صاحب ته وویل چې موږ ته ستاسو نظر مهم دی، ستاسو نظر څه دی؟ که ستاسو نظر همدا وي، نو باید قوي او ثابت وي، هغوی وویل، زموږ نظر هم همدا دی چې د اګست (۲۰)مه مناسب تاریخ دی. وروسته باید مخالفینو ته هم دا خبره ډاګیزه کړو چې که څوک د دې تاریخ پر وړاندې ودرېږي او یا که چا جنجال کاوه، مخه یې باید ونیسو. مانا دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چې د جوزا له (۱) نېټې څخه د اسد تر (۲۹) مې نېټې پورې باید ټاکنې تر سره شي.**

**دا چې امریکا پر خپلې پالیسۍ بیا له سره کتنه وکړه، دا بیا کتنه د افغانستان د جمهور رییس د پرله پسې بیانونو له امله رازېږېدلې ده. د (شینوارو) پېښه رامنځته شوه هلته په لسګونو افغانان شهیدان شول، هلته یو سپین ږیري رییس صاحب ته وویل، تر څو به امریکایان موږ وژني او ته به زموږ د غم پر ټغر کېنې، تر هغه وروسته بیا د (شینډنډ) موضوع پېښه شوه. تر دې پېښو وروسته د جمهور رییس موقف نور هم مخامخ او څرګند شو، د (بوش) پر وخت د هغوی د ستراتیژۍ پر تغیر بیا فکر وشو، خو د هغه حکومت وویل چې څو میاشتې وروسته باید دا عملي او نهایي شي. د امریکا نوې ادارې بیا وویل، پیل یې ښه دی، خو موږ یو څه نور بدلون هم په کې راولو. بله مسله د پاکستان د حکومت ده چې اوس موږ سره ښه اړیکي لري. د دې موضوعاتو یوه برخه په پاکستان پورې اړه لري. وروسته به دا ټول مسایل په یوه درې اړخیزه تړون کې راشي چې د هر چا دمسولیتونو حدود به وټاکي. موږ باید دا کارونه د خپل جمهور رییس د نوښت او بریاوو په توګه تمثیل کړو.**

**دې وخت کې ښاغلي (رسولي) له (داودزي صیب) څخه پوښتنه وکړه چې د ښاغلي (البروک) راتګ د جمهور رییس حامدکرزي د ملاتړ په مانا دی، ځکه چې (البروک) ویلي زموږ په خارجي پالیسۍ کې مهمه نقطه افغانستان دی؟**

**داودزي صیب وویل: په وضاحت خو یې نه شي ویلای، خو (البروک) د اوباما په تفاهم راغلی او اوباما ویلي زموږ اکثره بریاوې د جمهور رییس حامدکرزي مدیون دي. داودزي صیب زیاته کړه چې هغوی هېڅ بل بدیل نه لري.**

**داودزي صیب وویل: دولت پلوي علمي او مطبوعاتي اشخاص باید**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تشخیص شي، د دوی تر منځ همغږي رامنځته شي، له جوزا څخه تر میزانه پورې یوازې باید شیان ثابت شي، ټلیفوني اړیکي باید ټینګ شي. په واشنګټن کې د راتلونکي مارچ میاشت کې د کېدونکو مذاکراتو په باب پر بهرنیو رسنیو هم کار وشي. د امریکا، افغانستان او پاکستان د ژورنالیستانو تر منځ باید خصوصي غونډه جوړه شي. په رسنیزه برخه کې باید ګډه همغږي رامنځته شي. رسولي صیب وویل: د جوزا له لومړۍ څخه تر میزانه پورې وخت باندې باید د یوې حقوقي سرچینې له زاویې څخه وغږېږو. سیامک هروي صیب وویل: موږ باید د ولسمشر بریاوې او لاسته راوړنې برجسته کړو. د ساري په توګه د بهرنیانو له خوا د افغانانو د نیونې او زنداني کولو د مخنیوي لپاره د ولسمشر هلې ځلې او نورې، خو که موږ د معمول په شان ووایو زموږ په روابطو کې تغیر راغلی، دا فکر کوم زموږ په ګټه نه دي. داودزي صیب وویل، د خلکو او تنظیمونو نظرونه یو بل سره توپیر لري، تنظیمونو ته باید وویل شي چې موږ بریالي شوي یو او دوستي مو دوام لري، باید د اطلاعاتو او کلتور وزیر وکتل شي او ورته وویل شي چې د پاکستان او افغانستان د ژورنالیستانو غونډه جوړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د عمر داودزي اوسېلي

د عمر داودزي له نامه او شهرت سره ټول اشنا دي، خو کېدی شي ټول خلک یې له نږدې ونه پېژني، د داودزي صیب په اړه ما (د ولسمشر د دفتر کرکټرونه) کې لنډ بحث کړی، خو دلته غواړم د (۱۳۸۹ل) کال د قوس د (٦)مې نېټې پر ځانګړي ملاقات بحث وکړم.

سهار (۹) بجې د داودزي صیب دفتر ته پورته شوم، د معمول خلاف یې نن چورت ډېر خټه و، ما ورته وویل: ((څه مثبت خبر لرې؟)) ده وویل: ((نه متاسفانه خبرونه منفي دي)) ما وویل: ((د څو کلونو په ترڅ کې چې مې تاسو او جمهور رییس ته کومه لیکلې او شفاهي مشوره درکړې، که په هغو کې یوه هم د افغانستان د ګټو خلاف وي او یا غلطه ختلې وي، زه یې ذمه وار یم، خو تاسو زما یوې خبرې ته هم غوږ کېنښود او یوه مشوره مو هم عملي نه کړه، رښتیا هم د خوار ملا په اذان څوک روژه نه ماتوي...)) داودزي صیب راته وویل: ((وروره حالات خراب دي، یوه لویه توطیه روانه ده، په دې کې ایران او امریکایان دواړه لاس لري، غواړي افغانستان له سخت بحران سره مخامخ کړي، امریکا غواړي پښتانه نور هم وځپي، نور یې هم کمزوري کړي...)) ما وویل: ((د پښتنو په کمزورۍ کې د امریکا څه ګټه ده؟)) ده وویل: ((زه اوس دومره پوهېږم چې دوی غواړي پښتانه کمزوري شي دا چې په دې کې د دوی څه ګټه ده، په دې نه پوهېږم او یا لږ تر لږه اوس نه پوهېږم، نه یوازې زه، بلکې د دوی سفیر (ایکن بیري)، د پوځ مشر (پتروس) او نور هم نه پوهېږي.)) ما وویل: ((څنګه کېدی شي امریکا او ایران دې په ګډه د پښتنو د ځپنې لپاره د نظر توافق ولري؟)) داودزي صیب وویل: ((د ایران دریځ خو معلوم دی، چې دلته څه غواړي، دا چې امریکا ولې دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، همدا پوښتنه ده.

دا چې امریکا دلته د اوږدې مودې لپاره څه هدفونه لري، دا به وروسته معلومېږي، خو اوس دا دی در گرده پښتانه ځپي، زه فکر کوم چې امریکایان یو څه ساده گان دي، د تېرو (۸-۹) کلونو په ترڅ کې چې ایران په افغانستان کې د امریکایانو له وجود نه څومره گټه پورته کړې، خپله امریکایانو هم نه ده کړې، نو ځکه خو زه وایم چې دوی ساده گان دي.)) ما وویل: ((ښه نو اوس دا وواېه چې جمهور رییس به پارلماني ټاکنې رنگې کړي که نه؟)) ده وویل: ((فکر نه کوم، لویې څارنوالۍ یوه پنډه دوسیه برابره کړې، سترې محکمې ته به لاړه شي، خو د سترې محکمې رییس او شورا ته چې د امریکا له سفارت څخه، سفیر نه، بلکې یو عادي مامور زنگ ووهي، هغوی به همدا نتیجې تائیدوي، د سترې محکمې رییس او ډاکتر بها د کوم هېواد په اشاره چلېږي؟ د چا گرین کارتونه لري؟)) ما وویل: ((که دا پارلمان جوړ شي، د جمهور رییس د محاکمې، د حکومت د رنگونې او د قومي بحران وېره نه شته؟)) ده وویل: ((بلکل شته)) ما وویل: ((نو بیا څه په کار دي؟)) ده وویل: ((زه پوهېږم که دنیا له جمهور رییس سره ودرېږي، نو کېدی شي حل لاره راووځي، خو فکر نه کوم، نړیوال هم همدا ډول یو بحران غواړي.)) ما وویل: ((څنگه ده د فضل احمد معنوي ټاکنه او یا هم د احمدضیا رفعت ټاکنه، دوی دواړو خو تنظیمي او قومي تمایلات درلودل دا دومره غټه اشتباه څوک کوي، د یوه ناپېیلي او خپلواک کمیسیون لپاره ناپېیلي او خپلواک کسان په کار دي، په تنظیمي اشخاصو ناپېیلې ټاکنې ممکنې دي؟)) ده وویل: ((دا اشتباه وه خو خدای دې د دې ځینو مشرانو کور وران کړي (سیاف) ته یې اشاره وه، ما ته د معنوي تر ټاکنې دمخه جمهور رییس وویل چې پر مشرانو کار وکړه، ځکه موږ ته پته وه چې (مارشال) او نور (معنوي) راوړاندې کوي، خو دا خبره په خپله نه کوي د نورو په خوله یې کوي، نو ځکه خو یې په سیاف او حضرت صیب دا خبره وکړه.)) ما وویل: ((نو دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د سیاف او حضرت څه کار دی، د دې کمیسیون د مشر او غړو تقرر خو د جمهور رییس کار دی، دې کې خو غټه ګناه په خپله د جمهور رییس ده.)) ده وویل: ((تاته جمهور رییس معلوم نه دی چې د هغو پر وړاندې څه عکس العمل ښيي، خو هر څه چې وشول، اشتباه وه، اوس دوی ټول جمهور رییس ته سره یو دي)). (مقصد یې فهیم او خلیلي) و.

ما داودزي صیب ته وویل: ((که دا ټاکنې ملغی نه شي، نو د ولسي جرګې ریاست لپاره به څه وشي؟)) ده وویل: ((بې له شکه به محمد یونس قانوني ریاست وګټي. میرویس یاسیني ته ایران ډېلې پیسې ورکړې، یاسیني او قانوني سره جوړ دي، یاسیني ته یې ویلي چې ته ځان ریاست ته کاندید کړه، خو په پای کې به یاسیني په معاونیت راضي شي، ایران ورته ویلي چې قانوني به هسې په نوم سمبولیک رییس وي، نور به ټول کارونه تاته وسپاري، عملي رییس به ته یې، قانوني ته یې ویلي چې د پارلمان ریاست به ونیسې، نور دې زیات وخت او انرژي په پارلماني چارو مه مصرفوه، ځان د جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره تیار کړه)). ما وویل: ((حاجي ظاهر قدیر هم ځان ریاست ته کاندیدوي، هغه وایي چې ستاسو او د جمهور رییس ملاتړ ورسره دی، ایا تاسې د هغه ملاتړ کوئ؟)) ده وویل: ((حاجي ظاهر یې نه شي ګټلی او بل دا کار د سوټه ماری هم نه دی، ما هغه سره خبره کړې ده، خو وروستۍ خبره چې مې ورسره کړې ده، هغه یې تاته نه ده ویلې.)) داودزي صیب زیاته کړه: ((زما زړه دی چې خواصي مخې ته کړم. ما په حاجي ظاهر پانګه نه ده لګولې، ما په دې ډېر فکر کړی دی)) ما وویل: ((داودزی صیب خواصي صیب ښه سړی دی، خو ډېر نرم دی، فکر نه کوم که ټول پښتانه پر خواصي صیب راټول شي، د شمال ونډه هسې هم په حکومت کې زیاته ده، خواصي سره له دې چې په ختېځ پښتون دی، خو د جنوب، شرق او غرب پښتانه چې هسې هم په حکومت کې ځان محروم احساسوي، د خواصي ډېر ملاتړ به ونه کړي.)) ما او داودزي صیب د هېواد د اینده په باب ډېرې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړې، داودزی صیب نن ډېر مایوسه و، په پای کې یې وویل: ((دا پنځه یا اووه کاله کېږي چې زه دلته دنده اجراکوم، ډېرې خوږې ترخې شپې ورځې مې تېرې کړي، خو اوس په دې نظر یم چې په نظام کې نور بدلون راځي که نه؟ خو ښه به دا وي چې زه له دې ځایه لاړ شم.)) ما وویل: ((که جمهور رییس دا ټاکنې او د جمهوري ریاست ټاکنې لغوه اعلان کړي، یو موقت حکومت جوړ شي او تر هغه وروسته په ټول هېواد کې عادلانه او سم انتخابات وشي، دا نظر به څنګه وي؟)) داودزي صیب وویل: ((فکر کوم خارجیان همدا غواړي)) ما وویل: ((څوک به په راس کې راشي؟)) ده بې له ځنډه وویل: ((دا اشرف غني. د دې څو کلونو په ترڅ کې ما هېڅکله اشرف غني سره نه دي کتلي، خو هغه تېره ورځ هغه راغی ما سره یې وکتل، هغه ډېرې خبرې لري او امریکایان یې هم تر شا ولاړ دي، رښتیا هم موږ د دنګو دېوالونو په منځ کې حصار یو، بیرون نورې خبرې دي، اشرف غني سره ډېرې خبرې شته.)) له داودزي څخه ما د ((نورو)) خبرو په باب ونه پوښتل او نه هغه ډېر وضاحت وکړ.)) ما وویل: ((که دا ټاکنې لغوه شي او له سره ولایت په ولایت نوې ټاکنې وشي، څنګه به وي؟)) ده وویل: ((ښېخي سمه ده، خو خارجیان به یې درسره ونه مني، ځکه چې بیا لکه د اوس په شان نتیجه نه ورکوي، طبعاً دا نتایج بدلېږي او هغوی دا کار نه غواړي.)) د انتخاباتو او اینده په باب مو نورې خبرې هم وکړې، خو مهم ټکي همدا وو، زه هم خواشینی د خپل دفتر پر لوري لاړم او داودزی صیب هم د جمهور رییس دفتر ته پورته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قلم رنګ د امریکا په پیسو!

د (۱۳۸۹ل) کال د قوس پر (۱۳)مه نېټه سهار نهه بجې مې یو ځل بیا له داودزي صیب سره وکتل، ما ورته یو ځل بیا د جمهور رییس د ځینو ناسنجول شویو څرګندونو او همدارنګه د پارلماني ټاکنو د نتایجو د منفي تاثیراتو په باب خپله اندېښنه څرګنده کړه. ورته مې وویل چې حالات ورځ پر ورځ خرابېږي، هغه هم زما له خبرو سره همنظره و، ما وویل: ((پارلماني ټاکنې باید لغوه شي او که چېرې نه لغوه کېږي، نو لږ تر لږه دې په غزني، هرات، بغلان، بلخ، کندوز او ځینو نورو ولایتونو کې، چې په څرګند ډول په کې له قومي تعصب څخه کار اخیستل شوی، لغوه شي او له سره دې په کې ټاکنې وشي.)) داودزي صیب وویل: ((زه تاسره همنظره یم، دې سره توازن برابرېږي، حتی که یوازې هرات او غزني کې هم له سره ټاکنې وشي، مشکل حلېږي، خو فکر نه کوم که دا کار وشي، ځکه ستره محکمه د دې جرئت نه لري او نه ورته جمهور رییس په زغرده وایي، ځکه که امریکایان سترې محکمې ته څه وایي همغه به کوي، جمهور رییس هم سترې محکمې ته په زغرده نه وایي او تر هغه یې چې په زغرده ونه وایي ستره محکمه دا کار نه کوي او که په زغرده یې ورته وایي، ستره محکمه بیا سند غواړي او دا سند د امریکایانو په مخکې ږدي.)) ما ورته وویل: ((جمهور رییس ته څه اړتیا ده چې له ټولې دنیا سره یې ډزوي که همدا نن امریکا وغواړي، د ده په همدې خپلو مرستیالانو، وزیرانو، د کورنیو چارو په وزیر یې له لاس او پښو نه تړي او هر څه یې ختموي، عجیبه خبره ده همدا موږ او تاسې چې اوس ټول دلته ناست یو، ټول د امریکایانو معاشونه نه اخلو؟)) داودزي صیب وویل: ((طبعاً ټول یې اخلو.)) ما وویل: ((چې داسې ده نو بیا ولې مخالفت کوو؟))

(c) ketabton.com: The Digital Library



داودزي دا مهال په خپل قلم کې رنگ اچوه، راته یې وویل: ((دغه قلم گورې؟)) ما وویل: ((هو))! ویې ویل: ((د دغه قلم رنگ هم د امریکا په پیسو شوی دی، دا چې د هغوی پیسې نه وای، د دې قلم رنگ به هم وچ و او ما به دا امضا هم نه شوه کولای))، ما وویل: ((جمهور رییس ته په کار نه دي چې جبهه پراخه کړي، امریکا سره ډغره وهل موږ ته په گټه نه دي، دی باید هغه چا سره ډغره ووهي چې د ده داخلي مخالفان دي، دی خو د امریکا په زور دلته ناست دی، چې امریکا نه وای غوښتي، دی به د موقتې ادارې او بیا تر ننه پورې جمهور رییس پاتې شوی وای؟ عجیبه خبره ده، که هغوی وایي، عسکر زموږ وژل کېږي، پیسې زموږ مصرفېږي او خبرې د ده بیا دا ډول دي. دی له خپلو معاونانو، اسلامي جمعیت، نظار شورا او نورو سره مشکلات لري، عجیبه ده، دی یې په چپن کې له بهره راوړي او دواړه مرستیالان یې ترې لوټي، اصلي مقابله خو دلته په کار ده، په کوم قوت او طاقت ته دنیا سره ډغره وهې؟))

داودزي صیب وویل: ((دا خبره دې منم چې موږ باید په څو جبهو کې ونه جنگېږو، دا افغانستان ته په تاوان ده، ما ډېر کوښښ کړی چې امریکایانو سره مناسبات ښه کړم، خو دی (جمهور رییس) راباندې په قهرېږي او وایي چې ته امریکایي شوی یې، د امریکایانو گوډاگی یې، کله چې زه د امریکا سفیر او یا کوم بل چا سره دلته ملاقات وکړم، نو څه موده حالات ښه شي، خو چې دی خبر شي، بیا په قهر شي، وایي ولې دې دا خلک دلته راغوښتي دي، ولې دې وخت ضایع کړی دی، ولې دې ملاقات کړی دی، له خپل کاره مې پښېمانه پښېمانه کړي. دا چې (اوباما) بېگاه باگرام کې خبرې وکړې او دلته رانغی، همدا جنجالونه دي، هغوی خوشاله نه دي. ما ورته څو ځله دا خبره کړې خو نه یې مني، خو که ته یې ورته ووایې، خبرې ته دې غوږ ږدي، ته ورته لکه د مامور په شان نه ښکارې موږ خو یې مامورین یو.)) ما ورته وویل: ((ما خو اوله ورځ ورته وویل چې زه مامورگی نه یم، زه د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فکر په خاطر دلته راغلی یم، نه د معاش او څوکۍ په خاطر)). ده وویل: ((زه په دې پوهېږم، نو ځکه مې درته وویل چې ته یې ورتهووایه.)) ما ورته وویل: ((ما خو هغه تېره ورځ هم ورته وویل، مخکې مې هم څو څو ځله ورته ویلي، خو د ده یو مشکل دادی چې یوه خبره درسره ومني خو بیا یې عملي کوي نه، راته وایي منم یې خو بیا یې نه مني.)) داودزي صیب وویل: ((همدغه مشکل دی چې تا نه خفه کوي، خو بیا هغه خبره نه مني. دا یې لا څه کوې چې هغه ورځ یې راته وویل: لاړ شه له چین او روسیې سره تماس ونیسه، له هغوی څخه پیسې واخله او مرسته ترې راجلب کړه! ما ورته وویل، رییس صیب امریکا خو د ایران پیسې وزغملې، خو که د روسیې او یا چین له پیسو څخه خبر شي، نو په هغه ورځ به نه ته یې او نه به زه یم، ایران خو هغوی ته کوم لوی طاقت نه ښکاري اول وي که اخر وي غم یې خوري، له صحنې یې لرې کوي، لا خوشالېږي چې افغانستان کې یې یو څه پیسې مصرف شي، خو که د چین او روسیې په تېره بیا د چین چې د دوی اصلي رقیب دی، له مرستې خبر شي، نو دقیقه مو هم نه پرېږدي.)) ما ورته وویل: ((نو له امریکا سره د دښمنۍ وجه څه ده؟)) ده وویل: ((وایي چې زما ورونو پسې خبرې کوي...)) ما وویل: ((نو ده ته خپل ورونه مهم دي که افغانستان؟)) ده وویل: ((بس نو دغسې دی نو...)) داودزي صیب ته مې وویل: ((تاسې پرې له هرې ممکنې لارې فشار راوړئ چې له امریکا سره مناسبات ښه کړي او داخلي اصلاحاتو ته پام وکړي، که نه هغوی به د ده کورني مخالفان تقویه کړي)) ده وویل: ((ما ورته ویلي چې په ټولو خواوو کې مه جنګېږه؛ دومره وس نه لرو، امریکا سره به مناسبات ښه کړو، ان پاکستان کې هم درته پښتون جمهور رییس مقرروي، وګوره خبره ډېره نږدې شوې وه. ټاکل شوې وه (اسفندیار ولي خان) د پاکستان جمهور رییس شي، خو بیا خرابه شوه، که اسفندیار ولي خان هلته جمهور رییس وای او دی دلته، نو د افغانستان مشکل خو حلېده، دا چې دوی دا ځل هلته انتخابات**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وگټل، دا څه اسانه کار و، (څلور لکه ډالره) ما اسفند یار ولي خان ته ورکړل او دا هغه پیسې وې چې ایران څخه مو اخیستې وې، د ایران پیسې مې د خپلو هدفونو لپاره ولگولې.)) ما وویل: ((وگوره ایران څومره هوښیار دی، هم د حکومت په داخل کې خپل خلک لري، دوی ته پیسې ورکوي او هم طالبانو سره مرسته کوي او د امریکا په مقابل کې یې ودروي، طالبان ماهیتاً د ایران مخالف دي، خو دوی یو دښمن د بل په مقابل کې استعمالوي، که طالبان ووژل شي هم د ایران په گټه دي، که امریکایان ووژل شي هم د ایران په گټه او که سیمه خرابه شي هم د پښتنو سیمه ده، د سیمې خرابي هم د ایران په گټه ده، نو ولې جمهور رییس د امریکا له قوت څخه د خپلو مخالفانو او ایران په مقابل کې له دې میتود څخه کار نه اخلي؟)) داودزي صیب وویل: ((همدغه خبره کوم چې جمهور رییس باید دا کارونه وکړي، خو نه یې کوي، دی داسې چا سره مشوره کوي چې سر یې په مشوره نه ارزي، رحیمي سره (د جمهور رییس سکرتر)، اخري مشوره کوي هغه ته وایي چې څنگه وکړو؟ قاسم خان سره مشوره کوي (د جمهور رییس په کور کې یو خدمتگار دی) نو له دې مشورې به څه راولاړ شي.)) ما له داودزي صیب سره ډېرې نورې خبرې هم وکړې، خو لنډیز یې دا و، داودزي صیب د بحث په پای کې وویل: ((زه به تاسو ته د ملاقات غم وخورم یو ځل بیا ورسره وگوره)). تر همدې خبرو وروسته په مایوسانه ډول د خپل دفتر پر لوري وخوځېدم او دغه یادښت مې پر همغه ورځ ولیکه.

۴- کریم خرم: تر عمر داودزي وروسته کریم خرم د ولسمشر د دفتر د رییس په توگه وټاکل شو. ویل کېږي چې کریم خرم مخکې د حکمتیار له (اسلامي حزب) او د پیر سیداحمد گیلاني (ملي محاذ) تنظیم سره اړیکي درلودل. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یې په پېښور کې څه ناڅه رسنیز او فرهنگي فعالیتونه درلودل چې اکثرو یې اخواني رنگ درلود. د طالبانو تر سقوط وروسته کابل ته راغی او بیا د ولسمشر کرزي د واکمنۍ په لومړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوره کې څه موده د ولسمشر د مطبوعاتي مشاور په توګه مقرر شو، تر هغه وروسته بیا د اطلاعاتو او کلتور وزیر شو، تر یاد وزارت وروسته بیا د ولسمشر د دفتر رییس په توګه وګومارل شو. کریم خرم د ارامو او سړو اعصابو څښتن**



**(کریم خرم)**

**دی. خبرې کمې کوي، خو دریځ او عمل یې نسبتاً ثابت دی. د ملي افکارو په انډول یې اسلامي او اخواني افکار قوي بریښي، تنظیمي خصوصیات یې لا هم د کرکتر یوه برخه ده. ډېر کوښښ کوي چې ځان د ولسمشر د نظریاتو پلوی او لېوال وښیي، له بهرنیانو، په تېره بیا له امریکایانو څخه یې ظاهراً ښه نه راځي، یانې نه یې خوښېږي. په دې برخه کې چې ولسمشر هره خبره کوي، نو دی ورسره د تائید سر خوځوي. د ده په راتګ سره د ولسمشرۍ له دفتر سره د بهرنیانو هغه خواږه روابط کم شول چې تر ده پخوا موجود وو او په ځینو برخو کې ان پر تربګنۍ بدل شول. مالي مرستې هم ډېرې راکمې شوې او له بهرنیو سفیرانو سره ملاقاتونه هم ډېرې ټیټې کچې ته ورسېدل. کریم خرم چې هر چېرته مقرر شوی، کوښښ یې کړی چې د خپلې طبعې او خپل فکري خط اعتباري کسان مقرر کړي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت پر مهال او دلته د ولسمشر په دفتر، دواړو ځایونو کې ده دا کار کړی دی. دې کار په هر ځای کې د ده پر وړاندې مخالفتونه هم راپیدا کړي، خو دی مجبور و چې د خپلې اجنډا د سرته رسولو لپاره دا کارونه تر سره کړي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت د کار په جریان کې یو شمېر ستمیان، جمعیتیان، پرچمیان او نور د ده سخت مخالف شول. کله چې دی وزیر شو، نو زه یې لیدلو ته ورغلم، پر همغه لومړۍ ورځ مې خپل نظر ورته څرګند کړ، ما ورته وویل: ((زموږ یو شمېر جهادي ورونه، چې پېښور کې یې وخت تېر کړی،**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره شیان، د جهادي، اسلامي او اخواني افکارو له لیدلوري څېړي او ځینو جمعیتیانو ته هم په همغه نظر ګوري، لکه د جهاد پر مهال چې په پېښور کې وو، خو جمعیتیان اوس همغه جهادي او اخواني روحیه نه لري، دوی تر ډېرو کلن جنجالي او نیمګړي حکومت وروسته اکثره پر (ستمیانو) بدل شوي او ملي ضد روحیه لري. دوی اکثرو پښتنو ته که هغه پخوا په هر تنظیم او حزب کې وو، اوس له قومي لیدلوري ګوري، نو تاسو سره به هم ډېر ژر حساسیت وښيي، د دې حساسیت انګېزه به قومي وي، نه تنظیمي. خو ظاهراً به تنظیمي بڼه هم ورکوي.)) کریم خرم ته زما خبرې پر لومړي وخت بابیزه ښکارېدې، خو وروسته وروسته یې چې د مقابل لوري حساسیت ولید، څه ناڅه باور یې راغی؛ نه لکه چې دلته نور مسایل هم شته. کریم خرم چې کله ارګ ته راغی، نو هڅه یې کوله چې خپل ایډیالوژیک خط و سیر تعقیب کړي، خو دلته دی د ځینو کسانو له خوا، چې د ده مخالف نظریات یې درلودل، له سخت مقاومت سره مخامخ شو. (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا) د ملي امنیت شورا سلاکار لومړی شخص و چې د خرم پر وړاندې یې پټه او ښکاره مبارزه پیل کړه. له شفاهي تبلیغه نیولې، بیا ولسمشر ته د خبرو تر رسولو او د هغه د نظریاتو تر ردولو پورې ټولې هڅې په کې شاملې وې. بالمقابل کریم خرم هم د ډاکتر سپنتا د نظریاتو او فعالیتونو مخه نیوله. یو وخت کریم خرم او د ولسمشر د ویاند چې په ورته وخت کې د کریم خرم د دفتر مامور هم ګڼل کېده (وحید عمر) تر منځ اختلافات رامنځته شول. ډاکتر سپنتا د دې اختلافاتو ژورتیا ته هوا ورکوله او د وحید عمر ملاتړ یې کاوه. اختلافات دومره زیات شول چې وحید عمر یې دندې پرېښودو ته اړ کړ. له بلې خوا د کریم خرم ټولنیز روابط هم دومره پراخ نه وو او نه هم دی په دې روابطو کې دومره تکړه او بریالی و چې ډېر خلک وپالي او د ارګ په داخل کې خپل ملاتړي زیات کړي، اقتصادي امکانات یې هم هغومره نه وو چې د داودزي صیب په لاس کې وو. یوازې د حکومت د رسنیو مرکز د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په واک کې و چې دا مهال یې څه ناڅه لوړ معاش درلود او د بهرنیانو له خوا ورکول کېده، یو څه کسان یې هلته او یو څه کسان یې د ارګ په داخل کې په بېلابېلو ادارو کې ځای پرځای کړل. له همدې دولتي موقف او نفوذ څخه یې کار واخیست، (کابل نیوز ټلوېزیون) او د (ستراتیژیکو څېړنو) یو مرکز یې جوړ کړل. البته ویل کېږي چې د (وېسا) ورځپاڼه هم د ده په سیاسي او مالي ملاتړ پیل شوې او تر دې دمه لا روانه ده. ځینې نور فرهنګي کارونه یې هم تر سره کړي، خو اکثره کارونه یې د خپلې فکري دایرې په محدوده کې تر سره کړي دي. د کریم خرم د ماموریت په بهیر کې د ارګ او ملي شورا په تېره بیا له ولسي جرګې سره اړیکي چندان ښه نه وو، دا مهال ولسي جرګه د ارګ له مهاره ووته، ان تر دې پورې چې ولسمشر ته یې هم یو لړ خنډونه را وپنځول.

تر کریم خرم دمخه داودزي له وکیلانو سره ډېر ښه روابط درلودل، هغوی ته یې ډول ډول مالي امکانات برابرول او دولتي امتیازات یې ورکول، د داودزي ټولنیز روابط خورا زیات وو، مالي امکانات هم ورسره زیات وو، نو ځکه خو د کریم خرم په انډول په قوي موقف کې و، خو د خرم مالي امکانات هغسې نه وو، بله خبره دا هم ده چې کریم خرم له نفساني پلوه ډېر پاک سړی ګڼل کېږي، هم پر خپل نفس واکمن دی او هم په مالي فساد کې لاس نه لري، دا کار د دې سبب شوی چې ډېری وکیلان ورته مراجعه ونه کړي. په هر حال کریم خرم جمهور رییس ته ځکه ډېر نږدې دی چې د امریکایانو پر ضد ورسره په کمپاین کې ګډ دریځ لري، په همدې خاطر ولسمشر کریم خرم له ډېرو رقیبانو وژغوره، یوه ورځ ولسمشر ماته وویل: ((څنګه دی کریم خرم؟)) ما ویل ښه دی. ده وویل: ((ټینګ راسره ولاړ دی. لکه زرهدار ټانک، له ځایه نه خوځېږي.)) کریم خرم د ماموریت او فرمان ورلو پر کلتور پوهېږي، نو ځکه خو لوړ مشر (کرزی صیب) چې څه وایي، دی یې تائیدوي او د ردولو غږ نه پورته کوي. همدا کار د دې سبب شو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی ډېره موده پر خپل دې پوسټ پاتې شي.

## ویندویان:

د جمهوري ریاست د عالي مقام د دفتر د رییسانو تر معرفۍ وروسته غواړم، د ولسمشر ویاندویان هم په لنډیز سره معرفي کړم، ښاغلي جاوېد لودین هم د ویاند په توگه دنده سر ته رسولې، خو ځرنگه چې هغه مو دمخه د جمهور رییس د ویاند او د دفتر د رییس په توگه معرفي کړ، نو له بیا تکرار څخه یې تېرېږم.

۱- **یوسف نورستانی:** لومړی شخص چې د ولسمشر د ویاند په توگه یې دنده سرته رسوله، یوسف نورستانی و.

یوسف نورستانی د نورستان ولایت اوسېدونکی دی، د هېواد په داخل کې او هم له هېواد څخه بهر یې لوړې زده کړې تر سره کړې دي. په بهرنیو موسسو کې یې هم ډېر وخت کار کړی او همدارنگه د حکومت په نورو لوړو پوستونو کې. د طالبانو نظام تر ړنگېدو وروسته د موقتې ادارې د مشر د ویاند په توگه پاتې شو. په نورستاني، پښتو، دري او انگلیسي ژبو پوهېږي، خو د ویندویۍ په چارو کې یې زیات مهارت نه درلود، نو ځکه خو تر لنډې مودې وروسته له دې دندې څخه نورو دندو ته لاړ.



(یوسف نورستانی)

۲- **سید فضل اکبر پاچا:** سید فضل اکبر پاچا د کونړ د مخورو شخصیتونو له جملې څخه دی، تر شلو کلونو زیاته موده کېږي چې په امریکا کې ژوند کوي. په امریکا غږ راډیو کې یې ډېر کلونه د خبریال په توگه دنده اجرا کړې ده. سیدفضل‌اکبر پاچا که څه هم د ارگ په مطرح شخصیتونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه حسابېږي، خو د موقتې ادارې په بهیر کې یې لنډه موده د یادې ادارې د مشر دویاند په توګه دنده اجرا کړه. دا داسې مهال و چې حکومت په ډېرو لومړنیو پړاوونو کې وو او فکري خط، ستراتیژي او پلان یې معلوم نه وو. پاچا


(سید فضل اکبر پاچا)

صیب یوازې په محدودو خبري کنفرانسونو کې څرګندېده، دا مهال لا د اپوزېشن په استازۍ څوک مقابلې ته نه و راپاڅېدلي او نه هم په رسنیو کې دوه اړخه سره مخامخ شوي وو. سیدفضل اکبر پاچا تر لنډې مودې ویاندۍ وروسته د کونړ د والي په توګه مقرر شو. دا داسې مهال و چې په کونړ کې د چارتراشو قانوني او ناقانونه تجارت په ښه درز کې روان و. د یوه کونړي او سیدې کورنۍ د یوه غړي او مخور په توګه چې له پاچا صیب څخه د خلکو کومه هیله وه، پاچا صیب پر دې بریالی نه شو چې د خلکو غوښتنې عملي کړي، یا د لرګیو د قاچاق مخه ونیسي او یا هم د چارتراشو له مافیا سره مقابله وکړي، په پای کې یو زیات شمېر کونړیان هم ورڅخه خوابدي شول او د یو شمېر لیکوالو تر سختو نیوکو لاندې راغی، د ولایت له مقام څخه تر لرې کېدو وروسته بېرته امریکا ته لاړ او بېرته یې د خپل ژوند جریان له سره پیل کړ.

۳- کریم رحیمي: تر جاوید لودین وروسته کریم رحیمي د جمهور رییس د ویاند په توګه مقرر شو، لکه چې مې دمخه یادونه وکړه، جاوید لودین مو مخکې د ویاند او د دفتر د رییس په توګه معرفي کړ، نو له بیا تکرار څخه یې تېرېږو او دلته د ښاغلي کریم رحیمي په باب څو خبرو ته تمېږو. د ولسمشر کرزي په پاچاهۍ کې هم رنګارنګ کسان مقرر او تېروبېر شول، د دې عجایبو او غرایبو له جملې څخه یو هم د ولسمشر یو ویاند ښاغلی (کریم رحیمي) و. رحیمي که څه هم ډېر ښه او بې تعصبه شخص و، خو رسنیزه تجربه یې نه لرله او نه د خبرو سړی و. پخوا یې د ملګرو ملتونو د خوراکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مواادو په کومه اداره کې کار کاوه. له هغې ورځې چې دی د ولسمشر د ویاند په توګه مقرر شوی، نو د ګوتو په شمار خبري کنفرانسونو کې یې هم برخه نه ده اخیستې، سیاسي بحثونو، ګردیو مېزونو او هغه هم په هغو بحثونو کې چې د نظام مخالف منتقدین ناست وو، هلته نو د ده تګ د سوتې په زور هم ممکن نه و. د ولسمشر یو عادت دی چې ضعیفه سړی یې ډېر خوښېږي، ښه سړی او ضعیفه سړی د ده لپاره د ګومارنې ښه معیار دی، دا مهمه نه ده چې دا سړی هلته کار کولای شي او که نه، خو مهمه خبره دا ده چې



(کريم رحيمي)

دا سړی باید دومره بې خولې، بې ژبې او بې لاسه وي چې څوک یې له خولې او لاسه ازار نه شي او بېرته لرې کول یې هم ډېر اسانه وي. کېدی شي ښاغلی (کریم رحیمي) هم د همدې ډلې اشخاصو له جملې څخه وي. دې ښاغلي هم تر پایه د یوه ویاند دنده تر سره نه کړای شوه او نه یې څوک په خبرو ماړه شول. رسنیو به همېش شکایت کاوه چې ویاند صیب موږ سره همکاري نه کوي، خو څوک و چې ویاند صیب خپل مسولیت ته متوجه کړي. په همدې خاطر د ولسي جرګې یو وکیل ښاغلي (رمضان بشردوست) هغه ته د (سخنګوی بی سخن) لقب ورکړ. د ښاغلي ویاند له جالبو خاطرو څخه یوه په زړه پورې خاطره دا وه، چې یوه ورځ یې ژورنالیسان خبري کنفرانس ته رابللي وو، د کنفرانس په بهیر کې یوه ژورنالیست د یوې حساسې موضوع په باب پوښتنه وکړه، ښاغلي ویاند ځواب نه درلود، پر موضوع واقف نه و، نو ژورنالیست ته یې په ځواب کې وویل: ((چه میکنی برادر پشتش میګردی تیر خود را بیار.)) دې سره ټولو خبریالانو وخندل، دا خبره بیا د ژورنالیستانو تر منځ عامه شوه. کله چې به کومه پوښتنه وه، نو یو بل ته به یې ویل (تیر خود را بیار). دا خبره ان ولسمشر ته هم ورسېده، هغه هم سخت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خندا شو. بیا به چې کومه خبره وه او یا به یې خپل ویاند ښاغلی (کریم رحیمي) ولید، نو په ټوکو ټوکو کې به یې ورته وویل: ((تیر خودرا بیار)) د وخت په تېرېدو سره ((تیر خود را بیار)) د یوه متل او اصطلاح حیثیت خپل کړ، خو ویاند صیب لا هم خپلې دندې ته دوام ورکاوه او بیا داسې وخت راغی چې د خپلو دغو (غوره خدمتونو)(!) له امله په یوه معتبره هېواد کې د افغانستان سیاسي استازی شو، دا مهال نو بیا موږ ته پته ونه لګېده چې هلته به یې هم خلکو ته ویلي وي که نه چې: ((تیر خودرا بیار!)).

۴- همایون حمید زاده: ولسمشر تر دې دمه څو ویندویان زاړه کړي دي، اوسمهال چې زه دا یادښت لیکم، ښاغلی (همایون حمید زاده) یې ویاند دی. ویل کېږي چې دی اصلاً د لغمان ولایت دی، خو داسې نه ښکاري چې دی دې لغماني وي، دی هم ځان لغماني نه معرفي کوي، فکر کېږي چې د کابل به وي، خو ظاهراً ډېر ارام او سیال سړی ښکاري، ویندویي یې مسلک نه دی، خو لکه په زوره چې پرې تحمیل شوې وي. له هغې ورځې چې دی مقرر شوی، د ولسمشر په هره غونډه کې یې ګډون کړی، خو ویندویي بیا تر ده څخه خپله ولسمشر زیاته کړې ده.



(همایون حمیدزاده)

زما ورسره ښه روابط دي. کله چې به خپل دفتر کې اوزګار وم او دی به هم مصروف نه و، نو د ده دفتر ته به ورپورته کېدم. یوه ورځ مې ورڅخه پوښتنه وکړه چې رسنیو ته ډېر نه حاضرېږې؟ خلک نیوکه کوي چې د حکومت په استازۍ هېڅوک نه وي او له مخالفینو څخه درجن درجن خلک ناست وي، کله کله بیا رسنۍ د دولت د استازي څوکۍ همداسې سپینه پرېږدي، علت څه دی؟ ولې نه حاضرېږې؟ همایون حمید زاده صیب وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((والله بیادر اگر راست بگویم اول خو در نظام اینقدر معایب است که چشم پوشی از ان اسان نیست، دوم این نظام به این نمی ارزه، که ادم دشمنی شان به دوش بگیرد، هر قدر که ادم خاموش باشد، وزن ان زیاتر میشود و حیثیت ادم محفوظ می ماند، بان هر چه که میشه، شود...))

همایون حمید زاده همداسې یو ارام شخص و چې تر اخره پورې ډېر کم په رسنیو کې حاضر شو، خو نور ډېر دروند او ارام سړی و، سیال او خانداني سړی معلومېده.

یوه ورځ یې بیا دفتر ته پورته شوم، دروازه مې ورټک ټک کړه، ما ویل وخت لرې؟ هغه ډېر خوشاله شو، ماته یې وویل: ((ما خودم برایت زنگ میزدم خوب شد که خودت امدی...)) تر روغبړ وروسته یې چای راوغوښت، ماته یې وویل: ((چای ته بخو، باز یک گپ است)) ما وویل مهرباني وکړه خبره راته وکړه! ده وویل: ((بیادر زیاد وقت میشه که یک گپ در دلم میگرده، ما گفتم که در یک وقت فرصت باشد، برایت بگویم، بیادر همین نظام ما وشما را خو هر دو ما میشناسیم، که در حقیقت هیچ چیز نیست ناحق وقت مردم ضایع میشه، داخل میبینی که هیچ چیز نیست خارج اشه هم همین قسم. زیاد وقت میشه که در دلم میگرده که برایت بگویم، که این همه چیز را یاداشت کو و خوب یک اثر کنده نوشته کو که در آینده به تاریخ بماند...))

ما چې لا تر دې دمه یو څه یادښتونه اخیستي وو او لا له پخوا څخه مې نیت و، د حمید زاده خبره راباندې ښه ولګېده، خو بیا مې ورته وویل: ښه نظر دی، زه به خپل کوښښ وکړم. هغه په ټوکو کې وویل: ((بیادر کوشش موشش ضررو نیست، ما می فهمم که تو این کار را انجام دا ده میتوانی و از عهده اش بر امده میتوانی، همین کارت است.)) ما وویل: ته یې ولې نه لیکې: هغه راته وویل: ((ما خو نویسنده نیستم، ما اثار ترا خواندم ما می فهمم که تو این کار را انجام دا ده میتوانی. اگر این کار تکمیل کنی همین

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت هم بس ات است.)) ما دا خبره هم ورزياته کړه، زه خو اول لاس منابعو ته اړتيا لرم او ستا په شان وخت پر وخت رييس صاحب سره نه شم کتلای، زه په حاشيه کې يم، داسې مسايلو ته اول لاس منابع ضرور دي، ده وويل: ((بيادر خودت در دفتر شورای امنيت هستی. منابع دست اول در دست خود شما است و ديگر کدام چيز است که در ارگ پنهان بماند، کلی چيز افشا ميشه، مرد کسی است که نوشته کند...)) له همايون حميد زاده سره څو شپې نور هم ناست وم او بيا د خپل دفتر پر لوري لاړم. د حميد زاده خبرو زما اراده نوره هم پياوړې کړه، نو اوس چې تاسو په دې اثر کې څه لولئ، د ياد شخص د توصيې تاثيراتو هم په کې خپل رول لوبولای دی.

۵- وحيد عمر: وحيد عمر په انگلستان کې تر لوړو زده کړو وروسته، کابل ته راغی، دلته د (۱۳۸۲ل) کال په بهير کې د اساسي قانون د دارالانشاء په دفتر کې، چې ډاکتر فاروق وردگ يې مشر و، د عامه پوهاوي د برخې مسول شو. د اساسي قانون تر جرگې او بيا د ولسمشرۍ تر ټاکنو وروسته، کله



(وحيد عمر)

چې فاروق وردگ د جمهوري رياست د چارو د ادارې لوی رييس شو، نو هم يې د اساسي قانون او هم يې د انتخاباتو د کمېسيون له دارالانشاء څخه يو شمېر ځوانان ځان سره راوړل. وحيد عمر هم په همدې ډله کې و، تر دې دمخه يې د لويې جرگې په بهير کې د همدې عامه پوهاوي د برخو چارې پرمخ وړلې. د چارو په اداره کې هم د همدې فرهنگي چارو مسول و. څه موده وروسته بيا د حکومت د رسنيو مسول شو او کله چې د ولسمشرۍ د دويمې دورې ټاکنې پيل شوې، نو وحيد عمر ظاهراً له دې دفتره استعفی ورکړه او د حامدکرزي د ټاکنيزو چارو وياند شو. تر ټاکنو وروسته وحيد عمر د ولسمشر د وياند په توگه مقرر شو، کله چې کريم خرم د ولسمشر د دفتر مسول شو نو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحید عمر د کار ساحه تنګه شوه. وحید عمر که څه هم بااستعداده ځوان دی، خو بازاري اخلاق او د هلکتوب خصوصیات یې اوس هم د شخصیت یوه برخه ده. د کب او صابون په شان ښوییی هم دی. وحید عمر له رسنیو سره ښه اړیکي درلودل او د خپل عمر په انډول یې وده او استعداد زیات دي. دفتري ګوزاره یې ښه نه ده، تر دې وړاندې یې په نورو دفترونو کې هم ورځې په اخ و ډب تېرې کړې دي. د ولسمشر د ویاند په توګه یې فکر کاوه چې هم یې د ولسمشر کرزي په کمپاین کې فعاله ونډه اخیستې او هم یې په ارګ کې یو شمېر ځواکمن خلک لکه ډاکتر سپنتا او نور ملاتړ کوي، نو له کریم خرم سره د صلاحیتونو پر سر جنجال کې به دی برلاسی شي، ولسمشر کرزي د کریم خرم ملاتړ وکړ او د هغه په غوښتنه یې دی له دندې لرې کړ. خو ظاهراً داسې ښکاره شوه چې ده خپله دنده پرېښوده. تر هغه وروسته یې پر یونیم سیاسي فعالیت لاس پورې کړ چې اکثرو یې انجویي ښه درلوده او پر بهرني ډونر متکي وو، نو ځکه یې له خپلو نورو ملګرو سره د پاموړ وده ونه کړه. د ویاندۍ پر مهال یې له ولسمشر سره په ګڼو سفرونو کې، له هغه سره ملګرتیا کړې، په ګڼو رسنیو کې یې د ولسمشر د نظریاتو تائید کړی او د هغه ځینو خبرو ته یې تعمیري رنګ ورکړی دی. د ویندویۍ په چارو کې بریالی و، په پښتو، دري او انګلیسي ژبو ډېر ښه پوهېږي. تر دې دمه چې د ولسمشر کوم ویندویان تېر شوي، له جاوید لودین پرته په نورو ټولو کې وحید عمر د ژبې، فصاحت، بلاغت او جرئت خاوند و او دا دنده یې په ښه ډول تر سره کړه. هغه تر پایه د یوه رسنیز شخصیت په توګه پاتې شو او ډېر سیاسي، یا ټولنیز ښېز یې ترلاسه نه کړ. تر ګوښه کېدو وروسته یې په ولسمشر پسې هېڅکله داسې خبره ونه کړه چې د ولسمشر شخصیت ته ترې زیان رسېده او د ځینو په شان یې د عوامو په اصطلاح نمک حرامي ونه کړه. دا یې تر ټولو ښه ځانګړنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦- ایمل فیضي:** ایمل فیضي د ولسمشر کرزي شپږم یا وروستی ویاند دی، چې دا دی د ولسمشر کرزي د واکمنۍ تر دې دمه ورسره یوځای دی، ایمل فیضي په جرمني کې لوړې زده کړې کړې دي، په انگلیسي، جرمني، پښتو او دري ژبو ښه پوهېږي. د ارامو اعصابو، زیاتې اوسپلې او د ښې پوهې خاوند دی. مخکې تر دې چې د ولسمشر کرزي ویاند شي، په یو لړ بهرنیو موسساتو کې یې کار کاوه. د دولتي دندې په توگه یې ویاندي لومړۍ لوړه دولتي دنده گڼل کېږي. کله چې (وحید عمر) د ولسمشرۍ له ویاندۍ څخه لاس په سر کړای شو، نو ایمل فیضي د هغه ځایناستی شو او ورسره یوه ښځینه (عادله راز) هم د لومړي ځل لپاره د ولسمشر د ویاند د مرستیالې په توگه وگومارل شوه. ایمل فیضي د سړې اوسپلې خاوند دی، دفتري کارونو کې د گوزارې له چلند څخه کار اخلي او د آمر او ټیټ مامور تر منځ د اړیکو انډول په ښه ډول ساتلای شي. د ده د دندې پر مهال که څه هم په مطبوعاتي دفتر کې څه خاص نوښت رانغی، خو داسې هم نه و چې رسنۍ دې ترې ډېرې ناراضه وي. له ازادو رسنیو سره یې هم د امکان تر حده اړیکي ټینگول. خپله که څه هم رسنیو ته ډېر نه حاضرېده، خو روابط یې ورسره پالل. ده په هغو سیاسي بحثونو کې هم ډېر گډون نه کاوه چې د حکومت سالم او نا سالم منتقدین به په کې حاضر وو. ده خپلې ورځینۍ چارې په نورمال ډول پرمخ وړلې او د خپلې دندې تر وروستیو وختونو پورې یې دې حالت ته دوام ورکړ، ولسمشر به په هر رسمي سفر کې ځان سره ملگری کاوه او د دندې تر


(ایمل فیضي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایه یې له خولې څخه داسې تروه، ترخه یا هم د ولسمشر د نظریاتو خلاف خبره را ونه وتله چې رسنیو ته ګرمه موضوع شي، یا ده ته ستونزه جوړه کړي او یا هم حکومت ته. په حقیقت کې ولسمشر کرزي ته همداسې یو شخص په کار و چې ده ته هېڅ ډول جنجال راپیدا نه کړي. ایمل فیضي د پوره سواد خاوند و او اداري ګوزاره یې هم ډېره نورماله وه. د جمهوري ریاست د ویندوی ځانګه هم د جمهور رییس د دفتر اړونده ځانګه ګڼل ګېدله. د ولسمشرۍ دفتر نورې ځانګې هم لرلې، چې دلته یې په ډېر لنډېز سره یادونه کوو:

ښاغلی صبغت الله سنجر چې د (جمهوریت غوښتونکو ګوند) مشر و، د ولسمشر د دفتر د پالیسۍ ریاست مشر و. سنجر یو وخت د بېړنۍ لویې جرګې د جوړولو د کمېسیون غړی هم و. د جمهوري ریاست په لومړیو ټاکنو کې یې د ښاغلي حامدکرزي ملاتړ وکړ او د هغه تر بریا وروسته په یاد ریاست کې د رییس په توګه مقرر شو. د ولسمشر کرزي په ملاتړ یې په ډېرو سیاسي او ټلوېزیوني بحثونو کې ګډون وکړ، په دې بحثونو کې یې هم د ولسمشر کرزي ملاتړ کاوه او هم یې له دې لارې د خپل ګوند دریځ پیاوړی کاوه. د ښاغلي سنجر ملاتړ او سیاسي بحثونه دومره زیات شول چې یو وخت ځینو جهادي او ناجهادي مشرانو ولسمشر ته له هغه څخه شکایت وکړ او ولسمشر، سنجر له مرکو او بحثونو څخه منع کړ. سنجر دې کار خواشینی کړ، څو ځله یې ما سره په دې اړه خپله اندېښنه شریکه کړه. سنجر د خپل ریاست پر مهال په کابل کې د یوې ترافیکي پېښې له امله له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

ښاغلی هدایت الله زاهد د جمهوري ریاست د دفتر د پروګرامونو رییس دی، دی هم د ښو اخلاقو او لوړو زده‌کړو خاوند دی. په پښتو، دري، عربي او انګلیسي ژبو ښه پوهېږي، د جمهور رییس ورځیني، اوونیز او ځینې نور پروګرامونه تنظیموي، کله کله ولسمشر سره د کتنې امکانات هم لري، کوم سیاسي ګوند او ډلې ټپلې پورې تړلی نه دی. ملي او اسلامي افکار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عیسی خان اندړ د ولسمشر د دفتر د خدماتو رییس دی. ولسمشر او مېلمنو ته چې یې هرڅه تیارېږي، په حقیقت کې د عیسی خان اندړ له لاسه تېرېږي. د لویو غونډو او مېلمستیاوو ترتیبات هم دی نیسي، د عوامو په اصطلاح د پاچا ډوډۍ د ده له قلمه تېرېدله، د لوړو زده کړو خاوند او د ملي دریځ څښتن دی، په پښتو، دري او انګلیسي ژبو ښې خبرې کولای شي، مخکې تر دې چې دلته راشي، نو په یو شمېر بهرنیو موسسو کې یې کار کاوه او ښه کاري تجربه لري. زه چې به سهار لاړم نو کله به مې سهار چای له ده سره څښه او د عوامو په اصطلاح به مې ورته وویل چې پاچاهي چای راوړه.

ښاغلی حیدري د اداري چارو رییس، په خپل کار کې خورا تکړه او د ارګ پر ټولو اړوندو چارو واکمن و. دفتري کارونه یې خورا ښه منظم وو، خبرې یې کمې او کار یې زیات کاوه، د کارونو ترڅنګ د ټولنیزو اخلاقو څښتن و. په کارونو کې یې تر ډېره حده رڼاوی او سپیناوی رامنځته کړی و.

حمیرا اعتمادي، د عمر داودزي صیب له وخته د ولسمشر د دفتر مرستیاله وه، تر ډېره وخته پر دې دندې پاتې شوه، ولسمشر سره یې وخت پر وخت کتلای شول او په بهرنیو سفرونو کې به یې هم وخت پر وخت ورسره ملتیا کوله.

ښاغلی حامد اکرم بیا د تشریفاتو رییس و چې هغه بیا پرخپل وار خپل شان او شوکت درلود او د دربار پر رازونو او رمزونو پوره پوه و.

ښاغلی دانش بختیاری د یوې بلې برخې رییس و چې په ارګ کې اکثره پر تاریخ لیکنه او نورو مسایلو مصروف و، د ښه قلم څښتن و.

ښاغلی شجاعي، ښاغلی انورخان، او نور هغه کسان وو چې د ارګ په بېلابېلو دفترونو کې یې کار کاوه او هلته یې له ولسمشره نیولې د ارګ تر نورو ټولو چارواکو پورې یې یو بل سره پېژندګلوي درلودله. فواد وزیري او جاوید فیضي چې د داودزي صیب سکرتران وو، په ارګ کې یې که موقف لوړ نه وو، خو صلاحیت یې درلود، د جمهور رییس شخصي ډاکټر، (ډاکټر عالم) او همداسې نور اشخاص درواخله چې د هر یوه ځانګړی بیان دلته ضرور او ممکن نه برېښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چارو د ادارې کرکټرونه

د جمهوري ریاست د چارو اداره یا لوی ریاست یوه داسې اداره ده چې پر جمهوري ریاست پورې ټول اړوند کارونه تنظیموي، ټول وزارتونه او خپلواکې ادارې د همدې لوی ریاست له لارې له ولسمشر سره اړیکې ټینګوي او ولسمشر هم د همدې ادارې له لارې ټولو ارګانونو ته خپل فرمانونه او حکمونه صادروي. دا اداره د وزیرانو شورا د دارالانشاء چارې هم پرمخ وړي، د چارو لوی ریاست په واقعیت کې له قانوني او عملي پلوه یوه مهمه ارتباطي او د چارو د همغږۍ اداره ده. د ولسمشر حامدکرزي په ټوله واکمنۍ کې په دې اداره کې د مشرتابه له پلوه ډېرو کسانو کار نه دی کړی، یوازې دریو تنو د دې ادارې مشري کړې ده. د کرزي صیب په واکمنۍ کې ځینې داسې کسان هم وو چې د ده له واک سره سم واک ته رسېدلی او ترپایه یې پر همغه یوه پوست کار کړی دی. لکه د تفتیش او کنټرول د لوی ریاست رییس ښاغلی (شریفي)، د بشر د حقونو د خپلواک کمېسیون رییسې (سیما سمر)، د بلخ والي (عطامحمد نور) او ځینې نور، خو د چارو د ادارې په راس کې یوازې دریو تنو دنده اجرا کړه. چې دلته یې په لنډیز سره یادونه کوو:

۱- یوسف اعتبار: کله چې د (۱۳۸۰ل) کال د سنبلې پر (۲۱)مه یا د (۲۰۰۱م) کال د سپتمبر پر (۱۱) مه نېټه، په نیویارک کې پر نړیوال سوداګریز مرکز برید وشو، نو د امریکا متحده ایالتونو د دې پېښې پړه پر القاعدې شبکې او د هغې پر طالب ملګرو ور واچوله، څرنګه چې اسامه بن لادن دا مهال په افغانستان



(یوسف اعتبار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې و، نو پر طالبانو د برید لپاره د امریکا پلمې ته د توجیه امکانات برابر شول، هغوی پر طالبانو د برید لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا مجوز ترلاسه کړ او یوه لویه نړیواله ټلواله یې جوړه کړه. د طالبانو نظام د دوو میاشتو په بهیر کې ړنګ شو. امریکایي ځواکونه او د هغو کورني موئتلفین (شمالټلواله) چې تر دې وړاندې طالبانو د هېواد په یوه واړه ګوټ کې را ایساره کړې وه او دا مهال د مرګ پر پوله ولاړه وه، له امریکایي ځواکونو سره یوځای د (۱۳۸۰ل) کال د عقرب پر (۳)مه نېټه کابل ته داخل شوه. (استاد برهان الدین رباني) له خپلو ټولو ملګرو سره کابل ته راغی او اکثرو ملګرو یې ټول هغه دولتي پوستونه له کوم قانوني حکم پرته اشغال کړل چې د (۱۳۷۵ل) کال د میزان تر شپږمې نېټې دمخه ورسره وو او ځینو نورو بیا پاتې نور دولتي پوستونه اشغال کړل. (یوسف اعتبار) دا مهال د چارو د اداري د لوی رییس په توګه دنده اشغال کړه. د همدې کال د جدي تر (۲۲) نېټې پورې چې حامدکرزي ته له (بن) تړون سره سم واک په رسمي ډول انتقالېده، نو استاد رباني پوره دوه میاشتې وخت درلود چې د حکومت په اکثرو حساسو رګونو کې خپل پلویان ځای پرځای کړي. د استاد رباني په مشرۍ اسلامي جمعیت، چې د طالبانو تر واکمنۍ وړاندې د نیمواکې واکمنۍ یوه دوره تجربه کړې وه، دا حالت او خلا یې د ځان لپاره ښه غنیمت وګاڼه او هرڅوک یې چې په هرځای کې غوښتل په ګړني او مکتوبي ډول یې مقرر کړل، تر دې وړاندې چې طالب چارواکي پر کومو پوستونو مقرر وو، له دولت څخه د هغوی مطلق حذف هم اسلامي جمعیت ته د ټولواکې واکمنۍ زمینه برابره کړه. جمعیت چې یوې څلورنیم کلنۍ سختۍ او د واک توندې پسې اخیستی و، دا مهال یې د خپلو ریښو ځغلولو لپاره یو طلایي چانس وګاڼه. یوسف اعتبار چې تر دې وړاندې یې هم په تنظیمي ادارو کې د ناقانونه کارونو او له وخت څخه د ځان په ګټه د ګټې اخیستلو تجربه لرله، یوځل بیا د خپلې تجربې توره تېره کړه، په سوونو ناقانونه مقررۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې وکړې او استاد رباني هم ورته په سوونو ناقانونه فرمانونه ورکړل، کله چې د واک د رسمي انتقال شپې او ورځې رانږدې شوې، نو استاد رباني او اسلامي جمعیت پر تېرو گومارنو او مقرریو هم بسنه ونه کړه، داسې یو فرمان یې ترتیب کړ چې په یوه فرمان یې ټول مقرر او په یوه فرمان یې ټولو ته ځلورنیم کلن امتیازات ور په برخه کړل، د استاد رباني له خوا په دې فرمان کې چې حامدکرزي ته د واک تر رسمي انتقال یوازې دوه درې ورځې دمخه صادر او له دولتي راډیو ټلوېزیون څخه خپور شو، راغلي وو؛ ټول هغه اشخاص چې د ((مقاومت)) په ځلورنیم کلنه دوره کې له دوی سره پاتې شوي او د طالبانو تر واکمنۍ دمخه په کومو ځایونو کې مقرر وو، پر همغو ځایونو بېرته مقرر دي، دولت مکلف دی په یاده موده کې د دوی ټول معاشونه، ترفیعات او نور حقوق ادا کړي. دا فرمان هم د اسلامي دولت د رییس په نامه صادر شو، هغه وخت کې هم د نظر گڼ شمېر خاوندانو سره دا پوښتنه مطرح وه چې که د استاد رباني تنظیم ته رښتیا هم د (اسلامي دولت) نوم ورکول کېږي او دا رښتیا هم یو دولت وای، نو بیا خو یې باید په ځلورنیمو کلونو کې خپلو مامورینو ته معاش هم ورکړی وای او که دوی د دولت محتوا نه درلوده، نو بیا ولې د (اسلامي دولت) په نامه یادېدل؟ د دې فرمان ټول اجرایي بار پر راتلونکي حکومت پرېوت او له دې څخه یوازې دوه درې ورځې وروسته په رسمي ډول مسولیت ښاغلي حامدکرزي ته حواله شو، خو عملي واک بیا هم اسلامي جمعیت سره و. دا په دنیا کې په اصطلاح یوازینی دولت و چې ځلورنیم کاله یې د دوی په خپله وینا په اصطلاح خپلو مامورینو ته نه معاش ورکړی او نه هم ترفیع او خپل ټول بار یې پر راتلونکي حکومت، په داسې ډول حواله کړ چې بیا هم په نړۍ کې ساری نه لري. کله چې حامدکرزي ته د نړیوالو د فشار په نتیجه کې واک په اصطلاح ورانتقال شو، نو یوسف اعتبار بیا هم خپل دولتي اعتبار او باور باینلود، بیا هم پر خپلې همدې څوکۍ پاتې شو. دا مهال نو فهیم خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي د مرستیال او د دفاع وزیر، یونس قانوني د کورنیو او ډاکتر عبدالله عبدالله د بهرنیو چارو وزیران وو، عارف سروري د ملي امنیت رییس، عتیق الله بریالی د دفاع وزارت مرستیال وو او د نظار شورا نورو غړو د دولت پر نورو حساسو پوستونو د ناکنټروله واک اسونه ځغلول. کرزی داسې محاصره و چې د جمعیت له خوښې پرته یې یو عادي مامور هم نه شو مقررولای. هر څه چې نظار شورا غوښتل حامدکرزي له کوم ځنډ پرته هغه منل، یوه بېلگه به له هغه وخت څخه د همغې زمانې د یوه ټولیز تصویر په توگه وړاندې کړو: ولسمشر کرزی له فهیم خان، یوسف اعتبار او د نظار شورا له یو شمېر نورو مهمو غړو سره د غرمې ډوډۍ ته ناست وو. ښاغلي کرزي وویل، لوی څارنوال نه شته یو ښه سړی باید پیدا کړو چې لوی څارنوال شي، ډوډۍ ته له ناستو کسانو څخه یو تن وویل، (څارنوال محمود) ښه سړی دی، دې وخت کې فهیم خان وویل: ((څارنوال محمود، څارنوال امر صاحب بود بسیار ادم خوب است)) دې وخت کې کرزي وویل: ((بهترین گپ است، خوب است)) دې سره فهیم خان، یوسف اعتبار ته اشاره وکړه چې وړاندیز یې راوړه، ډوډۍ لا خلاصه نه وه چې یوسف اعتبار د څارنوال محمود د تقرر وړاندیز راوړ او کرزي پرته له دې چې فکر پرې وکړي سملاسي یې لاسلیک کړ، څارنوال محمود لوی څارنوال شو او بیا تر ډېره وخته پر همدې پوست پاتې شو. څارنوال محمود بیا له دې پوست څخه داسې اعظمي گټه پورته کړه چې د زیاتې شتمنۍ او په کابل کې ان د ښارگوټي خاوند شو.

یوسف اعتبار ان د ولسمشرۍ د لومړۍ دورې تر ټاکنو لږ وروسته مودې پورې هم پر همدې پوست پاتې شو، په کرزي یې د خپلې خوښې په زرگونو کسان مقرر کړل، خو یوازې پر دې یې هم بسنه ونه کړه. یوسف اعتبار به د نظار شورا او نورو جمعیتي مشرانو په تېره بیا د فهیم خان په مشوره، ټولې هغه مقررۍ او د قراردادونو نور اسناد له ځان سره ساتل چې فکر یې کاوه کرزی یې په اسانۍ سره نه لاسلیکوي او یا پرې فکر کوي، ده به په لسگونو دا ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیزونه او اسناد برابر کړل، کله چې به کرزی په کوم بهرني سفر ووت او فهیم خان به سرپرست شو، نو ده به دا ټول اسناد او د تقرر وړاندیزونه فهیم خان ته یوړل، هغه به له مخکیني تفاهم سره سم ټول لاسلیک کړل او پر دولت به یوځل بیا ناقانونه مقرري او نامشروع کارونه تحمیل شول. دا لړۍ له موقتې ادارې نیولې ان تر لومړۍ انتخابي دورې پورې وغځېدله. ځینې داسې راپورونه هم ترلاسه شوي چې همدا مهال پر ځینو اسنادو د استاد رباني داسې لاسلیکونه هم اخیستل شوي چې دکرزي د واکمنۍ تر رسمي پیل دمخه نېټه پرې وهل شوې او بیا د چارو په اداره کې معامله او ثبت شوي دي. کله چې د ولسمشرۍ په لومړیو ټاکنو کې حامدکرزی بریالی شو، نو لږه موده وروسته یې یوسف اعتبار ایران کې سفیر کړ او پرځای یې فاروق وردګ د چارو د ادارې د لوی رییس په توګه مقرر شو. یوسف اعتبار بیا د همدې موقف په برکت د هېواد شمال کې د زیاتو ځمکو او نورو شتمنیو څښتن شو. کله چې د ولسمشرۍ په دویمو ټاکنو کې فهیم خان د حامدکرزي مرستیال شو، نو تر سوګند وروسته د فهیم خان لومړۍ مقرري همدا وه چې یوسف اعتبار یې د خپل دفتر د رییس په توګه مقرر کړ، دا مهال یوځل بیا پخوانی داستان له سره تکرار شو، خو نه په هغه قوت، بلکې په لږ کم توپیر. د لومړي مرستیال په دفتر کې د بېلابېلو موسساتو، پلورنځیو او نورو اشخاصو داسې ټاپې او اسناد وموندل شول چې هرڅه همدلته تر سره کېدل. فهیم خان امرونه ورکول او قراردادونه هم دلته بشپړېدل، په نږدې پنځو کلونو کې د لسګونو زرو ناقانونه کارونه تر سره کېدل هغه واقعیتونه دي، چې پاک ضمیرونه ترې سترګې نه شي پټولای.

۲- ډاکتر فاروق وردګ: ډاکتر فاروق وردګ تر یوسف اعتبار وروسته د چارو د ادارې د لوی رییس په توګه مقرر شو. مخکې تر دې د انتخاباتو د مشترک کمېسیون د دارالانشا رییس و او تر هغه وړاندې د اساسي قانون د تدقیق کمېسیون د دارالانشا او بیا د اساسي قانون د لویې جرګې د دارالانشا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رییس و. فاروق وردګ فارمسي پوهنځی لوستی او د جهاد په کلونو کې د افغانستان لپاره د سویډن د کمېټې مشر و او دغه راز یې په ځینو نورو مرستندویو ادارو کې هم کار کړی دی. د جهاد په کلونو کې یې د حکمتیار له اسلامي حزب سره فکري اړیکي لرل، یو فصیح، بلیغ او ښه کاریګر انسان دی. کله چې د طالبانو نظام ړنګ کړای شو، نو هغو افغانانو ته چې په بهرنیو موسساتو کې یې کار کاوه، دا مهال په حکومت کې او له حکومت سره په همکارو موسساتو کې د کار ښه زمینه برابره شوه. فاروق وردګ چې کله هم د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون د دارالانشا رییس شو، نو دا مهال د ملګرو ملتو او نورو موسساتو په تېره بیا



ډاکتر فاروق وردګ

د (یو ان ډي پي) (UNDP) موسسې له خوا له مالي پلوه د دې ټول بهیر ملاتړ کېده، یانې دا چې ټول کارونه د بهرنیو موسساتو او کورنیو کارکوونکو له خوا په ګډه پرمخ وړل کېدل.

فاروق وردګ د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون ټول (۱۳) میاشتنی بهیر په ښه ډول مدیرت کړ او د اساسي قانون د لویې جرګې په جوړېدو بریالیتوب او د اساسي قانون په تصویب کې یې هم ښه رول ادا کړ. کله چې د ولسمشرۍ لومړیو ټاکنو ته تیاری نیول کېده، نو ملګرو ملتونو د ټاکنو ګډ کمېسیون ته تر ډاکتر فاروق وردګ بل ښه او مناسب شخصیت نه شو پیداکولای، نو ځکه یې هغه د یاد کمېسیون د دارالانشا د رییس په توګه غوره کړ. فاروق وردګ له نوملیکنې رانیولې بیا تر عمومي ټاکنو پورې ټول انتخاباتي بهیر په ښه ډول مدیریت کړ. کله چې د ولسمشرۍ ټاکنې پایته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسېدې او ولسمشر کرزي لوړه وکړه، نو څه موده وروسته یې فاروق وردګ د چارو د ادارې د لوی رییس او د وزیرانو شورا د دارالانشا د مشر په توګه مقرر کړ. فاروق وردګ نږدې پنځه کاله د دې ادارې د مشر په توګه پاتې شو او دلته یې دولتي کارونو ته خورا انتظام او همغږي ورپه برخه کړه، حکومتي چارو قانوني بڼه خپله کړه او هر څه تر منظم فلتر لاندې تصفیه کېدل. فاروق وردګ دا مهال هم ولسمشر او هم ولس ته ډېر نږدې و. د ده د دې دندې پر مهال څو لویې جرګې، لکه: د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن ګډه جرګه، د سولې مشورتي جرګه او ځینې نورې مهمې جرګې جوړې شوې. له پارلمان یا ملي شورا سره د حکومت اړیکي خورا نږدې وو، هم د فاروق وردګ شخصي مهارتونه او هم دولتي امکانات د دې سبب شول چې حکومت خپل ډېر قوانین او مقررۍ په اسانۍ سره له ولسي جرګې څخه تېر کړي. له وزیرانو او نورو دولتي چارواکو سره هم د فاروق‌وردګ اړیکي خورا ښه وو، ځکه د هغوی ټول کارونه له همدې مسیره تېرېدل. د چارو اداره د فاروق وردګ د واکمنۍ پر مهال پر یوې ځواکمنې دولتي ادارې بدله شوه. فاروق وردګ چې کله هم د چارو ادارې ته راغی، نو د هغه ټیم یوه زیاته برخه چې له ده سره یې د اساسي قانون د تدقیق په کمېسیون او همدارنګه د ټاکنو کمېسیون په دارالانشا کې کار کاوه، له ځان سره د چارو ادارې ته راوړه، لکه ډاکتر صادق مدبر، فرید حکمت، احسان، کوچی، غفور لېوال، وحید عمر او ګڼ شمېر نور، دا نو بیا هغه کسان وو چې هم یې په انتخاباتي چارو کې تجربې ترلاسه کړې وې، هم د جرګو په دایرولو او هم اوس په دولتي چارو کې د تجربو خاوندان شوي وو. لنډه دا چې تجربه کار او کاري ټیم و. که څه هم خپلمنځي اختلافات او بېلابېل تمایلات یې درلودل، خو د فاروق وردګ تر مشرۍ لاندې یې د یو واحد ټیم په توګه کار کولای شو. ډاکتر فاروق وردګ که څه هم ولسمشر ته ډېر نږدې و، خو بیا یې هم کله کله له هغه څخه ځینې شکایتونه درلودل. خو دا شکایتونه دومره ډاګیز نه وو، ځکه چې فاروق

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وردگ که هر څومره پر لوړو څوکیو کار کړی، خو د موقف ساتنې او ځانساتنې خوی په کې هم خورا محسوس و. له ولسمشر څخه د ده شکایت دا و چې زه د چارو د ادارې رییس یم، خو کله چې د ولسمشر په دفتر کې غونډه وي، ما هم غواړي او صادق مدبر چې زما مرستیال دی، هغه هم غواړي، هلته بیا زما پر ځای له هغه څخه پوښتنې کوي، د هغه خبرې هم تائیدوي او ډېر یې نازوي هم، داسې لکه دی (مدبر) چې رییس وي او زه یې مرستیال. څو ځله مې زړه غوښتي چې یا یې مخامخ ورته ووایم چې رییس صیب دی زما پرځای مقرر کړه او یا هم ده ته ووایم چې نور نو زما له اجازې پرته ارگ درباندې بند دی. دا شکایتونه یې یوازې ماته کړي وو یا هم کېدی شي بل نږدې دوست ته، ځکه چې د ولسمشر خوی ماته معلوم و، چې د هغه په دربار کې پښتانه چارواکي د هېواد د دویمه درجه اتباعو په توگه مطرح وو. د رحیم وردگ او بسم الله خان، انوارالحق احدي او وحیدالله شهراني او نورو پښتنو او ناپښتنو ټولو چارواکو تر منځ د ولسمشر له خوا همدا توپیري چلند موجود و. رحیم وردگ هم دېته ورته شکایت درلود او گڼ شمېر نورو دولتي پښتنو چارواکو هم، د عوامو په اصطلاح ځینو به ویل چې موږ ته ولسمشر هېڅ د سړي د زامنو په سترگه نه گوري. فاروق وردگ له دومره احتیاط څخه کار اخیسته چې هېڅ کله یې ولسمشر ته خپل دا خفگان او گیله څرگند نه کړل، یوه ورځ ما ورته وویل: ډاکتر صادق مدبر خو تا راوستی، تا مقرر کړی، نو بیا ولې شکایت کوې، هغه وویل، همدا مې اشتباه کړې ده. له ځینو ورو ستونزو سره سره فاروق وردگ د چارو په اداره کې خورا فعال او بریالی و، خو بله اشتباه یې دا وه چې د ولسمشر په توگه د کرزي تر دویم انتخاب وروسته یې د وزارت څوکۍ ومنله. کله چې د چارو په اداره کې و، نو د ولس او ولسمشر تر منځ اړیکي ټینگ وو، د گڼ شمېر هېوادوالو په تېره بیا لرې پرتو سیمو هېوادوالو مشکلات په اسانۍ سره اورېدل کېدل او یا یې ولسمشر ته پیغام او فریاد ورسېدلای شو، واړه کارونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپله د ده صلاحیت وو، هغه هم په اسانۍ سره تر سره کېدلای شول، یو شمېر ناوړه تفاهمات چې د ولسمشر او ځینو ناسیاسي چارواکو تر منځ رامنځته کېدل هغه هم د ډاکټر فاروق وردګ له لارې له ولسمشر سره مطرح کېدل او د غټو درزونو مخه نیول کېدله. خو کله چې د فاروق وردګ په سر کې د وزارت وړمه ولګېدله، نو هغه پل هم په نړېدو شو چې دا مهال د ولس او ولسمشر تر منځ تړل شوی و. په پای کې فاروق وردګ وزیر شو او د چارو اداره صادق مدبر ته، چې دا مهال یې دلته پوره تجربه حاصله کړې وه او ولسمشر کرزي ته هم خورا نږدې و، پاتې شوه. فاروق وردګ هم وروسته وروسته په پوهنې وزارت کې خفه برېښېده او د دولت په چارو کې یې هغومره کم مسولیته صلاحیت نه درلود چې دلته د چارو په اداره کې یې درلود، خو چانس او وخت یې له لاسه ورکړي وو.

۳- ډاکتر صادق مدبر: کله چې ډاکتر فاروق وردګ د پوهنې د وزیر په توګه له ولسي جرګې څخه د باور رایه واخیسته، نو ډاکتر صادق مدبر چې دا مهال د چارو د ادارې مرستیال و، په دې اداره کې یې څو کلنه کاري تجربه ترلاسه کړې وه او د ولسمشر په ګډون له ګڼو مطرحو شخصیتونو سره یې ښه اړیکي جوړ کړي وو، د ولسمشر کرزي له خوا د فاروق وردګ پرځای د چارو د ادارې د لوی رییس په توګه وټاکل شو. دا کار د ولسمشر کرزي د مرستیال (کریم خلیلي) او د هغه د ظاهري مخالف (حاجي محمد محقق) د خوشالۍ سبب شو. که څه هم د اسلامي وحدت ګوند دې دواړو مشرانو ظاهراً په دې باب څه ونه ویل او نه هم ډاکتر صادق مدبر داسې ښودله چې دی ګنې له هغو سره اړیکي لري او یا هم اړیکي پالي، خو څرنګه چې ځینو خلکو ته څرګنده وه، ډاکتر مدبر له محقق سره اړیکي درلودل او له همدې لارې یې د (عبدالعلي مزاري) په مشرۍ د وحدت ګوند غړیتوب درلود. خو څرنګه چې د کریم خلیلي او محقق په ګډون د نورو تنظیمونو مشرانو ټولو په کابل او د هېواد په نورو سیمو کې د تنظیمي جنګونو له امله په عامه ذهنیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ښه ځای نه درلود، نو د ډاکتر مدبر په شان روښنفکره هزاره توکمو هڅه کوله چې په هزاره قوم یا شیعه مذهبو افغانانو کې یوه درېیمه لاره هم وکاږي. داسې لار چې د جنګسالارۍ او کورنیو جنګونو کې د ښکېلتیا تور پورې کول پرې هم اسانه کار نه وي، دا به یو بل قوت وي، خو دا کار هله ممکن دی چې دوی هم د محقق او خلیلي په شان دولتي واک و ځواک او اقتصادي سرچینې ولري. مدبر تر هغه پورې له صبر او تدبیر څخه کار واخیست او د کوم څرګند سیاسي جریان د جوړونې ښکاره هڅه یې ونه کړه،



(ډاکتر صادق مدبر)



چې قوي دولتي موقف یې ترلاسه نه کړ، البته که نیت یې هم و، نو پټ و، خو کله چې د چارو د ادارې لوی رییس شو، نو سیاسي هڅې یې هم څرګندې شوې او له محقق او خلیلي څخه د لارې جلا والي یې هم خپل رنګ جوت کړ. مدبر لومړی د چارو په اداره کې خپل بېز قوي کړ، یو پاموړ شمېر هزاره توکمي یې په دې اداره کې د لوړ رتبه او ټیټ رتبه مامورینو په توګه مقرر کړل او نورې نوې مقررۍ یې په داسې ډول وکړې چې ده ته په ګټه وې؛ هغه څوک یې راوستل چې د ده پر وړاندې د ودرېدو جرئت یې نه درلود. ولسمشر ته دومره نږدې و چې د چا خبره په پټو سترګو یې د ده له خوا هر شوی وړاندیز منظوراوه او (نه) یې په کې نه ویله.

ښاغلي صادق مدبر د خپلې دندې د تصدۍ پر مهال ولسمشر ته دومره نږدې او یا هغه مدبر ته دومره نږدې شو چې مدبر د هر چا د مقررۍ سپارښتنه کړې وای، هغه عملي کېدله. ان د وزیرانو تر کچې. یو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې هم راغی چې مدبر په وزارتونو کې د یوې ټاکلې ونډې خاوند شو. خبره داسې وه هر وزیر یا ادارې چې کوم اشخاص مقررول، نو هغوی د چارو ادارې ته ورمعرفي کول، د هغوی تر ارزونې او کار پوهنې وروسته هغوی حکم ترتیبوه، د اړوندې څانگې کارپوهانو هغه لاسلیکوه او مدبر د هغوی لاسلیکونه تائیدول، جمهور رییس د اشخاصو د ژوندلیک او فعالیتونو لوستو ته او ان د حکم د متن لوستو ته هم پوره وخت نه درلود، یوازې د چارو د ادارې د اړوندو مسولینو او په تېره بیا د صادق مدبر لاسلیک یې کاته او تر هغه وروسته یې حکم لاسلیکاوه. کوم څه چې به د ښاغلي مدبر په زړه او ذهن برابر نه وو، هغه ته به یې د کار پوهانو له خوا داسې دلایل برابرول چې مقتضي شخص به پرې ردېده، کله به یې په اسنادو کې نیمگړتیا را ایستله، لنډه دا چې څو ځله به یې هغه شخص د اسنادو د نیمگړتیا په پلمه او نورو ډول ډول پلمو باندې بېرته مسترد کړ، ځینې وزیران به دې بهیر ستړي کړل او په پای کې به اړ شول چې د چارو د ادارې د مشر غوښتنو ته غاړه کېږدي. که د یو چا اسناد به پوره او کره هم وو، نو له دوو پلمو څخه خو به یوه کې ضرور گیر راته: (په تقرر کې ملي مشارکت نه دی مراعت شوی، رییس صیب قبول نه کرد.) قومي یا ملي مشارکت نو هغه وسله وه چې پر هر وزیر به وکارول شوه، نو هغه به په ناقانونه توگه هم د خپلو نورو اشخاصو لېست د منظورۍ په خاطر یو څو هزاره افغانان هم په لېست کې شامل کړل او یا به یې خپله مدبر صیب ته د دې زمینه برابره کړه چې یو څوک ور وپېژني او جمهور رییس خو هسې هم چا نه شو کتلای چې رښتیا یې هغه شخص رد کړی که نه، یوازې خپله مدبر صیب کتلای شو. د جمهور رییس د رد په پلمه کېدی شي په سوونو کسان د تقرر له حق څخه محروم شوي وي، ډېرې بېلگې یې شته چې دا لیکنه پرې ډېره اوږدېږي، خو مجبور یم یوه بېلگه د ثبوت په توگه راوړم:

(عبدالهادي فرهنگ) له اقتصاد پوهنځي څخه فارغ شوی دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان د تجارت د اتاق غړی او ډېره موده کېږي چې عملاً پر تجارت بوخت دی او اکثره مطرح سوداگرو سره راشه درشه لري، له ماځخه یې هیله وکړه چې که د ایران په مشهد کې د افغانستان تجارتي اتشه شي، نو افغانستان ته به ډېر خدمت وکړي، که جمهور رییس سره خبره وشي، سوداگرۍ وزارت هم راسره موافق دی، وړاندیز راکوي، خو مدبر صیب به یې ونه مني، ځکه هغه غواړي خپل یو څوک هلته مقرر کړي، ده له سوداگرۍ وزارته یو مکتوب واخیست، د چارو ادارې ته لاړ، دا مهال ما له جمهور رییس سره یوځانگړی ملاقات درلود، د ملاقات په پای کې مې د فرهنگ د کاري تجربې او تقرر په باب هم ورته یادونه وکړه، هغه وویل بېخي سمه ده، زه به یې مدبر ته ووایم چې ژر یې پېشنهاد راوړي. څه موده دې کې تېره شوه، فرهنگ راته څو ځله وویل، ما ورته وویل چې ما خو ولسمشر سره خبره کړې، هغه راته ویلي چې مقرروم یې. فرهنگ بیا وویل: اوس خو مدبر صیب ماته وویل چې ما ستا پېشنهاد جمهور رییس صیب ته یوړ، خو هغه قبول نه کړ او رد یې کړ، اوس زما مکتوب بېرته وزارت ته لېږي او ورته لیکي چې زما په عوض بل څوک معرفي کړي. ما وویل زه خو جمهور رییس بیا ژر نه شم کتلای که طالع دې وي ژر مې وکوت، نو یو ځل بیا به ورته یادونه وکړم. تصادفاً ما دا ځل ولسمشر ژر وکوت، کله چې اساسي خبرې خلاصې شوې، نو یو ځل بیا مې د عبدالهادي فرهنگ د تقرر خبره ورياده کړه، ولسمشر وویل کوم دی پېشنهاد؟ ما ویل مدبر صیب ورته ویلي چې ته خو رییس صیب رد کړې، هغه وویل نه بابا زه بېخي خبر نه یم او نه یې دلته پېشنهاد راغلی، دا مهال زه د را ولاړېدو په حال کې وم، ولسمشر ماته وویل، ته دلته څو شېبې کېنه، سکرتر ته یې وویل مدبر رخ کړه، هغه یې رخ کړ، ورته یې وویل: چېرته یې؟ هغه وویل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لویې جرگې خېمه کې، دا مهال یې نو ما خبرې هم اورېدلې، ولسمشر ورته وویل: ((کار فرهنگ صیب چطور کردی؟)) هغه وویل: ((کارشناسان در مورد او نظر منفی داد، اسنادش مشکلات داشت از آن خاطر به شما نه اوردم.)) مدبر پر دې نه پوهېده چې دا مهال زه ولسمشر سره ناست یم، جمهور رییس ورته وویل: ((عاجل پیشنهاد فرهنگ را بیار که کار اش خلاص کنم.)) په سبا د فرهنگ پیشنهاد راوړل شو او تقرر یې خلاص شو، د دې لیکنې تر وخته د تجارتي اتشې په توگه کار کوي، تر هغه وروسته د مدبر صیب روابط له ما سره ترینگلي شول، هر ځای کې یې ویل یون فاشیست است، نشنلست است، ان ولسمشر ته یې هم دا خبره کړې وه، جمهور رییس ورته ویلي وو چې هغه خو د کوم پښتون یا مشرقیوال د تقرر غوښتنه نه وه کړې، هغه خو د یو تاجک د تقرر سپارښتنه کړې وه، هغه هم د یو مسلکي شخص. عبدالهادي فرهنگ اصلاً په خټه تاجک او د بغلان اوسېدونکی دی، خو دا چې یو هېوادپال افغان دی، نو ما یې ځکه د تقرر هیله وکړه.

داسې په سوونو ورته کارونه شوي، خو داسې څوک په دې منځ کې نه وو چې سپیناوی یې رامنځته کړی وای. سره له دې چې ولسمشر د مدبر پر دې ډول کارونو پوهېده، خو بیا یې هم هېڅ ورته نه ویل او لا یې قدر وعزت زیاتېده، مدبر یو وخت دومره ځواکمن شو چې نور نو نه د وزیرانو او نه هم د نورو چارواکو پرې زور رسېده، د یو کوچني لومړي وزیر عملي رول یې ادا کاوه، له خپل همدې قوت څخه یې گټه پورته کړه، د ((ملي انسجام)) په نامه یې یو سیاسي گوند هم جوړ کړ چې غوڅ اکثریت په کې هزاره توکمي او شیعه مذهبي افغانان راټول وو. د ((انسجام)) په نامه یې یوه مهالنۍ خپرونه هم پیل کړه. یو زیات شمېر هزاره گان چې د محقق، خلیلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکبري له پخواني شالید څخه ستړي شوي وو، د مدبر پر محور راټول شول او ده هم له همدې مهمې حکومتي سرچینې څخه د خپل موقف او خپل گوند د پیاوړتیا لپاره اعظمي گټه پورته کړه. گڼ شمېر هزاره توکمي او شیعه مذهبي یې له خپل دفتره نیولې، د دولت پر نورو حساسو پوستونو او یو شمېر یې د افغانستان په سیاسي استازیو کې مقرر کړل. د چارو ادارې یو وخت نږدې د شیعه مذهب د تقلید د یوې مرجعې بڼه خپله کړه، د عاشورا پر ورځو به د چارو د ادارې پر دېوالونو تورې ټوټې ځوړندې وې او د مدبر د لیدو لپاره به گڼ شمېر شیعه افغانان راروان وو. ولسمشر او نورو چارواکو دا ټول حالات د سر په سترگو لیدل، خو مزي یې ورته سست کړي وو.

مدبر نه یوازې په هزاره او شیعه افغانانو کې پراخ نفوذ پیداکړ، بلکې په نورو قومونو کې یې هم ځان ته د پښې ایښودلو ځای پیداکړ، اکثرو مطرحو سیاسي شخصیتونو، وکیلانو، قومي مشرانو او علمي کادرونو سره چې د هر قوم او هر ځای وو، له هغو سره یې هم اړیکي ټینگ کړل، د هغو خلکو د کارونو په ژر خلاصون کې یې ډېرې هلې ځلې کولې چې پوهېده هغوی یو څه جنجال جوړولای شي. مدبر خبرې کمې کولې، خو کارونه یې ډېر کول، کاغذي او دفتري کارونه یې خورا منظم وو. غیرحاضري او د کار ستړیا یې نه لرله، له سهار وختي د شپې تر ناوخته یې کار کاوه. پښتو ژبې سره یې د محقق او خلیلي په شان ملموس حساسیت نه درلود، د پښتو او دري ژبو د مکتوبونو لړۍ چې د فاروق وردگ په وخت کې په دې اداره کې پیل شوې وه. ډاکتر مدبر هم ورته ادامه ورکړه، که د وړاندیز متن به دري و، نو حکم به یې په پښتو ترتیبوه او یا برعکس، که څه هم دري ژبه تر پښتو زیاته کارېدله، خو بیا هم د دولت تر نورو ادارو دلته یو څه ناڅه پښتو مکتوبونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکل کېدل.**

**مدبر د خپلې دندې ترپایه په همدې قوت کې پاتې شو. کېدی شي د ولسمشر کرزي ډېر رازونه او مجبوریتونه ورته معلوم وو، نو ځکه خو هغه پرې غابښ نه کېکاږه. تر خلیلي وروسته که په دولتي پوستونو کې د هزاره گانو په تقرر او استخدام کې چا ډېره ونډه اخیستې وي، نو هغه به صادق مدبر وي. که څه هم خلیلي، محقق، مدبر او د شیعه گانو نور مشران ظاهراً یو بل سره په اختلاف کې وو، خو د خپلو قومي او مذهبي گټو لپاره یې بیا گډ دریځ درلود، خو مدبر لکه څنگه چې یې تخلص مدبر و، په دې کار کې له زیات تدبیر څخه کار واخیست، هم یې خپل موقف وساته او هم یې خپل کار وکړ. ولسمشر کرزی بیا دوی ته داسې یو ولي نعمت و چې نه پخوا په تاریخ کې تېر شوی و او اټکل دی چې بیا به هم تېر نه شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږ نیم درجنه سلاکاران

حامد کرزی به په نړۍ کې د خپل ډول لومړنی او ان تر دې دمه کېدی شي وروستی ولسمشر وي چې تر شمېر وتي سلاکاران لري. وایي چې د ډېرو قصابانو تر منځ غویی مردارېږي. ډېرې مشورې هم له سړي څخه لاره ورکوي او سړی په وهم کې ډوبوي، خو دا په هغه حالت کې چې سړی مشورې ته غوږ شي او بیا پرې عمل وکړي، نه داسې چې خبره پر یوه غوږ ننوځي او له بله ووځي، ولسمشر کرزی داسې یو څوک دی، چې د څو شپېو لپاره د هر چا مشوره اوري، ښه به یې درته غوږ ایښی وي، هغه مشاور داسې فکر کوي چې بس یم، نو دا زه یم، ټولې خبرې یې زما واورېدې، بس عمل به پرې کوي، خو هغه خبره هېڅکله عمل ته ونه رسېږي. د کرزي صیب بل عادت دا دی چې وعده کوي، خو عمل پرې هېڅکله نه کوي، هغه یو وخت یو چاته ویلي وو؛ زما داسې یو عادت دی چې زه چا سره وعده وکړم، ډېره ژر یې هېروم، خو چې ما سره څوک وعده وکړي، تر مرګه یې نه هېروم، نو کرزي صیب د وعدې پر همدغه تار خپل نا شمېره مشاوران تړلي وو، تش په معاش، یوه موټر، یوه دفتر او څو تنو ساتونکو هم ډېر مشاوران خوشاله وو، دا یې هم غنیمت ګاڼه، هر کله چې به د یوه عامل، دلیل او مجبوریت له امله کوم والي، وزیر او یا هم کوم بل زورور له دندې لرې شو، نو اوتومات به د مشاورت پر مقام برابر شو. یو وخت د ولسمشر د مشاورانو لېست دومره اوږد شو چې خپله ده هم نه پېژندل، خبره تر شپېتو(٦٠) هم واوښته. میاشت کې یوځل به ولسمشر له مشاور وزیرانو سره غونډه درلوده، خو کله به دا غونډه په میاشت کې هم تر سره نه شوه. داسې مشاور وزیران هم وو، چې په شپږ میاشتو او ان کال کې یې ولسمشر نه شو لیدلای، د هغه د لیدو په ارمان به و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشوره خو لا څه کوې. یوازې شپږ اووه تنه داسې وو چې ولسمشر سره یې کتلای شول.**

**د ځینو راپورونو پر بنسټ ولسمشر کرزی په ټولیز ډول (۱۱۰) تنه مشاورین لري چې له هغې جملې څخه یې (٦۰) تنه مشاور وزیران دي.**

**دلته به یې ځینو مطرحو، کاري او یا هم هغو مشاورینو ته اشاره وکړو چې ولسمشر ته یې لاسرسی درلود. خو پر مطرحو مشاورینو تر بحث وړاندې غواړو په مجموعي ډول د مشاورانو نوملړ دلته وړاندې کړو.**

| گڼه | نوم | چارې |
|---|---|---|
| ۱ | ډاکتر رنگین دادفر سپنتا | امنیتي چارو سلاکار |
| ۲ | شیدامحمد ابدالي | نړیوالو اړیکو سلاکار |
| ۳ | شام لال بتیجا | اقتصادي چارو ستر سلاکار |
| ۴ | هدایت امین ارسلا | ستر سلاکار |
| ۵ | نعمت الله شهراني | دیني چارو سلاکار |
| ٦ | محمد یوسف پښتون | بیارغونې چارو سلاکار |
| ۷ | فیض الله کاکړ | روغتیایي چارو سلاکار |
| ۸ | محمد ابراهیم سپین زاده | امنیتي چارو سلاکار |
| ۹ | زلمی هیوادمل | فرهنگي چارو سلاکار |
| ۱۰ | اسدالله وفا | قومي چارو سلاکار |
| ۱۱ | وحیدالله سباوون | قومي چارو سلاکار |
| ۱۲ | شهزاده مسعود | قومي چارو سلاکار |
| ۱۳ | محمد علم راسخ | قومي چارو سلاکار |
| ۱۴ | محمد هاشم زارع | قومي چارو سلاکار |
| ۱۵ | سیدمحمد امین طارق | قومي چارو سلاکار |
| ۱٦ | عبدالطیف ابراهیمي | قومي چارو سلاکار |
| ۱۷ | جمعه خان همدرد | قومي چارو سلاکار |
| ۱۸ | گل اغا شېرزی | قومي چارو سلاکار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۱۹ | امان الله ځدراڼ | قومي چارو سلاکار |
| ۲۰ | اقا حسین هاشمي لولنجی | قومي چارو سلاکار |
| ۲۱ | نظرمحمد اسحاق زی | قومي چارو سلاکار |
| ۲۲ | شجاع الملک جلاله | قومي چارو سلاکار |
| ۲۳ | گوجروال | قومي چارو سلاکار |
| ۲۴ | محمد طاهر ساپی | قومي چارو سلاکار |
| ۲۵ | خادم حسین ناطقي | قومي چارو سلاکار |
| ۲٦ | محمد نسیم مهدي | قومي چارو سلاکار |
| ۲۷ | شېرعلم شهادتیار | قومي چارو سلاکار |
| ۲۸ | توردی اخند | قومي چارو سلاکار |
| ۲۹ | جنرال سیدمحمد حسین | قومي چارو سلاکار |
| ۳۰ | شېرمحمد اخندزاده | قومي چارو سلاکار |
| ۳۱ | عبدالستار ملاخېل | قومي چارو سلاکار |
| ۳۲ | سلیمان یاري | قومي چارو سلاکار |
| ۳۳ | محمد صدیق عزیز | قومي چارو سلاکار |
| ۳۴ | ضامن علي بهسودی | قومي چارو سلاکار |
| ۳۵ | نوروز علي اعتمادي | قومي چارو سلاکار |
| ۳٦ | رحمت الله راشیدي | قومي چارو سلاکار |
| ۳۷ | محمد یعقوب شمس | قومي چارو سلاکار |
| ۳۸ | سیدشاه ناصر نادري | قومي چارو سلاکار |
| ۳۹ | محمد اکبر اکبر | قومي چارو سلاکار |
| ۴۰ | محمدهاشم صالحي | قومي چارو سلاکار |
| ۴۱ | محمد یوسف واعظي | قومي چارو سلاکار |
| ۴۲ | مولوي محمد جوره طاهري | دیني چارو سلاکار |
| ۴۳ | محمدعثمان سالک زاده | دیني چارو سلاکار |
| ۴۴ | علي جان زاهدي | دیني چارو سلاکار |
| ۴۵ | عنایت الله بلیغ | دیني چارو سلاکار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۴٦ | مولوي محی الدین بلوچ | دیني چارو سلاکار |
| ۴۷ | جنرال عبدالرحیم وردګ | امنیتي چارو سلاکار |
| ۴۸ | امان الله ګذر | امنیتي چارو سلاکار |
| ۴۹ | محمد عارف نورزی | قومي چارو سلاکار |
| ۵۰ | محمد معصوم ستانکزی | امنیتي چارو سلاکار |
| ۵۱ | تاج محمد ایوبي | بهرنیو چارو سلاکار |
| ۵۲ | غلام مصطفی جواد | ټولنیزو چارو سلاکار |
| ۵۳ | شېرمحمد اعتباري | قومي چارو سلاکار |
| ۵۴ | جنراله سهیلا صدیق | روغتیایي چارو سلاکاره |
| ۵۵ | محمد انور جګدلک | سپورتي چارو سلاکار |
| ۵٦ | محمد یاسین عثماني | ټولنیزو چارو سلاکار |
| ۵۷ | ذکیم شاه خان | مالي چارو سلاکار |
| ۵۸ | محمد اشرف رسولي | حقوقي چارو سلاکار |
| ۵۹ | عبدالعزیز احمد | قومي چارو سلاکار |
| ٦۰ | نورالله دلاوري | مالي چارو سلاکار |
| ٦۱ | عبدالرحمن اشرف | نړیوالو چارو سلاکار |

کېدی شي د مشاورانو نوملړ تردې هم اوږد وي، په دې کې یو شمېر سلاکار وزیران او نور اکثره یې په په واحده برخه کې سلاکاران دي. د سلاکارانو شمېر تر دې حده زیات شو، چې ځینو ته عناوین هم نه پیداکېدل، نو ځکه خو یې یو شمېر هممهاله په بېلابېلو برخو کې د مشاورینو په توګه یاد شوي دي. پر دې سربېره د ولسمشر مرستیالان هم هر یو د خپلې خوښې په تناسب ځان ته خپل خپل مشاوران لري، چې هغوی هم ځان د ((جمهوري ریاست)) مشاوران بولي. که هغه لېست پر دې ورزیات کړو، نو خبره (یو نیم سلو) تنو ته رسېږي، د وزیرانو مشاوران که محاسبه کړو، نو خبره تر دوو سوو هم اوړي او که د ټولو وزیرانو د رییسانو او نورو مهمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي اشخاصو مشاوران هم ورسره وشمېرو، نو خبره به تر زرو هم واوړي او که پر دې بیا بهرني مشاوران ورزیات کړو، نو خبره تر شمېره وځي. له دې ډلې ځینو په دې سره وشمېرو، نو خبره به تر زرو هم واوړي او که پر دې بیا بهرني مشاوران ورزیات کړو، نو خبره تر شمېره وځي. له دې څخه معلومېږي هغه کسان چې پر اساسي او اصلي پوستونو واکمن دي، هغوی ډېر زیات پر کار نه پوهېږي. چې دومره مشاوران یې گومارلي دي، د ولسمشر کرزي د حکومت یوه غوښنه برخه همدې کورنیو او بهرنیو سلاکارانو وخوړه، چې مسؤلیت نه لري، خو ځینې یې صلاحیت لري او هم یې د هېواد یوه پاموړ برخه مالي پانگه بهر ته وایستله.

کرزي صیب چې به په میاشت کې یو ځل خپلو مشاورانو سره وکتل، نو دا خورا غنیمت کار گڼل کېده او هغوی به هم خوشاله وو، د کابینې تر غونډې به د هغوی غونډه لویه وه، خو زیات وخت میاشتنۍ غونډې هم نه کېدلې، کله چې به چېرته کومه شخړه پیدا شوه، نو مشاورین به د کمېسیون په ترکیب کې ورشامل شول او هغې ساحې ته به لاړل، یو شمېر نورو به یې د مړو او ټپیانو لپاره د ولسمشر نقدې مرستې رسولې، دا هم ورته یو غنیمت کار و او یو شمېر نورو یې بیا په سیمه ییزو غونډو او شخړو کې د ولسمشر لیکلي او نا لیکلي پیغامونه لوستل. د مشاورانو د دې نوملړ له جملې څخه ښاغلو: سرمحقق زلمي هېوادمل، اسدالله وفا، تاج محمد ایوبي، نعمت الله شهراني، ډاکتر رنگین دادفر سپنتا او ځینو نورو کولای شول له ولسمشر سره وگوري. په یوه قبیلوي او دودیزه ټولنه کې دا هم یو غنیمت کار گڼل کېده، چې دومره خلک، مؤثر شخصیتونه یا جنجالي اشخاص پر یوه نازک تار وتړل شي او ولس یې له ازاره خلاص شي، که څه هم د اداري فساد په یوه ځنډه کې مصروف وي، خو بیا هم که له هرې خوا وارزول شي، د زیان په انډول یې گټه ډېره وه، ولسمشر د یوه ټېرپوه په توگه د دې درک درلود چې خپلو مشاورینو ته لسټونی ورکړي او خپل لاس ترې وژغوري او څه نا څه ترې په ځینو ځایونو کې مثبته گټه هم پورته کړي. دلته غواړو د ډېرو مطرحو او موثرو مشاورینو له جملې څخه ځینې درووپېژنو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱- سرمحقق زلمی هېوادمل:** سرمحقق زلمی هېوادمل اصلاً د لغمان ولایت د مرکز مربوط د (علیخېلو) له سیمې څخه دی. لومړنۍ زده‌کړې یې په لغمان کې او لوړې زده‌کړې یې د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د ژورنالېزم په څانگه کې تر سره کړي دي. د طالبانو د واکمنۍ پر مهال یې په پېښور کې په دري ژبې او ادبیاتو کې له پېښور پوهنتون څخه ماستري ترلاسه کړه. سرمحقق زلمی هېوادمل له هغې ورځې چې له



(سر محقق زلمی هېوادمل)

پوهنتون څخه فارغ شوی، بیا تر (۱۳۷۱ل) کال پورې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د غړي په توگه پاتې شوی او په پرله پسې او منظم ډول یې خپل علمي ترفیعات ترلاسه کړي او د (سرمحقق) علمي رتبې ته، چې په پوهنتون کې د (پوهاند) معادل گڼل کېږي، رسېدلی دی. کله چې پر کابل باندې پر (۱۳۷۱ ل) کال تنظیمواکي وتپل شوه او تنظیمي جنگونه پیل شول، نو زلمی هېوادمل، لکه د نورو زرگونو افغانانو په شان پېښور ته کډوال شو. هلته یې د (پروفیسور رسول امین) تر چتر لاندې ( د ازاد افغانستان د لیکوالو ټولنه) کې کار پیل کړ او د (وفا) اوونیزې د چلولو مسولیت ور په غاړه شو. د طالبانو د نظام په وروستیو کې له پېښوره جرمني ته کډوال شو او کله چې د طالبانو واکمني ختمه شوه، نو سرمحقق زلمی هېوادمل بېرته پېښور او بیا کابل ته راغی، لومړی یې د ډېرې لنډې مودې لپاره د موقتې ادارې پر مهال په پوهنې وزارت کې له پروفیسور رسول امین سره، چې دا مهال د یاد وزارت وزیر و، کار پیل کړ. خو بیا یې د ارگ دربار ته لاره پیدا کړه. د حامدکرزي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغه له پلار (عبدالاحدخان کرزي) سره يې پخوا هم روابط درلودل. سرمحقق زلمی هېوادمل هم په کډوالۍ کې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له سرسختو مینوالو څخه ګڼل کېده او عبدالاحد خان کرزی هم. له همدې کبله کله چې سرمحقق زلمي هېوادمل کوټې ته سفر کاوه، نو د عبدالاحدخان کرزي لیدو ته به ورته، له هغه سره به يې مرکې کولې او بیا به يې په (وفا) اخبار کې خپرولې. وفا اخبار په پښتو او دري ژبو چاپېده او د دواړو توازن يې لکه د ستنې د سپم په شان په کې مراعت کړی و. دا اوونیزه د مطالبو د څرنګوالي او څومره والي له پلوه د خپل ډول یوه بېسارې معیاري اوونیزه وه. مخکې تر دې چې سرمحقق زلمی هېوادمل د ارګ څلور دېوالۍ ته راداخل شي، دومره فرهنګي کار يې کړی و چې د هر چا په وس پوره نه و، تر (سل) عنوانو زیات يې خپل علمي، څېړنيز او ادبي اثار لیکلي او چاپ کړي وو او تر دوو سوو عنوانو زیات يې دنورو لیکوالو اثار ایډېټ او چاپ کړي وو، دا کار اسانه کار نه دی او د نړۍ په کچه يو ښه فرهنګي او کاري ریکارډ ګڼل کېږي. هغه له پیله په کمه تنخوا او ډېر کار بلد و او په يو تن يې د څو تنو کار کاوه، د واک و ځواک او پیسو راټولولو شوق يې هم نه درلود، د خپل مشر د فرمان وړلو روحیه يې هم پیاوړې وه، نو داسې يو وړیا مامور ته د هر سرکار او هر دربار ضرورت وي.

کله چې سرمحقق زلمی هېوادمل د کرزي دربار ته دننه شو، نو کرزی يې جذب کړ، سرمحقق زلمی هېوادمل د کرزي د فرهنګي او علمي چارو مشاور و، خو د ډېرو نورو برخو کارونه يې هم تر سره کول، کرزي ته پر ویناوو لیکلو سربېره يې ګڼ شمېر نور نارسمي مسولیتونه او کارونه هم پر غاړه واخیستل، کرزی صیب او هېوادمل صیب څکه يو بل ته غاړې وتل او غاړه غړۍ شول چې ډېرې مشترکې وجې يې درلودلې، یوه مشترکه وجه يې تر حده زیات احتیاط و. کرزی صیب تر هېوادمله او هېوادمل صیب تر کرزي ډېر زیات مضر مصلحتي او احتیاط کاري وو، سړی درته نه شي ویلای چې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دواړو کې به د کوم یو احتیاط ډېر وي او د کوم یو د جرئت کچه به زیاته او یا کمه وي. دا هم څوک نه شي ویلای چې کوم یو، یو بل زیات احتیاط ته هڅوي. خو یوه ورځ هېوادمل صیب وویل: ((د کرزي صیب د پاچاهۍ لومړي وختونه وو، ماته یې وویل، که فهیم خان همدا اوس وغواړي، نه به په ارگ کې ستا کورتۍ وي او نه به زما قره قولۍ.)) له دې څخه څرگندېدله چې کرزي د موقتې ادارې پر مهال هېڅ واک نه درلود، هر څه د شمالټلوالې په لاس کې وو او دی تش سمبول و، خو شمالټلوالې دی هغه سمبولیک رول ته هم نه پرېښوده، نو وروسته له هغې دېته اړ شو چې د ځان د حفاظت په خاطر امریکایي ساتونکي وگوماري. کرزي پخوا هم د شمالټلوالې په تېره بیا له فهیم سره، هغه وخت چې دی د برهان الدین رباني د جنجالي واکمنۍ پر مهال د بهرنیو چارو وزارت مرستیال و او فهیم د استخباراتو رییس و، سختې ورځې تېرې کړې وې، ویل کېږي چې د کرزي او فهیم د فزیکي ټکر له امله کرزی اړ شو چې کابل خوشې کړي او د حکمتیار د اسلامي حزب د اطلاعاتي څانگې د افرادو په مرسته له کابل څخه پښې سپکې کړي. دا خبرې هغه وخت څه ناڅه رسوا شوې، چې کرزي د موقتې ادارې پر مهال د شمالټلوالې په ستاینې او د اسلامي حزب په غندنې پسې خوله خلاصه کړه. هغه وخت د اسلامي حزب اړوند (شهادت) ورځپاڼې د حکمتیار په پلوۍ کرزي ته د پېغور په ژبه ولیکل: ((هغه وخت رایاد کړه چې د همدې اسلامي حزب د غړو په مرسته له کابل څخه وایستل شوې او د همدې اوسنۍ شمالټلوالې له منگولو وژغورل شوې...))**

**نو کرزي چې له شمالټلوالې سره داسې ترخه ماضي تېره کړې وه او هغوی تر غاښونو پورې وسلوال او دی په بشپړ ډول بې وسلې و، نو په داسې یو حالت کې به د ده او د ده د مشاور څه حال و!**

**په همدې خاطر خو سرمحقق زلمي هېوادمل په پوره احتیاط د کرزي خولې او کرزي بیا د حالاتو تقاضا ته کتل. سرمحقق زلمي هېوادمل پر همغه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ ورځ د خپل مېز پر سر ولیکل: ((سرمحق زلمی هېوادمل مشاور امور فرهنګی)) او وېزټ کارتونه یې هم په همدې ډول چاپ کړل. کېدی شي، د هېوادمل صیب به دا کار د زړه له کومي خوښ نه و، خو د زمانې جبر او سیاست دوی دېته اړ کړي وو. هغه مهال چې یو شمېر پښتنو فرهنګیانو د هېوادمل صیب دا حالت وکوت، نو په زړونو کې یې ګیله وکړه او ویې ویل د پښتو ژبې او ادبیاتو د یو پوهاند او خدمتګار چې دا حالت دی، نور نو پاتې څوک دي؟

تر دې دمخه نو ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل (په هند کې د پښتو ادبیاتو د ودې او ایجاد پړاوونه)) او ((پښتو نثر اته سوه کاله)) مهم کتابونه هم چاپ کړي وو. یو شمېر خلکو سره دا پوښتنه مطرح کېدله چې اته سوه کاله دمخه په دربار کې څه حال و؟ او اته سوه کاله وروسته څه حال دی؟ په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ودې پړاوونه څنګه وو او دلته په ارګ کې پښتو اوس له کومو پړاوونو تېرېږي؟ داسې او دېته ورته نورې ګڼې پوښتنې د سړي په ذهن کې تېرېدلې. که چا ګیلې کولې، که مانې، که نیوکې، ستاینې که غندنې، خو هېوادمل صیب پوره دیارلس کاله په ارګ کې له ولسمشر کرزي سره تېر کړل، سړې تودې، خوږې او ترخې یې ټولې وګاللې، په دې دیارلسو کلونو کې یې که څه هم لیکوالۍ ته زیان ورسېد، خو بیا یې هم له لیکلو لاس وا نه خیست، څو عنوانه ادبي اثار یې په همدې ارګ کې ولیکل چې تر اوسه لا چاپ شوي نه دي. دلته په ارګ کې د هېوادمل صیب زیات وخت د کرزي صیب د بیانیو پر لیکلو تېرېده، اکثره پښتو او دري ویناوې یې همده ورلیکلې، خو دري ویناوې یې ځینو نورو هم کتلې، ایډېټ کولې او نورو هم ورته لیکلې، لکه ډاکتر سپنتا، کریم خرم، دانش بختیاری او نورو د دري وینااوو په لیکلو کې برخه اخیسته.

سرمحقق هېوادمل تر بل هر مشاور او ان تر وزیرانو زیات صلاحیت درلود. تر هغه پورې به ولسمشر سره و، چې هغه یې په کور نه و سپارلی، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به یې مازیګر ځانګړي پلي ګرځېدو ته هم راوباله، هېوادمل پر ولسمشر کرزي ځکه ګران و، چې یو خو یې د پلار له وخته له هغه سره پېژندل او باور یې پرې درلود، بل هېوادمل صیب په یوه تن د څو تنو کارونه کول او هغه هم په وړیا ډول، بل یې د ولسمشر هېڅ خبره ځمکې ته نه غورځوله، هر څه چې هغه ویل ده تائیدول، د شمالټلوالې په تائید، بې ګناهۍ! او د لړکیو په نازولو کې هم د دواړو نظر یو شان و، نو داسې یو شخص څوک له لاسه ورکوي. سرمحقق زلمي هېوادمل سره داسې یو نظر و چې ناپښتانه هر څومره ونازول شي دا د ملي وحدت په ګټه کار دی، ان که د پښتنو د طبیعي حقوقو د نفې کېدو او یا د هغو د خفګان په بیه هم وي.

ده او ولسمشر کرزي سره د ملي وحدت خپل تعریف او تعبیر دی او نورو خلکو سره خپل. په همدې خاطر په تېرو دیارلسو کلونو کې چې د کمېسیونو، لویو جرګو او مشرانو جرګې لپاره کوم کسان په انتصابي ډول ټاکل کېدل، په هغو کې د اقلیتونو ونډه ډېره درنه او تر خپل طبیعي موجودیت څخه لوړه وه. بله نیمګړتیا بیا په دې کې دا وه چې کوم کسان به د پښتنو د استازۍ په نامه غوره کېدل، هغه به له یو پلوه ډېر کمزوري او له بل پلوه به یې له پښتنو سره رابطه غوڅه وه، ان پښتنو به ورته د کرکې په سترګه کتل. دا ډول اشخاص په تېرو (۱۳) کلونو کې د پښتنو په نامه پر پښتنو تحمیل شول. د قومي ریښې له پلوه به دا ډول اشخاص پښتانه وو، خو له سیاسي پلوه به یې اکثره په اسلامي جمعیت او د شمالټلوالې په نورو ګروپونو پورې تړلي وو. دې کار په پښتنو کې عام نفرت راوپاراوه. هم یې د هېوادمل محبوبیت په پښتنو کې کمزورۍ کړ او هم یې د کرزي، دې کې لا بل ظالمانه کار دا و چې چا به هم د دې فیصلې پر وړاندې سر پورته کړ، هغه به د متعصب، ژبپال او تفرقه اچوونکي په توګه معرفي کېده او ګواښېده به، خو هغوی چې اصلاً د قومي تفرقې سبب ګرځېدل، هغه به ملي شخصیتونه(!) ګڼل کېدل.

هېوادمل صیب دیارلس کاله همداسې تېر کړل، د ده په نظر ملي وحدت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هغه شان کار په کار و چې دوی غوښته، خو ډېر وروسته یې یوځل زما په مخکې اعتراف وکړ؛ چې کوم کارونه شوي، باید نه وای شوي، راته یې وویل: ((ما یو وخت کې ستاسو نظرونه ردول، خو اوس راته پته ولګېده، چې که ستاسو نظرونه تائید شوي وای، نو د دې خلکو (هدف یې شمالټلواله و) مخه نیول کېدی شوه.)) یو وخت د همدې ټلوالې د وسلوالو له خوا د مرنجان غونډۍ اکثره برخې غصب او بیا خرڅې شوې، ما هېوادمل صیب ته وویل چې حکومت ولې اقدام نه کوي. ده راته وویل: ((روکی جانه که رښتیا درته ووایم د حکومت پرې زور نه رسېږي.)) یو وخت مې ورته د ولسمشر د سیاستونو د نیمګړتیاوو په باب ګڼ شمېر دلایل وویل: ده راته وویل: ((دا ټول دلایل پرځای دي، خو که ته فکر کوې چې رییس صیب به د دې خلکو (شمالټلوالې) له ملاتړه لاس واخلي او مخالفت ته به یې راودانګي دا کار نه کوي، رییس صیب دا خلک نه خفه کوي او له هغوی څخه تېرېدونکی نه دی.))


هېوادمل صیب اساساً یو ښه لیکوال او څېړونکی دی، عاطفي شخص دی نظر دېته چې دی یو ښه سیاستوال وي. یوه ورځ یې خپله اعتراف وکړ: ((زه اداري او سیاسي سړی نه یم، که همدا اوس ماته یوه ولسوالۍ راکړي نو زه یې نه شم اداره کولای.)) هېوادمل صیب سره د ولسمشر ډېر رازونه دي، خو هغه ته ډېر وفادار دی، افشا به یې نه کړي، دی په لیکنو کې له خورا دقت څخه کار اخلي، داسې لیکنه به هېڅکله ونه کړي چې څوک ترې خوابدی شي، ان که دا ډول لیکنې د ټول هېواد به ګټه هم وي. دی له فساده لرې شخص دی، ډېر امکانات یې په لاس کې وو، خو ده ترې ګټه نه ده اوچته کړې، له لیکوالو سره یې څه ناڅه مرسته کړې، خو هغومره هم نه چې لیکوال ترې زیات خوشاله شي. ما سره یې په ډېر دقت د لغمان پوهنتون په جوړونه کې هلې ځلې وکړې او یو شمېر نور مثبت کارونه یې تر سره کړل، خو هغومره چې له ده څخه د فرهنګیانو او ولس هیله وه، هغومره یې دا هیلې پوره نه کړې، هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشاور وزیر په ارګ کې دومره صلاحیت نه درلود، لکه هېوادمل صیب چې درلود، خو د ده د صلاحیت او عملي خدمت تر منځ انډول د زیات احتیاط له امله د ده د ماموریت په ټوله موده کې تامین نه شو.

۲- اسدالله وفا: تر سرمحقق زلمي هېوادمل وروسته (اسدالله وفا) بل هغه مشاور وزیر دی، چې وخت ناوخته ولسمشر حامدکرزي ته لاسرسی لري. وفا له ولسمشر حامدکرزي سره پخوانۍ اشنایي، دوستي او له هغه سره د کورنۍ خپلولۍ اړیکي هم لري. اسدالله وفا د اڅکزو له مخورو شخصیتونو څخه ګڼل کېږي. د ولسمشر کرزي په حاکمیت کې یې په بېلابېلو برخو کې دنده اجرا کړې ده. د پکتیا، کونړ او هلمند د والي په حیث یې دندې اجرا کړي دي. په کونړ کې ترې خلک ښې خاطرې لري، خو د کونړ په انډول په هلمند او پکتیا کې ډېر بریالی نه برېښېده. اسدالله وفا د بېلابېلو کمېسیونونو د غړي په توګه هم دندې اجرا کړي دي. د حضرت صبغت الله مجددي په مشرۍ د شخړو د حل کمېسیون د غړي او



(اسد الله وفا)

مرستیال، د بېړنۍ لویې جرګې، د پاکستان او افغانستان تر منځ د امن د ګډې جرګې د غړي او همدارنګه د نورو موقتو او دایمي کمېسیونونو د غړي په توګه یې دنده تر سره کړې ده. اکثرو ځایونو کې چې به چېرته قومي شخړه او لانجه پیدا شوه، نو ولسمشر به اسدالله وفا د هئیت په ترکیب کې شامل کړ، وفا په دې برخه کې خپل خپل بریالیتوبونه لرلي دي. اوس دی ولسمشر کرزي ته د شکایتونو د ثبت او رسولو د کمېسیون مشر او د ولسمشر مشاور هم دی. د شکایتونو دفتر چې دا مهال د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ موقعیت لري، د هر چا پر مخ خلاص دی. وړو وړو شکایتونو ته ده خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان رسولی، د ټلېفون، مکتوب او نورو په ذریعه یې هڅه کړې چې د خلکو مشکل حل کړي، خو پر غټو مشکلاتو او مافیاوو د ده زور هم نه رسېږي، هغو ته اکثره په شفاهي کنځلو ځواب ورکوي: ((د دوی ارتینه، د دوی داسې دا بې ناموسان او دا....)) لنډه دا چې پر هغوی یې زور نه رسېږي. دا نیمګړتیا په کنځلو ځوابوي او په دې ډول هم خپل او هم د شاکي زړه تشوي. اسدالله وفا لکه د ځینو نورو محدودو کسانو په شان که ښه پوخ کنځل مار دی، ښه جرګه مار هم دی، خو د دې ترڅنګ ښه ډوډۍ مار هم دی. په کنځلو کې به تر عزیزالله واصفي او پخواني لوی څارنوال عبدالجبار ثابت څخه کم نه وي. همېشه داسې چاته کنځلې کوي چې تقریباً د کنځلو وړ وي، نو ځکه خو یې د ولاړو یا ناستو خلکو په منځ کې کنځلې پر چا ډېرې بدې نه لګي او دا د ولسي کلتور یوه برخه ګڼي. اسدالله وفا د یو سیاسي شخصیت په انډول تر ډېره حده ولسي شخصیت دی، د ولسمشر کرزي د دربار یو خصوصیت دا دی چې په دې دربار کې له غربه راغلو او غرب ځپلو اشخاصو، چې چا پوره، چا نیمه، چا نیمه نیمه او چا هم د زنې پر څوکه یو څاڅکی دوه څاڅکي ږیره پرې ایښې، ترڅنګ ولسي شخصیتونه هم ښکاره کېږي. یانې په دې دربار کې د ښار او کلي، شرق او غرب، ملا او طالب، مجاهد او ملي، منافق او صادق هر ډول کټګوریو استازي شخصیتونه تر سترګو کېږي. اسدالله وفا هم د ولسي شخصیتونو د یوه سمبول په توګه دې دربار کې محسوس دی. د هغه خبرې پر ولسمشر بدې نه لګي، ان د هغه په مخ کې هم د خولې تنابونه نه تړي، د ځینو خلکو مشکلات یې ولسمشر ته په مستقیم ډول ور رسولي او حل کړي یې هم دي. په کونړ ولایت کې د هغه مثبتو کارونو ته په پام سره داسې ګومان نه کېږي چې اسدالله وفا به په مالي فساد کې لاس ولري. خپله یې هم له پخوا څخه اقتصاد ښه و. د سلو کلو موږ په سلو کلو کې نه وږی کېږي. البته د هغه ساده او کلاسیکه حکومتوالي کېدی شي ځینو وختونو کې خپل خپل مشکلات ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسدالله وفا یو وخت د (خلک څه وایي؟) په نامه یوه اوونیزه، هم چاپوله چې اکثره د ده پر خپلو فعالیتونو راڅرخېدله، ځینې پښتو متلونه یې هم راټول او چاپ کړي دي، غوښتل یې یوه راډیو هم جوړه کړي، خو د ده د کلاسیک چلند له امله یې پر جوړولو بریالی نه شو. یوه ورځ یې ماته وویل: ((ته ونیسه درواخله په دې ټلوېزیون (ژوندون) کې مې شریک کړه!)) ما وویل شریک به دې کړم د نورو له جنجاله خو به مې خلاص کړې، خو د تا له جنجاله به مې څوک خلاص کړي؟ ده هم وخندل او د تائید سر یې وخوځوه. اسدالله وفا خورا ټوکمار، کنځل مار او ډوډۍ مار شخصیت دی. زړه یې پر افغانستان سوځي، خو د کار او مبارزې ډول یې دومره کلاسیک او دودیز دی چې د افغانستان د مخالفینو ډېرې خبرې هم په کنځلو ځوابوي.

اسدالله وفا د ګپ او مجلس سړی دی، له مجلسه یې سړی نه ستړی کېږي. خو پر مجلس یې ولسي رنګ ډېر غالب وي او د مستقیم بیان او ټوکو مالګه په کې زیاته وي. د ده په برکت ډېرې ګڼ شمېر ولسي شخړې اوارې شوي او د شخړو په حل کې تر ډېره حده بریالی ګڼل کېږي.

۳- تاج ایوبي: کله چې ډاکتر رنګین دادفر سپنتا د بهرنیو چارو وزیر او په بهرنیو چارو کې د سلاکار پوست خالي شو، نو ښاغلی (تاج ایوبي) یې پرځای مقرر شو، دی اصلاً د کندهار ولایت دی، له ولسمشر کرزي سره د خپلولۍ څه نری تار هم لري. خپله هم یو حلیم او د روند انسان دی او په یوه علمي او فرهنګي کورنۍ کې رالوی شوی، لوړې زده کړې یې په امریکا کې تر سره کړي او د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ په بهیر




(تاج ایوبي)

کې بېرته افغانستان ته راغی او دلته د ډاکتر سپنتا پرځای په بهرنیو چارو کې د ولسمشر سلاکار شو، خو لکه ځنګه چې هیله کېدله، دی به د کرزي په بهرنۍ پالیسۍ کې جوت بدلون راولي، هغسې ونه شو، ده لکه د ډاکتر سپنتا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شان ولسمشر ته لیدلوری او تگلوری نه شو ورکولای او یا یې هم نه غوښتل، خو د دې مجال ورته حاصل و چې وخت پر وخت له ولسمشر سره وگوري او هغه سره په بهرنیو سفرونو کې ملگرتیا وکړي، د ډېر نرم مزاج له مخې دا ډول شخصیتونه که هر څومره علمي بېز ولري، خو چې د خپل نظر او فکر د عملي کولو وس نه لري، په نشت حساب دي. په حکومت کې حکومت مخالفې ډلې که څه هم په پیل کې له دې ډول اشخاصو وېره احساسوله، خو چې کله پوه شول، دا ډول اشخاص یې گټو ته خطر نه دی، په نشت یې حساب کړل او د تبلیغاتو خوله یې ترې واړوله. یو وخت د بهرنیو چارو د سلاکار پوست دومره کم ارزښته او بیا وروسته دومره بې ارزښته شو چې چا فکر هم نه کاوه، چې په دې نامه هم کوم پوست شته او څوک په کې کار کوي که نه؟



(پوهاند نعمت الله شهراني)

**۴- پوهاند نعمت الله شهراني:** د طالبانو نظام تر سقوط وروسته چې په هېواد کې لنډمهالي، منځمهالي او انتخابي حکومتونه رامنځته شوي، نو ښاغلی نعمت الله شهراني په کې د دولت د مشر مرستیال، وزیر، د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون مشر او مشاور وزیر په توگه دنده اجرا کړې ده، خو ډېره دنده همدا د مشاوریت دوره ده. پوهاند شهراني که څه هم د سرمحقق زلمي هېوادمل په شان ولسمشر ته وخت پر وخت لاسرسی نه درلود، خو خبره یې هم بې وزنه او کموزنه نه وه، ولسمشر ورته ډېر ارزښت ورکاوه، خو نعمت الله شهراني تر یوه حده د خپلو ځینو شخصي گټو پر محور راڅرخېده، د هغه مشاوریت ساحه هم دیني چارې وې او دا داسې یو کار و چې ولسمشر پرته له هغې هم ورسره عیار و. نعمت الله شهراني د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشاوریت په بهیر کې پر دې بریالی شو چې په حاکمیت کې د خپلې کورنۍ پښې ټینگې کړي. زوی یې (وحیدالله شهراني) چې خپله هم د استعداد خاوند و، ولسمشر ته نږدې کړ، ولسمشر هغه د مالیې وزارت معین او خپل اقتصادي سلاکار وټاکه، بیا د تجارت او کانونو وزیر شو او ولسمشر ته تر ډېرو وزیرانو منلی او ښاغلی و. ویل کېږي چې نعمت الله شهراني د خپل مشاوریت په بهیر کې له خپل دریځه د خپل اقتصاد د غوړونې لپاره ډېره ونه کړه. د ولسمشر کرزي کابینه کېدی شي لومړنۍ کابینه وي چې پلار او زوی یې دواړه د وزیر او مشاور، مشاور او وزیر او هم دواړو په بڼه په کې حضور ولري.

یو شمېر نورو مشاورینو هم ولسمشر ته لاسرسی درلود، خو د دې بحث د زیات اوږدوالي په خاطر د هغو له تشریح څخه تېرېږم او اوس د دې بحث لړۍ په ارگ او سیاست کې نورو مطرحو شخصیتونو ته غځوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په سیاست او ارگ کې نور مطرح شخصیتونه

پر تېرو یادو شخصیتونو سربېره په هېواد کې ځینې نور داسې موثر شخصیتونه هم وو، چې د ارگ په محدوده کې یې دفتر و دېوان نه درلودل، خو د هېواد په سیاست کې یې خپل اغېز درلود او هم یې د ارگ پر چارو خپل تاثیر. په دې ډله اشخاصو کې ځینې داسې شخصیتونه هم وو، چې په سیاست کې یې له ولسمشر پرته تر نورو ټولو چارواکو زیات واک و ځواک درلود. د ځینو یې ان پر ولسمشر کرزي هم لاس بر و او څه چې هغوی غوښتل، ولسمشر هغه منل. دې ډول اشخاصو د حکومت او دولت پر بېلابېلو څوکیو کار کاوه، خو د ارگ تر محدودې بهر او یا هم له ارگ سره په ارتباط کې یې دندې سرته رسولې.

د دې ډول موثرو اشخاصو شمېر زیات و، خو دلته به یې د هغو ټولو له جملې څخه د ځینو مهمو اشخاصو لنډه یادونه او شننه وکړو:

۱- محمد قسیم فهیم: د طالبانو نظام تر ړنگېدو وروسته د افغانستان په حکومت او سیاست کې تر ټولو مطرح او اغېزمنه څېره ښاغلی (محمد قسیم فهیم) دی. ده د موقتې او لنډ مهالې اداري پر مهال د یادو ادارو د مشر مرستیال او د دفاع د وزیر په توگه دنده اجرا کړې ده. د دفاع وزارت پر مهال یې په وچ زور له ښاغلي کرزي څخه د ((مارشالۍ)) پوځي رتبه ترلاسه کړه. که څه هم د ولسمشر کرزي خوښه نه وه، خو زور یې هم نه رسېده؛ ښاغلي فهیم په دفاع وزارت کې گڼ شمېر کارونه بند کړي وو او هم یې د څو سوو ملیونو ډالرو د مرسته شویو پیسو حساب و کتاب ته غاړه نه ایښوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي فهیم، کرزي ته ویلي وو، د استاد رباني د حکومت د بیرغ پرځای مو چې پخوانی درې رنګه (تور، سور او زرغون) بیرغ درسره ومانه، همدارنګه مو ستا ځینې نورې خبرې ومنلې او دا مو هم ومنله چې ته دې د موقتې او انتقالي ادارې په راس کې راشې، نو زما د (مارشالۍ) رتبه به هم منې، د دې رتبې تر شا د محمد قسیم فهیم شخصي غریزه او همدارنګه تاریخي او سیاسي انګېزې ټولې پرتې وې. محمد قسیم فهیم خان ((د کابل فاتح)) باله او یا هم لږ تر لږه ورسره ملګرو یې په ده کې دا روحیه کېنوله. له تاریخي پلوه دوی د اعلیحضرت



(محمد قسیم فهیم)

محمد نادرخان دورې ته اشاره کوله چې هغه او ورونو یې د (سقاو زوی) مات کړ او (شاه ولي خان) ته (د مارشالۍ) رتبه ورکړل شوه، نو دا ځل خو د دوی نوبت دی، ځکه چې دوی (د دوی په نظر) طالبان مات کړي چې اکثره له جنوب او جنوب غرب څخه وو، دا چې د دې او هغې بریا تر منځ څومره قرینه او ورتوالی موجود دی، دا خو اکثرو هېوادوالو ته پته ده، چې د همدې فهیم خان په مشرۍ د سپتمبر تر یوولسمې نېټې دمخه د اسلامي جمعیت مشران دې ته حاضر شوي وو چې یوازې د سر په تضمین طالبانو ته ورتسلیم شي، دا چې د سپتمبر د یوولسمې نېټې پېښه وشوه، شمالټلوالې کې یو ځل بیا نوی روح وغوړېده او بیا کابل ته تر داخلېدو پورې، د امریکایي الوتکو تر وزرونو لاندې راغلل، پر دې اکثره افغانان پوهېږي. خو دوی بیا هم هغې تاریخي پېښې سره د تشابه له امله په اصطلاح تاریخي غچ اخیسته او ځان یې په عسکرۍ پوړیو کې له هغه وخت سره اندولاوه. دا په داسې حال کې وه چې کله هم فهیم خان د (مارشالۍ) رتبه اخیستله، په ټول هېواد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوځ دوه منظم غونډونه او ان کنډکونه موجود نه وو. خو ده د مارشالۍ رتبه غوښتله، هغه وخت هم خلکو داسې تبصرې کولې چې د دنيا په تاريخ کې دا لومړی ځل دی چې د يوې مدرسې فارغ ته دې د (مارشالۍ) رتبه ورکول کېږي. خلکو به دا هم ويل: ((مارشال خو هغه چاته ويل کېږي چې څلور پنځه هېوادونه يې فتح کړي وي او هلته يې عسکر پراته وي، دلته خو د څلوېښتو هېوادونو عسکر راغلي او دا ځای يې نيولی، نو دلته مارشال څه مانا؟)). د ولس دا منطق يو وخت د ولس استازو ته هم لاره وکړه، کله چې پاکستاني پوځيانو پر کونړ ولايت توغندي توغول، نو ټولو پر ولسمشر کرزي انتقاد کاوه چې ولې يې مخه نه نيسي، خو فهيم خان چې دا وخت د کرزي مرستيال هم و او ((مارشال)) هم و، هېڅ چا يې نوم نه اخيسته، په پای کې په ولسي جرگه کې د ننگرهار د خلکو استازې (ارين يون) د کنايې په ډول وويل: ((د پاکستان توغنديو ته ځکه تشويش مه کوئ، چې موږ د خدای فضل دی مارشال لرو او مارشال خو همغه چاته ويل کېږي چې څلور پنځه هېوادونه يې فتح کړي وي، اوس به مارشال مخکې وي او ولس به ورپسې وي، څو ورځو کې به پاکستان نيسو...)) دې کنايې (تمسخر) د مارشال غوړه مالان سخت پيکه او غوصه کړل او ولسي جرگه کې خبره اخ و ډب ته ورسېده. خير دا چې ښاغلی محمد قسيم فهيم د مارشالۍ مستحق و که نه، دا قضاوت به تاريخ کوي، خو په عمل کې محمدقسيم فهيم داسې يو شخص و چې د دولتي واک زياته برخه يې په لاس کې وه، له چېراسي نيولې تر وزيره پورې او تر هغو هم پورته تر ولسمشره پورې يې د ټولو کارونو کې مداخله کوله. قانون ورته د توت په شان ارزښت هم نه لاره، قانون يې د ((جهاد)) او ((مقاومت)) په پلمه داسې څنډې ته کړی و، چې قانوني خلکو هم سوړ نه شو کولای.

فهيم خان د خپلې واکمنۍ په ټول بهير کې پوره او ازاد لاس درلود، د (شېر پور) د تاريخي سيمې ځمکې اکثره د ده په حکمووېشل شوې، لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې خپل ځان، کورنۍ، خپلوانو بیا سیمه والو، بیا خپلو تنظیمیانو او پاتې نورې یې داسې اشخاصو ته ورکړې چې په یو نه یو ډول یې ده سره اړیکي درلودل او یا هم دوی ته موثر اشخاص وو.

د شېرپور د ځمکې وېش یو عجیب داستان لري، ښاغلي فهیم ته د هغه وخت ښاروال (انورخان جګدلک) او مرستیال یې ښاغلي (اصغري) ځمکه ورکړې او بیا نور ټول حکمونه ده خپله ورکړي. خپلې لور ته یې هم لیکلي: ((چې په کابل کې سرپناه نه لري. نو ځکه دې ورته په وزیراکبرخان مېنه کې یوه نومره ځمکه ورکړل شي.))

څرنګه چې ده د (شېرپور) نومرو پیل له خپل ځانه، خپلو اولادونو، ورونو او بیا خپلوانو څخه وکړ، نو خپلو ورونو ته د اکثرو توزیع شویو نومرو په فورمونو کې یې ډېر تفصیلات په دې خاطر نه دی لیکلي چې څوک پوه نه شي. ښه به وي چې دلته د بېلګې په توګه څو هغه کسان، د هغوی له خوا ډکې شوې فورمې، د ښاروالۍ پروسیجر او هغه حکمونه راوړو چې د ښاغلي قسیم فهیم له خوا ورته په شېرپور کې نومرې ورکړل شوي دي، له ښاغلي فهیم خان سره به د دوی قرابت هم په ډاګه شي، د حکمونو له املا او انشا، سلیقې، عجلې او نورو جزئیاتو څخه به هم خلک خبر شي چې د شېرپور د نومرو په وېش کې څه پېښ شوي، چا کړي او څنګه یې کړي دي؟؟

ښه به وي چې دلته د شېرپور سیمې د نومرو د وېش د بهیر تر څرنګوالي دمخه د هغو په باب لنډه تبصره هم ولرو.

د شېر پور سیمه چې پوځي تاسیسات په کې جوړ وو، د افغانستان له مهمو تاریخي او ویاړمنو ځایونو څخه ګڼل کېدله، ویل کېږي چې د انګرېزي لښکرو مشر (مکناټن) همدلته د افغان لښکرو د مشر (وزیرمحمد اکبرخان) له خوا وژل شوی دی. لسیزې لسیزې دلته د افغان پوځونو تاسیسات وو، خو د ((مارشال)) محمد قسیم فهیم په امر دا تاسیسات ړنګ شول. ترڅنګ یې د د ولسي وګړو په لسګونو کورونه وو، چې د هغو د ړنګولو امر هم ورکړ شو. له

(c) ketabton.com: The Digital Library





شېرپور څخه درې سوه (۳۰۰) څلور بسوه یې نومرې جوړې شوې چې مجموعي مساحت یې یو سل او شل زره (۱۲۰۰۰۰) متر مربع یانې (۶۰) جریبو ته رسېده. د شېرپور د ځمکې تر وېش وروسته د (۱۳۸۲ل) کال د سنبلې پر (۱۳)مه نېټه په داسې حال کې چې علي‌احمدجلالي د کورنیو چارو وزیر و، د کابل امنیې قومندان (بصیر سالنګي) پر دې سیمې یرغل وکړ او د ولسي وګړو یا ځایي خلکو (۳۰) کورونه یې پر یوه ورځ ړنګ کړل. فهیم خان او د هغه ډلې دا ځمکې اکثره خپلو خپلوانو او نورو لوړ رتبه دولتي مقاماتو ته په وچ زور ووېشلې، دلته غواړو د هغو افرادو په باب هم لنډ لنډ معلومات وړاندې کړو چې دا ځمکه ورته وېشل شوې او تر موږه یې د ځمکې د وېش سندونه رارسېدلي دي.

ښاغلی قدم شاه د جمعیت یو قومندان او بیا د طالبانو نظام تر سقوط وروسته د دفاع وزارت اړوند د جمهوري ریاست د ګارد قطعې یو قومندان دی. قدم شاه له ښاغلي فهیم سره د تنظیمي اړیکو له امله د وزیراکبرخان مېنې په شېرپور سیمه کې د یوې نومرې ځمکې مستحق ګڼل شوی دی. څرنګه چې قدم شاه له بدخشان ولایت څخه دی، کېدی شي په کابل کې کور، ونه لري او یا یې ولري، خو د دې نومرې په وېش کې تر ټولو لومړی مهم لامل همغه تنظیمي او قومي عنصر دی. که ښاغلی قدم شاه د اسلامي جمعیت غړی نه وای او له فهیم خان سره یې قومي او سیاسي اړیکي نه درلودلای، نو هېڅکله به دلته د نومرې مستحق نه وای ګڼل شوی. ښاغلي قدم شاه ته د توزیع شوې نومرې له املا او انشا څخه د هغه وخت د حکامو سلیقه او د دولتولۍ تجربه ډېره ښه څرګندېږي. دا اسناد په خپله وګورئ! څومره په چټکۍ څومره په بیړه لیکل شوي لکه څوک چې د مقابل طرف جبهه فتحه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library







**پورتنی حکم د ښاروالۍ د اړوند چارواکو دی، چې په ډېرې چټکۍ سره د خپلو پورته امرینو واک او امر عملي کوي، ورته لاسلیکونه د نورو ښاغلو په پاڼو کې هم لیدل کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهر کابل    به حساب رایگان

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره و نمبر جلد | وظیفه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | درکی قدم شاه | حاجی علاء [illegible] | [illegible] | 64425 ص 2014 943885 54/6/5 | قرار اندراج | ۱۳۴۸ | [illegible] | کابل |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متاهل یکجا میل هستید | متاهل هستم [illegible] چهار فرزند [illegible] |
| ۳ | سابقه درخواست ونمبر ثبت در شاروالی کابل | ندارم |
| ۴ | مدت سکونت شهر کابل وعلت آن | به مدت ده سال بعد از سقوط کابل [illegible] |

تعهد درخواست دهنده:


اینجانب ( درکی قدم شاه ) ولد حاجی علاء [illegible] متعهد میباشم.

بنام خود همسر وفرزندان تا با لفعل در ساحه شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم ... در فوق تحریر نموده ام اگر ... گردید بر علاوه ... از استحقاق زمین محروم میباشم.


( محل امضاء درخواست دهنده )

(c) ketabton.com: The Digital Library




اداره

پورتنی فورم چې ګوریئ (فعلاً خانه ندارد) په یو قلم لیکل شوی او د ټولو ناحیو مسولینو تصدیق کړی، همدا لیک په نورو فورمونو کې هم تقریباً په ورته بڼه لیدل کېږي.



۲۱۲۸۴

د کابل ښاروالــــــی

د ( سیستم ) ریاست

د ( ) مدیریت

د ( ) څانګه

۸۱ / ۸ / ۱۱

بریاست محترم ناحیه (

ښاغلی ( حاجی قدم شاه ) ولد ( عبدالمعروف ) به اساس مکتوب (۱۲۰۲۹) مورخه ۷ ر ۸ ر ۱۳۸۱ امدیریت توزیع زمین مستحق زمین واقع پروژه (خته) به مساحت ( ۴۸۴ ) متر مربع شناخته شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس امر تحصیل (۴۴۹۴) مورخه ۸ ر ۸ ر ۱۳۸۱ اقرار اویز ۲۰ ۹ ر ۸ ر ۱۳۸۱ مبلغ (۳۸۴۴۲۸۰۰) افغانی بخزانه ښاروالی کابل تحویل نموده که بروی آن به صفحه (۵۴) جلد اول دفتر اساس زمین نمبرفوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه خویش اجراات اصولی را مرعی دارید. با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی – بمدیریت توزیع زمین.

" – " صدور نقشه.


دا خو د ښاغلي قدم شاه د استحقاق څرنګوالی و. اوس راځو نورو ښاغلو او نورو مستحقینو ته!

حاجي کاتب چې د فهیم خان له نږدې خپلوانو څخه دی، هغه هم په کابل کې د استوګنځي د نشتوالي له امله د یوې نومرې ځمکې مستحق ګڼل شوی دی. کابل ښاروالۍ هم د هغه بې سرپنایي تائید کړې، نو ځکه خو په


(c) ketabton.com: The Digital Library




شېرپور کې د یوې نومرې ځمکې مستحق ګڼل شوی دی. عجیبه خبره خو دا ده چې دا ټول مظلومین او بې کوره خلک(!) بیا په شېرپور کې د ځمکې مستحق ګڼل کېږي. نه یوازې حاجي کاتب د حاجي شمشېر زوی او د تاج محمد لمسی د یوې نومرې ځمکې مستحق ګڼل شوی، بلکې تاج محمد د حاجي شمشېر زوی او د تاج محمد لمسی او همدغه راز په خپله حاجي شمشېر د تاج محمد زوی او د عطامحمد لمسی هم په مستحقینو کې حساب شوي دي. حاجي صیب کاتب ته چې کوم حکم ورکړل شوی هغه نه په چاپي غوښتنلیک کې دی، نه هم په رسمي، بلکې د یادښت د کتابچې په یوه پاڼه کې دی. له دې حکم څخه په ځرګند ډول د وخت د ښاغلو د دولتولۍ سلیقه او عجله ښکاره کېږي.




د پورته حکم پر بنسټ حاجي صاحب کاتب د ځمکې مستحق ګڼل شوی دی.





دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهر کابل

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن وسابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | ۱۳۸۱ | [illegible] | [illegible] |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متکفل یکتا مین هستید | [illegible] |
| ۳ | سابقه درخواست ونمر ثبت در شاروالی کابل | [illegible] |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | [illegible] |

تعهد درخواست دهنده

اینجانب ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) تعهد میسپارم .

باسم خود وهمسر فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردیده بر علاوه با زپرس قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم .

(محل امضاء درخواست دهنده)


تصدیق نسوات س شــمر کابل

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | [illegible] | ۹ | [illegible] |
| ۲ | [illegible] | ۱۰ | [illegible] |
| ۳ | [illegible] | ۱۱ | [illegible] |
| ٤ | [illegible] | ۱۲ | [illegible] |
| ٥ | [illegible] | ۱۳ | |
| ٦ | [illegible] | ۱٤ | |
| ۷ | [illegible] | ۱٥ | [illegible] |
| ۸ | [illegible] | ۱٦ | [illegible] |

بمعلومات دقیق وهمه جانبه تصدیق ... بعنوا قبت مکروبانها با درک مسئولیت اینست

نظار — اداره

| | |
|---|---|
| فیصله | زمین ... ۱۱۳۰ ... کاتب ... [illegible] |
| کمیسیون | |



١١٠١

ښاروالی کابل

ریاست عمومی عواید ٨/١٠/٢٢

مدیریت عمومی دارائی

بریاست محترم ملیتها !

بجواب مکتوب ع $\frac{٣٠٧٦٠}{٨١/٧/٢٣}$ مدیریت تحصیل عواید املاکین

شما است محترم (حاجی کاتب) ولد (شمشیر خان) قرار صورت حساب

ع واویز ع $\frac{٣٦}{٨١/٧/٢١}$ مبلغ (/٤٨٧٨٧٢٠٠)

افغانی قیمت زمین ( ١١٢٠ ) واقع پروژه (عزیز ارسلان)

را بحساب [illegible] عواید ښاروالی کابل در شعری خانگی پنجم

د افغانستان بانک تحویل نموده از صورت تحویلی پول موصوف بشما

اطمینان داده شد.

با احترام

رئیس عمومی عواید


د حاجي صیب کاتب په فورمه کې هم د ښاروالۍ ټولو ناحیو په یوه خوله او یوه قلم لیکلي چې ((فعلاً خانه ندارد)) نو ځکه خو په شېرپور کې د یوې نومرې ځمکې مستحق ګڼل شوی دی.

دلته بیا یو بل حکم دی چې ښاغلي فهیم خان پنځو تنو ته د کتابچې په یوه پاڼه کې د پنځو نومرو د ځمکې د وېش امر ورکړی دی. د حکم لپاره چې کوم متن لیکل شوی هغه هم د لوړ او عالي کلتور(!) څرګندونه کوي، هر څه په دومره عاجله بڼه لیکل شوي چې فکر کېږي په جګړه کې د غنیمت مال وېشل کېږي. یوه نومره حاجي شمشېر د تاج محمد زوی ته وېشل شوې او بله بیا تاج محمد د حاجي شمشېر زوی ته، سړی نه پوهېږي چې دا څنګه تصادف دی او یو بل سره څه قرابت لري، خو د فورمې له متن څخه ښکاري چې کاتب او تاج محمد دواړه د حاجي شمشېر زامن دي او دواړه د دې فورمو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخې ورونه گنل کېږي یانې ورونه او پلار ټول په کابل کې د سرپناه له نشتوالي کړېدل، دا چې د حاجي شمشېر په عرضپانه کې پنځو تنو ته یوه یوه نومره ځمکه ورکړل شوې، د دې اسناد اوس موږ سره نه شته چې هغوی له حاجي شمشېر سره څه قرابت لري، خو حاجي کاتب او ډاکتر تاج محمد ته په جلا جلا پاڼو کې حکم ورکړل شوی دی. خو کومه خبره چې واضح ده، هغه دا ده چې دلته اکثره نومرې فامیلوار وېشل شوې دي، د یونس قانوني صیب ، حاجي کاتب او دېته ورته د نورو کورنیو نور گڼ مثالونه هم شته چې وروسته به ورته اشاره وکړو. د دې اسنادو په پای کې به په ټولیز ډول هغو اشخاصو ته هم اشاره وکړو چې یو بل سره کورني اړیکي لري، یانې هم به له فامیلي، هم به له دولتي پلوه او هم به له سمتي او تنظیمي پلوه د ځمکو د وېش څرنگوالي ته نغوته وکړو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



[illegible] بناریوالی

د ( ) ریاست

د ( [illegible] ) لمدیریت

د ( [illegible] ) ځانګه

ریاست محترم ناحیه [illegible]

بنا غلی ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) به اساس

مکتوب ( ٥٨١ ) [illegible] ١٣٨ مدیریت توزیع زمین مستحق [illegible]

زمین [illegible] ( [illegible] ) به مساحت ( ٦١٦ ) متر مربع شناخته

شده بود نا بیرون، قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس

امر تحویل ( ٨٠ ) مورخه [illegible] ١٣٨٢ قرارا ویزه [illegible]

[illegible] مبلغ ( [illegible] ٩٢٨٠ ) افغانی بخزانه بناروالی کابل

تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( [illegible] ) جلد ( [illegible] ) اساس

زمین نمبر فرق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردیده در حصه

تخریش اجراآت اصولی را مرعی دارید. [illegible]

[illegible]

رئیس عمومی ملکیت ها

[illegible]

کاپی – بمدیریت توزیع زمین.

کاپی – بمدیریت توزیع زمین.

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان

ښاروالی کابل

ریاست عالی ملکیت ها

فورمه ثبت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهری کابل

قیمت فی ورق (۱۰) افغانی

هویت درخواست دهنده

| نمبر | شهرت: اسم | ولد | ولدیت | نمبر تذکره صفه جلد | وظیفه ومحل ان | سن و سابق کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حاجی شمشیر | تاج محمد | [illegible] | | زمیندار | ۵۶ ساله | پروان | کابل |
| ۲ | متاهل یا متکفل یا تاهل هستید | شامل | | | | | | |
| ۳ | سابقه درخواست ونمر ثبت در ښاروالی کابل | ندارم | | | | | | |
| ۴ | مدت سکونت درشهر کابل و علت ان | ۲۸ سال | | | | | | |

تعهد درخواست دهنده !

اینجانب (حاجی شمشیر ) ولد (تاج محمد خان) تعهد میسپارم .
باسم خود و همسر فرزندان نابالغخویش درنواحی شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف انچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردیده برعلاوه بازپرس قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم .

(محل امضاء درخواست دهنده )

ذیحق به حاجی شمشیر ولد تاج محمد [illegible] ۱۳۸۲ [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصدیق نواحی شهر کابل

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | [illegible] | ۹ | [illegible] |
| ۲ | [illegible] | ۱۰ | [illegible] |
| ۳ | [illegible] | ۱۱ | [illegible] |
| ٤ | [illegible] | ۱۲ | [illegible] |
| ٥ | [illegible] | ۱۳ | |
| ٦ | [illegible] | ۱٤ | |
| ۷ | [illegible] | ۱٥ | [illegible] |
| ۸ | [illegible] | ۱٦ | [illegible] |
| معلومات دقیق وهمه جانبه تدوین ومراقبت مذکور را نشا با دراک مسئولیت اینده | | | [illegible] |
| نظار | اداره | | |
| فیصله | [illegible] ۱۱۳۳ [illegible] | | |
| کمیسیون | [illegible] | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



برادر گرام جناب شاه نواز صاحب – ۷ میزان ۱۳۶۸

در [illegible] بابا محمد [illegible] سرپرست [illegible] در مورد [illegible] زمین [illegible] در [illegible] اقدام کنند.

[illegible]

۱۳۶۸/۷/۱۲


حسین جان صاحب ملکیت ها
با درنظرداشت هدایت مقام دولت
اقدام نمایند

۱۳۶۸/۷/۱۵

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library







دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت‌ها

فورمه متقاضیان استحقاق زمین پروژه‌های شهر کابل ... اسناد را یکجا ... ن

هویت درخواست کننده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره و صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حاجی محمد | [illegible] | [illegible] | | [illegible] | ۳۸ سال [illegible] | [illegible] | ۱۹۵ [illegible] |

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | متاهل یا متکفل یکتا میل هستید | [illegible] |
| ۲ | سابقه درخواست و تجربه در شاروالی کابل | [illegible] |
| ۳ | مدت سکونت در شهر کابل و علت آن | ۸ سال [illegible] |

تعهد درخواست دهنده:


اینجانب (حاجی محمد ... [illegible]) تعهد میسپارم.

باسم خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده‌ام ثابت گردد مستوجب مجازات قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم.

(محل امضای درخواست دهنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library




فیصله

کمیسیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۱۱۹ — د کابل ښاروالــــــــی

د ( ملکیت ) ریاست

د ( ) مدیریت

د ( محمد کریم ) آمانکه

۸۱/۲/۲۰

بریاست محترم ناحیه ۸

ښاغلی ( حاجی محمد ) ولد ( حاجی شمشیر خان ) به اساس —

مکتوب (۳۶۳) ۲۱/۸/۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق

شناخته (۶۱۶) مترمربع به مساحت ( عزیز اکبر خان ) ناحیه ( ) راجع به زون

شناخته ( ۱۱۳ ) شده بر نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس

تعرفه ( ۱۹۵ ) مورخ ۸/۸/۸۱ قرار ا ویز عــــم

۲۰/۸/۸۱ مبلغ ( ۲۸۷۸۷۲۰ ) افغانی بحساب ښاروالی کابل

تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( ) جلد ( ) دفتر اساس

زمین نمبر فوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید که حصه

خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید. • با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها


کاپی — بمدیریت توزیع زمین •


— — بصدور رسید •

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی کرام الدین خان هم په کابل کې سرپناه نه لري، نو ځکه خو په شېرپور کې د یوې نومرې ځمکې استحقاق ورکړل شوی دی. ټول حکمونه په خورا عالي املا او انشا لیکل شوي، له سکرتره نیولې تر ((مارشاله))، له عارضه تر حاکمه ټول د سواد له کومې کچې برخمن دي!





دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها

بحساب الاینکان

فورمه ... متقاضیان زمین سوژه های شهر کابل

هویت درخواست دهنده

| سکونت فعلی | سکونت اصلی | سن وسابقه کار | وظیفه و محل آن | نمبر تذکره نمبر جلد | شهرت: اسم | شهرت: ولد | شهرت: پدرکلان | شماره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| کابل | پروان | | رئیس وزارت دفاع | D002106 | اکرام الدین | محمد کریم | محمد ابراهیم | ۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متکفل یکنامیل هستید. | متاهل است |
| ۳ | سابقه درخواست ونمبرثبت در شاروالی کابل - | ندارد |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل و علت آن | مدت سی سال |

تعهد درخواست دهنده:


اینجانب (اکرام الدین) ولد (محمد کریم) تعهد میسپارم.


باسم خود همسر وفرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که درفوق تحریر نموده ام ظاهر گردید بعلاوه جزای قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم.

(محل امضاء درخواست دهنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library






دهٔ بـل بنـا روالـــــــي
د ( ) رياست
د ( ) لمديريت
د ( ) ثانه

بریاست محترم نا حیه

بنا غلی ( ) ولد ( ) به اساس ـ
مکتوب ( ) مدیریت توزیع زمیـن مستحـق
زمین وا قع بدور ( ) به مساحت ( ) متر مربع شناخته
شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس
امر تحصیل ( ) مورخه ( ) قرار اویزعـــــ
( ) مبلغ ( ) افغانی بخزانه بنا روالی کا بـل
تحویل نموده که بروبت آن به صفحه ( ) جلد ( ) نمبر اساس
زمین نمبر فوق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه
خویش اجراآت اصولی را مرعی دا ریـد • با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی ـ بمدیریت توزیع زمین •
لا ـ لا صدورفته •

حاجي فريد چې د پنجشېر اوسېدونکی دی، هم د سرپناه له مشکل سره مخ دی، ده هم همغه مراحل بشپړ کړي چې نورو دېته ورته بې سرپناه اشخاصو طی کړي دي. حاجي فريد بيا په اصطلاح کمېسيون ته هم اړتيا نه ده پيدا کړې او د کمېسيون له تائيد پرته د ځمکې مستحق گڼل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو الله

ښاروالی کابل.

در ساحه وزیر اکبرخان یک نمره زمین رهایشی بدون کمیسیون برای فرید الله

توزیع کنید.

مارشال فهیم

معاون اول ریاست جمهوری و

وزیر دفاع ملی دولت اسلامی افغانستان

۸۱/۱۱/۲۵

۸۱/۴/۲

مقام محترم

نظر به حکم مارشال صاحب

اجرا نماید

کمیته

[illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان

ښاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهر کابل

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن وسابق کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حاجی [illegible] | محمد [illegible] | [illegible] | 533604 [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | کابل [illegible] |
| ۲ | متاهل یا متکفل یکفا مین هستید | | | | [illegible] | | | |
| ۳ | سابقه درخواست ونمر ثبت در ښاروالی کابل | | | | ۲۶۲ ۱/۸/۲۵ | | | |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | | | | [illegible] | | | |

تعهد درخواست دهنده :-


اینجانب ( حاجی [illegible] ) ولد ( محمد [illegible] ) تعهد میسپارم .

باسم خود وهمسر وفرزندان نابالغ خویش درنواحی شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که درفوق تحریر نموده ام ظاهر گردیده بر علاوه یا زیر بی قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم .

(محل امضاء درخواست دهنده)


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل ښاروالـــــــی
د ( ) ریاست
د ( ) مدیریت
د ( ) نانکه

بریاست محترم ناحیه

شاغلی ( ) ولد ( ) به ا سا -
مکتوب ( ) مدیریت توزیع زمین مستحق
زمین به مساحت ( ) متر مربع شناخته
شده برده نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به
امر تحصیل ( ) مورخه قرار ا ویز
مبلغ انتخاب
تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( ) جلد
زمین نمبر فوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید در
خویش اجراات اصولی را مرعی دارید. با احترام


رئیس عمومی ملک

کاپی - بمدیریت توزیع زمین.
" - " صدور نقشه.

جلندر خان چې د پنجشېر اوسېدونکی او د نظار شورا یو قومندان دی، په بابه جلندر هم مشهور دی، دی هم په کابل کې د سرپناه له جدي مشکل سره مخ دی، نو ځکه خو باید په شېرپور کې د سرپناه خاوند شي. فهیم خان یې دا مشکل په پام کې نیولی او ورحل کړی یې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





شاروالی کابل!

۲۷
۱۳۸۲/۱۰/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهر کابل

هویت درخواست دهنده

| شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن وسابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جلندر | محمد علی | جلندر | ۱۱۶۲۰۵۶ | قوماندان لوا | شصت و چهار ساله ۱۳۷۴ قوماندان جهاد | حصه بازارک پنجشیر | وزیر محمد اکبر خان |

| | |
|---|---|
| متأهل یا متکفل یکنفا میباشید | متأهل دارای هفت فرزند میباشم |
| آیا قبلاً نمره زمین و نمره ثبت در شاروالی کابل دارید | ندارم |
| مدت اقامت در شهر کابل و علت آن | مدت هفت سال میشود |

تصدیق درخواست دهنده:


اینجانب ( جلندر ) ولد ( محمد علی ) تعهد میسپارم.

اینکه خود و همسر و فرزندانم بلااستثنا در تمام ساحات شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی ندارم در صورتیکه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردد بر علاوه باز پرس قانونی از حق نمره محروم میباشم.

( محل امضای درخواست دهنده )


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library




دکابل ښاروالۍ
د ( ) ریاست
د ( تحقیق عمومی ) لمدیریت
د ( ) څانګه

بریاست محترم ناحیه

بنا غوښتنه ( ) ولد ( ) به اساس
مکتوب ( ۴۱۵ ) مدیریت توزیع زمین
زمین ( ) به مساحت ( ۴۶۲ ) مترمربع شناخته
شده ... قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس
امر تحصیل ( ۳۹ ) مورخه ... قرارا ویزه
... مبلغ ( ۳۶۹۶ ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل
تحویل ... به صفحه ( ) جلد ( ) دفتر اساس
زمین ... بنام شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه
خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید. با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی — بمدیریت توزیع زمین.

جنرال بابه جان چې د ډاکټرنجیب الله د حکومت یو قوماندان و، د نظار شورا له مشر قوماندان (احمدشاه مسعود) سره د قومي اړیکو له امله، فهیم خان او نورو ته هم ډېر منلی دی او په اوسني حکومت کې هم د شان او شوکت خاوند دی، دی هم خورا مسکین او بېوزله! دی، دی هم په کابل کې د سرپناه د نشتوالي له امله سرګردانه دی، فهیم خان د ده مشکل په پام کې نیولی او دا مشکل یې د شېرپور په سیمه کې ورحل کړی دی.

۷ سنبله ۱۳۸۱

برادر محترم شاروال صاحب

جنرال بابه جان قوماندان فرقه چهل سرپناه ندارد

در صورت امکان یک نمره زمین در وزیر اکبرخان برای

ایشان اعطا کنید


[illegible]

مدیریت ها

مطابق حکم جناب ... صاحب ... [illegible]

... ۱۸/۱۹/۱۳۸۱ [illegible]

مورد حکم فوق ... [illegible]


مدیریت توریسم رهنما.
حسب الحکم اجرا شود.
ریاست دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



[redacted]

دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهر کابل

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | شهرت: ولد کلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن وسابق کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متکفل یکجا میں هستید | [illegible] |
| ۳ | سابقه درخواست ونمره ثبت در شاروالی کابل | نکرده |
| ٤ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | [illegible] |

تعهد درخواست دهنده:


اینجانب ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) تعهد میسپارم

باسم خود وهمسر وفرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردیده بر علاوه با زپرس قانونی از استحقاق زمین محروم میشوم.

(محل امضاء درخواست کننده)

(c) ketabton.com: The Digital Library





تصدیق نظار ... کابل

بمعلومات دقیق وهمه جانبه تصدیق تبید ...

... با درک مسئولیت اینسده

نظار


اداره

فیصله

کمیسون

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل ښاروالـــــی
د ( ) ریاست
مدیریت
( ) څانګه

ښاغلی ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) به اساس –
مکتوب ( [illegible] ) [illegible] ۱۳ مدیریت توزیع زمین مستحق
زمین را قبلا بدوره ( [illegible] ) به مساحت ( [illegible] ) مترمربع شناخته
شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس
امر تحصیل ( [illegible] ) مورخه [illegible] ۱۳ قرار اوییز [illegible]
[illegible] ۱۳ امبلغ ( [illegible] ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل
تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( [illegible] ) جلد ( [illegible] ) دفتر اساس
زمین نمبر فوق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه
خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید . بااحترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی — بمدیریت توزیع زمین .
[illegible] — [illegible] صدور [illegible] .

**دې پسې چې کوم حکم ګورئ د ښاغلي محمدیونس قانوني دی، قانوني صیب هم خپل عرض څرګند کړی. په کابل ښار کې سرپناه نه لري، نو باید سرپناه ورته ورکړل شي، ښاغلی محمدیونس قانوني چې د طالبانو تر نظام دمخه د ملي دفاع وزارت مرستیال و، په کابل کې یې د سرپناه د نشتوالي له امله سختې ستونزې تېرې کړي دي، د کابل د خیرخانې مېنې د یوولسمې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناحیې شاته د چا کور دی؟ د پوهاندعبدالشکور رشاد ساده کور ته مخامخ پوخ دوه منزله کور چې د لسګونو عسکرو پوسته ورته پرته ده، هغه د چا کور دی؟ نو یو څوک چې دا مهال له کورنیو چارو وزارت څخه د پوهنې وزارت ته تللی وي، هغه هم یوې نومرې ځمکې ته سترګې پټې کړې دي، نو له هغه څخه به افغانستان ته د خدمت څه هیله وشي؟ ایا که تر یوې نومرې ځمکې څخه یې زیات څه په لاس ورشي صرفه به وکړي؟ د ښاغلي قانوني او د ده د زوی او ورور د بې کورۍ اسناد دلته وګورئ او سپکه لا دا چې د کابل ښار ټولو ناحیو تصدیق کړې چې قانوني صیب په کابل ښار کې سرپناه نه لري.

نو کله چې یوڅوک په خپله ((قانوني)) وي او ناقانونه کارونه کوي، نو له نورو خلکو څخه چې تخلص یې جابر، ظالم، سېلاب، توپان، اور او نور وي، له هغو څخه څه ګیله، ښه به وي چې د قانوني صیب ((قانوني)) اسنادو ته هم نغوته وکړو. قانوني صیب په عرضپاڼه کې له خپل تخلص څخه هم تېر شوی، د دې له خاطره چې څوک پرې پوه نه شي، خو ((مارشال)) صیب بیا په حکم کې ببرته ((قانوني صیب)) لیکلی او د هغه د تخلص قانوني حق یې ور ادا کړی دی.

در مورد عریضه محمد یونس [illegible] محمد یوسف [illegible]

بریاست محترم شاروالی کابل!

محترما!

بنده به نسبت نداشتن سرپناه، همواره مواجه بمشکل هستم از اینرو
تقاضا دارم تا با شفقت همیشگی خویش امر نمائید یک نمره زمین را از
جمع مربوط شاروالی [illegible]

احترام

اراکین ۲۳۶
۳۸/۱۲/۲۴

محترم شاروال صاحب:

یک نمره زمین [illegible] صاحب [illegible] توزیع گردد

[illegible]

۲۹/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان
شاروالی کابل
ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق شمولیت نمرات زمین پروژه های شهر کابل    قیمت : بیست هزار افغانی

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت | | | نمبر تذکره صفحه و جلد | وظیفه و محل آن | سن وسابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اسم تخلص | پدر | پدرکلان | | | | | |
| ۱ | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] |
| ۲ | متاهل یا متکفل یک فامیل هستید | | | [illegible] ۱۳۶۱/۱۱/۲۴ | | | | |
| ۳ | سابقه درخواست ونمبر ثبت در شاروالی کابل | | | [illegible] | | | | |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | | | [illegible] | | | | |

تعهد درخواست دهنده :


اینجانب ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) تعهد میسپارم .


بنام خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین ، خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف انچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردد [illegible] از استحقاق زمین محروم میباشم .

(محل امضاء درخواست دهنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library






۲۱۲۲۸۶ / ۲۱۲۲۹
د کابل ښاروالی
د ( ) ریاست
د ( ) مدیریت
د ( ) خانه
۱۳۸۱ / ۸ / ۵

بریاست محترم ناحیه

ښاغلی ( محمدیونس ) ولد ( محمد یوسف ) به اساس مکتوب (۱۱۴۴۰) مورخه ۱۷ / ۷ / ۱۳۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق زمین واقع پروژه ( ) به مساحت ( ۴۴۰ ) متر مربع شناخته شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس امر تحصیل ( ۲۳۶ ) مورخه ۲۴ / ۷ / ۱۳۸۱ اقرار آویز ۲۱ / ۸ / ۱۳۸۱ مبلغ (۵۳۳۷۲۰۰) افغانی بخزانه ښاروالی کابل تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( ۴۳ ) جلد ( اول ) دفتر اساس زمین نمبر فوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید.

رئیس ملکیت ها

کاپی – بمدیریت توزیع زمین
" – " صدور نقشه

دا بل غوښتنلیک بیا د ښاغلي محمدشعیب دی. محمد شعیب د ښاغلي محمدیونس قانوني زوی دی، عجیبه خبره خو دا ده چې زوی او پلار یې دواړه په کابل کې سرپناه نه لري، دواړو پر یوه وخت عریضه لیکلې، دواړو ته یې مسلسلې نومرې ورکړي دي، محمد شعیب هم د خپل پلار د قانوني تخلص له ((قانوني)) حق څخه تېر شوی دی.

د ښاغلي شعیب د بې کورۍ اسناد په دې ډول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درخواست دهنده محمد شعیب ولد محمد یونس

مقام محترم دولت انتقالی اسلامی افغانستان!

اینجانب سرپرست یک فامیل هشت نفری میباشم که بدون منزل در شهر کابل همواره سرگردان
مشغول میباشم. بنابر آن از حضور محترم آرزومندم تا امر توزیع یک نمره زمین
در ... به مراجع مربوطه هدایت فرموده ممنون سازند

(c) ketabton.com: The Digital Library



ص ۹
۴٦۰



دولت اسلامی افغانستان

ښاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهر کابل — طور رایگان

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن وسابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | محمد شعیب | محمد یونس | [illegible] | [illegible] | متعلم | [illegible] | پنجشیر پروان | کابل |
| ۲ | متاهل یا متکفل یکجا میباشید | | | | | | | |
| ۳ | سابقه درخواست ونمر ثبت در ښاروالی کابل | | | | | | | |
| ٤ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | | | | | | | |

تعهد درخواست دهنده :

اینجانب (محمد شعیب) ولد (محمد یونس) تعهد میسپارم :


باسم خود وهمسر وفرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده ام ثابت گردد علاوه با زجر قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم

(محل امضاء درخواست دهنده)

(۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library





تصدیق نسوان شهر کابل

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | | ۹ | |
| ۲ | | ۱۰ | |
| ۳ | | ۱۱ | |
| ٤ | | ۱۲ | |
| ٥ | | ۱۳ | |
| ٦ | | ۱٤ | |
| ۷ | | ۱٥ | |
| ۸ | | ۱٦ | |

معلومات دقیق وصحه تا نیه تصدی تثبیر —
نمود قبت مکروبانها با درك مسئولیت اینسده


ناظر — اداره

نیمه — ۱۰۴۴

کمیسون

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل ښاروالۍ
د ( [illegible] ) ریاست
د ( [illegible] ) مدیریت
د ( [illegible] ) څانګه

برياست محترم ناحيه [illegible]

ښاغلی ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) بعد از [illegible] مکتوب [illegible] مدیریت توزیع زمین مستحق زمین را قی بند [illegible] به مساحت ( [illegible] ) مترمربع شناخته شده بزن نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس امر تحصیل [illegible] مورخ [illegible] قرار ا ویزه [illegible] مبلغ ( [illegible] ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( ٥٠ ) جلد ( [illegible] ) دفتر اساس زمین نمبر فوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید تا در حصه خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید. با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی – بمدیریت توزیع زمین.
» – » صدور نقشه.

همدې محمد شعیب بیا په څو کلونو کې دومره وده وکړه چې په کابل کې له بې کورۍ څخه د لندن تر ماڼیو ورسېد. ویل کېږي د لندن په یوه ډېر لوکس هوټل کې د قانوني صیب د زوی د واده داسې یو پروګرام و چې خپله قانوني صیب او نورو ((قانوني خېلو)) په کې په ډېرو شاندارو مراسمو ګډون کړی و. دا په لندن کې د ودونو په تاریخ کې یو ډېر مجلل او له مصرفه ډک واده ګڼل شوی دی.


د ښاغلي محمد یونس قانوني، د زوی (محمد شعیب) ترڅنګ د هغه ورور ښاغلی (محمد شریف) هم د بې سرپناهۍ له مشکل سره مخ دی. ده هم ډېر کلونه د بېکورۍ له امله کړاوونه ګاللي دي، ده ته هم د شېرپور په سیمه کې د خپل ورور او وراره ترڅنګ د کور لپاره ځمکه بېله شوه، ټولې عریضې پر یوه وخت، په یوه قلم، په یوه لاس لیکل شوي، ټولو ته پر یوه وخت د یوه شخص له خوا حکم ورکړل شوی، له کابل ښاروالۍ څخه نیولې تر ناحیو

(c) ketabton.com: The Digital Library




پورې ټول مهرونه او لاسلیکونه هم په یوشان او یوه وخت سر ته رسېدلي دي. دا کار د دې مانا ورکوي چې له ((مارشاله)) نیولې تر واړه (سلیمانه) پورې ټول تسلسل د یوې ډلې په لاس کې و.

عجیبه خبره خو لا دا ده چې شریفي صیب (د افغانستان د کنټرول او تفتیش د ادارې) د لوی رییس په توګه دنده هم اجراکوي، تر (۱۳) کلونو زیات د دې ادارې د مشر په توګه پاتې شوی، ولسمشر کرزي پر ده باندې نور هېوادوال کنټرولول چې له هغوی څخه څه ګناه او خطا ونه شي، خو چې د کنټرول د رییس دا حال وي، نو کنټرول به څوک کوي او د نورو ناکنتروله خلکو به څه حال وي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان
شاروالی کابل
ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه ثبت اسناد تحقق نمرات زمین پروژه های شهر کابل — قیمت: بیست هزار افغانی

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم و تخلص | پدر | پدرکلان | نمبر تذکره صفحه و جلد | وظیفه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | ۴۷ ساله / ۲۵ ساله | [illegible] | [illegible] |

| | |
|---|---|
| محل یا منطقه انتخابی | [illegible] |
| سابقه درخواست و نمبر ثبت در شاروالی کابل | جدید |
| مدت سکونت در شهر کابل و علت آن | [illegible] |

تعهد درخواست دهنده:

اینجانب ( ) ولد ( ) تعهد میسپارم.

باسم خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین، خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نمودم ظاهر گردید به تمام مسئولیت قانونی از استحقاق محروم میباشم.

(محل امضاء درخواست دهنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصدیق نواحی شهر کابل

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | [illegible] | ۹ | [illegible] |
| ۲ | [illegible] | ۱۰ | [illegible] |
| ۳ | [illegible] | ۱۱ | [illegible] |
| ٤ | | ۱۲ | [illegible] |
| ٥ | [illegible] ۲۱/۳/۵۷ | ۱۳ | |
| ٦ | [illegible] | ۱٤ | |
| ۷ | [illegible] | ۱٥ | [illegible] |
| ۸ | [illegible] | ۱٦ | [illegible] |

معلومات دقیق وهمه جانبه تصدی تثبیت – مراتب مکتوبانها یادرک مسئولیت اینده.

ناظر اداره


نیمه: زمین ع ۱۰۴۸ [illegible]

1048

کمیسیون: زمین ع ۱۰۴۸ [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library





برابر قانون

۲۱۲۳ ازی ۲۵ ۳۳۳

ع

۱۳۶۱/۸/۵

د کابل ښاروالـــــی
د ( ښــــا ) ریاست
د ( ) مدیریت
د ( یمین مرمد ) خانګه

بریاست محترم [illegible]

۱۰۴۸

ښاغلی ( محمد شریف ) ولد ( محمد یوسف ) به اساس مکتوب ( ۱۱۶۶۵ ) مورخ ۱۷/۷/۶۱ ر ۸۱/۳ مدیریت توزیع زمین مستحق

زمین واقع پروژه [illegible] ) به مساحت ( ۶۶۰ ) متر مربع شنا شده بر دنابوده قیمت زمین متذکره را از دلیل مدیریت ملکیت ها به اساس امر تحصیل ( ۲۳۷ ) مورخ ۲۷/۷ ر ۸۱/۳ اقرار از جزء ۳۰ ۸ ر ۸۱/۱۳ مبلغ ۵۲۳۷۲۰۰ افغانی بخزانه ښاروالی کابل تحویل نموده که بوریت آن به صفحه ( ۴۳ ) جلد ( اول ) دفتر اساس زمین مبرفوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید. با احترام

رئیس [illegible] ملکیت ها


کاپی – بمدیریت توزیع زمین
 رر – رر صدور قباله

په دې بل مخ کې چې تاسو کوم حکم گورئ دا نو بیا بل عجیبه حکم دی، دا هم د یادښت د کتابچې په یوه پاڼه کې ورکړل شوی دی. په اصطلاح ((جهادي او مقاومتي)) رنگ لري، په دې کې یوولس تنو ته په یوځایي ډول حکم ورکړل شوی دی. ټول د ښاغلي فهیم د کورنۍ غړي دي. عبدالحسین، عبدالمقیم، عبدالامین او عبدالقدیم څلور تنه د ښاغلي فهیم ورونه او د ښاغلي قلادار زامن دي. شکېب د عبدالمقیم زوی او د ښاغلي فهیم وراره دی. مقصود، مقبول او موجود درې واړه د عظیم الله زامن دي، عظیم الله بیا خپله د فهیم خان خپلوان کېږي. ثریا بنت محمدعثمان او بي بي سنبل بنت عبدالرقیب هم د دوی د کورنۍ غړې دي او ریحان د محمد طاهر زوی هم ورسره کورنۍ اړیکي لري. په اکثرو فورمونو کې یې د نیکه نوم ځکه نه دی لیکلی، څرنگه چې دا ټول سره ورونه او وریرونه دي، نو که په فورمه کې یې د نیکه نوم لیکلی وای، د ټولو ریښه په اسانۍ سره معلومېدله. یوه کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library




**چې د کابل ښار په یوه تنګه او وړه ساحه کې دومره سهم غواړي، څه فکر کېږي که د هېواد ټوله خزانه یې لاس ته ورشي، پر هغې به څه لوبې وکړي؟ د بشر په ټول تاریخ کې به هېڅ واکمن په دومره سپین سترګۍ سره د خپلې کورنۍ غړیو ته په دومره بېړه او ناروا داسې کار نه وي کړی. تر دې اسنادو وروسته بلې سپین سترګۍ ته اشاره کوو چې هغه لا تر دې هم د شرم وړ خبره ده.**



(c) ketabton.com: The Digital Library




۱- عبدالمحسن ولد ملا [illegible]
۲- ثریا بنت محمد عثمان
۳- مقبول ولد معظم [illegible]
۴- مقصود ولد معظم [illegible]
۵- مسعود ولد معظم [illegible]
۶- عبدالمقیم ولد ملا [illegible]
۷- [illegible] بنت [illegible]
۸- شعیب ولد حاجی مقیم
۹- عبدالحسن ولد ملا [illegible]
۱۰- ریحان ولد [illegible]
۱۱- عبدالقدیم ولد ملا [illegible]
[illegible]
10.7.81

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان
شاروالی کابل
ریاست عمومی ملکیت‌ها

فورمه تثبیت مستحقین نمرات زمین پروژه‌های شهر کابل بحساب رایگان

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالحکیم | ملادور | | | | | | |

| شماره | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متکفل یکجا میل هستید | متاهل |
| ۳ | سابقه درخواست و تجربت در شاروالی کابل | ندارد |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | [illegible] |


تعهد درخواست دهنده:

اینجانب (عبدالحکیم) ولد (ملادور) تعهد میسپارم باسم خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده‌ام ظاهر گردید بر علاوه بازپرس قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم.

عبدالحکیم
(محل امضای درخواست دهنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library





نمبر ۲۶۵ - ۶۶۴

د کابل ښاروالـــــی

ریاست

د مدیریت

د شانکه

بریاست محترم ناحیه

ښاغلی ( ) ولد ( ) بهاساس -

مکتوب ( ۱۱۵۲۹ ) ۱۳ مدیریت توزیع زمین مستحـــق

زمین واقع پروژه ( ) به مساحت ( ۶۶۶ ) مترمربع شناخته

شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس

امرتحصیل ( ۱۵ ) مورخه / / ۱۳ قرار اویزعـــــــــ

امبلغ ( ۵۲۲۷۳ ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل

تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( ۸ ) جلد اول کتاب اساس

زمین نمبر فوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه

خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید . با احترام

رئیس ... ملکیت ها

کاپی - بمدیریت توزیع زمین .

" - " صدور نقشه .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان
شاروالی کابل
ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه مستحقین نمرات زمین پروژه های شهر کابل

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره نمبر جلد | ولایه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالکریم | ملا داود | | | | | | |

| شماره | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متکل یکجا میباشید | متاهل |
| ۳ | سابقه درخواست ونمبرشیت در شاروالی کابل | |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | زیاد |


تعهد درخواست دهنده:

اینجانب (عبدالکریم) ولد (ملا داود) تعهد میسپارم:
بکسی خود همسر و فرزندان نا بالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف انچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردید سبب علاوه جزای مروج قانون از مستحقق زمین محروم میباشم.

عبدالکریم
(محل امضاء درخواست دهنده)


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





۲۴-۶۹ د کابل ښاروالــــــــــــــــــــــــــس

د ( ) ریاست

د ( ) لمدیریت

د ( ) څانګه

۱۸-۷-۸۱

بریاست محترم ناحیه ( )

بنا غلی ( عبدالرحیم ) ولد ( محمد ... ) بهٔ اساس –

مکتوب (۱۱۵۱۷) ۱۱-۷-۱۳۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق

زمین را که نمبر ( ... ) به مساحت ( ۶۶۰ ) مترمربع شناخته

شده برده نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس

امر تحصیل ( ۱۵۵ ) مورخه ۱۳-۷-۱۳۸۱ قرار اویز ۶۷

۱۳-۷-۱۳۸۱ مبلغ (۵۲۲۷۲۰۰۰) افغانی بخزانه ښاروالی کابل

تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( ۲۹ ) جلد ... دفتر اساس

زمین نمبر فوق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه

خویش اجراات اصولی را مرعی دارید . با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی – بمدیریت توزیع زمین .

" – " صدور قباله .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت‌ها

فورمه تثبیت مستحقین نمرات زمین پروژه‌های شهر کابل — بحساب [illegible]

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | ولد پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | ولایه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| | [illegible] | [illegible] | | [illegible] | | | | [illegible] |
| ۲ | متاهل یا متنکل یکا میل مستید | [illegible] | | | | | | |
| ۳ | سابقه درخواست ونمبر ثبت در شاروالی کابل | [illegible] | | | | | | |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | [illegible] | | | | | | |

تعهد درخواست دهنده:

اینجانب ([illegible]) ولد ([illegible]) تعهد میسپارم.


باسم خود همسر وفرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه وآپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که درفوق تحریر نموده‌ام ظاهر گردید بر علاوه باز پرس قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم.

(محل امضاء درخواست دهنده)

[illegible] ۱۳۸۱ / ۱۱ / ۱۵۸

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۶-۴۴۶۰۳

د کابل ښاروالــــــــــی

د ( [illegible] ) ریاست

د ( [illegible] ) لمدیریت

د ( [illegible] ) خانه

۸۱/۷/۱۵

بریاست محترم ناحیه ( [illegible] )

بنا فیصله ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) به اساس -

مکتوب ( ۱۱۵۰۱ ) ۲۱/۷/۱۳۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق

زمین واقع پروژه ( [illegible] ) به مساحت ( ۶۶۰ ) مترمربع شناخته

شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس

امر تحصیل ( ۱۵۸ ) مورخه ۱۴/۷/۱۳۸۱ قرار اویز ۷۶

۲۴/۷/۱۳۸۱ مبلغ ( ۲۲۷۲۰۱۱ ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل

تحویل نموده که بروست آن به صفحه ( ۲۹ ) جلد ( [illegible] ) کنترا ساس

زمین نمبر فوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید تا در حصه

خویش اجراات اصولی را مرعی دارید • با احترام


رئیس [illegible] ملکیت ها

کاپی - بمدیریت توزیع زمین

» - » صدور قباله •

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت‌ها

درخواست استحقاق زمین پروژه‌های شهر کابل بحساب ...

هویت درخواست دهنده

| شماره | اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره جلد صفحه | نمبر تذکره محل ... | سن سابقه شمار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالرحمن | ملاداد | | | | | | |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متکفل یکا میل هستید | [illegible] |
| ۳ | سابقه درخواست ونمبرثبت در شاروالی کابل | [illegible] |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | [illegible] |

تعهد درخواست دهنده:

اینجانب (عبدالرحمن) ولد (ملاداد) تعهد میسپارم.


باستثنای خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده ام ثابت گردید بعلاوه تعقیب عدلی از استحقاق زمین محروم میباشم.

عبدالرحمن

(محل امضاء درخواست دهنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library





[illegible] — عــــدد

د کابل ښاروالــــی

د ( [illegible] ) ریاست

د ( [illegible] ) لمدیریت

د ( [illegible] ) خانه

برینلاست محترم ناحیه [illegible]

بنا غلی ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) به اساس —

مکتوب ( [illegible] ) / ۷ / ۱۳۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق

زمین را قبلاً دوره ( [illegible] ) به مساحت ( ۶۶۰ ) متر مربع شناخته

شده برنامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس

امر تحصیل ( ۱۵۱ ) مورخه / ۷ / ۱۳۸۱ قرار اویزع [illegible]

/ ۷ / ۱۳۸۱ مبلغ ( ۵۲۲۷۲۰۰ ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل

تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( ۲۷ ) جلد [illegible] دفتر اساس

زمین نمبر فوق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه

خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید • بااحترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی — بمدیریت توزیع زمین •

// — // صدور نقشه •

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولت اسلامی افغانستان
شاروالی کابل
ریاست عموی ملکیت‌ها

فورمه تثبیت مستحقین نمرات زمین پروژه‌های شهر کابل حساب رایگان

هویت درخواست کننده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالحسین | ملاداد | | | کار | | | کابل |
| ۲ | متاهل یا متکفل یکا میل هستید | | | متاهل | | | | |
| ۳ | سابقه درخواست و نمبر ثبت در شاروالی کابل | | | ندارد | | | | |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل و علت آن | | | | | | | |


تعهد درخواست دهنده:

اینجانب (عبدالحسین) ولد (ملاداد) تعهد میسپارم: باسم خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردید بر علاوه مجازات قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم.

(محل امضا درخواست کننده)


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل ښاروالـــــــــی
د (     ) ریاست
د (     ) مدیریت
د (     ) څانګه

بریاست محترم ناحیه (     )

بنا غلی (     ) ولد (     ) به اساس

مکتوب (۱۱۴۹۴) ۱۱/۷/۱۳۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق

زمین را نمبر (     ) به مساحت (۶۶۰) (مترمربع) شناخته

شده برش نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس

امر تحصیل (۱۶۰) مورخه ۱۴/۷/۱۳۸۱ قرار آویز (۷۲)

۱۴/۷/۱۳۸۱ مبلغ (۲۱۱۰۵۲۲۷) افغانی بحساب ښاروالی کابل

تحویل نموده که بروی آن به صفحه (     ) جلد (     ) اساس

زمین نمبر فوق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع میګردد در حصه

خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید. با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی ـ بمدیریت توزیع زمین.

// ـ // صدور نقشه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




**راشئ دې عریضې ته وګورئ، ښاغلي (عبدالقسیم فهیم) او زوی یې (عبدالادیب فهیم) دواړو په یوه عرضپاڼه کې لیکلي چې په کابل کې سرپناه نه لري. دواړو د کتابچې په یوه پاڼه کې عریضه لیکلې، نو چې د غوښتنلیک لپاره کاغذ نه لري، نو کور به له کومه کړي؟ د بېکورۍ مشکل رښتیا هم سخت وي، د سړي پر اعصابو تاثیر کوي، په نورو متنو کې د ښاغلي فهیم نوم (محمد قسیم) لیکل شوی، خو په دې عرضپاڼه کې (محمد) پر (عبدال) بدل شوی او د (محمد قسیم) پر ځای (عبدالقسیم) لیکل شوی، سړی نه پوهېږي چې کومه ښه به یې سمه وي، خو د محمد قسیم لور (فاطمه) چې کومه عرضپاڼه لري، هلته بیا د (عبدالقسیم) پر ځای (فهیم) او په فورم کې (محمد قسیم) لیکل شوی دی.**

**عجیبه خبره خو دا ده چې په خپله ښاغلي محمد قسیم فهیم خپله او د خپل زوی ګډه عرضپاڼه په خپله لاسلیک کړې، هلته یې هم پورته نوم ته فکر نه دی شوی چې دی (محمد قسیم) دی که (عبدالقسیم)؟ د زوی لاسلیک ته یې هم اړتیا نه ده پیدا شوې، غربت بد شی دی. رښتیا هم زوی او پلار له سخت غربت سره مخامخ دي. د کابل په پروان کارته کې دا دومره کلونه په کېږدۍ کې اوسېدل او د بې کورۍ له امله سخت ځورېدلي دي، نو اوس چې هم (مارشال) دی، هم د دفاع وزیر دی او هم د دولت د مشر مرستیال، نو رښتیا هم چې دوی په کرایي کور کې اوسېږي، دا څومره د شرم خبره ده!؟ نو ځکه خو یې باید په عاجل ډول د وزیر اکبر خان مېنې په شېرپور سیمه کې د سرپناه غم وخوړل شي. بله عجوبه لا په کې دا ده چې د دولت لومړي مرستیال ته د کابل ښار د ښاروالۍ مرستیال ښاغلي (اصغري) حکم ورکړی چې ((به جلالتماب مارشال صاحب دو نومره زمین دا ده شود...)) تواضع او شکسته نفسي هم وایي همدې ته(!!) تر دې دمه چې تاسو کوم حکمونه وکتل، دا خو دا مانا ورکوي چې پر کابل باندې بې کوره او بې سرپناه خلکو یرغل راوړی، تر دې دمخه دوی هېڅ نه درلودل نو دومره غریب او غربه چې پر یوه ښار واکمن شي، دا په خپله یوه لویه تباهي ده او تر ټولو لا جالبه دا چې دوی خپله ویلي چې موږ په کابل کې سرپناه نه لرو، زوی، پلار، ورور، تره او نیکه، ټول غریب و غربه دي او دا یې اول ځل دی**

(c) ketabton.com: The Digital Library




چې په کابل کې د سرپناه خاوندان کېږي، نو تر دې وروسته چې دوی په ملیونو ډالر پیداکړل او د لسگونو بلډینگونو څښتنان شول، دا خو نو په واضح ډول او له کوم دلیل پرته د غلا، لوټ او تالان څرگندونه کوي. تر دې وروسته به وگورو چې دې ښاغلو نور څه عجایب ټوکولي دي.


مقام محترم شاروالی کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان
شاروالی کابل
ریاست عمومی ملکیت‌ها

درخواست مستحقین نمرات زمین پروژه‌های شهر کابل بحساب


هویت درخواست کننده

| شماره | شهرت | | | نمبر تذکره منجمله | ولایه و محل آن | سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | پدرکلان | | | | | |
| ۱ | عبدالقسیم | ملا دور | | | | | | کابل |
| ۲ | متاهل یا متکل یکتا میل مستید | | | | | | | |
| ۳ | سابقه درخواست و نمبر ثبت در شاروالی کابل | | | | | | | |
| ۴ | مدت سکونت در شهر کابل و علت آن | | | | | | | |

تعهد درخواست دهنده:

اینجانب (عبدالقسیم) ولد (ملا دور) تعهد میسپارم ...
باسم خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی
ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده‌ام ظاهر گردید علاوه بر ... از
استحقاق زمین محروم میباشم.

(محل امضا درخواست دهنده)



۱ ۲ ۳ ۵ ۶ ۷ ۸

۱۰ ۱۲ ۱۵ ۱۶

مراقبت ... ريانه ابا درك مسئوليت ايستنده


نظر اداره

نمره ۱۰۸۵

كميسيون

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل ښاروالـــــی
د ( ) ریاست
د ( [illegible] ) مدیریت
د ( ) شانګه

بریاست محترم نا [illegible]

ښاغلی ( [illegible] ) بـا سا س ـ
مکتوب ( [illegible] ) ۱۳ مدیریت توزیع زمین مستحق
زمین ( [illegible] ) به مساحت ( [illegible] ) متر مربع شناخته
شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها اسناد
امر تحصیل ( [illegible] ) مورخه / / ۱۳ قرار ا ویز ــــــــ
نمبر ( [illegible] ) ۱۳ ا مبلغ ( [illegible] ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل
تحویل نموده که بروت آن به صفحه ( [illegible] ) جلد ( [illegible] ) دفتر اساس
زمین نمبر فوق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردید، در حصه
خویش اجراات اصولی را مرعی دارید . با احترام

رئیس [illegible] ملکیت ها


کاپی ــ بمدیریت توزیع زمین .
ـــ در صدور نقشه .

دې بل عجیبه حکم ته وگورئ، (فاطمه بنت محمدقسیم)، دا اغلې د فهیم خان لور ده، څرنگه چې پلار یې، ورور یې، ترونو یې ټولو په کابل کې سرپناه نه درلودله، نو طبیعي خبره ده چې بي بي فاطمې هم کور نه درلود، نو څکه خو یې پلار پرې لورېدلی او د وزیراکبرخان مېنې په شېرپور پروژه کې یې د یوې نومرې ځمکې مستحقه گڼلې ده. کېدی شي د مارشال صیب نور اولادونه هم په کابل کې د بې کورۍ له ستونزې سره مخ وي او د هغوی مشکل هم په همدې پروژه کې حل شوی وي، خو د ټولو د استحقاق فورمې لا تر دې دمه زموږ لاس ته نه دي راغلي. انسان ډېر کمزوری موجود دی، د بې کورۍ تاب نه لري، غربت نه شي زغملای، لوږه، تونده او نورې سختۍ ته ځان نه شي ټینگولای. نو ښاغلی فهیم هم مجبور و له دې ټولو سختیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځخه ځان او د خپلې کورنۍ ټول غړي وژغوري او د واک له طلایي چانس ځخه طلایي ګټه پورته کړي. دا کېدی شي د نړۍ د واکمنانو په تاریخ کې یو نړیوال ریکارډ وي، چې یو واکمن دې تر واک دمخه له یوې مخې د بې کورۍ له مشکل سره مخ وي او بیا دې په ډېره لنډه او تنګه موده کې دې ستونزې ته په داسې ببرني ډول د پای ټکی کېږدي. دا رښتیا هم یو نړیوال ریکارډ ګڼل کېدی شي. ښه به وي چې د بي بي فاطمې د بې کورۍ اسناد هم وګورو.**



ورقه عرض فاطمه بنت فهیم

به مقام محترم ریاست دولت انتقالي اسلامي افغانستان

السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته

اینجانب که شهرتم در فوق ذکر گردیده است در شهر کابل کدام سرپناهي ندارم از مقام محترم احترامانه خواهشمندم تا امر توزیع یك نمره زمین را در ساحه شیر پور برایم عنایت فرماید.

با احترام.

ملاحظه شد

شاروالي کابل


یك نمره زمین از پروژه شیر پور براي موصوف توزیع گردد.

معاون اول دولت انتقالي اسلامي ووزیر دفاع ملي افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پلار لور ته حکم ورکړی او د بېکورۍ تصدیق یې ورته کړی دی.**



دولت اسلامی افغانستان
شاروالی کابل
ریاست عمومی ملکیت ها

فورمه درخواست متقاضیان زمین پروژه های شهر کابل بحساب رایگان

| سکونت فعلی | سکونت اصلی | سن وسابقه کار | وظیفه و محل آن | نمبر تذکره نمبر جلد | شهرت: اسم | ولد | پدرکلان | شماره |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | هویت درخواست دهنده | | | |
| کابل | پنجشیر | | | | فاطمه | محمد قسیم | | ۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲ | متاهل یا متشکل یکفامیل هستید | متاهل میباشم |
| ۳ | سابقه درخواست ونمبر ثبت در شاروالی کابل | ندارم |
| ٤ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | بیشتر از بیست سال مسکون |

تعهد درخواست دهنده:

اینجانب ( فاطمه ) ولد ( محمد قسیم ) تعهد میسپارم.


باسم خود همسر وفرزندان نا بالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه یا اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که در فوق تحریر نموده ام ظاهر گردید علاوه بر پیگرد قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم!

(محل امضاء درخواست دهنده)

۱۳۸۱/۷/۱


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library




د کابل ښاروالۍ
د ( ) ریاست
د ( ) مدیریت
د ( ) ناحیه
ریاست محترم ناحیه ( )
ښاغلی ( ) ولد ( ) به اساس
مکتوب ( ) مورخه ۱۱/۷/۱۳۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق
زمین واقع پروژه ( ) به مساحت ( ) متر مربع شناخته
شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس
او تحصیل ( ) مورخه ۱۱/۷/۱۳۸۱ اقرار اویز
۱۱/۷/۱۳۸۱ مبلغ ( ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل
تحویل نموده که بویسان به صفحه ( ) جلد ( ) اساس
زمین نمبر نوق باسم شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید تا حصه
خویش اجراات اصولی را مرعی دارید. با احترام
رئیس عمومی ملکیت ها
کاپی – بمدیریت توزیع زمین.
– مدیریت نقشه.

راځئ چې دا بل حکم هم وګورو، ښاغلی جنرال عبدالرحمن چې ضرور له فهیم خان سره کورنی قرابت لري. د دفاع وزارت د لومړي مرستیال بسم الله خان له خوا ورته وړاندیز کېږي چې د دفاع وزارت له لېست څخه پاتې شوی، باید یوه نومره ځمکه ورته ورکړل شي، فهیم خان هم ورته حکم ورکړی دی. دا چې بسم الله خان او د هغه د کورنۍ غړو څومره ځمکه اخیستې، د هغه لاسوندونه اوس دلته موږ سره نه شته. جنرال عبدالرحمن په هغه فورمه کې چې د ښاروالۍ له خوا ورکړل شوې «د سن او سابقه کار» په خونه کې یې لیکلي «۳٦ ساله سابقه کار ۲۱ سال در جهاد». دلته سړی حیرانېږي چې ښاغلي عبدالرحمن به دا (۲۱) کاله جهاد له کوم تاریخه پیل کړی وي. د دې ښاغلي عمر ته په کتو سره د روسانو د یرغل پر وخت (۱۳)


(c) ketabton.com: The Digital Library



کلن او د وتو پر مهال یې (۲۳) کلن راته او جهاد یې هم (۲۱) کاله کړی دی. د روسانو د یرغل موده لس کاله او د شوروي پلوي حکومت ټول ژوند (۱۴) کاله و، چې جنرال صیب به دا نور جهاد د چا په مقابل کې کړی وي؟! تر ۱۳۸۱ل کال وروسته خو خپله په حکومت کې شامل و. ورپسې د (محمد هابیل، ګلبدین او ښاغلي جلال محمودي) هر یوه لپاره د یوې یوې نومرې ځمکې د وېش حکم ورکړل شوی چې درېواړه د فهیم د کورنۍ غړي ګڼل کېږي. دا خو یوازې د شېرپور په پروژه کې دا حال دی، دا چې نور کابل کې به څه تېر شوي وي، دا نو جلا څېړنې ته اړتیا لري. خو ویل کېږي چې د نظار شورا غړو د کابل ښار په بېلابېلو سیمو کې تر (۳۰) زرو زیاتې نومرې خپلو ملګرو ته وېشلې دي چې اکثره یې دولتي ځمکې وې او یو شمېر په کې د خلکو شخصي ځمکې هم غصب شوي دي. د منظم او سیستماتیک لوټ او تالان لړۍ نه یوازې د کابل ښار بېلابېلو سیمو ته غځېدلې، بلکې د افغانستان ګوټ ګوټ ته دا لړۍ وررسېدلې ده، د هر چا چې هر چېرته وس رسېدلی صرفه یې نه ده کړې، د چا چې ډېر وس و، ډېره غلا یې کړې او د چا چې کم وس و، نو د خپلې وسې مطابق یې خپل کار کړی دی، کېدی شي نورو برخو کې ورته اشاره وکړو، خو اوس راځو د یادو ښاغلو اسنادو ته!

(c) ketabton.com: The Digital Library





۷۸۶

دولت انتقالی اسلامی افغانستان

وزارت دفاع ملی

جناب محترم مارشال صاحب "فهیم"

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

جنرال عبدالرحمن رییس اوپراسیون که د ردوران جهاد ومقاومت زحمات وشایستگی های ا ز خود نشان داده است نمرات که در ساحه شیر پور مربوط وزارت دفاع بود از لست باقی مانده اند. امید است امر نموده تا در ساحهء مذکور ویا اطراف آن در وزیر اکبرخان برای شان یک نمره فوق العاده توزیع نموده ممنون سازید .


باحترام

دگرجنرال بسم الله

معاون اول وزیر دفاع ملی


(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library





د ولت اسلامی افغانستان

شــــاروالی کابل

ریاست عمومی ملکیت ها .

فورمه تثبیت استحقاق نمرات زمین پروژه های شهر کابل

طور رایگان

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | شهرت: پدرکلان | نمبر تذکره صفحه جلد | وظیفه و محل ان | سن وسابق کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | عبدالرحمن | قلم دار | حاجی اشان تحان | | رئیس ادره ار سیکورتی وزارت دفاع | ۳۶ ساله سابق کار ۲۱ سال در جهاد | پنجشیر | شهر کابل بطور کرایه نشین |
| ۲ | متاهل یا متکفل یکجا میباشید | متاهل و متکفل تعداد ۵ نفر تحت کفالت میباشم | | | | | | |
| ۳ | سابقه درخواست ونمر ثبتا در شاروالی کابل | ندارم | | | | | | |
| ٤ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت ان | مدت بیرون جبهه مقاومت | | | | | | |

تعهد درخواست دهنده :

اینجانب (عبدالرحمن ) ولد (قلم دار ) تعهد میسپارم .

بااسم خود وهمسر فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه واپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف انچه که در فوق تحریر نموده ام ثابت گردیده علاوه با زجر قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم .


(محل امضاء درخواست دهنده)

۲۰۵ ۸۱/۱۰/۹

۸۱/۹/۶ ۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۰
۱۱
۱۲
۱۳
۱۴
۱۶
انفلوطات دقیق وهمه ... تبیز ...
... مسئولیت اینجا
اداره
زمین د ۱۱۸۴ ...
تیمه
تیمیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل ښاروالۍ

د ( ) ریاست

د ( سروې ) مدیریت

د ( محصل عوارض ) څانګه

۸۱ / ۱ / ۵

بریاست محترم ناحیه ( [illegible] )

بناغلی ( [illegible] ) ولد ( [illegible] ) به اساس -

مکتوب ( [illegible] ) مورخه [illegible] ۱۳۸۱ مدیریت توزیع زمین مستحق

زمین واقع بدون [illegible] مساحت ( ۵۲۵ ) مترمربع شناخته

شده بود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت سکیت ها به اساس

امر تحصیل ( ۳۲۵ ) مورخه [illegible] ۱۳۸۱ ا ترا را [illegible]

[illegible] ۱۳۸۱ مبلغ [illegible] افغانی بخزانه ښاروالی کابل

تحویل نموده که بروی آن به صفحه ( [illegible] ) جلد ( [illegible] ) دفتر اساس

زمین نمبر فوق بنام شان قید و بدینوسیله بشما اطلاع گردید در حصه

خویش اجراآت اصولی را مرعی دارید . با احترام

رئیس عوارض [illegible] ها

کاپی - بمدیریت توزیع زمین

" - " صدور نقشه

" "

۶۷

۸۱ / ۴ / ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورقه عرض مایان هریك :

محمد هابیل ولد محمد صالح

گلبدین ولد محمد عالم.

جلال ولد محمود خان.

به حضور عالیقدر مارشال صاحب معاون اول ریاست دولت انتقالي اسلامي ووزیر دفاع ملي افغانستان!

السلام علیکم ورحمه الله وبرکاته

احتراماً عرض میداریم :

مایان هر کدام نسبت عدم داشتن سرپناهي شخصي در شهر کابل به مشکل مواجه هستیم امید امر توزیع یك یك نمره زمین را در پروژه وزیر اکبر خان مینه به مراجع مربوط عنایت فرمائید.

با احترام

(c) ketabton.com: The Digital Library





دولت اسلامی افغانستان

شاروالی کابل

ریاست زمین ملکیت ها

فورمه تثبیت استحقاق زمین پروژه های شهر کابل بحساب رایگان

هویت درخواست دهنده

| شماره | شهرت: اسم | ولد | ولد پدرکلان | نمبر تذکره و صحفه جلد | وظیفه و محل آن | سن و سابقه کار | سکونت اصلی | سکونت فعلی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ١ | محمد آصف | محمد صالح | محمد علی | ٦ | ترید در وزارت دفاع | ٣٥ ساله | [illegible] | [illegible] |

| | | |
|---|---|---|
| ٢ | متاهل یا متکفل یکتا میل هستید | متاهل |
| ٣ | سابقه درخواست ونمبر ثبت در شاروالی کابل | نشده |
| ٤ | مدت سکونت در شهر کابل وعلت آن | [illegible] |

تعهد درخواست دهنده:


اینجانب (محمد آصف) (محمد صالح) تعهد میسپارم.

باسم خود همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل نمره زمین خانه و اپارتمان شخصی ندارم هرگاه خلاف آنچه که درفوق تحریر نموده ام ظاهر گردد بجزای قانونی از استحقاق زمین محروم میباشم.

(محل امضاء درخواست دهنده)

(c) ketabton.com: The Digital Library





| | | | |
|---|---|---|---|
| ١ | | ٩ | |
| ٢ | | ١٠ | |
| ٣ | | ١١ | |
| ٤ | | ١٢ | |
| ٥ | | ١٣ | |
| ٦ | | ١٤ | |
| ٧ | | ١٥ | |
| ٨ | | ١٦ | |


نظر ... اداره

فیصله

کمیسیون

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل ښاروالۍ
د ( ) ریاست
د ( ) مدیریت
د ( ) څانګه

بریالست محترم ناحیه

ښاغلی ( ) ولد ( ) به اساس
مکتوب ( ) ۱۳ مدیریت توزیع زمین مستحق
زمین واقع بدوره ( ) به مساحت ( ۹۲۳ ) مترمربع شناخته
شده ابود نامبرده قیمت زمین متذکره را از طریق مدیریت ملکیت ها به اساس
امرتحصیل ( ۱۴۲ ) مورخه ( ) ۱۳۸۱ قرار ( ) ویزه
مبلغ ( ) افغانی بخزانه ښاروالی کابل
تحویل نموده که بتوسط آن به صفحه ( ) جلد ( ) مشتری اساس
زمین نمبر فوق باسم شان قید وبدینوسیله بشما اطلاع گردید تا در حصه
خویش اجراات اصولی را مرعی دارید. با احترام

رئیس عمومی ملکیت ها

کاپی – بمدیریت توزیع زمین.
" – " صدور نقشه.

ټول شېر پور په همدې ډول وېشل شوی دی. بله عجیبه خبره خو لا دا ده چې دې اکثرو ښاغلو د (تعهد درخواست دهنده) په نامه یوه فورمه هم ډکه کړې او په هغې کې راغلي، چې په کابل ښار کې زما په نامه ځمکه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اپارتمان پیدا شو، نو تر قانوني پلټنې لاندې دې راشم او له خپل دې استحقاقه دې محروم شم. وگورئ ژمنلیک: ((با اسم خود، همسر و فرزندان نابالغ خویش در نواحی شهر کابل، نمره زمین، خانه و اپارتمان شخصی ندارم، هر گاه خلاف انچه که درفوق تحریر نموده ام ظاهر گردید، برعلاوه بازپرس قانونی از استحقاق نمره زمین محروم میباشم.)) د دې فورمو د متن تحلیل ته که تم شو نو نورې گڼې درغلۍ به په پکې پیدا شي، ښه به وي چې لوستونکي یې خپله په دقت سره له نظره تېرې کړي، اوس غواړو دلته د هغو مهمو اشخاصو نومونه هم راوړو چې پر مهمو دولتي مقامونو کې یې کار کاوه، یادې نومرې ورته په انفرادي، ډله ییز او فامیلي ډول وېشل شوي دي. دا اشخاص او مقامونه په دې ډول دي:**

- **د نعمت الله شهراني، یحیی معروفي، علم راسخ، شهزاده مسعود، حسین هاشمي په گډون د دولت د مشر (۸) مهم مشاوران.**
- **د پلان وزیر حاجي محمد محقق، چې یوه بسوه یې پر (۱۵۰۰۰) ډالره پلورلې ده.**
- **(۱۸) مشاور وزیران**
- **(۲۰) لوړ رتبه جهادي او ناجهادي مشران.**
- **(۴۸) برحاله وسلوال جهادي قومندانان.**
- **(۸) مرستیال وزیران**
- **(۵) مرستیال والیان**
- **په فهیم، قانوني، عتیق الله بریالي او بسم الله خان پورې تړلي (۲۲) سوداگر.**
- **د ملي امنیت ریاست رییس انجنیر عارف او د کورنۍ پنځه غړي یې.**
- **د کورنیو چارو او ملي امنیت رییسان.**
- **مصر کې سفیر فاضل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- سوداگر مهر صابر
- جنرال مهر ظاهر
- د کابل ښاروالۍ مرستیال امیرالدین سالک
- د اسکان رییس انجنیر عبدالطیف
- کابل والي ملا تاج محمد
- د سوداگرۍ وزارت یو مرستیال او د افغانستان بانک رییس ډاکتر انوارالحق احدي.
- د احمدشاه مسعود زوی احمد مسعود
- د حج او اوقافو وزیر محمد امین ناصریار
- د ملي امنیت لوړ رتبه کارکوونکی مفتاح الدین
- د راډیو ټلوېزیون رییس انجنیر محمد اسحق
- د ملي دفاع مرستیال وزیر جنرال رحیم وردگ.
- د ملي دفاع وزارت مرستیال گل ځدرک ځدراڼ
- د نظار شورا قومندان بابه جلندر چې مخکې مو هم ورته د اسنادو څرگندونه وکړه.
- د کرنې وزارت د وزیر سید حسین انوري مېرمن او د وړکتونونو رییسه نوریه زینب انوري.
- د جنرال عزیز الدین مېرمن او د امین الله لور، حبیبه.
- د ملي امنیت د (۴۵) ریاست د لوړ رتبه کارکوونکی مفتاح الدین مېرمن، نوریه چې په پروان کارته او نوي ښار کې دوه کورونه هم لري.
- لوی درستیز بسم الله خان او دوه زامن یې عنایت الله او هدایت الله.
- جنرال دوستم د خپل زوی (باتور) لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورنیو چارو پخواني وزیر خپل زوی احمد نجیب ته او نورو ښاغلو پسې نورو ښاغلو ته یوه یوه نومره او یا هم تر هغې زیاتې نومرې اخیستې دي. خو د ټولو تفصیلي لېست لا تر اوسه ما تر لاسه نه کړای شو، د دې خبرې یادونه هم په کار ده چې دې کې څو د گوتو په شمار ځینې داسې کسان هم شته چې رښتیا هم په کابل کې سرپناه نه لري، که هغوی ته د کابل په هر ځای کې د کور لپاره ځمکه ورکړل شوې وای، نو نه گناه وه او نه خطا وه، خو تر ټولو ښه خبره به دا وه چې اصلاً د شېرپور تاریخي او پوځي سیمه پر استوگنیزه سیمه نه وای بدله شوې، دویمه ښه خبره به دا وه چې پاکو کسانو باید په دې سیمه کې هېڅ ځمکه نه وای اخیستې، خو اوس اصلي گناه او خطا په دې کې ده چې یوځوک په کابل کې (یو) او ان تر یوه زیات کورونه لري، بیا یې د بې د بې کورۍ ادعا کړې او دا غوښتنه یې بیا د ښاروالۍ د بېلابېلو ناحیو له خوا تصدیق شوې هم ده، اصلي غاصبین همدا خلک دي. دوی بیا د خپل عیب پټونې په خاطر یو شمېر نور اشخاص هم ځان سره په لېست او گناه کې شامل کړي دي او د هغوی خطا بیا په دې کې وه چې ځان یې پر دې امتیاز غلی کړی دی. دلته به ځینو هغو ښاغلو ته نغوته وکړو چې هم یې په کابل کې کور او کورونه لرل او هم یې دلته د بې کورۍ ادعا کړې ده:

- د پوهنې وزیر محمد یونس قانوني، چې د خیرخانې مېنې په لومړۍ برخه، وزیراکبرخان، هند، لندن او نورو ځایونو کې کورونه لري.
- فهیم خان چې په دویم پروان کې دوه مجلل کورونه لري، په پروان کارته، وزیراکبرخان مېنه، په تایمني کې څو کورونه، پل باغ عمومي او نورو سیمو کې مارکېټونه، کور او کورونه لري.
- د فهیم هر زوم، نادریې لېسې ته مخامخ په پروان کارته کې کورونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د فهیم ورونه، عبدالحسین، حاجي مقیم، عبدل امین او عبدالقدیم چې هر یو یې په دویم پروان، درېیم پروان، پروان کارتې او نورو سیمو کې جلا جلا کورونه لري.**
- **د فهیم تره؛ حاجي محمد عثمان چې په درېیم پروان او پروان کارتې بهارستان کې یې دوه درې کورونه درلودل.**
- **د فهیم د تره زامن: عتیق الله، نجیب الله او حاجي فرید او تره لور یې (ثریا) چې ټولو په کابل ښار کې دوه درې حویلي درلودل.**
- **د سرې میاشتې رییس قره بیګ چې په کابل ښار کې یې درې حویلي درلودل.**
- **د حج او اوقافو وزارت اداري رییس (نظري) چې په کابل ښار کې دوه کوره لري.**
- **جنرال بابه جان چې په مکروریانو او نورو سیمو کې کورونه لري.**
- **جنرال اصف دلاور چې مکروریانو کې یې کور درلود.**
- **جنرال دوستم چې په نوي ښار کې دوه کورونه لري.**
- **د بلخ والي قوماندان عطامحمد نور چې په پروان کارته کې یو کور او یو بل کور یې هم د خیرخانې مېنې په لومړۍ برخه کې دی.**
- **د اوبو او برېښنا وزیر شاکر کارګر چې د چین سفارت مخې ته یو قیمتي کور لري.**
- **د کابل پخوانی امنیه قوماندان چې تر شېرپور مخکې یې په کابل ښار کې درې کورونه او شل دکانونه درلودل.**
- **جنرال ظاهر اغبر چې په خیرخانه مېنه کې یې مجلله ماڼۍ جوړه کړې ده.**
- **محمد شریف شریفي د (یونس قانوني) ورور چې په خیرخانه مېنه کې کور لري.**
- **جنرال محمد عارف سروري چې د کابل په پروان کې درې کورونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري.

- جنرال عبدالاحد چې په مکروریانو کې کور لري.
- لوی څارنوال عبدالمحمود چې په خیرخانه مېنه کې یې یو کور درلود.
- پخواني وزیر (عنایت الله نظري) چې په پروان کارته کې کور لري.
- د استاد سیاف قومندان حاجي شېرعلم چې د کابل ښار په تایمني کې کور لري.
- ملاعزت چې په پروان کارته کې کور لري.

دا او دېته ورته اشخاص چې په کابل کې یې هم کورونه درلودل او هم په شېرپور کې د نورې ځمکې خاوندان شول. یادو او دېته ورته اشخاصو البته تر دې وروسته دومره پانگه او جایدادونه پیداکړل چې د شېرپور ځمکه یې اوس د عوامو په اصطلاح نسوار هم نه ده، خو دا د خپل وخت د لوټ او تالان تر ټولو غټه او څرگنده بېلگه ده. په یادو اشخاصو کې اوس داسې اشخاص هم شته چې نه یوازې کورونه، بلکې په خپله بېلابېل ښارگوټي لري. ان تر هېواده بهر د کورونو او ښارگوټو خاوندان دي.

دې لېست ته په کتو سره ټولو هېوادوالو ته څرگندېږي چې دشېرپور تاریخي سیمه چا چور کړې، چا یې د وېش حکم ورکړی او چا په کې مانۍ جوړې کړې دي.

ښاغلي فهیم خان دېته ورته نور په سلگونو ډله ییز ناقانونه کارونه تر سره کړي چې موږ ورته په نورو برخو کې هم په ضمني ډول اشاره کړې ده. ښاغلی فهیم د یو ځانگړي ذوق او شوق خاوند دی. له سپیو، اسونو، چرگانو او مرږانو سره یوه ځانگړې مینه او لېوالتیا لري. د کابل د (یکه توت) په سیمه کې یې څو جریبه ځمکه کې د اسونو لپاره طویله جوړه کړې ده. د اسونو لگښت یې هره میاشت لسگونو زره ډالرو ته رسېږي. مرږان یې خپل لگښت لري او سپي یې هم. له دغسې یو شوق او ذوق سره چې یو څوک د حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرې لوړ پوړې څوکۍ ته رسېږي، له هغو څخه بیا د همدغسې یو حالت هیله کېدی شي!؟

ښاغلی محمد قسیم فهیم چې کله هم په موقته او انتقالي اداره کې د ښاغلي کرزي مرستیال و، نو هم د پوره واک و ځواک څښتن و او کله چې د کرزي په لومړۍ انتخابي دوره کې د هغه له مرستیالۍ لرې شو او احمد ضیاء مسعود یې ځای ونیو، نو بیا هم په نارسمي ډول په واک کې و، فهیم دا مهال له جمهور رییس کرزي څخه یو ځانګړی فرمان واخیست چې هم به یې د ((مارشالۍ)) حقوق او امتیازات خوندي وي او هم به په ټولو دولتي او رسمي مراسمو کې فعال حضور ولري، سربېره پر دې یې د خپل محافظت په پلمه د څوارلس سوه (۱۴۰۰) تنو ساتونکو معاش او امتیازات هم اخیستل، دا چې دا ساتونکي عملاً وو که نه؟ خو ده ته یې امتیازات حواله وو. محمد قسیم فهیم د کرزي د انتخابي واکمنۍ په لومړۍ دوره کې د کرزي له خوا د مشرانو جرګې د انتصابي غړي په توګه معرفي شو، د ښاغلي فهیم پلان دا و چې دی د مشرانو جرګې د ریاست څوکۍ ترلاسه کړي، څرنګه چې یا مقام ته تر ټاکنو وړاندې د ولسي جرګې د مشرتابه لپاره ټاکنې وشوې او (یونس قانوني) د یادې جرګې د مشر په توګه وټاکل شو، نو د فهیم پلان له ستونزو سره مخ شو، ځکه چې دا نو بیا ټولو هېوادوالو ته د زغم وړ نه وه چې له یوه تنظیم، یوه قوم او یوې درې څخه دې دوه تنه د مقننه قوې په راس کې راشي؛ د ولسي جرګې رییس دې هم له پنجشېر څخه وي او د مشرانو جرګې هغه هم. فهیم بیا وروسته د مشرانو جرګې له انتصابي غړیتوبه استعفی ورکړه او پر کور کېناست، خو پر کور ناسته یې هم په دې مانا نه وه چې په حکومت کې هېڅ واک و ځواک نه لري. ټول هغه افراد چې په حکومت کې پخوا د ده او د نظار شورا له خوا مقرر شوي وو، له خپلو مقامونو او امتیازاتو برخمن وو، همدا مهال فهیم له استاد رباني او د شمال ائتلاف له نورو مطرح غړو سره یو ځای ((متحده ملي جبهه)) جوړه کړه او له دې وسیلې څخه یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومته د باج اخیستلو لپاره ګټه پورته کړه. محمد قسیم فهیم ورو ورو بېرته له کرزي سره خپل اړیکي نږدې کړل؛ د متحدې ملي جبهې د ړنګولو په شرط کرزي سره نږدې شو او هغه بیا د جمهوري ریاست په دویمو ټاکنو کې بېرته د خپل لومړي مرستیال په توګه غوره کړ او یو ځل بیا یې هغه پخوانی شان و شوکت پیل شو.

د فهیم د غرایزو، هیلو، چلندونو او نیمګړتیاوو په باب ډېرې خبرې وشوې، خو دا په دې مانا نه ده چې دا سړی هېڅ ښېګڼې نه لري. د فهیم خان غټه ښېګڼه دا ده چې دی د واحد افغانستان پلوی دی، البته په دې محدوده کې خپل واک او ځواک غواړي او کله چې خلک ورته د ((ستمي)) خطاب کوي، نو ډېره پرې بده لګي، فهیم نورو بېلابېلو ټولنیزو شخصیتونو سره اړیکي پالي، د افغاني ټولنې پر دود او دستور ښه پوهېږي او د ټولنیزو روابطو په پاللو کې هم خورا تکړه دی، لاس کې هم ازاد دی، په یوه لاس یې راټولوي او په بل یې لګوي. اخواني تنګنظري هم نه لري، د عوامو په اصطلاح د خرابات او مناجات خصوصیات لري.

۲- استاد کریم خلیلي: استاد کریم خلیلي دوه دورې د ولسمشر کرزي د دویم مرستیال په توګه ټاکل شوی دی. کریم خلیلي (د افغانستان د اسلامي وحدت ګوند) غړی، بیا یې مرستیال او د عبدالعلي مزاري تر مرګ وروسته د یاد ګوند د مشر په توګه ټاکل شوی دی. کریم خلیلي د خپل سیاسي ژوندانه درې پړاوونه تېر کړي دي. لومړی د جهاد دوره چې د ده د عمر د ځوانۍ کلونه وو. که څه هم د جهاد په کلونو کې د اسلامي وحدت ګوند ډېر مطرح نه و، خو بېلابېلو شیعه ډلو د شوروي لښکرو او د کابل د حکومت پرضد فعالیت درلود او د ایران رژیم له خوا یې ملاتړ کېده، دې ډلو د نورو جهادي ډلو په شان په ټول افغانستان کې سراسري فعالیت نه درلود، یوازې په هزاره مېشتو سیمو کې یې څه ناڅه جنګي فعالیت درلود. د جهاد په وروستیو کلونو کې ایران د خپلې سیاسي ستراتیژۍ له مخې اوه اته شیعه ډلې سره راټولې او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د (حزب وحدت اسلامي افغانستان) په نامه سره یو ځای کړې، عبدالعلي مزاري یې د مشر او کریم خلیلي یې د مرستیال په توګه غوره کړل. هغه مهال هم د محمد اکبري او عبدالعلي مزاري تر منځ په ځینو مسایلو کې د نظر اختلاف و او بیا کله چې کریم خلیلي د مزاري تر مرګ وروسته د هغه ځایناستی شو، نو د اکبري او خلیلي تر منځ بیا هم اختلافاتو دوام وکړ. دا چې اسلامي وحدت ګوند او په خپله کریم خلیلي په جهاد کې څومره ونډه لرله که نه دا یو جلا بحث دی، خو دی زیاتره تر جهاد وروسته د یوې جهادي څېرې په توګه مطرح شو.



(کریم خلیلي)

د کریم خلیلي د سیاسي او پوځي ژوندانه دویمه مرحله د تنظیمي جنګونو پړاو و. دا پړاو د کریم خلیلي د سیاسي ژوندانه تر ټولو سخت پړاو ګڼل کېږي، په همدې مرحله کې کریم خلیلي کله کله د رباني د رژیم د کابینې غړی و او کله هم ورسره پر سختو جګړو اخته و. د (نظار شورا) او (وحدت حزب) جګړې په کابل ښار کې خورا مشهورې او ډېرې بې رحمانه دي. د کابل په افشارو کې د نظار شورا له خوا ستره بشري فاجعه او د وحدت حزب د افرادو له خوا د خلکو په سرونو کې د مېخونو ټکوهل، د مړي نڅا، پر ښځو او نجونو جنسي تېری د تاریخ د حافظې ټکان ورکوونکې حادثې دي. د مزاري په مشرۍ (وحدت حزب) او د احمدشاه مسعود په مشرۍ د (نظار شورا) او د هغوی نور موئتلفین د دې حوادثو اساسي لوبغاړي وو. د وحدت حزب او نظار شورا اختلافات دومره شدید وو، چې وحدت حزب د نظار شورا پرځای، طالبانو ته ترجیح ورکړه. کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



طالبانو د لویدیځ او سویل له لارې د کابل محاصره راتنګه کړه، نو دا مهال وحدت حزب په سخته تنګسیا کې واقع شو.

مزاري د خپل مکرر دښمن (احمدشاه مسعود) یا (نظار شورا) پرځای طالبان غوره وبلل، طالبانو مزاري ونیو او بیا هغه حالت رامنځته شو چې ټول هېوادوال پرې خبر دي او د مزاري د مرګ سبب شو. د مزاري تر مرګ وروسته کریم خلیلي د اکبري او نورو له مخالفتونو سره سره د وحدت حزب مشر شو. کریم خلیلي دا مهال په درېیو جبهو کې له سیاسي او پوځي جګړې سره مخامخ شو. پخوانی سرسخت دښمن (نظار شورا)، نوی دښمن (طالبان) او درېیم په خپله د (وحدت ګوند) د مشرۍ پر سر د یاد ګوند له ځینو غړو او ځینو نورو سیاسي هزاره ګانو؛ اکبري، محسني، کاظمي او نورو سره پر سیاسي او پوځي جګړه بوخت و. طبیعي خبره ده چې په دې ټولو جبهو کې جنګېدل له بهرني ملاتړ پرته ممکن نه وو. د ایران پوځي او اقتصادي مرستو د وحدت د ګوند د سیاسي او پوځي بقا اساسي لامل و. که څه هم کریم خلیلي د ایران له مرستو څخه انکار کوي، خو د افغانستان واقعیتونه له دې واقعیت څخه سترګې نه شي پټولای. د کریم خلیلي د سیاسي او پوځي ژوندانه دا مرحله په خورا کړاوونو تېره شوه.

د خلیلي د سیاسي ژوندانه درېیمه او خوږه مرحله د طالبانو د نظام د سقوط پړاو دی، دا د ده د سیاسي، اقتصادي، اداري او پوځي ژوندانه تر ټولو خوږه مرحله ده. کریم خلیلي د بن تر کنفرانس وروسته د انتقالي ادارې د مشر د مرستیال په توګه انتصاب شو. کله چې په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د ولسمشرۍ ټاکنې کېدلې، نو کریم خلیلي د حامدکرزي د دویم مرستیال په توګه په انتخاباتي ټکټ کې ځای وموند.

استاد کریم خلیلي که څه هم له کرزي سره خواخوږي درلودله او له هغه سره په ښه درېځ کې راغلی و، خو په ټاکنو کې یې کرزي ته ډېرې کمې رایې، چې د شمېر نه وې، راوړې. دا مهال حاجي محمدمحقق هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسمشریزو ټاکنو یو نوماند و. نو کریم خلیلي او یا هم د وحدت ګوند غړو فکر کاوه چې کرزی خو هسې هم بریالی کېږي، که موږ رایې ورکړو او که نه، د دې زیات اټکل شته چې کرزی بریالی شي، نو راځه محقق ته رایه ورکړه چې هم د هزاره وو شمېر زیات وښودل شي او هم محقق خوشاله شي. بیا که چېرې اینده کې د کریم خلیلي د نوماندۍ خبره وه، نو محقق به ورته کار کوي، نو په همدې خاطر اکثره هزاره ګانو د کرزي په انتخاباتي ټکټ کې د خلیلي پرځای محقق ته رایه ورکړه او کریم خلیلي په تشو او یا هم په ډېرو کمو رایو د مرستیال په توګه غوره شو. که څه هم خلیلي د مرستیالۍ څوکۍ اشغال کړه، خو د رایو د کمښت په وجه یې د کرزي په انتخاباتي ټکټ کې وزن خورا کم و. په همدې خاطر ده د مرستیالۍ په دې لومړي پړاو کې ډېر په زغرده کارونه نه شول تر سره کولای، خو دا په دې مانا نه ده چې ده صلاحیت نه درلود. د کرزي نرم طبیعت او اقلیتونو ته د هغه خلاصه غېږه د دې سبب شوې وه چې کریم خلیلي په انتخاباتو کې د خپل کم کیفیته او کم کمیته رول له امله د راپیدا شوې کموزنۍ تشیال ډک کړي. کریم خلیلي د کرزي له دغه نرمښت څخه اعظمي ګټه پورته کړه او د خپلو اقتصادي غرایزو د پوره کولو لپاره یې دا یو ښه فرصت وباله. په بېلابېلو سیمو کې یې له قانوني او ناقانوني زور څخه په ګټې اخیستنې ښارګوټي جوړ او په زرګونو جریبه دولتي ځمکه یې د خپلو خپلوانو له لارې راخپله کړه. د کابل (چهاردهي) ته ورڅېرمه چې اوس یې د (کابل غرب) په نامه هم یادوي، خپل ورور (حاجي نبي) ته په خپل حکم د ښارګوټي لپاره دولتي ځکه بېله کړه. حاجي نبي هغې ته پراختیا ورکړه او تر (۲۰۰۰) جریبه زیاته ځمکه یې د ښارګوټي په محوطه کې را ایساره کړه، سره له دې چې کابل ښاروالۍ د دې ښارګوټي رسمي مجوز صادر نه کړ، خو خلیلي له خپل دولتي زور څخه په ګټې اخیستنې د دې ښارګوټي د جوړونې چارې جاري وساتلې.

خلیلي لکه د نظار شورا د مشرانو په څېر، د طالبانو نظام تر ړنګېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته په حکومت کې د ملي مشارکت شعار ورکاوه، له دې څخه یې موخه دا وه چې حکومت کې دې د قومي جوړښت او کمیت له مخې اشخاص پر کار وگومارل شي. دې شعار تر هغه وخته دوام پیدا کړ چې د یو شمېر لړکیو استازو په حکومت کې د خپل کمیت د نامشروع زیاتوالي له امله خپل یاد کمیت پر کیفیت بدل کړ، اکثریت پښتانه ورو ورو د بهرنیو د زیات فشار له امله حاشیې ته شول او د جگړې لمن ورته ور وغځول شوه. دا کار د دې سبب شو چې اکثریت پښتانه له حکومته لرې پاتې شو. کله چې د دولت د کادري جوړښت زیاته برخه ناپښتنو ته په لاس ورغله، نو بیا د ملي مشارکت پرځای د (لیاقت) او (ښایسته سالارۍ) شعارونه پورته شول، دا مهال نو له لرې پرتو سیمو څخه کابل ته راغلي اشخاص د بېلابېلو عواملو له امله د دې جوگه نه وو چې له ښاري فارغ التحصیلانو سره د یو ټاکلي پوست لپاره عادلانه سیالي وکړي، واکمنو ډلو یو شمېر امتیازات له دې لارې ترلاسه کړل. غوره مثال یې د ملي دفاع وزارت د پوځي اکاډمۍ یوه ازموینه وه چې د قومي مشارکت له مخې یې سهم بندي ټاکل شوې وه، خو امتحان کې یې ښاري او اطرافي گډونوالو دواړو یو اصل تعقیبوه. کله چې ازموینه واخیستل شوه، نو د استادانو د پلویتوب او د تنظیمي عنصر د حاکمیت له امله یو زیات شمېر هزاره گډونوال په دې ازموینه کې بریالي شول. څرنگه چې د پوځي اکاډمۍ دې دورې یوازې د یوه قوم رنگ اخیسته، نو وزیرانو شورا د پخواني فورمول له امله چې قومي ترکیب باید په کې مراعت شي، پرېکړه وکړه، خو کریم خلیلي په غونډه کې وویل تر څو پورې به موږ په قومي خبرو پسې گرځو، موږ باید لیاقت او ښایسته سالارۍ ته ترجیح ورکړو، دا ځوانان په خپل لیاقت راغلي، موږ باید دوی د خپل لیاقت قرباني نه کړو، لیاقت یې ونه وژنو، نو په کار ده چې د امتحان همدا نتیجې ومنو او قومیت پسې ونه گرځو. کرزي هم ورسره د تائید سر وخوځوه او په پای کې د کریم خلیلي خبره ومنل شوه. په مقابل کې د مخابراتو وزارت په اترا کې هم ورته امتحان

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. یو تخنیکي پوست ته د گڼو گډونوالو له منځه د (عطامحمد یاري) په نوم یو پښتون د خپل لیاقت له امله بریالی شو. د چارو ادارې ته یې له جمهوري ریاست څخه د منظورۍ لپاره وړاندیز ورولېږه، خو له هغه ځایه بېرته په دې رد شو چې که دلته پښتون مقرر شي، ملي مشارکت نه مراعتېږي. داسې په سلگونو څه چې په زرگونو بېلگې شته چې د ټولو یادول دلته ممکن نه دي. د ولسي جرگې د (١٦) دورې په ټاکنو کې په غزني او میدان وردگ ولایتونو دواړو کې درغلي ردېدلای نه شي. په لومړنیو نتیجو کې د میدان وردگو (٥) څوکیو لپاره پنځه واړه پښتانه او په غزني کې د (١١) څوکیو لپاره یوولس واړه هزاره گان بریالي وگڼل شول، خو حکومت له بېلابېلو لارو د میدان وردگو په رایو کې د تقلب په نامه بدلون راوړ، له پنځو یې درې څوکۍ هزاره گانو ته اختصاص کړې، خو په غزني کې د کریم خلیلي په گډون د ټولو حکومتي او ناحکومتي مشرانو د زیات او ناقانونه فشار له امله، هغه ټاکنې رنې وگڼل شوې، په یوه رایه کې یې هم بدلون رانغی او ټول یوولس تنه هزاره گان بریالي وگڼل شول. په حکومت کې دغسې بې عدالتي له موقتې ادارې پیل او تر دې دمه لا دوام لري.

کریم خلیلي که له یوې خوا د کرزي په حکومت کې و، نو د هزاره گانو د قومي گټو په خاطر یې بیا له محقق او نورو سره گډ دریځ درلود. محقق که هر څومره ځان ته د اپوزېشن واسکټ اغوسته، خو له خلیلي سره یې پټ روابط درلودل. د کابل په نړیوال کنفرانس کې محقق ته د یوه گډونوال په توگه ونډه ورکړل شوې وه، خو څوکۍ یې په لومړي کتار کې نه وه، کله چې خلیلي خبر شو محقق د کنفرانس په حاشیه کې دی، نو ژر یې داودزي ته په غوږ کې وویل: ((چوکی محقق صاحب را در قطار اول بیار، رهبر جهاد است، فعلاً جایش مناسب نیست)) محقق هم د اپوزېشن د یو غړي په توگه پر کرزي انتقادونه کول او هم د حکومت پر ټېټپوړو چارواکو، خو له خلیلي به یې پښه اړوله. (جامعه هزاره افغانستان) کې ټول سره یو وو، پر بېلابېلو ډلو یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانونه په دې خاطر وبشلي وو، چې له ځو لارو امتیازات ترلاسه کړي. د کوچیانو مسله کې د خلیلي او محقق دریځ یو و، یو تر بله تېز و. په غزني کې د ولسي جرګې لپاره د تر سره شویو ناعادلانه ټاکنو په برخه کې د هزاره ګانو لپاره د سل په سلو کې امتیازاتو اخیستلو او د نورو ټولو قومونو د محرومۍ په برخه کې د هزاره سیاسیونو ټولو نظر یو و. د (کابل اکسپرییس) فلم پر وړاندې په اعتراضي غبرګون کې، محقق، خلیلي، سیما سمر او نور ټول په یوه لیکه کې ولاړ وو.

خلیلي له خپلو تنظیمي او اتنیکي تمایلاتو سره سره په ملي او لویو هېوادنیو مسایلو کې د نسبتاً مثبت دریځ خاوند و. ده لویه اوسېله او د تحمل ژبه درلودله، له نړیوالو سره یې د افغانستان پر اړیکو ټینګار کاوه او دا یې د هېواد په ګټه بلله، خلیلي په دې نظر و چې افغانستان په ډېرو سختو سیاسي، اقتصادي او امنیتي شرایطو کې واقع دی، د ګاونډیو لاس پرې بر دی، نو ځکه په داسې شرایطو کې له لویو ځواکونو په تېره بیا د امریکا متحده ایالتونو سره د افغانستان د اړیکو خرېړتیا او سستیا د افغانستان په ګټه نه ده. ده ځو ځله ولسمشر کرزي ته ویلي وو چې له امریکا سره په روابطو کې له احتیاط څخه کار واخلي او خبره ډېره ناندریو ته ونه باسي. خلیلي په لوړه دولتي کچه په تېره بیا د وزارتونو په کچه د لیاقت پر اصل ټینګار کاوه او افغانستان کې قومي نزاکتونو او حساسیتونو ته هم سخت متوجه و. دا مهال تر ټولو زیات پښتانه کادرونه تر سیاسي فشارونو لاندې وو. هر پښتون کادر د طالب، اسلامي حزب، پخوانۍ خلق او پرچم ډلې سره د پیوند لرلو په تور له مخې څخه لرې کېدلای شول، یو وخت د کابینې پر ترکیب او په هغو کې د ځو مطرحو څېرو د حذف خبره روانه وه. استاد رباني پر کرزي باندې فشار راوړ چې په کابینه کې د (علي احمد جلالي، اشرف غني، معصوم ستانیکزي او حنیف اتمر) په شان څېرې باید غړیتوب ونه لري. کرزي د رباني فشار ته غاړه کېښوده، ستانېکزی، جلالي او غني له کابینې څخه څنډې ته شول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوبت د حنيف اتمر و. کريم خليلي کرزي ته وويل چې ستا د کابينې لايقه وزيران همدا وو، دا ټول پښتانه هم وو که موږ په دې پسې حنيف اتمر هم ګوښه کړو، نو خلک به په طبيعي ډول ووايي چې دې حکومت هم پښتنو پسې را اخيستې او هم لايقه اشخاص نه شي زغملای، نو که زما منې حنيف اتمر بايد حتمي په کابينه کې وي. حامدکرزي چې دا وخت همداسې يو ملاتړ ته اړتيا لرله، نو پر اتمر يې لاس ونيو. همغه و چې حنيف اتمر په کابينه کې پاتې شو. کريم خليلي له کرزي سره د ګوزارې او تفاهم لاره خپله کړه؛ هم يې خپل خپل کارونه کول او هم يې په ډېرو ملي مسايلو کې د کرزي ملاتړ کاوه. کريم خليلي له نظار شورا سره د زړې دښمنۍ له امله، له هغوی سره چندان جوړ نه و، خو څرنګه چې نظار شورا په حکومت کې د ويتو حق درلود او کرزي هم د هغوی خبره ځمکې نه پرېښودله، نو خليلي هم مجبور و چې له نظار شورا سره پر پخوانۍ دښمنۍ خاورې واړوي او له طالبانو سره د زړې دښمنۍ مشترک ټکي وروړاندې کړي، که نه د خليلي پر زړه باندې هېڅکله دا نه اوارېدله چې د ده پر دفتر دې د احمدشاه مسعود عکس راځوړند وي. يوه ورځ خليلي زما(يون) په يوه مرکه له ما څخه سخت خوابدی شوی و. ولسمشر کرزي ته يې شکايت کړی و، څه موده وروسته د ولسمشر په غوښتنه، زه او عمر داودزی، د خليلي صيب دفتر ته ورغلو چې د جزئياتو پوښتنه وکړو. هلته خليلي صيب له نظار شورا سره د ده د پخوانۍ دښمنۍ او بيا تر دې دمه د هغوی پر نورو ناروااوو، هر اړخيزې خبرې وکړې. کريم خليلي وويل موږ افغانستان کې ملي وحدت غواړو، له پښتنو پرته موږ ګوزاره نه شو کولای، زموږ ټولې لارې پر پښتنو دي، زموږ شاوخوا ټول دوی استوګن دي، زه د ايران د ملاتړ په تور تورن يم، خو ايران زموږ د حرکت او کارونو مخالف دی. ده وويل زموږ حزب له نظار شورا سره پر جګړه اخته و، حکمتيار زموږ لاسنيوی وکړ، استاد مزاري په شعوري ډول حکمتيار انتخاب کړ او ويې ويل چې له پښتنو سره زموږ دايمي ژوند دی او دا کار هغه مهال

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نه د ایران خوښ و او نه هم دا خبره د نظار شورا په زړه اوارېدله. د کریم خلیلي د خبرو نچوړ دا و چې دی د ملي وحدت او له پښتنو سره د ښو او دایمي اړیکو د لرلو سخت پلوی دی.**

**خلیلي له کرزي سره (۱۴) کاله د ملگرتوب مزل وکړ، دریځ یې ملایم او له مفاهمې څخه ډک و، د مرستیال په توگه د قسیم فهیم پر دویم ځل ټاکل کېدو خوښ نه و، خو څرنگه چې د کرزي انتخاب و او بل دا چې دی بیا هم له خپل همغه پخواني موقف څخه برخمن و، نو ځکه یې ډېر مخالفت نه کاوه، خو کرزي ته یې ویلي وو چې: ((این ادم اگر امد کارها را خراب میکند.)) د کریم خلیلي هدف دا و چې فهیم خان د تفاهم ژبه نه لري او کارونه او نورې مقررۍ په خپل سر کوي. د کریم خلیلي تشویشونه پر خپل ځای وو، په عمل کې هم همداسې وشول.**

**د کریم خلیلي په باب د بحث لړۍ ډېره اوږدېدلای شي، خو زه نه غواړم دا بحث ډېر اوږد کړم، په لنډیز سره ویلای شو چې کریم خلیلي، تر جگړه ییز او تنظیمي حالته وروسته د ولسمشر د مرستیال په توگه تر ډېره حده خپله دنده په مناسبه توگه اجرا کړې ده، هم یې هغه خلک چې ده یې استازیتوب کاوه، خوشاله وساتل او هم یې ولسمشر ته د نورو هېوادنیو چارو د پرمختبیولو لپاره لاس ورکړ، گوزاره او تفاهم یې وکړ او په حکومت کې یې د زیاتو ټکرونو مخه ونیوله، دولتي چارو ته پر خپل وخت حاضرېده، عامو او خاصو دواړو غوندو کې یې گډون کاوه، له تنظیمي انارشۍ څخه د اصولي**



**(احمد ضیاء مسعود)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديموکراسۍ پر لوري يې منظم ګامونه پورته کړل، د جهادي او روښنکفري قشر دواړو عناصر په کې هم تمثيلېدل او د حکومت يوه اساسي ستن ګڼل کېدله.

۳- احمدضيا مسعود: احمدضيا مسعود مې ځکه تر فهيم خان او کريم خليلي وروستته ياد کړ چې د ده رول تر دې دواړو په نسبتاً کمزوري حالت کې و. احمدضيا مسعود د اسلامي جمعيت د مشهور قومندان (احمدشاه مسعود) ورور دی. د احمدشاه مسعود د شهرت او طاقت برکت و چې احمدضيا مسعود د جمهوري رياست د لومړۍ مرستيالۍ څوکۍ ته ورسېد. ده تر دې وړاندې زيات کلونه په روسيه کې د افغانستان د سفير په توګه دنده اجرا کوله. له هغې ورځې چې د ډاکتر نجيب الله حکومت ړنګ شوی، نو د افغانستان بهرنی استازيتوب اسلامي جمعيت او په تېره بيا د نظار شورا په لاس کې و. احمدشاه مسعود خپل يو ورور (احمد ولي مسعود) په لندن کې، دی يې په مسکو کې د سفيرانو او يو دوه نور يې په نورو اروپايي هېوادونو کې د خپلو استازو په توګه مقرر کړل. سربېره پر دې عربي متحده اماراتو او ګڼو نورو هېوادونو کې يې هم د خپلې کورنۍ غړي، خپل او خپلوان او دغه راز خپل تنظيمي غړي پر دندو وګومارل. احمدشاه مسعود که له يوې خوا له نورو جهادي ډلو سره اختلافات درلودل، په خپله د اسلامي جمعيت له مشر (استاد رباني) سره يې هم خپل خپل مشکلات درلودل. استاد رباني احمدضيا مسعود سره خپلولي وکړه؛ خپله لور يې ورته ورکړه، خو بيا هم د قدرت پر سر د اسلامي جمعيت د مشر او قومندان تر منځ پټ رقابت روان و. کله چې د جمهوري رياست لومړي ځل ټاکنې کېدلې، نو ولسمشر کرزي، نړيوالې ټولنې او ګڼو افغانانو غوښتل ښاغلی محمد قسيم فهيم، چې تر دې مهاله د کرزي مرستيال او د دفاع وزير په توګه پاتې شوی و او تل يې د زور له ادرسه خبرې کولې، نور د کرزي د مرستيال په توګه پاتې نه شي. دې کې هېڅ شک نه و چې دا داسې مهال و چې که کرزي د اسلامي جمعيت له غړو پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل هر څوک د خپل مرستیال په توګه راوړی وای، نو نه یوازې دا چې رایې نه کمېدلې، بلکې زیاتېدلې، ځکه چې اسلامي جمعیت په هر حال خپل کاندید درلود او رایې یې اتومات خپل کاندید ته تللې، نو له دې ډلې څخه د مرستیال په توګه د یو چا ټاکل نه یوازې هغو ته په وړیا ډول د څوکۍ ورکول و، بلکې د دې څوکۍ د ورکړې له امله د رایو د کمښت سبب هم کېده. کرزي د نظار شورا له وېرې بله لاره ونیوه، د زلمي خلیلزاد په مشوره یې احمدضیا مسعود، چې دا مهال په مسکو کې سفیر و، د خپل لومړي مرستیال په توګه غوره کړ، وخت هم ډېر کم و، ځانګړې الوتکه یې ورپسې ورولېږله، هغه یې راوست او د خپل مرستیال په توګه یې نوماند کړ. فهیم خان چې تر دې مهاله د پخواني قدرت د محاسبې له مخې دې څوکۍ ته په تمه و، دې حالت سخت خوابدی کړ او کرزی یې په دې تورن کړ چې په پنجشېر کې د احمدشاه مسعود له کورنۍ پرته بل چاته پام نه کوي، په بهر کې یې دا کار له واکه د (مجاهدینو) د حذف په نامه تبلیغوه. په هر حال ټاکنې راغلې او احمدضیا مسعود پرته له دې چې په کمپاین کې کوم اساسي نقش ولري، په وړیا ډول او د خپل ورور د پخواني نظامي قوت په برکت د لومړي مرستیال په توګه منتخب شو. له پنجشېر څخه یې ټولې (۳۳۷) رایې چې هغه هم د پوپلزو کوچیانو وې، نور نو ده په ټاکنو کې کوم خاص رول نه درلود.

احمدضیا مسعود، د طبیعت او خصلت له مخې دروند او نرم سړی دی، ډېر جنجالي نه دی، البته د پیسو پیداکولو ځانګړی شوق لري، چې د نظار شورا زیاتو غړو ته یې دا خصلت معلوم دی، خو نور متشدد او جنجالي شخص نه دی. له کرزي سره یې سیاست پر ګوزارې ولاړ و. احمدضیا مسعود دا مهال په ډېره تنګسیا کې و؛ یو دا چې ده هېڅ رایې نه وې راوړې، نو که هر څومره ده ځان د منتخب مرستیال په توګه تمثیلوه، حقیقت خو دا و چې ده او خپله کرزي ته د ده وزن معلوم و. نظارشورا او پنجشېر ګروپ

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې پرېکړه وکړه او فکر یې داسې و چې د کرزي په وجود کې خو هسې هم احمدضیا مسعود بریالی کېږي، نو رایې ته څه اړتیا ده؟ راځئ رایه یونس قانوني ته واچوو که دی بریالی شو، نو بیا خو به په اول رول کې راشو، دویم رول خو مو هسې هم تضمین دی، خو دېته یې پام نه و چې دویم رول د څومره پیکوالي، کموزنۍ او بېوزنۍ په قیمت؟ کرزی هم د خپلو پلویانو له لوري تر فشار لاندې و چې رایې به زموږ وي، خو قدرت به د بل چا؟ که څه هم کرزي د خپلو پلویانو خبرو او منطق ته غوږ نه ایښوده او نظار شورا یې د خپلو طبیعي پلویانو د خفګان په بیه هم خوشاله ساتله، خو بیا هم تر یو ډول فشار لاندې و. احمدضیامسعود له یوې خوا د نظار شورا او خپلو پنجشېریانو تر فشار لاندې و چې پخواني موقفونه یې باید خوندي پاتې شي او نور څه هم ترلاسه کړي او له بلې خوا یې د رایې د نشتوالي له امله لاس تش او منطق یې پڅ و. خو خیر دوی به د منطق هره خوا د ((جهاد)) او ((مقاومت)) په دوو الفاظو ډکوله. که دې پرې نیوکه کوله چې ولې دې رایې نه دي راوړي، نو ویل یې موږ ((مقاومت)) کړی، که دې ورته ویلې چې فساد ولې کوئ، نو دوی ویل چې دا خو د مجاهدینو سپکاوی دی او ((جهاد)) ته توهین. پر دوی باندې د هر معقول انتقاد د دفعې لپاره همدا دوه نسخې کافي وې.

احمدضیا مسعود د منطق له ګڼو ستونزو سره سره پر دی بریالی شو چې په سیمه ییزه او تنظیمي کچه یو زیات شمېر هغه افراد چې تر دې وړاندې په ناقانونه توګه او د وسلې په زور په حکومت کې مقرر وو، خوندي وساتي او یو شمېر نور کسان هم حکومت ته ورداخل کړي، خو د ده دا کار بیا هم د نظار شورا د ټولو غړو د قناعت وړ نه و. په اقتصادي چارو کې که څه هم احمدضیا مسعود ډېر خلاص لاس نه درلود، خو بې اغېزې هم نه و، په (پامیر هوایي شرکت) کې د ده ګډون او همدارنګه په یو شمېر نورو اقتصادي پروژو کې د ده لاسوهنه، له اقتصادي پلوه د ده د بدنامۍ سبب شوه.

په حکومت کې او هم تر حکومته بهر دوه رولونه، بل هغه عامل و چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احمدضیا مسعود د بدنامۍ لامل شو. د اسلامي جمعیت پر محوریت او د استاد برهان الدین رباني په مشرۍ د ((متحدې ملي جبهې)) جوړېدل چې ځان یې د حکومت مخالفه ډله یا اپوزېشن باله او یوه زیاته برخه یې د حکومت په داخل کې هم پر لوړو پوستونو مقرره او واکمنه وه، احمدضیا مسعود هم د دې جبهې غړیتوب درلود. د ورځې به په حکومت او د شپې به په اصطلاح په اپوزېشن کې و. دغسې یو حالت په عوامو کې د (اپوزېشن) او (حکومت) دواړه اصطلاحگانې پیکه کړې وې. هغو شخصیتونو چې دا ډول دوه گونی رول یې درلود، هغوی هم د خلکو په ذهنونو کې بې مانا ښکارېدل. احمدضیاء مسعود هم چې دا مهال د جمهور رییس لومړی مرستیال و او هم یې له خپل خسر (استاد رباني) سره د حکومت خلاف په اصطلاح (اپوزېشن) جوړ کړی و، نو دې خبرې د ځان پر وړاندې د خپل ځان د مخالفت مانا لرله. یو وخت بیا داسې راغی چې د استاد رباني په شمول د دې جبهې اکثریت غړي بېرته له حکومت سره یوځای شول او ځای یې د (تغیر او امید) په نامه یو بلې محدودې ډلې، چې مشري یې د جمعیت بل غړي (ډاکتر عبدالله عبدالله) کوله، ونیو.**

**د احمد ضیاء مسعود ددغسې دوه گوني رول او د ده د نورو کړنو په باب ما یوه مرکه کړې وه، احمد ضیاء مسعود ولسمشر کرز ي ته شکایت وکړ، هغه زه خپل دفتر ته وغوښتلم او په تونده لهجه یې ماته وویل: «ته دلته په حکومت کې په مهم پوست کې کار کوې او زما د معاون پر ضد څرگندونې کوې، دا د حکومتي اصولو خلاف کار دی.» ما وویل ستا معاون هم د حکومت یو لوړپوړی چارواکی دی، هغه هم ستا په مقابل کې په متحده جبهه کې ناست دی، هم ستا او هم د ټول حکومت پر وړاندې څرگندونې کوي. دې سره جمهور رییس ډېر په قهر شو ماته یې وویل: «دا نو بیا زما کار دی».**

**د کرزي صیب په حکومت کې دا عجایب او غرایب تر پایه روان وو. تر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پایه د موافق او مخالف، دوست او دښمن تعریف ونه شو.

احمدضیا مسعود د کرزي په حکومت کې په زړه نا زړه ډول کار ته دوام ورکړ، هم یې زړه کېده هم یې ساړه، خو په مجموعي ډول یې له کرزي سره د تفاهم او تحمل لاره ونیوه؛ د وسلوال تشدد لاره یې خپله نه کړه، خپله هم یوې نسبي کورنۍ پورې تړلی و، د نظار شورا د ځینو نورو غړو په شان یې سپوره خوله خلاصه نه کړه، د یو نرم او حلیم شخص په توگه یې خپل حیثیت وساته. د ټولیزې نتیجې په توگه ویلای شو چې احمدضیا مسعود په حکومت کې د دویم مقام لرلو له امله د شهرت او اغېز خاوند شو. خپل یو زیات شمېر سیمه وال او جمعیتیان یې په حکومت کې خوندي وساتل او هغو ته یې زیات شمېر اقتصادي گټې ورسولې، د پنجشېر او خپلې کورنۍ لپاره یې حکومتي څوکۍ په وراثت بدله کړه او راتلونکي لپاره یې ځان پر یو سیاسي شخصیت واړوه.

**جهادي مشران:** لکه څنگه چې د دې اثر پر نورو برخو کې مې اشاره کړې چې د حامد کرزي صیب حکومت له عجایبو او غرایبو ډک و. د مجاهدینو او منافقینو، کیڼ لاسو او ښي لاسو، پاکو او ناپاکو، پوهو او ناپوهو هر ډول اشخاصو ځېرې او بېلگې په کې پرېمانه وې.

داسې د مجاهدینو او مجاهد ډوله اشخاصو هم کمی په کې نه احساسېده. یو شمېر پخوانیو مجاهدینو یې پر ضد جهاد اعلان کړی و او یو شمېر نور بیا د مقامونو په خوړلنیو کې ډوب وو او پخواني مجاهدین یې ترهگر بلل. دا ډول څوکۍ خوښي مجاهدین او یا د هغوی مشران که څه هم په ارگ کې نه وو او یا هم د حکومت د اساسي څوکیو په راس کې، خو څوک چې په ارگ کې ناست او یا هم پر لوړو دولتي څوکیو مقرر وو، دوی پر هغوی ټولو خپل خپل اغېز درلود. دلته غواړم دې ډول پخوانیو مجاهدینو او یا هم جهادي مشرانو ته اشاره وکړم. که څه هم دوی ځانته اوس هم د ((جهادي مشرانو)) اصطلاح کاروي، خو زه ورته اوس څکه مجاهدین نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايم چې د ځلوېښتو نامسلمو هېوادونو د عسکرو تر چتر لاندې خپل واک ته دوام ورکول او ځانته د (مجاهد) اصطلاح کارول، پرځان او جهاد له ريشخند وهلو پرته بله مانا نه لري.

کرزي د (جهادي مشرانو شورا) تر چتر لاندې له دې ډول اشخاصو سره لږ تر لږه په مياشت کې يوځل جلسه لرله او د هېواد پر مهمو او حساسو سياسي مسايلو يې د دوی نظر پوښته. د قانوني ارگانونو ترڅنگ دوو نورو ارگانونو هم، چې په اساسي قانون او نورو قوانينو کې يې هېڅ يادونه نه وه شوې، هم د مشورتي او بيا لازمي مشورتي ارگانونو په توگه فعاليت کاوه او له حکومته يې پټ او ښکاره باج اخيسته. يوه (د افغانستان علماوو سراسري شورا) وه چې لومړی يې (مولوي‌فضل‌هادي‌شينواري) او بيا د هغه تر مرگ وروسته (مولانا قيام الدين کشاف) مشري کوله، د امنيت شورا د دفتر له خوا ورته مالي امکانات برابرېدل او هره مياشت يې په لکونو ډالره لگښت درلود.

بله د (جهادي مشرانو شورا) وه چې اکثره تاريخ تېرو جهادي مشرانو په کې ونډه درلودله، دوی هم له حکومت څخه پټ او ښکاره باج اخيسته او کله کله به يې حق السکوت هم حکومت ته په لوړه بيه تمامېده. دلته غواړو د دغه ډول جهادي مشرانو او د هغوی پر رول باندې په جلا جلا ډول، خو په لنډيز سره رڼا واچوم:

۱- استاد برهان الدين رباني: په جهادي مشرانو کې پر کرزي او د هغه پر حکومت تر ټولو موثر شخص د اسلامي جمعيت تنظيم مشر (استاد پروفيسور برهان الدين رباني) و. رباني په جهادي مشرانو کې ډېر هوښيار، ځيرک او وخت پېژندونکی شخص و. دی د گلبدين حکمتيار په شان له زمانې سره په مقابله کې نه و، ده له وخت سره موازي حرکت کاوه، زمانې چې څه غوښتل، ده همغه کار کاوه، نو ځکه خو يې هغه جهادي تنظيمونه او اشخاص چې تر ده يې په جهاد کې زياته ونډه لرله، شاته پرېښودل او دی په هره زمانه کې مطرح شخص پاتې شو. د کرزي په رنگينه ديموکراسۍ کې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې جهادي څېرې، د جهاد ماسک پرمخ وغوړاوه او هم يې د ولسواکۍ له نوې رنګينې فضا څخه خوند واخيست. د ځان او نړۍ د ګډ دښمن (طالب او اسلامي حزب) پر وړاندې د ګډ دريځ له امله د استاد رباني تنظيم په حکومت کې ډېره غوښنه برخه ترلاسه کړه. امريکايانو د روسانو او ايرانيانو د راضي ساتلو لپاره د استاد رباني ډلې ته په نوي حکومت کې اساسي نقش ورکړ. غربي نړۍ او په تېره بيا امريکايانو د طالب نظام تر ړنګېدو وروسته غوښتل چې افغانستان کې يو پراخ بنسټه حکومت رامنځته



(پروفيسور برهان الدين رباني)

شي، خو د روسانو شرط دا و چې ((د استاد رباني حکومت دې پراخ بنسټه شي.)) د روسانو هدف دا و چې نور شخصيتونه دې د همدې حکومت، چې تر دې مهاله روسانو په رسميت پېژنده، برخه شي.

په پای کې امريکايانو هم د روسانو نفوذ ته په کتو او د طالبانو پر وړاندې د ايران د ګډ دريځ د راخپلولو لپاره د روسانو شرايط ومنل. د رباني تېر رژيم يې د حکومت د هستې، زړي او محور په توګه غوره او د کرزي په شان نور اشخاص يې پر دې محور راټول کړل. د بن په کنفرانس کې هم د شمالټلوالې اساسي شرط دا و چې که د حکومت په راس کې پښتون راځي، نو د حکومت نوره بدنه به د دوی په لاس کې وي او په راس کې چې کوم پښتون راځي د هغوی انتخاب به هم د دوی په خوښه وي. دوی ويل قدرت بايد دوی سره وي او زعامت پښتنو سره، خو د زعامت انتخاب به هم د دوی په خوښه و. نړۍ دوی سره همدا فورمول ومانه، دا چې دا فورمول د افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنې له ټولنیز جوړښت، واقعیتونو او تېر تاریخ سره څومره سمون درلود که نه دا نو بیا بېله خبره وه، خو اوس نړۍ او شمالټلواله د یوه ګډ دښمن پر وړاندې په یوه ګډ مورچل کې ناست وو. استاد رباني په همدې شرایطو، په اصطلاح د واک انتقال ته راضي شو، د نظار شورا فشار هم د رباني په قانع کولو کې اساسي رول درلود. ځکه که هغوی رباني د دولت له مشرتوب څخه د فشار راوړلو له لارې نه وای قانع کړی او نه وای لرې کړی، نو د هغوی موقفونه هم په خطر کې وو. نظار شورا ورو ورو هڅه کوله، د تاجکانو د مشرتابه لپاره د رباني رول کمزوری کړي. خو له دې ټولو ستونزو او مشکلاتو سره سره رباني بیا هم د کرزي تر مشرۍ لاندې حکومت کې تر هر چا زیات موثر شخص پاتې شو. خپله کرزي هم رباني ته په ډېرو حساسو شېبو کې لاس ورکړی او هغه یې له سیاسي او اقتصادي انزوا څخه ژغورلی دی. د کرزي له خوا امنیت شورا ته په راغلو ناشمېره پیسو د رباني خوشاله ساتل، هغه له اقتصادي تنګسیا څخه وژغوره، رباني ته د ښارګوټو لپاره د زرګونو جریبو ځمکو ورکړه د هغه د راضي ساتلو بل عامل و.

په حکومت کې د هغه د افرادو خوندي ساتل او د نورو هغو تقرر رباني ته نور قوت او نور طاقت هم ور په برخه کړ. د سولې شورا د رییس په توګه د رباني ناعادلانه ټاکنه بل عامل و چې رباني یې د خپلو سیاسي رقیبانو پر وړاندې له انزوا څخه وژغوره.

پر پورتنو امتیازاتو سربېره استاد رباني د ((متقاعد جمهور رییس)) په نامه هم یو لړ امتیازات ترلاسه کول او د دې ترڅنګ ورته د ولسمشر کرزي له خوا د څلور سوه (۴۰۰) تنو امنیتي ساتونکو امتیازات هم ورکول کېدل.

رباني د کرزي د واک په دولس کلنه موده کې د خوشالۍ او خفګان په موازي جریانونو کې خپل روابط ساتل، خو په دواړو برخو کې یې امتیازات ترلاسه کول.

رباني که څه هم د قدرت د ترلاسه کولو په برخه کې په تېرو (۳۴) کلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې تر بل هر افغان سیاستوال وړاندې و او له هرې ممکنې لارې یې د واک ترلاسه کولو لپاره وسلواله او ملایمه مبارزه کوله، خو کله کله دا واک ساتنه ده ته د ده د اجتماعي شخصیت د زیان په بیه هم تمامه شوې ده. کله چې امریکایانو پر طالبانو درنه بمباري کوله، نو ده له ضرورت پرته له امریکایانو وغوښتل چې ((غت غت بمونه پرې واچوئ)) دې کار نو افغاني ټولنه کې د رباني سیاسي شخصیت له صفر سره ضرب کړ. امریکایانو هسې هم بمبار کاوه، خو د ده دا ډول ببړنۍ غوښتنې د ده د قدرت خوښونې غریزه هر چاته په ډاګه کړه.

څرنګه چې د رباني په باب د دې اثر په بېلابېلو برخو کې ډېر بحث شوی، نو نه غواړم دا بحث نور پسې اوږد کړم، خو د لنډیز په توګه دومره ویلای شم، چې د کرزي په حکومت کې تر کرزي د رباني واک زیات و او په افغاني ټولنه کې د ده د سیاسي مهارتونو او سازشونو له امله دی یو موثر سیاسي شخصیت ګڼل کېده.

۲- حضرت صبغت الله مجددي: د جهادي شخصیتونو په لړ کې حضرت صبغت الله مجددي بل شخصیت دی چې پر کرزي او د هغه پر حکومت خپل اغېز لري. حضرت مجددي د استاد رباني په شان، په حکومت کې پوځي او زیات سیاسي واک نه لري، خو څرنګه چې ښاغلی کرزی د جهاد پر وخت د حضرت صیب صبغت الله مجددي تر مشرۍ لاندې په (ملي نجات جبهه) کې و او د یاد تنظیم غړی و، نو ځکه خو حضرت صیب ته خاص احترام لري.

د حضرت سیاسي او روحاني شخصیت په خپله هم له زیات تاثیر څخه برخمن دی. حضرت صیب د جهاد په کلونو کې د عبوري حکومت د مشر او بیا د ډاکټر نجیب الله د رژیم تر ړنګېدو وروسته د دوو میاشتو لپاره د مجاهدینو د حکومت د مشر یا ممثل په توګه ځان په اوسني حکومت کې د زیاتې ونډې مستحق باله. حضرت صیب د جهاد لومړۍ فتوا په ځان پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



منحصره ګڼله او د جهاد د قیادت وراثت هم. خو څرنګه چې حضرت صیب د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته  په افغانستان کې نه د زیات قومي نفوذ خاوند و او نه هم د زیات سیاسي او پوځي. نو په دې خاطر هغو اشخاصو چې دا سکې یې نه لرلې، د کرزي په واکمنۍ کې چندان د چلند وړ نه وو. د حضرت صیب ناثابت سیاسي دریځ هم د دې سبب شوی و چې د مطرحو سیاسي جریانونو له خوا د باور له بحران سره مخ شي. خو دې سره سره څومره چې د ولسمشر کرزي زور رسېده، حضرت یې د یو سیاسي او روحاني مشر په توګه نازولای دی، تل یې د هغه لاسونه ښکل کړي او د حکومت په اکثرو مشورو کې یې شریک کړی دی، د اساسي قانون د لویې جرګې د رییس په توګه او وروسته کله چې کرزی انتخابي ولسمشر شو، نو حضرت یې مشرانو جرګې ته د انتصابي غړي په توګه معرفي کړ او بیا یې د ټاکنو له لارې د مشرانو جرګې د رییس په توګه غوره کړ. د دې ترڅنګ یې د امنیت شورا له خوا وخت پر وخت له ډالرو ډکې کڅوړې هم کور ته ورلېږلې. کرزي صیب د حضرت صیب پر ځینو نامشروع اقتصادي کارونو هم سترګې پټولې، کله چې حضرت صیب د مشرانو جرګې رییس و، نو د کور د کرایې لپاره یې د پامور پیسو استحقاق درلود. څرنګه چې حضرت صیب په خپل کور کې اوسېده، نو ویل کېږي چې ده همغه پیسې د خپل کور د کرایې په توګه مجرا کولې، چې هره میاشت نږدې (لس زره امریکایي ډالر) کېدل، نه یوازې حضرت صیب، خلیلي صیب هم همدا ډول کارونه کول، خو کرزي پر دې ټولو سترګې پټولې. حضرت صیب د سولې او شخړو د حل په کمېسیون کې هم اکثره خپل تنظیمي افراد ګومارلي وو او له دې لارې یې خپل نیمژواندی تنظیم ژوندی ساتلای و. حضرت صیب په لسګونو ځله له کرزي څخه خفه شوی، خو کرزي هغه د پیسو او یا هم عذر په بیه بېرته پخلا کړی دی. په مجموعي ډول د کرزي په حکومت کې د حضرت رول تخریبي بڼه نه درلوده، یو مصلح او عمراني رول یې درلود. کله چې استاد رباني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولې د عالي شورا د رییس په توگه منتصب شو، نو حضرت صیب په دې خبره سخت خفه شو، خو کرزي د سولې په کمېسیون کې د نورو امتیازاتو په زیاتونې سره د حضرت صیب د اوږده خفگان مخه ونیوله او کله چې بیا استاد رباني د یوه ځانمرگي برید له امله ووژل شو او کرزي د استاد رباني زوی (صلاح الدین رباني) د سولې شورا د رییس په توگه غوره کړ، نو حضرت صیب ته لاپسې غوصه ورغله، دې غوصې ډېر وخت دوام وکړ، خو بیا هم د بېلابېلو خو وړو وړو امتیازاتو پر ورکړه دا غوصه هم پایته ورسېده. کرزي د جهادي مشرانو مجبوریتونه ډېر ښه درک کړي وو او د دولتي امکاناتو؛ څوکۍ، مقام او پیسو له لارې یې د هغو مشروع او نامشروع غوښتنې پوره کولې، نو په دې خاطر هغوی ټول د کرزي پر دسترخوان راټول وو. کرزی خپله هم په لاس کې ازاد و او د ډېرو پیسو شتوالي د هغه ډېرې نیمگړتیاوې پټې کړې او ډېرې ستونزې اوارې کړې وې. حضرت صیب له امریکایانو سره د امنیتي تړون د لاسلیک لپاره په رابلل شوې لویه جرگه کې هم له کرزي څخه سخت خفه شو، دوه میاشتې یې په بهر کې تېرې کړې، خو بیا بېرته هېواد ته راستون شو. اکثره افغانان حضرت ته د یوه سپین زړي او صادق افغان په سترگه گوري، د هغه له سپینو خبرو خوند اخلي او مستقیمه انتقادي ژبه یې هم پر خلکو بده نه لگي، ځینې نور جهادي مشران هم ورته د یوه صادق انسان په سترگه گوري او د ده انتقاد پرې بد نه لگي.



حضرت صبغت الله مجددي

د اساسي قانون په لویه جرگه کې چې حضرت صیب یې مشر و، د ده خبرې پر چا بدې نه لگېدې، ان پر استاد رباني یې هم یوه ورځ د تفاهم په کمېټه کې یو ډول طنزي نیوکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وکړه؛ د افغانستان بانک د خپلواکۍ او د پیسو د چاپ او وېش څرنگوالی مطرح و، د استاد رباني او د هغه د ډلې ټینگار دا و چې د افغانستان بانک لوی رییس باید له ولسي جرگې څخه باور رایه ترلاسه کړي او هم د پیسو د چاپ په برخه کې ولسي جرگه دخیله وي. هلته انوارالحق احدي او امین فرهنگ په نورو هېوادونو کې د مرکزي بانک د استقلالیت او د پیسو د چاپ په باب هر اړخیز معلومات وړاندې کړل، چې د تفاهم د کمېټې د قناعت وړ وگرځېدل، خو استاد رباني بیا هم د پیسو د چاپ او وېش په باب له ولسي جرگې سره پر مشورې او تفاهم ټینگار کاوه، په پای کې حضرت صیب وویل، زه یو پېشنهاد لرم او هغه دا چې په اساسي قانون کې دې ولیکل شي: ((چاپ و نشر پول توسط بانک مرکزی با مشوره استاد ربانی، چون استاد ربانی زیاد میفهمد و تجربه دارد که چقدر پیسه چاپ شود...)) دې سره استاد رباني هم وخندل او هغه موضوع بیا تر یوه حده حل شوه.**

**د یوه لوی تنظیم چلول او د خلکو خوشاله ساتل هم اسانه کار نه دی، سړی مجبورېږي چې هرې ممکنې مشروع او نامشروع لارې ته لاس واچوي. حضرت صیب هم د همدې ډول ستونزو په مسیر کې واقع و، خو په مجموعي ډول حضرت یو سوله پال او مذهبي شخصیت دی، هېواد ته یې زړه بد نه دی، د افغانانو خیر غواړي، متشدد نه دی، د قدرت شوق لري، خو د قدرت لپاره یې لکه د ځینو نورو په شان وینې نه دي تویې کړي.**


**۳- استاد عبدالرب رسول سیاف: استاد سیاف د جهادي مشرانو په ډله کې یوه مطرح څېره ده. د خلکیانو د واکمنۍ پر مهال د څرخي پله زندان کې بندي و، د روسانو په راتگ سره له زندانه ازاد او په پېښور کې د یو جهادي تنظیم د مشر په توگه څرگند شو. (اسلامي اتحاد) هغه وخت رامنځته شو چې د مختلفو جهادي ډلو مشرانو د (اسلامي اتحاد) په نامه په یوه واحد تنظیم کې د فعالیت ژمنه وکړه، څه موده دې حالت دوام وکړ، بیا د جهادي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو تر منځ شوی اتحاد ببرته له منځه لاړ او هر یو ببرته د خپل تنظیم د فعالیت په لټه کې شو. (د اسلامي اتحاد) نوم پر خپل ځای پاتې شو او استاد سیاف یې د مشر په توگه.

د جهاد په کلونو کې استاد سیاف تر ډېره حده د اسلامي حزب د مشر (گلبدین حکمتیار) سره د سیالۍ له امله د استاد رباني لمن ونیوه او د تنظیمي جنگونو پر مهال هم استاد سیاف د اسلامي جمعیت او نظار شورا د ډلې سرسخت پلوی پاتې شو. د استاد سیاف (اسلامي اتحاد) په ټولو هغو لویو جنگونو کې د نظارشورا ملاتړ وکړ چې یادې ډلې د نورو مخالفو تنظیمونو پر وړاندې تر سره کول. نظار شورا د خپل سیاسي مشروعیت لپاره د استاد سیاف په شان داسې یو شخص ته اړتیا لرله چې ظاهراً له قومي پلوه د پښتون اطلاق پرې کېده. که څه هم استاد سیاف ځان (سید) گڼي، خو پښتنو سره یې قومي ریښه هم نه رد کړې او نه هم تائید کړې ده. استاد سیاف د قومیت عنصر ته همېشه د اسلام په وسله ځواب ورکړی او دا عنصر یې همېشه مردود گڼلی دی، خو دا رد یوازې یو اړخیز و، د نظار شورا د قومي تفکر په باب بیا دا ډول غبرگون نه ښودل کېده.



(استاد عبدالرب رسول سیاف)

کله چې طالبانو د استاد رباني گرځنده حکومت له کابله پسې پورته کړ، نو استاد سیاف بیا هم د رباني لمنه خوشې نه کړه، ان د تاجکستان تر (کولابه) یې ورسره خپله ملگرتیا وکړه. کله چې د طالبانو او امریکایانو اختلافات اوج ته ورسېدل او بیا دا اختلافات د طالبانو د نظام د ړنگېدو سبب شول، نو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار د اسلامي جمعیت، اسلامي اتحاد او نورو پخوانیو جهادي تنظیمونو د بیا ژوندي کېدو سبب شو. دې یادو تنظیمونو د امریکایي ځمکنیو قوتونو په توګه خپل رول ادا کړ او یو ځل بیا پخوانۍ جګړه مارې ډلې پر کابل د (بې دوه پنځوس) الوتکو په زور واکمنې شوې. استاد سیاف په نوې اداره کې بیا د اسلامي جمعیت ترڅنګ د پاموړ نفوذ څښتن شو. استاد سیاف چې تر دې مهاله یې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه افراطي مخالفت کاوه، تر ټولو لومړی یې هېواد ته د هغه تر راستنېدو وروسته هغه ته ځانګړې مېلمستیا وکړه او د هغه پر وړاندې یې په سیاست کې (۱۸۰) درجې بدلون راغی. پخوانی بنسټګر سیاف اوس د ولسواکۍ په نوي رنګ کې رنګ شو. استاد سیاف خپله زیاته توجه د طالبانو حذف او د خپل پخواني سیال (ګلبدین حکمتیار) د حضور مخنیوي خواته واړوله. نورو ټولو پخوانیو رقیبو او دښمنو ډلو سره یې په یوه واحد حکومت کې د ګوزارې او تفاهم لاره خپله کړه. په دې ډول استاد سیاف د کرزي په حکومت کې د خپلې برخې خاوند و. د وزیرانو او والیانو په کچه یې دولتي څوکۍ په واک کې پاتې شوې. کرزي استاد سیاف ته د هغه د امنیت لپاره لږ تر لږه (سل تنه) ساتونکي ورکړل. استاد سیاف د کرزي په واکمنۍ کې کله کله له ستونزو سره مخامخ و، پخوانی مذهبي مشروعیت او قوت یې طالبانو ترې کمزوری کړ، له پوره دیموکراسۍ سره یې هم اړخ نه شو لګولای، د نظارشورا له مطلق واک څخه هم خوښ نه و، کرزي یې هم ټولې هیلې نه شوې پوره کولای. که څه هم ده هڅه کوله چې له کرزي سره خپل اړیکي خواږه وساتي، خو کله کله به د نظار شورا او کرزي تر منځ د تضاد پر مهال ده ته دا سخته وه چې د کوم دوست تر شا ودرېږي. استاد سیاف که څه هم په دې موده کې د نظار شورا د غړو په هره جنازه، فاتحه او هره مظاهره او ننداره کې حاضر و او د هغوی هر نامشروع کار ته یې د مشروعیت ورکولو هڅه کوله، خو نظار شورا پرې هېڅکله هم پت پرې نښود. د ولسي جرګې په (۱۵) دوره کې پخواني دوستان (نظار شورا) او

(c) ketabton.com: The Digital Library




(اسلامي اتحاد) دواړه د ولسي جرګې د مشرتابه لپاره د یو بل پر وړاندې ودرېدل، کرزي په زغرده د سیاف ملاتړ ونه کړ او همدا علت و چې استاد سیاف تر یونس قانوني یا خپل شاګرد څخه دوه رایې کمې یووړې. استاد سیاف (۱۱۹) او ښاغلي قانوني (۱۲۱) رایې راخپلې کړې، نظار شورا له دولتي زور، زر او ټولو امکاناتو څخه کار واخیست، خو سیاف دا مهال له دې امکاناتو څخه بې برخې و، خو دې سره سره بیا هم قانوني د حاضرو رایو پنځوس جمع یوه رایه پوره نه کړه، له دې قانوني نیمګړتیا سره سره بیا هم قانوني صیب د ولسي جرګې د مشر په توګه انتخاب شو. د ولسي جرګې په (۱٦) دوره کې بیا هم د یوه تصادف له مخې د رایو معادله په همدې بڼه وه، خو په معکوس ډول او دا ځل رایه د استاد سیاف په ګټه وه، د استاد سیاف دوه رایې تر قانوني صیب زیاتې وې، خو د حاضرو رایو پنځوس جمع یوه رایه یې پوره نه کړای شوه. د قانوني صیب په شمول د نظار شورا ټولو غړو په حکومت او شورا کې د سیاف دومره سرسخته مخالفت وکړ چې درېیمګړي ته یې زمینه برابره کړه، خو استاد سیاف یې مشرتابه ته پرېنښود. خلکو سره داسې یو تصور و چې تر دې وروسته به نو استاد سیاف د نظار شورا پر وړاندې ټینګ دریځ خپل کړي، خو تر هغه وروسته بیا هم استاد سیاف د نظار شورا ترڅنګ ودرېد او د نظار شورا د سیاسي موخو د پیاوړتیا لپاره به یې ځانګړې فتواوې صادرولې. استاد سیاف د خپل سیاسي ژوندانه په دریو پړاوونو؛ جهاد، تنظیمي اړو دوړ او اوسنۍ ولسواکۍ درېواړو کې خپلې خپلې برياوې او خپلې خپلې نیمګړتیاوې درلودلې، خو د ده بریاوې د جهاد په کلونو کې زیاتې مطرح وې، په پاتې دوو پړاوو کې د نورو جهادي مشرانو په شان د استاد سیاف شخصیت ته هم زیات زیانونه ورسېدل او د جهادي محبوبیت کچه یې ډېره راټیټه شوه. استاد سیاف د یو لوی دیني عالم په توګه خپل هغه مسولیت چې ولس ترې هیله لرله، ادا نه کړای شو. خپله دیني پوهه، چې په کار و، په ناپېیلي ډول یې کارولې وای، هغه یې هم د یوه مشخص سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروپ په ګټه وکاروله. کرزي او نظار شورا دواړو سره یې ډېره مننه وکړه، خو هغوی ورسره ډېره وفا ونه کړه. د استاد سیاف د کارونو څرنګوالي په باب ډېر بحث کېدی شي، خو دلته نه غواړم دا بحث تر دې زیات وغځوم.

۴- پیر سید احمد ګیلاني: (ملي اسلامي محاذ تنظیم) په جهادي ډلو کې یو معتدل تنظیم و، مشر یې (پیر سیداحمدګیلاني) هم یو معتدل او منځلاری شخص ګڼل کېږي. د جهاد په کلونو کې د دې تنظیم ونډه د پام وړ وه. د تنظیمي جنګونو پر مهال پیر سید احمد ګیلاني هڅه وکړه چې په



(پیر سید احمد ګیلاني)




جګړو کې د کوم لوري ملاتړ ونه کړي. دا کار د دې سبب شو چې پیر سید احمد ګیلاني ته خلک د یوه مصلح شخص په سترګه وګوري، د طالبانو د واکمنۍ پر مهال هم د دې تنظیم د ناپېیلتوب اصل خپل کړ. د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته له اعلیحضرت محمدظاهرشاه سره د پیر سیداحمدګیلاني د کورنیو او فکري اړیکو او هم د یو معتدل جهادي تنظیم په توګه، ده ته د بن په کنفرانس کې خپله ونډه ورکړل شوه. (حامد ګیلاني) د پیر سیداحمدګیلاني په استازیتوب د بن د کنفرانس غړی و. د کرزي د حکومت له پیله د پیر پلویان د حکومت په لوړو اوټیټو پوستونو، له وزارته نیولې، تر سفارت او ولایته پورې په یو نه یو ډول مقرر وو. پیر خپله هم د کرزي له ځانګړي احترامه برخمن و. د پیر تقاضا هم مناسبه وه، د خپل نفوذ او قدرت په تناسب وه، د بېړنۍ لویې جرګې ریاست یې غوښته، خو هغه چانس ورنه کړای شو، د پاکستان او افغانستان تر منځ د امن ګډې جرګې د جوړولو د کمېسیون د مشر په توګه یې دنده اجرا کړه. په جهادي او ځینو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو مهمو غونډو کې د پیر ګډون ضروري ګڼل کېده، کرزي ورسره په لویو هېوادنیو چارو کې مشوره کوله. یوځل یې ورته زوی (حامدګیلاني) د سرحدونو او قبایلو چارو د وزیر په توګه نوماند کړ، خو له ولسي جرګې یې د باور پوره رایه ترلاسه نه کړای شوه. پیر په خپله په افغانستان کې د زیاتې ځمکې او شتمنۍ خاوند دی، نو ځکه خو یې کرزي ته د ځینو نورو تنظیمي مشرانو په شان لاس غځېدلی پاتې نه دی. البته د کرزي له مالي لورینو هم بې برخې نه دی پاتې شوی، خو څرنګه چې دی خپله یو مړه خوا شخص دی، نو که مالي اړتیا یې هم پیدا شوې، په حکومت کې یې د نورو پلویانو له خوا پوره شوې ده. لور یې (فاطمه ګیلاني) نږدې یوه لسیزه د سرې میاشتې د مشرې په توګه پاتې شوې ده. پر خپلو تنظیمي اشخاصو سربېره د ځینو نورو وزیرانو او مهمو اشخاصو په ټاکنه او ګومارنه کې د پیر خبره بې وزنه او بې اغېزې نه وه، لنډه دا چې پیر د پخوا په څېر د خپل معتدل حرکت له لارې په اوسني حکومت کې خپله همغه معتدله ونډه او رول لرلی دی. ضرر یې کم او نظام ته یې ګټه ډېره وه او که ګټه یې نه رسوله، نو زیان یې هم نه رساوه او نه یې د زیان رسولو ګواښ کاوه.

۵- **شیخ محمد اصف محسني:** د جهادي مشرانو په لړ کې شیخ محمد اصف محسني ځانګړی ځای او مقام لري، هغه لوی دیني عالم او ژبور شخصیت دی. د جهاد په کلونو کې یې ( د افغانستان اسلامي حرکت) تنظیم چې بېخ یې په ایران کې و، مشري کوله. محسني په ختټه قزلباش او له مذهبي پلوه شیعه مذهب پورې اړه لري، د کندهار ښار اوسېدونکی دی. د نورو شیعه ګوندونو په انډول ایران ته ډېر نږدې نه و، که څه هم د ایران له مالي او معنوي مرستې برخمن و. یو وخت یې د



(شیخ محمد اصف

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهاد په کلونو کې د نسبتاً ملي دريځ له امله د ايران له حکومت سره ستونزه پيدا شوه، محسني مجبور شو، د خپل تنظيم دفترونه له ايرانه وباسي. د جهاد په کلونو کې د وخت د حکومت او شوروي اشغال پر ضد په شيعه مېشتو سيمو کې د محسني د (حرکت اسلامی افغانستان) تنظيم مخالفت محسوس و، خو د افغانستان د جهاد زيات بار د دوی پر اوږو نه و، روسانو هم نه غوښتل د خپلو ستراتيژيکو اهدافو په پام کې نيولو سره پر دې سيمو زيات سياسي او پوځي فشار راوړي. د جهاد تر اختتام او تر هغه لږ وروسته موده کې د محسني او ايران اړيکي بېرته خواږه شول، د ايران هيله وه چې دی د سياسي مشرتوب پرځای د مذهبي مشر او د تقليد د يوې مرجع بڼه خپله کړي. محسني هم همدې لوري ته روان و، د تنظيمي جنگونو پر مهال ده د عبدالعلي مزاري، چې دا مهال د رباني او احمدشاه مسعود قواوو پرضد جنگېده، ملاتړ ونه کړ، بلکې د هغه مخالفت يې وکړ او هغه يې له ايرانه په مرستې اخيستو تورن کړ. محسني او د هغه حزب (د افغانستان اسلامي حرکت) له عبدالعلي مزاري سره د اختلاف ترڅنگ د رباني ملاتړ هم درلود، په ضمني ډول يې د هغه ملاتړ هم کاوه. په پيل کې د حضرت صبغت الله مجددي د حکومت چې اصلي زړی يې د رباني اسلامي جمعيت و، د هغه حکومت د وياند دنده هم اجرا کړه. د طالبانو نظام پر وړاندې شيخ محسني نرمه کړنلاره غوره کړه، د هغوی پرضد يې وسلوال پاڅون ونه کړ او يا يې هم وس نه درلود، کله چې د طالبانو نظام ړنگ شو، نو د محسني تنظيم ته په بن کنفرانس کې خپله ونډه ورکړل شوه. د کرزي په حکومت کې له پيله بيا تر وروستيو پورې شيخ محمداصف محسني منلی او ښاغلی شخص و. په بېړنۍ لويه جرگه کې شيخ محسني پورته شو او ويې ويل چې (انتقالي دولت) سره بايد (اسلامي) کلمه هم يوځای شي ((اسلامي انتقالي دولت)). که څه هم ځينو خلکو فکر کاوه چې دا مهال په دې ځای کې دې کلمې څه ځانگړې پيوستون نه خوړ او څه توجيه يې نه لرله، خو څرنگه چې افغانستان په بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول يوه ديني مذهبي ټولنه ده، نو د محسني خبره د (ناره تکبير) په نارو سره بدرگه شوه، گل اغا شېرزی چې دا مهال د کندهار والي او د ببړنۍ لويې جرگې غړی و، د محسني د نظر په رد کې وويل چې له دې کلمې څخه ناوړه استفاده کېږي او ضرور نه ده چې دا کلمه دلته راشي، خو خلکو د گل اغا شېرزي د خبرو پر وړاندې غبرگون ونښود او هغه يې په اصطلاح (خدای بيردي) ته پرې نښود. زه چې دامهال د جرگې د لومړي منشي په توگه په پورته ستيج کې ناست وم او د جرگې د تالار ټول متن راته ښکارېده، د خلکو يوه څپه لکه د سېلاب د څپې په څېر راپاڅېده او گل اغا شېرزی يې د خپلو خبرو دوام ته پرېنښود. په دې ډول (اسلامي) کلمه هم د (انتقالي دولت) ترڅنگ وليکل شوه او نږدې (۱۸) مياشتې همدې ترکيب دوام پيدا کړ.

شيخ محمداصف محسني د اساسي قانون په لويه جرگه کې د يادې جرگې غړی او بيا د يو کمېسيون د مشر په توگه انتصاب شو. د تفاهم په کمېټه کې د شيخ محسني يو نظر دا و چې د (افغانی) يانې (کرنسی) نوم بايد بدل شي، ده ويل چې له (افغاني) سره يې توپير نه کېږي، محسني وويل: ((در ايران ميگويد چند تن افغانی امدند، اين خر چند افغانی اند؟)) د دې دواړو توپير نه کېږي، نو ځکه بايد د (افغانی) نوم بدل شي. استاد سياف ورته وويل: ((يکی افغان است که نام ملت است يکی افغانی است که نام پيسه است اين که ايرانيها فرق شان کرده نميتواند مشکل انها است اگر نه در بين اين دو کلمه فرق وجود دارد، مشکل ندارد.))

د طالبانو نظام تر سقوط وروسته د محسني او ايران اړيکې بيا پسې خواږه شول، ايران د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت له لارې پر کرزي فشار راوړ چې دوی ته د کابل ښار په زړه کې ځای ورکړي چې يوه مدرسه په کې تاسيس کړي. ايران دا ځمکه د شيخ محمداصف محسني په واسطه او د هغه په نامه، حبيبيې لېسې ته مخامخ (د خوشال خان لېسې اړونده ځمکه) په وړيا ډول ترلاسه کړه، ټوله (۱۸) جريبه ځمکه وه. دوه جريبه نوره يې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره الحاق کړه او په دې ډول شل جریبه ځمکه د محسني صیب په واک کې ورکړل شوه. ایران په دې ځمکه کې د لوی علمي او مذهبي مرکز پر جوړولو لاس پورې کړ او د څو کلونو په ترځ کې یې دلته یو لوی کمپلکس جوړ کړ چې ویل کېږي نږدې (سل میلیونه) ډالره لګښت پرې راغلی دی. دې مرکز ته د (حوزه علمیه خاتم النبین) مرکز نوم ورکړ شو، د طالبانو نظام تر سقوط وروسته د کرزي د نظام په اوایلو کې محسني تر یوه حده په سیاسي مسایلو کې ګوتې وهلې، خو د پورته یاد مرکز په جوړېدو سره یې ورو ورو له سیاسي مسایلو سره واټن ونیو او د ایران په مرسته د جوړ شوي (تمدن) ټلوېزیون له لارې یې خپل مذهبي تبلیغ ته دوام ورکړ.

خاتم النبین مرکز اوس پوهنتون، ټلوېزیون، کتابتون او صدري روغتون لري او پر یوه غټ او لوی مرکز بدل شوی دی. پر پخواني لګښت سربېره نور ورځنی لګښت هم لري چې ویل کېږي د ایران له خوا تمویلېږي. هېڅ بهرني هېواد په افغانستان کې په فرهنګي او مذهبي کچه دومره پانګونه نه ده کړې، لکه ایران چې دلته په مذهبي او فرهنګي ډګر کې کړې ده.

یو شمېر سیاسي کتونکي په دې نظر دي چې ایران دلته اوږدمهاله ستراتیژي لري او دا مرکز به یو وخت په افغانستان کې د مذهبي نفاق پر یوې اساسي هستې بدل شي. د کرزي په حکومت کې ایران خلاص لاس لري، ایران د خپلو پلویانو له لارې په حکومت کې پراخ نفوذ لري. محسني هم له وزارته نیولې تر ولایته پورې په حکومت کې خپله ونډه لرله، زوی یې د کابل د والي په توګه او تنظیمي افرادو یې د والیانو او وزیرانو په توګه څوکۍ نیولې دي. که تنظیمي او سیاسي مجبوریتونه او ضرورتونه یوې خواته پرېږدو او همدارنګه مذهبي لېوالتیا او تړښت په پام کې ونه نیسو، نو محسني د ټول هېواد په کچه د یو لوی دیني عالم په توګه یادولای شو، د جنګ په اندېول یې د سولې خوښونې روحیه پیاوړې وه او په دې برخه کې یې ځینې ګامونه هم پورته کړي دي. ده کرزي ته (وراره) او کرزي ورته د (تره) خطاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه، دې ظاهري پیوند هم محسني ته د دې لاره اواره کړې ده چې په ارامه فضا کې د خپلو موخو د تطبیق لپاره ګامونه پورته کړي.

**٦- استاد محمد اکبري:** استاد محمد اکبري د شیعه افغانانو د مشرانو له جملې څخه یو دی. د شیعه ګوند (وحدت حزب) د یوې څانګې مشري کوي. له کریم خلیلي سره اختلاف لري او له محقق څخه یې هم لاره څه ناڅه جلا برېښي. اکبري څه ناڅه (ماویستي) افکار هم درلودل، د تنظیمي جګړو پر مهال یې د اسلامي جمعیت، رباني+مسعود لمن نیولې وه. اکبري هغه وخت په دې نظر و چې دوی په یو قومي اقلیت پورې تړلي دي، قومي لږکي ته د یوه اصل په توګه په کار دي چې له حاکمیت سره په مخالفت کې واقع نه شي، دا کار دوی ته په زیان تمامېږي او که دوی له حاکمیت سره اوسي، دوی ډېره ګټه کوي، هر څوک چې په حاکمیت کې وي، مهمه نه ده خو که دوی ورسره په تفاهم کې وي، نو دوی ترې امتیاز ترلاسه کولای شي. له مزاري او خلیلي سره د ده د اختلاف یو دلیل دا و چې موږ باید د رباني او مسعود پرضد جګړې ته داخل نه شو. د قدرت او مشرتابه پر سر اصلاً د حکمتیار او رباني تر منځ جګړه روانه ده، موږ ته خو غیر له هغې هم مشرتوب نه رارسېږي، نه یې موږ دعوه کوو او نه یې اوس جوګه یو، نو څه ضرورت دی چې موږ د یوه لوري په ګټه او د بل پرضد جګړه وکړو. د اکبري دا دریځ هغه مهال د نظار شورا په ګټه تمامېده، نو ځکه خو جمعیت د اکبري ملاتړ کاوه. خو د اکبري له دلایلو سره سره اکثرو هزاره ګانو د هغه ملا ونه تړله او تر مزاري وروسته خلیلي د مزاري د ځایناستي په توګه پاتې او د



(استاد محمد اکبري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هزاره گانو له ملاتړه برخمن شو.**

**کله چې طالبان راپیدا شول او جگړه مار تنظیمونه یې له کابله پسې واخیستل، نو اکبري هم بامیانو ته پناه یوړه، کله چې طالبان بامیانو ته نږدې شول، نو اکبري له طالبانو سره د تفاهم لاره ونیوه. په هزاره مشرانو کې دی لومړی شخص و چې طالبانو ته ورتسلیم شو. کله چې طالبانو په مزارشریف کې د یوې توطیې له مخې لومړی ځل ماته وخوړه، نو اکبري فکر وکړ چې طالبان نور د تل لپاره مات شول، بېرته یې خپل لوری بدل کړ، مزار ته داخل شو او پلویانو یې ولیکل چې: ((استاد اکبري به طور فاتحانه وارد شهر مزار شریف گردید)). اکبري داسې یو شخصیت دی چې وخت ته منتظر دی؛ چېرته دې ښه هلته دې شپه. محمداکبري د طالبانو تر سقوط وروسته بیا د شان او شوکت خاوند شو، خو نه د محقق او خلیلي په کچه، د کرزي دربار ته یې لاره لرله، خو ډېره نه. اکبري د ولسي جرگې په (۱۵) او (۱٦) دوره کې د بامیانو د خلکو د استازي په توگه دنده اجرا کړه. دا مهال د ولسي جرگې پر غړیتوب سربېره د جهادي مشرتوب له امتیازه هم برخمن و. د جهادي مشرانو په ډله کې به د ارگ په مهمو غونډو کې حاضر و. خو د مالي امتیازاتو په لوټ او تالان کې یې د نورو په اصطلاح مشرانو په څېر پراخه ونډه نه لرله. اکبري د محقق په شان دا مهال پټ او ښکاره وسلوال هم نه درلودل چې کرزی باج ورکولو ته مجبور کړي، البته ځینې افراد یې د حکومت په بېلابېلو څوکیو کې ورته گومارلي وو. اکبري د کرزي په واکمنۍ کې متشدد رول ادا نه کړ، د یوه نسبتاً ارام شخص په توگه یې سیاسي مبارزې ته دوام ورکړ.**

**۷- حاجي محمد محقق: حاجي محمد محقق خان د جهادي مشرانو په ډله کې شمېرې، دا چې د جهاد په کلونو کې یې څومره عمر درلود، جهاد یې کړی او که نه، ډېر یې کړی او که کم او هغه وخت یې مشرتوب پرغاړه و او که یو عادي مجاهد و، یا نه؟؟ دا هغه پوښتنې دي چې دقیق او اوږده**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تفصیل ته اړتیا لري. خو دلته غواړم په لنډیز سره پر ځینو مسایلو رڼا واچوم. د جهاد په لومړیو کلونو کې اصلاً د (حاجي محمد محقق) په نامه کوم څ وک د نامتو مجاهد او قومندان په توګه هېڅ مطرح نه و. د جهاد تر وروستیو کلونو پورې همدا حال و، له افغانستانه د روسانو د وتلو پر مهال ایران شیعه ګوندونه د (حزب وحدت اسلامی افغانستان) په نامه په یوه ټلواله کې راټول کړل، عبدالعلي مزاري یې د مشر په توګه ورته غوره کړ او محقق هم د همدغه عبدالعلي مزاري د یوه سیمه ییز قومندان په توګه په خپله سیمه کې پر نظامي فعالیتونو مصروف پاتې شو. دا هغه مهال و چې نور نو روسان په افغانستان کې نه وو او جهاد هم هغه پخوانی رنګ او خوند نه درلود.**



**(حاجي محمد محقق)**

**عبدالعلي مزاري، جنرال دوستم او احمدشاه مسعود د جبل السراج تړون له لارې د ملګرو ملتونو د سولې پلان شنډ او په کابل کې یې له خپلو نورو ستمي او پرچمي موئتلفینو سره د ائتلاف او نظامي کودتا له لارې د ډاکتر نجیب الله حکومت ړنګ کړ. څه موده دې ائتلاف دوام وکړ او لږه موده وروسته د عبدالعلي مزاري تر مشرۍ لاندې د وحدت حزب، نظارشورا او د هغو د موئتلفو ډلو تر منځ په کابل کې خونړي جنګونه ونښتل، په کابل کې ډېرې ورانۍ او ویجاړۍ رامنځته شوې، مزاري مجبور و چې په بېلابېلو سیمو کې له خپلو قومندانانو څخه افراد وغواړي او په کابل کې یې وجنګوي. محقق هم دا مهال ځینې افراد د جنګ ډګر ته راولېږل، که څه هم دی د کابل په جنګونو کې په خپله شخصاً شامل نه و، خو افرادو یې په کې ونډه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرله، کله چې طالبان راوتوکېدل، نو په بلخ، سمنګانو او ځینو نورو سیمو کې د محقق افرادو د طالبانو پر وړاندې جګړې ته لاس کړ. دا مهال محقق د ایران د زیاتې پاملرنې وړ وګرځېد، خصوصاً په مزارشریف کې د طالبانو تر لومړۍ ماتې وروسته چې د طالبانو د سادګۍ، (محقق، جنرال مالک، نظار شورا) او نورو ډلو او اشخاصو د ائتلاف او توطیې نتیجه وه، دا مهال نو محقق ایرانیانو ته زیات مطرح شو. وروسته وروسته د محقق په سر کې د مشرۍ هوا وچلېدله او د همدې وحدت حزب د نوم په لړ تغیر (حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان) په نامه یې بله څانګه جوړه او ځان یې د مشر په توګه غوره کړ. محقق له دوستم او احمدشاه‌مسعود سره خپل اړیکي لاپسې مضبوط کړل او د طالبانو پر وړاندې یې ګډ دریځ خپل کړ.

کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو محقق د نورو پوځي او سیاسي مشرانو په توګه مطرح شو، د بن په کنفرانس کې د ګډونوال او بیا وروسته په حکومت کې د برخوال په توګه څرګند شو. له کومې ورځې چې محقق سیاسي او پوځي ډګر ته داخل شوی، نو یوه ورځ یې هم د هزاره قوم د حقوقو شعار له خولې څخه نه دی غورځولی. په موقته اداره کې د پلان د وزیر په توګه او بیا وروسته د ولسي جرګې په (۱۵) او (۱٦) دوره کې د کابل د خلکو د استازي په توګه یې دنده اجرا کړې ده. له کرزي سره یې ښکاره مخالفت او پټ موافقت دواړه تجربې لرلې دي. محقق په ولسي جرګه کې د وکیل او د خپل حزب د مشر په توګه په حکومت او سیاست کې خپل خاص امتیازات درلودل. ترانسپورت وزارت تر ډېره وخته د محقق سهم ګڼل کېده او د ځینو خلکو له خولې هره میاشت (۵۰) زره ډالره د محقق خزانې ته له همدې لارې ورزېرمه کېدل. پر دې سربېره محقق د جهادي مشرانو له خاصو امتیازاتو هم برخمن و، (۷۴) تنه باډیګاردان یې هم درلودل چې معاش او ترفیعات یې د ملي امنیت د ادارې د لسم ریاست له خوا ورکول کېدل او افراد ورته محقق معرفي کول. د محقق په هر څرګند مخالف پسې یو پټ امتیازي موافقت ملګری و. کله چې به محقق د اعتصاب، اعتراض او یا مظاهرې په پلمه خپله چیغه پورته کړه، نو ورځ وروسته به په ارګ کې د کرزي خاص مېلمه و، سهار چای به یې د ده په دفتر کې وڅښه او بیا به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



محقق خولې ته خوړه وروړسېدله. یوه ورځ محقق په یوه اعتراضیه غونډه کې کرزي ته سختې سپوره کلمې استعمال کړې، په سبا یې ارګ کې مېلمه و، د کنځلو موعضه یې (دوه مرمۍ ضد ګاډي) شول چې هر یو یې (یو لک ډالره) قیمتت درلود. کله چې زه پر دې مسله خبر شوم، نو د داودزي صیب دفتر ته ورپورته شوم. (موټر د داودزي له لارې ورکړل شوي وو). هغه ته مې وویل ولې؟ هغه موسکی شو، والله د رییس صیب مجبوریت و. ما ورته ویل عجیبه اپوزېشن او عجیب حکومت، یو څوک چې کنځل کوي هغه ته مرمۍ ضد موټر ورکول کېږي او یو څوک چې د نظام ستنې ټینګوي هغه له نظامه ګوښه کېږي. ما داودزي صیب ته وویل، دغه دوه موټر مو چې یو واقعي جهادي قومندان ته ورکړي وای، محقق یې درته لاس تړلی دلته راوسته، ټول عمر به یې له کنځلو بښمه وئ. هغه وویل: ((والله دا نو د رییس صیب کارونه دي، موږ په کې څه نه شو ویلای.

محقق د خپل مخالفت په وجه په سلګونو دا ډول امتیازات اخیستي چې له یوې برخې څخه یې کېدی شي ولس خبر وي. محقق افغانستان کې هره سیاسي، اقتصادي او ټولنیزه موضوع په قومیت پورې تړله او په ډېره سپین سترګۍ سره یې قومي مسایلو او شخړو ته لمن وهله. دې کار د محقق موضوعي فقر څرګنداوه چې له قومي مسایلو پرته بل پلان او شعار نه لري.

د کوچیانو او یو شمېر هزاره ګانو په موضوع کې ده په ډېره سپین سترګۍ سره د غذایي اعتصاب غږ پورته کړ او بیا یې له دې لارې هم ډېر زیات نامشروع امتیازات ترلاسه کړل. محقق، د جمهوري ریاست په لومړي پړاو کې په دې خاطر ځان کاندید کړ، چې د کرزي په وجود کې د بل هزاره (خلیلي) څوکۍ خو هسې هم خوندي ده، هزاره ګان به په ډېر راحت او اتومات ډول ده ته رایه ورکړي او دی به بیا له دې موقف څخه د خپل مشرتابه لپاره اعظمي ګټه پورته کړي.

محقق او ځینې نور جنګسالاران د کرزي پر روحیاتو، مجبوریتونو او د حکومتولۍ پر چلند تر هر چا ښه پوهېدل: (مخالفت وکړه امتیاز واخله)! له نظار شورا پرته به د محقق په شان ډېر کم نور قومندانان پیدا شي چې د موافقت او مخالفت دومره اوږد پړاو یې وهلی وي. محقق په ملي شورا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو غونډو کې په څرګند ډول د پښتو ژبې مخالفت کړی او په ډاګه یې په افغانستان کې د ایران پالیسي تعقیب او تائید کړې ده. د محقق له ټولو ناقانونه کړنو او نامشروع غوښتنو سره سره هغه په هزاره قوم کې د نفوذ خاوند دی او له همدې نفوذ څخه په ګټې اخیستنې یې ځان مطرح کړی، که څه هم د ده دا عمل په راتلونکي کې هزاره قوم له نورو قومونو سره مخامخولای شي، خو محقق لا تردې دمه د قومیت له شعار پرته بله موضوع نه لري، چې ځان پرې لوړ مقام او موقف ته ورسوي.

د پورتنیو یادو اشخاصو ترڅنګ یو شمېر نور پخواني جهادي قومندانان او سیمه ییز بانفوذه اشخاص هم وو چې د کرزي له حکومته یې خپل باج اخیسته او یا یې ورسره کله مخالفت او کله جوړجاړی درلود، لکه سید حسین انوري، سید مصطفی کاظمي، ګل اغا شېرزي، محمد اسمعیل خان، عطامحمد نور او نور چې دلته یې له تفصیل څخه تېرېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتم څپرکی

# له ولسمشر سره ځانګړې کتنې

له ولسمشر کرزي سره وخت اخیستل څه اسانه کار نه و، هغه وخت چې زه په جلال اباد کې وم (۱۳۸۱-۱۳۸۴ل) کلونه، نو ولسمشر سره مې ښه روابط درلودل. نږدې هره میاشت مې یو ځانګړی ملاقات کولای شو، خو کله چې کابل ته راغلم او په تېره بیا په امنیت شورا دفتر کې مقرر شوم، په پیل کې ځانګړي ملاقاتونه اسانه وو، خو وروسته وروسته بیا د وخت په تېرېدو سره سخت شول. له جلال اباده کابل ته د راتګ تر وخته د نږدې دوو کلونو په بهیر کې ما له ولسمشر کرزي سره تقریباً (۱۳) بېلابېل ملاقاتونه کړي وو، اکثره مې د کاغذ پرمخ لیکلي وو، د یادښتونو په ساتنه کې زما له ډېر احتیاط سره سره بیا مې هم د هغو ملاقاتونو متنونه د دې اثر د لیکلو پر وخت ترلاسه نه کړای شول، که څه هم دا یادښتونه مې ډېر وپلټل خو بیا مې هم پیدا نه کړای شول، خو ځینې مهمې خبرې مې د حافظې په زور په نورو یادښتونو کې ترې راواخیستې. کله چې مې جمهوري ریاست کې رسمي دنده پیل کړه، ځینې یادښتونه مې پر خپل وخت خوندي کړل، له ځای، وخت او نېټې سره، ځینې مې حافظې ته وسپارل، خو بیا هم ځینې داسې خبرې چې لا هم مهمې وې د زمانې باد راخخه یوړې، ما تر خپله وسه خپلې هلې ځلې وکړې، ځینې ځانګړي ملاقاتونه او د هغوی غټه منځپانګه مې خوندي کړل، دلته یې درنو لوستونکو ته وړاندې کوم، خدای دې وکړي د تاریخ لیکنې د خامو موادو په توګه ترې ګټه واخیستل شي او یا هم لږ تر لږه د ولسمشر کرزي د دربار ځینې ګوټونه روښانه کړي. نورو افغانانو او په ټوله کې ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانانو ته مې پیغام دا دی چې که په داسې حساسو دفترونو او ځایونو کې کار کوي، نو د قلم څوکه دې د خپل تقرر له همغې لومړۍ ورځې څخه ښه تېره کړي، خپل ټول هغه یادښتونه چې حال او راتلونکي نسل ته پیغام ولري، په ترتیب سره ولیکي او د تاریخ حافظې ته دې وسپاري. په داسې ځایونو او دفترونو کې رښتیا هم ځینې داسې مسایل پېښېږي چې لیکل او ارزول یې نه یوازې اوسني پښت، بلکې راتلونکو نسلونو ته خورا ګټور دي، د الهام او پیغام د سرچینو په توګه کار ورکوي او بل نسل او راتلونکي واکمن پرې د خپلو ګڼو احتمالي تېروتنو مخه نیولای شي. د کومو ځانګړو ملاقاتونو یادښتونه چې ما خوندي کړي، غواړم ځینې مهم یې دلته وړاندې کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشرۍ دویمې ټاکنې

له نن (۱۳۸۸ل)کال څخه پنځه کاله وړاندې، یانې د جمهوري ریاست تر لومړي ځل ټاکنو دمخه د انتقالي اداري رییس ښاغلي حامدکرزي زه (یون) له جلال اباد څخه کابل ته غوښتی وم، مازیگر ناوخته مهال و، د جمهوري ریاست د لومړۍ نمبر ماڼۍ (د جمهور رییس کور) په لوی حویلي کې پلي گرځېدو، هغه وخت ښاغلي کرزي صیب ماته وویل چې دلته مې ځکه راوغوښتې چې په دې ازاده فضا کې ازادې خبرې وکړو، ښاغلي کرزي زه په خبرو کې پوه کړم چې د ده په خاص کاري دفتر کې ازادې خبرې نه شي کېدی، مانا دا چې هلته د ثبت وسایل شته چې کېدی شي خاصې خبرې بل ځای ته انتقال شي. دا چې هغه وخت ما ښاغلي کرزي ته د انتخاباتو په باب څه وویل او ده راته څه وویل دې ته مې په یو بېل بحث کې، چې جلا لیکل شوی، اشاره کړې. خو نن ورځ د (۱۳۸۸ل) کال د غبرگولي میاشت او د جمعې مبارکه ورځ ده او انتخاباتو ته پوره دوه میاشتې پاتې دي، زه بیا جمهور رییس خپل حضور ته بللی یم، د ملاقات ځای همغه دی، خو پر دومره توپیر چې پنځه کاله په کې واټن دی، هغه ملاقات مازیگر مهال و او دا ملاقات سهار پر (۹) بجې دی. ولسمشر د پنجشنبې پر ورځ ماسپښین له سناتورانو څخه د غونډې د خلاصې پر مهال ځان سره دفتر ته بوتللم، خو څرنگه چې هلته درې څلور مشاور وزیران ترې راتاو وو، نو ماته یې وویل چې دوی هم دي او ښه سترې هم یم، پراخ مجلس نه شو کولای، نو سبا سهار د چای پر مهال کور ته راشه، چای به هم وڅښو او ښه ازاد گپ به هم ولگوو. خپل یو سکرتر (عزت) ته یې وویل: یون صیب لپاره سبا ته پروگرام جوړ کړه، هغه وویل په سترگو، جمهور رییس نه مې خدای پاماني واخیسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او د خپل دفتر پر لوري رهي شوم.**

**د جمعې ورځ سهار اته نیمې بجې خپل دفتر (د ملي امنیت شورا دفتر) ته لاړم، لس پنځه لس دقیقې په دفتر کې وم، په یوه پاڼه کې مې هغه مهم مسایل ولیکل، چې له جمهور رییس سره یې باید په خبرو کې مطرح کړم. په دې یادښت کې دغه لاندې موضوعګانې شاملې وې:**

- **د انتخاباتو د کمپاین څرنګوالی**
- **د انتخاباتو لپاره د اوسنیو دفترونو ترڅنګ د نورو متبادلو دفترونو پرانیستل.**
- **په ختیزو ولایتونو کې د انتخاباتو د څرنګوالي د ښه والي لپاره وړاندیزونه.**
- **په اوسنیو انتخاباتو کې د جمهور رییس د موئتلفینو د غوښتنو جانبي تاثیرات.**
- **د انتخاباتو د نتایجو یوه احتمالي ارزونه.**
- **په اینده حکومت کې د موئتلفینو تر حده زیاتو غوښتنو مهارول.**
- **له ډاکتر انوارالحق احدي، ډاکتر اشرف غني احمدزي او ځینو نورو کاندیدانو سره خبرې اترې او د هغوی اینده برخلیک.**
- **د ژوندون ټلوېزیون د جوړولو لپاره خبرې اترې او ځینې نور مسایل شامل وو.**

**پنځه لس کم (۹) بجې د ملي امنیت شورا دفتر څخه د جمهور رییس د استوګنځي پر لوري پلی وخوځېدم، د امنیت شورا دفتر د جمهور رییس د کاري دفتر (ګلخانې ماڼۍ) ته مخامخ موقعیت لري، ښي لاس ته یوه ځانګړې لاره ده چې جمهور رییس هر سهار له همغې لارې له خپل استوګنځي (لومړي نمبر قصر) څخه خپل دفتر ته راځي. دا زما څلورم ځل دی چې د جمهور رییس استوګنځي ته ځم. نو لاره کې بلد وم، تر دې ځایه بیا د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رییس تر استوگنځي درې ځایه عسکر ولاړ دي، خو دومره ډېر نه؛ هره غرفه کې یو یا دوه تنه عسکر، فضا ډېره ارامه ده، د جمعې ورځ خو بېخي ارامي ده. دویمې پېره دار خونې ته چې ورغلم، دوه عسکر په کې وو، یو له غرفې راووت، ماته یې وویل چېرته ځې؟ ما وویل رییس صیب غوښتی یم، هغه لکه چې خبر نه و، (عزت) ته مې ټلېفون وکړ، هغه په ټلېفون کې ژر ورسره خبرې وکړې. لږ څه وړاندې هغه بلې غرفې ته، چې دوه عسکر په کې ولاړ وو، راته یې وویل هغو ته لاړ شه، هغوی د لومړي نمبر قصر د ودانۍ مخې ته ولاړ وو. هلته لاړم، ډېر پاک، بانزاکته او باسلیقه عسکر وو. تر سترې مشي وروسته مې ورته وویل چې رییس صیب غوښتی یم، هغوی خبر وو، یو عسکر وویل: زه درسره لاړ شم، که خپله بلد یې، ما ویل نه که یو بلد کس راسره لاړ شي، ښه به وي، ده وویل ډېره ښه ده، دروازه یې بېرته کړه، لږه شېبه وروسته (نیازمندصیب) راغی، (دی په لومړي نمبر قصر کې رییس صیب ته نږدې یو کارکوونکی دی) ده سترې مشي راکړل، زه یې پېژندلم، دواړه یوځای د قصر مخې ته تر شنو ونو لاندې یو مېز ته، چې سپینه پرده پرې غوړېدلې وه لاړو. څلور څوکۍ او دوه واړه مېزونه ایښي وو، د سهارنۍ لپاره مناسب چای برابر شوی و، ښه پاک او سوتره و، خو د پخوانیو او یا هم ځینو نورو اوسنیو پاچایانو په شان ډېر مجلل نه وو، ساده خو پاک. شین او تور چای، د تازه مېوې اوبه (شربت)، گرمه وچه ډوډۍ، مربا او شات پر مېز ایښي وو او وروسته یې په غوړیو کې پخې کړې هگۍ هم راوړې. پنځه کم (۹) بجې پر څوکۍ کېناستم، دې وخت کې د جمهور رییس یو بل امنیتي کس راغی، په شخصي جامو کې و، غالباً چې د جمهور رییس خپلوان به و، په کندهارۍ لهجه یې خبرې کولې، زما څنگ ته راغی، ماته یې سترې مشي راکړل، مخابره یې په لاس کې وه، زه پر څوکۍ ناست وم او دی زما څنگ ته ودرېد، ماته یې وویل یون صیب هغه اسلام اباد ته چې تللی وې، ته، (سلیمان لایق) او (صدیق چکري) چې په خیبر ټلوېزیون کې وئ، مرکه مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وه، ماته یې ډېر خوند راکړ، سخت ځوابونه دې ورکړل، داسې خوند یې وکړ، چې زموږ ټولو انډیوالانو خوښ کړل. همدې خبرو کې وو چې ما ورته وویل دلته د مرغانو ډېر ښه اوازونه نه دي؟ او بل دا ساحه دومره ښکلې شوې چې ببخي سړی فکر کوي په اروپا کې ناست وي، مخکې چې زه راغلی وم دا ساحه دومره ښکلې نه وه، ده وویل: ((دلته ډېر کار وشو رښتیا هم پخوا داسې نه وه، دلته طاوسان هم وو او کیکرې هم، خو هغه ما یوړل، ډېرې زیاتې چغې به یې وهلې، دا ټوله فضا به یې نا ارامه کړې وه...)) همدې خبرو کې وو چې جمهور رییس له کوره رابهر شو، یو شل متره لرې یې پرما غږ وکړ: ((یون صیب مولا دې راوله!)) زه د احترام په خاطر یو څو متره مخې ته ورغلم، غږ یې وکړ: ((اوهـ عجیبه کندهارۍ غاړه دې پیدا کړې)) ما ویل دا شېرزي صیب راته راکړې، ده وویل ((عجیبه ښکلې ده، شېرزی دا غاړې ډېرې خوښوي.)) ټینگ روغبړ یې راسره وکړ، امنیتي کس ته یې غږ کړ: ((هلئ ژر شئ د یون صیب څوکۍ زما څنگ ته کېږدئ، چې دا مخامخ


(محمد اسمعیل یون)


(ولسمشر حامد کرزی)

ونې هم وگوري او مجلس هم سره وکړو.)) خدمه وو ته یې وویل هلئ ژر شئ راوړئ شیان، هغوی وویل هر څه تیار دي صیب، جمهور رییس ماته وویل څه شی خورې؟ ما ویل هر څه دلته شته په خپله خوښه یې خورم، خدمه وو په غوړیو کې پخ کړې هگۍ هم راوړې، زموږ په گیلاسونو کې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**چای واچوه او رییس صیب زما د کورني ژوند او د کور د غړو تر پوښتنې وروسته پر خبرو پیل وکړ، چای مو هم څښنه او خبرې مو هم کولې، ما تر هر څه دمخه د خپل یادښت پاڼه راواخیسته پر زنګانه مې کېښوده.**

**لومړی ما ورته وویل چې د تېرو ټاکنو نتیجه باید بیا تکرار نه شي، چې یو څوک دې هېڅ رایې رانه وړي، خو بیا دې هم په حکومت کې تر ټولو زیات مطرح وي. بله خبره مې دا وکړه، اوس چې د ټاکنیزو مبارزو لپاره کوم دفترونه جوړ شوي او کوم کسان یې مشري کوي، دا بیا پر تنظیمونو وېشل شوي، پر دوی ټول خلک نه راټولېږي او نه دوی د دې وړتیا لري چې ټول خلک پر ځان راټول کړي او یا د ټاکنو منجمنټ وکړي. ښه لاره دا ده چې د دوی پر وړاندې متبادل دفترونه جوړ شي، کوم کسان چې دوی یې نه شي جذبولای، همدا متبادل دفترونه به یې راجذب کړي چې څوک خوابدي او بهر پاتې نه شي. دا ځل ټاکنې تر هغو تېرو یو څه مشکلې دي. ختیزو ولایتونو کې ټاکنیزو دفترونو ته هم باید زیاته پاملرنه وشي، هلته اختلافات ډېر دي، خپلمنځي اختلافات، البته ستاسو د ټاکنې او تائید په برخه کې ډېر اختلافات نه شته، خو له داسې میتود څخه باید کار واخیستل شي چې ستاسو د دوو پلویانو تر منځ د اختلافاتو له امله ستاسو رایو ته زیان پېښ نه شي، داسې نه شي چې یو په غېږ کې ونیول شي او بل خوابدی شي. ستاسو د نورو موئتلفینو ناقانونه او لوړو غوښتنو ته هم باید ډېره توجه وشي، چا سره داسې ژمنې ونه شي چې د نورو خواوو د خفګان سبب شي او یا هم په راتلونکې کې د هغو د پوره کولو امکان نه وي، د بریالیتوب په حالت کې هم باید د غوښتنو او واقعیتونو تر منځ تعادل رامنځته شي. له ډاکتر انوالحق احدي، ډاکتر اشرف غني، میرویس یاسیني او ځینو نورو کاندیدانو سره باید خبرې اترې وشي، که له خپلې کاندیدۍ تېر شي ښه به وي. کله چې د جمهور رییس د خبرو وار راغی، نو هغه دا ځل د تېر په انډول څه زیاتې اندېښنې لرلې، هغه وویل: ((څو ورځې مخکې ماته استاد رباني راغی، راته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې وویل چې زه همکارۍ ته تیار یم، ما استاد ته وویل چې دې خلکو(هدف یې نظار شورا وه) تاسو سره چندان ښه نه دي کړي، نو تا ولې د دوی لمن نیولې، استاد رباني وویل، اصلي خبره دا ده چې په دې نظام (ریاستي نظام) کې موږ خپل حضور نه شو لیدلی، سیستم باید بدل شي، د استاد رباني هدف دا و چې سیستم باید نامتمرکز شي، د ولسوالیو شوراګانو او ولایتي شوراګانو ته باید زیات واک ورکړل شي او په نهایت کې نظام باید پارلماني بڼه خپله کړي.)) دامهال ما ولسمشر ته وویل: «استاد رباني تاسو سره له صداقت څخه کار نه اخلي، د هغه ټول عمر په دې چل و فریب کې تېر شوی، هغه تا سره همکاري نه کوي او که کوي یې هم، نو د ډېر غټ امتیاز په مقابل کې به وي، د دې پرځای چې موږ بیا جمعیت سره خبرې وکړو، ښه به وي چې پر خپلو طبیعي متحدینو کار وکړو.» کرزي صیب وویل: ((دا خلک ټول بهرنیانو سره اړیکي لري، داسې خو به نه وي چې هغوی ورته دا خبرې غوږ کې ایښي وي، زما تشویش په دې کې دی. پاتې شوه د احدي صیب خبره هغه کېدی شي، تر پایه ونه دریږي، ډاکتر اشرف غني ترپایه ودرېږي، هغه ټاکنې نه شي ګټلای، خو رایې کمولی شي، خارجیانو ودرولی چې زما رایې راخرابې کړي، هغه د دې کار لپاره مناسب هم نه دی، اوسېله هم نه لري، مریض هم دی، که انتخابات بایلي، څادر به پر اوږه کړي او ځي به دې وطن نه، چندان بندو واز نه دی، چې په دې وطن کې پاتې شي یا پاتې نه شي، پاتې شو یاسیني، هغه یو بزنس مین دی، کوم غټ ملي شعور نه لري، انتخابات خو نه شي ګټلای او چې بایلوي یې هم، تاوان نه کوي، چا چې ودرولی، هغوی به ورته تاوان ورکوي، که ناکام شو خو بیا به هم تجارت وي، بزنس به وي، دا قرارداد واخله، هغه واخله، شهرت ته به ورسېږي، دوه درې قراردادونه یې چې واخیستل، خپل مصارف باسي، هغه د نور شي په کیسه کې هم نه دی. دا نور کاندیدان هم داسې درواخله، یوازې بشر دوست څه رایې ګټلای شي...)) ما ورته وویل: «اصلي سیال خو معلوم دی، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې پر دې بريالي شئ چې په حکومت کې د ډاکتر عبدالله عبدالله د پلويانو د لاسوهنې مخه ونيسئ، نو د ده د کاميابېدو چانس ډېر را کمېږي. حقيقت خو دا دی چې يو شمېر خلک تاسو څخه هم خوابدي دي، خو کله چې عبدالله وګوري چې ستاسو په مقابل کې ولاړ دی، خلک فکر کوي چې تر هغه بيا هم تاسو ښه ياستئ، نو دا کار تاته ګټه رسوي، په واقعيت کې د (عبدالله) د ډلې تېره ماضي د دې سبب کېږي چې خلک تاسو ته متمايل شي.

خلک فکر کوي چې د عبدالله د ډلې په برياليتوب سره افغانستان يوځل بيا ګډوډۍ ته ځي، نو تر ګډوډۍ خو دا اوسنی حالت هم ښه دی.» ولسمشر هم زما له خبرو سره موافق و، ما ورته وويل: «که داځل دې ټاکنې وګټلې، نو هيله لرم چې پخواني مصلحتونه بيا تکرار نه شي.» ده وويل: «هغه تېره دوره د (سردسازۍ) مرحله وه او دا بله د (کار يا بازسازۍ) ده.» ما ويل کاشکې همداسې وشي.

پر يو لړ نورو مسايلو مو هم خبرې وکړې، د ژوندون ټلوېزيون د جوړولو په باب هم خبرې وشوې. ولسمشر راته وويل، زه به ځينو تجارانو سره خبرې وکړم چې مرسته درسره وکړي او ټلوېزيون دې در جوړ شي.

يو يو نيم ساعت به سره ناست وو، خو کله چې به د چای د تازه کولو لپار خدمې راغلې، نو ولسمشر به خبرې غلې کړلې او خبره به يې پر بلې واړوله.

تر اوږده بحث وروسته مې ورڅخه خدای پاماني واخيسته او د خپل کور پر لوري را رهي شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نوي پارلمان د جوړېدو خطرونه او له جمهور رییس سره کتنه

**دا یادښت مې د (۱۳۸۹ل) کال د (۹) میاشتې پر (۴) مه نېټه لیکلی دی.**

د افغانستان د ولسي جرګې لپاره د (۱۳۸۹ل) کال ټاکنې پر داسې مهال تر سره شوې چې د هېواد په یو زیات شمېر ولایتونو کې ګڼې امنیتي ستونزې وې، په دې ډول شرایطو کې د خلکو د پراخ ګډون امکان ډېر کم و. د انتخاباتو د مستقل کمیسیون پر مشرتابه هم ډېر شکونه وو، چې قومي او سیمه ییز تمایلات لري، د کورنیو سیاسي ډلو او د بهرنیو لاسونو د مداخلې پراخ امکانات او احتمالات وو، نو په دې وجه یو زیات شمېر ملتپال شنونکي په دې نظر وو، چې په داسې شرایطو کې عادلانه انتخابات ناشوني دي او د ناعادلانه انتخاباتو تر سره کول به هېواد له لوی بحران سره مخامخ کړي.

کله چې د انتخاباتو کمیسیون غړي او مشرتابه هئیت ټاکل کېدل، نو ما ډېره هڅه وکړه چې جمهور رییس وګورم او خپل نظر ورته څرګند کړم، خو زمینه برابره نه شوه، بیا مې له بېلابېلو لارو پیغام ورولېږه چې د انتخاباتو د مستقل کمیسیون غړي او رییس باید په بشپړ ډول بې طرفه او مسلکي اشخاص وي، خصوصاً د هغو تنظیمونو غړي نه وي چې د قدرت مدعیان دي، قومي او سمتي تمایلات لري. دا مهال یوازې د اسلامي جمعیت تنظیم، له کرزي سره د جمهوري ریاست پر لومړۍ څوکۍ په رقابت کې و، زما ډېر تشویش همدې ډلې ته و، خو لکه څنګه چې زما اندېښنه، اټکل او وېره وه، کرزي صیب همغسې وکړل. د جهادي رهبرانو یوه غونډه یې راوغوښته، د اسلامي جمعیت مشرانو: رباني، فهیم، قانوني، عبدالله او نورو لا وار دمخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشوره کړې وه، چې د خپلې ډلې غړي ته به د مشرتابه لپاره زمینه برابروي، کرزی صیب چې د جمهوري ریاست د څوکۍ له نیولو بېغمه شوی و، پارلماني ټاکنې یې د خپل مقام لپاره لومړی او اساسي خطر نه ګاڼه، اسلامي جمعیت ته یې لا هم نور امتیاز ورکاوه، چې لا ورڅخه خوشاله(!) شي. د جهادي مشرانو په غونډه کې فهیم د (حضرت مجددي او استاد سیاف) په خوله د (فضل احمد معنوي) د رییس کېدو وړاندیز وکړ. ډاکتر رنګین دادفر سپنتا ( د ملي امنیت مشاور) وار دمخه د معنوي د تقرر لپاره کمپاین پیل کړی و، کرزي ته هم د دې ډلو ټپلو د خوشالۍ لپاره تر دې بله غوره موقع نه وه، نو ژر تر ژره یې دا وړاندیز منظور کړ او په دې ډول یوه ملي پروسه د تنظیمي افرادو لاس ته وغورځېده.

د معنوي تر ټاکنې وروسته مې بیا هم د داودزي، انجنیر ابراهیم، سرمحقق زلمي هېوادمل او نورو له لارې هڅه وکړه چې له کرزي صیب سره وګورم او د پاتې خطرونو د مخنیوي لپاره ورسره خبرې وکړم، خو بیا هم چا وخت رانه کړ، بیا مې یو لنډ پیغام ورولېږه، ورته ومې لیکل: ((هغه ماین چې دې اوس د انتخاباتو د پروسې په مخ کې خښ کړ، د انتخاباتو پر ورځ به انفجار وکړي)). د انتخاباتو د تر سره کېدو تر وخت پورې مې بیا هم هلې ځلې وکړې، چې که چېرې د ملاقات وروستی چانس برابر شي، بیا هم چانس برابر نه شو، یوازې څلور ورځې ټاکنو ته پاتې وې چې بیا مې یو څو ګوتې لیک ورولېږه: په لیک کې مې ولیکل: ((د انتخاباتو د مستقل کمیسیون د مشرتابه په ټاکنه کې اشتباه شوې، دا ډله اوس غواړي انتخابات د خپلو مقصدونو په پام کې نیولو سره تر سره کړي، یوه توطیه یې په پام کې ده چې جبران یې بیا ډېر سخت برېښي، دوی لومړی غواړي په یو زیات شمېر پښتون مېشتو سیمو کې د ناامنیو په پلمه د رایې اچونې مرکزونه کم کړي، دا خطر په هغو ولایتونو کې ډېر زیات دی چې پښتانه او نور قومونه په کې څنګ په څنګ اوسېږي او بیا د پښتنو کاندیدانو رایې د نا امنۍ او تقلب په نامه بندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، نو اوس يې لنډه حل لاره دا ده چې په ټول افغانستان کې دې ټاکنې پر يوه ورځ نه تر سره کېږي. ټاکنې دې ولايت په ولايت وشي او يا دې درې څلورو ولايتونو کې پر يو وخت وشي، که ولايت په ولايت وشي، نو حکومت کولای شي د زياتو پوليسو او امنيتي ځواکونو په استخدام سره د همغه ولايت په ناامنه سيمو کې امنيت ټينګ کړي او خلک په ټاکنو کې ګډون وکړي، د انتخاباتو کميسيون ته بايد د ناامنيو پلمه په لاس ور نه کړای شي، چې يا هلته مرکزونه جوړ نه کړي او يا بيا وروسته د نا امنۍ او درغلۍ په نامه د چا رايې باطلې کړي.)) جمهور رييس ته زما دا ليک رسېدلی و، لوستی يې و، نظر يې خوښ شوی و، خو ځواب يې راولېږه، چې: ((دا ښه نظر دی، خو اوس ډېر ناوخته دی، ما د انتخاباتو له کميسيون څخه خدای پاماني اخيستې، بيا يې نه شم ليدلی.)) په دې ډول زما ټولې اندېښنې همداسې د اندېښنو په توګه پاتې شوې.

کله چې ټاکنې تر سره شوې، هغه حالات پېښ شول چې ما يې اټکل کړی و، خو ولسمشر هېڅ وخت را نه کړ، نن او سبا يې کوله، دوه ځله يې د ملاقاتونو په جدول کې نوم هم راته وليکه، خو بيا مې هم ونه شو کتلی او دواړه ځله مې په بېلابېلو علتونو ملاقاتونه کنسل شول، زما زړه و که د نتيجو تر اعلان دمخه راته وخت راکړي چې د نتيجو د اعلان مخه ونيسو، د انتخاباتو د کميسيون په اړه مې ځينې اسناد هم راټول کړل، يوه ليکنه مې هم وکړه، په (۹) ټکو کې مې د انتخاباتو د نتيجو د قبلېدو په حالت کې د نوي پارلمان د جوړېدو خطرونه جمهور رييس ته وليکل: دا خطرونه په دې ډول وو)):

۱- د ملي مصطلحاتو او ملي ارزښتونو له منځه وړل.

۲- د کرنسۍ يا ملي پيسو بدلول، د کوچيانو د څوکيو د له منځه وړلو لپاره هڅه.

۳- د پخوانيو اتلانو د لقبونو اخيستل او پرځای يې د نويو تصنعي اتلانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړول.

٤- د ولایتي شوراګانو د واک زیاتول.

٥- د والیانو او ولسوالانو انتخابي کول.

٦- په لومړي ګام کې د پارلماني، په دویم کې د فدرالي او په درېیم ګام کې د افغانستان د تجزیې لپاره هڅه.

٧- پر قومي او تنظیمي معیارونو د خپلې خوښې وزیرانو ته رایه ورکول او د کاري وزیرانو ناکامول.

٨- د لویې جرګې رابلل، د جمهور رییس ګوښه کول او بیا احتمالاً محاکمه کول

٩- د لومړي معاون تر سرپرستۍ لاندې د انتخاباتو تر سره کول، په بشپړ ډول د ټول نظام راخپلول او یا د نظام د بنې چورلټ بدلول.))

دا نظریات هم ور ورسېدل، خو بیا هم د ملاقات زمینه برابره نه شوه، یوه مفصله لیکنه مې وکړه، چې د انتخاباتو د کمیسیون د درغلیو په اړه وه، د نتیجو تر اعلان یوه ورځ دمخه د ملاقات زمینه برابره شوه، خو بیا دا ملاقات د (١٣٨٩ل) کال د قوس پر (٣) مه د چهار شنبې ورځ (١١) نیمو بجو ته معطل شو، پر همدې ورځ او پر همدې وخت د ټاکنو نتیجې اعلان شوې، یوولس نیمې بجې وې چې د جمهور رییس دفتر ته پورته شوم، لږه شېبه انتظار خونه کې کېناستم، د تشریفاتو رییس ښاغلي (حامد اکرم) تشریف راوړ او راته یې وویل: ((یون صیب ملاقات دې سباته پاتې شو، رییس صیب وویل: سبا دوه بجې ګورو.)) همدې سره له دفتره راووتم او د خپل دفتر پر لوري لاړم.

د قوس (٤) د پنجشنبې ورځ دوه بجې بیا د جمهور رییس دفتر ته پورته شوم، هغه د جرګو په هال کې له یو شمېر قومي مشرانو سره پر جرګه بوخت و، پوره یو ساعت مې انتظار وکړ، کله چې جمهور رییس خپل دفتر ته راغی، نو څو دقیقې وروسته یې وغوښتلم، تر ګرم روغبړ وروسته یې راته وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې: ((اوس نو وایه!)) ما وویل: ((ما مخکې هم درته درې ځلور ځله خپل تشویش په ډاگه کړی و، اوس یې بیا درته وایم چې اوسنۍ پارلماني ټاکنې عادلانه نه دي او که پر دې بنسټ کوم پارلمان رامنځته شي هغه به هم عادلانه نه وي، ملت او دولت به له سخت بحران سره مخامخ کړي، لکه څنگه چې مې دمخه درته لیکلي وو، دوی به افغانستان کې سخت قومي بحران راوټوکوي، د خپلې طبعې وزیرانو ته به رایه ورکوي، کاري وزیران به ناکامووي، په لایحو او قوانینو کې به د خپل ځان په گټه بدلون راولي، محلي کورواکۍ به رامنځته کوي، ملي هویت به تخریبوي، هېواد به د انارشیزم او بیا د تجزیې خواته بیايي، دوی په اوسني ترکیب او د ځینو بهرنیو کړیو په مرسته کولای شي په اسانۍ سره په پارلمان کې دوه ثلثه پوره کړي، په دې ترتیب دوی لویه جرگه رابللای شي، هم جمهور رییس په یوه عادي خبره محاکمې ته کشولای شي او هم په اساسي قانون کې تغیر راوړلای شي، که جمهور رییس له کاره گوښه کړي، که همدا قانون هم وي، نو د لومړي معاون تر مشرۍ لاندې به ټاکنې کېږي، په داسې حال کې چې پارلمان هم د دوی په لاس کې وي او حکومت هم او په اکثریت پښتون مېشتو سیمو کې هم جگړه روانه وي، نو په دې حالت کې که انتخابات وشي، نو اتومات یې دوی گټي، میډیا هم ټوله دوی سره ده، خپله ملامتي د بل چا پر سلامتۍ توجیه کولای شي، د گاونډیو هېوادونو او ځینو نړیوالو نیتونه هم درته معلوم دي، نو په دې ډول به افغانستان له داسې یو لوی بحران سره مخامخ شي چې بیا یې راټولول ناشوني وي.

ما مخکې هم درته ویلي چې د انتخاباتو کمیسیون په راس کې د داسې یو شخص ټاکل چې خپله د قدرت د یو مدعي تنظیم غړی وي دا خپله د انتخاباتو د پروسې مشروعیت او استقلالیت ختموي، لکه څنگه چې ما اټکل کړی و؛ هغه ماین اوس وچاودېده، خو اوس زما وړاندیز دادی چې په هر ترتیب وي، کورنۍ او بهرنۍ کړۍ باید پر دې حقانیت قانع شي، چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخابات نه وو، هسې انتصابات و، نو باید له سره دې ټاکنې وشي، خو تر هغه دمخه څو شیان په کار دي چې باید تر سره شي، د ټاکنو کمیسیون دې په بشپړ ډول ناپېیلی وي، هېڅ داسې اشخاص چې تنظیمي او قومي تمایلات لري، باید په کمیسیون کې ځای نه شي، په تېره د قدرت د مدعیانو پلویان، بله مسئله دا ده چې ټاکنې باید ولایت په ولایت تر سره شي او نتیجه دې هم ځای پر ځای پر همغه ځای اعلان شي. د یوه کاندید د مشروعو رایو برخلیک دې په کابل کې د یوه کمپیوټر کار په لاس نه ورکول کېږي، موږ له (۱۰-۱۵) زرو عسکرو ته ضرورت لرو چې د یوه ولایت د ټاکنو امنیت خوندي کړي، د ناامنۍ او تقلب په نامه باید هېڅ سیمه او خلک له حقوقو محروم نه شي.)) د ټاکنو په اړه ما خپل نور ګڼ دلایل هم وویل، دا مې هم وویل چې: ((فضل احمد معنوي د جمهوري ریاست په تېرو ټاکنو کې د ټاکنو په کمیسیون کې د ډاکتر عبدالله په پلوۍ ډنډۍ وهله، دا چې پر لومړۍ ورځ له کوم قانوني مجوز او صلاحیت پرته (۱۳) لکه رایې باطلې شوې دا د هغې خبرې تصدیق و چې ډاکتر عبدالله او (ګالبریت) یې غوښتنه کوله او پر همغه وخت یې هم همدومره رایې د همدې سیمو باطلې ګڼلې وې. له دې بحران څخه د دوی هدف دا دی چې یو خو د جمهوري ریاست تېرې ټاکنې تر پوښتنې لاندې راولي او بل د راتلونکي جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره هم داسې یوه پلمه برابره کړي، چې په دې سیمو کې یا هېڅ ټاکنې ونه کړي او یا یې هم پر همدې تېر برخلیک اخته کړي.)) په دې ترڅ کې مې د انتخاباتو د کمیسیون د درغلیو په اړه هغه لیکنه هم ورکړه چې د ځینو اسنادو او شواهدو پر بنسټ لیکل شوې وه.

دا لیکنه دا وه:

((۱- استعمال شوې رایې هغومره نه دي چې دوی ویلې دي.

۲- د هر ولایت مجموعي استعمال شوې رایه، په هغو کې باطله، قرنطین

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې او پاکه رایه له یو بل څخه نه ده تفکیک شوې، د پاکې رایې مجموعي شمېر هم نه دی معلوم او د باطلو مجموعي شمېر هم.

۳- که له سره په هر ولایت کې د ټولې استعمالو شویو رایو شمېر قید شوی وای، کېدی شي د درغلیو مخه تر یوه حده په دې نیول شوې وای، چې د انتخاباتو کمېسیون به د خپلې خوښې کاندید ته په اسانۍ سره رایه نه وای زیاته کړې، دا کار به ورته ډېر مشکل و، خو اوس ورته لاره خلاصه ده.

٤- د انتخاباتو د کمیسیون د لومړۍ او وروستۍ ورځې ارقامو تر منځ یو میلیون رایو تفاوت او د کابل شمېرنه کې د لسګونو زرو رایو تفاوت ښکاري.

٥- ډېټابېس له تخنیکي پلوه نیمګړی دی، د ډېټابېس دویم سرور د جمهوري ریاست د رایو مرکزونو او رایو محلونو په حساب برابر شوی، خو اوس چې په پارلماني ټاکنو کې په رایو محلونو کې یو څه تغیر راغلی، د ډېټابېس لومړی سرور ټول محلونه نه جذبوي، خو دویم همغه محلونه جذبوي چې په ډېټابېس کې قونسل (ځایګی) یا خونه لري.

٦- یوازې د څو لومړنیو ورځو په بهیر کې د (T.B) فورمو سکېن شوې بڼه په انټرنېټ وښودل شوه، چې هغه هم په ډېر تکلیف ډاونلوډ کېدله او په ټول افغانستان کې د (فیفا) په شمول چا د دې امکان نه درلود چې د (T.B) فورمو دا بڼه ځان ته پرنټ (چاپ) کړي او بیا یې له اعلان شویو رایو سره پرتله کړي. ان خپله د انتخاباتو او شکایاتو د کمیسیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسولین هم د دې وس نه لري چې له خپل دفتره بهر د (T.B) فورمو اصلي بڼه له اعلان شویو رایو سره پرتله کړي.

۷- د انتخاباتو کمیسیون په تېره بیا په مرکزي دفتر کې په سلو کې (۷۵)سلنه کارکوونکي د تنظیمي او قومي ملاحظاتو پر بنسټ غوره شوي، چې دا برخه یې اکثره د نظار شورا او جمعیت فکري خط تعقیبوي، چې اوس یې ډاکتر عبدالله عبدالله په یوه نوې بڼه استازي کوي.

۸- د انتخاباتو کمېسیون مشر د انتخاباتو د قانون د محتویاتو خلاف په اکثرو مهمو پوستونو کې خپل خپلوان، خپل تنظیمیان او د خپلې سیمې خلک مقرر کړي چې دلته یې یو څو تنه د بېلگې په توگه یادوو:

- د IT سرپرست رییس، شفیق احمد له کاپیسا ولایت څخه.
- محمد سمیع، د ډېټاسنټر کواردیناتور یا مسول له پنجشېر څخه.
- ډاکتر کامران، د ډېټابېس ډیولفر، چې د شفیق احمد خپلوان او له کاپیسا ولایت څخه دی.

د یادونې وړ ده چې دا درېواړه موقتي کارمندان دي، په داسې حال کې چې دا حساس پوستونه د اداري اصلاحاتو د کمیسیون له خوا مقررېږي، خو ښاغلي فضل احمد معنوي دا له دې پروسیجر پرته په خپل زور مقرر کړي دي.

- د معنوي حقوقي مشاور، سریر برمک له پنجشېر څخه.
- امنیتي مشاور، له پنجشېر څخه.
- بشیر فاروق یو بل چارواکی، له پنجشېر څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



- امنیتي یاور، مبین خیرخواه، له پنجشېر څخه
- حفیظ هاشمي، د دفتر رییس له پنجشېر څخه.

په مجموعي ډول یوازې په ډیټا انټري کې د معنوي خپل خپلوان او د پنجشېر سیمه وال تر پنځوسو کسانو پورې رسېږي.

- ډاکتر مهدي چې له پنجشېر څخه دی، تېر ځل یې له کابل څخه ځان کاندید کړی و او د معنوي د عمه زوی دی، دا ځل یې د معنوي په ملاتړ له بغلان ولایت څخه ځان کاندید کړ، د ډاکتر مهدي یو ورور (امان الله تجلي) د شکایتونو د اورېدو کمیسیون د تحقیق د رییس په توګه مقرر شو، چې د ډاکتر مهدي پر درغلیو پرده وغوړوي.

۹- لومړني نتایج د ورځې تر ماښامه تکمیل شول، ځینې کاندیدان چې په دې لېست کې شامل وو، په انتخاباتو کې د ځینو مامورینو له خوا ورته خبر راغی چې سبا لېست اعلانېږي، خو لېست کې د شپې یوولس بجې تغیر راوړل شو او اعلان شوي لېست سبا بله بڼه غوره کړې وه.

۱۰- حفیظ منصور د معنوي سیمه وال او د یوه تنظیم خلک دي، پرېمانه اسناد موجود دي چې هغه دومره رایې نه درلودلې، خو معنوي د ((مارشال)) فهیم او نظار شورا د نورو مشرانو په مخکښي تفاهم او غوښتنه هغه په وچ زور په بریالیو کاندیدانو کې راوړ.

۱۱- د سیدحسین انوري په اړه د لوی څارنوال رسمي غوښتنلیک د معنوي له خوا رد شو، لوی څارنوال غوښتي وو چې انوري ناقانونه وسلې لري، تر هغه چې دا وسلې تسلیم نه کړي، په ټاکنو کې د ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library



حق نه لري، خو معنوي د هغه ملاتړ له امله چې انوري له ډاکتر عبدالله څخه په تېرو ټاکنو کې کړی و، انوري له لېسته حذف نه کړ او هم یې په ټاکنو کې هغه سره ډېره مرسته وکړه.

۱۲- په ګڼ شمېر ولایتونو کې د اکثریت پښتنو پر وړاندې رهبري شوي حرکتونه تر سره شوي، د هغو رایه په قصدي ډول له محاسبې وتې، د پښتنو ترڅنګ د ازبکو، ترکمنو، بلوڅو او ځینو نورو قومونو لږکیو پر وړاندې هم له تعصب څخه کار اخیستل شوی. یوه انتخاباتي حقوقي پروسه پر یوه منظم سیاسي جریان بدله شوې ده.

۱۳- لکه څنګه چې د انتخاباتو کمیسیون د سیاسي او تنظیمي اشخاصو په منګولو کې پرېوت، دغسې د شکایتونو کمیسیون هم له سیاسي غرضونو او مرضونو خوندي پاتې نه شو. ښاغلی احمدضیا رفعت د دې کمیسیون د غړي او ویاند په توګه خپل سیاسي غرض او مرض پټ نه شو کړای، رفعت مخکې تر دې د (ملي متحدې شورا) په اصطلاح نوبتي رییس و. دا شورا د حفیظ منصور، ډاکتر مهدي او ځینو نورو له خوا جوړه شوې ده، احمدضیا رفعت د معنوي ترڅنګ د دې کسانو په ناقانونه کامیابۍ کې لوی لاس درلود. رفعت په هرات او د افغانستان په نورو سیمو کې د تقلب په نامه په لوی لاس او د تبعیض له مخې یو شمېر بریالي کاندیدان ناکام او د یو شمېر نورو ملتپالو د بریالیتوب مخه ونیوله.

۱٤- د انتخاباتو ټوله پروسه په تېره بیا د انتخاباتو تر ورځې وروسته چې د انتخاباتو د برخلیک ټاکنې واک له ولس څخه د انتخاباتي کمیسیونونو لاس ته ورغی، د دوو میاشتو په بهیر کې پرېمانه درغلي وشوه، د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاندید بریالي کېدل تر (٤) لکو ډالرو پورې ورسېدل، په شهزاده سرای او دوبۍ کې معاملې شوي، په شهزاده سرای کې (خدمات پولي عقاب تابان) کې چې د پنجشېریانو یوه صرافي ده، له لسګونو کاندیدانو سره پټې معاملې وشوې.)) جمهور رییس د توضیحاتو د غوښتنې ترڅنګ ژر ژر دا مقاله هم له نظره تېره کړه: بیا یې وویل: ((تشویش مه کوه که زما د جمهوري ریاست د څوکۍ په قیمت هم دا ټاکنې تمامې شي منم یې نه، پرېمانه او قوي درغلي په کې شوې ده، ما فکر نه کاوه چې معنوي دې داسې کار وکړي، ما باندې د خپلو له خوا خرابه شوه، ( سیاف ته یې اشاره وه) دوی ما باندې دی ومانه، تر اوسه څو ځله فهیم او خلیلي راغلي چې همدا نتیجې سمې دي، خو ورته ویلي مې دي چې پرېږده څارنوالي تحقیقات بشپړ کړي او بیا محکمه خپل نظر څرګند کړي، قاضي‌القضات صیب مې راغوښتی و هغه هم راسره هم نظره دی، چې دا انتخابات صحیح نه دي، زه په دې پوهېږم چې دا ټاکنې افغانستان ته خطرناکې دي، افغانستان د تجزیې خواته بیايي، دې کې د خارجیانو لاس دی، خو که زه راساً دا باطلې کړم، نو دوی به فوراً ووايي چې د جمهوري ریاست هغه یې هم باطلې دي، نو زه به وایم چې شه همغه یې هم درباطلې کړه، زه به ووایم چې زموږ دواړه انتخابات د مشروعیت تر پوښتنې لاندې دي، دنیا پرې ډېرې تبصرې کړې دي، تر پوښتنې لاندې راغلي دي، نو بالا دواړه یې نامشروع دي. د یوه کال لپاره به یو موقت حکومت جوړ کړو، زه به یې په راس کې یم دنیا ته به ووایم چې زه اینده ټاکنو کې ځان نه کاندیدوم، په دې شرط چې د یوه کال په اوږدو کې دنیا سره دا ومني چې په ټول افغانستان کې سوله ټینګه شي، که حکمتیار او ملا عمر یې هم راسره ومني، امن ټینګ شي او هغوی هم ځانونه کاندید کړي، نو بیا دې دوی ټینګ شي چې کله اکثریت پښتون مېشتو سیمو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې امن راشي، نو هر څوک چې د دوی پر وړاندې (مقصد یې شمالټلواله و) ودرېږي، اوتومات ترې انتخابات ګټي. زه حاضر یم چې له خپلې څوکۍ تېر شم)).

ما وویل: ((رییس صیب ټول حکومت دې خلکو سره دی که دوی په حکومت کې حاکم پاتې شي او بیا د دوی د حاکمیت په شتوالي کې ټاکنې وشي، نو دوی له دې حاکمیت څخه ناوړه ګټه اخلي او انتخابات پر خپل محور څرخوي.)) ده وویل: ((نه بابا پلار یې را څخه ګټه نه شي اخیستلای، بله خبره دا کوم وه یونه! چې کله دوی پر دې پوه شي چې زه رښتیا هم د جمهوري ریاست له څوکۍ تېرېږم نو راځي او پښو کې مې راته رغړي، دا شان و شوکت، دا پیسې او دا امتیازات دوی کله پرېږدي، دوی پوهېږي چې دا ټول یې زما له برکته او زما په وجود کې تر لاسه کړي، اویا فیصده په حکومت کې دوی دي، دوی خو اوس دا چیغې وهي، خو کله چې زما د تلو په واقعي خطر پوه سي بیا بېرته زما ترڅنګ ودرېږي او زاري به هم راته کوي.)) په همدې خبرو کې وو چې د جمهور رییس ویاند (وحید عمر) رانٍنوت او د انتخاباتو په اړه یې د جمهوري ریاست اعلامیه جمهور رییس ته راوړه، هغه زما په مخ کې قرائت کړه، ماته یې وویل څنګه ده؟ ما وویل: ((رییس صیب سسته ده باید د مشروعیت نشتوالي ته واضح اشاره شوې وای)) خو وحید عمر وویل: ((فکر کوم صحیح به وي، هرې خواته یې چې اړوې تعبیر ورڅخه کولای شې.)) بیا جمهور رییس وویل: ((سمه ده ما خو یې مشروعیت نه دی تائید کړی، هېوادمل صیب سره مشوره وکړه او تر هغه وروسته یې مطبوعاتو ته ورکړه.)) اعلامیه په دې ډول وه: ((د پارلماني انتخاباتو د پایلو په باب د جمهوري ریاست اعلامیه: د انتخاباتو د خپلواک کمیسیون، د دغه کمیسیون او د انتخاباتي شکایتونو د کمیسیون له خوا د بهیر له بشپړېدو وروسته د ولسي جرګې د انتخاباتو وروستۍ نتیجې د لیندۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میاشتې په دریېمه نېټه اعلان کړې. د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رییس په داسې حال کې چې په دې مهم ملي بهیر کې د خلکو د ګډون قدرداني کوي له معترضو کاندیدانو او د هغوی له پلویانو څخه غوښتنه کوي چې له تاوتریخوالي او د بې نظمۍ له رامنځته کولو څخه دې ډډه وکړي او خپل شکایتونه دې عدلي او قضایي مراجعو ته وړاندې کړي چې دغه شکایتونه د هېواد د نافذو قوانینو په رڼا کې د عدلي او قضایي ارګانونو له خوا وڅېړل شي. د افغانستان اسلامي جمهوریت جمهور رییس ځان د اساسي قانون د مفادو په عملي کولو مکلف بولي او له هغه سره سم به عمل وکړي.)) وحید عمر له دفتره ووت او موږ بیا خپل مجلس ته دوام ورکړ. ما ورته وویل: ((رییس صیب د دې ټلوالې لپاره ته داسې یې لکه ولي نعمت، خو بیا هم دوی له تا خوشاله نه شول، د دوی هوسونه لایتناهي دي، حد او برید نه لري، کاشکې دوی ویلای چې تر دغه ځای موږ امتیاز غواړو او بیا نور څه نه غواړو، خو د دوی هوسونه ناکنتروله دي، اکثره پښتانه له تاسو ګیله کوي او وایي چې راېې موږ ورکوو، خو څوکۍ بیا دوی ته ورکوي، خو بیا هم دوی په تاپسې هغه سپکې وایي چې د ویلو نه دي. یو زیات شمېر پښتانه وایي کله چې دوی پر موږ ګوزار کوي لاره یې خلاصه ده، خو چې موږ پرې ګوزار کوو، نو په مخکې مو جمهور رییس دی او نه مو پرېږدي، نو ښه به دا وي چې تاسو له دې حایل حالت څخه لرې شئ، که بیا موږ د دوی سابه په مالګه نه کړل بیا چې هر څه وایې.)) ده وویل: ((بالکل منم یې همداسې ده ما پر دوی لاس نیولی، خو ښه خبره دا ده چې په هېواد کې امن راشي، کله چې امن راغی بیا هېڅوک هم اضافي غوښتنې نه شي کولای.))

د جمهور رییس او زما ملاقات نږدې دوه ساعته دوام وکړ، په دې ترڅ کې مې ورته یو ځل بیا د درباري غوړه مالانو او تنظیمي مشرانو یادونه وکړه چې د دوی مشورې نه یوازې مثمرې نه دي، بلکې په ځینو برخو کې مضرې هم دي، درباري غوړه مالان کوم خاص اصلاحي نظر نه لري، خپل وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېروي او دا تنظیمي مشران که د نظر او تدبیر خاوندان وای دوی به په خپل وخت کې ښه حکومت جوړ کړی و. ما وویل: ((یو شمېر تنظیمي مشران داسې دي چې وکالت ته هم دوی ولاړ دي، امامت ته هم، خطابت ته هم، رذالت ته هم، رشوت ته هم، خیانت ته هم او مشاوریت ته هم، هېڅ شی بل چاته نه پرېږدي.)) جمهور رییس هم دې خبرې سره سخت وخندل، په وروستي وخت کې یې راته وویل: ((ډېر تشویش مه کوه د انتخاباتو دا نتیجې موږ ته د منلو نه دي.)) بیا یې غږ کړ: ((څنګه شو ټلویزیون دې؟)) ما ویل رییس صیب درې میاشتې نور هم وخت غواړي، کله چې ما میډیا فعاله کړه نو بیا دې خلکو سره ګورم چې څه ورسره وکړم، که موږ پخوا میډیا ته توجه کړې وای، نو نن به تر دې حالت پورې نه رارسېدلو)) جمهور رییس وویل: ((پوهېږم پوهېږم اوس چې دې میډیا فعاله نه ده، دوی درڅخه دومره شکایت کوي، چې فعاله دې کړه بیا به څه حال وي؟)) همدې خبرو سره مې له جمهور رییس څخه خدای پاماني واخیسته، لومړی د خپل دفتر او بیا د خپل کور پر لوري رهي شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library




# د سولې ملي مشورتي جرګه او د تنظیم سالارانو بیا غوړېدنه

له څو کلونو راهیسې جمهور رییس هڅه کوله چې له طالبانو او نورو مخالفانو سره د پخلاینې لپاره د سولې پر یوه داسې میکانیزم کار وکړي، چې په پای کې د سولې د ټینګښت سبب شي. د همدې هدف لپاره یې (د سولې د ټینګښت کمیسیون) جوړ کړ او حضرت صبغت الله مجددي یې د مشر په توګه ورته غوره کړ. دې کمیسیون ورو ورو تشریفاتي او تنظیمي بڼه غوره کړه، د مالي فساد ریښې هم په کې وځغلېدې، لنډه دا چې د سولې په برخه کې یې اساسي کار ونه کړای شو. وروسته د سولې لپاره د یوې بلې اساسي جرګې یا اساسي میکانیزم ضرورت احساس شو. جمهور رییس، د جمهوري ریاست د دویمې دورې په سوګند غونډه کې دا یادونه وکړه چې له مخالفینو سره د پخلاینې په خاطر به یوه (لویه جرګه) جوړوي. د (لویې جرګې) د دایرولو پر وړاندې بهرنیانو، په تېره بیا امریکایانو، د حکومت حکومتي مخالفانو او همدارنګه په ولسي جرګه کې د شمالټلوالې اړوندو وکیلانو حساسیت وښود، ځینو دا استدلال کاوه چې په اساسي قانون کې د لویې جرګې د جوړېدو ضرورت، وخت، ترکیب او جوړښت په ګوته شوی، د پخلاینې او سولې پروګرام لپاره د دې لویې جرګې د جوړېدو ضرورت نه شته، امریکایانو دا وېره احساسوله هسې نه چې لویه جرګه د دوی د وتلو یا شتوالي د قانونیت موضوع وڅېړي، د ټلوالې پلویانو داسې فکر کاوه، هسې نه چې لویه جرګه واقعي سوله راولي، بیا خو نو دوی ډېر امتیازات له لاسه ورکوي، نو ځکه خو دوی ټولو د لویې جرګې له جوړښت او صلاحیت څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېره احساسوله. وروسته د هغې (لویې جرگې) چې په اساسي قانون کې یې یادونه شوې، پرځای د (عنعنه یي لویې جرگې) یادونه وشوه، خو د هغې پر وړاندې بیا هم دا استدلال موجود و چې اساسي قانون لویه جرگه تعریف کړې، نور یې نو عنعنه یي بڼې ته اړتیا نه شته، په پای کې همغه بهیر چې د سولې لپاره پیل شوی و، لومړی ( د سولې د لویې جرگې) او بیا (د سولې د ملي مشورتي جرگې) نوم راخپل کړ. د جرگې د تخنیکي چارو د تنظیم دنده د پوهنې وزیر (فاروق وردگ) ته ورکړل شوه، ډاکتر (صادق مدبر) د چارو د ادارې لوی رییس یې مرستیال و، فاروق وردگ د چارو د تنظیم او سمون





په خاطر له نورو دولتي او مستقلو ادارو څخه هم په دې ټیم کې ځینې کسان وغوښتل. ما تر دې دمخه د اساسي قانون په لویه جرگه او د افغانستان-پاکستان د امن په گډه جرگه کې له فاروق وردگ سره یوځای چارې پرمخ وړې وې، نو یو ځل بیا یې له جمهور رییس څخه غوښتنه وکړه چې زه هم د جرگې د تنظیم په چارو کې داخل شم. جمهور رییس امنیت شورا دفتر ته په رسمي ډول هدایت وکړ چې زه هم هلته کار وکړم. زه به هم، کله کله د لویې جرگې کېږدۍ ته ورتلم او د جرگې د تنظیم په چارو کې به مې خپله وسه کوله، د جرگې تخنیکي چارې بشپړېدو ته نږدې شوې، ورو ورو پر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې کېدلې چې څوک باید د جرگې مشرتابه لپاره غوره شي؟ د جرگې د مشرتابه ترکیب به څنگه وي؟ د حضرت مجددي، استاد سیاف، یونس قانوني او ځینو نورو نومونه یادېدل، خو کله چې جرگې ته څو ورځې پاتې شوې، نو د برهان الدین رباني د انتصاب احتمال زیات شو. د (۱۳۸۹ل) کال د (غبرگولي پر شپږمه) نېټه کله چې زه د رباني پر انتصاب خبر شوم، نو له بېلابېلو لارو مې هڅه وکړه چې جمهور رییس سره وگورم خو د ملاقات وخت رانه کړل شو، مجبور شوم یو لیک ولیکم، لیک مې د امنیت شورا مرستیال



(ولسمشر حامد کرزی)



(محمد اسمعیل یون)

ښاغلي (شیدا محمد ابدالي) او د جمهور رییس د فرهنگي چارو مشاور ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل) ته ورکړ چې جمهور رییس ته یې ورسوي، شیدا محمد لیک لوستی و، چندان ښه پرې نه و لگېدلی، نو ځکه یې جمهور رییس ته نه و وروړی، خو هېوادمل صیب لیک لوستی نه و، د غبرگولي پر همغه اتمه نېټه یې ولسمشر ته وروړی و، ولسمشر په کور کې پر هغه ماښام لیک لوستی و، سخت په غوصه شوی و، پر همغه ماښام یې د ټلېفون په ذریعه احوال راولېږه: ((چېرته لاړ نه شې، رییس صیب ډېر په قهر دی په کار یې یاست، سبا یکشنبه د غبرگولي (۹) نېټه غرمه یې غوښتی یې.)) د یکشنبې ورځ غرمه له ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل سره یوځای ورغلم. د توقع خلاف جمهور رییس ما سره دومره نېک او صمیمي چلند وکړ چې ما یې هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هیله نه لرله، له اخلاصه ډکه غبرګه یې راکړه او په غوږ کې یې راته وویل: ((ډېر ګلالی لیک دې راته رالېږلی و، اوس نو راځه چې زه درته خپله کیسه بیان کړم)). د دې په خاطر چې قدرمن لوستونکي د لیک له محتوا څخه خبر شي، ښه به وي چې د لیک متن دلته کټ مټ رانقل کړم:**

## یو تریخ او خوږ لیک

**((د افغانستان د اسلامي جمهوریت قدرمن جمهور رییس ته!**

**تر ټولو دمخه سلامونه او نېکې هیلې!**

**له بېلابېلو سرچینو څخه خبر شوي یو، چې ستاسو له خوا، ښاغلی پروفیسور برهان الدین رباني د سولې د ملي مشورتي جرګې لپاره د رییس په توګه انتصابېږي. که دا خبره واقعیت ولري، نو دا کار به نه یوازې د سولې د ملي مشورتي جرګې ارزښت له صفر سره ضرب کړي، بلکې د جرګې د کار دوام به هم ناممکن کړي، داسې یو شخص چې د کابل په ورانۍ او د افغانستان په تباهۍ کې پوره پوره لاس لري، د جرګې د رییس په توګه د هغه انتصاب، خپله د جرګې له ارزښت، عنعنې او ماهیت سره سل په سلو کې تضاد لري.**

**دې جرګې ته د ((سولې ملي مشورتي جرګې)) نوم ورکړل شوی، دا تنظیمي جرګه نه ده چې کوم تنظیم سالار او جنګسالار یې په راس کې واقع شي. د جرګې د رییس په توګه د رباني انتصاب به د مخالفینو او نړیوالې ټولنې هغه منطق لا پسې قوي کړي، چې وایي: ((ستاسو حکومت د څو تنو فسادګرو او جنګسالارانو په لاس کې دی.)) طالبان او د اسلامي جمعیت نور پخواني او اوسني مخالفین به په ډېر پیاوړي دریځ کې راشي او دا جرګه به هسې د باد بڼکه وبولي، ټول پښتون قوم به چې هسې هم ستاسو په اته نیم کلن حکومت کې د محکومیت د اور بتۍ ته لوېدلی، د جرګې په راس کې د رباني غوندې د یوه متنازعه شخص انتصاب پر خپلو حقوقو یو بل تېری وګڼي او نور به هم په سیاسي انزوا کې راشي. ستاسې په حکومت کې تر اوسه پورې درې مهمې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرګې ( بېړنۍ لویه جرګه، د اساسي قانون لویه جرګه او د امن ګډه جرګه) تېرې شوي، د دې درې واړو جرګو مشري له پښتنو څخه واخیستل شوه، دا د دې مانا ورکوي چې پښتانه د افغانستان په سیاسي صحنه کې د فعال حضور حق نه لري. د قوم په نوم اسلامي جمعیت او ځینو نورو اقلیتونو ته چې کوم امتیازات ستاسو د واک په اته نیم کلنه دوره کې ورکړل شوي، د افغانستان څه چې د نړۍ په تاریخ کې ساری نه لري، ستاسو معاونین چې د جمهوري ریاست په دواړو دورو کې ستاسو تر وزرونو لاندې د پښتنو په رایو راغلل، پر هره تنګه او سخته ورځ ستاسو پر وړاندې ودرېدلي، خو پښتون قوم چې یوازې په انتخاباتو کې تاسو ته د رایو اچونې پر وخت تر بل هر چا زیات ظاهرېږي، په حکومت کې یې ونډه په واقعي مانا د بل هر چا په تناسب کمه ده، حتی ټوله نړیواله ټولنه هم پر دې اعتراف کوي، چې د جګړې یو علت په حکومت کې د پښتنو محرومیت دی. دا حالت نور په هېڅ وجه د زغملو نه دی، چې مخالفین دې ستاسو په حکومت او سیاست کې دومره امتیاز واخلي، چې هم ستاسو مخالفت وکړي او هم د افغانستان ملي ګټو او ملي یووالي ته زیان واړوي، تر ټولو دردوونکې خبره بیا لا داده؛ دا ټول امتیازات ستاسو له خوا ستاسو په قلم او ګوتو هغوی ته ډالۍ کېږي، هغوی له دې سیاسي، اقتصادي او پوځي امتیاز څخه ګټه اخلي، خپل موقف قوي کوي او بېرته ستاسو او ټول ملت د ملي ګټو پر وړاندې ودرېږي. که رباني، محقق، اکبري، انوري، عطامحمد او نور ستاسو خپلېدلی، نو په تېرو اتو کلونو کې به دې په دې بې شمېره امتیازاتو راخپل کړي وای، ستاسو په لاس د افغانستان دې ډول مخالفینو ته په ورکړل شویو امتیازاتو کې د ټول ملت حق دی، هیله ده دا امتیاز پر ملت وویشل شي، نه پر څو تنو جنګسالارانو او تنظیم سالارانو، چې تلویزیونونه یې هم د نورو په پیسو او دسیسو چلېږي او افکار هم په کې د نورو خپرېږي.

دا یو بل تریخ حقیقت هم باید درته په ډاګه کړم: کوم پښتانه چې ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حکومت کې دي او د ملي شعور خاوندان دي، هغوی هم ځان په دې حکومت کې دومره محروم احساسوي چې حد او برید نه لري، هیله ده د هغو رایه ورکوونکو د حیثیت اعادې ته هم لږ پام وکړئ چې د جمهوري ریاست د دواړو دورو په ټاکنو کې په سرومال تاسو سره ودرېدل، خو ستاسو په حکومت کې د همدې جنگسالارانو د زیاتې ونډې له امله یې اوس نه سر خوندي دی او نه مال، عجیبه خبره داده: همغه جنگسالاران او تنظیم سالاران، چې په هره مهمه سیاسي او اداري غونډه کې یې تاسو حضور حتمي بولئ، سهارنۍ او غرمنۍ هم درسره یو ځای خوري او ستاسو پر دسترخوان راټول دي، همغوی تر هر چا زیات په خپلو رسنیو کې ستاسو پر ضد نیوکې کوي او هغه ډول الفاظ درته کاروي چې قلم یې له لیکلو شرمېږي، خو دې سره سره هره ورځ بیا هم په دربار، امتیاز او کاروبار کې ډېر محترم دي. زه د هغو کسانو په جمله کې یم چې په تېرو اتو کلونو کې مې د خپل وس تر وروستي بریده په هېواد کې د سیاسي عدالت د تامین په خاطر منډې ترړې کړي او اوس لا ستاسو په حکومت کې د یو ((مامورگي)) په توگه ستاسو (ترخنگ) خو تر تا (ډېر لرې) کار کوم، دا ماموریت دې ماته زهر شي چې زه به یې د افغانستان د ملي گټو خلاف کاروم او خپلو شخصي گټو ته به ترجیح ورکوم، زه حاضر یم چې لومړی ما د دربار له دې عذابه خلاص کړې او بیا ورپسې متصل ټول جنگسالاران، تنظیم سالاران، فسادگر او د اووگونو، اته گونو او نورو لسگونو تنظیمونو پنډېتان او سیاسي سوداگر، په چټکۍ سره له دې حکومته رخصت کړې، چې خلک په ارامه فضا کې تنفس وکړي او د سوکالۍ وږمه پرې ولگېږي. اوس د افغانستان پنځه ویشت ملیونه وگړي، نږدې دوه زره زورواکو، رسمي او نارسمي ټوپکوالو یرغمل کړي، دې دوه زره کسانو زیاترو د همدې حکومت په امکاناتو د دې ولس پر ستوني پښه ایښې ده، که دوی سره د حکومت امکانات نه وي، نو ولس په ډېره اسانۍ سره د دوی سابه په مالگه کولای شي.

وخت کم و، د تنظیم سالارانو غونډې وخت پر وخت ستا د ملاقات

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمینه موږ ته نه میسرېږي، نو ځکه مې درته دا (تریخ) خو (خوږ) لیک ولیکه، هیله ده لومړی د سولې ملي مشورتي جرگه له رباني، رباني خپلو او نورو تنظیم سالارانو وژغورئ او بیا نور ټول افغانستان.))

کله چې جمهور رییس سره کېناستو نو هغه ډېرې اوږدې خبرې وکړې، خپل دردونه او مجبوریتونه یې بیان کړل، د رباني په غوراوي کې د ده منطق دا و: ((دا جگړه چې روانه ده دا خو اصلاً د دې رباني، ټلوالې او طالبانو تر منځ جگړه ده، زه خو طالب سره هېڅ مشکل نه لرم، که مشکل لري خو دوی یې لري چې مړي یې تر منځ شوي، خو که زه دوی را نه ولم، دوی دستي دنیا ته چغې پورته کوي چې دا خو نو د پښتنو تر منځ سوله ده، خپلمنځي سوله ده، د ټول افغانستان نه ده او دنیا یې هم ورسره مني، لکه تر دا اوسه یې چې ورسره منلې ده، دوی خو دنیا سره لار لري طالبان خو کم عقل دي ټولې دنیا سره یې غېږه نیولې ده.)) جمهور رییس زیاته کړه، رباني ماته راغی راته یې وویل: ((زه نور سپین ږیری یم، غواړم په دې اخر عمر کې د دې قوم او وطن د فلاح او صلاح لپاره یو خدمت وکړم، ته ماته یو چانس راکړه؛ ماته د دې جرگې مشري راکړه. ما ویل ښه ده بالا راځه نو دا ته یې مشر.))

ما وویل: ((رییس صاحب که دوی رښتیا د دې وطن د خیر او فلاح لپاره کار کوي، موږ یې هېڅ مخالفت نه کوو، خو دا ډېر چالاکه او ماهر دي، وروسته بیا دوی صداقت نه کوي. منافقت کوي، دې کار ته د رباني علاقه مندي په دې کې ده چې دی اصلاً د دې څو وروستیو کلونو په ترخ کې د نظار شورا د مشرانو، لکه فهیم، قانوني، عبدالله او نورو له خوا حاشیې ته لوېدلی دی، جمعیت تنظیم نور هغه پخوانی استحکام نه لري، که دولتي امکانات ورسره نه وای لا وختي به له سیاسي صحنې څخه وتلی و، خو رباني غواړي د دې جرگې له مقام څخه د خپل ځان او تنظیم په گټه، گټه پورته کړي، ستاسو مجبوریتونه او تشویشونه به پر ځای وي، تاسو د قضیې یو اړخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



محاسبه کوئ، خو بل اړخ چې طالبان او د حکمتیار اسلامي حزب دی، هغوی چې رباني د جرګې په راس کې وګوري، هېڅکله به د منطق له مخې سولې ته غاړه کېنږدي، زما نظر خو دادی، ښه به وي یو بې طرفه سړی چې د منطق په وسله سمبال وي او ټولو غاړو ته د منلو وړ وي، د جرګې په راس کې راشي، دا تنظیمي مشران داسې دي لکه تاریخ تېرې دواګانې، جانبي عوارض لري، که یوه خوا ترمیموي، نو بله خوا تخریبوي، خو جمهور رییس بیا هم پر خپله خبره ټینګار کاوه او ویل یې چې د رباني په انتخاب کې د تخریب په انډول د اعمار خوا درنه ده. ما وویل دا چې تاسو پرېکړه کړې رباني باید حتمي د دې جرګې د مشر په توګه غوره شي، نو بیا خو ښه لاره دا ده چې تاسو یې د یوه انتصابي مشر په توګه غوره کړئ او که د جرګې پر غړو فشار راوړل شي او یا هم دولت ورته کمپاین وکړي؛ د پټ او څرګند فشار د استعمال په واسطه د جرګې د غړو له خوا انتخاب شي، نو دی بیا له دې انتخاب څخه، چې په حقیقت کې انتصاب دی، د خپل ځان لپاره ډېره ګټه پورته کوي، بیا دنیا ته ښیي چې د ده هغه تېره (حل و عقد شورا) هم قانوني وه، وګوره دی دومره محبوبیت لري چې د جمهور رییس کرزي له خوا راټولې شوې جرګې هم ده ته رایه ورکړه، وګوره محبوبیت!! د دې جعلي محبوبیت تر شا د پټ حقیقت څرګندول او د دنیا قانع کول بیا ډېر سخت کار دی، لنډه دا چې که تاسو یې انتصابوئ، نو زه او زما په شان نور خلک یې کېدی شي، نه مخالفت وکړو او نه تائید.)) سره له دې چې جمهور رییس د رباني په انتخاب خوشالېده، خو چې ما ورته د جرګې ترکیب او حالات تشریح کړل، لږ غلی شو، ویې ویل: ((په دې به هم فکر وکړم؛ خلک لکه چې رایه نه ورکوي.)) خو بیا هم د جمهور رییس ټینګار دا و چې د رباني مخالفت مه کوئ، بحث ښه هر اړخیز و، زما ټولو دلایلو ته یې غوږ ونیو، نږدې یو ساعت خبرو دوام وکړ او بیا د جمهور رییس له دفتره رابهر شوم. دا چې تر دې وروسته د جرګې په درشل او بهیر کې څه وشول، غواړم دلته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لنډيز سره يادونه وکړم:

د سولې په ملي مشورتي جرګه کې د دې جرګې د مشرتابه لپاره د (برهان الدين رباني) د انتخاب پر سر زما او (ډاکتر فاروق وردګ) تر منځ ژور اختلاف پيدا شو، ان خبره لفظي شخړې ته ووته، فاروق وردګ جمهور رييس ته ټلېفون کړی و او ويلي يې وو چې: ((په خپله د جمهوري رياست لوړ پوړي کارکوونکي د جمهور رييس اوامر نه مني، نور خلک به موږ څنګه قانع کړو؟)). ماته انجنير صيب ابراهيم زنګ وواهه او ويې ويل: ((څه خبره ده په جرګه کې؟ ډاکتر فاروق وردګ رييس صيب ته زنګ وهلی و او له تا څخه يې شکايت کاوه، رييس صيب ما ته ټلېفون وکړ، نو ځکه مې درته زنګ وواهه.)) ما وويل: ((انجنير صيب! رباني په هېڅ وجه د سولې د دې ملي مشورتي جرګې د انتخابي مشر په توګه نه منو، هغه بيا له دې انتخابه اينده کې د ځان په ګټه ډېره ناوړه ګټه پورته کوي، رييس صيب کولای شي، د جرګې لپاره يې د انتصابي مشر په توګه غوره کړي، خو که خبره انتخاباتو ته ووتله، زه خپله هم ځان ورسره کانديدوم.)) دې وخت کې انجنير صيب ابراهيم وويل: ((خير نو خبره داسې ده، زه به بيا رييس صيب سره خبره وکړم.)) زه پر دې پوهېدلم چې که حکومت (رباني) ته کمپاين وکړي، لکه همدا اوس چې روان و، له هغه څخه د دې جرګې د رياست لپاره انتخابات ګټل اسانه نه و، خو پر دې هم پوهېدلم، چې رباني خپله هم ډېر جانبي عوارض لري، د جرګې يو زيات شمېر ګډونوال يې مخالف هم دي، نو کېدی شي، هغوی ټول زما ملاتړ وکړي. دا مهال مې په دې مشورتي جرګه کې کمپاين پيل کړ، ما ويل زه د استاد رباني په مقابل کې ولاړ يم، ګڼ شمېر خلکو زما ملاتړ خو د جرګې يو شمېر تنظيمي غړو بيا زما سخت مخالفت وکړ او ويې ويل: ((استاد رباني خو يو جهادي رهبر دی، جمهور رييس تېر شوی، تاته ګوره او هغه ته!)) دې ډول اشخاصو ته چې زما څه په خوله راتلل هغه مې ورته وويل، يوه ته مې وويل: ((د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځلوېښتو نامسلمو هېوادونو عسکر چې دلته پراته وي، په داسې حالت کې چې هر څوک ځان ته مجاهد او جهادي مشر وايي، د عوامو په اصطلاح له هغه څخه د نه سړي زوی بېخي شته نه.)) ما ویل فقط لس دقیقې وخت چې د هر کاندید لپاره وي، زما همغه وخت په کار و، زه پوهېدلم چې هلته خپل ولس ته څه ووایم، زما له دې حرکتونو او د جرګې د غړو له ګونګسیو فاروق وردګ، چې د دارالانشاء ریيس و، خبر شوی و، نو ځکه یې جمهور ریيس ته شکایت کړی و. فاروق وردګ غوښتل د خپل مقام او دریځ د استحکام او د ولسمشر د نظر د عملي کولو لپاره د دې مشورتي جرګې ریاست ته رباني نوماند او بیا یې په دولتي زور بریالی کړي. کله چې زما فکر په جرګه کې خپور شو، نو حکومت وېره احساس کړه، هسې نه چې رباني ټاکنې ونه بایلي او یا هم پر یوه بله شخړه وانوړو، نو ځکه یې رباني د سولې مشورتي جرګې د ریيس په توګه انتصاب کړ. (قاضي امین وقاد) د جرګې برخوالو ته استاد رباني معرفي کړ: ((او خلکو دا د جرګې مشر دی، دعا پرې وکړئ...!)) یو زیات شمېر خلکو غږ کړ، نه یې منو، نه یې منو. افضل احمدزي او نورو ان د جرګې تالار خوشې کړ او ویې ویل چې دا ډول انتصاب یا غوراوی موږ ته د منلو وړ نه دی. استاد رباني بیا څو شېبې وروسته جرګې ته یوه وینا وکړه، خو وینا یې هر اړخیزه، جامع او له پخلاینې ډکه وه؛ تنظیمي کینه او بغض په کې نه ښکارېده. رباني د سولې مشورتي جرګې انتصابي مشر شو، خو زما (یون) او (فاروق وردګ) اندېوالي پرې خرابه شوه، دې کې څه موده تېره شوه، په ارګ کې د اختر تر لمانځه وروسته فاروق وردګ ماته غاړه غړۍ راکړه، ویې ویل : ((وروره! ښښنه درڅخه غواړم، د رباني پر سر له ما څخه خفه شوی یې، څه وکړم د ریيس صیب کارونه دي نو...))**

**له ما څخه که څه هم جمهور ریيس، فاروق وردګ او ځینې نور دولتي چارواکي خفه شول او زه هم ورڅخه خفه شوم، خو خپل ولس مې له یو ډول تصنعي مشرتابه څخه وژغوره.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د یو طالب پیغام

ښاغلی (عبدالمنان همت) د طالبانو له جملې څخه یو ځوان طالب و، د طالبانو د واک پر مهال یې د هېواد ورځپاڼې د مسول مدیر او د واک په وروستیو ورځو کې یې د باختر (اژانس) د عمومي رییس په توگه دنده سرته رسوله، زما ډېر نږدې ملگری و، لومړی یې افراطي اسلامي افکار درلودل، خو کله چې یې ماسره راشه درشه شوله، نو ملي افکارو ته یې هم مخه کړه. یو وخت بیا داسې راغی چې د ملي او اسلامي افکارو انډول یې برابر شو. پر کابل باندې د طالبانو د واکمنۍ تر ړنگېدو یوه ورځ دمخه زه ورسره د اطلاعاتو او کلتور وزارت د باختر اژانس په دفتر کې ناست وم، د مزارشریف او د هېواد د شمال د نورو سیمو د سقوط خبرونه ساعت پر ساعت راتلل، د (همت) پر شونډو د غم پتري پراته وو، خو همت یې لا بایلولی نه و، ماته یې وویل: ((ځان ته مې دومره سودا نه ده لکه تاته، ښه به وي چې خپل کور له کابله وباسې...)) ما پر همغه ورځ کور د کابل پوهنتون د استادانو له استوگنځي څخه شش درک ته راوړ، بیا لغمان، ننگرهار او بیا له هغه ځایه پېښور ته لاړم، همت بیا د طالبانو تر سقوط وروسته کوټې ته لاړ، څه موده همالته اوسېده، بیا د پاکستان د حکومت له خوا امریکایانو ته ورحواله شو، هغوی سره یې نږدې لس میاشتې بند تېر کړ، بیا خوشې شو، تر خوشې کېدو وروسته یې څو ځله ماسره تماس ونیو، راته یې وویل چې هېڅ سیاسي فعالیت نه لرم، کابل ته درځمه، هیله لرم ودې گورم، کلونه تېر شول د (۱۳۸۹ل) کال په جوزا میاشت کې د کابل د یکه توت په سیمه کې راڅرگند شو، د ټلېفون له لارې یې احوال راکړ او ما ورسره د کتنې وخت وټاکه، کتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو وشوه، پر ډېرو مسایلو مو خبرې وکړې، که څه هم ده له طالبانو سره خپله رابطه ردوله، خو له معلوماتو یې ښکارېدله چې اوس هم ورسره په تماس کې دی، ماته یې وویل: ((زه یو پیغام لرم چې جمهور رییس کرزي صیب ته یې ورسوې، خو دا پیغام د طالبانو له خوا نه دی، زما خپل نظر دی که په دې کار دی عمل وکړي، په افغانستان کې سوله راتلی شي.)) د ده خبرې شفاهي وې، ما یې غټې محتویات په حافظه کې وساتل، د شپې مې ترې یو رپوټ جوړ کړ، ((طالبان او د جګړې اوسنی حالت)) په نوم مې تنظیم کړ. جمهور رییس څخه مې د ملاقات هیله وکړه، ښه و ډېر ژر د ملاقات وخت راکړل شو، د طالب کیسه مې ورته وکړه، ورته مې وویل چې دغه متن مې د هغه د خبرو پر اساس لیکلی دی:

## طالبان او د جګړې اوسنی حالت
## د ځینو سرچینو د معلوماتو پر اساس

- «طالبان تر پخواني حالته اوس لس (۱۰) ځله پیاوړي شوي دي.
- طالبان یوازې په زابل کې د چریکي عملیاتو لپاره نوي (۹۰) ټولګي لري، چې هر ټولګی لس (۱۰) موټرسایکلونه لري او په چریکي عملیاتو کې له هغو څخه کار اخلي.
- افغان طالبان اکثره د افغانستان دننه فعالیت لري، خو د رهبرۍ ځینې غړي یې په کوټه کې هم فعالیت کوي او ځینې مشران یې د پاکستان په نورو سیمو کې هم شته.
- په کوټه کې د طالبانو ځینې مشران د پاکستان د (ISI) تر تاثیر لاندې دي او ځینې یې نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **د پاکستان پوځ او استخبارات غواړي له طالبانو څخه د فشار د یوې وسیلې په توګه کار واخلي او له امریکایانو څخه امتیاز ترلاسه کړي.**

- **یو زیات شمېر هغه طالبان چې د (ISI) اوامر نه مني همدا اوس د پاکستان په زندانونو کې پراته دي.**

- **که امریکایان او یا د افغانستان حکومت غواړي له طالبانو سره خبرې وکړي، نو دا خبرې باید په پاکستان کې ونه شي او نه د پاکستان له لارې وشي، ځکه چې پاکستان غواړي له دې خبرو د خپل ځان لپاره ګټه پورته کړي؛ پاکستان امریکایانو ته یوه خبره کوي او طالبانو ته بله.**

- **مخکې تر دې چې طالبانو سره خبرې پیل شي، د افغانستان په داخل کې باید یوه سیمه لکه زابل او کوم بل ځای طالبانو ته د خوندي سیمې په توګه اعلان شي، چې هغوی بیا له دې ځایه د پاکستان د استخباراتو له فشار پرته له امریکایانو او د افغانستان له حکومت سره د خبرو بهیر پیل کړي.**

- **که بهرنیان ووځي، نو طالبان به ډېر ژر کابل ونیسي، خو د طالبانو د رهبرۍ ځینې غړي له دې نظر سره موافق نه دي او وایي چې دوی د دولت د چلولو لپاره کادر نه لري؛ خبره بیا له صفره شروع کېږي او بېرته بیا همغه جنګونه پیلېږي چې پخوا وو. نتیجه یې دا راوځي چې په افغانستان کې به دا شوې ابادي بېرته له خاورو سره برابره شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **یو شمېر مشران طالبان د خبرو پلویان دي، خو په دې شرط چې دوی اول د پاکستان له تاثیر او فشاره خلاص شي. دوی فکر کوي چې ټول دولت نه، خو که په دولت کې ستره محکمه، دفاع، داخله، امنیت دوی ته ورکړل شي، دوی به روغې جوړې ته غاړه کېږدي.**

- **ځینې مشران طالبان فکر کوي چې په اساسي قانون کې هم باید تغیرات راشي، تعلیمي نصاب هم باید د طالبانو په خوښه جوړ شي او په ځینو نورو برخو کې هم باید طالبانو ته د تغیر د راوستلو حق ورکړل شي، د دولت بڼه باید شرعي شي.**

- **طالبانو سره د خبرو لړۍ پیل باید د حکومتي چارواکو له خوا نه وي، په لومړي گام کې باید قومي مشران او علما له طالبانو سره د انډیوالۍ او ولسي راشې درشې له مخې دا خبرې پیل کړي، که د کندهار او یا د همغې شاوخوا ساحې قومي مشران چې د طالبانو له فکر او چلند سره بلد دي، خبرې پیل کړي، نتیجه به یې کېدی شي ښه وي. وروسته دې دا خبرې په دولتي کچه پیل شي.**

- **طالبان وایي چې د امریکایانو او ناټو ځواکونه د دې وس نه لري چې طالبان په زور مات کړي، هره ورځ د بهرنیو ځواکونو ضایعات او تلفات، پنځه لس (۱۵) زغروال گاډي دي، چې نږدې سل کسان په کې د ورځې مري، خو په مقابل کې یې د طالبانو تلفات تر دې ډېر کم دي. طالبان کولای شي پر یوه ورځ په کابل کې دوه سوه (۲۰۰) انتحاري بریدونه وکړي، خو دا بریدونه ځکه نه کوي چې کېدی شي ځینې انتحاریان ټاکلو نظامي هدفونو ته ونه رسېږي، په ملکي سیمو کې ځانونه والوځوي او دې سره کابل په وینو ولمبېږي. طالبان یوازې په کابل کې (۱۷) لویې عملیاتي ډلې لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- **طالبان وايي موږ په جنګ کې قطعاً مشکل نه لرو او د افغانستان د خاورې تقریباً اتیا برخه زموږ په لاس کې ده. دوی وايي، په طالبانو کې انشعاب نه شي راتللای او دا تجربه څو ځله تکرار شوه، خو له سختو ستونزو سره سره بیا هم د طالبانو رهبري پر خپل ځای پاتې شوه. طالبان په پیسو او زور نه شي ماتېدلای، خو په دلاساینه او پخلاینه کېدی شي د طالبانو زړونه راخپل شي.**

- **که له طالبانو څخه کوم کسان جلا او حکومت سره یوځای شي او یا ووژل شي د طالبانو لیکو ته هېڅ زیان نه شي اړولای، تېرو تجربو دا وښودله چې د طالبانو ډېر مهم قومندانان ونیول شول او له منځه لاړل، خو د طالبانو صفوف کمزوري نه شول، نو که امریکایان د طالبانو ځینې قومندانان په بیه واخلي یا یې ووژني، یوازې د یوه فرد په توګه تاثیر لري، خو په عمومي ډول پر تحریک او جنګ کوم تاثیر نه کوي.**

- **تر مشر ملا (ملا محمد عمر مجاهد) وروسته د طالبانو مهم قومندانان دادي: ۱- عبدالقیوم ذاکر، ۲- امیرخان متقي، ۳- سراج الدین حقاني، ٤- منصور، ٥- ملاګل اغا، ٦- ملا عبدالروف خادم. دوی اوس د طالبانو په تحریک کې مهم رول لري.**

- **طالبانو اوس د افغانستان د ټولو ولایتونو لپاره خپل والیان، ولسوالان او قاضیان ټاکلي، خپل تشکیلات یې له سره تنظیم کړي، دوی کوښښ کوي چې خلک د خپلو دعوو د غوڅولو لپاره د حکومت پرځای دوی ته مراجعه وکړي.**

- **طالبانو سره د پخوانیو مخالفانو له جملې څخه برهان الدین رباني، عبدالرب رسول سیاف او محمد قسیم فهیم څو ځله اړیکي ټینګ کړي، خو طالبان وايي چې موږ پوهېږو دوی په خپل قول کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صادق نه دي، دوی طالبانو ته ویلي چې موږ او تاسې به په گډه د حامد کرزي د حکومت د کمزوري کولو لپاره کار کوو. طالبان وايي: موږ پوهېږو چې دوی موږ سره چل کوي او د پاکستان په شان زموږ له قوت څخه د خپل ځان په گټه کار اخلي او خپل موقف تقویه کوي.**

- ❖ **لنډه دا چې طالبانو سره د خبرو اترو لار شته، خو دا لاره باید له څو پړاوونو تېره شي: لومړی په ولسي کچه، دویم په دولتي کچه او بیا له امریکایانو سره خبرې وشي. د طالبانو د رهبرۍ یو شمېر غړي ان د امریکایانو له یو کم شمېر پوځي هډو سره هم موافق دي چې د افغانستان په ځینو محدودو ځایونو کې دې مېشته پاتې شي، په دې ډول به د ایران او پاکستان د مداخلو مخه ونیول شي. دا طالبان په دې نظر دي چې که امریکایان په بشپړ ډول له افغانستانه ووځي، نو یو ځل بیا په ټول افغانستان کې د سختو جنگونو د پېښېدو احتمال شته، په تېره بیا د ایران او پاکستان د پلوي ډلو ترمنځ. دا سیمه به یوځل بیا د گاونډیو هېوادونو د رقابت پر ډگر بدله شي.))**

**جمهور رییس متن ولوست، ما ورته نور تشریحات هم ورکړل، ما ویل که د سولې شورا ترڅنگ په پټه د ملي امنیت د ریاست له خوا طالبانو سره خبرې وشي، ښه به وي، ده وویل: «دا راپور انجنیر نبیل (د ملي امنیت رییس) ته ورکړه، هغه سره هم خبرې وکړه.» څو ورځې وروسته مې هغه ته هم دا راپور ورکړ، خو وروسته راته پته ولگېده چې په دې خبرو هېڅ عمل ونه شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امریکایي که شجاعي؟

د (۱۳۹۱) ل کال د کب پر (۲۹)مه نېټه مې ولسمشر سره ځانګړی ملاقات و، زړه مې ګرم، موضوعګانې هم ډېرې او وخت هم کم و. ولسمشر سره دا مهال د ځانګړي ملاقات زمینه اسانه نه وه، هغه هم داسې یو ځانګړی ملاقات چې روحیه یې لا د مخه معلومه وي چې چندان خوږه نه وي او نه د دربار پر مزاج برابره وي. خو ولسمشر د خپل نرم طبیعت له مخې د هر چا پر مزاج ښه پوهېږي، زغم یې زیات او د مقابل طرف هره خبره په دقت اوري، خو دا چې عملي کوي یې که نه هغه نو بیا بېله خبره ده. طبیعي خبره ده چې د نورو ولسمشرانو په شان حامد کرزی هم د ټولو خبرو د عملي کولو جوګه نه دی، خو کوم ښه صفت چې دی یې لري، هغه دا دی چې د هر چا خبره په ډېر غور اوري، مازیګر مهال راته د ملاقات زمینه برابره شوه. یاده نېټه نو هغه مهال دی چې د یوه امریکایي عسکر (رابرت بیلیز) او د یوه افغان قوماندان (حکیم شجاعي) د ظلمونو هنګامه د هر افغان پر ژبه خوره ده. امریکایي عسکر (رابرت بیلیز) د کندهار په پنجوایي ولسوالۍ کې (۱۷) تنه او حکیم شجاعي، په ارزګان کې (۱۱۷) تنه افغانان شهیدان کړي وو، افغان ولس او په ټولیز ډول نورو انسانانو او اکثرو نړیوالو دا دواړه پېښې سختې وغندلې، خو د امریکایي سرتېري په اندول د حکیم شجاعي د غندنې په باب نه د نړۍ د حکومتونو چارواکو او نه هم د افغان حکومت رسمي غبرګون هغه شان توند و، چې د امریکایي عسکر (رابرت بیلیز) په باب و. ما له جمهور رییس سره لومړی د رسنیو په باب



(رابرت بیلیز)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بحث وکړ. ورته مې وویل چې رسنۍ په اساسي مانا ازادې نه دي، سره له دې چې ستاسو د خپل حکومت یو غټ بریالیتوب همدا گڼئ، چې رسنۍ مو ازادې کړي دي، خو واقعیت یو څه تغیر لري، ما ورته وویل چې دا ازادي یوازې د تا پر غندلو او پر تا تر انتقاد پورې محدوده ده، هغه هم داسې چې دا مجال او وخت یوازې تنظیمي رسنیو ته حاصل دی، نه ټولو ته؛ همغو رسنیو ته چې تر شا یې زورواکي ولاړ دي. نه ستا پر مرستیالانو څوک نیوکه کولای شي او نه هم پر ولایتي زورواکانو. ان پر یو عادي دولتي او نا دولتي جنگسالار هم څوک د نیوکې جرئت نه لري، ولسمشر زما خبره په (بې شکه، منم، بېخي صحیح ده) کلمو بدرگه کوله او د تائید سر یې خوځوه، ان دا به یې هم زیاته کړه چې دې زورواکو ته د ایران او غرب له خوا پیسې ورکول کېږي چې افغاني ارزښتونه پسې برباد کړي. ده د (نور) ټلوېزیون یادونه هم وکړه چې هره میاشت د ایران له خوا ورته درې لکه ډالر، ورکول کېږي. تر رسنیو وروسته مې ورته د قانون په باب وویل چې هسې نوم یې پاتې دی، نور یې د عملي کېدو هېڅ درک نه لگي، دا یې هم تائید کړه او ویې ویل چې خپله همدا حکومت دی چې قانون نه عملي کوي، د ولسمشر دا عادت دی چې ستا یوه خبره تر تا دمخه دی ډېره تائیدوي، نو ځکه خو تاته څه نه پاتې کېږي چې خبره پسې اوږده کړې او یا دې زړه کې غوټه پاتې شي. یو ځل بیا مې د هغو اشخاصو په باب ورته وویل چې د ماضي له شعارونو او عملونو څخه اوسمهال د ځان لپاره گټه پورته کوي، ځینې ډلې او اشخاص شته چې د (جهاد) له نامه څخه د ځان په گټه کار اخلي او یو جهادي قومندان ځان ته منسوبوي، طبیعي خبره ده چې دا خلک په ماضي کې سهوې او خطاوې لري، وطن یې وران کړی دی، نو هغه پاتې شوني چې د هغوی له نامه څخه د ځان په گټه کار اخلي، په کار ده چې د هغو د تېروتنو کفاره هم ورکړي، دا مې هم ورته وویل چې د حکومت په بېلابېلو ارگانونو کې انډول او تناسب برابر نه دی او دا یو خطرناک حالت دی، که گډوډي جوړه شي، حالات د هغو خلکو په گټه تمامېږي چې په حکومت کې یې حساس رگونه نیولي دي او دا ډلې به یو ځل بیا له دولتي ځواک څخه د هېواد د ورانۍ لپاره ناوړه گټه پورته کړي، ولسمشر د معمول په څېر دا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: ((بې شکه چې توازن برابر نه دی او توازن باید ټینګ شي.)) د اپوزېشن او پوزېشن خبره چې مې بار بار تکرار کړې، په خواشینۍ سره چې اوس دا دی یو ځل بیا همغه زړه په زړه پاتې ده، هېڅوک نه پوهېږي چې پوزېشن څوک دی او اپوزېشن څوک دی، دې ته باید یوه سره کرښه راکاږل شي چې دغه دې خط دی، تر دې به بالا نه راوړې، عجیبه خبره خو دا ده چې چا تاسو ته کمپاین کړی و، هغه اوس هم یا په حاشیه کې دي، یا له دندو لرې شول او یا هم په زندان کې دي، ان تر دې حده چې له ځانه د دفاع حق هم نه لري، هم والي دی هم اپوزېشن کې، هم وزیر دی، هم مخالف، هم ستاسو مرستیال دی او هم د اپوزېشن مشر. اکثریت لکه څنګه چې وو همغسې مظلوم پاتې شول، په ژوند کې یې هېڅ مثبت بدلون رانغی، دلته چې څوک ډېر مخالفت کوي، د زیات امتیاز څښتنان ګرځي، نو ځکه خو دولتي او نا دولتي اشخاصو انتقاد او مخالفت ته ملا تړلې؛ امتیازات اخلي، خو مسؤلیت یې یوازې تاسو ته راجع کوي، اوس راځو بلې مهمې خبرې ته! ستاسو له خوا هر وخت په رسنیو کې له امریکا سره مخالفت ښودل کېږي، ځینې وخت کېدی شي دا مخالفت ستاسو د استقلالیت او د هېواد د خپلواکۍ د تمثیل جوګه شي، خو هر وخت دا مخالفتونه افغانستان ته په ګټه نه تمامېږي، افغانستان اوس په داسې یو موقعیت کې نه دی چې له هر چا سره ډغره ووهي، تېر تاریخ کې یې که دا کار کړی، هغه خپل وختونه وو، د ډغرې یا مخالفت او تفاهم دواړه عناصر په کار دي، اوس افغانستان د امریکا په شان د یو غښتلی هېواد ملګرتیا ته سخته اړتیا لري. که د امریکا ملګرتیا او ملاتړ نه وای نو ګاونډیو هېوادونو به افغانستان یو ځل بیا د نویمو کلونو پېښو ته کش کړی وای. ما ولسمشر ته د دې خبرې یادونه هم وکړه چې ستا حکومت د سردار محمد داودخان او حفیظ الله امین تر حکومتونو قوي نه دی، هغو چې له روسیې سره خبره خرابه کړه، نتیجه یې د هغوی پر مرګ تمامه شوه. د دې یادونه مې هم وکړه چې له امریکا سره مخالفت مستقیماً د ایران او پاکستان په ګټه کار دی، دا دواړه هېوادونه داسې کابو ناست دي چې هر کله افغانستان په سیاسي، اقتصادي او نظامي ډګر کې پاتې راشي، نو پر افغانستان ټوپ کوي، داسې لکه پیشو چې مرغۍ ته کابو وي، موږ باید

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرې او نږدې دښمنان یو له بله بېل کړو، امریکا غټ هېواد دی، خاوره او نفوس یې تر موږ څو ځله زیات دی، زموږ خاورې ته یې سترګې نه دي پټې کړي، البته په سیمه کې به خپل هدفونه لري، خپل پخواني او اوسني رقیبان او سیالان به لري، دلته هم د خدای(ج) د رضا په خاطر نه دي راغلي، دلته هم خپل خپل هدفونه لري، خو ښه به دا وي چې د هغوی ګټې او خپلې ګټې دواړه په پام کې ونیسو او بیا پرې عمل وکړو، که همدا نن د امریکا مرستې نه وي، نو دا زموږ حکومت څو ورځې هم دوام نه شي کولای.



(حکیم شجاعي)

ولسمشر وویل: ((زه د امریکا د خلکو مرستې منم، خو زه د خپل هېواد وګړو ته هم مسؤلیت لرم، هغوی چاته فریاد وکړي چې پر ما بمبار دی، هغوی ماته رایه راکړې، دا زما دنده ده چې زه د هغوی حفاظت وکړم، ما امریکا ته ویلي چې هر څه مو منم، خو د خلکو پر کورونو بریدونه مه کوئ، د شپې عملیات بند کړئ، تړونونه مو ورسره وکړل، خو بیا یې هم دا عملونه تکرار کړل، وګورئ، د کندهار پېښه چې اووه لس تنه یې په یوه شپه شهیدان کړل...)) ما ورته وویل، د کندهار پېښه ریښتیا هم زړه بوږنوونکې ده، هېڅ افغان او هېڅ انسان یې نه شي زغملای، خپله امریکایانو هم دا پېښه وغندله او اوس د هغه عسکر محاکمه هم روانه ده، دا خو د امریکا د حکومت کار دی هغوی زورور دي، د زورورو اوبه پر پیچومي خېږي، ستا هم پرې زور نه رسېږي او زموږ د ولس هم، محاکمه یې هم بل حقوقي پرابلم لري، د امریکا قوانین اجازه نه ورکوي چې عسکر یې بل هېواد کې محاکمه شي، اوس به راشو زموږ خپل هېواد ته، د (حکیم شجاعي) په نامه د محلي پولیسو یو قوماندان دی، ویل کېږي چې د خلیلي صیب نفر دی، (۱۱۷)هېوادوال یې شهیدان کړي او اوس هم سرې سترګې ګرځي، امریکایي (۱۷)تنه شهیدان کړي او شجاعي (۱۱۷)تنه، یو پردی دی یو خپل، دا چې هر څوک زما افغانان شهیدانوي، ماته درد راځي، خو د شجاعي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب ستاسو او په مجموع کې د حکومت غبرګون صفر و. خلکو مظاهرې وکړې، فریاد یې پورته کړ، خو نتیجه یې هېڅ وه، که امریکایان دا پوښتنه مطرح کړي چې راځه موږ به خپل عسکر محاکمه کړو او تاسو همدا خپل قومندان، ایا زموږ د حکومت زور به پرې ورسېږي؟ زما نظر دا دی چې اول باید خپله خوا و شا پاکه کړو بیا خارجیانو سره دغره ووهو، ما دا خبره وکړه چې امریکا به قوي وي که د جمعیت او نورو تنظیمونو جنګسالاران؟ نو کله چې امریکا سره دغره وهې، دې خپلو جنګسالارانو ته هم یوه څپېړه ورکړه. ولسمشر بیا وویل: ((دا هم هغوی راپیدا کړي...)) ما ویل بیا نو حکومت څه مانا؟ نو همدې جنګسالارانو ته چې یې امر وکړ، نو ستاسو حکومت به هم د سترګو په رپ کې پناه وي، نو ښه خبره دا ده چې اول یو ښه نظام جوړ کړو، بیا که بهرنیانو سره مناسبات خرابوو که جوړوو یې هېواد ته دومره زیان نه شي اړولای. موږ په دې منځ کې نورې خبرې هم وکړې، خو مهمې خبرې همدا وې، زما له ډېر ټینګار سره سره بیا هم د ولسمشر په دریځ کې څه تغیر رانغی او همدا یې ویل: ((امریکایان مې له خوږې ګوتې نیولي او سخت مې ګیر کړي دي، زه چې هر ځل پرېس کنفرانس ورکړم، د هغوی چغې پورته شي...)) ما ورته وویل: ((نور دې خپله خوښه، خو موږ چې فکر کوو دې وخت کې امریکا سره د مناسباتو خرابول زموږ په ګټه نه دي او جانبي عوارض لري.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# باکفایته اکثریت

یوه ورځ مې له جمهور رییس سره ځانګړې ملاقات و، زما په ملاقاتونو کې اکثره وخت ملي مسایل مطرح کېدل، پر دې ورځ مې هم د هېواد اکثریت د مظلومیت مسله مطرح کړه، هغه هم زما د خبرې تائید وکړ، د ولسمشر دا عادت دی؛ مقابل طرف ته ګوري چې هغه په څه شي خوشالېږي، دی همغه ډول روحیه اختیاروي. جمهور رییس زما پر روحیاتو پوه دی، نو ځکه مخکې تر دې چې زه ورته فریاد وکړم، ده خپله کیسه پیل کړه: ((هغه څو ورځې مخکې د هزاره ګانو یو مشر راته راغی، راته ویې ویل: لس کاله وروسته به د هر هزاره د کور مخې ته یو پښتون څوکیدار او پهره دار ولاړ وي.)) جمهور رییس وویل: ((که حالات همداسې روان وي، نو دا خبره له احتماله لرې نه ده.)) ده وویل: ((زه هلمند ته لاړم د هزاره ګانو په سیمه کې ټول مکتبونه خلاص دي، خو د پښتنو بیا ټول بند دي. هلته په یوه ټولګي کې شپېته اویا تنه زده کړه کوي او دلته بیا یو ټولګی نیم هم ډک نه وي.)) ما وویل: ((رییس صاحب اکثره پښتانه تانه ګیله کوي چې پښتنو سره په حکومت کې د مور میرې سلوک کېږي، تاسو هم هغو خلکو ته ډېره توجه کوئ، دېخوا مو پاملرنه کمه ده، طالبان هم د پنجاب په لمسه د پښتنو سیمې او ښوونځې ورانوي، نو که حالات داسې روان وي، وضعه به ډېره خرابه او د مملکت طبیعي ثبات به له منځه لاړ شي.)) ده وویل: ((یونه ګوره پښتانه تېرې جګړې ډېر وځپل، اوس هم له دنیا سره په جګړه کې دي، که مور هر څو ووایو، خو عملاً داسې دي، جنګ د پښتنو په سیمو کې دی، پښتانه اوس ډېر کمزوري شوي، اوس په افغانستان کې د پښتنو یو نازک اکثریت دی تر هغه وخته پورې چې لر او بر پښتانه سره یوځای نه شي او تر اټکه ستا خپله خاوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله نه شي، افغانستان کې طبیعي ثبات نه رامنځته کېږي، دا اوسني ثبات نسبي دی، تر هغه چې موږ هغه طبیعي حالت ته رسېږو، مجبور یو دلته له هزاره، تاجک او ازبکو سره ائتلاف ولرو، پرته له دې دلته ممکنه نه ده.)) ما وویل: ((معقول ائتلاف چې د ټولو افغانانو ګټې په کې خوندي وي، هېڅوک یې نه ردوي، خو اوس د ملي وحدت په نامه، پښتانه په ډېر ضعیف موقف کې دي، هر څه یې له لاسه ورکړل.)) ولسمشر وویل: ((پښتانه اوس هم اکثریت دی، د کمیت له پلوه تر ټولو زیات دي، خو دا کمیت هغه وخت موثر دی چې پر کیفیت بدل شي، تر څو چې پر کیفیت بدل نه شي دوی خپل حقوق نه شي ترلاسه کولای او پر کیفیت هغه وخت بدلېدی شي چې تعلیم وکړي او تعلیم هغه وخت کولای شي چې سوله راشي، اوس د پښتنو تر ټولو غټ دښمن همدا جنګ دی، که جنګ ختم شو پښتانه ژر خپل حقوق ترلاسه کولای شي.)) جمهور رییس زیاته کړه! ((ښه یونه دا راته ووایه چې دا شمالټلواله به د پښتنو غټ دښمن وي که پنجاب؟ که دوی سره مقابله شروع کوې، نو له کومه ځایه او له کوم یوه به یې شروع کوې؟)) ما وویل: ((رییس صیب کوم دښمن چې درسره نږدې وي د هغه خطر زیات وي اوس وګوره چې پنجاب راته ډېر نږدې دی که ټلواله؟، ټلواله خو ان د مېز تر شا درسره ناسته ده او ښکاره دښمني درسره کوي، که پنجاب هم دلته مداخله کوي د پردې ترشا یې د همدې ډلو په لاس کوي، زه خو وایم چې د کور دښمن ډېر خطرناک دی. په خواشینۍ سره باید ووایم چې روسانو او ایرانیانو افغانستان کې د تېرو څو لسیزو په بهیر کې داسې یو قشر ټوکولای چې که په تدبیر یې مخه ونه نیول شي، نو افغانستان به د تباهۍ خواته بوځي.)) جمهور رییس وویل: ((زه خو وایم چې د پښتنو اساسي مقابله په سیمه کې له پنجاب سره ده، پښتون داسې یو لوی قام دی (لر او بر) چې په سیمه کې د پنجاب رقابت کولای شي. که ما په نړیواله کچه د هغو د مداخلو مخه ونیوله او امریکا مې پر دې قانع کړه، نو بیا دا ټلواله ملواله دا دومره شی نه دی، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپله غلې کېږي، اصلي توجه بايد هلته وکړو، کله چې پنجاب کمزوری شي، لر او بر پښتون سره يو شي بيا نو د اکثريت او اقليت خبره خپله له منځه ځي، ته دومره اکثريت کېږې چې بيا دا مسله څوک بېخي يادوي نه.)) ما وويل: ((رييس صيب د لرو پښتنو راخپلول يو قوي افغانستان ته اړتيا لري، کله چې دلته پښتون په سياسي لحاظ حاکم نه وي، سوکاله نه وي، نو لر پښتانه خو په هېڅ وجه دلته درسره نه يوځای کېږي، د مرحوم موسی شفيق نظر هم همدا و چې دلته بايد سوکالي رامنځته شي، اقتصادي پرمختيا د دې سبب کېږي چې کښتني پښتانه دلته ميلان پيدا کړي. که موږ غواړو لر پښتانه ځان سره يوځای کړو، نو بايد په ټول افغانستان کې ثبات او سوکالي رامنځته کړو، اوس وګوره چې دلته اقتصادي حالات لږ څه ښه شوي نو تر (۵۰) زرو زيات پاکستاني او لر پښتانه کارګران دلته کار کوي.)) ده هم راسره ومنله، مجلس تر ډېره اوږد شو، په خبرو کې د معمول په څېر اختلاف و، خو په دې کې اختلاف نه و چې متفرق اکثريت بايد پر متفق او باکيفيته اکثريت بدل شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نهم څپرکی

# ګرم تحلیلونه او ساړه غبرګونونه

هر کله چې زمینه برابره شوې او له ولسمشر سره مو ځانګړې ملاقات برابر شوی، نو خپل زړه مې ورته تش کړی او هغه څه چې زما په فکر، دې ولس ته په ګټه ښکارېدل، هغه مې ټول ورته یو یو بیان کړي دي، خو په دربار کې د ځینو تنګنظریو پر اساس د ځانګړو ملاقاتونو چانس ډېر کم برابرېده مجبور وم، چې کله کله یو نیم تحلیل ته لیکلې بڼه ورکړم. دا تحلیلونه به مې یا انجنیر صیب ابراهیم سپین زاده ته او یا هم کله کله داودزي صیب ته ورکول، دا چې هغوی هلته ولسمشر ته وروړل که نه او یا یې خپله هم لوستل که نه پر دې هم نه پوهېدم، ځکه چې هېڅ غبرګون یې نه راته. ولسمشر د هغو تحلیلونو په باب چې ما ورته مخامخ څرګندول څه عملي غبرګون نه ښوده، نو د هغو تحلیلونو به څه حال وو چې په لیکلې بڼه تر هغه ور رسېدل یا نه ور رسېدل. د ګڼیو تحلیلونو په باب یې اکثره د تائید سر خوځوه، خو هېڅکله یې پرې عمل نه کاوه.

د امنیت شورا د دفتر یوه دنده هم د هېواد د حالاتو تحلیل او ارزونه وه او لوړو مقاماتو ته د هغو رسونه، نو ځکه مې خپل دا مسؤلیت هم تر خپله وسه سر ته رسولی دی.

دلته به یو څو لیکلي تحلیلونه د بېلګې په توګه راوړم، چې د خپل دفتر له لارې مې ولسمشر ته لیکلي او ورلېږلي وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ثور د اتمې نېټې پړه د چا پر غاړه؟

سره له دې چې په هر ځای کې د هرې امنيتي پېښې مسئوليت د امنيتي مسئولينو پر غاړه وي، خو کله کله له امنيتي پېښو سره يو لړ سياسي مسايل هم تړلي وي چې د امنيتي مسئولينو ستونزه نوره هم زياتوي.

د ثور د اتمې نېټې پېښه سره له دې چې افغان حکومت ته يوه ناوړه امنيتي پېښه وه او که مخالفينو خپل هدف پوره تر لاسه کړی وای، نو بې له شکه به افغانستان له يو بل بحران او غميزې سره مخامخ شوی وای. د دې تر څنګ چې دا پېښه يوه امنيتي پېښه ګڼل کېږي، يوه سياسي حادثه هم ده چې د دولت او ملت سياسي حيثيت ته يې زيان ورسوه، نو دلته په لومړي ګام کې هغه سياسي ډلې او شخصيتونه ګرم ګڼل کېږي چې د داسې يوې ورځې، چې د ملت توافق پرې موجود نه دی، پر نمانځلو ټينګار کوي او د بيت المال يوه برخه يې د دې ورځې پر نمانځلو لګولې ده. کله چې بيا له سياسي پلوه د دې ورځې د نمانځلو پرېکړه وشوه بيا نو ټول مسئوليت د امنيتي ارګانونو پر غاړه دی چې ولې يې په هر اړخيز ډول امنيتي هڅې تر سره نه کړې. واقعيت دا دی چې د افغانستان درې واړه امنيتي ارګانونه سره له دې چې نومونه يې ((ملي)) دي خو په واقعيت کې ملي شوي نه دي. درې واړه امنيتي ارګانونه تر يوه خاص تنظيمي، سياسي، قومي او سيمه ييز انحصار لاندې دي او د يوه مشخص تنظيم له لارې کنټرولېږي. د دې ډلې يو شمېر مشران هم په حکومت کې د حکومت مخالف دي او يو شمېر نور يې د دولت په نورو پوستونو کې د حکومت مخالفت کوي او د دولت پر ضد يې يوه نيمه دولتي، په واقعيت کې ځواکمنه مخالفه دولتي جبهه جوړه کړې ده. په امنيتي ارګانونو کې د دې ډلې فعال او تر اټکل پورته شتوالی د دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مشرتابه ته د دوی ژمنتیا تر څرګندې پوښتنې لاندې راولي، نو په داسې یو حالت کې د داسې پېښو پېښېدل له احتماله لرې نه دي. د افغانستان ولسي جرګې او عام ولس، سره له دې چې د امنیتي ارګانونو درې واړه مسئولین ګرم وګڼل، خو پر لرې کولو یې بریالي نه شول، خپله امنیتي مسئولینو هم خپله پړه او ناکامي ومنله، خو تر اوسه پورې په دې برخه کې کوم سیاسي او**



**(د ثور د اتمې نېټې د پېښې یو انځور)**

**اداري اقدام نه دی شوی. ډېرو خلکو سره اوس دا پوښتنه ده چې جمهور رییس به د خپلو دې امنیتي ارګانونو د مشرانو په باب کومه پرېکړه کوي، ایا پر خپلو ځایونو به پاتې کېږي که ګوښه کېږي به؟**

**که چېرې پر خپلو ځایونو پاتې شي، د دې مانا دا ده چې دوی هېڅکله پړه نه دي او له دا ډول پیښو سره توافق شته او که چېرې لرې کېږي، ځای به یې څوک ډکوي، تر دوی ښه، که د دوی معادل او که تر دوی بدتر؟ که چېرې تر دوی غوره او کارپوه اشخاص، د دوی پر ځای وګومارل شي، نو د دې مانا دا ده چې جمهور رییس خپلې او د هېواد راتلونکي ته جدي شوی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او غواړي هېواد له دې ډول نورو پېښو وژغوري او که چېرې د دوی معادل او یا تر دوی بدتر اشخاص غوره شي، نو څرگنده خبره ده چې په امنیتي او سیاسي حالت کې به مثبت بدلون را نه شي او حالت به نور هم خراب شي، د دولت ښکاره او پټ مخالفین به دا حالت د خپل ځان لپاره د معافیت او خوندیتوب یو ښه حالت وگڼي او هرڅه یې چې زړه غواړي هغه به تر سره کوي، ځکه چې له مقابل لوري سره د متقابل عمل وس او توان نه شته.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په پاکستان کې د عوامي نشنل پارټۍ (ANP) دریځ

**(دا لیکنه هغه مهال شوې چې عوامي نشنل پارټۍ په پاکستان کې صوبایي ټاکنې وګټلې)**

**۱- عوامي نشنل پارټي (ANP) په ((صوبه سرحد)) کې (۳۱) څوکۍ لري، خو کېدی شي (۷) یا (۸) څوکۍ له ښځو او اقلیتونو څخه هم ترلاسه کړي. دغه راز یوه څوکۍ به له هغو کاندیدانو څخه تر لاسه کړي چې نشنل اسمبلۍ او صوبایي اسمبلۍ دواړو ته کامیاب شوي دي. همدارنګه تر (۸-۱۰) پورې به د ازادو کاندیدانو څوکۍ هم ترلاسه کړي.**

**۲- په قومي اسمبلۍ کې (ANP) لس (۱۰) څوکۍ لري، خو کېدی شي یوه (۱) یا دوه (۲) څوکۍ د ښځینه وکیلانو د انتصاب له لارې هم تر لاسه کړي.**

**۳- زیات ګومان دی چې په مرکزي سطحه به (PPP)، د مسلم لیګ نواز ګروپ او (ANP) مخلوط حکومت جوړ کړي.**

**۴- په ((صوبه سرحد)) کې هم احتمال دی چې (ANP) له (PPP) سره ځکه مشترک حکومت جوړ کړي، چې له مرکزي حکومت سره یې پیوستون، ملګرتیا او یووالی ټینګ او کارونه ورته اسان شي.**

**۵- په بلوچستان او سند کې هم (ANP) یو څو څوکۍ ګټلي، په بلوچستان کې د (ANP) موقف قوي نه دی، په سند اسمبله کې د لومړي ځل لپاره د دوو (۲) څوکیو ګټل (ANP) ته ډېر ارزښت لري.**

**د یادونې وړ ده چې ازادو کټونکو ویلي، د (ANP) په دې بریا کې له**

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان سره د (ANP) د مشرانو ښو تعلقاتو هم رول درلود. د کتونکو په وينا خلک له ملايانو ستړي شوي وو او د ډيورنډ د کرښې دواړو غاړو ته يې د جنګ دوام، د ټول پښتون ولس تباهي ګڼله. د دوی په نظر خلک په ((صوبه سرحد)) کې داسې يو حکومت غواړي چې له افغانستان سره ښه تعلقات ولري او دا کار به په سيمه کې د سولې په ټينګښت، د تجارت په غوړېدو او د خلکو په سوکالۍ کې مرسته وکړي. د (ANP) مشرانو ويلي چې په سيمه کې د سولې ټينګښت، له ګاونډيو سره ښه روابط او د صوبې د نوم بدلون د دوی لومړني غټ هدفونه دي. دوی د ((صوبه سرحد)) لپاره د درېو نومونو وړانديز کړی دی: (پښتونستان، پښتونخوا او افغانيه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشر کرزي د وژنې څو توطیې

له هغې ورځې چې ښاغلی کرزی د واک پر ګدۍ ناست دی، نو د سر خطر یې هم څو ځله زیات شوی، کله کله دا خطر ډېر نږدې شوی، خو کله کله بیا د سر او خطر واټن یو څه لرې شوی، له ترافیکي حوادثو نیولې، بیا تر انفرادي او سیاسي خطرونو ټولو پورې د ده ژوند ته متوجه وو. څو ځله په بهرنیو سفرونو کې الوتکې عوارض پیدا کړي او د ده ژوند یې له ګواښ سره مخامخ کړی دی. د واک په لومړیو څو کلونو کې ده اکثره (د اریانا افغان هوایي شرکت) له الوتکې څخه ګټه اخیستله، دا الوتکې اوس ډېرې زړې او له نړیوالو معیارونو سره برابرې نه دي. یو ځل تاجکستان ته په سفر و، کله چې الوتکه پر هوایي ډګر ناستې ته چمتو کېدله، نو د الوتکې ټایرونه نه خلاصېدل، الوتکه څو ځله پر میدان وګرځېدله، پر وروستي ځل یې د خدای(ج) په مرسته ټایرونه خلاص شول او الوتکه پر ډګر کېناسته. یو ځل چین ته په الوتکه کې هم همداسې شوي وو، جرمني ته هم، وروسته وروسته بیا جمهور رییس له (کام ایر) او ځینو نورو الوتکو څخه هم ګټه اخیستله، کندهار کې تروروستي برید، په حضوري چمن کې د (احمدشاه مسعود) د تلین په یاد د غونډې پر مهال توطیه او د ثور د اتمې نېټې د ((جشن)) پېښه او داسې نورې ډېرې پېښې وې چې جمهور رییس کرزی د چانس له مخې ترې روغ پاتې شو، خو پر دې سربېره د وژنې نورې پټې توطیې هم وې چې هغه یوازې د ارګ د څلورو دېوالونو دننه او د هغه شاوخوا کې تنظیمېدلې. کله چې د موقتې ادارې پر مهال کرزی لومړی ځل ارګ ته راغی، نو د فهیم خان د ساتونکو له خوا ساتل کېده، چې له احمدشاه مسعوده ورته په میراث پاتې وو، څو ځله فهیم، کرزي ته ویلي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ((بادیگارد های امر صیب است بسیار باوری، وفادار و با اعتماد است.)) کرزي صیب نو د ((امر صاحب)) باډیگارډانو ته پناه ور وړې وه، دا نو بیا د هغو ترحم پورې اړه لرله چې څه ورسره کوي. فهیم څو ځله خپلو اندېوالانو ته ویلي وو: ((کرزی چیست همین حالا که بچه ها را گفتم همرای چپن اش در چند دقیقه برای ما حاضر میکند...)) کرزي هم خپل فرهنگي مشاور زلمي هېوادمل ته یو وخت ویلي وو. ((د فهیم ساتونکو چې په ارگ کې هر ډول واک غوښته هغه یې چلاوه.)) یوه ورځ (یونس قانوني) د کرزي یوه ساتونکي ته ویلي وو چې کرزی ووله، خو ساتونکي هغه وخت دا جرئت ونه کړ. دې ساتونکي چې څه موده د کرزي انساني او اجتماعي چلند ولید، نو کرزي ته راغی، ورته یې وویل: ((قانوني ماته ستا د وژنې ویلي وو، خو ما ځکه دا کار ونه کړ چې ته ډېر ښه سړی یې، زړه مې درباندې ونه شو.)) تر هغه وروسته هم دا سړی په ساتونکو کې پاتې شو او کرزي قانوني ته گیله هم ونه کړه او نه یې سر پرې وگراوه. یو وخت دا گواښونه او خطرونه دومره زیات شول چې کرزی په پای کې مجبور شو، بهرني ساتونکي استخدام کړي. د بهرنیو ساتونکو په استخدام سره د فهیم، قانوني، عبدالله او نورو گواښونه یو څه کم شول، کرزي یو څه د راحت احساس وکړ، خو خطرونو بیا هم دوام درلود، ان تر هغه پورې چې بهرني سرتېري ببرته لاړل او پر ځای یې (PPS) (د جمهور رییس د ساتنې قطعه) جوړه شوه، بیا هم دې توطیو دوام درلود. د جمهوري ریاست د لومړۍ دورې تر ټاکنو وروسته هم دې توطیو دوام پیدا کاوه او نوې نوې بڼې یې خپلولې. یو وخت د حکمتیار د اسلامي حزب یو قومندان (عاشق الله) چې د کابل اوسېدونکی او په خټه پښتون دی، خو دا ډېر کلونه کېږي چې له (نظار شورا) سره هم نږدې اړیکي لري، د امنیت شورا دفتر له یو تن غړي سره تماس ونیو او هغه یې له یوې بلې توطیې خبر کړ، د امنیت شورا د دفتر دې غړي د عاشق الله د خبرو پر بنسټ یو راپور جوړ کړ او جمهور رییس یې له دې پېښې خبر کړ. د امنیت شورا دفتر په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې راپور کې راغلي وو: ((څه موده دمخه د ولسمشر حامد کرزي پر ضد د یوې داسې توطیې پر جوړولو غور شوی چې په احتمالي عملي کېدو یې د ولسمشر ژوند ختمېدلای او هېواد له یوه بحران سره مخامخېدلای شي.

دا طرحه د اسلامي جمعیت د نظار شورا اوسنۍ ((ملي جبهې)) د ځینو مطرحو غړو له خوا برابره شوې ده. طرحه داسې ده چې د نظار شورا یوې مطرح څېرې او تېرو ټاکنو کې د جمهوري ریاست لپاره کاندید (عبدالحفیظ منصور) د ملي جبهې ځینو غړو سره ویلي، چې د افغانستان د اوسني اساسي قانون د (٦٧)مې مادې له مخې که چېرې جمهور رییس د کومې پېښې له امله له منځه لاړ شي، نو لومړی معاون د جمهور رییس پر ځای راځي او د (درېو) میاشتو په بهیر کې د جمهوري ریاست لپاره عمومي ټولټاکنې کېږي.

عبدالحفیظ منصور ویلي: ((اوس چې (حامدکرزی) جمهور رییس او د ((ملي جبهې)) مهم غړی (احمدضیا مسعود) یې لومړی مرستیال دی، زموږ لپاره یو ښه چانس دی چې حامد کرزی له مخې لرې کړو، د کرزي په فزیکي حذف سره به احمدضیا مسعود په مستقیم ډول د لنډ وخت لپاره جمهور رییس شي او بیا به د احمدضیا مسعود تر سرپرستۍ لاندې د جمهوري ریاست انتخابات وشي، په دې ډول به د ملي جبهې د کاندید د ګټنې چانس حتمي شي.)) د منصور په نظر د حامد کرزي د له منځه وړلو ډېره ښه او اسانه لاره دا ده چې یو ځانمرګی (خودکش) برید پرې وشي، په دې ډول به د ولسمشر د وژلو پړه مستقیماً پر طالبانو او القاعدې ولوېږي او نړیواله ټولنه به هم طالبانو او القاعدې ته متوجه شي. د دې نظریې د عملي تطبیق لپاره عبدالحفیظ منصور د ((عاشق الله)) په نامه یو شخص سره، چې ویل کېږي پخوا د ګلبدین حکمتیار د اسلامي حزب یو قوماندان و او کېدی شي اوس هم ورسره ارتباطات ولري، دا خبره مطرح کړې ده. ((عاشق الله)) اوس له اسلامي جمعیت سره ښه اړیکي لري، د ((ملي جبهې)) غړی هم دی او د دې جبهې په غونډو کې هم ګډون کوي. پېښور ته هم تګ راتګ لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله دلته په کابل او کله په پېښور کې اوسي. منصور د دې طرحې لپاره له عاشق الله څخه هر اړخیزه مرسته غوښتې ده. له عاشق الله څخه د منصور غوښتنه دا وه چې په پېښور او یا نورو سیمو کې څو ځانمرګي (خودکش) پیدا کړي او په دې لاره کې چې هر څومره پیسې په کارېږي دوی حاضر دي هغه مدارک ورکړي، منصور ویلي چې تر کابله د دې اشخاصو رسول، دلته یې ساتل او پالل او هغوی ته د هدف ټاکل د دوی پر غاړه دي. دا خودکش به په یوه مناسب وخت کې په لازمو امکاناتو او اسانتیاوو سره هغې غونډې ته بیول کېږي چې جمهور رییس حامدکرزی به په کې وینا کوي، دا چې دا غونډه به کله؟ څه وخت؟ او چېرته وي؟ دا به نو دوی خپلو امکاناتو، مجال او فرصت ته ګوري، خو د دې عملیې تر تطبیق دمخه د ځان وژونکو (خودکشو) اشخاصو پیداکول، تر کابله یې رارسول او دلته یې ساتل ضروري دي، د دې طرحې نور جزئیات له عاشق الله نومي شخص څخه ترلاسه کېدی شي. عاشق الله نومی شخص کېدی شي له ملي جبهې سره دومره ژور پیوند ونه لري، لکه عبدالحفیظ منصور یې چې لري، نو ځکه د دې هیله کېدی شي چې له هغه څخه په هېواد کې د دغسې یو لوی ناورین د احتمال په اړه معلومات ترلاسه شي.

دا چې دا پورتنۍ طرحه به څومره واقعیت او حقیقت ولري پر دې څوک غوڅ حکم نه شي کولای، خو د جمعیت او نظار شورا تېر تاریخ او په هغو کې د (منصور) په شان د ګڼو متعصبینو او توطیه ګرو موجودیت د پورتنۍ طرحې احتمال ډېر پیاوړی کوي. حکومت باید دا ډول حرکتونه په ډېر جدي ډول وڅاري ځکه چې ټول ملت له یوه سیاسي، ټولنیز، قومي او پوځي بحران سره مخامخوي. دا چې اسلامي جمعیت په اوسني حکومت کې تر بل هر تنظیم او هر چا زیات غښتلی دی، د هر ډول ناوړه پېښو د رامنځته کولو وس لري او په راتلونکي کې د حکومت مدعي هم دی، نو دا اټکل نور هم قوي کوي، چې دا ډول طرحې له دوی پرته نور څوک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړولای او نه هم عملي کولای شي. په هر ترتیب ولسمشر حامدکرزي ته په کار دي چې دا احتمالي خطر او د خپل فردي مصونیت پر وړاندې نور دې ته ورته خطرونه په جدي ډول محاسبه کړي او د ځان د خوندیتوب او محافظت لپاره داسې اقدامات وکړي چې له دې زیان منونکې نقطې څخه پر ده او ټول ملت گوزار ونه شي او هېواد له خطرناک بحران څخه وژغورل شي.

دا توطیې اوس هم روانې دي، د دې احتمال شته که د کرزي کورني یا حکومتي مخالفین پر دې بریالي نه شي چې کرزی له قانوني لارو له واکه لرې کړي، نو له دې ناقانونه لارو به هم گټه پورته کړي.)) دا د راپور یوه برخه وه. داسې گونگسی هم و چې د نظار شورا غړي هڅه کوي د ارگ په شمالي څنډه کې؛ چین سفارت ته ورڅېرمه څو کورونه واخلي، په دې ډول ځان ارگ سره وصل کړي. له دې لارې دوی په اسانۍ کولای شي، د ټېټ دېوال له لارې ارگ ته ځان داخل او په (لومړي نمبر قصر) کې د جمهور رییس کور ته ځان ورسوي، د جمهور رییس نږدې اشخاص دې خطر ته متوجه شول او بیا یې یو دوه هغه کورونه چې ارگ سره نښتي وو او په اسانۍ سره ترې لومړي نمبر قصر ته لاره وتلای شوه، د (احمدولي مسعود) له دام څخه وژغورل او په دې ډول د جمهور رییس او د هغه د کور امنیت څه ناڅه خوندي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملګرو ملتونو استازی او د ولسمشر د رد ځواب

په لندن کې یو شمېر مېشتو افغانانو چې په سیاسي او فرهنګي چارو کې زیاته تجربه لري او د افغانستان حالات له نږدې څاري، له ما (محمد اسمعیل یون) سره د ټلیفوني اړیکو له لارې اندېښنه وښودله چې د ولسمشر حامدکرزي له خوا د ملګرو ملتونو د استازي په توګه د (پېډي اشډاون) ردول، خپله ولسمشر حامدکرزي، د افغانستان حکومت او خلکو ته په زیان تمامېږي او وروسته به ناوړه عواقب ولري. دوی چې اکثره د ولسمشر حامدکرزي خواخوږي دي او پر خپل ولس یې زړه دردېږي، ویل یې چې له دې کار څخه به تر ډېره حده شمالټلواله او د ولسمشر حامدکرزي نور مخالفین، چې اوس د انګلستان او متحده ایالاتو په شمول په نورو هېوادونو کې فعالیت لري، ډېره ګټه اوچته کړي، د حامدکرزي د حکومت تصویر به غربي نړۍ، په تېره بیا انګلستان ته ډېر پیکه وښیي او د حامدکرزي موقف ته به زیان ورسوي.

د دې کارپوهانو نظر دا و چې ولسمشر حامدکرزی او د هغه ټیم باید کوښښ وکړي، له غربي نړۍ سره خپل مناسبات ښه وساتي او د اوسنۍ ستونزې د ترمیم لپاره دې هم له بېلابېلو لارو کوښښ وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جلال اباد کې د ایران قونسلګرۍ او اندېښنې

**دا لیکنه د (۲۰۰۸م) کال د فبرورۍ پر (۲۳مه) نېټه شوې ده.**

**تر یادې نېټې څو ورځې وړاندې په جلال اباد کې د ایران قونسلګرۍ جوړه شوې وه. ټاکل شوې ده په دې ورځو کې په ننګرهار کې د ایران هېواد قونسلګري، د قونسل (خراساني) تر مشرۍ لاندې عملاً کارونه پیل کړي. خراساني د (ایران قونسل) هغه څوک دی چې تر دې دمخه یې د منځنۍ اسیا په ځینو هېوادونو کې هم کار کړی او هغه هېوادونه یې هم له کاره خوښ نه وو، آن تر دې چې د ده کارونه له هغو هېوادونو څخه د ده د وتلو سبب شول. ویل کېږي چې (خراساني) د ایران د استخباراتو غړی دی او کومو هېوادونو کې چې ده د ډیپلومات په توګه دنده تر سره کړې، له خپلې دندې څخه یې عدول کړی او د هغو هېوادونو په سیاسي، مذهبي او قومي چارو کې یې مداخله کړې ده. د ننګرهار ولایت خلکو، چې د ولایتي شورا په تشکل کې یې نظر تر ډېره حده ښکاري، اندېښنه ښکاره کړې چې په ننګرهار کې به د ایران قونسلګري او په هغې کې د (خراساني) په شان د یوه شخص کار کول د نسبتاً امنو شرقي ولایتونو، په تېره بیا د ننګرهار امنیت ته ګواښونه پیدا کړي. د یادونې وړ ده چې (خراساني) به د شمالټلوالې د قومندان (حاجي حضرت علي) له لارې چې دا وخت له ایران سره ښه او نږدې اړیکي لري او یو کور یې په ایران کې هم دی، ځینې واړه قومونه، خېلونه او سیاسي، پوځي ډلې د مرکزي او محلي حکومت پر ضد راوپاروي. تر دې دمخه د ایران له خوا په ختیزو ولایتونو کې (حاجي حضرت علي) او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې نور قومندانان لمسول شوي، مالي او نظامي مرسته ورسره شوې ده. د یادونې وړ ده چې په ننګرهار کې د مېشتو امریکایي پوځیانو سیاسي مسؤلینو هم په ننګرهار کې د ایران د قونسلګرۍ پرانیستل په سیمه کې د امنیت د خرابۍ او د امریکایي ضد فعالیتونو د ډېرېدو عامل ګڼلی، دوی د ننګرهار والي (ګل اغا شېرزي) او د ولایتي شورا رییس (فضل هادي مسلمیار) سره کتلي او غوښتنه یې کړې چې د دوی اندېښنه مرکزي حکومت ته ورسوي. دوی هیله کړې چې د افغانستان حکومت دې په ننګرهار کې د ایران قونسلګري نه پرانیځي، دوی په دې نظر دي چې دا قونسلګري د سیاسي فعالیتونو د پرمخبیولو لپاره جوړېږي، نه د ډپلوماټیکو مقاصدو لپاره. داسې ویل کېږي چې ننګرهار مېشتو امریکایي ځواکونو د خپلو سیاسي مسؤلینو له لارې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ملي امنیت شورا دفتر او نورو ارګانونو ته هم په دې اړه خپله اندېښنه څرګنده کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمهوري رياست او ملي شورا ټاکنې او ننگونې

ولسمشرۍ او پارلماني ټاکنو ته لا څو میاشتې پاتې دي، خو خطرونه له ورایه ثابت پاتې دي، د نورو احتمالي خطرونو د پېښېدو خطر هم شته، دلته د دې دواړو ټاکنو په باب ځینو ستونزو، ننگونو او اندېښنو ته په لنډيز سره اشاره کېږي:

۱- د امنيت ستونزه: د ټاکنو پر وړاندې تر ټولو غټه ستونزه د امنيت ستونزه ده، که تر هغه وخته پورې امنيت ټينگ نه شو، نو د هېواد په اکثره برخو کې به سم انتخابات ونه شي او که ځينو سيمو کې انتخابات وشي، نو سم مشروعيت به ونه لري.

۲- د راجستر ستونزه: د انتخاباتو اوسنی کمېسیون د دې وس نه لري چې په ټول افغانستان کې د رايه ورکوونکو راجستر تر سره کړي، يا ټول راجستر له سره وکړي او يا هم نوي کسان چې شرايط يې پوره کړي، راجستر کړي.

۳- د انتخاباتو د کمېسیون کمزوري: د انتخاباتو اوسنی کمېسیون له هر پلوه کمزوری دی، نه پوره کادرونه لري، نه وسايل او نه هم د عامه پوهاوي لپاره کوم پروگرام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- **د خلکو ناخوښي:** یو زیات شمېر افغانان له حکومت او سیاسي ګوندونو ناخوښه دي، که انتخابات تر سره هم شي، بیا به هم یو زیات شمېر کسان په ټاکنو کې ګډون ونه کړي.

۵- **د سیاسي ګوندونو او حکومت کشمکش:** یو شمېر سیاسي ګوندونه که په حکومت کې دي که تر حکومته بهر، هغوی غواړي انتخابات تر خپل تاثیر لاندې راولي، دا هڅې به هم د شفافو انتخاباتو پر وړاندې لویه ستونزه وي.

٦- **وسلوال مخالفین:** وسلوال مخالفین خو پرته له هغې هم له دې ډول ټولو پروسو سره مخالف دي، څرنګه چې د انتخاباتو ورځې مشخصې دي، دوی کولای شي د ټاکلي وخت د حساسیت په پام کې نیولو سره په ډېرو سیمو کې هم ګډوډي پېښه او هم خلک په ټاکنو کې له ګډون څخه منع کړي.

۷- **مالي ستونزه:** تېر انتخابات هم د نړۍ د زیاتو مالي کومکونو په مرسته تر سره شول که هماغومره او یا تر هغې زیاتې پیسې پیدا نه شي، نو انتخابات شوني نه دي.

۸- **د نړیوالو د تخنیکي او علمي همکارۍ نشتوالی:** تېر ځل انتخابات د یوه ګډ کمېسیون له لارې تر سره شول چې واک په کې زیاتره د نړیوالو و، دا ځل د انتخاباتو کمېسیون مستقل دی، خو دا کمېسیون ډېر کمزوری دی او خلکو ته قناعت نه شي ورکولای، دا حالت د انتخاباتو پر نتایجو منفي تاثیر لري او دېته ورته یو لړ نور مسایل هم شته چې کولای شي انتخابات له ځنډ، خنډ او لویو ستونزو سره مخ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مخالفین او د خبرو ستونزې

مخکې تر دې چې له ((مخالفینو)) سره د خبرو پر ستونزو بحث وکړو، مخالف باید تعریف او بیا ډلبندي شي:

زما په نظر: هر هغه څوک چې د دولت یا حکومت د هر ډول هڅو، لکه پرمختیایي، سیاسي، کلتوري، امنیتي او نورو پر وړاندې ستونزې جوړوي هغه د حکومت مخالف ګڼل کېږي. مخالفین په عام ډول پر دوو ډلو وېشل کېږي: وسلوال او بې وسلې یا سیاسي مخالفین. وسلوال او سیاسي مخالفین دواړه هم په حکومت کې شته دي او هم تر حکومته بهر. دلته به يې لنډه یادونه وکړو:

## الف- تر حکومته بهر د حکومت وسلوال مخالفین:

۱- القاعده: وسلوال او ایډیالوژیک مخالفین دي.

۲- طالبان: وسلوال او نیمه سیاسي مخالفین دي.

۳- اسلامي حزب: وسلوال او سیاسي مخالف دی.

۴- ځینې متفرق ګوندونه او اشخاص: اکثره نا وسلوال مخالفین دي.

## ب- د حکومت په داخل کې حکومتي مخالفین:

۱- جمعیت او نظار شورا: وسلوال او سیاسي مخالفین دي.

۲- ملي جنبش او د شیعه ګوندونو ځینې ډلې: وسلوال او سیاسي مخالفین دي.

۳- پخواني چپیان یانې خلکیان او پرچمیان: اکثره سیاسي مخالفین دي.

۴- یو شمېر افغانستان ضد ډلې او اشخاص: نیمه وسلوال او سیاسي مخالفین دي.

۵- منفي رسنۍ: چې د (ب) کټګورۍ د چارواکو او د یو شمېر بهرنیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو له خوا تمویلېږي.

له مخالفینو سره د حکومت خبرې اوس ځکه بریالۍ نه برېښي چې:

۱- (الف) او (ب) کټگورۍ مخالفین یو د بل سخت مخالفین او دښمنان دي.

۲- د حکومت دیموکراتیک او ملتپال اړخ پر حکومت پوره واکمن نه دی.

۳- (ب) کټگورۍ خلک په حکومت کې تر هر چا زیات ځواک لري.

تر څو پورې چې حکومت او نړیواله ټولنه له حکومت څخه (ب) کټگورۍ خلک ونه باسي او یا یې واک کمزوری او مهار نه کړي، تر هغه پورې له (الف) گروپ سره خبرې یا ناممکنې او یا هم بې نتیجې دي. که چېرې احتمالاً له (الف) گروپ سره خبرې کومې نتیجې ته نږدې شي، نو (ب) گروپ د دې توان لري چې دا تقرب یا نتیجه له منځه یوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د انتخاباتو مستقل کمېسیون څه کوي؟

د دولت یو شمېر مخالفې رسنۍ چې اکثره یې د شمالټلوالې د افکارو څرګندونه کوي، د انتخاباتو پر مستقل کمېسیون تور لګوي چې ګنې د حکومت په ګټه کار کوي. دا په داسې حال کې ده چې د انتخاباتو مستقل کمېسیون کې داسې افراد کار کوي چې د جمهور رییس مخالف دي او حساس پوستونه یې په لاس کې دي. د انتخاباتو د مستقل کمېسیون ترکیب او کار په دې ډول تقسیم بندي کولای شو:

۱- د کمېسیون رییس او معاون: عزیزالله لودین او جنرال اصیل چې د کمېسیون رییس او مرستیال دي، په حقیقت کې سمبولیک رول لري، دوی دواړه د دفتر پر نورو مامورینو هېڅ واک نه لري او نه پر انتخاباتو سم پوهېږي، د انتخاباتي چارو پر ټولو برخو د دوی کنټرول او پوهېدنه له واقعیت څخه لرې خبره ده.

۲- دارالانشاء: د انتخاباتو د کمېسیون اصلي واک له دارالانشاء سره دی. د دارالانشاء رییس (داود علي نجفي) چې د حاجي محقق د تنظیم غړی او د هغه پلوی دی، په قومي افکارو کې غرق او د جمهور رییس حامدکرزي پرځای له حاجي محقق سره ډېره خواخوږي لري. د دارلانشاء او د انتخاباتو چارو د نورو افرادو په ګومارنه کې په ټینګه له خپلو قومي تمایلاتو کار اخلي، د ده مرستیال (بارکزی) نومېږي، چې ډېر واک یې په لاس کې نه شته، له شمالټلوالې هم ډېر وېرېږي او خپله ګوزاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- کمېشنران:** د کمېشنرانو په ټاکنه کې هم کوم کاري معيار په پام کې نه دی نيول شوی، قومي ملاحظاتو ته ترجيح ورکړل شوې، خو په دې ملاحظاتو کې بيا د پښتنو برخه خواره ده، يوازې يوه غړې په کې پښتنه ده (ستانېکزی) چې هغه هم کوم زيات زور، اداري ځواک او وړتيا نه لري، چا سره جنجال نه کوي، صرف د معاش په اخيستو خوشاله ده او نه يې څوک خبره اوري. په دې ډول د کمېشنرانو په جمله کې د جمهور رييس يو خواخوږی هم نه شته، بلکې اکثره يې مخالفين دي.

**۴- د انتخاباتو د ولايتي دفترونو ترکيبونه:** دا ترکيبونه هم د اندېښنې وړ دي، همدا اوس چې په کومو سيمو کې د نومليکنې پروسه روانه ده، په هغو کې هم له درغلۍ څخه کار اخيستل کېږي، هغه سيمې چې هلته د جمهور رييس حامدکرزي د ووټ طبيعي ساحه گڼل کېږي، د نومليکنې مرکزونه ډېر کم دي او اکثره مامورين کوښښ کوي چې هلته ډېر خلک خپل نومونه ونه ليکي.

په داسې حال کې چې د انتخاباتو دفتر کې اکثره مامورين د اسلامي جمعيت، د محقق د اسلامي وحدت حزب او د شمال په ځينو ولايتونو کې د جنرال دوستم پلويان دي، خو په اصطلاح ازادې رسنۍ تور لگوي چې د انتخاباتو کمېسيون د جمهور رييس لپاره کار کوي، دا متضاد واقعيتونه د زغملو وړ نه دي او که حکومت غواړي ربښتيا هم عادلانه انتخابات تر سره شي، نو دغه لاندې کارونه ورته ضروري دي:

۱- د انتخاباتو کمېسيون رييس او معاون ښاغلی لودين او ښاغلی اصيل دې ژر تر ژره له دندې لرې او پرځای دې کاري اشخاص مقرر شي.

۲- د انتخاباتو د کمېسيون د دارالانشاء رييس (داود نجفي) چې د يوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشخص تنظیم د رهبرۍ غړی دی، قومي او مذهبي مسایل پالي او دا ټول د ټاکنو د قانون او د انتخاباتو د کمېسیون د طرزالعمل مخالف دي، باید لرې او پرځای یې یو بې طرفه شخص مقرر شي.

۳- هغه کسان چې د بېلابېلو تنظیمونو غړي دي او فعلاً د انتخاباتو دفتر کې کار کوي باید لرې او پرځای یې بې طرفه اشخاص مقرر شي.

۴- د نوملیکنې بهیر او د انتخاباتو نور اړتیا وړ امکانات دې د افغانستان ټولو سیمو ته یو شان ورسول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جمهوري رياست او احتمالي کانديدان

## (ټولپوښتنه)

د افغانستان د جمهوري رياست د دويمې دورې ټولټاکنو ته که څه هم تر یوه کاله زیاته موده پاتې ده، خو بیا هم دا موضوع ټولو رسنیو او هېوادوالو ته د ورځې یوه ګرمه موضوع ده.

بېلابېلې موسسې، سازمانونه، ګوندونه، اشخاص او رسنۍ لګيا دي په خپل سر او په خپله خوښه ډول ډول سروې ګانې تر سره کوي.

دا ډول سروې ګانې که څه هم دقیقې او د پوره باور وړ نه دي، خو په کم نظر او بې تفاوتۍ هم باید ورته ونه کتل شي، سره له دې چې تر اوسه پورې د جمهوري رياست کانديدان په رسمي ډول مشخص شوي نه دي، خو رسنۍ او ځينې ګوندونه د ځينو اشخاصو د احتمالي کانديدۍ يادونه کوي، چې ډېر په کې دغه لاندې اشخاص يادېږي:

۱- حامدکرزی

۲- رمضان بشردوست

۳- مصطفی ظاهر

۴- یونس قانوني

۵- علي احمد جلالي

٦- زلمی خلیلزاد

د نظر پوښتنو او نظر سنجونو په لړ کې د ((تاند)) په نوم یوې پښتو وېبپاڼې هم یوه ټولپوښتنه پیل کړې، سره له دې چې دا ټولپوښتنه یا نظر سنجونه لا تر اوسه هم پایته نه ده رسېدلې، خو لومړۍ نتیجې یې خپرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي دي. د دې ټولپوښتنې اعتبار په دې کې دی چې دا د کوم فشار له مخې نه ده تر سره شوې او هر چا له خپل فکر او اجتماعي شعور سره سمه رایه ورکړې ده، اکثره په کې پښتانه لیکوال، فرهنګیان او یا هغه ځوک دي چې لږ تر لږه پر لیکوالۍ پوهېږي، نو ځکه باید دې ټولپوښتنې ته که څه هم ډېره وړه او محدوده ده، په سرسري نظر ونه کتل شي، تر دې دمه (د ثور میاشتې د (۱۲) مې نېټې تر غرمې پورې) د دې ټولپوښتنې نتیجې په دې ډول دي:

| | |
|---|---|
| ۱- حامدکرزی | ۴۰٪ |
| ۲- رمضان بشردوست | ۸٪ |
| ۳- مصطفی ظاهر | ۰٪ |
| ۴- یونس قانوني | ۰٪ |
| ۵- علي احمد جلالي | ۳٦٪ |
| ٦- زلمی خلیلزاد | ۱٦٪ |

د یادونې وړ ده چې نوموړی وېبسایټ پښتو وېبسایټ دی، زیاتره کتونکي یې هغه پښتانه دي چې انټرنېټ ته لاسرسی لري او دغه راز په دې ټولپوښتنه کې برخه اخیستونکي اکثره لیکوال او د نظر خاوندان دي، تر اوسه په دغه ټولپوښتنه کې هېڅ کومه لاسوهنه نه ده کړې او بې پرې ټولپوښتنه ګڼل کېدی شي، د یادونې وړ ده چې دا ټولپوښتنه د نالوستو افغانانو استازي نه کوي او کېدی شي د لیکوالو تر منځ یوه ټولپوښتنه وګڼل شي، هغه هم د پښتنو لیکوالو تر منځ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دودیزه لویه جرګه او د ګډونوالو نظریات

په دودیزه لویه جرګه کې د جرګې د غړو تر منځ نظریات مختلف وو، خو په مجموعي ډول د دې نظر پلویان اکثریت وو چې له امریکا سره یې د ستراتیژیک تړون تائید کاوه. دلته کولای شو دا نظریات پر دې لاندې څو کته ګوریو ووېشو:

۱- **د ستراتیژیک تړون غوښتونکي:** دا ډله که څه هم اکثریت وه، خو ډېره منظمه نه وه، دوی فکر کاوه چې که نړیواله ټولنه په تېره بیا د امریکا متحده ایالتونه افغانستان یوازې پرېږدي، نو ګاونډیان به یو ځل بیا افغانستان له سختو مشکلاتو سره مخامخ کړي. دوی دغه خطر او د افغانستان ملي ګټو ته په پام سره، د ستراتیژیک تړون ملاتړ کاوه، که څه هم په دې برخه کې یې یو شمېر ملاحظات هم درلودل.

۲- **د تړون مخالفین:** یو شمېر داسې کسان هم وو چې په بېلابېلو پخوانیو جهادي او نورو ډلو پورې یې اړه لرله، هغوی د ستراتیژیک تړون مخالفت کاوه، ویل یې چې دا تړون د اسلامي شریعت مخالف دی. دوی یو شمېر شپې پاڼې هم د جرګې پر برخوالو تقسیم کړې وې.

۳- **د مهاجرو استازي:** په ایران، پاکستان او نورو هېوادونو کې د مېشتو افغان مهاجرو په استازۍ چې کوم کسان راغلي وو، د هغو اکثرو د دې تړون مخالفت کاوه، یو شمېر یې بیا داسې هم وو چې دا تړون یې تائیداوه، په دې استازو کې د تائیدوونکو په انډول د ردوونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېر زیات وو.

٤- **متفرق مخالفین:** په جرګه کې یو شمېر داسې کسان هم وو، چې په دولت کې د شاملو ډلو او یا هم اشخاصو له خوا معرفي شوي وو، په هغو کې هم یو شمېر داسې اشخاص وو چې د ستراتیژیک تړون مخالفت یې کاوه، بېلابېل دلایل یې ویل. یو دلیل یې دا و چې دې کار سره د ګاونډیو هېوادونو احساسات راپارېږي، هغوی به خپلې مداخلې نورې هم زیاتې کړي او داسې نور دلایل.

٥- **د جرګې اکثریت غړي:** په مجموعي ډول د جرګې اکثریت غړي د ځینو غټو او وړو ملاحظاتو په پام کې نیولو سره سره له دې خبرې سره موافق وو چې امریکا سره دې ستراتیژیک تړون لاسلیک شي. که چېرې د حکومت له خوا منظم او سیستماتیک کار شوی وای او یا هم د تړون په اړه د ځینو حکومتي او ناحکومتي ځواکمنو اشخاصو د تبلیغاتو مخه نیول شوې وای، نو کېدی شي د جرګې د وړاندیزونو هغه برخه چې عملي اړخ نه لري او یا هم له ستراتیژیک تړون سره اړخ نه لګوي، هغه برخې په پریکړه لیک کې نه وای راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولې ملي ترمینالوژي؟

د اساسي قانون په لویه جرگه کې یو شمېر ایرانپالو کړیو هڅه کوله چې په ژبنۍ او فرهنگي برخه کې داسې همغږي رامنځته کړي چې د دوو هېوادونو (ایران او افغانستان) تر منځ د تشخص کوم ممیزات او توپیرونه چې اوس دي، هغه له منځه یوسي. ایران په دې برخه کې ځانگړې لېوالتیا لرله او سفیر یې وخت پر وخت پرته له کوم بندیز څخه د لویې جرگې پر مهال هلته گرځېده راگرځېده او له خپلو مینوالو او لېوالو سره یې کتل. خو لویې جرگې پرېکړه وکړه چې د ایراني، پاکستاني او نورو هېوادونو د کلتوري او ژبني یرغل د مخنیوي په خاطر دې په افغانستان کې موجود ملي او اداري مصطلحات خوندي شي. د دغه قانون د دې قید بل تعبیر دا دی چې په همدې بڼه دې نور اصطلاحات هم جوړ او لاپسې وغځول شي. د یو شمېر ایرانپالو کړیو له مخالفت سره سره بیا هم لویې جرگې د تفاهم د لسو کمېټو له لارې په (۱٦)مه ماده کې همدا محتوا تصویب کړه. کله چې د قانون د تطبیق عملي بهیر پیل شو، نو هغه خطر چې مقنن او د لویې جرگې غړو حس کړی و، همغه خطر له گرېوانه سر راوویست، یو وخت ولسي جرگې ته د لوړو زده کړو قانون لاړ، هلته یو شمېر ایرانپالو کړیو د (پوهنتون) او (پوهنځي) له کلیمو او نورو اړوندو علمي او اداري اصطلاحاتو سره تضاد وښود، ځینو به ویل چې په اساسي قانون کې اصطلاحات نه دي تعریف شوي، چې (پوهنتون) په کې راځي او که نه؟ خبره عدلیې وزارت، سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون ته حواله شوه، چا غوڅ او چا هم پخ ځواب ورکړ، ځینو ولیکل چې پوهنتون زموږ یوه علمي اصطلاح ده او باید پر خپل ځای پاتې شي. ځینو بیا په دې خاطر چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعصب په بل ډول پټ کړي ویل یې چې (پوهنتون) دې هم وي او (دانشگاه) دې هم. خو د دې ټولو دلایلو تاویلو او ماویلو اصلي محتوا داوه چې ایرانپالو کړیو له (پوهنتون) او بیا په هغه پورې اړوندو نورو علمي مصطلحاتو سره حساسیت درلود. دا خبره وزیرانو شورا ته هم لاړه، ولسمشر او وزیرانو پرې هم بحث وکړ. وزیرانو شورا کې ځینو وویل، نو په یوه کلمه چې ملي وحدت خرابېږي، رادې شي، (دانشگاه) دې هم راشي، څه پروا کوي؟ ځینو نورو بیا وویل چې دا له قانون سره څرگند ټکر دی، ولې باید هرڅه موږ د ملي وحدت په نامه تعبیر کړو؟ که دلته (دانشگاه) راشي، نو ملي وحدت تامین شو، خو که فعلي (پوهنتون) پر خپل ځای وي، نو بیا ملي وحدت خراب شو(!) اصلاً د دغه ډول تعبیرونو وړاندې کول بېخي غلط دي. ولسمشر د خپلې دایمي محافظه کارۍ په خاطر زړه و چې د نورو ناقانونه کارونو په شان دا ناقانونه کار هم تر سره کړي. دا مهال ما د امنیت شورا د فرهنگي چارو د مسؤل په توگه خپله دنده وگڼله چې یو لنډ یادښت ولسمشر ته ولیکم. ما ولیکل چې: ((خبره یوازې په دې یوه کلمه کې نه رالنډېږي، اصلاً ایرانپالې کړۍ غواړي، ټول هغه ملي او اداري اصطلاحات چې په دې تېره یوه پېړۍ کې په افغانستان کې رامنځته شوي او باب شوي، هغه له منځه یوسي، پیل یې له همدې (دانشگاه) څخه دی، په یوه کلمه پښتو ژبه نه اسمان ته پورته کېږي او نه پر ځمکه ننوځي، خو که دا کلمه ورسره ومنل شوه، دوی سبا ته عسکري نومونه بدلوي، بل سبا بانکنوټ ته لاس اچوي، بیا اداري نومونه، لکه والي، ولسوال، ښاروال، څارنوال او نور بدلوي او د ایراني فارسي یرغل به همداسې روان وي.

کله چې یې دا ټول ختم کړل، نو بیا د (افغانستان) او (افغان) نوم ته خبره راځي، یو شمېر به بیا دا وایي چې دې نوم سره موږ مشکل لرو، تاسې ورته افغانستان ووایئ، موږ به ورته (خراسان، اریانا) او یا نور څه وایو، په مملکت کې به نور مشکلات پرځای پاتې وي او موږ به په نومونو نښتي یو.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پارلمان کې بیا یو شمېر وکیلانو وویل: ((ببین تعصب! یک کلمه دانشگاه را تحمل کرده نمیتواند، ما حق نداریم که به زبان مادری خود حرف بزنم یا به او خدمت کنیم، قانون اساسي ما را این حق دا ده و ما از حق خود محروم میشویم.)) زما مېرمن (ارین یون) په ولسي جرگه کې وویل: ((مورږ چې ستاسو ټوله ژبه منلې، په دفتر، دېوان، همدې شورا، رسنیو، حکومت، قضا، سفارتونو او نورو ټولو کې هر څه په دري ژبه دي، مورږ ټول زغملي خو ته د (پوهنتون) یوه کلمه نه شې زغملای، هغه هم په داسې حال کې چې ته یې په تلفظ کې هم څه مشکل نه لرې او (۷۰) کاله سابقه هم لري، نو څوک متعصب دي؟ تاسې که مورږ؟)) دې خبرو د خلکو سر خلاص کړ، د متعصبینو خولې ته یې هم کلپ واچوه، نتیجه دا شوه چې د لوړو زده کړو قانون پر همغه خپل ځای پاتې شو او لا تر دې دمه تصویب نه شو. متعصبینو ټول قانون له دې یوې کلمې قربان کړ، خو دېته یې ونه کتل چې د اساسي قانون له روحیې سره سم دغه اصطلاح (پوهنتون) په دري او پښتو متونو کې راغلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د افغانستان د اوسنیو حالاتو څېړنه

**الف- امنیتي حالات:**

**په افغانستان کې د امریکامتحده ایالاتو په پوځي زور د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته اوسني امنیتي حالات پر دغو څلورو برخو وېشلای شو:**

**۱- د طالبانو تر سقوط وروسته پړاو: دا هغه مرحله وه چې طالبان د امریکایانو په زیات پوځي زور او د هغو د کورنیو متحدینو (شمالټلوالې) په مرسته له نظامي پلوه مات او ړنګ شول، د طالبانو او القاعدې نېټورک زیانمن او دوی د افغانستان په کلیو، بانډو، لرې پرتو سیمو او تر ډیورنډ کرښې اخوا په قبایلي سیمو کې تیت و پرک او پټ شول. دا هغه مهال و چې طالبانو له بهرنیو ځواکونو او د هغوی د متحدو کورنیو وسلوالو ډلو پر وړاندې جګړه نه شوه کولای. دې پړاو نږدې دوه دوه نیم کاله دوام وکړ، دا همغه وخت و چې د اضطراري لویې جرګې، اساسي قانون لویې جرګې، د جمهوري ریاست او ملي شورا انتخابات په کې تر سره شول.**

**۲- د طالبانو د دفاعي حالت پړاو: د جمهوري ریاست تر لومړیو انتخاباتو وروسته حکومت بیاهم ایتلافي بڼه غوره کړه، اداري فساد او د جنګسالارانو واک په حکومت کې لا زیات شو، د خلکو رایو او نظریو ته چندان ارزښت ور نه کړل شو، همدغه و چې د خلکو او حکومت تر منځ فاصله زیاته شوه، له دې خلا څخه طالبانو ګټه پورته کړه، بېرته یې ځانونه منظم کړل او په ډېرو ساحو کې یې د دولتي ځواکونو او ان د بهرنیو ځواکونو پر ضد د دفاع او خرپ او ترپ جنګ توان پیدا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ. طالبانو او د هغوی بهرنیو ملاتړ کوونکو ته دا وخت، د دولتي او بهرنیو ځواکونو نیمگړتیاوې او جنگي ظرفیت هم معلوم شو.

**۳- د طالبانو د تعرضي حالت پړاو:** څومره چې دولت په اداري او مالي فساد کې ډوبېده او د دولت جوړونکي بېلابېل او مختلف تنظیمونه او اشخاص په حکومت کې پر امتیازاتو ورانېدل، نو همغومره طالبانو ته د تنفس او ودې زمینه برابرېده، دا مهال طالبانو خپل بهرني روابط هم سره منظم کړل او له ځینو گاونډیو هېوادونو په تېره بیا له ایران او پاکستان څخه یې وسلې هم واخیستې او د هغو دولتي او نادولتي قاچاق وړونکو له لارې یې هم وسلې ترلاسه کړې چې د افغانستان له شمال څخه تر جنوبه د وسلو پر قاچاق بوخت وو. طالبانو د دې وس پیدا کړ چې د ځان وژونکو حملو او گوریلایي جنگونو تر څنگ پر منظمو جبهه یي جنگونو هم لاس پورې کړي او له حکومت څخه د ولسوالیو په گډون پراخې سیمې لاندې کړي. د نړیوالو رپوټونو پر اساس اوس د افغانستان حکومت د افغانستان په سلو کې یوازې پر (دېرش) برخې خاورې حاکمیت لري اوکه په دې پاتې برخه کې د دولت د دولتي مخالفو قوتونو د واک وېش سره محاسبه کړو، نو دا حاکمیت لاپسې متلاشي کېږي، ځکه چې دا واک هم د بېلابېلو جنگسالارانو او تنظیمونو تر منځ وېشل شوی دی.

**٤- اوسني امنیتي حالات:** اوسني امنیتي حالات په تېرو اوو کلونو کې تر بل هر وخت څخه ډېر خراب شوي، په ښارونو کې اختطاف، وېره او تښتونه عامه شوې او له لویو ښارونو د پانگوالو فرار روان دی. روښنفکران او د قلم خاوندان هم ځان مصئون نه گڼي، نادولتي موسسې او بهرني وگړي ټول ځان په خطر کې احساسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دولتي پولیسو او ملکي مامورینو تلفات زیات شوي او د ملي پوځ د سرتېرو د مرګ ژوبلې کچه هم اوچته شوې ده. د دې ترځنګ نړیوالو پوځي ځواکونو، ملکي وګړو او همدارنګه د مخالفو طالبانو تولو د مرګژوبلې کچه اوچته شوې ده. دا د دې مانا ورکوي چې د جګړې ساحه پراخه شوې، جګړه درنه شوې او لا د درنېدو په حال کې ده.

## ب- راتلونکي حالات او پرمختګونه:

د راتلونکو حالاتو په اړه مخکې تر مخکې خبرې او وړاندوینه کېدی شي پوره دقیقه نه وي، خو هغه څه چې د اوسنیو حالاتو له مخې یې احتمال کېدی شي، حالات په مجموعي ډول د ښه والي پر لوري روان نه دي. د راتلونکو حالاتو پر وړاندې دا ستر سیاسي چیلنجونه پراته دي:

۱- **د جمهوري ریاست انتخابات:** ځینې سیاسي ډلې لکه پخوانی شمال ایتلاف او نور د (۱۳۸۸ ل) کال د جوزا پر میاشت د انتخاباتو تر سره کېدل غواړي، خو حکومت د میزان پر میاشت او ان تر هغه وروسته د انتخاباتو تر سره کېدل غواړي، په دې ډول دا یو سیاسي بحران دی، امنیتي وضعه هم داسې ده چې د عادلانه انتخاباتو تر سره کېدل ناشوني کوي. که په داسې حالت کې انتخابات تر سره هم شي، نو د هېواد اکثریت (پښتانه) به په کې ګډون ونه کړای شي، د پښتنو د نشتوالي په حالت کې به انتخابات مشروعیت ونه لري.

۲- **که انتخابات تر سره نه شي؟:** که انتخابات تر سره نه شي، نو بیا به هم هېواد له یو سیاسي بحران سره مخامخ شي، د حل یو ضمني او نسبي لاره (لویه جرګه) ده چې نوی زعامت ټاکلای شي، خو پر لویه جرګه هم کېدلای شي ځینې کورنۍ او بهرنۍ موثره سرچینې خپل اغېز وشیندي او په ښه او عادلانه ډول پرېکړه ونه کړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په هر حال، افغانستان ته په راتلونکي کې د يو سياسي بحران د وړپېښېدو قوي وېره شته.**

**ج- د افغانستان د اوسنيو سياسي او پوځي ځواکونو تناسب:**

**په رسمي ډول خو په افغانستان کې له عدليې وزارت سره تر (۹۷) زيات سياسي ګوندونه ثبت دي او يو زيات شمېر لا تر اوسه ثبت شوي هم نه دي، خو فعاليت کوي، دا ټول ثبت او ناثبت شوي ګوندونه او ډلې له يوې مخې ولسي، سياسي او پوځي قوت نه لري. موږ دلته يوازې هغو ډلو ته لنډه اشاره کوو چې سياسي، قومي، مذهبي، ولسي، پوځي او اقتصادي قوت يې محسوس دی.**

**۱- طالبان: يوه مذهبي او نظامي ډله ده چې اوس د دولتي او نړيوالو ځواکونو پر وړاندې ستر چيلنج دی. که چېرې نړيوال ځواکونه نه وي، نو نورې دولتي او نا دولتي سياسي ډلې د طالبانو د نظامي زور او قوت تاب نه لري، د نړيوالو ځواکونو د نشتوالي په حالت کې کېدی شي اوسنی حکومت د څو ورځو په بهير کې د طالبانو له خوا ړنګ شي. د يادونې وړ ده چې طالبان مذهب پلوه ډله ده، سياسي تفکر يې کمزوری او نظامي فعاليت يې زيات دی، قومي تفکر نه لري، خو د دوی مخالفين (پخوانۍ شمالټلواله) دوی پر قومي او قبيله يي تمايلاتو تورنوي.**

**۲- اوسنۍ ملي جبهه (پخوانۍ شمالټلواله): د برهان الدين رباني اسلامي جمعيت د دې جبهې اصلي محرکه قوه او د ثقل مرکز دی، له نا متجانسو سياسي ډلو جوړه ده، هره شېبه يې د وېشل کېدو امکانات شته، دا ايتلاف اساساً قومي تمايلات لري، خو ظاهراً ملي او اسلامي رنګ لري، د افغانستان د دولت اساسي رګونه د همدې ايتلاف په لاس کې دي، دا ايتلاف پراخې کورنۍ او بهرنۍ مالي سرچينې لري او د افغانستان د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ظاهراً ازادې میډیا درنه برخه یې په لاس کې ده، په ځینو سیمو کې رسمي او په ځینو کې نا رسمي ملېشې لري او همدارنگه قانوني او نا قانونه وسلې، د حکومت په داخل کې تر دې ډلې بله قوي ډله نه شته، دې ایتلاف پخوا هم له روسیې او ایران سره اړیکي درلودل او اوس یې هم لري.**

**۳- شیعه گوندونه: د خلیلي په مشرۍ (د افغانستان اسلامي وحدت گوند)، د محقق په مشرۍ (د افغانستان د خلکو اسلامي وحدت گوند)، د مصطفی کاظمي د ورور (سید علي کاظمي) په مشرۍ (د ملي اقتدار گوند)، د محسني په مشرۍ (د اسلامي حرکت) او د صادق مدبر په مشرۍ د (ملي انسجام گوندونه)، د شیعه گانو غټ گوندونه دي چې مذهبي، سیاسي او اقتصادي قوت لري، د دې گوندونو تفکر اساساً پر قومي، مذهبي او ژبنیو گټو راڅرخي.**

**٤- د حکمتیار اسلامي حزب او د انوارالحق احدي افغان ملت: د حکمتیار اسلامي حزب اوس هم یو سیاسي، مذهبي او نظامي قوت دی چې د دولت او بهرنیو ځواکونو پر وړاندې جنگېږي، ځینې پخواني غړي یې په حکومت کې هم شته، خو له اقتصادي پلوه کمزوري شوي، که چېرې بهرني قوتونه نه وي، نو تر طالبانو وروسته کېدی شي د دویمې سیاسي، پوځي او مذهبي ډلې په توگه څرگند شي.**

**افغان ملت یو دیموکرات گوند دی چې ملي افکار لري، نظامي ډله نه ده، یوه سیاسي ډله ده چې په حکومت او تر حکومته بهر یې یو شمېر غړي فعال دي. د دې ډلو ترڅنگ نورې لویې وړې ډلې هم شته چې افکار یې همدې ډلو ته ورته دي او د هېواد په سیاسي ډگر کې یې اغېز ډېر زیات نه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دی، نو ځکه خو د ټولو له یادونې تېرېږو.**

**د پورتنیو ستونزو د یادونې ترڅنگ د افغانستان دولت له ځینو نورو ستونزو سره هم مخ دی چې دلته یې په لنډېز سره یادونه کوو:**

**۱. دولتي اپوزیسیون: د دولت په داخل کې پر مهمو پوستونو کار کوي، د دولت امتیازات اخلي، امکانات یې کاروي او بېرته د دولت د ریفورمونو مخالفت کوي، ملي جبهه د هغې بېلابېل غړي، د جمهور رییس لومړی مرستیال، ځینې وزیران. د امنیتي سکتور ځینې مهم غړي، د دې اپوزیسیون برخه ده.**

**۲. نادولتي اپوزیسیون: په دولت کې کار نه کوي، خو تر دولته بهر د دولت مخالفت کوي، لکه طالبان، د حکمتیار اسلامي حزب، اکثریت یو شمېر پخواني جهادي قومندانان او داسې نور... تر نادولتي اپوزیسیون څخه دولت ته، دولتي اپوزیسیون ډېر خطرناک دی.**

**۳. دولت د سیاسي انحصار په منگولو کې: که څه هم د دولت مشرتابه (جمهور رییس) د خلکو له خوا ټاکل شوی، خو له جمهوري ریاست پرته نورې اکثره څوکۍ او مهم دولتي پوستونه د اسلامي جمعیت په لاس کې دي او په اسانۍ سره نو رڅوک نشي زغملای.**

**۴. قومي انحصار: دا دولت که څه هم د دیموکرات دولت په نامه یادېږي، خو پر دولت د یوې قومي ډلې(تاجکانو) زیات انحصار، نورې قومي ډلې خفه کړې او په دې ډول د دولت او خلکو تر منځ واټن رامنځته شوی دی. د بېلابېلو ارقامو له مخې د اوسني دولت په مهمو پوستونو کې تر دې دمه شپږ شپېته اعشاریه شپږ (۶۶،۶٪)سلنه تاجک، پنځه ویشت اعشاریه درې (۲۵،۳٪)سلنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پښتانه، څلور اعشاریه درې (۴،۳٪)سلنه هزاره او پاتې نور قومونه ونډه لري. دا په داسې حال کې ده چې یو شمېر رسنۍ د تاجکانو ننګه کوي، هغوی پر دې سهم لا اوس هم قانع نه دي او کرزی په فاشیزم (توکمپالنې) تورنوي، خو دې خوا کې بیا پښتانه د خپل کمیت له مخې په دې حکومت له خپلې کمې ونډې څخه ناراضه دي.**

۵. **امنیتي سکتور: امنیتي سکتور هم تر ډېره حده د اسلامي جمعیت په لاس کې دی. دا تنظیم نه غواړي د افغانستان په ډېرو سیمو په تېره بیا په جنوب، جنوب غرب او شرق کې امن وي، ځکه که هلته امن راشي، نو په کابل کې د دې ډلې انحصار ختمېږي او نور خلک هم په حکومت کې شاملېږي.**

۶. **اداري فساد: د حکومت پر وړاندې بله غټه ننګونه اداري فساد دی، چې اکثره لوړ رتبه او ټیټ رتبه مامورین پرې ککړ دي.**

۷. **امنیتي حالت: د خلکو او دولت غټه ستونزه دا ده چې د هېواد په اکثرو سیمو کې امنیت ورځ تر بلې خرابېږي، په ملکي او امنیتي ارګانونو کې د یو شمېر بې کفایته او د دولت د دولتي مخالفو سیاسي ډلو واک د دې سبب کېږي، چې امنیت لا پسې خراب شي.**

۸. **د ګاونډیو هېوادونو مداخله: ایران او پاکستان په افغانستان کې تر هر چا زیاته مداخله کوي، په تېره بیا ایران. اوسمهال چې ایران په افغانستان کې څومره واک او ځواک لري د نړۍ هېڅ هېواد یې نه لري. ایران له یوې خوا د حکومت په داخل کې خپل پلویان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقویه کوي او بل پلو دولت مخالفو طالبانو ته هم وسلې او هم پیسې ورکوي او په دې ډول غواړي ناامني دوام وکړي. د ایران لپاره دا یو طلایي چانس دی، چې له خپلو پخوانیو مخالفینو(طالبانو) څخه د امریکا پر ضد ګټه پورته کړي. که طالبان وژل کېږي هم ایران ته یې ګټه رسي، که امریکایان وژل کېږي هم دوی ترې ګټه اخلي او که سیمه ورانېږي هم د پښتنو سیمه ده، چې له مذهبي او ژبني پلوه د ایران مخالفه ده.

۹. منفي میډیا: د افغانستان د اوسنۍ ازادۍ(!) میډیا زیاته برخه د ایران له خوا کنترول او تمویلېږي، د افغانستان د پېښو په منفي ښودلو کې د دې میډیا نقش زیات دی، دا میډیا په افغانستان کې د مثبتو پرمختیاوو په انډول منفي پېښې زیاتې انعکاسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د راتلونکو ټاکنو په اړه

د جمهوري ریاست د راتلونکو (۱۳۸۸) کال عادلانه ټاکنو لپاره د نورو ګڼو مسایلو ترڅنګ دغو څو مسایلو ته زیاته پاملرنه په کار ده:

۱- د ټاکنو خپلواک کمیسیون: دا کمیسیون باید په بشپړ ډول ناپېیلی او مستقل شي. له هر ډول، تنظیمي، سمتي، سیاسي افکارو او تاثیراتو څخه باید پاک وي. د کمیسیون اوسني ترکیب په تېره بیا د هغه مشرتابه او د هغوی د کار دوام، عادلانه انتخاباتو ته د (قاتلو زهرو) مانا لري.

۲- امنیتي سکتور: امنیتي سکتور باید په بشپړ ډول بې طرفه وي. د دوی وظیفه باید یوازې د امنیت ساتنه وي، په ټاکنیزو چارو کې باید هېڅ ډول مداخله ونه کړي.

۳- دولتي چارواکي: هغه دولتي چارواکي چې په ټاکنو کې د مداخلې او لاسوهنې هیله او تمایل لري، جمهور رییس، باید هغوی ته داسې یو فرمان صادر کړي، که هره لحظه یې مداخله محسوس شوه، په اوتومات ډول له دندې ګوښه کېږي.

٤- امنیت: تر هغه پورې چې د ټولو افغانانو لپاره د مساوي امنیت زمینه برابره نه شي، عادلانه انتخابات ناشوني دي. په ټاکنو کې د هېواد د وګړو د نامساویانه ګډون په حالت کې که انتخابات تر سره هم شي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد به پر یو بل نوي ناورين واړوي.

۵- **بهرنۍ لاسوهنې:** د زیاتو بهرنیو او په تېره بیا د ګاونډیو هېوادونو د مداخلو پوره احتمال شته، داسې لارې چارې باید ولټول شي، چې له یوه کاندید سره د بهرنیو امکاناتو او لاسوهنو د ثبوت په حالت کې د هغه د کاندیدۍ د فسخه کېدو زمینه برابره شي، په دې حالت کې به کاندید زړه ښه نه کړي چې له بهرنیو امکاناتو څخه نامشروع ګټه پورته کړي.

٦- **کلتوري بندیزونه:** داسې لارې چارې باید ولټول شي چې کلتوري او مذهبي بندیزونه، د خلکو د رایه ورکولو د حق د سلبېدو سبب نه شي. ټاکنې باید د خلکو له کلتور سره د ټکر په بیه تمامې نه شي. د افغانستان د مذهبي او کلتوري حالاتو په پام کې نیولو سره باید ټاکنې هم اعیارې شي.

۷- **د کاندیدېدلو شرایط:** د نوماندۍ شرایط باید په داسې ډول سخت شي چې د اساسي قانون له محتویاتو سره ټکر ونه کړي، یانې شرایط او پروسیجر یې باید داسې وي چې هر څوک ورته ځان د شهرت او معاملو په خاطر کاندید نه کړای شي. د ساري په توګه، کاندید باید د ټولو توزیع شویو کارتونو، (نیمه یا یوه سلنه)، چې نیم سلنه یې اټکل (یو لک) او (یوه سلنه) یې (دوه لکه) کارتونه کېږي، تائید کارتونه پوره کړي، یو بل شرط هم په کار دی او هغه دا چې که تر ټاکنو وروسته هر کاندید د مجموعي استعمال شویو رایو (درې سلنه) پوره نه کړي، نو هغه لګښت چې پر دې نوماند راغلی، د هغه لږ تر لږه (لس سلنه) باید متقبل شي. بیا به هم (نوي سلنه) لګښت ملت وزغمي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸- د ټاکنو مهالوېش:** که پر یوه واحده ورځ د ټول هېواد په کچه په ټاکنو کې د تخنیکي، امنیتي او نورو مشکلاتو احتمال وي، نو ښه به وي چې په څلور پنځو ورځو کې ټاکنې تر سره شي، د ساري په توګه، څو څو ولایتونه دې یوه حوزه شي. په دې حالت کې رایه ورکوونکي هم له یوه ځایه بل ته نه شي تللای. که ممکنه وي رایه شمېرنه دې هم ځای پرځای تر سره شي.

**۹- د شکایتونو کمیسیون:** د شکایتونو کمیسیون باید پوره صلاحیت ولري چې د ټاکنیز کمیسیون تېروتنې سمې کړې او رڼاوی په کې راولي. په دې کمیسیون کې بهرنیو غړیو ته ډېره اړتیا نه لیدل کېږي. بهرنیان کولای شي د ټاکنو عمومي نظارت او څارنه وکړي. د شکایتونو کمیسیون غړي هم باید پوره ناپېیلي، ناسیاسي او ناتنظیمي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کانکور په اړه یو تحلیل

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جمهور رییس د پاملرنې وړ!**

**په افغانستان کې تېرو ترخو سیاسي تجربو ښودلې چې سیاسي ډلې په افغانستان کې د ملي گټو پرځای خپلو سیاسي، سیمه ییزو او قومي گټو ته زیاته ترجیح ورکوي. په تېر لسکلن بهیر کې چې کومه ملي، وطني، فرهنگي او علمي موضوع سیاسي ډلو او یا د هغو اړوند افرادو ته ورسپارل شوې، نو دوی په کې عدالت تر پښو لاندې کړی دی. د ولسي جرگې لپاره تېر انتخابات یې یو ښه مثال دی. په تېرو ټاکنو پسې دا دی یوه بله لویه علمي او فرهنگي موضوع (د کانکور ازموینه) یو ځل بیا د سیاسي، قومي، سمتي او ژبنیو تمایلاتو ښکار شوه. د افغانستان د خلکو حق او د اساسي قانون مفردات په کې په ځرگند ډول تر پښو لاندې شول. د افغانستان اساسي قانون (۴۳) ماده وایي: ((دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متوازن معارف د عامولو او د منځنیو اجباري زده کړو د تامین لپاره اغېزمن پروگرام طرح او تطبیق کړي...)) خو د کانکور اوسنۍ ازموینه په هېڅ ډول د اساسي قانون دا روحیه نه شي منعکسولای. داسې شواهد شته چې د کانکور ازموینه کې تر ازموینې دمخه او وروسته په بشپړ ډول لاس وهل شوی او هغو ته ځرگند مسیر ورکړل شوی دی، که نه دا خو هېڅ امکان نه لري چې په یو ولایت کې دې یو تن هم ناکام نه شي او بل کې دې بیا د گوتو په شمار کسان بریالي شي. د کانکور ازموینه کې له سره یوه خطا دا وه چې ځینو ولایتونو ته د همغې سیمې او همغه قوم استادان لېږل شوي دي، له امکانه لرې نه ده چې دې استادانو د لوړو زده کړو وزارت له ځینو چارواکو سره، چې سیاسي او قومي موخې تعقیبوي په همکارۍ، د (سوالونو کیلي) له ځان سره وړې وي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلو همژبو ته یې کلیانې ورکړې وي. په هر ترتیب د کانکور په دې بڼه کې، چې عدالت په کې په څرګند ډول زیانمن شوی، د سپین او تور معلومول ګران کار دی. د حل لپاره دغه لاندې وړاندیزونه کېدی شي ډېر موثر وي:

۱- د لوړو زده کړو وزارت د جذب د ټول ظرفیت شمېر دې د ولایتونو د نسبي نفوس په تناسب پر هغو ولایتونو ووېشل شي.

۲- بیا دې له همغه ولایت څخه د تعین شوي استحقاق له مخې هغه کسان د لوړو زده کړو موسساتو ته معرفي کړي چې تر ټولو لوړې نمبرې یې ګټلې وي.

۳- په هر ولایت کې دې د لوړو زده کړو شتو موسساتو ته د همغه ولایت زیات شمېر محصلین په پام کې ونیسي. په دې ډول به هم د کیلي یا نقل مشکل تر یوه حده حل شي او هم به نورې ستونزې راکمې شي.

۴- که چېرې هر ولایت ته د هغه د نفوسو د تناسب له مخې سهم ورکړل شي، د اساسي قانون د (۴۳) مادې روحیه هم په پام کې ساتل کېږي او عدالت هم تر یوه حده تامینېږي، له دې پرته د کانکور روان ترکیب تر ناعادلانه انتخاباتو وروسته د عدالت پر ککرۍ یو بل ګوزار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ((بېنوا)) فریاد مه بندوئ!

د افغانستان محترم جمهور رییس ته!

ټاکل شوې ده د اطلاعاتو او کلتور وزارت د وزیر له خوا، په دې پلمه چې (بېنوا) او (ټول افغان) وېبپاڼو یو ناسم خبر خپور کړی، دا سایټونه وتړل شي. که دا نیت او هیله عملي شي، نو دا به نه یوازې د رښتینو او ازادو رسنیو پر فعالیت یو درونډ گوزار وي، بلکې د قومي او ژبني تبعیض داسې یوه څرگنده بېلگه به وي، چې هېڅوک به پرې بیا پرده ونه شي غوړولای. عجیبه خبره دا ده چې (بېنوا) او (ټول افغان) سایټونه په دې پلمه تړل کېږي چې یو ((ناسم خبر)) یې خپور کړی، که څه هم همغه خبر بېرته همدې سایټونو اصلاح کړی هم دی. خو بیا یې هم د دې سایټونو د تړلو پرېکړه کړې ده. د دې سایټونو د بندولو خبر په داسې حال کې خپرېږي چې په دې بله خوا کې بیا هره ورځ په لسگونو راډیوگانې، چاپي خپرونې، شخصي ټلوېزیونونه او وېبسایټونه د افغانستان د هویت د تخریب، د هېواد د تجزیې او ملي شخصیتونو د سپکاوي په باب خپرونې کوي، هغو ته هېڅ نه ویل کېږي. دا نو بیا د تبعیض داسې یوه بېلگه ده چې په جنوبي افریقا کې یې هم سارې نه دی لیدل شوی. که چېرې د دې وېبسایټونو د بندولو په باب د اطلاعاتو او کلتور وزیر دا نیت یا پرېکړه عملي شي، نو د هېواد د اکثریت فرهنگیانو او قلموالو غوڅ غبرگون به راوپارېږي، په هغه حالت کې به یې ټول مسؤلیت د څو زورواکو او څو پردیپالو فرهنگي چارواکو پر غاړه وي.

و ما علینا اللبلاغ

محمد اسمعیل یون

د افغاني فرهنگ یو مینوال او لېوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فضل احمد معنوي او د ټاکنو د کمېسیون نور غړي

**یادښت:** د گنو دولتي او نـورو اورگـانونو د تحلیـل او ارزونـې تـر څنـگ، د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د هغه چارواکي، هغه اورگان او اشخاص وو چـې تر ډېرو نیوکو لاندې وو او خورا هر اړخیز تحلیل ته یې اړتیا لرله، دا تحلیـل باید پر عیني واقعیتونو ولاړ وای او داسې یو چا لیکلی وای چـې یـا یـې پـه خپله د ټاکنو په کمېسیون کې کار کـولای او یـا هـم د کمېسـیون لـه داخـلي جریان څخه پوره خبر وای، یو وخت مې په انټرنېټ کې همداسې یو تحلیل ترلاسه کړ چې تر ډېره بریده پر واقعیت ولاړ و، داسې ښکارېدله چـې کېـدی شي د ټاکنو کمېسیون کوم لوړ رتبه شخص لیکلی وي او یا هم کـوم لیکـوال ته چا خام مواد ورکړي وي، خـو تحلیـل خـورا مسـتند و، دا تحلیـل مـې لـه انټرنېټ څخه پرنټ کړ او د انجنیر محمـد ابـراهیم سـپین زاده پـه لاس مـې ولسمشر ته ورولېږه، خو د رد یا تائید حال و احوال یې رانغی.

دا دی دلته د انتخاباتو د کمېسیون پـه بـاب زمـوږ د یـوه هېـوادوال ښـاغلي (احمدزي) همدا تحلیل تر ځینو کمونو وروسته چې په هغو کې لیکـوال تـر یوه حده د یاد کمېسیون د غړو شخصي حریم ته هم داخـل شـوی و، د هغـو برخو له حذف پرته نور ټول تحلیل کټ مټ رانقلوم. درانه هېـوادوال د دې معلوماتي تحلیل په لوسـتلو سره د ټـاکنو کمېسـیون د داخـلي کـار، نقش او محتوا له ډېرو جزئیاتو خبرېدی شي.

**((له هغې ورځې چې د یو شمېر جنگسالارانو او تنظیمسالارانو له خوا ښاغلی فضل‌احمد معنوي د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون د رییس په توگه انتصاب شو او بیا یې تر څنگ ورته د عبدالله احمدزي په شان یو بې جرئته**

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص د دارالانشاء د رییس په توگه وټاکه، نو له همغې ورځې د عادلانه انتخاباتو جنازه پورته شوه. د انتخاباتو د کمېسیون نور شپږ غړي هم داسې اشخاص دي چې د کم کارۍ اوږده سابقه لري او ځینې یې پر قومي تعصب هم ککړ دي. ښه به وي چې د ټاکنو دې عجیب ترکیب ته لږ تم شو:

۱ -جنرال ایوب اصیل: ښاغلی جنرال اصیل د کمېسیون مرستیال او



(جنرال ایوب اصیل)



دا درې دورې د قانون خلاف د کمېسیون غړی دی. د ولسمشر کرزي یوه غټه خاصه دا ده چې کمزوري اشخاص یې ډېر خوښېږي، په تېره بیا دا ډول کسان اکثره د پښتنو له منځه، د پښتنو په استازۍ غوره کوي. اصیل صیب په څلورویشت ساعتونو کې د ډېر کم کار جوگه وي، د امریکا متحده ایالتونو گرین کارت لري، هر سهار چې دفتر ته ځي، نو لومړی د معنوي صیب احترام ته ورځي او په احترام ترې راوځي. ښاغلی اصیل د لوړو زده کړو خاوند دی، یو مسلکي پولیس دی، خو په کارونو کې دومره سست او پخ دی، چې د هر امر په تېره بیا د معنوي صیب لپاره په دې حساسو شرایطو کې همداسې یو شخص په کار دی.

اصیل صیب اساساً د ټاکنو له کمېسیون سره ډېره لېوالتیا هم نه لري، خو د قومي سهم له برکته ورته دلته د لوړ معاش او امتیاز زمینه برابره شوې ده. خو ده هېڅکله هم د قومي سهم حق ادا نه کړای شو.

معنوي د اصیل صیب د کمزورۍ ټکي او مجبوریتونه ټول درک کړي دي . د اصیل صیب یو مجبوریت دا دی چې پر وخت باید امریکا ته لاړ شي او بهرني سفرونه وکړي، د دې مجبوریت په رفع کولو کې نو معنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



**صیب پر ده ډېر شفقت کوي، په بدل کې یې نو اصیل صیب د معنوي غوښتنې نه ردوي او هر څه چې معنوي غواړي، دی یې له لوستلو او ردولو پرته امضا کوي.**

**۲ -مستوره ستانېکزۍ: پښتنو کې کله کله ښځې ته د عوامو په اصطلاح (عاجزه) وایي، مستوره رښتیا هم پاکه مېرمن ده، خو (عاجزه) ده، په تېره بیا د معنوي صیب په شان د قانوني او ناقانوني زورواکۍ پر وړاندې خو بېخي ډېره عاجزه ده. هر سهار یو ځل د معنوي صیب احترام ته ورځي. کوم بهرنی سیاسي، اقتصادي او نظامي ملاتړ نه لري چې معنوي سره ډغره ووهي، د ګوزارې لاره یې خپله کړې ده، د کمېسیون په اوو تنو کې د پښتنو په استازۍ همدا دوه ښاغلي (اصیل او ستانېکزۍ) ناست دي، هېڅکله یې د هغې زورواکۍ پر وړاندې خپل غږ پورته نه کړ چې په دې کمېسیون کې شته، بلکې هغې ته یې له کوم غبرګون پرته لاره خلاصه پرېښوده.**



(مستوره ستانېکزۍ)

**۳ -مومنه یاري: د کمېسیون بله غړې ده چې دې هم دلته د شان و شوکت دوه دورې تېرې کړي دي. د مومنې یاري بېړۍ خو ځکه میره ده چې په خټه هزاره ده. هزاره او پنجشېریان خو د کرزي صیب په بلواکه واکمنۍ کې د داسې اشخاصو حیثیت لري چې له هر ډول انتقاد او ګناه څخه پاک دي. مومنې یاري د جمهوري ریاست د تېرو ټاکنو پر مهال د دارالانشا له رییس، ښاغلي (داود نجفي) سره**



(مومنه یاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library



همله په کمیسیون کې د نوي ژوند لپاره تار وځغلوه او د خپل نوي ژوند سفر یې پیل کړ. نجفي هم د دویمې ارتینې په توگه هغه د خپل درناوي پر اوږو کېنوله او تر شرعي نکاح یا صیغې وروسته یې امریکا ته د (ماه عسل) لپاره بوتله. د مومنې د بخت کوتره خو ځکه تر ټولو لوړ الوت کوي چې پلار (سلیمان یاري) ته یې ولسمشر (تره) ویلې او ډېر یې نازوي، ولسمشر کرزی که هر څومره (یاری) نازوي، خو هغه ورته په شخصي غونډو او ناستو کې همغومره سپکې سپورې کوي. د کرزي په فرمان په مشرانو جرگه کې ناست دی او نور اولادونه یې د افغانستان په سفارتونو کې د دندو تکلیف(!) گالي. په تېرو پارلماني ټاکنو کې مومنې یاري پر معنوي صیب باندې داسې یو شرط کېښود چې هغه هم ورته د رد ځواب ور نه کړای شو. مومنې یاري وویل: ((تر څو چې د غزني انتخابات ونه منل شي زه د نورو ولایتونو د انتخاباتو نتیجه نه امضا کوم...)) معنوي چې د تاجکانو لپاره غوړه مړۍ تېره کړې وه، د مومنې شرط یې د خپلو نورو امتیازاتو د خوندیتابه لپاره له مجبورۍ څخه قبول کړ او د غزني اتیا سلنه پښتانه یې د هغې له یوه شرطه قربان کړل. جنرال اصیل او مستورې بي بي دواړو د معنوي او مومنې یاري د تفاهم پر وړاندې ځانونه غلي کړل.. مومنې د کابل او هرات سهم کې هم له معنوي سره متناسب (وند) واخیست، خو معنوي بیا ترې په بغلان او بلخ کې د پښتنو په حذف سره خپله لوړتیا وساتله.

٤ -**عبدالخالق حسیني پشه یي**: عبدالخالق حسیني په ختټه پشه یي دی، د لغمان دی. هغه خو هسې هم د خیر پر غونډۍ ناست دی، خپل ځان ساتي، داسې بې طرفه شخص دی چې هر طرف قوي وي که دی یې پر وړاندې ودرېږي، نو یو څه امتیاز ورکوي او که ونه درېږي هم، نو خپل حق اخیستلای شي، دی د پوره گوزارې سړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده په باب ویل کېږي چې د (ترموز) خصوصیات لري، که ګرمې اوبه دې په کې واچولې، ګرمې یې ساتي او که یخې دې په کې واچولې، یخې یې ساتي.



(عبدالخالق حسیني پشه یي)

خو بیا هم تر جنرال اصیل او مستورې ستانېکزۍ زړور دی، یوازینی سړی دی چې د معنوي له خوا د (دیارلس لکو) رایو د باطلولو سند یې لاسلیک نه کړ. خو بیا هم د معنوي د ټولو پلانونو او زور پر وړاندې کله مقاومت کولای شي؛ د لمدې ختې لړې اوبه دارو وي. معنوي یې په اسانۍ سره تر ګورت لاندې راوستی شي او د چا خبره ډېر سرغړاوي ته یې نه پرېږدي.

۵ -سلیمان حامد: له تنظیمي پلوه جمعیتی او په خټه تاجک دی، خو ویل کېږي چې ډېر بد سړی نه دی، داسې هم ویل کېږي چې ډېر تعصب هم نه لري، د معنوي زیات احترام کوي، خو په کارونو کې چټک نه دی او بیا خو نو چې هر څه څنګه شي نورو ته یې لاره یوه ده؛ پښتنو ته ټول سره یو دي. فضل احمد معنوي چې به کوم سند تیار کړ، نو د سلیمان حامد په ګډون به ټولو د رایو په اتفاق سره لاسلیک کړ.



(سلېمان حامد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦ -پوهاند محمد حسين ګرزيواني:** ګرزيواني په خټه ازبک دی، دی هم ډېر چالاکه او جنجالي سړی نه دی.


(محمد حسين ګرزيواني)

ازبک يې په کمېسيون کې پر رول له اول څخه خوښ نه وو. اصیل، ستانېکزی او ګرزيواني اصلاً د خپلو قومونو په استازۍ کېنول شوي وو، خو دوی يو هم د خپلو قومونو ښه استازي ونه کړه. ګرزيوانی اصلاً د (عزيزالله لودين) له خوا دې ځای ته راوړل شوی و، د هغه د کم کارۍ سيوري هم پرې خور و او معنوي خو بيا له لودين څخه د غچ اخيستلو په پلمه ده ته هسې هم خپله توره ښه تېره کړې وه، ګرزيواني هم له همدې وېرې په کمېسيون کې غږ نه شو پورته کولای.

**٧- فضل احمد معنوي:** ښاغلی فضل احمد معنوي نو د کمېسيون اووم غړی او رييس دی، دی له مانا او محتوا څخه ډک دی، لکه څنګه چې نوم يې معنوي دی، همداسې يې هر عمل او هر کار، هر چلند، انداز او خندا ټول له مانا څخه ډک دي .له مانا او محتوا به ولې ډک نه وي، چې د فهيم خان،


(فضل احمد معنوي)

بسم الله خان، امرالله خان او نورو خانانو د خپلولۍ وياړ لري، د رباني او سياف، محقق او خليلي روحاني(!) لاسونه يې هم پر سر خواره دي، د پنجشېر هم دی، کومه ګوته جهاد يې هم کړی، نو چې هم د پنجشېر وي، هم يې جهاد کړی وي، ((مقاومت)) خو يې لا بل کمال دی، نو چې رباني، مارشال(!)، سياف، محقق او خليلي يې وړانديز کړي، نو کرزی بيا څوک دی چې نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مني؟ د کرزي د چپنې سیورې هم پرې خور دی. خدای نو معنوی صیب ته پاچاهي ورکړې. پخوانیو خلکو ډېره ښه تجربه لرله، ویل به یې چې: ((خدا زن را ملا نسازد و ملا را پاچا) دې متل کې یو حکمت پروت و او دې حکمت یو ځل بیا خپل عملي ثبوت وړاندې کړ. ومو لیدل ملا چې پاچا شو، د خلکو ژوند په کوم حال شو؟ معنوي صیب تر دې دمخه هم د کمېسیون غړی و، د جمهوري ریاست په تېرو ټاکنو کې یې په زغرده د عبدالله عبدالله ملاتړ کاوه، خو د کرزي صیب سترګې له خاورو ډکې وې، د دې پرځای چې سزا ورکړي، نور یې هم پسې لوړ کړ. ټولې دنیا پر هغه کمیسیون تور ولګاوه چې د جمهوري ریاست په ټاکنو کې یې درغلي کړې ده، خو یوازې معنوي صیب پاک راووته، ځکه چې هم ملا و هم معنوي و، هم د پنجشېر و، هم د دنیا ملاتړ ورسره و او هم د اخرت. په دې ډول نو د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون د یوې خپلواکې فرښتې(!) خاوند شو. دې فرښتې نو بیا له نورو فرښتو(!) سره یوځای د انتخاباتو په بهیر کې په خپلو پاکو(!) ګوتو، د خپلو پلویانو بکسونه ډک کړل او رښتیا هم پاک، صفا او شفاف(!) انتخابات یې وکړل چې ټول دنیاوال ورته ګوته په غاښ شول!!

۸- **عبدالله احمدزی:** ښاغلی عبدالله احمدزی په دې خاطر دې مقام ته ورسېد چې د ټاکنو په کمېسیون کې په اصطلاح قومي توازن برابر شي، خو ده په همغو لومړیو ورځو کې له معنوي سره لاره ونیوله. معنوي پرې ترحم وکړ؛ په انتخاباتي شرکت کې یې ورته تقریباً یوه مناسبه برخه ومنله، په وکیلانو کې یې هم له ونډې بې برخې نه کړ، ورته یې وویل: ((کوچیان ټول ستا، څوک چې راولې خو په نورو برخو کې به لاس نه وهې.)) معنوي پر احمدزي ځکه د کوچیانو سېټونه ولورول چې په هغو کې هسې هم تاجک او هزاره نه شو



(عبدالله احمدزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتللای. احمدزي ته دا فرصت هم ډېر غنیمت و .ویل کېږي چې په کوچیانو کې یې لومړی د خپل یوه نږدې خپلوان راتگ خوندي کړ او نور هم د ده له خوښې سره سم راغلل. ویل کېږي چې په اقتصادي برخه کې معنوي یو پر دوه (۱/۲) برخه ورکړه، ځکه چې ټول مصارفي بلونه د ده له لارې تېرېدل. خیر نو چې خبره دې حد ته ورسېده اوس مجبور یو د دې عجایبو او غرایبو ترکیبب ته لږ نور هم تم شو.

ډېټابېس: د ټاکنو په ټول سیستم کې تر ډېټابېس بله مهمه څانگه نه وه، په دې سیستم کې معنوي زیاتره خپل کسان ځای پرځای کړي وو، خو دا یې اکثره د احمدزي په لاس مقرر کړي وو. په ډېټابېس کې ټولټال (۳۷۰) کسانو کار کاوه، په دې کې (۲۲۰)تنه تاجکان وو چې اکثره یې د پنجشېر، کاپیسا او پروان وو، له معنوي سره یې قومي، خپلولیز او تنظیمي اړیکي درلودل او حساس ځایونه یې په لاس کې وو. نوي (۹۰) تنه پښتانه وو چې هغه هم اکثره د احمدزي او اصیل صیب په شان وو او په گوته راټول شوي وو، یو تن یې پشه یي او پاتې نور نهه پنځوس (۵۹) تنه یې هزاره گان وو. د ډېټابېس واک په بشپړ ډول له معنوي سره و او احمدزي په کې د یوه تابع مامور په توگه کار کاوه. د دې کارکوونکو د څار لپاره د سوپروایزرانو ډله وه چې هغو کې نو بیا ډېر کم بل څوک وو، نږدې په سلو کې (۹۰) تاجکان په تېره بیا د پنجشېر او پروان اوسېدونکي وو، دا نو بیا معنوي یو یو لکه گلچین په گوته راټول کړي وو. یوې ډلې به له سهاره کار پیل کړ بیا د شپې تر (۹) بجو پورې، د شپې (۹) بجې به دا ډله ان د کمشنرانو په گډون رخصت شوه، بیا به بل شفټ کار کاوه او یوازې هغو سوپروایزرانو به څار کاوه چې د معنوي له خوا به په جدول کې ځای پر ځای شوي وو. په دې ډول د ده لاس ازاد و چې څه یې زړه غوښتل، ډېټابېس کې همغسې اعیارېدل. نه کمشنرانو د دې وړتیا او جرئت درلود او نه پرې پوهېدل چې پوښتنه وکړي او نه هم معنوي دوی ته حق ورکاوه. سربېره پر دې، معنوي صیب د دستیارانو او خاصو مشاورانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توگه هم یو شمېر اشخاص، چې د دارالانشا په چوکاټ او تشکیل کې نه وو، مقرر کړي وو، مشاورانو ته یې دوه دوه زره (۲۰۰۰) ډالره معاش حواله کړی و. په خاصو مشاورانو کې یې ښاغلی (جلال) او بل ښاغلی (برمک) د کلیو د پراختیا وزارت د مرستیال ورور هم شامل وو. (ډاکټر مبین پنجشېری) یې بیا خاص دستیار و، د دفتر رییس یې (اغا صیب) هم پنجشېری و چې د معنوي د مالي معاملو خاص واک او راز ورسره و، کله چې انتخابات خلاص شول، نو اغاصیب جرمني ته وتښتېد او هلته اوس خپل عبادت(!) ته دوام ورکوي.

تر ټاکنو وروسته نور څه وشول؟: په ټاکنو کې چې کومې درغلۍ او معاملې وشوې، هغه خو ټولو ته څرگندې دي او دا لیکنه یې د بیا بیان وس نه لري، خو تر ټاکنو وروسته هم د معنوي او احمدزي د دوستۍ تار سست نه شو. معنوي او احمدزي یوه ورځ د کمشنرانو په غونډه کې دا موضوع مطرح کړه چې ملگري ملتونه پیسې راکوي او پیسې تیارې لرو، کمشنران صاحبان هره ورځ دې رسمي دفتر ته نه شي راتللای، نو ښه به وي چې (قلعه فتح الله) یا (کلوله پشته) کې یو مصئون ځای ونیسو، کمشنران صاحبان به هلته راځي، استراحت به هم کوي او له مهمو اشخاصو سره به ملاقاتونه هم کوي، کمشنران چې د یو لوی ملي خدمت (!)له امله ډېر ستړي شوي وو، نو دا زېری پرې ډېر ښه ولگېده. احمدزي او معنوي تیاره خبره مخکې جوړه کړې وه، د قلعه فتح الله په (۷) سړک کې یې یو حویلی د میاشتې په اته زره (۸۰۰۰) ډالره کرایه ونیو، (۳۰) نفره یې ورته د خدمې په توگه منظور کړل، چې نیم د احمدزي سهم شو او نیم د معنوي، دغه راز (۳۰) تنه ساتونکي، چې هغه هم د وروړې په حساب نیمايي شول. دا حویلی نو یو ښه حوض او (سونا) حمامونه لري. خو له کومې ورځې چې دا حویلی نیول شوی، نو له احمدزي او معنوي پرته یو کمېشنر هم حق نه لري چې هلته لاړ شي، دا نو بیا د دې دواړو ښاغلو د راحت، ملاقاتونو او ځانگړو پروگرامونو ځای دی، چې له مهالوېش سره سم هلته خپل کارونه او پلانونه پرمخ وړي. ویل کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د کمېسیون په پیسو د کابل په مکروریانو کې عبدالله احمدزي ته په یوولس سوه (۱۱۰۰) ډالرو یو بل کور هم په کرایه نیول شوی، خو عبدالله احمدزي بیا هغه کور بل چاته په کرایه ورکړی او دا پیسې هم د ده جیب ته ځي، په دې مانا چې کور له اصلي سرې څخه په کمه کرایه نیول شوی، خو دفتري کرایه یې یوولس سوه (۱۱۰۰) ډالر ښودل شوې او احمدزي بیا همغه کور بل چاته په کرایه ورکړی دی.

د انتخاباتو په پیل کې دفتر ته پنځه زغروال (مرمۍ ضد) ګاډي واخیستل شول، (درې) معنوي ځانته واخیستل او (دوه) عبدالله احمدزي ته پاتې شول، (اته) لنډکروزره هم واخیستل شول. یو معنوي، یو احمدزي او شپږ نورو کمشنرانو ته ورکړل شول. معنوي صیب سره اوس درې زغروال (مرمۍ ضد) ګاډي دي، یو د پولیسو رنجر مخکې او یو لنډکروزر شاته ورپسې روان وي، احمدزی صیب هم داسې دی، خو یوازې مرمۍ ضد موټر یې دوه دي، معنوي او احمدزی یوه وړه پاچاهي جوړه کړې ده. د ټولو لنډکروزرو موټر پر سر (کوډان) مخابرې نصب وې، خو د معنوي او احمدزي په خوښه پر همغه اوله ورځ د شپږو کمشنرانو له موټرو دا مخابرې لرې او یوازې د دوی پر موټرو پاتې شوې، وروسته په کمېسیون کې داسې اوازه هم خپره شوه، چې دا مخابرې طالبانو ته د خرڅلاو لپاره وړاندې شوي. معنوي بیا تر احمدزي یو بل ګام هم دمخه دی، ویل کېږي هغه خپل زوی ته هم، چې د کابل پوهنتون محصل دی، یو لنډکروزر ورکړی چې پوهنتون ته یې وخت پر وخت رسوي چې درسونه ترې قضا او تر سیالانو شاته پاتې نه شي او هم یې انډیوالان په تکلیف نه شي، د دې موټر تېل هم د کمېسیون له خدماتي ځانګې څخه د خدای په فضل حواله دي. ښه ده چې د معنوي صیب موټر نوي دي، عوارض نه لري، تېل کم خوري یو موټر یې په اوونۍ کې ایله (یو زر لیتره تېل خوري). یو ځل څارنوال د معنوي صیب له ډرېور څخه پوښتنه کړې وه چې دا تېل زیات نه دي؟ هغه ورته وویل: ((معنوي صیب شپه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جلسو کې وي او موږ باندې ولاړ یو، لمر ته خو نه شو ودرېدلی، که موټر ولاړ هم وي ایرکنډېشن خو یې چالان وي.)) احمدزی هم د معنوي سیال دی، یوازې په سیاسي ډگر کې یې شعور ترې کم دی، په اقتصاد کې ترې ډېر شاته پاتې نه دی، یوازې یو پر دوه (۱/۲) برخې تفاوت لري.

د انتخاباتي نتیجو تر اعلان دمخه به معنوي وخت پر وخت د امریکا او انگلستان سفیرانو، د یوناما له مشر او نورو بهرنیانو سره کتل، د هغوی نظرونه به یې اخیستل، د پښتنو د استازو په راکمولو کې دوی ټول هم نظره وو .بهرنیانو معنوي ته دا ډاډ ورکړی و چې حکومت دې موږ څخه نه شي بندي کولای، څه چې غواړې هغه وکړه. دواړو خواوو دې ته ملاتړلې وه چې د پښتنو شمېر بنه راکم کړي. د (غزني) پر نتایجو بهرنیانو هم ډېر ټینگار کاوه چې ژر باید همدا نتایج ومنل شي. دوی خپل کار وکړ، خو وروسته د معترضو کاندیدانو اعتراضونو او د محاکمو او نورو کړیو اقدام د معنوي غرور یو څه مات کړ، بهرنیان هم هغه پخواني پوزېشن کې نه دي. معنوي له یوې خوا له گټونکو کاندیدانو سره ژمنه کړې او هغوی ته یې د کامیابۍ تضمین ورکړی او له بلې خوا د معترضو کاندیدانو تر فشار لاندې دی، د محکمې پرېکړه هم غوڅه وه، له دې ټولو جنجالونو څخه معنوي غواړي یو ځل بیا د ځان لپاره گټه پورته کړي. د کمېسیون له خوا پخوانیو بریالیو کاندیدانو ته وایي، ما خو ډېر زور وواهه خو نور مې وس نه و، نو ځکه مې یو څه تغیرات راوړل، ولسمشر کرزي ته وایي چې دا دی ستا غوښتنې مې هم یو څه ومنلې؛ د فرمان یوه برخه مې عملي کړه، جنجال مې حل کړ، نو د دې په بدل کې خو یو څه راکړه، کېدی شي ولسمشر پرې بیا یو څه ولوروي.))

ما دلته د ښاغلي (احمدزي) د هغې لیکنې لنډیز راوړ چې په بېلابېلو وېبپاڼو کې خپره شوې ده. په دې لیکنې کې نور ډېر جزئیات هم وو، له هغو څخه مې ډډه وکړه، ځینې کلمې یې چې ډېرې تېزې وې، په هغو کې مې یو څه بدلون راوړ، خو بیا هم که تر دې مې ډېر تغیر په کې راوړی وای، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکنې اصلي محتوا کې بدلون راته.

حقیقت خو همدا دی چې د معنوي صیب تر مشرۍ لاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون، خپله دنده په ښه ډول تر سره نه کړای شوه، کمېسیون خپل ناپېیلتوب ونه ساتلای شو، ټاکنې په عادلانه ډول تر سره نه شوې، نو ځکه خو ناعادلانه نتیجې یې وزېږولې او د دې نتیجو په نتیجه کې چې نورې کومې ظالمانه نتیجې رامنځته کېږي، په دې ټوله ګناه او خطا کې ورسره معنوي صیب او د کمېسیون نور غړي شریک ګڼل کېږي.

دا او دېته ورته یو شمېر نور تحلیلونه او د بېلابېلو اشخاصو معتبرې لیکنې او تحلیلونه مې د خپل دفتر مشرانو ته لېږلي چې هغوی یې جمهور رییس ته ورسوي. د دې لیکنو یا تحلیلونو له جملې څخه د ډېرو کمو احوال راغی چې جمهور رییس پرې خبر شوی، خو د تائید، رد او عملی کولو په باب یې د کوم څرک درک ونه لګېد، خو ما د یوه افغان په توګه خپله غاړه پرې خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسم څپرکی

# ولسمشر او ولسي کتنې

حامدکرزی داسې ولسمشر دی چې ټولنیز اړیکي یې کېدی شي د نړۍ تر بل هر ولسمشر څخه زیات وي. دی ممکن داسې یو بې مثاله ولسمشر وي چې تر انفرادي او رسمي ملاقاتونو یې ولسي او ډله ییز ملاقاتونه تر حده زیات دي. داسې ورځ به نه وي چې ولسمشر دې د غرمې ډوډۍ پر سر او یا هم تر هغه دمخه او وروسته ملاقاتونه ونه لري. اکثره دا ډول ملاقاتونه له ولسي خلکو سره وي چې یا د خپلو محلي مشکلاتو په حل پسې راغلي وي او یا هم له خپلو سیمه ییزو واکمنو سر ټکوي. ولسمشر تر رسمي کتنو په دې ډول کتنو کې ډېر زیات خوشاله وي او ځان ډېر راحت احساسوي. زه چې



(ولسمشر حامد کرزی یوې ولسي غونډې ته په خطاب کې)

کله د امنیت شورا دفتر کې مقرر شوم، نو په دې ډول ملاقاتونو کې مې برخه اخیستله، ما سره هم هیله وه چې که خدای کول وطن جوړېږي؛ ولس او حکومت سره پیوندېږي. په لومړیو میاشتو او کلونو کې دې ډول غونډو ته تللم، قلم او کتابچه به راسره وو، راپور مې لیکه او دفتر کې مې خوندي کاوه. له ما پرته هېڅا هم د دې ډول غونډو مینوټ (یادښت) نه اخیسته. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library




**ان په امنیت شورا دفتر کې تر دندې دمخه هم یو نیم یادښت لیکلی و. زما لیکنې وروسته په دفتر کې له ما پرته بل چا نه کتلې، ورو ورو زه هم لکه د دربار د نورو مامورینو په څېر شوم، کله کله به ورتلم، د غرمې ډوډۍ به مې هملته خوړه او له کوم یادښت پرته به بېرته راتلم، دلته به د خپلو لیکلو راپورونو له جملې څخه یو څو د بېلگې په توگه راوړم، خدای دې وکړي د تاریخ د یوې پاڼې په توگه د دې زمانې ځینې حقایق او پېښې راتلونکي پښت ته خوندي او ور انتقال کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پکتیکا د یوه قومي مشر اعتراض او د ولسمشر غبرګون

د انتقالي ادارې وروستي وختونه وو، دا مهال زه په جلال اباد کې اوسېدم، د ولسمشر سکرتر ښاغلي (شیدا محمد ابدالي) ماته زنګ وواهه چې رییس صیب وایي سبا کابل ته راشه! سبا کابل ته لاړم، ارګ ته د دخول ټول شرایط مې پوره کړل، ماسپښین یوه بجه وه، ولسمشر معمولاً د ماسپښین لمونځ کوي او بیا خلکو سره هم ډوډۍ خوري او هم مجلس کوي، د ارګ تر چنارونو لاندې جرګه وه، د پکتیکا د ولسونو مشران راغلي وو، اکثره په کې د ږیرو او غټو لونګیو والا خلک وو، د رییس صیب سکرتر راته پیغام راولېږه چې رییس صیب وایي، تا سره تر جلسې وروسته ګورم، خو که غواړې ته هم



(ولسمشر حامد کرزی)

په جلسه کې کېناستلای شې، زه هم لاړم د پکتیکا د خلکو د جلسې په یوه ګوټ کې کېناستم، ډوډۍ وخوړل شوه، تر ډوډۍ وروسته جلسه پیل شوه، تلاوت وشو او بیا یو تن نیم د خپلو محیطي مشکلاتو په باب خبرې وکړې، د محیطي مشکلاتو په اړه هم سم تفاهم ونه شو، ځکه هغو خلکو چې د کومو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمو او کومو مشکلاتو نومونه اخیستل، ولسمشر ته عام فهم نه وو، ځینې ځایونو کې د شخص او سیمې نوم یو شان و، دوی به له شخص څخه شکایت کاوه، هغه به د سیمې نوم و او یا به یې ویل چې دلته امنیتي مشکلات دي، د هغه سیمې نوم به داسې و چې لکه کوم شخص وي، دې حالت ولسمشر ته د سمې پوهې شرایط برابر نه کړل، خو یو دوه تنو چې خبرې وکړې، اصلي خبره په کې امنیتي مشکلات وو او دغه راز په حکومت او په تېره بیا په ګمرکونو کې د خلکو نامناسبه ونډه وه. دا مهال یو مشر پورته شو، ویې ویل: ((رییس صیب زموږ خپل مشکلات خو به هر څه وي، دې مشرانو درته څرګند کړل، خو زه غواړم د مملکت په سطحه مشکل درته ووایم، که هغه مشکل حل شي زموږ د پکتیکا مشکل هم ورسره حلېږي او که هغه حل نه شي، نو زموږ مشکلات به هم همداسې وي، لکه همدا اوس چې دي. مشکل په افغانستان کې د ملېشو دی او پخوانیو ټوپکیانو، همدا ملېشې دي چې پخوا یې هم وطن وران کړی او اوس یې هم ورانوي، څو ورځې وړاندې دا جنرال دوستم یوځل بیا اعلان وکړ، تاسو او امریکایانو ته یې وویل چې ماته دېرش زره عسکر راکړه، زه طالبان درته کندهار نه هم ځغلوم او ملا عمر درته ژوندی نیسم، دا خبرې ښې نه دي، دا خلک یو بل ته معلوم دي چې طالب څوک دی او دوستم څوک دی، دا دوستم خو لا دېرش زره عسکر غواړي، زه تاته وایم چې ماته ته لس زر عسکر راکړه، زه درته دا دوستم بېخي له افغانستانه شړم، والله که خو ما نه دلته شپه وکړي...)) دې خبرو سره یو شمېر خلکو چکچکې هم وکړې، خو ولسمشر سملاسي پاڅېده ویې ویل: ((وه ورورە، وه ورورە دا خبره مه کوه، دې نه د جګړې بوی راځي، دا د (ای ایس ای) خبرې دي، کېنه غلی، کېنه، پر ځای دې کېنه، دلته د ای ایس ای خبرې مه کوه...)). ښاغلی کرزی پر دې سړي باندې ډېر په قهر شو، هغه غلی شو، دې وخت کې کرزي صیب غوښتل چې مجلس پای ته ورسوي: ((ښه نو په خبره پوه شو سره، بیا به بل وخت ګورو سره، نو زه درڅخه ځم...)) دې وخت کې یو بل مشر پورته شو، ویې ویل: ((رییس صیب خیر دی که زموږ په خبرو خفه شوی یې، موږ ستا رعیت یو، کشرانو څخه اشتباه کېږي خیر دی، که زموږ دې ملګري یوه اشتباه وکړه، ته یې وبښه، موږ د ده له خوا له تا څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښنه غواړو، مشران خو تل پر کشرانو شفقت کوي، خير دی چې يوه اشتباه وشوه...)) دا مهال کرزی صيب يو څه نرم شو. ((ښه نو داسې خبرې په کار نه دي.)) بيا هغه شخص پورته شو، ويې ويل: ((زه ښښه غواړم چې تاسو زما په خبرو خفه شوئ، زما مقصد دا نه و چې څوک دې خفه شي، اوس نو زه ډېره ښښه غواړم...)) بيا يو دوو کسانو خپل محيطي مشکلات مطرح کړل، خو محفل ډېر پيکه پای ته ورسېد. کله چې محفل ختم شو، نو د پکتيکا خلکو څو تنو په خپل منځ کې وويل: ((پر پلار دې زموږ لعنت شي چې موږ دې غونډې ته راغلو، زموږ طمع وگوره او د ده دا چلند...)). ولسمشر مخکې امنيتي کسان ورپسې او زه يې هم تر شا روان شوم، گلخانۍ ماڼۍ ته چې ورسېدو، نو ولسمشر غږ کړ: ((يون صيب دې راشي نور څوک دې نه راځي)). هلته چې پورته شو، نو ولسمشر خپل دفتر ته لاړ او زه باندې په انتظار خونه کې کېناستم، دا مهال نو د ولسمشر امنيتي گاردانو يو بل ته وويل: ((گپهای رييس صاحبه شنيدی؟)) هغه بل وويل: ((آ، بلی شنيدم، )) دې بل وويل: ((خوب جواب اش داد، اينها کل اش ای ايس ای است، اگر اين گپهای رييس صيب دريادش باشد، در عمر خود شايد نام جنرال دوستم را نگيرد، يارا دلم را سرش يخ کرد.)) تر يو څو دقيقو انتظار وروسته يې ملاقات ته وروبللم، رييس صاحب لا هم غوصې نيولی و، ما غوښتل چې خبره بلې خواته بوځم، ما ويل رييس صيب خيريت خو و، د څه لپاره مو راغوښتی وم؟ له جلال اباد څخه راغلم. ده ويل ښه جلال اباد کې قراري وه، ما ويل، هو خيريت دی، د خدای فضل دی، ده ويل هو راغوښتی مې وې، دلته يو متن و، ما ويل چې هغه وگورئ، اصلاح يې کړې، خو ښه و، څوک پيدا شول هغه يې وکوت، خلاص شو! ما ويل ښه دی که څه ضرورت وي، نو زه په خدمت کې يم، ده وويل، نه کور ودان که بيا ضرورت و شيدا محمد به درته زنگ ووهي، يو څو دقيقې نور ورسره کېناستم، نوره نو کومه مشخصه اجنډا نه وه، تر يو گيلاس چای څښلو وروسته ورته نور مېلمانه راغلل او زه ترې رخصت شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بادغیس د یوه مشر فریاد


د ولسمشر کرزي د لومړۍ دورې لا کال دوه نه وو تېر شوي چې د خلکو هغه پخوانۍ هیلې ورو ورو له ستونزو سره مخامخېدلې، د خلکو پرله‌پسې ملاقاتونو دوام درلود. یوه ورځ د بادغیس ولایت خلک د ولسمشر لیدو ته راغلي وو، خلکو په ترتیب سره خپلې ستونزې وړاندې کړې، اکثره ستونزې د امنیتي مشکلاتو، د خپلسرو عملیاتو، پخوانیو تنظیمي بدیو، د کار روزګار د نشتوالي له امله وې، چې ولسمشر ورته هم د تائید سر خوځاوه، دا مهال یو سپین ږیری پورته شو، له (بالا مرغاب) ولسوالۍ څخه و، فکر کوم پخوا د حکمتیار د اسلامي حزب قومندان و، له کومه وخته چې د طالبانو نظام ړنګ شوی و، نو ده وسله پر ځمکه ایښې وه، خپل ورځنی کاروبار یې کاوه او له دې حکومت سره هم همکار و، دا سپین ږیری جګ شو، ویې ویل: ((رییس صاحب زه له تا څخه څه نه غواړم چې دا راکړه او یا دا راکړه، زه تا څخه خپل عزت غواړم، خپل عزت، موږ ستا پاچا کېدو ته خوشاله وو، موږ وویل عزت به مو خوندي شي، په هغه ورځې چې انتخابات وو، لمسی مې پر اوږو کېنولی و، انتخاباتو ته لاړو لمسی مو پر اوږو و، چکچکې یې وهلې، ډېر زیات خوشاله و، ما تاسو ته رایه درکړه، زړه مې له خوشالۍ ټوپونه وهل، خو له هغې ورځې چې تاته مې رایه درکړې ده، له همغې ورځې مې ارامه شپه نه ده تېره کړې، هره ورځ ستا امنتیان راځي، وهي مې، ټکوي مې، یو زوی یې راته شهید کړ، د همغه لمسي په مخ کې یې ووهلم چې د انتخاباتو په ورځ مې پر اوږو ناست و...)) دا مهال سپین ږیري نور ځان ټینګ نه کړ، په ژړا شو، څو شېبې سلګو ونیو، کله چې یې سلګۍ غلې شوې نو ویې ویل: ((رییس صیب زه نوره ګناه نه لرم، ګناه مې دا ده چې یو خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون یم، بل پخوا په حزب اسلامي کې وم او بل مې تاته رایه درکړې ده، هلته په امنیت او پولیسو کې یا د دوستم خلک دي، یا جمعیتیان دي او یا نور گډوډ خلک، له خلکو سره دومره بده وضع کوي چې په لوی لاس خلک مجبوروي چې غره ته پورته شي.))

د ولسمشر تر څنگ دا مهال په ملي امنیت کې د همغې ډلې خلک ناست وو، چې سپین ږیري ترې شکایت درلود، جمهور رییس سپین ږیري ته وویل:((کېنه، کېنه، پوه سو سره، په خبره مې سر خلاص سو)) سپین ږیري دا مهال بیا وویل: ((موږ دې نه مجبوروي چې بیا وسلې ته لاس کړو. والله په



(ولسمشر حامد کرزی)

بالله چې هلته نه طالب شته، نه د دولت بل مخالف، همدا خلک دي چې په زوره خلک مخالفت ته مجبوروي، خلک په زوره غره ته خېږوي، زموږ گناه دا ده چې ولې مو تاته رایه درکړې ده.))

ولسمشر د دې پر ځای چې سپین ږیری ته ډاډ ورکړي او تر څنگ یې خپلو ناستو امنیتي چارواکو ته هدایت ورکړي، ویې ویل: ((په خبرو پوه سو سره، په خبرو پوه سو سره...)) غونډې څو شېبې نور هم دوام وکړ او بیا همداسې د مایوسۍ په شېپو کې پای ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر، د خبریالانو استازي او یوه هیله

د (۱۳۸٦ل) کال د سرطان (۲۲) مه نېټه وه. له ولسمشر سره د ځينو خبريالانو د استازو ملاقات وشو. په دې ملاقات کې د ژورنالیستانو د صنفي ټولنو استازو هر یو: (رحیم الله سمندر، دانش کروخېل، ضیا بومیا او اسدالله غضنفر) گډون درلود. د ژورنالیستانو پر استازو سربېره په فرهنگي چارو کې د ولسمشر مشاور وزیر سرمحقق زلمي هېوادمل، د اطلاعاتو او کلتور وزیر کریم خرم او د ملي امنیت شورا د فرهنگي چارو رییس ما (محمد اسمعیل یون) گډون درلود.

د غونډې په پیل کې ولسمشرښاغلي حامدکرزي د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن د گډې جرگې د څرنگوالي او اهمیت په باب هر اړخیزې خبرې وکړې او د هېواد روان حالات يې وارزول، بیا ژورنالیستانو د حالاتو د ښه والي په لاره کې جمهور رییس ته د خپل ملاتړ ډاډ ورکړ او د دولت له خوا د دولت د یوه تن نیول شوي کارکوونکي او ژورنالیست (اصف ننگ) د خوشې کولو غوښتنه يې وکړه، په پای کې جمهور رییس ژمنه وکړه چې (اصف ننگ) به له قید څخه ازاد کړي.



(محمد اصف ننگ)

دلته د دې خبرې یادونه په کار ده چې ښاغلی محمد اصف ننگ ولې ونیول شو؟ کیسه داسې وه چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن د گډې جرگې د جوړېدو لپاره د تدارک یو کمېسیون جوړ شوی و، اصف ننگ د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کمېسیون فرهنګي چارې پر مخ وړلې، د دې کمېسیون مجله یې هم چاپوله او هم یې د جمهوري ریاست د چارو په اداره کې د فرهنګي چارو مسؤلیت درلود، تر دې دمخه د مجلې کومه ګڼه چاپ شوې وه، د مجلې مسؤلیت هم د ننګ پر غاړه و. کله چې جرګه رانږدې کېدله، نو په همدې شپو او ورځو کې د مجلې یوه بله ګڼه هم چاپ شوه، په دې ګڼه کې یو امریکایي لیکوال چې پخوا کوم کتاب چاپ کړی و، د (تېلو جګړه) او که کوم بل نوم یې درلود، له دې کتاب څخه کوم ایرانی لیکوال په فارسي ژبه کومه برخه ترجمه کړې وه، د دې لیکنې محتوا دا وه چې د افغانستان اوسنۍ جګړه همغه د تېلو د جګړې تداوم دی او امریکایان دلته خپلې ګټې لري او په خپلو ګټو پسې راغلي دي. کله چې مجله چاپېدله، نو د مجلې کومه برخه یا یو مخ سپین و، د مجلې کوم ایډیټر د مجلې د همدې برخې د ډکېدو په خاطر د کتاب همدا برخه چې تیاره په انټرنېټ کې وه، اپډیټ او بیا لیکلو ته یې هم هېڅ اړتیا نه وه، کاپي پېسټ کړې او مجله کې یې اچولې وه. اصف ننګ پرې هېڅ خبر نه و، کله چې دا مجله چاپ شوه، ورځ دوه وروسته ارګ ته راورسېده او بیا ولسمشر ته ورسېده، نو یوه غوغا یې جوړه کړه، ډاکتر سپنتا چې دا مهال له پارلمان څخه نباوره شوی و؛ د بهرنیو چارو سرپرست وزیر ګڼل کېده او له فاروق وردګ سره، چې دا مهال د چارو د ادارې لوی رییس او د امن د ګډې جرګې د تدارک د کمېسیون د دارالانشاء مشر و، پخوانۍ سیاسي کینه او اوسني رقابتونه درلودل او همدارنګه یو شمېر نورو کړیو دې مسئلې ته زیاته هوا ورکړه او دې کار کې یې د پاکستان څارګره اداره (ISI) دخیله وګڼله.**

**ولسمشر په دې پلمه چې دې کار د (امن ګډې جرګې) ته زیان رسولی، سملاسي یې د اصف ننګ د نیولو امر ورکړ. ننګ ډېر ژر د امنیت ریاست له خوا ونیول شو. دې موضوع ته په رسنیو کې دومره هوا ورکړل شوه چې تا به ویل کومه غټه سیاسي موضوع پېښه شوې ده، افغان ضد، جمعیتي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ستمې رسنیو او یو شمېر مغرضو کړیو په خپلو رسنیو کې همدا لیکل: ((جاسوس ای، ایس، ای دستگیر شد)) ((جاسوسان پاکستان باید دستگیر شود، لانه های جاسوسی پاکستان افشا میگردد...)) ماته چې ټوله قضیه معلومه وه او د امن ګډې جرګې په بهیر کې له سره دخیل وم، نه د (ای، ایس، ای) کیسه او نه هم کومه بله توطیه وه، یوازې ایډیټر د وخت د کمښت له امله له یوه کتابه یو متن راخیستی و، هلته نه دومره پرسونل و، چې ټول هر څه یې په دقت سره کتلي وای، نه کومه توطیه وه او نه هم کومه قصدي هڅه، خو دې نورو ترې دومره غټه خبره جوړه کړه چې تا به ویل، په کابل کې یې د کوم ګاونډي هېواد کوم غټ چارواکی نیولی دی. د (اصف ننګ) د دې خبرې ټول داستان ما د امنیت شورا مرستیال انجنیر محمد ابراهیم سپین زاده ته تېر کړ، هغه وویل که داسې وي، نو دا سړی خو بې ګناه دی، ما ته یې وویل، څه وکړو؟ ما ویل، ښه ده چې ولسمشر څخه وخت واخلې، زه، تاسو او ډاکتر صیب فاروق وردګ به ورشو او زه به دا ټوله کیسه ورته وکړم. هغه وویل، ښخې سمه ده. د همدې ورځې پر سبا زه (یون)، انجنیر صیب ابراهیم او ډاکتر صیب فاروق وردګ د ولسمشر حضور ته ورغلو، ما مخکې تر دې چې ولسمشر ته ورشو، ډاکتر صیب فاروق وردګ ته وویل چې ته خبرې مه کوه، نن ستاسو ټولې خبرې زه کوم، ډاکتر فاروق وردګ خورا په قهر و، کله چې ولسمشر ته ورغلو، درې واړه ولاړ وو، هغه وویل، کېنئ، ما ورته وویل، زه دا کیسه درته کوم، کیسه مې ټوله ورته وکړه، ما ویل ځینې خلک له ډاکتر صیب فاروق وردګ سره سیاسي او شخصي کینه لري، غواړي هرې موضوع ته بل رنګ ورکړي، څرنګه چې د جرګې د جوړېدو کار د ده پر غاړه دی، نو ځکه خو تر جرګې وړاندې د ده د بدنامولو او ناکامولو هڅې کېږي، ولسمشر وویل، دا کار د کولو دی چې دوی کړی دی؟ ما وویل، دوی کله کړی دی، یو عادي کارکوونکي یوه لیکنه را اخیستې ده، نو د هغه پرځای دوی ټولو ته سزا ورکول کېږي او دومره غټه پروسه ورسره بدنامېږي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت کې ډاکتر صیب فاروق وردګ وویل: ((رییس صیب د یوه دوو خبرو اجازه راکړه: دېرش ډزې دې ویشتلای وای، ښه وه، نه دا چې د پاکستان د جاسوسۍ تور راباندې ولګوې، همدا اوس توپک راواخله دېرش ډزې مې وولي، خپل خون مې درته ښلی، خو د پاکستان د جاسوسۍ تور نه شم زغملای، له همغه شي سره چې مخالف یم، د همغه تور راباندې پورې کېږي، رییس صیب په ډېرې ایمانداری مې تر دې دمه دنده اجرا کړې، په مهاجرت کې د سویډین موسسې څخه نیولې بیا تر دې دمه که یو ذره خیانت چا راباندې ثابت کړ، بیا دې هرې سزا ته تیار یم، په ډېره ایمانداری مې دې وطن ته خدمت کړی، اوس نه غواړم چې د چا د جاسوسۍ په تور بدنام شم. ما ته یو ځل اجازه راکړه چې دغه جرګه بریالۍ کړم او ستا شمله یو ځل بیا جګه کړم، بیا یوه ورځ هم په دې حکومت کې کار نه کوم، ان چې پر دې خپل ځای مې هم مقرر کړې، یوه ورځ هم په دې حکومت کې نه پاتې کېږم.)) دې وخت کې بیا ولسمشر وویل: ((ګوره! ځومره اعتبار مې درباندې کړی دی، هر څه ستا په لاس کې دي، درته نه مې ویلې چې تا د خپل امنیت د رییس په توګه مقرروم، ځومره اعتبار مې درباندې کاوه، خو تا ویل چې نه یې کوم، خو اوس دا کار د کولو و چې تاسو وکړ؟ هر څه چې دې کړي ښه دې نه دي کړي، باید دا کار نه وای شوی، اوس چې جرګه د جوړېدو په درشل کې ده، د دا ډول شیانو خپرول څه مانا لري؟ پاکستان ته داسې پلمه په لاس ورکول چې دا ملک اشغال دی، هغه به وایي چې اشغال دی، بیا نو جرګه راسره څه ته کوئ؟ ځئ هر څه چې شوي ښه نه دي شوي، یوه چاره به وکړو، اوس ځئ خپل کارونه سم کړئ!...)) دې وخت کې ما وویل: ((ریس صیب ډېره ښښنه غواړم، دغه سړي (فاروق وردګ) دا اوه اته کاله کېږي چې عسکري یې درته کړې، خشره کاري یې درته کړې، هر سخت کار چې دې ورته سپارلی هغه یې تر سره کړی، خو اوس نه یوازې دا چې د ده خبره نه منل کېږي، بلکې سزا هم ورته ورکول کېږي، هغه څوک چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده مخالف دي، د افغانستان هویت نه مني، په لسګونو ځله یې د (افغان) پر ځای (افغانستاني) او نورې کلمې کارولي، د هغو خبرو ته نن ترجیح ورکول کېږي، دې وخت کې یې وویل، چېرته یې ویلي؟ ما وویل، د بي بي سي فارسي څانګې ته مراجعه وکړئ! او دې سړي خو درته عسکري کړې عسکري. بل په دې ملک کې یوازې د پاکستان جاسوسان شته، که د ایران، روس او نورو هم شته؟ هره خبره چې هر څوک وکړي لاس په پاکستان پاکوي، یوه ورځ هم چا د روسیې، ایران، تاجکستان او نورو هېوادونو د جاسوسانو نومونه وانخیستل، همدا پاکستان دی، پاکستان دی او پاکستان، د نورو هېوادونو جاسوسان هم د پاکستان په نامه یادېږي، عجیبه کار دی، اوس د اصف ننګ په مسئله کې هم د پاکستان د جاسوسۍ خبره ده، مقاله لیکلي امریکایي لیکوال، ترجمه کړې. ایراني لیکوال، چاپ کړې ده یو عادي کارکوونکي، نو دې کې د پاکستان لاس چېرته دی؟ زه نه وایم چې د پاکستان نوم دې نه اخیستل کېږي، وادې خیستل شي، خو هغه ځای کې چې پاکستان دخیل وي، اوس که اصف ننګ نیول کېږي ودې نیول شي زموږ هېڅ اعتراض نه شته، خو دا باید د امریکایي جاسوس(!) په توګه ونیول شي، نه د پاکستاني جاسوس په توګه، ځکه چې لیکنه امریکایي لیکوال لیکلې او بیا ایراني لیکوال ترجمه او چاپ کړې، نه کوم پاکستاني لیکوال، خو څرنګه چې په حکومت کې د امریکا او ایران واک ډېر زیات دی، نو ځکه خو د هغوی نوم څوک نه شي اخیستلای او د هغوی تور هم په پاکستان پورې کېږي، کاشکې دې وطن کې د نورو هېوادونو ګوډاګیان نه وای، یوازې له پاکستان سره خو موږ هر وخت مقابله کولای شو او بیا دا ټوله سلسله ولې فاروق وردګ ته راجع کېږي...)) ما چې په تونده لهجه ولسمشر سره دا خبرې وکړې، چې د ایراني یا امریکایي جاسوس په توګه یې ونیسه، موږ به یې هېڅکله پوښتنې ته درنه شو، ولسمشر هم غلی شو، انجنیر صیب ابراهیم او فاروق وردګ دواړه دا مهال غلي وو، لکه پر اور چې اوبه تویې شي. دې وخت کې ولسمشر وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ځه نو خوشې کوم یې درته)). دې وخت کې یې وویل: ((نورزی صیب (حکیم نورزی) راته رخ کړئ)) نورزی دا مهال د ملي امنیت مرستیال و، بیا یې وویل: ((ځه اوس یې پرېږدي، یوه لاره به ورته پیدا کړو.)) ما ورته وویل لاره دا ده چې د څو مطرحو رسنیو مسؤلین او ځینې مطرح کسان راشي، تاسو څخه غوښتنه وکړي او هغوی غیر له دې هم همدا غوښتنه لري، نو هم به هغوی خوشاله شي او هم به تاسو ووایئ چې د هغوی د احترام په خاطر دې خوشې کړ، ولسمشر وویل، ښځي سمه ده، همداسې وکړئ، دې وخت کې یې خپل سکرتر ته غږ کړ،



(ډاکتر فاروق وردګ)

وخت ورته برابر کړئ، نو پورتنی ملاقات چې په پیل کې یې یادونه وشوه، د همدغه داستان پایله وه.

کله چې د ولسمشر له دفتره راووتلو نو فاروق وردګ راڅخه په لاره کې د زړه له کومې مننه وکړه، ویې ویل چې ما که په ژوند کې کوم ښه کار کړی دی، هغه دا دی چې دلته په دې دفتر کې مې ستاسو په تقرر کې هلې ځلې کړي که نه اوس به له ما څخه چا په دومره قاطع ډول دفاع کوله، ډېره مننه، ما ویل، ډاکتر صیب موږ د حقیقت لپاره مبارزه کوو، که ته حق په جانب نه وای، نو هېڅکله به مې درڅخه ملاتړ نه وای کړی، له واقعیت څخه ملاتړ زما دنده ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ژورنالیستانو ملي ټولنه او ولسمشر

د (۱۳۸۷ل) کال د وري (۲۲) مه نېټه ده، په پیل کې د محترمې (زهرا قاري زاده) له خوا د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو. په ټولنه کې د ژورنالیزم رول، د بیان ازادي، د ژورنالیستانو په وده کې د جنوبي اسیا د ژورنالیستانو د ټولنې (سپما) رول او په ابتدایي محاکمو کې د تېروتنو ستونزې، د غونډې اجنډا وه.

د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تر تلاوت وروسته، د ژورنالیستانو د ملي ټولنې مشر (پروفیسور ډاکتر محمدهاشم عصمت الهي) خبرې وکړې، ده په پیل کې وویل: ((د افغانستان د اسلامي جمهوریت له جمهور رییس څخه مننه کوو چې خپل مطبوعاتي عزیزان یې خپل حضور ته رابللي دي، دا هغه ډول کتنه ده چې مخامخ له ژورنالیستانو سره کېږي.



(ډاکتر عصمت الهي)

ژورنالیزم په هر هېواد کې د هغه هېواد سیاسي او ټولنیز برخلیک ټاکي، په ټاکنو کې اساسي رول لري. نن دلته هغه کسان ناست دي چې د رسنیو په مختلفو برخو کې درانه کارونه پر مخ وړي. یو دوه درې خبرې په دې باب ډېرې مهمې دي:

یو انګلیسي عالم وایي: مطبوعات د دولت څلورم رکن دی، خو دا خبره اوس زړه ځکه ده چې دا خبره هغه وخت شوې چې راډیو ټلوېزیون نه وو، اوس مطبوعات تر هغه هم ډېر قوي دي. بل عالم وایي: نننۍ رسنۍ د قدرت اصلي وارثین او مالکان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما عقیده دا ده چې د افغانستان ژورنالیزم د افغانستان د دولت او خلکو تر منځ د پیوستون کړۍ ده. زموږ اتحادیه یو رییس او دوه مرستیالان لري، (۱۷۰) غړي یې لاربنوونه کوي او ډېر فعال دي، نور (۷۰۰) غړي لرو، په (۲۹) ولایتونو کې نمایندگۍ لرو. نننی ترکیب هغه کسان دي چې عملاً اوس په مطبوعاتو کې کار کوي.

د دې اتحادیې کړنې ډېرې مثبتې دي، د جمهوري ریاست او پارلماني انتخاباتو کې مو ښه نقش درلود، د دې اتحادیې د ژورنالیستانو د ذهني سطحې د اوچتولو په برخه کې ډېر کار کړی، (۱۷) دورې فارغان مو ورکړي دي. د هېواد د ټولو ژورنالیستانو تر منځ د ارتباط پُل یو، که کوم ځای کې څه ستونزې وي هغه به هم حل شي. ځینې مسایل باید د ژورنالیزم په باب هم مطرح کړو، (۱۳۵) کاله کېږي چې دلته ژورنالستیک کارونه کېږي، په دې موده کې دلته هر ډول نظامونه تجربه شوي دي. خو اوسنۍ دوره د ژورنالیزم په تاریخ کې یوه ځلانده دوره ده، ان د امان‌الله خان او حتی د دیموکراسۍ له لسیزې سره د پرتلې وړ نه ده، دا د افتخار وړ دوره ده. مهم کارونه دا دي چې د کمیت له مخې رسنۍ ډېرې شوي. په پنځو تېرو کلونو کې د ازادۍ سیستم تضمین شو؛ اجتماعي بحرانونه پر ډیالوگ بدل شول، د خشونت د فرهنگ پرځای د ډیالوگ فرهنگ مروج شو، زموږ لپاره د افتخار وړ خبره دا ده چې له ټولو مشکلاتو سره سره انتقاد رواج شو، هغه ټولنه چې انتقاد په کې نه وي، ناروغه ده. په دې باب زیاتې خبرې کېدی شي، خو وخت کم دی.

## وړاندیزونه:

۱- موږ د بیان ازادي استقبالوو، خو د افغانستان په ټولنه کې ځینې کړۍ له دې ازادۍ څخه ناوړه استفاده کوي. ځینې ملي ارزښتونه له چلنجونو سره مخامخ دي، په هغه اندازه چې د مطبوعاتو ازادي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلېږي، د خلکو عقایدو ته هم باید درناوی وشي، د مطبوعاتو ازادي باید پر مصؤنیت بدله شي، کله چې د (شیکاگو پوهنتون) د رسنۍ پر ازادۍ بیا کتنه وکړه، ویې ویل: «ازاد مطبوعات باید مسؤلیت ولري یانې په یو چوکاټ کې باید فعالیت وکړي. دوی باید د مسؤلیت له مخې فعالیت وکړي؛ د خلکو عقایدو، د خلکو چلند او مخاطبانو ته یې باید پام وي.»

۲- زموږ له ځینو ژورنالیستانو سره د زور زیاتي چلند کېږي، له ژورنالیستانو څخه هم تېري او تخلفات کېږي، د دې تخلف پر وړاندې باید په عادي محاکمو کې ورسره د منصفه هئیت په حضور کې چلند تر سره شي.

۳- پر مطبوعاتو نظارت، نظارت مانا کنټرول نه دی، خو ترجیح ورکوم چې دا باید په خپله د ژورنالیستانو له خوا وي.

۴- په فعلي شرایطو کې د ژورنالیستانو مسلکي استقلال له منځه ځي، ځینې کړۍ زموږ له ژورنالیستانو دا حق اخلي، داسې قانون باید جوړ شي چې د ژورنالیستانو د حقوقي او مسلکي استقلال ملاتړ وشي.

وروستۍ خبره دا ده چې تاسو د ژورنالیستانو ملاتړ کوئ، دا چې تاسې له ذهني اسارت څخه ټولنه خلاصوئ، زموږ د ملاتړ وړ ده، له تاسو نه ډېر تشکر.))

ورپسې د (سپما) مشر محمد حلیم فدایي صاحب خبرې وکړې هغه وویل: ((زه نه غواړم ډېر وخت ونیسم. زه د سپما پر اهدافو او یو څه غوښتنو باندې بحث کوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سپما: د (۸) اسیایي هېوادونو د ژورنالیستانو ټولنه ده.**

**د دې ټولنې هدف، د ژورنالیستانو دفاع ده او د تجربو شریکول دي.**

**سپما له ټولو دولتونو سره کار کوي چې د منطقه یي همکارۍ له لارې د سولې او اجتماعي پرمختگ لپاره لاره اواره کړي.**

**دا ټولنه (۸) میاشتې مخکې جوړه شوه.**

**(۹٦۲) کاري ژورنالیستانو ته یې یوه شبکه جوړه کړې چې د سولې او اجتماعي پرمختگ لپاره کار وکړي.**

**سپما د هند د (شملې) په ښار کې د پارلمان غونډې ته (٦) وکیلان او (۳) ژورنالیستان ولېږل، د جنوبي اسیا د مرستیال پوست یې وگاټه، (۳٦) تنه مو هند، پاکستان او بنگله دېش ته د زده کړو لپاره ولېږل، سویډن ته مو هم ولېږل، په کارونو کې د شفافیت له مخې مو لومړی مقام وگاټه، هر کال د سپما ژورنالیستان د (سارک) په کلنۍ**



**(محمد حلیم فدایي)**

**غونډه کې گډون کوي، د سارک له سکرتریت سره له نږدې کار کوو. د سارک غونډه په سریلانکا کې جوړه شوه، د نومبر په میاشت کې به د ټولې سپما مشرتوب افغانستان ته ورکول کېږي. د راتلونکي کال د سولې جایزه به هم افغانستان ته ورکول کېږي. د افغانستان پر وړاندې د پاکستان د ژورنالیستانو تصور منفي و، خو موږ مثبت کړ. پر (۲۰۰۸م) کال به د سولې لپاره ډیالوگ پیلوو، هدف مو د پوهانو، وکیلانو، د پارلمان د غړو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول دي چې ټول په گډه د سولې لپاره کار وکړي.**

**دې کنفرانس ته به ژورنالیستان هم معرفي کوو. د سپما په غونډه کې**


(c) ketabton.com: The Digital Library



**وزيران، لومړي وزيران او جمهور رييسان گډون کوي.**

**د امن مشترکه جرگه يو ډېر مدبرانه اقدام و، د ولسونو تر منځ د اړيکو د پيوستون لپاره ښه گام و، سپما غواړي د افغانستان او پاکستان د ژورناليستانو، سياستپوهانو او د پارلمان د وکيلانو تر منځ يو ډيالوگ پيل کړي.**

**په دې برخه کې ستاسو ځانگړې همکاري غواړو. پر (۲۰۰٦ م)کال د (ډاکې) او وروسته په (ډهلي) کې د بهرنيو چارو وزيرانو پرېکړه وکړه، (دوه سوه و پنځوس) ژورناليستانو ته د ويزې مشکل حلوي، بنگلادېش دا مشکل حل کړی، زموږ د بهرنيو چارو وزارت هم بايد دا ډول همکاري وکړي. د سپما غونډه په کابل کې جوړېږي، (۲۵۰) ژورناليستان په کې گډون کوي، هيله ده تاسو هم په کې گډون وکړئ. مننه.))**



**(ولسمشر حامد کرزی)**

**جمهور رييس: ((ټول ښه راغلاست، له نني ملاقات څخه ډېر خوښ يم، غوښتل مې چې ډېرې خبرې وکړم، خو هغه به بلې ورځې ته پرېږدم، اوس غواړم زموږ ژورناليزم د افغانستان په نوي سفر کې خپل مهم نقش ولوبوي او دا سفر مقصود منزل ته ورسوي، د يو يادونکي عنصر په توگه خپل رول ولوبوي، ژورناليزم نه د چا مخالف دی نه د چا پلوی، ژورناليزم حقيقت بيانوي، لکه مخکې چې عصمت الهي صيب وويل کوم ځای کې چې انتقاد نه وي اصلاح نه شته. کوم حکومت کې چې انتقاد نه وي اصلاح نه راځي، د يوه مترقي او پرمختللي افغانستان ژورناليزم د اساساتو په توگه کار کوي، دلته د افغانستان د يوه فرد او جمهور رييس په توگه زما وظيفه دا ده هر کوښښ چې زما له وسه کېږي هغه به وکړم.**

**زما هيله ده چې دا دواړه اتحاديې سره يو شي يا پخلا شي. سفر او جرئت ته مو په بې طرفۍ سره دوام ورکړئ. مننه)).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر او د لويې پکتيا مخور

په پيل کې د يو مولوي صاحب له خوا د قران کريم د څو مبارکو ايتونو تلاوت وشو. وروسته د جمهور رييس له خوا د شهيدانو د کورنيو له وارثانو سره نقدي مرسته وشوه. د خوست د شهيدانو د وارثانو په استازۍ يو تن په خوست کې د خپلسرو تلاشيو په باب يو رپوټ وړاندې کړ، د بنديانو د خوشې کولو غوښتنه يې وکړه. ويې ويل چې دا ډول خپلسرۍ بايد نورې بندې شي، د پښتو متل دی: «ماتې مې درپاتې، خو چې نورې نه کړې ماتې.»

جمهور رييس وويل: ((د لويې پکتيا مشرانو خدای مو راوله! دلته بيا يو ځل د هغو عملياتو په باب خبرې وشوې چې زموږ او د امريکې تر منځ يې بار بار روابط خړپړ کړي دي. موږ په دې باب مخکې هم ډېرې خبرې کړي، کوښښ کوو چې اصلاحات په کې راولو. اسناد يې هم ټول افشا شول. ما د امريکا جمهور رييس ته يو ليک وليکه، په هغه کې مې ورته وليکل چې تروريزم په افغانستان کې نه دی، که تر پولې اخوا وي، نو راځئ چې دا کارونه سره منظم کړو، ماته مخکې هم قوم مشوره راکړه چې امريکايانو سره د زور له لارې پر وړاندې مه ځه، د خبرو او مشورو له لارې پرمخ لاړ شه. دوه لارې لرو چې د قوم مشران مشوره راکړي: يو د اعتراض په شکل چې دا پنځم شپږم کال دی چې موږ يې کوو، خو نتيجه يې ور نه کړه، بله لاره يې دا ده چې زه اعلان وکړم چې خارجيه زما کورونو ته ورتللای نه شي او که لاړې نو مجرم يې، عواقبو ته يې بايد متوجه شو، ايران او پاکستان دواړه درته په (څاو) کې ناست دي، په دواړو کې مو گټې او زيانونه شته. که د بندېدو اعلان يې وکړو، نو دوی به دې وطن ته نور ډېر جنجالونه هم جوړ کړي. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلسرو تلاشیو پرته نور ډېر مشکلات هم ورسره لرو، دا ټول کارونه یوه پراخه ملي اوسېله غواړي. زما زړه خو دا غواړي چې تاسو دعا راکړئ، ورځو پرې که هر څه پېښېدل، ګالو به یې. همدا نن مې ورته وویل: د طالب په نامه دا ولس په تا نه راټولېږي، دښمن دې رامعلوم کړه چې په ګډه یې له منځه یوسو، په خپله دوی اعلان کړی چې اډې یې په پاکستان کې دي، د پاکستان استخبارات ورسره مرسته کوي، ولې هلته ورځې نه؟»

یو سپین ږیري وویل: ((که دوی وواییي کلی دې پر موږ ډز نه کوي موږ به پر دوی ډز نه کوو)). جمهور رییس وویل: ((دوی دې پر کلي ډز نه کوي کلی به یې پر دوی نه کوي، څه دې دوی ګوزاره وکړي څه به موږ ګوزاره وکړو. د پکتیا د خلکو دوه ګیلې وې: یو دا چې موږ ورسره ډېر ځنډ نه دی کتلی، بل دا چې دوی وایي زموږ سهم په حکومت کې کم دی. دا یوه ګیله یې منم، خو دا بله یې نه منم. کارونه ښه پرمخ روان دي، د سولې جرګه او د کابل نړیوال کنفرانس ښه پرمخ لاړل، اوس د سولې عالي شورا جوړوو. د کابل



(مولوي ارسلا رحماني)

کنفرانس ګټه دا وه چې ټول نړیوال حریفان په دې کنفرانس کې ناست وو. امریکا او جرمني زیاته مرسته وکړه.))

د لویې پکتیا په استازۍ مولوي ارسلا رحماني وویل: ((د لویې پکتیا خلکو ګیلې لرلې، خو ګیلې له دوسته کېږي. یوه ورځ یو څوک وزیر وي، بله ورځ مخالف وي، ایا دا بدمعاشي کوي، څوک چې ډېر مخالفت کوي رییس صیب یې لا نازوي، بل تاسو ته زموږ د پکتیاوالو لاسرسی سخت دی. په بل ځای کې چې یو څو تنه ووژل شي، بیا مظاهرې وي، خو زموږ په سیمه کې قتل عامونه وشول. په حکومت کې چې د پکتیا کوم کسان دي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



**زموږ له خوا معرفي شوي دي؟ دا په خپل لیاقت راغلي دي، اساسي پوستونه نه لرو. په اداره کې داسې سهم نه لرو چې یا دا خلک ځانته او یا هم ترشا پاتې خلکو ته قناعت ورکړي.**

**موږ خپل ولایتونه په خپله اداره کولای شو.**

- **د سولې عالي شورا کې ښه رول غواړو.**
- **ملي ادارو کې هم خپل سهم غواړو.**
- **د اریانا پوهنتون ځینې محصلین پاتې دي، د امتحان له پروسې دې معاف شي.**
- **د خوست لویه لاره تراوسه نه ده جوړه شوې، د میرانشاه او غلام‌خان لاره باید فعاله شي.**
- **د هوایي ډګر ستونزه هم باید اواره شي.**
- **ارګون که بېل ولایت شي ښه به شي.**
- **بې ګناه بندیان دې راخلاص شي.**
- **د برق مشکل مو تر اوسه نه دی حل شوی.))**

**جمهور رییس: ((د سولې په عالي شورا کې به ستاسو ونډه تنظیموو.**

**په محلي پولیسو کې به ستاسو د مشورو اوریدل حتمي وي.**

**د غلام خان بندر زموږ له خوا جوړ دی، خو د پاکستان له خوا بند دی.**

**د خوست سړک چې کار یې ورو دی، سبا به د فواید عامې وزیر څخه پوښتنه کوم. په پکتیکا کې دوه ولایتونه جوړول زما لپاره درنه خبره ده، دا به قوم راټولېږي، بیا به خبره کوو.**

**په دولتي څوکیو کې: لوی درستیز، امنیتي معین د لویې پکتیا دي، معینان: نورګل، صدیقي، ګل ځرک، کریم باز، وهاب سادات او نور دي.))**

**خو د پکتیا یو سپین ږیري وویل چې دا ټول درواخله، خو یو تکړه راته وټاکه، په همدې ګیلو، سوال او ځواب کې غونډه پای ته ورسېده. بل سپین ږیري ورته وویل: «پنجشېر او دایکندي دې ولې ولایتونه کړل؟»**


(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر او د پوهنتون استادان

د (۱۳۸۷ل) کال د وري (۲۱) مه نېټه، يو تن مولوي صاحب په پیل کې د قران کريم څو مبارک ايتونه تلاوت کړل.

د کابل پوهنتون استاد (ګل رحمن قاضي) په پیل کې له جمهور رييس څخه مننه وکړه او ويې ويل: ((موضوع دا ده چې ولې استادان دلته راغلي دي؟ استادان د ټولنې معماران دي، دوی د خپلې ټولنې د جوړېدو هیله او توان لري. د عالي تحصیلاتو په چوکاټ کې ډېر متخصصین شته چې له حکومت سره د هېواد په ابادولو کې مرسته کولای شي، استادان له خپل مسلکي تخصص سره سره خپله جامعه په دقت سره ګوري.



(ګل رحمن قاضي)

د استادانو فکر دا دی چې موږ خپل هېواد خپله جوړوو، له دنیا څخه مرسته غواړو، استادان دا غوښتنه لري چې وداني بايد له يو ځايه شروع شي دا وداني بايد له يو فرهنګي کوره شروع شي، چې له دنيا سره سيال شو، کابل پوهنتون به بيا دا توانمندي حاصلوي چې د سيمې د هېوادونو په کچه خپل ځان تثبيت کړي. د استادانو پر وړاندې چېلنجونه دا دي چې دولتي پوهنتونونه د خصوصي پوهنتونونو پر وړاندې رقابت نه شي کولای، استادان غواړي چې دولتي پوهنتونونه مخکې او خصوصي ورپسې وي، د دولتي پوهنتونونو د استادانو يوه خوا تخصص او بله

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا مادي اړخ دی، ایا د دوی مادي امتیاز د دوی میاشتني ضرورتونه تامینولای شي، نو دغه تهدید باید له منځه لاړ شي. نرخونه ورځ په ورځ لوړېږي، پر استادانو باندې یې تاثیر مستقیم وي. د استادانو فیصله دا ده چې یو خو باید زموږ پر ماضي باندې فکر وشي. یو دولتي معاش او یو هم کادري معاش دی چې کادري معاش هم په حقیقت کې د دولتي معاش یوه برخه ده، چې هر وخت باید هغه ترلاسه کړي. اوس د اداري اصلاحاتو له خوا یوه طرحه جوړه شوې، په دې طرحه کې د دوی علمي رتبې چې دوی د تحقیقاتو په لړ کې ترلاسه کړي، دا د استادانو انتصابي حق دی. د اداري اصلاحاتو په طرحه کې د مامور او استاد په امتیاز کې توپیر نه شته، اداري اصلاحاتو ترې علمي رتبه لرې کړې او دولتي رتبه کې فوق او مافوق رتبه نه لري. دغه راز د علمي رتبې معاش نه ورکول کېږي. هره رتبه خپل یو تضمین لري چې هغه د هغې رتبې معاش دی. د حل لار دا ده چې پخوانی شتمني باید خوندي وساتل شي، پخواني قوانین ولې غلط وګڼو.))

جمهور رییس: ((زموږ بحث باید د استادانو پر معاش باندې متمرکز وي. زه په هر طرف پوهېږم، زه په اخر کې ستاسو په طرف یم، خو په وروستۍ فیصله کې باید په دې پوه شو چې فیصله واقعاً ستاسو په ګټه ده. زه دوه خبرې کوم.

۱- د افغانستان د پوهنتونونو داستادانو حق منلی او واضح دی.

۲- هغه نظام چې د اداري اصلاحاتو له خوا وړاندې کېږي په هغو کې زه ستاسو هر ډول کادري امتیاز منم، معاش، علمي رتبې او تحصیل درجه ټول په پام کې نیسو.

د افغانستان په بودیجه کې باید داسې مسایل وسنجوو چې ستاسو د معاشونو جوګه شي یانې معاش د بودیجې د توان مطابق وي.))

استاد طنین: ((یو د معاشونو قانونیت دی، د افغانستان د عالي تحصیلاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قانون کې د معاشونو يادونه شته، د عالي تحصيلاتو په قانون کې چې نوی جوړ شوی، د وزيرانو شورا پاس کړی او فعلاً شورا کې دی. د اداري اصلاحاتو او د عالي تحصيلاتو قانون کې د ټکر ټکي دا دي:

۱- په اصلاحاتو کې ۸ بستونه دي، ۱-۲ فورمونه لري.

استادان داسې کټګوري شوي: پوهاند- ډاکتر

علمي رتبه، دولتي رتبه او تحصيل درجه ګډ شوي. زموږ تقاضا دا ده چې علمي رتبه بايد وساتل، بايد اصلاح شي. د تحصيل درجه ليسانس، ماستر، ډاکتر، علمي رتبې د پوهنتون رتبې، لکه پوهيالی- پوهاند.

موږ د کادري معاشونو د لوړاوي په هيله يو.

د علمي رتبو پر اساس بايد د معاشونو سيستم رامنځته شي، له ماليې وزير سره موږ د علمي رتبو په اړه اختلاف نه لرو، مګر د معاش د مقدار په اړه يې ستونزه لرو، زموږ وړانديز د مقدار په اړه دی، بيا هم کولای شو فکر پرې وکړو.))

جمهور رييس: ((ستاسو ټولې خبرې مې درک کړې، د افغانستان د عالي تحصيلاتو استادان بايد د علمي رتبو له مخې امتياز واخلي. ما د لوړو زده کړو وزير څخه غوښتي وو چې د نورو هېوادونو مثالونه هم راوړي. که مقايسوي نه وي زما نظر دا دی چې د پوهنتون استادان بايد خپله يوه طرحه جوړه کړي. ښه به وي چې د علمي رتبې له مخې امتياز ورکړای شي. زما نظر دا دی چې تاسو د پوهنتون د استادانو يو کمېسيون جوړ کړئ طرحه جوړه کړئ. موږ به ستاسو طرحه عدليې او ماليې وزارتونو ته وړاندې کړو.))

استاد طنين: ((موږ خپل معاشونه له دنيا سره مقايسه کړي، موږ يوازې د علمي رتبې له مخې امتياز غواړو، که دولت موږ ته دولتي رتبې راکړي هم مخالفت يې نه کوو.))

د لوړو زده کړو وزير: ((زه هم د دې طرفدار يم چې د علمي ترفيعاتو له مخې دې امتيا ورکړای شي او يو واحد سيستم دې رامنځته شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**استاد طنین: ((د دولتي قانون د (٦) مادې او یوې ضمیمې له مخې د استادانو معاشونه مخلوط شوي، دلته ځینې معاشونه د زیاتېدو پر ځای کم شوي دي. که چېرې موږ قوي استاد استخداموو معاش دومره کم دی چې څوک نه حاضرېږي. داسې معاش باید وسنجول شي چې لږ تر لږه له بهرنیو معاشونو سره انډول وي.**

**موږ باید اوسني کادرونه هم وساتو، ځکه ځینې استادان د مجبوریتونو له مخې نورو ځایونو کې کار کوي. که د اداري اصلاحاتو قانون تطبیق شي، نو ډېر استادان به وظیفه پرېږدي.))**

**جمهور رییس: ((عدلیه وزیر غواړو چې قانون درته جوړ کړي او معاشونه مو د متوسطو خلکو ژوند ته لوړ شي. د افغانستان د خزانې په چوکاټ کې. هغه کسان چې په زرگونو ډالر اخلي هغه د پردي کټ په شان دي، موږ باید د څو لسیزو فکر وکړو، د کادرونو جذب او ساتل.))**

**استاد طنین: ((زه غواړم یو بل خطر ته هم اشاره وکړم، چې زه یې د کانکور په خاطر څارنوالۍ ته معرفي کړم. زه محکمې بري کړم، زه محکمې نه تشکر کوم، دا ډول خطرونه باید د پوهنتون له ساحې لرې شي.))**

**جمهور رییس: ((زه ستاسو په کلکه ملاتړ کوم، زه په دې پوه یم، تر څو زموږ د وطن عالي تحصیلات عالي نه شي د دې وطن ترقي ناممکنه ده، هند زموږ لپاره ښه مثال دی، جاپان ښه مثال دی. د افغانستان بچي باید تحصیل وکړي چې په خپلو پښو ودرېږي. د اعلیحضرت او شهید داودخان پر وخت کانکور کې لاس نه وهل کېده، اوس هم باید داسې وشي؛ په کانکور کې دې لاس ونه وهل شي. زموږ د پوهنتونونو استادان د عزت صاحبان وو، د**



(عزیز رهمند)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کانکور امتحان باید اوس هم پاک او شفاف کړئ.))**

**استاد عزیز رهمند: ((زموږ د افغانستان پوهنتونونه د ملي کادرونو د تربیت مرکزونه دي، نه د حزبونو مرکزونه. زموږ اوسنی تجمع یو غیر سیاسي کار دی. سیاسي فعالیت په پوهنتون کې نه شته، هر هغه سیاسي شخص چې له پوهنتون څخه کاندید شوی، کامیاب شوی نه دی.))**

**جمهور رییس: ((وزیر صاحب! د پوهنتون استادان کمېسیون جوړوي له عدلیې او مالیې وزیر سره کېنئ.))**

**یو تن استاد: ((د دې لپاره چې سبا بیا شکایت پیدا نه شي، استادان خپله کېناستل چې یوه طرحه جوړه کړي. په پارلمان کې اوس د استادانو او وزارت استازي کار کوي، د پارلمان فرهنګي کمېسیون کار کوي. وروسته باید یوه طرحه مکمله کړي.))**

**وروستۍ نتیجه دا شوه چې د استادانو د استازو په ګډون دې د لوړو زده کړو وزارت یوه طرحه جوړه او د عدلیې او مالیې وزارتونه دې پرې غور وکړي او بیا دې پارلمان ته د تائید لپاره وړاندې شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر او د مشرانو جرګې ځینې غړي

د سولې او پخلاینې په باب دا غونډه د جمهوري ریاست په ګلخانې ماڼۍ کې جوړه شوې وه، په غونډه کې د مشرانو جرګې د قومونو او قبایلو او ملي پخلاینې د کمېسیونونو غړو ګډون کړی و، غونډه د قران کریم د څو مبارکو ایتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې د مشرانو جرګې غړي سناتور (پوهاند حقایقي) د کمېسیون په استازۍ خبرې وکړې، سوله او پخلاینه یې د هېواد تر ټولو مهم ضرورت وګاڼه، پوهاند حقایقي وویل: ((ستونزې او مشکلات په غچ او انتقام نه حلېږي، بلکې سوله، ښښنه او پخلاینه زموږ د هېواد د مشکلاتو د حل لار ده.))

پوهاند حقایقي د نوموړو کمېسیونونو د غړو په استازیتوب له جمهور رییس حامدکرزي څخه هیله وکړه چې په هېواد کې دې له مخالفینو سره د سولې او ملي پخلاینې بهیر ګړندی کړي، پوهاند حقایقي زیاته کړه: ((سوله او پخلاینه د ټولو افغانانو هیله ده خو یوازې یو څو محدود کسان او ډلې چې په سوله او ډیموکراسۍ کې خپل ځان نه شي مطرح کولای، نو ځکه د دې پروسې مخالفت کوي، خو نور ټول ولس د سولې غوښتونکی دی.))



(محمد عمر شېرزاد)



تر پوهاند حقایقي وروسته د یاد شوي کمېسیون په استازۍ د دې کمیسیون یو بل غړي (سناتور محمد عمر شېرزاد) له مخالفینو سره د سولې په اړه شپږ ماده ییزه طرحه جمهور رییس ته وړاندې کړه چې د مشرانو جرګې د پخلاینې د کمېسیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له خوا ترتیب شوې وه. په دې طرحه کې راغلي: ((دولت دې له طالبانو سره د مذاکراتو په اړه تود او مثبت عکس العمل وښيي، هر څومره ژر چې کېدی شي باید له طالبانو سره د خبرو تیاری څرګند شي، دولتي او نادولتي رسنۍ دې د ملي پخلاینې د بهیر ملاتړ وکړي، له منفي مسموونکو او تحریکوونکو تبلیغاتو دې ډډه وکړي، د مسجدونو له ملا امامانو څخه هیله کېږي، چې په جوماتونو کې د اسلام د مقدس دین په رڼا کې د سولې د اهمیت په باب تبلیغات وکړي)). دغه راز په دې طرحه کې راغلي چې نړیواله ټولنه، د ایتلاف قواوې او ګاونډي هېوادونه دې د افغانستان د دولت او مخالفینو تر منځ د خبرو اترو ملاتړ وکړي. په دې طرح کې د مشرانو جرګې د ملي پخلاینې د کمېسیون له خوا تیاری څرګند شوی چې دا کمېسیون له مخالفینو سره د پخلاینې او سولې په هر ډول خبرو اترو کې فعالې ونډې اخیستلو ته چمتو دی. د غونډې په بهیر کې یو تن د معلولینو او معیوبینو په استازۍ او یو شمېر نورو سناتورانو هم خبرې وکړې او د سولې له بهیر څخه یې ملاتړ اعلان کړ.**

**ورپسې د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رییس حامدکرزي خبرې وکړې او ویې ویل: ((سوله زموږ د هېواد لومړی ضرورت دی، که په هېواد کې سوله ټینګه شي نو موږ ډېر بریالیتوبونه ترلاسه کولای شو، هېواد مو په هر ډګر کې پرمختګ کولای شي او په دولت کې اداري فساد او نورې درغلۍ په اسانۍ سره له منځه وړلای شو، که د هېواد دښمنانو او مخالفینو په هېواد کې جګړې ته لمن نه وای وهلې، نو د افغانستان اوسني بریالیتوبونه او پرمختګونه به تر اوسني حالته څو ځله زیات وای، موږ له مخالفینو سره د سولې پروسه تعقیبوو، هیله لرو په پای کې به بشپړې سولې ته ورسېږو.)) جمهور رییس د خپلو خبرو په بهیر کې وویل: ((له سولې او مذاکرې پرته بله هېڅ لاره نه شته، د دنیا ټول اختلافونه په سولې او مذاکرې حل شوي دي، حتی که یو فاتح وي او بل مغلوب بیا هم مذاکراتو ته سره کېني او مشکل حلوي، موږ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سولې ته په دې خاطر ترجیح ورکوو چې نور زموږ په هېواد کې وینه تویېدنه بنده شي او زموږ خلک تر دې زیات نور ونه کړېږي.))

ولسمشر د دې غونډې په پای کې غونډې ته له هلمند ولایت هغه ځو تنه هېوادوال راوغوښتل چې د بېلابېلو جګړو په ترڅ کې یې د خپلې کورنۍ غړي او عزیزان له لاسه ورکړي دي، جمهور رییس د غونډې برخوالو ته وویل: ((دا دي د دې جګړې قربانیان چې تاسې یې اوس عملاً ګورئ.)) په دې غونډه کې د هلمند ولایت د هغو شهیدانو او ټپیانو له لسګونو وارثانو سره د جمهور رییس له خوا نقدي مرسته وشوه، چې په بېلابېلو جګړو کې شهیدان او یا ټپیان شوي وو، غونډه د افغانستان د خیر او فلاح په دعایې سره پای ته ورسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر او د پکتیکا مخور

په پیل کې (نوراحمد نوراني) د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وکړ.

ورپسې ډاکتر اکرم اخپلواک (د پکتیکا والي) خبرې وکړې او په خپلو خبرو کې یې وویل: ((موږ له ولسونو او خلکو سره په ګډ تفاهم خپل مشکلات حل کړي دي.

پر (۱۳۸٦ل) کال مو (۱۱۰) جرګې کړي دي. د دلوې له (۹-۱۱) پورې مو مشورتي جرګه جوړه کړه چې درې ورځې یې دوام وکړ.

پر نهو مهمو مسایلو مو ولس سره توافق وکړ: امنیت، رغونه، کاري ګروپ، حکومتداري، د ملي پخلاینې پروسه، د بې سوادۍ له منځه وړل او د پوهنې د سطحې لوړول.

امنیت ښه دی، د (۲۲) ولسوالیو لپاره مو تعمیرونه جوړ شوي، له (۳)



(ډاکتر اکرم خپلواک)

ریاستونو پرته نور ټول ریاستونه جوړ شول، له (۱۱۰۰خخه تر۱۴۰۰) د ملي پیوستون پروژې مو جوړې کړي دي. (۲۵) نورې پروژې مو بشپړې کړي، د روغتیا په برخه کې د پکتیکا (۸۰) په سلو کې روغتیایي پروژې مو تر سره کړي. سرحدي سیمو کې مو روغتیایي کارونه کړي، درې سرحدي ولسوالیو کې کلینکونه نه شته. د پوهنې وزارت له خوا اسلامي دارالعلوم جوړ شو. (۲) ولسوالیو کې مدرسې جوړې شوي دي، دارالمعلمین مو تاسیس کړی دی. د مسلکي کادرونو مشکل لرو، یوازې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکتبونه مو سېځل شوي دي او نور په لسګونو جوړېدونکي دي. د سړکونو په برخه کې د (ارګون- شرنې) سړک کارونه شروع دي. د شرنې د ښار سړکونه پخېږي. د (ګردېز- شرنې) سړک کار دوه میاشتې وروسته پیلېږي. د برمل خلکو سل کسان ملي پولیسو او ملي اردو ته تیار کړي دي. راتلونکي کال کې مو (۲۰۰) پروژې تیارې کړي دي، هیله ده مرکزي حکومت موږ سره همکاري وکړي. وزارتونو څخه هیله لرو چې خپل مربوط ریاستونه او کادرونه تکمیل کړي. قراردادونه او ټیکې باید محلاتو ته انتقال کړي. ډېرې پیسې لرو، خو قراردادونه ټول په مرکز کې تر سره کېږي. د قرادادونو په انتقال سره به محلي ادارې لا تقویه شي. موږ له ائیتلافي ځواکونو، خپلو امنیتي ځواکونو او قومي مشرانو سره په مشوره د امنیت لپاره یوه طرحه جوړه کړې ده.

وزیران صاحبان که پکتیکا ته راشي زموږ روحیه به پیاوړې شي اوس اکثره وخت د پکتیکا او پکتیا توپیر نه کېږي او د پکتیکا پرځای پکتیا یادېږي.))

د غونډې بل برخوال (شېرخان وزیر) و، ده د قومي مشورتي جرګې یا کمېټې سپارښتنې واورولې. چې لاندې سپارښتنې او غوښتنې په کې شاملې وې:

۱- د ولسوالیو شوراګانو تاسیسول
۲- له قومونو سره غونډې
۳- د ولسوالیو شوراګانو سره مشوره
۴- د قومي شوراګانو پرېکړو ته احترام
۵- د یوې ولسوالۍ مشکل د حل په خاطر د بلې ولسوالۍ د قومي مشرانو هڅه.
٦- د سرحدونو چارو وزارت له خوا د خلکو د ستونزو د حل لپاره له قومي مشرانو مرسته غوښتل او هغو ته د یو څه امتیازاتو منل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- د دولت له تور لېست څخه د ځینو کسانو ایستل او د قومي مشرانو له خوا یې تضمین. نړیوال ځواکونه او حکومت دې زموږ پرېکړو ته احترام وکړي.

۸- ائیتلافي ځواکونه دې د دولت ضد کسان موږ ته په گوته کړي چې موږ یې پر خلاف عمل وکړو.

۹- که قومي مشران مخالفینو سره خبرې کوي، نو دولت به خبروي.

۱۰- د قومي شوراگانو دفترونه باید په هره ولسوالۍ کې جوړ شي.

۱۱- په باگرام او نورو سیمو کې چې زموږ کوم بندیان دي، موږ یې تضمین کوو هغه دې راخلاص شي.))

بل شخص (محمد ابراهیم) و چې هغه هم د قوم په استازۍ خپلې سپارښتنې لرلې، چې دا دي:

۱- د ملي اردو او پولیسو تقویه

۲- د پکتیکا ولایت پولیسو تربیه او د کمیت زیاتول.

۳- د پولیسو امتیازات دې زیات شي، منطقه یي معاش دې ورکړای شي.

۴- د پولیسو، معلولینو او شهیدانو امتیازات په پام کې نیول.

۵- په عملیاتو کې د ملي پولیسو داخلول.

٦- د نړیوالو قوتونو له خوا د کورونو د تلاشۍ بندول، ولسوالانو او زموږ د قومونو د مشرانو مشورې اورېدل.

۷- خارجي قوت باید د ترهگرۍ د پټېدو ځایونه له منځه یوسي.

۸- دکمپاین په نامه دې نامسؤل قوتونه ختم شي.

۹- ملي امنیت دې خپل راپور دقیق کړي.

۱۰- مغرض اشخاص دې له امنیتي ارگانونو وایستل شي.))

ورپسې (کفیل سدوزي) خبرې وکړې او په خپلو خبرو کې یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د ملي پیوستون پروژې دې پراخې شي.
۲- کرنیزو پروژو ته دې پام وشي.
۳- د لویو لارو جوړولو ته دې زیاته توجه وشي.
۴- لږ تر لږه په پنځوس کیلو مترو کې دې یو اساسي معیاري روغتون جوړ شي.
۵- د ښځینه ډاکترانو زیات کمی دی، باید ډاکتران او نور کادرونه هلته راولېږل شي.
٦- د اوبو بندونو او برېښنا په برخه کې دې زیات پام وشي.
۷- د پروژو قراردادونه دې محلي خلکو ته انتقال شي.
۸- د پروژو کارګران باید محلي خلک وي.
۹- د پروژو د تسلیمۍ پر وخت باید د محل خلک او د همدې ولسوالۍ د شورا غړي حاضر وي.
۱۰- د کوکنارو له بوټي سره په دې ولایت کې خلک نفرت لري، باید نعمل البدل ورکړای شي، موږ ته باید خپل بندیان د تحفې په بڼه راکړئ.))

وروسته د غونډې یو بل قومي مشر خبرې وکړې او په خپلو خبرو کې یې لاندې وړاندیزونه وکړل:
((۱- د پکتیکا معارف ته دې زیاته توجه وشي.
۲- یو سلو اویا ښوونځي تعمیرونه نه لري، باید تعمیرونه ورته جوړ شي.
۳- په هره ولسوالۍ کې یوه دیني مدرسه لرو او یوه لیلیه غواړو.
۴- د مسلکي استادانو په برخه کې زیاته توجه غواړو.
۵- درسي کتابونو او لابراتوارونو ته زیات ضرورت دی.
٦- له نورو ولایتونو څخه دې مسلکي کادرونه راشي، موږ یې تضمین کوو.
۷- یوه مرکزي لېسه غواړو چې لیلیه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۸- د (۱۲) ټولګي فارغانو ته دې یو څه امتیاز ورکړای شي.**
**۹- د خارجي بورسونو په اړه د سهمیې غوښتونکي یو.**
**۱۰- قرادادي معلمین باید د ښوونې او روزنې ریاست ته ولېږو.**
**۱۱- په پلچرخي او ملي امنیت کې زموږ بندیان باید راته راخوشې شي.))**

**ورپسې د افغانستان جمهور رییس حامدکرزي خبرې وکړې چې غټ ټکي یې دادي:**

**((خدای(ج) مو راوله، په لیدو مو ډېر خوشالېږم، په تېره بیا دا چې په ژوند کې مو څه بدلون راغلی دی. دا زموږ لپاره ډېره په زړه پورې خبره ده، دا چې صحي مراکز او مکتبونه جوړ شوي، په دې ډېر خوشاله یم، خو په دې هم پوه شوی یم چې ژوند مو د تکلیف او مسکینۍ دی لا هم ډېر څه مو په مخکې دي چې ځان هوسا وګڼو. دا هر څه به زموږ ژوند کې ونه شي، دا به زموږ د بچیانو په ژوند کې ثمر ته رسېږي، زموږ او تاسې هڅه به دا وي چې د سبا لپاره کار وکړو. ما لس کاله دمخه د افغانستان د خلکو تر منځ جرګه جوړوله، دا جرګه مو لس کاله دمخه په جرمني کې جوړه کړه.**

**یوه ورځ ناست وو، زموږ یو سپین ږیري عبدالکریم خان سپین صاحب د فراه یو سپین ږیری و، هلته یو چا ویل موږ هیله لرو چې موږ ټول ژوندي یو چې افغانستان جوړ شي او جرګه وشي. هڅه مو پیل کړه، پنځه کاله مخکې مو هېڅ نه لرل، اوس یو څه لرو، یو څه سړک، اوبه، مکتب او نور لرو، خو تر ټولو مهمه خبره چې نن یې لرو هغه د افغانستان دا هسکه شمله ده، هغه د افغانستان دا هسک بیرغ دی چې په ټوله دنیا رپېږي.**

**موږ یو وخت په پاکستان کې مهاجر وو دا وخت نو د دنیا ستره اقتصادي جلسه وه، د ټولې دنیا بیرغونه پرې رپېدل، خو د افغانستان بیرغ په کې نه و، کله چې افغانستان جوړ شو، نو دویم کال یې (لاوس) ته موږ وغوښتلو، یو خارجي مسؤل موږ وغوښتلو، خو هلته دا مسؤل نه و، سکرتر یې وویل چې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مسؤل بل کار ته بل چېرته لاړ، نو بېرته راغلو ډېر خفه شو، نو ما فکر وکړ چې زموږ د غریبۍ په خاطر دی بل چېرته لاړ. نو بیا یې موږ بلې جرگې ته دعوت کړو. زړه مې و چې لاړ نه شم، خو بلې جرگې ته لاړو، خو سږ کال همغه سړي بیا کنفرانس ته دعوت کړو چې د ټولې دنیا کنفرانس و او افتتاحیه وینا یې ماته راکړه، دا ځل د ټولې دنیا ټول بډایان ناست دي، خو د افتتاح وینا ما وکړه، خو خلکو کتل چې افغانستان به څه وایي، خو ما ویل خدایه دا وطن چې اوس یې دنیا وینا ته گوري بیا شاته نه کړې. دا نو اوس زموږ د خپلو خلکو په لاس کې دي چې خپل هېواد وساتي دا وخت زموږ بیرغ پرې رپېده.

دا هېواد مو تاریخ لري، خو اینده هم باید ولري. ستاسو وینا باندې ښه پوه شوم. د ټولو په راس کې تعلیم او معارف دی، ټول ژوند په تعلیم ودان دی که موږ تعلیم وکړو د خارجي له تلاشۍ او مرستو ټولو به خلاص شو. اوس هم څه کمی په کې راغلی دی خو بند شوي نه دي.

په بندیانو مو ډېرې خبرې کړي، خو لا تر اوسه دا مسئله حل شوې نه ده، وجه یې دا ده چې اوس هم دنیا ته احتیاج یو، مکتب، روغتیا، امنیت، معاش او نور هر څه ترې غواړو، اوس هم موږ ډېر په استدلال کې ورسره روان یو، دوی حیران دي چې هم پیسې رانه غواړي، هم امنیت رانه غواړي او هم مو خبره نه مني.

خو موږ به تعادل ساتو، دوی څخه به مننه کوو، خو استقلال به هم ساتو. د بندیانو مشکل به څه حل شي او څه به حل نه شي، موږ به د دې حالاتو زغم کوو، تر هغه ورځې چې افغانستان د خپلې خاورې دفاع په خپله وکړي. د ځینو مسایلو زغم نه کوو، د قومي نفاق، د خپلواکۍ د خرابۍ، زموږ د تاریخ د بې احترامۍ زغم به نه کوو. د هغو شیانو زغم به کوو چې زموږ کور تر منځ مشکل په کې وي.

تاسې به لېست جوړ کړئ چې څوک ډېر گناهکار دی او څوک بېگناه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، یوه چاره به وکړو.

خارجیانو سره کله ډېر ځیږ او کله ورسره ډېر نرم یو؛ توازن ورسره ساتم.

راغلم سړک، مکتب او برق ته. څه وعدې عملي شوي او څه به نورې ورپسې عملي کېږي، د مکتبونو او سړکونو کار مو سل په سلو کې کېږي. د روغتیا چارې مو خرابې دي، خو دا حالات تر هغه وخت نه ښه کېږي چې په خپل بچي مو تعلیم ونه کړئ. تر څو چې مو خپل بچي ډاکتران نه شي روغتیا مو نه ښه کېږي. ستا د اورزګان په ولایت کې ستا بچی ډاکتر نه و، له تاجکستان څخه جلی راغلې، ډاکتري کوي هغه هم په مرکز ترینکوټ کې. د ولسوالیو او کلیو د میندو روغتیا خو ډېره د زړه د درد خبره ده. هغه بله ورځ به تاسې اورېدلي وي چې د بدخشان یوه بېوزله کورنۍ کندوز ته راغلې وه دوه ماشومان یې له یخه مړه شوي وو، یوه شپږ میاشتنۍ لور یې وه، یوه همسایه د پنځه سوه افغانیو کمک ورسره کړی چې دا اولاد به دې زه در وروزم. نو ځواب مې ورولېږه والي او امنیې قومندان ورسره (۲۸۰۰۰) افغانۍ کمک کړی و او بیا مې دلته راوغوښتل ګلخانې ته. دلته چې مو وکتل یوه زړه بوډۍ، یوه ځوانه ښځه او دوه سپین ږیري ورسره ناست دي، ښځه (۱۸-۱۹) کلنه وه، یو سپین ږیری راولاړ شو، ښکل یې کړم، ما ویل ته څوک یې؟ ده ویل زه د دې ناوې پلار یم، ما ویل دا سپین سرې څوک ده؟ ده ویل دا یې مور ده، ما ویل مېړه یې څوک دی؟ هغه وویل دا بل سپین ږیری چې هم فلج و او هم ډېر سپین ږیری، د میاشتې (۵۰۰۰) افغانۍ معاش مې ور حواله کړ.

د خپل زوی د پنځه میاشتو کالي مې ورته ورکړل، وروسته راته فکر پیدا شو، چې دا جلۍ به دوی وساتي که به مړه شي. ځکه چې دا ښځه هم ناروغه وه، فکر یې خراب و او دا نور هم سپین ږیري وو.

خو اوس راځم خپلې خبرې ته چې زموږ په ټولنه کې پر ښځو ظلم دی، پر ښځې تعلیم نه کوو، که مو هر چاته ورکړه. دلته هم ګناه د دې د پلار وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې جلې یې دې سپین ږیري ته ورکړې وه. دا پېښې په هره ولسوالۍ او هر کلي کې شته. زه اوس په دې فکر مند یم چې په هر کونج کې به دا څه حال وي. دا ځکه چې موږ تعلیم پرې نه کوو، غاړه مو پرې بنده ده.

که تاسو غواړئ چې دا وطن په پښو ودرېږي، له جمهور رییسه نیولې تر عادي شخص پورې بل چاته متحاج نه وي، نو تعلیم به کوو، تعلیم به کوو، تعلیم، بې له تعلیمه بله چاره نه لرو.



(ولسمشر حامد کرزی له ولسي مخورو

څو کاله دمخه مې د جاپان صدراعظم (کوزیمي) ته وویل چې زموږ خلک باید تعلیمیافته شي. کوزیمي راته وویل چې د جاپان اوسنی پرمختگ او سوکالي د (۱۵۰) کالو محصول دی. پخوا دلته د خلکو تر منځ ډېر جنگونه وو، یوځای یې وښود چې هلته یو خان یو بل قوم ته د قحطۍ له امله وریجې ورکړې، هغه قوم راټول شو مکتبونه یې جوړ کړل، هلته یې ماشومانو ته وریجې ورکولې چې مقصد ډوډۍ ورته پیدا شي، له همدغه ځایه د جاپان ترقي شروع شوه، نن وگورئ چې جاپان تر ټولې دنیا پرمختللی دی، افغانانو کې هم دا استعداد شته. په تعلیم کې تر مرگه پورې درسره ولاړ یم.

د برق په برخه کې په پکتیکا کې (۷) پروژې شته، (غورزج، وچه خوله، بېلتون ذخیره، پوچه ونه، زمي خیره)، دې پروژو ته د نا امنۍ په وجه سروې نشي تللی.)) دې وخت کې خلکو وویل موږ یې تضمین کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رییس جمهور: ((سړي به ورکوئ چې امنیت یې تضمین شي.


(نادر خان کټوازی)

د ډیورنډ کرښه: ځومره تگ و راتگ چې ورسره کولای شئ، ویې کړئ.

قراردادونه: باید محل ته انتقال شي، سبا به یې د کابینې په غونډه کې مطرح کړو.))

وکیل صیب نادرخان کټوازی: ((نه کوکنار لرو، نه جنگسالاران.))

جمهور رییس: ((د پوهنتون کانکور مشکل به حل کړو. طرحه به راکړئ.))

بیا یې خلکو سره خدای پاماني وکړه او غونډه ختمه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر، د پکتیا مخور او عالمان

د (۱۳۸۷ل) کال د جوزا (۱۴) مه نېټه تر غرمې وروسته یوه بجه: په پیل کې د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو.

وروسته د پکتیا یو قومي مشر خبرې وکړې او د هېواد پر ملي وحدت یې ټینگار وکړ، ویې ویل: ((موږ د افغانستان په کچه خبرې کوو، خو ځینې سیمې شته چې ډېر مشکلات لري، دا سیمې لږ مایوسه دي او له دولت څخه یې زیاته فاصله نیولې، موږ په ټاکنو کې د تاسو د انتخاب لپاره ښځې او نر راوتلي وو. تاسو چې پر چا ډېره مهرباني کړې، هغوی تاسو ته ډېر مشکلات پیدا کوي او غواړي په نړیواله ټولنه کې مو بدنام کړي، موږ ستاسو د کاندیدۍ د تصمیم په اړه معلومات غواړو، موږ تاسو څخه بل څوک نه لرو، که تاسو ځان کاندیدوئ نو موږ ته ووایئ چې موږ به څه کوو، ولس ته په کوم صلاحیت ډاډ ورکولای شو چې ولس بیا ستاسو تر شا ودرېږي.

ځینې خلک موږ نړیوالو ته بد معرفي کوي، موږ نه د علم او نه د ترقۍ دښمنان یو، موږ ستاسو مشورې ته منتظر یو. موږ ته ووایئ که موږ ستاسو ملاتړ وکړو موږ به بیا هم همداسې یو چې هر وزارت ته له خپلې پگړۍ سره نه شو ننوتلای، موږ اوس په حکومت کې خپل ځان سهیم گڼو، خو څومره چې زموږ شمېر او حق دی، هغومره حق نه دی راکړل شوی، تاسو موږ ته څه ډاډ راکوئ، که چېرې موږ یو بل سره توافق کوو، نو یو با صلاحیته نماینده موږ ته رامعرفي کړئ.))

جمهور رییس: ((د انتخاباتو په باب اینده کې خبرې کوو، وکیلانو سره رابطه لرم، علماوو سره به د مولوي صاحب شینواري له لارې رابطه ټینگوو. کله چې د پاریس له کنفرانس څخه راخلاص شم، بیا به گورو، که اوس زه پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاباتو ځان اخته کړم، نو د وطن د ابادۍ کارونه راځخه پاتې کېږي. زما وظیفه دا ده چې تاسو ته لويې لارې جوړې کړم او ډېر کارونه وکړم. د هغه شخص لپاره ناوخته ده چې له حکومت څخه بهر دی، هغوی ته ډېر وخت په کار دی، خو زه چې جمهور رییس یم زه باید زیات کار وکړم، که زه خپل رسمي وخت پر انتخاباتو مصرف کړم، نو زه باید جمهور رییس نه اوسم. سهار چې زه دفتر ته راشم که چا سره پر انتخاباتو ځان اخته کړم، که بل کوم ولایت کې خلک له لوږې په تکلیف وي، نو دا زما لپاره بده خبره ده. کاندید یم، خو کار اوس ورته نه کوم، حکومت کې به اصلاحات راولم، که مې لويې پروژې عملي کړې، برق مې کابل، ننګرهار او ټول افغانستان



(جمهور رییس له علماوو او مخورو سره)

ته راوست، نو بیا به په خپل کار کې کامیاب یم، په کور کې خو به ارام کېنم، تاسې به کور ته راځئ، ټوکې ټکالې به کوو د افغانستان د امن خبرې مهمې دي، زه نن تاسو سره د امن په باب خبرې کوم، ستاسو زامن، مامور، صاحب منصب، متعلم د کوم تروریست په لاس وژل کېږي، دا مشکل باید حل کړو، خلک ذهناً ارام نه دي. که سړک مو جوړ هم شي، خو چې امنیت نه وي، تاسو به تشویش کوئ.

د غلا او امنیت تر منځ توپیر دی. د غلا مخه نیول ډېر کلونه غواړي، خو د مملکت په کچه امن ډېر ضروري دی، تر هغه چې له پاکستان سره خبره یو طرفه نه کړو، دا مشکل نه حلېږي. پاکستان له افغانستان څخه او له خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو او بلوڅو څخه ډارېږي، امریکایان باید پاکستان قانع او یا هم مجبور کړي، خو اوس امریکایان قانع شوي دي. پر یوه شي ډېر خوشاله یم، هغه دا چې یو وخت به د پاکستان مشرانو د افغانستان مشرانو ته توصیه کوله چې دا وکړئ او دا مه کوئ. هغه ورځ چې پاکستان کې مشرف انتخابات وبایلل، ما ورته د انتخاباتو د بایللو مبارکي ورکړه، هغه وویل ولې؟ ما وویل: که دا انتخابات دې ګټلي وای، ته به پاتې وې پاکستان به نه و، که تا ګټلي وو، نو چا نه منل، بیا مې اصف زرداري ته ټلېفون وکړ د مبارکۍ ترڅنګ مې ورته وویل چې مشرف سره روغه جوړه وکړه، نوازشریف ته مې هم همدا وویل. هغه بله ورځ په مصر کې له رضا ګیلاني سره کېناستم، ما ورته دا کیسه وکړه هغه راته وویل چې دې کوشش ته ادامه ورکړه او که بیا موقع دربرابره شوه نوازشریف ته ووایه چې موږ سره لاره ونیسي. ترڅو چې پاکستان زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه بنده نه کړي دلته سوله نه راځي. د طالبانو پر وخت چې سوله وه یوه خبره دا وه چې یو لاس خلک وو، خو اوس د یوه لاس خبره نه ده، موږ باید پاکستان یا بند کړو او یا یې هم منع کړو، که مساویانه دوستي راسره وکړي، مشر او کشر په کې نه وي موږ یې ورسره منو.

حسیني صاحب: ((چا چې چا باندې اول سلام واچوه، بیا همغه سره ملګری کېږي، نو تاسې باید هم اول غږ وکړئ.))

یو بل مشر: ((خلک په تشویش کې دي، هر چېرته د هر چا لپاره یو څوک کار کوي، نو ځکه خلکو ته تشویش پیدا کېږي، نو د عامه پوهاوي یو کمپاین باید پیل شي چې د خلکو ذهنیت جوړ شي، په قومي او جهادي لېول ټولو خواوو باندې باید کار وشي. موږ د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې رول ادا کولای شو.))

جمهور رییس : ((د پاریس کنفرانس نه وروسته به بیا سره کېنو، نورو مشرانو سره مو هم خبرې کړې، ټول باید سره کېنو. زه به هېڅ وخت له دې څوکۍ څخه د بې اتفاقۍ نښې نښانې څرګندې نه کړم، زه له دې څوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځکه د بې اتفاقۍ خبرې ته اجازه نه ورکوم، زما لپاره به ډېر د افتخار ځای وي چې زه جمهور رییس یم، خو د دې خاورې د وحدت لپاره کار وکړم. زه د یوې سیمې رایه د بلې سیمې د رایې په قیمت نه ترلاسه کوم. انتخاباتو ته به ډېر ترتیبات ونیسم د ځان لپاره نه، زه به د مشرف او نورو په شان هېڅکله ونه کړم. که زه وتاکل شوم، د اینده مشرتوب لپاره به ترتیبات ونیسم، د جشن پر ورځ خدای(ج) وساتلم. پېښې دي کېدی شي یو څوک له منځه لاړ شي. د دې خاورې اساسات باید جوړ کړو.))**

**قومي مشر: ((ستاسو د اخلاص ترځنگ تاسو سره همداسې یوه همفکره اداره هم په کار ده.))**

**جمهور رییس: ((د پاریس تر غونډې وروسته باید کېنو او نورو مشرانو سره به هم کېنو دې بحث ته به دوام ورکوو.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر او حسین خېل

ولسمشر دا ځل دکابل او د هېواد د نورو سیمو له مېشتو حسین خېلو سره ملاقات درلود. دا ملاقات د حسین خېلو د سراسري شورا په بلنه او غوښتنه برابر شوی و، د پروګرام په پیل کې د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو، بیا د حسین خېلو د قومي شورا په استازۍ (حاجي جنت ګل حسین خېل) خبرې پیل کړې، هغه د خپلو خبرو په پیل کې وویل:

((خوشاله یم چې د خپل قوم په شمول له جمهور رییس سره له نږدې ګورم، هیله ده هغه غوښتنې چې زما قوم یې لري، جمهور رییس ورته توجه وکړي. افغانستان د افغانانو مشترک کور دی. ټول ګډ مسؤلیت لري، ځینې کارونه د خلکو د خفګان سبب ګرځي، باید دا مشکلات حل شي، تاسې یو وخت د عفوې فرمان صادر کړ، باید همغه عملي شي، نړیوالو قواوو ورو له خپلو وعدو تېری کړی، خلک یې پر دې کار خفه دي، باید توجه وشي چې خلک ناراضه نه شي، د حسین خېلو قوم یوه غوښتنه لري هغه دا ده چې زموږ یو شمېر خلک بې ګناه بندیان دي، په زندانونو وطن نه جوړېږي، رییس صاحب په دې برخه کې دې خاصه توجه غواړم، خلک په بمبار او انتحار دواړو کې یو شان وژل کېږي، زموږ خلک غواړي بندیان یې خلاص شي، دا د خلکو او حکومت تر منځ یو پُل دی، پرون مو هم تائید کړی یې، نن دې هم تائیدوو او سبا به دې هم ان شاء الله تائیدوو، اصلي غوښتنه مو اوس همدا ده چې بندیان مو خلاص شي. بهرني ځواکونه خپله کله کله داسې اعمال تر سره کوي چې د خلکو حساسیت را وپاروي...)) په حاجي جنت ګل پسې د حسین خېلو د قوم بل مشر (حاجي دوست محمد خان) خبرې وکړې، هغه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library




((زه به په پاکستان کې د مهاجرینو په باب خبرې وکړم، مور مخکې هم ستاسو ملاتړ کړی دی، بیا به یې هم کوو، ټول مهاجرین دا خواهش لري چې هغوی په انتخاباتو کې برخه واخلي، (دوه نیم میلیونه) کارتونه هلته وېشل شوي دي. نهه لکه و پنځه شپېته زره (۹٦۵۰۰۰) حسین خېل ټول ستا ملاتړ کوي.)) دې وخت کې ولسمشر وویل: ((حسین خېل نهه لکه و پنځه شپېته زره تنه دي؟ ډېر زیات نه دي بابا نه به وي دومره؟)). دې کې ټولو غږ کړ، ان تر دې هم زیات دي، یو غږ کړ: «سروار یوولس لکه دي، په ګوته شمار». جمهور رییس ته هم عجیبه ښکاره شوه، خو دوی پر خپل شمار ټینګ ولاړ وو. حاجي دوست محمد خان خپلو خبرو ته دوام ورکړ. ((افغانان ټولو ته معلوم دي چې روس غوندې طاقت یې مات کړی، نو دا لا څه دي؟ دا قوتونه چې اوس راغلي که د مېلمنو په توګه راغلي وو، مور یې د مېلمنو په توګه منو، که نه مور اوس هم د جهاد اعلان کولای شو. زمور درې رنګه بیرغ زمور د تاریخ څرګندونه کوي، دا بیرغ باید وساتل شي)). دوست محمد خان بیا د یوې ښځې کیسه وکړه چې د اتفاق په باب وه، بیا یې زیاته کړه: ((مور نه یوازې د حسین خېلو د قوم لپاره اتفاق غواړو، بلکې د ټولو افغانانو او ټول افغانستان اتفاق غواړو، د مهاجرینو وزارت باید د مهاجرینو غم وخوري، مهاجرین باید بېرته په عزت سره خپل هېواد ته راستانه شي.)) تر حاجي دوست محمد خان وروسته یو تن دیني عالم خبرې وکړې، ویې ویل: ((دا یو واقعیت دی چې افغانستان د ټولو ولسونو او قومونو کور دی، رییس صاحب! پخوا د حسین خېلو قوم له تا څخه په انفرادي توګه ملاتړ کړی دی، خو اوس چې دا شورا جوړه شوې، غواړي په ډله ییز ډول درڅخه ملاتړ څرګند کړي، دا شورا (۹٦۵۰۰۰) تنه غړي لري، که غواړئ ټول درته حاضر کړو، هم راوړلای یې شو. زمور له قوم څخه یو تن ستا په حکومت کې دی، یو ډاکتر عبدالله لغماني دی، هلته یې د لغمان قومي شورا جوړه کړې ده، پر هغه باندې باید نور شفقت وشي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورپسې ولسمشر خپلې خبرې پیل کړې: ((زموږ د حسین خېلو مشرانو، عزیزانو، علماوو، سپین ږیرو، ځوانانو او استازو مولا مو راوله! په لیدو مو ډېر خوشاله شوم، دا چې زموږ ملاقات ډېر معطله شو، دا نو د افغانستان حالات دي چې کله کله داسې کېږي، په کور کې هم چې کله کله د کور غړي یو بل سره خبرې کوي، سره کېني، داسې مسایل پېښېږي، اوس راځم اصلي خبرې ته:**

**خارجي ځواکونه خودسرۍ کوي، خلک نیسي، کورونو ته ځي، بمبارۍ کوي، وژني یې، زه لګیا یم خبرې او دعوې ورسره کوم، هغه ده تاسې خبر یاست، یو څه بدلون راغلی، نور به هم راشي، خدای(ج) دې راسره مرستندوی شي چې ژر یې راولو.**



ولسمشر حامد کرزی

**د خارجیانو برخه ماته پرېږدئ، تاسې مې ملاتړ وکړئ، که شخړه مې ورسره وسوه که روغه، دا برخه ماته پرېږدئ، تر هغو به دې دعوو ته دوام ورکوو چې وروستي تارونه ونه شلېږي.**

**که راځئ لاړل نو ژوند به مو بېرته هغه د لسو کلونو پخوا ژوند وي، د کور لپاره اول تهداب کېږدو، تهدابونه مو لا پاخه نه دي، دېوال مو لا تر اوسه پوخ نه دی، همسایګان راته په کمین کې ناست دي، لکه شرمښان، دا تور، سور او شین بیرغ چې موږ او تاسې پرې ویاړو، ځینې ګاونډي هېوادونه او لرې پراته هېوادونه غواړي دا بیرغ ټیټ کړي. هالنډ څه موده د مخه زموږ بیرغ د هوایي ډګر په لویه لاره کې ځړولی و، ډېر خوند یې وکړ، بهرنیانو سره به ګوتې ماتوو، خو انډیوالي به مو هم ورسره نه خرابوو، څو موده د مخه یې مشران راته راغلل، ماته یې وویل: که ته خفه یې موږ به درڅخه لاړ شو. ما**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وویل: که د تروریزم پر خلاف راغلي یاست نو دا جنگ خو زموږ په وطن کې نه شته، نه زموږ په کلي کې تروریزم شته، نو ځای دې بل ځای دی، که د سیمې لپاره راغلي یاست، نو ونډه به مې معلوموې، اباد افغانستان درڅخه غواړم، ستر افغانستان درڅخه غواړم، داسې افغانستان چې لس کاله بعد په دې سیمه کې ستر هېواد وي، موږ د خپل وطن د ابادۍ په خاطر دنیا سره په خبرو لگیا یو، افغانستان زموږ کور دی، خاوندان یې موږ یو، خو دا کور په دې دنیا کې بې ملگرو نه شي چلېدی، وایي چې خان یې په یاران یې، دوی ته به وایم چې ورانی مه کوئ، دوستي به هم نه خرابوو.

بله خبره دا ده چې غل او قاتل نه راخوشې کوو، خو که څوک یې د طالب په نامه نیولی وي، هغه به راخوشې کوو.)) دا مهال یو تن د (موسهي) بندیانو په هکله هم یادونه وکړه.

ولمسشر وویل: ((د موسهي خلک ډېر پیاوړي خلک دي لېست به یې راوړئ، که ستاسو طالب و، درخوشې کوم یې او که د بل ځای طالب و، نه یې درخوشې کوم، دا وطن چې وران شو، دا یوازې خارجیان نه وو، د دې ځای خلکو هم ورسره لاس درلود. په خدای که دا وطن په قرار کړئ تر څو ځان د دې وطن خاوند ونه گڼئ!

په ټاکنو کې د مهاجرو گډون په باب باید ووایم چې دنیا دا ځل پیسې نه ورکوي، د پاکستان حالات ښه نه دي، نو هلته چې نه کېږي، نو بیا خو په ایران کې هم نه کېږي. مولوي صیب ښه خبره دې وکړه، افغانستان کې ژوند او عزت غواړو، زما پلار کوټه کې شهید شو، زه په اسلام اباد کې وم، د لویې جرگې په باب مو خبرې کولې، د امریکا سفیر راته وویل چې ته ولې امریکا ته نه ځې؟ ما ورته وویل چې دا ستاسو په شان ښکلی ژوند، موټر او نور هر څه په افغانستان کې غواړم، خدای دې دې حالت ته موږ ورسوي او دا هله کېږي چې موږ د دې خاورې د خاوندتوب حق پر ځای کړو. نور څوک یې نه شي جوړولای، په میلیونونو عسکر چې دلته راشي، دا ملک نه شي ساتلای،

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر څو چې موږ يې ونه ساتو، خارجي به دلته راځي، خو د ملک ساتنه به موږ خپله کوو، تر څو چې خپل ځوان پولیس، ډاکتر، انجنیر او نور وروزو. امریکا په دې امریکا ده چې سړي لري، هندوستان یې بل مثال دی، غریب و خو نن په نړۍ کې یو قوي هېواد دی، زه به دا ژمنه درسره وکړم، هغه کسان به راخوشې کړم چې ملامت نه دي، تاسې به راسره دا ژمنه وکړئ چې خپل اولادونه به روزئ، هم مو رایه غواړم او هم مو ملاتړ غواړم. په گډه به هغه مرام ته رسېږو چې افغانستان په کې سوکاله وي. مولا مو راوله!))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ننګرهار مومند او ولسمشر

که څه هم ولسمشر د ننګرهار له ولسونو سره څو څو ځله کتلي، خو دا کتنه د ننګرهار د مومندو قوم خپلونو ته ځانګړې شوې وه. د غونډې په پیل کې د (مولوي عبدالعزیز خیر خواه) له خوا د قران کریم د څو مبارکو ایتونو تلاوت وشو، بیا خپله همده د خلکو په استازۍ له ولسمشر څخه مننه وکړه چې دوی ته یې وخت ورکړ چې خپلې محیطي ستونزې ورسره شریکې کړي. مولوي عبدالعزیز ولسمشر ته وویل:



(مولوي عبدالعزیز خیرخواه)

((ستاسو په تدبیر او هلو ځلو د افغانستان نوم اوچت شو. تېرو جګړو افغانستان ډېر ځپلی دی، که څه هم په تېرو څو کلونو کې ډېره ابادي شوې، خو بیا هم د ټولو خلکو هیلې نه پوره کېږي، د اداري فساد مخه باید ونیول شي او په دې برخه کې د خلکو تشویشونه له منځه یوړل شي، په هېواد کې باید دیني مدرسې نورې هم زیاتې شي او تاسو باید خپل رسالت او مسؤلیت لاپسې اوږد کړئ. موږ د نړیوالو له مرستې مننه کوو، خو د هغوی د خپلسرو عملیاتو په باب تشویشونه نه شو هېرولای، په ننګرهار کې ډاډمن امن دی، کوکنار صفر شوي، ډایاګ پروګرام ښه روان دی، د قانون د پلي کېدو لپاره د ننګرهار د خلکو ملاتړ ضروري دی، د ننګرهار د (ډکې) په سیمه کې د (ښارګوټي) د جوړولو پلان جوړ شوی و، باید هغه پلان عملي شي، ننګرهاریان تاسو سره ودرېدل، تاسو باید ننګرهاریانو سره ودرېږئ! څرنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ننګرهار کې کوکنار صفر شوي، نو په کار ده چې ننګرهار سره مرسته وشي، په (باګرام) کې بې ګناه بندیان لرو، هغه باید راخلاص شي، موږ یې تضمین کوو. موږ چې په اوسنیو شرایطو کې څومره فکر کوو، ستا بدیل نه ګورو.

په ننګرهار کې په زرګونو عالمان موجود دي، خو د هغوی په استازۍ تا سره د پنځه سوو عالمانو ځانګړی ملاقات غواړو، علماوو لپاره د یو ځانګړي ښارګوټي منظورېدل غواړو.))

په مولوي عبدالعزیز پسې د مومندو یو قومي مشر (اول دادخان) خبرې وکړې، ویې ویل: ((لومړی خو له ولسمشر څخه مننه کوو چې موږ ته یې وخت راکړ. د ننګرهار خلکو دا خبره تر بل هر چا زیاته درک کړې ده چې تاسو په سختو شرایطو کې افغانستان ته ډېر مثبت څه راوړي دي. موږ د ځینو نورو کاندیدانو فعالیتونه ګورو چې اخوا دېخوا یې پیل کړي دي. کابینه، ستره محکمه، ولسي جرګه، مشرانو جرګه، ولایتي شوراګانې او نور ټول خپل خپل غړي لري چې په یو ګډ سیستم کې باید کارونه تر سره کړي، د خصوصي سکتور د تقویې لپاره هڅې پیل شوي.



(ولسمشر حامد کرزی)

باید دا هڅې نورې هم پیاوړې شي، یوازې په ننګرهار کې (شپږ زره هکتاره) ځمکه تیاره شوې وه، اوس ایله (زر هکتاره) تیاره ده. باید دا په دولتي هڅو فعاله شي، له (سلامپور) څخه باید یوه ویاله (ګمبیري) ته ورسېږي، د نور محمد تره کي له خوا ځینو خلکو ته (د شپږ جریبه ځمکې) د ورکړې د پخواني فرمان د لغوې په باب تاسو یو فرمان صادر کړی و، هغه باید عملي شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسمشر: ((د ننگرهار د مومندو استازو په خیر راغلئ!**

**د (ډکې د ښارگوټي) په باب به خپل کار پیل کړم، د ملکي تلفاتو او بندیانو په باب مې ډېر کار کړی او ډېر په کې ستړی شوی یم، خو تر اوسه مې لا هم هغه نتیجه نه ده ترلاسه کړې چې افغانان یې غواړي. خلک بندیانېږي، وژل کېږي. خبره مې دې حد ته رسولې چې د امریکې د جمهور رییس معاون راغلی و، هغه وویل، موږ تا سره هره معامله غواړو، خو دا چې ته به موږ پسې خبرې نه کوې، اعتراض به نه کوې، د کورونو د پلټلو او نور تبلیغات به موږ پسې نه کوې، نور چې هر څه غواړې، موږ یې درسره منو! ما ویل چې ته زموږ تلفات بند کړه، زموږ کورونه مه تلاشي کوه، نور چې ته هر څه وایې زه یې درسره منم، موافقې ته سره ونه رسېدو، فیصله دا شوه چې دوی به خپل لوړ پوړی استازی راولېږي او زموږ لوړ پوړو استازو سره به وگوري او دا اوس چې دوی کوم تبلیغات موږ پسې کوي، دا همغه علت و، بل څه نه دي، که چېرې دوی بیا هم دې کار ته ادامه ورکوله، بیا به ملت دې خبرې ته راوغواړم، ما ورته وویل چې دا کار ستاسې په گټه نه دی، طالبان چې مات کړي، هم خلکو مات کړي، ستاسې څه لښکرې دلته وې چې طالبان مات کړي، همدا ولس و چې هغوی یې مات کړل، په بندیانو کې مو یو څه ورسره کړي، خو تر اوسه یې لا نتیجه نه ده معلومه، کله چې ملت راته هر ډول مشوره راکړه همغسې به کوم. کله چې د دوی نوی جمهور رییس کېني، د دوی یو هیئت کابل ته راځي، د سعودي استازی هم راروان دی، دعا وکړئ چې دا درسره ودرېږي، ډېر مشکلات مو حلېږي، مولا مو راوله، هرکله راشئ، په خیر راشئ!))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ولسمشر او د ننګرهار مخور

په پیل کې (مولوي عبدالعزیز خیرخواه) د قران کریم څو مبارک ایتونه تلاوت کړل، ورپسې د ننګرهار د خلکو په استازۍ د ننګرهار ولایت مرستیال (سرمحقق محمدعالم اسحقزي) خبرې وکړې. ده په خپلو خبرو کې وویل: ((اجازه راکړئ چې تاسو ته د ننګرهار د ولسونو له خوا تاوده سلامونه وړاندې کړم، دا چې تاسو د انتخاباتو په نتیجه کې یو ځل بیا د جمهور رییس په توګه انتخاب شوئ. دې کې د ولس ملاتړ له ورایه ځلېږي. د ننګرهار ولسونه دا د ځان لپاره ستر ویاړ ګڼي او تاسو ته د مبارکۍ مراتب وړاندې کوي. تاسو په سختو شرایطو کې د ملت د لارښوونې لارې چارې په ښه توګه تر سره کړې، تاسې د رغونې ډېرې بریاوې لرئ، د تحلیف په مراسمو کې تاسو د



(ډاکتر محمد عالم اسحاقزی)

عالي وینا په باب د ننګرهار ولسونه ملاتړ کوي.

د مخدره توکو په له منځه وړلو کې ستاسو ملاتړ کوو. ستاسو په لارښوونه او د ننګرهار ولایت د والي په همکارۍ د ختیزو ولایتونو د سولې او پرمختګ جرګه جوړه شوه، هیله ده چې د افغانستان د نورو برخو لپاره هم ښه مثال شي. د اداري فساد په له منځه وړلو کې د ننګرهار ولسونه ستاسو ملاتړ کوي. د تېرو درېو کلونو په بهیر کې عواید له پینځه اعشاریه یو(۱، ۵) ملیاردو څخه پینځه اعشاریه څلور (٤، ٥) ملیارده افغانیو ته پورته شوي دي. تر اوسه د ننګرهار (۱۳) ولسوالۍ د سولې ولسوالۍ اعلان شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. د مخدره توکو په له منځه وړلو کې اول یو.

۱- د ننګرهار خلک د ګندمک له لارې کابل ته، د سړک جوړولو غوښتنه کوي.

۲- دوه صنعتي پارکونه لرو، خو برېښنا نه شته، د کونړ د سیند له پاسه برېښنابند غواړو.

۳- د دیني تعلیماتو لپاره په ننګرهار کې د اسلامي پوهنتون جوړېدل غواړو.

۴- د اهل او باکفایته اشخاصو په ذریعه باید د دولت پر جوړښت غور وشي.

۵- د اعتماد او کفایت وړ اشخاص باید وټاکل شي.

٦- د یو کاري او مسلکي ټیم جوړول د وخت غوښتنه ده.

۷- ستاسو په څنګ کې د خدمت کولو یو مستقل کمیسیون باید جوړ شي.

۸- د ننګرهار خلک په سوله کې ښه نوم لري، په اینده کې به هم خپل دې حالت ته دوام ورکوو. په امنیتي ځواکونو کې د دې سیمې د ځوانانو د تقرر هیله لرو.))

بیا (محمد هاشم غمشریک) خپل شعر واوراوه:

ستر برى او لوړ مقـــــام دې مبارک شه
سر لوړي د ملک او قام دې مبارک شه

ورپسې د ښځو چارو رییسې (شیلابابري) خبرې وکړې، ویې ویل: ((زه د ننګرهار ولایت د ښځو په نمایندګۍ جمهور رییس ته مبارکي وایم. ما مخکې د ننګرهار د ښځو په باب ډاډ درکړی و، اوس دا دی موږ د خپل کار نتیجه ګورو. لکه څنګه چې تاسې په تېرو پنځو کلونو کې وځلېدلئ، هیله‌من یو په راتلونکو پنځو کلونو کې نور هم وځلېږئ. سوله زموږ د ټولو ښځو هیله ده، هیله ده سوله په ټول هېواد کې ټینګه شي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د گلانو یوه گېډۍ او یوه پگړۍ جمهور رییس ته ډالۍ شوې.

ورپسې جمهور رییس خپله وینا پیل کړه:

((زموږ پیاوړی او دلاوره والي صیب!

د ننگرهار عزتمنو، خویندو، علماوو او ځوانانو! هر کله راشئ، په خیر راشئ!

نن به زه د ننگرهار خلکو ته د خپل زړه یو راز وایم، خو تاسو به یې بل چېرته نه وایئ!

انتخاباتو ته روان یو، خبرې مو سره کولې، پر همدې مو خبرې کولې چې کومه سیمه، کوم ځای او کوم خلک به رایې راکړي، خو پر ننگرهار مې تر ټولو زیات اعتبار درلود، د ټولو په باب تشویش و، خو پر ننگرهار مې زیات باور و. حاجي صیب دین محمد راته د ننگرهار د کمپاین په باب وویل، ما ورته وویل:

له نور افغانستان څخه کله کله د تشویش خبرونه راغلي، خو ننگرهار څخه تل د ابادۍ او تسکین خبرونه راغلي دي، مطلب مې ټول لوی ننگرهار دی. د افغانستان عزت مو ساتلی دی. کور مو ودان، وکیلان او سناتوران مو ټول درانه خلک دي. کله چې راغلي، نو د ټول وطن په باب یې راسره خبرې کړي دي. مشران مو درانه خلک دي، زه یې نورو ته مثال ورکوم. هیله لرم چې نور یې د ننگرهار له مثاله زده کړي.

یوه وعده مې درسره کړې، هغه درسره پوره کوم. ژر تر ژره به درته سړک جوړوم. دې کې زما مطلب دی، زړه لاره به د سیاحت وي او نوې لاره به د تجارت لاره وي. د ننگرهار درنو مشرانو! انتخابات دنیا رابدنامه کړل، حتی زه خپله شکمن شوم، خو کله چې خارجیان (جان کیري) راغلل او دواړه کمپسیونونو سره کېناستل، نو هلته ماته پته ولگېده، چې انتخابات مو رښتیا هم گټلي دي. د انتخاباتو د کمېسیون مشر او د دارالانشا رییس خارجیانو ته وویل چې دویم پړاو انتخابات باید تضمین شي. هغوی ومنله! ما یوازې کابل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننگرهار، هرات، خوست، فاریاب، کندهار او نور نه دي گټلي، بامیان مې هم گټلي، تر بشردوست یې زه مخکې کړی یم. سرپل، جوزجان هم بریالی کړی یم، تخار هم بریالی کړی یم.

په تخار کې په تېرو ټاکنو کې پېنځلس(۱۵) اوس پېنځه اویا (۷۵) زره رایې لرم. د پکتیکا خلکو نه یوازې زه کامیاب کړم، بشردوست صیب ته یې هم دوه زره او دوه سوه (۲۲۰۰) رایې ورکړې!

د عبدالله، بشردوست، اشرف غني او یاسیني او نورو ټولو مبارزه ستایم.

یو بل ستر کار هم وشو، هېڅ ته تاوان پېښ نه شو، ټول کمپاین په امن کې وشو، خبرې وشوې، د انتخاباتو پر ورځ چې کوم مشکل پیدا شو، بله مسئله وه، خو د ولس تر منځ کومه ستونزه پېښه نه شوه، خو په انتخاباتو کې چې چا هر چېرته هر چاته رایه ورکړې دا ټوله رایه د افغانستان رایه ده، د افغانستان لپاره ورکړی شوې ده، که ماته چا رایه راکړې او که نه، زه د ټولو جمهور رییس یم، خدای دې وکړي د افغانستان هر بچی که په پامیر کې دی که په نیمروز کې ما خپل خدمتگار وگڼي، که دا کار ما وکړ، که زه ځان د ننگرهار د خلکو خدمتگار بولم، نو زه که د اقچې او نورو سیمو خدمتگار شم، نو دا به زما لپاره لوی ویاړ وي. که پنځه کاله وروسته ما بل جمهور رییس ته تر دې یو بریالی افغانستان ورسوه، نو دا به زما لپاره د دنیا او اخرت سرخرویي وي. که پنځه کاله وروسته زه له دې څوکۍ رخصتېږم، نو زه داسې یو څوک یم چې دولت راته معاش راکړي او پر دولتي معاش اتکا وکړم، نو دا به زما لپاره ډېره لویه نېکمرغي وي.

خدای مو اباد، سرفرازه او جوړ لره، خدای دې ماته توان راکړي چې ستاسې خدمت وکړم. زه دا استعداد په تاسې کې گورم چې نه یوازې د افغانستان، بلکې د سیمې او نړۍ لپاره د یو لوی روزنیز مرکز حیثیت غوره کړئ.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوولسم څپرکی

# ولسمشر او خبري کنفرانسونه

ولسمشر حامد کرزی د هغو ولسمشرانو له جملې څخه دی چې ډېر زیات رسنیز کنفرانسونه یې ورکړي دي. ان که وویل شي د نړۍ په هغو پنځو ولسمشرانو کې به حسابېږي چې تر ټولو زیات خبري کنفرانسونه یې ورکړي دي. په درېو ژبو: (پښتو، دري او انګلیسي) د هغه حاکمیت ده ته د دې لاره اواره کړې چې وخت سپما کړي او هر خبریال ته د هغه په خپله ژبه ځواب ورکړي. د کرزي خبري او ګړنې ژبه نرمه، خوږه او له طنزه ډکه ده، په دې



(ولسمشر حامد کرزی د خبري کنفرانس پر مهال)

خاطر خو ژورنالیستان ورسره نه تنګېږي، د ده پراخه اوسېله هم د دې سبب شوې چې د ژورنالیستانو خبرو او پوښتنو ته هر کلی ووایي. د افغانستان په حکومت کې د ځینو وزارتونو او د هغوی د اړوندو مسؤلینو له خوا د مسؤلیت نه منل هم د دې سبب شوي چې ولسمشر ډېرو خبري کنفرانسونو ته په خپله حاضر شي. د ده د خپلو ویندویانو کمزوري او یا هم هغو ته د زیات

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلاحیت نه ورکړې هم ولسمشر مجبور کړی چې ډېرو پوښتنو ته په خپله ځواب ووايي. ځینې هغه خبرې چې خطرناکې برېښېدلې، لکه د امریکا متحده ایالاتو سره د اړیکو مسایل او یا هم د ملکي وگړو وژنه، دې مسایلو ته د دفاع، کورنیو چارو، ملي امنیت، بهرنیو چارو او د اطلاعاتو او کلتور وزارت وزیران او یا هم ویندویان نه حاضرېدل، چې ځواب ووايي، خپله به ولسمشر میدان ته رادانگل. کله کله به دا خبري کنفرانسونه له بهرنیانو سره د مناسباتو د نورې خرابۍ سبب هم شول، ځینې وخت به ولسمشر ته ځینو خلکو ویل چې هر وزارت خپل وزیر او ویاند لري، د هغو وظیفه هم تاسو اجرا کوئ، پرېږدئ چې ځینې خبرې په خپله وزیر وکړي، وروستۍ خبرې چې ډېرې غټې دي هغه باید تاسو وکړئ، دا چې امریکایانو چېرته بمبار کړی او ولسي وگړي يې وژلي دا خو د دفاع، کورنیو چارو وزارتونو او ملي امنیت ریاست کار دی چې هغوی پرې نظر څرگند کړي، دا کار چې هم تاسو کوئ، نو بیا د هغوی وظیفه څه ده؟ ما (یون) خپله ولسمشر ته څو ځله دا وړاندیز کړی، هغه هېڅکله دا ونه منله، کله کله خو به يې وویل: ((دا، دا ټول د امریکایانو معاش خواره دي، دا ټول هلته سفارت ته ورځي، همغو سره کښته پورته کېږي، دا د دې جرئت لري چې د هغو په باب څه خبره وکړي؟))

خیر که له هرې وجې و، جمهور رییس زیاتره وخت خپله خبري کنفرانسونو ته حاضرېده او ډېر زیات حاضرېده، د ولسمشر ټول خبري کنفرانسونه، که د هغه د وخت په مقیاس په پام کې ونیسو او بیا يې د نورو ولسمشرانو له خبري کنفرانسونو سره پرتله کړو، نو رښتیا هم چې ولسمشر حامد کرزي به تر ډېرو ولسمشرانو زیات خبري او نور معلوماتي کنفرانسونه ورکړي وي او له دې پلوه به په نړۍ کې په پنځو ټاپ ولسمشرانو کې حساب شي او که چېرې موږ د افغانستان نازک حالات، سیاسي او امنیتي شرایط په پام کې ونیسو، نو دی به په پنځو کې هم په لومړیو دوه یا درېیو کې راشي، دلته به يې د يو څو خبري کنفرانسونو متن هم وړاندې کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بخارست غونډه او خبري کنفرانس

د (۱۳۸۷ل) کال د وري (۱۸) مه نېټه چې د (۲۰۰۸م) کال د اپریل له



(ولسمشر حامد کرزی او د ملګرو ملتونو سرمنشي بانکي مون)

(٦) مې نېټې سره سمون خوري، ښاغلي حامدکرزي ژورنالیستانو ته د خپل دود له مخې په ((خدای مو راوله)) سره ښه راغلاست ووایه. زیاته یې کړه چې: ((ما او زما ملګرو پلاوي د بخارست له غونډې دوه مهمې لاسته راوړنې لرلې:

۱- د افغانستان ګډون او نظر په داسې نړیوالو غونډو کې د پام وړ دی.
۲- د افغانستان د نظر خپرول، د ناټو په پرېکړه لیک کې د افغانستان نظر څرګند شو.

ولسمشر زیاته کړه: ((اوس افغانستان دې حد ته رسېدلی چې په ځینو حساسو سیمو کې خپل امنیت په خپله ونیسي، د کابل امنیت د ساتلو لپاره مو وړاندیز وکړ، هغوی ومانه، د افغانستان ملي قوتونه د تقویې په حال کې دي او د نورو سیمو امنیت به هم نیسي، نړیوال دې د افغانستان ملي قوتونه تر (۲۰۱۰م) کال پورې تقویه کړي.

سیاسي برخه کې مو پرمختګ وکړ، د تروریزم په برخه کې مو وویل چې دا جګړه یوازې د افغانستان جګړه نه ده او نړیوال باید موږ سره په دې برخه کې مرسته وکړي. هغو کسانو ته چې د افغانستان پرضد جنګېږي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانستان ته یې زړه بد نه دی، هغوی سره دې خبرې وشي، که اساسي قانون ومني، نو خبرې ورسره کېدی شي.**

**د فرانسې، ترکمنستان، انگلستان، ناټو او ملگرو ملتونو مشرانو سره مو د افغانستان په باب خبرې وکړې. د ناټو مشر سره مو خبرې وکړې، ملگرو ملتونو سرمنشي ته مو د هغه له نماینده سره د همکارۍ ډاډ ورکړ.**

**همدغه شان مو د افغانستان او ترکمنستان د گډو همکاریو په اړه خبرې وکړې.**

**د باران د نشتوالي په حالت کې مو له ترکمنستان څخه وغوښتل چې خپل څړځایونه زموږ د کوچیانو په واک کې ورکړي.**

**تر جگړې وروسته د المان رغونې د پلان په شان مو د افغانستان د بیا رغونې د پلان جوړونې په باب هم خبرې وکړې.**

**د پوهنتونونو له استادانو او محصلینو سره مو خبرې وکړې.**

**د ناټو او ملگرو ملتونو مشرانو سره مو گډ پرېس کنفرانس ورکړ.**

**د هالنډ له صدراعظم سره مو وکتل، همدا راز هنگري ته مو سفر وکړ، هغوی زموږ زیات هرکلی وکړ او د افغانستان بیرغونه یې په هره خوا کې ځړولي وو.**

**مهمه خبره دا ده چې موږ له دې ملاتړ څخه څرنگه ښه استفاده کولای شو؟ دوی په یوه غږ د افغانستان ملاتړ وکړ. د افغانستان مشکلات یې درک کړي وو او ملاتړ یې ډېر څرگند و. اوس باید موږ د دنیا له دغو بشري، نظامي او مالي مرستو ښه استفاده وکړو، هېڅ هېواد په شلمه پېړۍ کې د نړیوالې ټولنې دومره ملاتړ نه دی تر لاسه کړی.))**

**تر دې توضیحاتو وروسته پوښتنې پیل شوې:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي بي سي خبريال: د طالبانو له رهبرۍ سره مو تماس ټينګ کړی دی او کوم حد ته رسېدلی دی؟

پر خصوصي ټلوېزيونو باندې د ځينو سريالونو د خپرولو د بنديز په هکله څه نظر لرئ؟

ولسمشر: څو مياشتې مخکې طرفينو تماسونه لرل، خو دا داسې تماسونه نه وو چې د منظمې مذاکرې بڼه ولري.

ناټو سره مو هم په دې باب خبرې وکړې؛ له ناټو څخه مو بيا وغوښتل چې د ملکي خلکو د وژنې مخنيوی بايد وشي.

د خصوصي ټلوېزيونونو په باب د قانون مطابق اقدام کوو، د ټلوېزيونونو خپرونې بايد زموږ د کلتور مطابق وي او خلکو ته د منلو وړ وي. د اطلاعاتو او کلتور وزير سره مې خبرې کړي، چې د ټلوېزيونونو د خپرونو د هضم لپاره کار وکړي، زموږ ټلوېزيونونه د پرديو (ايران، پاکستان، ازبکستان) تر تاثير لاندې دي.

خبريال: د افغانستان دولت د ناټو د پرېکړو په باب څه مسؤليت لري؟

ولسمشر: د نظامي او اقتصادي پرمختياوو انډول به مراعت شي، ناټو له تروريزم څخه د افغانستان د خلاصون لپاره راغلې او د افغانستان خلک ورته ضرورت لري، موږ له ناټو او نړيوالې ټولنې سره ولاړ يو تر هغه چې افغانستان په خپلو پښو ودرېږي.

فضل الرحيم، سي بي ايس ټلوېزيون: د افغانستان حکومت چې د کابل امنيت پر غاړه اخلي، نړيوال ځواکونه به نورو ولايتونو ته ځي؟

د پاکستان د خلکو ګوند مشرې بينظير بوټو تاته د کاميابېدو په حالت کې د همکارۍ وعده درکړې وه، خو اوس نواز شريف بل نظر لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب: د پاکستان نوي حکومت سره منظم اړیکي لرو، ما ورسره خبرې کړي، ما نواز شریف، اصف علي زرداري او نورو سره خبرې کړي، موږ د پاکستان له حالاتو څخه واقف یو، له تروریزم سره مقابله زموږ ملي مجادله ده، د پاکستان مشکل هم دا دی، که هر یو په دې برخه کې سستي وکړو، خپلو خلکو سره ظلم کوو.

زموږ د کورنیو چارو او دفاع وزارت له ناټو سره خبرې کوي، مخکې هم موږ امنیت ساتلی و، خو د جوزا تر میاشتې وروسته د دفاع او داخله وزارت ورسره په دې باب خبرې کوي.

نورین ټلوېزیون خبریال: په داسې حال کې چې ناټو په خپل منځ کې مشکلات لري دا مشکلات څنګه له منځه تللای شي؟

ځواب: په بخارست کې د ناټو غړي ټول په یوه غږ او یوه خوله وو.

الجزیره: ناټو څومره قوتونه افغانستان ته رالېږي؟

ځواب: دا کنفرانس د نورو پوځونو د انتقال لپاره نه و رابلل شوی، بلکې د یوې ستراتیژۍ لپاره و، دا د یوې اوږدې ستراتیژۍ لپاره و.

صفیه حساس، ازادي راډیو: د وزیرانو د حساب ورکولو په پروسه کې وزیرانو د نړیوالې ټولنې له تعهداتو څخه شکایت کاوه؟

د تړلو دروازو تر شا خو تر کربښې اخوا د عملیاتو د سرته رسولو په باب خبرې ونه شوې؟

ځواب: دا خبرې نه دي شوي، خو د دواړو هېوادونو تر منځ د همکارۍ مسایل مطرح شول، موږ باید دا خبره ونه کړو چې دنیا موږ ته څه راکړي، موږ باید له ذهني اسارت څخه ځان خلاص کړو. موږ باید له هغوی څخه تشکر وکړو، موږ دا وطن خپله وران کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریال: (متحدې جبهې) هم اعلان کړی چې له پنځه میاشتو راهیسې طالبانو سره تماس لرو، متحده ایالاتو (جلالي او خلیلزاد) کاندید کړي، تاسو په دې باب څه وایئ؟

ځواب: هر افغان حق لري چې یو بل سره خبرې وکړي، خو که د حضرت صاحب په مشرۍ د سولې د کمېسیون له لارې خبرې اترې تر سره شي، ښه به وي.

زه فکر نه کوم دا خبره رښتیا وي، د افغانستان جمهور رییس د افغانانو له خوا ټاکل کېږي، هر افغان د انتخاباتو له لارې د کاندیدېدو حق لري. موږ د اساسي قانون مطابق عمل کوو، اوس موږ دوه انتخاباته لرو: یو د جمهوري ریاست او بل د پارلمان، که له زړه مې پوښتئ، نه غواړم کاندید شم، که هدف ته ګورم نو کېدی شي کاندید شم.

موږ په دې اړه ډېرې خبرې وکړې او ومو غوښتل چې په دې برخه کې له زیات احتیاط څخه کار واخیستل شي.

خبریال: له طالبانو سره د مستقیمو تماسونو ټینګول به څنګه شي؟

ځواب: کوښښ کوو چې زمینه سازي وشي او تماسونه ټینګ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان- پاکستان او د امریکا ستراتیژي

## (خبري کنفرانس)

((ورونو او خویندو، په خیر راغلئ! لکه څنګه چې خبر یاست، پرون ماښام د امریکا جمهور رییس د افغانستان او پاکستان لپاره د خپلې ستراتیژۍ اعلان وکړ. افغانستان د دوی د ستراتیژۍ هر کلی کوي او زموږ د تائید وړ ده، په دې مانا چې دا ستراتیژي له هغو غوښتنو سره مطابقت لري چې د افغانستان خلک یې لري، نو ځکه خو زموږ لپاره د تائید وړ ده، خصوصاً د افغانستان د مفاداتو تقویه، په ملکي او نظامي ساحه کې د تائید وړ ده، موږ ورسره همکار یو، د فساد پر ضد مبارزه ورسره تائیدوو او همکاري به ورسره کوو، د دوی له دې اعلان سره به په حکومت کې د موثرې ادارې لپاره کار کوو، د دوی دا نظر زموږ د تائید وړ دی، دا چې د تروریزم پر ضد مبارزه زموږ دنده ګڼل کېږي، موږ ورسره موافق یو.

د افغانستان، پاکستان او بین المللي تروریزم پر ضد د مبارزې لپاره د جهاني همکارۍ او هماهنګۍ غوښتنه هم زموږ لپاره د تائید وړ ده، افغانستان ورسره هم نظره دی او همکار دی ورسره، په تېره بیا د همسایه ګانو د مرستې غوښتنه، چې هند، روسیې، خلیج، ایران څخه د مرستې غوښتنه، اماراتو او سعودي څخه د مرستې غوښتنه زموږ د تائید وړ ده. هغه کسان چې له القاعدې او تروریزم سره تړلي نه دي او له اساسي قانون سره سم دلته ژوند کوي، دا زموږ غوښتنه ده، هیله ده موږ په ګډه داسې اقدامات تر سره کړو چې سولې ته لاره خلاصه کړي، خصوصاً له ملګرو ملتونو څخه غواړو د هغو کسانو نومونه چې دوی په تور لېست کې نیولي، هغه له تور لېست څخه وباسي چې د سولې پروسه ګړندۍ شي او موږ خپل کار پیل کړو. بله مسئله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تروریزم منطقه یي وضیعت دی، دا چې د تروریزم مرکزونه په افغانستان کې نه دي او منطقه یي جنبه لري، موږ دا مسئله ورسره منو او په دې برخه کې ورسره همکار یو. د افغانستان، پاکستان او امریکا د درې اړخیزو اړیکو تقویه غواړو او دا مسئله هم زموږ د تائید وړ ده. دلته داسې نورې ډېرې خبرې هم وې چې زموږ د تائید وړ وې، لکه ولسواکي، د ښځو ونډه، اقتصادي پرمختگونه، د افغانستان بریالیتوبونه او نورې خبرې، ترهگر باید ضعیفه شي او دلته بیا ځاله ونه کړي، موږ له دې ټولو مسایلو سره موافق یو، لنډه دا چې د افغانستان او پاکستان لپاره دا ستراتیژي زموږ لپاره د تائید وړ ده. دې ستراتیژۍ زموږ د خلکو هیله څرگندوله، هیله لرو چې موږ سره شریک کارونه وکړو او دا ستراتیژي تطبیق کړو. د دې ستراتیژۍ ځینې برخې به په هالنډ کې نړیوال کنفرانس ته هم وړاندې کړو.

یوه بهرنۍ خبریاله: نظر مو دا دی چې دا ستراتیژي په مجموعي ډول تائیدوئ؟

ځواب: هو، موږ د دې ستراتیژۍ ملاتړ کوو.

بي بي سي فارسي ټلوېزیون: په پاکستان کې یې د تروریزم پر ضد د مبارزې د میکانیزم په باب څه نه دي ویلي؟ د هالنډ په کنفرانس کې د ایران گډون څنگه کولای شي د سولې په بهیر کې نقش ولري؟

ځواب: د امریکا جمهور رییس په دې ستراتیژۍ کې د پاکستان نقش په واضح ډول څرگند کړی، پاکستان هم له دې ستراتیژۍ څخه ملاتړ کړی دی، وروسته به یې عملي اجرااتو ته گورو، ایران په سیمه کې یو با نفوذه هېواد دی، موږ مخکې هم له ایران سره د امریکا د روابطو د ښه کېدو غوښتنه کړې وه، موږ هیله لرو د ایران او امریکا مناسبات ښه شي او له دې مناسباتو موږ ته گټه ورسېږي.

یوه خصوصي رسنۍ: د فشار واردولو په باب خبرې شوي، خو د اقتصادي مرستو په باب څه نه دي ویل شوي، بل تاسو وویل چې د انتخاباتو په باب

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران راغواړو، سترې محکمې سره هم غږېږو، دا مسئله څنګه ده؟

ځواب: د اقتصادي مسايلو او مرستو په باب دا ستراتيژي روښانه ده، د افغانستان د اقتصادي بنسټونو ځواکمني. دې کې بايد وويل شي چې امريکا بايد هغه منابع افغانستان ته ورکړي چې بايد په شپږو کلونو کې يې ورکړې واى.



(افغان ولسمشر حامد کرزی، د امريکا د بهرنيو چارو وزير او د پاکستان لوی درستيز)

د جوزا له (۱) څخه د اسد تر (۲۸)مې پورې د مودې په باب بايد ستره محکمه فيصله وکړي چې دا معياد څنګه کوي، بيا دې ملي شورا ته وړاندې شي او که څېړې اړتيا وه په دې باب دې لويه جرګه پرېکړه وکړي.

د جرمني خبري اژانس: د تور لېست په باب څه وايې؟

ځواب: زه په اصولو کې دا خبره کوم چې د سولې په خاطر بايد له تور لېست څخه ځينې کسان وباسي چې سولې ته زمينه برابره شي.

يوه خصوصي رسنۍ: په مسکو کې د کنفرانس په باب څه وايئ؟ همدا راز په تور لېست کې خو د حکمتيار او ملا عمر نومونه هم شته، د هغو په باب څه وايئ؟

ځواب: زه پر اصل خبرې کوم چې ملګري ملتونه بايد په دې برخه کې مرسته وکړي، د ګاونډيو هېوادونو نقش مهم دی، د شانګهای کنفرانس ښه و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه اعلاميه يې هم خپره کړه.

طلوع ټلوېزيون: د جنګي طالبانو په باب څه وايې؟ د کابل ښار د وضيعت او کابل ښاروال په باب څه وايې؟

ځواب: په کابل ښار کې سړکونه رښتيا هم د تشويش وړ دي، په دې برخه کې ډېره مرسته نه ده شوې، ښاروال پر اصولو ډېر ټينګار کوي، اصول کله کله د کار د سستيا سبب ګرځي، که دا سړکونه په ښه کيفيت جوړ نه شي، نو بيا به ډېر ژر بېرته خراب شي. په تېرو څو کلونو کې د ښارونو د سړکونو د جوړښت په اندوول زموږ ټينګار د لويو لارو پر جوړښت و، اوس چې هغه سړکونه خلاص شوي، نو اوس به دېته توجه کوو، هر څوک چې د حکومت له زور څخه تښتېدلي، هغوی ته بايد د بېرته راتګ زمينه برابره شي.

پژواک: له روسي مشاورينو څخه هم ښه خاطره موجوده نه وه، ايا امريکايي مشاورين به هم همغه تجربه تکرار نه کړي، په دې ستراتيژۍ کې په دې باب څه ويل شوي؟

ځواب: که ستراتيژي په دقيقه توګه مطالعه کړئ، ستاسې پوښتنې حلېږي، موږ له پاکستان سره هم رابطه غواړو او د منطقې له نورو لويو هېوادونو سره هم. موږ غواړو ټول مطرح شي.

مولا مو راوله، هر کله راشئ، په خير راشئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هالنډ نړیواله غونډه او خبري کنفرانس

ولسمشر په پیل کې وویل: ((خویندو ورونو، په خیرا راغلئ! تاسو د هالنډ له کنفرانس څخه خبر شوئ، دا کنفرانس خورا ښه تېر شو، د نړیوالو له خوا




(ولسمشر حامد کرزی د هالنډ په نړیوال کنفرانس کې)

موږ ښه استقبال شو، له افغانستان څخه یې خورا ملاتړ وکړ، د هالنډ له حکومت څخه زیاته مننه کوو، د افغانستان له هیئت او د نورو هېوادونو له هیئتونو څخه یې خورا تود هرکلی وکړ، ټولې لویې لارې یې زموږ په بیرغونو ښکلې کړې وې.

مېرمن هیلري کلنټن ښه مفکوره لرله، تر (۹۰) زیاتو هېوادونو او هیئتونو ګډون کړی و، د تروریزم مرکزونه له افغانستان څخه بهر دي، زموږ هغه وړاندیزونه چې له افغان طالبانو سره دې خبرې وشي، هم ومنل شول. له جهاني ټولنې سره یو میکانیزم هم جوړوو، د امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا مسئله هم مطرح شوه، تروریزم یوه نړیواله پدیده ده، په یوه هېواد پورې اړه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري، د منطقې لوی او واړه هېوادونه باید له تروریزم ضد پروسې سره یو ځای شي، له طالبانو سره د سولې په رابطه مو پرمختګ وکړ. د روسیې خارجه وزیر هم زموږ نظر تائید کړ، د افغانستان په اړه ښه فهم پیدا شو، له هالنډ څخه یو ځل بیا مننه کوو، په داسې حال کې چې هم پیسې او هم یې عسکر په خطر کې دي. له امریکا څخه هم مننه کوو چې په درې اوونیو کې یې داسې کنفرانس جوړ کړ، بیا راغلو ترکیې ته، د افغانستان جمهور رییس، مالیې، دفاع، داخلې وزیران او امنیت رییس ټول سره کېناستو، بیا مو مشترکه جلسه جوړه کړه، په دې برخه کې مو هم پرمختګ وکړ، اوس نو تاسو خپلې پوښتنې پیل کړئ!))

خبریال: دا بریالیتوب درته تبریکي وایم، تاسو وویل چې د تروریزم ځالې له افغانستان څخه بهر دي، ایا پاکستان ومنله چې دا خلک هلته دي، دویم ولسي جرګې د تشیع د شخصي احوالو قانون تصویب کړ، دا قانون خپل خپل مشکلات لري، د دې ټولو په باب غواړم ستاسو نظر واورم:

ځواب: په ترکیې کې مو د پاکستان له جمهور رییس سره خبرې وکړې، هغه حقیقتونه درک کړي، موږ یوه مشترکه اعلامیه خپره کړه په هغې کې د تروریزم پر ضد د مبارزې په اړه خبرې وشوې. د اهل تشیعو د شخصیه احوالو په باب د هالنډ د کنفرانس پر وخت یوه لیکنه چاپ شوې وه، څه شی چې د غرب په مطبوعاتو کې راغلي، خبره هغه شان نه ده، خو که بیا هم څه شی داسې وي، بېرته شورا ته لېږل کېږي، علما به سره کېني، د هغو په مشوره به دا مشکلات حلوو، د ساري په توګه د همدې قانون د (۱۰۳) مادې (٦)مه فقره.

د بي بي سي (BBC) خبریال: د میکانیزم په باب راته معلومات راکړه!

ځواب: میکانیزم نه دی وړاندې شوی، ځکه چې شرایط وړاندې شول، هغه مسایل چې موږ یو کال د مخه وړاندې کړي وو، هغوی موږ سره ومنل، د تور لیست په اړه مو خبرې وکړې چې حکمتیار او ملا عمر په کې شامل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یو خصوصي ټلوېزیون: تر انتخاباتو پورې د ولسمشر د دورې د غځولو په باب د سترې محکمې پرېکړه ځینو ته د منلو وړ نه ده او دغه راز پر (ای ایس ای) باندې د پاکستان د حکومت زور نه رسېږي، هغه پرې تاثیر نه لري، په دې باب ستاسو نظر څه دی؟**

**ځواب: ستره محکمه د افغانستان لوړ عدلیي او قضایي ارگان دی، موږ یې پرېکړه نه ردوو، ملي اجماع هم نه ده دایره، زموږ په نظر ملي اجماع، لویه جرگه ده او د قوانینو په برخه کې تر ټول ستر ارگان ملي شورا ده، د پاکستان مشکلات موږ درک کوو، یو څه پرمختگ رامنځته شوی، خو موږ نور هم غواړو.**

**هر کله راشئ، په خیر راغلئ، د خدای په امان!))**

**پر پورته یادو خبري کنفرانسونو سربېره ولسمشر کرزي گڼ شمېر نور کورني او بهرني خبري کنفرانسونه ورکړي، خو ما یې دلته یوازې یو څو خبري کنفرانسونه د نورو خبري کنفرانسونو د بېلگې په توگه یاد کړل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولسم څپرکی

# د ارگ څو نورې ناویلې:

# ښاغلی قانوني او د هغه لفظي مهارتونه

ښاغلی محمد یونس قانوني د پنجشېر اوسېدونکی، د نظار شورا او اسلامي جمعیت اساسي غړی گڼل کېږي. ځان د کابل له شرعیاتو پوهنځي فارغ گڼي. یو ژبور، ماهر او د خاص ټولنیز چلند خاوند شخص گڼل کېږي. د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ تر ړنگېدو وروسته د احمدشاه مسعود او دفاع وزارت مرستیال و. د کابل په ورانۍ او تنظیمي جنگونو کې یې خپله خاصه ونډه لرلې ده. له خولې څخه ډېر تېز او د خبرو خورا ماهر دی، د جهاد په کلونو کې مطرح نه و، خو تر جهاد وروسته په تنظیمي جنگونو کې یاد او ښاد شو. د گلبدین حکمتیار له اسلامي حزب سره د کابل د کورنیو جنگونو پر مهال یې (له



(محمد یونس قانوني)

لومړیو مکروریانو څخه زمانخان کلا ته ورغلې درې لارې ته نږدې سیمه کې) د مخالف گروپ له خوا پر اینبودل شوي ماین وربرابر شو او پښه یې زیانمنه شوه، دا مهال د قانوني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت ټپي کېدو او ان د مرگ خبره هم پر خولو تاوه راتاوه شوه، کله چې دا خبر احمدشاه مسعود ته ورسېد، نو هغه وويل چې خبرې کوي که نه؟ خلکو ورته وويل هو د خبرو دی، مسعود وويل: ((بس چې خوله يې کار کوي نو سړی جوړ دی.)) د احمدشاه مسعود هدف دا و چې قانوني کې يوازې همدا خوله ده، نور نو د عمل نه دی، که د بدن غړي يې هم له منځه لاړ شي، پروا نه کوي خو چې خوله يې روغه وي، دی پرې خپله ببړۍ پورې باسي، احمدشاه مسعود (قانوني) څو ځله ازمويلی و، نو ځکه يې د وينا سړی باله نه د عمل.

د احمدشاه مسعود وړاندوينه او د قانوني د شخصيت ارزونه يو وخت پر واقعيت بدله شوه. کله چې پر احمدشاه مسعود سخته راغله؛ طالبانو هغه د هېواد يوې څنډې ته گوښه کړ او جگړه حساس پړاو ته ورسېدله، نو قانوني دا مهال په ډېر مهارت ځان له مسعوده لرې کړ او لندن ته يې پناه يوړه. قانوني د مسعود په سختو شپېو کې په لندن کې و. کله چې د طالبانو نظام له نړيوالې انزوا سره مخامخ شو او د نړيوالې ټولنې په تېره بيا اروپايي اتحاديې له نظار شورا سره خپل روابط ټينگ کړل، نو قانوني ته ببرته هيله‌منتيا پيدا شوه. د مسعود تر مرگ دمخه ببرته له نظار شورا سره يوځای شو. کله چې امريکا پر افغانستان يرغل وکړ، نو دا مهال ده ته بيا لاره اواره شوه چې هم د نظار شورا سياسي مشرتوب وکړي او هم له نړيوالو سره د تفاهم ژبه پيدا کړي. امريکايانو د طالبانو نظام په وچ زور ړنگ کړ او د نظار شورا ملېشې، چې مشري يې دا مهال، فهيم، عبدالله او خپله قانوني کوله، کابل ته داخلې شوې. قانوني په کابل کې د امنيت د تامين تر نامه لاندې د کابل د نظامي کمېسيون عمومي مشر شو. په دوه درې ورځو کې د خلکو په سوونو موټر غلا او يو شمېر کورونه لوټ او تالان شول. لږه موده وروسته د بن کنفرانس جوړ شو، قانوني د بن په کنفرانس کې د خپلې ډلې د يوه پاخه استازي په توگه گډون وکړ، تر دې دمخه يانې د طالبانو د نظام په وروستيو کې قانوني د روم له بهير

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د خپلې ډلې په استازۍ زيات وخت پر خبرو بوخت و. هغه وخت د نظار شورا نظر دا و چې تر طالبانو ورته ظاهرشاه يا د روم بهير په گټه دی، نو ځکه يې د اعليحضرت محمدظاهرشاه مشرۍ ته په دې هيله غاړه ايښودله چې د طالبانو تر مرگوني گوزاره ورته د اعليحضرت نرم طبيعت او د هغه د ډلې بې کفايته حرکت د خپل خونديتابه او تنفس لپاره ډېر په گټه دی. د طالبانو تر سقوط وروسته کله چې قانوني د بن په کنفرانس کې گډون وکړ، نو ظاهراً يې د يو فاتح په توگه ځان احساسوه، دا ځل يې نو اساسي رقيبانو حضور نه درلود او له يوې بلې کمزورې ډلې سره د مېز تر شا ناست و. قانوني د خپلو بهرنيو پلويانو او کورني چاپېريال په مرسته پر دې بريالی شو چې په موقت حکومت کې اساسي څوکۍ خپلې ډلې او خپلې سيمې ته ترلاسه کړي. خپله د کورنيو، عبدالله د بهرنيو، فهيم د دفاع وزارتونو د وزيرانو، سروري د امنيت د لوی رييس په توگه منتصب شول او نورې مهمې څوکۍ هم يوازې پر يوې ډلې او يوې محدودې سيمې پورې وتړل شوې. قانوني د بن په کنفرانس کې د نظار شورا لپاره د (ويټو حق) هم ترلاسه کړ، که چېرې مشر پښتون غوره کېږي، نو غوراوی به يې د دوی په لاس کې وي. د بن تر کنفرانس وروسته قانوني او د هغه ډله د زيات شان او شوکت خاوندان شول. کرزي ته د قدرت په ظاهري انتقال کې قانوني داسې سخته لفاظي وکړه چې ټول ناست کسان يې نطق ته حيران شول. قانوني تر دې وروسته د يوه فصيح او بليغ شخص په توگه مطرح شو او داسې وخت هم راغی چې هغه ته د خپلو پلويانو له خوا (د افغانستان بلبل) لقب ورکړل شو. قانوني رښتيا هم ډېر فصيح او بليغ شخص دی، خو څومره چې دی په کوم ډول مترادف او رنگين الفاظ کاروي د مانا رنگيني او ژورتيا يې هغسې نه ده. عيناً لکه يونان کې چې يوه ډله وه او خلک به يې په خپلو رنگينو او بليغو الفاظو ځان ته راکاږل، خو په الفاظو کې به يې مانا او محتوا نه وه. دې ډلې ته يې (سوفسطايان) ويل او د ښار په واټونو کې به ودرېدل، خلکو ته به يې رنگينه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینا کوله، خلک به پرې رامات وو او د عالمانو ګومان به یې پرې کاوه، خلک یې د خبرو پر مانا هم نه پوهېدل، خو الفاظ به یې رنګین، اهنګین او خوندور وو. دوی به د دې کار په مقابل کې حق الزحمه هم اخیستله. یوه ورځ سقراط پر لاره تېرېده چې د دې خلکو وینا یې واورېدله او ورته متوجه شو، تر دقت وروسته سقراط ته پته ولګېده چې د دې خلکو په وینا کې مانا نه شته او دا هسې له الفاظو سره لوبې کوي، کله چې سقراط خلکو ته دا حقیقت بیان کړ، نو د سوفسطایانو مارکېټ هم پیکه او کمزوری شو.

قانوني صیب د افغانستان په سیاسي مارکېټ کې د خپل ژبني مهارت په برکت ډېر ښه وچلېد، خو وروسته پرې د فکر خاوندان پوه شول چې دی د ژورې مانا پرځای د الفاظو ظاهري رنګونه کاروي.

قانوني شپږ میاشتې د کورنیو چارو د وزیر په توګه کار وکړ، د (۱۳۸۱ل) کال د جوزا میاشتې په وروستیو کې بېړنۍ لویه جرګه جوړه شوه، د قانوني په شمول د موقت حکومت د ټولو غړو دنده پر همدې ورځ پایته ورسېده. خو قانوني پر همدې ورځ له یو بل مهارت او چالاکۍ څخه کار واخیست، د لویې جرګې په تالار کې پورته شو او ویې ویل چې زه اولین شخص یم چې غواړم په خپله خوښه له خپلې دندې استعفی وکړم، د حکومت مشر چې هر څوک زما پرځای ټاکي ودې ټاکي. زه (یون) چې دا مهال د جرګې غړی او بیا لومړی منشي شوم، نو ماته د نظار شورا یو شمېر غړو وویل ودې لیدل؛ ((قانونی صیب چقدر قربانی داد؟)) نو ما ورته وویل: «د بن کنفرانس د پرېکړې پر بنسټ خو موقت حکومت همدا نن ختم دی، اوس د انتقالي اداري د مشر لپاره همدا لویه جرګه پرېکړه کوي، د قانوني صیب دنده خو غیر له هغې هم ختمه ده، نو استعفی ته څه اړتیا ده؟» خو قانوني پر دې بریالی شو چې د یو شمېر ساده زړو خلکو په ذهن کې خپل چل او مهارت د یوه صداقت په توګه کېنوي. په بېړنۍ لویه جرګه کې کرزي له نظار شورا سره په ناعادلانه تفاهم کې (تاج محمد وردګ) چې هغه په خپله هم د نظار شورا

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړی او د دوی لاسپوڅی و، د کورنیو چارو د وزیر په توګه انتصاب کړ، قانوني سره له دې چې له دې دندې څخه یې په اصطلاح استعفی ورکړې وه، خو بیا یې هم پلویانو وزارت محاصره کړی و او درې ورځې یې (تاج محمد وردګ) وزارت ته پرېنښود. تاج محمد وردګ باندې بیا دوی په یاد وزارت کې نورې لوبې هم وکړې چې دلته یې یادول ډېر ضروري نه برېښي. یو وخت بیا داسې راغی چې قانوني ولسمشرۍ ته ځان کاندید کړ او همدا تاج محمد وردګ یې د خپل مرستیال په توګه ځان سره نوماند کړ. په بېړنۍ لویه جرګه کې د قانوني د ماهرانه استعفی غږ، هغه ته د نورو امتیازاتو لاره اواره کړه، کرزي پرې غږ وکړ چې قانوني صیب ته به یو بل ښه وزارت په پام کې نیسو، داسې یې کله پرېړدو چې دی له موږ څخه لاړ شي، قانوني صیب نو دا مهال ځان داسې حق په جانب نیولی و چې ګنې ټول افغانستان د ده د احسان تابع وي. څه موده وروسته کرزي هغه د پوهنې د وزیر په توګه منتصب کړ، قانوني بیا له ډېر مهارت څخه کار واخیست، پوهنې وزارت سره یې (د مرستې صندوق) په نامه یو نوی پروګرام پیل کړ، مامورینو او معلمینو سره یې ډول ډول ژمنې وکړې، دې صندوق ته د هرات والي (اسمعیل خان) او د ننګرهار والي (حاجي قدیر) چې دا مهال یې ګمرکونه په لاس کې وو، د هغه وخت په ملیاردونو افغانۍ مرسته وکړه، خو وروسته بیا د دې مرستې د لګښت حساب و کتاب معلوم نه شو. قانوني د یاد وزارت د تصدۍ پر مهال اکثره قراردادونه د خپلو ورونو او خپلوانو له لارې تر سره کړل، یوازې له تاجکستان سره د زده کوونکو لپاره د څوکیو د را نیولو په تړون کې په لسګونو ملیونه افغانۍ غبن وشو. یوه ایرانۍ یې خپله مشاوره وټاکله او یاد وزارت یې تر زیاته بریده پر تنظیمي او سیاسي وزارت بدل کړ. ان د لېسو تر مدیرانو پورې یې په تشکیلاتو کې ګوتې ووهلې او یو تعلیمي وزارت یې پر سیاسي ارګان واړوه.

قانوني صیب د پوهنې وزارت څکه پر یو سیاسي وزارت بدل کړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلان يې درلود، د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره ځان کاندید کړي. همداسې وشول، د پوهنې وزارت د سیاسي کېډو له امله د ده د کمپاین یوه درنه برخه د یاد وزارت د منسوبینو پرغاړه وه. سره له دې چې د حکومت اتیا سلنه برخه په واقعي مانا د نظار شورا په لاس کې وه، خو قانوني صیب په ټاکنو کې (۱٦) سلنه رایې خپلې کړې. د جمهوري ریاست تر ټاکنو وروسته قانوني صیب په حکومت کې کومه مهمه دنده وانه خیسته، خو اغېز يې پر حکومت همغسې محسوس و. قانوني بیا له کابل څخه ځان پارلماني ټاکنو ته ونوماوه، تر بریالیتوب وروسته يې ځان د ولسي جرګې ریاست ته نوماند کړ او له خپل پخواني استاد او مؤتلف (عبدالرب رسول سیاف) سره يې مقابله شوه. قانوني ټول دولتي او نادولتي امکانات او د نړیوالې ټولنې ملاتړ چې طبعاً د سیاف په شانې یو شخص سره يې دا مهال جوړه نه وه، ټول سره یوځای کړل، ویل کېږي چې په ولسي جرګه کې د یوې رایې قیمت ان (۵۰) زرو امریکایي ډالرو ته پورته شو. قانوني د دې ټولو امکاناتو په کارولو سره تر استاد سیاف یوازې (دوه رایې) زیاتې وګټلې او په دې ډول د ولسي جرګې د رییس په توګه غوره شو. د ولسي جرګې د ریاست پر مهال يې تر خپله وسه پورې خپل ورونه او خپلوان د حکومت پر حساسو څوکیو وګومارل. په ټوله (۵) کلنه دوره کې يې له کرزي څخه ډېر پټ او ښکاره باجونه واخیستل، قانوني د جمهوري ریاست تر لومړنیو ټاکنو دمخه نظامي طاقت هم کاراوه او ویل کېږي چې له بهرنیانو سره يې په ګډه شخصي زندانونه هم درلودل، وروسته يې نظامي طاقت په پټه او سیاسي مهارت په څرګند ډول کاراوه، د کرزي د یوه باډیګارډ په وینا چې اصلاً د نظار شورا غړی و او بیا د کرزي د ساتونکي دنده يې هم اجراکوله، قانوني ورته د کرزي د وژنې خبره هم کړې وه، خو ده دا کار ونه کړ.

قانوني د ولسي جرګې د ریاست (۵) کلنه دوره په ډېر شان او شوکت سره تېره کړه، په (۱٦) دوره کې تر بریالیتوب وروسته ورته بیا یاد مقام ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**انتخابېدو شوق ورغی، استاد سیاف یوځل بیا د هغه په مقابل کې ودرېد، دا ځل سیاف تر قانوني (دوه رایې) زیاتې وګټلې، د مشروعیت له مخې د رایو شمېر هغومره و چې هغه بل ځای د قانوني صیب په برخه شو، خو قانوني او د هغه ډلې د حاضرو غړو د پنځوس جمع یو رایې په پلمه سیاف دې ته پرېښود چې دا څوکۍ خپله کړي، د دوی د مخالفت له امله درېیم شخص (عبدالرؤف ابراهیمي) ته لاره اوراه شوه چې د ولسي جرګې د کورني طرزالعمل پر خلاف په دودیز ډول د ولسي جرګې د مشر په توګه غوره شو.**

**قانوني د کرزي د واکمنۍ په (۱۳) کلونو کې یو ډېر مؤثر شخصیت ګڼل کېږي، له پورته یادو نیمګړتیاوو او ځانغوښتنې سره سره قانوني د زیات کار اوسېله، د تفاهم روحیه، د مشرتابه مهارتونه، ښه ټولنیز چلند، له وخت سره د ځان جوړول، د کمزوري مخالف زغمل، د هېواد پر لویو ژبو پوهېدل، نرمه او خوږه ژبه او داسې نور ګڼ مهارتونه لري چې د یوه سیاسي مشر لپاره ضروري دي. البته که قانوني کې پورتني یاد مهارتونه نه وای، نو طبیعي خبره ده چې داسې مقامونو ته هېڅکله هم نه شو رسېدلای.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بسم الله خان پرغز (قهر)

کله چې د شمالټلوالې او د نظار شورا پخوانی غړی (ډاکتر عبدالرحمن) د نظار شورا د خپلو قومندانانو له خوا په کابل نړیوال هوایي ډګر کې ووژل شو او بیا تر هغه وروسته (حاجي عبدالقدیر) پر رڼا ورځ د خپل وزارت مخې ته ترور شو، نو کرزي هغه خطر ډېر محسوس کړ چې کېدی شي دی هم پر دا ډول برخلیک اخته شي. نو یې یو ټولی امریکایي ساتونکي د ځانساتنې لپاره وګومارل. دې کار د هېواد په داخل کې یو شمېر منفي تبصرې خپرې کړې، دې تبصرو ته په خپله د جمعیت تنظیم له خوا زیاته لمن وهل کېدله، کرزی به یې ((شاه شجاع)) او ډېر ډارن باله او ویل به یې چې په امریکایانو ځان ساتي. دا چې دوی خپله هم د امریکایانو د برچې په زور د مرګ له کومي ژغورل شوي وو، دا یې عیب نه ګاڼه او نه هم هغه زرګونه ملېشې چې امریکایانو د طالبانو له ګوزاره وژغورلې، خو د کرزي د ساتنې لپاره یو ټولی عسکر یې د هغه د پوزې پېزوان ګاڼه، اصلي خبره په دې کې دا وه چې کرزی په دې کار سره لږ تر لږه د نظار شورا د بېلابېلو قومندانانو له پټکو خلاص شو. بسم الله خان دا مهال د کابل ګارنیزیون قومندان و او له کومې پوښتنې ګروېږنې پرته ارګ ته



(بسم الله خان محمدي)

تللای او راتللای شو، خو کله چې امریکایي عسکرو له خپلو روزل شویو سپیو سره د ارګ د ساتنې مسؤلیت واخیست، نو پر کورنیو جنګسالارانو هم د ارګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاصه فضا راتنگه شوه. یوه ورځ بسم الله خان په ډېر شان او شوکت د پخوا په څېر له کومې پوښتنې پرته د (گلخانې ماڼۍ) پر لوري رهي و، امریکایي عسکرو د (درېش) قومنده وکړه، خو هغه ونه درېده، دې سره سم، روزل شویو سپیو تر بسم الله خانه ځان ورسولی و، دا چې سپیو د هغه تر اوږو پورې خپلې پښې ورسولې وې که نه، خو دا څرگنده وه چې سپیو ورسره د عوامو په اصطلاح روغبړ کړی و، دې کې د بسم الله خان ساتونکو هم خپل احساسات څرگند کړي وو، خو مخکې تر دې چې د هغوی گوتې تر ماشې ورسېږي، امریکایي عسکرو هغوی وار له مخه بې وسلې کړي وو، په دې وخت کې څوک راغلل او نابلدو امریکایي عسکرو ته یې وویل چې: ((دا ډگر جنرال بسم الله خان دی، د گارنیزیون قومندان دی)) هغوی وویل، هر



څوک چې دی، خو دلته باید تلاشي شي دا زموږ اصول دي. بسم الله خان چې دا حالت ولید، نو گلخانې ماڼۍ ته یې مخه کړه او کرزي ته یې هغه سپکې سپورې کلمې استعمال کړې او دومره یې وښکنځه چې هغه د کاغذ پرمخ د لیکلو وړ نه دي. وایي چې کرزي د بسم الله خان ټولې ښکنځلې واورېدلې، خو هېڅ یې ونه ویل. کرزی د خپل دفتر خونې ته ننوت او بسم الله خان له ارگه د خپل کور پر لوري رهي شو. خو یو وخت بیا داسې راغی چې بسم الله خان د هغې پخوانۍ نشې له غروره کېناست او د کرزي واک ورو ورو پر غځېدو شو، خو کرزي بیا هم د بسم الله خان د ښکنځلو یادونه او ردونه ونه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ((مارشال)) د رهبرۍ مانور

د (۱۳۸۹ل) کال د جدي میاشتې (۲۲)مه نېټه د سه شنبې ورځ وه، سهار لس بجې د داودزي صیب دفتر ته پورته شوم، د ملاقات لپاره وخت و، په پیل کې مې د نویو حالاتو پوښتنه وکړه، هغه وویل: ((حالات بد نه دي، خو د پارلماني انتخاباتو په باب خاصه محکمه ډېره د تورې نه ده، هېڅ ځان نه خوځوي.)) بیایې وویل: ((د امریکا د جمهور رییس د مرستیال سفر ښه و، ډېره ښه نتیجه یې ورکړه، ملاقات صمیمانه و، هغه څه چې پخوا وو خبره د هغه معکوس وه.)) داودزي صیب زیاته کړه: ((د امریکا د جمهور رییس مرستیال وویل: تر څو چې تاسو موږ ته ځواب نه وي راکړی موږ له دې ځایه نه ځو، نږدې یو ساعت رییس صیب سره ناست و، دواړه یو بل ته د زړه له اخلاصه خبرې وکړې، خو هغه ملاقات چې دې دوو نورو (معاونانو) په کې ګډون درلود، په هغه کې مارشال مشکل پیدا کاوه، یو ځل یې (جوبایډن) نه پوښتنه وکړه: ((ستاسو په پالیسۍ کې تناقض لیدل کېږي، مخکې مو د وتلو خبره کوله، خو اوس بیا وایئ چې څو تاسو ځواب


(محمد قسیم فهیم)

رانه کړئ موږ همدلته پاتې کېږو دا خپله تناقض دی.)) داودزي صیب زیاته کړه: ((جوبایډن ورته په خندا خندا کې وویل: دا تناقض خو زموږ د ملګرو (هدف یې افغانستان و) له لوري و، ځکه که دلته تناقض نه وای هلته نه راته)) دې سره مارشال هم غلی شو. داودزي صیب وویل: ((دا چې روابط اوس ښه دي، د دې علت دا دی چې ما دلته د انګلیس سفیر راوغوښت، هغه ته مې قناعت ورکړ، هغه بیا دې نورو (امریکایانو) سره خبرې وکړې، بیا مې د امریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفیر راوغوښت، هغه ته مې قناعت ورکړ، ورته ومې ویل چې دا ستاسې په تاوان ده، چې هم یو حکومت او مشرتابه یې غندئ او هم ورسره کمک کوئ، دې سره تاسې خپل ولس ته قناعت نه شي ورکولای، راځئ چې د میډیا جنگ یوې خواته کړو او هر مشکل چې وي هغه به د خبرو او تماس له لارې حل کړو. نو ځکه دا روابط اوس ښه دي.)) ما وویل: ((اوس خو ښه دي چې رییس صاحب یې بیا خراب نه کړي.)) داودزي صیب وویل: ((مارشال صیب سخت تخریب شروع کړی، دا لا څه کړې چې هغه ورځ د امریکا سفیر (ایکن بیري) راته عجیبه خبره وکړه، دلته راغلی و، ښه مجلس مې ورسره درلود، څو ورځې وړاندې مارشال د امریکا سفیر د بزکشۍ لوبې د لیدو په پلمه مېلمه کړی و، هلته یې د ولسي جرگې اصلي او جعلي غړي هم رابللي وو، ټول یې په لیکه کې ودرولي وو، ټولو ته یې دا دنده ورسپارلې وه چې زه (مارشال) او سفیر (ایکن بیري) کله راغلو، نو تاسو به ماته ډېر احترام کوئ، لاسونه به مو ښکلوئ چې سفیر پوه شي، اصلي شخص زه یم.)) داودزي وویل: ((سفیر راته د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: هلته ټولو خلکو د فهیم لاسونه ښکلول، خو زه پرې له ورایه پوهېدلم چې دا ټول تکلفي او تصنعي کارونه دي، خو فهیم لا پر دې نه پوهېده چې زه د ده پر دې کارونو پوهېږم.)) داودزي صیب راته وویل: ((فهیم څو واره د امریکا سفیر دعوت کړی او همدارنگه د انگلیس سفیر، هغو ته یې ویلي چې د اینده لپاره د ده ملاتړ وکړي، د ده په زړه کې نورې خبرې دي.)) د داودزي صیب تر ملاقات



(ایکن بیري)

وروسته پر همدې ورځ (۱۲) نیمې بجې په خپل دفتر کې د ډوډۍ پر وخت (شیدامحمد ابدالي) د ملي امنیت شورا مرستیال او د جمهور رییس ډېر نږدې شخص هم دېته ورته خبره وکړه، هغه وویل: ((فهیم لکه چې څه پلان لري، دا څه موده کېږي چې انجنیر عارف سروري او د ده ځینې نور کسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماپسې همداسې شله دي چې کله چېرته کېنو، پر ځينو مسايلو بحث وکړو، ما ويل کوم مسايل، موږ او تاسې خو دولت کې يو، سره گورو، بل ځای ناستې ته څه اړتياده؟ خو دوی راته وويل: نه مارشال صيب بايد قانع کړې چې موږ ته يو ځای ونيسي، يو کور چې هلته سره کله کله کېنو او پر مسايلو خبرې وکړو.)) ابدالي وويل: ((دوی دومره چالاکه دي، دوی خپل منځ کې خبره کړې، خو زما له خوا غواړي دا خبره مارشال ته ورسوي او په ما يې تصديق کړي، پر سبا مې چې مارشال صيب وليد، هغه ته مې وويل چې دا خلک څه وايي؟)) هغه وويل: ((ما وقت خانه راگرفتيم، بچه هارا گفتيم که همان جا جلسه بگيره گپ بزنه)). شيدا محمد وويل، مارشال زياته کړه: ((ما کانديد استم، بچه را گفتم که کار شروع کنه)). دلته زه پوه شولم چې دی ولې په هرځای کې دومره شله وي چې دا مقرر کړي او هغه مقرر کړي، دی د اينده لپاره خپل پلان لري.)) پر دې وخت (جميل بهرامي) د جمهور رييس د امنيتي گارد (PPS) مسؤل هم وويل: ((دا خلک پلان لري، هغه ورځ ما ته يوسف اعتبار زنگ وواهه، راته يې وويل: ((ما اعتبار استم شناختی؟ ما ويل بلی شناختم، بيا يې راته وويل: اينجا يک چهار بچه است، بسيار خوب بچه است امونا را برايت معرفي کنيم، خودت بگيريش، خوب و بيدار بچه ها است.)) ما ويل خوب است ميبنيم...)) بهرامي وويل: ((دوی چې دلته په تقرر پسې شله دي، حتماً څه پلان لري.)) ابدالي صيب پر نورو مسايلو هم ډېرې خبرې وکړې، خو نن ورځ د ډوډۍ پر سر د سياست گرمه موضوع اکثره د ((مارشال)) د اينده پلانونو او جمهوري رياست ته د هغه پر کانديدۍ راڅرخېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د امرالله صالح، اکټونه او مانورونه

د افغانستان له جهاد څخه هم د مومن خان د ښامار کیسه جوړه شوې ده، هر څوک توره سره کوي وايي ښامار ما وژلی دی. دلته هم چا چې واقعي جهاد کړی و، هغوی حاشیې ته شول، سترې شول او د زمانې بادونو ځان سره یوړل، خو چا چې جهاد نه و کړی، یا د جهاد وروستیو کلونو کې تازه دم راپیدا شول، یا هم د روسانو تر وتلو وروسته یې وسلې ته لاس کړ او یا هم د جهاد دویم نسل ګڼل کېږي، هغوی تر ټولو زیات د جهاد د وراثت چغې وهي او دا بیا په داسې حال کې هم ده، چې روسانو ته ورته په لسګونو زره بهرني عسکر په هېواد کې مېشته دي او دوی له هغوی سره یوځای د هغوی د مخالفینو پرضد اوږه پر اوږه جګړه کوي او ځان ته مجاهدین هم وايي.

دې کې شک نه شته چې اوسنیو بهرنیو عسکرو له ملګرو ملتونو څخه یو قانوني مجوز ترلاسه کړی او ځان یې د افغانستان له جغرافیې څخه په یو متضرر حالت کې لیدلی، خو د یو بهرني عسکر په توګه یې په افغانستان کې شتوالی له تېرو هغو څخه په مانا او محتوا کې تضاد نه لري، البته دې کې شک نه شته چې د افغانستان سیاسي او اقتصادي مجبوریتونه د دې غوښتنه کوي چې زموږ هېواد باید له دې ازادې نړۍ سره په هر ډګر کې متقابل اړیکي ولري، خو څرنګه چې جهاد اساساً یوه دیني فریضه ده، نه اقتصادي او سیاسي مجبوریت، نو په دې خاطر د هر نامسلم متجاوز پر وړاندې د جهاد په ماهیت کې کوم بدلون نه راځي. د امرالله صالح په ګډون په سلګونو داسې ځوانان او سیاسیون راپیدا شوي چې د جهاد د دیني او مذهبي صبغې پر ځای د هغه سیاسي ګټو ته زیاته پاملرنه کوي او د نورو تورې په خپل نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅرخوي، دا به کوم منطق ومني چې (ګلبدین حکمتیار، جلال الدین حقاني، کشمیر خان، د مولوي خالص نامتو قوماندانان او نور) دې مجاهدین ونه ګڼل شي، خو (صالح محمد ریګستانی، حفیظ منصور، امرالله صالح، محقق، دوستم او نور) دې مجاهدین وشمېرل شي او د جهاد د وراثت مادي او معنوي امتیاز دې هم دې ښاغلو ته ورکړل شي.

حقیقت خو دا دی چې امرالله صالح د جهاد په ګرمو کلونو کې ډېر عمر نه درلود او د جهاد جوګه نه و، کله چې روسان په وتو شول، نو صالح صیب لا د ښوونځي لومړۍ دوره نه وه خلاصه کړې، د تنظیمي جنګونو پر مهال له احمدشاه مسعود سره د یوه فرعي سکرتر او وروسته بیا د ژباړن په توګه پاتې شو. موږ چې کله د جهاد او مجاهدینو خبره کوو، دا په دې مانا نه ده چې له دې ارزښتونو څخه دې ملاتړ ونه شي. هدف مو دا دی چې له



(امرالله صالح)

دې ارزښتونو څخه ناوړه ګټه پورته نه شي، د حقیقي او ناحقیقي مجاهدینو تر منځ دې توپیر وشي. امرالله صالح د زیات استعداد او ذکاوت خاوند دی، د جهاد له نامه څخه له ګټې اخیستنې پرته هم دی د دې جوګه و چې په ټولنه کې ځان ته خپله لاره خلاصه کړي، خو کله چې دی او ده ته ورته اشخاص له جهاد څخه د یوه سیاسي مانور په توګه ګټه پورته کوي او د مجاهد تصنعي اکټونه کوي، نو دلته ده چې یو څوک د حقیقت پر ضد څرګند ګام پورته کوي.

امرالله صالح افغانستان ته د بهرنیو ځواکونو تر راتګ وروسته هغه وخت مطرح شو، چې هم ولسمشر کرزی او هم نړیواله ټولنه د ملي امنیت د رییس (عارف سروري) له چلنده تر پوزې راغلل. امرالله صالح د نظار شورا د یوه فعال په توګه هم هڅوی، هم ولسمشر کرزي او هم امریکایانو ته د منلو وړ و، نو ځکه خو د دې پوست لپاره غوره شو. ده په ملي امنیت کې یو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاحات راوستل، خو بیا هم دا اداره په واقعي مانا ملي نه شوه او په تنظیمي انحصار کې را ایساره پاتې شوه. امرالله صالح دا مهال د حکومت د یوې داسې مطرح څېرې په توگه څرگند شو چې نظر او عمل دواړو یې په حکومت کې خپل وزن او خپل اغېز درلود، په کابل کې چې به کومه امنیتي پېښه وشوه، نو تر هغې لږ وروسته به امرالله صالح د فلم د یوه هیرو په بڼه څرگند شو، که څه هم د ده ترلاس لاندې اداره به په دې کار کې گرمه وه، خو ده به داسې مانور اجرا کړ چې چا به ورته د ملامتۍ گوته نه نیوله. په حکومت کې د اسلامي جمعیت او نظار شورا پراخ نفوذ او د کرزي نرم طبیعت، امرالله صالح ته د پراخ فعالیت او په خپله اداره کې د ازاد لاس زمینه برابره کړې وه. حکیم نورزي یو وخت په ملي امنیت ریاست کې د مرستیال په توگه کار کاوه خو صالح پرې کاري چاپېریال دومره تنگ کړ چې هغه دندې پرېښودو ته اړ شو، د نورزي او نورو پر وړاندې یې په مؤثر ډول د (جهاد) وسیله وکاروله. امرالله صالح د کرزي پر ذهنیت واکمن و، ده د دې توان درلود چې کرزي ته د هغه د طبیعي او واقعي متحدینو پر وړاندې بل ډول نظر او فکر ورکړي او هغوی په دې ډول د حکومت له متن څخه حاشیې ته راکاږي.

صالح د جمهوري ریاست په دویمو ټاکنو کې په ټینگه د عبدالله عبدالله ملاتړ وکړ، ان افرادو یې د کرزي عکسونه وشلول. د کابل ښار له (اریانا واټ) څخه د ملي امنیت تر لسم ریاست پورې، اماني لیسې ته مخامخ ساحه کې چې د ملي امنیت د ساتونکو په لاس کې وه، د کرزي عکسونو لگولو ته اجازه نه وه، څو ځله دلته د کرزي عکسونه وشلېدل، خو پر همدې دولتي پوستو د عبدالله عبدالله عکسونه لگېدلي وو او چا یې د لرې کولو قانوني جرئت هم نه درلود.

امرالله صالح که څه هم د لوړ استعداد او اوسنۍ عصري مطالعې خاوند دی، په ټولنیزو او سیاسي اړیکو کې هم خورا تکړه دی، خو دی پر دې بریالی نه شو چې د خپل ذهن دایره، له پنجشېر درې، نظار شورا او اسلامي جمعیت څخه اخوا هم پراخه کړي. همدې کار د صالح سیاسي شخصیت ته خورا زیان واړاوه. د نظار شورا په تنظیمي او محیطي غونډو کې د هغه گډون او څرگندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویناوو هغه نور هم په دې متنازعه ډلې پورې وتړه. د ولسمشرۍ د دویمې دورې په ټاکنو کې ما (یون) د ولسمشر کرزي او امرالله صالح د ډاکتر عبدالله لپاره پټ او ښکاره کمپاین کاوه. یوه ورځ له شمشاد تلوېزیون سره په مرکه کې ما وویل چې دواړه کاندیدان د دې حق نه لري چې د ملي او تاریخي مشرانو عکسونه د انتخاباتي کمپاین د وسایلو په توګه استعمال کړي، دا مهال ډاکتر عبدالله عبدالله غوښتل په کندهار کې له خپلو عکسونو سره د احمدشاه بابا او یا هم میرویس نیکه عکسونه چاپ او ځان په دې ډول ملي وښیي، خو دې کار (د سیاسي غرض لپاره د ملي مشرانو له عکسونو ناسمې ګټې اخیستنې) په کندهار کې ځینې مشکلات پیداکول. ما په مرکه کې وویل چې هېڅ کاندید حق نه لري چې خپل اوسني عملونه د ملي مشرانو تر عکسونو لاندې پټ کړي، نه کرزی دا حق لري، نه عبدالله او نه هم بل هر کاندید. کاندید خپله ولسمشرۍ ته ولاړ دی، نه پخواني ملي مشران. کاندیدان کولای شي د ملي اتلانو ارمانونه عملي کړي نه دا چې د هغوی عکسونه د خپلو سیاسي موخو لپاره وکاروي، هغه هم په داسې حال کې چې د یو شمېر کاندیدانو پلویانو په خپلو څرګندونو کې د همدې ملي مشرانو سپکاوی کړی دی. دې خبرو ته امرالله صالح بل رنګ ورکړ او ولسمشر کرزي ته یې ویلي وو چې (یون) قومي تفرقې ته لمن وهي او اوس چې موږ غواړو د ملي وحدت لپاره د میرویس نیکه او احمدشاه بابا عکسونه پورته کړو دی مو مخالفت کوي. زه ولسمشر کرزي وغوښتلم ما څخه یې د دې مرکې جزئیات وغوښتل، ما ورته وویل چې زه خپله د ملي مشرانو عکسونه چاپوم وخت پر وخت یې تکثیروم، خو نه د انتخاباتو لپاره. ډاکتر صیب عبدالله او تاسو دواړه او یا بل هر نوماند کولای شي یا تر انتخاباتي بهیر ډېر وړاندې او یا هم تر ټاکنو وروسته دا ډول عکسونه چاپ کړئ تاسو په کندهار کې پر ځینو تاریخي نزاکتونو ښه پوهېږئ، دوی دا عکسونه له هغو ملي مشرانو سره د مینې په خاطر نه چاپوي، بلکې غواړي هلته پخواني نزاکتونه په یوه نوې بڼه راتازه کړي. موږ نه غواړو زموږ ملي مشران د کاندیدانو د سیاسي موضوع لپاره یوه وسیله شي. بله خبره دا ده چې دا ملي مشران په ټولو پورې اړه لري، نه یوازې په کاندیدانو پورې، تر ټاکنو وروسته یې که چاپ کړي، نو د دوی واقعي مینه به ترې ثابته شي. کرزي صیب وویل،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور خو دې څه نه دي ویلي؛ ما وویل نه کسټ چک کولای شئ! د کرزي صیب له خبرو څرګندېدله چې امرالله صالح لا ډېر څه ورته ویلي دي. بیا کرزي صیب له شمشاد ټلوېزیونه او یا هم په جمهوري ریاست کې د رسنیو د مانیتور څانګې څخه د هغې مرکې سي ډي راوغوښتله او تر کتنې وروسته یې قناعت حاصل شو. هلته ماته سوال پیدا شو چې امرالله صالح د ملي امنیت رییس دی که د عبدالله کمپاینر؟ سره له دې چې کرزی د امرالله صالح پر ټولو حرکتونو پوهېده، خو بیا یې هم ورته هېڅ ونه ویل او یا یې هېڅ نه شو ویلای. امرالله صالح په امنیت کې همداسې ټولواک و چې په پای کې د سولې لپاره پر مشورتي لویې جرګې توغندي وتوغول شول او دا کار د امرالله صالح او حنیف اتمر د استعفی لامل شو.

دا به بې انصافي وي چې موږ د امرالله صالح پر نیمګړتیاوو غږېږو، خو د هغه د مثبتو خواوو او بریاوو یادونه ونه کړو.

د امرالله صالح د واکمنۍ پرمهال، ملي امنیت ریاست د مسلکیتوب پر لوري ګامونه پورته کړل، تنظیمي او ګوریلایي سلیقې ورو ورو په کمېدو شوې، د بهرنیو مرستې راجذب شوې، کادري پوهه مخ پر زیاتېدو شوه، خپله امرالله صالح د یوه ماډرن او متمدن انسان په توګه ډېرو سیاسي نزاکتونو ته متوجه و، د ملي امنیت د کارکوونکو په ظاهري سلیقه کې مثبت بدلون راغی، د ورځني سیاست ښه تحلیل یې کولای شو، د یو افغان په توګه یې خپل ځینې مسؤلیتونه تر سره کړل او ځینو کې پاتې راغی، امرالله صالح که څېرې تنظیمي مکروب د خپل فکر، کار او عمل په ساحه کې له منځه وړی وای، نو کېدلای شول د یو غوره ملي شخصیت په توګه یې په ټولنه کې خپل ځان تثبیت کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د علماوو شورا اوګرمي

په هر دربار کې عجایب او غرایب پیدا کېږي، د کرزي صیب دربار هم له دې عجایبو تش نه دی، د پخوانیو درباروںو خصوصیت دا و چې له محدودو کسانو پرته نور څوک د دربار پر اضرارو او اسرارو نه خبرېدل، خو اوس رسنیو د هر کور تر وره پورې ځان ور رسولای دی. د کرزي صیب په دربار کې هم څوک بې برخې او بې نصیبه نه پاتې کېږي، یوازې جنګسالاران او تنظیمي مشران نه دي چې له کرزي صیب څخه باج اخلي، بلکې علما، روحانیون او شیخان هم له دې نعمت څخه برخمن دي. په علماکرامو کې یو هم مولوي صیب فضل هادي شینواری دی چې د کرزي صیب په حکومت کې یې د سترې محکمې د رییس دنده هم اجرا کړې، پخوا یې اسلامي



جمعیت تنظیم پورې تړاو درلود، د جنګونو پر مهال به یې د دې تنظیم په استازۍ له مخالفینو سره په خبرو اترو کې هم برخه اخیستله، ویل کېږي چې مولوي فضل هادي شینواری لا ډېر پخوا، هغه مهال چې دی په (لواړګي) کې ملا امام و، پاکستاني استخباراتي اجنسۍ ورته متوجه وې، ده په یوه مجلس کې ویلي وو: ((ترما هېڅوک هم پاکستان ته دمخه نه دي تللي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکمتیار او رباني هم ما پاکستاني اجنسیو ته معرفي کړي وو.)) که څه هم فضل هادي شینواری تر بل هر افغان دمخه پاکستان ته تللی و، خو وروسته ترې له پاکستان سره په روابطو کې نور زیات دمخه شول، ده هم ترې واټن ونیو او د کرزي صیب د حکومت په اوږدو کې داسې ښکارېده، لکه چې مولوي صیب شینواري نور، نو له پاکستان سره هغه پخوانۍ کیسې او تارونه نه لري. خیر په هر ترتیب، شیخ الحدیث مولوي شینواری لکه د نورو تنظیمي مشرانو په څېر پاکستان ته اوس نږدې نه دی، نه پرې هغوی باور لري او نه پرې دی، خو کرزی صیب یې ډېر خیال ساتي که د دربار په خوړو کې له ځینو نورو زورورو سره د ده ونډه مساوي نه وي، نو ډېره کمه به هم نه وي. کله چې مولوي صیب د سترې محکمې له ریاست څخه لرې شو، نو د علماوو سراسري شورا لپاره چې له پخوا یې لا اساسات جوړ شوي وو، د رییس په توگه غوره شو. دې شورا ته د ملي امنیت شورا دفتر پرېمانه پیسې ورکولې، د دې پیسو حساب و کتاب معلوم نه و، خبره یوازې د جمهور رییس کرزي، انجنیر محمدابراهیم سپین زاده او خپله د شینواري صیب تر منځ وه، دې شورا څخه دولت وخت پر وخت خپله سیاسي گټه پورته کوله، نو که لگښت یې پرې هم کړی وای، بېځایه ورته نه ښکارېده، د دې شورا مشر (شیخ الحدیث شینواری صیب) هم پر جمهور رییس کرزي ډېر گران دی.

د علماوو شورا د لگښتونو کیسې ډېرې دي، دولت ورته د کابل په (وزیراکبر خان مېنه) کې یو کور هم نیولی و، دې کور کې یو ښکلی حوض هم و، د علماوو شورا غړو او ځینو علماوو به د یخنۍ پر مهال په دې حوض کې یوه اب گرمي خوشې کوله، کله چې به اوبه ښې گرمې شوې، نو بیا به دوی د غسل او اوداسه لپاره ترې گټه پورته کوله، د یوه ژمي په سر کې د شورا ساتونکو په حوض کې په دې نیت اب گرمي خوشې کړې وه، چې تر سهاره به اوبه گرمې شي او کوم اړمن مشر مولوي به بیا په حوض کې ولامبي او یا به د اوداسه لپاره ترې گټه پورته کړي، خو په هغه سهار هېڅ مولوي ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې مجال نه و پیداشوی چې حوض ته راشي، اب گرمي هم د ساتونکو له یاده وتې وه، څو پرله پسې ورځې اب گرمي همداسې پاتې وه، خو یو مولوي صیب هم پر حوض نه و برابر شوی، اب گرمي ترې همداسې په حوض کې لگېدلې پاتې شوې وه. دې موده کې دوه درې میاشتې وتې وې، په دې ترخ کې اب گرمۍ ته هم شارتي پیدا شوې وه، خو په دې بهیر کې پر مولوي صاحبانو خدای(ج) مهربانه شوی و، هېڅوک پر حوض نه و برابر شوی، دا نو په داسې حال کې ده چې اوبه هم د برق هادي دي (برېښنا لېږدولای شي)، پر مولوي صاحبانو خدای(ج) لوی فضل کړی چې حوض ته یې پښه نه ده وړاندې کړې، یو وخت د برق بل راغلی چې د نږدې (۳۰) زرو ډالرو معادل و، دوی که هر څومره برېښنایي ته وویل چې دوی دومره برق نه دی مصرف کړی، خو هغه ورته د میتر له مخې خبره کوله، یو وخت کې یې حوض ته پام شوی چې اب گرمي په کې له درېو میاشتو راهیسې پاتې ده. بیا نو د دې اب گرمۍ د بل ورکړه هم د امنیت شورا دفتر پورې راورسېده. کېدی شي د برېښنا په بل کې د برېښنا نور لگښت هم شامل وي، خو اب گرمۍ په کې هم خپل اساسي نقش درلود.

دا خو نو د علماوو شورا د اب گرمۍ مصرف و، دا چې له حکومت څخه د نورو زورواکو باج اخیستنه به په کومه کچه وي او نور به څه کارونه شوي وي، هغه نو له همدې اب گرمۍ، حوض او نورو اوگرمیو څخه قیاس کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښاغلي ((چکري)) دولتي چکر

د افغانستان په تېر شل کلن سیاسي بهیر کې ښاغلی (صدیق چکري) د هغو کسانو له جملې څخه دی چې اکثره افغانان یې له نامه او شخصیت سره اشنا دي، خو د موقتې ادارې تر جوړېدو وروسته چکري صیب خپل لیدلوري او تګلوري څو ځله بدل کړي دي. یو وخت د جمهور رییس کرزي مشاور و، بیا چې کله د (متحدې جبهې) په نامه د شمالټلوالې یوه بله نوې ائیتلافي جبهه جوړه شوه، نو چکري صیب د دې جبهې د رهبرۍ شورا غړی و، پر دې مهال یې په کرزي او د هغه حکومت پسې هغه سپکې سپورې ویلې چې د افراط وروستۍ کچې ته رسېدلې.، په میډیا کې هم ډېر فعال و، هر ډول خبره یې چې خولې ته راتله، بې له سنجشه یې کوله، ما سره تصادفاً دوه ځله په بحث کې مخامخ شو او دواړه ځله ژوندي بحثونه وو، لومړی ځل بحث په (شمشاد) ټلویزیون کې د پارلمان له خوا، ټولو غاړو یا جنایتکارانو ته د بښنې یا معافیت په اړه و، ده د ولسي جرګې له دې پرېکړې ملاتړ کاوه او د هغې د حقانیت لپاره یې ایتونه او حدیثونه هم راوړل، موږ یې په دې ګرمولو



(صدیق چکري)

چې ولې سوله نه منئ، د سولې کلمه یې څو ځله اخوا دېخوا د خپل ځان په ګټه واړوله راواړوله، زما یې هم اوسېله راتنګه کړه. ما وویل: ((د معافیت دا پرېکړه خپله د هغو کسانو له خوا شوې چې خپله په جنایت ککړ دي، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پرېکړه په دې خاطر نه ده کړې چې رښتیا هم سولې او پخلاینې ته تیار دي، بلکې غواړي د سولې تر نامه لاندې د بل له بریده ځان خوندي کړي او خپل واک وغځوي. دا ځنګه سوله ده چې حاکم او جنایتکار یې په خپله ګټه کوي، له محکوم او مظلوم څخه، چې اصلاً حقوق یې تلف شوي، له هغو پوښتنه هم نه کېږي. دا ښاغلي چې اوس د سولې او پخلاینې خبرې کوي او هر قانون د خپل ځان په ګټه تصویبوي، مهرباني دې وکړي لومړی دې واک پرېږدي چې له ولس سره مساوي شي، بیا نو هغه د ولس کار دی چې دوی ښني که نه. زموږ ولس د دې زغم لري چې دوی ته عفوه وکړي، خو په دې شرط چې دوی له واکه تېر شي او پر دې اعتراف وکړي چې رښتیا هم ګناه او خطا ورڅخه شوې ده.))

چکري صیب پر ما تور ولګاوه راته یې وویل چې: ((ته د مجاهدینو مخالفت کوې)) ما ورته وویل: ((لومړی باید مجاهدین تعریف کړو چې مجاهدین څوک دي، مجاهدین خو همغه وو چې د روسي یرغل پر وړاندې یې په ټینګه مبارزه وکړه، اوس اکثره در په در، خاورې په سر دي، هغو چې له روسانو سره یې اوربند وکړ، هغه مجاهدین نه دي، هغه مجاهدنما دي او اوس د امریکایي الوتکو تر وزرونو لاندې بیا راژوندي شول، دا اصلاً مجاهدین نه دي، بلکې د مجاهدینو رنګه یې بده کړې او نه د جهاد پر مانا پوهېږي.)) بیا مې په ننګرهار کې د یوه سپین ږیري کیسه ورته وکړه: ((د هغه دوه زامن له امریکایانو سره باډیګاردان وو، څرنګه چې پخوا به چا سره وسله وه، نو خلکو به ورته مجاهد وایه، نو د ده زامنو هم وسله لرله، نو ځکه ورته مجاهدین ښکارېدل، چا به چې ترې پوښتنه وکړه، چې ماما زامن دې څه کار کوي؟ ده به ورته وویل: امریکایانو سره مجاهدین دي، نو کېدی شي چکري صیب هم دېته مجاهدین ووایي زما دې خبرو سره چکري صیب پرما بل تور ولګاوه: ((ته ځکه د جهاد او مقاومت مخالفت کوې چې یا په حزب اسلامي کې یې او یا طالبانو سره یې))، نو ما بیا ورته وویل: ((د مجاهدینو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



باب خو مې مخکې درته وویل همغه دي چې د روسانو پر وړاندې ودرېدلي او هغو چې له شورویانو سره یې اوربند کړی، هغه مجاهدین نه دي، بلکې پروتوکولیان دي چې هغو ته زه مجاهدنما وایم، په مجموعي ډول زه ټول هغه کسان غندم چې کابل یې وران کړی او نور هېواد ته یې زیان رسولی دی، پاتې شوه د حزب اسلامي خبره، حکمتیار خو هم مجاهد و، هغه خو هم ستاسو د جمهور رییس استاد رباني صدراعظم و، نو زه چې جمهور رییس نه منم، صدراعظم یې بیا څنگه تائید کړم.)) چکري صیب بیا د کابل جنگونه د کابل د دفاع په نامه یاد کړل او دا یې خپل حق وگاڼه او د حکمتیار جنگ یې د پاکستان د (ISI ) توطیه وبلله.

ما ورته وویل: ((د کابل جنگونه نامشروع جنگونه وو، د کابل د دفاع په نوم تاسې ولې ځانته د جنگ حق ورکوئ؟ د حکمتیار جنگیالي د کابل د زړو مکروریانو په لوړي بلاک کې پراته وو او تاسې د سیند پورې غاړه مسلح کې وئ، تاسې چې زاړه مکروریان ویشتل، هېڅ خبره نه وه، کابل نه ورانېده، خو هغه چې مسلخ ویشته نو تاسې بیا ویل هلئ چې کابل یې وران کړ. زاړه مکروریان، شاه شهید، قلعه زمانخان او نور لکه چې کابل نه وو، که څنگه او یا ستاسو توغندي هوا کې چاودل؟ راځم د طالبانو مسئلې ته، زه یو ازاد سړی یم، څه چې واقعیت وي هغه وایم، همدا استاد رباني او همدا جمعیت تنظیم و چې کله طالبان په کندهار کې راوټوکېدل، نو تاسې په ټنونو پیسې هلته ورولېږلې چې د اسلامي حزب مخه ډب کړئ او بیا خو احمدشاه مسعود (میدان ښار) ته هم ورغی، روغه یې ورسره وکړه، استاد رباني همغه د طالبانو د ظهور پر وخت وویل چې: ((طالبان یک جنبش خودجوش است))، خو ما هېڅکله هغوی ته (خودجوش) نه دي ویلي)).

((بله مسئله د دې مقاومت ده، هغه د دوو تنظیمونو تر منځ جگړه وه، تاسې یې یوې خواته د مقاومت نوم ورکړی چې نه کوم شرعي ارزښت لري، نه کوم ملي، هسې مو ځان ته یوه پلمه جوړه کړې، د (ای ایس ای) د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مداخلو په باب باید ووایم چې حکمتیار او استاد رباني ان د داود خان پر وخت پاکستان ته تللي وو، کله چې د ډاکتر نجیب الله نظام ړنګ شو، نو همدا پاکستان وو چې رباني یې هلته د څلورو میاشتو لپاره د جمهور رییس او حکمتیار یې ورته د صدراعظم په توګه انتصاب کړل.)) دې سره نو د چکري صیب حالات خراب شول، ژوندیو ټلېفونونو هم د چکري وضعه ډېره خرابه کړه، په لسګونو داسې ټلېفونونه راغلل چې چکري څخه یې د باد بڼکه جوړه کړه او داسې سپکې سپورې یې ورته وویلې چې د کاغذ پرمخ د لیکلو وړ نه دي. په پروګرام کې د لنډې وقفې پر وخت چکري صیب ماته وویل: ((یون صیب پر تا ولې ګوزار نه کېږي چې ټول ګوزارونه پر ما کېږي؟)) ما ورته وویل: ((که زما او ستاسو عملونه یوشان وای، نو پر ما به هم کېدل)). چکري صیب د متحدې جبهې تر تشکیل وروسته خپل فعالیت ته په ګرمۍ سره دوام ورکاوه، کرزی یې هر ځای کې، لکه د جوارو تکې په شان داسې ټکاوه. یوه ورځ بیا ورسره د (بي بي سي) راډیو د خبرو اترو په پروګرام کې مخامخ شوم، دا هم د سیاسي خبرو اترو ګرم پروګرام و، هلته ده بیا وویل: ((حکومت د مجاهدینو په ګوښه کولو لاس پورې کړ، هره ورځ یې له څوکیو لرې کوي او پر ځای یې کمونیستان مقرروي)). د بېلګې په توګه یې (محمد حنیف اتمر) یاد کړ چې هغه وخت د پوهنې د وزیر په توګه غوره شوی و. دا نو هغه مهال و چې ښاغلی نورالحق علومي، سید محمدګلاب زوی، جنرال دوستم او نور دا ډول اشخاص ټول له ښاغلي رباني او چکري صیب سره په یوه جبهه کې راټاله شوي وو. چکري صیب وویل: ((حنیف اتمر هغه وخت د خاد مدیر و او یوه پښه یې هم د مجاهدینو پرضد جګړه کې له لاسه ورکړې ده.))

ما یې په ځواب کې وویل: ((اول خو ښاغلی اتمر د جهاد او الحاد په نامه د وزارت څوکۍ ته نه دی رسېدلی او پر خپل لیاقت یې دا مقام ګټلی، خو که د چکري صیب په اصطلاح اتمر صیب هغه وخت د خاد یو مامور و او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ډېره غټه ګناه وه، نو دوی سره خو هم د هغه وخت تر ټولو غټ غټ وزیران او اشخاص لکه جنرال دوستم، ګلابزوی، علومي او نور په جبهه کې ناست دي، که یوه مدیر ته ګناه راجع کېدی شي، نو بیا دې وزیرانو ته ولې دا مسؤلیت راجع نه شي؟ بله خبره د مجاهدینو ده، یو مجاهدین دي یو ملېشې دي، کېدی شي له مجاهدینو څخه د ده مراد همغه ملېشې وي چې د طالبانو تر سقوط وروسته د امریکایي الوتکو تر وزرونو لاندې پر کابل راشېوه شوې او خلک یې لوټ، تالان او تر پوزې راوستل.))

چکري صیب بیا زما پر خبرو اعتراض وکړ: ((وګورئ دی مجاهدینو ته غله وایي، دوی جهاد کړی، دوی مقاومت کړی او ...)) ما ورته وویل: ((تاسو ولې غلو ته مجاهدین وایئ؟ دا منم چې دا یوه ګناه ده چې څوک سپېڅلو مجاهدینو ته غله ووایي، خو دا تر هغې هم غټه ګناه ده چې څوک دې غلو ته مجاهدین ووایي. چکري صیب هغو ته هم مجاهدین وایي چې د روسانو پر ضد د جهاد په ګرمو شېبو کې یې د خپلو شخصي ګټو لپاره اوربند وکړ، دا اصلاً مجاهدین نه دي او بله د مقاومت خبره ده چې دوی ترې هر وخت ناوړه ګټه پورته کوي، دا دوی د طالبانو پر وړاندې د جګړې مهال ته وایي، خو که فرضاً دا دواړه ورسره ومنل شي، نو (۱۳۷۱-۱۳۷۵ ل) کلونه بیا څنګه کېږي؟ دا وخت لکه چې دوی کابل کې ګلان کرل؟ چکري صیب ته باید وویل شي چې یو کاسب د خپل کسب په نامه یادېږي، کله چې کاسب هغه کسب پرېږدي بیا بل شروع کړي، بیا د وروستي کسب په نامه یادېږي. د ساري په توګه یو وخت څوک نانوایتوب کوي، خلک ورته نانوای، وایي بیا چې کله هغه کسب پرېږدي قصابي شروع کړي، خلک ورته قصاب وایي، بیا ورته څوک نانوای نه وایي، تاسو چې کله د روسانو پر ضد جهاد کاوه، هغه وخت مجاهدین وئ، بیا مو چې کابل کې لوټ او تالان شروع کړ بیا خو مجاهدین نه یاست سوچه غله یاست.))

زما او د چکري صیب خبرې ډېرې ترخې شوې، ده د جمهور رییس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرزي په ادرس ډېرې ترخې خبرې وکړې.

یو وخت بیا داسې راغی چې (متحده جبهه) مخ پر ځوړ شوه، چکري صیب د (محمد قسیم فهیم) لمن ونیوه، هغه بیا ولسمشر کرزي ته سپارښتنه وکړه، هغه د حج او اقافو وزارت د وزیر په توگه نوماند کړ، خو ولسي جرگې باور رایه ور نه کړه، چکري صیب بېرته د ولسمشر له خوا د سرپرست په توگه پاتې شو. یوه ورځ ما له جمهور رییس سره ملاقات درلود، د نورو خبرو په ترڅ کې مې د چکري صیب د تېرو بحثونو نچوړ ورته په لنډو ټکو کې بیان کړ، ورته مې وویل: ((د چکري راتگ موږ ته هم پېغور او شرم دی، ده ته هم او تاسو ته هم ښه خبره نه ده، داسې اشخاص چې ښه ماضي نه لري، ښه نه ده چې پر دې ډول مهمو پوستونو کار وکړي.)) ولسمشر راته په ځواب کې وویل: ((پربږده یې پربږده یې زر... په دې وطن کې اوسي یو دې په کې دی هم وي، پارلمان هم رد کړ، دی چې نه شرمېږي، ته ولې وشرمېږې.)) زه هم غلی شوم. شپې ورځې تېرېدلې، د ولسمشرۍ د دویمې دورې انتخابات راورسېدل، د ټاکنو جنجالونه ټولو ته معلوم دي، یو وخت د ټاکنو په شمېرنه کې د جمهور رییس کرزي د رایو شمېر په سلو کې تر پنځوس جمع یو (۵۰+۱) کښته و، خو ټولې رایې لا نه دي شمېرل شوي، دا مهال داسې گونگسې شوې چې ښاغلی ډاکتر عبدالله عبدالله له کرزي څخه د امتیازاتو په بدل کې غواړي یو جوړجاړي ته ورسېږي، همدا مهال یوه ورځ غرمه چکري صیب زموږ دفتر (د امنیت شورا دفتر) ته راغی، د غرمې ډوډۍ یې هم موږ سره وه، د ډوډۍ پر مهال د رایې شمېرنې موضوع یاده شوه، کله چې ډوډۍ خلاصه شوه، چکري صیب وویل: ((زه ځم چې مخالفینو (ډاکتر عبدالله گروپ) سره خبرې وکړم، هغوی ځینې شرایط وړاندې کړي چې که نرمښت په کې راولي یو جوړجاړي ته سره ورسېږو ښه به وي)) ما وویل: ((چکري صیب د هغوی شرایط څه دي؟)) چکري صیب وویل: ((هغوی لس وزارتونه، لس ولایتونه او یا هغه ولایتونه چې دوی په کې اکثریت رایې گټلې، ځینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفارتونه او مستقل رياستونه غواړي. دوی وايي که چېرې جمهور رييس د دوی لس وزيران او يا واليان ومني، خو پارلمان دا وزيران رد کړي، نو بيا به هم دوی د دې صلاحيت لري چې نور وزيران ورمعرفي کړي، واليان که هم بيا بدلېږي د دوی په خوښه به نور واليان مقررېږي، د دوی دا شرايط ډېر سخت دي، ماته رييس صيب (کرزي صيب) دنده سپارلې چې د حکومت په نمايندگۍ ورسره خبرې وکړم.)) ما ورته په ټوکو ټوکو کې وويل: ((چکري صيب! تاسو! اسماعيل خان، فهيم خان، بسم الله خان، امرالله خان، ضرار احمد مقبل او نور هغه جمعيتيان چې د کابينې نږدې لس پوستونه يې نيولي، دا مو په کوم جم کې محاسبه کړي، د کرزي صيب که د ډاکتر صيب عبدالله په گروپ کې؟)) چکري صيب وويل: ((زه هم همدا خبره کوم چې دا خو نو بېخي ظلم دی)). ما چکري صيب ته وويل: ((ښه نه ده چې لس پخواني، لس اوسني پوستونه جمعيت ته ورکړای شي، يو دوه درې څلور پاتېږي هغه هم د جمعيت او نظار شورا وفادارو ته ورکړل شي، نو عدالت به سل په سلو کې تامين شي!)) چکري صيب په خندا شو ويې ويل: ((زه هم همدا خبره کوم...)) چکري بيا د خپل هدف پر لوري لاړ او زه په خپل فکر کې ډوب شوم او دا خبره مې بيا په ذهن کې څو ځله تېره کړه چې جمهور رييس څومره ((دقيقې او شعوري)) فيصلې کوي؟. يو وخت بيا د حج مهال راغی، د حج مهال څو تېرو وزيرانو ته د (مثمر) فصل مانا لرله، ويل کېږي چې چکري صيب هم د دې فصل مېوه ټوله کړه، بيا لندن ته لاړ، د لويې څارنوالۍ دوسيه له کاغذونو ډکه شوه، خبره کورنيو او بهرنيو رسنيو ته ورسېده، نړيوالو پوليسو ته مراجعه وشوه، خو تر اوسه لا د قانون د تطبيق او چکري صيب تر منځ ډېر زيات واټن پاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپین او تور افغانستان

د (۲۰۰۱م) کال د سپټمبر تر یوولسمې نېټې وروسته امریکا پر افغانستان یرغل وکړ، دا مهال (جورج بوش) په چین کې د روسیې له جمهور رییس (ولادیمیر پوتین) سره د یوې کتنې پر مهال له هغه څخه هیله وکړه چې افغانستان باید پر دوو برخو ووېشل شي: ((تور افغانستان او سپین افغانستان.)) سپین افغانستان به ستاسو تر کنټرول لاندې وي او تور افغانستان به زموږ. نو تاسو باید ژر تر ژره تر سالنګ پورې پرمختګ وکړئ. پوتین ورته وویل چې ((تور)) او ((سپین)) څه مانا؟ بوش ورته وویل: «تر سالنګ دېخوا به طالبان اوسي، جګړه به دوام پیدا کوي، دا خلک هسې هم ترقي او تمدن نه غواړي، په شمال کې ستاسو پلویان اقلیتونه (شمالټلواله) دي، تاسې د هغو ملاتړ وکړئ چې ترسالنګه پرمختګ وکړي، دا سیمه به سپین افغانستان شي، دلته به ترقي او تمدن روان وي، دا سیمه به اباده شي، دیموکراسي به په کې راشي، جنوب کې به جنګ وي...» دا



(ولادیمیر پوتین)

پورته خبرې د تاجکستان جمهور رییس (امام علي رحمان) هغه وخت څرګندې کړې چې د (۱۳۸۹ل) کال د عقرب د میاشتې پر (۳) نېټه کابل ته راغلی و او د جمهور رییس حامدکرزي په کور کې د هغه مېلمه و. په دې بحث کې د (استاد رباني) نوم هم یاد شو. خبره داسې وه چې په غونډه یا مېلمستیا کې فهیم خان، جمهور رییس کرزی، عمر داودزی او د حکومت


(c) ketabton.com: The Digital Library



څو تنه نور مخور ناست وو. چا د استاد رباني یادونه وکړه، امام علي رحمان وویل: ((هو استاد رباني له ما څخه خفه دی او دا څو کاله کېږي چې ما سره هېڅ تماس نه لري.))

کرزي صیب ورته وویل: ((ولې درڅخه خفه دی، ولې دې پخلا نه کړ؟)).

د کرزي د دې پوښتنې په ځواب کې امام علي رحمان همدا د (بوش) کیسه بیان کړه چې له پوتین سره یې پر (تور) او (سپین) باندې د افغانستان د وېش خبره مطرح کړې وه. رحمان وویل: ((پوتین د شانګهای تر غونډې وروسته سملاسي تاجکستان ته راغی او له ما څخه یې هیله وکړه چې د استاد رباني په شمول د شمالټلوالې مشران ورته راوغواړم، ما هغه وخت استاد رباني راونه غوښت، خو فهیم خان او نور مشران مې ملاقات ته راوبلل، سره له دې چې استاد رباني له ما څخه په ټینګه هیله وکړه چې له پوتین سره یې د ملاقات زمینه برابره کړم، خو ما دا کار ونه کړ، استاد رباني په همدې خبره له ما څخه خفه دی او دا څو کاله کېږي چې هېڅ رابطه راسره نه لري.))



(امام علي رحمان)

امام علي رحمان په همدې خصوصي غونډه کې وویل: ((پوتین، فهیم او نورو ته د بوش پیغام ورساوه او د خپلې هر ډول مستقیمې او نا مستقیمې مرستې ډاډ یې ورکړ، فهیم ورته یو موټی شګه لاس کې ونیوله ویې ویل: دېته موږ رېګ وایو، دېته په هلمند کې شګه وایي دا یوه مانا لري، ټول افغانستان یو دی. افغانستان کې اوس طالب نه په شمال کې او نه په جنوب کې ځای لري، موږ باید کابل ونیسو، طالبانو څخه اوس خلک په تنګ شوي اوس هغه د څو کالو مخکې افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library




نه دی. پوتین ورته وویل: کابل نه شئ ساتلای، باید سالنگ کې تم شئ، دا ځای مستحکم کړئ موږ مو تر شا ولاړ یو، خو فهیم د دې وېش سخت مخالفت وکړ. کله چې پوتین مسکو ته لاړ، څه موده وروسته د طالبانو نظام سقوط شو، فهیم او نور کابل ته راغلل، پوتین په تلفېون کې ماته په قهرجنه لهجه وویل: دوی ولې کابل ته لاړل، دوی کابل نه شي ساتلای، بیا جنگونه شروع کېږي، بیا طالبان پیداکېږي...، ما ورته وویل: دوی زما خبرې نه مني، خو پوتین په ډېره قهرجنه لهجه خبرې کولې، رحمان وویل: ما څه وخت وروسته بیا پوتین ولید، پوتین راڅخه ښنه وغوښته چې تاته مې په ټلېفون کې تېزې خبرې وکړې، ما ورته وویل ولې اوس دومره نرم یې؟ هغه وویل: د ټلېفون خبرې خو مې امریکایانو اورېدلې، اوس خو یې نه اوري، ځکه نرم یم. هدف یې دا و چې امریکایان وپوهوي چې د هغوی پیغام یې په ښه ډول زما له لارې افغانانو ته رسولی دی.)) امام علي رحمان وویل: ((اوس چې مې ډېر کلونه وروسته استاد رباني ولید، نو هغه له پوتین سره د ملاقات د نه برابرولو گیله یې یو ځل بیا راڅخه وکړه.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رباني شرم!

د سولې مشورتي جرگې تر جوړېدو دمخه اوازه وه چې استاد برهان‌الدين رباني د دې جرگې د رييس په توگه غوره کېږي، زما په شان ډېرو نورو خلکو به هم ولسمشر ته ويلي وي چې دا کار ونه کړي، خو ما هم خپل انساني مسؤليت وگاڼه، پر هغه مې غاړه خلاصه کړه چې دا د سولې پروسې ته زيان رسوي، جمهور رييس ته مې يو تريخ ليک هم وليکه، ما ډېر دلايل درلودل، يو دليل دا و چې رباني نور کوم ځواک نه لري، غواړي حکومت سره نږدې شي او له دې لارې نور امتيازات واخلي. جمهور رييس راته وويل: ((رباني ماته راغی، راته يې وويل چې زما د عمر وروستي وختونه دي غواړم، په دې پاتې عمر کې، دې خپل ولس ته خدمت وکړم، زه غواړم د افغانانو تر منځ سوله وکړم او په دې برخه کې که يو خدمت زما له لاسه وشي، نو دا به زما لپاره د افتخار کار وي.)) ما جمهور رييس ته وويل: ((استاد رباني غواړي په دې پاتې عمر کې هم د سولې بهير ټپ کړي او له تا څخه نور امتيازات هم واخلي.)) پر جمهور رييس زما خبرې ښې ونه لگېدې، زه ترې همداسې نيم خوابدی راووتم. د سولې ملي مشورتي جرگه خلاصه شوه، تر جرگې دوه



(پروفيسور برهان الدين رباني)

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې ورځې وروسته رباني، جمهور رییس کرزي ته راغی او په ترکیه کې یې د افغانستان د سفیر په توگه د خپل زوی (صلاح الدین رباني) د تقرر د ژمنې عملي کېدل وغوښتل، جمهور رییس ورته وویل: ((استاده اوس شرم دی جرگه تازه تېره شوې، که دا اعلان خپور شي خلک به وایي چې استاد رشوت واخیست که څنگه؟ دا کار درته کوم خو لږ وروسته))، خو استاد رباني ورته وویل: ((نه بابا دې کې د شرم څه خبره ده، هېڅ پروا نه کوي، ته حق لرې چې یو څوک مقرر کړې، خو که (صلاح الدین) څومره ژر مقرر شي ښه به شي. دا څه د شرم خبره نه ده.))

جمهور رییس قلم پر مېز ټکاوه، د هغه د تقرر حکم یې لاسلیک کړ، خو زه نه پوهېږم چې هغه وخت به جمهور رییس کرزي ته د رباني په باب د چا خبرې ور په یاد شوې وي که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ((مارشال)) او سپی

دا یادښت د (۱۳۸۹ل) کال د لړم پر (۴) مه نېټه لیکل شوی دی.هغه څوک چې له ښاغلي محمدقسیم فهیم سره له نږدې پېژني هغه ټول پر دې پوهېږي چې ((مارشال)) صیب د پیسو او جایداد پر شتون سربېره د سپیو ساتنې ذوق هم لري. پر سپیو سربېره نور حیوانات او مرغان هم ساتي، یو ځل یې یو سپین اسپ په یو لک ډالره (۱۰۰،۰۰۰) له تاجکستان څخه اخیستی و. د کابل یکه توت سیمې ته ورڅېرمه د حیواناتو یوه طویله هم لري، د فهیم ترڅنگ د هغه نور یاران هم د اسونو او نورو حیواناتو د ساتنې



(محمد قسیم فهیم)

شوقیان دي. د (۱۳۸۹ل) کال د عقرب پر (۳) نېټه افغانستان ته د تاجکستان جمهور رییس امام علي رحمان (پخواني رحمانوف) سفر درلود، تر سفر دمخه د هغه د ساتندویه گارد مشر د افغانستان د جمهوري ریاست د ماڼۍ کتنه کوله، چې بیا له خپل مشر سره یوځای راشي، د همدې مخنۍ کتنې په ترڅ کې یې د ارگ گلخانې ماڼۍ ته مخامخ پر فهیم خان سترگې ولگېدې، یو دم یې غږ کړ! ((او فهیم! کجا استی تو بیا که یک سگ بریت نگه کدیم، ایتو دان داره مثل قلف واری که یک دفه دان پرته، به پنجه خلاص نه میشه...))

د تاجکستان د جمهور رییس د محافظت رییس له پخوا نه فهیم سره پېژندل، هغه وخت چې طالبانو شمالټلواله پسې اخیستې وه او دوی اکثرو د تاجکستان (کولاب) ته پناه وروړې وه، نو هلته دې شخص د فهیم بدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځې لیدلې وې، هغه داسې فکر نه کاوه چې فهیم خان اوس ((مارشال)) دی، د جمهور رییس مرستیال دی، د شان او شوکت خاوند دی، خو هغه داسې فکر کاوه چې دی همغه پخوانی فهیم او یا قسیم دی. فهیم خان چې د تاجکستان د جمهور رییس د محافظت د رییس دا حال ولید، نو ځان یې تېر کړ، هغه ته یې وویل: ((ځه بیا به بل وخت خبرې وکړو)) یوازې سترې مشي یې کافي وگڼله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په ملي امنیت کې څوک څومره دي؟

استخبارات یا امنیتي خدمات د هر هېواد تر ټولو حساسه اداره گڼل کېږي، نیم دولت د پټو اطلاعاتو له لارې کنټرولېږي او ثبات تر لاسه کوي. له بده مرغه چې له (۱۳۵۷ل) کال راهیسې د افغانستان د استخباراتو ادارې یوه ملي بڼه خپله نه کړه، پر (۱۳۵۷ل) کال چې دا اداره د (کام) یانې (کارگري، استخباراتي موسسه) په نامه یادېده هم د واکمن گوند خدمت کې وه او د افغان ولس په عامه وژنه کې یې لاس درلود، وروسته بیا د (اگسا) یانې (افغانستان گټو ساتندویه اداره) په نامه یاده شوه، وژنو بیا هم دوام وکړ. وروسته بیا د (خاد) یانې (خدمات امنیت دولتی) په نامه ونومول شوه، دا وخت هم تر ډېره حده له خپل ولس سره په مقابله کې مصروفه وه، وروسته یې وزارت ته پورته کړه د (واد) یا (وزارت امنیت دولتی) په نامه یې کړه، وروسته یې (د ملي امنیت ادارې) نوم پرې کېښود، دا ځل یې یوازې نوم ملي شو، په عمل کې بیا هم له تنظیمي انحصاره ونه وته، د طالبانو په واکمنۍ کې هم د طالبانو د گټو لپاره وکارېده، کله یې ورته د (احتساب) ریاست وایه او کله هم د (استخباراتو او امنیت) ریاست په نامه یادېده. د طالب نظام تر ړنگېدو وروسته له موقتې ادارې رانیولې بیا تر دې دمه چې د (ملي امنیت ریاست) په نامه یادېږي، بیا هم له تنظیمي انحصاره نه ده وتې. پر دې ادارې د تنظیمي انحصار منگولې هغه وخت لا پسې ټینگې شوې چې د طالبانو د نظام تر ړنگیدو وروسته په (بن) کې د قومونو په نامه د څوکیو ناعادلانه وېش پیل شو، په بن کنفرانس کې د موقتې ادارې د رییس د مرستیال پر پوست سربېره دفاع، د کورنیو او بهرنیو چارو وزارتونه (پنجشېر) ولسوالۍ ته ورکړل شول، سربېره پردې د ملي امنیت اداره (ډاکتر عبدالرحمن) ته ورکړل شوه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم ډاکتر عبدالرحمن د نظار شورا له اساسي غړو څخه و، خو څرنگه چې پنجشېری نه و؛ نورستانی و، نو په بن کنفرانس کې پنجشېر گروپ (لخدار براهیمي) او نور پرېکړه وال تر فشار لاندې راوستل چې د ملي امنیت ریاست خو په وزارتونو کې نه راځي، دا یو لوی ریاست دی، پر دې به وروسته بحث


(ډاکتر عبدالرحمن)

کېږي، تاسو باید دلته وزارتونه ووېشئ. پنجشېر گروپ لخدار براهیمي مجبور کړ چې د نظار شورا غړي (ډاکتر عبدالرحمن) ته د ترانسپورت وزارت ورکړي، ترانسپورت وزارت دا مهال تیار (انجنیر روح الله امان) ته ورکړل شوی و، خو څرنگه چې روح الله امان کوم سیاسي ملاتړ نه درلود، نو نوم یې په پنسل پاک ورپاک کړ او پر ځای یې ډاکتر عبدالرحمن ولیکل شو، په دې ډول ملي امنیت ریاست او نورې لویې ادارې، چې د وزارت نوم یې نه درلود، خو کارونه یې تر وزارته کم نه وو، ټول له یوې مخې نظار شورا پنجشېر گروپ ته پاتې شول. د لنډ مهالې ادارې پر مهال ټول (۸۳۲) مهم ریاستونه یوازې د


(عارف سروري)

پنجشېر اوسېدونکو ته ورسېدل، دا په کابل کې د ټول حکومت تر نیمایي زیات حساس پوستونه جوړوي.

(انجنیر عارف سروري) د دې ریاست د رییس په توگه خپله دنده پیل کړه، دا چې عارف سروري څه ډول سړی دی، پخوا یې څه کړي وو او دلته یې څه وکړل، پوره بحث غواړي، خو په یوه جمله کې سړی ویلای شي چې عارف سروري د ملي امنیت ریاست له پنجشېریانو او جمیعتانو ډک کړ او د پښتنو پر ضد یې خپل ټول هغه توان، دسیسې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



توطیې وکارولې چې د ده په وس کې وې. اکثره پښتانه یې د طالبانو په نامه ونومول، ویې ټکول او د ظلم کچه دومره لوړه شوه چې نه د کابل حکومت او نه هم نړیوالې ټولنې دا ظلمونه پټولای شول. وروسته حکومت او نړیوالې ټولنې په تېره بیا امریکایانو پرېکړه وکړه چې دې ادارې ته داسې یو څوک راولي چې له دوی سره په ژبه پوه شي. د دې کار لپاره یې (امرالله صالح) چې مخکې د احمد شاه مسعود یو ژباړن ګڼل کېده، په انګلیسي یې خبرې کولای شوې، په امریکا کې یې کوم کورس هم لوستی و، مناسب وګاڼه، هغه د دې ادارې په راس کې راغی.



(امر الله صالح)



د صالح د واکمنۍ پر مهال په ملي امنیت ریاست کې په ظاهري صورت کې یو څه مثبت تحولات راغلل، خو سیرت او محتوا لا هماغسې وو. یوه ورځ مې د لویې جرګې په کېږدۍ کې له امرالله صالح سره د ملي امنیت د ترکیب په اړه اوږد بحث وکړ، ما وویل چې دا اداره ملي نه ده، تنظیمي ده، هغه وویل: دلایل راته ووایه، ما وویل: ((د ملي امنیت په لوی ریاست کې له (۲۷) مهمو ریاستونو څخه (۱۴) یې یوازې د پنجشېر او پاتې نور یې هم اکثره په تاجک قوم پورې اړوند افرادو ته حواله شوي او کوم چې پښتانه دي اکثره یې له جمیعت تنظیم سره تړلي دي، نو اوس تاسو ووایاست چې دا اداره ملي ده که تنظیمي؟ که زه ستاسو پر ځای راشم او له خپلې ولسوالۍ (۱۴) رییسان مقرر کړم او نور هم د خپل تنظیم خلک، تاسو به ماته په کومه سترګه ګورئ، نو اوس زما په شمول اکثره خلک دا فکر کوي چې دا اداره یوازې د نظار شورا او جمعیت د ګټو ساتندویه ده.)) امرالله صالح که څه هم وویل چې دا واقعیتونه دي، خو ویې ویل چې د سمون

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره يې بايد کار وشي، نه دا چې موږ ټول سيستم رد کړو.

امرالله صالح دا هم وويل چې زما دوه مرستيالان دي، دواړه پښتانه دي، هدف يې له (انجنير ابراهيم سپين زاده) او (ډاکتر عبدالله لغماني) څخه و، انجنير ابراهيم دا مهال تش کله کله د امنيت رياست ته ورته، رول يې ډېر سمبوليک و او عبدالله لغمانی هم له تنظيمي پلوه نظار شورا او جمعيت پورې تړلی و، امرالله صالح د وخت په تېرېدو سره يو څه بدلونونه او سمونونه راوړل، خو عمومي کيفيت بدل نه شو، د ملي امنيت د ټول تشکيل تحليل او تشرېح د دې يوې ليکنې له زغمه وځي. خو دلته به هغه وروستۍ نتيجه چې د (انجنير نبيل) تر رياست وروسته او ان د اسد الله خالد تر ټپي کېدو وروسته زموږ لاس ته راغلې، دلته وړاندې کړو، دا د ملي امنيت رياست وروستی ترکيب دی چې له بېلا بېلو لارو زما تر قلمه رارسېدلی دی، دا ترکيب په دې ډول دی:

افسران

۵۸۹۰ پښتانه

۹۹۴۵ تاجک

سرتېري

۳۴۵۹ پښتانه

۴٦۳۰ تاجک

اجيران

۵۳۵ پښتانه

۱۸۴۰ تاجک

دا هغه تشکيل دی چې د (۱۳۹۲ل) کال د غبر ګولي مياشتې تر پيله پورې ارزول شوی دی. يوازې د اسدالله خالد تر ټپي کېدو وروسته (۷۵۰) تنه پنجشېريان د امنيت د لومړي مرستيال (جنرال حسام الدين) په وړانديز

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د فهیم خان په منظورۍ نوي مقرر شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې د امرالله صالح په شمول د پنجشېر گروپ اکثره سیاسي اشخاص چې د سیاسي اپوزیشن اکټونه کوي، وایي په حکومت کې د تاجکو ونډه کمه ده، کرزی او د حکومت ځینې نور غړي پر قومپالنې، سمتپالنې، ژبپالنې او ان فاشیزم تورنوي، نو که د کرزي دا ډول عملونه فاشیزم وي دې بل اړخ ته به څه نوم ورکړل شي؟ نه یوازې د ملي امنیت په ریاست کې دا حال دی، بلکې د حکومت په نورو ملکي ادارو کې هم دا حال دی. پورتنی ترکیب چې مورږ د افسرانو په برخه کې گورو، په دې کې بیا بل مشکل دا دی چې پښتانه افسران د څوکیو د اهمیت له مخې لا په بد حالت کې دي او بله خبره لا دا چې دا پښتانه افسران یو زیات شمېر یې د تنظیمي او سیاسي انتصاب له مخې په جمعیت تنظیم او یا هم د جمعیت په نورو ائیتلافي تنظیمونو پورې تړلي خلک دي. په دې ډول په وروستۍ نتیجه کې سړی ویلای شي چې د ملي امنیت اداره په تېرو (۱۲) کلونو کې د یوه مشخص تنظیم او بیا په هغه تنظیم کې هم پر یوې مشخصې سیمې پورې تړلې اداره پاتې شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له وخت څخه ناوړه ګټه اخیستنه

په لنډ مهاله او منځمهاله اداره کې چې محمد قسیم فهیم هم د یادو ادارو د مشر لومړی مرستیال و او هم یې د دفاع د وزیر په توګه دندې سرته رسولې، په سلګونو څه چې په زرګونو ناقانونه کارونه یې تر سره کړي دي. د هغو ټولو سپړل او را اړول د یوه کتاب څه چې د کتابونو لیکل غواړي. د ده د ګڼو ناقانونه کارونو له جملې څخه یو کار دا و چې کله به جمهور رییس چیرته په سفر لاړ او دی به سرپرست شو، نو ښاغلی (یوسف اعتبار) چې هغه مهال د ولسمشرۍ د چارو د ادارې د لوی رییس په توګه دنده سرته رسوله، هغه به ټول هغه کاغذونه، اسناد او نور مواد



(محمد قسیم فهیم)

چې ولسمشر کرزي به د هغو له لاسلیک او منظورولو ډه‌ډه کوله او یا به یې د (نه لاسلیک) اټکل و، اعتبار به دا اسناد ټول راټول او ترتیب کړل او دېته به منتظر و چې کله کرزی کوم هېواد ته په سفر ځي او فهیم خان د سرپرست په توګه پاتې کېږي. څرنګه چې د حکومت ټول پوستونه په ترتیب سره د شمالټلوالې او په تېره بیا د نظار شورا (پنجشېر ګروپ) په لاس کې وو، نو لاندې ټولو رییسانو او اړوندو کسانو ته به یې وویل چې څه غوښتنې لرئ ټولې د چارو لویې ادارې ته وسپارئ، په دې غوښتنو کې به اکثره د ځمکو او جایدادونو غوښتنې وې، نوی تقرر، د دولتي او عسکري رتبو ورکړه او نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول ډول امتیازونه به په کې شامل وو، کله چې به جمهور رییس پر سفر لاړ، دا ټولې دوسیې او غوښتنې به ښاغلي یوسف اعتبار، په خپل اعتبار د فهیم خان پر مېز کېښودې، هغه به د عوامو په اصطلاح په (ټې ثانیه) کې لاسلیک او ښاغلي اعتبار به په ترتیب سره خپلو مراجعو ته ابلاغ کړې، سړی پوره او کره نه شي ویلای، چې څومره ناقانونه کارونه به تر سره شوي وي، خو د یوه اټکل له مخې ویلای شو چې تر پنځوس (۵۰) زرو زیات داسې کارونه به تر سره شوي چې قانوني ممانعت یې درلود او باید نه وای تر سره شوي. شاید ځینو کسانو ته د پنځوس (۵۰) زرو ناقانونه حاتم بخشیو او نورو ناوړه کارونو رقم څه مبالغه ښکاره شي، خو هغو کسان چې د حکومت له داخلي جوړښت او په هغه کې د واک له نااندوله وېش څخه خبر دي، هغوی ته کېدی شي پنځوس (۵۰) زره یو ډېر ټیټ رقم ښکاره شي. کله چې به ولسمشر بېرته


(یوسف اعتبار)

راستون شو، لومړی خو کېدی شول پر دې کارونو خبرېده نه، که خبرېده هم ځان یې ناګاره اچوه او درېیمه خبره دا چې که زړه یې غوښتل رد یې کړي، د رد عملي صلاحیت یې هم نه درلود، هغه هم هغه ډول کارونه تر سره کول چې اکثره یې د دې ټلوالې د خوشالۍ سبب ګرځېدل او د ځینو په اصطلاح ملي(!) حرکت یې کاوه.

د انتقالي او موقتې اداري له اسنادو به تېر شو، یوازې د دې ډول کارونو یوه وړه بېلګه به وړاندې کړم د (ریاست محافظت و امنیت رجال برجسته دولتی) یا د غټو دولتي شخصیتونو د امنیت او ساتنې په نامه یو ریاست دی، (لسم ریاست) د ملي امنیت اړوند دی، خو د جمهوري ریاست د عالي مقام د ریاست تر چتر او اوامرو لاندې کار کوي. دا مهال (کریم خرم) د جمهوري ریاست د عالي مقام رییس دی، خو د دې بل ریاست رییس بیا د پنجشېر اوسېدونکی ښاغلی (نورالله خان) دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصلاً هر نوی تقرر، انفکاک او هم رتبه ورکول چې په دې ریاست کې کېږي باید د جمهوري ریاست د عالي مقام د مشر چې دا مهال (کریم خرم) دی، له لارې تر سره شي. خو د شمالټلوالې په فکر ځینې مقررۍ بیا داسې دي چې لازمه نه ده کریم خرم او یا ولسمشر کرزی دې پرې خبر شي، هغه پر همغه مستقیمه لاره تر سره کیږي، هغه لاره چې د یوسف اعتبار له لارې مستقیماً تر ((مارشاله)) غځېدلې ده، (د محافظت و امنیت رجال برجسته دولتي) رییس یې مستقیماً یا په خپله یوسف اعتبار ته او یا هم ملي امنیت ته او هغوی یې بیا ښاغلي اعتبار ته وړاندې کوي، هغه یې بیا همداسې تر ((مارشاله)) رسوي، هغه یې لاسلیکوي او په دې ډول کارونه تسلسل پیدا کوي، دلته به یو جدول د بېلګې په توګه راوړو چې (۵۳) تنه څنګه په یوه واړه ریاست کې ترفیعات کوي. د دې حکم کاپي دلته وګورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست دفتر مقام عالی ج.ا.ا
ریاست محافظت و امنیت رجال برجسته دولتی

ریاست دفتر ریاست جمهوری
شماره: ۴۸۵
۱۳۹۲/۲/۴
مدیریت دفتر ریاست محافظت وامنیت رجال برجسته دولتی

مورخ / / 1392

| احکام | پیشنهاد |
| --- | --- |
| شماره حکم ۱۳۳۱ ع<br>۱۳۹۲/۲/۲۴<br>ملاحظه شد:<br>متن پیشنهاد منظور است، ریاست عمومی امنیت ملی در زمینه اجراآت نماید.<br>مارشال محمد قسیم فهیم<br>معاون اول و سرپرست ریاست ج.ا.ا | به مقام محترم عالی ریاست جمهوری اسلامی افغانستان!<br>محترما :<br>تعداد ( 53) تن کارمندان مدیریت هفتم این اداره که وظایف محوله خویش را با کمال صداقت و ایمانداری کامل بدون ضیاع وقت بطور (24)ساعته اجرا نموده و از هیچ نوع سعی و تلاش در امور اجرای وظایف مربوط دریغ نورزیده اند.<br>با در نظرداشت کار و پیکار شبا روزی ایشان و جهت تشویق هر چه بیشتر آنها در امر اجرای بهتر وظایف محوله احتراماً به مقام محترم عالی پیشنهاد مینمائیم تا یک رتبه بالاتر از رتبه موجوده ایشان بطور فوق العاده بدون در نظرداشت بست برای آنها که جدول شهرت شان ضمیمه پیشنهاد هذا میباشد با اصدار حکم منظور فرموده ممنون سازید.<br>با اغتنام از فرصت به تجدید احترامات فایقه میپردازیم.<br>بااحترام<br>رئیس محافظت وامنیت<br>رجال برجسته دولتی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



جدول شهرت کارمندان مدیریت هفتم ریاست محافظت وامنیت رجال برجسته دولتی

| شماره | شهرت: اسم | شهرت: ولد | رتبه موجوده | رتبه پیشنهاد شده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | حبیب الله | عبدالله | دگرمن | دگروال | |
| 2 | عبدالظهور | داود | دگرمن | دگر وال | |
| 3 | عبدالنعیم | عبدالقیوم | دگرمن | دگر وال | |
| 4 | غلام علی | سراج الدین | دگرمن | دگروال | |
| 5 | نقیب احمد | فیض محمد | دگرمن | دگروال | |
| 6 | عبدالتمیم | عبدالمبین | دگرمن | دگروال | |
| 7 | عبدالسمیع | نفیس خان | دگرمن | دگروال | |
| 8 | رضوان الله | فتح محمد | دگرمن | دگروال | |
| 9 | عبدالقدیر | عزیزاحمد | دگرمن | دگروال | |
| 10 | ملانورمحمد | پیرمحمد | جگرن | دگرمن | |
| 11 | عبدالقدوس | عبدالمطلب | جگرن | دگرمن | |
| 12 | سالارالدین | عبدال | جگرن | دگرمن | |
| 13 | میر آغا | عیدی محمد | جگرن | دگرمن | |
| 14 | عزیزبیگ | محمود بیگ | جگرن | دگرمن | |
| 15 | مرزا محمد | محمدرضا | جگرن | دگرمن | |
| 16 | عبدالمانیل | عبدالخالق | جگرن | دگرمن | |
| 17 | شیخ عابدین | معراج الدین | جگرن | دگرمن | |
| 18 | غوث محمد | محمدافضل | جگرن | دگرمن | |
| 19 | سیف الدین | غلام محی الدین | جگرن | دگرمن | |
| 20 | رحیم الدین | کرم خان | جگرن | دگرمن | |
| 21 | نصیراحمد | صالح محمد | جگرن | دگرمن | |
| 22 | سبز محمد | غریب محمد | جگرن | دگرمن | |
| 23 | محمدحکیم | مرزا خان | جگرن | دگرمن | |
| 24 | محمدفیض | عطا محمد | جگرن | دگرمن | |
| 25 | حبیب محمود | شاه محمود | جگرن | دگرمن | |
| 26 | حیات الله | رحمت الله | جگرن | دگرمن | |
| 27 | نجیب الله | حبیب الرحمن | تورن | جگرن | |
| 28 | سیدملنگ | حاجی حکیم | تورن | جگرن | |

3-2 ~1~

(c) ketabton.com: The Digital Library



جدول شهرت کارمندان مدیریت هفتم ریاست محافظت وامنیت رجال برجسته دولتی

| شماره | شهرت | | رتبه موجوده | رتبه پیشنهاد شده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|
| | اسم | ولد | | | |
| 29 | ضیاالحق | صفت خان | تورن | جگرن | |
| 30 | محمد جان | محمدعمر | تورن | جگرن | |
| 31 | نیکوخان | جگرخان | تورن | جگرن | |
| 32 | عبدالله | مردان خان | تورن | جگرن | |
| 33 | محمدشاه | دیرخان | تورن | جگرن | |
| 34 | محمدبلال | غریب محمد | تورن | جگرن | |
| 35 | محمداسرار | غریب محمد | تورن | جگرن | |
| 36 | احمد ضابط | صوفی خان | تورن | جگرن | |
| 37 | میربچه | میراحمد | تورن | جگرن | |
| 38 | حضرت جان | محفوظ جان | تورن | جگرن | |
| 39 | خالد | گل احمد | تورن | جگرن | |
| 40 | شرین خان | خان شرین | تورن | جگرن | |
| 41 | حیات الله | ملاعزیز الله | تورن | جگرن | |
| 42 | غلام حسین | غلام الدین | تورن | جگرن | |
| 43 | میراکبر | میراحمد | تورن | جگرن | |
| 44 | امیراحمد | تجمل خان | تورن | جگرن | |
| 45 | ضیاالله | شاه نظر | تورن | جگرن | |
| 46 | غلام قادر | غلام صفدر | تورن | جگرن | |
| 47 | احمد ضیا | رسول خان | تورن | جگرن | |
| 48 | گلاب شاه | امیرجان | تورن | جگرن | |
| 49 | مجیب الرحمن | رسول خان | لمری بریدمن | تورن | |
| 50 | غلام | عبدالسمیع | دوهم بریدمن | لمری بریدمن | |
| 51 | سرور خان | ذین العاب الدین | دوهم بریدمن | لمری بریدمن | |
| 52 | کوهی خان | محمدغوث | دوهم بریدمن | لمری بریدمن | |
| 53 | ضیاء الرحمن | رسول خان | دریم بریدمن | دوهم بریدمن | |

قرار شرح فوق جدول هذا ترتیب و صحت است.

باالاحترام

رئیس محافظت وامنیت
رجال برجسته دولتی

معاون ... پرسونل

3-3

**په یوه واړه ریاست کې چې دا حال دی، څه فکر کوئ د دولت په نورو وړو او لویو مهمو ادارو کې به څه حال وي؟ دا مشت نمونه يې خروار دی.**

**دې لېست ته چې تاسو ګورئ، دا اکثره په يوې سيمې او يوې سياسي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډلې پورې اړوند خلک دي، په همدې خاطر دوی نه دي غوښتي چې سیمه او ځای ورسره ولیکي. ښاغلي یوسف اعتبار داسې په سوونو ډله ییزې رتبې او مقرری منظورې کړي دي.د دولتي ځمکو وېش، په بهرنیو هېوادونو کې د افغانستان په سفارتونو کې مقرری او په سلګونو ډوله نورې ټاکنې په دې لړۍ کې شاملې دي. دا لړۍ اوس هم ښه په درز کې روانه ده، خدای خبر چې د کرزی صیب د قانوني واکمنۍ تر پایه به څومره ناقانونه کارونه او ګومارنې پر دې ولس تحمیل شي.

نه یوازې فهیم خان په زرګونو ناقانونه کارونه کړي، بلکې د هغوی ټولو ملګرو پر خپل وخت او پر خپل ځای داسې کارونه تر سره کړي، چې قانون ورته اجازه نه ورکوي. سیمه پالنه، ژبپالنه، قومپالنه او تنظیمپالنه د دې ډول کارونو څرګندې بېلګې دي. دلته به د ښاغلي (بسم الله خان محمدي) سمتپالنې ته هم لږ تم شو، کله چې دی د کورنیو چارو وزیر شو، نو دلته ده د اسلامي جمعیت د غړو او د پنجشېر درې د اوسېدونکو پر پخواني شمېر سربېره دا شمېر نور هم زیات کړ، دې لاندې جدول ته وګورئ او بیا نور خپله قضاوت وکړئ:

د یادونې وړ ده چې دا لېست د بسم الله خان د واکمنۍ پر مهال د ځینو کسانو له خوا ملي شورا ته هم د کتنې لپاره وړاندې شوی و، ځینو وکیلانو پرې اعتراض هم وکړ، خو زور یې ونه رسېد.

په کورنیو چارو وزارت کې د ښاغلي بسم الله خان د واکمنۍ پر مهال د سیمه ییز تقرر یو انځور

| شماره | اسم | رتبه | وظیفه | سکونت | موقف سیاسی | در زمان کی مقرر شده | ملاحظات |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | بسم الله خان | ستر جنرال | وزیرداخله | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۲ | عبدالرحمن | ډگر جنرال | معین امنیتی | کابل | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳ | بازمحمد احمدی | ډگر جنرال | معین مواد مخدر | بدخشان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴ | مسعود راغب | تورنجنرال | ریس ع تفتیش | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۵ | عبدالرحیم شجاع | تورنجنرال | رییس ع حقوق | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦ | همایون عیني | جنرال | رییس ۱۱۹ | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۷ | عبدالقدوس امید | جنرال | ق زون نمبر۱ | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۸ | ملاصبور | تورنجنرال | ق بدخشان | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۹ | معروف | جنرال | ق قرارگاه وزارت | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۱۰ | شاعلم | جنرال | معاون ریاست ع استخبارات | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | قبلاً در امنیت دوسیه داشت |
| ۱۱ | اکرام | جنرال | ق قطعه محافظت قضات | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۱۲ | نجیب الله قانونی | جنرال | معاون ریاست ع دفتر | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۱۳ | دادالله | جنرال | معاون ریاست ع امور پولیس | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۱۴ | محمداصف | جنرال | مدیر ع حقوق کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۱۵ | سیف الدین وفا | جنرال | مدیر ع حقوق کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۱٦ | مبین قره بیگ | جنرال | معاون ریاست تعمیرات | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۱۷ | عظیم قره بیگ | جنرال | معاون ریاست ترافیک | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۱۸ | خلیل دستیار | جنرال | رییس تحقیقات زون ۲۰۲ | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۱۹ | حبیب الرحمن | جنرال | رییس تحقیقات زون ۲۰۲ | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۲۰ | عبدالروف تاج | جنرال | امر امنیت بلخ | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۲۱ | عبدالحمید | جنرال | سرپرست ریاست تعمیرات | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۲ | محمدناصر حیدری | سمونوال (ډگروال) | مدیر ع تحلیل و ارزیابی معینیت | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۲۳ | صبر الدین | سمونوال | مدیر ع استخبارات وزارت | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۲۴ | محمد اکبر | سمونوال | مدیر ع تعقیب وزارت داخله | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۲۵ | عبدالحکیم خیرخوا | سمونوال | مدیر کنترول زون نمبر ۳ کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۲۶ | غلام غوث | سمونوال | مدیر ع پالیسی معینیت پالیسی | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۲۷ | عبدالستار | سمونوال | مدیر تعقیب و جستجو کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۲۸ | صابر | سمونوال | ق کندک کمربند کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۲۹ | ویس تاج | څارمن | امر حوزه دهم کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳۰ | خالد تاج | سمونوال | مدیر استخبارات پنجشیر | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳۱ | عبدالرحیم | سمونوال | مدیر تروریزم هرات | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳۲ | لطف الهادی | سمونوال | مدیر استخبارات هرات | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳۳ | قدم شاه | سمونوال | ق کندک ۲ لوای ۱ نظم عامه | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۳۴ | غلام دستگیر | لومړی څارن | مدیر جنایی حوزه ۲ کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | عبدالرحیم | سمونمل | امر کنترول حوزه ۱ کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳۶ | ذین العابدین | سمونوال | ق کندک ۵ لوای ۳ نظم عامه | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳۷ | اغا شیرین | سمونوال | معاون اداری حوزه چهارم کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | | |
| ۳۸ | عزیز غیرت | جنرال | ق امنیه جوزجان | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۳۹ | عارف امین زاده | سمونوال | معاون اداری حوزه دهم | پنجشیر | | | |
| ۴۰ | الیاس | لومړی څارن | امر کشف حوزه اول کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۱ | محمدوزیر | لومړی څارن | امر کشف حوزه یازدهم کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۲ | عبیدالله | څارمن | امر کشف حوزه شانزدهم کابل | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۳ | سیف الدین | سمونیار | امرجنایی میربچه کوت | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۴ | فضل الدین عیار | ډگرجنرال | قوماندان زون ۲۰۲ شمشاد | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۵ | محمد ایوب سالنگی | ډگر جنرال | قوماندان زون ۱۰۱ کابل | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۶ | زمری | جنرال | ریس عمومی نظم عامه | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۷ | شیراحمد ملدانی | جنرال | قوماندان امنیه ولایت پروان | هرات | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴۸ | خلیل اندرابی | جنرال | قوماندان امنیه سمنگان | بغلان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۴۹ | سیدمحمد | جنرال | قوماندان امنیه فراه | بغلان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۵۰ | داکتر وکیل | تورنجنرال | ریس ع پیژنتون | شمالی | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۵۱ | جمعه عدیل | جنرال | ق میدان هوایی کابل | هرات | جمعیت اسلامی | | |
| ۵۲ | سیدامان سادات | تورنجنرال | معاون اداری قوای سرحدی | بدخشان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۵۳ | سمیع الله قطره | تورنجنرال | قوماندان امنیه کندوز | بدخشان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۵۴ | فاروق حساس | جنرال | امر حوزه چهارم کابل | کاپیسا | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۵۵ | محمدایاز | جنرال | امر حوزه هفدهم کابل | شمالی | جمعیت اسلامی | | |
| ۵۶ | مشتاق | جنرال | امر حوزه پنجم کابل | پغمان | جمعیت اسلامی | | |
| ۵۷ | غلامحی الدین | سمونوال | قوماندان لوای ۲ نظم عامه | پروان | جمعیت اسلامی | | |
| ۵۸ | فیض الرحمن سیدخیل | سمونوال | امر امنیت ولایت پروان | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ۵۹ | حاجي محمد | سمونوال | مدیر جنایي ولایت پروان | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ٦۰ | حفیظ الله | سمونوال | معاون اداری حوزه نهم کابل | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ٦١ | سیدخیل | جنرال | قوماندان قوای سرحدی شمال | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ٦٢ | سجده | سمونوال | مدیر جنایی حوزه پنجم کابل | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ٦٣ | عبدالستار | سمونوال | مدیر جنایی حوزه پانزدهم کابل | پروان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ٦۴ | امان الله | سمونوال | امر حوزه یازدهم کابل | بدخشان | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ٦۵ | عبدالعزیز | لومړی څارن | امر کشف حوزه پانزدهم | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |
| ٦٦ | واحد شریفی | جنرال | معاون نظم عامه | پنجشیر | جمعیت اسلامی | بسم الله خان | |

**دا لېست د هغو نورو لسگونو او سلگونو لېستونو او مقرريو يوه بېلگه ده چې د وزارت له چاپېرياله بهر وتي دي. پوره باور دی چې په ټولو هغو ادارو کې چې په راس کې يې د اسلامي جمعيت پلويان او غړي وو، حالات په همدې ډول وو. دا لېست يې د يو ټوليز انځور په توگه گڼل کېدی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



*دیارلسم څپرکی*

# د ولسمشر کرزي وزیران

لکه څنگه چې د ولسمشر کرزي د دربار او نظام په بېلابېلو برخو کې رنگارنگ کرکترونه موجود وو، دغسې یې د کابینې غړي یا وزیران هم رنگارنگ وو. تنظیمي افراد په کې وو، مسلکي هغه په کې وو، د قومي ونډې له امله مستحق(!) گڼل شوي افراد په کې وو، د روحاني یا جهادي قشر استازي په کې هم ځلېدل، کینې اړخي، ښي اړخي او نا اړخي ټولو په کې خپله خپله ونډه لرله. سره له دې چې د کرزي کابینه د بېلابېلو مصلحتونو او نزاکتونو له امتزاج څخه رغېدلې وه، خو څرنگه چې اساسي قانون ورته لوړې زده کړې قید کړې وې، نو ځکه خو ټول مجبور وو، تر باور رایې اخیستلو وړاندې خپل حقیقي او ناحقیقي تحصیلي اسناد جوړ او ولسي جرگې ته یې وړاندې کړي. که سړی په مجموعي ډول د کرزي صیب د (۱۴) کلنې واکمنۍ د حکومت ټولو غړو ته نظر کوي، نو تر ده وړاندې ان تر (۱۳۵۷ لمریز) کال پورې د ده هره کابینه تر هغو نورو مسلکي برېښي، د دې لپاره چې د کرزي د نظام د څو کابینو د غړو په باب ښه قضاوت وکولای شو، ښه به وي چې هر یو دلته له لنډې تبصرې سره په لنډه توگه در وپېژنو.

**مرستیالان:** مرستیالان چې په خپله د حکومت یا کابینې غړي گڼل کېږي او د ولسمشر په غیاب کې د کابینې چارې پرمخ وړي، په دولت او حکومت کې مهم نقش لري. کرزي په تېره (۱۴) کلنه دوره کې په مجموعي ډول (۸) تنه مرستیالان درلودلي دي. په مؤقته دوره کې ورته، محمد قسیم فهیم، حاجي محمد محقق، سیما سمر او هدایت امین ارسلا د مرستیالانو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



توګه غوره شوي وو، خپله کرزي یې په ټاکنه کې کوم رول نه درلود.

په انتقالي دوره کې یې بیا هم محمدقسیم فهیم، کریم خلیلي او نعمت الله شهراني د مرستیالانو په توګه غوره شول، حاجي قدیر یې هم مرستیال، هم د ټولګټو وزیر او هم د ننګرهار د والي په توګه غوره شو.

په لومړۍ انتخابي دوره کې یې احمدضیا مسعود او کریم خلیلي د مرستیالانو په توګه منتخب شول او په دویمه انتخابي دوره کې د احمدضیا مسعود ځای فهیم خان ونیو او خلیلي بېرته پر خپل ځای پاتې شو. د فهیم خان تر مړینې وروسته یونس قانوني د لومړي مرستیال په توګه غوره شو او څو میاشتې یې دا دنده پرمخ یوړه.

په مرستیالانو کې فهیم خان تر ټولو زیات د واک و ځواک څښتن و، ان د ولسمشر د نظریاتو او اوامرو د ویټو صلاحیت یې هم درلود، احمدضیا مسعود او کریم خلیلي بیا د ولسمشر تر سیوري لاندې وو، د دواړو واک و ځواک سره تقریباً مساوي غوندې وو، خو څرنګه چې نظار شورا په حکومت کې زیات واک درلود، نو ځکه خو د احمدضیا مسعود، سیاسي او پوځي ملاتړ تر کریم خلیلي یو څه زیات و. د دې دواړو اشخاصو او یا ډلو قوت په مرګغوندېو یا تلینغوندېو کې څرګندېده. د احمد شاه مسعود تلین چې په څومره شاندارو حکومتي مراسمو نمانځل کېده، نو د عبدالعلي مزاري بیا په هغه کچه نه و او زیاتره د هزاره توکمو د راټولېدو په بڼه خلاصه کېده.

د مرستیالانو د واک و ځواک د ورته والي او توپیرونو په باب نورې خبرې هم کېدی شي، خو دلته نه غواړم دا بحث ډېر اوږد کړم، څرنګه چې پر مرستیالانو باندې په جلا جلا ډول بحث شوی، نو دلته لازمه نه بولم ځینې خبرې بیا تکرار کړم، لوستونکي کولای شي، همغه بحثونه له نظره تېر کړي، دلته غواړم د ولسمشر کرزي د وزیرانو پېژندنې او د هغو د کرکترونو څرنګوالي ته یو څه تم شم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشر کرزي وزیران

لکه څنګه چې مې د کرزي صیب د دربار د رنګارنګیو په باب څو ځله یادونه وکړه. وزیران یې هم همداسې درواخله، د هېواد له بېلابېلو برخو، بېلابېلو نظریو او سلیقو څخه یې چاڼ کړي وو. دلته په لنډیز سره هر یو درپېژنو:

**۱- ستر جنرال رحیم وردګ:** رحیم وردګ په میدان وردګو ولایت کې زېږېدلی، تر دې دمه یې تر شپږو لسیزو زیات عمر خوړلی، د کابل له حربي پوهنتون څخه فارغ شوی، وروسته بیا د لوړو زده کړو لپاره امریکا او مصر ته تللی او هلته یې پوځي زده کړې تر سره کړي دي. ستر جنرال عبدالرحیم وردګ د کاناډا له حربي پوهنتون څخه په نظامي علومو کې افتخاري دوکتورا ترلاسه کړې ده. رحیم وردګ د جهاد په کلونو کې د ملي محاذ په تنظیم پورې تړلی و او د روسانو خلاف یې په ډېرو سختو جنګونو کې برخه اخیستې، څو ځله ټپي شوی او دوه ځله له ناوړه بریدونو څخه ژوندی وتلی دی. تر (۲۰۰۴م) کال یانې د جمهوري ریاست تر ټاکنو وروسته کله چې حامدکرزي د ولسمشر په توګه لوړه وکړه، نو تر هغه وروسته یې جنرال رحیم وردګ د ملي دفاع د وزیر په توګه وټاکه. تر هغه دمخه د یاد وزارت مرستیال و. ده د (۲۰۱۲م) کال تر سپتمبر میاشتې پورې د دفاع



(جنرال عبدالرحیم وردګ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت د وزير په توگه خپلې دندې ته دوام ورکړ او بيا د ولسي جرگې له خوا ناباوره شو. ولسمشر کرزي دی بېرته د دفاع وزارت د سرپرست په توگه وټاکه، خو ده دا دنده قبوله نه کړه او يوازې په امنيتي چارو کې د کرزي د مشاور په توگه پاتې شو.

رحيم وردگ په دفاع وزارت کې د خپل کار په څو کلنه دوره کې ځينې مثبت بدلونونه راوړل، د پوځ لپاره يې نظامي ستراتيژي جوړه کړه، ريفورم يې تر يوه حده عملي کړ او نړيوالې مرستې يې راجلب کړې، په نړيوالو غونډو کې يې د افغانستان او پوځ په استازۍ گډون وکړ او د پوځ د يوه مسلکي افسر په توگه يې خپل رول تر يوه حده په ښه ډول تر سره کړ. رحيم وردگ د نرم طبيعت خاوند و، د ده نرم طبيعت په ياد وزارت کې د دې سبب شو چې نور تنظيمي عناصر ورڅخه ناسمه گټه پورته کړي او د ده قانوني واک هم تر پوښتنې لاندې راولي. په دفاع وزارت کې تر ده د اسلامي جمعيت د افرادو واک په ټوليز ډول زيات و، چې دا مهال يې د لوی درستيز (بسم الله محمدي) له خوا لارښوونه کېدله.

رحيم وردگ د خپلې دندې د تصدۍ پر مهال پر دې بريالی نه شو چې په دفاع وزارت کې تنظيمي مکروب له منځه يوسي او د ((جهاد)) او ((مقاومت)) له شعارونو او تاثيراتو پرته يوې بشپړې مسلکي اردو ته لاره اواره کړي.

په دفاع وزارت کې ونډه د قومي ويش له امله ورکول کېده، چې ويل کېږي د بن کنفرانس توصيه وه، د دې ويش له مخې په سلو کې (۴۵) سلنه پښتنو، (۳۵) تاجکو او پاتې نورو قومونو ته ځانگړې شوې وه. خو پښتانه هېڅکله هم دې سلنې (حد) ته ونه رسېدل او تاجک په کې هېڅکله هم په مهمو پوستونو کې تر (۷۰) سلنې راکښته نه شول. دا کار هغه مهال هم روان و چې لوی درستيز هم د رحيم وردگ ملگری (ستر جنرال شېرمحمد کريمي) و. دفاع وزارت ته په لومړيو کې د افرادو جلب او جذب د لياقت پر اساس نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



و؛ د ((جهاد)) او ((مقاومت)) پر بنسټ و. یادو مقاومتونو ځانګړې نومرې لرلې، که چا به په ازموینه کې هېڅ نومرې نه شوې اخیستلای، خو چې د دې دوو نومونو (جهاد) او (مقاومت) تصدیق یې درلود، نو د بریالیتوب لپاره یې پوره و.

د وخت په تېرېدو سره پوځ د ملیتوب پرځای تنظیمي بڼه ونیوه، یوازې نوم یې ملي پاتې شو، د پوځ په موټرونو د جمعیت تنظیم د قوماندان (احمدشاه مسعود) عکسونو نصب د دې ښکارندویي کوله چې پوځ لا هم د اسلامي جمعیت تر کنترول لاندې دی. ان لوی درستیز (شېرمحمد کریمي) له ژوندون ټلوېزیون سره په یوه ځانګړې مرکه کې د دې حالت سپیناوی ونه کړای شو او له دې ځوابه عاجز پاتې شو.

په یاد وزارت کې د لسګونو ملیونو ډالرو مالي فساد خبرې څو ځله پورته شوې، داسې قراردادونه هم وو چې تر (۴۰۰) ملیونه ډالرو پورې فساد په کې شوی و، د فساد لړۍ ټولو ته څرګنده وه.

په خپله د رحیم وردګ پر یوه زوی هم د فساد تورونه وو، چې ویل کېږي، د یاد وزارت غټ قراردادونه ورسره وو. خو اصلي مالي فساد په تنظیمي عناصرو پورې تړلی و چې د رحیم وردګ زور پرې هم نه رسېده او د دفاع وزارت اصلي واک و ځواک ورسره و. دوی د دفاع وزارت په قراردادونو کې دومره مالي فساد کړی و چې په سوونو ملیونو ډالرو ته رسېده، خو بیا هم تر پایه داسې څوک پیدا نه شول چې د دوی د فساد مخه ونیسي. خپله رحیم وردګ له سیاسي او اداري پلوه د دې ډول فساد او ځینو تنظیمي مقرریو پر وړاندې بېوسه و. ولسمشر کرزي یې هم په دې برخه کې ملاتړ نه کاوه. یوه ورځ زه (یون) له خپل دفتره (امنیت شورا دفتر) څخه پر راوتو وم، ستر جنرال رحیم وردګ ارګ ته داخلېده، په دروازه کې راسره مخامخ شو، ما چې ورسره څو واره دمخه په دفاع وزارت کې د پورتنیو یادو مشکلاتو په باب خبرې کړې وې، نو دا ځل ده ودرولم، راته یې وویل: ((ما باندې ځینو خلکو نیوکې کړې دي، خو حقیقت داسې نه دی، واقعیت دا دی چې رییس صاحب (کرزی صیب) زما ملاتړ نه کوي، زه چې د تقرر لپاره کوم لېست برابر کړم، رییس صیب ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوسم، هغه یې نه امضا کوي، خو بسم الله خان چې کوم لېست ورته راوړي هغه سم لاسي امضا کوي او له ما څخه پوښتنه هم نه کوي، په جلسو کې هم له هغه څخه هره مسله پوښتي، نو ټول مشکل په رییس صیب کې دی. تاسو او که ستاسو مېرمن وکیله صیب (ارین یون) ولسمشر ته ووایي چې دفاع وزارت کې باید ټول مسایل زما له طریقه تېر شي، نه د بل چا له خوا، نو چې داسې وي، زه هلته هېڅ نه شم کولای. تاسو ته مې ځکه وویل چې ستاسې خبرې پر رییس صیب تاثیر کوي.)) ما ورته وویل، زموږ خبرې به پرې څه تاثیر ولري، زه خو دلته عادي مامور یم، جنرال وردګ وویل: «نه! زه پوهېږم چې تاسې او وکیلې صاحبې ته زیات احترام لري او تاسو ورته د مامور په توګه نه ښکاريځ، نو که تاسې ورسره دا خبرې مطرح کړئ، زه هلته ډېرې ستونزې حلولای شم. اوس چې زه د هر ناقانوني کار مخه ونیسم، هغوی یې ببرته په همده (ولسمشر) باندې خلاصوي، نو ماته څه پاتې کېږي؟».

د جنرال صیب وردګ زړه ډک و، خو موږ هېڅ نه شو کولای، یوه ورځ مې له ولسمشر سره د یوه ځانګړي ملاقات په ترځ کې له جنرال رحیم وردګ څخه د ملاتړ خبره ورته وریاده کړه. ولسمشر وویل: ((اخ ورمېږ دې د ده مات شي، دی مې د څه لپاره هلته لېږلی دی؟ دی مې د دې لپاره هلته ولېږه، چې هلته قومي توازن برابر کړي، هر څه دې نورو سره دي، خو دی دې خدای خوار کړي، هېڅ یې ونه کړل.)) هر علت، دلیل او مجبوریت چې و، دفاع وزارت د فساد، سیاسي او قومي ناانډولۍ پر یوې سرچینې بدل شو. خپله رحیم وردګ اساساً یو ملي سړی دی، ملي او اسلامي افکار لري، د هېواد او منطقې په کچه یو مسلکي صاحب منصب دی، یوې مطرح علمي کورنۍ کې زېږېدلی، اکثریت پښتنو ته منسوب دی، لاسونه یې د خلکو په وینو سره نه دي، د نیمګړتیاوو په انډول یې بریاوې او ښېګڼې زیاتې دي، خو ده له خپلو ټولو دې لوړتیاوو څخه په دفاع وزارت کې د نیمګړتیاوو د له منځه وړلو لپاره غوڅه او اساسي ګټه پورته نه کړه.

**۲- ستر جنرال بسم الله خان محمدي:** بسم الله خان پر (۱۹۵۸م) کال په پنجشېر دره کې زېږېدلی دی، تر (۱۹۷۹م) کال پورې یې خپلې لومړنۍ او ثانوي زده کړې بشپړې کړې او بیا د مجاهدینو له لیکو سره یو

(c) ketabton.com: The Digital Library





(بسم الله خان محمدي)

ځای شو، نورې لوړې زده‌کړې ترې پاتې شوې. کله چې بسم الله خان محمدي د کورنیو چارو د وزیر په توگه ټاکل کېده او تر هغه وړاندې یې د ملي دفاع وزارت د لوی درستیز په توگه دنده اجراکوله، نو دی د لوړو زده‌کړو د یو سند په لټه کې شو، دا ځکه چې د اساسي قانون له مخې هر وزیر باید لوړې زده کړې ولري، نو دا مهال یې د اسلامي جمعیت له (حربي پوهنتون) څخه ځان ته جعلي دپلوم جوړ کړ، هغه هم په داسې حال کې چې دی پر (۱۹۸۲م) کال د جمعیت په حربي پوهنتون کې شامل او پر (۱۹۸۳م) کال ترې فارغ ښودل شوی دی. څرنگه چې بسم الله خان محمدي په خپله د جمعیت تنظیم غړی و، نو د یاد تنظیم له نارسمي پوهنتون څخه د سند جوړول ورته کوم سخت کار نه و او هغه هم پر داسې مهال چې دی د کرزي د حکومت یو ډېر لوړپوړی پوځي چارواکی و او د حکومت زیاته برخه هم د جمعیت تنظیم په لاس کې وه، نو د داسې جعلي اسنادو جوړول او بیا پر ولسي جرگې باندې د اصلي اسنادو په توگه د هغو قبلول دې ډول خلکو ته کوم سخت کار نه و، دوی په دې ډول کارونو کې پوره تجربه لرله او په زرگونو دا ډول جعلي کارونه یې تر سره کړي دي، خو بیا هم حق حق دی او باطل باطل. کله چې بسم الله خان محمدي ولسي جرگې ته د کورنیو چارو د نوماند وزیر په توگه معرفي شو، نو د وکیلانو له منځه د کابل د خلکو وکیل (رمضان بشردوست) یې پر تحصیلي اسنادو اعتراض وکړ او ویې ویل چې د ده اسناد جعلي دي، بشردوست ته چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت نه ورکاوه، خو په ډېر تکلیف یې د یو دوو جملو ویلو وخت واخیست؛ بشردوست وویل: ((زه له بسم الله خان محمدي څخه فقط یوه پوښتنه کوم، ماته دې نه خپل پوهنتون ښیي، نه دپلوم او نه هم معلم، فقط ماته دې خپل یو بل همصنفی وښیي چې هغه ووایي هغه مهال زه د بسم الله خان همصنفي وم...)) د بشردوست په دې خبرې ټولو وخندل. د بشردوست خبره که هر څه وه، خو خورا له واقعیت څخه ډکه وه، دا چې ویل کېږي د زورور اوبه پر پېچومي خېږي، بسم الله خان هم د خپل سیاسي او پوځي زور په برکت د کورنیو چارو د وزیر په توگه منتخب شو. بسم الله خان محمدي د ډاکتر نجیب الله د حکومت تر سقوط



(ډاکتر رمضان بشر دوست)

وړاندې د کابل په شمال کې د نظار شورا د پوځي ډلگیو قوماندان و، کله چې طالبانو د جمعیت تنظیم له کابله پسې واخیست او د کابل په شمال کې سخت جنگونه ونښتل، نو بسم الله خان محمدي یوځل بیا د احمدشاه مسعود له خوا د همدې سیمې د یاد تنظیم د پوځي ټولگیو د قوماندان په توگه وټاکل شو. د طالبانو د نظام تر ړنگېدو وروسته بسم الله خان د موقت حکومت پر مهال د کابل د پوځي گارنېزون د قوماندان او د دفاع وزارت د مرستیال یانې د فهیم خان د مرستیال په توگه منتصب شو. پر (۲۰۰۳م) کال د ملي دفاع وزارت د لوی درستیز په توگه وټاکل شو، پر (۲۰۱۰م) کال د کورنیو چارو د وزیر په توگه منتخب شو. وروسته د ولسي جرگې له خوا ناباوره شو، خو ولسمشر کرزي د نظار شورا د سیاسي او نظامي فشارونو له امله بېرته د یاد وزارت د سرپرست په توگه پرېښود او بیا یې د دفاع وزیر په توگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوماند کړ. بسم الله خان دا ځل د ټول زور او امکاناتو په کارولو سره په دې بریالی شو چې د ولسي جرګې باور رایه تر لاسه کړي. بسم الله خان د باور رایه وګټله، خو ولسي جرګې خپل باور په ولس کې ځکه له لاسه ورکړ چې څو موده وړاندې همدې جرګې دی د کم کارۍ له امله ناباوره کړی و. بسم الله خان بیا د کرزي د حاکمیت ترپایه پر یاد پوست پاتې شو. که د بسم الله خان سیاسي لیدلوری، سمتي، ژبني او قومي تمایلات یوې خواته پرېږدو، نو د یوه فرد په توګه دی ډېر زړور، کاریګر، باجرئته، ټولنیز او کاري شخص دی، که د تنظیمي فکر پرځای یې ملي فکر پاللی وای، نو د هېواد لپاره د ډېرو لوړو خدمتونو جوګه کېدلای شو.

۳- تاج محمد وردګ: په انتقالي اداره کې تر ټولو کمزوری وزیر (تاج محمد وردګ) و، چې هم یې عمر خوړلی و، هم له سیاسي او قومي پلوه له خپل اصله جلا شوی و او ټولنیز بېز یې هم له لاسه ورکړی و. تاج محمد وردګ نږدې اویا کلن و چې د کورنیو چارو د وزیر په توګه د نظار شورا له



(تاج محمد وردګ)

خوا په دې نیت پر دې څوکۍ وګومارل شو چې د باکفایته پښتون مخه پرې ونیسي. څرنګه چې ټاکل شوې وه، کورنیو چارو وزارت ته داخل یو پښتون د وزیر په توګه غوره شي، نو دوی په دې خاطر چې د داسې پښتون مخه ونیسي چې یا مستقل وي، یا باکفایته وي، یا قومي بېز ولري او یا سیاسي شعور ولري، د هغه مخه په دې تش په نامه پښتانه ډب کړي. د بېړنۍ لویې جرګې پر وروستۍ ورځ تر وروستیو شېبو پورې طمعه او هیله وه چې (حاجي قدیر) د دې پوست لپاره غوره شي، هغه سره ژمنه هم شوې وه، خو وروستیو شېبو کې د نظار شورا د فشار له امله تاج محمد وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورنیو چارو د وزیر په توګه اعلان شو، دې کار حاجي قدیر او نور ګډونوال ټول هک پک حیران کړل.

تاج محمد وردګ پر (۱۳۴۲ل) کال یانې زما (یون) تر زېږېدو نږدې څلور کاله وړاندې د افغانستان د لومړي وزیر د دفتر رییس شو، د یوه وخت لپاره د هرات ولایت د غوریانو ولسوالۍ د ولسوال په توګه وټاکل شو، د دوو کلونو لپاره یې د بدخشان ولایت د مرستیال والي په توګه دنده اجرا کړه. تاج وردګ له (۱۳۴۴ل) کال څخه تر (۱۳۵۱ل) کال پورې د کورنیو چارو وزارت د پلټنو د لوی ریاست د رییس په توګه پاتې شو، یو کال یې د لغمان د والي په توګه دنده اجرا کړې ده. کله چې تاج محمد وردګ د بېړنۍ لویې جرګې په وروستیو شېبو کې د کورنیو چارو د وزیر په توګه اعلان شو، نو څرنګه چې زه (یون) د بېړنۍ لویې جرګې لومړی منشي وم، نو پر ما دا اعلان ښه ونه لګېد، ژر مې ستېج پرېښود او همدا مهال مې له (بي بي سي) راډیو سره په دې اړه یوه ځانګړې مرکه وکړه او تاج محمد وردګ مې د دې مقام لپاره د هغه د عمر د زیاتوالي او اداري کفایت د نشتوالي له امله مناسب ونه ګاڼه، زه بیا جلال اباد ته لاړم، تاج محمد وردګ زما مرکه اورېدلې وه، هغه یې ډېر په غوصه کړی و، ماته یې یو اخطارګی هم راولېږه او دا یې هم وویل چې ما د لغمان د والي په توګه هم دنده اجرا کړې، ما وردګ صاحب ته غوڅ ځواب ورکړ او ورته مې وویل څه چې دې له واکه کېږي، صرفه مه کوه. تاج محمد وردګ د (۱۳۵۷ل) کال د ثور تر پېښې وروسته د وخت حکومت له خوا نیول شوی او دوه کاله یې زندان هم ګاللی دی. تر زندان وروسته د مجاهدینو له لیکو سره یوځای شوی دی.

د تاج محمد وردګ په باب دا هم ویل کېږي چې له ډېر پخوا څخه یې له پښتون ضد او ملت ضد سیاسي جریانونو او اشخاصو سره اړیکي درلودل.

تاج محمد وردګ پر (۱۳۸۰ل) کال د پکتیا د والي په توګه هم پاتې شوی دی. د عمر وروستي کلونه یې له ډېرو کړاوونو سره مل وو. پخوانیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي ملاتړو یې له ملاتړ څخه لاس واخیست او تاج محمد وردگ یوازې او گوښه پاتې شو.

**۴- علي احمد جلالي:** علي احمد جلالي پر (۱۳۲۳ل) کال په غزني ولایت کې زېږېدلی دی. د کابل له حربي پوهنتون څخه فارغ شوی، وروسته د نورو زده کړو لپاره امریکا ته تللی او د امریکا له پوځي پوهنځي څخه یې د کورنۍ دفاع په برخه کې تر لیسانس پورته دپلوم ترلاسه کړی دی. وروسته یې د برېتانیا په یوه نظامي پوهنځي کې لوړې زده کړې وکړې او پر (۱۳۷۵ل) کال یې د امریکا پوځي پوهنځي کې ((د امریکا نړیوال سیاست)) تر عنوان لاندې د خپلې دوکتورا تېزس دفاع وکړه.



(علي احمد جلالي)



جلالي د ډاکتر نجیب الله حکومت تر ړنگېدو وروسته حکومت کې د دفاع وزارت په بېلابېلو پوستونو او همدارنگه د دپلوماسۍ په څانگه او کورنیو چارو وزارت کې د استاد په توگه دنده اجرا کړې ده. جلالي پر افغانستان باندې د شوروي لښکرو تر یرغل وروسته پر (۱۳٦۰ل) کال پاکستان ته کډوال شوی او د مجاهدینو د یوه سلاکار په توگه یې کار کړی دی. پر (۱۳٦۰ل) کال په (امریکا غږ) راډیو کې د یو خبریال په توگه مقرر شو، وروسته بیا د همدې راډیو د پښتو او دري برخې د رییس په توگه انتخاب شو، د طالبانو د نظام تر ړنگېدو وروسته بېرته افغانستان ته راغی او دلته د کورنیو چارو د وزیر په توگه غوره شو. له (۱۳۸۲ل) څخه تر (۱۳۸۳ل) پورې یې د کورنیو چارو د وزیر په توگه دنده اجرا کړه، وروسته یې له دې دندې استعفی وکړه او بېرته بیا امریکا ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علي احمد جلالي یو لوی نظامي عالم او ښه لیکوال دی. پر پښتو او دري سربېره پر انگلیسي، فرانسوي او الماني ژبو هم پوهېږي، عربي څخه هم علمي گټه پورته کولای شي. یو ډېر ژور عالم دی او ډېر اوږد لرلید لري.

د علي احمدجلالي دې ژورې مطالعې او د اینده لرلید دی په عملي ژوندانه کې ډېر بې زړه کړی دی. د انتقالي دورې په بهیر کې چې دی د کرزي د حکومت د کورنیو چارو وزیر و، نو هغه سره یې یو څه خوابدي رامنځته شوه. دا مهال زه له جلال اباده کابل ته راغلم، له ولسمشر کرزي سره مې ځانگړی ملاقات و، د جلالي صیب د استعفی له گونگسي څخه خبر شوی وم، اندېښنه مې وه، له کرزي صیب سره مې دا خبره شریکه کړه، هغه ته مې وویل که جلالي صیب پخلا شي، نو ډېر به ښه وي، پوه سړی دی، د دې مملکت یو کادر دی، یوه جرگه که ورولېږې ښه به شي، هغه وویل: ((خدای دې دی خوار کړي زه ورته وزارت ورکوم، دی له خپل پاسپورت او تابعیت څخه نه تېرېږي...)) کرزي صیب وویل لاړ شه ته په کې جرگه شه، که بل څوک هم ځان سره بیایې بویې ځه! ما ویل هسې نه چې زه په کې جرگه شم او بیا هغه څه غوښتنه ولري او زه ورسره ژمنه وکړم او بیا تاته هم لاسرسی ونه لرم او تاسو یې هم ونه منئ، نو بیا دا جرگه څه مانا؟ ښه به وي چې مشران ورته لاړ شي، کرزي صیب بیا وویل نه ته خپله ورشه قناعت ورکړه چې استعفی ور نه کړي او مملکت پرې نه ږدي. خو په دې کې مې خبره په دې غوټه کړه چې که زه ورته ووایم تاسو سره یوځل په جلا ډول وگوري، نور تاسې خپل منځ کې سره جوړ شئ! رییس صیب وویل بس بېخي سمه ده. له دفتره چې راووتلم، نو راساً مې (لطف الله مشعل) ته زنگ وواهه چې جلالي صیب سره ضروري خبرې لرم، ځانگړی او عاجل ملاقات غواړم، مشعل له څو کلونو راهیسې زما فرهنگي ملگری او دا مهال د علي احمد جلالي ویاند و. هغه وویل زه ژر بېرته احوال درکوم، پر همغه ورځ مازیگر یې په (وزیراکبر خان مېنه) کې د جلالي صیب په یوه مېلمستون کې د ملاقات زمینه برابره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړه، (ډاکتر اکرم خپلواک) مې هم ځان سره ملگری کړ، دواړه د جلالي صیب ملاقات ته لاړو، په ملاقات کې زه (یون)، ډاکتر خپلواک، جلالي صیب او لطف الله مشعل شامل وو، ما جلالي صیب ته لومړی د جمهور رییس پیغام واوراوه او دا خبره مې هم وکړه چې جلالي صیب له خپل پاسپورت څخه نه تېرېږي، دا نو هغه مهال و چې د ولسي جرگې لپاره ټاکنې نه دي شوي او که ولسي جرگه راشي، نو دوه تابعیته وزیرانو ته مشکل پیداکوي، په دې خاطر فکر کېږي چې جلالي صیب د خپل امریکایي تابعیت د ساتنې په هیله استعفی ته مخه کوي. جلالي صیب د دې نظریاتو په رد کې وویل: ((خبره اصلاً د تابعیت نه ده، تابعیت ماته مهم نه دی، اصلي خبره دا ده چې دې سړي (کرزي صیب) سره به گوزاره ډېره سخته وي، زه ریفورم راولم او دی مې مخه نیسي، دی حکومت د ملکۍ په سیستم پرمخ بیایي، هر څه یې چې زړه غواړي، هغه کوي، زما غوښتنو ته ارزښت نه ورکوي، د تابیعت پلمه دوی جوړوي، که نه ما سره دا خبره مطرح نه ده، زه اصلاً ډېر ستړی شوی یم، مریض هم یم، دومره وخت مې دنده اجرا کړه څوک دې راباندې یوه ذره هم څه ثابت کړي، زه حاضر یم ځواب یې ووایم، اوس هم پوروړی یم. کرزی صاحب زما ډېر نږدې دوست دی، فامیلي روابط هم ورسره لرم، ښه سړی دی، زه نه غواړم، هغه راڅخه خفه شي، نو ځکه مې غوره وبلله چې دنده پرېږدم.)) بیا ما جلالي صیب ته وویل، موږ په دې خاطر دلته راغلو چې موږ پر دې باوري یو که تاسو استعفی ورکړئ، نه تر تا ښه سړی دلته راځي او نه د تا معادل، بلکې یو ډېر کمزوری شخص او یو تنظیمي شخص به دلته راشي چې دومره ورانی به وکړي چې بیا ببرته تاسو خپله هم ورته راشئ، نو په لسو کلونو کې به یې پاک نه کړئ، تاسو ته خو خپله رییس صاحب معلوم دی چې هغه څه ډول کسان خوښوي او دلته بیا څوک راولي. بله خبره د راحت او ستړیا ده. که تاسو په دې طمع یاست چې امریکې ته به لاړ شئ، ارام به وکړئ، خو فکر نه کوم، ځکه خبرونه خو تعقیبوئ، برېښنالیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چک کوئ، په ایمیل کې به درته داسې خبرې درولېږي چې ارام به دربانديې ختم کړي. بله خبره دا ده چې پر تاسو خو د دې خاورې لګښت شوی، نو تاسې به یوازې د راحت په خاطر دلته راځئ، هر کله چې د راحت حالت راشي، بیا به وطن ته راځئ، دنده به اجرا کوئ او که چېرې ستړیا وه، منډې وې او نور مشکلات، نو بیا به راحت ځای ته ځان رسوئ، بل هغه خلک او اشخاص چېرته دي چې راحت راولي او بیا تاسو تر هغه وروسته دلته راشئ؟ او په ارامه فضا کې ارام کار وکړئ ایا که موږ داسې وړ اشخاص ولرو چې هغه دلته د راحت راوستلو جوګه شي، نو بیا تاسو ته څه اړتیا ده چې دلته راشئ، ځکه چې همغه به زموږ کادرونه وي او د دې وړتیا به لري چې راحت راوستلای شي او بله خبره په کې دا ده چې که هغوی دومره کفایت ولري چې په ملک کې راحت، سوکالي او ثبات تضمین کړي، بیا نو دومره بې کفایته دي چې دا امتیاز او د راحت حالت بل چاته پرېږدي؟ زموږ نظر خو دا دی چې دا ملک قرباني غواړي، تاسو پوره وخت بهر کې تېر کړی دی اوس دلته د کار وخت دی، دا خبره هم موږ درسره منو که کرزي صیب سره دې ګوزاره نه کېږي او حتمي استعفی ورکوې، نو دوه وړاندیزونه موږ لرو: یو دا چې د ولسمشرۍ تر ټاکنو پورې استعفی مه ورکوه، لومړی باید کرزی صیب بریالی کړو او دویم که بیا استعفی حتمي وي، نو تر پارلماني ټاکنو لږ دمخه استعفی وکړه، تر هغو پورې ټولو مهمو او حساسو پوستونو کې ښه ملي او مسلکي اشخاص مقرر کړه چې پارلماني ټاکنې په ښه ډول تر سره شي، نو که اوس تاسو استعفی وکړئ، سر له همدا اوسه د شمالټلوالې شخص دلته راځي، هغوی ټول پوستونه اشغالوي، کرزی خو به بریالی شي، خو پارلماني ټاکنې به ټولې د هغوی تر کنټرول لاندې راشي. که تاسو د کرزي له چلند څخه ستړي یاست، نو بله اساسي حل لاره دا ده چې تر پارلماني ټاکنو پورې خپلې دندې ته دوام ورکړه، کله چې ټاکنې راورسېدې، بیا استعفی وکړه، یا له غزني او یا هم له کابل څخه ځان کاندید کړه، موږ ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library



**روښنفکران به درته کمپاین وکړو، ټولې ممکنې لارې او امکانات به وکاروو، تاسو به ولسي جرگې ته بریالی کړو، هلته به تاسو ځان ته کمپاین وکړئ، د ولسي جرگې مشر به شئ، بیا به د حکومت هر نیمگړي کار ته یو بند اچوې او مثبت کارونه به یې تائیدوې. په دې ډول به د حکومت د اصلاح لپاره یوه مرجع په لاس کې ولرو. موږ نورې خبرې هم وکړې خو غټ ټکي یې همدا وو. د جلسې نچوړ دا و چې جلالي صیب وویل: ((زه مو قانع کړم)) خبره په دې غوټه شوه چې دی به یو په یو له ولسمشر سره گوري او د خپلې استعفی وخت به غځوي. د یوې اوونۍ په بهیر کې جلالي صیب له کرزي سره وکتل، توافق ته سره ورسېدل، جلالي تر پارلماني ټاکنو پورې د کورنیو چارو د وزیر په توگه پاتې شو، تر هغه وروسته یې بیا استعفی وکړه او بیا امریکا ته لاړ. د کورنیو چارو وزارت د تصدۍ پر مهال یو ځل جلالي صیب یادونه وکړه چې ده سره د مخدره توکو د قاچاق وړونکو یو لېست دی او دی به یې خپور کړي، خو د وزارت تر پایه او تر هغه وروسته یې هم هېڅکله د دې جرئت ونه کړ چې دا لېست خپور کړي. جلالي که څه هم د کورنیو چارو وزارت کې یو لړ سمونونه راوړل، خو په سیاسي ډگر کې یې هېڅکله داسې غوڅه خبره ونه کړه چې د ده سیاسي او فکري دریځ دې ورڅخه څرگند شي. کله چې یې د کورنیو چارو وزارت پرېښود، نو په ضمني ډول یې د راتلونکې ولسمشرۍ لپاره ځان ته نیم ښکاره کمپاین پیل کړ، دا داسې یو کمپاین و چې د رد او تائید څرک ترې نه شو لگېدلی. یو وخت زه (یون) او د جمهوري ریاست د پالیسۍ ریاست مشر (صبغت الله سنجر) امریکا ته په رسمي سفر تللی وو، موږ هغه څېړنیز مرکز (نیسا سنټر) بللي وو چې جلالي صیب هم له څو کلونو راهیسې په همدې دفتر کې کار کوي. دا د امریکا په دفاع وزارت پورې اړوند یو څېړنیز مرکز دی. جلالي صیب سره مو هلته بیا هم د ده د کاندیدۍ خبره مطرح کړه. ده بیا د پوره احتیاط په قید سره نه خپله کاندیدي تائید او نه هم رد کړه، خبره دلته راورسېده، چې جلالي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



صیب د جمهوري ریاست د دویمو ټاکنو لپاره ځان په رسمي ډول ونوموه، ځینو خلکو او ځوانانو ورته کمپاینونه پیل کړل، دفترونه ورته ونیول شول، خو د رسمي نوملیکنې پر ورځ چې باید جلالي صیب له خپلو دوو مرستیالانو او د تابعیت پرېښودلو له سند سره یوځای د ټاکنو کمېسیون پر لوري تللي وای، له خپل استوګنځي څخه د کابل نړیوال هوایي ډګر پر لوري لاړ؛ له هېواده یې خپلې پښې سپکې کړې، امریکا ته والوت او خپل پلویان یې دلته له یو جهان جنجالونو، نهیلیو او نورو ستونزو سره په ډاګه پرېښودل. دې کې جلالي صیب خپل محبوبیت په نفرت بدل کړ او ټولنیز باور یې له صفر سره ضرب شو. کله چې کرزی په دویمو ټاکنو کې بریالی شو، تر هغه وروسته هم جلالي کله کله د یوې نیمې مرکې له لارې ځان رسنیو کې ښکاره کاوه، له ژوندون ټلوېزیون سره یې د یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې د ولسمشرۍ د درېیمو ټاکنو لپاره پر خپلې نوماندۍ ټینګار وکړ او خپل ټینګ هوډ یې وښود، خو کله چې هغه ټاکنې راورسېدې، جلالي صیب بیا شاته شو. د جلالي صیب د شخصیت په باب په لنډیز سره ویلای شو چې دی یو لوی عالم دی، خو عمل او جرئت یې له علم سره هېڅکله موازي او انډولیز نه دي. سیاسي جرئت او ټولنیز روابط یې په نشت حساب دي، خو د یو علمي او پوځي کارپوه په توګه د سیمې او نړۍ په کچه یو حساب وړ افغان شخصیت ګڼل کېدی شي.

۵- محمد حنیف اتمر: محمد حنیف اتمر اصلاً د لغمان اوسېدونکی دی، پلار یې د لغمان او مور یې له کندهار څخه دي. ویل کېږي چې اتمر تر خپلو لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته د ډاکتر نجیب الله د حاکمیت پر مهال د دولتي امنیت ریاست یو



(محمد حنیف اتمر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکوونکی و. د هغه حکومت تر ړنګېدو وروسته د نورو ګڼو افغانانو په شان پېښور ته کډوال شو او هلته يې د انګليسي ژبې پر زده کړې سربېره نورې مهالنۍ زده کړې وکړې او په ځينو خيريه ټولنو کې د کار جوګه شو. اتمر د طالبانو د نظام تر پاشل کېدو وروسته په لنډمهالې اداره کې د کليو او پراختيا وزارت د وزير په توګه غوره شو، دوه کاله يې دا دنده پرمخ يوړله، په ياد وزارت کې يې د (ملي پيوستون) پروګرام د يو بريالي پروګرام په توګه يادېږي، د ولسمشرۍ تر لومړنيو ټاکنو وروسته محمدحنيف اتمر د پوهنې د وزير په توګه انتخاب شو. اتمر په دې وزارت کې د خپل کار په موده کې غوره خدمتونه وکړل، د پوهنې وزارت بوديجه يې زياته کړه او په خپله يې تر نږدې (۳۰۰) مليونه ډالرو پورې بهرنۍ پانګه راجلب کړه. د خپل کار په لومړيو دوو کلونو کې په دې بريالی شو چې څوارلس سوه (۱۴۰۰) ښوونځيو ته ودانۍ جوړې کړي، هم د ښوونځيو شمېر زيات شو او هم د زده کوونکو شمېر نږدې (اوه نيم مليونه) تنو ته پورته شو. اتمر دا مهال د يو شمېر جهادي ډلو په تېره بيا د (اسلامي جمعيت) د افرادو له خوا تر سختو نيوکو لاندې و، د هغه پخوانۍ سابقه (د ډاکټر نجيب الله په حکومت کې د ملي امنيت کارمندي يې) ورته د خوړې ګوتې په توګه يادوله. اتمر په لغمان او د هېواد په نورو سيمو کې له زيات قومي او ټولنيز ملاتړ څخه برخمن نه و. دی د يوه تحصيل کړي افغان په توګه مطرح و. خپله د اتمر کورنۍ چې په ختيځ مومند دي، په لغمان کې د يوې تحصيل کړې کورنۍ په توګه مطرح ده. نه د يوې داسې کورنۍ په ډول چې د لغمان په ټولنيز او سياسي جوړښت کې دې اغېزناک رول ولري، په دې مانا چې تر ټولنيز او سياسي اغېز يې علمي تاثيرات زيات وو، نو ځکه خو يو شمېر په اصطلاح جهادي ډلې پرې ډېرې تېزې راتلې او ده هم د خپل ځان په دفاع کې کوم غوڅ غبرګون نه ښوده او يا يې هم ښودلای نه شو. يوه ورځ زه له ښاغلي صديق چکري سره په يوه رسنيز بحث کې مخامخ شوم، دا نو هغه مهال و چې د استاد رباني په مشرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شمالټلوالې د (ملي متحدې جبهې) په نامه د کرزي ضد یوه داسې ټلواله جوړه کړې وه چې د ځینو مجاهدینو په اصطلاح پخواني کمونیستان (د نجیب الله د حکومت غړي) په کې هم راټاله وو. نورالحق علومي، سیدمحمد ګلابزوی، جنرال دوستم او نور اشخاص د دې ټلوالې یا جبهې مهم غړي ګڼل کېدل. چکري صیب د بحث په ترڅ کې پر ولسمشر کرزي تور پورې کړ او نیوکه یې پرې وکړه چې له حکومت څخه یې مجاهدین کښلي او واک یې کمونستانو ته انتقال کړی، ما ورته وویل، جمهور رییس مجاهد، اول مرستیال مجاهد، دویم مرستیال مجاهد، دفاع وزیر مجاهد، د اوبو او برېښنا وزیر مجاهد، ټول حکومت له مجاهدینو ډک دی، که دا مجاهدین نه وي، نو بیا دا د چا په استازې ناست دي؟ چکري صیب وویل دا اتمر کمونیست نه دی؟ ده وویل زه، یون صیب نه پوښتنه کوم چې دی د نجیب په وخت کې څه و؟ په خاد کې یې کار نه کاوه؟ دا پښه یې چېرته له لاسه ورکړې ده؟ دا یې له مجاهدینو سره په جګړه کې له لاسه نه ده ورکړې؟**

**ما چکري صیب ته وویل چې اتمر په هغه وخت کې څه و؟ ده وویل په خاد کې مدیر و. ما ویل ښه د هغه وخت د خاد مدیر چې کرزي صیب سره کار کوي، هغه غټ ګناهکار شو او تاسو سره چې په جبهه کې د همغه وخت غټ غټ وزیران او اول لاس کسان لکه ګلابزوی، علومي او جنرال دوستم ناست دي، تاسې ته نو د ښښنې یا معافیت نسخه چا درکړې ده؟ خپل وزیران نه ګورئ او د بل چا مدیران ګورئ؟ دې سره نو د چکري صیب منطق ډېر کمزوری شو، دا مې هم ورته وویل چې اتمر دلته د الحاد او جهاد د سهم بندۍ له مخې نه دی راغلی، بلکې دا مقام یې د خپل لیاقت پر اساس ګټلی دی. ما چکري سره نور اوږد بحث هم وکړ چې په نورو برخو کې مې ورته نغوته کړې ده، تکرار یې ضرور نه بولم. خو دلته مې د دې ټکي یادونه یو ځل بیا ځکه وکړه چې د نجیب په حکومت کې د یو عادي مامور په توګه کار کول، د اتمر خوږه ګوته وه چې هر وخت له جهاد څخه ناسمو ګټه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخیستونکو ترې د ده پر ضد گټه پورته کوله او دا مسئله ډېر ځله تکرارېدله.**


**تر (۲۰۰۸م) کال وروسته ولسمشر په خپله کابینه کې یو شمېر نور بدلونونه راوستل او اتمر دا ځل په کې د کورنیو چارو د وزیر په توگه انتخاب شو، اتمر په حقیقت کې درې وزارتونه د عوامو په اصطلاح وغربول، د اتمر ترځنگ (ضرار احمد مقبل) هم په همدې درې وزارتي موقف کې پاتې شوی دی.**

**کله چې پر (۱۳۸۹ل) کال د لویې جرگې د کېږدۍ پر شاوخوا د لویې جرگې د اخلال په نیت توغندیز برید وشو، نو اتمر او امرالله صالح دواړو له دې امله له خپلو موقفونو استعفی ورکړه، خو اتمر تر استعفی وروسته هېڅکله هم د کرزي پر وړاندې خپله خوله خلاصه نه کړه او صالح بیا هېڅکله بنده نه کړه.**

**اتمر (تر جگړې وروسته هېوادونو) په څانگه کې د برېتانیا له (یورک) پوهنتون څخه تر لیسانس پورته دپلوم ترلاسه کړی دی.**

**اتمر د کرزي په حکومت کې د بریالیو وزیرانو له جملې څخه گڼل کېده، خو څومره چې د کلیو او پراختیا وزارت او پوهنې په وزرات کې بریالی و، په هغه انډول په کورنیو چارو وزارت کې بریالی نه برېښېده.**

**٦- مجتبی پتنگ: مجتبی پتنگ د افغانستان یو مسلکي پولیس دی، اصلاً له لوگر ولایت څخه دی، هملته زېږېدلی، تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته یې د پولیسو له اکاډمۍ څخه د لیسانس سند ترلاسه کړی، د کورنیو چارو وزارت په بېلابېلو برخو کې یې کار کړی او هم یې د پولیسو په اکاډمۍ کې تدریس کړی دی. د طالبانو د نظام تر ړنگېدو وروسته د تخار ولایت د امنیې قوماندان په**



(مجبتی پتنگ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



توگه ټاکل شوی او بیا د شمال زون د پولیسو د مشر په توگه مقرر شوی او د (۱۳۸۹ل) کال د سنبلې پر (۲۱)مه نېټه په کورنیو چارو وزارت کې د پولیسو د ښوونې او روزنې د مسؤل په توگه غوره شوی، وروسته د محافظت د معینیت مشر شو او د (۱۳۹۱ل) کال د سنبلې په میاشت کې د کورنیو چارو وزارت ته نوماند او له ولسي جرگې څخه یې باور رایه واخیسته، څو موده وروسته یې ولسي جرگې سره اړیکي خړ پړ شول او د هغوی له خوا بېرته ناباوره کړای شو.

که څه هم مجتبی پتنگ د ولسي جرگې د پرېکړې خلاف د خپلو پلویانو په واسطه لاریونونه وکړل، خو چندان نتیجه یې ور نه کړه. تر وزارت وړاندې مجتبی پتنگ د یوه ښه مسلکي پولیس په توگه ښه نوم درلود، خو د وزارت پر مهال هغه شان ونه ځلېد، لکه څنگه چې یې نوم و، د ده په خپله وینا چې: ((لېوانو کار ته پرې نه ښود)). ډېر وخت یې ولسي جرگې سره په نانډریو تېر شو. پتنگ په حکومت کې د سیاسي او قومي بېز د نشتوالي له امله خپل کارونه تر سره نه کړای شول او پخوانی حاکم تنظیمي چاپېریال پر وزارت باندې همغسې واکمن پاتې شو. د وزارت له مهمو پوستونو څخه د تنظیمي افکارو په ماتولو کې دی هم پاتې راغی او هغه تنظیمي مکروب چې له پخوا څخه په دې وزارت کې پاتې و، خپل ژوند ته دوام ورکړ.

### ۷- محمد عمر داودزی:



(عمر داودزی)

عمر داودزی پر (۱۳۳٦ل) کال د کابل ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته یې د کابل انجنیري پوهنځي کې لوړې زده کړې کړې دي، د روسانو تر یرغل وروسته پېښور ته کډوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی او بیا هلته د ګلبدین حکمتیار له اسلامي حزب سره یوځای شوی دی. د تنظیمي جګړو پر مهال له هېواد څخه کډوال شو او بیا انګلستان ته لاړ او هلته یې د (منچستر) ښار په (ویکتوریا) پوهنتون کې لوړې زده کړې وکړې او له دې پوهنتون څخه یې د کلیو د پراختیا په برخه کې پر (۱۳۷۰ل) کال تر لیسانس لوړ دپلوم ترلاسه کړ. له (۱۳۷۲- ۱۳۷۵ل) کال پورې یې د افغانستان لپاره د سویډن له کمېټې سره کار وکړ، له (۱۳۷۵-۱۳۸۰ل) کلونو پورې د پاکستان په اسلام اباد کې د ملګرو ملتونو د پراختیایي اداري (UNDP) مرستیال و. پر (۱۳۸۲ل) کال د ولسمشر کرزي د دفتر مشر شو، پر (۱۳۸۴ل) کال په تهران کې د افغانستان سفیر او پر (۱۳۸۵ل) کال بېرته د ولسمشر د دفتر مسؤل شو، پر (۱۳۹۰ل) کال په اسلام اباد کې د افغانستان سفیر شو او وروسته بیا د ولسمشر کرزي له خوا د کورنیو چارو د وزیر په توګه منتخب شو.

داسې ویل کېدل چې عمر داودزی غواړي ځان ولسمشرۍ ټاکنو ته نوماند کړي، نو داسې ګومان کېده چې ولسمشر د ده د نوماندۍ د مخنیوي په خاطر دا کار کړی وي چې دی یې د کورنیو چارو وزارت ته نوماند کړ، ما خپله له داودزي صیب سره دا خبره مطرح کړه، هغه وویل، دې وزارت ته زما د راتګ یو علت کېدی شي همدا وي. د کتونکو په نظر داودزی د خپل نرم طبیعت له مخې د خپلو نورو یادو دندو په اندول په دې وزارت کې چندان بریالی نه و، د شمال له جنګسالارانو سره په تېره بیا د کوهدامن له زورواکو سره د ده خواږه روابط د دې سبب شول چې په کورنیو چارو وزارت کې تنظیمواکي هماغه شان واکمنه پاتې شي. څرنګه چې ما د داودزي صیب په باب مخکې بحثونه کړي، نو نه غواړم چې دا بحث نور پسې وغځوم.

**۸- سید حسین انوري:** سیدحسین انوري پر (۱۳۳۵ل) کال په پروان ولایت کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او ثانوي زده کړې لري، خو د لوړو زده کړو په باب، دی په خپله وایي چې په سیاسي علومو کې د لیسانس سند لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library





(سید حسین انوري)

د جهاد په کلونو کې سیدحسین انوري د شیخ محمداصف محسني د تنظیم (د افغانستان اسلامي حرکت) غړی شو او بیا وروسته د همدې یاد تنظیم د پوځي څانگې مسؤل. سید حسین انوري که څه هم د جهاد په کلونو کې د اسلامي حزب او اسلامي جمعیت د نورو قومندانانو په شان ډېر فعال حضور نه درلود، خو د جهاد په وروستیو کلونو او د ډاکتر نجیب الله د حکومت تر ړنگېدو وروسته چې بېلابېلې جهادي ډلې کابل ته په ناکنټروله ډول داخلې شوې، انوري او ده ته ورته نور قومندانان مطرح شول، په تېره بیا د تنظیمي جنگونو پر مهال. انوري او محسني که څه هم له عبدالعلي مزاري سره چندان جوړ نه وو، خو له رباني او مسعود څخه یې هم ښه خاطره نه درلوده، کله به ورسره جوړ او کله به ورسره وران و. د رباني په لړزانه حکومت کې د امنیت، دفاع او نظامي شورا غړی و، وروسته بیا د کار او ټولنیزو چارو وزیر شو.

سربېره پر دې انوري د کرنې د وزیر او د هرات د والي په توگه هم دنده اجرا کړه، په دې دواړو دندو کې کرزي انوري ته پوره صلاحیت ورکړی و. انوري د دې دندو پر مهال د زیاتې شتمنۍ خاوند شو، په هرات کې یې شیعه افغانانو ته په حکومت کې د زیات کار زمینه برابره کړه، هغو ته یې د دولتي ځمکو په وېش او د ښارگوټو د جوړونې په برخه کې بې دریغه هڅه وکړه، ویل کېږي چې انوري په هرات کې د والي په توگه له ایران سره ښه نږدې روابط درلودل او د هغوی د نفوذ خپرولو ته یې لاره اواره کړه. انوري د ولسي جرگې په (١٦)مه دوره کې د کابل د خلکو استازی هم شو.

**٩- عبیدالله رامین:** عبیدالله رامین د هېواد په شمال کې له ټولنیز پلوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بانفوذه سړی دی. کورنۍ یې په بغلان ولایت کې د ټولنیز او اقتصادي نفوذ خاونده ده. عبيدالله رامين پر (۱۳۳۲ل) کال په بغلان ولایت کې زېږېدلی دی. د کابل پوهنتون په کرنې پوهنځي کې يې لوړې زده کړې کړي دي. (۱۳۵۶-۱۳۵۷ل) کلونو کې يې د کرنيز پراختيايي بانک په بانکوالۍ څانګه کې زده کړې کړې دي. په (۱۳۶۰-۱۳۶۲ل) کلونو کې د کرنيز پراختيايي بانک مفتش او د افغانستان بانکونو د کوپراتيفونو د اداري رييس و. کله چې افغانستان کې افغان بېسيم مخابراتي شرکت پر فعاليتونو پيل وکړ، نو د رامين کورنۍ په دې کمپنۍ کې خپله ونډه واخيسته او له دې لارې يې هم کورنۍ د زياتې پانګې څښتنه شوه. د رامين نورو ورونو له امریکایانو سره ځانګړي قراردادونه درلودل، په باګرام او نورو سيمو کې يې هغوی ته اړتيا وړ توکي رسول، يوځل امریکایانو د عبيدالله رامين يو ورور په قراردادونو کې د شوي فساد له امله تورن کړ.**



**(عبيد الله رامين)**

**په خپله عبيدالله رامين له (۱۳۸۴ل) کال څخه تر (۱۳۸۷ل) کال پورې د کرنې او مالدارۍ د وزير په توګه دنده اجرا کړه، دا مهال يې مشر ورور (قاضي رامين) په ولسي جرګه کې د بغلان د خلکو استازی و. عبيدالله رامين پر (۱۳۸۸ل) کال (د افغانستان د توليدونکو او صادرونکو ټولنه) جوړه کړه، پر (۱۳۸۸ل) کال په ولسي جرګه کې د بغلان ولايت د خلکو استازی شو.**

**عبيدالله رامين د ارامو اعصابو او نرم طبيعت خاوند دی، په تېرو کلونو کې يې هېڅ وخت داسې کومه ترخه او تروه خبره ونه کړه چې يا د ده شخصيت ته زيان ورسوي او يا د بل چا شخصيت زيانمن کړي، البته د ځينو ملي مسايلو په باب يې په ولسي جرګه کې خپل غږ پورته کړی، خو دې غږ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



جانبي عوارض نه درلودل او د ملي ګټو خلاف نه و. په هر ترتیب عبیدالله رامین په تېر (۱۴) کلونو کې چې د هر چا لپاره د شخصیت د ازموینې بېلابېل پړاوونه وو، په دې پړاوونو کې خپل شخصیت تر ډېره حده خوندي وساته.

**۱۰- محمد اصف رحیمي:** د ولسمشر کرزي په وزیرانو کې یو له بریالیو وزیرانو څخه محمد اصف رحیمي دی، پر (۱۹۵۹م) کال په کابل کې


(محمد اصف رحیمي)

زیږېدلی، پر (۱۹۸۱م) کال له پوهنتون څخه فارغ او د لیسانس سند یې ترلاسه کړی دی. وروسته یې نورو لوړو زده کړو ته دوام ورکړی او پر (۱۹۸۹م) کال یې د امریکا له (نبراسکا) پوهنتون څخه د عامه ادارې او کلیو پراختیا په څانګه کې تر لیسانس لوړ سند ترلاسه کړی.

محمد اصف رحیمي د ولسمشر کرزي په دویم ځل انتخابي کابینه کې د کرنې او مالدارۍ وزارت ته نوماند شو او ولسي جرګې ورته د باور رایه ورکړه، تر هغه وړاندې رحیمي د کلیو د پراختیا وزارت مرستیال او په یاد وزارت کې د ملي پیوستون د پروګرام مشر و.

رحیمي په کرنې وزارت کې خپله دنده په ښه ډول تر سره کړه او د یوې نړیوالې سروې له مخې (رحیمي) د کرزي د حکومت په هغو وزیرانو کې شامل و چې له فساده پاک و. ده قومي، سیمه ییز، تنظیمي او سیاسي تمایلات نه درلودل او د یوه مسلکي وزیر په توګه یې خپله دنده سرته ورسوله، په سلګونو لوی او واړه باغونه یې جوړ کړل، د افغانستان د غلې او دانې په تولیداتو کې زیاتوالی راغی، یو شمېر غصب شوې دولتي ځمکې بېرته د دولت لاس ته ورغلې، د کرنیز سیستم د عصري کولو په برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرمختگونه وشول او ده د يوه مسلکي او ناپيلي شخص په توگه څه چې له واکه او لاسه کېدل، د هېواد د پرمختگ لپاره يې تر سره کړل او له خپل ظرفيت څخه يې په دې برخه کې ډېره ونه کړه.**

**۱۱- احسان ضياء: احسان ضيا پر (۱۳۳۳ل) کال په کابل کې زېږېدلی دی، لومړنۍ او ثانوي زده کړې يې په کابل کې تر سره کړي، بيا د لوړو زده کړو لپاره بهر ته تللی، په انگلستان کې يې له (برمنگهام) پوهنتون څخه د ټولنيزې پراختيا په څانگه کې د ليسانس سند ترلاسه کړی او وروسته يې د برېتانيا له (يورک) پوهنتون څخه (تر جنگ وروسته رغونه) کې د ماسترۍ ډيپلوم ترلاسه کړی دی. په (۱۳۶۷-۱۳۸۱ل) کلونو کې يې**



**(احسان ضياء)**

**په پېښور کې په بېلابېلو نادولتي موسسو کې پر بېلابېلو پوستونو کار کړی دی. له (۱۳۸۱-۱۳۸۳ل) کلونو پورې د کليو پراختيا وزارت کې د پاليسيو جوړولو په برخه کې مشاور و، له (۱۳۸۳ل) کال څخه بيا تر (۱۳۸۵ل) کال پورې د ياد وزارت د پروگرامونو مرستيال شو.**

**احسان ضيا پر (۱۳۸۵ل) کال د کليو او پراختيا وزارت ته نوماند شو، له ولسي جرگې څخه يې باور رايه واخيسته او د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ تر دويمې دورې پورې د ياد وزارت د وزير په توگه پاتې شو.**

**احسان ضيا د يو مسلکي وزير په توگه د ياد وزارت چارې په نسبي ډول په ښه توگه پرمخ يوړلې، په کارونو کې تقريباً بريالی و، د ملي پيوستون پروگرام چې له پخوا پيل شوی و، دا لړۍ لاپسې وغځول شوه او په زرگونو کليو ته لومړني خدمات ورسول شول. په خپله له وزير څخه څه خاص قومي، ژبني، تنظيمي او نور داسې تمايلات څرگند نه شول، چې لکه د ځينو نورو وزيرانو په شان پر متنازعه شخص بدل شي، يو زيات شمېر نويو کادرونو ته يې هم په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وزارت کې د کار زمینه برابره کړه.

۱۲- ویس برمک: ویس برمک اصلاً له پنجشېر څخه دی، خو د کلیو او پراختیا وزارت ته د نوماندۍ پر مهال یې ځان د کابل اوسېدونکی ځکه معرفي کړ چې له ولسي جرګې څخه ځان په اسانۍ سره بریالی کړي. بله سیاسي خبره په دې کې دا وه چې په حکومت کې د پنجشېر د اوسېدونکو شمېر، په تېره بیا په حساسو پوستونو کې دومره زیات و، چې هر بل مهم پوست ته له دې سیمې څخه د بل پنجشېري معرفي کول، له عامه ذهنیت سره د مخالفت مانا لرله، نو ځکه خو ویس برمک هم دې حساسیت ته متوجه و او د پنجشېر پرځای یې ځان د کابل اوسېدونکی معرفي کړ.



(ویس برمک)

ویس برمک له (۱۳۸۲ل) کال راهیسې په بېلابېلو نړیوالو او کورنیو دولتي ادارو کې کار کړی دی. پنځه کاله یې د ملګرو ملتو په پراختیایي اداره (UNDP) کې کار کړی. پر (۱۳۸۲ل) کال یې د مخدره توکو پرضد د لویې ادارې او د کلیو او پراختیا وزارت د ستر مشاور په توګه کار کړی دی. ویس برمک پر (۱۳۸۴ل) کال د کلیو او پراختیا وزارت د پروګرامونو د ستر مشاور په توګه غوره شو او وروسته د یاد وزارت د ملي پیوستون (NSP) پروګرام د مشر په توګه وټاکل شو. له (۱۳۸۷ل) څخه تر (۱۳۹۰ل) کلونو پورې یې د کلیو پراختیا وزارت د پروګرامونو د مرستیال په توګه کار وکړ او تر هغه وروسته د ولسمشر کرزي د جمهوري ریاست په دویمه دوره کې د کلیو او پراختیا وزارت ته د وزیر په توګه نوماند شو، خو ولسي جرګې د باور رایه ور نه کړه، خو په دویم ځل یې د باور رایه تر لاسه کړه او د یاد وزارت د وزیر په توګه منتخب شو. ویس برمک د برېتانیا له (لندن) پوهنتون څخه (د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراختیایي علومو او تر جګړې وروسته بیا رغونې) په برخه کې تر لیسانس پورته سند یا دپلوم ترلاسه کړی دی.

ویس برمک چې کله د کلیو او پراختیا وزارت وزیر شو، نو د نظار شورا له مشرانو، په تېره بیا د کرزي له لومړي مرستیال (محمدقسیم فهیم) او نورو سره یې خپل خواږه او پخواني روابط پټ نه کړل، د هغوی اکثرو سیاسي او پټو پروګرامونو کې یې برخه اخیسته او همدا فهیم خان و چې د برمک د بېرته لرې کېدو مخه یې ونیوله.

ویس برمک که څه هم له اسلامي جمعیت او نظار شورا سره خپل روابط ساتل، خو په عمومي ډول یې په یاد وزارت کې ډېر زیات تنظیمي مسایل نه پالل، یاد وزارت چې له پخوا څخه کوم پرمختیایي پروګرامونه پیل کړي وو، ده د یوه مسلکي وزیر په توګه هغو ته دوام ورکړ او ملي پیوستون پروګرام یې پسې وغځاوه. په نوموړي وزارت کې یې پخواني مسلکي کادرونه لرې نه کړل، ډېر کم بدلون په کې راغی او ځینې پاموړ مثبتې پروژې یې هم عملي کړې.

**۱۳- محمد اسمعیل خان:** د ولسمشر کرزي د واکمنۍ په بېلابېلو پړاوونو کې اسمعیل خان له مطرحو سیاسي، پوځي، تنظیمي، اقتصادي او قومي شخصیتونو څخه یو مهم شخص ګڼل کېږي. محمد اسمعیل خان په



(محمد اسمعیل خان)

خپل سیاسي ژوندانه کې ډېرې لوړې ژورې تېرې کړې، د سختیو او خوشالیو دواړو مزه یې څکلې ده. محمد اسمعیل خان پر (۱۹۵٦م) کال د هرات ولایت د (شینډنډ) ولسوالۍ په (زېرکوه) سیمه کې زېږېدلی دی. خپلې لومړنۍ زده کړې یې په هرات کې بشپړې کړې دي او بیا په کابل کې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



حربي پوهنتون څخه فارغ شوی دی. د یاد پوهنتون په توپچي څانګه کې یې زده کړې کړې دي. اسمعیل خان له خلقي نظام سره ایډیالوژیک اختلافات درلودل او ویل کېږي کله چې پر (۱۳۵۸ل) کال د یاد حکومت پرضد په هرات کې عمومي پاڅون وشو او د دې پاڅون په نتیجه کې د زرګونو افغانانو وینې توییې شوې، محمد اسمعیل خان او ځینو نورو پوځیانو هم په دې پاڅون کې ونډه لرله. محمد اسمعیل خان دا مهال د (تورن) پوځي رتبه لرله، نو ځکه خو د (تورن اسمعیل خان) په نامه مشهور شو.

محمد اسمعیل خان د روسانو د یرغل پرضد پراخه نظامي ونډه واخیسته او د اسلامي جمعیت د تنظیم د پوځي قومندان په توګه یې په هرات او جنوب غرب حوزه کې پراخ عملیات تر سره کړل.

د ډاکتر نجیب الله د نظام تر سقوط وروسته تورن اسمعیل خان د هرات حاکم شو او د (امیر) لقب هم ورپورې وتړل شو. دا مهال نو تورن اسمعیل خان ورو ورو خپل ایډیالوژیک خط ته قومي مسیر ورکړ او د اسلامپالنې پرځای یې د قومپالنې مالګه زیاته شوه. له خپلو حریفو تنظیمونو سره یې په هرات، غور، هلمند، نیمروز، فراه او ځینو نورو سیمو کې پراخ او متفرق جنګونه وکړل. څرنګه چې دا مهال اسمعیل خان پر (تورغونډۍ) او (اسلام قلعه) دواړو بندرونو بشپړ واک درلود او د هرات نور مالي امکانات یې هم په واک وو، نو له دې امکاناتو څخه یې اعظمي ګټه پورته کړه او خپل سیالان یې له مخې لرې کړل، خو بیا هم په هرات کې له پوره سردردۍ څخه خلاص نه شو. د ده قومي تمایلاتو ده ته نورې پټې او ښکاره جبهې پرانیستې. څرنګه چې دا مهال عواید مرکزي نه وو، نو اسمعیل خان په دې بریالی شو چې په هرات ښار کې ښه رغونه او نوې جوړونه وکړي، خو دا ودانیز کارونه یوازې د ښار تر څنډو رسېدل، لمن یې کلیوالو سیمو او ولسوالیو ته ونه رسېده. اسمعیل خان ته د (سترجنرال) پوځي رتبه ورکړل شوه، خو په عوامو کې هغه د (تورن اسمعیل خان) په نامه یادېده. هغومره په ستر جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمعیل خان مشهور نه و، لکه په (تورن اسمعیل خان). نه یوازې د اسمعیل خان دا حالت و، بلکې ټولو هغو کسانو چې په ناطبیعي او یو ناڅاپي ډول یې دا رتبې اخیستې وې، هغوی ټول پر خپل هغه لومړني حالت یادېدل. (ستر جنرال سرکاتب عطامحمد، برید جنرال ضابط اکرم. برید جنرال معلم زمان، ستر جنرال معلم عطامحمد نور) او نور، که دوی اوس په هره رتبه وو، خو عوامو ورسره خپله پخوانۍ دنده او رتبه هم یادوله. ان یو ځل له راډیو څخه نشر شوي وو چې: ((ستر جنرال تورن اسمعیل خان)). په هر ترتیب، اسمعیل خان په تنظیمي واکمنۍ کې د هغو والیانو له جملې څخه و چې هرات یې په نسبي امن کې هم وساته او د بیا رغونې کارونه هم په کې تر سره شول. په ننگرهار کې حاجي عبدالقدیر پر دې بریالی شو چې ننگرهار د تنظیمي جگړو له اوره وساتي. په تنظیمي اړو دوړ کې د افغانستان په اکثرو لویو او وړو ولایتونو کې د جگړې اورونه بل وو، خو دوه لوی ولایتونه (هرات او ننگرهار) له نسبي امن څخه برخمن وو.

دې حالت دوام درلود چې د طالبانو تحریک راوټوکېد، طالبان لا په کندهار کې وو چې له اسمعیل خان سره یې رقابت پیل شو، څو جنگونه یې د فراه شاوخوا کې سره وکړل، خو اسمعیل خان پرې برلاسی و، طالبان چې دا مهال د کابل په محاذ کې ډېر مصروف وو، نو نه یې غوښتل چې په غربي جبهه کې هم ځان مصروف کړي، اسمعیل خان خپل پوځي غرور پسې واخیست او د هلمند تر (گرشکه) پورې یې خپلې لښکرې واستولې، دا مهال بي بي سي راډیو له اسمعیل خان څخه پوښتنه وکړه چې طالبانو سره ولې د خبرو له لارې پرمخ نه ځې چې جگړه مو پیل کړې ده؟ ده په ډېر غرور وویل: ((حالا دیگر کی مانده که ما کتش گپ بزنیم...)) اسمعیل خان فکر وکړ چې تر گرشک پورې د ده د پوځونو پرمختگ د طالبانو د حتمي زوال مانا لري. کله چې کندهار ښار کې د اسمعیل خان د لښکرو د پرله پسې پرمختگ اوازه ولگېده، نو طالبانو دا جگړه د خپلې بقا جگړه وگڼله، ولسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو هم د طالبانو ملاتړ وکړ، د طالبانو په متقابل برید کې د اسمعیل خان لښکرې نه یوازې د هلمند له څنډو پورته شوې، بلکې په فراه کې یې هم سخته ماتې وخوړه، طالبانو (ادرسکن) هم ونیو، د هرات ښار ته داخل شول. د طالبانو دا برید او بریالیتوب د برېښنا په شان تېز و. اسمعیل خان ایله په دې بریالی شو چې خپل ځان او نږدې دوه درې سوه ملګري له (۹۵) ملیونو نغدو ډالرو سره (اسلام قلعه) بندر ته ورسوي. لومړی ایراني عسکرو ایران ته د وراوښتو اجازه نه ورکوله، دا مهال طالبان په هرات ښار او اسمعیل خان په اسلام قلعه کې و، څو ساعته انتظار یې وویست، دا مهال نو د اسمعیل خان او د هغه د ملګرو د ژوند سختې شېبې وې. تر څو ساعته انتظار وروسته اسمعیل خان او ملګري یې ایران ته واوښتل او هرات په بشپړ ډول د طالبانو لاس ته ورغی. طالبانو بیا وروسته د کابل د نیولو امکانات هم ترلاسه کړل او جګړه د کابل شمال او د هېواد شمال ته وغځېده. د طالبانو له رژیم څخه فراریانو اکثرو ایران ته پناه یوړه او ایران ورته پوځي کمپونه جوړ کړل.

اسمعیل خان هم دا مهال د ایران له پوځي او مالي مرستو برخمن و. بېرته د جګړې لپاره فاریاب ته راغی او له (جنرال مالک) سره یې یوه پوځي ټلواله جوړه کړه. اسمعیل خان او جنرال مالک دواړه د بادغیس په (بالامرغاب) کې د جګړې لومړۍ کرښې ته راغلل او دلته جنرال مالک د یوې معاملې په ترڅ کې اسمعیل خان طالبانو ته تسلیم کړ. طالبانو اسمعیل خان ونیو او د کندهار په زندان کې یې څو کاله بندي کړ. اسمعیل خان وروسته د یوې معاملې په ترڅ کې له زندانه پر تېښته بریالی شو او بېرته ایران ته لاړ. د زندان کلونه د اسمعیل خان د ژوند ډېرې سختې شپې او ورځې دي. کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو اسمعیل خان د نورو پخوانیو قومندانانو په څېر بېرته راژوندی شو، هرات یې بیا خپل استحقاق وګاڼه، خپله هلته د والي او زوی یې (میرویس صادق) په موقته اداره کې د وزیر په توګه مقرر شو. دا مهال بیا هم د قدرت غرور پسې واخیست، زور او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیکتاتورۍ ته یې دوام ورکړ، سیمه ییز خلک د ده او د ده د زوی د زور له لاسه تر پوزې راغلل. زوی یې میرویس صادق د هرات فرقې د قومندان (نایبزاده ) پر کور ورغلل او زوی یې په کې ووژل شو. د زوی وژنې د اسمعیل خان پر فکري او رواني حالت ژور اغېز وکړ، خو بیا یې هم له سیاسته لرې نه کړای شو. اسمعیل خان وروسته د کرزي پر حکومت باندې د کورنیو او بهرنیو کړیو د زیات فشار له امله کابل ته راوغوښتل شو او دلته د اوبو او برېښنا د وزیر په توگه انتخاب شو.

سره له دې چې اسمعیل خان نه غوښتل کابل ته راشي او د هرات ولایت خپلسرې واکمنۍ پر وزارت بدله کړي، خو نړیوالو فشارونو، مرکزي حکومت دې ته اړ کړ چې اسمعیل خان کابل ته راشي. هغه مهال چې د اسمعیل خان پر ضد په هرات کې د (امان الله خان) له خوا پاڅون پیل شو او حالات په هرات کې ترینگلي وو، نو زه یوه ماښام د کرزي صیب په کور کې مېلمه وم، زلمی خلیلزاد هم هلته مېلمه و، چې د اسمعیل خان له خوا ورته زنگ راغی او د هرات بغاوت یې د طالبانو کار وباله، خو خلیلزاد ورته خندل چې بل ځای مې هم د دې جریان یادونه کړې ده. مانا دا چې امریکایانو نه غوښتل اسمعیل خان نور په هرات کې خپلې واکمنۍ ته دوام ورکړي. خپله اسمعیل خان هم خپله امریکایي ضد روحیه نه پټوله، خو امریکایي ضد روحیه یې یوازې په وړو خصوصي محفلونو کې څرگندوله. یو ماښام کرزي صیب په خپل کور کې روژه ماتي ته یو څو محدود کسان رابللي وو، زه (یون) او د هلمند والي (شېرمحمد اخوندزاده) او یو څو تنه نور هم دې روژه ماتې ته دعوت وو. دا مهال د اسمعیل خان په باب څه خبره یاده شوه. (شېرمحمد اخند زاده) وویل: ((هغه ورځ زه د اسمعیل خان لیدو ته ورغلی وم، هغه د امریکا ضد خبرې کولې، موږ ته یې وویل، موږ باید جهاد وکړو، جهاد فرض دی، داسې دی او هغسې دی. ما ورته وویل، موږ گرموې او که رښتیا وایې؟ که رښتیا وایې ځه ته مخکې موږ درپسې، هغه به بې غیرته وي چې بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راګرځي او که هسې موږ ګرموې او تاسې بیا د پخوا په شان ځانونه غلي نیسئ نو هغه بیا بېله خبره ده)).

شېر محمد اخوندزاده ولسمشر ته وویل: ((رییس صیب دا سړی مې خوښ نه شو، ډېر دوه مخی دی.))

په اوبو او برېښنا وزارت کې د هغه د تقرر په اړه امریکایانو مثبت نظر نه درلود، هغوی غوښتل په دې وزارت کې ډېره پانګونه وکړي ان تر (پنځه ملیاردو ډالرو) پورې، خو نه یې غوښتل د داسې یو شخص په وجود کې دا پانګه ولګول شي چې ویل کېږي له ایران سره نږدې اړیکي او خواخوږي لري. امریکایانو څو ځله ولسمشر کرزي ته وویل چې اسمعیل خان باید له دې وزارته لرې شي، خو کرزي د امریکایانو نظرونه نه منل.

اسمعیل خان د کرزي د ولسمشرۍ د دویمې دورې تر پایه یاد وزارت کې خپلې دندې ته دوام ورکړ.

له یو شمېر بریاوو او ځینو نیمګړتیاوو سره سره یې خپله دنده ترپایه وغځوله. ځینې پروژې د ده د واکمنۍ پر مهال ډیزاین شوې، خو ګټې اخیستنې ته تیارې نه شوې. افغانستان ته له ترکمنستان، ایران او تاجکستان څخه وارداتي برېښنا راورسېدله، خو داخلي برېښنا بندونه لا تردې دمه جوړ نه شول. په برېښنا وزارت کې د اسمعیل خان د نسبي بریاوو او نیمګړتیاوو ترڅنګ هغه ترپایه له خپلې تنظیم پالنې او توکم پالنې لاس وانه خیست، هغه خپل پخواني تنظیمي اړیکي بیا له سره تازه کړل، په مرکز کې د یوې سیاسي څېرې په توګه څرګند شو، خو هرات کې یې د وخت په تېرېدو سره خپل پخوانی برم، شان او شوکت له لاسه ورکړ.

۱۴- **محمد عارف نورزی:** عارف نورزی اصلاً د کندهار ولایت اوسېدونکی دی. تر ثانوي زده کړو وروسته د کرنې پوهنځي محصل شو، خو د شوروي لښکرو د یرغل له امله یې زده کړې ناتمامې پاتې شوې او د مجاهدینو له لیکو سره یوځای شو. عارف نورزي له اسلامي جمعیت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شمالټلوالې سره نږدې اړیکي درلودل، کله چې یاده ټلواله د ډاکتر نجیب الله نظام تر ړنګېدو وروسته کابل ته راننوته، نو عارف نورزی په کې د کابل د (۷) فرقې د قومندان په توګه مقرر شو.**



(محمد عارف نورزی)

**نورزي د طالبانو حاکمیت پر مهال بیا د شمالټلوالې لمن ونیوه او د طالبانو خلاف یې په ځینو جګړو کې ګډون وکړ.**

**عارف نورزی د طالبانو د حاکمیت پر مهال اروپا ته د احمدشاه مسعود د ملګري هئیت د سفر ملګری و او احمدشاه مسعود ورته د پښتنو په استازۍ خاص ارزښت ورکاوه.**

**نورزی پر (۱۳۸۰ل) کال د قوس پر (۱۴)مه نېټه د بن کنفرانس غړی و او تر دې کنفرانس وروسته د سپکو صنایعو او غذایي موادو د وزیر په توګه غوره شو. په انتقالي اداره کې د قومونو او قبایلو چارو د وزیر په توګه غوره شو. تر هغه وروسته نورزي له کندهار څخه ولسي جرګې ته ځان کاندید کړ او دې مقام ته بریالی شو، بیا یې د ولسي جرګې د مرستیال په توګه خپله دنده تر سره کړه.**

**د ولسي جرګې د مرستیال په توګه یې کله له ولسمشر کرزي سره اړیکي ښه او کله ترینګلي وو. عارف نورزی د خبرو په اندول د عمل سړی دی، مېلمه پالنه، افغانپالنه یې ښه خصوصیتونه دي. له استاد سیاف او نظار شورا دواړو سره یې ښه اړیکي درلودل، خو خپل قومي خصوصیت یې هم له لاسه نه و ورکړی. د کرزي له کورنۍ سره یې هم د خپلولۍ اړیکي درلودل.**

**د ولسي جرګې د مرستیالۍ پر مهال یې خپلې لوړې زده کړې پوره کړې او تر هغه وروسته څه موده د ولسمشر کرزي د سلاکار په توګه پاتې شو او بیا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د اوبو او برېښنا وزارت د وزیر په توګه نوماند کړ، له ولسي جرګې څخه یې باور رایه ترلاسه کړه او د کرزي د حکومت تر پایه یې یاده دنده سرته ورسوله.

**۱۵- اشرف غني احمدزی:** ډاکتر اشرف غني احمدزی د (شاه جهان احمدزي) زوی، په لوګر ولایت کې زېږېدلی دی. په هېواد کې تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته یې د (بیروت) په امریکایي پوهنتون او نیویارک کې لوړې زده کړې تر سره کړي او تر هغه وروسته یې د بشر پوهنې په څانګه کې د دوکتورا سند ترلاسه کړی دی. احمدزي کلونه کلونه په نړیوال بانک او نورو نړیوالو ادارو کې کار کړی او له هېواده بهر یې په معتبرو پوهنتونونو کې د استاد په توګه دنده سر ته رسولې ده. له هېواده بهر د استوګنې او دندې پر مهال یې له رسنیو سره د افغانستان د مسایلو د شننونکي په توګه هم خپله رابطه ساتلې ده.



(ډاکتر اشرف غني احمدزی)

کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو ډاکتر اشرف غني هم د نورو بهر مېشتو افغانانو په څېر خپل هېواد ته راغی او دلته د بهرنیو مرستو د انسجام د ادارې د مشر په توګه مقرر شو. اشرف غني په انتقالي اداره کې د مالیې د وزیر په توګه دنده اجرا کړه او دا مهال یې په یاد وزارت کې یو لړ مثبت بدلونونه او پرمختګونه راوړل. پر سترو جنګسالارانو یې ناقانونه امتیازات او پیسې بندې کړې او دې کار ده ته هم یو لړ مشکلات راوټوکول. د اسلامي جمعیت په تېره بیا د استاد رباني د زیات فشار له امله ولسمشر کرزي، اشرف غني له خپلې دندې لرې کړ او پرځای یې ډاکتر انورالحق احدي وټاکل شو. له یادې دندې د غني د لرې کېدو اساسي علت د ناقانونه پیسو او ناقانونه بلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه اجراکول وو. ان د کرزي د ولسمشرۍ د لومړۍ دورې د سوگند د مراسمو ناقانونه اضافي بلونه یې هم تېر نه کړل. د اشرف غني غوڅ چلند هم بل عامل و چې دی یې د دې دندې دوام ته پرېنښود.

تر هغه وروسته اشرف غني د ولسمشر کرزي له خوا د کابل پوهنتون د رییس په توگه مقرر شو او تر یو څه مودې وروسته یې دا دنده هم له لاسه ورکړه او د ولسمشرۍ دویمې دورې ټاکنو ته یې ځان کاندید کړ. په یادو ټاکنو کې اشرف غني چندان رایې ونه گټلې، خو تر هغه وروسته یې هڅه وکړه له کرزي سره بېرته خپل اړیکي ورغوي، البته تر ټاکنو دمخه د اشرف غني خیالات ډېر لوړ وو، کرزي هم فکر کاوه چې اشرف غني به په ولس کې ډېر ښېخ ولري، نو ځکه خو له ده سره هر ډول تفاهم ته حاضر و، خو غني ته ځینو غوړه مالانو داسې تصور ورکړی و چې ته په ولس کې زیات نفوذ لرې، له کرزي سره هېڅ ډول تفاهم ونه کړې.

کرزی دا مهال حاضر و، غني ته په راتلونکي حکومت کې غټ امتیازات ومني، خو چې دی له خپلې نوماندۍ څخه تېر شي. دا مهال د غني تصورات ډېر لوړ وو. د ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال په کور کې د هغه په وساطت دواړه جرگې ته سره کېناستل، خو د غني شرایط دومره سخت وو چې کرزي یې د منلو توان نه درلود. غني کرزي ته وویل چې که زه له خپلې نوماندۍ تېرېږم، نو ته به زما لاندې شرایط منې: ((ورونه به دې له افغانستانه باسې، د څلورو لویو ولایتونو؛ کندهار، هرات، بلخ او ننگرهار والیان به زه ټاکم، د کابینې غړي به زه ټاکم)) او دېته ورته ځینې نور شرایط هم وو. کرزي ورته وویل چې تر دې خو ښه دا ده چې زه ستا په گټه تېر شم، جرگه همداسې پیکه پایته ورسېده، خو کله چې ډاکتر غني ځان کاندید کړ، نو تر رمضان بشردوست یې هم کمې رایې وگټلې. تر هغه وروسته غني د خپل ځان په وزن پوه شو او کرزي سره یې بیا خپل مناسبات ورغول. له بهرنیو ځواکونو څخه د انتقال بهیر پیلېدونکی و، ټاکل شوې وه ډاکتر سپنتا د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهیر مشر شي، خو امریکایي چارواکي پرې خوښ نه وو، د ولسمشر کرزي سپنتا خوښ و، خو امریکایانو پر غني ټینګار کاوه، غني هم دې څوکۍ ته ډېره لېوالتیا ځکه لرله چې غوښتل یې د ولسمشرۍ راتلونکو ټاکنو ته تیاری ونیسي. ټاکل شوې وه په همدې ورځو کې پر یاد پوست د اشرف غني د ګومارنې یا تقرر حکم صادر شي. ما دا مهال له ډاکتر اشرف غني سره د هغه په کور کې ځانګړی ملاقات درلود، هغه ته مې وویل چې که غواړې راتلونکو ټاکنو ته ودرېږې، نو له کرزي صیب سره مناسبات مه خرابوه، دا پوست داسې دی چې ته له ولس سره رابطې ټینګولای شې، د خلکو له حافظې څخه نه وځې، کله چې حکومت کې اوسې، د خلکو په حافظه کې ژوندی پاتې کېږې. دې ټولنه کې ټاکنې په علم نه ګټل کېږي، په امکاناتو ګټل کېږي، هغه بل ځل دې ټاکنې بایلودلې، علت یې دا و چې حکومت درسره نه و، حکومت نیم کرزي صیب سره و او نیم ډاکتر صیب عبدالله سره، څرنګه چې ولسمشر کرزی اکثریت ته منسوب و، نو ځکه یې ولسي رایې تر عبدالله زیاتې شوې، خو دولتي زور د دواړو برابر و. تاسره چې دولتي زور نه و، هغومره رایې دې وګټلې. څرګنده خبره ده چې راتلونکي کې کرزی صیب ځان نه شي کاندیدولای، نو دولتي قدرت ټول شمالټلوالې ته پاتې کېږي، نو که ته غواړې چې بیا ځان کاندید کړې، د کرزي ملاتړ باید درسره وي او په دې ډول که د حکومت نیمایي برخه درسره ونه درېږي، نو یوه برخه خو به درسره ودرېږي، بیا به ټول خپل زور وهو چې ټاکنې مقابل طرف ونه ګټي. ډاکتر اشرف غني وویل، دا ځل له ماڅخه مناسبات نه خرابېږي که رییس صیب (کرزی صیب) یې خراب هم کړي زه یې نه خرابوم. ما او ډاکتر غني پر نورو مسایلو هم خبرې وکړې، خو دلته ماته د راتلونکي ولسمشرۍ ټاکنو ته د نوماندۍ لپاره د ده اراده یوځل بیا څرګنده شوه.

ډاکتر اشرف غني د انتقال د پروسې ترپایه د دې بهیر د مشر په توګه پاتې شو او دا بهیر یې په نسبي ډول په بري سره سرته ورساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اشرف غني په باب اکثره په دې متفق دي چې ډېر عالم او پوه سړی دی، خو په دې هم ټول یوه خوله دي چې اوسېله نه لري، صحت یې هم د ډېرو کارونو اجازه نه ورکوي، ځینې خلک داسې فکر کوي چې دی ښه عالم دی، خو ښه سیاستوال او ښه مدیر نه دی، ډېر توند چلند لري، ټولنیز مناسبات هم نه شي پاللی، خو دې سره سره تر اوسه چې ده کومې څلور مهمې دندې تر سره کړي، په هغو کې دی په نسبي ډول بریالی و؛ نیمګړتیاوې یې کمې او بریاوې یې زیاتې وې، دا به وخت ثابته کړي چې په راتلونکو نورو دندو کې به دی تر کومه بریده بریالی وي؟

**۱٦- سید مصطفی کاظمي:** سید مصطفی کاظمي پر (۱۳۴۳ل) کال په پروان ولایت کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې په کابل کې تر سره کړي او بیا د مجاهدینو له لیکو سره یوځای شوی دی. شیعه ډلو، چې له ایران سره نږدې اړیکي درلودل، ویل کېږي چې کاظمي هم له دې اړیکو برخمن و. د جهاد په وروستیو کلونو او په کابل کې د تنظیمواکۍ پر مهال د یوه قوماندان او ژبور ځوان سیاستوال په توګه راڅرګند شو. د طالبانو د واکمنۍ تر ړنګېدو وروسته د


(سید مصطفی کاظمي)


بن کنفرانس یو اساسي غړی و او د همدې کنفرانس په برکت د سوداګرۍ وزارت د وزیر په توګه وټاکل شو، د انتقالي ادارې تر پایه یې د دې وزارت چارې پرمخ یوړلې او د خپلې کورنۍ ګڼ شمېر غړي یې د دې وزارت په بهرنیو او کورنیو پوستونو کې مقرر کړل. پر وزارت سربېره یې د کرزي امنیت شورا له دفتر سره هم ټینګ اړیکي درلودل او هره میاشت لږ تر لږه (لس زره) امریکایي ډالره د جیب خرڅ په توګه ورکول کېدل. کاظمي تر انتقالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري وروسته ځان له کابل څخه ولسي جرګې ته نوماند کړ او يادې جرګې ته بريالی شو او بيا په دې جرګه کې د اقتصادي چارو د کمېسيون مشر شو. کاظمي دا مهال د (ملي اقتدار) په نامه يو ځانګړی ګوند هم جوړ کړ او په دې نامه يې يوه جريده هم چاپوله. وخت پر وخت يې د کرزي په اصطلاح اپوزېشني ګروپ سره خپل اړيکي پالل، د هغو په غونډو کې به ظاهرېده او کله کله به يې د هغوی د مخکښې او وياندی دنده هم سرته رسوله، خو له کرزي سره يې هم خپل پټ اړيکي ساتل او د مخالف په رول کې به هم څرګندېده. تر وزارت وروسته د وزارت او امنيت شورا موټر او نور امتيازات يې هم خوندي وو. کاظمي يو ډېر ژبور، باسليقه او د وخت پر نزاکتونو پوه سياستوال و، د خپلو ګټو د تضمين لپاره يې هرې ممکنې چارې ته لاس اچوه او په دې کې تر ټولو ډېر بريالی هم و. کاظمي پر (۱۳۸٦ل) کال په بغلان ولايت کې د ولسي جرګې له پنځو تنو نورو وکيلانو او يو زيات شمېر هېوادوالو سره د يوې انتحاري حملې په ترڅ کې ووژل شو.

۱۷- هدايت امين ارسلا: هدايت امين ارسلا اصلاً د ننګرهار ولايت د



(هدايت امين ارسلا)

حصارک ولسوالۍ اوسېدونکی دی، خو په کابل کې زېږېدلی دی، ارسلا تر تحصيلاتو وروسته پر مهمو دولتي او نادولتي پوستونو کار کړی، د ډاکتر نجيب الله حکومت تر ړنګېدو وروسته د بهرنيو چارو د وزير په توګه پاتې شوی، په موقته اداره کې يې د ماليې د وزير په توګه کار کړی دی. نوي افغاني بانکنوټونو کې د هدايت امين ارسلا لاسليک ځکه راغلی چې دی دا مهال د ماليې وزير و او بيا د لومړي منتخب ولسمشر په توګه د کرزي تر ټاکنې وروسته د سوداګرۍ د وزير په توګه پاتې شوی. بيا يې ځان ولسمشرۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاندید کړ، خو ببرته د ولسمشر کرزي په ګټه تېر شو او هغه بیا د خپل ستر سلاکار وزیر په توګه غوره کړ. ارسلا د کرزي په ټوله واکمنۍ کې د وزیر او ستر سلاکار وزیر په توګه پاتې شوی دی. دی د نرم طبیعت خاوند دی، ارام اعصاب لري، که پر ټول وطن اور ولګي، نو دی به خپل غږ پورته نه کړي. مرحوم رسول امین به ویل: ((که له کونړ څخه دوه لویې لارۍ چارتراش راوړو، سر پر سر یې کېدو، تېل پرې واچوو او ارسلا صیب یې پر سر کېنوو، اور ورته ورته کړو، نو ایله به دی غبرګون وښیي. )) ارسلا صیب د دغسې یو طبیعت په لرلو سره کرزي صیب ته وخت پر وخت په کار و چې هغه پرې د ننګرهار او په مجموع کې د پښتنو ونډه پوره کړي. ارسلا صیب که څه هم په سیاست کې د غبرګون ښودلو جوګه نه و، خو د یو مسلکي افغان په توګه یې د حکومتي چارو په قانوني کولو او سمون کې خپله ونډه اخیستې ده. کوم جنجالي شخص نه دی، په دې ډېر خوشاله دی چې په یو نه یو ډول په کابینه کې ناست وي. د ولسمشر کرزي په ګټه یې له خپلې نوماندۍ څخه د تېرېدو یو شرط دا و چې موټر به یې د نورو جهادي مشرانو په څېر تر ګلخانې ماڼۍ پورې اجازه ولري، نور نو که پر مملکت هر څه راځي، راځي به. ارسلا صیب ته ورته نور شخصیتونه هم په حکومت کې ښه ډېر وو، له شخصي پلوه دي خورا دروند او د عزت سړی دی که چاته یې ګټه ونه رسېږي، نو زیان خو یې هېڅ نه رسېږي. کولای شو یو ښه سړی ورته ووایو، خو زړور سړی او ډېر د کار سړی ورته په اسانۍ نه شو ویلای.

۱۸- **محمد امین فرهنګ**: محمدامین فرهنګ د ولسمشر کرزي د پوه او مسلکي وزیرانو له جملې څخه و، دی پر (۱۹٦۴م) کال په کابل کې زېږېدلی، تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته جرمني ته تللی او هلته یې د اقتصاد په څانګه کې پر (۱۹٦۹م) کال له المان پوهنتون څخه لیسانس او ماستري ترلاسه کړي دي. تر هغه وروسته یې بیا هم خپلو نورو لوړو زده کړو ته دوام ورکړی او له یاد پوهنتون څخه یې د دوکتورا دپلوم هم اخیستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دی. امین فرهنگ د کرزي حکومت په لومړۍ انتخابي دوره کې د سوداګرۍ د وزیر په توگه نوماند او له ولسي جرگې څخه یې باور رایه ترلاسه کړه، خو په همدې پوست کې بیا د ولسي جرگې له خوا بېرته ناباوره شو. امین فرهنگ تر دې دمخه هم د کرزي د حکومت په مهمو پوستونو کې کار کړی دی. د اساسي قانون په لویه جرگه کې د امین**



**(محمد امین فرهنگ)**

**فرهنگ او انوارالحق احدي توضیحات د تفاهم د کمېټې د قناعت وړ وگرځېدل او د افغانستان بانک او نورو اقتصادي مسایلو په باب یې د کمېټې د برخوالو قناعت حاصل کړ. امین فرهنگ په سوداگرۍ وزارت کې له ولسي جرگې څخه د باور رایې تر بېرته اخیستو وروسته په حکومت کې رسمي دنده وانخیسته او د یوه کارپوه په توگه یې خپل نظریات د بېلابېلو رسنیو له لارې هېوادوالو سره شریک کړل. امین فرهنگ په تېرو (۱۳) کلونو کې داسې کوم خطرناک کار نه دی کړی چې هغه دې د هېوادوالو د ناراحتۍ سبب شي او تردې دمه یې داسې نظریات هم نه دي څرگند کړي چې په هېواد کې د قومي تفرقې او تبعیض سبب شي، خو دا چې په اینده کې به څه ډول رول ادا کوي، دا به همغه وخت ثابتوي.**

**۱۹- ډاکتر انوارالحق احدی: ډاکتر انورالحق احدي په افغانستان کې د معتدلو سیاستوالو له جملې څخه دی. دوه لسیزې یې د (افغان ملت گوند) د مشر په توگه دنده سرته رسولې. احدي اصلاً د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ د جگدلک سیمې پورې اړوند یوې روښنفکرې کورنۍ کې زېږېدلی**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. احدي په کابل کې تر خپلو لومړنیو او ثانوي زده‌کړو وروسته د (بیروت) له امریکایي پوهنتون څخه لیسانس او ماسترۍ دپلومونه ترلاسه کړي او بیا یې د امریکا له (نورت ویسترن) پوهنتون څخه د سیاسي علومو په



(ډاکتر انوارالحق احدي)

څانګه کې دوکتورا ترلاسه کړې ده. تر موقتې ادارې وړاندې انوارالحق احدي په پخوانیو حکومتونو کې لوړ رتبه دولتي دنده نه ده تر سره کړې او تر دې وړاندې نږدې یوه یوه نیمه لسیزه د افغان ملت ګوند د مشر په توګه پاتې شوی. د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته د موقت حکومت پر مهال احدي د افغانستان بانک د لوی رییس په توګه وټاکل شو. دی د بن کنفرانس له غړو څخه و. د بانک د رییس په توګه یې خپله دنده په ښه شکل تر سره کړې، نوي افغاني بانکنوټونه



چې د پخوانیو پیسو پرځای چاپ شول او انفلاسیون یې (یو پر زرمه برخه) راټیټ کړ، د ده په غټو بریاوو کې حسابېږي، خو کله چې همدا نوي افغاني

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانکنوټونه پر پخوانیو بانکنوټونو بدلېدل، احدي صیب د بېلابېلو سیاسي، پوځي او نورو فشارونو له امله پر دې بریالی نه شو چې د پیسو په بدلولو کې تر ډېره حده عدالت، قانونیت او شفافیت تضمین کړي، یو زیات شمېر سیاسي اشخاصو او جنګسالارانو چې پخوانۍ پیسې یې په ناقانوني ډول ځان سره خوندي کړې وې، له هغوی څخه له کومې پوښتنې پرته یې پخواني بانکنوټونه تبادله کړل او هغوی یو ځل بیا د نویو پیسو د ترلاسه کولو له امله د نوي اقتصاد خاوندان شول؛ نامشروع اقتصاد په مشروع اقتصاد بدل شو، خو په عمومي ډول د نویو پیسو چاپ پخواني انفلاسیون او خپلسري حالت ته د پای ټکی کېښود او ټول پولي سیستم د افغانستان بانک تابع شو.

انورالحق احدي د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د مالیې وزیر په توګه نوماند شو او ولسي جرګې د باور رایه ورکړه. په دې وزارت کې د احدي کارونه له بریاوو او نیمګړتیاوو سره مله وو. څرنګه چې دا داسې مهال و چې نړیوالې مرستې تر حده زیاتې وې، نو ځکه خو د حکومت زیاتره نیمګړتیاوې د همدې مرستو تر سیوري لاندې پټې وې. احدي د همدې دورې په پای کې وغوښتل ولسمشرۍ ته ځان نوماند کړي، نو ځکه خو له وزارته لاس په سر شو او پرځای یې ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال مقرر شو. احدي بیا د ولسمشرۍ له نوماندېدو څخه هم لاس په سر شو، کرزي سره یې تفاهم وکړ او هغه ورسره په راتلونکي کابینه کې د غړي په توګه یو ځل بیا ژمنه وکړه. کله چې کرزی بریالی شو، نو احدي یې لومړی د اقتصاد وزارت لپاره نوماند کړ، خو له ولسي جرګې څخه یې باور رایه ترلاسه نه کړه. څه موده وروسته یې بیا د سوداګرۍ وزارت لپاره نوماند کړ، احدي دا ځل په دې بریالی شو چې د ولسي جرګې باور رایه راخپله کړي او نږدې پنځه کاله د یاد وزارت د وزیر په توګه پاتې شي. دې وزارت کې هم احدي صیب له بریاوو او نیمګړتیاوو سره خوا په خوا روان و. احدي د نرم او ارام طبیعت خاوند دی، سره له دې چې د یوه ګوند مشر و، خو په حکومت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې د نورو گوندونو يا تنظيمونو د مشرانو په شان خپلې موخې په پوره او ډانگپېيليو الفاظو نه مطرح کولې. کله کله يې مقام او څوکۍ تېرو او اوسنيو نظرياتو سره هم ټکر کاوه، خو ده يې د رد لپاره له جرئت څخه کار نه اخيسته، د يو سياسي مشر پرځای تر ډېره حده د يوه تکنوکرات او دولتي مامور په توگه مطرح و، په همدې خاطر خو ترې خپل يو زيات شمېر پخواني ملگري هم خوابدي شول. ځينو خلکو له احدي څخه لوړې غوښتنې لرلې، هغوی ویل احدي د دې پرځای چې د خپل گوند سياسي نظرياتو او گوندي مبارزو ته زياته پاملرنه وکړي، دولتي مقام ته يې پاملرنه زياته وه، گوندي اختلافاتو هم په سياست کې د هغه رول کمزوری کړ. يو شمېر پلويانو يې ټينگار کاوه چې احدي بايد سياسي مبارزې ته زور ورکړي او دولتي مقامونو ته د خپل گوند نور اشخاص ورمعرفي کړي. احدي د افغانستان د لويو سياسي تيوريسنانو له جملې څخه دی، خو سياسي جرئت يې هېڅکله له سياسي ذکاوت سره موازي روان نه دی.

ځينې خلک فکر کوي چې دا ډول سياستوال د سياستپوهانو په توگه مطرح وي، نه د عملي سياستوالو په توگه. د تيورۍ برخه يې تر عملي کار ډېره درنه ده، خو د دوی نور سيال سياستوالو بيا معکوس حالت درلود، تيوري کمه او عمل زيات، خو د لوړو زده کړو تيورسن سياستوال بيا له عمل څخه د تيورۍ په ډگر کې وړاندې او د عمل په ډگر کې ډېر وروسته پاتې وو.

**۲۰- محمد شاکر کارگر:** محمد شاکر کارگر پر (۱۳۴٦ل) کال په فارياب ولايت کې زېږېدلی دی. تر لومړنيو او ثانوي زده کړو وروسته يې لوړې تخصصي زده کړې کړي او پر (۱۳۹۰ل) کال يې د حقوقو په څانگه کې د دوکتورا سند ترلاسه کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاکر کارګر (د افغانستان د ملي اسلامي جنبش) غړی او د جنرال دوستم ډېر نږدې او باوري کس دی. په حقیقت کې د هغه سیاسي مشاور ګڼل کېږي او د هغه پوره ملاتړ هم ورسره دی. له (۱۳۷۰ل) کال راهیسې چې جنرال دوستم په سیاسي او پوځي ډګر کې


(محمد شاکر کارګر)

لوبېږي، نو شاکر کارګر هم په بېلابېلو پوستونو کې ورسره راڅرګندېږي. شاکر کارګر د بن په کنفرانس کې د اوبو او انرژۍ د وزیر په توګه منتصب شو او په انتقالي اداره کې هم پر همدې پوست پاتې شو. شاکر کارګر د افغانستان د سفیر په توګه هم دنده اجرا کړې ده. د کرزي د ولسمشرۍ په دویمه دوره کې په ولسي جرګه کې د فاریاب د خلکو استازی شو او تر هغه وروسته بیا د ولسمشر کرزي له خوا د سوداګرۍ د وزیر په توګه نوماند او د ولسي جرګې له خوا د یاد وزارت د وزیر په توګه منتخب شو.

شاکر کارګر یو ازاد طبعیته شخص دی، مذهبي افراطي تمایلات نه لري، خو خپله اتنیکي لېوالتیا لري. د جنرال دوستم تر مشرۍ لاندې د ملي اسلامي جنبش له مهمو سیاسي سټو څخه ګڼل کېږي او د ده په واسطه د جنرال دوستم یو شمېر بهرني اړیکي هم تنظیم شوي دي. د اقتصاد له پلوه یې ځان ښه بډایه کړی او له علمي پلوه یې هم په حقوقو کې ځان د دوکتورا تر کچې رسولی دی.

**۲۱- ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال:** ډاکتر عمر زاخېلوال د ننګرهار ولایت په یوه متدینه کورنۍ کې زېږېدلی، تر لومړنیو، ثانوي او لوړو زده‌کړو وروسته کډوالۍ ته اړ شوی، لومړی پاکستان او بیا کاناډا ته تللی. په کاناډا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې یې خپلو نورو لوړو زده کړو ته دوام ورکړی او د (اوتاوا) له (کارلتون) پوهنتون څخه یې د اقتصاد په برخه کې د دوکتورا دپلوم ترلاسه کړی او بېرته یې په همغه پوهنتون کې د استاد په توګه دنده اجرا کړې ده.

ډاکتر زاخېلوال د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته بېرته هېواد ته راستون شو، د بېړنۍ لویې جرګې غړی شو او بیا یې د کلیو او پراختیا وزارت کې د مشاور په توګه دنده پیل کړه.

تر هغه وروسته د پانګونې د ملاتړ اداري (ایسا) مشر شو او همدارنګه د افغانستان بانک د عالي شورا غړی. زاخېلوال بیا په اقتصادي چارو کې د ولسمشر مشاور او د لنډ مهال لپاره د ترانسپورت وزارت د سرپرست په توګه پاتې شو.

ډاکتر زاخېلوال بیا د ولسمشر کرزي له خوا مالیې وزارت ته نوماند او له ولسي جرګې څخه یې باور رایه ترلاسه کړه او د کرزي د واکمنۍ تر وروستیو شپو ورځو پورې د یاد وزارت د وزیر په توګه پاتې شو. زاخېلوال په مالیې وزارت کې د خپلې دندې پر مهال ډېر بریالیتوبونه هم ترلاسه کړل، خو ستونزې او نیمګړتیاوې یې هم کمې نه وې. بهرنۍ پانګه یې راجلبه کړه، بېلابېل صنعتي پارکونه یې جوړ کړل، د خصوصي پانګونې لپاره یې زمینه برابره کړه، وزارت ته نوی او مسلکي کادر جذب شو، پر خپل وزارت پوره واکمن و. خو له ولسي جرګې سره یې وخت پر وخت خپلې ستونزې لرلې، د فساد عام جال چې پر ټول حکومت راخور و، په مالیې وزارت



(ډاکتر حضرت عمر زاخېلوال)

کې یې هم ریښې ځغلولې وې، ځینو لویو جنګسالارانو لا هم پر مالیې وزارت خپلې ناقانونه غوښتنې منلای شوې، لنډه دا چې زاخېلوال د احتیاط او

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرئت له دواړو میتودونو څخه کار اخیسته، نو ځکه خو یې په یاد وزارت کې خپل کار تر اوږدې مودې پورې وغځاوه.

زاخېلوال که څه هم ډېره هڅه کوله، په کابینه کې له چا سره ټکر ونه کړي، په تېره بیا د شمالټلوالې له زورواکو، له هغې جملې له (محمد قسیم فهیم) سره، خو یوه ورځ داسې یو ټکر پېښ شو؛ یو وخت محمد قسیم فهیم جرمني ته د خپلې ناروغۍ د درملنې لپاره تللی و، یوه الوتکه یې مکمله چارتر کړې وه، زاخېلوال نه غوښتل د مالیې وزارت له لارې د دې چارتر شوې الوتکې لگښت ومني او بل یې تېر کړي. زاخېلوال ویل، د بیت المال پیسې باید بېځایه مصرف نه شي او د دې بل تېرول د قانون خلاف کار دی. دا بحث د کابینې مجلس ته راغی، فهیم خان چې کله هم پر دې موضوع خبر شو، نو پر زاخېلوال سخت په غوصه شو او ورته ویې ویل: ((ته څوک یې چې دا پیسې نه حواله کوې، والله چې د څرمنکۍ په شان دې څیرې کړم، ته مانه پېژنې، چې زه څوک یم؟...)) د فهیم د قهر په مقابل کې نه زاخېلوال، نه د کابینې نورو غړو او نه هم جمهور رییس کوم غبرگون وښود، ټول مجلس غلی پاتې شو. فهیم له زاخېلوال سره یو ځل مخکې هم یو بل تریخ چلند کړی و.

هغه داسې چې محمد قسیم فهیم جرمني ته د درملنې لپاره تللی و، دا مهال د کابل بانک بحران رامنځته شو او حکومت کابل بانک تر خپل پوښښ لاندې راووست، کله چې فهیم راغی، نو ولسمشر کرزي او زاخېلوال ته یې په تونده لهجه وویل: ((کابل بانک د تاجکانو یو بانک و، زه دلته نه وم، دا چې زه دلته وای، د چا پلار به هم دا نه و سقوط کړی...)) زاخېلوال د کار په بهیر کې نه یوازې له مرکزي جنگسالارانو سره لاس و گرېوان و، بلکې له یو شمېر محلي جنگسالارانو سره یې هم ستونزې درلودلې، خو له دې ټولو ستونزو سره سره هغه د احتیاط او زړورتیا له دواړو تدبیرونو څخه کار واخیست او یو زیات شمېر مثبت کارونه یې تر سره کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۲- ډاکتر عبدالله عبدالله:** د ډاکتر عبدالله عبدالله د ژوند د لومړیو وختونو په باب معلومات له تضادونو او اختلافونو ډک دي. څوک وایي چې له مور او پلاره د پنجشېر اوسېدونکی دی، څوک وایي پلار یې د کندهار او مور یې د پنجشېر اوسېدونکې وه. خو په هرحال ځینو سرچینو د ډاکتر عبدالله په باب ویلي چې له پلاره پښتون او له موره تاجک دی. پر (۱۳۳۸ل) کال په کابل ښار کې زیږېدلی دی. پلار یې (غلام محی الدین زمریالی) نومېده چې د اعلیحضرت محمدظاهرشاه په واکمنۍ کې د ملي شورا په وروستۍ دوره کې د کندهار انتصابي سناتور و.



(ډاکتر عبدالله عبدالله)

ویل کېږي چې ډاکتر عبدالله عبدالله په شپېتمو کلونو کې له کابل طب پوهنځي څخه فارغ شوی، دوه کاله یې د سترګو په روغتون کې کار کړی، بیا پاکستان ته کډوال شوی او تر هغه وروسته په پنجشېر کې د (احمدشاه مسعود) له ځواکونو سره یو ځای شوی. کله چې د ډاکتر نجیب الله حکومت ړنګ شو او احمدشاه مسعود د دفاع وزیر په توګه دنده واخیسته، نو عبدالله یې د دفتر د رییس او ویاند په توګه دنده سرته رسوله، کله چې طالبانو د استاد رباني حکومت له کابله پورته کړ، نو عبدالله عبدالله لومړی د استاد رباني د ګرځنده حکومت د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال او بیا یې د وزیر په توګه دنده پرمخ وړله او دغه راز یې د طالبانو پر ضد د خپلې شمال جبهې د ویندویۍ چارې هم پرمخ وړلې. د بن تر کنفرانس وروسته ډاکتر عبدالله عبدالله د بهرنیو چارو د وزیر په توګه غوره شو او د انتقالي دورې ترپایه پورې پر دې دنده پاتې شو. عبدالله عبدالله دا مهال له بهرنیو پوځونو سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(MTA) تړون لاسلیک کړ چې د هغه له مخې د افغانستان د ځمکې او هوا ټول کنټرول د بهرنیو پوځیانو لاس ته ولوېد، عبدالله عبدالله او شمالټلوالې ته د دې تړون له امله نړیوالو ځواکونو زیات سیاسي، اقتصادي او پوځي امتیازات ورکړل، د دې تړون له مخې بهرنیو پوځیانو حق درلود چې د هر افغان کور ته له کومې پوښتنې، ګرویږنې او قانوني مجوز پرته ورننوځي، هغوی ونیسي، ویې تړي، ویې وژني او په خپلو زندانونو کې یې بندیان کړي. دې تړون ته افغانان د کرکې په سترګه ګوري، ټول ملت ورڅخه زیانمن شو، خو عبدالله عبدالله او ډلې یې په کې زیاته ګټه وکړه. ډاکتر عبدالله عبدالله پر (۲۰۰۹م) کال د ولسمشرۍ ټاکنو لپاره ځان نوماند کړ او تر حامدکرزي وروسته یې دویمه رایه راخپله کړه. د عبدالله عبدالله ژوند څو پړاوونه لري: تر تنظیمواکۍ مخکې مرحله چې عبدالله په کې ډېر مطرح نه و، تنظیمواکي او کورني جنګونه چې دی په کې د یوې جنګي ډلې د ویاند په توګه مطرح شو او ځینې دولتي دندې یې تر سره کړې او د طالبانو تر سقوط وروسته پړاو چې دی په کې د یوې یادې سیاسي څېرې په توګه مطرح شو.


عبدالله عبدالله د سیاسي او ټولنیزو اړیکو د پاللو له پلوه د مهارت څښتن دی، د یوه سیاستپوه په اند‌ول زیات سیاستوال دی، علمي کچه یې هم متوسطه ده، خو له دې منځني حالت څخه هم د ځان او خپلې ډلې لپاره د زیات امتیاز اخیستلو جوګه دی. افراطي مسلمان نه دی، د تفاهم روحیه یې قوي او څرګنده ده، هر چا سره ژر جوړ جاړي ته رسېدلای او خپله ماضي ژر هېرولای شي. د بهرنیو چارو د وزارت پر مهال یې یاد وزارت د نظار شورا له افرادو ډک کړ، یوازې له پنجشېر درې څخه یې (۱۱۴) تنه پر مهمو پوستونو وګومارل.

**۲۳- ډاکتر رنګین دادفر سپنتا:** ډاکتر سپنتا پر (۱۹۵۳م) کال د افغانستان په هرات ولایت کې زېږېدلی دی، په هېواد کې تر لومړنیو او ثانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړو وروسته یې لوړې زده کړې کړي، بیا د نورو لوړو زده کړو لپاره المان ته تللی او بیا یې د دوکتورا تر کچې پورې خپلې لوړې زده کړې بشپړې کړي دي. سپنتا د ښوونځي او پوهنځي یا تعلیم او تحصیل په دوران کې چپي افکار راخپل کړل او تر دې دمه پورې خپل افکار پالي. کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو سپنتا کابل ته راغی او دلته یې یو شمېر مدني او سیاسي فعالیتونه پیل کړل. لږ وروسته د قیوم کرزي او یو شمېر نورو اشخاصو په واسطه له حامدکرزي سره نږدې شو او هغه لومړی په بهرنیو چارو کې د خپل مشاور په توګه مقرر کړ او بیا یې د بهرنیو چارو وزارت ته نوماند کړ. ډاکتر سپنتا له ولسي جرګې څخه باور رایه ترلاسه کړه، خو وروسته بیا له ایران څخه د افغان کډوالو د جبري ایستلو پر مسئله له ولسي جرګې سره په جنجال کې کېوت او هغوی خپله باور رایه ترې بېرته واخیسته، کرزي هغه تر ډېر وخته په خپل موقف کې وساته، خبره ان تر سترې محکمې هم ورسېده، خو ولسي جرګه پر خپلې پرېکړې ټینګه



(ډاکتر دادفر سپنتا)

ودرېده، د کرزي او ولسي جرګې تر منځ په دې اړه مناسبات ډېر ترینګلي شول، خو کرزي بیا هم هغه پر خپل ځای وساته او تر ډېر ځنډ وروسته یې د ملي امنیت د مشاور په توګه وګوماره.

څرنګه چې د ډاکتر سپنتا په باب مې په نورو بحثونو کې څرګندونې کړي، نو نه غواړم دا بحث دلته نور پسې وغځوم. په لنډیز سره ویلای شم چې سپنتا، چپي تمایلات لري، له فارسي ژبې سره یې بې کچې مینه ده، مذهبي تمایلات نه لري، قومي تمایلات یې شته، خو د ژبنیو په اندول نه، جهادي او قومي افراطي ډلې یې نه خوښېږي، په تېره بیا پښتانه ملتپال

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرکتونه، د حکمتیار له اسلامي حزب او د طالبانو له حرکت سره سخت مخالفت لري، اسلامي جمعیت یې هم نه خوښېږي، خو د تفاهم لاره ورسره نیولای شي. له استاد سیاف سره هم چندان جوړ نه دی، له شیعه ډلو سره هم ډېره خواخوږي نه لري، پر خپلو چپي افکارو تر اوسه هم ټینګ ولاړ دی. سیاسي واقعیتونه ښه درک کولای شي، په اداري فساد او مالي درغلیو کې لاس نه لري، کله کله پرې فکر او کله هم پرې احساسات غلبه کوي. د احساساتو د غلبې پر مهال یې پټ سیاسي افکار په ښه ډول څرګندېدلای شي.


(ډاکتر زلمی رسول)

## ۲۴- ډاکتر زلمی رسول:

ډاکتر زلمی رسول په خټه محمدزی، پښتون دی، پر (۱۹۴۳م) کال په کابل کې زېږېدلی دی. زلمی رسول د همغو محمدزیو له جملې څخه دی چې په خپله ژبه (پښتو) پوره نه پوهېږي، پوره مې ځکه ورته استعمال کړه چې بل څوک پښتو وایي پرې پوهېږي، خو په خپله پرې بل څوک نه شي پوهولای، په دې مانا چې دی خپله پښتو سمه نه شي ویلای. د ژبې له اساسي برخو (افهام او تفهیم) څخه یې د (افهام) برخه بشپړ ده، خو د (تفهیم) نه. زلمی رسول د بن تر کنفرانس وړاندې له هېواد څخه بهر اوسېده او په طب ځانګه کې یې خپلې لوړې زده کړې تر سره کړې دي. په دري، انګلیسي او فرانسوي ژبو پوهېږي. د بن تر کنفرانس وروسته د ملکي هوایي چلند د وزیر په توګه غوره شو. تر هغه وروسته په امنیتي چارو کې د ولسمشر سلاکار او د ملي امنیت شورا دفتر د رییس په توګه منتصب شو او بیا د بهرنیو چارو د وزیر په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب شو.

ډاکتر زلمی رسول اساساً یو ملي سړی دی، ملي او هېوادني افکار لري، یو بې غرضه او بې مرضه سړی دی، هېچاته یې بد نه رسي، که ګټه یې ورسوله رسوي یې که نه نو د ضرر سړی نه دی. په اداري فساد ککړ نه دی، خو پر سیاسي او اداري مدیریت یې نیوکې کېدی شي. د ډاکتر زلمي رسول په باب مې په نورو برخو کې هم بحثونه کړي، نه غواړم د هغه په باب دا بحث نور پسې اوږد کړم، خو په لنډیز سره ویلای شم چې زلمی رسول د کرزي په ټوله واکمنۍ کې د هغه تر ټولو نږدې کس و، چې تل له هغه سره په کورنیو او بهرنیو سفرونو، غونډو او ناستو کې ملګری پاتې شوی، تل یې د هغه خبره منلې او هېڅکله یې د هغه یوه خبره هم رد کړې نه ده.

۲۵- ضرار احمد مقبل عثماني: ضراراحمد مقبل پر (۱۳۴۲ل) کال په پروان ولایت کې زېږېدلی دی. تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته د کابل پولي تخنیک محصل شو، دا پوهنځی یې لا سمستر دوه نه و لوستی چې د مجاهدینو له لیکو سره یوځای شو. لومړی یې د (احمدشاه مسعود) نظار شورا سره اړیکي پیدا کړل او بیا یې د جمعیت له نورو غړو سره اړیکي ټینګ کړل. پر (۱۳۷۷ل) کال چې ټول کابل او د افغانستان (۹۵) سلنه خاوره د طالبانو په واک کې وه، ضراراحمد مقبل د اسلامي جمعیت تنظیم له خوا په تهران کې د افغانستان سفارت د لومړي سکرتر په توګه دنده اجراکوله. کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو ضراراحمد مقبل کابل ته راغی او دلته د انتقالي اداري د مشر له خوا د پروان د والي په توګه مقرر شو، پر (۱۳۸۴ل) کال بیا د کورنیو چارو وزارت د امنیتي مرستیال په توګه وټاکل شو او پر (۱۳۸۵ل) کال د کورنیو چارو وزارت ته نوماند شو. د ده د نوماندۍ پر وخت ده ته د لیسانس دورې اسناد په کار وو. څرنګه چې له ده څخه پر (۱۳٦٦ل) کال یانې د تحصیل پر لومړي کال پوهنځی پاتې شوی و، نو ده بیا تحصیل ته وخت نه و پیداکړی، څرنګه چې د اساسي قانون له مخې وزیر باید لږ تر لږه د لیسانس

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپلوم ولري، نو ضرار احمد مقبل هم مجبور شو، په عاجل ډول داسې اسناد جوړ کړي چې له ورایه پرې د جعل شک کېدلای شو. (د پروان پیداګوژۍ انستیتیوت) څخه یې د فراغت داسې اسناد جوړ کړل چې د تحصیلي دورې کلونو یې په کورنیو چارو وزارت کې د معینیت له مهال سره ټکر درلود. دا په داسې حال کې ده چې یاد انستیتیوت د شپې پوهنځی هم نه درلود چې ده ته په کې د تحصیل پلمه او زمینه برابره شوې وای. مقبل صیب هم په رسمي وخت کې د کورنیو چارو وزارت مرستیال او هم د پروان پیداګوژۍ انستیتیوت محصل و. دا نو په افغانستان کې یوازینۍ استثنایي پېښه وه چې په څرګند ډول یې په اسنادو کې نیمګړتیا ښکارېدله.

بله عجیبه خبره لا دا وه چې د پروان پیداګوژۍ انستیتیوت نه کوم رسمي دپلوم، نه کوم رسمي برۍ لیک او نه هم کوم داسې سند، چې د تحصیلي موسسو له نورمونو سره سمون وخوري، ده ته ورکړی و، د انستیتیوت مشر ورته یوازې پر ساده او سپین کاغذ لیکلي وو چې ((زه تصدیق کوم ضراراحمد مقبل د پروان پیداګوژۍ انستیتیوت څخه فارغ دی.)) دا سند بیا د لوړو زده کړو وزارت هم


(ضرار احمد مقبل عثماني)

تصدیق نه کړ، خو مقبل صیب د فراغت له همدې سند سره ولسي جرګې ته معرفي شو. په یاده جرګه کې له څو تنو وکیلانو پرته نورو اکثرو پرې د تائید مهر ولګاوه او نوموړی د کورنیو چارو د وزیر په توګه منتخب شو. نه یوازې ضراراحمد مقبل، بلکې د اسلامي جمعیت نورو نوماندانو هم په تحصیلي اسنادو کې ورته ستونزه لرله، خو څرنګه چې یاد تنظیم په حکومت کې بشپړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



واک درلود، نو ځکه خو یې څوک په تحصیلي نیمګړتیاوو پسې ډېر ونه ګرځېدل.

ضراراحمد مقبل بیا په همدې تحصیلي اسنادو د مخدره موادو پرضد د مبارزې وزارت ته هم منتخب شو او تر دې وروسته بیا د بهرنیو چارو د وزیر په توګه هم غوره شو. ضراراحمد مقبل د ډاکتر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال د بهرنیو چارو وزارت تر وزیر (عبدالوکیل) وروسته د افغانستان د بهرنیو چارو د وزارت په تاریخ کې دویم شخص و چې نه پر کومه نړیواله بهرنۍ ژبه پوهېده او نه یې د هېواد په ملي او رسمي ژبه (پښتو) روان تکلم کولای شو، خو هم یې په داخل کې د افغانستان استازیتوب کولای شو او هم یې په بهر کې: (یو وخت د کورنیو چارو وزیر او بل وخت بیا د بهرنیو چارو وزیر و). دی یو بې ژبې، غلی او ارام شخص و، له کرزي سره یې نږدې اړیکي درلودل، نو یو شمېر غټ او واړه عیبونه یې دې رابطې او یو شمېر نور عیبونه یې (جهاد) او (مقاومت) پټ کړي وو. که دا دوه ځانګړنې نه وای، نو خدای خبر چې یو څوک دې په دې کیفیت او دومره تحصیلي نیمګړتیاوو سره دومره ژر دې ډول مقامونو ته ورسېږي. د ده په واکمنۍ کې په یادو وزارتونو په تېره بیا د کورنیو چارو وزارت کې اداري فساد زیات شو، د امنیه قومندانیو مقامونه په چورلټ ډول خرڅېدل او هم په اجاره ورکول کېدل. ضراراحمد مقبل په یاد وزارت کې د (جنرال علي احمد جلالي) ځایناستی و، د ده او هغه په علمي سویه او مسلکي پوهه کې څرګند توپیر لیدل کېده.

ضرار احمد مقبل له خپلو ځینو نیمګړتیاوو او تحصیلي کمیو سره سره یو لړ ښېګڼې او ښې ځانګړنې هم درلودلې. دی یو بې تعصبه شخص و، هڅه یې کوله چې قومي تعصبات له کورنیو چارو وزارته لرې کړي، د پنجشېر درې واکمني یو څه راکمه کړي، تنظیمي حساسیتونه هم را ونه پاروي، یو څه اصلاحات یې هم راوړل، خو پوره او کافي نه وو. پلار یې هم د خپلې سیمې بانفوذه سړی و، د اعلیحضرت د واکمنۍ پر مهال په ولسي جرګه کې د پروان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو استازی و. په خپله سیمه کې په نسبي ډول یاده او ښاده کورنۍ ده. بل ورور یې (خواجه صدیق احمد عثماني) د ولسي جرګې په همدې (۱۵) او (۱٦)مه دوره کې د پروان د خلکو استازی شو. ضراراحمد مقبل پر کرزي خورا ګران و، څو ځله یې هغه ته د یوه ګوند د جوړولو چارې هم وسپارلې، خو دی یې پر جوړولو بریالی نه شو. مقبل د خپلې واکمنۍ په بهیر کې د لسګونو ملیونو ډالرو څښتن شو، په دوبۍ او ځینو نورو ځایونو کې یې پراخ جایدادونه راونیول. له شخصي او فامیلي پلوه ضراراحمد مقبل په ښو خلکو کې حسابېږي، خو که ووایو چې له علمي او اداري پلوه دی یو ډېر رسېدلی او ډېر باکفایته شخص و، نو په دې کې به مو د عدالت د دقیق بیان او خپل وجدان پر وړاندې څه ناڅه غاړه بنده شي. د کرزي صیب د کابینې د ډول ډول اشخاصو او عجایبو له جملې څخه یو هم همدا ضراراحمد مقبل صاحب دی. دی له ټولنیز پلوه د کرزي په شان ډېر ښه سړی و، خو له اداري پلوه بیا په قوي دریځ کې نه و.

۲٦- ډاکتر فاروق وردګ: ډاکتر فاروق وردګ د کرزي په حکومت کې هغه ته نږدې او له ډېرو فعالو وزیرانو څخه ګڼل کېږي. ده په فارسي ځانګه کې خپلې لوړې زده کړې تر سره کړي دي، د کډوالۍ پر مهال یې پر سویډن موسسې سربېره په یو شمېر نورو خیریه موسسو کې هم کار کړی دی.



(ډاکتر فاروق وردګ)

د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته کابل ته راغی، لومړی د اساسي قانون د تدقیق کمېسیون د دارالانشا د رییس په توګه مقرر شو، بیا د ولسمشرۍ تر لومړنیو ټاکنو دمخه د انتخاباتو د ګډ کمېسیون د دارالانشاء رییس شو، کله چې حامدکرزی ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شو، نو فاروق وردګ یې د جمهوري ریاست د چارو د ادارې د لوی رییس او همدارنګه د وزیرانو شورا د دارالانشاء د مشر په توګه غوره کړ. کله چې د ولسي جرګې ټاکنې تر سره شوې نو ډاکتر فاروق وردګ ته د پارلماني چارو د وزیر دنده هم ورکړل شوه.**

**فاروق وردګ د اساسي قانون د دارالانشاء د رییس په توګه هم خپله دنده په ښه ډول تر سره کړه او د دې ترڅنګ یې د پاکستان او افغانستان تر منځ د امن د ګډې جرګې د دارالانشاء د رییس په توګه هم کار وکړ.**

**ډاکتر فاروق وردګ د کرزي د ولسمشرۍ په دویم پړاو کې د پوهنې د وزیر په توګه ونوماند او له ولسي جرګې یې د باور رایه ترلاسه کړه. څرنګه چې د ډاکتر وردګ په باب مې په بل ځای کې تفصیلي خبرې کړي، نو نه غواړم دلته دا لیکنه لاپسې وغځوم، په لنډیز سره ویلی شم چې دی د اسلامي او ملي افکارو خاوند او یو ښه مدیر دی، خو د خپل مقام د ساتلو لپاره له ډېر احتیاط او جوړجاړي څخه کار اخلي.**

**۲۷- سید امیر شاه حسن یار: سید امیر شاه حسن یار پر (۱۳۲۱ل) کال د بامیانو ولایت په (پنجاب) ولسوالۍ کې زېږېدلی، تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته یې د کابل پوهنتون د کرنې له پوهنځي څخه د لیسانس دپلوم ترلاسه کړی، بیا امریکا ته تللی او هلته یې په خپله یاده څانګه کې د ماسترۍ او دوکتورا دپلومونه اخیستي**



(پوهاند سید امیر شاه حسین یار)

**دي. (پوهاند سیدامیر شاه حسن یار) په امریکا کې تر تحصیل وروسته بېرته خپل هېواد ته راستون شو او دلته د کابل پوهنتون په کرنې پوهنځي کې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاد په توګه مقرر شو. کله چې د ډاکتر نجیب الله حکومت سقوط شو او د کابل پوهنتون ساحه (د اسلامي وحدت حزب) د ځواکونو لاس ته ولوېده، نو حسن یار د یاد تنظیم له خوا د کابل پوهنتون د رییس په توګه د وخت حکومت ته ور وپېژندل شو. سیدامیر شاه حسن یار د تنظیمي جنګونو پر مهال د کابل پوهنتون د رییس په توګه ډېرې سختې شپې او ورځې تېرې کړې. دی د خپلې ځانګې یو پوه او متخصص کادر و. د طالبانو د نظام په راتګ سره یې ځای (مولوي پیرمحمد روحاني) ونیو، کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو او بیا د انتقالي ادارې وخت راورسېد، نو پوهاند سیدامیرشاه حسن یار یو ځل بیا د اسلامي وحدت ګوند له خوا د لوړو زده کړو وزارت ته ونوماند شو او د انتقالي ادارې ترپایه یې دې دندې ته دوام ورکړ. د لوړو زده کړو وزارت د تصدۍ پر مهال پوهاند امیرشاه حسن یار ورو ورو خپل قومي تمایلات څرګند کړل او د وحدت حزب د نورو غړو په شان یې قومي اجنډا وړاندې کړه. که څه هم پوهاند امیرشاه حسن یار په کابل کې تر تنظیمي اړو دوړ دمخه د یوې علمي او اکاډمیکې څېرې په توګه مطرح و، خو د تنظیمواکۍ او بیا د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته یې قومي تمایلات زیات څرګند شول او اکاډمیک مرکزونو ته یې هم یاد تمایلات ور داخل کړل. د پوهنتون د ریاست پر مهال د پوهاند حسن یار د کار موده په تنظیمي جنګونو کې تېره شوه او د انتقالي ادارې پر مهال یې په وزارت کې د کار موده په چټکو سیاسي بدلونونو کې ختمه شوه، نو ځکه یې کابل پوهنتون او لوړو زده کړو وزارت ته داسې تلپاتې کارونه ونه کړای شول چې هغه دې د حسن یار صیب په حسناتو کې حساب شي.


(c) ketabton.com: The Digital Library




(شریف فایض)

**۲۸- شریف فایض:** شریف فایض د لوړو زده کړو خاوند دی. د طالبانو نظام تر سقوط وړاندې په امریکا کې اوسېده او کله چې یاد نظام ړنگ شو، نو شریف فایض هم لکه د یو شمېر نورو لویدیځ مېشتو افغانانو په شان کابل ته راغی، ده چې له شمالټلوالې په تېره بیا له (نظار شورا) سره نږدې اړیکې درلودل او قومي تمایلات یې په ډاگه څرگند وو، نو د یادې ټلوالې له خوا د موقت حکومت پر مهال د لوړو زده کړو د وزیر په توگه غوره شو. فایض که څه هم ډېره موده په یاد وزارت کې پاتې نه شو، خو قومي تعصب او تنگنظري یې پرځای پاتې شوه. شریف فایض وروسته د لوړو زده کړو وزارت له مقامه لرې شو او بیا په کابل کې د امریکایي پوهنتون د رییس په توگه وټاکل شو.

**۲۹- ډاکتر محمد اعظم دادفر:** محمد اعظم دادفر پر (۱۳۲۵ل) کال د جوزجان ولایت په اندخوی ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. پر (۱۳۴۴ل) کال له ښوونځي او پر (۱۳۵۲ل) کال د کابل طب پوهنځي څخه فارغ شوی او تر هغه وروسته بېرته د طب پوهنځي د استاد په توگه مقرر شوی دی. د (۱۳۵۷ل) کال د ثور د اوومې نېټې تر پېښې وروسته د یو څه وخت لپاره زنداني شوی، تر زندان وروسته پر (۱۳۵۹ل) کال پاکستان او تر هغه وروسته پر (۱۳۶۰ل) کال المان ته کډوال شوی دی.


(ډاکتر محمد اعظم دادفر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکتر دادفر نږدې شل کاله په المان کې پاتې شوی او د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته یوځل بیا هېواد ته راستون شو. د بېړنۍ لويې جرګې غړی او بیا د يادې جرګې دويم مرستيال شو. ما (یون) له ښاغلي دادفر سره په همدې جرګه کې وپېژندل او د ده له نظرياتو او تمايلاتو څخه څه ناڅه خبر شوم. ښاغلی دادفر بیا د ولسمشر کرزي په لومړۍ انتخابي دوره کې د لوړو زده‌کړو د وزیر په توګه نوماند شو او له ولسي جرګې څخه يې باور رايه واخیسته. ډاکتر محمداعظم دادفر د وزارت پر مهال په نورمال ډول خپلې دندې ته دوام ورکاوه، نه يې په کوم ستر نوښت لاس پورې کړ او نه هم داسې و چې هېڅ کار يې نه وي کړی، البته کوم مهال چې ډاکتر دادفر وزير و، هغه مهال پر افغانستان د پيسو باران و، خو ده لکه د دولت د نورو چارواکو په شان له دې چانس څخه اعظمي ګټه پورته نه کړه.

تر وزارت وروسته ډاکتر محمد اعظم دادفر په سیاسي او دولتي کارونو کې ډېر زيات مطرح نه و، البته د ولسمشرۍ د ټاکنو په دويم کمپاين کې يې د کرزي ملاتړ وکړ، خو دا ملاتړ له ډېر زيات ولسي ملاتړ سره ملګری نه و. ښاغلی سرمحقق زلمی هېوادمل د هغو کسانو له جملې څخه و چې د ډاکتر دادفر زيات ملاتړ يې کاوه، که د هېوادمل صيب ملاتړ نه وای، نو کېدی شول ډاکتر دادفر لوړو دولتي پوستونو ته نه وای رسېدلی. ډاکتر دادفر له خپلو ځينو چپي او قومي تمايلاتو سره سره بیا هم هېواد ته کوم غټ خطر او ضرر پېښ کړی نه دی. په مجموعي ډول د ده مثبت کارونه د ده تر نيمګړتياوو زيات او ګټور وو.



(پوهاند عبیدالله عبید)

**۳۰- پوهاند عبیدالله عبید:**

عبیدالله عبید اصلاً د پروان ولايت اوسېدونکی دی. تر ابتدايي او ثانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زده کړو وروسته د کابل طب پوهنځي محصل شو او له همدې پوهنځي څخه یې د ماسترۍ سند ترلاسه کړ او وروسته بیا په همدې پوهنځي کې استاد شو، تر پوهاندۍ علمي رتبې پورې یې په ترتیب سره په همدې پوهنځي کې، چې وروسته بیا پوهنتون شو، خپلې علمي رتبې واخیستې.

پوهاند عبید وروسته د کابل طبي پوهنتون رییس شو او تر هغه وروسته بیا په ټولنیزو چارو کې د ولسمشر کرزي مشاور شو. پوهاند عبید په بېړنۍ لویه جرګه او د اساسي قانون په لویه جرګه کې د یادو جرګو غړی شو او همدارنګه په تهران کې یې د افغانستان د سفیر په توګه دنده اجرا کړې ده. د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ په دویمه دوره کې پوهاند عبید د لوړو زده‌کړو وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرګې څخه یې باور رایه ترلاسه کړه.

څرنګه چې پوهاند عبید نږدې شل کاله په یوه علمي محیط کې کار کړی و، نو د وزارت له کارونو سره مخکې تر مخکې اشنا و، ده د ابادۍ له کارونو سره ډېره لېوالتیا لرله. طبي پوهنتون کې یې خورا ډېره رغونه او نوې جوړونه کړې، کله چې څوک طبي پوهنتون او د هغه ملحقاتو ته داخل شي، نو جوړونکي ته یې د زړه له کومې دعا راځي. دا چې دا پیسې له کومه شوې او څرنګه لګول شوي، د هغوی حساب او کتاب جلا دی، خو څوک چې وروستۍ نتیجه ګوري، نو سړي ته د یوې مثبتې پایلې په توګه څرګندېږي. که نورو خلکو هم د خپل کار وروستۍ نتیجه په دې توګه وړاندې کړې وای، نو څوک به یې پر ماقبلو کارونو پسې ډېر نه ګرځېدل. پوهاند عبیدالله عبید چې کله د وزیر په توګه وټاکل شو، نو د نوې جوړونې او بیا رغونې په برخه کې یې ډېرې هڅې وکړې، هم د مرکز او هم د ولایتي پوهنتونونو په کچه رغونه تر سره شوه، د ده په وخت کې د محصلینو او پوهنتونونو شمېر زیات شو؛ هم دولتي پوهنتونونه او هم خصوصي پوهنتونونه زیات شول. له یوشمېر بهرنیو پوهنتونونو سره د هېواد د پوهنتونونو اړیکي بیا ورغول شول او نوي اړیکي هم ټینګ شول. په مجموعي ډول د تحصیلي ډګر په بېلابېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



برخو کې مثبت پرمختګونه راغلل، خو دا په دې مانا نه ده چې د ډاکټر عبید په کارونو کې نیمګړتیاوې نه وې او یا هم څرګندې نه وې. عبیدالله عبید که څه هم په علمي محیط کې رالوی شوی، خو له جنګسالارانو او جګړه ییزو تنظیمونو سره یې اړیکي هم څرګند دي، د همدې ډلو او اشخاصو وړاندیز او ملاتړ و چې دی یې دې مقام ته ورساوه. د ده د واکمنۍ پر مهال د هغو د مشروع او نامشروع غوښتنو تجلا له ورایه محسوسه وه. د دې ترڅنګ په وزارت کې مالي او اداري فساد هم له سترګو پټ نه و. د وزارت کلنۍ انکشافي بودیجه هم پوره پوره نه مصرفېدله، له دولتي امکاناتو څخه شخصي او تنظیمي ګټه هم پورته کېدله، خو له دې ټولو نیمګړتیاوو سره سره عبیدالله عبید پر خپلو کارونو واکمن و، سیاسي ملاتړ هم ورسره و، هم یې د اسلامي جمعیت او هم یې د ولسمشر کرزي ملاتړ درلود. د همدغو ملاتړونو له امله په چارو کې د ده لاس ازاد و، ده له همدغه موقعیت څخه په ګټې اخیستنې یو لړ داسې کارونه تر سره کړل چې د هېواد تحصیلي ډګر ته ضروري او ګټور وو.

۳۱- سرور دانش: سرور دانش تر خپلو لومړنیو زده کړو وروسته پر سیاسي فعالیتونو لاس پورې کړی. وروسته یې د اسلامي وحدت ګوند غړیتوب ترلاسه کړی، د سیاسي فعالیتونو ترڅنګ یې له هېواد څخه بهر خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړی دی. په عراق، ایران او سوریه کې یې په حقوقو، فقهې او اسلامي معارف څانګو کې خپلې زده کړې تر سره کړي دي. ویل کېږي چې د سیاسي فعالیت او تحصیل له زمانې څخه یې د ایران له سیاسي کړیو سره نږدې اړیکي درلودل. د تنظیمواکۍ پر مهال یې د پوهنتون استادي کوله. د طالبانو نظام تر ړنګولو وروسته، د


(قانونپوه سرور دانش)


(c) ketabton.com: The Digital Library



**ببېړنۍ لویې جرگې غړی و، دغه راز د اساسي قانون د تسوید او تدوین کمېسیون غړی او د اساسي قانون د لویې جرگې غړی و. کله چې د حامدکرزي له خوا (دایکندي) ولایت د یو فرمان په نتیجه کې جوړ شو، نو سرور دانش یې د لومړني والي په توگه غوره کړ. وروسته بیا د کرزي له خوا نوموړی د عدلیې وزارت ته نوماند شو، خو ولسي جرگې باور رایه ور نه کړه، دا په افغانستان کې لومړی ځل و چې په اکثریت سني مذهبه ټولنه کې شیعه مذهبی د عدلیې د وزیر په توگه غوره کېده.**

**تر هغه وروسته سرور دانش د لوړو زده کړو وزارت ته نوماند شو، تر باور رایې وروسته دلته د وزیر په توگه پاتې شو، بیا یې د سترې محکمې د عالي شورا د غړي په توگه نوماند کړ، هلته هم ولسي جرگې باور رایه ور نه کړه. سرور دانش شیعه اسلامي افکار لري، قومي رنگ پرې هم له ورایه څرگند او غالب دی. د وزارت او نورو دولتي څوکیو پر مهال یې هېڅکله هم خپل مذهبي او قومي احساسات کابو نه کړای شول. د لوړو زده کړو وزارت پر مهال په کانکور او تحصیلي بورسونو کې تر حده زیاته ناانډولي او بې عدالتي موجوده وه. سرور دانش که څه هم یو ژور دیني عالم او حلیم شخص دی، خو دی د خپلې واکمنۍ پر مهال هېڅکله پر دې بریالی نه شو چې د تنظیمي او قومي دایرې له حدودو را ووځي او د ټول افغان ولس باور راخپل کړي.**

**۳۲- حبیب الله غالب:**



(حبیب الله غالب)

**حبیب الله غالب پر (۱۳۱۹ل) کال د کاپیسا ولایت په (کوهستان) ولسوالۍ کې زېږېدلی دی، تر لومړنیو او ثانوي زده‌کړو وروسته د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي کې شامل او پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۳۴۱ل) کال یې له نوموړي پوهنځي څخه د لیسانس دپلوم ترلاسه کړی دی. پر (۱۳۵۲ل) کال یې د قانون او پرتلیزې فقهې په برخه کې د ماسترۍ سند ترلاسه کړ، تر هغه وروسته بیا پاکستان ته کډوال شو. کله چې د ډاکتر نجیب الله حکومت ړنګ شو، نو غالب هم د یو شمېر نورو مجاهدینو په شان کابل ته راغی. دا مهال په کابل کې ډېر جنګونه وو، خو څرنګه چې د واک اصلي کیلي اسلامي جمعیت سره وه او غالب صیب هم د اسلامي جمعیت غړی و، نو اسلامي جمعیت خپلو ټولو غړو ته ویلي وو چې باید کابل ته راشي او دلته دولتي څوکۍ اشغال کړي. غالب هم پر (۱۳۷۲ل) کال کابل ته راغی او دلته د لویې څارنوالۍ د مرستیال په توګه منتصب شو. غالب بیا د طالبانو نظام تر ړنګولو وروسته بېرته پر بېلابېلو دولتي څوکیو کار وکړ، خو د حامدکرزي د ولسمشرۍ په دویمه دوره کې د اسلامي جمعیت د غوښتنې او تنظیمي وېش له امله نوموړي ته د عدلیې وزارت په وېش کې ورسېد. حامدکرزي نوموړی عدلیې وزارت ته نوماند کړ او ولسي جرګې هم په دې خاطر چې سپین ږیری دی، د نرم طبیعت خاوند دی او کوم لوري ته ترې زیات زیان متصور نه دی، باور رایه ورکړه. غالب که څه هم پخواني تنظیمي تمایلات درلودل، خو د سن د زیاتوالي او په حکومت کې د قواوو د نسبي انډول له مخې یې تنظیمي لېوالتیاوې ډېرې څرګندې نه کړې. د ملي هویت په تذکرو کې یې د (افغان) کلمې د لیکلو د مخنیوي لپاره خپلې هلې ځلې وکړې. د غالب د واکمنۍ په وخت کې عدلیې وزارت کوم ځانګړی پرمختګ ونه کړ، د قوانینو په سریع جوړونه او اسنادو کې هم کوم پرمختګ ونه شو. کارونه اکثره په کلاسیک ډول پرمخ وړل کېدل او د ورځنیو کارونو میتود هم کلاسیکه او دودیزه بڼه درلوده.

حبیب الله غالب پر (۱۳۹۲ل) کال د ورپېښې ناروغۍ له امله له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

**۳۲- امیرزی سنګین:** د ولسمشر کرزي په دواړو دورو کې له کاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وزیرانو څخه یو هم امیرزی سنګین دی. ښاغلی سنګین اصلاً د پکتیکا ولایت اوسېدونکی دی. تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته یې لوړې زده کړې کړې دي. په لندن کې یې د برېښنا او ارتباطاتو په څانګه کې لوړې زده کړې تر سره کړي او تر هغه وروسته یې په سویډن او ځینو نورو هېوادونو کې په معتبرو مخابراتي کمپنیو کې کار کړی دی.**



(امیرزی سنګین)

**د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته بېرته هېواد ته راستون شو، په پیل کې د مخابراتو وزارت ستر مشاور و او همدارنګه د افغان ټیلیکم د مخابراتي شرکت اجرایوي رییس شو. د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د مخابراتو وزارت ته نوماند شو، دوه ځله د یاد وزارت د وزیر په توګه منتخب شو، خو دې منځ کې یو ځل ولسي جرګې خپله باور رایه ور نه کړه، خو دویم ځل چې بیا معرفي شو نو بیا یې باور رایه واخیسته.**

**امیرزی سنګین د همغو وزیرانو له جملې څخه دی چې نږدې (۱۳) کاله یې وزارت وکړ. په دې وزارت کې د زیات وخت لپاره د پاتې کېدو یو علت دا و چې دی یو کاري انسان و، نه یې کوم تنظیم پورې اړه لرله او نه یې هم په سیاسي مسایلو کې ګوتې وهلې. یاد وزارت یوازینی وزارت و چې تر لګښت یې ګټه زیاته وه، هر کال یې نږدې (۱۷۰) ملیونه ډالره ګټه راوړله، په لسګونو زره افغانانو ته یې د کار زمینه برابره کړې وه. امیرزی د ولسمشر او د هغه د مرستیالانو په هېڅ ډول کار کې د نظر ورکولو هڅه نه کوله، د کابینې له غونډو پرته ان په شپږو میاشتو کې هم ده یو ځل ولسمشر نه شو لیدلای. د یوه مسلکي وزیر په توګه یې خپلو ورځنیو کارونو ته دوام ورکاوه. افغانستان په هېڅ برخه کې دومره پرمختګ نه دی کړی، لکه په مخابراتي برخه کې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې (۱۷) ملیونه افغانان ټلیفون ته لاسرسی لري، په دې برخه کې افغانستان تر ځینو ګاونډیو هېوادونو دمخه او د اسانتیاوو له پلوه ان له ځینو پرمختللو هېوادونو سره هم سیالي کولای شي. په مخابراتي برخه کې په حقیقت کې یو انقلاب رامنځته شو، خو دا انقلاب په طبیعي ډول خپلې نیمګړتیاوې او عیبونه لري. قیمتونه لا هم ډېر لوړ دي، د کنټرول لپاره د شفاف میکانیزم نشتوالی، تر یوه معین وخته د ځینو شرکتونو انحصار، په ځینو برخو کې اداري او مالي فساد هغه عیبونه وو چې له دې انقلاب سره ملګري وو. د (نوري فایبر) پروژه لکه څنګه چې یې ژمنه شوې وه، پر خپل وخت او خپل څرنګوالي عملي نه شوه او یو لړ نور مشکلات.

خو له یو شمېر نیمګړتیاوو سره سره د کرزي په ټوله واکمنۍ کې د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت یو بریالی وزارت و، که ټولو وزارتونو او ټولو وزیرانو په دې ډول ناپېیلی او مسلکي کار کړی وای، نو پوره باور دی چې هېواد به ډېر پرمختګ کړی وای.

**۳۳- جنرال خدایداد هزاره:** جنرال خدایداد هزاره د افغانستان له مسلکي پوځي کادرونو څخه دی. ده په هېواد کې تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته د هندوستان په حربي پوهنتون کې لوړې پوځي زده کړې سرته رسولې دي. د ډاکتر نجیب الله د حاکمیت پر مهال یې لومړی پوځي دنده تر سره کړې او د حکومت له مخالفینو سره جنګېدلی دی. د نجیب الله د حکومت


(جنرال خدایداد هزاره)

تر ړنګېدو وروسته اروپا ته کډوال شوی او هلته یې په یو لړ سیاسي او علمي غونډو کې ګډون کړی، کله چې د طالبانو نظام ړنګ شو، نو جنرال خدایداد هزاره هم لکه د نورو هېوادوالو په شان هېواد ته راستون شو، د بېړنۍ لویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جرگې د غړي په توگه يې په یاده جرگه کې گډون وکړ، د کرزي د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت ته نوماند شو او ولسي جرگې د باور رایه ورکړه، وروسته بیا په دویمه دوره کې بیا یاد وزارت ته غوره شو، خو ولسي جرگې دا ځل باور رایه ور نه کړه. جنرال خدایداد، چپي افکار درلودل او د خلک دیموکراتیک گوند د (خلقي څانگې) غړی و، خو اوس یې پخواني چپي افکار دومره پاتې نه دي، ملي فکر لري، خو د کرزي په واکمنۍ کې یې څوکۍ د قومي وېش له امله ورته په برخه شوې ده. جنرال هزاره د خپلې واکمنۍ پر مهال په اداري فساد ککړ نه و او قومي تمایلات یې هم په کارونو کې راڅرگند نه شول، په نورمال ډول یې خپل کارونه تر سره کړل، څرنگه چې مخدره توکي یوه نړیواله پدیده ده، دولتي او نادولتي مافیا دواړه په کې لاس لري. نو جنرال هزاره هم په دې بریالی نه شو، چې د دې نړیوال پدیدې ریښې وباسي.

**۳۳- مبارز راشدي: مبارز راشدي پر (۱۳۵۰ل) کال په سرپل ولایت کې زیږېدلی دی. لومړنۍ او ثانوي زده کړې یې په همدې ولایت کې تر سره کړي او بیا یې د اسلامي معارف او فرهنگ په څانگه کې تر دوکتورا پورې لوړې زده کړې تر سره کړي دي. ښاغلی مبارز راشدي، یو ځبور، پوه او خوله ور انسان دی. د طالبانو نظام تر ړنگېدو وروسته دی هم خپل هېواد ته راستون شو او د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشراتي مرستیال په**



(مبارز راشدي)

**توگه یې خپله دنده پیل کړه. که څه هم د مبارز راشدي علمي کچه او پوهه تر حاجي محمد محقق لوړه ده، خو ویل کېږي چې نوموړی د اسلامي وحدت گوند د محقق له څانگې سره نږدې اړیکي لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مبارز راشدي په اطلاعاتو او کلتور وزارت کې خپله دنده له یو لړ کشمکشونو او جنجالونو سره سره په نورمال ډول سرته و رسوله، له رسنیو او هغه هم له مختلفو رسنیو سره، چې بېلابېل او متضاد افکار یې درلودل، په سختو جنجالونو کې کېوت او د گوزارې سیاست یې غوره وباله. د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ په دویمه دوره کې د مخدره توکو پرضد د مبارزې وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرگې یې باور رایه ترلاسه کړه. لکه څنگه چې دمخه مو وویل مبارز راشدي، یو ژبور، خوله ور او په خپل مسلک کې یو رسېدلی شخص دی، د غټې اوسپلې او زغم خاوند هم دی، مقابل طرف اورېدلی او زغملی شي، خپل پیغام هم ورته رسولی شي، د مخدره موادو پرضد د مبارزې وزارت کې یې د بریالیتوب چانس ځکه نه ښکارېده چې دا داسې وزارت نه دی چې د چا د بریالیتوب څرک دې په کې ولگي، خو که مبارز له مسلک سره سم یو وزارت او کار ته گومارل شوی وای، کېدی شي په هغه کار کې به ډېر بریالی شوی وای.**

**۳۴- عبدالکریم خرم: عبدالکریم خرم پر (۱۳۴۲ل) کال په کابل کې زېږېدلی، خو اصلاً د میدان وردگو ولایت اوسېدونکی دی. په یوه علمي او مخوره کورنۍ کې رالوی شوی. تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته یې په فرانسه کې له (رنه دکارت) پوهنتون څخه د صادراتو په حقوقو کې د لیسانس سند ترلاسه کړی دی. د کریم خرم د کورنۍ غړو د جهاد او هجرت پر مهال له بېلابېلو جهادي**



(کریم خرم)

**تنظیمونو سره اړیکي درلودل. ده په خپله د ملي محاذ او د گلبدین حکمتیار له اسلامي حزب سره خواخوږي او اړیکي درلودل. د طالبانو د واکمنۍ پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مهال هم په پېښور کې اوسېده او د (وطن) په نامه یې یوه مجله خپروله چې اکثره یې اسلامي او اخواني رنګ درلود. کریم خرم د طالبانو د واکمنۍ تر ړنګېدو وروسته لومړۍ د ولسمشر کرزي مطبوعاتي سلاکار شو او د هغه د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرګې څخه یې باور رایه ترلاسه کړه. په یاد وزارت کې د ده د واکمنۍ دوره په ملي شورا کې له ځینو وکیلانو، سیمه ییزو زورواکو، ځینو رسنیو او تنظیمونو سره په جنجالونو تېره شوه، خو دې سره سره یې په یاد وزارت کې یو شمېر سمونونه رامنځته کړل او ځینو پرمختیاوو ته یې هم لاره اواره کړه. کریم خرم وروسته د ولسمشر د دفتر د رییس په توګه وټاکل شو او د کرزي د حاکمیت تر پایه یې دې دندې ته دوام ورکړ. څرنګه چې مې د کریم خرم په باب په نورو برخو کې تفصیلي بحث کړی، نو نه غواړم دا بحث تر دې اوږد کړم.**

**۳۵- سید مخدوم رهین: ښاغلی سیدمخدوم رهین په کابل کې زیږېدلی، لومړنۍ او ابتدایي زده کړې یې په کابل کې تر سره کړې، بیا یې د کابل پوهنتون له ژبو او ادبیاتو پوهنځي څخه د لیسانس سند ترلاسه کړی او**


(سید مخدوم رهین)

**په همدې ځانګه کې یې په تهران کې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې تر سره کړې دي. سیدمخدوم رهین وروسته امریکا ته مهاجر شوی او د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته بېرته کابل ته راغی. د روم له سیاسي بهیر سره یې هم خپله ملګرتیا ساتلې. د کرزي د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته نوماند شو، خو له ولسي جرګې یې باور رایه ترلاسه نه کړای شوه. وروسته بیا په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هندوستان کې د افغانستان د سفیر په توګه وټاکل شو. ده په کابل کې یو شمېر مدني فعالیتونه هم تر سره کړل، د ((شورای شهروندان کابل)) په جوړونه کې یې ونډه واخیسته. رهین د کرزي د ولسمشرۍ په دویمه دوره کې یو ځل بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته د نوماند په توګه معرفي شو. خو دا ځل د روم د بهیر له خوا نه، بلکې د نظار شورا په تېره بیا د فهیم خان په ټینګار دې پوست ته وروپېژندل شو. رهین دا ځل د اسلامي جمعیت د ځینو مطرحو څېرو، لکه (عطا محمد نور) او نورو په مالي لګښت او سیاسي ملاتړ په دې بریالی شو چې د ولسي جرګې باور رایه ترلاسه کړي. رهین ډېره موده د دې وزارت د وزیر په توګه پاتې شو، خو ډېر وخت یې له رسنیو، د ژورنالیستانو د اتحادیو له مشرانو او نورو اشخاصو سره په جنجالونو تېر شو، یاد وزارت هم د ده د واکمنۍ پر مهال خپله کلنۍ بودیجه پر خپل وخت ونه لګولای شوه. رهین کابل ته په راتګ سره ځینې قومي او ستمي تمایلات څرګند کړل، خو د اطلاعاتو او کلتور وزارت د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې یې قومي تمایلات یو څه کم وو. یاد وزارت هم له همغو مشکلاتو سره مخامخ وو چې اکثره نورې اداري ورسره مخ وې. د اداري او مالي فساد ځینې بېلګې یې هم رسنیو ته راووتې.**

**د یادو نیمګړتیاوو ترڅنګ یو شمېر مثبت پرمختګونه هم تر سره شول، ملي او سیمه ییز موزیمونه ورغول شول، د افغانستان یو زیات شمېر تاریخي اثار بېرته هېواد ته راوړل شول، د طلا تپې تاریخي اثار له هېواده بهر یو شمېر هېوادونو کې ننداري ته وړاندې شول او له دې لارې افغانستان ځینې عواید ترلاسه کړل. د اسلامي تمدن د مرکز په توګه د غزني تر یادونې وروسته د دې ولایت یو شمېر تاریخي اثار او ځایونه ورغول شول، په محلي او مرکزي کچه یو شمېر تاریخي ودانۍ ورغول شوې. خو بیا هم که په مجموعي ډول ارزونه کېږي، څومره امکانات چې په دې دوره کې وو، له هغو څخه پوره او سمه ګټه پورته نه شوه.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳٦- سهراب علي صفري:** سهراب علي صفري پر (۱۹۴۵م) کال په میدان وردګو ولایت کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې په خپل اصلي استوګنځي کې تر سره کړي دي. بیا د کابل پوهنتون په انجنیري پوهنځي کې شامل شوی او پر (۱۹٦۵م) کال له نوموړي پوهنځي څخه فارغ شوی او بیا یې په پولنډ کې لوړو زده کړو ته دوام ورکړی او له یاد هېواد څخه یې پر (۱۹۸۲م) کال د دوکتورا دپلوم ترلاسه کړی دی.

د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته ډاکتر سهراب علي صفري هېواد ته راستون شوی او د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د عامه ګټو یا فواید عامې وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرګې څخه یې هم باور رایه ترلاسه کړه.

صفري د یاد وزارت د متصدي په توګه ډېر ضعیف رول اداکړ. ټولګټو وزارت چې پخوا یې د یوه اجرایي او کاري وزارت په توګه کار کاوه، په یوه



(سهراب علي صفري)

پالیسي جوړونکي وزارت بدل شو او یوازې د سړکونو او غټو پروژو د ارزونې او تفتیش صلاحیت ورکړل شو. دوی خپله کاري قوه پر کار ونه ګومارله او نه هم په دې بریالي شول چې پراخې نړیوالې مرستې راجلب کړي، خپل وسایل او وسایط واخلي او ربښتیا هم پر ټولګټو وزارت بدل شي. د وزارت لوړپوړي چارواکي دومره بې تفاوته وو چې ان د وزارت شاوخوا سړکونه چې ټول (پنځه سوه متره) نه کېدل، هم جوړ نه کړای شول. دې وزارت نه یوازې په رغونه کې مخکښ رول ادا نه کړای شو، بلکې له یو شمېر هغو شرکتونو سره چې په درغلۍ تورن وو، هغو سره یې هم لاره ونیوه او هغه شرکتونه چې ربښتیا هم د ښه کار جوګه وو او ښه کارونه یې تر سره کړي وو، د هغوی مخې ته یې تیږې تولې کړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول له بې کفایته شرکتونو سره د جوړجاړي له امله د کار کیفیت خراب شو او د باکفایته شرکتونو د کار مخه ونیول شوه. د پیسو په دې باران کې که د صفري صیب پرځای هر بل کاري وزیر راغلی وای، نو پوره باور دی چې افغانستان ته به یې په رغونه او نوې جوړونه کې ډېر ګټور کارونه تر سره کړي وای.

۳۷- عبدالقدوس حمیدي: عبدالقدوس حمیدي د لوړو زده کړو خاوند دی. د کرزي د ولسمشرۍ دویمه دوره کې د ټولګټو وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرګې څخه یې باور رایه ترلاسه کړ.

عبدالقدوس حمیدي مخکې تر دې چې یاد وزارت ته وروپېژندل شي، د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ د وزیر په توګه نوماند شو، خو ولسي جرګې ورته رایه ور نه کړه. تر هغه دمخه یې ډېر کلونه د کانونو د وزارت د مرستیال په توګه کار کړی دی.



(عبدالقدوس حمیدي)

عبدالقدوس حمیدي د ټولګټو وزارت د متصدي په توګه داسې پام وړ کار او پرمختګ ونه کړ چې د ده په ښو او تلپاتې کارونو کې دې حساب شي. تر دې وړاندې چې په یاد وزارت کې څه روان وو، همغه حالت تداوم پیدا کړ، ان تر هغه څخه هم په کمزورې کچه. ټولګټو وزارت بیا هم یوازې د نظارتي رول په دایره کې پاتې شو او د یوه اجرایي څواک په توګه څرګند نه شو. فساد هم په کې تر پخوا زیات او کاري بهیر هم په کې لاپسې ټکنی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(نجیب الله اوژن)

**۳۹- نجیب الله اوژن:** نجیب الله اوژن پر (۱۹۴۷م) کال په کابل ښار کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل ښار په غازي لېسه کې تر سره کړي او پر (۱۹٦۸م) کال ترې فارغ شوی، بیا د کابل پولي تخنیک ته بریالی شوی او پر (۱۹۷٦م) کال ترې فارغ شوی دی. اوژن ډېر کلونه له هېواده بهر په (هالنډ) هېواد کې اوسېده، په سیاسي، ټولنیزو او نورو چارو کې ډېره مطرح او څرګنده څېره نه ده. د طالبانو نظام تر سقوط وروسته بېرته هېواد ته راستون شو او د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ د دویمې دورې په دویمه برخه کې ټولګټو وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرګې څخه یې باور رایه واخیسته. اوژن د خپل کار په بهیر کې یو لړ مثبت کارونه تر سره کړل، کوښښ یې وکړ چې د وزارت کارونو ته نوی رنګ او قوت ورکړي، خو پخوانۍ بېروکراسۍ او دودیز سیستم د ده د هڅو مخه ونیوله، خو بیا هم د یاد وزارت د پخوانیو نورو وزیرانو په انډول نجیب الله اوژن ډېر فعال برېښېده.

**۴۰- میر محمد صدیق:** میر محمد صدیق پر (۱۹۴۵م) کال د کابل ولایت په میربچه کوټ ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. پر (۱۹۷۱م) کال یې په امریکا کې د دوکتورا تر کچې لوړې زده کړې سرته و رسولې. په بېلابېلو هېوادونو کې یې بېلابېلې دندې تر سره کړي دي. میرمحمد صدیق په دري، پښتو، عربي، اردو او انګلیسي ژبو خبرې کولای شي، په بېلابېلو هېوادونو، لکه امریکا، پاکستان، یمن، ایتوپیا، کینیا، سومالیا، پورتي ریکو او نورو کې یې دندې اجرا کړې دي. د حامدکرزي د جمهوري ریاست په لومړۍ دوره کې د کانونو وزارت ته نوماند شو. ده د خپلې دندې پر مهال داسې پاموړ کارونه نه دي کړي چې هغه دې د ده په لویو کارونو کې حساب شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴۱- محمد ابراهیم عادل:** محمد ابراهیم عادل پر (۱۳۳۰ل) کال په پروان ولایت کې زېږېدلی دی. د شوروي د کانونو پوهنتون کې يې خپلې لوړې زده کړې سرته رسولي دي. پر (۱۳۸۳ل) کال يې د شمال د ډبرو سکرو د ادارې د رييس په توګه دنده تر سره کړې ده. عادل د کانونو او صنایع وزارت د مرستیال، اداري مرستیال او د



(محمد ابراهيم عادل)



ځمکپېژندنې رييس په توګه دندې تر سره کړي دي. پر (۱۳۸۳ل) کال د کانونو او صنایعو وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرګې څخه يې باور رایه ترلاسه کړه. په دې وزارت کې د ده کاري موده له يو شمېر جنجالونو سره مل وه. په تېره بیا د (عینکو مس) د قرارداد په مسئله کې ویل کېږي چې تر (۳۰) ملیونو ډالرو پورې غبن شوی دی. خو عادل دا تورونه په کلکه رد کړي دي.

**۴۲- وحیدالله شهراني:** ښاغلی وحیدالله شهراني، د حج او اوقافو پخواني وزیر (نعمت الله شهراني) زوی دی، چې په پاکستان کې يې د اقتصاد په برخه کې تر لیسانس پورته زده کړې کړي دي. شهراني د ولسمشر کرزي د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې، کله چې ولسي جرګې له (امین فرهنګ) څخه بېرته د باور رایه واخیسته، نو ښاغلی شهراني د سوداګرۍ وزارت د سرپرست په توګه پاتې شو، بیا وروسته ولسي جرګې ته د



(وحيد الله شهراني)



سوداګرۍ وزارت د وزیر په توګه وروپېژندل شو، چې له ولسي جرګې يې د باور رایه واخیسته. ښاغلی شهراني تر دې مخکې د مالیې وزارت مرستیال او د جمهور رییس مشاور و. شهراني د کرزي په کابینه کې د ځوانو او فعالو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیرانو له جملې څخه و. وروسته بیا د کانونو د وزیر په توګه انتخاب شو. ځوان او با استعداده شخص دی. شهراني په انګلیسي، ازبکي، دري، پښتو او اردو ژبو پوهېږي. ټولنیز روابط یې پراخ دي، که څه هم له فکري پلوه ازاد فکر لري، خو د دولتي موقف د ساتنې لپاره کله کله اړ شوی چې د جنرال دوستم پر ملي اسلامي جنبش هم ډډه ولګوي.


(محمد اکبر بارکزی)

۴۳- محمد اکبر بارکزی: ښاغلی بارکزی د ولسمشر کرزي د دویمې دورې تر ټاکنو وروسته د کانونو د وزیر په توګه نوماند شو. تر دې مخکې د اوبو او برېښنا وزارت مرستیال، د بغلان والي او د عامه ګټو وزارت د مرستیال په توګه یې هم دندې اجرا کړې دي. ویل کېږي چې یو وخت یې د حکمتیار له اسلامي حزب سره اړیکي درلودل، د ارامو اعصابو څښتن دی. د وزارت د تصدۍ پر مهال نه ډېر تېز روان و نه ډېر سست.


(عنایت الله نظري)

۴۴- عنایت الله نظري: عنایت الله نظري په موقته او انتقالي دوره کې د مهاجرین وزیر و، خو د ولسمشر کرزي د لومړۍ دورې د انتخاباتو تر ګټلو وروسته ښاغلي نظري په نوې کابینه کې ځای پیدا نه کړ. کله چې ولسمشر کرزی په دویمه دوره انتخاباتو کې ګټونکی شو، نو نظري یې د مهاجرینو د وزیر په توګه نوماند کړ، خو ولسي جرګې خپله باور رایه ور نه کړه. ښاغلی نظري پر (۱۳۵٦ل) کال د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



علومو له پوهنځي څخه فارغ شوی او تر لیسانس پورته زده کړې یې په (پیام نور) ایراني پوهنتون کې د لرې واټن له لارې تر سره کړي دي. عنایت الله نظري ډېره موده د دفاع وزارت مرستیال په توګه هم دنده اجرا کړې ده. ښاغلی فهیم او د اسلامي جمعیت نورو مشرانو ته نږدې شخص ګڼل کېږي.

۴۵- عبدالکریم براهوي: عبدالکریم براهوي پر (۱۳۳۴ل) کال په نیمروز ولایت کې زېږېدلی دی. نوموړي خپلې ثانوي زده کړې په حربي ښوونځي کې کړي دي. له (۱۳۵۲ل) څخه تر (۱۳۵۵ل) پورې یې حربي پوهنتون کې لوړې زده کړې تر سره کړي دي، تر دې وروسته د افغانستان په ملي پوځ کې شامل شو. پر (۱۳۵۷ل) کال له پوځ څخه لاړ او د مجاهدینو په لیکو کې ورګډ شو. ښاغلی براهوي د ولسمشر کرزي په لومړۍ دوره کې د مهاجرینو وزیر و. تر وزارت مخکې د نیمروز والي و او بیا د قومونو، قبایلو او سرحداتو وزیر شو. د ارامو اعصابو خاوند دی، خبرې نه کوي، ویل کېږي چې د وزارت د تصدۍ پر ټول مهال یې د کابینې په غونډه کې هېڅکله هم کومه خبره نه ده کړې او همېشه چوپه خوله پاتې شوی دی.

۴۵- جماهیر انوري:

جماهیر انوري پر (۱۳۳۴ل) کال په فاریاب ولایت کې زېږېدلی دی. پر (۱۳۵۵ل) کال د کابل پوهنتون له فارمسي پوهنځي څخه فارغ شوی. پر (۱۳۸۹ل) کال یې د مهاجرینو وزیر په توګه له ولسي جرګې څخه د باور رایه ترلاسه کړه، خو د وزارت ټول مهال یې په نااندریو تېر شو او داسې کوم ستر کار یې ونه کړای شو چې د افغان مهاجرو په ژوند کې محسوس تاثیر ولري.



(جماهیر انوري)

(c) ketabton.com: The Digital Library






(نور محمد قرقين)

**۴٦- نور محمد قرقين:** نورمحمد قرقين پر (۱۳۳۲ل) کال په جوزجان ولايت کې زېږېدلی دی. خپلې ثانوي زده کړې يې تر دولسم ټولگي پورې په حبيبيې لېسې کې بشپړې کړې دي. د ليسانس سند يې د کابل پوهنتون له حقوقو او سياسي علومو پوهنځي څخه ترلاسه کړی دی. د کرزي په حکومت کې يې د پوهنې د وزير او په ترکمنستان کې د افغانستان د سفير په توگه دنده اجرا کړې ده. په ترکمن قوم پورې اړه لري، د ارامو اعصابو څښتن دی، کوم جنجالي شخص نه دی. د جمهوري رياست په لومړيو ټاکنو کې يې د کرزي د انتخاباتي کمپاين د مشر په توگه هم دنده اجرا کړې ده.

**۴۷- نعمت الله شهراني:** نعمت الله شهراني پر (۱۳۱۸ل) کال د بدخشان ولايت په (جرم) ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. پر (۱۳۳۹ل) کال د ابوحنيفه ديني مدرسې څخه فارغ شوی، بيا د کابل پوهنتون په شرعياتو پوهنځي کې محصل او تر فراغت وروسته په همدې پوهنځي کې استاد شو. ښاغلی شهراني پر (۱۳۴٦ل) کال د لوړو زده کړو لپاره مصر هېواد ته لاړ او بيا پر (۱۳۵۵ل) کال امريکا ته. تر هغه وروسته افغانستان ته راوگرځېد. د (۱۳۵۷ل) کال تر سياسي پېښې وروسته بندي شو، له زندانه تر خوشې کېدو وروسته د مجاهدينو له ليکو سره يوځای شو.



(نعمت الله شهراني)

شهراني د حامدکرزي په انتقالي دوره کې د دولت د رييس مرستيال او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساسي قانون د تدوین کمېسیون رییس و، چې بیا وروسته د ولسمشر کرزي په لومړۍ دوره کې د حج او اوقافو وزارت ته نوماند او د ولسي جرګې تر تائید وروسته د همدې وزارت وزیر وټاکل شو. تر وزارت وروسته په دیني چارو کې د کرزي مشاور و. دی یو دیني عالم دی چې په دې برخه کې یې لسګونه عنوانه کتابونه لیکلي دي. البته د وزارت د تصدۍ پر مهال یې په یاد وزارت کې د اداري فساد په باب بېلابېلې اوازې خپرې شوې وې.

**۴۸- صدیقه بلخي:** صدیقه بلخي د (اسمعیل بلخي) لور او پر (۱۳۲۹ل) کال په بلخ کې زېږېدلې ده. خپلې لوړې زده کړې یې په شرعیاتو څانګه کې تر سره کړې دي. د مهاجرت په دوران کې یې په ایران کې سیاسي او فرهنګي فعالیتونه کول. صدیقه بلخي د طالبانو نظام تر ړنګېدو وروسته د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون غړې شوه. وروسته د ولسمشر کرزي له



(صدیقه بلخي)

خوا د شهیدانو او معلولینو چارو وزیره شوه، تر هغه وروسته په مشرانو جرګه کې انتصابي سناتوره شوه. بلخي بېلابېل سیاسي، ټولنیز او فرهنګي خدمتوه تر سره کړي، د ښځو په برخه کې یې ځانګړې هڅې او فعالیتونه سر ته رسولي دي. کرزي ورته د هغې د کورني او ټولنیز نفوذ له امله ځانګړی احترام درلود. دې هم د خپل پلار او کورنۍ نوم او عزت تر پایه پورې خوندي وساته. که څه هم د وزارت د تصدۍ پر مهال د دې د کارونو له خرنګوالي څخه یو لړ شکایتونه موجود وو، خو صدیقه بلخي د فعالو افغانو مېرمنو په منځ کې خپل ځانګړی ځای لري.

**۴۹- جنرال سهیلا صدیق:** سهیلا صدیق د محمد صدیق لور ده. تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته پر (۱۳۴۴ل) کال د کابل طب پوهنځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې شامله شوې، وروسته یې په مسکو کې په همدې طبي څانګه کې زده کړې کړي او له مسکو پوهنتون څخه فارغه شوې ده. نوموړې د خلکو دیموکراتیک ګوند د واکمنۍ په دوران کې د افغانستان اردو ته لاره پیداکړه.



(سهیلا صدیق)

سهیلا صدیق د افغانستان د پوځ په طبي برخه کې ډېره موده کار کړی، د جنرالۍ رتبې ته رسېدلې او پر (۱۳۸۰ل) کال یې د (ډګر جنرال) رتبه هم ترلاسه کړه. نوموړې د کرزي په مشرۍ په موقته اداره کې د عامې روغتیا د وزیرې په توګه دنده اجرا کړه او وروسته بیا په صحي چارو کې د کرزي مشاوره شوه.

ډاکتره سهیلا د افغانستان په پوځ کې لومړنۍ ښځینه جنراله وه. کرزي هغې ته خورا زیات احترام درلود. په روسي، دري او پښتو ژبو پوهېدله. د وزارت کاري موده یې لنډه وه، نو ځکه خو یې د کار د څرنګوالي په باب ډېر بحث نه شي کېدلای.

**۵۰- سید محمد امین فاطمي:** سید محمد امین فاطمي پر (۱۹۵۲م) کال ننګرهار ولایت کې زېږېدلی دی. ثانوي زده کړې یې د کابل په حبیبیې لېسې کې تر سره کړي دي. پر (۱۹۷۷م) کال د ننګرهار پوهنتون له طب پوهنځي څخه فارغ شوی. د ولسمشر کرزي په لومړۍ انتخابي دوره کې د عامې روغتیا وزیر شو. بیا په دویمه دوره کې هم د همدې پوست لپاره ولسي جرګې ته معرفي شو، خو ولسي جرګې دا ځل د



(سید محمد امین فاطمي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



باور رایه ور نه کړه. تر وزارت مخکې ښاغلی فاطمي څه موده د نړیوال روغتیايي سازمان سلاکار هم پاتې شوی دی. د وزارت پر مهال یې کار په احتیاط سره تر سره کاوه، رسنیو سره یې ځانگړي اړیکي پالل، د کارونو څرنگوالی یې په منځنۍ کچه و. وروسته بیا په جاپان کې د افغانستان د سفیر په توگه وټاکل شو.

**۵۱- ثریا دلیل:** ثریا دلیل پر (۱۳۴۷ل) کال په کابل ولایت کې زېږېدلې ده، خو اصلي استوگنځی یې د فاریاب ولایت دی. د کابل ښار د زرغونې لېسې تر فراغت وروسته پر (۱۳۶۵ل) د کابل پوهنتون طب پوهنځي ته بریالۍ شوه. پر (۱۳۷۱ل) کال د علي اباد روغتون د جراح ډاکترې په توگه وگومارل شوه او پر (۱۳۷۳ل) کال له ماشومانو څخه د ملاتړ اداره کې



(ثریا دلیل)

مقرره شوه. پر (۱۳۸۳ل) کال د امریکا په هاورډ پوهنتون کې شامله او له نوموړي پوهنتون څخه یې ماستري ترلاسه کړه. اغلې ثریا دلیل پر (۱۳۸۸ل) کال د عامې روغتیا وزارت سرپرسته شوه او بیا یې د همدې وزارت د وزیرې په توگه له ولسي جرگې څخه باور رایه واخیسته.

ثریال دلیل د خپل وزارت پر مهال داسې یوه وزیره وه چې په متوسط ډول روانه وه، کارونه یې نه ډېر خراب وو، نه ډېر ښه، خو ډېر ځله پرې د توکم پالنې تورونه پورې شول.

**۵۲- سید اکرام الدین معصومي:** سید اکرام الدین معصومي پر (۱۳۳۲ل) کال په تخار ولایت کې زېږېدلی دی. خپلې زده کړې یې د کندوز ولایت او د کابل پوهنتون په بشري پوهنځي کې تر سره کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(سید اکرام الدین معصومي)

ښاغلي معصومي د مالیې وزارت د تصدۍ د رییس په توګه او د همدې وزارت د مرستیال په توګه دندې تر سره کړې دي او همدارنګه د تخار ولایت والي هم پاتې شوی دی. تر دې وروسته د کار او ټولنیزو چارو وزارت لپاره ولسي جرګې ته وروپېژندل شو او باور رایه یې ترلاسه کړه. خو یاد وزارت کې یې کارونه ډېر ځلنده نه وو.

**۵۳- امنه اصفي افضلي:** امنه اصفي افضلي پر (۱۳۳٦ل) کال په هرات ولایت کې زېږېدلې ده. د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه یې د لیسانس سند ترلاسه کړی دی. بیا وروسته یې په همدې پوهنځي کې د استادۍ په توګه دنده تر سره کړې ده. تر دې وروسته یې د کار او ټولنیزو چارو د وزیرې په توګه له ولسي جرګې څخه د باور رایه واخیسته.


(امنه اصفي افضلي)

د وزارت د تصدۍ پر مهال یې له یو شمېر معلولینو او نورو اشخاصو سره شخړې پېښې شوې، د وزارت کارونه یې نه ډېر بریالي وو او نه ډېر ناکام. نیمګړتیاوې او بریاوې دواړه ورسره مل وې.


(حبیب الله قادري)

**۵۴- حبیب الله قادري:** حبیب الله قادري اصلاً د کندهار ولایت اوسېدونکی دی، لوړې زده کړې په هندوستان هېواد کې تر سره کړې دي. دولس کاله یې د کډوالو په نړیوال سازمان کې کار کړی دی او په نبراسکا پوهنتون کې یې د استاد په توګه هم دنده تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سره کړې ده. ښاغلی قادري د حامدکرزي د ولسمشرۍ په لومړۍ دوره کې د مخدره توکو پر ضد د مبارزې وزارت وزیر و. وروسته بیا په کاناډا کې د افغانستان سفیر شو. د ډېر ارامو اعصابو خاوند دی. د وزارت دوره یې له ډېرو جنجالونو سره ملگرې نه وه.**

**۵۵- سیما سمر: د طالبانو د نظام تر ړنگېدو وروسته په موقته دوره کې سیما سمر لومړنۍ ښځه وه چې د موقت حکومت د مشر مرستیاله او د ښځو چارو د وزیرې په توگه انتصاب شوه.**

**سیما سمر په بېړنۍ لویه جرگه کې د دې جرگې د لومړۍ مرستیالې په توگه انتخاب شوه او زه (یون) همدلته له دې سره له نږدې اشنا شوم. سیما سمر ځان د بشر د حقونو مدافع حسابوي. دې په نورو نادولتي موسسو کې هم کار کړی دی. سیما سمر تر وزارت وروسته د بشري حقونو د خپلواک کمېسین مشره شوه، دې په لسگونو نړیوالو**


(سیما سمر)

**کنفرانسونو کې گډون کړی او ځینې خلک یې د ښځو او بشري حقونو یوه مدافع مېرمن گڼي، سیما سمر د خپلو گڼو فعالیتونو له امله د نوبل جایزې ته هم کاندیده شوه، خو دا جایزه یې ترلاسه نه کړای شوه. د سمر له گڼو فعالیتونو سره سره یو شمېر ازاد کتونکي پر هغې نیوکه کوي چې قومي او سیمه ییز تمایلات لري او دا لېوالتیا یې دومره ځرگنده ده چې هېڅکله یې پټه نه کړای شوه. ویل کېږي چې د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون اکثره کارکوونکي همغه دي چې د (سیما سمر) قوم پورې اړه لري. دا هم ځرگنده ده چې له یاد کمېسیون څخه دې د خپل قوم لپاره زیاته گټه پورته کړې، ان تر دې پورې چې پر هغو کسانو یې هم پرده غوړولې او یا چوپه خوله پاتې شوې چې هزاره توکم پورې اړه لري، ستر جنگسالاران دي او بشري ضد جرمونه یې تر سره کړي دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سیما سمر د کرزي په ټوله واکمنۍ کې هغه ته تر ټولو منلې او ښاغلې وه او تر دیارلسو کلونو زیاته موده د همدې خپلواک کمېسیون د خپلواکې رییسې په توگه پاتې شوه.**


(حبیب سرابي)

**۵٦- حبیبه سرابي: حبیبه سرابي پر (۱۳۳٦ل) کال د مزارشریف ښار کې زېږېدلې ده. حبیبه سرابي د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال د محصلینو ټولنې غړې وه او ویل کېږي چې د شوروي پر ضد به یې اعتراضونه او مظاهرې برابرولې. سرابي خپلې لوړې زده کړې د کابل پوهنتون په فارمسي پوهنځي کې تر سره کړي دي. حبیبه سرابي له (۱۳٦٦ل) کال څخه تر (۱۳۷۵ل) کال پورې د منځني طب انستیتیوت کې استاده وه. اغلې سرابي پر (۱۳۸۱ل) کال د ښځو چارو وزیره وټاکل شوه او پر (۱۳۸۴ل) کال د بامیان د والي په توگه مقرره شوه، چې د افغانستان په تاریخ کې لومړنۍ ښځه وه چې والي شوه.**

**۵۷- مسعوده جلال: مسعوده جلال پر (۱۳۴۲ل) کال کاپیسا ولایت کې**


(مسعوده جلال)

**زېږېدلې ده. پر (۱۳٦۷ل) کال د کابل پوهنتون له طب پوهنځي څخه فارغه شوې. د نورو دولتي او نادولتي ادارو ترڅنگ په نړیوال خوراکي پروگرام کې یې هم دنده تر سره کړې ده. مسعودې جلال په بېړنۍ لویه جرگه کې د کرزي پر وړاندې ځان کاندید کړ، خو له ناکامۍ سره مخ شوه، د ولسمشرۍ پر لومړیو ټاکنو کې یې یو ځل بیا ځان کاندید کړ، خو دا ځل هم ناکامه شوه. دا د هېواد په تاریخ کې لومړنۍ ښځه وه چې یاد پوسټ ته یې ځان کاندید کړ. تر دې وروسته بیا د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کرزي له خوا د ښځو چارو وزیره شوه. خو په یاد وزارت کې هغسې بریالۍ نه برېښېدله چې څومره دې ژمنې کړې وې.**


(حسن بانو غضنفر)

**۵۸- حسن بانو غضنفر: د ولسمشر کرزي د لومړۍ دورې د کابینې نیم وخت تېر و، چې حسن بانو غضنفر د ښځو چارو د وزیرې په توگه ولسي جرگې ته وروپېژندل شوه، له ولسي جرگې یې د باور رایه واخیسته او د دې وزارت وزیره شوه. مېرمن غضنفر د ولسمشر کرزي په دویمه دوره کې هم د ښځو چارو وزیره وټاکل شوه. غضنفر خپلې لوړې زده کړې د دکتورا تر کچې د شوروي په (سن پترزبورگ) پوهنتون کې د ژبپوهنې په برخه کې تر سره کړې دي. تر وزارت دمخه د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي رییسه وه.**


(محمد یوسف پښتون)

**۵۹- محمد یوسف پښتون: یوسف پښتون پر (۱۳۲۵ل) کال په کندهار ولایت کې زېږېدلی دی. لوړې زده کړې یې په لبنان کې د بیروت امریکایي پوهنتون کې تر سره کړې دي. پر (۱۳۸۱ل) کال د ښارجوړونې وزیر وټاکل شو. پر (۱۳۸۲ل) کال د کندهار والي و، پر (۱۳۸۳ل) کال یوځل بیا د ښار جوړونې د وزیر په توگه وټاکل شو. تر وزارت وروسته یې د ولسمشر کرزي د مشاور په توگه هم دنده اجرا کړه.**


(حسن عبدالالهی)

**۶۰- حسن عبدالالهی: حسن عبدالالهی پر (۱۳۵۵ل) کال په غور ولایت کې زېږېدلی دی. لوړې زده کړې یې د ایران په شیراز پوهنتون کې د ټولنپوهنې په برخه کې تر سره کړې دي. پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**(۱۳۸۰ل) یې له تهران پوهنتون څخه د ښارجوړونې په برخه کې د دکتورا سند ترلاسه کړ. د ولسمشر کرزي په دویمه دوره کې د ښار جوړونې د وزیر په توګه وټاکل شو او د کرزي د حاکمیت ترپایه په یاد وزارت کې پاتې شو.**

**٦١- حمیدالله فاروقي: حمیدالله فاروقي پر (۱۳۳۳ل) کال په هرات ولایت کې زېږېدلی دی. د اقتصاد په برخه کې یې په کابل او امریکا کې زده کړې کړې دي. فاروقي پر (۱۳۸۷ل) کال د ولسمشر کرزي په لومړۍ دوره کې ترانسپورت وزارت ته نوماند شو، له ولسي جرګې څخه د باور رایې تر اخیستو وروسته د همدې وزارت د وزیر په توګه وټاکل شو. خو پر همدې دنده یې ډېر لږ وخت کار وکړ.**



(حمید الله فاروقي)

**٦٢- نعمت الله احسان جاوېد: نعمت الله احسان جاوېد پر (۱۳۳۹ل) کال په هلمند ولایت کې زېږېدلی دی. لوړې زده کړې یې د لیسانس تر کچې په المان کې د هوایي ترانسپورت په برخه کې تر سره کړي دي. د ولسمشر کرزي په لومړۍ دوره کې د ترانسپورت وزارت ته نوماند شو او له ولسي جرګې څخه یې باور رایه واخیسته.**



(نعمت الله احسان جاوېد)

**٦٣- داود علي نجفي: داود علي نجفي پر (۱۳۴٦ل) کال په غزني ولایت کې زېږېدلی دی. لوړې زده کړې یې د پاکستان تر واک لاندې په بلوچستان ایالت کې تر سره کړي دي. په افغانستان کې یې د ملګرو ملتو په دفتر کې هم کار کړی دی. نجفي د (۲۰۰۸م) کال انتخاباتو کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دارالانشاء رییس شو. تر دې وروسته**



(داود علي نجفي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولسمشر کرزي په دویمه دوره کې د ترانسپورت د وزیر په توګه وټاکل شو.

**۶۴- حاجي محمد محقق:** محمد محقق پر (۱۳۳۴ل) کال د بلخ ولایت په (چارکنت) ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته د بن په غونډه کې محمد محقق د موقت دولت د مرستیال په توګه غوره شو. محقق په انتقالي حکومت کې د پلان د وزیر په توګه انتصاب شو، چې پر همدې پوست یې د (۲۰۰۴م) کال تر لومړنیو انتخاباتو پورې کار وکړ. تر هغه وروسته د ولسي جرګې په (۱۵) او (۱٦) دوره کې د کابل د خلکو استازی و. ده په دې موده کې د افغانستان د خلکو د اسلامي وحدت ګوند مشري هم کوله، خو په حکومت کې یې هم په پټه او ښکاره خپله ونډه هم لرله.



(حاجي محمد محقق)



(محمد جلیل شمس)

**٦۵- محمد جلیل شمس:** محمد جلیل شمس پر (۱۳۱۹ل) کال په هرات ولایت کې زېږېدلی دی. پر (۱۳۵۲ل) کال یې د المان له (بوخم) پوهنتون څخه د اقتصاد په برخه کې دکتورا سند ترلاسه کړی دی. په دولتي او نادولتي موسسو کې یې پر بېلابېلو پوستونو کار کړی دی. جلیل شمس د ولسمشر حامدکرزي په لومړۍ دوره کې د اقتصاد د وزیر په توګه وټاکل شو.



(عبدالهادي ارغندیوال)

**٦٦- عبدالهادي ارغندیوال:** عبدالهادي ارغندیوال پر (۱۳۳۱ل) کال په کابل ولایت کې زېږېدلی دی. ثانوي زده کړې یې د کابل ښار په غازي لېسه کې سرته رسولي او تر هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وروسته یې له کابل پوهنتون څخه د لېسانس سند ترلاسه کړی دی. پر (۱۳۵۷ل) کال پاکستان ته مهاجر شو او هلته یې د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب د مالي مسؤل په توګه دنده تر سره کوله. ښاغلی ارغندیوال د ولسمشر کرزي په دویمه دوره کې د اقتصاد د وزیر په توګه وټاکل شو.**

**٦٧- ډاکتر اکرم خپلواک: ډاکتر اکرم خپلواک د پکتیا ولایت په احمدابا ولسوالۍ کې تر لومړنیو او ثانوي زده کړو وروسته په پېښور کې د افغان پوهنتون له طب پوهنځي څخه فارغ شوی دی.**


(ډاکتر اکرم خپلواک)

**نږدې دوه کاله یې د پکتیکا ولایت د والي په توګه دنده اجرا کړې ده، تر هغه وروسته د فراه ولایت د والي په توګه پاتې شو او وروسته د سرحدونو او قبایلو چارو د وزیر په توګه انتخاب شو او د ولسمشر کرزي د حکومت تر پایه پر همدې دنده پاتې شو.**

**٦٨- اسد الله خالد: اسد الله خالد ولسمشر کرزي ته د نږدې اشخاصو له جملې څخه دی. نوموړی پر (۱۳۴۸ل) کال د غزني ولایت په (ناوې) ولسوالۍ کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابل ښار په محمود طرزي لېسه او ثانوي زده کړې یې په پېښور کې د کډوالۍ پر مهال په (اتحاد لېسه) کې سرته رسولي او ویل کېږي چې پر (۱۳۸۰ل) کال یې د تاجکستان له ملي دولتي پوهنتون څخه په حقوقو څانګه کې د لیسانس ډیپلوم ترلاسه کړی دی. خالد پر (۱۳۸۱ل) کال د ملي امنیت د لوی ریاست د پنځمې ادارې رییس شو، له (۱۳۸۲ل) څخه تر (۱۳۸۴) پورې د غزني د والي او تر هغه**


(اسد الله خالد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته یې تر (۱۳۸۷ل) کال پورې د کندهار د والي په توګه دنده اجرا کړې ده.

پر (۱۳۸۷ل کال په پارلماني چارو کې د دولت وزیر او پر همدې کال د قومونو او سرحدونو چارو وزارت ته نوماند شو، خو ولسي جرګې باور رایه ور نه کړه، خو پر (۱۳۸۹ل) کال یوځل بیا یاد وزارت ته نوماند شو او دا ځل یې له ولسي جرګې څخه باور رایه واخیسته. تر هغه وروسته اسدالله خالد د ملي امنیت لوی ریاست ته نوماند او له ولسي جرګې یې باور رایه ترلاسه کړه، د همدې ریاست د تصدۍ پر مهال د یو ځانګړي انتحاري برید له امله سخت ټپي شو او بیا امریکا ته د درملنې لپاره واستول شو، هلته تر سختې درملنې وروسته یې څه ناڅه روغتیا وموندله، خو نه پوره روغتیا. د اسدالله خالد د شخصیت په باب ډېر بحث کېدی شي، هغه یو باجرئته انسان دی، خو غزني او کندهار ولایت کې د هغه د دندې په باب ډېر شکایتونه وو، ان ویل کېږي چې شخصي ملېشې او زندانونه یې درلودل، خو دې سره سره هغه کرزي ته ډېر نږدې و، بهرني روابط، تنظیمي اړیکي او د قدرت له خاوندانو سره یې مناسبات ښه پاللای شول. کله چې اسدالله خالد ولسي جرګې ته د باور رایې د اخیستو لپاره معرفي شو او په تاجکستان کې د ده د لیسانس سند په باب د بحث خبره مطرح شوه، نو رمضان بشردوست وویل: ((د تاجکستان په دولتي پوهنتون کې خو لوړې زده کړې په روسي ژبه دي او فارسي رسم الخط هم په روسي لیکدود دی، نو تاسې اسدالله خالد ته په روسي ژبه د یو څو جملو متن ورکړئ چې دی یې لوستلای او لیکلای شي که نه، که لیکلای او لوستلای یې شولې، نو بېشکه چې ده هلته درس لوستی دی.)) ټولو وخندل او د امتحان دا پروسه هم عملي نه شوه، خو خالد له ولسي جرګې څخه باور رایه خپله کړه. د امنیت د رییس په توګه د اسدالله خالد د کارونو د څرنګوالي او همدارنګه په نورو برخو کې د هغه د کارونو په باب ډېر بحث کېدی شي، خو دلته نه غواړم د ده په باب دا بحث تر دې زیات وغځوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶۹- عنایت الله قاسمي:** عنایت الله قاسمي هم د هغو افغانانو له جملې څخه دی، چې د طالبانو د نظام تر سقوط وروسته افغانستان ته راغی، دی مخکې په امریکا کې اوسېده، په انتقالي دوره کې یې د کرزي صیب په دفتر کې کار کاوه او په نړیوالو او حقوقي چارو کې د کرزي مشاور و. کله چې کرزي د جمهوري ریاست د لومړۍ دورې ټاکنې وګټلې، نو عنایت الله قاسمي یې د ترانسپورت د وزیر په توګه غوره کړ او له ولسي جرګې یې هم د باور رایه خپله کړه. عنایت قاسمي یو کال او څلور میاشتې د یاد وزارت د وزیر په توګه پاتې شو، همدا مهال و چې پر ده باندې په یاد وزارت کې د فساد او رشوت تورونه پورې شول. تر دې وړاندې هم د کرزي صیب په دفتر کې د ده په باب د دفتر له امکاناتو څخه دناسمې ګټې اخیستنې او نورو ناقانونه ګټو راپورونه موجود وو، خو حامدکرزي پرې پرده غوړوله او هغه یې د خپل استازي په توګه بېلابېلو کورنیو او بهرنیو موسساتو ته معرفي کاوه. قاسمي ان وزارت ته د نوماندۍ پر مهال د وزارت لپاره قانوني سن نه و پوره کړی؛ (۳۱) کلن و، خو بیا هم پر قاسمي پرده خوره شوه او له ولسي جرګې څخه یې باور رایه واخیسته.


(عنایت الله قاسمي)

قاسمي تر وزارت وروسته څو ځله خارنوالۍ ته معرفي شو او ډېر ځله د خپلې دوسیې د سپیناوي لپاره یاد ارګان احضار کړ. د قاسمي په دوره کې ترانسپورت وزارت کوم پاموړ پرمختګ ونه کړای شو.

**۷۰- جارالله منصوري:** جارالله منصوري اصلاً د تخار ولایت اوسېدونکی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په پېښور کې سرته رسولې او بیا یې په اسلام اباد نړیوال پوهنتون کې د لیسانس تر درجې پورې لوړې زده کړې تر سره کړې دي. دی یو وخت د عدلیې وزارت کارکوونکی و، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې د ملت بابا (اعلیحضرت محمد ظاهرشاه) په دفتر کې کار کاوه، تر هغه


(جار الله منصوري)

وروسته د چاپېریال ساتنې د ادارې مرستیال شو او د ولسمشر کرزي د جمهوري ریاست په دویمه دوره کې د کلیو او پراختیا وزیر شو. د ښاغلي محمد قسیم فهیم او اسلامي جمعیت ملاتړ څخه برخمن و، خو په یاد وزارت کې یې داسې کوم کار ونه کړ چې د ده په حسناتو کې حساب شي. تر وزارت وروسته د ترانسپورت وزارت د مرستیال په توګه انتصاب شو.

۷۱- حمیدالله قادري: حمیدالله قادري د حبیب الله قادري د ورور

حمید الله قادري



دی، قادري کورنۍ د کندهار له مشهورو کورنیو څخه ده. کله چې حبیب الله قادري د مخدره موادو پرضد د مبارزې وزارت څخه لاړ او کاناډا کې سفیر شو، نو حامدکرزي د هغه ورور حمیدالله قادري د ترانسپورت د وزیر په توګه غوره کړ. حمیدالله قادري څه موده په دې وزارت کې تېره کړه. کله چې بیت الله شریف ته د حاجیانو د تګ مهال راورسېد، نو دا بهیر د حج او اوقافو وزارت او ترانسپورت وزارت له خوا ښه تنظیم نه شو. حامدکرزي دا پړه پر حمیدالله قادري واچوله او هغه یې له دندې لرې کړ.

دا و د کرزي د واکمنۍ د ټول بهیر د اکثرو وزیرانو په باب معلومات او ارزونه چې دلته په لنډیز سره ورته نغوته وشوه.

**یادښت:** پر پورتنیو یادو وزیرانو سربېره، ښاغلي حاجي عبدالقدیر، عبدالخالق فضل، امان الله ځدراڼ، عبدالرحمن نورستانی، میرویس صادق، رمضان بشردوست، پروفیسور رسول امین، شېرمحمد اعتباري، عبدالمالک

(c) ketabton.com: The Digital Library



انور، محمد عالم رزم، جمعه محمدي، عباس کریمي، عبدالله وردگ، انجنیر عبدالرحیم، مولوي حنیف، سلطان حمید حامد، حاجي منگل حسین، حمید سلطاني، عالمي بلخي، محمد معصوم ستانیکزي، محمد اکبر اکبر، گل آغا شېرزي، ډاکتر مشاهد او د پوهاند عبدالسلام عظیمي په گډون د سترې محکمې یو شمېر غړو او ځینو نورو مطرحو اشخاصو هم د حامدکرزي په څوارلس کلنه واکمنۍ کې (له لنډمهالې ادارې نیولې بیا د دویمې انتخابي دورې تر پایه) پورې د کابینې د غړو او د دولت د نورو مهمو شخصیتونو او متصدیانو په توگه دندې اجرا کړي دي، چې مورږ د دې بحث د زیات اوږدوالي له امله د هغوی له پېژندنې او کاري شننې څخه تېرېږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



*ښوارلسم ښپرکی*

# د ولسمشر كرزي ځانګړتياوې

هر شخص خپلې خپلې ځانګړتياوې لري، د يوه شخص ټولې ځانګړتياوې نه شو کولای په بل کې ووينو، خو دا هم نه شو کولای چې يو شخص دې ټول داسې خصوصيات ولري چې په بل کې دې هغه هېڅ نه وي، يانې هر انسان او هر شخصيت له يو بل سره ځينې مشترکې ځانګړنې او ځينې مشخص توپيرونه لري. حامدکرزی هم داسې يو شخصيت دی چې د همدې افغاني ټولنې زېږنده دی، ځينې خصوصيات يې داسې دي چې يوازې په ده پورې مختص دي او ځينې نور يې له نورو سره مشترک دي، دلته غواړو د ده ځينو مشخصو ځانګړتياوو ته نغوته وکړو: خو مخکې تر دې چې د ده د شخصيت پر بېلابېلو خواوو بحث ته راشو، غواړم يو لړ هغو تېروتنو ته هم اشاره وکړم چې د ده له خوا تر سره شوې او په نتيجه کې يې ځينو تنظيمونو ته له کوم عوض پرته دومره امتيازات ورکړل شول چې وروسته يې ده او ټول ملت ته سرخوږی پيداکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ناثابتې واکمنۍ ثابت امتيازات

د (۱۳۷۵ل) کال د تلې يا ميزان پر پنځمه شپږمه نېټه طالبان کابل ته راننوتل او د استاد رباني رژيم، چې له پخوا څخه پر کابل دومره واکمن نه و، د هغه نيم واکه واکمني يې هم ورپسې ورټوله کړه، د اسلامي جمعيت غړي او قومندانان او ائيتلافي ملگري يې له کابله پر تېښته بريالي شول. دا مهال داسې يو تصور و چې طالبان به د خپلو نظامي برياوو ترڅنگ سياسي برياوې هم ترلاسه کړي، خو د سياسي تدبير د نشتوالي له امله هغوی له دريو هېوادونو (پاکستان، متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان) پرته بل هېڅ هېواد په رسميت ونه پېژندل او په دې ډول طالبان يوازې تر ډېره پورې د پوځي واقعيت او قوت په توگه پاتې شول. طالبانو د هېواد په سلو کې پنځه نوي سلنه خاوره تر خپل کنټرول لاندې راوسته، يوازې (پنځه سلنه) برخه خاوره کې د استاد رباني رژيم يا د جمعيت تنظيم واک پاتې شو، هغه هم داسې نه چې دا پنځه سلنه برخه په بشپړ ډول د دوی تر حاکميت لاندې وه، بلکې خبره دا وه چې طالبان هلته نه وو ور رسېدلي. د استاد رباني نظام د يوه گرځنده نظام بڼه خپله کړه، ان دا چې ځينو بهرنيو هېوادونو يې هم ادرس نه شو پيدا کولای. د هر بهرني هېواد چې به استاد رباني په کار و، نو هغوی به لومړی تاجکستان سره اړيکې نيول، هغوی به بيا احمدشاه مسعود سره، چې دا وخت يې د تاجکستان په (کولاب) کې پوځې هډه درلوده او احمدشاه مسعود به بيا استاد رباني پيدا کاوه. استاد رباني څلورنيم کاله په همدې گرځنده حالت کې تېر کړل، خو د اسلامي دولت! د رييس په توگه، دا مهال نو استاد رباني ته يوازې د اسلامي دولت(!) نوم پاتې و او يوازې په مسکو کې د پيسو چاپ، نور نه ځمکه ورسره وه، نه ولس او نه هم د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه زياته برخه جغرافيه. استاد سياف يوه ورځ چاته کيسه کوله چې: ((کله هم طالبانو پسې واخيستو، زه او استاد رباني په تخار کې الوتکې ته منتظر وو، چې تاجکستان ته مو انتقال کړي، نو حالات هم ډېر خطرناک دي او طالبان هم شېبه په شېبه رانږدې کېږي، الوتکې ته تر ختو دمخه استاد رباني ماته وويل چې: (دې ملت ته يو خطاب ونه کړم؟) ما ورته وويل څه ځان باسه دا څه د داودخان خطاب دی چې اوس به ملت ورته ګوته په غاښ شي!! کوم ملت؟ کوم خطاب؟ دې سره نو الوتکې ته پورته شو)). د رباني پر رژيم باندې ساحه ورځ پر ورځ تنګېدله، يو وخت داسې راغی چې نظار شورا په دې باوري شوه چې طالبانو سره جنګ ته دوام ورکول د دوی د ټولو د نابودۍ په مانا دي، نو ځکه خو يې د فهيم خان په مشرۍ له طالبانو سره پټ اړيکي ونيول چې د سر او عزت د خوندي کولو په تضمين پر ځمکه وسلې ايښودلو ته حاضر دي. د (۲۰۰۱م) کال د سپتمبر پر نهمه نېټه احمدشاه مسعود ووژل شو، دې پېښې نو د استاد رباني تر چتر لاندې د جنګېدونکو افرادو روحيه له صفر سره ضرب کړه، د همدې سپتمبر پر (۱۱)مه په نيويارک کې د سوداګرۍ پر نړيوال مرکز بريد وشو، دې پېښې د امريکا غوصه راوپاروله، طالبان او د هغوی بهرني ملاتړي د امريکا لومړنی هدف وګرځېد، دې پېښې، نو د استاد رباني بخت راويښ کړ. امريکايانو پر طالبانو د بريد نيت او اقدام په ډاګه کړل او په مستقيم ډول يې استاد رباني او د نظار شورا نورو مشرانو سره اړيکي ټينګ کړل. امريکايي پټ پوځيان پنجشېر ته ورسېدل او دوی ورته د امريکا د ځمکنيو عسکرو په توګه د همکارۍ ژمنه ورکړه، کله چې به امريکا په باګرام او نورو سيمو کې د طالبانو مورچلې بمبارولې، نو د استاد رباني او د جمعيت تنظيم نورو ويندويانو به ويلې چې: ((دا بمونه واړه دي بايد غټ غټ بمونه واچول شي.)) د طالبانو رژيم د دوو مياشتو په بهير کې ړنګ شو. د (۱۳۸۰ل) کال د عقرب پر لومړۍ نېټه لومړی، امريکايي پوځيان او بيا د شمالټلوالې ملېشې کابل ته راننوتل. استاد رباني ارګ ته لاړ او په حرمسرای

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې استوګن شو، دا مهال په بن کې غونډه وشوه، نظار شورا ته په کې اساسي واک ورکړل شو، حامدکرزی په کې د موقتې ادارې مشر شو او پرېکړه وشوه چې د همدې کال د جدي پر (۲۲) مه نېټه موقتې ادارې ته واک انتقال شي. استاد رباني ته يو ځل بيا تر څلورنيم کلنې کډوالۍ او سرګردانۍ وروسته دوه مياشتې فرصت په لاس ورغی، چې د واک په حرمسرای کې دمه واخلي، د تېرو ناخوالو ستړيا وباسي، خپل افراد مقرر کړي او که په دولت کې څه پاتې وي هغه هم د خپل تنظيم غړو ته ورحواله کړي. دا مهال استاد رباني يو فرمان صادر کړ چې چا هم د طالبانو تر واکمنۍ دمخه پر کومو پوستونو کار کړی، هغوی پر همغه ځای بېرته مقرر دي. د خپل تنظيم ځينې غړي او پلويان يې له ايران او پاکستانه هم راوغوښتل او اکثره دولتي څوکۍ يې پرې ووېشلې، کله چې د جدي (۲۲) نېټه راورسېدله، د دولت اکثره اساس رګونه اسلامي جمعيت او د هغه مؤتليفو تنظيمونو نيولي وو. استاد رباني هم دا مهال په اصطلاح د واک انتقال ته راضي نه و، حرمسرای يې هم نه خوشې کاوه، خو يونس قانوني، فهيم او عبدالله عبدالله په وچ زور له حرمسرای څخه ووېسته، بيا بهرنيانو او نظار شورا په دې قانع کړ چې واک به هسې هم اسلامي جمعيت سره وي، کرزی به هسې سمبول وي او ستا ځانګړی سهم به هم په



(د واک د لېږد يو انځور)

حکومت کې خوندي وي. استاد رباني د نظار شورا د رهبرۍ په رول هم خوښ نه و او د تاجکانو او اسلامي جمعيت رهبري يې د خپل ځان حق ګاڼه، خو دې ډلې بيا استاد رباني پر دې نزاکت پوه کړ، که غواړې که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړې نړۍ دې لرې کوي، نو تر هغې خو دا ښه ده چې امتیاز واخلې او په سمبولیک ډول بل څوک د واک په راس کې راشي. د (۱۳۸۰ل) کال د جدي پر (۲۲) نېټه استاد رباني په اصطلاح واک حامدکرزي ته انتقال کړ، له کرزي سره ټول ټال (۱۷) کسان موقتې ادارې ته داخل شول، دا داسې کسان وو چې له اسلامي جمعیت سره یې تنظیمي اړیکي نه درلودل، خو له جمعیت تنظیم سره یې پخوانی رقابت او دښمني هم نه درلوده. په دې ډول نور ټول واک و ځواک له اسلامي جمعیت سره پاتې شو. کله چې په اصطلاح قدرت انتقالېده، نو تر هغه دوه درې ورځې دمخه استاد رباني یو بل فرمان هم صادر کړ. د هغه فرمان محتوا دا ده چې له ده سره په اصطلاح (تېر څلورنیم کلن مقاومت) کې چا ونډه اخیستې وي، نو هغوی ټولو ته دې د یادې مودې ترفیعات هم ورکړل شي او معاشونه هم. دا فرمان په دې خاطر و چې یو خو به خپلو پلویانو ته امتیاز واخلي او بل به پر نوي حکومت یو بار هم پرېوځي. همغه وخت د نظر ځینو خاوندانو سره دا پوښتنه مطرح شوه، هغه دولت چې (د اسلامي دولت) په نامه یادېده او استاد رباني یې مشري کوله، که هغه چېرې دولت و، نو ولې یې په څلورنیمو کلونو کې خپلو مامورینو ته نه معاشونه ورکړل او نه هم ترفیعات او که چېرې دولت نه و، نو ولې د دولت په نامه یادېده؟ د دنیا په هېڅ ګوټ کې به څوک داسې دولت ونه ګوري چې څلورنیمو کلونو کې دې خپلو مامورینو ته نه معاش ورکړي او نه هم ترفیع او د دولت په نامه دې هم یاد شي، نو هغه دولت چې نه یې معاش درلود، نه ترفیع، نو مامورین یې په څه شي ساتل؟ مامورینو یې څه کول؟ او بیا حامدکرزي ته یې څه شی انتقال کړ؟ د همدې په اصطلاح مامورینو د ترفیع او معاش ورکړه یې انتقال کړه که څنګه؟ استاد رباني پر پورتنیو امتیازاتو سربېره د هغو ټنونو افغاني بانکنوټونو د تبادلې امتیاز هم واخیست چې دوی ته روسیې چاپ کړي او دوی پټ زېرمه کړي وو. کله چې نوي افغاني بانکنوټونه چاپ شول، نو حامدکرزي د استاد رباني ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زېرمه کړې پیسې هغو ته په نویو پیسو بدلې کړې او هم یې په وروستیو دوو میاشتو کې د هغه صادر کړي فرمانونه ومنل. دا او دېته ورته نور په سلګونو او زرګونو څه چې په لسګونو زرو ناقانونه کارونه تر سره شوي چې د ټولو قید، تحلیل او څېړنه یې د یوې لیکنې او یوه اثر له اوسېلې څخه وځي. کارونه نا ثابت خو امتیازات یې ثابت وو. شمالټلوالې ته د دغسې امتیازاتو پرله پسې ورکړه د کرزي د شخصیت د ځانګړنو یوه برخه شوه، چې د ده د واکمنۍ په بهیر کې یې دوام پیدا کړ او بېلابېل رنګونه یې خپل کړل. استاد رباني ته د دغو غټو امتیازاتو د منلو تر څنګ د کرزي بله لومړنۍ اشتباه دا وه چې کله هم د واک تر رسمي لېږد وروسته ارګ ته داخل شو، نو محمد قسیم فهیم ورته راغی، کرزي ته یې وویل چې اوس به زموږ ساتونکي درڅخه رخصت شي، تاسو د خپل ځان د حفاظت لپاره خپل کسان راولئ، کرزي ورته وویل، همدا مې خپل کسان دي (د فهیم ساتونکو ته یې اشاره وه)، نور څوک راولم، دې سره نو فهیم خان ډېر خوشحاله شو او پر دې پوه شو چې دا سړی د ځان ساتنې لپاره هم پر موږ ډډه لګوي، نو ځکه یې ورو ورو غوښتنې زیاتېدلې. اوس راځم د ولسمشر کرزي ځینو نورو ځانګړنو ته:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ولسمشر کرزي تشخیص او غوراوی

خلک کله کله له ولسمشر حامدکرزي څخه ګیله کوي، چې قوي خلک نه انتخابوي او هر ځای کې ضعیفه کسان ټاکي. دوی فکر کوي چې ولسمشر ګنې دا کسان نه پېژني، یا یې په ټاکنه کې له دقت څخه کار نه اخلي او یا پرې د بل چا له خوا په زوره تحملیږي. خلکو ته به جمهور رییس د یوه عادي انسان په توګه ښکاري چې هېڅ شی نه محاسبه کوي او هر څه په پټو سترګو مني، خو که څوک ولسمشر حامدکرزی له نږدې څخه وپېژني، خبره داسې نه ده، په ځینو برخو کې به پورتنۍ انګېرنې هم سمې وي، خو تر ډېره حده پورې دا ګومانونه سم نه دي. ولسمشر یو داسې ذکاوت لري چې تر ټولو کمزوري اشخاص تر ټولو ښه پېژني، عیناً لکه کوم ښکاري چې ښکار پسې ګرځي او خپله لومړنۍ ښه لومړی انتخابوي،



(ولسمشر حامد کرزی)

اسانه او سخت ښکار پېژني، دغسې ولسمشر کرزی هم دی. دی د هغه کب نیوونکي په شان دی چې پوهېږي، کوم ځای کې خپل جال خور کړي، کوم ډول کب ونیسي، کوم ډول کب په جال کې ایساریږي او کوم له جاله وځي، دی هم دغسې دی. دی د خپلې ټولنې متخصص دی، دی د هغو سیاستوالو په شان نه دی، چې سیاسي ریاضي، فلسفې او د سیاست علمي فورمولونه پر خپلې ټولنې تطبیقوي، دی پر دې پوهېږي چې په دې ټولنه کې واحد سیاسي او علمي فورمول نه تطبقیږي، له هر چا سره باید ځانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



معامله وشي. نو ځکه خو دی چې د کوم پوست لپاره کوم څوک ټاکي، هغه باید دومره سست او پخ وي چې هر څه دی وغواړي، هغه یې ومني، البته په دې برخه کې د هغو ټوپکوالو او زورواکو خبره جلا ده چې د اسلامي جمعیت او نورو تنظیمونو له خوا معرفي کېږي او دی یې د رد صلاحیت نه لري. زموږ خبره دلته پر هغو اشخاصو ده چې د تنظیمونو تر دایرې بهر دي او د ولسمشر ونډې ته پاتې کېږي. د دې ډول اشخاصو د تعین په برخه کې بیا ولسمشر سره خپل خپل معیارونه دي، تر ټولو عمر خوړلی، بې ژبې، بې خولې، بې کسه او بې وسه سړی انتخابوي، په دې کې بیا داسې اشخاص هم وي چې هېڅ ولسي بېز نه لري. جمهور رییس فکر کوي که د نفوذ خاوندان مقرر کړي، نو چې کله یې لرې کوي، هغوی خپل خپل مشکلات زېږوي، نو راځه داسې کسان مقرر کړه چې هېڅ بېخ او تریخي ونه لري. هر کله چې به یې څوک مقرر کړ، تا به فکر کاوه چې تر دې نو بیا بل کمزوری شخص نه پیدا کېږي، خو چې بل به یې مقرر کړ پر هغه پخواني به دې شکر وکاږه، غوره بېلګې یې د کورنیو چارو د وزیر په توګه د تاج محمد وردګ، د کابل ښاروال په توګه د صاحبي، د افغانستان بانک د رییس په توګه د نورالله دلاوري، د خپل ویاند په توګه د کریم رحیمي، د جمهوري ریاست د لومړۍ دورې د ټاکنیزو مبارزو او د پوهنې وزارت لپاره د نورمحمد قرقین، د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د محمد اسمعیل قاسمیار او یا هم د نورو مهمو دولتي پوستونو لپاره د دا ډول پخو او سستو اشخاصو ټاکنه. په دې کې بیا یوه بله خبره هم ډېره مهمه ده او هغه دا چې کوم پوست به د اکثریت پښتنو او یا ځینې نورو قومونو لپاره پاتې شو، که هغه پوست به ډېر حساس و، نو بیا به یې له شمالټلوالې په تېره بیا له نظار شورا سره د هغه پوست لپاره په ګډه پرېکړه کوله؛ داسې یو شخص به یې ورته راوسته چې د هغوی له خوښې پرته به یې ګام نه پورته کاوه، خو هغه پوستونه چې به د کوم تنظیم ونډه نه وه او سوچه به ولسمشر ته پاتې وو، په هغو کې هم ده تر کمزورو ډېر کمزوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشخاص ګومارل. په دې ډول نو حکومت په تسلسل سره له دوو برخو جوړ شو، یو هغه ډلې او اشخاص وو، چې د توپک په زور راغلي وو او هېڅ ډول قانون ته یې غاړه نه ایښودله، هر ډول بدمعاشي یې کوله او بل هغه ډول اشخاص وو چې د جرئت غریزه یې اصلاً مړه وه او یوازې د څوکۍ په مینه کې ډوب وو، نور یې کوم قانوني ګام نه شو پورته کولای، حکومت له دوو خطونو څخه جوړ شو، یو تېز او ناقانونه او بل سست خط چې قانون یې غوښته، خو عملي کولای یې نه شو. البته په دې منځ کې به یو شمېر، کارپوه او زړور اشخاص هم و، خو هغه به د ګوتو په شمار وو او د دې دواړو لیکو په منځ کې به را ګیر وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرزي عاطفي شخصیت


د ولسمشر کرزي د شخصیت یوه خوا د هغه عاطفي اړخ دی. په سیاستوالو او واکوالو کې عاطفي شخصیتونه ډېر کم وي، په تېره بیا په شرقي ټولنو کې، چې د سیاست فلسفه اساساً د برچې پر څوکه ولاړه ده. دلته اکثره سیاسي عاطفي شخصیتونه په سیاسي ډگر کې ناکام ثابت شوي. په شلمه پېړۍ کې دوه لوی سیاسي عاطفي شخصیتونه: (گاندي او باچاخان)، یو په سیاسي ډگر کې بریالی شو، خو بل خپلو ارمانونو ته ونه رسېد. له گاندي پرته مور ډېرې کمې بېلگې لرو چې هغه دې له عواطفو سره مل سیاسي حرکت پیل کړی او له زورواکۍ پرته دې واک ته بریالی شوی وي. کرزی د زمانې د خاصو استثنایي شرایطو او تعاملاتو په بهیر کې واک ته ورسېد، خو د واک زیاته برخه یې قانوني واک ته رسېدنه وه، نه عملي واک. د ده د واکمنۍ په بهیر کې واک اکثره نورو چلاوه، خو قانوني مسؤلیت یې ده ته منسوبېده. ده د خپل هر دولتي او نادولتي مخالف پر وړاندې له زیات زغم او اوسېلې څخه کار اخیسته، همدا زغم د دې سبب شوی و چې د ده ځینې مخالفین د وخت په تېرېدو سره بېرته د ده تر خوا ودرېږي، ده هېڅکله هم د خپلو مخالفانو پر وړاندې سپکه خوله نه ده کارولې. یوه ورځ یې د کابل د چهاردهي د خلکو په غونډه کې وویل: ((والله چې په خپلو مخالفینو مې هم زړه خوږېږي چې وژل کېږي.)) دا نو د عاطفي حالت هغه اوج دی چې سړی یې د قدرت پر مهال څرگندوي. ولسمشر څو ځلې په عامه غونډه کې له ډېره درده په ژړا شوی، کله چې یې د خپل هېواد ماشومان په وینو کې لیت پیت لیدلي، نو بیا یې دسمال سترگو ته نیولی، هغه د پارلمان د (۱۵)مې دورې په پرانیستغونډه کې د خپلې وینا په وروستۍ جمله کې خپله ژړا ټینگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کړای شوه، هغه د امریکایي الوتکو له خوا د (شینډنډ) د خلکو د عامه وژنې د فاتحې په غونډه کې په ګډه له خپل ولس سره وژړل.

هغه د خپل ورور احمد ولي کرزي په قتل کې خپله طبیعي ژړا کنټرول نه کړای شوه. هغه د پارلمان له یو شمېر خواخوږو وکیلانو سره په کتنه کې چې د (۱۳۹۰ل) کال د اسد میاشتې پر (۱۸) نېټه یې وکړه، تر اوږدو بحثونو وروسته یو ځل بیا په زغرده زغرده وژړل، د خپلو سلګیو او ژړا په ترڅ کې یې وویل: ((ماډېر څه غوښتل چې خپل ولس ته یې وکړم، خو زه په ډېر خراب حالت کې جمهور رییس شوم، هېڅ نه وو، هر څه وران ویجاړ وو، ما له یوه وران



(ولسمشر حامد کرزی)

حالت څخه شروع وکړه، په ډېر مشکل مې هېواد تر دې حالته راورساوه، اوس د خدای فضل دی د یو څه خاوندان یو، بل جمهور رییس که راغی هغه به تر ما خوشبخته وي، له یوه ښه بل حالته به کار شروع کړي.))

په دې غونډه کې بیا هم جمهور رییس له چا څخه ګیله ونه کړه، خو د خبرو له متن څخه یې ښکارېدله چې ډېر ستړی دی؛ له خارجیانو او هغه چا څخه ګیله من دی چې پر ده تر حده زیات انتقادونه کوي. ده د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل: ((ما ته نه قانون اجازه راکوي چې بیا ځان کاندید کړم او نه زه خپله ځان کاندیدوم، زه ډېر ستړی شوی یم، سن مې هم تقاضا نه کوي چې دا ټوله دنیا هم راته ووایي بیا ځان نه کاندیدوم. هو خو یو کار به موږ او تاسې ټول په ګډه کوو چې د یو ښه سړي تر شا به ودرېږو.)) د جمهور رییس دا مجلس له وکیلانو سره نږدې دوه ساعته اوږد شو، خو په دې غونډه کې هغه تر پخوانیو غونډو ډېر ستړی، ستومانه او ماېیجن ښکارېده، عاطفي حالت یې هم تر پخوا ډېر څرګند و او له چا څخه یې د غچ اخیستنې روحیه په خیال کې هم نه ګرځېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حیا او عفت

ولسمشر حامدکرزی داسې یو جمهور رییس دی چې د خپل ولس کلتوري ارزښتونو ته سخت درناوی لري، د همدې ارزښتونو په متن کې رالوی شوی دی. خپله حیا، عزت او عفت ساتل او د نورو حیا ته درناوی د افغاني ټولنې د غوره کلتوري او ټولنیزو ارزښتونو له جملې څخه دي. کرزي هم د یوه عادي فرد او هم بیا د یوې سترې دودیزې ټولنې د ولسمشر په توگه تر هر چا زیات دا کلتوري ارزښتونه ساتلي او ځلولي دي. په افغانستان کې په سیاست کې د مېرمنو ونډه یوه حساسه مسئله ده، تر حامدکرزي دمخه چې هر افغان مشر یا د دویمې یا درېیمې درجې واکمن خپله مېرمن، هغه هم د حاکمیت پر مهال سیاست او عامه محضر ته راکښلې، چندان ښه نتیجه یې نه ده ورکړې، غوره بېلگه یې د غازي امان الله خان دوره وه چې د ښځو غورځنگ په تېره بیا په عام محضر کې د (ملکې) حضور غازي امان الله خان او افغانستان ته سخت جنجالونه پیدا کړل. کرزی سره له دې چې په یوې مخورې قومي او روښنفکره کورنۍ کې زېږېدلی، رالوی شوی او د اعلیحضرت محمدظاهر شاه له دربار سره یې هم تاوده اړیکي درلودل، مېرمن یې هم په یوې لوستې او روښنفکره کورنۍ کې زېږېدلې، لوړې زده کړې لري او د طب ډاکتر ده، خو ده هېڅکله هم د افغانستان د لومړۍ مېرمنې په توگه په کوم رسمي او نارسمي محفل کې څرگنده نه کړه. نه یې په دولتي چارو کې مداخله وکړه او نه یې هم له بیت المال څخه ناوړه گټه پورته کړه. په دې برخه کې که یې له استاد برهان الدین رباني سره پرتله کړو، نو څرگند توپیر په کې لیدل کېږي. ان یو شمېر کابل مېشتو په اصطلاح روښنفکرانو به کله کله د رسنیو له لارې سختې نیوکې هم پرې کولې، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خپله ځان ته د ولسواکۍ ممثل وایي، د ښځو حقوقو دعوې کوي، خو خپله مېرمن رسمي او نارسمي غونډو ته نه حاضروي. خو ولسمشر د دوی پر وړاندې هېڅ غبرگون ونه ښود او خپله مېرمن یې د کور د مېرمنې په توگه په عفت او عزت کې وساتله. د شخصي کرکتر له مخې ولسمشر کرزی ډېر حیاناک سړی دی، که د نورو نیمگړتیاوې ورته معلومې هم وي، نو سترگې به پرې پټوي او ځان پرې ناگاره اچوي. د جمهوری ریاست تر دویمو ټاکنو دمخه ډاکتر عبدالله عبدالله ته یو څه داسې شخصي مشکل پیدا شوی و، چې د هغه شخصیت ته یې تاوان رسولای شو، کله چې د ولسمشرۍ ټاکنې راورسېدې، لا هم د ډاکتر عبدالله مشکل پر خپل ځای و، فهیم خان او نورو یې د حل لپاره لگښت او منډې ترړې کولې، کرزی پر ټولو جزیاتو خبر وو. د ټاکنو د مبارزو**



(ولسمشر حامد کرزی)

**په ترڅ کې د ولسمشر کرزي یو شمېر کمپاینران هغه ته ورغلل، ورته یې وویل: ډېر ښه فرصت دی چې عبدالله له صحنې لرې کړو او له دې خوږې گوتې یې ونیسو، هغه ورته په سړه سینه وویل: ((موږ باید د عبدالله عزت خوندي کړو، د هغه شخصیت ته زیان ونه رسوو، عبدالله ماسره په ټاکنو کې رقابت لري، کله چې ټاکنې خلاصې شي هر څه باید خلاص شي، دا ټاکنې باید د دې سبب نه شي چې موږ خدای مه کړه د چا شخصیت ته په کې زیان واړوو.)) همغه وو چې د عبدالله د شخصیت د تخریب مخه یې ونیوله. ان د دفتر او جمهوري ریاست نور کارکوونکي چې کوم وخت ترې کومه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اخلاقي سهوه او خطا شوې ده، راغوښتي، نصیحت یې ورته کړی، ځینې یې له کاره ګوښه کړي، خو نور یې پرې نه دي خبر کړي چې د کوم علت له مخې یې لرې کړي دي. د (۱۲) کلونو په بهیر کې چې هر چا هر څومره بد و رد ورته وویل، ده یې په مقابل کې سپوره کلمې استعمال نه کړې، د یوه حیاناک انسان په توګه دی په افغاني ټولنه کې یو ښه مثال دی، ټولنیزو ارزښتونو ته د درناوي له کبله دی په افغاني ټولنه په تېره بیا په پښتنو کې د زیات تائید وړ شخصیت ګڼل کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حامدکرزي ټولنیز شخصیت

حامدکرزی هغه ولسمشر دی چې د ټولنیز چلند له مخې په غوره دریځ کې دی. له مخالف، موافق، دوست او دښمن سره داسې ټولنیز چلند کوي چې هغوی فکر کوي، د ډېرې مودې دوست یې دی او له ډېرې پخوانۍ



(ولسمشر حامد کرزی، د ولس په منځ کې)

زمانې ورسره پېژني. که څوک یې په کور کې مېلمه وي، نو دی خپله ورته په پیشقاب کې خواړه اچوي، دسمال او کاشوغه ورته په خپل لاس ورکوي، د مېلمه دومره عزت کوي چې مېلمه یې تر زیات تاثیر لاندې راځي. د ډوډۍ پر مهال داسې ګپ او شپ لګوي چې فکر نه کوې کوم ولسمشر سره ناست یې، ولسي متلونه، ټوکې ټکالې او شعرونه یې زیات زده دي.

په واقعیت کې د ده همدا ټولنیز چلند و چې د ده پر ډېرو سیاسي نیمګړتیاوو او سیاسي ناتدبیرۍ یې پرده غوړولې وه. د ولسمشر دا عادت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې څوک په قهر او غوصه هم دفتر ته ورشي، نو خوشاله ترې راوځي. د لنډ مهالې ادارې پر مهال په لغمان کې یو والي و، (عبدالهادي واحدي) نومېده، ده فکر کړی و چې طالبان لاړل، حکومت مو ونیوه، نو راځه لګبتونه کوه، بیا به یې حکومت ورکوي. د شپېږو میاشتو په بهیر کې له هر هوټلي او دکانداره ډېر پوروړی شو، د انتقالي ادارې پر مهال له ولایته هم پسې لرې، خو پور پرې پاتې شو. په نویو افغانیو نږدې (۳۰) لکه افغانۍ پوروړی و. سړی ډېر خفه او په قهر و، ولسمشر سره یې هم د ملاقات زمینه نه برابرېده، کال دوه په دې کې ووتل، خو په پای کې یې له ولسمشر سره د ملاقات زمینه برابره شوه، ده ویل ډېر په قهر د کرزي صیب دفتر ته ننوتم، ما ویل چې څه اوس خو والي هم نه یم، څه چې مې زړه غواړي ولسمشر ته یې وایم، خپل زړه به ښه تشوم، کله چې دفتر ته ورننوتم، نو کرزی صیب له خپلې څوکۍ راپورته شو، په خندا یې وویل: ((چېرته یې واحدي صیب ګرد سره زموږ پوښتنه هم نه کوې، نه راځې، نه احوال رالېږې، انډیوالي خو داسې نه کېږي، چې زه مو یوازې پرې ایښی یم؟)) واحدي صیب وویل، ما نه وارو پار خطا شو، هر څه مې له یاده ووتل، بیا کرزي صیب راته وویل، ته ونیسه چای وڅښه بیا یې وویل: ((وایه خدمت، څنګه دي لغمان کې حالات؟ څنګه دې زموږ پوښتنه وکړه!)) واحدي صیب وایي، ما ورته په ډېر احتیاط د خپلې قرضدارۍ خبره وکړه، هغه وویل: ((ته خپله خان سړی یې پیسې څه کوې، ته خپله خلکو ته پیسې ورکوې.)) واحدي وایي، زه له شرمه غلی شوم، بیا یې وویل: ((دا خو د دوه درې کلونو مخکې پیسې دي، حکومت خو هر کال خپل حساب و کتاب لري، د هر کال بودیجه معلومه وي، دا زه له کوم درکه درکړم؟)). دی وایي زه حیران وم چې څه ورته ووایم، یو دم مې له خولې څخه ووتل: ((از باب استاد ربانی بتی!)) په دې سره دی یو دم په خندا شو: ((عجیبه خبره دې وکړه.)) استاد رباني یو باب درلود (۹۰۰۰)، هغه به هر چاته له کوم حساب او کتاب پرته له همدې بابه پیسې ورکولې. دې باب ته په اداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب کې (قطعه يي مصرف)) وايي چې وجه يې معلومه نه وي او صلاحيت يې ولسمشر سره وي. واحدي وايي دې کې يې نو راته وويل راکه کاغذونه دې. پاتې مې ورکړې او راته يې وليکل چې دا پيسې دې ورته اجرا شي، کاغذونه مې جيب کې کېښودل او په خوشالۍ له دفتره رابهر شوم. د راوتو پر وخت مې ورته وويل، ما سره دې داسې ښه چلند وکړ که پيسې دې راکړې هم نه واى، نو خفه کېدلم درڅخه نه، هغه وويل: ((مولا دې راوله....)) دا د کرزي صيب د ټولنيز شخصيت يوه بېلگه وه. د هغه بل خاصيت دا دی چې د هېواد د اکثرو ټولنيزو، فرهنگي، سياسي او ملي شخصيتونو نومونه يې له ياده زده دي. کله چې به غونډه وه، د هر يو نوم به يې به جار اخيسته، له هغو څخه به يې د نورو مشرانو د حال او احوال پوښتنه کوله او دا کار پر هغو شخصيتونو چې ده به يې په مجلس کې نوم اخيسته، خورا ښه تاثير کاوه. د ټولنيزو روابطو له پلوه حامدکرزی په نړۍ کې يو کم مثاله مشر دی. خو له سياسي او اداري پلوه هغه خپل خپل مشکلات لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرزي عقیده یي شخصیت

له عقیده یي پلوه ولسمشر کرزی یو معتقد مسلمان دی، یو معتدل مسلمان. حلم، رحم، کرم او د عوامو په اصطلاح سړیتوب، د ده د کرکټر مهمې برخې دي. کینه، بعض او مذهبي تعصب یې په تندي کې نه لیدل کېږي، خپل لمونځ او اودس کوي، خو د افراطي اخوانیانو په شان د بل چا



(ولسمشر حامد کرزی د خدای(ج) په کور کې)

په لمانځه او اوداسه کې ډېره مداخله نه کوي. کوښښ کوي لمونځ په جماعت سره ادا کړي، خو سیاسي مصروفیتونه د دې سبب کېږي چې ټول لمونځونه په جماعت سره ادا نه کړي. د تراویح او جمعې ورځ لمونځونه ضرور په جماعت سره ادا کوي، د ولسمشرۍ پر مهال یو شمېر نورو کسانو هم له ده سره د ملتیا په نیت یاد لمونځونه په جماعت سره ادا کړي دي. لنډه دا چې لمونځ او روژه کې ډېر ټینګ دی. داسې وخت هم راغلی چې د کار په دفتر کې یې ځینې وزیران ناست دي، خو دی ترې غلی وتی، لمونځ یې په جماعت سره ادا کړی او بېرته چې راغلی بیا یې هغوی ته ویلي چې زه جماعت ته تللی وم، حج او عمرې ته د خپل حاکمیت پر مهال لاړ او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فریضه یې هم ادا کړې ده. د سخاوت خاوند دی، د عوامو په اصطلاح په لاس کې ازاد دی. د سبا ورځې ډېر غم ورسره نه شته، څه یې چې په لاس کې وي همدا نن یې درنه قربانوي، زړه یې ډېر باریک دی. له سخاوت څخه یې خپل سیاسي مخالفین هم بې برخې کړي نه دي. د الکولي مشروباتو د څښاک په باب یې تراوسه چا څه نه دي ویلي، څکاک یې نه ردېدلای او نه تائیدېدلای شي، لنډه دا چې ډېر هغه شیان چې اسلام مجاز او روا ګڼلي هغه تعقیبوي او ناروااوو څخه مخ ګرځوي. که د ده پرځای بل هر څوک وای او د پیسو داسې باران پرې اورېدلای، نو دومره یې ځان پاک نه شو ساتلای. حیاناک او عزتناک سړی دی. اسلامي مطالعه یې په منځنۍ کچه کې ده. په مجموعي ډول دی یو عقیده یي شخص ګڼل کېږي، خو د حکومت کرکټرونه یې نه ټول په اسلامي اخلاقو سمبال وو او نه هم په نا اسلامي، د هر فکر او ان د څو بېلابېلو متضادو او ناڅرګندو عقایدو او فکرونو متضاد اشخاص په کې لیدل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کرزي جرئت، احتیاط او وېره

ولسمشر کرزی داسې یو شخصیت دی که ووایو ډېر باجرئته دی، هم توجیه او مثالونه یې پیداکېدی شي او که ووایو کم جرئته او یا هم بې جرئته دی، نو هم ډېرې بېلګې یې پیداکولای شو، د احتیاط، مضر احتیاط او وېرې ډېرې بېلګې یې هم لیدلای شو. ولسمشر د بهرنیانو په تېره بیا د امریکایانو پر وړاندې سخت زړور دی، دا جرئت ځینو ته کېدی شي تصنعي ښکاره شي او ځینو ته حقیقي، خو ولسمشر یې تر هر چا زیات پر علت پوهېږي، یانې دا چې ولسمشر هغه ځای ته د جرئت زیاتې ګوتې وروړي چې هلته د خطر کچه کمه وي، که څه هم خطر لوی او قوت یې زیات وي. دا چې ولسمشر ولې د امریکایانو پر وړاندې ډېر حساس او باجرئته دی، په خپله ولسمشر د خبریالانو په یوه غونډه کې له دې حقیقت څخه پرده پورته کړه، ولسمشر وویل: ((دا چې زه ولې پر امریکایانو تېز ورځم، خبره دا ده چې امریکا نه پر ما کودتا کوي، نه مې وژني، نه مې طیاره ولي، نه راته زهر راکوي او نه راباندې توغندي راولي، امریکا د دنیا لوی ملک دی، دې ټولو کې یې نوم بدېږي، نو پرېږده زه ورسره تر اخره رسۍ کش کړم، خو رسۍ شکولو ته نه پرېږدم، د افغانستان حق ورڅخه غواړم...)) ولسمشر چې څومره د نړۍ له ستر طاقت (امریکا) سره ډغره وهله، هاغومره یې بیا له خپلو داخلي جنګسالارانو، په تېره بیا له (نظار شورا) او ځینو نورو جنګسالارانو څخه وېره احساسوله، د هغوی په مقابل کې به همېشه چوپه خوله ناست و. یوه ورځ جنرال دوستم په داسې حال کې ولسمشر کرزي ته زنګ وواهه چې دوستم د نشې په حالت کې و او ولسمشر د کابینې په غونډه کې ناست و. دوستم په ټلیفون کې سختې بدې او ترخې خبرې وکړې، ولسمشر د ټلیفون غږ پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ، د کابينې ټولو حاضرو غړو د دوستم سپورې او سپکې خبرې واورېدې، خو نه ولسمشر او نه هم د کابينې کوم غړي، څه وويل، ټول غلي وو.

فهيم خان د جمهور رييس له اجازې پرته راساً د هغه دفتر ته ورننوت، څو ځله يې د وتلو او راننوتو په حالت کې د ولسمشر د دفتر دروازه په لغته وهلې، سپوره الفاظ يې هم کارولي، خو ولسمشر ورته هېڅ نه دي ويلي. د لنډمهالې ادارې له پيله بيا د ولسمشرۍ د دويمې دورې تر وروستيو پورې يې د فهيم خان، حاجي محمد محقق، جنرال دوستم، بسم الله خان، امرالله صالح، عبدالله عبدالله او گڼو نورو اشخاصو ډېرې ترخې خبرې اورېدلي، خو ده هېڅکله ورته په جرئت ځواب نه دی ورکړی. کله چې به د ولسمشر دفتر ته ځوک ننوتل او خبرې به پيل شوې، په تېره بيا که خبرې به د اسلامي



(ولسمشر حامد کرزی)

جمعيت او ځينو قومندانانو په باب وې او دا مهال به خدمو چای راوړ، نو ولسمشر به خبره په بله واړوله، په نورو مسايلو به يې پيل وکړ، کله چې به هغوی د چای پياله کېښوده، بيا به ده بېرته اصلي خبره پيل کړه. له دې څخه داسې ښکارېدله چې دی د خپل دفتر پر خدمو هم پوره واکمن نه و او يا يې باور پرې نه درلود، دا هم ورته شمالټلوالې مقرر کړي وو او ده يې د تبديلۍ صلاحيت او جرئت نه درلود، زه دوه ځله د ده په دفتر کې او يو ځل يې په کور کې د سهار چای پر مهال له داسې يو حالت سره مخامخ شوی يم. د چای د خدمو پر وړاندې يې خبره بلې خواته وړې ده. د دې امکان هم و چې د ده په دفتر کې غږ ثبتوونکي وسايل نصب شوي وي، يوه ورځ له ولسمشر سره زما ملاقات و، يوه انتخاباتي موضوع وه، ما وويل کله خو مې زړه غواړي چې يا يې له مخې لرې کړم او يا پرې ځان مړ کړم، ولسمشر يو دم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشاره پوه کړم، پاس چت ته یې لاس ونیو، څلورو دېوالونو ته چې مانا څه وایې؟ هر څه دلته ثبتېږي، دا مهال ماته هغه د ملګري (او) کیسه رایاده شوه. ستر جنرال الکساندر مایاروف ( په افغانستان کې رښتیا څه تېرېدل.؟) یو اثر لیکلی، دا هغه روسی جنرال و چې د ده په مشرۍ روسي لښکرې افغانستان ته راغلې، دی د ټولو روسي لښکرو مشر و. ده په خپلو یادښتونو کې لیکلي دي: «موږ د ملګري (او) په نامه یو عسکر درلود چې هغه به همېش د ببرک کارمل په دفتر کې د هغه تر شا ولاړ و، خو په ملکي دریشي کې، د ملګري (او) وظیفه دا وه چې د کارمل ټولې خبرې واوري، په واقعیت کې کارمل د هغه له اجازې پرته هېڅ خبره نه شوه کولای، کله کله چې به کارمل ته څوک راغلل او ملګری (او) به یې نه پېژنده، نو کومه داسې خبره به یې وکړه چې د شوروي خلاف به وه، کارمل خو په خوله هغه ته څه نه شوه ویلای، چې دلته مې سرته څوک ولاړ دی، نو د لاس په اشاره او د خولې په بې غږه حرکت به یې هغه ته وویل چې شاته مې وګوره! که هغه سړی به لږ هوښیار و، نو په نزاکت به پوه شو.» اوس چې له هغې زمانې نږدې شل پنځه ویشت کاله تېر شوي، خو فکر کوم د دې کوټې د کنټرول په ماهیت کې کوم تغیر نه دی راغلی، یوازې کېدی شي توپیر یې په دې کې وي چې د ملګري (او) ځای اوس ملګري (تخنیک) نیولی وي. روسی جنرال لیکي چې ملګری (او) زموږ د عسکر یو مستعار نوم و. اوس هم کېدی شي مستعارو (وسایلو) د هغه ځای نیولی وي. ولسمشر نه یوازې په خپل کاري دفتر کې له زیات احتیاط څخه کار اخیسته، بلکې د خپل کور مخې ته د شنه چمن په خلاصه فضا کې یې د ډوډۍ او چای د خدمو پر وړاندې هم له ورته احتیاط څخه کار اخیسته، یوه ورځ مې سهار چای ورسره څښه، سیاسي خبرې وې. د استاد رباني د سیاسي مانورو او حرکتونو په باب مو خبرې کولې، دا مهال یو خادم د چایو د تازه کولو لپاره راغی، ولسمشر خبره چوپ کړه، تر هغه پورې یې بیا خبره پیل نه کړه تر څو چې خادم بېرته له موږه لرې شوی نه و. د ولسمشر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول جرئت، وېرې، احتیاط او په ځینو ځایونو کې مضر احتیاط هغه ته ډېرې ګټې او هم ډېر زیانونه اړولي دي. که څوک په داسې یو حساس پوست کې کار کوي، هغه ته جرئت او احتیاط دواړه په کار دي، خو هوښیار واکمن به همغه وي چې له دې هر یوه څخه پر خپل ځای او خپل وخت ګټه پورته کړي؛ خو د دې ډول وېرو تر څنګ بیا ولسمشر کله کله په ځینو ځایونو کې له داسې جرئت څخه کار اخیسته چې د خطر کچه پکې ډېره زیاته محسوسه وه. هغه یو ځل د غزني د اندړو ولسوالۍ په یوه غونډه کې ناست و چې د مخالفانو له خوا غونډې ته ور څېرمه توغندي ولګېدل، د ده په روحیاتو کې هېڅ تغیر رانغی، خلک یې ارامۍ ته را وبلل او غونډه یې له اخلاله وژغورله.

یو ځل د لویې جرګې په خیمه کې د لویې غونډې پر مهال کېږدۍ ته نږدې توغندي ولګېدل، ولسمشر پر خبرو لګیا و، خلک وترهېدل، ده پر ټولو غږ کړ، کېنئ کېنئ، توغندي دي، هېڅ خبره نه شته، دوی به خپل کار کوي، خبرو ته یې په نورمال ډول ادامه ورکړه.

د جرئت او کم جرئتۍ داسې ګڼې نورې بېلګې یې هم شته چې نه غواړو دا لیکنه پرې نوره وغځوو. لنډه دا چې جمهور رییس کرزی د خپلې واکمنۍ په بهیر کې د با جرئتۍ او کم جرئتۍ په دواړو حالتونو کې ژوند کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بخت پاچا د بخت تر وخته

بخت هم عجیبه شی دی، سړی په نه امکاناتو پاچاهۍ ته رسولای شي. کله کله یو سړي سره ډېر عقل وي، خو بخت ورسره یاري نه کوي، ګټلې پاچاهۍ ترې لاړه شي. په اصطلاح بخت یې کوټه شي. په همدې خاطر خو رحمان بابا ویلي دي:

عقل مه غواړه طالع غواړه رحمانه
عقـلمن د طالعمنو غــلامـان دي

د نړۍ یو غټ سیاسي مفکر (ماکیاولي) پنځه نیمې پېړۍ پخوا ویلي: ((ځینې کسان د بخت په زور واک ته رسېږي، خو دا واک تر هغه پورې غځېږي چې بخت ورسره ملګری وي)) ماکیاولي وایي: ((که چېرې د بخت پاچا تر بخت وروسته له هنر او تدبیر څخه کار واخلي، نو که بیا بخت ورسره ملګری هم نه وي د تدبیر په زور چلېږي...)) د دې خبرې مانا دا ده چې بخت یو استثنایي مرغه دی چې تصادفاً د چا پر اوږه کېني. سړی باید تل تر تله ورته په طمع نه وي، خو هنر او تدبیر له استثنایي حالته وځي او څوک یې چې ولري، نو ټول عمر ورسره ملګرتیا کوي، په همدې خاطر خو لوی افغان حکیم (خوشال خان خټک) ویلي دي:

که طالع او هنر دواړه راته کېږدې
زه خــوشال به په کــې ونیسم هنر

خوشال هنر او تدبیر همېشنی ملګري ګڼي. د کاندید اکاډمیسن (محمد صدیق روهي) په وینا: ((افغانستان د استثناتو هېواد دی، دلته هر هغه څه پېښېدلای شي چې اټکل یې نه وي شوی او دلته هر هغه څه نه پېښېږي چې اټکل یې کېږي.)) یانې دا چې افغاني ټولنه د ممکناتو او ناممکناتو ټولنه ده. د حامدکرزي حاکمیت هم یو استثنایي حالت دی، نه یې مخکې وړاندوینه کېدلای شوه او نه به بیا هم د داسې یو حالت وړاندوینه وشي. که چېرې احمدشاه مسعود نه وای وژل شوی، د نیویارک پېښه نه وای شوې او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته قوموندان عبدالحق پسې نه وای وژل شوی، امریکا پر افغانستان یرغل نه وای کړی، نو د کرزي د واکمنۍ هېڅ احتمال نه و. ده خپله هم د دې خیال نه درلود چې داسې یو موقف ته دې ورسېږي، خپله یې هم ویلي چې په خیال کې مې هم پاچاهي نه گرځېدله. د دې ټولو خبرو نچوړ دا راوځي چې د کرزي واکمنۍ د بخت په وزرونو پورې تړلې وه. د موقتې ادارې رییس په توگه تر ټاکنې وروسته هم دی د بخت په زور چلېده، نه یې په پوځ کې څوک لرل، نه یې گوند او لښکر جوړ کړی و، نه ورته په نظام کې



ټول خلک ژمن وو، وروسته یې نړیوالو سره هم اړیکي ترخه شول، د گاونډیو هم نه خوښېده، اکثریت پښتانه هم ورڅخه ناراضه وو، جگړې هم دوام درلود، چاته یې چې ډېر امتیاز ورکړی و، هغو هم پرې تر ټولو زیاتې نیوکې کولې، موافق او مخالف دواړو یې غندنه کوله، نو په داسې یو حالت کې د نظام چلول د بخت له زوره پرته په بل شي ممکن نه وو. کرزي ته د تدبیر ډېرې لارې او دروازې هم پرانیستې وې چې په ولس او نظام کې یې خپل موقف قوي کړی وای، خو کله هم ده له سیاسي تدبیر څخه کار وانخیست، د کرزي بخت ویښ و، تر پایه یې له ده سره یاري وکړه، نږدې ده چې د خپلې انتخابي واکمنۍ دویمه دوره هم پوره کړي او هم روغ رمټ له ارگه ووځي، دا چې خپل ځایناستي ته به څه غمونه پرېږدي، دا نو بیا بل بحث دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځلسم څپرکی

# د ولسمشر کرزي د رژیم نیمگړتیاوې

په نړۍ کې به هېڅ نظام نه وي تېر شوی، چې هغه دې خپلې خپلې بریاوې او نیمگړتیاوې ونه لري. د ولسمشر کرزي د واکمنۍ بهیر هم له دې قاعدې څخه بهر نه دی. نیمگړتیاوې او بریاوې که د هر علت او دلیل له مخې وي په وروستۍ نتیجه کې نیمگړتیا، نیمگړتیا او بریا، بریا گڼل کېږي. اساسي خبره دا ده چې د یوه رژیم بریا او نیمگړتیا د ولس پر ژوندانه مستقیم اغېز لري. یو رژیم هغه وخت بریالی گڼل کېږي چې د وخت په تېرېدو سره د خپلې بریا تله درنه کړي او نیمگړتیاوې ټیټ حالت ته ورسوي. دلته غواړم په دې څپرکي کې په ولسمشر کرزي پورې د تړلي نظام نیمگړتیاوو ته په لنډیز سره نغوته وکړم او په بل څپرکي کې به یې بریاوې وارزوو او بیا به دواړه سره پرتله کړو.

۱- امنیت: د حامدکرزي د حکومت تر ټولو غټه ستونزه امنیتي ستونزه ده. د ده د حکومت په لومړیو دریو کلونو کې امنیت نسبتاً ښه و، خو کله چې د ده په حکومت کې د بېلابېلو عواملو له امله د خلکو هیلې پوره نه شوې. د ولس او حکومت تر منځ واټن زیات شو او حکومت لرې پرتو سیمو ته په ښه ډول خدمات ونه شو رسولای، نو دې کار د طالبانو فعالېدو ته لاره اواره کړه، البته د طالبانو په بیا ظهور کې کورنیو او بهرنیو گڼو عواملو تاثیر درلود، خو پر امنیتي سکتور باندې د طالبانو د پخوانیو دښمنو ډلو انحصار یو کورنی اساسي عامل گڼل کېدی شي. طالبانو ورو ورو په اکثرو سیمو کې له امنیتي خلا څخه گټه پورته کړه، له دفاعي حالته تعرضي حالت ته راووتل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځانمرګو بریدونو نوي میتود او نورو ډول ډول بریدونو ته چې تر دې دمه یې ساری نه و لیدل شوی، مخه کړه، په نتیجه کې په هېواد کې جګړه لاپسې توده شوه او ګڼې سیمې د حکومت له کنټروله ووتې، د ملکي او نظامي افرادو تلفات ورځ تر بلې زیاتېدل. یو وخت داسې راغی چې یوازې د**


(په عامه ځایونو کې د چاودنو یو انځور)

**دولتي ملکي او نظامي افرادو تلفات په اوسط ډول یو سلو پنځوس تنو ته ورسېده. د ورځنیو تلفاتو شمېر هره ورځ د ارګ په ماڼۍ کې د افغاني امنیتي سکتور او نړیوالو ځواکونو د همغږۍ مرکز ته راته او هغوی به هر سهار د امنیت شورا دفتر ته سپاره او له دې لارې به بیا ولسمشر ته د امنیتي تلفاتو او ضایعاتو راپور وړاندې کېده. د بېلګې په توګه به دلته د امنیتي پېښو له امله د څو کلونو په بهیر کې د ځاني تلفاتو او ضایعاتو څومره والی د یوه جدول په بڼه وړاندې کړو، دا جدول د کورنیو چارو وزارت له خوا ترتیب شوی، په دې کې د ملي پولیسو، ملي اردو، ولسي خلکو او همدارنګه د مخالفینو د تلفاتو ارقام لیکل شوي دي، دا دی دلته دا جدول کټ مټ وړاندې کوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تلفات پرسونل پولیس ملی، اردوی ملی، ملکی و دشمن در مرکز و ولایات کشور از سال ۱۳۸۴ الی اخیر سال ۱۳۹۲ هـ ش

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 412 | 638 | 0 | 0 | 344 | 653 | 255 | 285 | 512 |

1385

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 627 | 1096 | 0 | 0 | 655 | 1664 | 2300 | 533 | 1400 |

1386

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 995 | 1594 | 0 | 0 | 1236 | 1656 | 4348 | 1085 | 2403 |

1387

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 1213 | 1915 | 111 | 291 | 1636 | 2769 | 3693 | 818 | 2478 |

1388

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 1246 | 2386 | 239 | 555 | 2214 | 3921 | 4604 | 937 | 2998 |

1389

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 1145 | 2391 | 284 | 773 | 1959 | 3597 | 5157 | 953 | 6519 |

1390

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات پولیس محلی | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 1200 | 2465 | 227 | 286 | 321 | 702 | 1441 | 2952 | 3653 | 669 | 8597 |

1391

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات پولیس محلی | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 1795 | 2991 | 512 | 681 | 426 | 921 | 1629 | 3365 | 4634 | 983 | 6757 |

1392

| تلفات پرسونل پولیس | | تلفات پولیس محلی | | تلفات اردوی ملی | | تلفات ملکی | | تلفات دشمن | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | شهید | مجروح | مرده | زخمی | دستگیرشده |
| 2430 | 3963 | 960 | 1206 | 421 | 784 | 1648 | 3607 | 5704 | 1868 | 2704 |

دا جدول یوازې یوه بېلگه ده او هغه پېښې دي چې تر کورنیو چارو وزارته او نورو امنیتي ارگانونو رارسېدلي دي، په دې جدول کې جنايي او د اختطاف هغه سلگونه پېښې شاملې نه دي، چې د هر ولایت له پولیسو سره ثبت او ناثبت دي. د انتحاري پېښو کلتور که څه هم له عراق څخه افغانستان ته راولېږدول شو، خو دلته د دې پېښو شمېر دومره زیات شو چې تر عراقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم واوښت. د ولسمشر کرزي په ټوله واکمنۍ کې به هېڅ داسې ورځ نه وي تېره شوې چې د یوه افغان وینه دې به کې نه وي تویه شوې. بهرني عسکر هم خوندي پاتې نه شول، د دواړو خواوو بهرني سرتېري وژل شوي، هغوی چې د طالبانو په ملاتړ او یا هم په خپل سر افغانستان ته راغلي او هغوی چې د طالبانو او القاعدې پرضد افغانستان ته راغلي، د ټولو وینې تویې شوې دي. د طالبانو د بهرنیو ملاتړو وژل شویو شمېر خو دقیق معلوم نه دی، خو د هغو هېوادونو د وژل شویو عسکرو شمېر چې د امریکا په مشرۍ افغانستان ته راغلي، په مجموعي ډول زرګونو ته رسېږي او د دې اثر د لیکنې تر وخته (۱۳۹۲ل) پورې په دې ډول دي:

تر (۳۰۰۰) پورې امریکایي عسکر او تر (۵۰۰) پورې انګلیسي عسکر وژل شوي او په مجموعي ډول د ناټو د ټپي عسکرو شمېر تر (لس زرو تنو) هم اوړي.

په دې جګړه کې د بهرنیو عسکرو په سلګونو زغروال ګاډي، نقلیه واسطې او ټانکونه له منځه وړل شوي دي، په لسګونو الوتکې یې هم له منځه تللې دي او له اقتصادي پلوه تر (یو ټریلیون) ډالرو زیات زیان دې هېوادونو ته رسېدلی دی. د وژل شویو افغاني عسکرو شمېر هم په مجموعي ډول تر (۳۰۰۰۰) تنو اوښتی دی. په دې بهیر کې د افغان پوځ پر جوړونې ډېره پانګه لګول شوې، د دریو واړو امنیتي ارګانونو سرتېرو ته (ملي) مختاړی ورکړل شوی، خو په واقعي مانا پر امنیتي سکتور باندې د نظار شورا او اسلامي جمعیت د انحصار سیوری غوړېدلی و. انګېزه او وسله یې دواړه کمزوري وو، خو د کمیت او ظاهري بڼې له مخې یې وده ښه برښېدله.

**۲- اداري فساد:** تر امنیت وروسته د ښاغلي کرزي د حکومت بله غټه نیمګړتیا اداري فساد و، اداري فساد له امنیت او نورو ټولنیزو خدماتو سره مستقیم تړاو درلود. په حقیقت کې همدا اداري فساد دی چې نورو فسادونو ته یې لاره اواره کړې ده. افغانستان ته د نړیوالې ټولنې په لسګونو ملیارده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډالر راغلل، خو د اداري فساد له امله د دې پیسو یوه زیاته برخه بېرته له هېواده ووتله، کومه برخه یې چې په هېواد کې پاتې شوه، هغه هم پر مناسب ځای ونه لګول شوه. هم افغان ولس او هم ډونر هېوادونه د وخت په تېرېدو سره له اداري فساده تر پوزې راغلل، د اداري فساد پرضد بېلابېلې ادارې فعالې وې، څارنوالي، قضا، د کنټرول او تفتیش ادارې او نورو له پخوا څخه فعالیت درلود، دوه نوې ادارې: (د ارتشا او فساد سره مبارزه) او (له اداري فساد سره د مبارزې عالي ادارې) هم جوړې شوې، خو هر څومره چې دا ادارې زیاتېدلې، په فساد کې هم زیاتی راته. په خپله دا ادارې او د هغو مطرح افراد هم په یو نه یو ډول په اداري فساد کې راټاله شول. د افغانستان دولت په نړیواله کچه په اداري فساد کې کله درېیم او کله هم څلورم مقام ته ورسېد. اداري فساد د دولت له لویو ادارو نیولې ان تر وړو ادارو پورې وغځېده. دې کار دولتي او نادولتي کارونه سخت ټپڅ او په ځینو برخو کې پر ټپه ودرول. د افغانستان نړیوال حیثیت یې زیانمن کړ. اداري فساد په واقعیت کې د یوه نري رنځ بڼه خپله کړه چې ورو ورو یې د دولت ټول رګونه ونیول او بیا داسې حالت هم راغی چې د دولت مشرتابه یې له درملنې عاجز پاتې شو. خلکو له حکومت او مشرتابه څخه دا ګیله هم کوله چې د اداري فساد پر وړاندې سیاسي اراده نه لري، نه یوازې دا چې د فساد د له منځه وړلو هوډ نه لري، بلکې په خپله د فسادګرو د پیاوړتیا سبب ګرځي، پر دولت د ولس سخته بې باوري پیدا شوه.

د کابل بانک قضیه نه یوازې د هېواد، بلکې د سیمې په کچه د فساد یوه غټه او څرګنده بېلګه ده.

د افغانستان دولت کې د فساد ضد ادارو کمزوري او کم کاري د دې سبب شوه چې د فساد د مرضونو ویروس نړیوالو ادارو ته هم لاره پیدا کړي؛ هغه پیسې چې نړیوالو افغانستان ته ورکولې، د هغو یوه زیاته برخه مخکې تر دې چې هېواد ته داخل شي، په لاره کې لادرکه کېدله، کومه برخه چې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته راورسېدله، هغه به د ډونرانو او د هغو د قراردادیانو تر منځ وېشل کېدله، قراردادیانو به خپلو نورو اړوند قراردادیانو ته ورکوله او همداسې به درېیم لاس قراردادیانو ته رسېدله، اصلي کار ته به ډېره لږه برخه پاتې کېدله، د کار کیفیت به په اتومات ډول راټیټېده، د ولسمشر د دفتر مشر (عمر داودزي) په




وینا: ((په لومړیو څو کلونو کې د نړیوالې ټولنې د ټولې مرستې یوازې (اته سلنه) په افغانستان کې د دولت له خوا لگول شوې ده.)) افغانستان کې د فساد بېلابېل اړخونه دومره پراخ او ژور دي چې د ټولو څېړل د بېلابېلو لیکنو او اثارو ایجاب کوي. خو دلته به د فساد له بېلابېلو ډولونو څخه یوازې د ځمکې غصب ته په نسبتاً تفصیلي ډول اشاره وکړو:

**۳- د ځمکو غصب:** ((یو شمېر رسنیو، له هغې جملې څخه (هشت صبح ورځپاڼې) داسې اسناد ترلاسه کړي چې له مخې یې له (۱۳۸۱ل) څخه تر اوسه (۱۳۹۱ل کال مرغومي) پورې په هېواد کې (دوه ملیونه جریبه) دولتي ځمکه د بېلابېلو افرادو او دولتي ارگانونو له خوا غصب شوې ده.

د اسنادو له مخې ډېری ځمکه په ننگرهار، بلخ، کابل، کندهار او هرات ولایتونو کې غصب شوې ده.

پر (۵/۵/۱۳۹۱) نېټه د وخت ولسمشر ښاغلي حامد کرزي یو (۱۶۵) مادییز

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمان صادر کړ چې د کرنې وزارت یې په دې مکلف کړ، چې په درېیو میاشتو کې، د عدلیې وزارت، کورنیو چارو وزارت، لویې څارنوالۍ، له فساد سره د مبارزې ادارې او د سیمه ییزو ارگانونو ادارې په همکارۍ دې په هېواد کې د غصب شویو دولتي او شخصي ځمکو په اړه دقیق معلومات را ټول او وزیرانو شورا ته دې وړاندې کړي. تر فرمان وروسته د کرنې وزارت په مشرۍ له پورتینو شپږو ادارو یو کمېسیون جوړ شو.

د کمېسیون تر څېړنې وروسته دا جوته شوه چې په هېواد کې (دوه ملیونه جریبه) ځمکه، د کابینې د پخوانیو غړو، زورواکو، جهادي قومندانانو، د ملي شورا غړو، قومي مشرانو، متنفذانو، نامسؤله وسلوالو ډلو، دولتي ارگانونو او یو شمیر افرادو له خوا غصب شوې ده. د دې کمیسیون د راپور د یوې کاپۍ پر بنسټ یو شمېر افرادو له (یو جریب څخه تر زرو جریبو) پورې دولتي ځمکه په کابل، کندهار، هرات، بلخ، ننگرهار او کندوز ولایتونو کې غصب کړې ده.

د ځمکو غاصبانو پر غصب شوې ځمکه د اوسېدو ځایونه، کرنیزې ځمکې، ښارگوټي، د تېلو ټانکونه او مارکېټونه جوړ کړي دي.

له بلې خوا د ولسمشرۍ ریاست د ساختماني او تخنیکي چارو لوی مشاوریت په راپور کې داسې راغلي دي : تر (څلور نیم ملیونو جریبو) څخه ډېره دولتي ځمکه په کرنیزو، کلیوالو او ښاري سیمو کې غصب شوې ده .

په دې راپور کې راغلي چې (شل سلنه) ځمکه د ښاري پلانونو په ساحه کې غصب شوې ده، چې دې حالت پر دولت یو شمیر منفي اقتصادي، ټولنیزې او سیاسي اغیزې پرې ایښې دي.

د راپور پر اساس غصب شویو ځمکو د دولت ډېرې لویې مالي پروژې له ستونزو سره مخ کړي دي.

د ولسمشرۍ د ساختماني او تخنیکي چارو لوی مشاوریت د راپور له مخې محکمې، څارنوالۍ، د دولت د قضایو ریاست، د ملي شورا غړو، د ولایتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورا غړو، د ښاري پراختیا وزارت، د ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د ملي امنیت ریاست، د ځمکو د غاصبینو ملگري او مرستندویان گڼل شوي دي.

په دې راپور کې راغلي: وسلوالو قوماندانانو، زورواکو، د کابینې غړو، مامورینو، صاحب منصبانو، کسبگرو، د سوداگرۍ یو شمیر ځانگو او رهنماگانو، عامه ملکیتونه غصب کړي دي.

د دې راپو په پای کې د ولسمشرۍ د ساختماني او تخنیکي چارو لوی مشاور (یوسف پښتون)، د ښارنوالۍ استازي (ډگر جنرال عبدالحلیم علیم)، د ښارجوړونې وزارت د تاریخي ښارونو د احیا او ساتنې رییس (انجنیر محمد یاسین)، د کرنې وزارت د اراضۍ د ادارې مرستیال (هارون ظریف)، د وزیرانو شورا د دارالانشا او د چارو د ادارې مشاور (محمد امین قانع)، له فساد سره د مبارزې د نظارت او څېړنې د امریت امر (امین الله امانت) او د جیودیوزۍ او کارتوگرافۍ د ادارې د کادستر رییس (غلام ایشان سلطاني) لاسلیکونه لیدل کېږي. د یو بل سند له مخې د کابل ولایت په (دوه ویشتو ناحیو) کې هم ډېره ځمکه غصب شوې ده.

(۳۲۸۴) نمبر مکتوب چې پر (۱۳۹۱/۹/٦) نېټه د کابل ښاروالۍ د ملکیتونو د ریاست له خوا د ولسي جرگې مقام ته د دولت پر کړنو د څار د ځانگړې کمېسیون په نامه صادر شوی، په مکتوب کې د هغو افرادو د نومونو نیولیک شامل و چې د کابل ولایت په دوه ویشتو ناحیو کې یې ځمکه غصب کړې ده. دا مکتوب (۱۹) پاڼې لري چې د کابل ښاروال (انجنیر محمد یونس نو اندیش) لاسلیک ورسره مل دی.

## استازي او وزیران:

د کابل ښاروالۍ د راپور پر اساس د ولسي جرگې یو شمیر بر حاله غړیو هم دولتي ځمکه غصب کړې ده.

په یاد شوي راپور کې راغلي دي: ((ملا عزت الله عاطف د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵۰۰ جریبو) په شاوخوا کې ځمکه د (خواجه جم) په غونډیو کې چې د قرغې بند له غونډیو سره نږدې موقعیت لري او د کابل ولایت د ښاروالۍ په پنځمې ناحیې پورې اړوند ده، غصب کړې ده. دا ځمکه چې یوه شنه ساحه وه، اوسمهال هم د ده له خوا پلورل کېږي. دې شخص د قرغې د بند په لویدیځ کې د (ملا عزت) په نامه د اوسېدو یو ښارګوټی هم جوړ کړی، چې له همدې لارې یې اوس د اوسېدو کورونه پلوري.

د کابل ښاروالۍ په سند کې راغلي چې ښاغلي ملا عزت عاطف لومړی (۴۵ جریبه) ځمکې ته قباله جوړه کړه، وروسته یې سلګونه جریبه ځمکه غصب کړه، دی د قرغې په سیمه کې یوه رهنما هم لري . ملا عزت پخوانی جهادي قومندان او د ولسی جرګې غړی دی. همدارنګه د حکومت د ځانګړي کمېسیون د راپور له مخې نجیب الله کابلي پر (۱۳۸۲ ل) کال (٦۲۰ جریبه) شاړه دولتي ځمکه د شکردرې ولسوالۍ په (کاریز میر) سیمه کې غصب کړې او د اوسېدو ښارګوټی یې پرې جوړ کړی دی. نحیب الله کابلی د (امروز تلویزیون) د امتیاز خاوند، د ولسي جرګې پخوانی غړی او د ملي مشارکت ګوند مشر دی.))

د کابل ښاروالۍ د لسمې ناحیې په (۲۳۹) نمبر مکتوب کې چې پر (۲۰/۴/۱۳۸۹) مه نېټه صادر شوی، راغلي: سید حسین انوري د کابل ولایت د وزیراباد چهار قلعه د برېښناکوټ ساحه غصب کړې ده. ښاغلی انوري د افغانستان خلکو د اسلامي حرکت ګوند مشر او دولسي جرګې غړی دی. همدا رنګه د (احمد) په نامه شخص د کابل ولایت په شېرپور سیمه کې د شېرپور د (برېښناکوټ) د احاطې یوه برخه غصب کړې ده. د کابل د ښاروالۍ د (۲۱) ناحیې (۲۳۹) نمبر مکتوب چې پر (۲۰/۴/۱۳۸۹) نېټه صادر شوی، په کې راغلي چې په بت خاک سیمه کې تر ( پنځه زره جریبو) ډېره ځمکه غصب شوې ده .

د کابل ښار په اوومه ناحیه کې چې د (پغمان) دښته ده، خلکو د اوسېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره نومرې خط کشي کړي، چې اوسمهال تر (۲۵۰) کورونه په ناقانونه ډول جوړ شوي دي. حامد کرزي د یو فرمان له مخې پهولې دښته د ملي شورا ته ورکړه، خو هغوی یې له اخیستو ډډه وکړه .ولسي جرگې یوه مصوبه صادره کړه چې د هغې پر اساس د پهولې دښتې نومرې د معلولینو او معیبیونو حق دی. له بلې خوا د کابینې یو شمیر پخوانیو غړو هم د کابل ولایت په بېلا بېلو ناحیو کې ځمکه غصب کړې ده.

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت پخوانی وزیر(استاد اکبر)، جهادي قوماندان (ممتاز)، د (نو نیاز) په کلي کې، چې د کابل ولایت په شلمه ناحیه کې موقعیت لري، (۵۰۰ جریبه) دولتي ځمکه غصب کړې ده .

دغه راز ښاغلي ممتاز د خپلو پینځو ناقانونه ښارگوټو د جوړونې لپاره هم په زرگونه جریبه دولتي ځمکه غصب کړې ده.

همدارنگه د یو بل (۷۵) نمبر مکتوب له مخې چې پر (۱۲/٦/۱۳۹۱) نېټه صادر شوی، څرگندېږي چې د کابل ښار (۱۹) ناحیه کې د تره خېلو د غونډیو د گازي زېرمو په څنگ کې (۳۰ جریبه) ځمکه د تره خېلو د یو شمېر کوچیانو له خوا غصب شوې ده.

په دې سند کې ټینگار شوی چې قوماندان (مروت تره خیل) (۸۰ جریبه) ځمکه د تره خېلو غونډیو د گازو د زېرمو په څنگ کې غصب کړې ده . همدارنگه د ولسي جرگې یو غړی چې د نوم له ښودلو یې ډډه کړې، ادعا کوي چې (ملا تره خیل محمدي) چې د ولسي جرگې او همدارنگه د حکومت پر کړنو د څار کمیسیون غړی دی د (۱۲۰ زره نومرو) په شا وخوا کې دولتي ځمکه، د کابل ولایت په بت خاک سیمه کې غصب کړې ده .د سرچینې په وینا مولوي تره خېل دا ځمکه خپلو خپلوانو ته وېشلې ده. خو ملا تره خېل وایي چې هېڅ وخت یې دولتي یا خصوصي ځمکه نه ده غصب کړې. هغه وایي: ((ما ځمکه نه ده غصب کړې، زما ادرس معلوم دی، هر چا چې دا خبره کړې را دې شي ماته دې وښیي چې ما چېرته ځمکه غصب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې، خو دا ټولې خبرې دروغ دي تاسو يې بايد ونه منئ.)) همدارنګه هغه وايي چې ولسمشر کرزي کوچيانو ته په بت خاک سيمه کې پروژه ورکړې ده.

محمدي زياتوي: ((د بت خاک ځمکه په ما پورې اړه نه لري، د بت خاک ځمکه کوچيانو نيولې او که ما نيولې وي، نو ادعا کوونکی دې راشي چې زه يې ځواب ورکړم. هر چېرته چې کوچيان وي زما له نومه بايد ګټه وانخيستل شي او که زما له نومه ګټه واخلي، نو هرومرو به يې مخه نيسم.)) همدارنګه د کابل نړيوال هوايي ډګر په ختيځ او لويديځ کې د بېلابېلو افرادو له خوا تر (۸۰ زره متره مربع) زياته ځمکه غصب شوې ده. چې اوس مهال د دې ميدان په شمال او لويديځ کې پرې د اوسېدو کورونه جوړ شوي دي. کابل ښاروالي په شپېتمو کلونو کې (اتيا زره متر مربع) ځمکه د ميدان د امنيتي ساحې د پراختيا لپاره منظور کړې وه، خو اوسمهال غصب شوې ده.

قومندان عبدالرحمان (۴۰ جريبه) دولتي ځمکه د ميدان په شمال کې غصب کړې او احاطه کړې يې هم ده .

دې قومندان په خپل زور (۴ جريبه) دولتي ځمکه چې د کابل د(۱۵) امنيتي حوزې مربوط ده، هم غصب کړې ده .د ښاروالۍ د سند له مخې ښاغلی قومندان اصلي سند نه لري، يوازې اقرار ليک لري.

يو شمېر نورو افرادو چې نوم يې په سند کې نه دی ذکر شوی، د هوايي ډګر په شاوخوا کې د (محمد فقير فيروز) لېسې، د شنې ساحې (۲۷ زره متر مربع) دولتي ځمکه چې په (۱۵) ناحيې پورې اړوند ده، غصب کړې او کورونه يې پرې جوړ کړي دي . همدارنګه د کابل ولايت په مرکزي برخه کې هم زرګونه جريبه دولتي ځمکه غصب شوې ده .

د ښاروالۍ د سند په يوه برخه کې راغلي: په لومړۍ ناحيه کې د (خواجه صفا) د غرو په لمنو، شېر دروازه، بالاحصار، د شهدا صالحين د غرو په لمنو، د اسمايي غرونو په لمنو، د اريانا کارتې، د نفتي موادو د زېرمو شاته، د قول ابچکان غرو په لمنو او ده افغانانو کې د بېلا بېلو افرادو له خوا ځمکه غصب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې ده. د سند په څنډه کې راغلي؛ په درېیمه ناحیه کې د کرنې وزارت شاته ځمکې، دهمزنگ، د سیلو شاته، جمال مېنه، په اسمایي غره، په څلورمه ناحیه کې د وزیر اباد چمن او کلوله پشتې شاوخوا کې هم ځمکه غصب شوې ده.

په همدې حال کې زورواکو د (بي بي مهرو) په غونډېو، د (مشرف غره) په لمن، د خیرخانې په کوتل، د حرارتي برېښنا پر پراختیایي ځمکه، د خیرخانې مېنې د لومړۍ، دویمې، درېیمې، څلورمې ا و پنځمې برخې په پروژو او (۲۱۲ فامیلي) کې ځمکې غصب کړي او خپل سري کورونه یې پرې جوړ کړي دي.

همدارنگه د خیرخانې مېنې د پروژې په سیمه کې چې د ښاري پروژو له جملې څخه ده، (۷۵۰ نومرې) د بېلا بېلو افرادو له خوا غصب شوې دي.

د احمد شاه بابا مېنې د دویم او څلورم بلاکونو سهیل لور ته (نواباد) کې (۱۱۳) او (۱۱۴) قطعه ځمکه، چې په کادستر کې د فارم په نامه په کرنې وزارت پورې قید ده، (۱۰٦ جریبه) دولتي ځمکه په تېرو څو کلونو کې غصب شوې ده.

له بلې خوا په دیارلسمه ناحیه کې هم په زرگونه جریبه دولتي ځمکه په تېرو لسو کالو کې غصب شوې ده.

(شیر دل) او (حاجي راکي) دوه نور کسان دي چې (زر جریبه) دولتي ځمکه یې د (قلعه حیدرخان) په دښته کې، چې په دیارلسمې ناحیې پورې اړوند ده، غصب کړې ده . همدرانگه (محمد اصف) چې په (سیا ه پوش) مشهور دی، په جعلي قبالې (۱۰۰ جریبه) دولتي ځمکه له (۱۳۸۲ ل) کال څخه تر (۱۳۸۳ ل) کال پورې د (قلعه محب) په سیمه کې، چې په دیارلسمې ناحیې پورې اړوند ده، غصب کړې ده.

ښاغلي (سیاه پوش) هر جریب ځمکه په (۲۰۰ زره) پاکستانۍ کالدارې خرڅه کړې ده، اوسمهال د کابل په نوي ښار کې ژوند کوي.

ډگروال حبیب الله د (۱۰۰۰ جریبو) په شاوخوا کې دولتي ځمکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(قلعه) په سیمه کې چې په دیارلسمې ناحیې پورې اړوند ده، غصب او بیا یې د نومړو په بڼه خرڅه کړې ده.

همدرانګه (حاجي خلیل) او (حاجي جلیل) (۱۰۰ جریبه) دولتي ځمکه پر (۱۳۸٦ل) کال، په دیارلسمه ناحیه کې غصب کړې او غصب شوې ځمکه یې د میدان وردګو، بامیانو او غزني ولایتونو پر یو شمیر اوسېدونکو پلورلې ده.

(مدیر زمري، حاجي زلمي او خیال) (۴۰۰ جریبه) دولتي ځمکه د (حاجي‌نبي‌خلیلي) ښارګوټي سره نږدې غصب کړې ده، چې غصب شوې ځمکه یې بېرته پر ښاغلي خلیلي خرڅه کړې ده. حاجي نبي خلیلي د کابل په شپږمه ناحیه کې د (امید سبز) په نامه د استوګنې یو ښارګوټی لري. په همدې ډول (رضاخلیلي) د (نبي خلیلي زوی) ادعا کوي چې مدیر زمری، حاجي زلمی او خیال شرعي قبالې لري.

خلیلي وویل: زموږ ښارګوټي ته نږدې ځمکې د خلکو پلرنۍ ځمکې دي چې د هغوی اسناد محکمې هم تائید کړي دي. خلیلي زیاته کړه چې هغوی ځمکې له اصلي سند سره خرڅوي او د (امید سبز) ښارګوټی هېڅ قانوني مشکل نه لري. (محمد داوود) بیا (۴۰ جریبه) ځمکه د دشتې برچي په رېګ رېشن کې غصب کړې او (لالا) پر (۱۳۸۷ ل) کال (۳۰ جریبه) ځمکه په همدې سیمه کې غصب کړې ده. (لالا) یو جریب ځمکه په (یو ملیون او ۵۰۰ زره) افغانیو پر خلکو خرڅه کړې ده. دغه راز (محمد داوود او شېر اغا) (زر جریبه) دولتي ځمکه د کارېزمیر په سیمه کې، چې دیارلسمې ناحیې پورې اړه لري، غصب کړې ده.

(ارزک، محراب، ارسلا، امیر محمد، احمد شاه، ملنګ، قطب الدین، ببرک، زمرک، سنک، ولدان حبیب، عارف، نور، مستوفي او اعظم) هریو په لسګونه جریبه دولتي ځمکه په دیارلسمه ناحیه کې غصب کړې ده. له بلې خوا د ځمکې یوه لویه برخه (کول حشمت خان) کې چې په کابل ښار کې یوه خوندي ساحه ده، د بېلابېلو اشخاصو له خوا غصب شوې ده . د دې سند

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پای کې د کابل ښاروالۍ د ملکیتونو، پالیسۍ او انسجام، استملاک، طرحې او تطبیق او ښاري پلانونو د رییسانو لاسلیکونه لیدل کېږي.

د ځمکې د غصب د تورنو کسانو له جملې څخه یوازې (۹۴ تنو) پر (۱۳۷۳ل) کال هر یو دوه یا درې بسوې ځمکه د خیرخانې مېنې په بېلا بېلو سیمو کې غصب کړې ده.

## د ملي دفاع وزارت ځمکې:

د تېرو یوولسو کالو پر مهال په کابل ښار کې د ملي دفاع وزارت (درې زره جریبه) ځمکه غصب شوې ده. د (۲۰٦۰) نمبر مکتوب له مخې چې پر (۲٦/۹/۱۳۹۱) نېټه د ملي دفاع وزارت د ساختماني چارو او املاکو ریاست له خوا ولسي جرګې ته د حکومت پر کړنو د څار کمېسیون په نامه صادر شوی، په کې ټینګار شوی، چې د ملي دفاع وزات (درې زره جریبه) ځمکه د زورواکو، نامسؤله وسلوالو او یو شمېر نورو افرادو له خوا غصب شوې ده.

د دې مکتوب په یوه برخه کې راغلي: ((د ملي دفاع وزارت نږدې درې زره جریبه ځمکه، د ریشخورو، مهتاب کلا، څرخي پله، د سیدنورمحمدشاه مېنې، مرنجان، بي بي مهرو، تره خېلو، دافع هوا، کلوله پشتې، قرغې د کمریو پولي ګون په غونډیو او د کابل ښار په نورو برخو کې د زورواکو او نامسؤله وسلوالو له خوا په تېرو یوولسو کلونو کې غصب شوې ده.

په دې سند کې د ملي دفاع وزیر (بسم الله محمدي)، د وارداتي تنظیم مدیر (ډګروال انجنیر توریالي) او د دې وزارت د ساختماني پالیسۍ او املاکو مدیر (ډګروال انجنیر عبدالسلام) لاسلیکونه لیدل کېږي.

## په ولایتونو کې ملي دفاع وزارت:

په تېرو یوولسو کلونو کې د ملي دفاع وزارت (۹۰ زره جریبه) ځمکه په ننګرهار، کونړ، فاریاب، بلخ، پکتیا، خوست، غزني، پکتیکا، فراه، هرات، بدخشان او کندوز ولایتونو کې د زورواکو، نامسؤلو وسلوالو ډلو او یو شمېر دولتي ارګانونو له خوا غصب شوې ده. (۲۵۰۰ جریبه) په ننګرهار، زابل، بلخ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکتيا، خوست، کابل او غزني کې د ځينو افرادو تر منځ په دعوه کې پرته ده.

د دې ترڅنگ دفاع وزات، کورنيو چارو وزارت، کابل ښاروالۍ او يو شمېر نورو دولتي ارگانونو هم په زرگونه جريبه دولتي ځمکه غصب کړې ده. دکرنې او اوبو لگونې وزارت مسوولين وايي چې د هېواد په ښارونو کې د دولتي ځمکو غصب، دولت ته لوی زيان اړولی دی. د دې وزارت وياند (مجيد قرار) ويلي چې د ښارونو شاوخوا غونډۍ، له هغې جملې شنه کمربندونه او نورې ساحې د زورواکو له خوا غصب شوي او دا کار چاپېريال ته سخت زيانونه اړوي. د کرنې وزارت وياند وايي، د غصب شويو ځمکو او د هغو د غاصبانو تثبيت او تشخيص د دولتي ځمکو د غصب د تثبيت کمېسيون د کار مهم پړاو دی، خو دا يې ونه ويل چې تر اوسه څومره شمېر غاصبان تشخيص شوي دي. د کورنيو چارو وزرات چې د کميسيون غړی دی وايي، (شل زره) تنو د (دوه مليونو جريبو) په شاوخوا کې دولتي ځمکه غصب کړې ده.

د دې وزارت وياند (صديق صديقي) وويل : کورنيو چارو وزارت د ولسمشر د (۴۵) نمبر فرمان له مخې په تېرو شپږو مياشتو کې (شل زره) تورن اشخاص، چې په (۲۹) ولايتونو کې يې (دوه مليونه جريبه) ځمکه غصب کړې، پېژندلي دي.

د صديقي په وينا تورن کسان له زورواکو څخه نيولې تر عادي خلکو پورې دي، چې موږ يې لېست عدليي او قضايي اورگانونو ته لېږلی او د محاکمو تر پرېکړو وروسته به ملي پوليس په دې برخه کې خپل اجراات وکړي. د ياد شوي کمېسيون غړی وايي: د غاصبانو نيوليک يې د چارو ادارې ته سپارلی چې د وزيرانو شورا پرې پريکړه وکړي، خو د چارو د ادارې وياند (رفيع فردوس) په دې اړه له څه ويلو ډډه وکړه او ويې ويل: ((د ځينو دلايلو له کبله نه شم کولی په دې اړه وضاحت ورکړم.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسوالۍ او نوی کابل:**

**د ځمکو د غصب لړۍ یوازې د کابل ښار په (دوه ویشتو ناحیو) کې منحصره نه ده پاتې، بلکې د کابل ولایت په اړوندو ولسوالیو کې هم په زرګونه جریبه دولتي ځمکه غصب شوې ده. د کرنې وزارت د اراضۍ ادارې د راپور پر اساس (۲۱۲) تنو په کابل کې (۲۵۹۹۰ جریبه) دولتي ځمکه غصب کړې ده.**

**د کابل په ولسوالیو کې ډېره ځمکه د کلیو ملکانو، د سیمې مشرانو، نامسؤله وسلوالو، تقاعد شویو افسرانو، پخوانیو جهادي قومندانانو او قومي مشرانو غصب کړې ده.**

**تر زر جریبو ډېره ځمکه:**

**هغو افرادو چې د کابل ولایت په شکردرې، سروبي، پغمان، باګرامیو، چهاراسیاب، خاک جبار، ده سبز، میربچه کوټ، قره باغ، ګل درې او موسهي ولسوالیو کې تر (زرو جریبو) ډېره دولتي ځمکه غصب کړې (یوولس) تنه دي. د ولسمشر د (۴۵) نمبر فرمان له مخې د کمېسیون د راپور د (۲۷) مې مادې په دویم بند کې داسې راغلي دي : ((د عبدالله وارثینو چې د پخوانیو جهادي قومندانانو له ډلې څخه دی، پر (۱۳۸۲ ل) کال (۳۹۰۰ جریبه) دولتي ځمکه په (الغوثي) کلي کې، چې د شکر درې ولسوالۍ اړوند دی، له کوم سنده پرته غصب کړې ده، ځمکه یې د اوسېدو پر کورونو او کرنیزه بڼه اړولې ده. همدرانګه یو شمیر نا پېژانده وسله وال او ملکان هم د ځمکې د غصب په تور تورن دي.**

**(محمد نبي، وزیر او حاجي) هر یو د (چنار) کلي ملکانو، د خاک جبار ولسوالۍ په (چینار کلي) کې (۴۲۴۵ جریبه) دولتي ځمکه له قبالې پرته غصب کړې ده. چې دې درې تنو پرې د اوسېدو کورونه جوړ کړي دي.**

**همدارنګه (همېشه ګل او بهرام الدین) هغه نامسؤله وسله وال کسان دي چې د باګرامیو ولسوالۍ د بتخاک په سیمه کې یې (۱۳۰۰ جریبه) للمي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دولتي ځمکه غصب کړې او جعلي قبالې هم لري، پر ځمکه يې د اوسېدو کورونه جوړ کړي دي.

د دې تر څنګ د کابل په ولسواليو کې يو شمېر مشرانو هم تر (زرو جريبو) ډېره دولتي ځمکه غصب کړې ده.

د اراضۍ د ادارې د راپور له مخې: (سخي او نور اغا) د سروبي ولسوالۍ مشرانو، پر (۱۳۸۳ ل) کال، (۱۴۴۷ جريبه) للمي دولتي ځمکه، د دې ولسوالۍ په مرکز کې غصب کړې ده .چې اوسمهال يې پرې د اوسېدو کورونه جوړ کړي دي.

(قاري شمس الله او ابراهيم حنيفي) د پغمان ولسوالۍ مشرانو په (زرشخ) کلي کې پر (۱۳۸۳ ل) کال، (۱۲٦۲ جريبه) للمي دولتي غصب کړې، چې اوسمهال يې پرې د اوسېدو کورونه جوړ کړي دي.

يو شمېر نورو تورنو چې تر (زرو جريبو) ډېره ځمکه يې غصب کړې ده، د باګراميو ولسوالۍ د بت خاک په کلي کې (سيد عبدالواحد)، د چهار اسياب ولسوالۍ په چهل دختران کې (حاجي دوران)، په همدې ډول ملک لېوه خيل، ملک رېزه ګل او ډاکتر شاه محمد د باګراميو او چهار اسياب ولسواليو له مشرانو څخه ګڼل کېږي، چې له زرو (۱۰۰۰) څخه تر (۱۳۰۰ جريبه) دولتي ځمکه يې غصب کړې ده.

په دې ترڅ کې حاجي دوران پر (۱۳۷۰ ل) کال، په چهل دختران کې، چې د چهاراسياب ولسوالۍ پورې اړوند ده، هم (۳۰۰ جريبه) ځمکه غصب کړې ده .

(۱۱) لويو تورنو کسانو بيا تر (۱۱۴۲٦ جريبه) زياته ځمکه د کابل په (۱۱) ولسواليو کې، چې ډېره يې په شکر درې، قره باغ او موسهي کې ده، غصب کړې ده. د حکومت پر کړنو د څار کمېسيون ځينو غړو په روانه مياشت (د ۱۳۹۱ل کال د مرغومي مياشت) کې د (يو مليون جريبه) ځمکې د غصب خبر ورکړی دی. د ولسي جرګې يو بل غړي چې نه يې غوښتل نوم يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخیستل شي وویل چې د کمیسیون ځینې غړي غواړي له غاصبانو سره معامله وکړي .ده وویل چې کمیسیون ولسي جرگې ته ویلي: ((یوولس تنه لویو غاصبانو په زرگونو جریبه دولتي ځمکه په کابل کې غصب کړې، خو د معاملو او فشار له کبله یې نوموړنه نه افشا کېږي.)) ده دغه راز وویل چې په دې کمیسیون کې یو شمیر معامله گر او ځانساتي استازي هم شته چې د دې کار خنډ گرځي.

## تر سلو جریبو ډېره ځمکه:

له بلې خوا (۳۳) تنو تر (سلو جریبو) ډېره دولتي ځمکه په پغمان، میربچه کوټ، شکردرې، چهار اسیاب، ده سبز او قره باغ ولسوالیو کې غصب کړې ده، چې دا خلک سیمه ییز قومندانان، د خصوصي شرکتونو خاوندان او د همدې ولسوالیو مشران دي. په ټولیز ډول یې (۴۹۹۳ جریبه) دولتي ځمکه په (۷) ولسوالیو کې، چې ډېره یې په میر بچه کوټ، ده سبز او پغمان کې ده، غصب کړې ده. د ځمکو د غصب د څارنې کمېسیون په سند کې راغلي: (حاجي شېردل) د یو خصوصي شرکت رییس پر (۱۳۹۱ ل) کال، د (مرغگیران) په کلي کې چې د پغمان ولسوالۍ اړوند دی، (۳۰۴) جریبه دولتي ځمکه چې څرځای گڼل کېږي، له قبالې پرته غصب کړې ده .ده دا ځمکه پر رېگرېشن تبدیله کړې، خو په سند کې د (شېردل) نوم نه دی یاد شوی.

همدارنگه د چهاراسیاب یو مشر (ضابط رحمت) پر (۱۳۸۵ ل) کال، (۷۰۰ جریبه) دولتي ځمکه په (گلزار) کلي کې غصب کړې او وروسته یې پرې د اوسېدو کورونه جوړ کړي دي.

یو شمیر متقاعدو افسرانو چې اوسمهال په خپلو سیمو کې د سیمه ییزو قومندانانو په نامه مشهور دي، هم دولتي ځمکه غصب کړې ده .

(ډگروال اسحاق) په میر بچه کوټ ولسوالۍ کې یو سیمه ییز قومندان پر (۱۳۸۳ ل) کال په خروټو کلي کې (۱۰۰) جریبه دولتي ځمکه غصب کړې او ډیر ژر یې دا ځمکه په کرنیزه ځمکه تبدیله کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه (برکت خان او محمد داود) چې د ده سبز ولسوالۍ مشران دي، پر (۱۳۹۰) او (۱۳۹۱ ل) کال هر یو (۲۵۰ جریبه) دولتي کرنیزه ځمکه په (خاص ده سبز) کلي کې غصب کړې ده. دا اشخاص د جعلي سندونو په وسیله، دا ځمکه د خپلې شخصي کرنیزې ځمکې په بڼه کاروي .

(۲۸) نور تورن چې اکثره یې د خپلو ولسوالیو مشران دي، هر یو (انجنیر عبدالرحیم)، د پغمان ولسوالۍ په (ده ارباب) کلي کې، (۱۳۰ جریبه)، (احمد انور او محمود) د چهار اسیاب ولسوالۍ په (دلیل) کلي کې (۲۰۰ جریبه) ځمکه غصب کړې ده .

(اختر محمد، احمد شاه او سید اکبر) د ده سبز ولسوالۍ له مشرانو څخه دي چې هر یو (۱۰۰ جریبه) دولتي ځمکه په ترتیب سره د (کټه خېلو، خاص ده سبز او قنات ضیاخان) کلیو کې د (۱۳۹۰) او (۱۳۹۱ ل) کلونو په جریان کې غصب کړې ده. په همدې حال کې (صفي الله) هم د ځمکې پر غصب تورن دی. ده پر (۱۳۹۱ ل) کال په لومړي ځل (۲۹۳ جریبه) او دویم ځل (۲۸۴جریبه ځمکه) د ده سبز ولسوالۍ په (چشمه خاص) کلي کې غصب کړې ده.

قومي مشرانو: (عنایت الله، هدایت، امان او قسمت) پر (۱۳۸٦ ل) کال د (۱۰۰ جریبو) په شاوخوا کې دولتي ځمکه د میر بچه کوټ ولسوالۍ په (ابچکان) کلي کې غصب کړې ده. دا څلور واړه ورونه دي، چې اوسمهال له دولتي ځمکو څخه د شخصي کرنیزو ځمکو په بڼه ګټه اخلي. (مصطفی او محبوب) دوه ورونه دي، د میر بچه کوټ ولسوالۍ له مشرانو شمېرل کېږي، چې پر (۱۳۸۳ ل) کال یې (۱۱۰ جریبه) دولتي ځمکه د خروټو په کلي کې غصب کړې ده. په همدې ډول (محمد اکرم، زمری، قادر، افندي، ادم خان، د ادم خان ورثه، رفیق، ګلبت، عجب ګل او عبدالهادي دبیر)،چې د میر بچه کوټ، ده سبز او قره باغ ولسوالیو متنفذان دي، په تېرو (۸)کالو کې هر یو په دې دریو ولسوالیو کې تر(۱۰۰جریبو) ډېره دولتي ځمکه غصب کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر لسو جریبو ډېره ځمکه:**

په همدې حال کې (۱۱۵) تنو له (۱۰) ښځه تر (۹۹) جریبو پورې، چې ټوله (۲۹۲۱جریبه) ځمکه کېږي د کابل په (۸) ولسوالیو کې غصب کړې ده. (محمدابراهیم) قومي مشر پر (۱۳۹۰ ل کال) (۹۲ جریبه) شاړه دولتي ځمکه د ده سبز ولسوالۍ په (خاص ده سبز) کلي کې غصب کړې او اوس یې پخپلو کرنیزو ځمکو کې اضافه کړې ده. دغه راز (محمد امیر) پر (۱۳۸۵ل) کال د چهار اسیاب په چهل دختران کلي کې (۹۰ جریبه) دولتي ځمکه غصب کړې ده. چې دی هم د ولسوالۍ د مشرانو له ډلې ښځه دی او اوسمهال یې پرې د اوسېدو کورونه جوړ کړي دي .له بلې خوا (حاجي بای محمد) د شکردرې ولسوالۍ سیمه ییز قومندان، پر (۱۳۹۰ ل) کال (٦۳ جریبه) ځمکه په (کارېز میر) کې غصب کړې ده. چې اوسمهال یې د استوگنې پر کورونو بدله کړې ده. په همدې ډول (حاجي قاسم) د قره باغ ولسوالۍ قومندان پر (۱۳۸۷ ل) کال (۳۰ جریبه) دولتي ځمکه له قبالې پرته د خروټو په کلي کې غصب کړې او دوکانونه یې پرې جوړ کړي دي . (غلام جیلاني، محمد نقیب، غلام رباني، حاجي ولي، نثار احمد، شاه پور، گلاخان، اسلام الدین، حیدر خان، توریالی، گل غني، زمری، سلطان جان، برو، حاجي رحمت الله، دادمولای، مزمل، یاسین، دین محمد، اول گل او سید رحمان) هر یو تر لسو جریبو ډېره دولتي ځمکه په شکر درې ولسوالۍ کې غصب کړې ده . چې په دوی کې غلام رباني دوه ځله تر لسو جریبو ډېره ځمکه غصب کړې ده .

(حاجي خان محمد او ډاکتر صالح) په چهار اسیاب ولسوالی او (عبدالهادي دبیر) په پغمان ولسوالۍ کې (۵۰ جریبه) ځمکه غصب کړې ده. له بلې خوا (مامور نبي، خان وزیر، دل اغا، امر طاووس، دولت خان، زرگي، محمد شفیع، غلام رباني، مومند، شېر، ارسلا، عبدالرازق، عزیز الله، پوپل، حکیم، نصرو، یوسف، عصمت الله، نبي، عبدالرحیم، او مامور نعیم) هر یو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسو جریبو ډیره ځمکه په موسهي ولسوالی کې غصب کړې ده.

په همدې ډول (حاجي قدوس، صاحب، محمد امین، عبدالجبار، لاهور خان، عبدالغني، افضل، ضابط خان، جان محمد، انجنیر امیر، محمد یاسین، حاجي نسیم، دولت، حاجي بړو، سردار، ملاجبار، حاجي زلمي، ظاهر خان، حاجي شریف، امیر محمد، میر حسین، حبیب الله، شېرمحمد، نقیب الله، فقیر ربیع، جبارخان، نور محمد، زرلعل، شېرین اغا، ګلان، محمد امان، محصل، سحر ګل، انور، حفیظ الله، پتنګ، دادالله، فاروق، باسه ګل، امیر جان، حضرت علي، حاجي بریالی، عبیدالله او شېر محمد) هر یو (لس لس جریبه) دولتي ځمکه په قره باغ ولسوالی کې غصب کړې ده. همدارنګه (ملک حبیب، محمد رفیق، محمد، عبدالرحمن، فضل احمد او سیداقا) هر یو په قره باغ ولسوالۍ کې تر لسو جریبو زیاته دولتي ځمکه غصب کړې ده، په ټولیز ډول (۱۱۵) تنو په شکر درې، قره باغ او موسهي ولسوالیو کې ځمکه غصب کړې ده. (۴۴) تنو (۸۸ جریبه) ځمکه په قره باغ، موسهي او شکردرې ولسوالیو کې غصب کړې ده. د فساد پر ضد د مبارزې عالي اداره وایي: ((عادي افراد چې له زور واکو سره اړیکې ونه لري دوی نه شي کولای دولتي ځمکه غصب کړي)). حفیظ الله بهروز وایي : ((عادي افراد د زوراکو په همکاری دولتي ځمکې غصبوي چې دا زورواکي اوسني چارواکي او تیر جهادي قومندانان دي)). هغه وایي: ((هغه دوسیې چې لویې ځارنوالۍ ته د دې ادارې له خوا لېږل شوي، نیمې یې د ځمکو د غاصابانو دي. اوسمهال (۲۰۰) لویې او وړې قضیې زموږ د ادارې له خوا تر دوران لاندې دي)).

**نوی کابل:**

په همدې حال کې یو سند ښیي، نه یوازې دا چې د کابل ولایت په ولسوالیو کې ځمکې غصب شوي، بلکې په (نوي کابل) کې هم په سلګونه جریبه ځمکه غصب شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د (ده سبز) ولسوالۍ په گډون يو شمير نورې ولسوالۍ، لکه: (کلکان، شکردره او قره باغ) هم په نوي کابل کې راځي.

(٦١٩٦/١٠٦٣٧) نمبر مکتوب چې پر (٢٢/٩/١٣٩١) نېټه د پارلماني چارو وزارت له خوا ولسي جرگې ته لېږل شوی، د يو شمير افرادو له خوا يې نوي کابل ښار کې د دولتي ځمکو د غصب خبر ورکړی دی، پر دې سند د ياد وزارت مرستيال (ډاکتر محمد کريم باز) لاسليک کړی دی. د سند په پای کې د ولسي جرگې مشر (عبدالروف‌ابراهيمي) دا موضوع د حکومت پر کړنو د څار کميسيون ته راجع کړې ده. د دې سند په يوه برخه کې راغلي: ((له بده مرغه د ده سبز ولسوالی او باريکاب سيمه چې د نوي کابل په ماسټر پلان کې دخيله سيمه ده، د ولسمشر د حکم او د وزيرانو شورا د مصوبې خلاف، دا ځمکې غصب او پر ځای يې د خښتو داشونه، د تېلو ټانکونه، احاطې او ناقانونه ساختمانونه جوړېږي. له امنيتي هڅو سره سره بيا هم دا خلک خپلو کړنو ته دوام ورکوي.))

په سند کې د هغو خلکو انځورونه، چې شرکتونه، د خښتو بټۍ او د تېلو ټانکونه يې جوړ کړي، هم شته دي .په سند کې يادونه شوې چې يو شمېر کوچيانو، د قره باغ ولسوالۍ په (واتکی) کلي کې دولتي ځمکې غصب کړي او پر هغې د استوگنې کورونه جوړوي.

## د امنيتي ارگانونو ناکامي:

په سند کې ټينگار شوی چې ډير مکتوبونه امنيتي ارگانونو ته لېږل شوي، خو ياد ارگانونه د غصب په مخنيوي کې برياليي شوي نه دي. په سند کې دغه راز راغلي چې د کورنيو چارو، ملي دفاع وزارتونه او ملي امنيت رياست له خوا د بېلابېلو ولسواليو اړوندو ارگانونو ته مکتوبونه لېږل شوي، خو د غاصبانو مخه نه ده نيول شوې.

د نوي کابل ښار پراختيايي ادارې هم په نوي کابل کې د ځمکو د غصب

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر دوام خپل خفګان ښودلی او وايي چې امنيتي ځواکونه يې په مخنيوي کې پاتې راغلي دي.

د دې ادارې د يو مکتوب په يوه برخه کې راغلي: ((د ده سبز او شکردرې ولسواليو ولسوالانو او امنيه قوندانانو، (۱۰۱) اسمايي زون ته ډېر مکتوبونه لېږلي، خو تر اوسه د ځمکو غصب جريان لري.))

په همدې ډول د کرنې وزارت وياند وايي چې د کرنې وزارت د اراضۍ ادارې په تېرو دريو کالو کې د کورنيو چارو وزارت ته د ځمکې د غصب مخنيوي لپاره په سوونو مکتوبونه ورلېږلي دي.

مجيد قرار وويل: ((په تېرو دريو کالو کې د غاصبانو له شهرت سره يو ځای يې (۶۲۸) مکتوبونه کورنيو چارو وزارت ته لېږلي، خو د کورنيو چارو وزارت د غفلت له وجې د ځمکو غصب جريان لري.)) هغه زياتوي: ((د خلکو د شمېر زياتوالی، د ځمکو لوړ قيمتونه، د امنيت نشتوالی او خصوصي سکتور ته د ځمکو نه وېش، د ځمکو د غصب عمده دلايل دي.)) د کورنيو چارو وزرات بيا د کرنې وزارت د وياند خبرې ردوي او وايي: ((د کورنيو چارو وزارت له ښاروالیو او کرنې وزارت سره د ځمکو د غصب په مخنيوي کې جدي همکاري کړې ده.))

د دې وزارت وياند ښاغلي (صديقي) وويل: ((د کورنيو چارو وزارت د ښاروالیو، ولسوالانو او کرنې وزارت د مکتوبونو په ځواب کې جدي اقدامات کړي او موږ اوس د ځمکو د غاصبانو د پيژندنې په برخه کې لوی ګام اوچت کړی دی.))

## په کابل کې ناقانونه ښارګوټي:

د ځمکو د غصب يو شمېر تورنو د استوګنې ښارګوټو د جوړونې په موخه سلګونه جريبه دولتي ځمکه غصب کړې ده. د هغه کمېسيون د راپور له مخې چې د ولسمشر د (۴۵) ګڼې فرمان د (۲۷) مادې د دويم بند پر اساس ټاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، دا په ډاګه شوې چې په تېرو یوولسو کالو کې د ټول هېواد په کچه شاوخوا (۲۲۸) ښارګوټي جوړ شوي او (۲۳۰ زره) جریبه ځمکه په خپلسري ډول غصب شوې ده. له بلې خوا د کابل ښاروالۍ ارقام ښیي چې زور واکو په کابل کې د ښارګوټو جوړونې لپاره د دې ښار په بېلابېلو ناحیو کې دولتي ځمکې غصب کړې دي.

د کابل ښاروالۍ په راپور کې راغلي؛ نږدې (پنځه زره جریبه) ځمکه د کابل ښار په (۱۷ )ناحیه کې د لسو پخوانیو جهادي قوندانانو او نا مسؤلو وسلوالو له خوا غصب شوې ده.

هغو افرادو چې دولتي ځمکه یې غصب کړې، نږدې (۱۹) ښارګوټي یې په (۱۷) ناحیه کې جوړ کړي دي. په (۱۷) ناحیه کې ډېره ځمکه د (امر ستار سیاف) او (امر خنجر بشیر) له خوا غصب شوې ده، دې دوو اشخاصو شاوخوا (دوه زره جریبه) ځمکه د ملي دفاغ وزرات ډیپو ته مخامخ او رادار په غرونو کې غصب کړې ده. ښاغلي (سیاف او بشیر) پر دې ځمکه د (سعادت) په نامه ښارګوټ جوړ کړی دی. (قوماندان ممتاز او قوماندان امرالله) د پغمان له غرونو سره نږدې په چمتلې دښته کې (٦۰۰ جریبه) ځمکه د (رفاه) ښارګوټي لپاره غصب کړې ده.

همدارنګه ښاغلي (ممتاز) پر رفاه ښارګوټي سربېره (۹۷۰ جریبه) ځمکه د (عدالت، سوله، اسلام اباد او پامیر) ښارګوټو لپاره غصب کړې ده. د کابل ښاروالۍ په سند کې راغلي: ((۴۰۰ جریبه ځمکه د (پامیر) ښارګوټي لپاره ممتاز، لطف الله او شکر الله پورې اړوندو اشخاصو د خیرخانې مېنې د کوتل پر سړک غصب کړې ده.))

(اسلام اباد، سوله او عدالت) ښارګوټي په (قوماندان ممتاز) پورې اړوند دي. (۱۵۰ جریبه) ځمکه یې د عدالت ښارګوټي، (۲۲ جریبه) د سولې ښارګوټي او (۴۰۰ جریبه) یې د اسلام اباد ښار ګوټي لپاره غصب کړې ده. په همدې حال کې (امرالله، زمری، صوفي شریف، حاجي قیوم او اسحاق، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پخوانیو جهادي قومندانانو له جملې څخه دي، د (وحدت) ښارګوټي لپاره یې د کابل- پروان پر سړک (۴۰۰ جریبه) ځمکه غصب کړې ده.**

**همدارنګه د کابل پخواني والي (ملا تاج محمد) د کاریز میر په ساحه کې (۳۰۰ جریبه) ځمکه د (نجات) مېنې ښارګوټي لپاره غصب کړې ده.**

**(قومندان لطف الله، شکر الله، اسحاق او صفي الله) د (اریا سبز) ښارګوټي د پراختیا لپاره د کابل-پروان پر سړک (۷۰ جریبه) غصب کړې ده. په همدې ډول (حاجي شریف) هم (۲۰۰ جریبه ځمکه) د کاریز میر په ساحه کې د (شریف اباد) ښارګوټي د پراختیا لپاره غصب کړې ده. په همدې ډول (حاجي عبدالواحد، مامور حنیف او معمار جلیل) هم هر یو لسګونه جریبه ځمکه په (۱۷) ناحیه کې د (انکشافي) او (ذاکرین) ښارګوټو لپاره غصب کړې ده.**

**پخواني جهادي قومندان او د ولسي جرګې غړي (ملا عزت الله عاطف) هم د قرغې په غونډیو کې (۵۰۰ جریبه) دولتي ځمکه د خپل ښارګوټي (ملا عزت) لپاره غصب کړې ده.**

**په (۱۳)مه ناحیه کې (۱۳) ناقانونه ښارګوټي:**

**پر همدې مهال په (۱۳) مه ناحیه کې (۱۳) نا قانونه ښارګوټي جوړ شوي دي. د (۱۳) ناحیې د انجنیري مدیریت په(۲۰۸) نمبر مکتوب کې چې پر (۲۰/۴/۱۳۸۹) نېټه صادر شوی، راغلي: د (چهل دختران) د غرونو په لمن کې (امید سبز، اتفاق)، له پل خشک څخه وړاندې (حضرت رسول اکرم)، د حاجي نوروز تر ځلور لارې وړاندې (عرفاني)، د کرغ د غرونو په لمن کې (مهدیه او هدیه)، د روغتون په تمځای کې (دوازده امام) او د دې ترڅنګ (صفا)، (ثارالله)، (جنرال نصرت)، (اقبال) او (جاغوري) ناقانونه ښارګوټي دي. یاد مکتوب کې راغلي چې یوازې د حاجي نبي ښارګوټي د قانوني مراحلو د بشپړولو غوښتنه کړې ده.**

**حاجي نبي خلیلی (۴۰۰ جریبه) ځمکه له (مدیر زمري، حاجي زلمي او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**خیال) څخه اخیستې ده. په مکتوب کې ټینګار شوی چې دې (درې ورونو) (۴۰۰ جریبه) ځمکه د حاجي نبي ښارګوټي سره نږدې غصب کړې او بېرته یې خرڅه کړې ده .**

**که څه هم کابل ښاروالي د حاجي نبي ښارګوټی ناقانونه بولي، خو د ښار جوړونې وزارت بیا دا ښارګوټی د هېواد په (٦) لومړیو درجه ښارګوټو کې راوستی دی.**

**په همدې ډول (ایت الله او شیخ فاضل) چې اوس ژوندي نه دي، (۴۵ جریبه) ځمکه په (مهتاب قلعه) سیمه کې چې (۱۳) ناحیې پورې اړوند ده، د مدرسې جوړونې په نوم نیولې وه، چې وروسته یې بیا د (خاتم الانبیا) ښارګوټي په نامه خرڅه کړې ده.**

**(۱۱۰ جریبه) ځمکه د سیدنور محمد شاه مېنې په مرنجان غونډۍ کې، چې ملي دفاع وزارت پورې اړوند ده، د (۱۳۸۱) او (۱۳۸۴) کلونو په جریان کې غصب شوې ده. د ملي دفاع وزارت په راپور کې راغلي: ((یوه برخه یې ملکزاده شرکت ته د (طلایي ښارګوټي) په نامه، د کابل ښاروالۍ له لوري توزیع شوې او پر بله برخه یې د نامسؤله وسلوالو له خوا د اوسېدو کورونه جوړ شوي دي.)) په راپور کې د طلایي ښارګوټي له خوا د ځمکو د غصب په اړه په بشپړ ډول څه نه دي مشخص شوي . له بلې خوا د ښار جوړونې وزارت په راپور کې راغلي چې طلایي ښارګوټي ځمکې، د غصب ستونزه لري.**

**په همدې ډول (۲۰) ناقانونه ښارګوټي په (۱۸) او (۱۹) مه ناحیه کې جوړ شوي دي. دکابل ښاروالۍ په یو راپور کې راغلي: ((افغان اروپا، پولیس، د فیروزي (لیګو ګلوبل) اول، دویم، درېیم کلي، بصیر عمرزي، عبدالقیوم، بدخشان، محسني، سید ابراهیم، حاجي کبیر، بوستان سبز، محمدي، ملا فضل تره‌خېل، تمیم انصاري، مقدس، سبز زار او علي اقا اضغري)) ښارګوټي د ملکیت د تثبیت ستونزه لري او نقشه شوي نه دي.)) د دې ښارګوټو مالکانو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د دې ښارگوټو د جوړونې اجازه د کابل ښاروالۍ له خوا نه ده ورکړل شوې .د ښاري نورم خلاف يې د اوسېدو نومرې خرڅې کړي دي. د (ممتاز، سبز، غازي اباد، رفاه، حاجي حسین خېل، حاجي شفیق الله، قاضي اباد، حاجي رحمت الله، حاجي گل بت، حاجي شفیق، اتفاق، حاجی شاه جهان او منیر) ښارگوټي، چې د کابل ښار په شلمه ناحیه کې جوړ شوي، ناقانونه دي.

(حسن علي) په ریشخور او گل باغ کې (۵۰۰ جریبه) ځمکه د (سبز) ښارگوټي د پراختیا لپاره غصب کړې او بیا يې پر خلکو وېشلې ده. (حاجي حبیب الله) بیا (۳۰۰ جریبه) ځمکه د (غازي اباد) ښارگوټي لپاره غصب کړې ده. په همدې ډول (۸۰۰ جریبه) ځمکه (حاجي گل بت) د (رفاه) ښارگوټي لپاره د چهار اسیاب په تعلیمي مرکز کې غصب کړې ده.

(۳۱۹) نمبر مکتوب، چې پر ( ۲۸/۸/۱۳۹۱) نېټه صادر شوی، وایي: ((شلمې ناحیې کې (حاجي شفیق) (۲۰ جریبه) ځمکه د یو ښارگوټي لپاره غصب کړې ده. په همدې ناحیه کې په منگلو او میاخېلو قوم پورې اړوندو ځینو اشخاصو هم (٦۰ جریبه) ځمکه غصب کړې او په خپل سر يې په کې کورونه جوړ کړي دي.)) په همدې ډول (۴۳٦/۴۲۴) نمبر مکتوب هم چې پر (۱/۴/۱۳۹۰) نېټه د اتمې ناحیې د انجنیري مدیریت له خوا صادر شوی دی، وایي: ((د رحمان بابا د پروژې په ځینو برخو او د معلولانو او معیوبانو ښارگوټو کې ځمکې په ناقانونه ډول غصب شوې دي.))

د کابل ښاروالۍ د راپور پر اساس خپل سري او ناقانونه ښارگوټي په هره ناحیه کې توپیر لري؛ ځینو کې ډېر او په ځینو کې کم دي.

(۵۵۹/۲۹۰) نمبر مکتوب چې پر (۲۷/۴/۱۳۹۱) نېټه د (١٦) مې ناحیې د انجنیري مدیریت له خوا صادر شوی، وایي: ((خراسان، گلبهار ټاور، محمود خان پل ته څېرمه بي بي حاجي سرای ناقانونه دي.)) د همدې ناحیې په (ده خدای داد) سیمه کې (۷۳ جریبه) دولتي ځمکه د عبدالشکور، شیرین،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خان محمد، دستگیر، معراج الدین، سلام الدین، د عزیز خان ورثه وو، عبدالبصیر او نورالدین له خوا د (خراسان ښارگوټي) په نامه غصب شوې ده. په همدې حال کې (قومندان محمد قسیم او حاجي نیاز) پر (۱۳۸۰ ل) کال د ( احمد شاه مسعود) په نامه د ازادۍ ښارگوټي کې چې په (۱۵) ناحیې پورې اړوند دی، هر یو د اوسېدو سل نومرې غصب کړي دي.

په همدې ډول قومندان عبدالرحمان پر (۱۳۹۰ ل) کال په دې ناحیه کې(۴۰ جریبه) ځمکه غصب کړې ده.

د کابل ښاروالی تر څنگ د ښار جوړونې وزارت هم په (۲۱) ولایتونو کې یو شمیر ښارگوټو ته د جوړونې اجازه ورکړې ده. د ښار جوړونې وزارت په تېرو لسو کلونو کې (۲٦) ښارگوټو ته په کابل او (۱۳۱) ښارگوټو ته په ننگرهار، بلخ، هرات، هلمند، کندوز، کندهار او (۱۴) نورو ولایتونو کې اجازه ورکړې ده.

د دې وزارت د نوي راپور پر اساس د نجیب الله کابلي (نجات مېنه)، د نېک محمد (کامیاب)، د نوروز خان (نوروز اباد)، طلایي، چهل دختران، د گل حیدر (مموزی)، د مهاجرینو وزارت د (باریکاب) ښارگوټي، د ظاهر کوچي (دولت زي کوچي)، حاجي نذیر مېنه، ده قلندر او ادروگل ښارگوټي په کابل کې د ځمکې د غصب ستونزې لري.

## د ولایتونو ښارگوټي:

په همدې حال کې په مزار شریف کې د (سخي اباد، زینبیه، مولانای بلخ، نصرت اباد)، په کندهار کې (نایب سلطان او استقلال)، په کندوز کې (جلال الدین بلخي، کلباد او الچین)، په هرات کې (اریانا، اسلمي، سید جمال الدین، کوثر، می فروش او قالین بافي) ښارگوټي هم د ځمکو د غصب ستونزه لري. په همدې ډول په لوگر کې د (چرخ او خوشي) ښارگوټي، په ننگرهار کې (سید جمال الدین او شیخ مصري)، په هلمند کې (غازي ایوب خان مېنه او احمد شاهي)، په لغمان، خوست، پکتیا، دایکندي کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



(سرخکانو، افضلي ځدراڼ، ګلشن شهباز او مهاجران دایکندي) ښارګوټي، د ځمکو د غصب ستونزې لري. د ښار جوړونې د وزارت په راپور کې راغلي: ((په ټولیز ډول (۳۸) ښارګوټي د ځمکې د غصب او اضافه والي ستونزې لري . د ولسي جرګې د ځانګړي کمیسیون یو شمیر غړي ادعا کوي چې د ښار جوړونې وزیر (حسن عبداللاهی) یو شمیر افرادو ته د ښارګوټو د جوړونې اجازه ورکړې ده.

د دې کمیسیون یو غړي چې نه یې غوښتل نوم یې په راپور کې ولیکل شي، داسې وویل: ((د ښار جوړونې وزارت مسؤلینو (۳۸) ښارګوټو ته چې د ځمکې غصب ستونزه یې لرله، د نقشې وېزه ورکړې ده. (۹۰) سلنه ځمکه په کابل او ولایتونو کې د اوسېدو د ښارګوټو لپاره غصب شوې ده، چې د ښار جوړونې وزارت یې هم د جوړونې اجازه ورکړې ده. له دې څخه ښکاري چې دوی د ښارګوټو د جوړونې له مالکانو سره ضرور د ځمکو په غصب کې شریک دي)). د سرچینې په وینا د حکومت پر کړنو د څار کمیسیون به ژر د ښار جوړونې وزیر یاد کمیسیون ته وغواړي . په همدې حال کې (۷۰) خصوصي او دولتي ښارګوټي په کابل او ولایتونو کې فني ستونزې لري او هم یې د پلان په تطبیق کې تېروتنې موجودې دي.

## په ولایتونو کې غاصبان:

(۴۸۴۰) نمبر مکتوب چې پر (۶/۱۰/۱۳۹۱) نېټه د کرنې وزارت د اراضۍ ریاست له خوا په ولسي جرګه کې، د حکومت پر کړنو د څار کمېسیون ته لیکل شوی)، په ( ۲۲) ولایتونو کې یې غاصبان مشخص کړي. په یاد شوي سند کې راغلي: (۶۲۶) تنو په هرات کې (۷۰۶۹۸ جریبه)، (۷۴۰) تنو په ننګرهار کې (۳۰۵۸۴ جریبه)، (۹۰۱ تنو) په بلخ کې (۱۹۴۷۵۶ جریبه)، (۹۵۶) تنو په کندوز کې (۷۷۲۹ جریبه)، (۶۹) تنو په کندهار کې (۲۲۱۵) جریبه، (۵۱۸ ) تنو په لغمان کې (۴۲۴) جریبه، (۱۳۲) تنو په غزني کې (۱۹۵۶۶)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جریبه، (۱۴۷۳) تنو په کاپیسا کې (۱۴٦۴ جریبه)، (۱۳۴۷) تنو په تخار کې (۴۴۷۲٦ جریبه)، (۱٦۷) تنو په پروان کې (۴۹۴۵ جریبه )، (۲۰۴) تنو په فاریاب کې ( ۷۰۸۲ جریبه)، (۱۱۲٦) تنو په لوګر کې (۱٦٦۳۹ جریبه) او (۲۷۱) تنو په زابل کې ( ٦۷۹۳ جریبه) ځمکه غصب کړې ده.**

**د دې سند په ادامه کې راغلي: (۱۳) تنو په اروزګان کې (۷۲۵۸۷ جریبه)، (۵۹) تنو په بادغیس کې (۲۳۴۹۵ جریبه)، (۵٦ ) تنو په خوست کې (۴۵۲۹۵ جریبه، (۲۸۷) تنو په میدان وردګو کې (۵۳۲۴ جریبه)، (۱۸۱۲) تنو په بغلان کې (۳۳۰۰۲ جریبه)، (٦۳۳) تنو په سمنګانو کې (۳۳۳۳۹ جریبه)، (۳٦) تنو په هلمند کې (۱۲۵۴۰۰ جریبه)، (۱۱٦۸) تنو په نیمروز کې (۱۳۸۷۱۹ جریبه)، (۱٦) تنو په پکتیا کې (۵۸۰۰ جریبه )، (۵٦۸) تنو په سرپل کې (۸۰۳۱۳ جریبه)، (۳۷) تنو په بامیانو کې (۱۳۹۳ جریبه)، (۱۴۸) تنو په بدخشان کې (۳۲۱۰ جریبه)، (۴٦۹) تنو په کونړ کې ( ٦۱۳۱ جریبه)، (۴۷۱) تنو په جوزجان کې ( ۱۰۴۴۴ جریبه )، (۱۱۷) تنو په فراه کې (۸۷۱۹ جریبه) او (۸۸۸) تنو د ننګرهار په کانال کې (۴۴۸۹) جریبه دولتي ځمکه غصب کړې ده. د دې سند په پای کې د کرنې وزارت د وزیر (محمد اصف رحیمي) لاسلیک هم شته. د (دوه ملیونه جریبه) غصب شوې ځمکې له جملې څخه په لسګونو زره جریبه ځمکه د ښار ګوټو د جوړونې مالکانو، غصب کړې ده.**

**دا د ځمکو د غصب هغه څرنګوالی او څومره والی و چې مستند شوی دی. البته د جمهوري ریاست په یوه بل راپور کې راغلي چې د ټولې غصب شوې دولتي ځمکې اندازه تر (څلور ملیونه جریبه) ځمکې څخه هم پورته کېږي.**

**د پورته یاد شویو غاصبانو ترڅنګ نور په زرګونو غاصبان هم شته چې په دې راپور کې یې یادونه نه ده راغلې او یو بل ځانګړي کمېسیون او زیاتې څېړنې ته اړتیا لري، خو که موږ د دولت د همدغو اسنادو له مخې د دې راپورونو تر لیکلو پورې ټوله غصب شوې ځمکه (څلور نیم ملیونه جریبه)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شاوخوا کې محاسبه کړو او یو جریب ځمکه د څلورو نومرو لپاره ځانګړې کړو (هره نومره څلور بسوې) او څلور بسوې هم د سړک او نورو ضایعاتو لپاره په پام کې ونیسو، نو په یوه جریب ځمکې کې به (څلور) کورونه جوړ شي، له ټولې څلورنیم ملیونه جریبه غصب ځمکې څخه په مجموعي ډول (اتلس ملیونه) کورونه جوړېدی شي. که چېرې د هر کور لپاره د یوې نومرې قیمت په منځنۍ کچه (لس زره) امریکایي ډالره محاسبه کړو، نو د ټولې غصب شوې ځمکې قیمت به (یو سلو او اتیا ملیارده) امریکایي ډالره شي. دا خو د ځمکې د غصب په برخه کې دولت ته دومره زیان اوښتی دی، په نورو برخو کې به حال په څه ډول وي؟ د ځمکې د غصب له دې تفصیلي بیان څخه مو هدف دا و چې د فساد کچه په څرګندو مثالونو کې واضح شي، دا چې په نورو برخو کې به څه حال وي، یو څه به نور هم ورته تم شو.**

## ۴- ناقانونه امتیازات، کادري او اداري نا انډولي:

**د ولسمشر کرزي د حکومت یوه غټه ستونزه مخالفو لورو ته د نا انډوله سیاسي او اقتصادي امتیازاتو ورکړه وه. اکثره دا ډول امتیازونه د مشخصو اشخاصو د خوشالۍ لپاره وو، پرته له دې چې دې ډول اشخاصو یې وړتیا او اړتیا لرله که نه، خو د هغوی د سیاسي او قومي بېز له امله یې هغوی ته دا ډول امتیازات منل. ولسمشر کرزي سره وېره وه، هسې نه چې دا ډول اشخاص له حکومت څخه بهر پاتې شي، حکومت ته به ستونزه جوړه کړي او بې ثباتۍ ته به لاره اوراه کړي.**

**دا په داسې حال کې وو، څومره چې بېلابېلو تنظیم سالارانو او جنګسالارانو ته واک ورکول کېده، هغوی نه یوازې له دې واک څخه د خپل ځان په ګټه کار اخیسته، بلکې امنیت یې هم لا پسې ګواښه، دولت یې له داخل څخه کمزوری کاوه. دولت له یوې خوا له باندنیو مخالفینو سره لاس او ګرېوان و، له بلې خوا د خپلو امکاناتو په واسطه له خپلو داخلي مخالفینو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره هم مخامخ و.

ښه به وي چې دلته د کرزي د حاکمیت پر مهال د مهمو اداري پوستونو وېش ته هم اشاره وکړو او په دې برخه کې یوه څرګنده سروې هم وړاندې کړو.

دا سروې په خپله د حکومت له خوا د کرزي د حکومت د لومړۍ دورې په وروستیو کې تر سره شوې؛ د جمهوري ریاست د چارو د ادارې له خوا، په دې خاطر چې لاس په کې ونه وهل شي، غواړم کټ مټ یې دلته سکین شوې ښه وړاندې کړم. دا سروې د دولت د لوړ رتبه مامورینو په باب بېلابېلو اړخونو ته په پام سره تر سره شوې ده. درانه هېوادوال کولای شي، دې سروې ته په پام سره د دولت د تشکیل د اساسي برخو څرنګوالي او څومره والي ته ځير شي.

له دې سروې څخه معلومېږي چې د دولت په لوړو څوکیو کې څوک څومره دي. په ټیټو پوستونو کې بیا بې انصافي تر دې هم زیاته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات

| شماره | وزارتها و ادارات | | همه اقوام | ارزگان | بامیان | بدخشان | بغلان | بلخ | پروان | پکتیا | پکتیکا | پنجشیر | تخار | خوست | دایکندی | زابل | سرپل | سمنگان | غزنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | آکادمی علوم | تعداد کارمندان | 52 | 0 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 6 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 1.92 | 1.92 | 0.00 | 0.00 | 11.54 | 0.00 | 1.92 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.92 | 0.00 | 1.92 |
| 2 | اداره احصائیه مرکزی | تعداد کارمندان | 55 | 0 | 2 | 0 | 1 | 1 | 5 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 3.64 | 0.00 | 1.82 | 1.82 | 9.09 | 1.82 | 1.82 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 3.64 |
| 3 | اداره اصلاحات اداری و خدمات | تعداد کارمندان | 113 | 0 | 0 | 3 | 3 | 2 | 5 | 10 | 0 | 1 | 4 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 2.65 | 2.65 | 1.77 | 4.42 | 8.85 | 0.00 | 0.88 | 3.54 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.88 | 1.77 |
| 4 | اداره جیودیزی و کارتوگرافی | تعداد کارمندان | 96 | 0 | 0 | 4 | 1 | 2 | 11 | 4 | 0 | 0 | 3 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 7 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 4.17 | 1.04 | 2.08 | 11.46 | 4.17 | 0.00 | 0.00 | 3.13 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.04 | 7.29 |
| 5 | اداره مبارزه با ارتشا و فساد اداری | تعداد کارمندان | 46 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 3 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 2.17 | 2.17 | 0.00 | 0.00 | 6.52 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.35 |
| 6 | اداره مبارزه با حوادث | تعداد کارمندان | 59 | 0 | 0 | 5 | 0 | 1 | 4 | 2 | 0 | 1 | 5 | 1 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 8.47 | 0.00 | 1.69 | 6.78 | 3.39 | 0.00 | 1.69 | 8.47 | 1.69 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.69 | 0.00 |
| 7 | د افغانستان بانک | تعداد کارمندان | 25 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.00 | 0.00 | 4.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 8 | شاروالی کابل | تعداد کارمندان | 280 | 0 | 5 | 0 | 4 | 1 | 27 | 1 | 0 | 15 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 15 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 1.79 | 0.00 | 1.43 | 0.36 | 9.64 | 0.36 | 0.00 | 5.36 | 0.36 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.36 |
| 9 | کمیسیون مستقل انتخابات | تعداد کارمندان | 81 | 1 | 3 | 2 | 2 | 2 | 2 | 3 | 1 | 1 | 1 | 2 | 1 | 1 | 1 | 2 | 4 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.23 | 3.70 | 2.47 | 2.47 | 2.47 | 2.47 | 3.70 | 1.23 | 1.23 | 1.23 | 2.47 | 1.23 | 1.23 | 1.23 | 2.47 | 4.94 |
| 10 | اداره کنترول و تفتیش | تعداد کارمندان | 167 | 0 | 1 | 5 | 4 | 4 | 19 | 0 | 0 | 8 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 3 | 9 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.60 | 2.99 | 2.40 | 2.40 | 11.38 | 0.00 | 0.00 | 4.79 | 0.00 | 0.60 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.80 | 5.39 |
| 11 | وزارت اقتصاد | تعداد کارمندان | 190 | 1 | 0 | 5 | 2 | 4 | 13 | 3 | 1 | 3 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 9 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.53 | 0.00 | 2.63 | 1.05 | 2.11 | 6.84 | 1.58 | 0.53 | 1.58 | 1.05 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.53 | 4.74 |
| 12 | وزارت امور زنان | تعداد کارمندان | 90 | 1 | 1 | 5 | 1 | 2 | 5 | 1 | 0 | 0 | 5 | 1 | 1 | 1 | 2 | 0 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.11 | 1.11 | 5.56 | 1.11 | 2.22 | 5.56 | 1.11 | 0.00 | 0.00 | 5.56 | 1.11 | 1.11 | 1.11 | 2.22 | 0.00 | 6.67 |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- 1صفحه ----------

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات

| شماره | وزارتها و ادارات | | غور | فاریاب | فراه | قندهار | کابل | کاپیسا | کندز | کنر | لغمان | لوگر | میدان وردک | ننگرهار | نورستان | نیمروز | هرات | هلمند | بادغیس | جوزجان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | آکادمی علوم | تعداد کارمندان | 2 | 0 | 0 | 1 | 16 | 3 | 1 | 2 | 3 | 6 | 2 | 4 | 1 | 0 | 0 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 3.85 | 0.00 | 0.00 | 1.92 | 30.77 | 5.77 | 1.92 | 3.85 | 5.77 | 11.54 | 3.85 | 7.69 | 1.92 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | |
| 2 | اداره احصائیه مرکزی | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 0 | 0 | 33 | 2 | 0 | 0 | 2 | 1 | 0 | 3 | 0 | 0 | 1 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 60.00 | 3.64 | 0.00 | 0.00 | 3.64 | 1.82 | 0.00 | 5.45 | 0.00 | 0.00 | 1.82 | 0.00 | | |
| 3 | اداره اصلاحات اداری و خدمات | تعداد کارمندان | 1 | 2 | 1 | 2 | 44 | 3 | 2 | 1 | 6 | 3 | 6 | 8 | 0 | 0 | 3 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.88 | 1.77 | 0.88 | 1.77 | 38.94 | 2.65 | 1.77 | 0.88 | 5.31 | 2.65 | 5.31 | 7.08 | 0.00 | 0.00 | 2.65 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 4 | اداره جیودیزی و کارتوگرافی | تعداد کارمندان | 0 | 1 | 1 | 2 | 35 | 7 | 1 | 0 | 1 | 0 | 6 | 6 | 0 | 0 | 3 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 1.04 | 1.04 | 2.08 | 36.46 | 7.29 | 1.04 | 0.00 | 1.04 | 0.00 | 6.25 | 6.25 | 0.00 | 0.00 | 3.13 | 0.00 | | |
| 5 | اداره مبارزه با ارتشا و فساد اداری | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 3 | 0 | 20 | 4 | 2 | 1 | 1 | 5 | 0 | 1 | 0 | 1 | 1 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 6.52 | 0.00 | 43.48 | 8.70 | 4.35 | 2.17 | 2.17 | 10.87 | 0.00 | 2.17 | 0.00 | 2.17 | 2.17 | 0.00 | | |
| 6 | اداره مبارزه با حوادث | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 0 | 3 | 18 | 5 | 0 | 0 | 0 | 5 | 1 | 2 | 0 | 0 | 5 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.08 | 30.51 | 8.47 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 8.47 | 1.69 | 3.39 | 0.00 | 0.00 | 8.47 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 7 | د افغانستان بانک | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 0 | 1 | 12 | 0 | 0 | 0 | 1 | 3 | 1 | 3 | 0 | 0 | 2 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.00 | 48.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.00 | 12.00 | 4.00 | 12.00 | 0.00 | 0.00 | 8.00 | 0.00 | | |
| 8 | شاروالی کابل | تعداد کارمندان | 2 | 0 | 2 | 0 | 144 | 12 | 11 | 1 | 5 | 10 | 11 | 12 | 1 | 0 | 0 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.71 | 0.00 | 0.71 | 0.00 | 51.43 | 4.29 | 3.93 | 0.36 | 1.79 | 3.57 | 3.93 | 4.29 | 0.36 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | |
| 9 | کمیسیون مستقل انتخابات | تعداد کارمندان | 0 | 2 | 2 | 5 | 10 | 2 | 3 | 1 | 2 | 3 | 5 | 6 | 2 | 0 | 4 | 1 | 1 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 2.47 | 2.47 | 6.17 | 12.35 | 2.47 | 3.70 | 1.23 | 2.47 | 3.70 | 6.17 | 7.41 | 2.47 | 0.00 | 4.94 | 1.23 | 1.23 | 3.70 |
| 10 | اداره کنترول و تفتیش | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 0 | 2 | 77 | 4 | 1 | 0 | 4 | 8 | 7 | 7 | 1 | 1 | 1 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.20 | 46.11 | 2.40 | 0.60 | 0.00 | 2.40 | 4.79 | 4.19 | 4.19 | 0.60 | 0.60 | 0.60 | 0.00 | | |
| 11 | وزارت اقتصاد | تعداد کارمندان | 3 | 1 | 0 | 3 | 90 | 9 | 2 | 1 | 6 | 7 | 4 | 8 | 0 | 1 | 8 | 1 | 2 | |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.58 | 0.53 | 0.00 | 1.58 | 47.37 | 4.74 | 1.05 | 0.53 | 3.16 | 3.68 | 2.11 | 4.21 | 0.00 | 0.53 | 4.21 | 0.53 | 1.05 | |
| 12 | وزارت امور زنان | تعداد کارمندان | 1 | 3 | 1 | 3 | 23 | 4 | 4 | 1 | 3 | 1 | 4 | 5 | 0 | 1 | 3 | 1 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.11 | 3.33 | 1.11 | 3.33 | 25.56 | 4.44 | 4.44 | 1.11 | 3.33 | 1.11 | 4.44 | 5.56 | 0.00 | 1.11 | 3.33 | 1.11 | | |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- 2صفحه ----------

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات

| شماره | وزارتها و ادارات | | همه اقوام | ارزگان | بامیان | بدخشان | بغلان | بلخ | پروان | پکتیا | پکتیکا | پنجشیر | تخار | خوست | دایکندی | زابل | سرپل | سمنگان | غزنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 13 | وزارت امور مهاجرین و عودت | تعداد کارمندان | 69 | 0 | 0 | 0 | 3 | 0 | 10 | 1 | 0 | 5 | 6 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.35 | 0.00 | 14.49 | 1.45 | 0.00 | 7.25 | 8.70 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.35 |
| 14 | وزارت انکشاف دهات | تعداد کارمندان | 281 | 3 | 6 | 5 | 7 | 3 | 23 | 6 | 1 | 6 | 4 | 6 | 3 | 1 | 6 | 2 | 14 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.07 | 2.14 | 1.78 | 2.49 | 1.07 | 8.19 | 2.14 | 0.36 | 2.14 | 1.42 | 2.14 | 1.07 | 0.36 | 2.14 | 0.71 | 4.98 |
| 15 | وزارت انکشاف شهری | تعداد کارمندان | 85 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 7 | 2 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.18 | 8.24 | 2.35 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.18 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 3.53 |
| 16 | وزارت تجارت | تعداد کارمندان | 51 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 1 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 3.92 | 0.00 | 0.00 | 1.96 | 3.92 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.96 | 11.76 |
| 17 | وزارت تحصیلات عالی | تعداد کارمندان | 268 | 1 | 4 | 5 | 2 | 17 | 20 | 7 | 0 | 4 | 6 | 8 | 0 | 0 | 1 | 0 | 7 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.37 | 1.49 | 1.87 | 0.75 | 6.34 | 7.46 | 2.61 | 0.00 | 1.49 | 2.24 | 2.99 | 0.00 | 0.00 | 0.37 | 0.00 | 2.61 |
| 18 | وزارت ترانسپورت | تعداد کارمندان | 152 | 0 | 1 | 5 | 3 | 7 | 10 | 3 | 0 | 7 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 14 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.66 | 3.29 | 1.97 | 4.61 | 6.58 | 1.97 | 0.00 | 4.61 | 0.66 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 9.21 |
| 19 | وزارت حج و اوقاف | تعداد کارمندان | 67 | 0 | 1 | 9 | 2 | 0 | 9 | 0 | 0 | 3 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 1.49 | 13.43 | 2.99 | 0.00 | 13.43 | 0.00 | 0.00 | 4.48 | 1.49 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.48 |
| 20 | وزارت امور خارجه | تعداد کارمندان | 81 | 0 | 1 | 6 | 2 | 3 | 0 | 1 | 0 | 8 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 1.23 | 7.41 | 2.47 | 3.70 | 0.00 | 1.23 | 0.00 | 9.88 | 1.23 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.23 | 1.23 |
| 21 | وزارت امور داخله | تعداد کارمندان | 317 | 1 | 5 | 25 | 5 | 27 | 42 | 9 | 1 | 4 | 5 | 1 | 0 | 2 | 1 | 4 | 8 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.32 | 1.58 | 7.89 | 1.58 | 8.52 | 13.25 | 2.84 | 0.32 | 1.26 | 1.58 | 0.32 | 0.00 | 0.63 | 0.32 | 1.26 | 2.52 |
| 22 | وزارت امور سرحدات | تعداد کارمندان | 146 | 1 | 2 | 3 | 3 | 3 | 5 | 5 | 4 | 1 | 4 | 4 | 0 | 1 | 2 | 2 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.68 | 1.37 | 2.05 | 2.05 | 2.05 | 3.42 | 3.42 | 2.74 | 0.68 | 2.74 | 2.74 | 0.00 | 0.68 | 1.37 | 1.37 | 4.11 |
| 23 | وزارت شهدا و معلولین | تعداد کارمندان | 237 | 2 | 6 | 5 | 5 | 5 | 17 | 14 | 0 | 7 | 9 | 3 | 4 | 1 | 4 | 4 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.84 | 2.53 | 2.11 | 2.11 | 2.11 | 7.17 | 5.91 | 0.00 | 2.95 | 3.80 | 1.27 | 1.69 | 0.42 | 1.69 | 1.69 | 2.53 |
| 24 | وزارت عدلیه | تعداد کارمندان | 180 | 2 | 5 | 7 | 3 | 5 | 9 | 3 | 0 | 3 | 8 | 3 | 2 | 2 | 2 | 5 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.11 | 2.78 | 3.89 | 1.67 | 2.78 | 5.00 | 1.67 | 0.00 | 1.67 | 4.44 | 1.67 | 1.11 | 1.11 | 1.11 | 2.78 | 3.33 |

اداره نظارت و ارزیابی ---------------- 3صفحه ----------------

جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات

| شماره | وزارتها و ادارات | | غور | فاریاب | فراه | قندهار | کابل | کاپیسا | کندز | کنر | لغمان | لوگر | میدان وردک | ننگرهار | نورستان | نیمروز | هرات | هلمند | بادغیس | جوزجان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 13 | وزارت امور مهاجرین و عودت | تعداد کارمندان | 0 | 1 | 1 | 0 | 26 | 3 | 2 | 1 | 1 | 4 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 1.45 | 1.45 | 0.00 | 37.68 | 4.35 | 2.90 | 1.45 | 1.45 | 5.80 | 0.00 | 2.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 14 | وزارت انکشاف دهات | تعداد کارمندان | 5 | 8 | 7 | 4 | 58 | 15 | 5 | 6 | 21 | 11 | 15 | 13 | 2 | 3 | 8 | 4 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.78 | 2.85 | 2.49 | 1.42 | 20.64 | 5.34 | 1.78 | 2.14 | 7.47 | 3.91 | 5.34 | 4.63 | 0.71 | 1.07 | 2.85 | 1.42 | | |
| 15 | وزارت انکشاف شهری | تعداد کارمندان | 0 | 2 | 0 | 3 | 39 | 3 | 2 | 2 | 5 | 4 | 2 | 7 | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 2.35 | 0.00 | 3.53 | 45.88 | 3.53 | 2.35 | 2.35 | 5.88 | 4.71 | 2.35 | 8.24 | 0.00 | 0.00 | 2.35 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 16 | وزارت تجارت | تعداد کارمندان | 0 | 1 | 1 | 0 | 25 | 0 | 0 | 0 | 2 | 1 | 2 | 4 | 1 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 1.96 | 1.96 | 0.00 | 49.02 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 3.92 | 1.96 | 3.92 | 7.84 | 1.96 | 0.00 | 1.96 | 1.96 | 0.00 | 0.00 |
| 17 | وزارت تحصیلات عالی | تعداد کارمندان | 1 | 4 | 2 | 10 | 85 | 15 | 4 | 1 | 4 | 8 | 7 | 15 | 0 | 1 | 18 | 1 | 0 | 10 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.37 | 1.49 | 0.75 | 3.73 | 31.72 | 5.60 | 1.49 | 0.37 | 1.49 | 2.99 | 2.61 | 5.60 | 0.00 | 0.37 | 6.72 | 0.37 | 0.00 | 3.73 |
| 18 | وزارت ترانسپورت | تعداد کارمندان | 1 | 1 | 3 | 5 | 40 | 5 | 2 | 0 | 9 | 11 | 4 | 15 | 0 | 1 | 2 | 2 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.66 | 0.66 | 1.97 | 3.29 | 26.32 | 3.29 | 1.32 | 0.00 | 5.92 | 7.24 | 2.63 | 9.87 | 0.00 | 0.66 | 1.32 | 1.32 | | |
| 19 | وزارت حج و اوقاف | تعداد کارمندان | 1 | 0 | 0 | 0 | 23 | 3 | 1 | 0 | 4 | 1 | 5 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.49 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 34.33 | 4.48 | 1.49 | 0.00 | 5.97 | 1.49 | 7.46 | 1.49 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | |
| 20 | وزارت امور خارجه | تعداد کارمندان | 0 | 1 | 3 | 3 | 37 | 1 | 2 | 1 | 1 | 3 | 2 | 0 | 1 | 0 | 2 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 1.23 | 3.70 | 3.70 | 45.68 | 1.23 | 2.47 | 1.23 | 1.23 | 3.70 | 2.47 | 0.00 | 1.23 | 0.00 | 2.47 | 0.00 | | |
| 21 | وزارت امور داخله | تعداد کارمندان | 0 | 4 | 0 | 14 | 52 | 23 | 15 | 4 | 11 | 2 | 7 | 19 | 1 | 2 | 21 | 2 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 1.26 | 0.00 | 4.42 | 16.40 | 7.26 | 4.73 | 1.26 | 3.47 | 0.63 | 2.21 | 5.99 | 0.32 | 0.63 | 6.62 | 0.63 | | |
| 22 | وزارت امور سرحدات | تعداد کارمندان | 1 | 3 | 3 | 5 | 24 | 7 | 2 | 9 | 9 | 7 | 4 | 12 | 3 | 4 | 1 | 2 | 1 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.68 | 2.05 | 2.05 | 3.42 | 16.44 | 4.79 | 1.37 | 6.16 | 6.16 | 4.79 | 2.74 | 8.22 | 2.05 | 2.74 | 0.68 | 1.37 | 0.68 | 2.05 |
| 23 | وزارت شهدا و معلولین | تعداد کارمندان | 4 | 5 | 6 | 7 | 41 | 9 | 8 | 4 | 13 | 10 | 12 | 7 | 4 | 0 | 3 | 4 | 4 | 4 |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.69 | 2.11 | 2.53 | 2.95 | 17.30 | 3.80 | 3.38 | 1.69 | 5.49 | 4.22 | 5.06 | 2.95 | 1.69 | 0.00 | 1.27 | 1.69 | 1.69 | 1.69 |
| 24 | وزارت عدلیه | تعداد کارمندان | 5 | 4 | 4 | 3 | 44 | 8 | 7 | 3 | 8 | 6 | 7 | 5 | 2 | 0 | 3 | 1 | 3 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل | 2.78 | 2.22 | 2.22 | 1.67 | 24.44 | 4.44 | 3.89 | 1.67 | 4.44 | 3.33 | 3.89 | 2.78 | 1.11 | 0.00 | 1.67 | 0.56 | 1.67 | 1.11 |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- 4صفحه ----------



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات

| شماره | وزارتها و ادارات | | همه اقوام | ارزگان | بامیان | بدخشان | بغلان | بلخ | پروان | پکتیا | پکتیکا | پنجشیر | تخار | خوست | دایکندی | زابل | سرپل | سمنگان | غزنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 25 | وزارت فرهنگ و جوانان | تعداد کارمندان | 329 | 2 | 4 | 1 | 3 | 8 | 13 | 8 | 0 | 5 | 3 | 1 | 0 | 0 | 2 | 1 | 7 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.61 | 1.22 | 0.30 | 0.91 | 2.43 | 3.95 | 2.43 | 0.00 | 1.52 | 0.91 | 0.30 | 0.00 | 0.00 | 0.61 | 0.30 | 2.13 |
| 26 | وزارت مالیه | تعداد کارمندان | 430 | 1 | 7 | 3 | 11 | 5 | 28 | 10 | 3 | 5 | 14 | 5 | 1 | 1 | 2 | 9 | 22 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.23 | 1.63 | 0.70 | 2.56 | 1.16 | 6.51 | 2.33 | 0.70 | 1.16 | 3.26 | 1.16 | 0.23 | 0.23 | 0.47 | 2.09 | 5.12 |
| 27 | وزارت مخابرات | تعداد کارمندان | 156 | 1 | 2 | 4 | 1 | 0 | 9 | 0 | 2 | 5 | 5 | 5 | 1 | 3 | 0 | 3 | 4 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.64 | 1.28 | 2.56 | 0.64 | 0.00 | 5.77 | 0.00 | 1.28 | 3.21 | 3.21 | 3.21 | 0.64 | 1.92 | 0.00 | 1.92 | 2.56 |
| 28 | وزارت معارف | تعداد کارمندان | 432 | 1 | 3 | 8 | 12 | 7 | 27 | 5 | 1 | 19 | 9 | 6 | 0 | 3 | 3 | 7 | 20 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.23 | 0.69 | 1.85 | 2.78 | 1.62 | 6.25 | 1.16 | 0.23 | 4.40 | 2.08 | 1.39 | 0.00 | 0.69 | 0.69 | 1.62 | 4.63 |
| 29 | وزارت دفاع | تعداد کارمندان | 558 | 7 | 11 | 21 | 18 | 8 | 78 | 25 | 0 | 28 | 10 | 8 | 2 | 0 | 1 | 5 | 36 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.25 | 1.97 | 3.76 | 3.23 | 1.43 | 13.98 | 4.48 | 0.00 | 5.02 | 1.79 | 1.43 | 0.36 | 0.00 | 0.18 | 0.90 | 6.45 |
| 30 | وزارت زراعت و مالداری | تعداد کارمندان | 350 | 0 | 2 | 5 | 12 | 3 | 21 | 6 | 0 | 15 | 5 | 1 | 0 | 0 | 1 | 1 | 24 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.57 | 1.43 | 3.43 | 0.86 | 6.00 | 1.71 | 0.00 | 4.29 | 1.43 | 0.29 | 0.00 | 0.00 | 0.29 | 0.29 | 6.86 |
| 31 | وزارت معادن | تعداد کارمندان | 538 | 0 | 4 | 9 | 16 | 95 | 36 | 10 | 0 | 0 | 2 | 1 | 0 | 0 | 15 | 6 | 10 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.74 | 1.67 | 2.97 | 17.66 | 6.69 | 1.86 | 0.00 | 0.00 | 0.37 | 0.19 | 0.00 | 0.00 | 2.79 | 1.12 | 1.86 |
| 32 | لوی حارنوالی | تعداد کارمندان | 654 | 2 | 9 | 43 | 25 | 36 | 44 | 27 | 21 | 35 | 27 | 15 | 1 | 0 | 5 | 6 | 30 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.31 | 1.38 | 6.57 | 3.82 | 5.50 | 6.73 | 4.13 | 3.21 | 5.35 | 4.13 | 2.29 | 0.15 | 0.00 | 0.76 | 0.92 | 4.59 |
| 33 | وزارت فواید عامه | تعداد کارمندان | 170 | 1 | 0 | 2 | 1 | 3 | 20 | 11 | 0 | 10 | 5 | 4 | 2 | 0 | 1 | 2 | 8 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.59 | 0.00 | 1.18 | 0.59 | 1.76 | 11.76 | 6.47 | 0.00 | 5.88 | 2.94 | 2.35 | 1.18 | 0.00 | 0.59 | 1.18 | 4.71 |
| 34 | وزارت صحت عامه | تعداد کارمندان | 173 | 2 | 0 | 0 | 5 | 1 | 21 | 1 | 1 | 3 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 8 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.16 | 0.00 | 0.00 | 2.89 | 0.58 | 12.14 | 0.58 | 0.58 | 1.73 | 0.00 | 0.58 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 4.62 |
| 35 | اداره تربیت بدنی و سپورت | تعداد کارمندان | 45 | 0 | 0 | 0 | 3 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 6.67 | 0.00 | 4.44 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.22 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.22 | 0.00 |
| 36 | وزارت انرژی و آب | تعداد کارمندان | 566 | 2 | 2 | 6 | 7 | 17 | 48 | 21 | 0 | 17 | 2 | 4 | 0 | 0 | 3 | 1 | 22 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.35 | 0.35 | 1.06 | 1.24 | 3.00 | 8.48 | 3.71 | 0.00 | 3.00 | 0.35 | 0.71 | 0.00 | 0.00 | 0.53 | 0.18 | [illegible] |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- 5صفحه ----------

جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات

| شماره | وزارتها و ادارات | | غور | فاریاب | فراه | قندهار | کابل | کاپیسا | کندز | کنر | لغمان | لوگر | میدان وردک | ننگرهار | نورستان | نیمروز | هرات | هلمند | بادغیس | جوزجان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 25 | وزارت فرهنگ و جوانان | تعداد کارمندان | 0 | 2 | 1 | 4 | 203 | 9 | 2 | 2 | 10 | 11 | 2 | 10 | 1 | 1 | 12 | 1 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.61 | 0.30 | 1.22 | 61.70 | 2.74 | 0.61 | 0.61 | 3.04 | 3.34 | 0.61 | 3.04 | 0.30 | 0.30 | 3.65 | 0.30 | | |
| 26 | وزارت مالیه | تعداد کارمندان | 5 | 6 | 6 | 8 | 131 | 5 | 8 | 9 | 22 | 23 | 23 | 36 | 2 | 2 | 9 | 8 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.16 | 1.40 | 1.40 | 1.86 | 30.47 | 1.16 | 1.86 | 2.09 | 5.12 | 5.35 | 5.35 | 8.37 | 0.47 | 0.47 | 2.09 | 1.86 | | |
| 27 | وزارت مخابرات | تعداد کارمندان | 1 | 2 | 4 | 4 | 47 | 7 | 3 | 2 | 4 | 9 | 9 | 9 | 0 | 2 | 5 | 2 | 1 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.64 | 1.28 | 2.56 | 2.56 | 30.13 | 4.49 | 1.92 | 1.28 | 2.56 | 5.77 | 5.77 | 5.77 | 0.00 | 1.28 | 3.21 | 1.28 | 0.64 | 0.00 |
| 28 | وزارت معارف | تعداد کارمندان | 2 | 8 | 3 | 1 | 170 | 13 | 15 | 3 | 19 | 13 | 14 | 20 | 3 | 4 | 9 | 4 | | |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.46 | 1.85 | 0.69 | 0.23 | 39.35 | 3.01 | 3.47 | 0.69 | 4.40 | 3.01 | 3.24 | 4.63 | 0.69 | 0.93 | 2.08 | 0.93 | | |
| 29 | وزارت دفاع | تعداد کارمندان | 10 | 21 | 10 | 9 | 74 | 36 | 9 | 9 | 16 | 14 | 35 | 21 | 8 | 2 | 15 | 5 | 0 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.79 | 3.76 | 1.79 | 1.61 | 13.26 | 6.45 | 1.61 | 1.61 | 2.87 | 2.51 | 6.27 | 3.76 | 1.43 | 0.36 | 2.69 | 0.90 | 0.00 | 1.08 |
| 30 | وزارت زراعت و مالداری | تعداد کارمندان | 2 | 1 | 2 | 3 | 148 | 20 | 1 | 3 | 17 | 16 | 20 | 16 | 1 | 0 | 2 | 0 | 1 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.57 | 0.29 | 0.57 | 0.86 | 42.29 | 5.71 | 0.29 | 0.86 | 4.86 | 4.57 | 5.71 | 4.57 | 0.29 | 0.00 | 0.57 | 0.00 | 0.29 | 0.29 |
| 31 | وزارت معادن | تعداد کارمندان | 2 | 44 | 1 | 0 | 28 | 10 | 7 | 111 | 16 | 13 | 7 | 4 | 0 | 0 | 16 | 1 | 1 | 73 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.37 | 8.18 | 0.19 | 0.00 | 5.20 | 1.86 | 1.30 | 20.63 | 2.97 | 2.42 | 1.30 | 0.74 | 0.00 | 0.00 | 2.97 | 0.19 | 0.19 | 13.57 |
| 32 | لوی حارنوالی | تعداد کارمندان | 3 | 19 | 4 | 23 | 43 | 9 | 21 | 25 | 32 | 15 | 12 | 46 | 8 | 0 | 41 | 3 | 11 | 13 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.46 | 2.91 | 0.61 | 3.52 | 6.57 | 1.38 | 3.21 | 3.82 | 4.89 | 2.29 | 1.83 | 7.03 | 1.22 | 0.00 | 6.27 | 0.46 | 1.68 | 1.99 |
| 33 | وزارت فواید عامه | تعداد کارمندان | 2 | 1 | 3 | 2 | 60 | 2 | 2 | 2 | 8 | 5 | 3 | 5 | 0 | 0 | 4 | 1 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.18 | 0.59 | 1.76 | 1.18 | 35.29 | 1.18 | 1.18 | 1.18 | 4.71 | 2.94 | 1.76 | 2.94 | 0.00 | 0.00 | 2.35 | 0.59 | 0.00 | 0.00 |
| 34 | وزارت صحت عامه | تعداد کارمندان | 0 | 2 | 1 | 2 | 76 | 4 | 4 | 0 | 7 | 10 | 9 | 13 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 1.16 | 0.58 | 1.16 | 43.93 | 2.31 | 2.31 | 0.00 | 4.05 | 5.78 | 5.20 | 7.51 | 0.00 | 0.00 | 0.58 | 0.00 | 0.00 | 0.58 |
| 35 | اداره تربیت بدنی و سپورت | تعداد کارمندان | 0 | 1 | 0 | 1 | 28 | 2 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 2 | 1 | 0 | 1 | 0 | 0 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 2.22 | 0.00 | 2.22 | 62.22 | 4.44 | 0.00 | 0.00 | 2.22 | 0.00 | 0.00 | 4.44 | 2.22 | 0.00 | 2.22 | 0.00 | 0.00 | 2.22 |
| 36 | وزارت انرژی و آب | تعداد کارمندان | 0 | 5 | 6 | 2 | 257 | 16 | 11 | 7 | 26 | 22 | 23 | 25 | 1 | 0 | 11 | 0 | 0 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.88 | 1.06 | 0.35 | 45.41 | 2.83 | 1.94 | 1.24 | 4.59 | 3.89 | 4.06 | 4.42 | 0.18 | 0.00 | 1.94 | 0.00 | 0.00 | 0.35 |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- 6صفحه ----------



(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

**جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات**

| شماره | وزارتها و ادارات | | همه اقوام | ارزگان | بامیان | بدخشان | بغلان | بلخ | پروان | پکتیا | پکتیکا | پنجشیر | تخار | خوست | دایکندی | زابل | سرپل | سمنگان | غزنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 37 | وزارت مبارزه با مواد مخدر | تعداد کارمندان | 39 | 1 | 0 | 1 | 2 | 1 | 0 | 3 | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 2.56 | 0.00 | 2.56 | 5.13 | 2.56 | 0.00 | 7.69 | 0.00 | 0.00 | 5.13 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.56 | 0.00 | 2.56 |
| 38 | اداره ملی حفاظت محیط زیست | تعداد کارمندان | 74 | 0 | 0 | 4 | 4 | 1 | 5 | 2 | 0 | 0 | 1 | 4 | 0 | 0 | 0 | 0 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.00 | 0.00 | 5.41 | 5.41 | 1.35 | 6.76 | 2.70 | 0.00 | 0.00 | 1.35 | 5.41 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.70 |
| 39 | جمعیت هلال احمر افغانی | تعداد کارمندان | 166 | 2 | 6 | 2 | 5 | 4 | 9 | 3 | 1 | 7 | 3 | 2 | 2 | 0 | 1 | 0 | 7 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.20 | 3.61 | 1.20 | 3.01 | 2.41 | 5.42 | 1.81 | 0.60 | 4.22 | 1.81 | 1.20 | 1.20 | 0.00 | 0.60 | 0.00 | 4.22 |
| 40 | ستره محکمه | تعداد کارمندان | 1028 | 9 | 22 | 58 | 17 | 61 | 60 | 20 | 15 | 39 | 30 | 15 | 6 | 7 | 4 | 27 | 13 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 0.88 | 2.14 | 5.64 | 1.65 | 5.93 | 5.84 | 1.95 | 1.46 | 3.79 | 2.92 | 1.46 | 0.58 | 0.68 | 0.39 | 2.63 | 1.26 |
| 41 | کمیسیون مستقل حقوق بشر | تعداد کارمندان | 241 | 4 | 7 | 6 | 4 | 11 | 6 | 5 | 0 | 0 | 6 | 4 | 4 | 1 | 2 | 2 | 36 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.66 | 2.90 | 2.49 | 1.66 | 4.56 | 2.49 | 2.07 | 0.00 | 0.00 | 2.49 | 1.66 | 1.66 | 0.41 | 0.83 | 0.83 | 14.94 |
| 42 | وزارت دولت در امور پارلمانی | تعداد کارمندان | 35 | 1 | 0 | 5 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 1 | 1 | 1 | 1 | 1 | 0 | 1 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 2.86 | 0.00 | 14.29 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.86 | 0.00 | 2.86 | 2.86 | 2.86 | 2.86 | 2.86 | 0.00 | 2.86 | 2.86 |
| 43 | ریاست عمومی اداره امور و | تعداد کارمندان | 255 | 3 | 9 | 15 | 7 | 2 | 14 | 11 | 0 | 11 | 2 | 1 | 2 | 0 | 0 | 1 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 1.18 | 3.53 | 5.88 | 2.75 | 0.78 | 5.49 | 4.31 | 0.00 | 4.31 | 0.78 | 0.39 | 0.78 | 0.00 | 0.00 | 0.39 | 2.35 |

| مجموع کل وزارت ها و ادارات | ولایات | ارزگان | بامیان | بدخشان | بغلان | بلخ | پروان | پکتیا | پکتیکا | پنجشیر | تخار | خوست | دایکندی | زابل | سرپل | سمنگان | غزنی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تعداد کارمندان | 52 | 132 | 294 | 207 | 353 | 689 | 252 | 53 | 280 | 195 | 110 | 33 | 25 | 61 | 101 | 391 |
| | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.55 | 1.40 | 3.12 | 2.20 | 3.74 | 7.31 | 2.67 | 0.56 | 2.97 | 2.07 | 1.17 | 0.35 | 0.27 | 0.65 | 1.07 | 4.15 |

اداره نظارت و ارزیابی ------------ 7صفحه ------------



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب ولایات

| شماره | وزارتها و ادارات | | غور | فاریاب | فراه | قندهار | کابل | کاپیسا | کندز | کنر | لغمان | لوگر | میدان وردک | ننگرهار | نورستان | نیمروز | هرات | هلمند | بادغیس | جوزجان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 37 | وزارت مبارزه با مواد مخدر | تعداد کارمندان | 1 | 0 | 3 | 3 | 6 | 0 | 0 | 0 | 0 | 3 | 3 | 8 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 2.56 | 0.00 | 7.69 | 7.69 | 15.38 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 7.69 | 7.69 | 20.51 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 38 | اداره ملی حفاظت محیط زیست | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 0 | 1 | 26 | 0 | 1 | 5 | 4 | 1 | 6 | 1 | 5 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.35 | 35.14 | 0.00 | 1.35 | 6.76 | 5.41 | 1.35 | 8.11 | 1.35 | 6.76 | 0.00 | 0.00 | 1.35 | 0.00 | 0.00 |
| 39 | جمعیت هلال احمر افغانی | تعداد کارمندان | 3 | 6 | 5 | 3 | 40 | 2 | 1 | 2 | 5 | 10 | 8 | 9 | 0 | 2 | 12 | 2 | 0 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.81 | 3.61 | 3.01 | 1.81 | 24.10 | 1.20 | 0.60 | 1.20 | 3.01 | 6.02 | 4.82 | 5.42 | 0.00 | 1.20 | 7.23 | 1.20 | 0.00 | 1.20 |
| 40 | ستره محکمه | تعداد کارمندان | 15 | 14 | 16 | 16 | 159 | 44 | 8 | 15 | 60 | 50 | 28 | 97 | 11 | 7 | 45 | 15 | 19 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل | 1.46 | 1.36 | 1.56 | 1.56 | 15.47 | 4.28 | 0.78 | 1.46 | 5.84 | 4.86 | 2.72 | 9.44 | 1.07 | 0.68 | 4.38 | 1.46 | 1.85 | 0.58 |
| 41 | کمیسیون مستقل حقوق بشر | تعداد کارمندان | 5 | 4 | 6 | 7 | 38 | 2 | 8 | 2 | 11 | 1 | 7 | 19 | 3 | 1 | 23 | 3 | 0 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل | 2.07 | 1.66 | 2.49 | 2.90 | 15.77 | 0.83 | 3.32 | 0.83 | 4.56 | 0.41 | 2.90 | 7.88 | 1.24 | 0.41 | 9.54 | 1.24 | 0.00 | 1.24 |
| 42 | وزارت دولت در امور پارلمانی | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 1 | 1 | 8 | 1 | 1 | 0 | 1 | 1 | 3 | 2 | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 2.86 | 2.86 | 22.86 | 2.86 | 2.86 | 0.00 | 2.86 | 2.86 | 8.57 | 5.71 | 0.00 | 0.00 | 5.71 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 43 | ریاست عمومی اداره امور و | تعداد کارمندان | 0 | 0 | 0 | 3 | 100 | 14 | 2 | 2 | 4 | 23 | 10 | 6 | 1 | 0 | 6 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.18 | 39.22 | 5.49 | 0.78 | 0.78 | 1.57 | 9.02 | 3.92 | 2.35 | 0.39 | 0.00 | 2.35 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |

| مجموع کل وزارت ها و ادارات | ولایات | غور | فاریاب | فراه | قندهار | کابل | کاپیسا | کندز | کنر | لغمان | لوگر | میدان وردک | ننگرهار | نورستان | نیمروز | هرات | هلمند | بادغیس | جوزجان |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تعداد کارمندان | 78 | 179 | 112 | 169 | 2658 | 343 | 181 | 238 | 385 | 360 | 336 | 514 | 64 | 36 | 306 | 66 | 44 | 130 |
| | فیصدی برحسب کل | 0.83 | 1.90 | 1.19 | 1.79 | 28.20 | 3.64 | 1.92 | 2.52 | 4.08 | 3.82 | 3.56 | 5.45 | 0.68 | 0.38 | 3.25 | 0.70 | 0.47 | 1.38 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب درجه تحصیل

| شماره | وزارتها و ادارات | | ابتدائی | بکلوریا | فوق بکلوریا | لیسانس | ماستر | دوکتورا | خصوصی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | آکادمی علوم | تعداد کارمندان | 0 | 25 | 6 | 18 | 7 | 1 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 43.86 | 10.53 | 31.58 | 12.28 | 1.75 | 0.00 |
| 2 | اداره احصائیه مرکزی | تعداد کارمندان | 0 | 25 | 6 | 18 | 7 | 1 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 43.86 | 10.53 | 31.58 | 12.28 | 1.75 | 0.00 |
| 3 | اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی | تعداد کارمندان | 0 | 29 | 4 | 71 | 11 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 25.22 | 3.48 | 61.74 | 9.57 | 0.00 | 0.00 |
| 4 | اداره جیودیزی و کارتوگرافی | تعداد کارمندان | 4 | 70 | 4 | 17 | 7 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 3.92 | 68.63 | 3.92 | 16.67 | 6.86 | 0.00 | 0.00 |
| 5 | اداره مبارزه با ارتشا و فساد اداری | تعداد کارمندان | 0 | 8 | 1 | 38 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 17.02 | 2.13 | 80.85 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 6 | اداره مبارزه با حوادث | تعداد کارمندان | 0 | 40 | 3 | 12 | 4 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 67.80 | 5.08 | 20.34 | 6.78 | 0.00 | 0.00 |
| 7 | د افغانستان بانک | تعداد کارمندان | 2 | 11 | 0 | 11 | 2 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 7.69 | 42.31 | 0.00 | 42.31 | 7.69 | 0.00 | 0.00 |
| 8 | شاروالی کابل | تعداد کارمندان | 17 | 159 | 11 | 42 | 59 | 1 | 8 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 5.72 | 53.54 | 3.70 | 14.14 | 19.87 | 0.34 | 2.69 |
| 9 | کمیسیون مستقل انتخابات | تعداد کارمندان | 0 | 22 | 6 | 33 | 16 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 28.57 | 7.79 | 42.86 | 20.78 | 0.00 | 0.00 |
| 10 | اداره کنترول و تفتیش | تعداد کارمندان | 5 | 53 | 8 | 87 | 12 | 2 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.98 | 31.55 | 4.76 | 51.79 | 7.14 | 1.19 | 0.60 |
| 11 | وزارت اقتصاد | تعداد کارمندان | 3 | 91 | 4 | 75 | 30 | 2 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 1.46 | 44.39 | 1.95 | 36.59 | 14.63 | 0.98 | 0.00 |
| 12 | وزارت امور زنان | تعداد کارمندان | 0 | 42 | 8 | 35 | 4 | 1 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 45.65 | 8.70 | 38.04 | 4.35 | 1.09 | 2.17 |
| 13 | وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان | تعداد کارمندان | 0 | 50 | 10 | 9 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 72.46 | 14.49 | 13.04 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 14 | وزارت انکشاف دهات | تعداد کارمندان | 6 | 94 | 17 | 131 | 48 | 0 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.02 | 31.65 | 5.72 | 44.11 | 16.16 | 0.00 | 0.34 |
| 15 | وزارت انکشاف شهری | تعداد کارمندان | 0 | 20 | 3 | 18 | 41 | 3 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 23.53 | 3.53 | 21.18 | 48.24 | 3.53 | |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- صفحه 1 ----------

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

**جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب درجه تحصیل**

| شماره | وزارتها و ادارات | | ابتدائی | بکلوریا | فوق بکلوریا | لیسانس | ماستر | دوکتورا | خصوصی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 16 | وزارت تجارت | تعداد کارمندان | 1 | 22 | 3 | 20 | 2 | 0 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.04 | 44.90 | 6.12 | 40.82 | 4.08 | 0.00 | 2.04 |
| 17 | وزارت تحصیلات عالی | تعداد کارمندان | 2 | 53 | 5 | 93 | 99 | 18 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.74 | 19.56 | 1.85 | 34.32 | 36.53 | 6.64 | 0.37 |
| 18 | وزارت ترانسپورت | تعداد کارمندان | 0 | 81 | 11 | 34 | 6 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 61.36 | 8.33 | 25.76 | 4.55 | 0.00 | 0.00 |
| 19 | وزارت حج و اوقاف | تعداد کارمندان | 0 | 38 | 5 | 13 | 3 | 0 | 6 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 58.46 | 7.69 | 20.00 | 4.62 | 0.00 | 9.23 |
| 20 | وزارت امور خارجه | تعداد کارمندان | 2 | 22 | 7 | 109 | 49 | 17 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.97 | 10.68 | 3.40 | 52.91 | 23.79 | 8.25 | 0.00 |
| 21 | وزارت امور داخله | تعداد کارمندان | 22 | 200 | 31 | 67 | 4 | 0 | 20 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 6.40 | 58.14 | 9.01 | 19.48 | 1.16 | 0.00 | 5.81 |
| 22 | وزارت امور سرحدات | تعداد کارمندان | 9 | 108 | 5 | 16 | 6 | 0 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 6.12 | 73.47 | 3.40 | 10.88 | 4.08 | 0.00 | 2.04 |
| 23 | وزارت شهدا و معلولین | تعداد کارمندان | 2 | 227 | 16 | 49 | 8 | 0 | 11 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.64 | 72.52 | 5.11 | 15.65 | 2.56 | 0.00 | 3.51 |
| 24 | وزارت عدلیه | تعداد کارمندان | 2 | 94 | 10 | 56 | 6 | 0 | 11 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 1.12 | 52.51 | 5.59 | 31.28 | 3.35 | 0.00 | 6.15 |
| 25 | وزارت فرهنگ و جوانان | تعداد کارمندان | 15 | 161 | 37 | 83 | 27 | 3 | 7 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 4.50 | 48.35 | 11.11 | 24.92 | 8.11 | 0.90 | 2.10 |
| 26 | وزارت مالیه | تعداد کارمندان | 18 | 256 | 23 | 112 | 13 | 2 | 19 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 4.06 | 57.79 | 5.19 | 25.28 | 2.93 | 0.45 | 4.29 |
| 27 | وزارت مخابرات | تعداد کارمندان | 13 | 94 | 24 | 12 | 7 | 0 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 8.55 | 61.84 | 15.79 | 7.89 | 4.61 | 0.00 | 1.32 |
| 28 | وزارت معارف | تعداد کارمندان | 12 | 127 | 123 | 171 | 36 | 2 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.54 | 26.91 | 26.06 | 36.23 | 7.63 | 0.42 | 0.21 |
| 29 | وزارت زراعت و مالداری | تعداد کارمندان | 6 | 110 | 22 | 147 | 62 | 4 | 2 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 1.70 | 31.16 | 6.23 | 41.64 | 17.56 | 1.13 | 0.57 |
| 30 | وزارت معادن | تعداد کارمندان | 66 | 254 | 64 | 99 | 83 | 0 | 9 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 11.48 | 44.17 | 11.13 | 17.22 | 14.43 | 0.00 | [illegible] |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- صفحه 2 ----------

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

**جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب درجه تحصیل**

| شماره | وزارتها و ادارات | | ابتدائی | بکلوریا | فوق بکلوریا | لیسانس | ماستر | دوکتورا | خصوصی |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 31 | لوی حارنوالی | تعداد کارمندان | 12 | 263 | 11 | 204 | 15 | 0 | 9 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.33 | 51.17 | 2.14 | 39.69 | 2.92 | 0.00 | 1.75 |
| 32 | وزارت فواید عامه | تعداد کارمندان | 10 | 78 | 10 | 33 | 51 | 0 | 4 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 5.38 | 41.94 | 5.38 | 17.74 | 27.42 | 0.00 | 2.15 |
| 33 | وزارت صحت عامه | تعداد کارمندان | 0 | 51 | 12 | 57 | 50 | 7 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 28.81 | 6.78 | 32.20 | 28.25 | 3.95 | 0.00 |
| 34 | اداره تربیت بدنی و سپورت | تعداد کارمندان | 1 | 28 | 9 | 5 | 2 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.22 | 62.22 | 20.00 | 11.11 | 4.44 | 0.00 | 0.00 |
| 35 | وزارت انرژی و آب | تعداد کارمندان | 17 | 301 | 74 | 93 | 105 | 1 | 4 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.86 | 50.59 | 12.44 | 15.63 | 17.65 | 0.17 | 0.67 |
| 36 | وزارت مبارزه با مواد مخدر | تعداد کارمندان | 0 | 4 | 0 | 27 | 8 | 1 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 10.00 | 0.00 | 67.50 | 20.00 | 2.50 | 0.00 |
| 37 | جمعیت هلال احمر افغانی | تعداد کارمندان | 4 | 67 | 20 | 53 | 19 | 1 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 2.42 | 40.61 | 12.12 | 32.12 | 11.52 | 0.61 | 0.61 |
| 38 | اداره ملی حفاظت محیط زیست | تعداد کارمندان | 1 | 33 | 5 | 38 | 6 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 1.20 | 39.76 | 6.02 | 45.78 | 7.23 | 0.00 | 0.00 |
| 39 | کمیسیون مستقل حقوق بشر | تعداد کارمندان | 4 | 135 | 8 | 59 | 16 | 0 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 1.78 | 60.00 | 3.56 | 26.22 | 7.11 | 0.00 | 1.33 |
| 40 | ستره محکمه | تعداد کارمندان | 17 | 259 | 87 | 510 | 13 | 0 | 132 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 1.67 | 25.44 | 8.55 | 50.10 | 1.28 | 0.00 | 12.97 |
| 41 | وزارت دولت در امور پارلمانی | تعداد کارمندان | 0 | 10 | 0 | 18 | 4 | 2 | 1 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 0.00 | 28.57 | 0.00 | 51.43 | 11.43 | 5.71 | 2.86 |
| 42 | ریاست عمومی اداره امور و دارالانشای شواری وزیران | تعداد کارمندان | 4 | 135 | 8 | 59 | 16 | 0 | 3 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 1.78 | 60.00 | 3.56 | 26.22 | 7.11 | 0.00 | 1.33 |
| | مجموع کل وزارت ها و ادارات | درجه تحصیل | ابتدائی | بکلوریا | فوق بکلوریا | لیسانس | ماستر | دوکتورا | خصوصی |
| | | تعداد کارمندان | 277 | 3950 | 721 | 2852 | 964 | 69 | 262 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | 3.05 | 43.43 | 7.93 | 31.36 | 10.60 | 0.76 | 2.88 |

اداره نظارت و ارزیابی ---------------- صفحه 3 ----------------

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

## جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب قوم

| شماره | وزارتها و ادارات | | کل اقوام | پشتون | تاجک | هزاره | ازبک | ایماق | نورستانی | سادات | ترکمن | بلوچ | پشه ئی | قزلباش | بیات | عرب | سایرین |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | آکادمی علوم | تعداد کارمندان | 55 | 29 | 24 | 0 | 1 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 52.73 | 43.64 | 0.00 | 1.82 | 0.00 | 1.82 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 2 | اداره احصائیه مرکزی | تعداد کارمندان | 58 | 17 | 38 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 29.82 | 66.67 | 3.51 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.75 | | |
| 3 | اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی | تعداد کارمندان | 113 | 48 | 57 | 0 | 1 | 0 | 0 | 5 | 1 | 0 | 1 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 42.48 | 50.44 | 0.00 | 0.88 | 0.00 | 0.00 | 4.42 | 0.88 | 0.00 | 0.88 | 0.00 | | | |
| 4 | اداره جیودیزی و کارتوگرافی | تعداد کارمندان | 102 | 20 | 69 | 13 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 19.61 | 67.65 | 12.75 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 5 | اداره مبارزه با ارتشا و فساد اداری | تعداد کارمندان | 47 | 18 | 23 | 2 | 0 | 0 | 0 | 3 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 38.30 | 48.94 | 4.26 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 6.38 | 2.13 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | |
| 6 | اداره مبارزه با حوادث | تعداد کارمندان | 59 | 6 | 44 | 6 | 2 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 10.17 | 74.58 | 10.17 | 3.39 | 0.00 | 0.00 | 1.69 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 7 | د افغانستان بانک | تعداد کارمندان | 26 | 11 | 14 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 42.31 | 53.85 | 0.00 | 3.85 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 8 | شاروالی کابل | تعداد کارمندان | 294 | 86 | 174 | 28 | 3 | 0 | 0 | 3 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 29.25 | 59.18 | 9.52 | 1.02 | 0.00 | 0.00 | 1.02 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 9 | کمیسیون مستقل انتخابات | تعداد کارمندان | 80 | 35 | 29 | 7 | 4 | 0 | 2 | 2 | 1 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 43.75 | 36.25 | 8.75 | 5.00 | 0.00 | 2.50 | 2.50 | 1.25 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 10 | اداره کنترول و تفتیش | تعداد کارمندان | 168 | 47 | 112 | 3 | 0 | 0 | 0 | 6 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 27.98 | 66.67 | 1.79 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 3.57 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 11 | وزارت اقتصاد | تعداد کارمندان | 206 | 49 | 133 | 12 | 3 | 0 | 0 | 6 | 2 | 0 | 0 | 1 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 23.90 | 64.88 | 5.85 | 1.46 | 0.00 | 0.00 | 2.93 | 0.98 | 0.00 | 0.00 | 0.49 | | | |
| 12 | وزارت امور زنان | تعداد کارمندان | 92 | 24 | 42 | 14 | 6 | 0 | 0 | 4 | 0 | 2 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 26.09 | 45.65 | 15.22 | 6.52 | 0.00 | 0.00 | 4.35 | 0.00 | 2.17 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 13 | وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان | تعداد کارمندان | 69 | 12 | 52 | 0 | 3 | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 17.39 | 75.36 | 0.00 | 4.35 | 0.00 | 0.00 | 2.90 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 14 | وزارت انکشاف دهات | تعداد کارمندان | 293 | 101 | 152 | 15 | 17 | 0 | 0 | 1 | 2 | 3 | 2 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 34.47 | 51.88 | 5.12 | 5.80 | 0.00 | 0.00 | 0.34 | 0.68 | 1.02 | 0.68 | 0.00 | | | |

اداره نظارت و ارزیابی ---------- صفحه 1 ----------

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

### جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب قوم

| شماره | وزارتها و ادارات | | کل اقوام | پشتون | تاجک | هزاره | ازبک | ایماق | نورستانی | سادات | ترکمن | بلوچ | پشه ئی | قزلباش | بیات | عرب | سایرین |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 15 | وزارت انکشاف شهری | تعداد کارمندان | 85 | 23 | 59 | 0 | 1 | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 27.06 | 69.41 | 0.00 | 1.18 | 0.00 | 0.00 | 2.35 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 16 | وزارت تجارت | تعداد کارمندان | 50 | 14 | 27 | 6 | 1 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 28.00 | 54.00 | 12.00 | 2.00 | 0.00 | 2.00 | 2.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 17 | وزارت تحصیلات عالی | تعداد کارمندان | 271 | 97 | 144 | 8 | 13 | 0 | 0 | 2 | 2 | 1 | 0 | 1 | 1 | 2 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 35.79 | 53.14 | 2.95 | 4.80 | 0.00 | 0.00 | 0.74 | 0.74 | 0.37 | 0.00 | 0.37 | 0.37 | 0.74 | 0.00 |
| 18 | وزارت ترانسپورت | تعداد کارمندان | 146 | 52 | 75 | 15 | 0 | 0 | 0 | 4 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 35.62 | 51.37 | 10.27 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.74 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 19 | وزارت حج و اوقاف | تعداد کارمندان | 68 | 14 | 49 | 5 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 20.59 | 72.06 | 7.35 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 20 | وزارت امور خارجه | تعداد کارمندان | 214 | 64 | 119 | 8 | 13 | 1 | 1 | 1 | 2 | 0 | 0 | 5 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 29.91 | 55.61 | 3.74 | 6.07 | 0.47 | 0.47 | 0.47 | 0.93 | 0.00 | 0.00 | 2.34 | | | |
| 21 | وزارت امور داخله | تعداد کارمندان | 79 | 31 | 30 | 6 | 5 | 1 | 2 | 3 | 0 | 1 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 39.24 | 37.97 | 7.59 | 6.33 | 1.27 | 2.53 | 3.80 | 0.00 | 1.27 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 22 | وزارت امور سرحدات | تعداد کارمندان | 147 | 79 | 45 | 3 | 5 | 2 | 2 | 3 | 2 | 4 | 2 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 53.74 | 30.61 | 2.04 | 3.40 | 1.36 | 1.36 | 2.04 | 1.36 | 2.72 | 1.36 | 0.00 | | | |
| 23 | وزارت شهدا و معلولین | تعداد کارمندان | 312 | 123 | 142 | 16 | 17 | 0 | 0 | 12 | 2 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 39.42 | 45.51 | 5.13 | 5.45 | 0.00 | 0.00 | 3.85 | 0.64 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 24 | وزارت عدلیه | تعداد کارمندان | 167 | 52 | 98 | 9 | 7 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 31.14 | 58.68 | 5.39 | 4.19 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.60 | 0.00 | | | |
| 25 | وزارت فرهنگ و جوانان | تعداد کارمندان | 334 | 73 | 235 | 11 | 8 | 0 | 0 | 3 | 1 | 1 | 2 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 21.86 | 70.36 | 3.29 | 2.40 | 0.00 | 0.00 | 0.90 | 0.30 | 0.30 | 0.60 | 0.00 | | | |
| 26 | وزارت مالیه | تعداد کارمندان | 441 | 192 | 202 | 17 | 15 | 0 | 1 | 7 | 2 | 5 | | | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 43.54 | 45.80 | 3.85 | 3.40 | 0.00 | 0.23 | 1.59 | 0.45 | 1.13 | | | | | |
| 27 | وزارت مخابرات | تعداد کارمندان | 157 | 58 | 94 | 3 | 0 | 0 | 0 | 2 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 36.94 | 59.87 | 1.91 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 1.27 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 28 | وزارت معارف | تعداد کارمندان | 442 | 143 | 268 | 12 | 9 | 0 | 2 | 4 | 3 | 0 | 1 | | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 32.43 | 60.77 | 2.72 | 2.04 | 0.00 | 0.45 | 0.91 | 0.68 | 0.00 | 0.23 | | | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

**جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب قوم**

| شماره | وزارتها و ادارات | | کل اقوام | پشتون | تاجک | هزاره | ازبک | ایماق | نورستانی | سادات | ترکمن | بلوچ | پشه ئی | قزلباش | بیات | عرب | سایرین |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 29 | وزارت دفاع | تعداد کارمندان | 567 | 225 | 206 | 63 | 36 | 2 | 2 | 6 | 1 | 2 | 3 | 0 | | 1 | 20 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 39.68 | 36.33 | 11.11 | 6.35 | 0.35 | 0.35 | 1.06 | 0.18 | 0.35 | 0.53 | 0.00 | | 0.18 | 3.53 |
| 30 | وزارت زراعت و مالداری | تعداد کارمندان | 352 | 102 | 178 | 28 | 2 | 1 | 0 | 26 | 1 | 0 | 0 | 5 | 9 | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 28.98 | 50.57 | 7.95 | 0.57 | 0.28 | 0.00 | 7.39 | 0.28 | 0.00 | 0.00 | 1.42 | 2.56 | | |
| 31 | وزارت معادن | تعداد کارمندان | 323 | 92 | 143 | 3 | 78 | 0 | 0 | 0 | 7 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 28.48 | 44.27 | 0.93 | 24.15 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.17 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 32 | لوی حارنوالی | تعداد کارمندان | 658 | 269 | 326 | 23 | 37 | 0 | 0 | 2 | 0 | 1 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 40.88 | 49.54 | 3.50 | 5.62 | 0.00 | 0.00 | 0.30 | 0.00 | 0.15 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 33 | وزارت فواید عامه | تعداد کارمندان | 168 | 53 | 109 | 4 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 31.55 | 64.88 | 2.38 | 0.60 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.60 | 0.00 | | | |
| 34 | وزارت صحت عامه | تعداد کارمندان | 176 | 62 | 96 | 1 | 1 | 0 | 0 | 14 | 0 | 0 | 1 | 1 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 35.23 | 54.55 | 0.57 | 0.57 | 0.00 | 0.00 | 7.95 | 0.00 | 0.00 | 0.57 | 0.57 | | | |
| 35 | اداره تربیت بدنی و سپورت | تعداد کارمندان | 45 | 10 | 31 | 1 | 2 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 22.22 | 68.89 | 2.22 | 4.44 | 0.00 | 2.22 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 36 | وزارت انرژی و آب | تعداد کارمندان | 590 | 186 | 376 | 16 | 6 | 0 | 0 | 4 | 0 | 0 | 2 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 31.53 | 63.73 | 2.71 | 1.02 | 0.00 | 0.00 | 0.68 | 0.00 | 0.00 | 0.34 | 0.00 | | | |
| 37 | وزارت مبارزه با مواد مخدر | تعداد کارمندان | 40 | 26 | 12 | 1 | 0 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 65.00 | 30.00 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 2.50 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 38 | جمعیت هلال احمر افغانی | تعداد کارمندان | 164 | 53 | 73 | 9 | 12 | 0 | 0 | 15 | 0 | 2 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 32.32 | 44.51 | 5.49 | 7.32 | 0.00 | 0.00 | 9.15 | 0.00 | 1.22 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 39 | اداره ملی حفاظت محیط زیست | تعداد کارمندان | 58 | 20 | 35 | 0 | 0 | 0 | 3 | 0 | 0 | 0 | 0 | 0 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 34.48 | 60.34 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.17 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | | | |
| 40 | ستره محکمه | تعداد کارمندان | 1022 | 420 | 544 | 34 | 20 | 0 | 0 | 0 | 1 | 2 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 41.10 | 53.23 | 3.33 | 1.96 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.10 | 0.20 | 0.10 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 41 | امنیت ملی | تعداد کارمندان | 335 | 117 | 190 | 9 | 7 | 0 | 2 | 5 | 0 | 3 | 2 | | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 34.93 | 56.72 | 2.69 | 2.09 | 0.00 | 0.60 | 1.49 | 0.00 | 0.90 | 0.60 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |
| 42 | وزارت دولت در امور پارلمانی | تعداد کارمندان | 35 | 14 | 13 | 4 | 1 | 0 | 0 | 1 | 0 | 0 | 0 | 2 | | | |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 40.00 | 37.14 | 11.43 | 2.86 | 0.00 | 0.00 | 2.86 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 5.71 | | | |

جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران

## جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۳ الی خارج رتبه برحسب قوم


| شماره | وزارتها و ادارات | | کل اقوام | پشتون | تاجک | هزاره | ازبک | ایماق | نورستانی | سادات | ترکمن | بلوچ | پشه ئی | قزلباش | بیات | عرب | سایرین |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 43 | کمیسیون مستقل حقوق بشر | تعداد کارمندان | 240 | 92 | 53 | 67 | 7 | 0 | 3 | 9 | 2 | 2 | 1 | 0 | 2 | 2 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 38.17 | 21.99 | 27.80 | 2.90 | 0.00 | 1.24 | 3.73 | 0.83 | 0.83 | 0.41 | 0.00 | 0.83 | 0.83 | 0.00 |
| 44 | ریاست عمومی اداره امور و دارالانشای شورای وزیران | تعداد کارمندان | 260 | 68 | 152 | 24 | 3 | 0 | 0 | 11 | 0 | 1 | 1 | 0 | 0 | 0 | 0 |
| | | فیصدی برحسب کل کارمندان | | 26.15 | 58.46 | 9.23 | 1.15 | 0.00 | 0.00 | 4.23 | 0.00 | 0.38 | 0.38 | 0.00 | 0.00 | 0.00 | 0.00 |

| مجموع کل وزارت ها و ادارات | قوم ها | پشتون | تاجک | هزاره | ازبک | ایماق | نورستانی | سادات | ترکمن | بلوچ | پشه نی | قزلباش | بیات | عرب | سایرین |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تعداد کارمندان | 3327 | 5087 | 508 | 348 | 7 | 23 | 171 | 33 | 30 | 21 | 15 | 13 | 5 | 20 |
| مجموع کارمندان = ۹۶۰۸ | فیصدی برحسب کل کارمندان | 34.63 | 52.95 | 5.29 | 3.62 | 0.07 | 0.24 | 1.78 | 0.34 | 0.31 | 0.22 | 0.16 | 0.14 | 0.05 | 0.21 |






(c) ketabton.com: The Digital Library


جدول کل کارمندان وزارت ها و ادارات دولت جمهوری اسلامی افغانستان از بست ۲ الی خارج رتبه برحسب ولایات
جمهوری اسلامی افغانستان
ریاست عمومی اداره امور
و دارالانشای شورای وزیران
0
10
20
30
40
50
60
70
80
90
100
0.55
1.40
3.12
2.20
3.74
7.31
2.67
0.56
2.97
2.07
1.17
0.35
0.27
0.65
1.07
4.15
0.83
1.90
1.19
1.79
28.20
3.64
1.92
2.52
4.08
3.82
3.56
5.45
0.68
0.38
3.25
0.70
0.47
1.38
صفحه 3
اداره نظارت و ارزیابی

(c) ketabton.com: The Digital Library






که قدرمن لوستونکي پورتني جدول ته متوجه شي، نو په اسانۍ سره قضاوت کولای شي چې د کرزي د حکومت اساسي برخې د چا په لاس کې وې، حاکم څوک و، محروم څوک او شکایت چا کاوه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپاړسم څپرکی

# د حامدکرزي د رژیم برياوې

د ولسمشر کرزي حکومت د خپلو نیمګړتیاوو ترڅنګ، چې پر خپل ځای ورته اشاره شوې، یاد وړ برياوې هم لري. که د دې برياوو یادونه ونه شي، نو دا په دې مانا ده چې موږ د واقعیت یو اړخ څېړلی او بل راڅخه پاتې دی. دلته غواړو دې برياوو ته په اجمالي ډول او ډېر لنډیز سره نغوته وکړو:

د ولسمشر کرزي د حکومت بنسټ په بن کنفرانس کې کېښودل شو، که څه هم بن کنفرانس، د سیاسي، ټولنیز او قومي جوړښت له پلوه عادلانه نه و او یوې محدودې قومي او سیاسي ډلې په کې تر خپل حده څو ځله زیات ناقانونه امتیازات واخیستل، خو همدا کنفرانس و چې د حامدکرزي واکمنۍ ته یې لاره اواره کړه. د همدې کنفرانس پر بنسټ موقته اداره جوړه شوه او حامدکرزی یې په راس کې راغی، د دې ادارې د کار په پیل سره افغانستان ته د بهرنیو مرستو بهیر رامات شو. دا مهال طالبانو پوځي ماته خوړلې وه، د افغانستان په اکثرو سیمو کې طبیعي امن ټینګ و، نظامي فعالیتونه ډېر لږ وو، حکومت ورو ورو خپل شکل او محتوا ته پاملرنه کوله، د بیا رغونې کارونه هم پیل شول، خلکو ته د پخوا په انډول د یو څه کار روزګار زمینه برابره شوه، همدا مهال و چې د بن له کنفرانس سره سم باید د منځمهالې یا انتقالي ادارې لپاره بېړنۍ لویه جرګه جوړه شوې وای، د لنډ مهالې ادارې پر مهال زه (یون) په ختیزو ولایتونو کې د بېړنۍ لویې جرګې لپاره د کېدونکو ټاکنو د دارالانشا مسؤل وم، بیا په همدې لویه جرګه کې د لومړي منشي په توګه منتخب شوم، په دې لویه جرګه کې شپاړس سوه شاوخوا مطرحو افرادو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګډون درلود، که څه هم د جرګې ټول غړي له عادلانه لارو چارو څخه نه وو راغلي، خو بیا هم جرګه د ولسواکۍ یو لومړی تمرین او تمثیل و. دې جرګې کې د انتقالي ادارې اډانه وړاندې شوه، که څه هم جرګې پرې پرېکړه ونه کړه، خو د موقتې ادارې په انډول یو څه مثبت پرمختګونه راغلل، خو بیا هم اصلي واک د یوې محدودې سیاسي ډلې په منګولو کې پاتې شو. د انتقالي ادارې پر مهال په هېواد کې رغاونیز کارونه تر یوه حده چټک شول، د هېواد په زیاتو برخو کې طبیعي امن و، که څه هم په ځینو برخو کې د طالبانو، نړیوالو او حکومتي ځواکونو تر منځ حقیقي او تصنعي جګړه روانه وه. په دې او تر دې وړاندې دوره کې په ملیونونو افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شول او د کډوالۍ په انډول د راستنېدونکو شمېر څو برابره زیات شو. انتقالي ادارې اتلس میاشتې دوام وکړ او بیا د اساسي قانون لویه جرګه جوړه شوه، په دې لویه جرګه کې چې اساس یې د بېړنۍ لویې جرګې غړي وو، له ټول افغانستان څخه (۵۵۲) تنو ګډون درلود. زه (یون) د اساسي قانون د لویې جرګې لپاره په ختیزو ولایتونو کې د دارالانشا مسؤل او بیا دلته په لویه جرګه کې د دارلانشا غړی وم، د جرګې ټول جریان راته په زور او زېر سره معلوم و. په جرګه کې که څه هم د حکومتي او ناحکومتي زورواکو زور څرګند و، خو مستقلو او ملي خلکو هم په کې خپل تاثیر درلود. جرګې د افغانستان لپاره د وخت له غوښتنو او د ولسواکۍ له اصولو سره سم نسبتاً یو ښه قانون پاس کړ، که څه هم جرګه د زورواکو د ناقانونه غوښتنو له امله (۲۲) ورځې وځنډېدله، خو بیا یې هم خپل کار د اساسي قانون په تصویب سره پای ته ورساوه.

څرنګه چې د اساسي قانون لویه جرګه د افغان ولس په سیاسي او حقوقي برخلیک کې مهم نقش درلود، نو غواړم د دې جرګې د اوږدېدو د عواملو په باب هم یو څو ټکي له درنو لوستونکو سره شریک کړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اساسي قانون په لویه جرګه کې یو شمېر اشخاصو، په تېره بیا د استاد رباني په مشرۍ اسلامي جمعیت او ځینو نورو قومي لړکیو غوښتل، د نړیوالو له فعلي حضور څخه ناوړه ګټه پورته کړي او په اساسي قانون کې ځان ته تر استحقاقه پورته ناقانونه امتیازات واخلي. ځینو د ښاروالانو، ولسوالانو او والیانو لپاره زیات صلاحیتونه غوښتل، ځینو ویل چې یاده کټه ګورۍ اشخاص باید د همغو سیمو د شوراګانو له خوا معرفي شي، یا انتخابي بڼه پیداکړي، ځینو ویل چې انتخابي شوراګانې به یو څو تنه جمهور رییس ته وروپېژني، هغه به په کې یو تن خوښوي او د عزل په حالت کې به هم همدا بهیر بیا تکرارېږي. استاد رباني او ډلې یې پر پارلماني نظام ډېر ټینګار کاوه، خو چې هغه ونه شو، نو بیا یې ملي شورا ته د زیاتو صلاحیتونو د ورکړې غوښتنه کوله. د احمدشاه مسعود ورور (احمدولي مسعود) د خپل ورور د اتلولۍ د تثبیت په لټه کې و، خو کله چې خلکو ورته وویل، رایې اچونې ته یې وړاندې کړه، نو سرۍ پوه شو چې رایې خو نه شي خپلولای، نو بیا یې وویل: ((نه ما برادر خود را متنازعه نمی سازم، اګر اتفاقی قبول کنید خوب است)). خو چا ورسره ونه منله. لنډه دا چې دوی ډېرې ناقانونه غوښتنې لرلې چې د جرګې اکثریت غړي ورسره مخالف وو. دې ډلې خلکو (۱۳) مادې د تعدیل لپاره وړاندې کړې، خو د یوې لپاره یې هم قانوني پروسیجر نه و پوره کړی. د لویې جرګې د داخلي طرزالعمل له مخې، هر چا چې غوښتل د اساسي قانون د تدقیق کمېسیون له خوا په جوړه شوې مسوده کې تغیر راولي، نو د جرګې د ټولو (۵۵۲) غړو له جملې څخه باید د یوې مادې د تعدیل لپاره (۱۵۳) ملاتړ لاسلیکونه راټول کړي. دوی د (۱۳) مادو لپاره لاسلیکونه راټول کړي وو، ان د هرې مادې لپاره تر (۱۹۰) پورې لاسلیکونه هم وو، خو کله چې د لویې جرګې د دارالانشا له خوا دا لاسلیکونه چک شول، اکثره لاسلیکونه جعلي وو، یانې د یوې مادې لپاره څو څو ځایه تکراري لاسلیکونه راټول شوي وو. کله چې د دوی دا جعل افشا شو، نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی له خوا یوه ماده هم د تعدیل لپاره وړاندې نه شوه یانې دا چې د تعدیل وړ ونه ګڼل شوه او په مقابل کې یې د هېوادپالو وکیلانو له خوا (درې مادې) د تعدیل لپاره وړاندې شوې، نو ځکه خو د (شمالټلوالې) وکیلانو، نه بل څوک رایې اچونې ته پرېښودل او نه خپله حاضرېدل چې رایه اچونه شروع شي. په جرګه کې یې هم د جنګسالارۍ خصلت څرګند کړ. اکثریت تاجکانو د رباني په ګډون په قانون کې د (ازبکي) ژبې د رسمیت سخت مخالفت کاوه، خو په ظاهري ډول یې دا مخالفت نه څرګنداوه، په مقابل کې پښتنو وکیلانو ازبکو ته وویل چې موږ ستاسې له ژبې سره هېڅ مخالفت نه لرو، را شئ، موږ به ستاسې د غوښتنو ملاتړ وکړو او تاسې زموږ. دې حالت په جرګه کې ستمي کړۍ وارخطا کړې وې. تاجکو فکر کاوه، په ازبک ژبو سیمو کې د (ازبکي) ژبې په رسمیت سره به د (دري) ژبې د حاکمیت ساحه وړه شي، نو ځکه یې له ازبکي ژبې سره مخالفت کاوه.

د اساسي قانون د لویې جرګې په کاري بهیر کې د ایران او پاکستان د لاسوهنو اغېزې ښکاره کېدې. د اساسي قانون په لویه جرګه کې د لسو کمېټو په استازۍ د تفاهم یوه کمېټه جوړه شوې وه، چې هغې کې به ستونزې څېړل کېدلې، په دې کمېټه کې د بحث په ترڅ کې بېلابېل مسایل تحلیلېدل او بیا پرې موافقه کېدله، یو تن په کې په قانون کې د افغانستان د جغرافیایي مساحت د تثبیت غوښتنه وکړه، هدف یې دا و چې په دې ډول ډیورنډ کرښه پر افغانانو په رسمیت وپېژني، یو تن د افغانستان له نامه او په پښتو ژبه له ملي سرود سره هم مخالفت وښود، خو د تفاهم کمېټې اکثریت غړو له اصلي مسودې سره توافق وښود. استاد رباني ملي شورا ته د زیات واک پر لېږد ټینګار کاوه، د پیسو د چاپ په ګډون، چې مخکې هم ورته اشاره وشوه، د هرې خبرې لپاره به یې د تائید او تصویب کلمې وړاندیز کولې او دا کلمې یې هم په دقیقه مانا نه کارولې، خو په مسوده کې دا هره کلمه پر خپل ځای راغلې وه؛ د شخص لپاره تائید او د متن لپاره تصویب و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تفاهم کمېټه کې د شهیدانو پر اوونۍ یو څه خبرې وشوې، خو دا چې دا اوونۍ به کله وي او رخصتي به پر کومه ورځ وي، پر دې عمومي توافق نه و شوی.
کله چې اساسي قانون تصویب شو، یو ځل بیا همدې خلکو چیغې پورته کړې چې اساسي قانون کې لاس وهل شوی دی. ماته چې ټول جریان معلوم دی او د دې جرګې په متن کې واقع وم. د اساسي قانون په یوې ماده کې هم لاس نه دی وهل شوی، یوازینۍ نقطه چې د غور وړ ده هغه دا ده چې د شهید اوونۍ ولې د (احمدشاه مسعود) د مرګ له نېټې سره سمون وخوړ او ولې د سنبلې (۱۸)مه رخصتي وګڼل شوه؟ دا مسله څېړنې ته اړتیا لري، ځکه چې اکثریت غړي د احمدشاه مسعود له ((اتلولۍ)) سره موافق نه وو، نو بیا ولې د ده د مرګ ورځ، د شهیدانو د اوونۍ تر چتر لاندې رخصتي وګڼل شي؟
په اساسي قانون کې د جمعیت ګوند او ځینو نورو لړکیو هڅه کوله چې یو زیات شمېر ناقانونه امتیازات واخلي، خو په جرګه کې یو شمېر هېوادپالو وکیلانو د دوی توطیې خنثی کړې، نو ځکه خو یې په اساسي قانون کې د لاسوهنې او جعل چیغې پورته کړې، همغه کسانو دا چیغې پورته کولې، چې په خپله یې د یوې مادې د تعدیل لپاره څو ځله ناقانونه لاسلیکونه کړي وو.
ما د اساسي قانون د لویې جرګې ټول جریان او اسناد په منظم ډول کاپي کړي وو او ټول مې په یوه کڅوړه کې خوندي کړي وو، خو څرنګه چې په جرګه کې مې (۲۲) ورځې شپه او ورځ په متواتر ډول کار کړی و، دومره ستړی شوی وم چې د اسنادو دا کڅوړه رانه چېرته پاتې شوې او یا هم چا راخخه غلا کړې وه او بیا مې چې هر څومره هڅه وکړه، هغه اسناد مې په هغه شکل راټول نه کړای شول، ان تر ننه پورې ورپسې ځوربږم.
د افغانستان نوی اساسي قانون، د کرزي د تېر نږدې دوه کلن حکومت یوه اساسي لاسته راوړنه وه، چې د افغانستان نظام او دولتي چارې یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



متفرقه لایحو، قوانینو او ګډوډېیو څخه یو قانوني چوکاټ ته داخلې کړې. همدا اساسي قانون و چې د (۱۹٦۷م) کال اساسي قانون ځای یې ونیو او د همدې نوي اساسي قانون پر بنسټ د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره شوې او حامدکرزی په کې د څلور پنځوس اعشاریه شپږ (٥٤،٦٪)سلنه رایو په خپلولو سره د لومړني منتخب جمهور رییس په توګه وټاکل شو. دا د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل لپاره په مستقیم ډول د ټاکنو له لارې د ولسمشر انتخابېدل و. که څه هم د ختیزو هېوادونو د نورو ټاکنو په شان دې ټاکنو هم خپل خپل مشکلات درلودل، خو په عام ډول دا ټاکنې د حامدکرزي پر وړاندې د بل هر برابر انډول د نشتوالي او په افغانستان کې د عامه ذهنیت د منبت له کبله نسبتاً معقولې ټاکنې ګڼل کېدی شي.

د جمهوري ریاست تر لومړنیو ټاکنو وروسته په هېواد کې د ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو لپاره ټاکنې تر سره شوې، دا ټاکنې هم تر څو لسیزو تاوتریخوالي وروسته د ولسواکۍ د څرګندولو لپاره لومړنۍ ټاکنې وې، په ټاکنو کې شور، زوږ، درغلي، د زور او زر کارول، د خلکو د حقیقي رایو استعمال ټول جریانونه مطرح وو. که څه هم یو زیات شمېر زورواکي په دې ټاکنو کې بریالي شول، خو د هغوی ترڅنګ ښه خلک هم په کې له ورایه ښکارېدل، زورواکو که څه هم خپل زر او زور استعمال کړل، خو دا کار یې هم خلکو ته د مراجعې له لارې تر سره کړ. په نتیجه کې هېواد د منتخبو ولایتي شوراګانو او منتخبې ملي شورا څښتن شو، چې زور، فشار، اختیار، منطق، پوهه، قانونیت او لا قانونیت ټول په کې څرګندېدل. له نیمګړتیاوو سره سره د قانون د حاکمیت چوکاټونه رامنځته شول او هر چا د قانون د حاکمیت تر سیوري او شعار لاندې خپلې ګټې، هیلې او غوښتنې سره تنظیم کړې.

د ملي شورا تر تکمیل وروسته د افغانستان د اسلامي جمهوریت درې

(c) ketabton.com: The Digital Library



قواوې: (قضائیه، مقننه او اجرائیه) درې واړه له شکلي پلوه بشپړې شوې، خو له کیفي پلوه هرې یوې خپل خپل مشکلات درلودل. حکومت که څه هم په یو شمېر برخو کې بریالی نه و، خو په سیاسي برخه کې یې یو شمېر بریالیتوبونه ترلاسه کړل. افغانستان له سیاسي انزوا څخه وژغورل شو او په نړیواله ټولنه کې یې خپل خاص حیثیت راخپل کړ. تروریزم ضد جگړه چې له نظامي پلوه پر افغانستان راټوله وه، حکومت پر دې بریالی شو چې د سیاسي منطق له پلوه د نړۍ پام د دې جگړې د اصلي لوبغاړي (پاکستان) خواته واړوي، پاکستان په نړۍ کې له سیاسي پلوه تر یوه حده منزوي شو، خو دا چې پاکستان د پوځي ظرفیت له امله په سیمه او نړۍ کې خپل خپل اندېوالان درلودل، یوازې سیاسي منطق هم د دې جوگه نه شو چې نړۍ د پاکستان د لاسوهنو مخه ډب کړي. افغانستان له پاکستان سره د امن گډه جرگه جوړه کړه، د دې جرگې یو منطق دا و چې پاکستان د قضیې یو اړخ دی، بل منطق یې دا و چې تر یوې پېړۍ زیاته موده کېږي چې ښکېلاک یو واحد ملت پر دوو برخو: (لر او بر پښتون یا افغان) باندې وېشلی او اوس د تروریزم په پلمه د دې ملت همدا دواړه څانگې تر سخت گواښ او خطر لاندې دي. ولسمشر کرزي غوښتل په نامستقیم ډول د لر او بر افغان د یووالي مظاهره وکړي او همدارنگه پاکستان او په تېره بیا د هغوی نظامي گروپ د افغان ستونزې د یو اصلي اړخ په توگه نړۍ ته معرفي کړي. سره له دې چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د امن گډې جرگې د افغان غمیزې د اوږده بهیر د بندولو لپاره غوڅه پایله نه درلودله، خو د لر او بر افغان د یووالي پیغام یې درلود. جرگې یو عادلانه پرېکړه لیک، چې پر اوو مادو مشتمل و، صادر کړ او ټاکل شوې وه د بلې ورته جرگې جوړېدل په پاکستان کې تر سره شي او په تعقیب یې نورې جرگه‌گۍ هم جوړې شي، خو پاکستاني چارواکو د بېلابېلو پلمو په جوړولو سره د جرگې له تداوم څخه غاړه وغړوله.

افغانستان د ولسمشر کرزي د واکمنۍ په بهیر کې له نړیوالې ټولنې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرم سیاسي اړیکي درلودل، د نړۍ تر (۵۲) زیاتو هېوادونو کې د افغانستان سیاسي استازولۍ او سفارتونه فعال وو او په افغانستان کې نړیوالې ټولنې دومره فعال حضور درلود چې د نړۍ په هېڅ هېواد کې یې دومره سیاسي، پوځي او اقتصادي حضور نه درلود، د بېلابېلو هېوادونو او نړیوالو سازمانونو نږدې (سل) استازولیو په افغانستان کې فعالیت درلود، د افغانستان په باب د نړیوالې ټولنې په همکارۍ، د توکیو، بن، برلین، لندن، کابل او تر شپږو زیات داسې نړیوال کنفرانسونه جوړ شول چې د نړۍ تر (۵۰) زیاتو هېوادونو او تر (سلو) زیاتو نړیوالو سازمانونو په کې ګډون درلود. دا د نړۍ په کچه هغه لوی او ډېر کنفرانسونه دي چې نړیوالې ټولنې تر دې دمه د یوه هېواد او له هغه سره د مرستو په خاطر جوړ کړي دي. البته د افغانستان دولت ځینې داسې ستونزې لرلې چې پر دې بریالی نه شو، د نړیوالې ټولنې له پراخ ملاتړ څخه موثره ګټه پورته کړي، خو له ګڼو نیمګړتیاوو سره سره افغانستان د نړۍ د پاملرنې په محور کې واقع و.

د سیاسي او قانوني پرمختګونو ترڅنګ په هېواد کې د ولسواکۍ بنسټونه د پوخوالي خواته لاړل، د سیاسي ګوندونو د جوړولو قانون پاس شو، نږدې (۱۱۰) ګوندونو د فعالیت جواز ترلاسه کړ، دا چې د هغوی د څومره والي او څرنګوالي په باب ډېرې پوښتنې شته، دې کې شک نه شته، خو دا په خپله په سیاسي ګوندونو پورې اړه لري، حکومت ټولو ته د فعالیت لاره خلاصه کړې وه. ټولنیز سازمانونه او مدني حرکتونه هم ورځ تر بلې زیات شول، په زرګونو ټولنیزو سازمانونو، قومي شوراګانو او مدني بنسټونو پر فعالیت پیل وکړ. د دې ترڅنګ د رسنیو قانون پاس شو. په دې بهیر کې د رسنیو بېلابېلو ډولونو له شکلي پلوه دومره وده وکړه چې د هېواد په تېر تاریخ کې یې هېڅکله ساری نه دی لیدل شوی. نږدې یو زر (۱۰۰۰) عنوانو چاپي مهالنیو خپرونو د خپراوي مجوز ترلاسه کړ. (۱۷۰) ایف ایم راډیوګانې فعالې شوې او نږدې (۵۰) خصوصي ټلوېزیوني چینلونو پر فعالیت پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوي جوړونه او بیا رغونه کې هم ډېر زیات پرمختګونه شوي، د عامې روغتیا په برخه کې پاموړ بریاوې ترلاسه شوي، د مور او ماشوم مرګ و میر کم شوی، ساري ناروغۍ تر یوه حده کمې شوي، په سلګونو کلینیکونه جوړ شوي، هېڅ داسې ولسوالۍ نه شته چې په هغې کې یو نه یو کلینک جوړ شوی نه وي، د ټولو هغو روغتونونو شمېر چې دولت په تېرو څوارلسو کلونو کې جوړ کړي تر (سوونو) اوړي. پر دولتي روغتونو سربېره خصوصي روغتونونو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي دي، تر اوسه پورې د ټول هېواد په کچه ( سلګونو) شخصي روغتونونه فعالیت لري چې د ځینو خدماتي کچه یې تر دولتي روغتونونو هم لوړه ده.

د پوهنې په برخه کې خورا زیات پرمختګونه رامنځته شوي، د ټول هېواد په کچه (۱۷۰۰۰) ښوونځي فعالیت لري چې نږدې یوولس (۱۱) ملیونه زده کوونکي په کې پر زده کړه بوخت دي او د نږدې (۲۱۷) زرو ښوونکو له خوا ورته تدریس کېږي. د واحد تدریسي نصاب په بشپړونه کې پرمختګ شوی، د هر ولایت او د ځینو مهمو ولسوالیو په کچه دارالمعلمینونه او په ځینو ولایتونو کې دارالعلومونه جوړ شوي. د ښوونې کیفیت د پخوا په انډول ښه شوی، خو لاهم په دې برخه کې ډېرې ستونزې شته، تر (٦١٥) زیات ښوونځي لا هم تړلي پاتې شوي او تر دوه ملیونوپورې هغه ماشومان، چې باید په ښوونځیو کې شامل شوي وای، د جنګونو او نورو بېلابېلو عواملو له امله د دې جوګه نه شول چې په ښوونځیو کې شامل شي. پر دولتي ښوونځیو سربېره شخصي ښوونځیو ته هم د فعالیت اجازه ورکړل شوې ده. تر (۲۰۱۴م) کال پورې د ټول هېواد په کچه د دې ښوونځیو شمېر (۹۰۰) ته رسېده چې نږدې (پنځه سوه زره) زده کوونکو په کې زده کړه کوله، د (۱۷۰۰۰) ښوونکو له خوا ورته تدریس کېده او (۱۷۰۰۰)تنه نور یې خدماتي پرسونل وو.

پر روزنیز او ښوونیز نظام سربېره د لوړو زده کړو په موسساتو کې هم پاموړ مثبت بدلونونه راغلي دي. د ټول هېواد په کچه تر (۳۴) زیات دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې فعالیت لري چې نږدې (سل زره تنه) محصلین په کې پر زده کړه بوخت دي او د زرګونو استادانو له خوا ورته تدریس کېږي. په لسګونو زره افغانان د لوړو زده کړو لپاره بهرنیو هېوادونو ته استول شوي چې یو زیات شمېر یې تر زده کړو وروسته بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

د هېواد د دولتي پوهنتونونو په سلګونو استادان د ماسترۍ او دوکتورا لپاره بهر ته استول شوي، چې ځینې یې د زده کړو تر بشپړاوي وروسته بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي او د ځینو زده کړې لا دوام لري. دلته د هېواد په داخل کې پر کابل پوهنتون سربېره د هېواد په یو شمېر نورو پوهنتونونو کې د ماسترۍ او دوکتورا پروګرام دوام لري. د استادانو معاشونه د ځینو ګاونډیو هېوادونو په پرتله ښه دي، معاشونه د پوهنتوني رتبو پر اساس تنظیم شوي دي. پر دولتي پوهنتونونو سربېره خصوصي پوهنتونونه او د لوړو زده کړو موسسې هم فعالیت لري. د دې ډول موسساتو شمېر نږدې (۹۲) ته رسېږي چې په لسګونو زره محصلین په کې پر زده‌کړه بوخت دي او د زرګونو استادانو له خوا ورته تدریس کېږي. د پوهنتونونو له جملې څخه په ځینو کې یې پر لیسانس دورې سربېره د ماسترۍ دورې پروګرامونه هم تعقیبېږي. دا پوهنتونونه د هېواد په مرکز او ولایتونو کې فعالیت لري. سره له دې چې د لوړو زده کړو په برخه کې هم په دولتي او هم په شخصي پوهنتونونو دواړو کې ستونزې شته او کیفیت لا هم هغې مرحلې ته نه دی رسېدلی چې ټول ترې خوشاله شي، خو بیا هم د هېواد اوسنیو شرایطو ته په کتو سره په دې برخه کې خورا زیات پرمختګ شوی او تر (۱۳۸۱ل) کال وړاندې دوو لسیزو سره هېڅ د پرتلې وړ نه دی. د (۱۳۸۱- ۱۳۹۳) کلونو تر منځ په زرګونو هغه افغانان چې د لوړو زده کړو خاوندان وو او له هېواده بهر اوسېدل د مهاجرو د نړیوال سازمان (IOM) او د افغانستان دولت د بېلابېلو پروګرامونو له لارې بېرته هېواد ته راستانه شول او دلته په حکومت او نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناحکومتي ادارو کې د کار جوگه شول. سربېره پر دې افغاني پوهنتونونو د نړۍ له گڼو پوهنتونو سره نه یوازې پخواني اړیکي لاپسې ورغول او ټینگ یې کړل، بلکې نور یې هم پسې پراخ کړل.

پر تعلیمي او تحصیلي بهیر سربېره کلیوالو سیمو ته هم زیاته پاملرنه وشوه. د دولت له ډېرو بریالیو پروگرامونو څخه یو هم د کلیو او پراختیا وزارت د (ملي پیوستون) پروگرام و. د دې پروگرام له لارې د ټول هېواد په کچه تر (۲۵) زرو زیات کلي تر خدماتي پوښښ لاندې راغلل او د هغوی په خوښه په کې لومړنۍ اړتیا وړ کلیوالي پرمختیایي پروژې پلې شوې، سره له دې چې د دې پروژو د کیفیت او پر وخت تطبیق په باب شکایتونه موجود وو او همدا راز د خلکو تر منځ د ټاکنو په باب هم اعتراضونه وو، خو په مجموعي ډول دا یوه بریالۍ پروژه گڼل کېدی شي. دا پروژه د دې سبب گرځېدله چې د ښار او کلي تر منځ د زمانو واټن راکم شي او خلک په خپل کلي کې لږ تر لږه لومړنیو خدماتو ته لاسرسی پیدا کړي.

پر کلیوالي خدماتو سربېره د لویو لارو جوړولو ته هم زیاته پاملرنه وشوه، د هېواد اکثره لویې لارې یا سړکونه په اساسي ډول جوړ شول او حلقوي سړک هم د بشپړېدو په حال کې دی. ټول سړکونه چې په دې بهیر کې په پاخه ډول جوړ شوي تر اوه زره او پنځه سوه (۷۵۰۰) کیلو مترو اوړي او د هر ولایت د ولسوالیو او کلیو تر منځ سړکونه، چې په دویمه او درېیمه درجه کې راځي او ځینې یې د لومړي ځل لپاره په خامه ډول جوړ شوي، نږدې دېرش زره (۳۰،۰۰۰) کیلو مترو ته رسېږي.

ترانسپورت هم په دې موده کې ښه وده وکړه، پر دولتي هوایي ترانسپورتي شرکتونو سربېره خصوصي هوایي شرکتونه هم جوړ شول. څلورو خصوصي هوایي شرکتونو مجوز ترلاسه او پر فعالیت یې پیل وکړ. په مخابراتي او مواصلاتي برخه کې هم د پاموړ پرمختگ رامنځته شو. پر دولتي مخابراتي شرکت (افغان ټیلیکم) سربېره درېیو نورو نړیوالو مخابراتي شرکتونو؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



(روشن، ام تي ان او اتصالاتو) جوازونه ترلاسه کړل او پر فعالیت یې پیل وکړ. افغان بېسیم لا تر دې وړاندې د فعالیت جواز اخیستی و. اوس لږ تر لږه (۱۷) ملیونه افغانان ګرځنده ټلیفون ته لاسرسی لري. د نوري فایبر پروژه د بشپړېدو په حال کې ده، حکومت هر کال له دې مخابراتي شرکتونو څخه (۱۷۰) ملیونه ډالر عایدات ترلاسه کول او د مخابراتو وزارت یو له ګټندویو وزارتونو څخه ګڼل کېږي.

په هېواد کې د نسبي ثبات او نسبي ښېرازۍ له امله له پاکستان او ایران څخه ګڼ شمېر افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شول، چې د ټولو شمېر نږدې (څلور ملیونه) تنو ته رسېده، کورني کډوال تر یوه حده بېرته خپلو اصلي سیمو ته ستانه شول، خو د بېلابېلو زورواکانو د شتوالي له امله بیا هم په دې برخه کې ډېرې ستونزې پرتې دي.

د ډاکتر نجیب الله د حاکمیت تر ړنګېدو وروسته د افغانستان پوځ وپاشل شو او ځای یې تنظیمي ملېشو ونیو، چې له بېلابېلو کړیو سره مله وو. طالبانو تنظیمي انارشۍ له منځه یوړه، نسبي ثبات یې راوست، خو د ملي پوځ د جوړونې تجربه، فکر او امکانات ورسره نه وو. کوم څه چې له پخوانیو امکاناتو څخه له دوی سره پاتې وو، هغه هم د طالبانو د رژیم په ړنګېدو سره له منځه لاړل. تر (۱۳۸۱ل) کال وروسته یوځل بیا د پوځ پر جوړونې پیل وشو، لومړی د (ډي ډي ار) او (ډایاګ) بهیرونه پیل شول او ترڅنګ یې ملي پولیسو، ملي اردو او ملي امنیت ته د جلب او جذب بهیر هم پیل شو. دا بهیر که څه هم د نړیوالې ټولنې په مالي او فني ملاتړ له یو لړ سمونونو سره ملګری و، خو بیا هم د ((جهاد)) او ((مقاومت)) په نامه تنظیمي، سمتي او قومي افکارو ورته لاره وکړه او ملي پوځ یې په اساسي مانا (ملي کېدو) ته پرېنښود. له ګڼو سیاسي او تنظیمي ستونزو سره سره ملي پوځ څوارلس کلن مزل وواهه او په دې ترڅ کې یې خپل شمېر (۳۵۰) زرو تنو ته پورته کړ، ملي پوځ له شکلي او کمي پلوه وده وکړه، خو لا هم کیفي اصلاح ته پوره پوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړتیا لري.

ولسمشر کرزي د دې ټولو چارو د سمون او اوډون په خاطر ډېر زیات کورني او بهرني سفرونه وکړل چې ځینو یې پوره بریاوې درلودلې. د سفرونو او ملاقاتونو له پلوه کېدی شي ولسمشر کرزی په نړۍ کې یو بې ساری ولسمشر وګڼل شي. په زرګونو وړو غونډو او جرګو کې یې ګډون وکړ او د خپل حاکمیت په بهیر کې یې لږ تر لږه شپږ لویې جرګې او یا هغو ته ورته مهمې جرګې جوړې کړې. که څه هم د دې لویو جرګو د کیفیت او ماهیت په باب له خلکو سره پوښتنې مطرح وې، خو بیا هم د شکل او کمیت له مخې دا جرګې د خپل ډول ښې جرګې بلل کېدی شي.

لکه څنګه چې دمخه مو یادونه وکړه لومړنۍ جرګه هماغه بېړنۍ لویه جرګه وه چې پر (۱۳۸۱ل) کال د غبرګولي په میاشت کې جوړه شوه، نږدې (۱٦۰۰) تنه مطرح افغانانو په کې ګډون کړی و، دې جرګې د انتقالي ادارې مشرتابه وټاکه، یانې حامدکرزی یې د رایو په اکثریت سره د انتقالي ادارې د مشر په توګه منتخب کړ.

ورپسې پر (۱۳۸۲ل) کال د اساسي قانون لویه جرګه جوړه شوه چې (۵۵۲) تنو په کې ګډون کړی و او د اساسي قانون مسوده یې تر (۲۲) ورځني بحث او خبرو اترو وروسته تصویب کړه.

پر (۱۳۸٦ل) کال د پاکستان او افغانستان تر منځ د امن ګډه جرګه جوړه شوه چې له دواړو خواوو څخه (٦۱۰) تنو په کې ګډون درلود او د محتویاتو په باب مو ورته دمخه څه ناڅه یادونه وکړه.

پر (۱۳۸۹ل) کال د سولې مشورتي جرګه جوړه شوه، چې نږدې (۱٦۰۰) تنو په کې ګډون درلود، د دې جرګې د سپارښتنو پر اساس د سولې عالي شورا جوړه شوه، دا چې د دې شورا په راس کې استاد برهان الدین رباني ولې منتصب شو، په دې باب مو په نورو برخو کې بحث کړی دی.

پر (۱۳۹۰ل) کال دودیزه لویه جرګه جوړه شوه نږدې (۲۰۳۰) تنو مطرحو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**افغانانو په کې ګډون کړی و. دې جرګې له امریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو د تړون په باب حکومت ته خپلې مشورې او سپارښتنې وړاندې کړې.**

**پر (۱۳۹۲ل) کال د تېرې دودیزې لویې جرګې د پرېکړو او سپارښتنو په تعقیب له امریکا سره د امنیتي تړون د جزئیاتو د څېړنې او د دې تړون په باب حکومت ته د سلامشورې ورکولو په نیت بله لویه جرګه جوړه شوه. په دې جرګه کې نږدې (۲٦۰۰) تنو ګډون کړی و. د جرګې د اکثریت غړو مشوره دا وه چې له امریکا سره امنیتي تړون په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان لپاره ګټور دی، حکومت ته یې سپارښتنه وکړه چې له امریکا سره دې امنیتي تړون لاسلیک شي، خو کرزي ترپایه د دې تړون له لاسلیک څخه ډډه وکړه.**

**د ولسمشر کرزي د حاکمیت په بهیر کې چې د اقتصادي ښېرازۍ په برخه کې بل کوم مهم ګام پورته شو، هغه د نویو پیسو چاپ او د انفلاسیون کنټرول و. افغانۍ چې د استاد برهان الدین رباني په نیم واکه واکمنۍ کې خپل ارزښت په بېساري توګه بایلولای و، یانې په دې دوره کې د انفلاسیون کچه (۱۵۰۰) ځله لوړه شوې وه او طالبانو ته هم همدا انفلاسیون په میراث پاتې و. د کرزي په مشرۍ په انتقالي اداره کې ورته د پای ټکی کېښودل شو. نوې پیسې چاپ او درې صفره ترې لرې شول، یانې (یوې) اوسنۍ افغانۍ د (زرو) پخوانیو افغانیو ځای ونیو. که څه هم پر نویو افغانیو د زړو افغانیو د بدلون پر وخت بېشانه درغلي وشوه او پخوانیو زورواکو تنظیم سالارانو ته، چې په ناقانونه توګه یې پیسې چاپ کړې او له ځان سره زېرمه کړې وې، هغوی ته له کوم قید و شرط پرته پخوانۍ پیسې پر نویو پیسو بدلې شوې، خو بیا هم ورو ورو د هغوی لاس د افغاني بانکنوټونو له ناکنټروله چاپه لنډ شو. د (۱۴) کلونو په ترڅ کې نږدې (دوه نیم سوه ملیارده) نوي افغاني بانکنوټونه چاپ شول او همدا پیسې په چلند کې شوې، افغانۍ په دې بهیر کې د یوه امریکایي ډالر په مقابل کې له (۴۷-۵۷) افغانیو پورې تبادله کېدې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کرزي حکومت د پیسو په ثبات ساتلو کې تر ټولو ګاونډیو هېوادونو زیات بریالی و، حکومت د دې توان پیدا کړ چې تر یوه بریده د ډالرو په مقابل کې د خپلې ملي کرنسۍ ثبات وساتلای شي.

په دې بهیر کې په هېواد کې د ژوندانه په هر ډګر کې دولتي پانګونه وشوه او خصوصي سکتور ته هم زیاته پاملرنه وشوه. د خصوصي سکتور د پانګونې د جذب لپاره د (ایسا) یانې د پانګونې د ملاتړ ادارې په نامه ځانګړې اداره جوړه شوه. دا اداره په دې بریالۍ شوه چې تر یوې لسیزې زیاته موده کې نږدې دري څلوېښت زره او څلور پنځوس (۴۳۰۵۴) افغاني او دوه زره څلور سوه او څلور نوي (۲۴۹۴) بهرنیو شرکتونو ته د کار جواز صادر کړي. په دې بهیر کې د ټول هېواد په کچه د خصوصي سکتور له خوا تر (شپږنیم ملیارده ډالرو) زیاته پانګونه شوې ده. د یو بل رقم له مخې تر (۲۰۱۴م) کال پورې ټوله (۴۳۵۳۱۱۲۲۱۴۹۵) افغانۍ یانې نږدې څلور ټریلیونه افغانۍ پانګونه شوې ده.

د دې پانګونې له امله (۱۳۰۷۲۴٦) افغانانو او (۵۵۷۴۸) تنو بهرنیانو ته د کار موندنې زمینه برابره شوې ده. په لویو ولایتونو، لکه (کابل، ننګرهار، هرات، هلمند، پروان، خوست، کندوز، غزني، جوزجان، فاریاب، لغمان، لوګر، میدان وردګ، نیمروز، بلخ) او نورو کې د صنعت د جذب لپاره صنعتي پارکونه جوړ شوي دي.

یو زیات شمېر افغان پانګوال له قانوني او ناقانوني لارې د دې جوګه شول چې په هېواد کې لوی او واړه ښارګوټي جوړ کړي، چې له دې درکه په لکونو افغانانو ته کار او روزګار پیدا شو او په زرګونو نور د کور او سرپناه څښتنان شول. که څه هم په دې برخه کې عدالت تامین شوی نه دی، خو بیا هم د سرپناه په برخه کې د خلکو ستونزو ته څه ناڅه ځواب ویلای شي.

د اوبو، انرژۍ، کرنې او مالدارۍ په برخه کې هم پرمختګونه شوي دي. په سلګونو سربندونه جوړ شوي، د اوبه خور سیستمونه بیا رغول شوي او په زرګونو هکتاره شاړه ځمکه نوې اباده شوې، په زرګونو جریبه باغونه نوي جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي، په لسګونو واړه برېښنابندونه جوړ شوي، کورني حاصلات د پخوا په انډول زيات شوي، کرنيز او حيواني فارمونه جوړ شوي، يوازې په ننګرهار کې د چرګوړو د روزنې او پالنې (۲۰۰۰) فارمونه جوړ شوي دي. له نورو هېوادونو څخه برېښنا وارده شوې او د چاپېريال ساتنې په برخه کې هم يوڅه پرمختګ شوی دی. خو په دې ټولو برخو کې د پرمختګونو ترڅنګ ستونزې او مشکلات هم وو چې لا هم پر خپل ځای پاتې دي.

د کانونو او طبيعي زېرمو د استخراج په برخه کې هم پرمختياوې رامنځته شوي دي. د امريکايي څېړونکو د پلټنې له مخې په افغانستان کې تر ځمکې لاندې زېرمو مجموعي ارزښت تر (درې ټريليونو ډالرو) اوړي. د کانونو په برخه کې د عينکو مسو کان او د باميانو د حاجيګک د اوسپنې کان د استخراج په برخه کې چينايي او هندي کمپنيو سره تړونونه شوي او د امو حوزې د تېلو د استخراج په برخه کې له چينايي کمپنۍ سره، خو لا هم ډېر بهرني شرکتونه زړه نه ښه کوي چې په دې برخه کې اساسي پانګونه وکړي. د هېواد خصوصي شرکتونو ته هم د دې زمينه نه ده برابره شوې چې د کانونو په استخراج کې اساسي ونډه ولري.

په کلتوري برخه کې هم پرمختګونه شوي، د افغانستان يو زيات شمېر تاريخي اثار بېرته خوندي شوي، د هېواد ملي موزيم او شپږ ولايتي موزيمونه بېرته رغول شوي دي، ملي ارشيف او ملي ګالرۍ ته هم پام شوی، په سوونو فرهنګي ټولنې جوړې شوي، د چاپ صنعت وده کړې، په نړيوال ډګر کې د افغانستان کلتور ځلول شوی دی.

په مجموعي ډول په تېرو (۱۴) کلونو کې په صادراتو او وارداتو دواړو کې زياتوالی راغلی دی. خو د وارداتو کچه د صادراتو په انډول څو ځله زياته ده. که دا ټول پرمختګونه او له هغو سره مل ستونزې په پام کې ونيول شي، نو د ټوليزې نتيجې په توګه ويلای شو، چې په تېرو (۱۴) کلونو کې دومره پرمختيايي کارونه شوي چې د پېړيو په بهير کې نه وو شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اولسم څپرکی

# ولې استعفی؟

په تېرو څپرکو کې چې ما کومو ناخوالو ته اشاره وکړه د همغو ناخوالو له امله ما څو ځله پرېکړه وکړه چې له خپلې دندې استعفی ورکړم، خو بېلابېلو اندېوالانو راته وویل چې استعفی د حل لاره نه ده. (د ښاغلي زرین انځور، ډاکتر خوشال روهي، ضیاءالرحمن ضیاء، وفاالرحمن وفا، سرمحقق زلمي هېوادمل، جیلاني پوپل، عاشق الله غریب) او نورو دوستانو مشورو او ټینګار زما د استعفی مخه ونیوله، که نه ما خو درې ځله خپله استعفی لیکلې وه، خو ولسمشر ته تر وړاندې کولو دمخه دوستانو د هغې مخه ونیوله. په وروستي ځل هم ډېرو دوستانو له ما وغوښتل چې استعفی مه ورکوه. ان زما د فکر یو شمېر مخالفان هم زما له استعفی سره مخالف وو. ښاغلي (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا) چې زموږ د دفتر مشر و، هم زما د استعفی مخالفت وکړ. په خپله ولسمشر هم زما له استعفی سره مخالفت وښود.

خو ما خپله وروستۍ پرېکړه کړې وه او غوڅ هوډ مې کړی و. علتونه یې دومره زیات وو چې نور نو هلته (ارګ کې) زما پاتې کېدل زما په نظر ماته سم نه ښکاره کېدل. دلته یې څو مهمو علتونو ته اشاره کوم:

۱- حکومتي اپوزېشن ته تر حده د زیاتو امتیازاتو ورکړه.

۲- د فساد او جنګسالارۍ پر وړاندې د غوڅ اقدام نه تر سره کول.

۳- د ولسواکو، روښنفکرو او ملتپالو اشخاصو په اندېول زورواکو او تنظیم سالارانو ته ترجیح ورکول.

۴- د ایران او پاکستان د څرګندو فرهنګي، سیاسي او نورو لاسوهنو مخه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیول.

۵- محدودو ولسوالیو او د ځینو لړکیو د حقوقو مدعیانو ته تر قانون پورته امتیازاتو ورکول.

٦- له خپلو اکثرو اساسي حقوقو څخه د اکثریت پښتنو محرومول او په حکومت کې له هغو سره تبعیضي چلند.

۷- د حکومت له اساسي رګونو او دفترونو څخه د پښتو ژبې له منځه وړل او د اساسي قانون د (١٦) مادې نه تطبیقول.

۸- د ایرانپالو او نورو پردیپالو رسنیو پر وړاندې د قانوني اقدام نه تر سره کول.

۹- په حکومت کې حکومت پلویانو او طبیعي متحدینو ته نه پاملرنه او بالمقابل په حکومت کې د حکومت د مخالفینو او موقتي موئتلفینو د واک زیات غځول.

۱۰- څو محدودو ډلو، لړکیو او سیاسي تنظیمونو ته د افغانستان د پوځ د اساسي چارو سپارل او دېته ورته نور ګڼ علتونه.

همدا لاملونه وو چې ما د خپل دفتر مشر: ډاکتر سپنتا، مرستیال: انجنیر ابراهیم سپین زاده، د ولسمشر دفتر مشر: کریم خرم او په خپله ولسمشر ته لیکلې استعفی ورولېږله. انجنیر صیب ابراهیم سپین زاده راته وویل چې ما رییس صاحب (ولسمشر) ته ستاسو استعفی لیک پر مېز کېښود او په خولې مې هم ورته وویل، خو هغه ونه منله، نور دې خپله خوښه چې څه کوې؟ ما وغوښتل هسې نه چې ولسمشر اخلاقي فشار راوړي، نو ځکه مې ژر له ټلوېزیون څخه خپله استعفی اعلان کړه. د دې استعفی لیکلی متن کټ مټ دلته راوړم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د افغانستان د اسلامي جمهوریت قدرمن ولسمشر (حامدکرزي) ته!**

# افغانستان زما ایډیال دی

- **په افغانستان کې د طالبانو د نظام تر ړنګېدو وروسته، زه د هغو افغانانو له جملې څخه وم، چې په دې تېره (۱۲) کلنه دوره کې مې ښه د زړه له اخلاصه د خپل ولس د ښېرازۍ لپاره هلې ځلې کړي، د ولسواکۍ په پراختیا، په دیموکراتیکو بهیرونو، د خلکو په همغږۍ، د علمي بنسټونو په رغونه او نوې جوړونه، په رسنیز ډګر، د خلکو او حکومت په پیوستون او نورو ټولو هغو هلو ځلو کې چې ماته د دې غمځپلي ولس په ګټه برېښېدل، په هغو کې مې د یوه مدني انسان او افغان په توګه برخه اخیستې. په ټاکنیزو بهیرونو کې مې بې دریغه ستاسو ملاتړ کړی او ستاسو د حکومتي مخالفو او په اصطلاح اپوزېشني اشخاصو پر وړاندې مې په رسنیزه جبهه کې تر ټولو زیاته ونډه اخیستې ده. د پورتنیو هلو ځلو ترڅنګ مې په حکومت کې د فساد، د ټوپکوالو د ناقانونه، مستقیم او نامستقیم واک، د شر و فساد د جرړو، حکومتي او ناحکومتي اپوزېشن، ناقانونه اشخاصو پر ضد هم د زړه له کومي مبارزه کړې، که څه هم دا مبارزه ماته په ډېر لوړ قیمت تمامه شوې او هر وخت په حکومت کې د حکومت او افغان ضد اشخاصو له خوا په مرګ ګواښل شوی یم، خو ما د خپل ژوند د خطر په بیه تر اوسه**



(محمد اسمعیل یون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې دې مبارزې ته دوام ورکړی دی.

- زما او زما په شان د نورو ګڼو هېوادپالو او ملتپالو افغانانو بې درېغه هلو ځلو هېڅکله د هغو ډلو، تنظیمونو، هېواد پلورو او پردیپالو اشخاصو مخه ډب نه کړای شوه، چې هم په حکومت کې دي، هم له زیاتو دولتي امتیازاتو برخمن دي او هم د همدې څوکیو، مقامونو او امتیازاتو په زور د حکومت بنسټونه نړوي، هم زموږ ملي هویت ګواښي او هم مو هېواد ته ستر خطرونه پېښوي.
- ما څو ځله په ګړني او لیکني ډول د ولس فریاد او په حکومت کې د فسادګرو او افغان ضد اشخاصو په باب تاسو سره خپل نظرونه شریک کړي، خو د دې پرځای چې د هېواد د ژغورنې او د سرزورو ټوپکوالو او تنظیم سالارانو د ناقانونه واک د پایته رسونې په باب زما نظرونه مثبته پایله ورکړي، ستاسو او ستاسو پر شاوخوا د ځینو نورو راټولو شویو اشخاصو له خوا دې نظرونو ته کوم پام ونه شو، بلکې افغان ضد او افغانستان ضد اشخاصو نوره هم وده وکړه او لاپسې وپړسېدل.
- په تېرو دولسو کلونو کې پښتانه د دې هېواد د اکثریت په توګه د ایران، پاکستان، طالبانو، نړیوالې ټولنې، په حکومت کې د پښتنو ضد چارواکو او نورو کړیو له خوا په دومره بې رحمانه ډول وځپل شول چې له چنګېزه رانیولې تر انګرېزه او له انګرېزه بیا تر دې دمه یې په ټول تاریخ کې ساری نه دی لیدل شوی، خو هر کله چې ما د دې ناورین او غمېزې پر وړاندې د مظلوم اکثریت غږ پورته کړی، په حکومت کې د پښتنو ضد چارواکو له خوا ګواښل شوی یم، ان تر دې چې تاسو هم د هغو ملاتړ کړی، یا مو د هغوی خبره تائید کړې او یا هم کله د دې ظلم په باب چوپ پاتې شوي یاست.
- افغان ضد، پښتون ضد او هېواد ضد اشخاص دومره سپین سترګي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې ان دوی ته ستاسو له خوا د دومره امتیازاتو له ورکړې او له دوی سره ستاسو له دومره احسانونو سره سره پر تا هم د فاشیست، نشنلیست، قبیله گر او طالب تور پورې کوي او داسې انگېري چې گنې زه (یون) چې کومې خبرې کوم هغه ستاسو نظریات دي؛ زما له خولې راوځي او یا له تاسو څخه الهام اخلي. په داسې حال کې چې زما نظریات ستاسو له نظریاتو سره هېڅ تړاو نه لري او ان تر ډېره حده په ټکر کې دي.

- زه د یوه افغان او یوه مسلمان په توگه نور په حکومت کې شر و فساد، درغلي، د اپوزېشن حاکمیت، د هېواد د اکثریت محکومیت، پر ملي یووالي او ملي هویت بلوسېدل، په حکومت کې د ایرانپالو او پاکستانپالو اشخاصو ځرگند حاکمیت، له پښتو ژبې سره د مور او میرې سلوک، د جنایتکارو تنظیم سالارانو نامحدوده واک، قومپالنه، سمتپالنه او نور په سلگونو ډوله نامشروع او ناقانونه فعالیتونه نه شم زغملای. په تېرو دولسو کلونو کې مې د دې ډول پدیدو پر وړاندې د حکومت په داخل کې مبارزه وکړه، خو ډېره ښه پایله یې نه درلوده، خو اوس غواړم له حکومته بهر خپلې مبارزې ته دوام ورکړم.
- که څه هم زه په حکومت کې کوم داسې لوړ پوړی چارواکی نه یم، چې زما شتون او یا نه شتون دې پر حکومت څه خاص اغېز وکړي، خو غواړم چې زما د ذهن شاهین په بشپړ ډول د هر ډول اسارت او نامعقولو احساناتو له منگولو څخه ازاد او ضمیر مې ارام شي. دا په دې مانا نه ده چې زه په حکومت کې د افغانستان ضد اشخاصو پر وړاندې د مبارزې تاب نه لرم، هدف مې دا دی چې کله کله جنگسالارانو پر تاسو فشار راوړ چې ما له دندې لرې کړئ، دا کار به د هغوی د خوشالۍ، تاسو ته د پلمې نه برابرولو، له دې لارې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ناروا امتیازاتو د نه اخیستلو او زما د روحي راحت سبب شي.
زه چې په حکومت کې نه یم، نو د جنګسالارانو پر وړاندې زما د
ملي هلو ځلو مسیر به د هېچا د اغېز تر سیوري لاندې نه راځي.

زما کار به هغه وخت ډېر موثر شي، چې د افغانستان د پېژندل شویو دښمنانو پر ضد په ازادانه توګه او په ډېر ښه ډول رسنیزه او قلمي مبارزه وکړم.

- تاسو سره یوه ژمنه کوم، چې زه هېڅکله ستاسو د هغو مخالفینو په شان نه یم، چې ستاسو له خوا په ګڼو نعمتونو نازول شوي وو او کله چې له حکومته ووتل تر ټولو لومړی یې ستاسو پر شخصي حریم پسې اورلړوني راواخیستل او ستاسو شخصیت ته یې سپکاوی وکړ. زه هېڅوخت نه غواړم، ملي مسایل له شخصي هغو سره ګډوله کړم. البته ستاسو په حکومت کې د جنګسالارانو او افغان ضد اشخاصو خبره او معامله جلا ده، د هغو په باب ما په دې تېرو دولسو کلونو کې تاسو ته مخامخ او په رسنیو کې خپل نظر څرګند کړی، له هغې مبارزې څخه تېرېدونکی نه یم. زه دا ژمنه هم کوم چې زه به هېڅکله د افغانستان د ملي یووالي او ځمکنۍ بشپړتیا پر وړاندې ګام پورته نه کړم، ګام څه چې دا ډول تصور ته به ان په ذهن کې هم ځای ور نه کړم، دا ژمنه هم تاسو او هم خپل ټول ولس سره کوم چې زه به د هر هغه چا پر ضد خپله ملي، ایماني، اسلامي وجیبه او مبارزه تر سره کوم، چې هغه په فکر، عمل، ذهن، خیال او تصور کې د افغانستان د یووالي، پرمختګ او د ملي هویت مخالف وي. که هغه ستاسو ترخڼګ وي که تر تاسو لرې، که ستاسو مخالف وي که موافق، که ستاسو نازولی وي او یا غندلی. افغانستان زما ایډیال دی، تر افغانستان لوړ ایډیال نه لرم، هر څوک چې افغان دی هغه زما د زړه سر او د سترګو تور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ټول افغانان په دې خاوره کې برابر حقوق لري. قانون د افرادو او افراد د قانون پر وړاندې مسؤلیت لري، څوک چې حکومتي څوکۍ د (تساوي) په نامه پر قومونو، په نامساویانه ډول وېشي، له افغان ولس سره خیانت کوي. لکه څنګه چې قومونه د خپل نفوس له مخې سره مساوي نه دي همداسې د ((حقوقو)) له مخې هم مساوي نه ګڼل کېږي. د ډېرو ډېره برخه رسي او د لږو لږه، خو د فرد په توګه ټول مساوي حیثیت لري.
- که ستاسو مرستیالان او نور ښاغلي د قومي مشارکت او تساوي خبره کوي، نو بیا په دې حالت کې ښه خبره دا ده، چې دا مشارکت او تساوي په ګټه او زیان، لږ و ډېر (دواړو) کې یو شان او متناسب محاسبه شي. دا فورمول باید پر مړو او ژوندو، شهیدانو او معلولینو ټولو باندې یو ډول تطبیق شي. په دې توګه به فردي عدالت او تساوۍ ته لاره اواره شي.
- په تېرو دولسو کلونو کې د نړیوالې ټولنې له مرستې ښه او پوره ګټه پورته نه شوه، د هېواد د ملي تاسیساتو ټینګښت او د ملي ارزښتونو احیا او ځلونې ته ډېره توجه ونه شوه، زیات پام مضر مصلحت او د اشخاصو خوشالۍ ته واوښت. همدا ناوړه احتیاط د دې سبب شو، چې نن د حکومت برحاله او زورواکي والیان هم د هېواد ملي هویت نه مني او ان د افغان کلمه نه شي زغملای، دې خطرونو ته مو باید پام وي، چې هېواد د قومي او مذهبي تعصب د ګړنګ پر غاړه ولاړ دی، له یوې خوا طالبان او نور مذهبي افراطیون ولس د مذهبي تعصبونو په اور کې سوځوي او له بلې خوا شمالټلواله، په حکومت کې د بشپړ واک له امله په هېواد کې د قومي تفرقې زړي کري.

دا هغه مرضونه دي چې پخوا یې هم هېواد د اور په لمبو کې سوځولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او اوس هم د ستونزې اصلي خواوې دي. که دا دواړه مرضونه هم مهاله کنټرول شوي او وقایه یې شوي وای، نن به تر دولسو کلونو وروسته هېواد د دې نري رنځ له امله نه کړېده.

- په هېواد کې د سولې عالي شورا تر عنوان لاندې د سولې بهیر هڅې پر سولې ریشخند وهل دي، اصلي سوله هغه وخت رامنځته کېدلای شي، چې د عدالت عنصر په کې تر ټولو زیات مطرح وي. په تنظیم سالارانو، فسادګرو او نورو جنګسالارانو د سولې راوستل اوبو ته د کیسې تېرول دي.
- د افغانستان ملي پوځ اکثره پر تنظیمونو او قومونو وېشل شوی، که غواړې چې سوله راشي، افغان پوځ باید رښتیا هم ملي شي، د هغه پوځ پر موټرو او پوستو چې د مشخصو تنظیم سالارانو عکسونه ټکوهل شوي وي، ایا هغه ملي پوځ دی که تنظیمي؟
- په نورو هېوادونو کې د افغانستان سیاسي نمایندګۍ د افغانستان د استازۍ پر ځای د یوه مشخص قوم او تنظیم ځلونه کوي. اکثره یې د افغانستان د ملي هویت مخالفت کوي، په تېره بیا د هېواد د اکثریت قوم. ستاسو سفیرانو په ځینو سفارتونو کې د افغان کلمه هم حذف کړې او حساسیت ورسره ښیي.
- د ټاکنو خپلواک کمېسیون، د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او نور ګڼ کمېسیونونه د مشخصو کړیو او تنظیمونو په لاس کې دي.
- له راتلونکو ټاکنو څخه د وینو او بې عدالتۍ بوی راځي، د دې حکومت دوام هم د نري رنځ د دوام مانا ورکوي. که غواړې چې عادلانه انتخابات وشي، پوځ باید ناپېیلی او په رښتینې مانا (ملي) شي، د ټاکنو کمېسیون بې طرفه شي، له (واخانه) نیولې تر (سپین بولدک) پورې ټولو افغانانو ته باید په مساویانه ډول په ټاکنو کې د ګډون زمینه برابره شي او تر هغه پورې چې دا شرایط نه وي برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي، د انتخاباتو په نامه پر ولس بل ناورین تپل کېږي. ځینې خلک غواړي د جمهور ریاست ټاکنې د (غزني) ولایت د پارلماني ټاکنو له برخلیک سره مخامخ کړي او د ناامنیو په پلمه د هېواد لوی اکثریت له ټولو مدني، اساسي او سیاسي حقوقو محروم کړي.

- ستاسو د مرستیالانو او نورو ډلو ټپلو په لاسوهنو د افغانستان تعلیمي او تحصیلي نظام ته سیاسي او قومي مکروب داخل شوی، که همدا اوس یې درملنه ونه شي، راتلونکي کې به یې هېڅوک کنټرول او مهار نه کړای شي.
- د قومي مشارکت له ((برکته)) یو شمېر نا اهله پښتانه پر دولتي څوکیو ناست دي، څومره چې ژر کېدی شي دا بې کفایته اشخاص باید له څوکیو لرې شي، دا هغه خلک دي چې هم ځان شرموي هم قام. په سمبولیک ډول پر دولتي څوکیو د څو تش په نامه پښتنو انتصاب، د پښتنو غم او درد نه شي تداوي کولای، ښه به دا وي چې دا ډول کسان هم له څوکیو لرې شي، چې په دې حکومت کې د پښتنو ونډه د ((ملي مشارکت)) په نامه محاسبه نه شي.
- دا حکومت په افغانستان کې د ملي هویت ننگه او ملاتړ نه شي کولای، نو ښه دا ده چې د هویت د تذکرو وېش او د سرشمېرنې موضوع بل ملي او عادلانه حکومت ته وسپارل شي، په دې ملي مسلو کې هر ډول بې عدالتي او ظلم په افغانستان کې د ملي افتراق لپاره زمینه برابروي، امتیازوالو ته نور امتیاز ورکوي او مظلومان لا هم له نور مظلومیت سره مخامخېږي.
- په هېواد کې اکثره رسنیز فعالیتونه د بهرنیو له خوا سمبالېږي، هر څومره ژر چې کېدی شي د ازادو رسنیو په نامه د پردیو رسنیو د فعالیت مخه باید ونیول شي، سرچینې یې وپلټل شي او هغه رسنۍ چې له لهجو نیولې تر پیسو یې ټول هر څه بهرني دي، باید ژر تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژره وتړل شي. رښتينې ازادۍ رسنۍ چې د هېواد د ملي دفاع په سنګر کې ولاړې دي او غواړي په شعوري ډول د پرديو د فرهنګي يرغل مخه ونيسي، که هڅول کېږي او نازول کېږي نه، بايد د حکومت او نورو اشخاصو له خوا خو يې سپکاوی ونه شي او يا لږ تر لږه حکومت د پرديپالو او افغان پالو رسنيو تر منځ په مبارزه کې د ننداږچي حيثيت خپل کړي، که څه هم دا يو ضعيفه ايمان دی، خو تر بې ايمانۍ او د پرديو تر پالنې نسبتاً ښه حالت دی.

- تېرو دولسکلنو امتيازاتو ته په کتو سره هر چاته د هر ډول نورو نامشروع امتيازاتو ورکړه له دې ملت سره د خيانت له پاسه بل ستر خيانت دی، هر جنګسالار او نامعقول شخص چې هر ډول امتياز اخيستی، نه يوازې دا چې دې امتياز د سړيتوب لارې ته نه دی راوستی، بلکې داړه ماران يې لا له نورو ډول ډول نامشروعو امتيازاتو سره روږدي کړي دي.
- له نړيوالې ټولنې او د نړۍ له ستر زبرځواک سره په ځينو مسايلو کې ستا ډغره او لفظي جګړه که څه هم ستاسو له ملي او اسلامي هويت او ولولې سره ښايي، خو کله کله په دې برخه کې ډېر افراط افغانستان له ستونزو سره مخامخولای شي، زموږ دښمن ګاونډيان له يوې خوا او ستاسې په حکومت کې نور پرديپالي په اسانۍ سره، له دې حالته د خپل واک د دوام او د افغان غميزې د امتداد لپاره ګټه پورته کولای شي. ستاسو په حکومت او يا هم په اصطلاح سياسي اپوزيشن کې داسې اشخاص شته چې په ډېر لږ قيمت ځانپلورنې ته تيار دي. د طالبانو په حاکميت کې يوازې طالبان او ملايان په واک کې وو، پښتانه په همغه حاکميت کې هم د پخوا او اوس په شان محروم او محکوم وو، خو اوس د طالبانو د واکمنۍ کفاره پښتانه ورکوي. ستاسو په حاکميت کې هم پښتانه تر هر چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیات محکوم دي، خو وېره دا ده هغه ډلې چې په غلامۍ او پردیپالنه کې پوره تجربه لري، د ځان د حاکمیت په بدل کې به، افغانستان د پخوا په شان په ډېره ارزانه بیه په بهرنیانو وپلوري، یوځل بیا به د پردیو په مټ ځان واکمن، افغان وژنه او په تېره بیا پښتون وژنه به په دې پلمه پیل کړي چې ګنې د نظام په سر کې یو پښتون ټبری ناست و.

- د ښار او کلي تر منځ واټن او تضاد بله مسئله ده چې افغانستان ته په راتلونکي کې ګواښونه پېښولای شي.
- د پارلماني نظام پلویان په څرګند او د فدرالي نظام یو شمېر ډلې په نیمه څرګند ډول فعالیت لري. د دې ټولو هدف په وروستۍ نتیجه کې د افغانستان ټوټې کول دي. په اوسنیو شرایطو کې تر ډېره حده افغان ضد عناصر په حکومت کې واکمن دي، پر داسې مهال په اساسي قانون کې د هر ډول تغیر راوړل افغانستان ته د نورو ستونزو د ټوکولو مانا لري.
- په لسګونو نور ډول ډول مرضونه په حکومت کې شته چې نه غواړم ټولو ته یې نغوته وکړم او نه دا لیک د ټولو د ځایونې او څرګندونې وس لري، تاسو ته هم اکثره معلوم دي. که غواړئ ځینو هغو غټو مرضونو ته چې هېواد ته ډېر زیات خطرناک دي، د درملنې نسخه پیدا کړې، نو ښه لاره دا ده چې څومره ژر ممکنه وي، لومړی دا حکومت تر ټاکنو پورې له تنظیمي مکروبونو او جنګسالارانو پاک کړه، که دا کار ممکن نه وي، له نړیوالو غوښتنه وکړه چې د اوسني حکومت له مهمو غړو پرته یو لنډمهالی، عادلانه او بشپړ ناپېیلی حکومت جوړ کړي، دا حکومت باید په افغانستان کې سوله راولي او د عادلانه ټاکنو لپاره زمینه برابره کړي. که دا کار هم ممکن نه وي. د ولسمشرۍ انتخابات دې ولایت په ولایت شي؛ یوه ورځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ولایت او یا څو ولایتونو کې. د دې ولایتونو امنیت دې په بشپړ ډول ونیول شي. تر هغه پورې چې په یو ولایت کې امنیت نه وي راغلی، ټاکنې دې نه کېږي. ځکه یو شمېر غرضي کړۍ غواړي د نا امنۍ په پلمه ځینې سیمې له خپلو اساسي حقوقو بې برخې کړي. که د ولسمشرۍ د ټاکنو لپاره د خپلې کورنۍ له غړو څخه څوک غوره نه کړې، دا به ستاسو لپاره لوی افتخار وي. که له یو معقول، ملي، مسلکي، تجربه کار او ناپېیلي شخص او له هغه سره له همداسې یو ملګري ټیم څخه ملاتړ وکړې، د افغانستان د ژغورنې لپاره به دې غوره ګام پورته کړی وي.

نور نه غواړم په خپلو ګڼو اندېښنو خپل دا لیک او غوښتنلیک وغځوم. د پورتنیو ګڼو دلایلو، عواملو او مسایلو په پام کې نیولو سره غواړم د حکومت له قید وبنده لرې شم او ازاده مبارزه وکړم، هیله ده زما استعفی ومنئ.

د افغانستان د پرمختګ، د افغان ولس د سوکالۍ

او د افغانستان د دښمنانو د بربادۍ په هیله

په درناوي

پوهنوال محمد اسمعیل یون

د ملي امنیت شورا دفتر

د فرهنګي چارو رییس

۱۳۹۲ل کال د غبرګولي ۲۵مه

ارګ- د ملي امنیت شورا دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتلسم څپرکی

# مظاهرې

کله چې ما له ژوندون ټلوېزیون څخه خپله استعفی اعلان کړه، نو دوه ورځې وروسته ولسمشر حامدکرزي وغوښتلم، ځانګړې ملاقات یې راسره وکړ، هلته یې راته وویل، استعفی مه ورکوه، ځه لاړ شه، خپل دفتر ته دې، که صلاحیتونه غواړې هغه به درزیات کړم، که بل ځای غواړې هغه به درکړم، خو استعفی مه ورکوه. ما ویل رییس صیب مننه، خو اوس مې پرېکړه کړې، غوڅ تصمیم لرم چې لاړ شم او خپله ازاده مبارزه وکړم. ما ورته وویل زه تاسره ژمنه کوم چې ستاسو پرضد به تر دندې وروسته هم، لکه د ځینو نورو په شان هېڅکله خوله خلاصه نه کړم، دا ژمنه هم درسره کوم چې ستا کوم حکومتي او ناحکومتي مخالفین دي، هغو سره به یوځه کار لرم؛ بې ځوابه یې نه پرېږدم، د دولتي دندې پرېښودل به ماته د دې مجال راکړي چې زه د هغوی په باب ازاد نظر ورکړم، اوس خو کله چې زه انتقاد کوم، نو دوی تور پورې کوي چې ګنې تاسو یې ماته وایئ، په داسې حال کې چې تاسو هېڅکله ماته نه دي ویلي؛ ما چې هر څه ویلي له خپل فکره مې ویلي، خو عطامحمد نور او نور بیا وایي چې ولسمشر ورته دا ویلي او هغه لمسولی دی. زما له دلایلو سره سره بیا هم ولسمشر ټینګار کاوه چې خپلې دندې ته دوام ورکړم، خو ما پر خپل دریځ ټینګار کاوه، ما ورته وویل چې ما له هر اړخه سنجولې چې زما استعفی هم ماته په ګټه ده او هم تاته! تاسو به هم د هغوی له توره خلاص شئ، که بیا دې څه ورته ویل هم، نو لاره به درته خلاصه وي. دې وخت کې ولسمشر وویل: ((ګوره اوس دربانديې د حکومت پرده غوړېدلې ده دا مخالفین دربانديې په زغرده نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځي، که له دولته لرې شې، نو دا شمالټلواله دربانديې حمله کوي اول پر تا حمله کوي که پر تا يې ونه کړي، پر ټلوېزيون خو دې ضرور حمله کوي.)) ما ورته وويل: دا احتمال شته خو ما هم ورته لاره سنجولې، هغه وويل کومه لاره؟ ما وويل چې زما ولسي بېز اوس ډېر قوي شوی، که هغوی حمله وکړي، ولس به يې ځواب ورکوي، ما ټلوېزيون د خلکو لپاره جوړ کړی، خلک پوه شه او ټلوېزيون يې، تر څو پورې به موږ پر دولت متکي يو، بل دا حمله اخر وي که اول راباندې راروانه ده، که په حکومت کې يم که تر حکومته بهر، له دې سره مخامخېږم، نو تر هغه خو دا ښه ده چې ژر ورسره مخامخ شم. ولسمشر بيا هم وويل: ((زه خو وايم تېر شه دې استعفی څخه دې لاړ شه، هېوادمل صيب او ابراهيم جان سره مشوره وکړه او خپل کارونه سره منظم کړه...)) تر دې وروسته ما له ولسمشر څخه خدای پاماني واخيسته او بيا دفتر ته لاړ نه شوم، خو ولسمشر ترپايه زما استعفی منظور نه کړه.

تر استعفی نږدې دوه نيمې مياشتې وروسته د (۱۳۹۲ل)کال د سنبلې (۱۸) نېټه راورسېده، د نظار شورا دولتي او نادولتي ټوپکوالو چې هر کال يې د (قومندان احمدشاه مسعود) تلين د وسلې او برچې په زور نمانځه او د خپل واک ننداره يې کابل ښاريانو ته ښودله، يوځل بيا يې د ملېشه يي ځواک په ښه خپل پوځي حضور په کابل کې ننداري ته وړاندې کړ، د (نورين) ټلوېزيون په لمسون د پنجشېر ګڼ شمېر اوسېدونکي وسلې په لاس او په موټرو کې سواره د ژوندون ټلوېزيون مخې ته راغلل، موږ چې لا مخکې تر مخکې پوليس د امنيت لپاره په عمومي دروازه کې ودرولي وو، خو دوی د نظار شورا د وسلوالو له وېرې د هغوی مخه ونه نيوله، وسلوال راساً راغلل د ټلوېزيون پر عمومي دروازه او دېوالونو يې د (احمدشاه مسعود) د عکسونو پر نصبولو پيل وکړ، ځينو يې هڅه کوله چې د ټلوېزيون داخل ته راشي، د ټلوېزيون ساتونکي له دوی سره لاس په لاس شول او دا مهال د (احمدشاه مسعود) نصب شوي عکسونه هم وشلېدل، د نظار شورا ملېشو دا وخت پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېوال باندې د (غازي امان الله خان او خان عبدالغفار خان باچاخان) نصب شوي عکسونه هم وشیرل، خبره فزیکي ټکر او ډزو ته ورسېده، دواړو لوریو ډزې پیل کړې، په ډزو سره د نظار شورا ملېشو د خپلو راغلو موټرو په وسیله، چې دا مهال د ټلوېزیون مخې ته په عمومي سړک ولاړ وو، خپلې پښې له سیمې سپکې کړې. د ټلوېزیون څو ګاډو ته د مرمیو او ډبرو د ګوزارولو له امله زیان واوښت، خو ټلوېزیون ته یې د نور زیان اړولو مجال پیدا نه کړ. دا مهال زه خپله په ټلوېزیون کې وم. د ټلوېزیون په ټیکر کې په سره کرښه اعلان تېر شو چې ژوندون ټلوېزیون تر برید لاندې دی، دې اعلان سره په زرګونو هېوادوال په یوه منډه ژوندون ټلوېزیون ته راورسېدل، چا سره لرګي، چا سره چړې او چا سره قانوني وسله وه، ټول داسې احساساتو نیولي



(د نظار شورا ټوپکوال پر ژوندون ټلوېزیون د برید پر مهال)

وو چې په یوه غږ خبره غټې بحران ته رسېدلی شوه، ځینو په کې د شمالټلوالې او جنګسالارانو پرضد شعارونه ورکول او ځینو دا هم ویل چې ان د عامې روغتیا په څلور لارې کې د (احمدشاه مسعود) په نامه جوړ شوی څلی، چې دوی ورته ((د مقاومت منار) وایي، هم نړوو.

خلک ډېر احساساتي وو، خو ما ټولو ته وویل، دا یوه ډله لنډغر او کوڅه ډب اشخاص دي، د احمد او محمود له نامه څخه ناوړه ګټه پورته کوي، نه د کوم قوم او نه هم د کومې سیمې استازولي کولای شي، موږ نه غواړو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوی له دې ناوړه چلند څخه په هېواد او په تېره بیا کابل کې کوم قومي مشکل پیداشي او یا بل بحران وزېږوي. سملاسي مې خبري کنفرانس ورکړ او په ژوندۍ بڼه له ژوندون ټلوېزیون څخه خپور شو. موږ یو لوی شر په پاخه تدبیر رفع کړ، تر هغه وروسته ګڼ شمېر امنیتي ځواکونه ټلوېزیون ته راغلل، سیاسي مشران او نور اغېزمن اشخاص هم ټلوېزیون ته راورسېدل او ټولو له موږ څخه د زغم هیله وکړه. موږ ټولو، نه په انتقام لاس پورې کړ او نه مو هم په بل المثله عمل. خو د نظار شورا ملېشو ته د کابل د هوټخېلو په سیمه، احمدشاه بابامېنه، د کابل ښار په لویدیځه څنډه او ځینو نورو سیمو کې خلکو خپل خپل سبقونه ورکړي وو. د نظار شورا دا عمل هم د ګڼو رسنیو او هم په مجموعي ډول د اکثریت افغانانو له خوا سخت وغندل شو. سره له دې چې د ګڼو هېوادوالو له خوا موږ ته د خواخوږۍ او ملاتړ پیغامونه راورسېدل، خو ولسمشر پر دې پېښه ځان هېڅ اګاه نه کړ، چې دلته هم کومه پېښه شوې او که نه؟ که دا پېښه پر کومه بله رسنۍ شوې وای، په تېره بیا په**



(د ملي شورا مخې ته د افغانیت او اسلامیت لپاره لاریون)

**اسلامي جمعیت پورې پر کومې تړلې رسنۍ، نو هلته به دې د رسنیو د ازادۍ د تضمین په نامه د ولسمشر غبرګون لیدلای وای، خو څرنګه چې دلته برید د نظار شورا له خوا شوی و، نو ځکه خو ولسمشر خوله کې مشنګ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچول او هېڅ یې هم ونه ویل.

څه موده وروسته په ولسي جرګه کې د نفوسو د احوال ثبت قانون په مبهم ډول پاس شو، مشرانو جرګې هم د (افغان) او (اسلام) کلمو له لیکلو پرته تصویب کړ، دې کار د یو زیات شمېر افغانانو ملي او اسلامي ولولې راوپارولې، د افغانستان ملي تحریک او یو زیات شمېر افغانانو د ملي شورا د دې پرېکړې پر ضد د یادې شورا مخې ته لاریون وکړ، ژوندون ټلوېزیون دې لاریون ته خبري پوښښ ورکړ، په ملي شورا کې ملت ضد وکیلانو له ژوندون ټلوېزیون سره کینه واخیسته، دا مهال نو په ټلوېزیون کې یو ګردی مېز جوړ شو، په ګردي مېز کې ما (یون)، جنرال عبدالواحد طاقت او بسم الله افغانمل برخه لرله او دربواړو د ملي شورا ناقانونه پرېکړه وغندله، جنرال طاقت یوه شخص (لطیف پدرام) ته چې افغان او افغانیت نه مني، افغانستان خپل هېواد نه ګڼي، دا هېواد یو جعلي مملکت بولي او تر دې دمخه یې غازي امان الله خان ته هم کنځلې کړې وې ده او ده ته ورته نورو اشخاصو ته د (حرامي) خطاب وکړ، جنرال طاقت په واضح الفاظو وویل وطن د پلار حیثیت لري، څوک چې له پلار څخه منکر وي یانې پلار نه لري، هغه د څه شي حیثیت لري؟ څوک چې افغانستان کې زېږېدلی وي، افغان او افغانستان نه مني او پر ضد یې کار کوي، هغه حرامي دی. له دې خبرې څخه نو افغان ضد کړیو خورا ناوړه ګټه پورته کړه، ویې ویل چې دلته خو قومونه توهین شوي او هغو ته د (حرامي) لفظ کارول شوی دی، په داسې حال کې چې خبره هېڅ قوم ته راجع نه وه، یوازې یو شخص ته راجع وه. ولسمشر یې هم وپړساوه، لویې څارنوالۍ د جنرال طاقت د توقیف امر وکړ او جمهور رییس د اطلاعاتو او کلتور وزیر (ډاکتر سیدمخدوم رهین) ته د ژوندون ټلوېزیون د تړلو وویل، (رهین) چې هسې هم له ژوندون سره پخوانۍ رخه او کینه لرله، د مشرانو جرګې د ځینو غړو له کینې سره خپله کینه یوځای کړه، له کوم قانوني مسیر پرته یې د پورته مقامونو په فشار له

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ځارنوالۍ څخه د ژوندون ټلوېزیون د تړلو حکم راوړ او ژوندون ادارې ته یې وویل چې ټلوېزیون باید بند شي، د ژوندون ادارې او گڼو افغانانو د ځارنوالۍ او اطلاعاتو کلتور وزارت پرېکړه د قانون خلاف وگڼله او خپلو مبارزو ته یې دوام ورکړ، یوه لویه مظاهره ورځخه جوړه شوه، هېوادوالو دا مظاهره د ملت حماسه وبلله. د مظاهرې هدف دا و چې د هویت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت داعیه تثبیت شي، د ملي شورا پرېکړه وغندل شي او ژوندون ټلوېزیون له ناقانونه تعلیق څخه خلاص شي.**

**د (۱۳۹۲ل) کال، د لیندۍ پر (۲۳) مه نېټه د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه په سلگونو قومي شوراگانو، مدني ټولنو، سیاسي گوندونو، فرهنگي ټولنو**



(د سترې محکمې مخې ته د افغانیت او اسلامیت د ننگې لاریون)

**او هېوادپالو افغانانو، چې شمېر یې زرگونو تنو ته رسېده، د ژوندون ټلوېزیون له مرکزي دفتر څخه تر سترې محکمې پورې یو پراخ لاریون وکړ، لاریونوال د سترې محکمې مخې ته راټول شول، د اسلامیت، افغانیت او ژوندون ټلوېزیون په ملاتړ یې دغه لاندې پرېکړه لیک صادر کړ:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

اسلامیت وژغورئ، افغانیت وژغورئ

# د لاریونوالو پرېکړه لیک

۱۳۹۲ ل کال د لیندۍ (۲۳)مه نېټه

کابل- افغانستان

۱- هېڅوک د دې حق نه لري او نه مور چاته د دې حق ورکوو، چې د اسلام او اسلامیت، افغان او افغانیت په باب رایه اچونه وکړي او یا په دې باب بحث وکړي.

۲- د اساسي قانون له غوځو احکامو سره سم د هویت د تذکرې پر لومړي مخ د (اسلام) او (افغان) د تثبیت او ځلونې په خاطر سل په سلو کې د (دین) او (ملت) د ستون لیکل غواړو، مور بې دینه او بې ملته تذکره نه غواړو.

۳- د هویت په تذکره کې د (اسلام) او (افغان) کلیمو د لیکلو د مخنیوي لپاره د هېڅ دولتي اورګان پرېکړه، که هغه د ولسي جرګې له خوا وي، که د مشرانو جرګې او یا کومې بلې جرګې او ادارې له خوا، نه قانوني ده او نه ملت ته د منلو وړ ده.

۴- له سترې محکمې څخه هیله کوو، هر هغه څوک چې افغان نه وي او په افغانستان کې په ناقانونه توګه اوسېږي، امنیتي اورګانونو ته امر وکړي چې د یوه بل هېواد د وګړي په توګه ورسره چلند وکړي او ژر تر ژره یې د قانون منګولو ته وسپاري.

۵- ژوندون ټلوېزیون د ټولو افغانانو داسې یو ملي ټلوېزیون دی، چې ملي او اسلامي ارزښتونه یې پاللي او پالي یې، لاریونوال په ټینګه د دې ټلوېزیون او استاد پوهنوال محمد اسمعیل یون د ملي او اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريځ ملاتړ کوي.

٦- لاریونوال له سترې محکمې څخه غواړي، د ژوندون ټلوېزیون د تعلیق په باب د اطلاعاتو او کلتور وزیر او لوی څارنوال ناقانونه پرېکړه، چې د سیاسي انګېزو، قومي او ژبنیو تعصبونو او د پردیو فشارونو زېږنده ده، ژر تر ژره لغوه کړي.

٧- لاریونوال ټینګار کوي چې د ژوندون ټلوېزیون د حیثیت د اعادې په خاطر باید لوی څارنوال او د اطلاعاتو او کلتور وزیر ژر تر ژره له ژوندون ټلوېزیون څخه بښنه وغواړي.

٨- لاریونوال له سترې محکمې څخه غواړي د یو واکمن او بې طرفه هئیت له خوا د ټولو رسنیو د تمویل سرچینې وپلټي او هغه رسنۍ چې له ایران، پاکستان او یا نورو نامشروع سرچینو څخه خړوبېږي، باید ژر تر ژره د محاکمې مېز ته راکاږي.

٩- د ملي او قومي رسنیو تر منځ دې سره کرښه راکاږل شي، څوک د افغان، افغانستان، اسلام او د هېواد ملي ګټې غواړي او څوک قومي مسایلو ته لمن وهي؟ هغه رسنۍ چې هم قومي تعصبونه پاروي او هم یې پړه پر بل چا باروي، باید قانوني چلند ورسره وشي.

١٠- څوک چې په خپلو ټلوېزیونونو کې د افغانستان ملي سرود نه خپروي، ملي بیرغ نه رپوي، نور بیرغونه رپوي او نور سرودونه خپروي او د افغانستان د اساسي قانون د (٤، ١٦، ١٩، ٢٠، ٢٢، ٢٤) او نورو مادو د محتویاتو خلاف خپرونې کوي، باید ژر تر ژره د قانون منګولو ته راکاږل شي.

١١- د شیخ محمد اصف محسني مدرسه او تمدن ټلوېزیون چې د ایران

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مالي مرسته جوړ شوي او افغان ضد کلتوري، مذهبي، سیاسي او نور فعالیتونه په کې پرمخ بیول کېږي، باید ژر تر ژره د یوه واکمن ناپېیلي هئیت له خوا وڅېړل شي او د ملي نفاق دا ځاله دې ژر تر ژره وتړل شي.

۱۲- لاریونوال د جنرال طاقت د خوشې کېدو غوښتنه کوي، جنرال طاقت یوازې د افغانستان ضد یوه شخص پر وړاندې یوه کلیمه کارولې، نه یې کوم مشخص قوم او یا قومونو ته سپکاوی کړی او نه یې کومې ژبې ته!

۱۳- لاریونوال له سترې محکمې غواړي هغه اشخاص، چې په تېرو لسو کلونو کې یې د هېواد ملي وحدت پر ضد په ډاګه څرګندونې کړي، ملي شخصیتونه او قومونه یې توهین کړي، لکه انور سادات، لطیف پدرام، عبدالحفیظ منصور، حکیم شجاعي، عطامحمد نور او نور محاکمې ته راکاږي.

۱۴- لاریونوال وایي که چېرې زموږ مشروع او قانوني غوښتنې ونه منل شي، نو موږ به پر نورو لویو مظاهرو لاس پورې کړو، ان تر دې چې لویې لارې به بندې کړو او له دې پلوه چې هر ډول ستونزې رامنځته شوې، د ټولو مسؤلیت به د حکومت په تېره بیا د لوی څارنوال او د اطلاعاتو او کلتور وزیر پر غاړه وي.

ومن الله التوفیق

تل دې وي افغانستان

سرلوړی دې وي افغان ملت

مړه او سپېره دې وي د افغانستان پټ او ښکاره دښمنان

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تر دې وروسته زما (یون) په گډون د لاریونوالو په استازۍ پنځو تنو د سترې محکمې د عالي شورا له ځینو غړو سره وکتل. د سترې محکمې عالي شورا غړو**



(له ژوندون ټلوېزیون څخه د سترې محکمې پر لوري د افغانیت او اسلامیت د ننگې

**پرېکړه وکړه چې ژوندون ټلوېزیون د تعلیق امر به همدا اوس فسخه کړي، د پرېکړه لیک نور مواد وخت ته اړتیا لري، دا به دوی د سترې محکمې د عالي شورا په عمومي غونډه کې تر بحث لاندې ونیسي او بیا به اړوندو مراجعو سره په دې برخه کې خبرې وکړي او لازم تصمیمونه به ونیسي.**

**په دې ډول د لومړي ځل لپاره د افغان ملت مدني حماسه د تاریخ په حافظه کې ثبت شوه، پرته له دې چې چاته زیان واوړي، څوک توهین شي، دولتي او عامه شتمني زیانمنه شي د خلکو لاریون په ارامه فضا کې پای ته ورسېده او زموږ د ولس مدني انځور یې د تاریخ په حافظه کې ثبت کړ.**

**د دې ترځنگ په گڼو ولایتونو، لکه: خوست، پکتیا، ننگرهار، کونړ، فراه، هرات، هلمند، کندوز او ځینو نورو ولایتونو کې د هویت په تذکرو کې د افغان او اسلام کلمو د لیکلو او د ژوندون ټلوېزیون په ملاتړ لاریونونه وشول. ما د ژوندون ټلوېزیون له لارې له خپلو ټولو هېوادوالو په تېره بیا د کابل له لاریونوالو څخه مننه وکړه چې په نره یې د اسلامیت او افغانیت د داعیې د ملاتړ لپاره د مبارزې میدان ته راودانگل، د دې منني لیکنی متن په دې ډول دی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د کایناتو د هغه لوی څښتن تعالی په نامه**

**چې د ذرې ذرې حساب او کتاب ورسره دی**

**خپل ولس ته د مننې پیغام**

# د ملت حماسې ته درناوی

**مرگ زما په پوهه ښه تر دا ژوندون دی**
**له عزت سره چې نه وي زیست روزگار**
**ولسونه چــــې سند یـــو بـــله وکا**
**پادشاهان ورته سجود کاندي اختیار**

**په داسې یو حالت کې چې ملت د ویاړ او پرتم، تورې او قلم، جنگ او فرهنگ یوهستره تاریخي او مدني حماسه وټوکوي، سړی نه پوهېږي چې له کومې جملې یې پیل کړي، له چا څخه لومړی مننه وکړي؟ چاته د ستاینې گلونه او د مننې اوښکې ډالۍ کړي؟ خو ښه به وي چې د مننو او ستاینو د معمول خلاف، زه د ټولو ژوندونوالو، ټولو اسلامپالو او ټولو هېوادپالو افغانانو په استازۍ له هغو میندو د مننې لړۍ پیل کړم چې موږ ته یې په پنځه وخته لمانځه کې د دعا لاسونه لپه کړل، موږ ته یې د دعا لښکرې راولېږلې، له هغو خویندو به یې پیل کړم چې نه یې په دعاگانو کې هېر کړو، نه یې په عملي ملاتړ کې، د همدې اسکېرلو، خو غیرتي خویندو له خوا په سوونو ټلېفونونه راغلل، د مظلومیت د څپو، په ژړغوني، خو له ډېر عزت، عفت او همت نه په ډک اواز یې زموږ ملاتړ وکړ او همدا به یې ویل: که له زلمو نه پوره نه شوه... له هغو سپین ږیرو مشرانو او مخورو به یې پیل کړم چې د عمر اوږده برخه یې د دې وطن په غم او درد کې تېره کړې، خو لا هم په سپېرو او دود وهلو خونو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اوسي او هر یو به همدا ویل:

**پام چې وار دې خطا نه شي**
**مـــا مــنلې غــــرغـرې دي**

له هغو ماشومانو به یې پیل کړم چې له تندي یې سپینې تړوتې تاوې کړې وې او پرې لیکل شوي وو: اسلامیت غواړو، افغانیت غواړو او ژوندون غواړو، ښکلو ماشومانو، لکه د پغمان د سرو مڼو په شان پر خپلو ښکلو اننګیو د افغانستان ښکلی درې رنګه بیرغ رسم کړی و او مخونه یې دومره ښکلي ښکارېدل، لکه د بوډۍ ټال د رنګونو په شان. دې امتزاج او ښکلا ته هېڅ با احساسه افغان د خپلو اوښکو سېلاب نه شي ټینګولای.

له هغو مسافرو افغانانو به یې پیل کړم چې د نړۍ په (پنځوسو) هېوادونو کې مېشت دي او هره ورځ د وطن د لیدو په هیله اوښکې تویوي، د هغو افغانانو د دعاګانو برکت و چې په مکه معظمه، د خدای(ج) په کور کې یې موږ ته د دعا لاسونه لپه کړل.

له هغو ځوانانو به یې پیل کړم چې له سرونو یې سپین کفنونه تړلي وو او د خپلو سترو ایډیالونو اسلامیت او افغانیت د ملاتړ لپاره یې د ظلم او استبداد په مقابل کې سر په لاس کې نیولی و.

له هغو میندو او پلرونو به یې پیل کړم چې د خپل ځیګر ټوټې یې، سره له دې چې د ظلم او استبداد له خوا هر ډول خطرونه ورته متوجه وو، خو بیا یې هم د عدالت د تامین لپاره د مبارزې لومړۍ کربښې ته راولېږلې. په نړۍ کې به د قربانۍ داسې بېلګه څوک پیدا کړي چې خپل منصور اولادونه په داسې حال کې د جګړې ډګر ته ولېږي، چې نه توپ لري او نه ټوپک او په تش لاس د ظلم او استبداد په مقابل کې ودرېږي؟

له خپلو قدرمنو علمای کرامو به یې پیل کړم چې په نره یې د شریعت د منطق په ژبه د اسلامیت او افغانیت ملاتړ ته راودانګل.

د هغو ولایتونو له ځوانانو به یې پیل کړم چې په کابل کې یې تر لویې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مظاهرې ځان د مخه کړ، خپله لاس په کار شول، پرته له دې چې د چا منفي نظر، فرمایش او یا زور ته سر ټیټ کړي، په خپل تفکر یې پر لویو لاریونونو لاس پورې کړ.

له هغو زنداني ورونو به یې پیل کړم چې د زندان د تورو تمبو تر شا یې مورډ ته د ملاتړ پیغامونه راولېږل. زندانیانو خپل ملاتړ د غذایي اعتصاب له ګواښ سره وصل کړ او ویې ویل چې که چېرې د ژوندون د تعلیق پرېکړه بېرته وانخیستل شي، نو دوی به پر لوی غذایي اعتصاب لاس پورې کړي.

له هغو ځوانو خوځښتونو، مدني ټولنو، سیاسي ګوندونو، حرکتونو، صنفي اتحادیو او قومي شوراګانو به یې په پیل کړم چې په پوره یووالي یې په لاریون کې ګډون وکړ.

له هغو ټولو هېواد والو به یې پیل کړم چې په پراخه اوسېله یې په مظاهره کې ګډون وکړ، له سهاره تر مازیګره یې له خوراک او څښاک پرته د خپلې برحقې داعیې لپاره چغه پورته کړه.

له هغو ځوانو څارندویانو او د مظاهرې له منتظمینو به یې پیل کړم چې په ډېره سړه سینه یې د مظاهرې نظم خوندي کړ، ډېر فشارونه پرې راغلل، خو خپله اوسېله یې په هېڅ ډول له لاسه ورنه کړه.

د مظاهرې له ټولو ګډونوالو څخه به یې پیل کړم چې له ډېرو لوړو کلتوري اخلاقو، سړې سینې او پوره زغم څخه یې کار واخیست او یو ځل بیا یې د یوه متمدن، با کلتوره او غیور ملت په توګه نړۍ ته ځان ثابت کړ.

د سترې محکمې له عالي شورا به یې پیل کړم چې د ژوندون ټلوېزیون د تعلیق په اړه یې د لوی څارنوال او اطلاعاتو کلتور وزیر ناقانونه پرېکړه ژر تر ژره ملغی کړه او د لاریونوالو د نورو غوښتنو د څېړنو ژمنه یې وکړه.

له خپلو ملي پولیسو به یې پیل کړم چې په پوره نظم، دقت او عزت یې د امنیت په خوندیتابه کې خپله مرسته او همکاري وکړه.

د هېواد له دریو نسلونو څخه به یې پیل کړم چې هم په کې کشر شامل و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم په کې ځوان او هم په کې د (نوي کلونو) د عمر خاوندان. د هېواد د سپین ږیرو مخورو، ځوانانو او تنکیو ځوانانو د درېواړو نسلونو یووالی زموږ د هېواد والو د اوچت ملي شعور ښکارندوی کوي.

له خپلو ټولو هغو هېوادوالو، خویندو، میندو، پلرونو، ځوانانو، مساپرو او نورو څخه به یې پیل کړم چې د مظاهرې تر بریا او ګټنې وروسته یې له ډېرې خوشالۍ په سترګو کې اوښکې ګرځېدلې او په سلګو سلګو یې د بریا مبارکي وویله.

د ژوندون ټلوېزیون له ټولو کارکوونکو به یې پیل کړم چې دا څو پر له پسې اوونۍ یې شپه ورځ پر ځان یوه کړې او د خپل مظلوم ولس په خدمت کې دي.

له ټولو پورتنیو ښاغلو او اغلو څخه تر مننې او ستاینې وروسته غواړم، له ټول افغان ملت څخه منته وکړم چې په خپله لمن کې یې داسې ګلالي غمي او سرې روزلي چې د غره په شان خویونه لري؛ هر څه یې په لاس کې دي، خو څوک نه ازاروي، هر څوک ویشتلی شي، خو څوک نه ولي:

لمن مې ډکـه ده له کاڼـو خو څوک نه پـرې ولم
پـه عــادتـونـو کـــې دا یو عــادت د غـره لرمــه

زما ملت یو ځل بیا پردیپالو او نورو رقیبانو ته په ډاګه کړه چې د څومره لویې اوسېلې خاوند دی، د تاترې په شان، د سپین غره او شمشاد په شان او د پامیر او هندوکش په شان زغم او اوسېله لري، که خپل ناهله زامن یې پر سپینې لمن داغونه هم ږدي، نو تر یوه وخته ورته اوسېله کوي، خو یو مهال بیا سبق هم ورکوي.

زما قدرمن او غیرتي ملته!

پردیپالو او ځینو تالیځټو غوښتل، یو ځل بیا د دې ولس ټولنیز، ملي، اسلامي او هېوادني شعور امتحان کړي. زموږ ولس چې د سختو ازموینو له ډګره تل بریمن او پتمن وتی، یو ځل بیا له دې ستر ازمېښته پتمن او بریمن راووت. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وطن کې خو ځینې مظاهرې د قدرت پر سر وي، د څوکیو پر سر وي، د غوړو او چربو پر سر وي، خو زموږ د ملت مظاهره، د معنوي ارزښتونو پر سر وه او د دې ارزښتونو د ښکلا او ځلا په خاطر وه، د اسلامیت او افغانیت پر سر وه، د ژوندون پر سر وه. زما ملت شعار ورکړ چې اسلامیت غواړو، افغانیت غواړو، ژوندون غواړو اوقانون غواړو. په مقابل کې یې ایرانپالو شعار ورکړی و، چې نه افغانیت غواړو، نه اسلامیت غواړو نه قانون او نه ژوندون: وګورئ د دې دوو شعارونو د څرنګوالي تر منځ څومره توپیر دی، څوک څه کوي؟

ډېر تفـــــــاوت شته په انسان کې د مانا په لحاظ
واړه مشغول دي ځینې ځان ځینې جهان جوړوي

د دې مظاهرې پیغام دا و چې سیمې او نړۍ ته په ډاګه کړي چې افغان ولس یو متمدن، فرهنګپالی او توریالی ملت دی، هغه ډلې او اشخاص چې د دې هېواد پر مظلوم اکثریت کله کله د بې کلتورۍ تور داغ پورې کوي، اوس دې راشي او ودې ګوري چې څوک د لوړو کلتوري او معنوي ارزښتونو لرونکی دی؟ او څوک د نورو د کلتور دسمالونه پر غاړه ګرځوي؟

دښمنانو غوښتل چې زموږ د ملت چغه خپه کړي، فریاد یې وچ کړي او ژبه یې غوڅه کړي، خو هغوی په دې کار کې لاندې راغلل:

کـه ظالم مـې ژبـه غـوڅـه کـړه تـېره شــوه
تـوره څـــومره چې تېره شوه لا خـــــوږه شوه
اوس کـه نر یې نـــو غوړونه دې خپل پرې کا
چې زمــا نغمه ســـړه نـه شـوله ســـره شـوه

د دې لاریون بل پیغام دا و چې افغان ضد ډلو ته دا وښیي چې دا مظلوم، خو غیرتي ولس له ګڼو ناخوالو او ستونزو سره سره لا هم د خپلو سترو معنویاتو د حفاظت په خاطر په خپل منځ کې وحدت، یووالی او پیوستون لري او که چیرې وغواړي هر پټ او ښکاره پردیپالی د نابودۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیند کې ډوبولای شي.

د مظاهرې بل پیغام دا و چې مخالفین او نور مذبذب اشخاص که غواړي په اینده کې سوله ییز لاریون وکړي او د سړیتوب لاره خپله کړي، نو له دغسې مظاهرې دې عبرت او پند واخلي.

د دې ستر بریمن لاریون بل پیغام دا و چې ځانساتو، ورځچارو، دولتي او نادولتي مامورینو او مامورګیو ته دا په ډاګه کړي چې ستاسو له مرستې، همغږۍ، فکر، نظر او ملګرتیا پرته او ان له مخالفت سره سره بیا هم دا ولس د دې زور او ځواک لري چې خپل برخلیک او د خپل ژوند تګلوری په خپله وټاکي.

د دې مظاهرې بل ستر پیغام دا و چې اسلامیت او افغانیت داسې سره غاړه غړۍ شول او داسې سره واوبدل شول چې د هېواد په تاریخ کې یې ساری نه دی لیدل شوی، همدا دوه ستر مشالونه دي چې موږ له تیارو څخه ژغوري، د لومړي ځل لپاره مسجد او هوجره، ملا او معلم، ښوونځی او مدرسه، کشر او مشر پر یوه لاره روان وو او یو بل ته یې د وروری لاسونه سره ورکړي وو، دا په هېواد کې د ملي یووالي تر ټولو ښه سمبول و.

نو اوس د خپل ولس دغه درایت، کفایت، ایمان، هوډ، تکل، فکر او لرلید ته په کتو او له هغو څخه په الهام اخیستو سره، راتلونکي ته ډېره هیله لرلای شو. د همدغه قوت موثریت ته په پام سره موږ په دې ډاډه یو چې ګام پر ګام به خپلو ملي او اسلامي هدفونو ته رسېږو، د هویت د تذکرې پر لومړي مخ به سل په سلو کې د اسلام او افغان کلیمو د تثبیت په خاطر د (دین) او (ملت) ستون لیکل کېږي، د دې هدف د عملي تطبیق لپاره به لومړی د مشرانو جرګې او ولسي جرګې د ګډ کمیسیون پرېکړې ته انتظار باسو، که بیا هم دا دوه ایډیالونه پکې ونه لیکل شول او یا یې له دې څخه یو ولیکه، یو یې حذف کړ، نو بیا هم ملت ته د منلو وړ نه دي، په دې حالت کې به مظلوم اکثریت، دا ځل د پښتونستان واټ ته راټولېږي او مخکې تر دې چې ولسمشر د ملي شورا دا ناقانونه مصوبه لاسلیک او توشیح کړي. په یاد واټ کې به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوې لویې مظاهرې په ترڅ کې له ولسمشره وغواړي چې هېڅکله باید زموږ پر ملي او اسلامي هویت خاورې وانه ړوي. ولسمشر باید دا قانون رد او د سمون لپاره یې کورنیو چارو وزارت ته ولېږي، هغوی باید د افغان او اسلام د تثبیت په خاطر له سره، نوی کارت ډیزاین او د تصویب لپاره یې قانوني مراجعو ته واستوي.

ولس له ولسمشره غواړي د څو محدودو فسادگرو، غلو، داړه مارو او جنگسالارانو د لوټ او تالان له امله د افغانستان نوم په نړۍ کې د فساد په لومړۍ لیکه کې راځي، حقیقت خو دا دی چې افغانستان یو سپېڅلی نوم دی چې له فساد سره هېڅ اړیکه نه لري، دا خو فسادگر دي چې فساد یې کړی، نه افغانستان، نو په کار خو دا دي، هغه کسان چې د افغانستان سپېڅلی او نېک نوم یې بد کړی، د هغوی نومونه دې د رسنیو له لارې افشا شي چې زموږ د سپېڅلي هېواد نوم له فسادگرو جلا شي.

له ولسمشر څخه غواړو په تېرو (۱۲) کلونو کې ټول دولتي تشکیلات د رسنیو پر مخ خواره کړي، چې ولس ته پته ولگي، څوک په کې څومره دي؟ چا د کوم لیاقت پر اساس کومې څوکۍ اخیستي، چا قومي او سیمه ییزو مسایلو ته لمن وهلې ؟ د ساري په توگه دې ژر تر ژره یوازې د هغې ولسوالۍ لېست خپور کړي چې د (پوزېشن) او (اپوزېشن) دواړه پوستونه یې اشغال کړي، هم ورسره حاکمیت دی او هم تر ټولو زیات د مظلومیت چغې وهي.

له ولسمشر څخه، د ده له دفتره نیولې بیا تر وروستۍ دولتي ادارې پورې، په ټولو کې، د اساسي قانون له محتویاتو سره سم د بشپړ ژبني عدالت تامینول غواړو.

ولسمشر څخه دا هم غواړو چې د یوه ناپېیلي هئیت د توظیف له لارې دې د تمدن ټلوېزیون او شیخ محمداصف محسني مرکز په گډون ټولې هغه رسنۍ چې په تېره یوه لسیزه کې یې رسنیز فعالیت لرلی دی. د دې ټولو رسنیو مالي سرچینې او د پرسونل څرنگوالی باید وڅېړل شي او نتیجه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولس ته اعلان شي.**

**د اساسي قانون د ساتندوی او پالندوی په توگه له ولسمشر څخه دا هم غواړو، هغه ټلوېزیونونه چې د هېواد د ملي بیرغ پرځای، نور بیرغونه رپوي، د ملي سرود پرځای نور سرودونه خپروي او همدارنگه د اساسي قانون د (۳، ۴، ١٦، ١٩، ٢٠، ٢٢، ٣۴) او نورو مادو د محتویاتو خلاف نشرات کوي، له قانون سره سم سزا ورته ورکړي.**

**موږ ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوو چې زموږ مبارزه د افغان او افغانیت اسلام او اسلامیت او په هېواد کې د ټولو افغانانو د ملي وحدت او برابرۍ لپاره ده، موږ د قومونو د تساوي شعار نه ورکوو، ځکه چې دلته د تساوي د کلیمې په عملي تطبیق کې اصلاً تساوي نه ښکاري، موږ د ټولو افغانانو تر منځ تساوي غواړو او دې رښتیني بشري اصل ته د زړه له کومې کار کوو.**

**موږ په افغانستان کې هر ټبر، هر قوم او هر ټولنیز ټولي ته ډاډ ورکوو چې د قومي او جنگي ټوپکوالو له اسارت څخه د دوی د خلاصون لپاره هم په ټینگه مبارزه کوو. موږ خپلو هزاره افغان ورونو ته ډاډ ورکوو چې د څو جنگسالارانو له اسارته مو ژغورو، موږ تاجک افغان ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د یوې محدودې درې د جنگسالارانو له منگولو څخه د دې قوم د ژغورنې لپاره هلې ځلې کوو.**

**موږ ازبکو ورونو ته هم ډاډ ورکوو چې د یو یا څو محدودو جنگسالارانو له ظلمه مو ژغورو.**

**موږ د هېواد د هر ټبر هر قوم، هر خېل او هرې ژبې افغان وگړي ته وایو چې له مظلومیت څخه د خلاصون لپاره مو هلې ځلې کوو.**

**موږ د هغې ورځې په ارمان یو، هغه زورواکي چې د قوم، ژبې، سمت، مذهب او نورو شعارونو تر چتر لاندې یې ناکنټروله او بې شمېره نامشروع پانگه پیدا کړې، داسې ورځ به راشي چې له مشروع او قانوني لارې به د دې پانگې رڼاوی کېږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ له ولسمشر څخه هیله کوو چې په تېرو لسو کلونو کې د هغو لسو ملیاردرانو پانگه ملي اعلان کړي او د بیت المال برخه یې وگرځوي، چې له نامشروع لارې یې پیدا کړې ده.

موږ له خپل مومن، مسلمان او مجاهد ملت څخه هیله کوو، لکه څنگه چې د جهاد پر مهال، په ملیونونو افغانانو له اسلامیت او افغانیت څخه خپل سرونه قربان کړل، اوس دې یو ځل بیا د خپل ملي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره په ټینگه راودانگي.

درنو او قدرمنو هېوادوالو!

په تېرو څو اوونیو کې په زرگونو، په لکونو او ملیونونو هېوادوالو د افغان او افغانیت، اسلام او اسلامیت او ژوندون ټلوېزیون پراخ ملاتړ وکړ، په دې کې په لسگونو مدني ټولنو، ځوانو خوځښتونو، قومي شوراگانو، سیاسي گوندونو، د علماوو شوراگانو، فرهنگي ټولنو او زرگونو مخورو شخصیتونو ډېر مخکښ رول درلود، داسې شخصیتونه هم وو چې د نوم له یادونې پرته یې په نومورکي ډول په دې ملي مبارزه کې ډېره فعاله ونډه واخیسته، موږ کوښښ کاوه چې په ترتیب سره د دې ټولو بنسټونو او ښاغلو نومونه واخلو، مننه ورڅخه وکړو، خو څرنگه چې له ټولو نومونو او بنسټونو څخه داسې اوږد لېست جوړېده چې بیان یې پوره ورځ غوښته او د دې خطر احتمال هم و چې بیا به هم د ځینو مستحقو قدرمنو نومونه له یادونې پاتې شي، نو ځکه مو له ټولو څخه په یوځایي ډول مننه غوره وبلله.

گران او قدرمن ولسه! په تېرو څو اوونیو کې په ملیونونو افغانانو که هغو د بهرنیو مساپرو افغانانو په بڼه وو، یا په ولایتونو کې د بېلابېلو لاریونونو په بڼه، یا هم په ژوندون کې د لسگونو غونډو په شکل، یا هم د لوی لاریون په ترڅ کې او یا هم د بېلابېلو لویو شخصیتونو له خوا، ماته بېلابېل القاب، لکه: (خالد بن ولید، سلطان محمود غزنوي، میرویس نیکه، لوی احمد شاه بابا، خوشال بابا، افغان بابا، اسلامیون، افغان یون) او نور راکړل شول، زه د دې تر څنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځان د خپل ولس د احسان پوروړی ګڼم، د خپل ولس د دې پراخه او بې کچې مینې، لورېنې، پېرزوینې او ستاینې مننه کوم، خو د دې خبرې یادول هم ضروري ګڼم چې زه په هېڅ ډول د دې ډول القابو او ستاینو مستحق نه یم . زه د دې ټولنې داسې یو وروستی فرد یم چې تر هغه زیات پر کوچني واحد نه تجزیه کېږي، زه د هېواد د یادو سترو او نورو اتلانو د پښو ګرد ته هم نه شم رسېدلای.

زه درې کاله مخکې د هندوستان (پاني پت) ته په دې خاطر لاړم چې د لوی احمد شاه بابا د مېړانې، تورې او سرېتوب ځلی وګورم او تر هغې ونې لاندې ودرېدم چې (۲۴۷) کاله وړاندې ترې احمد شاه بابا لاندې ولاړ و او تر همدې ونې لاندې یې د جنګ قومنده ورکړې وه. هلته ماته داسې یو ارمان راغی چې کاشکې زه هم د هغه وخت افغان او د احمد شاه بابا د لښکرو یو قلموال وای، چې ما د بابا د تورې، مېړانې او سرېتوب کیسې ټکي په ټکي لیکلې وای او د تاریخ حافظې ته مې سپارلې وای.

زموږ د اتلانو کیسې نورو موږ ته لیکلي او هغه یې اکثره تر یوه مضر فلتر وروسته موږ ته رارسولي دي. احمد شاه بابا د نړۍ په (۷) امپراتورانو کې هغه شخصیت دی چې هم یې توره وهلې، هم یې قلم چلولی او هم یې په مفتوحو سیمو کې د خپل رعیت عزت ساتلی دی، دا خصلتونه بیا په دې نورو اوو امپراتورانو کې نه وو.

زه نه غواړم چې د شهرت په داسې ځپو کې ډوب شم چې وړ یې نه یم، کارونه رانه پاتې شي او دا کار په ما کې د ځانپالنې، ځان غوښتنې غریزه وټوکوي او نورو ته د تنګنظرۍ پلمه په لاس ورکړم، له خپل ولس څخه مې هیله ده چې زما او د خپلو ارمانونو ملاتړ وکړي، زه که د پورته یاد شویو او نورو اتلانو د لارې په لارویانو کې حساب شم، نو دا به زما لپاره د لوی ویاړ ځای وي، زه ځان د هېڅ ډول القابو او ویاړنو مستحق نه ګڼم.

خو د خپل ولس د یوه خدمتګار په توګه د ټل لپاره د خپل مظلوم ملت

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدمت ته چمتو یم، د خپلو مشرانو له خوا به امر وي او زموږ له خوا به چټک گامونه.

درنو هېوادوالو او د رسنیو د بیان پلویانو!

زموږ په اوسنۍ مبارزه کې دا په ډاگه شوه چې کومې رسنۍ هېوادپالې دي، کومې پردیپالې او کومې تنظیم پالې؟ پردیپالو رسنیو د ملت د دې سترې حماسې پر وړاندې تبلیغات وکړل، خو له شرمه یې تصویرونه نشر نه کړای شول. ان ملي ټلوېزیون چې په کار وه د ټول ملت ټلوېزیون وای، خو دلته یې خپل مسولیت ترسره نه شو کړای. د ژوندون ټلوېزیون پر ضد یې ډېرې وړې مظاهرې هم نشر کړې، خو د ژوندون، اسلامیت او افغانیت په ملاتړ یې د ډېرو لویو مظاهرو خبر هم خپور نه کړ. د خپل مظلوم ولس په استازۍ له ملتپالو رسنیو مننه کوم او د تنظیمپالو او پردیپالو رسنیو غندنه کوم، د هغو پر وړاندې به زموږ مبارزه دوام لري.

درنو هېوادوالو!

یو ځل بیا له خپل ټول مظلوم، غیرتي، بااحساسه، بادرکه، بادرده، بانظمه، مفکر، مدبر، اوسېله ناک، صابر، باکلتوره، باشهامته ملت څخه د زړه له کومې مننه کوم، مننه مننه مننه او بیا هم مننه، د خپلو میندو، خویندو، علمای کرامو، مساپرو، کورمېشتو او بهرمېشتو افغانانو د دعاگانو او ملاتړ په هیله.

ژوندی دې وي افغانستان

سر لوړی دې وي افغان ملت

رپانده دې وي د افغانستان درې رنگه ملي بیرغ

تل دې وي اسلامیت او افغانیت

مړه او سپېره دې وي د افغان او افغانیت

اسلام او اسلامیت پټ او ښکاره دښمنان

مړه دې وي پردیپال

ژوندي دې وي هېوادپال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملي هويت او ولسمشر

(له ولسمشر حامد کرزي سره د اسلاميت او افغانيت په باب د ځانګړې کتنې جزئيات)

مخکې تر دې چې ولسمشر حامد کرزي سره د افغانيت او اسلاميت په باب د ځانګړې کتنې جزئياتو ته راشم، مجبور يم، لږ لنډې تېرې ماضي ته ورستون شم.

له تېرو څو مياشتو راهيسې د ملي هويت يا د تابعيت د تذکرو پر سر جنجال روان دی. خبره ان تر مظاهرو، خوابديو او ډېرو زړه بداويو پورې هم ورسېده. په دې بهير کې رښتيني، اسلامپال، هېوادپال او ملتپال افغانان هم معلوم شول. ورځچاري، ځانساتي، ځانګټي او افغان ضد اشخاص او ډلګۍ هم ټول په ډاګه شول. خبره له شف شف څخه شفتالو ته راووته!

د افغانستان ملي تحريک په ګډون ګڼ شمېر مدني ټولنو، ځوانو خوځښتونو او مدني حرکتونو يوځل د ملي شورا او بيا د سترې محکمې مخې ته لويې مظاهرې وکړې. دا مظاهرې که څه هم پر ځينو پرديپالو او ځانساتو بڼې ونه لګېدې، خو د ولس روحيه يې تر دې حده پياوړې کړه چې سړی ورته يو نسبي، فرهنګي، مدني او حقوقي وړوکی اوښتون ويلای شي. دې مظاهرو د ټولو هېوادوالو په تېره بيا د مظلوم اکثريت ولوله راوپاروله او روحيه يې ورته دومره قوي کړه چې هېوادوال يې د لا لويو مظاهرو لپاره جوګه کړل.

د لاريونوالو غټ هدفونه همدا وو چې د هويت په تذکره کې د (دين) او (ملت) ستون وليکل شي او په دې ډول دې د اسلام او افغان د تثبيت لپاره له اساسي قانون او ټولو بشري او مدني قوانينو سره سم اقدام وشي. د دې دوو ارزښتونو پټو او ځينو ښکارندو مخالفينو هڅه وکړه پر (ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټلوېزیون) او شخصاً پر ما (محمداسمعیل یون) فشار راوړي چې له دې سترو ارزښتونو او ایډیالونو څخه لاس په سر شم، چې د ملي داعیې دا خبره همداسې گونگه پاتې شي. پر ژوندون ټلوېزیون له فشار راوړلو څخه هدف همدا و چې د دې رسنۍ له لارې د خلکو پیغام رسول کمزوري او د ولس غږ پورته کېږي، که دا رسنۍ ټکنی او یا وتړل شي، نو پر اوسني وخت دا کار د افغانیت او اسلامیت د داعیې د غلي کولو او یا هم د دې ایډیالونو د ټکني کولو په مانا گڼل کېږي. د دوی بل هدف دا و چې د خلکو ذهنیت له اصلي موضوع (اسلامیت او افغانیت) څخه څنگزنې موضوع (ژوندون ټلوېزیون) او د هغه تعلیق ته راواړوي. خو زموږ باغیرته ملت د شعوري هڅو او لاریونونو په ترڅ کې هم د ژوندون ټلوېزیون د تعلیق او تړلو خطر ډېر ژر دفع کړ او هم د خپلو ایډیالونو د بریا په لټه کې شو. د ولس رښتینو بچیانو د مشرانو او ولسي جرگې له مشرانو او بېلابېلو غړو سره د خپلو کتنو په ترڅ کې هغو ته په ډاگه کړې او دا خبره یې تعقیب کړې وه چې دوی له دې دوو ارزښتونو څخه تېرېدونکي نه دي. سترې محکمې ته یې د خپل (۱۳) ماده یې پرېکړه لیک په ترڅ کې هم دا په ډاگه کړې وه چې د اساسي قانون د درېیمې او څلورمې او نورو مادو له محتویاتو سره سم دوی سل په سلو کې د هویت په تذکره کې د (اسلام) او (افغان) د کلیمو لیکل غواړي. د گرانو هېوادوالو د گڼو فشارونو له امله د مشرانو او ولسي جرگې گډ کمېسیون پرېکړه وکړه چې د هویت په تذکرو کې دې د نوم ترڅنگ (تخلص) او د (دین) ستون زیات شي، خو د ملت په نامه راغلو په اصطلاح استازو یوځل بیا د (ملت) ستون ته شا واړوله، خو زموږ گرانو هېوادوالو، تحریکوالو، ژوندونوالو، لیکوالو او نورو مخورو پر دې فشاري پرمختگ بسنه ونه کړه، دوی وویل که څه هم دا یو پرمختگ دی، خو لا هم په سلو کې پنځوس برخې مزل پاتې دی، موږ نه غواړو د یوه ارزښت په لیکلو سره بل له منځه یوسو؛ اسلام ولیکو، ملت هېر او نفې کړو او یا ملت ولیکو اسلام له سره تېر کړو، موږ دا دواړه ایډیالونه غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دواړه د تذکرې پر لومړي مخ غواړو.

تحریکوالو، ژوندونوالو، مدني او فرهنګي ټولنو او ځوانو خوځښتونو یو ځل بیا د بېلابېلو غونډو او متواترو اعلامیو له لارې له ولسمشر، سترې محکمې او د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون څخه وغوښتل چې د ملي شورا د ګډ کمېسیون دا نیمګړې او ناقانونه پرېکړه رد او د تعدیل لپاره یې پرېکړه وکړي.



(پوهاند عبدالسلام عظیمي)

زه (یون) په خپله د افغانستان ملي تحریک او ګڼو فرهنګي ټولنو په استازې سترې محکمې ته عارض شوم او د بېلابېلو ټولنو ګډه اعلامیه او غوښتنه مې د سترې محکمې سرپرست (قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي) ته ورسوله، له هغه سره مې په دې اړه رسمي ملاقات وکړ او د ټولو هېوادوالو غوښتنه او اندېښنه مې ورسره شریکه کړه. ما له قاضي القضات صیب څخه وغوښتل؛ څرنګه چې د ملي شورا وروستۍ پرېکړه د اساسي قانون د څلورمې مادې له پنځمې فقرې سره په تضاد کې ده، ستره محکمه باید د نفوسو د احوالو د ثبت دا مصوبه د اساسي قانون له محتویاتو سره سمه وڅېړي چې سمون ورسره لري که په ټکر کې ده؟ او په دې باب خپله پرېکړه ولسمشر ته صادره کړي، قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي ماته وویل: ((ستاسو خبره سمه ده د ملي شورا پرېکړه د اساسي قانون د محتویاتو او په تېره بیا له څلورمې مادې سره سمون نه لري، موږ له اساسي قانون سره د نورو قوانینو مطابقت څېړو، په دې شرط چې حکومت یې له موږ څخه وغواړي، نه په خپل سر د قوانینو مطابقت څېړو او نه هم له دولت یا حکومت پرته د نورو نادولتي، سیاسي، ټولنیزو او نورو ټولنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په غوښتنه د قوانینو مطابقت مطالعه کوو)). پوهاند عظیمي چې د اساسي قانون د تدقیق د کمېسیون غړی هم و، دا هم وویل: ((کله چې اساسي قانون جوړېده، نو فکر وشو چې که د هر چا په غوښتنه له نورو قوانینو سره د اساسي قانون د تطابق څېړنه مطرح شي، نو له سترې محکمې څخه به خپل ټول اساسي کارونه پاتې وي، همدا قوانین به څېړي، نو ځکه د دې غوښتنې اعمال حکومت ته محول شو.)) پوهاند عظیمي بیا قانون ته لاس کړ په دې باب یې یوه ماده ولوستله چې ستره محکمه د حکومت په غوښتنه له اساسي قانون سره د نورو قوانینو مطابقت څېړي. پوهاند عظیمي وویل: ((که تاسې غواړئ چې د ملي شورا دا پرېکړه له اساسي قانون سره په مطابقت کې وڅېړل شي، باید حکومت ته خپل عرایض وړاندې کړئ چې هغه یې موږ ته راولېږي او موږ به بیا دا موضوع د سترې محکمې د عالي شورا په غونډه کې مطرح کړو.)) کله چې زه د قاضي القضات له دفتره راوتلم، نو پر همغه ورځ مې جمهوري ریاست ته د همغې اعلامیې د متن یوه کاپي ورولېږله: یوه کاپي مې د ولسمشر د فرهنګي چارو مشاور ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل) او بله مې هم د ولسمشر د دفتر رییس ښاغلي (کریم خرم) ته، چې دوی یې ولسمشر ته ورسوي د دې اعلامیې په متن کې راغلي وو: ((تر هغه پورې چې جمهور رییس له سترې محکمې، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون او نور حقوقپوهانو سره سلا مشوره نه وي کړې، باید د ملي شورا ناقانونه مصوبه توشیح نه کړي)) له نېکه مرغه چې اعلامیه ولسمشر ته رسېدلې وه، یوه ورځ وروسته ورته د توشیح لپاره د ملي شورا مصوبه هم راغله، ولسمشر د اعلامیې د متن منطق ته په کتو سره د ملي شورا مصوبه معطل او له توشیح څخه یې ډډه وکړه. خو د هېوادپالو، ملتپالو، اسلامپالو بنسټونو اعلامیه ساعت په ساعت د (ژوندون ټلوېزیون) پر څپو خپرېدله او هېڅ وقفه په کې نه راتلله. دې سره موږ جوخت له بېلابېلو لارو او اشخاصو، لکه ښاغلي (سرمحقق زلمي هېوادمل)، (کریم خرم)، (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا)، (ډاکتر صادق

(c) ketabton.com: The Digital Library




مدبر) او نورو اشخاصو له لارې هره شېبه او پرله پسې ډول هڅه کوله چې له ولسمشر سره لیدنه وکړو او د بې هویتۍ د دې سترې غمیزې په باب ورته خپل دلایل ووایو، خو په خواشینۍ سره چې بریالي نه شو، یوه اوونۍ وروسته ولسمشر د عدلي او قضایي چارو کمېسیون په غونډه کې دا موضوع مطرح کړه. په دې غونډه کې قاضي القضات (عبدالسلام عظیمي)، د عدلي او قضایي چارو د کمېسیون غړی (نصرالله ستانېکزی)، د عدلیې وزیر (حبیب الله غالب)، د ملي امنیت شورا سلاکار (ډاکتر رنګین دادفر سپنتا)، د جمهور رییس دفتر رییس (کریم خرم)، د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رییس (ګل رحمن قاضي) او ځینې نور اشخاص شامل وو. په دې غونډه کې هم د هویت پر تذکرو بحث وشو، داکتر سپنتا او نصرالله ستانیکزي د هویت په تذکرو کې د (افغان) کلیمې پر لیکلو ټینګار کړی و او په دې برخه کې یې ګڼ شمېر دلایل راوړي وو، خو غونډې کومه پایله نه لرله، یوه خبره په کې دا شوې وه چې د (سردار محمد داودخان) د وخت تذکره دې په پام کې ونیول شي، همغه تذکره یې غونډې ته راوړې وه. څرنګه چې هغه وخت (ملت) نه و لیکل شوی، نو د (ملت) د کلمې مخالفینو ته دا یو غټه پلمه په لاس ورغله، د غونډې عمومي په تېره بیا د ولسمشر روحیه دا وه چې همدا تذکره بنه ده. کله چې موږ خبر شو، نو بیا له کریم خرم، ډاکتر سپنتا او هېوادمل صیب سره په تماس کې شو او ورته ومو ویل چې په هېڅ وجه دا خبره د منلو وړ نه ده، تاسې د داودخان د وخت په تذکره کې یوازې همدا د (ملت) د یوې کلیمې نه لیکل معیار نیسئ او که ټوله تذکره؟ ما له ښاغلي کریم خرم او هېوادمل صیب سره ډېر تېزې خو له ډاکتر سپنتا سره په تول تللې خبرې وکړې:

کریم خرم راته وویل: ((د داودخان د وخت تذکره څنګه ده؟ هلته خو ملت نه شته؟)) ما ورته وویل: ((د داودخان د وخت په تذکره کې خو نورې ژبې هم نه شته، هغه کاغذي وه، دا الکترونیکي، هغه ټوله پښتو وه، دا په څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبو ده؟ ایا دا حکومت هم د داودخان د حکومت په معیارونو برابر دی؟ د



(کریم خرم)

داودخان په وخت کې کوم والي له افغانیته انکار کولای شو؟ شورا د دې جرئت درلود چې افغان ضد او اسلام ضد حرکت وکړي، داودخان خو قومي او سیمه ییز تخلصونه هم په همدې خاطر لغوه کړي وو چې واحد ملت جوړ او قوي شي، اوس خو ټول حکومت پر سیمو او قومي ډلو وېشل شوی، کوم کار مو د داودخان د حکومت پر معیار برابر دی، چې یوازې هلته د (ملت) کلمې له نشتوالي څخه ناوړه ګټه اخیستل کېږي، که د داودخان تذکره معیار وي، نو بیا ټوله تذکره معیار کړئ، نه یوازې یوه کلمه. په هغه تذکره کې خو (دین) هم ذکر و، خو د اوسني حکومت په طرحه کې خو نه (دین) و او نه (ملت).

له ښاغلي هېوادمل سره مې هم همدا خبرې وکړې، ډاکتر سپنتا راته په ټلېفون کې د قضایي کمېسیون د غونډې په باب وویل چې زما نظر له پخوا څخه په دې باب معلوم دی، زه د افغان د کلیمې پلوی یم (افغان) زموږ ملي او سیاسي هویت دی، تاسې کولای شئ له ښاغلي کریم خرم څخه چې په هغه جلسه کې ناست و، خو په جلسه کې یې هېڅ خبرې ونه کړې، زما د نظر په باب وپوښتئ. سپنتا وویل: ((باوجودیکه ما یک فارسی زبان هستم، مسئله قوم برایم مطرح نیست اما باید یک هویت داشته باشیم ان هویت ملي افغان است، صرف نظر از اینکه بعضی ها از کلمه افغان تعبیر دوگانه دارد، بعضی ها افغان به معنی پشتون تلقی میکند، اما ما افغان نه به معنای پشتون، بلکه به معنای هویت ملی و سیاسی و مدرن ان تلقی مینمایم. ما در جلسه قضایی به رییس جمهور گفتم که در فرانسه (۳۵) در صد (فرانس) زندگی میکند اما همه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**باشنده‌ګان فرانسه (فرانس) را به حیث هویت ملی خویش قبول کردند، در افغانستان هم کدام مشکلی وجود ندارد که افغان را به حیث هویت ملی خود قبول نمایم.)) سپنتا زیاته کړه: ((په دې مسئله کې زه تاسره هم نظره یم، سره له دې چې په ډېرو برخو کې زما او ستا د نظرونو تر منځ اختلاف و او شته. خو په دې مسئله کې زه ستا د نظر پلوی یم)) البته ډاکتر سپنتا د (دین) په اړوند د (ملت) پر عنصر زیاته تبصره وکړه او پر همدې توکي یې ټینګار کاوه، ځکه بحث هم د (ملت) پر کلیمې و.**

**له ډاکتر سپنتا، سرمحقق زلمي هېوادمل او کریم خرم سره زما ټلېفوني ارتباطات له دې امله وو چې همدا کسان جمهور رییس ته لاسرسی لري.**

**د دې خبرې یادول هم ضروري دي چې نصرالله ستانکزي هم ډېر زیات معقول حقوقي دلایل وړاندې کړي وو، خو چا ورته څه خاص ارزښت نه و ورکړی. موږ چې د جمهوري ریاست دې حالت ته پام وکړ؛ نو خواشیني شو، د ملي تحریک په ګډون مو د بېلابېلو مدني ټولنو، قومي شوراګانو، ځوانو خوځښتونو او فرهنګي ټولنو مطرحو اشخاصو ته بلنه ورکړه، له هغوی سره مو مشوره وکړه او د یوې بلې لویې مظاهرې په لټه کې شو، یو شمېر ولایتونو کې هم له مطرحو شخصیتونو سره په تماس کې شو او پر یوه وخت مو په ګڼو ولایتونو کې د لویو مظاهرو د جوړولو تکل وکړ. د مظاهرې لپاره مو د تدارک کمېسیون هم په پام کې ونیو، خو یو شمېر ملګرو وویل: ((یوځل بیا به له ولسمشر سره تماس ونیسو، که نتیجه یې ور نه کړه، نو بیا به خپل وروستی زور په مظاهرو کې راټولوو او څرګندوو)) بیا بیا مو کوښښ وکړ، خو زموږ د څو ځلي او پرله پسې هڅو سره سره له ولسمشر سره پر ملاقات بریالي نه شو. یوه اوونۍ وړاندې راته هېوادمل صیب زنګ وواهه چې رییس صیب وایي تاسې د ملاقات لپاره خپل لېست راولېږئ، رییس صیب ماته ویلي چې ملاقات برابر کړه. ما ویل څومره کسان؟ هغه وویل، لس پنځلس متخصص او پوه کسان چې له هر قومه وي، ما د (۲۲) کسانو لېست وربرابر کړ، چې د**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېلابېلو سیمو او بېلابېلو قومونو مخور شخصیتونه پکې وو، لېست مې ورولېږه، دوه ورځې وروسته له جمهوري ریاسته زنګ راغی، ستاسو لېست ډېر اوږد دی، رییس صیب وايي، د (یون) په شمول یوازې پنځه تنه. بیا مې په لېست کې کمښت راوړ: یو (شېرعلم امله وال) چې په قوم پشه یي او ښه لیکوال دی، بل (جنرال غلام حسین هزاره)، د سیاسي چارو کارپوه، بل (عبدالحکیم تورسن)، په قوم تاجک او د سیاسي چارو کارپوه دی، څلورم شخص (چرند سنګ) د خوست د افغان سکانو له جملې څخه دی، او پنځم زه خپله وم، دا لېست مې ورکړ، د (۱۳۹۲ل)کال د دلوې پر (شپږمه) د یکشنبې پر ورځ مازیګر څلورنیمې بجې ملاقات برابر شو. کله چې په


(ولسمشر حامد کرزی)

ګلخانې ماڼۍ کې د ملاقات ځای ته ورسېدو، نو لوی څارنوال (اسحاق الکو)، قاضي القضات (پوهاند عظیمي)، ډاکتر مدبر، ډاکتر سپنتا، کریم خرم، او نور هم راغلي وو، پوه شو چې دوی هم دې غونډې ته راغلي دي، ولسمشر هم تشریف راوړ، تر ستړي مشي وروسته یې ټول د کابینې د غونډو خونې ته دعوت کړو.

ولسمشر پر خپله څوکۍ او نورو په مشترک ډول دواړو خواوو ته کېناستو، د غونډې ټول ترکیب په دې ډول و:

۱- ولسمشر حامدکرزی

۲- قاضي القضات پوهاند عبدالسلام عظیمي

۳- لوی څارنوال محمداسحق الکو

۴- عدلیې وزیر حبیب الله غالب

۵- د علماوو شورا رییس مولانا قیام الدین کشاف

(c) ketabton.com: The Digital Library



**٦- د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر رنگین دادفر سپنتا**
**٧- د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمېسیون رییس گل رحمن قاضي**
**٨- د چارو د ادارې لوی رییس ډاکتر صادق مدبر**
**٩- د ولسمشر د دفتر رییس کریم خرم**
**١٠- پوهنوال محمد اسمعیل یون**
**١١- جنرال غلام حسین هزاره**
**١٢- شېرعلم امله وال**
**١٣- عبدالحکیم تورسن**
**١۴- چرند سېنگ**

**غونډه ولسمشر په دې ډول پیل کړه: ((بسم الله الرحمن الرحیم. ورونو! دا غونډه یوه غیر رسمي مشورتي غونډه ده، چې د یوې خاصې موضوع یانې د تذکرو په باب جوړه شوې ده.**

**یو شمېر ورونه چې د بېلابېلو فرهنگي، مدني ټولنو نمایندگي کوي (همداسې ده که نه؟ (ماته یې وویل، ما وویل هو) ماته عارض شوي وو او خپلې پانې یې رالېږلې وې، په هغو کې یې له ما غوښتي وو چې په تذکره کې دې د (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) کلمې ولیکل شي، دا ورونه اوس راغلي د دوی دلایل به واورو چې دوی څه وایي، بیا به په دې موضوع غور وکړو)).**



(محمد اسمعیل یون)

**ماته یې وویل: ((شروع یې کړه،!)) ما وویل: ((زه یې پیل کړم؟ ده وویل: ((هو!)) ما خپلې خبرې په دې ډول پیل کړې:**

**((بسم الله الرحمن الرحیم. د قدرمن ولسمشر، قاضي القضات صیب او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ټولو قدرمنو مشرانو او د غونډې د برخوالو په اجازه! ماسره د هویت په تذکره کې د (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) کلیمو د لیکلو لپاره ډېر زیات دلایل شته، خو نه غواړم دلته ټول بیان کړم، نه وخت د دې ایجاب کوي او نه دلته داسې خلک ناست دي چې هغوی پر دې موضوع او یا د دې موضوع پر باریکۍ نه پوهېږي، بلکې دلته ټول داسې خلک ناست دي چې پر دې موضوع او د دې موضوع پر حساسیت، نزاکت او ضرورت ډېر زیات او ښه پوهېږي، نو ضرورت نه شته چې ډېر زیات توضیحات ورکړل شي. خو غټو ټکو ته مجبور یم اشاره وکړم: زموږ لرې ماضي، نږدې تېرې ماضي او حال ته په کتو سره (افغان) او (اسلام) داسې ارزښتونه دي چې دا ملت ورڅخه په هېڅ وجه تېرېدونکی نه دی، دې ملت پرې قرباني ورکړې، دا دواړه ارزښتونه نه د رایگیرۍ موضوع ده، نه په رایگیرۍ راغلي، نه پرې بحث او نظر پوښتنه کېدی شي. او نه څوک د دې حق لري چې پر هغو بحث وکړي. ټول بشري او زموږ اساسي قانون د دې حق راکوي چې دا ارزښتونه خوندي وساتو، د افغانستان اساسي قانون (قانون مې وروښود) د څلورمې مادې پنځمه فقره او نورې مادې واضح کوي چې د دې ملت پر هر وگړي د (افغان) کلیمه اطلاقېږي او تذکره موږ فرد ته ورکوو، د هر فرد هویت (افغان) دی، هېڅ قانون، هېڅ شخص حق نه لري چې له ماڅخه په چل او فرېب او یا د قوانینو د دوران له لارې دا حق سلب کړي. افغانستان کې هېڅ قانون د اساسي قانون له محتویاتو سره په ټکر کې وضع کېدی نه شي. کوم قانون چې اوس ملي شورا له بېلابېلو لارو او یا هم د څو اشخاصو او کړیو د چالاکۍ او فرېب له لارې تاسو ته رالېږلی، دا د همدغه اساسي قانون د محتویاتو مخالف دی، نو ځکه مردود دی. د افغانستان نورو تېرو تذکرو ته په پام سره چې هلته په اکثرو کې (دین) او (ملت) راغلي، د اسلام او افغان کلیمې یې تسجیل کړي دي، د همدې اوسني حکومت په تذکره کې هم د (دین) او (ملت) کلیمې لیکل شوي، رییس صیب! تاسو په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**غالباً پر (۱۳۸۲ ل) کال یو فرمان صادر کړ چې د هویت په تذکرو کې دې د ټولو لپاره افغان کلیمه ولیکل شي))، پر دې مهال ولسمشر وویل ((بې شکه، ما په همدې خاطر دا کار وکړ چې ملي وحدت تامین شي)) ما ورته وویل: ((نو دا څوک و چې هم یې (دین) له تذکرې څخه وویست او هم (ملت)؟)) ما ورته ټولې تېرې تذکرې ورښکاره کړې. ((بله خبره دا ده چې د نړۍ نورو مطرح هېوادونو د هویت تذکرې که هم وگورئ، اکثرو په کې خپل ملي هویت درج کړی دی))، د لسو هېوادونو لکه قطر، کویټ، نایجریا، المان، برېتانیا او ځینو نورو هېوادونو تذکرې مې هم ورته ښکاره کړې، مخکې تر دې چې زه تذکرې وښیم، ولسمشر وویل: ((نور هېوادونه څنگه دي؟)) ما ورته وویل ((د اکثرو هېوادونو په تذکرو کې نېشنلېټي ذکر ده)) ده وویل: ((پاسپورت مه یادوه، تذکره راښیه،)) ما ورته د لسو هېوادونو تذکرې راوړې وې، هغه مې ورته لاس په لاس مخې ته کېښودې، د المان تذکره هم په کې وه په نېشنلېټي کې یې لیکل شوي وو: (ډوچ) او د نورو هېوادونو هم، ولسمشر وویل: «سپنتا ته یې ورښکاره کړه» ډاکتر سپنتا د ولسمشر ښي لاس ته په وروستۍ لیکه کې ناست و. هغه ته یې لاس په لاس ورکړې. هغه چې تذکرې وکتلې، د تائید سر یې وخوځوه.**

**جمهور رییس د داودخان د وخت تذکره په لاس کې ونیوه، ویې ویل: ((دا دی دلته خو یې ملت نه دی لیکلی؟ څو ورځې مخکې موږ په جلسه کې همدا د داودخان د وخت تذکره معیار ونیوله، څرنگه چې هلته ملت نه و، نو موږ وویل چې دلته هم ورته ضرورت نه شته)). ما ورته وویل: ((رییس صیب د داود خان د وخت په تذکره کې مو همدا یو معیار په پام کې نیولی، چې ملت په کې نه شته که څنگه؟ هلته خو (دین) هم شته، تاسو ولې دین کښلی و، ایا د اوسنۍ تذکرې ښه هم د هغې تذکرې په شان ده؟ شکل، ژبه او محتوا یې ټول په همغه شان دي؟ بله خبره دا ده چې د داودخان په وخت کې خو ملت ته هېڅ خطر نه و او نه چا د دې جرئت کولای شو چې د ملت پر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندې ودرېږي، د داودخان په تذکره کې (دین) معیار نه نیسئ، خو (ملت) چې په کې نه شته بیا همغه را ټینگوئ؟)) دې وخت کې یو ځل عدلیې وزیر غالب صیب غږ کړ: ((در تذکره ما دین بود)) ما ورته وویل: ((نه و، چېرته؟ نه دین و، نه ملت، دین بیا دویم ځل د مولوي صیب تره خېل محمدي په وړاندیز ولسي جرگې تصویب او په تذکره کې یې ځای کړ، د مشرانو جرگې په مصوبه کې نه دین شته نه ملت)). غالب صیب بیا ټینگار وکړ، ما وویل: ((زه دوه ځله نورو ملگرو سره شورا ته په همدې خاطر لاړم چې تذکره کې نه (دین) و نه (ملت).)) غالب صیب بیا ټینگار وکړ: ((دین بود تو خبر نداری)) ما وویل: ((لاړ به شو د ولسي او مشرانو جرگې لومړیو بحثونو او تائید شویو طرحو ته)). دې وخت کې پوهاند صیب عظیمي د غالب صیب د نظر په باب وویل: (دین و، خو په ارشیف کې پاتې شوی.)) دا چې د ارشیف مانا دلته څه ده؟ په دې پوه نه شوم، خو څه ناڅه پته ولگېده، هغه طرحه چې وزیرانو شورا پاس کړې وه، په هغې کې د (دین) کلیمه وه، خو کومه طرحه چې د عدلیې وزارت له خوا شورا ته لېږل شوې، په هغې کې د (دین) کلیمه نه شته او یا هم د دې خبرې یادونه نه ده شوې چې د تذکرې پر لومړي مخ دې (دین) ولیکل شي. دې وخت کې ولسمشر بیا وویل: ((نو چې پورته لیکل شوي د افغانستان اسلامي جمهوریت د تابعیت تذکره، نو بیا خو دواړه په کې راغلل، افغانستان او اسلامي، نو بیا (ملت) او (دین) ته څه اړتیا ده؟)) ما وویل: ((رییس صیب د افغانستان اسلامي جمهوریت د دولت عنوان او رسمي نوم دی، نه د (ملت) نوم دی، نه د (دین). دا عنوان وخت پر وخت بدلېږي، خو زموږ (دین) او (ملت) نه بدلېږي، (اسلام) او (افغان) نه بدلېږي. یو وخت دلته د افغانستان شاهي دولت و، بیا جمهوریت شو، بیا دموکراتیک جمهوریت شو، بیا اسلامي دولت، بیا اسلامي امارت، بیا موقته اداره، انتقالي اداره او دا دی اوس اسلامي جمهوریت دی، یو څو فیصده د دې احتمال هم شته چې سبا ته بیا اسلامي امارت شي. د دولتونو عنوانونه بدلېږي، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ملت) او (دین) نه بدلېږي. زموږ دین (اسلام) او ملت مو (افغان) دی، دا د دولت په عنوانونو پورې نه تړل کېږي. بله خبره دا ده چې دې ته د ملي هویت تذکره هم وایي، نو چې زما ملي هویت په کې معلوم نه وي، نو د څه شي تذکره ده؟ هغه تذکره چې ستا ملي او عقیده یي هویت نه شي څرګندولای، هغه نو د څه شي تذکره ده؟ څه ارزښت لري؟ لنډه دا چې موږ (بې دینه) او (بې ملته) تذکره نه غواړو او نه یې زغملای شو. دلته یو دولت په دې پلمه سقوط شو چې په تذکره کې یې د (دین) ستون نه و لیکل شوی، اوس به یو حکومت په دې پلمه سقوط کېږي چې په تذکره کې یې د (ملت) ستون نه دی لیکل شوی، نن چې یې د (افغان) کلیمه له تذکرې ووېستله سبا ته به یې له پاسپورته باسي، بل سبا بیا د افغانستان کلمه هم نه مني، پر هغې



(حبیب الله غالب)

به هم راسره بحث کوي. بل په دې کې تاوان څه دی، که ولیکل شي؟)) جمهور رییس وویل: ((هېڅ تاوان نه لري، بلکې گټه لري، اته نوي فیصده گټه لري.)) دې وخت کې یې عدلیې وزیر ته مخ ورواړوه، ویې وویل: ((شما بگوید!)) هغه وویل: ((او جا گفته شد که جمهوری اسلامی افغانستان امده، دیگر ضرورت نیست، همین افغانستان ملت ما است دیگر ضرورت نیست که ملت نوشته شود یا نه شود، همانجا همین فیصله شد.)) دا چې چا چېرې او څنگه دا فیصله وکړه موږ ته پته ونه لگېده، خو دومره اخیستنه مو وکړه چې د کابینې تر غونډې وروسته نور خلک هم شته چې ځانگړې پرېکړې کولای شي او (ملت) د خصوصي اشخاصو کار دی چې راوړي یې او که نه، دا خلک معلومېږي نه، خو کارونه کولای شي. ما سملاسي وزیر صیب ته وویل: ((افغانستان زموږ د هېواد نوم دی، د ملت نوم مو (افغان) دی، موږ باید د

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ملت او هېواد تر منځ فرق وکړو. افغانستان رغېدلی له افغانه دی، نو ځوک چې (افغان) نه مني (افغانستان) خو اتومات نه مني)).**

**ما وویل: ((زه نور دلایل هم لرم که وخت و، وروسته به یې ووایم، خو اوس خپلو ملګرو ته نوبت ورکوم.))**



(حکیم تورسن)

**جمهور رییس، (حکیم تورسن) ته اشاره وکړه چې خبرې پیل کړي! تورسن صیب وویل: ((به اجازه رییس صاحب جمهور و تمام حاضرین محترم در این مجلس، ما میخواهم گفته های خود را در چند کلمه مختصر عرض بدارم، تنها در مورد همین موضوع، مختص سری تذکره تابعیت بحث میکنم گر چه موضوعات دیگر نیز وجود دارد که فعلاً وقت اش نیست، اگر رییس صاحب لازم دید، در یک فرصت مناسب دیگر باز بحث میکنم، رییس صاحب محترم! باید عرض شود که در طول سی، سی و پنج سال بسیاری ارزشهای مهم به این و ان عنوان از ما گرفته شد، تنها افتخار که مانده، همین افغان و افغانیت ما و شما است، که تمام ملت را وصل کرده، کلمه افغان به همه اقوام، خورد و کلان و هر فرد این مملکت اطلاق میشود، این مشخص به یک قوم نیست، افغان افتخار ماست، اگر این افتخار از ما گرفته شود، دیگر خو چیز نه مانده، که گرفته شود، همین هویت ملی ما (افغان) و (افغانیت) مانده اگر این هم گرفته شود، دیگر چیزی نمی ماند، حالا که خارج میروم، همه ما به افغان یاد میشویم، اگر تاجک و ازبک، پشتون و اینها نوشته شود در خارج برای ما چه بگوید، تاجک کجا استی؟، تاجک تاجکستان، ازبک ازبکستان، پشتون پاکستان، ما قرغیز هم داریم، تاتار هم دارم، اینها را چه بگوید؟ قرغیز قرغزستان یا قرغیز افغانستان، تاتار روسیه یا تاتار افغانستان، در روسیه چندین قوم زندگی میکند ولی همه انها را روس میگوید، در تذکره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هویت شان برای همه شان روس گفته میشود. همین هندو های افغان ما، اینقدر وطنپرست هستند، که ما هندوستان رفته بودیم، یک هندو افغان مارا تابعیت هندوستان میداد، یک شرط برایش مانده بود، که فقط جای تولد تانرا افغانستان نوشته نکو، هندو افغان ما برایش گفت، ما در افغانستان تولد شدم، ما افغان هستم، افغان و افغانستان افتخار ماست، به خدا قسم که او هندو ما خاص از خاطر نام افغان و افغانستان تابعیت هندوستان را قبول نکرد، این وطن خانه مشترک ما است ما به هیچ وجه از افغان و افغانیت تیر شدنی نیستم و این افتخار باید از ما گرفته نه شود ونه ما به کسی به شمول شخص خود شما را حق میدهم، که هویت ملی ما از ما سلب شود، یک مورد دیگر را نیز میخواهم جناب رییس جمهور به شما بگویم، که شما همیشه در مبارزه جاری تان به خارجیها از دید کوچه اهنگری انتقاد مینماید، خوب است که از کوچه اهنگری به کوچه زرگری هم قدم بزنید از زرگران هم مشوره بگیرید، زرگران مشوره بسیار باریک و ظریفانه را میدهد، خوب است، کارشناسان و افراد چیزفهم را نیز وقت به وقت دعوت نماید و از انها نیز مشوره بگیرید!)) د تورسن صیب په خبرو کې د (کوچه اهنگری) کلیمې جمهور رییس ته ډېر خوند ورکړ، ویې ویل: ((چون جنگ جنگ اهنگری است، از این خاطر از کوچه اهنگری داخل میشم))

تورسن صیب وویل: ((ما گپهای دیگر رانیز دارم خو فعلاً وقتش نیست که همه شان رابیان کنیم، فعلاً به همین گپهای خود اکتفا مینمایم، تشکر از توجه شما!))

د تورسن صیب په خبرو پسې بیا جمهور رییس خبرې پیل کړې: ((گپهای تورسن صیب راست است، ما یک وقت در (شمله) بودیم، در شمله هندوستان، یک روز در یک کوچه بازار پیاده میرفتم، یک دو سه تا طفل پشت ما می امد، خیرات میخواست، ما به یکی از انها یک چند روپیه دادم، فکر کردم که هر سه اش از یک فامیل است، چند قدم دیگر که رفتم از

(c) ketabton.com: The Digital Library



همین سه طفل یک دختر پشت ما میدوه، به اواز بلند میگوید که به او پیسه دا دی برای ما هم بدهید، ما پیسه ندادم، در اخر به اواز بلند دو زدن شروع کرد، عجیب این که دشنام زدنش به پشتو بود، داسې ترخې کنځلې یې کولې چې ای ستا پلان او مدان چې هېڅ د یادولو نه دي، زه حیران شوم چې دا جلۍ څنګه پښتو وایي، دلته دا جلۍ او پښتو؟ بیا مې ورپسې ورمنډه کړه چې ویې نیسم، پیسې ورته ورکړم، دې راځخه منډه کړه، ما هم دویدم اینا هم، خو گیرش نه کردم، طفل دیگر که همرایش بود و از او کرده کمی خورد بود او را گیر کردم، همداسې رپېده له ډاره، ما ویل مه ډارېږه، وهم دې نه، دا راته ووایه چې تاسې دلته څه کوئ او دا پښتو دې څنګه زده کړې؟ ده راته وویل چې مورِ خو پښتانه یو، دلته اوسېږو مورِ کور کې پښتو وایو، هغه بله مې خور وه، ټول کور کې پښتو وایو، بیا مې د هلک پر سر لاس تېر کړ. این ها پشتونهای بودند که سابق از پاکستان به هندوستان رفته بودند و در شمله در نزدیک کوه های همالیه زندگی میکرد، پشتو را یاد داشت اما کلی انها خود را هندی میگفتند، و در تذکره شان (انډین) نوشته بود، به همه هندی ها انډین (اطلاق) میشود، همین (سلمان خورشید) که فعلاً وزیر خارجه هندوستان است از لحاظ قومی پشتون است و در پشتون اپریدی است، در اپریدی هم کوکخیل است، مگر فعلاً نمیگه که پشتون هستم، اپریدی هستم یا کوکخیل هستم، بلکی میگه که هندی یا انډین هستم. در هندوستان صدها قوم و صدها مذهب هستند، به همه شان انډین اطلاق میشود، حتی مسلمانان هندوستان هم نشنلتی خود را (انډین) میگوید. پس گپ های تورسن صیب راست که هندوهای افغان ما، در هر جای دنیا که باشد، خود را افغان میگوید و به افغان بودن خود افتخار میکند.))


ولسمشر بیا جنرال غلام حسین هزاره ته نوبت ورکړ، جنرال هزاره خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((به اجازه رییس صاحب جمهور و همه محترمین حاضر در این جلسه، ما کمکی ملا هستم ملایی صحبت میکنیم، الله(ج) در

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قران عظیم الشان می فرماید: بسم الله الرحمن الرحیم، يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ...**

**هدف ما ازین ایه کریمه اینبود که خداوند(ج) ما را شعبه شعبه افریده، برای تعارف یکدیگر مگر به نزد خداوند(ج) مکرم کسی است که تقوا داشته باشد. وقتیکه ما برای تعارف خویش یک هویت نداشته باشیم، مردم ما را به نام چی و از کجا میشناسد؟ افغان و افغانستان افتخار ماست، ما سر افغان بودن خویش افتخار میکنم، یک تعداد اشخاص که انها نه نمایندگی از کدام قوم میکند. نه از کدام زبان و سمت گپ انها جدا است، هیچکس حق ندارد افغانیت ما را از پیش ما بگیرد، از این خاطر ما تائید میکنم، اسلامیت و افغانیت باید در تذکره ذکر گردد. ما از گپهای برادر خود اقای یون پشتیبانی میکنم و طرفدار این هستم که (دین) و (ملت) (اسلام) و (افغان) در تذکره ذکر گردد که هویت ملی ما مستحکم گردد.**


(جنرال غلام حسین هزاره)

**گپ دیگر من به رییس جمهور این است که ما خو این طرف و ان طرف در تلویزیونهای گپ میزنم، دولت را گوشتزد میکنم، کاستیها، نواقص و کامیابیها را برجسته میسازیم، خوب است که رییس صاحب وقت ناوقت این کارشناسان، اهل خبره و دیگران را دعوت نماید، از اینها در مورد مسایل کلان مملکت مشوره بگیرد، تنها سر چند نفرکه این طرف و ان طرف رییس جمهور حلقه زده به اینها مملکت جور نه میشود، به هر حال در بعضی مسایل از عملکردها و نظر رییس جمهور به خصوص در مورد عقد قرارداد امنیتی پشتیبانی مینمایم و در بعضی مسایل گیله ها و انتقاد های رانیز دارم. در اخر یک بار دیگر گپهای برادران خود را**

(c) ketabton.com: The Digital Library



تائید مینمایم، و خواهان ذکر کلمه (اسلام) و (افغان) در تذکره هستم.))

جمهور رییس د جنرال هزاره تر خبرو وروسته وویل: ((جنرال صیب گپهای ته در تلویزیونها میشنویم از همه چیز خبر دارم.)) بیا یې شېرعلم امله وال ته د خبرو نوبت ورکړ! شېرعلم امله وال وویل: ((د جمهور رییس او ټولو قدرمنو مشرانو په اجازه، زما نوم شېرعلم امله وال دی، په قوم پشه یي یم، په پشه یي، پښتو او دري ژبو درېواړو ښې خبرې کولای شم او په همدې درېواړو ژبو لیکنې کوم.



(شېر علم امله وال)

تراوسه مې څو عنوانه کتابونه چاپ شوي چې دلته مې راوړي هم دي، رییس صاحب تاسو ته به یې وروسته درکړم، په پوهنتون کې استاد یم، د حقوقو او سیاسي علومو مضمون تدریسوم، لکه څنگه چې مې مخکې په خبرو کې یادونه وکړه، زه په قوم پشه یي یم، خو ملت مې افغان دی او پر افغان ویاړم، افغان زما ملي هویت دی او د ټولو افغانانو ملي هویت دی، دا ویاړ تقریباً زر کاله وړاندې مونږ ته راکړل شوی؛ په دې جغرافیه کې ټول اوسېدونکي افغانان دي. مونږ هېڅ‌ چا ته، حتی رییس صیب تاسو ته هم اجازه نه درکوو، چې زمونږ د ملي هویت پر وړاندې ودرېږئ. رییس صاحب تاسو چې له امریکا سره د امنیتي تړون په باب دا دومره جنجالونه جوړ کړي او دومره نانددرۍ وهئ، دا په دې خاطر چې افغان ملت ته گټه ورسوئ، دا ولس سوکاله کړئ، که دا هدف نه وي، نو دومره جنجالونو ته څه اړتیا ده؟ رییس صاحب تاسو په دې تېرو دولسو کلونو کې د ملي وحدت د ټینگښت لپاره ډېر کارونه کړي دي، د خپلې واکمنۍ په دې وروستیو شپو ورځو کې دا بل گام هم پورته کړه، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



قانوني کار دی، تاسې د اساسي قانون ساتونکي او عملي کوونکی یاست که چېرې تاسو دا کار ونه کړئ نو اینده کې به پر تاسو سخت تور پورې شي او گټلی نوم به مو له خاورو سره خاورې شي.

نو زموږ غوښتنه ده چې قانون تعدیل او د اساسي قانون له روحیې سره سم د افغان او اسلام کلیمه د هویت په تذکرو کې راوړئ، تر اسلامیت او افغانیت نور پورته ارزښتونه موږ نه لرو، هېڅوک حق نه لري چې له موږ څخه دا ارزښتونه واخلي. موږ هر ډول قربانۍ ته حاضر یو، که د وینې تویېدنې تر بریده هم ورسېږي، له تاسې څخه د یو روشنفکره افغان په توگه هیله کوم، چې اساسي قانون تطبیق کړئ، ستاسې اساسي دنده هم د اساسي قانون تطبیق او ساتنه ده.)).

د شېرعلم امله وال تر خبرو وروسته ولسمشر (چرندسنگ) ته چې د افغان سکانو له جملې څخه دی، نوبت ورکړ. ولسمشر وویل: ((چرند سنگ اوس ستا نوبت دی وایه))



(چرند سېنگ)

چرند سنگ وویل: ((د رییس صاحب او ټولو په اجازه، زه افغان یم او پر افغانیت ویاړم، البته (دین) مې له نورو افغانانو جلا دی، خو افغانیت کې ټولو سره شریک یم او ملت مې افغان دی، موږ پخوا هم په تذکره کې د (دین) او (ملت) د لیکلو غوښتنه کړې وه، اوس چې دین په کې ذکر شو، ښه شوه، څوک چې مسلمانان دي، هغه ته به د (دین) ستون په مقابل کې (اسلام) لیکي او څوک چې هندو وي، هغه ته به هندو لیکي، هندو خو زموږ مذهب یا دین شو، نو دا ملت مې څه شو؟ که زه یو بل ملک ته لاړ شم، نو هغه به ماته څه وایي؟ د کوم ځای هندو یې؟ د هندوستان هندو یې که د بل ځای؟ ملت دې څه شی دی، نو زه به ورته څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووایم؟ څه موده وړاندې د (قاضي نذیر حنفي) په نامه یو وکیل په ولسي جرگه کې وویل: هندوان او سکان دې موږ ته دا ثابته کړي چې دوی څه وخت له هندوستان څخه افغانستان ته راغلي دي؟ دې ښاغلي ته باید وویل شي چې هندوان او سکان له هندوستانه افغانستان ته نه دي راغلي، بلکې دوی له دې ځایه هندوستان ته تللي، دوی د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي)).

دې وخت کې جمهور رییس وویل: ((بې شکه، بې شکه چې د دې وطن اصلي اوسېدونکي دي، ښه یې نه دي کړي چې ویلي یې دي، دوی له هندوستانه راغلي دي، دوی د دې وطن اوسېدونکي دي.)) چرند سنگ زیاته کړه: ((دا زه افغان یم، د دې وطن ټول هندوان او سکان ځانونه افغانان بولي، پر افغانیت ویاړو، موږ چې د دنیا هر ملک ته لاړ شو، ځان ته افغان وایو، په هندوستان کې هم موږ ځان ته افغانان وایو، پر افغان ویاړو، هلته زموږ عزت هم په همدې کېږي چې افغانان یو، موږ غواړو چې دا افتخار له موږ څخه څوک وانخلي، زموږ او د هندوستان د هندوانو او سکانو خو فرق په همدې افغانیت کېږي، که نه مذهب خو مو له هغو سره یوشان دی، خو ملت مو توپیر لري، اوس چې څوک موږ څخه دا ملي هویت اخلي، دا د هېچا حق نه دی، نو رییس صاحب په پای کې بیا وایم چې په تذکره کې د (ملت) او (دین) کلیمې لیکل حتمي او ضروري دي، د ملت په مقابل کې دې ټولو ته افغان ولیکل شي او د (دین) په مقابل کې څوک چې مسلمان وي، هغه ته (اسلام) او څوک چې هندو مذهبی وي، هغه ته دې (هندو) ولیکل شي، دا زما نظر و چې تاسې ته مې وړاندې کړ.))

د چرند سنگ په خبرو پسې ولسمشر د امنیتي چارو سلاکار (ډاکتر رنگین دادفر سپنتا) ته نوبت ورکړ، چې خپلې خبرې وکړي. ډاکتر سپنتا وویل: ((به اجازه همه دوستان! اول باید ما متذکر شویم که ما در بسیاری مورد با همکار سابق خویش اقای یون اختلاف نظر داشتم و دارم ولی در این مورد ما نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اینها راتائید مینمایم.**

**باوجودیکه ما یک فارسی زبان هستم، قومم معلوم نیست که از کدام قوم هستم، ونه خود ما به قوم معتقد هستم، مادر ما مربوط قوم طاهری است و در خانه ما اخرین کسیکه پشتو حرف میزد پدرم بود، ما به قوم عقیده ندارم، ولی فارسی زبان هستم و زبان فارسی ما بعد از استاد واصف باختری خوب است، جناب رییس**




(ډاکتر دادفر سپنتا)

**صاحب من در این مورد بار ها به شما صحبت کردم و در جلسه اخری نیز سر موقف خود دوباره تاکید کردم. در این جلسه یک بار دیگر یاد اور می شوم که من یک افغان هستم، و افغان یک هویت ملی و سیاسي ما ست، صرف نظر از ان که بعضی ها افغان را تعبیر دوگانه میدهد، برای ما افغان بودن هویت ملی است، در هر مملکت چندین قوم زندگی مینماید، ما نمیتوانیم، به هر قوم خورد و کلان یک هویت علیحده ملی بدهیم ما این مثال را چند بار یاد اور شدم، یک بار دیگر تکرار میکنم که یک جامعه یا ملت مانند یک کور یا پوش پیاز است، که پرده اخری یا پوش کلان تمام پرده های انرا پوشانده، حالا ما نمیتوانیم که به هر پرده ان نام علیحده بدهم، کلش به نام پیاز یاد میگردد، افغانستان هم کشوری است که در ان اقوام گوناگون زندگی میکند ولی همه اینها در پوش افغان گنجانیده میشود، و پرده افغان همه اینها را افاده میکند. تمام جوامع بشری، کشورهای پیشرفته این مشکل را حل نموده، بطور مثال فرانسه، در فرانسه سی و پنج در صد (فرانس) هستند، ولی همه باشندگان ان کشور (فرانس) رابه حیث هویت ملی خود قبول کرده.)) ډاکتر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپنتا د المان په باب وویل: ((در المان به همه المانیها (دوچ) نوشته میکند، هفت سال پیش ما پاسپورت المان داشتم، شما خبر داشتید که ما او را پس تسلیم دادم، فعلاً پاسپورت ندارم، ولی اولادهای ما پاسپورت المانی دارد، در پاسپورت انها (دوچ- افغان) نوشته است. مثال های زیادی وجود دارد، رییس صاحب ما از روز اول برای تان گفتم، که افغان هویت ملی ماست و حالا نیز ما نظریات برادرها را درین مورد تائید مینمایم. اگر ستون (ملیت) ذکر گردد و در مقابل اش به همه (افغان) نوشته شود کاری درستی است.))


(نصرالله ستانېکزی)


تر ډاکتر سپنتا وروسته (استاد نصرالله ستانیکزي) ته نوبت ورسېد. هغه خپلې خبرې داسې پیل کړې: ((د محترم رییس صاحب او ټولو دوستانو په اجازه، زه نه غواړم ډېرې خبرې وکړم، اکثرو دوستانو خبرې وکړې، زه د دوستانو خبرې تائیدوم، منتها د داودخان د وخت د تذکرو په باب یوه یادونه کوم، په تېره جلسه کې هم دا تذکره یاده شوه چې (ملت) په کې نه دی یاد شوی، هلته هم ما خپل دلایل درلودل، اوس یو ځل بیا د هغې تذکرې په باب خپل دلایل وایم: د داودخان تذکره د (۱۳۵۳ل) کال په بهیر کې ووېشل شوه، دا هغه وخت و چې د مدني حقوقو قانون نه و تصویب شوی، پر (۱۳۵۵ل) کال د مدني حقوقو قانون تصویب شو. په دې قانون کې راغلي چې فردي او ملي هویت د یوه هېواد د هر تبع حق دی او دا قانون هم د داودخان په وخت کې تصویب شوی، که داودخان دویم ځل تذکرې وېشلې، نو ضرور یې په کې د ملت ستون زیاتوه، ځکه چې د هویت یا تابعیت تذکرې له دې قانون سره په مخالفت کې نه شوې تقسیمېدلای، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داودخان وخت پیدا نه کړ او نور مشکلات تاسې خپله ولیدل چې رامنځته شول. د دې لپاره چې دا مشکل حل شي ډاکتر صیب سپنتا د افغان د تثبیت لپاره د (ملیت) کلمه پیشنهاد کړه، خو زه د (ملیت) پر ځای (ملت) د کلیمې وړاندیز کوم، ځکه چې له (ملیت) کلیمې څخه روسانو خلکو ته بل ډول ذهنیت ورکړی، هغوی (ملیت) د (قومیت) لپاره کاراوه، نه د نېشنلېټۍ یا (ملت) د تعبیر په مانا.)) دې وخت کې ډاکتر سپنتا وویل: ((منظور ما همان نشنیلتی است نه قومیت)) ستانېکزي زیاته کړه: ((د دې په خاطر چې له یوې واحدې کلیمې څخه دغه دوه ګونی تعبیر له منځه لاړ شي نو ښه ده چې د (ملت) ستون زیات شي او په مقابل کې یې ټولو ته (افغان) کلیمه ولیکل شي.)) ولسمشر هم د (ملیت) د کلیمې د دوو ګوني تعبیر په باب سر وخوځوه او ویې ویل: ((دا د روسانو تعبیر و، ملیت همدا نېشنلېټي ده)). دې وخت کې ما (یون) وویل د دې لپاره چې ټول ناسم تعبیرونه له منځه لاړ شي همدا د (ملت) کلیمه سمه ده، اوسنۍ تذکره کې چې همدا اوس تقسیمېږي هم همدا د (ملت) کلیمه لیکل کېږي او په مقابل کې یې ټولو ته افغان.

تر دې وروسته د علماوو شورا رییس (مولانا قیام الدین کشاف) خبرې پیل کړې، هغه وویل: ((اسلامیت) او (افغانیت) او (اسلام) او (افغان) داسې حقیقتونه دي چې د لمر په شان روښانه دي، دا داسې دي چې یو څوک وواییي زه شپه او ورځ، تور او سپین نه منم او له هغو څخه انکار کوم. زه افسوس کوم د هغو خلکو په حال چې ځانته نه مسلمان وایي، نه افغان، ماته یو زیات شمېر علما راغلل راته یې وویل، چې موږ باید په دې برخه کې یوه فتوا صادره کړو، چې ولې د هویت په تذکرو کې (دین) نه دی راغلی، ما


(مولانا قیام الدین کشاف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ځله دا خبره کړې چې افغانستان له اسلام پرته تش کالبد دی، داسې چې په تن کې روح نه وي، ما علماوو ته وویل چې دې برخه کې صبر کوو، نو اوس زه وایم، رییس صاحب چې دا دواړه کلیمې (دین) او (ملت) دې په تذکرو کې راشي، که نه له دې ځخه غټ جنجال جوړېږي، دا څه مانا ورکوي چې تذکره کې دې نه (دین) وي نه (ملت) نو دا تذکره د څه لپاره ده؟ افغانستان یو اسلامي هېواد دی، دلته باید دې مسئلې ته ډېر پام وشي، د خلکو احساسات ونه پارول شي.))

دې وخت کې عدلیې وزیر وویل: ((دین است چرا نیست!)) ما بیا وویل: ((رییس صیب د حکومت په طرحه کې نه دین شته نه ملت، دا چې د حکومت کومو مامورینو له کومې لارې او څنګه دا کار کړی، دا بېله خبره ده، خو حقیقت دا دی، چې حکومت کومه طرحه لېږلې وه په هغه کې نه (دین) شته نه (ملت).)) ولسمشر وویل: ((ولې نشته؟ موږ خو دا مسئله لېږلې وه.)) دلته عدلیې وزیر بیا وویل: ((دین است))، دې وخت کې بیا پوهاند صیب عظیمي وویل: ((دا په ارشیف کې شته)). د ارشیف همغه مانا ده چې ما ورته مخکې اشاره وکړه. یانې دا چې که دلته په وزیرانو شورا یا هم عدلي او قضایي کمېسیون کې پرې بحث هم شوی، هلته نه ده لېږل شوې. ما وویل: ((دا خو د ولس زور و چې (دین) یې د ښامار له ستوني راووېست او د تذکرې پر لومړي مخ یې ځای کړ، اوس باید ملت هم د دې ښامار له ستوني راوځي.))

ما وویل: ((رییس صاحب اصلي خبره دا ده چې په ملي شورا کې خلکو داسې فکر وکړ چې ځه حکومت خو (دین) او (ملت) په تذکره کې راوړي، یو شمېر خلکو د تذکرې پر لومړي مخ د (قومیت) د لیکلو غوښتنه کوله، د ولسي جرګې اکثرو غړو پرېکړه وکړه چې د تذکرې پر لومړي مخ د قومیت ذکر ته اړتیا نه شته، دا کار واحد ملت پر قومونو وېشي، نو ټولو ته (افغان) لیکل سم دي. قومیت لکه څنګه چې په ډېټابېس کې و، ډېټا بېس کې پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو، خو ملت نه په ډېټابېس کې و نه د حکومت په وړاندیز کې، نو ځکه هم له ډېټا ووت، هم د تذکرې له لومړي مخه او کومو وکیلانو چې په شفاهي ډول د ملت یا افغان پر لیکلو ټینګار کاوه، د هغوی تصور دا و چې په متن کې شته، نو قومیت چې پر لومړي مخ رد شو، نو خپله یوازې ملت پاتې کېږي، خو ویل کېږي چې د (ملت) په باب د وکیلانو شفاهي تصویب هم له ارشیف څخه ایستل شوی، نو په لیکلي متن کې خو غیر له هغې هم نه و، نو ځکه (ملت) هم د تذکرې له لومړي مخ او هم له ډېټابېس څخه ووت، ولسي جرګه وروسته متوجه شوه، چې (دین) هم پاتې شو، وروسته یې په بله غونډه کې د مولوي صیب تره خېل په وړاندیز هغه پاس او بیا یې مشرانو جرګې ته ولېږه. مشرانو جرګې د (تخلص) په زیاتولو د حکومت طرح تائید او ولسي جرګې د (دین) د ستون په زیاتولو سره قانون مشترک کمېسیون ته حواله کړ، ګډ کمېسیون پر اختلافي مسایلو بحث وکړ، (ملت) د توطیو، دسیسیو او ابهاماتو قرباني شو.)) پر دې وخت عدلیې وزیر یو ځل بیا وویل: ((کلمه افغان در دیتابېس است)) ما ورته وویل: ((نه شته، رییس صاحب نه په ډېټابېس کې شته نه د تذکرې پر لومړي مخ.))

ولسمشر ما ته مخ راواړوه: ((دا کار خو موږ کاوه، څه ضرورت و مظاهرو ته، دومره غالمغال او ټلوېزیوني بحثونو ته!)) ما ورته وویل: ((رییس صیب اجازه راکړه، یو دوه درې معترضې جملې ووایم؟!)) هغه وویل: ((ووایه!)) ما وویل: ((یو نیم کال دمخه مې احوال درولېږه چې ماته وخت راکړه د هویت د تذکرو په باب درسره ګورم، دا حساسه مسئله ده، یو شمېر کړۍ شته چې غواړي ملي هویت ته زیان ورسوي، ما ته چا وخت رانه کړ، تا وویل چې هېواد مل صاحب سره تماس ونیسه، ما هغه ته وخت پر وخت خپل نظریات ورکړي، کېدی شي هغه تا سره شریک کړي وي، خو د یو نیم کال په بهیر کې موږ پردې بریالي نه شو چې تاسو وګورو، کله چې ما استعفی ورکړه، دنده مې پرېښودله او تاسو سره مې ملاقات درلود، بیا مې یادونه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې که چېرې د ولسي جرګې انتخابات عادلانه شوي وای، نو نن به په ولسي جرګه کې افغان ضد عناصرو د ملي هویت پر ضد کارتونه نه پورته کول، د افغان له کلیمې سره به یې حساسیت نه ښود، تاسو وویل چې دا څو محدود کسان دي، هغه ده ویې نه ګڼله، تاسې سره دا تصور و چې اکثرو د (ملت) کلیمه تائید او تصویب کړه، خو نتیجه دا وه چې هر څه د ملت ضد عناصرو په ګټه پای ته ورسېدل.

کله چې له حکومته اشتباه وشوه یا مامورینو درغلي وکړه، افغان او اسلام یې حذف کړل، ولسي جرګې هم اسلام او افغان ذکر نه کړل، مشرانو جرګه هم د اسلام او افغان کلیمو له لیکلو لاس پر سر شوه، نو خبره نوره خلاصه وه، یوازې خبره توشېح ته پاتې وه، دا خو د ولس د مظاهرو برکت و چې ولسي جرګه او مشرانو جرګه یې خپلو نیمګړتیاو ته متوجه کړې، په نتیجه کې اسلام بېرته ځای پر ځای شو، نو چې نه دې حکومت عرض اوري، نه مشرانو، نه ولسي جرګه او نه هم کوم بل اورګان، له مظاهرې او هغه هم له اصولي مظاهرې پرته بله کومه لاره پاتې ده؟)) ولسمشر وویل: ((ما خو توشیح نه کړ دا دی پر مېز راته پروت دی)) قانون یې ښکاره کړ، ما وویل: ((رییس صیب دا د همغو مظاهرو برکت دی چې تاسو دا قانون توشیح نه کړ، موږ نه یوازې دا غواړو چې دا قانون باید توشیح نه شي، بلکې غواړو چې په دې کې تعدیل راشي، که تاسو یې توشیح هم نه کړئ، هغه خپله پر قانون بدلېږي، موږ خو ډېره هڅه وکړه چې د دې قانون د توشیح د معیاد تر پوره کېدو دمخه تاسو سره وګورو، خو چا زموږ غوښتنو ته غوږ ونه نیوه، که موږ مظاهرې نه وای کړې، نو دا خبره هم له حکومته او هم له شورا څخه تېره وه (اسلام) او (افغان) دواړه قرباني شوي وو.)) ولسمشر بیا وویل:((نه تاسې نور حساس کړل)) ما وویل: ((ولې حساس شي؟ موږ خو اسلامیت او افغانیت غوښتی، د دې په مقابل کې ولې ځینې اشخاص حساس شي؟ بیا چې حساس شي، شي دې نو.)) پر دې وخت ډاکتر سپنتا وویل: ((حساسیت طرف مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**را هم باید در نظر گیرم)) له دې جملې څخه د ډاکتر سپنتا هدف د هغو محدودو کسانو پر وړاندې، چې ویل یې (افغان نیستم) د لوی اکثریت حساسیت ته اشاره وه، چې ټول افغانیت او اسلامیت غواړي. هدف یې دا و چې دې حساسیت ته باید پام وشي چې ډېر پراخت دی. ما وویل: په سلو کې (۹۹) افغانان افغانیت او اسلامیت غواړي یو کم شمېر اشخاص او کړی چې له افغانیت او اسلامیت سره دښمني لري، د هغوی خبرو ته اوس ترجیح ورکول کېږي او (۹۹) په سلو کې خلک له نظره لوېږي؟ د دې لوی اکثریت حساسیت ته پام نه کېږي خو د محدودو اشخاصو حساسیت ته پاملرنه کېږي.**

**بله خبره دا ده چې اوس د هویت په تذکرو کې د افغان کلیمې پر نه لیکلو ټینگار او پر لیکلو یې بې تفاوتی، له (ملت) او (دین) سره د مخالفت په مانا ده او بله وروستی خبره دا کوم چې که (دین) او (ملت) یا (اسلام) او (افغان) په تذکره کې ذکر شي، د دې تاوان څه دی؟ تذکره پرې سېځل کېږي؟ مصارف پرې زیاتېږي؟ د چا پر اوږو بار پرېوځي که څنگه؟ گټه یې ډېره ده**



(ډاکتر صادق مدبر)

**که زیان؟)) ولسمشر بیا وویل: ((نه گټه یې ډېره ده)) ما وویل: ((چې گټه یې ډېره ده نو ویې لیکه، فرمان ورکړه!)) ده وویل: ((جوړوم یې خو تاسو موږ خپل کار ته پرېږدئ!)).**

**تر دې وروسته جمهور رییس د نتیجې او جمع بندی په توگه وویل: ((ورونو موږ دلته شورا هم لرو، د هغوی نظر ته به هم گورو، ښه پوره بحث وشو، اکثریت په دې نظر دي چې په قانون کې باید تعدیل راشي)) (ډاکتر مدبر) ته یې غږ کړ د قانون د توشیح وخت تېر شوی که پاتې؟ ډاکتر مدبر او**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نصرالله ستانیکزي ورته وویل: ((پنځلس ورځې یې پوره شوي، تېره سه شنبه یې وخت پوره شو، هغه اوس د قانون بڼه خپله کړې. دې وخت کې ولسمشر وویل: ((خیر نو حل لاره د قانون تعدیل دی؟)) نصرالله ستانیکزي ورته وویل: ((هو د حل لاره یې همدا ده)) بیا ولسمشر وویل: ((ښه ده په دې به غور وکړو)) ما بیا وویل: ((رییس صیب موږ ته دې مشخص ونه ویل څه وخت به دا کار تر سره شي؟ بیا خبره مبهمه پاتې شوه، هسې نه چې د تېر په شان بیا پاتې شي؟ موږ غواړو وخت رافکس کړې چې موږ ملت ته ډاډ ورکړو.)) ده بیا وویل: ((درجوړوو یې نور نو ستاسو کار نه دی دا د حکومت کار دی، موږ خپل کار ته پرېږدئ، کوو یې، خو تاسې به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوئ)) ما بیا وویل: ((رییس صیب موږ به ټلوېزیوني بحثونه او مظاهرې نه کوو، خو تاسو به موږ ته د دې کار د عملي کولو تضمین راکوئ او وخت به راته ټاکئ چې تر دغه وخته دا مشکل حلېږي؟)) ده بیا وویل: ((بس کوو یې په دې ورځو کې به یې خلاص کړو، نور ډېرو بحثونو او جنجالونو ته حاجت نه شته، حکومت خپل کار ته پرېږدئ!)).**

**په همدې خبرو پسې جلسه ختمه شوه ولسمشر بلې خونې ته د بل ملاقات لپاره لاړ.**



(محمد اسحق الکو)

**په دې جلسه کې لوی څارنوال محمد اسحق الکو هم ناست و، زموږ خبرو ته یې د تائید سر خوځاوه، خو خپله یې څه ونه ویل. (کریم خرم) او (ډاکتر صادق مدبر) هم خبرې ونه کړې. د اساسي قانون پر تطبیق د څار کمیسیون مشر (گل رحمن قاضي) چې د دې غونډې بل برخوال و او لازمه وه چې خبرې یې کړې وې، تر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخره غلی و، هېڅ خبره یې ونه کړه.

تر ملاقات وروسته ما ته ډاکتر صیب صادق مدبر وویل: ((کلمه افغان در دیتابیس وجود ندارد)). هغه د قانون هغې مصوبې ته لاس ونیو چې ده سره وه او ملي شورا ورته رالېږلي وه.

د دې دومره جزیاتو له یادونې او د غونډې د (مینوټ) له لیکلو څخه مې هدف دا و چې د ملي او عقیده یي هویت مسئله یوه ډېره حساسه مسئله ده، زه اوس هم د ولسمشر پر ژمنې سل په سلو کې باوري نه یم، موږ له جمهور رییس سره ژمنه وکړه چې د دې قانون تر تعدیل پورې به نه ټلوېزیوني بحثونه کوو او نه مظاهرې، خو که چیرې په یو معین وخت کې د ملت دا قانوني غوښتنې ونه منل شوې، نو بیا خو مجبور یو، هم به لاریون کوو، هم به ټلوېزیوني بحثونه او هم به ټولې هغه قانوني لارې کاروو چې د دې برحقې داعیې لپاره په کار دي.

د دې تفصیلي لیکنې بل هدف او پیغام دا دی چې راتلونکی پښت ته دا په ډاگه کړو چې تاسو چا د هویت له بحرانه ژغورلي یاست او چا درته د هویت پر ضد توطیې جوړې کړې دي؟ له هغو اسلامپالو او هېواد پالو افغانانو څخه هم ډېره مننه کوم چې د تېرو څو میاشتو په بهیر کې یې په ډېره میړانه، د خپل ملي او اسلامي هویت د ملاتړ لپاره میدان ته راودانگل.

دا لیکنه به په دې خاطر خپره کړم چې څو ورځې چوپ پاتې کېدل، د ولسمشر د ژمنې عملي کېدو ته د انتظار لپاره دي، نه کوم حق السکوت دی، نه کوم ډار، نه کومه وېره، نه کوم احتیاط او نه هم د کوم نامشروع امتیاز خبره په کې مطرح ده چې ځانساتو او ورځچارو ته د ((ناوړه تبسم)) پلمه په لاس ورنه شي.

که د یو محدود او ټاکلي وخت په بهیر کې د ملت دا مشروع غوښتنې ونه منل شوې؛ ولسمشر د یوه تقنیني فرمان په نتیجه کې د (اسلام) او (افغان) د تثبیت لپاره د (دین) او (ملت) ستونونه د هویت د تذکرې پر لومړي مخ ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لیکل، نو بیا به د رسنیو او نورو ټولو تبلیغاتي امکاناتو او د خپل ولس د ملي او شعوري بنسټونو له لارې خپل نظریات له ولس سره شریکوو، دا ټول جریان به هم د انځوریزو، چاپي او اورېدنیو رسنیو پر مخ څرگند وو، د ولس په مشوره به د مظاهرو په گډون ټولې هغه لارې چارې کاروو چې قانون راته اجازه او حق راکوي.**

**وما علینا الا البلاغ**

**یادښت: کله چې مو ولسمشر سره دا جلسه وکړه، تر هغه وروسته مو گام پرگام او وخت پر وخت په تذکرو کې د افغانیت او اسلامیت موضوع تعقیبوله، د ولسمشرۍ ماڼۍ له خوا په تېره بیا د چارو د ادارې له خوا وخت پر وخت احوال او ډاډ راکول کېده چې دا کار ضرور خلاصوو، تاسو اندېښنه مه کوئ، جمهور رییس حامدکرزي همدا ځوابونه رالېږل چې لوز مې درسره کړی دا کار خلاصوم، مظاهرې به نه کوئ، په همدې همدې کې یې راباندې میاشتې تېرې کړې او زموږه اوسېله یې هم ډېره راتنگه کړه، څومره چې به موږ ټینگار کاوه، د ده ژمنې به لاپسې تازه کېدلې، خو هېڅکله یې بیا موږ ته د دې وخت رانه کړ چې له ده سره په مستقیم ډول وگورو او خپلې کړې ژمنې ورته مخې ته کېږدو، تر پایه همدا موضوع د غوښتنو او ژمنو تر منځ ناحله پاتې شوه.ان تر دې چې د نوي ولسمشر لپاره د ولسمشرۍ د ټاکنو وخت رانږدې شو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



نولسم څپرکی

# عمومي ارزونه

په تېرو څپرکو کې مو د ولسمشر کرزي د حکومت نیمګړتیاوو او برياوو دواړو ته اشاره وکړه. که څه هم يادې شوې برياوې او نيمګړتياوې، نه د ولسمشر کرزي د حکومت ټولې برياوې دي او نه هم ټولې نيمګړتياوې، خو د کومو يادونه چې وشوه لږ تر لږه موږ ته د ده په مشرۍ د واکمن حکومت عمومي انځور په لاس راکوي.

په دې حکومت کې سياسي بې عدالتي د دې سبب شوه چې هم په امنيتي چارو کې پوره سمون رانه شي، هم د فساد مخه ډب نه شي، هم متوازن انکشاف رامنځته نه شي او هم دايمي ثبات ته لاره اواره نه شي. کادري انتخاب او انتصاب هم له ستونزو سره مخ شي او د فسادګرو منظم او ارګانيک جوړښت له ټولو ناقانونه غوښتنو او هيلو سره پر حکومت واکمن پاتې شي. له نړيوالو مرستو څخه سمه ګټه پورته نه شي او دا مرستې هم تر يوه حده د جنګسالارانو د سياسي او حکومتي دريځونو د پياوړتيا لپاره وکارول شي، پر حکومتي کارکوونکو د نامسؤليتۍ احساس خپور شي او با احساسه مامورين د بې احساسه زورواکو تر بريدونو لاندې راشي. لنډه دا چې حکومت له لسګونو او سلګونو ډول ډول مرضونو سره لاس او ګرېوان شي. خو د دې مرضونو او رنځونو له تداوم او انکشاف سره سره بيا هم د خلکو په ژوند او دسترخوان کې تغير روان و، په زرګونه ساختماني شرکتونه پر کار بوخت وو، په لکونو خلکو ته کار روزګار پيدا شوی و. په کورنۍ کچه په لسګونو ملیارده ډالر په دوران کې وو، تر لسو ملیونو پورې زده کوونکو زده‌کړه کوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د نړۍ له زیات شمېر مطرحو هېوادونو سره ډیپلوماتیک روابط ټینگ کړي وو. د افغانستان نړیوال حیثیت خورا اوچت و. د افغانستان په باب په نړیواله کچه (٦) لوی نړیوال کنفرانسونه جوړ شول چې د نړۍ هېڅ هېواد د نړۍ په کچه دومره نه و مطرح شوی، تر څلور ملیونو زیات افغان کډوال ببرته خپل هېواد ته راستانه شول، د طبیعي زېرمو سروې گانې پیل شوې، تر (۲۴) زرو زیاتو کلیو ته کلیوالي پروژې یا لومړني خدمات ورسول شول، د مخابراتو په برخه کې زیات پرمختگ وشو، افغانستان د نوري فایبر له لارې له نړیوال جال سره وصل شو. تر (۵۰) زیات ټلوېزیونونه او تر (۱۷۰) زیاتې (ایف ام) راډیوگانې جوړې شوې، تر زرگونو زیاتو ټولنیزو سازمانونو په کار پیل وکړ، پنځه لویې جرگې او یا لویو جرگو ته ورته جرگې جوړې شوې، نږدې (۳۰) دولتي پوهنتونونه او د لوړو زده کړې موسسې او همدارنگه تر (۹۰) زیات نادولتي تحصیلي موسسې او پوهنتونونه جوړ شول، ملي موزیم او ملي ارشیف ورغول شول، د افغانستان یو گڼ شمېر تاریخي اثار ببرته هېواد ته راوړل شول، ولسواکۍ تر یوه حده یا عملي یا تمثیلي بنه خپله کړه، نږدې (اوه نیم) زره کیلو متره سړک په پاخه ډول جوړ شو، سره له دې چې په ځینو برخو کې یې کیفیت تر پوښتنې لاندې دی، ولسوالۍ د پخو او خامه سړکونو له لارې یو بل سره وصل شوې، لویې لارې جوړې او یوه له بلې سره وتړل شوې، د سیاسي گوندونو او ټولنیزو سازمانونو قانون جوړ او له هرې ممکنې لارې په لسگونو گوندونو ځانونه ثبت او راجستر کړل، د بهرنیو مرستو او کورنیو امکاناتو په برکت د ژوند په هر ډگر کې پاموړ پرمختگ وشو، البته دا په دې مانا نه ده چې له دې سرشاره امکاناتو څخه سمه، پوره او کره گټه پورته شوه، خو که بل کوم مدبر شخص د ولسمشر کرزي پرځای وای او د نړیوالو د مرستو بهیر همداسې رامات وای، نو کېدی شي له دې مرستو یې تر دې زیاته او په ښه ډول گټه پورته کړې وای. خو څرنگه چې اوس د ده پرځای بل څوک نه شته، نو ځکه خو بل څوک د فرضي شخص په توگه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو محاسبه کولای، څرنگه چې دی په خپله د قدرت په راس کې دی، نو ځکه مو حساب او کتاب هم له همده سره دی.

په مجموعي او ناپېیلي ډول که څوک ارزونه کوي، نو ویلای شو چې د کرزي په حکومت کې د نیمگړتیاوو شمېر هم ښه زیات و، خو ښه کارونه هم په کې ډېر تر سره شوي دي، یانې د دواړو خواوو په کې پرېماني وه. د کرزي په حکومت کې شوې ابادي خورا ډېره زیاته ده، که څه هم دا ابادي په ډېرو برخو کې بنسټیزه نه وه، خو افغانستان ته د زیاتو پیسو په راتگ سره د ابادۍ ډول، څومره والی او څرنگوالی د ټولنې هرې خوا ته وغځېد. څرنگه چې افغانستان د ده تر حکومت وړاندې پر کنډواله بدل شوی و، نو دلته هره نوې ابادي نوې برېښېده او له ورایه ښکارېده، نو که له دې پلوه یې محاسبه کړو، د کرزي په حاکمیت کې د شوې ابادۍ کچه په تېرو سوونو کلونو کې تر شوې ابادۍ هم زیاته برېښي. په وروستۍ جمله کې ویلای شو چې د کرزي په حکومت کې تر شوې ورانۍ، ابادي زیاته او تر نیمگړتیاوو یې بریاوې یو څه زیاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایا ولسمشر بریالی و؟

(وروستۍ پایله)

په تېر څپرکي کې مو د ولسمشر کرزي د حکومت بریاوو او نیمګړتیاوو ته د یوه حکومت په توګه اشاره وکړه، اوس غواړو د وروستۍ پایلې په توګه خپله ده ته نغوته وکړو چې دی په خپله د یوه شخص او ولسمشر په توګه په خپلو کارونو کې بریالی و که نه؟

د ولسمشر کرزي پر ځانګړتیاوو مو دمخه هم خبرې کړې، هر شخص نیمګړتیاوې او بریاوې لري، مضر احتیاط، بې وخته وېره، ناوخته جرئت، مضر مصلحت، په ځینو کارونو کې تفریط، زورواکو ته تر حده زیات نرمښت او هغو ته افراطي امتیاز، ظالم ته چوپه خوله پاتې کېدل، هر چا سره سر خوځول او د معقولو خبرو شاته غورځول، منفي واقعیتونو ته تسلیمېدل، د مدونې کورنۍ او بهرنۍ پالیسي نه لرل، له نړیوال طلایي چانس څخه پوره ګټه نه اخیستل او نورې هغه نیمګړتیاوې دي چې په ولسمشر کرزي کې موجودې وې او لا هم دي. د دې ترڅنګ هغه ډېرې ښېګڼې هم لري چې یادول یې ضروري دي. مذهبي، دیني او کلتوري اخلاق، د مشر او کشر احترام، غوره ټولنیز چلند، د بهرنیو او کورنیو په ژبه او نزاکتونو پوهېدل، د وخت پر ځینو حساسیتونو پوهېدل، مینه، عاطفه، زړه سوی او نور هغه خصوصیات وو چې د کرزي په وجود کې لیدل کېدل، د همدغو ښلاښېلو ځانګړنو له امله د ده په دربار کې کې د ښو او خرابو خلکو دواړو کمی نه احساسېده، ښي اړخي او کیڼ اړخي دواړه به کې لیدل کېدل، سره، شنه، سپین او تور ټول په کې محسوس وو، یو مکس حکومت و چې د هر فکر او هرې کټګورۍ خلک په کې له ورایه ښکارېدل، کرزي د نړیوال مناسب چاپېریال ترڅنګ په خپل شخصي تشبث د افغانستان نوم او بیرغ په نړیواله کچه وځلوه، د ګاونډیو هېوادونو تر ولسمشرانو زیات په نړۍ کې مطرح و، خپل داخلي مخالفین یې د حکومتي څوکیو د بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دریغه وېش په برکت د لامنطقي له بحران سره مخامخ کړل، د نړۍ د لویو او ان متضادو قدرتونو مرسته يې هېواد ته راجلب کړه، له ګاونډیو هېوادونو سره يې د ټکر مخه ونیوله او نور ډېر داسې کارونه يې تر سره کړل چې افغانستان ته په نن او سبا کې ګټه رسولای شي. که د راتلونکي ولسمشرۍ ټاکنې په ښه ډول تر سره کړي او رڼاوی په کې وي، د قدرت سوله ییز لېږد ته زمینه برابره کړي، نو دا به يې هم په محسناتو کې حساب شي.

په مجموعي ډول کرزی د یوه ژور سیاسي او فلسفي شخص پر ځای د يو عاطفي، ټولنیز او نیمه سیاسي شخصیت په توګه محاسبه کېدی شي، که دی د یوه ولسمشر په توګه محاسبه کوو چې پوره بریالی و که پوره ناکام، نو یوه لوري ته هم پوره حکم نه شو کولای چې پوره بریالی دی که پوره ناکام، خو ټېرو ټولو کارونو ته يې په کتو سره ویلای شو چې د ده بریالي او مثبت کارونه تر منفي او نیمګړو کارونو نسبتاً زیات دي، د ده بریالیتوب هم د ولسمشرۍ په دوو تېرو ټاکنو کې د رایو په انډول محاسبه کولای شو. ده په تېرو دواړو دورو کې له (۵۰) تر (۵۴) سلنې پورې رایې ګټلې وې. د ولسمشر په توګه يې د بریالیتوب کچه همدومره ګڼل کېدی شي او نیمګړتیاوې يې هم په سلو کې تر (۵۰) په ټیټه کچه محاسبه کېدی شي. په داسې یوه ټولنه کې چې اوږدې جګړې ځپلې وي، داسې يو شخص چې مثبت کارونه او بریاوې يې تر منفي کارونو او نیمګړتیاوو زیاتې وي، بیا هم غنیمت ګڼل کېږي.

د هېواد د سمسورتیا، پرمختیا
او د افغانانو د سوکالۍ په هیله
محمد اسمعیل یون
۱۳۹۳ل کال، وری
کابل – افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وروستۍ بشپړونه او یادونه

د (۱۳۹۲ل) کال د غبرګولي پر (۲۵) مه نېټه ما په ارګ کې د امنیت شورا دفتر له فرهنګي چارو ریاست څخه استعفی وکړه، تر هغه وروسته مې بیا له ارګ سره مستقیمه او ټینګه رابطه قطع شوه. کوم یادښتونه چې په دې اثر کې راغلي، دا اکثره تر یادې نېټې دمخه لیکل شوي او ثبت شوي دي. کله چې له ارګ څخه بهر شوم بیا مې په دې اثر کې د راغلو یادښتونو په انتظام او د دې اثر د ترتیب او بشپړاوي چارې بشپړې کړې. د هویت په تذکره کې د افغانیت او اسلامیت لپاره د څو لومړنیو لاریونونو څرنګوالی او په دې اړه له جمهور رییس (حامد کرزي) سره د وروستۍ کتنې جزیات هم په کې ځای شول. څرنګه چې د دې یو کال شاوخوا بهیر کې زه په ارګ کې د نورو پېښو او جزیاتو شاهد نه وم، نو ځکه خو د دې زمانې څه خاص یادښتونه په کې نه دي راغلي. د (۱۳۹۳ل) کال تر لومړیو او وروسته بیا د همدې کال د میزان تر اوومې نېټې پورې د کرزي صیب حکومت نور هم دوام درلود، د دې زمانې داخلي یادښتونه هم ځکه په کې نه شته چې زه د پېښو عیني شاهد نه وم. لنډه دا چې دا کتاب په ارګ کې، ان زما د دندې تر پیل د مخه د ځینو یادښتونو او همدارنګه د دندې پر مهال د ګڼو یادښتونو او مشاهداتو پر بنسټ لیکل شوی او د (۱۳۹۳ل) کال په (وري) میاشت کې بشپړتیا ته رسول شوی دی. ټاکل شوې وه چې د (۱۳۹۴ل) کال په بهیر کې دا اثر چاپ شي، خو ځینو دوستانو له ما څخه هیله وکړه چې که په دري او انګلیسي ژبو هم ورسره هممهاله چاپ شي، نو ښه به وي او ځینو لا په کې د عربي، روسي، جرمني او اردو ژبو د ژباړې سپارښتنه هم وکړه. د (۱۳۹۴ل) کال په بهیر کې موږ خپل یو هدف ته هم ونه رسېدو. یو شمېر دوستانو وویل: ((ټولنه باندې واکمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي چاپېریال، اقتصادي مافیا او جنگسالاري اوسمهال د دې کتاب د هضم او زغم تاب نه لري، نو لږ صبر به کار دی.)) د (۱۳۹۵ل) کال په بهیر کې ښاغلي (مصطفی عمرزي) د دې اثر دري ژباړه پیل او د څو میاشتو په بهیر کې یې بشپړه کړه، د انگلیسي متن د ژباړې د امکاناتو د برابرولو لپاره یو افغان، چې په (ناروې) کې اوسي، پخه ژمنه وکړه، خو له ډېر انتظار سره سره بیا هم په دې برخه کې مطلوب پرمختگ ونه شو. د (۱۳۹۵ل) کال په بهیر کې ملگرو مشوره راکړه چې دا اثر باید څومره چې ژر کېږي نور چاپ شي. د دوی دلیل دا و چې په دې کتاب کې یاد شویو جنگسالارانو تېر نظام هم لوټ کړ، دې نظام ته یې هم لاره وکړه او کېدی شي تر دې وروسته هم خپل ژوند، زور او ځواک تضمین کړي. ځینو بیا هم وویل چې د دې کتاب چاپ به ما (یون) ته زیات مشکلات پیدا کړي او ژوند به مې له خطر سره مخ شي. کله چې خبره دې حالت ته ورسېده چې په (شخصي ژوند) او (حقیقت) کې به یو انتخابوو، نو ما دا مهال ملگرو ته وویل چې ما خو پخوا نه غوښتل چې دا اثر دومره ژر چاپ کړم؛ ما په دې نېت لیکلی و چې واقعیتونه او حقیقتونه د تاریخ حافظې ته ورانتقال کړم، خو اوس چې خبره دې حد ته ورسېدله چې زما د شخصي ژوند خوندیتابه پر خپل وخت د حقیقت د بیان پر وړاندې خنډ گرځي، نو زه باید څومره چې ژر ممکن وي، د دې خنډ علاج وکړم، نو ځکه مو وپتېیله چې ژر باید دا کتاب چاپ شي. د کتاب له ژر چاپ څخه مې بل هدف دا و او فکر مې کاوه چې کېدی شي، اوسنی حکومت یا نړیواله ټولنه په تېر څوارلس کلن حکومت کې واکمن جنگسالاران، غله او داړه ماران په اوسني حکومت کې یو څه کمزوري کړي او تر بل انتخابي حکومته یې قهر او زهر ببخي له منځه یوسي. دا ځکه چې د اوسني سیاسي نري رنځ یو اساسي علت همدا کورنۍ اقتصادي او جنگي مافیا ده، نو ځکه خو مو د (۱۳۹۶ل) کال په لومړیو کې د دې کتاب پښتو متن یو ځل بیا بېلابېلو ملگرو ته ورکړ چې یو ځل بیا یې له نظره تېر کړي، ژبنی او لیکنی سمون په کې راولي او چاپ ته یې تیار کړي. ما خپله هم پښتو متن څو ځله له نظره تېر کړ او نورو ملگرو هم. دا هم یو سترې کوونکی کار و، د بیا کتنې په بهیر کې یو ځل بیا متوجه شوم چې لا هم ډېرې خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کې پاتې دي، ځینې مهم یادښتونه چې تیار لیکل شوي وو، خو د کتاب د وروستي اوډون پر مهال د کتاب له متن څخه پاتې شوي دي. ځینې نور مهم ټکي چې باید په کې راغلي وای، خو دلته نه دي راغلي. په تېره بیا د اساسي قانون د لويې جرګې د بهیر ډېر مهم ټکي، له پاکستان سره د امن ګډې جرګې د جوړېدو اساسي فلسفه او په دې برخه کې د ولسمشر کرزي لرلید، د امریکې له بهرنیو چارو وزیر سره د جمهوري ریاست د ټاکنو د نتایجو پر سر د ولسمشر کرزي چنې او لانجې، له ما (یون) او (ژوندون ټلوېزیون) څخه د جمهور رییس د درېو مرستیالانو (فهیم، مسعود او خلیلي) متواتر شکایتونه او انتقادونه، د ځینو غټو جنګسالارانو مستقیم ګواښونه، د (شیکاګو) په نړیوال کنفرانس کې له ولسمشر سره ګډ سفر او هلته د نړیوالو مشرانو تر منځ د (حامد کرزي) او (اصف زرداري) یا افغانستان او پاکستان د وزن پرتلنه، د مدني ټولنو او خبریالانو له یوې محدودې، خو کاري ډلې سره د (حامد کرزي) خصوصي ملاقات او هلته ځینې نا ویلې، خو مهمې خصوصي سیاسي خبرې، د هېواد حالات او ځینې نور مهم مسایل، چې تیار لیکل شوي وو، خو له دې کتابه پاتې شوي دي. د دې اثر د بیا کتنې پر مهال مې وغوښتل پر حافظې فشار راوړم، دا مسایل یو ځل بیا له سره ولیکم او په دې اثر کې یې ورزیات کړم، خو کله چې مې د یادښتونو پر لیکنې پیل وکړ، هغسې تودوخه، درد، احساس، فکر او ولوله یې نه لرله، لکه کوم یادښتونه چې پر خپل وخت لیکل شوي او طبیعي رنګ لري، نو ځکه مې د کتاب د همدې متن پر بیا کتنه او سمونه بسنه وکړه، چې د (۱۳۹۳ل) کال په پیل کې بشپړ شوی و.

زما او زما د نورو ملګرو تر کتنې وروسته پښتو متن بشپړ او چاپ ته تیار شو، د دري متن بیا کتنه هم پیل شوه، هغه هم تر بیا کتنې او له پښتو متن سره تر پرتلنې وروسته بشپړ او د چاپ جوګه شو.

زما او زما د ملګرو له بیا بیا کتنې سره سره بیا هم په کتاب کې د املایي، انشایي، محتوایي او چاپي تېروتنو امکان شته، خو دا تېروتنې اکثره تر چاپ وروسته څرګندېږي، نو ځکه موږ لازمه وګڼله چې دا اثر لومړی په همدغه کیفیت او کمیت چاپ کړو، د تېروتنو د سمون لپاره به یې له ټولو لوستونکو څخه هیله وکړو چې د مهربانۍ له مخې یې تر لوستلو وروسته موږ ته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظم ډول او لیکلې توگه په نښه کړي، چې په بل چاپ کې یې هم تېروتنې اصلاح کړو، هم که ممکنه وه، نوې زیاتونې په کې وکړو، دویم چاپ او (PDF) ډول یې تر دې په ښه بڼه لوستونکو ته وړاندې کړو. اوسمهال مو د دې اثر چاپ ځکه ضروري وگاڼه چې یو خو مهم واقعیتونه او حقیقتونه راڅخه مړه نه شي او بل راڅخه زاړه نه شي.

خدای (ج) دې وکړي چې دا اثر د نورو لیکوالو د اثارو پنځونې ته لاره اواره کړي چې د هېواد پېښې تر دې هم په رښتیني او هر اړخیز ډول بیان کړي، زموږ راتلونکی نسل له نن سره وصل، د نن نسل، د نن او نږدې پرون له واقعیتونو څخه خبر او دغه راز د حقیقتونو د دې رښتیني بیان له لارې افغانانو ته د یوې سوکاله ټولنې او نېکمرغه ژوند د جوړولو لاره اواره کړي.

په پای کې غواړم یو ځل بیا له خپلو قدرمنو ورونو (فیاض حمید) او (سپین سهار) څخه چې د کمپوز او ډیزاین چارې یې په سړه سینه سمبال کړې، ښاغلو او قدرمنو ورونو؛ (ضیاء الرحمن ضیاء، پوهندوی شاه محمود کډوال، پوهنیار وفاء الرحمن وفا او استاد شېر علم امله وال) څخه چې د دې اثر د سمون او بیا کتنې چارې یې تر سره کړې، گران ورور (مصطفی عمرزي) څخه چې په پوره زغم او ژورلید یې دا اثر دري ته وژباړه او همداراز له ټولو هغو دوستانو څخه چې د دې اثر په بشپړاوي او چاپ کې یې مادي او معنوي مرسته وکړه، له ټولو څخه یوه نړۍ مننه کوم، خدای (ج) دې دوی ته ستر اجر او گڼ ثوابونه ور په برخه کړي.

د یو سوکاله، غښتلي، پرمختللي،
یو موټي لوی افغانستان په هیله
په درنښت
محمد اسمعیل یون
۱۳۹۶ ل کال، غبرگولی
مکروریان، کابل-افغانستان

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library